بسم اللہ الرحمن الرحیم

فوز المبتدی

بشرح

مختصر القدوری

تالیف

مولانا شاہ فیصل

خصوصیات

1. [illegible]
2. [illegible]
3. [illegible]
4. [illegible]
5. [illegible]
6. [illegible]
7. [illegible]
8. [illegible]
9. [illegible]

فوز المبتدي

بشرح

مختصر القدوري

دريم جلد

تاليف:- مولانا شاه فيصل

فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم، دار العلوم اسلاميه چارسده

خصوصيات

① جملة ترجمه يعنى هري جملې سره متصل د هغې ترجمه
② هره مسئله به مستقل متن كښې ذكر كول
③ د متن د هري مسئلې دباره نقلي عقلي يا دواړه قسمه دلائل ذكر كول
④ د احاديثو تخريج كول
⑤ د حنفيانو په خپل مينځ كښې د اختلاف ذكر مع دلائل
⑥ د حنفيانو په خپل مينځ كښې د اختلاف په صورت كښې د قول راجح تعين كول
⑦ د نورو امامانو مذاهب بغير د دلائلو څخه لاندې په حاشيه كښې ذكر كول
⑧ د كتاب په اول كښې د فقه سره متعلق تاريخي مقدمه ذكر كول
⑨ د گرانو لغاتو حل
⑩ د توسينو په مينځ كښې د قندهاري ټكو اضافه كول

فيصل كتب خانه

بالمقابل مكتبه حقانيه محله جنگى پيښور قصه خوانئ پيښور

موبائيل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د کتاب نوم:- فوزالمبتدی بشرح مختصرالقدوری
مؤلف: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس
خورونکی فیصل کتب خانه محله جنگی

د ملاویدو پتې :

د فیصل کتب خانې نه علاوه
① مکتبه رشیدیه سرکی روډ کوټټه
② مکتبه عمریه چمن بلوچستان
③ صداقت کتب خانه قندهار افغانستان
④ امیرحمزه کتب خانه قندهار
⑤ دینی کتب خانه تیمرګره (پختونخواه)
⑥ قدرت کتاب فروشی کابل ښار
⑦ انصاف کتب خانه جلال آباد
⑧ اخون زاده کتب خانه تل

خپرونکي

فیصل کتب خانه
بالمقابل مکتبه حقانیه محله جنگی پیښور قصه خوانئ پیښور
موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

كتاب الوصايا .... ــــ

كِتَابُ اللِّعَانِ

ترجمه ﴿ (دا) کتاب دلعان (داحکامو په بیان کښې) دي.

تشریح ﴿ **اللعان لغة** ﴿ لعان دباب مفاعلت نه دي.لغوی معنی ئې ده رټل اودرحمت نه لرې کول،
اللعان شرعا ﴿ اوپه شریعت کښې لعان هغه څلورو شهادتونو اولعنت او غضب ته وائی.کوم چه د ښځې اوخاوند په مینځ کښې جاری وی.اود مجموعه نوم لعان ددې وجې کیخودې شو.چه په دې کښې لعنت مذکور دې.لکه څنګه چه مونځ په رکوع باندې مشتمل دې.ددې وجې د مونځ نوم رکوع کیخودې

شو. اوپه تشهد باندې د مشتمل کېدوپه وجه د التحيات نوم تشهد کېخودې شو. نود لعان نوم کېخودل تسمية الكل باسم الجزء د قبيلة څخنې دې.

رکنه> د لعان رکن هغه شهادت دې چه په قسم سره مؤکد وي. اود دې سبب د سړي په خپله ښځه باندې داسې تهمت لګول چه هغه په پردوکښې موجب د حد وي.

شرطه> اوددې شرط قيام د نکاح دې. اوددې حکم د لعان د فارغ کېدو نه پس سمدستي د وطي اواستمتاع حرمت دې. اوزمونږ په نيزد لعان اهل هغه څوک دې چه هغه د شهادت اهل وي. اودامام شافعي رحمه الله په نيزهغه څوک دې چه هغه د يمين اهل وي.

پاتې شوه دا خبره چه لعان نوم ورله ولې کېخودې شو. حالانکه په دې کښې خو غضب هم موجود دې. نوددې جواب دا دې چه لعنت د سړي دطرفه وي. اوغضب د ښځې دطرفه، اوښکاره خبره ده چه کوم څيزد سړي سره متعلق وي. هغه مقدم وي. نوځکه په نوم کېخودو کښې لعنت ته ترجيح ورکړې شوه. غضب ته نه،

دلعان موجب اوتعريف

إِذَاقَذَفَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ بِالزِّنَا چه کله سړي خپلې ښځې باندې د زنا تهمت اولګولو وَهُمَا مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ حالانکه دواړه د شهادت لائق دي. وَالْمَرْأَةُ مِمَّنْ اوښځه هم داسې ده يُحَدُّ قَاذِفُهَا چه ددې په تهمت لګونکي باندې حدلګولې شي. أَوْنَفَى نَسَبَ وَلَدِهَا يا ئې ددې د بچي د نسب نفي اوکړله وَطَالَبَتْهُ الْمَرْأَةُ بِمُوجِبِ الْقَذْفِ او ښځې د قذف د موجب مطالبه اوکړله فَعَلَيْهِ اللِّعَانُ نو په سړي به لعان کول واجب وي.

تشريح> صورت د مسئلې دا ده. چه کله خاوند په خپله ښځه د زنا تهمت اولګولو. مثلاً ورته ئې اووئيل چه ته زناکاره ئې. يا ما ته په زنا ليدلې ئې. يا ئې ورته اووئيل. اې زناکارې. دا د جمهورو مذهب دې. اوامام شافعي، امام احمد اوپه يوروايت کښې امام مالک رحمه الله هم ددې قائل دي.

اوچه ښځه اوخاوند دواړه د شهادت ادا کولولياقت هم لري. اوښځه داسې وي. چه په دې باندې چا تهمت لګولې وي. په هغه باندې حدجاري کېدې شي. ياخاوند دخپلې ښځې دبچي د نسب نه انکاراوکړلو. چه دا ماشوم د زنا نه پيدا دې. يا ئې دا اووئيل. چه دا ماشوم زما نه دې. اوښځې دخپل خاوندنه د موجب قذف مطالبه اوکړله. نوپه خاوند باندې لعان واجب دې.

دا خبره دې ښکاره وي. چه د سړي په خپله ښځه باندې تهمت لګول په ابتداء د اسلام کښې حد قذف وو. لکه څنګه چه په پردئ ښځه باندې د تهمت لګولوموجب حد قذف دې.

دليله> الله تعالى فرمائيلي دي. ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ۝ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ۝ وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ۝ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ۝﴾ يعنې کوم کسان چه په خپلومنکوحوښځو باندې د زنا تهمت اولګوي. اوددوي سره د خپلې دعوا نه بل څوک ګواهان نه وي. (کوم چه په شمارکښې څلوروي)نو د دوي د شهادت (کوم چه د حبس يا حدقذف لرې کونکې دې.)هم دا دې چه څلور ځله دالله تعالى په نوم قسم اوخوري. اودا اووائي. چه بېشکه زه رښتوني يم. اوپه پنځم ځل به اووائي. چه په ما دې دالله تعالى لعنت وي. که زه دروغژن يم. اوددې نه پس به ددې ښځې نه سزا (حبس يا حد زنا) په دې طريقه لرې کړې شي. چه هغه به څلور ځله قسم خوري. چه بېشکه دا سړي

دروغژن دي.اوپه پنځم ځل به دا اووائي.چه په ما دې دالله تعالى غضب وی.که دې رښتوني وی.(بيان القرآن)

دخاوند دلعان کولونه منع کېدل

فَإِنْ امْتَنَعَ مِنْهُ بيا که خاوند دلعان کولو نه انکار اوکړو حَبَسَهُ الْحَاكِمُ نوحاکم به دا قيد کوی حَتّٰى يُلَاعِنَ تردې چه دې لعان اوکړی أَوْ يُكَذِّبَ نَفْسَهُ يا خپل ځان دروغجن کړی فَيُحَدُّ نو ده ته به حد ورکولې شی

حل اللغة ① **حبس**: بندول ②② **يكذب**: دروغژن کړی]

تشريح مسئله دا ده.① که خاوند د لعان کولونه انکار اوکړلو.نوحاکم به دې قيد کړی. تردې چه لعان اوکړی.دا زمونږ مذهب دې. ②اوامام شافعی،امام مالك اوامام احمد رحمهم الله فرمائی.چه په ده به حد جاری کولې شی.بنياد داختلاف دا دې.چه د دوی په نيزموجب د حدقذف دې.اوزمونږ په نيزموجب لعان دې.يا دې خپل ځان دروغژن کړی.نوکه دې کس خپل ځان دروغژن کړلو.نوپه اتفاق سره به په ده حد قذف جاری کولې شی.

دليله دليل دا دې.چه په خاوند باندې دا حق يعنی لعان واجب دې.په داسې حال کښې چه دې ئې په پوره کولوقادرهم وی.نودې حق دپاره به دې قيدکړې شی.تردې چه خاوند دا حق پوره کړی.ياخپل ځان دروغژن کړی.چه د لعان سبب ختم شی.اودلعان سبب په ښځه خاوندکښې ديويل لره تکذيب کول دی.ځکه چه لعان په هغه وخت کښې واجبيږی.چه خاوند په خپله ښځه د زنا تهمت اولګوی.اوبيا په خپلوکښې هريودبل تکذيب کوی.البته که خاوندخپل تکذيب اوکړی.نوتکاذب باقی پاتې نشو.بلکه خاوند دښځې موافق شو.چه دې زنا نه ده کړې.

وَإِنْ لَاعَنَ اوکه خاوند لعان اوکړو وَجَبَ عَلَيْهَا اللِّعَانُ نو په ښځه به هم لعان کول واجب وی

تشريح که خاوندلعان اوکړلو.نوپه ښځه هم لعان واجب دې.

دليله دليل هغه آيت دې.کوم چه مونږ اولوستلو.يعنی ﴿فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللهِ﴾ الاية

ابتداء اللعان خوذلعان شروع به د خاوندنه کيږی.ځکه چه خاوند مدعی دې.اولعان د شهادت نوم دې.اودشهادت مطالبه د مدعی نه کيږی.نوځکه به اول خاوند لعان کوی.

دښځې دلعان نه انکارکول

فَإِنْ امْتَنَعَتْ بيا که ښځې انکار اوکړو حَبَسَهَا الْحَاكِمُ نو حاکم به دا قيد کوی حَتّٰى تُلَاعِنَ أَوْ تُصَدِّقَهُ تردې چه دا لعان اوکړی.يا دسړی قول رشتونې کړی

تشريح که ښځې دلعان نه انکاراوکړلو.نوحاکم به دا قيد کړی.تردې چه لعان اوکړی.اويا د خاوند تصديق اوکړی.

دليله دليل دا دې.چه لعان په ښځه باندې هم واجب دې.اودا په دې باندې قادره هم ده.نوځکه به په دې حق کښې دا بندولې شی.

په غلام، کافر، اومحدود في القذف باندې حدجاري شول

وَإِذَا كَانَ الزَّوْجُ عَبْدًا أَوْ كَافِرًا اوکه خاوند غلام وی.یاکافر وی. أَوْ مَحْدُودًا فِي قَذْفٍ یا دی په څه تهمت کښې (حد) وهلې شوې وی فَقَذَفَ إِمْرَأَتَهُ نوده خپلې ښځې باندې تهمت اولګولو فَعَلَيْهِ الْحَدُّ نو په ده په حد واجب وی

تشریح> صورت د مسئلې دا دې.که خاوند غلام وی.یا کافروی.ددې صورت دا دې.چه ښځه خاونددواړه کافران وی.یاښځه مسلمانه شی.اوخاوند ته داسلام پیش کولونه ورانده خاوند په ښځه باندې د زنا تهمت اولګولو.یا خاوند داسې دې.چه دقذف لګولوپه وجه ده باندې حدقذف جاری شوې وی.په دې درې واړه صورتونوکښې که خاوند په خپله ښځه باندې دزنا تهمت اولګولو.نوپه ده باندې لعان واجب نه دې.بلکه حدقذف پرې واجب دې.

دلیله> دلعان وجوب خو ددې وجې ممتنع شو.چه دا کس دشهادت اهل پاتې نشو.حالاتکه د لعان کونکی دپاره دشهادت اهلیت شرط دې.نوهرکله چه د لعان وجوب ممتنع شو.نوموجب اصلی یعنی حدقذف طرف ته به رجوع کولې شی.اوحد قذف دالله تعالی د قول ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا﴾ نه ثابت دې.یعنی ددې آیت په وجه اول خو حدقذف مشروع شوې دې.بیا دخاوند په خپله ښځه باندې د تهمت لګولوپه صورت کښې لعان د حدقذف نائب اوخلیفه وی.نوکه د لعان د شرط د نشتوالی د وجې لعان متعذر شی.نوموجب اصلی یعنی حدقذف ته به رجوع کولې شی.

دښځې دشهادت عدم اهلیت حکم

وَإِنْ كَانَ الزوج مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ اوکه خاوند دشهادت لائق وی وَهِيَ أَمَةٌ أَوْ كَافِرَةٌ اوحال داچه ښځه وینځه ده.یا کافره ده. أَوْ مَحْدُودَةٌ فِي قَذْفٍ یا دڅه تهمت په وجه (دې ته) حد لګولې شوې وی أَوْ كَانَتْ مِمَّنْ لَا يُحَدُّ قَاذِفُهَا یاداسې ښځه وی.چه ددې تهمت لګونکی باندې حد نشی لګولې فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ فِي قَذْفِهَا وَلَا لِعَانَ .نو ددې په خاوند به د دې په قذف کښې حد یا لعان هیڅ نه وی

تشریح> مسئله دا ده.چه خاوند دشهادت اهلیت لری.خودده ښځه دچا وینځه ده.یا کافره ده.یا دې ته حدقذف ورکړې شوې وی.یا دا د داسې کس ښځه وی.چه په دې باندې تهمت لګونکی باندې حدقذف نشي جاری کولې.لکه چه دا ماشومه وی.یا لیونۍ وی.یازناکاره وی.نوپه دې ټولوصورتونوکښې ددې په خاوند باندې نه حدواجب دې.اونه لعان.

دلیله> ځکه چه دا ښځه نه قابله د شهادت ده.اونه ددې طرف ته احصان شته.نوچه دا ښځه قابله د شهادت نه ده.ددې وجې به لعان واجب نه وی.ځکه چه لعان د وجوب دپاره دا ضروری ده.چه زوجین به اهل د شهادت وی.اوددې دمحصنه نه کیدوپه وجه په خاوند باندې حدقذف نشی جاری کولې.ځکه چه حدقذف په محصنه ښځه باندې دتهمت لګولوپه وجه واجبیږی.

د لعان طریقه

وَصِفَةُ اللِّعَانِ اود لعان بیان داده أَنْ يَبْتَدِئَ الْقَاضِي چه قاضی د خاوند نه شروع اوکړی فَيَشْهَدُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ نو خاوند څلور ځله ګواهی ورکړی. يَقُولُ فِي كُلِّ مَرَّةٍ هرځل دا اووائی أَشْهَدُ بِاللَّهِ إِنِّي لَمِنَ الصَّادِقِينَ فِيمَا رَمَيْتُهَا بِهِ مِنَ الزِّنَا چه زه د الله تعالی په قسم سره ګواهی ورکوم چه په دې ښځه

ماکوم د زنا عیب لګولي دي.په دې کښې د رشتیا ویونکو څخه یم. ثُمَّ يَقُولُ فِي الْخَامِسَةِ او پنځم خل اووائي لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِيْنَ فِيْمَا رَمَاهَا بِهِ مِنَ الزِّنَا چه ده په دې ښځه د زنا کوم عیب لګولي دي.یا په دې کښې که دې د روغجنو څخه وي.نو په ده د الله لعنت دې يُشِيْرُ إِلَيْهَا فِي جَمِيْعِ ذٰلِكَ او په دې ټولو خلوکښې به دې ښځي طرف ته اشاره کوي

تشریح په دې عبارت کښې امام قدوری رحمه الله د لعان طریقه بیانوی.تفصیل دا دې.چه کله ښځه دقاضی په عدالت کښې د قذف مقدمه وړاندې کړی.نواول به قاضی دا ښځه په عفواودرګذرباندې اماده کړی.خوددې باوجود که دا ښځه په جګړه باندې کلکه وه.اوخاوند د قذف نه انکارکولو.نوپه ښځه باندې ددووعادلانوګواهانو پیش کول لازم دی.چه قاضی سره ددې دعوی ثابته شی.اوکه ښځې په ګواهۍ کښې یوسړې اودوه ښځې پیش کړې. نو ددوی شهادت به قابل قبول نه وی.اوکه ښځې دوه عادلان ګواهان پیش کړل.اوخاوند یوسړې اودوه ښځې په خپل تصدیق باندې پیش کړې.نوپه دې صورت کښې به لعان ساقط شی.اوکه خاوند دزنا تهمت لګولوباندې اقراراوکړلو.نوده نه به د زنا د ثبوت دپاره د څلورو ګواهانو مطالبه کولې شی.نوکه ده په زنا باندې د ټولوشرطونوسره څلورګواهان پیش کړل.نو اوس به کتلې شی.چه دا ښځه محصنه (واده شوې) ده.اوکه غیرمحصنه (ناواده شوې) ده.که محصنه وی.نودا رجم(سنګسار) کولې شی.اوکه غیرمحصنه وی.نوکوړې به ورته ورکولې شی.
اوکه دې خاوند سره ګواهان نه وی.نولعان به واجب وی.اود لعان صورت به دا وی:چه قاضی به ښځه اوخاوند دواړه حاضرکړی.اودلعان شروع به د خاوند نه کیږی.نودې به څلور خله ګواهی ورکړی.اوهرخله به دا وائی.چه زه دالله تعالی په قسم ګواهی ورکوم.چه ما په دې ښځه د زنا کوم تهمت لګولي دي.په دې کښې زه رښتوني یم.اوپه پنځم خل به اووائی.چه ده (یعنی ما) چه په دې ښځه باندې دزنا کوم تهمت لګولي دي.که دې کښې زه دروغژن یم.نوپه ده (یعنی په ما) دې دالله تعالی لعنت وی.اوددې خبروپه وخت کښې به ښځې طرف ته اشاره کوي.

ثُمَّ تَشْهَدُ الْمَرْأَةُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ بیا به ښځه څلور خله ګواهی ورکوی تَقُوْلُ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ هر خل به وائی. أَشْهَدُ بِاللّٰهِ چه زه د الله تعالی په قسم سره ګواهی ورکوم إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِيْنَ فِيْمَا رَمَانِيْ بِهِ مِنَ الزِّنَا چه دې سړی په ما کوم د زناکارئ عیب لګولي دي په‌دې کښې دې دروغجنو څخه دې وَتَقُوْلُ فِي الْخَامِسَةِ او پنځم خل به وائی غَضَبُ اللّٰهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِيْنَ فِيْمَا رَمَانِيْ بِهِ مِنَ الزِّنَا چه ده د زناکارئ کوم عیب ما باندې لګولي دي.که داسړې په دې قول کښې د رشتیا ویونکوڅخه وی.نوپه دې (په ماباندې) د الله تعالی غضب دې

تشریح بیا به دغه شان ښځه څلورخله ګواهی ورکوی.اوهرخل به وائی.چه زه د الله تعالی په نوم باندې قسم خورم.اوګواهی ورکوم.چه دې سړی په ماباندې دزنا کوم تهمت لګولي دی.دې په دې کښې دروغژن دې.اوپه پنځم خل به اووائی.چه ده په ماباندې د زنا کوم تهمت لګولي دې.که دا کس په دې خبره کښې رښتوني وی.نوپه دې (ماباندې) دې دالله تعالی غضب وی.

فائده اودلعان په دې ترتیب باندې دلیل هغه آیت دې.کوم چه مونږ وړاندې تلاوت کړې دې.وې ګورئ.

د قاضي په تفريق سره جدائي واقعيږي

وإذا التعنا چه كله (ښځې خاوند) دواړو لعان اوكړو فرّق القاضي بينهما جداوالي به راولي. قاضي په مينځ د دواړو كښې

تشريح> ① صاحب د قدوري رحمه الله فرمائي.چه كله ښځه اوخاوند دواړه لعان اوكړي.نوصرف په لعان سره تفريق نه واقع كيږي.تردې چه قاضي تفريق اوكړي.نوكه د قاضي د تفريق نه وړاندې په دواړوكښې يو كس مړ شو.نوبل به دهغه وارث وي.اوكه سړي ظهاراوكړلو.يا ئې طلاق وركړلو.نوظهاراوطلاق به واقع كيږي.(١)

دليله> د لعان په وجه د حرمت ثبوت امساك بالمعروف ختموي.نوپه خاوند باندې تسريح بالاحسان واجب ده.خوچه كله خاوند د تسريح بالاحسان نه منع شو.نوقاضي به ښځې نه د ظلم لرې كولودپاره دخاوند قائم مقام شي.اوتسريح بالاحسان (تفريق) به اوكړي.نوثابته شوه.چه دقاضي تفريق ضروري دي.

وكانت الفرقة تطليقة بائنة اودا جدائي به طلاق بائن وي عند أبي حنيفة ومحمد رحمهما الله د امام ابوحنيفه او امام محمد رحمه الله په نيز

تشريح> په لعان كولوسره چه كوم تفريق واقع كيږي.دطرفينو رحمهما الله په نيزدا طلاق بائن دي.

دلائلهما> ① دليل دا دي.چه دقاضي تفريق خاوند طرف ته منسوب كيږي.لكه څنګه كه د يوكال مهلت نه پس قاضي عنين (نامرده) اود ده د ښځې په مينځ كښې تفريق اوكړي.نودا تفريق به طلاق بائن وي.نودغه شان دلته به هم د قاضي تفريق طلاق بائن وي.

② دويم دليل دا دي.چه ددې تفريق مقصد دښځې نه دظلم لرې كول دي.اوظلم لرې كول د طلاق بائن نه بغيرپه بل څه نشي حاصليدې.

وقال أبو يوسف رحمه الله اوامام ابويوسف رحمه الله فرمائيلي دي يكون تحريما مؤبدا چه دا دائمي حرمت دي

تشريح> مسلك ابي يوسف> امام ابويوسف رحمه الله فرمائي.چه په خپل مينځ كښې لعان اوكړي.نوپه دې سره حرمت مؤبده ثابتيږي.نودا ښځه په ده باندې هميشه دپاره حرامه شوه.هم دا دامام زفر،حسن اوامام شافعي رحمه الله قول هم دي.

دليله> دليل دا دي.چه (المتلاعنان لايجتمعان أبدا)(٢) يعني لعان كونكي ښځه خاوند كله هم نشي جمع كيدې.په دې حديث كښې په دائمي حرمت باندې صراحت شوي دي.

د بچي د نفي كولوپه صورت كښې د زنا تهمت لګول

وإن كان القذف بولد اوكه تهمت لګول د بچي د نفي كولو په ذريعه وي.نفى القاضي نسبه نو قاضي به ددې بچي د نسب نفي كوي وألحقه بأمه اودا بچي به ددې مور سره لاحق كوي

(١) امام زفر رحمه الله فرمائي.چه صرف په لعان كولوسره فرقت واقع كيږي.دقاضي د تفريق څه ضرورت نشته.اودا د امام مالك رحمه الله مذهب هم دي.

(٢) من حديث سهل بن سعد (رضي الله عنه) أخرجه أبوداؤد في الطلاق باب ٢٦ رقم ٢٢٥٦.)-

تعريح مسئله دا ده.که يوکس په خپله ښځه باندې د زنا عيب په دې طريقه اولګولو.چه دا ماشوم زما د نطفه نه نه دې.نودلعان نه پس به قاضي ددې ماشوم نسب دده نه نفي کړي.اوماشوم به مورسره کړي.
صورةاللعان في المسئلة اوپه دې کښې دلعان صورت دا دې.چه قاضي به دغه سړي ته حکم اوکړي.چه هغه داسې اووائي.زه دالله تعالى په قسم سره ګواهي ورکوم.چه ما د ماشوم نفي کړې ده.اوپه ښځه مې عيب لګولې دې.په دې کښې زه رښتونې يم.اوښځه به داسې اووائي.چه زه په الله تعالى باندې قسم خورلوسره ګواهي ورکوم.چه تا په ما باندې د ماشوم د نفى کوم عيب لګولې دې.په دې کښې ته دروغژن يې.

دخاوند دخپل ځان تکذيب کولونه پس دنکاح حکم

فَإِنْ عَادَ الزَّوْجُ وَكَذَّبَ نَفْسَهُ بيا که خاوند رجوع اوکړله.او خپل ځان ئې دروغجن کړو. حَدَّهُ الْقَاضِي نو قاضي به ده ته حدقذف ورکوي

تعريح مسئله دا ده.که دلعان نه پس خاوند دخپلې خبرې نه رجوع اوکړله.اوخپل تکذيب ئې اوکړلو. نو قاضي به ورته حد قذف ورکړي.
دليله دليل دا دې.چه ده په خپل ځان باندې دحدقذف جاري کولو اقراراوکړلو.نودده د اقرارد وجې به ورته حد قذف ورکولې شي.

وَحَلَّ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا او ددې سړي دپاره حلال دی.چه ددې ښځې سره نکاح اوکړي

تعريح اودخپل ځان دروغژن کولونه پس دې د دغه ښځې سره نکاح کولې شي.
دليله دليل دا دې.کله خاوندته حدقذف اولګولې شو.نوپه ده کښې دلعان صلاحيت پاتې نشو.اوهرکله چه دلعان صلاحيت پاتې نشو.نوپه دې پورې چه د تحريم کوم حکم متعلق وو.هغه به هم مرتفع (پورته) شي.نوځکه ددې ښځې سره دوباره نکاح کول صحيح دي.

وَكَذٰلِكَ إِنْ قَذَفَ غَيْرَهَا او هم دغه شان حکم دې که په بل چا باندې تهمت اولګوي فَحُدَّ بِهِ او حد پرې جاري کړې شو أَوْ زَنَتْ فَحُدَّتْ او يا زنا اوکړي او حد پرې جاري کړې شو حَلَّ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا نو ددې سړي دپاره حلال دی.چه ددې ښځې سره نکاح اوکړي

تعريح د مخکښئ مسئلې پشان دا صورت هم دې چې يو کس په اجنبيه ښځه باندې د زنا تهمت اولګولو او بيا ئې په څلورو ګواهانو سره د هغې زنا ثابته نکړې شوه د کومې په وجه چې په هغه باندې حد زنا جاري کړې شو.نو د حد کيدو نه پس دده دپاره جائز دی چې هغې ښځې سره نکاح اوکړي.

په صغيره اوليونۍ باندې د زنا تهمت لګول

وَإِنْ قَذَفَ امْرَأَتَهُ اوکه يو سړي پخپله ښځه باندې د زنا عيب اولګولو. وَهِيَ صَغِيرَةٌ حالانکه دا ماشومه ده أَوْ مَجْنُونَةٌ يا ليونۍ ده فَلَا لِعَانَ بَيْنَهُمَا وَلَا حَدَّ نو په دوی دواړو کښې به لعان نه کيږي.اونه حد شته

تعريح مسئله دا ده.که خاوندپه خپله ښځه باندې د زنا تهمت اولګولو.په داسې حال کښې چه هغه ماشومه يا ليونۍ وه.نوپه دې دواړو صورتونوکښې به په دوی کښې لعان نه کيږي.

دلیله دلیل دا دې چه د ماشومې او لیونۍ په قاذف باندې حدقذف نشی جاری کولی.اګرچه د دوی قاذف بواجنبی سړې وی.ځکه چه دلعان په شرطونوکښې بوشرط دا دې چه ښځه داسې وی.چه د هغې قاذف باندې حدقذف جاری کیدې شی.نودغه شان به د خاوند نه د لعان مطالبه نشی کولې.ځکه چه لعان د حدقذف قائم مقام دې.(نوچه حدقذف نشی ورکولې.لعان به هم نشی کولې)

وَقَذْفُ الْأَخْرَسِ اود ګونګی تهمت لګول **لَايَتَعَلَّقُ بِهِ اللِّعَانُ** دې سره به هم لعان نه متعلق کیږی

تشریح اوکه ګونګا په خپله ښځه باندې د زنا تهمت اولګولو.نوپه دې پورې هم لعان نه متعلق کیږی. ([1])
دلیله دلیل دا دې.چه لعان په صریحی قذف پورې متعلق کیږی.لکه څنګه چه حدقذف په صریحی قذف پورې متعلق کیږی.

په (لیس حملک منی) باندې د لعان د ثبوت حکم

وَإِذَاقَالَ الزَّوْجُ اوکه خاوند اووئیل **لَيْسَ حَمْلُكِ مِنِّي** چه ستا حمل زما نه نه دې.**فَلَالِعَانَ** نو لعان به نه وی.اودا د امام ابوحنیفه اود زفر رحمهما الله قول دې

تشریح مسئله دا ده.که خاوند خپلې ښځې ته اووئیل.(حملک لیس منی)نوپه دې باندې نه لعان ثابتیږی.اونه حدخود لعان عدم ثبوت د امام ابوحنیفه اوامام زفر رحمهما الله قول دې.اودا قول د امام احمد رحمه الله هم دې. ([2])
دلیله ځکه چه د حمل وجود نشته.نو دې به قاذف نه وی
مسلک الصاحبین صاحبین رحمهما الله فرمائی.که دې ښځې د تهمت لګیدو د وخت نه پس د شپږو میاشتونه په کمه موده کښې ماشوم اوزیږولو.نودحمل د نفی کولوپه وجه به لعان واجب وی.اود شپږو میاشتو د کمې مودې قید په مبسوط کښې ذکردې.دلیل دا دې.چه په کوم وخت کښې دحمل نفی شوې وه.په هغه وخت کښې دحمل وجود یقینی نه وو.ځکه چه کیدې شوه.چه په خیټه کښې ګیس وو.دهغې د وجې خیټه پرسیدلې وه.اوپه هغې دحمل ګمان کړې شوې وو.نوځکه خاوند تهمت لګونکې نشی شمارلې.اوهرکله چه قذف ثابت نشو.نولعان به هم نشی کولې.
دلیلهما دصاحبینو رحمهما الله دلیل دا دې.چه هرکله د قذف د وخت نه پس د شپږومیاشتو نه په کمه موده کښې ماشوم پیدا شو.نومونږ ته یقین راغلو.چه د قذف په وخت کښې حمل موجود وو.نوتهمت لګول موجود شو.اوچه تهمت لګول موجود شو.نوپه خاوند باندې لعان واجب شو.

الجواب عنه جواب دا دې.چه د خاوند قول چه (حملک لیس منی) فی الحال قذف نه دې.ځکه چه فی الحال د حمل وجود یقینی نه دې.نودا داسې شوه.لکه چه په شرط پورې معلق کړې شوې وی.اوخاوند وئیلی وی.(ان کان بک حمل فلیس منی)که ته حامله یې.نوهغه حمل به زما نه نه وی.اوقذف په شرط پورې معلق کول صحیح نه دې.نوځکه دا قذف نه شو.اوچه قذف نشو.نولعان هم واجب نشو.

---

[1] **مسلک الشافعی**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه د ګونګا اشاره داسې ده.لکه څنګه چه د خبرې کونکې اشاره ده.اود ګونګا په اشاره د لعان عدم وجوب ددې وجې دې.چه دګونګا د زنا عیب لګولوکښې شبه موجود ده.اود شبهاتو په وجه حدود لرې کولی شی.

[2] القول الراجح هو قول ابی حنیفة وزفر رحمهما الله کذا فی فتح القدیر(۴\۱۴) والخانیة (۲\۲۶۸) والبحرالرائق (۴\۱۲۱) نقلا عن القول الراجح (۱\۳۶۳)-

دخاوند دقول (زنیت وهذا الحمل من الزنا) حکم

وَإِنْ قَالَ لَهَا زَنَيْتِ اوکه خاوند خپلې ښځې ته اووئیل وَهٰذَا الْحَمْلُ مِنَ الزِّنَا تا زنا کړې ده.اودا حمل د زنا نه (پیدا) دی. تَلَاعَنَا نو دواړه به لعان کوی

حل اللغة ﴿ ① **الحبل**: حمل،امید،په رحم کښې دننه بچی

تشریح﴾ مسئله دا ده.که خاوند اووئیل.تا زنا کړې ده.او دا حمل د زنا نه دی.نو په دې صورت کښې به ښځه اوخاوند دواړه لعان کوی.

دلیله﴾ دلیل دا دی.چه ښکاره د زنا لفظ موجود دی.نوتهمت لګول موجود شو.

وَلَمْ يَنْفِ الْقَاضِي الْحَمْلَ مِنْهُ او قاضی به حمل (ددې سړی نه) نه نفی کوی

تشریح﴾ البته قاضی به ددې حمل دنسب نفی نه کوی. ([1])

دلیله﴾ دلیل دا دی.چه د ماشوم نفی کول دماشوم په احکامو کښې یوحکم دی.او احکام ماشوم مرتب کیږی.د ولادت نه پس ورانډې نه،ځکه چه دولادت نه ورانډې شبه موجود وی.کیدې شی.چه حمل نه وی. بلکه دوبنې نه خیټه ډکه شوې وی.

دولد د نفی څه و صورتونه

وَإِذَا نَفَى الرَّجُلُ وَلَدَ امْرَأَتِهِ عَقِيبَ الْوِلَادَةِ أَوْ فِي الْحَالَةِ الَّتِي تُقْبَلُ التَّهْنِئَةُ فِيهَا وَتُبْتَاعُ آلَةُ الْوِلَادَةِ اوکه سړی د خپلې بی بی د بچی پیدا کیدلو نه پس، یا په کوم حالت کښې چه مبارکباد قبلولې شی.یا د پیدائش څیزونه اخستې شی.نفی اوکړله صَحَّ نَفْيُهُ نو نفی کول صحیح ده وَلَاعَنَ بِهِ او ددې په وجه به لعان کوی.وَإِنْ نَفَاهُ بَعْدَ ذَٰلِكَ لَاعَنَ که ددې نه پس ئې نفی اوکړله نو لعان به کوی وَيَثْبُتُ النَّسَبُ او نسب به ثابت پاتې کیږی ([2])

حل اللغة ﴿ ① **عقیب**: روسته ② **تهنئة**: مبارکی

تشریح﴾ په دې عبارت کښې د بچی د نفی څوصورتونه بیان شوی دی.① دپیدا کیدو سره سمدستی نفی اوکړی② په هغه وخت کښې نفی اوکړی.چه دبچی په پیدا کیدو مبارکی قبلولې شی. ③دولادت د سامان اخستلو په وخت کښې نفی اوکړی.په دې درې واړه صورتونو کښې نفی صحیح ده.یعنی دبچی نسب دپلار نه نه ثابتیږی.اودنفی کولو په وجه به خاوند باندې لعان واجبیږی.

اوکه دبچی نفی ددې حالتونو نه پس اوکړی.نو لعان به کوی.اودبچی نسب دده نه ثابتیږی. دا دامام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دی

دلیله﴾ دلیل دا دی.چه دموده حد مقررولو څه معنی نشته.ځکه چه وخت د سوچ فکرد پاره وی.او په سوچ اوغورفکر کښې دخلقو حالتونه مختلف وی.نوځکه مونږ دهغه څیزونو اعتبار نه کوو.کوم چه د ماشوم په نفی نه کولو باندې دلالت کوی.اوهغه څیزونه چه د ماشوم په نه نفی کولو باندې دلالت کوی.دماشوم په پیدائش مبارکی قبلول،یادمبارکۍ په وخت کښې چپ پاتې کیدل،یا د ولادت سامان اخستل،یا

---

[1] مسلک الشافعی:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه قاضی به د دې حمل دنسب نفی کوی.

[2] القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الدرالمنتقى (١\٤٦٨) وفتح القدير(٤\١٢٦) والدرالمختار (٢\٦٤١) والبحرالرائق (٤\١٢١) والهندية (١\٥١٩) نقلاً عن القول الراجح (١\٣٦٥)-

دومره وخت په داسې حالت کښې تیرېدل چه خاوند د بچی نفی نه وی کړې.دا تولې خبرې په دلالت کوی.چه خاوند دبچی په پیدا کیدو باندې خوشحاله دې.اودې خپل بچې ګڼری.نوکه ددې نه پس نفی کوی.نودا نفی کول صحیح نه دی.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يَصِحُّ نَفْيُهُ فِي مُدَّةِ النِّفَاسِ او صاحبین فرمائی چې صحیح کیږی نفی کول دده په موده د نفاس کښې

مسلک الصاحبین ﴿ صاحبین ﷫ فرمائی.چه دنفاس په موده کښې دننه د بچی نفی کول صحیح دی.
دلیلهما ﴿ دلیل دا دې.چه په لږه موده کښې د بچی نفی کول صحیح دی.اوپه ډیره موده کښې نفی کول صحیح نه دی.اوپه لږه اوډیره موده کښې حدفاصل د نفاس مودهٔ ده.یعنی دنفاس مودهٔ کمه ده.اوددې نه زیاته مودهٔ زیاته ده.اود نفاس مودهٔ حدفاصل ځکه مقررکړې شو.چه نفاس د ولادت اثردی.اوپه مبسوط کښې دی.چه موده دنفاس د ولادت د حالت پشان ده.یعنی په دې وخت کښې نه مونځ کولې شی.اونه روژه نیولې شی.(لکه ځنګه چه په حالت د ولادت کښې دا نشی کولې)

په یوه خیټه کښې د دوو ماشومانو دیونفی کول

وَإِنْ وَلَدَتْ وَلَدَيْنِ فِي بَطْنٍ وَاحِدٍ اوکه ښځې دوه بچی د یوې خیټې (حمل) نه راوزېږل فَنَفَى الْأَوَّلَ .نو خاوند د رومبی بچی نفی اوکړله وَاعْتَرَفَ بِالثَّانِي اود دویم بچی اقرار ئې اوکړلو. ثَبَتَ نَسَبُهُمَا نود دواړو نسب به دده نه ثابت وی وَحُدَّ الزَّوْجُ او خاوند ته به حدقذف ورکولې شی

حل اللغة ﴿ ① **بطن:** خیټه

تشریح ﴿ مسئله دا ده.که یوې ښځې په یوه خیټه دوه ماشومان اوزېږول.یعنی د دواړو ماشومانو په مینځ کښې د شپږو میاشتونه کمه مودهٔ وه.نوددې ښځې خاوندد اولنی بچی دنسب نفی اوکړله.اود دویم ئې اقرار اوکړلو.نوددې کس نه به د دواړو بچونسب ثابتیږی.
دلیله ﴿ ځکه چه دواړه بچی غبرګون دی.هم د یوې منئ نه پیدا شوی دی.نودا ځنګه کیدې شی.چه یوبچې دې دده وی.اوبل دې دده نه وی.بلکه د دواړوبچو نسب به هم دده نه ثابتیږی.البته په خاوندباندې به حدقذف جارې کولې شی.ځکه چه دده د دویم بچی د نسب دعوی اوکړله.اودخپل خان تکذیب ئې اوکړلو.

وَإِنِ اعْتَرَفَ بِالْأَوَّلِ اوکه خاوند درومبی بچی اقرار اوکړو وَنَفَى الثَّانِي اود دویم بچی نفی ئې اوکړله ثَبَتَ نَسَبُهُمَا نود دواړو نسب (به دده نه) ثابت وی.

تشریح ﴿ که خاوند د اولنی بچی د نسب اقراراوکړلو.اوددویم بچی دنسب نه ئې انکاراوکړلو.نوپه دې صورت کښې هم د دواړو بچو نسب هم دده نه ثابتیږی.
دلیله ﴿ دلیل دا دې چه دواړه بچی غبرګون دی.

وَلَاعَنَ .او خاوند به لعان کوی

تشریح ﴿ البته دومره ده.چه په دې صورت کښې په ده باندې لعان شته.
دلیله ﴿ دلیل دادې.چه په دې صورت کښې خاوندتهمت لګولې دې.خوددې نه ئې رجوع نه ده کړې.

كِتَابُ الْعِدَّةِ

ترجمه (دا) باب دعدت (داحكامويه بيان كښې) دې.

تشريح **الربط بما قبلها** چونكه عدت د فرقت اثر دې.اواثر د مؤثرنه پس وی.نوځكه ئې اول د مؤثر(بيلتون) وجوه طلاق، خلع، لعان عنين وغيره ذكركړل.اود دې ځائې نه د اثريعنې عدت بيان دې.

سببها دعدت سبب نكاح يا شبه دنكاح ده.

شرطها ددې شرط زوال دنكاح دې.

ركنها ركن ئې هغه حرمتونه دی.كوم چه د فرقت په وخت كښې ثابتيږی.اوحكم ئې عدم جوازنكاح اونورممنوعات دی.

تعريفها لغة په لغت كښې عدت دښځې دحيض د ورځوشمارلوته وائی.

تعريفها شرعا اوپه شريعت كښې هغه ورځوته وائی.كومې چه په ښځه باندې د خاوند دطرفه دملك متعه د زوال نه پس دې باندې په انتظاركولوكښې لازميږی.خوپه دې شرط چه دا ښځه مدخول بها وی.يا ورسره خلوت شوې وی.يا ئې خاوند مړشوې وی.

اقسامها باعتبار المرأة دښځوپه اعتبارسره د عدت څلورقسمونه دی.① دری حيض، ②دری مياشتې③وضع دحمل④ څلور مياشتې اولس ورځې.اولنې د ذوات الحيض عدت دې.دويم د غيرذوات الحيض دريم د حامله او څلورم د متوفى عنها زوجها عدت دې.

ددرې حيضوعدت ليرولوصورت

إِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ طَلَاقًا بَائِنًا أَوْرَجْعِيًّا او هركله چه سړی خپلې ښځې ته طلاق بائن يا طلاق رجعی وركړو **أَوْوَقَعَتِ الْفُرْقَةُ بَيْنَهُمَا بِغَيْرِ طَلَاقٍ** يا دواړوكښې فرقت د طلاق نه بغير واقع شو **وَهِيَ حُرَّةٌ** حالانكه دا آزاده ښځه د هغه ښځو څخه ده. **مِمَّنْ تَحِيضُ** چاته چه حيض راځی **فَعِدَّتُهَا ثَلَاثَةُ أَقْرَاءٍ** نوددې عدت درې حيضه دې

تشريح مسئله دا ده.كه يوكس خپلې ښځې ته طلاق بائن يا طلاق رجعی وركړلو.يا ددې دواړو په مينځ كښې د طلاق نه بغيرفرقت واقع شی.اودا ښځه آزاده وی.اود ذوات الحيض څخه وی.نوددې عدت درې حيضه دی.مصنف رحمه الله ته پكار وو.چه په عبارت كښې ئې (وقد دخل بها) قيد ذكركړې وو.ځكه چه دمدخول بها عدت واجب وی.دغيرمدخول بها واجب نه وی.خود (رجعيا) ذكركولونه پس ددې قيدڅه ضرورت پاتې نشو.ځكه چه رجعت په مدخول بها كښې وی.په غيرمدخول بها كښې نه وی.

اودطلاق نه علاوه په بل څه وجه فرقت به دا وی.چه په خياربلوغ يا په خيارعتق سره ئې بيلتون واقع شوې وی.يا دعدم كفاءت په وجه يا دا چه په ښځه خاوند كښې يودبل مالك شی.ددې په وجه نكاح فاسده شی.ياد ښځې دارتداد په وجه.نوپه دې تولوصورتونوكښې فرقت بغيرطلاق واقع كيږی.

فليله د دې دليل چه عدت درې حيضه دی.دالله تعالى دا ارشاد دې. ﴿وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ﴾ ترجمه اوهغه ښځې چه طلاق ورته وركړې شوې وی.هغوی به خپل ځانونه درې حيضه ايساروی.دا آيت په عدت د طلاق كښې ظاهرالمراد دې.

توضیح الفرقة بغیر طلاق ﴿ اوپاتې شوچه بیلتون بغیرطلاقه نودا د طلاق په حکم کښې دې.

فائده ﴿ ځکه چه عدت ددې وجې واجب دې.چه کوم بیلتون چه په نکاح کښې راغلی وی.په هغې کښې د رحم پاکې معلوم شی.اودا معنی یعنی د رحم پاکې معلومیدل دطلاق نه بغیرنه راځی.نوځکه فرقت بغیرطلاقه دطلاق په حکم کښې دې.

وَالْأَقْرَاءُ الْحِيَضُ او زمونږ په نیز قروء نه حیض مراد دې.

تصریح ﴿ صاحب دهدایه رحمه الله د ﴿قُرُوْءٍ﴾ په لفظ باندې بحث کوی.اوفرمائی.چه دا قروء لفظ دحیض اوطهردواړو په معنی کښې حقیقت دې.ځکه چه دا لفظ د اضدادوڅخه دی.دلغت داامام ابن السکیت رائې هم دا ده. چونکه دا لفظ په دوو متضاد معانیوکښې مشترك دې.ځکه په یو وخت کښې دواړه معانی مراد نشی اخستلې.نودقروء دلفظ نه حیض مراد دې.(۱)

دلائله ﴿ ① دلیل دا دې.چه لفظ د قروء دجمعې صیغه استعمال شوې ده.اوکمه درجه د جمعې درې دی.نودحیض معنی چه مراد واخستې شی.په لفظ دجمع باندې عمل کیدې شی.اوکه دطهرمعنی مراد واخستلې شی.نوپه جمع باندې عمل نشی کیدې.ځکه چه په طلاق کښې سنت طریقه دا ده.چه په طهرکښې واقع کړې شی.نواوس دوه صورتونه دی.یودا چه هغه طهریه کوم کښې چه طلاق واقع شوی وی دا به په عدت کښې شمارلې شی.نوپه دې صورت کښې پوره درې حیضه نه پاتې کیږی.بلکه دوه طهرونه پوره اودریم طهرناقص پاتې کیږی.اوکه دا طهریه عدت کښې نشی شمارلې.نود دریونه زیاتیږی.بهرحال په دواړوصورتونو کښې په جمع باندې عمل نشی کیدې.اوکه د ﴿قُرُوْءٍ﴾ نه حیض مراد واخستې شی.نوپه جمع باندې عمل کیدې شی.په دې طریقه چه دطهریه زمانه کښې طلاق ورکړی.اوددې نه پس بیا درې حیضه تیرشی.

② دویم دلیل دا دې.چه دعدت مقصود د رحم پاکې معلومول دی.اودا مقصود په حیض سره حاصلیږی په طهرسره نه.

د غیرذوات الحیض دعدت موده

وَإِنْ كَانَتْ لَا تَحِيضُ مِنْ صِغَرٍ أَوْ كِبَرٍ اوکه ښځه د هغه ښځو څخنې ده.چه دې ته د ماشومتوب یا بوډئ توب په وجه حیض نه راځی. **فَعِدَّتُهَا ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ** نو د دې عدت درې میاشتې دی

حل اللغة ﴿ ① **صغر**:ورکوتیوالې

تصریح ﴿ چه دحیض نه راتلل د کم عمرئ د وجې وی.یادا چه ښځه د نا امیدئ (بوډاتوب) عمرته رسیدلې وی.نوددې وجې حیض نه راځی.یا دا چه ښځه دعمریه لحاظ سره بالغه شوې وی.دصاحبینو رحمهما الله په نیزچه د پنځلسو کالو وی. اودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزچه د اوولسو کالووی.خولاتراوسه پورې نې حیض نه وی راغلې.د دې درې واړه قسمه ښځوعدت به درې میاشتې وی.کومې چه د درې حیضوقائم مقام دی.

فائده ﴿ دلیل دا آیت دې.چه ﴿وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِنْ نِسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ﴾ یعنی ستاسوپه طلاقو شوو ښځوکښې چه کومې ښځې (په وجه د زیات عمر) دحیض راتلونه نا امیده شوې وی. که تاسوته (د دوی دعدت په مقررکولوکښې) شبه وی.نود دوی عدت درې میاشتې

---

(۱) دامام شافعی رحمه الله په نیزطهرمراد دې.

دي.اودغه شان کوم ښځو ته چه دکم عمرئ په وجه حيض نه راځي.(مرشد تهانوي)
صاحب دفتح القدير رحمه الله فرمائي.چه کله آيت د قروء نازل شو.نوصحابه کرامو رضي الله عنهم اووئيل.چه د ذوات الحيض عدت خو مونږ ته معلوم شو.خودا راته معلومه نه ده.چه کومې ښځې غيرذوات الحيض وي.يادهغوی دعدت مونږ ته علم نه وی.نودهغوی به څه حکم وی؟په دې باندې آيت نازل شو.چه يعنی که تاسوته د غيرذوات الحيض په عدت کښې شك وی.اوتراوسه پورې درته معلومه نه وی.نوددوی عدت درې مياشتې دی.

وَاِنْ كَانَتْ حَامِلًا اوکه دا ښځه حامله وی فَعِدَّتُهَا اَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا نو ددې عدت دادې.چه دا وضع د حمل اوکړی

تشريح اوکه ښځه حامله وی.نوددې عدت وضع د حمل ده.

دليله دليل دا آيت دې. ﴿وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ يعنی دحامله ښځوعدت به ددغې حمل په پيدائش باندې کيږی.(حضرت اقدس تهانوی رحمه الله)

د مطلقې وينځې عدت

وَاِنْ كَانَتْ اَمَةً اوکه دا ښځه وينځه وی فَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ نو ددې عدت دوه حيضه دې.

تشريح صورت د مسئلې دادې چه که مطلقه وينځه وی نو ددې عدت به دوه حيضه وی

دلائله ① دليل د نبی کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد دې چه(طلاق الامة تطليقتان وعدتها حيضتان) (
② عقلی دليل دادې چه مملوکيت نعمت اوعذاب لره نصف کوی. دالله جل جلاله ارشاد دې چه ﴿فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ﴾ اوپو حيض تقسيم کيدې نشی څکه هغه پوره کړې شو اودغه شان به د مطلقه وينځې عدت دوه حيضه وی.
ددې طرف ته حضرت عمر رضي الله عنه اشاره کړې ده که زما په وس کښې وې نود وينځې عدت به مې يو نيم حيض کرځولې وو.خو دا خبره زما په وس کښې نه ده. نو څکه ما دا دوه حيضه کړل.(٥)

وَاِنْ كَانَتْ لَا تَحِيْضُ اوکه وينځه داسې وی.چه دې ته حيض نه راځی فَعِدَّتُهَا شَهْرٌ وَنِصْفٌ نو ددې عدت يوه نيمه مياشت دې

تشريح اوکه دغه مطلقه وينځه د ذوات الحيض څنې نه وی.نوددې عدت يوه نيمه مياشت دې.

دليله څکه چه مياشت متجزی(تکړې) کيدېشی نو په رقيت باندې عمل کولو دپاره موده نيمه کړې شوه.

دمتوفی عنها زوجها عدت

وَاِذَا مَاتَ الرَّجُلُ عَنِ امْرَأَتِهِ الْحُرَّةِ اوکله چې د خپل آزادې ښځې خاوند مړ شی فَعِدَّتُهَا اَرْبَعَةُ اَشْهُرٍ وَّعَشْرَةُ اَيَّامٍ څلور مياشتې او لس ورځې دی

تشريح مسئله داده چه متوفی عنها زوجها عدت څلور مياشتې اولس ورځې دی. برابره ده که دا ښځه د ذوات الحيض څنې وی اوکه دغير ذوات الحيض، که مسلمانه وی اوکه کتابيه وی. که بالغه وی

٦٥) اخرجه عبدالرزاق فی مصنفه(نصب الراية:٣\٢٧١).

اوكه نابالغه وي.كه مدخول بها وي اوكه غير مدخول بها وي. كه آنيسه وي اوكه غير انيسه وي كه ددې خاوند آزاد وي اوكه غير آزاد وي.

دليله> دليل دالله ﷻ دا آيت دې ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا﴾ يعنى په تاسو كښې هغه خلق چه خپلې بيبيانې پريږدي او وفات شي نوددوئ بيبيانې به خپل خانونه څلور مياشتې او لس ورځې په انتظار كښې ساتي. اوكه متوفى عنها زوجها وينځه وي نو ددې عدت به دوه مياشتې او پنځه ورځې وي ځكه چه رقيت تنصيف راولي.

وَإِن كَانَتْ أَمَةً فَعِدَّتُهَا شَهْرَانِ وَخَمْسَةُ أَيَّامٍ اوكه متوفى عنها زوجها وينځه وي نو د دې عدت دوه مياشتې پنځه ورځې دې

تشريح> اوكه متوفى عنها زوجها وينځه وي نو ددې عدت به دوه مياشتې او پنځه ورځې وي

دليله> ځكه چه رقيت تنصيف راولي.

دحامله عدت وضع دحمل ده

وَإِنْ كَانَتْ حَامِلًا اوكه متوفى عنها زوجها حامله ده فَعِدَّتُهَا أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا نو ددې عدت دادې.چه دا خپل حمل اوزيګوي.

تشريح> فرمائي چه متوفى عنها زوجها كه آزاده وي اوكه وينځه كه حامله وي نو ددې عدت وضع د حمل ده.

دليله> دليل دا دې.چه دالله تعالى ارشاد دې.﴿وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾او دا مطلق دې نودخپل اطلاق دوجې متوفى عنها زوجها اوغيرمتوفى عنها زوجها ټولو ته شامل دې.

په مرض الوفات كښې د مطلقه وارث جوړيدل اوعدت

وَإِذَا وَرِثَتِ الْمُطَلَّقَةُ فِي الْمَرَضِ اوكله چه مطلقه (دخاوندنه) په مرض الوفات كښې وارثه شي. فَعِدَّتُهَا أَبْعَدُ الْأَجَلَيْنِ نوددې عدت به په دواړومدوكښې اوږده موده وي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ(۱) په نيز دامام ابوحنيفه

تشريح> صورت د مسئلې دا دې.چه يوكس په خپل مرض الوفات كښې خپلې ښځې ته طلاق بائن وركړلو، يا ئې ورته درې طلاقه وركړل.اوبيا هم په عدت كښې مړشو.نودده ښځه به وارثه وي.اوددې ښځې عدت أبعدالاجلين دې.يعنى په دې ښځه دطلاق دوجې درې حيضه تيرول واجب دى.اود خاوند دوفات په وجه څلورمياشتې اولس ورځې تيرول واجب دى.نوكه درې حيضه تيرشول.خوڅلورمياشتې اولس ورځې نه وې برابر شوې.نوونيلې به شي.چه تراوسه پورې عدت نه دې پوره شوې.تردې چه څلورمياشتې او لس ورځې تيرې شى.اوكه څلورمياشتې اولس ورځې تيرې شوې وې.خودرې حيضه نه وو پوره شوى.په دې طريقه چه ښځه ممتده د طهروه.نوهم دا به ونيلې شي.چه تراوسه پورې عدت پوره شوې نه دې.تردې چه درې حيضه راشي.اګرچه ښځې ته دڅوكالو انتظاركولوضرورت پيښ شي.دا حكم دطرفينو ﷫ په نيز دې. په هدايه كښې ئې د امام ابوحنيفه سره امام محمد هم ذكر كړې دې .

---

(۱) القول الراجح هو قول الطرفين ﷫ كذا في خلاصة الفتاوى (۱۱۷\۲) والدرالمختار(۶۵۷\۲) والهندية (۵۳۰\۱) نقلاً عن القول الراجح (۳۶۹\۱)-

لهما اودطرفینو رحمهما الله دلیل دادي چه هرکله نکاح دمیراث په حق کښې باقي ده نو داحتیاط په وجه به دعدت په حق کښې هم باقي وي. ددې وجه دواړه عدتونه جمع کړې شول. ځکه چه دا ښځه په حقیقت کښې بائنه ده.اود حکم په اعتبار سره متوفی عنها زوجها ده.
مسلك ابي یوسف اوامام یوسف رحمه الله فرمائي چه ددې عدت صرف درې حیضه دې.علامه مرغیناني رحمه الله په هدایه کښې فرمائي چه دا اختلاف په هغه صورت کښې دې چه دې ته طلاق بائن درې طلاقه ورکړې شوي وي.اوکه طلاق رجعي ورته ورکړې شوې وي نو په دې صورت کښې به په اتفاق سره عدت د وفات یعنی څلور میاشتې او لس ورځې تیروي.
وله دامام یوسف رحمه الله دلیل دادي چه نکاح خو دمرګ نه وړاندې په طلاق بائن سره منقطع شوې ده او چونکه د طلاق عدت درې حیضه دي نو ځکه په ښځه باندې درې حیضه تیرول واجب دي.اوپاتې شو عدت وفات نودا به په هغه صورت کښې واجبیږي چه نکاح د خاوند په وفات سره زائله شي. حالانکه دلته داسې نه ده نو ځکه به په دې ښځه عدت وفات واجب نه وي.بلکه عدت طلاق به واجب وي.

دمرئنه خاوند دمرګ پورې دطلاق رجعي په حالت کښې د وینځې آزادیدل.

وان اعتقت الامة في عدتها من طلاق رجعي نوکه وینځه د خپل طلاق رجعي په عدت کښې آزاده کړې شوه انتقلت عدتها نو ددې عدت منتقل کیږي الی عدة الحرائر او آزادې ښځې طرف ته واپس کیږي

تشریح صورت د مسئلې دادې چه وینځې ته خپل خاوند طلاق رجعي ورکړلو اوبه عدت کښې داخپل مولی آزاده که نو ددې عدت به د آزادو ښځو عدت ته منتقل کیږي یعنی که ذوات الحیض کښې وي نو درې حیضه به تیروي اوکه دغیر ذوات الحیض نه وي نودرې میاشتې به عدت تیروي.
دلیله دلیل دادې چه په طلاق رجعي کښې نکاح نه ختمیږي بلکه من کل وجه نکاح باقي وي نو دا داسې شوه لکه چه مولی خپله منکوحه کیدو په حالت کښې آزاده کړې وي.

وان اعتقت وهي مبتوتة اوکه دا وینځه په داسې حالت کښې آزاده کړې شوه.چه معتده بائنه ده او متوفی عنها زوجها .یا،، متوفی عنها زوجها،، ده لم تنتقل عدتها الی عدة الحرائر نو ددې عدت د آزادو ښځو عدت طرف ته نه منتقل کیږي

تشریح اوکه دا وینځه په داسې حالت کښې آزاده کړې شی چه دا مطلقه بائنه وي یا ددې خاوند مړ شوې وي او دا د وفات عدت تیروي نو په دې صورت کښې به ددې عدت د آزادو ښځو عدت ته نه منتقل کیږي.
دلیله دلیل دادې چه دطلاق بائن او دمرګ په وجه نکاح زائله شوه نودا داسې شوه لکه چه مولی دغیر منکوحه په حالت کښې آزاده کړې وي.

آیسه په عدت کښې دحیض والا کیدل

وان کانت آیسة اوکه (مطلقه ښځه) دخپل حیض نه نا امیده وي فاعتدت بالشهور نودې د میاشتو نه عدت پوره کول شروع کړل ثم رأت الدم بیا دې وینه اوکتله. انتقض ما مضى من عدتها نوکومه موده چه دې په عدت کښې تیره شوه.هغه (عدت) مات شو وکان علیها ان تستانف العدة بالحیض او په دې به دسره (دوباره) په حیض سره عدت تیرول واجب وي

حل اللغة ۱ **آیسة**: هغه ښځه چه د حیض راتلو نه نا امیده شوې وی ۲ **الشهور**: جمع د شهر د میاشت

تشریح صورت دمسئلې دادې چه که مطلقه دحیض نه مایوسه وی او دې به درې میاشتو سره عدت تیرولو او اوس په دې دوران کښې د حیض وینه راغله نو حکم دادې چه په میاشتو سره کوم عدت تیرکړې دې هغه باطل شو اوس به دا د سر نه په حیض سره عدت تیروی.

صاحب دهدایه په هدایه کښې فرمائی چه دامام قدوری رحمه الله مراد دادې چه ددې ښځې د نا امیدئ نه وراندې کوم عادت وودهغې مطابق ئې وینه اولیدله نو عدت باالشهور باطل شو کنی نه باطلیږی.

دلیله دلیل دادې چه دعادت په طور دوینې راتلل دحیض نه مایوسی باطلوی. هم دا قول صحیح دې. نو ښکاره شوه چه دمیاشت عدت دهغې خلیفه نه دې. اودخلیفه باطل کیدل ددې وجې وو چه د خلیفه کیدو شرط دا دې چه اصل یعنی د حیض نه مایوسی متحقق وی. اودابه هله متحقق وی چه تر مرګه پورې وی. خوچه کله ددې ښځې دعادت مطابق وینه راغله نو ددې عدت به په حیض سره وی. په میاشتو سره به نه وی. ځکه چه په اصل قدرت وی. نودخلیفه څه اعتبار نه وی.

نظیره لکه څنګه چه شیخ فانی ته د روژې په ځائې دفدیه ورکولو اجازت ورکړې شوې دې خوکه دا کس په روژه نیولو قادر شو نو دفدیه حکم باطل شو. او دروژې قضاء راوړل به واجب وی دغه شان که متیمم داوبو په استعمالو باندې قادر شو نو دتیمم حکم باطل شو.

د نکاح فاسده او وطی باالشبه حکم

وَالْمَنْكُوحَةُ نِكَاحًا فَاسِدًا او کومې ښځې سره چه نکاح فاسد اوکړې شوه. وَالْمَوْطُوءَةُ بِشُبْهَةٍ اوکومې ښځې سره چه په شبه کښې وطی اوکړې شوه عِدَّتُهُمَا الْحَيْضُ فِي الْفُرْقَةِ وَالْمَوْتِ ددې دواړو عدت د فرقت اومرګ په حالت کښې حیض دې

حل اللغة ۱ **الموطوءة**: وطی کړې شوې ۲ **الفرقة**: جدائی

تشریح صورت دمسئلې دادې که چاسره نکاح فاسده اوشی مثلاً بغیر ګواه نه نکاح اوشی یا وطی بالشبه اوشی مثلاً په دهوکه کښې دخپلې ښځې نه سوا بلې ښځې ته بوتللې شی.او وطی ور سره اوکړی نو په دې صورت کښې به واطی (وطی کونکی) باندې مهر واجب وی. او په ښځه عدت واجب دې. برابره ده که واطی مړ شو یا په دواړو کښې تفریق کړې شوې وی نو که دا ښځه د ذوات الحیض څنې وی او آزاده وی نو ددې عدت درې حیضه دې اوکه وینځه وی نو ددې عدت دوه حیضه دې اوکه دا ښځه غیر ذوات الحیض څنې وی او آزاده وی نو ددې عدت درې میاشتې دې. اوکه وینځه وی نو یوه نیمه میاشت ده.حاصل دا که واطی مړشوې وی نوهم ددې عدت به حیض سره وی اود حیض نه راتلو په صورت کښې به میاشت ددې قائم مقام وی اوعدت وفات څلور میاشتې اولس ورځې به واجب نه وی.

دلیله دلیل دادې چه ددې دواړه قسمه ښځو عدت د رحم دپاکیدو معلومولو دپاره دې. دنکاح حق ادا کولو دپاره نه دې. ځکه چه دنکاح فاسد او وطی بالشبه څه حق نه وی اودرحم دپاکئ علم په حیض سره راځی نو ځکه د دواړو عدت په حیض سره مقرر کړې شو. اوچه حیض نه راځی نو په دې صورت کښې میاشتې د حیض قائم مقام دی.

الاشکال خوکه داسوال اوکړې شی چه دا مقصد خو په یو حیض یا یوې میاشتې سره حاصلیږی نو د درې حیضو د وجوب څه ضرورت دې

الجواب ددې جواب دادې چه شبه نکاح د حقیقی سره لاحق کړې شوه اود درې حیضو تیرولو حکم ورکړې شو.

دام وله نه دمولی وفات کیدل او دهغې عدت

وَإِذَا مَاتَ مَوْلَى أُمِّ الْوَلَدِ عَنْهَا اوکه د ام ولد مولا (ام ولد پریخوده او) مړشو أَوْ أَعْتَقَهَا یا ئې دا آزاده کړله فَعِدَّتُهَا ثَلَاثُ حِيَضٍ نو ددې عدت درې حیضه دي

تشریح> صورت دمسئلې دادې که دام ولد مولی مړشو یا مولی دا آزاده کړه نو ددې ام ولد عدت به درې حیضه وي. (۱)

دلائله> دلیل دادې چه دام ولد عدت د زوال فراش دوجې دې نودا دعدت نکاح مشابه‌شو او چونکه په عدت نکاح کښې درې حیضه وي نو دلته به هم درې حیضه وي.

۲ بیا په دې حکم کښې زمونږ پیشوا حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دې.دوئ فرمائیلی دی عِدَّةُ أُمِّ الْوَلَدِ ثَلَاثُ حِيَضٍ (۱)چه د ام ولد عدت به درې حیضه وي

دصغیر دخپلې ښځې نه وفات کیدل

وَإِذَا مَاتَ الصَّغِيرُ عَنْ امْرَأَتِهِ اوکه نابالغ هلك خپله ښځه پریخوده (او) مړشو. وَبِهَا حَبَلٌ حالانکه دده دا ښځه حامله ده فَعِدَّتُهَا أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا .نو ددې عدت دادې.چه خپل حمل وضع کړي.(اوزیگوي) (۲)

تشریح> مسئله داده چه یو نابالغه هلك ښځه حامله پریښودله اودې ترې مړشو. نودطرفینو رحمهما الله په نیز ددې عدت وضع دحمل ده. (۲)

دلیلهما> د طرفینو دلیل دادې چه‌الله جل جلاله مطلقاً فرمائیلی دی چه دحامله ښځو عدت وضع دحمل دې. برابره ده که هغه عدت دطلاق وي اوکه دوفات وي . او برابره ده که حمل دخاوند وي اوکه دغیر خاوند وي. نودآیت دخپل اطلاق دوجې دنابالغه هللك ښځې ته هم شامل دې. ځکه چه‌دا هم حامله ده.اگر چه ددې نسب ثابت نه دې. او دریم دادې چه دحامله ښځو په باره کښې دعدت وفات اندازه لګول شوې د ه. په موده د وضع دحمل برابر ده که دامودہ کمه وي اوکه زیاته وي. او ددې مودې مقصد دنکاح حق پوره کول دي.دحمل نه د رحم خالي معلومول نه دی ددې‌وجه داده چه عدت وفات د حیض په موجودګۍ کښې دمیاشتونه شروع کیږي.نوثابته شوه چه ددې عدت‌مقصد دنکاح حق ادا کول دي. درحم د فراغت معلومول نه دی.او دا معنی یعنی دنکاح حق پوره کول په ماشوم کښې هم موجود یږي.اگر چه حمل دده نه ثابت نه‌وي.

مسلك ابي يوسف> دامام ابویوسف رحمه الله په نیز ددې عدت څلورمیاشتې اولس ورځې دې او دا دامام شافعي قول هم دې.

---

(۱) مسلك الشافعي:- امام شافعي رحمه الله فرمائی چه ددې عدت یو حیض دې. امام مالك‌او امام محمد رحمه الله هم ددې قائل دی.

(۱) خرجه الزيلعي رحمه الله ثم نقل عن يحيى بن ابي كثير رحمه الله ان عمرو بن العاص رضي الله عنه امر ام الولد اعتقت ان تعتد ثلاث حيض (نصب الراية:۳\۲۷۵)_

(۲) القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في الخانية (۲\۲۷۰) وفتح القدير(۴\۱۴۹) والهندية (۱\۵۳۰) والبحر الرائق (۴\۱۴۱) نقلاً عن القول الراجح (۱\۳۷۰)-

(۱) خرجه الزيلعي رحمه الله ثم نقل عن يحيى بن ابي كثير رحمه الله ان عمرو بن العاص رضي الله عنه امر ام الولد اعتقت ان تعتد ثلاث حيض (نصب الراية:۳\۲۷۵)_

دلیله دلیل دادې چه دا حمل د صغیر نه ثابت نه دې نو دا داسې شوه لکه چه دصغیر دمرګ نه پس دا حامله شوې وی.او په دې صورت کښې په اتفاق سره عدت څلور میاشتې اواولس ورځې دی. نودغه شان په ذکر شوې صورت کښې هم څلور میاشتې او لس ورځې پوره کول ضروری دی.

الجواب عنه کوم حمل دمرګ په وخت کښې حمل نه وی نوپه دې کښې ابتداء د عدت د میاشتو نه کیږی چه دنکاح حق ادا شی.اوس که روستو حمل ښکاره شی نود حدوث حمل دوجې عدت نه متغیر کیږی.

فَإِنْ حَدَثَ الْحَبَلُ بَعْدَ الْمَوْتِ فَعِدَّتُهَا أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرَةُ أَيَّامٍ که چرته د مرګ نه پس امید ښکاره شو.نو د دې عدت به څلور میاشتې او لس ورځې وی

تشریح که زید دخپلې ښځې سره جماع کړې وه.اوبیا دې مړ شو.نوکه د ده د مرګ نه پس علوق ښکاره شوچې دا ښځه حملداره ده.نوپه دې صورت کښې به ددې عدت څلور میاشتې او لس ورځې وی.

په حالت دحیض کښې دطلاق ورکولو صورت کښې عدت

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ فِي حَالَةِ الْحَيْضِ او هرکله چه سړی خپلې ښځې ته په حالت د حیض کښې طلاق ورکړو لَمْ تَعْتَدَّ بِالْحَيْضَةِ الَّتِي وَقَعَ فِيهَا الطَّلَاقُ .نو ښځه به دا حیض په کوم کښې چه طلاق واقع شوې دې.په عدت کښې نه شماری

تشریح مسئله دا ده.که سړی خپلې ښځې ته په حالت دحیض کښې طلاق ورکړو.نوهغه حیض به عدت کښې نشی شمارلې.په کوم کښې چه طلاق واقع شوې وی.

دلیله دلیل دا دې چه په اجماع سره به عدت کښې پوره درې حیضه تیرول ضروری دی.نوځکه به په دې کښې کمې نشی کولې.

دمعتده دوطی بالشبه په صورت کښې عدت

وَإِذَا وُطِئَتِ الْمُعْتَدَّةُ بِشُبْهَةٍ اوکومه ښځه (چه د طلاق بائن) په عدت کښې وه که دې سره وطی بالشبه اوکړې شوه فَعَلَيْهَا عِدَّةٌ أُخْرَى نو په دې ښځه به دویم عدت واجب وی وَتَدَاخَلَتِ الْعِدَّتَانِ دواړه عدتونه به په یویل کښې داخل وی فَيَكُونُ مَا تَرَاهُ الْمَرْأَةُ مِنَ الْحَيْضِ مُحْتَسَبًا مِنْهُمَا جَمِيعًا او ښځه چه کوم حیض ګوری.هغه به په دواړو عدتونوکښې شمار وی وَإِذَا انْقَضَتِ الْعِدَّةُ الْأُولَى او هرکله چه رومبی عدت پوره شی.وَلَمْ تُكْمِلِ الثَّانِيَةَ. حالانکه دویم عدت نه دې پوره شوې فَعَلَيْهَا إِتْمَامُ الْعِدَّةِ الثَّانِيَةِ نو په ښځه باندې دویم عدت پوره کول واجب دی

تشریح مسئله داده که په یو ښځه باندې دوه عدتونه واجب شی نوددې دوه صورتونه دی.نودا دوه عدتونه به یا د دوؤ سړو نه وی یا د یو سړی نه.

صور العدتین من رجل واحد که د یو سړی نه وی نوددې صورت به دا وی ① چه یوکس خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل او بیا ئې دا حلاله اوګنړله اونکاح ئې ورسره اوکړه.او وطی ئې اوکړه. ②یا ئې حلاله اوګنړله اومطلقه ثلاثه سره ئې وطی اوکړه .

③ یا ئې دمطلقه بینه سره په عدت کښې وطی اوکړه نو په دې صورت کښې په اتفاق سره په دواړو عدتونو کښې تداخل کولې شی.

صور العدتین من رجلین اوکه دواړه عدتونه ددوؤ سړو نه وی نو بیا ددې دوه صورتونه دی. یا به د دواړوعدتونو جنس یو وی اویا به مختلف وی.که د دواړو جنس مختلف وو.مثلاً متوفی عنها زوجها

سره په شبه سره وطی شوې وه. نودې حکم په راروانه مسئله کښې ذکردې.اوکه د دوارو عدتونو جنس یو وي.مثلاً مطلقې په خپل عدت کښې بل خاوند سره نکاح اوکړله.اوبیل خاوند ورسره وطی هم کړې وي.اوبیا په دوارو کښې تفریق اوکړې شی.نوپه دې صورت کښې به زمونږ په نیزپه دوارو کښې تداخل کولې شی.
اوبخه چه کوم حیض هم اوګوری.هغه به په دوارو عدتونوکښې شمارلې شی.اوکه اولنې عدت پوره شوې وی او دویم نه وی پوره شوې نودې باندې دویم عدت پوره کول واجب دې.ددې صورت به دا وی چه د ښځې دیوحیض لیدلو نه پس ورسره دویم خاوند وطی اوکړی نود دویم خاوند دوطی کولو نه پس په دې باندې درې حیضه واجب دی اودوه به دځلورو قائمقام شی . په دې طریقه چه دوه حیضه په اولنی عدت کښې او دوه حیضه په دویم کښې شمار کړې شی اودریم حیض صرف په دویم کښې شمار کړې شی.
اوکه د دویم خاوند د وطی نه پس حیض رانغلو نو په دې باندې درې حیضه واجب دی. اودا درې حیضه به د شپږوقائمقام وی. (۱)
دلیله دلیل دادې چه دعدت نه مقصود درحم دحمل نه خالی کیدل معلومول دی. اودا مقصود حاصلیږی په یو عدت سره نو ځکه به دواړه عدتونه متداخل کیږی.

دعدت طلاق او وفات ابتداء

وَابْتِدَاءُ الْعِدَّةِ فِي الطَّلَاقِ عَقِيبَ الطَّلَاقِ اود طلاق په صورت کښې به د عدت ابتداء د طلاق نه پس کیږی وَفِي الْوَفَاةِ عَقِيبَ الْوَفَاةِ اود وفات په صورت کښې به د وفات نه پس کیږی فَإِنْ لَمْ تَعْلَمْ بِالطَّلَاقِ أَوِ الْوَفَاةِ بیا که (ښځې ته) د طلاق یا وفات علم اونشو حَتَّى مَضَتْ مُدَّةُ الْعِدَّةِ تردې چه دعدت موده تیره شوه فَقَدِ انْقَضَتْ عِدَّتُهَا نو ددې عدت پوره شو.

تشریح مصنف فرمائی چه دطلاق په صورت کښې به دعدت ابتداء د طلاق نه پس کیږی. او دوفات په صورت کښې به دعدت ابتداء دوفات نه پس کیږی تردې که خاوند ښځې ته طلاق ورکړلو او دې ته پته وه. دغه شان خاوند ئې مړ شوې وو او دې ته پته نه وه.تردې چه دعدت زمانه تیره شوه نودمعلومیدو نه پس دعدت اعاده واجب نه ده هم دا دځلورو امامانو مذهب دې.
دلیله دلیل دادې چه دعدت واجبونکی طلاق یا وفات دې نو وجوب دعدت معلومول شو اوطلاق یاوفات علت شو. اومعلول د خپل علت سره متصل وی نو ځکه به وجوب دعدت دخپل علت یعنی طلاق یا وفات سر متصل وی او چه د کوم وخت نه علت یا سبب موجود شی نو د هغه وخت نه به دعدت ابتداء معتبره وی.

په نکاح فاسده دعدت ابتداء

وَالْعِدَّةُ فِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ عَقِيبَ التَّفْرِيقِ بَيْنَهُمَا أَوْعَزْمِ الْوَاطِئِ عَلَى تَرْكِ وَطْئِهَا او عدت د نکاح فاسد په صورت کښې د تفریق نه پس یا د وطی کونکی د وطی په پریخودو باندې د پخې ارادې کولو سره شروع کیږی

حل اللغة ① **عقیب**:روستو② **التفریق**: جدا کول

(۱) **مسلک الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی چه په دې صورت کښې هم تداخل نه کیږی بلکه پوره دوه عدتونه به تیروی.

تشريح مصنف رحمه الله فرمائي چه په نکاح فاسده کښې به دعدت ابتداء دهغه وخت نه کيږي کله چه د حاکم د زوجينو په مينځ کښې تفريق اوکړي. يا دوطي نه کولو عزم اوکړي.

دلائله ① دليل دادې چه مونږ دامنو چه دعدت د وجوب سبب وطي ده خو چه څومره وطيات په نکاح فاسده کښې موجود شوي دي هغه ټول په پشان ديووطي دي.ځکه چه ټول وطيات يو عقد طرف ته منسوب دي همدا وجه ده چه دټولو وطياتو په وجه يو مهر واجب دې نو آخري وطي په کومه چه دعدت ترتب وي.هغه به په تفريق کولوسره ثابتيږي يا دوطي نه کولو په عزم سره ځکه چه ددې نه وړاندې عدت نه واجبيږي ځکه چه اوس ددې دغير يعني دوطي وجود ممکن نه دې. (ځکه چه نکاح فاسده ده).

② ددويم دليل حاصل دادې چه حقيقت وطي داسې خفي امر دې چه ددې سبب ظاهر يعني دشبه په طور قدرت علي الوطي موجود دې. اوهر هغه امر خفي چه د ظاهري امرسبب وي نودغه ظاهري سبب به ددغه امر خفي قائمقام وي. نو چه په دې باندې دقدرت حاصل وي. آخري وطي متعين کولې نشي ځکه چه دهر وطي نه پس قدرت علي الوطي باقي وي. ددې وجې مونږ وايو چه په دواړو کښې تفريق يا په ترک وطي باندې عزم ضروري دې. چه قدرت علي الوطي پورته شي. او آخري وطي متعين شي.

په مبتوته اومتوفي عنها زوجها باندې غم کول

وَعَلَى الْمَبْتُوتَةِ چه د کومې ښځې د خپل خاوند نه قطعي جدائي اوشوه.(که په يو طلاق،اوکه په درې طلاقو اوکه په خلع) وَالْمُتَوَفّٰى عَنْهَا زَوْجُهَا اود کومې ښځې چه خاوند مرشي إِذَا كَانَتْ بَالِغَةً مُسْلِمَةً الْحِدَادُ نو په دې باندې غم کول واجب دي کله چه دا بالغه مسلمانه وي

تشريح وړاندې نفس وجوب دعدت اوکيفيت دوجوب عدت بيان کړې شو.اوچه په کومو ښځو عدت واجب دې.اوپه کومو واجب نه دې.ددې بيان اوشو. په دې فصل کښې مصنف دهغه څيزونو ذکر کوي کوم چه په معتداتو باندې واجب وي.اودکوم نه کول چه واجب دي. نوفرمائي چه مبتوته يعني هغه ښځه چه دهغې نه حق د رجعت‌منقطع شوې وي. برابره ده چه په درې طلاقو سره وي اوکه په يو طلاق بائن سره وي.يا په خلع سره وي اوهغه ښځه چه دهغې خاوند وفات شوې وي. که دامسلمانه او بالغه وي نو په دې باندې غم واجب دې.(١)

دليل احداد المتوفي عنها زوجها په متوفي عنها زوجها باندې دغم په وجوب کښې نبي عليه السلام فرمائيلي دي لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ إِلَّا عَلَى زَوْجِهَا أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا

(چه کومه ښځه چه په الله جل جلاله اوپه ورځ د آخرت ايمان راوړې دهغې دپاره مړي باندې د درې ورځو نه زيات غم کول حلال نه دي.سوا د خاوند نه ځکه چه خپل خاوند باندې څلور مياشتې اولس ورځې غم

---

¹ **مسلک الشافعي** - دامام شافعي رحمه الله په نيزغم کول دخاوند په مرګ باندې کولې شي. چا چه دخپل مرګه پورې معاهده پوره کړې وي.حالاتکه دې کس د بائنه کولو په وجه دا په ويره کښې واچوله. نو ددې نالائقه په مرګ غم کول نه دی پکار.

١) من حديث ام عطية رضي الله عنها اخرجه البخاري في الحيض باب ١٢ ومسلم في الطلاق رقم ٦٦ وأبوداود في الطلاق باب ٤٦ رقم ٢٣٠٢ والنسائي في الطلاق باب ٦٤ رقم ٢٣٠٨ وابن ماجه في الطلاق باب ٣٥ رقم ٢٠٨٧ والدارمي في الطلاق باب ١٣ ،أحمد في المسند ٨٥\٥ـ

کولې شي.

دلائله ① دلیل دادې چه نبی کریم ﷺ معتده ښځه د نکریزو داستعمال نه منع کړې ده او فرمائیلي يې دی چه نکریزې خوشبوئي ده. دحدیث راویه سلمه ﷺ ده. او په دې حدیث کښې د معتده وفات او غیر وفات څه تفصیل نشته دې.نو معلومه شوه چه مطلقًا په معتده باندې غم کول واجب دی که معتده دوفات وی اوکه د غیر وفات وی. (۱)

② عقلی دلیل دادې چه مبتوته دمتوفی عنها زوجها پورې لاحقه کړې شي. اوداسې تقریر اوکړې شی چه په متوفی عنها زوجها په غم کولو باندې نص وارد دی لکه څنګه چه اوس حدیث تیرشو. اودغم ښکاره کولو وجوب وجه دنکاح دنعمت په فوت کیدو باندې دافسوس اظهار کول دی. څوك چه ددې ښځې دحفاظت اوکفالت سبب وو. او بینونت واقع کیدل دښځې حق دخاوند دوفات نه زیات قطع کوونکی دې. څکه چه دنکاح حکم د وفات نه پس دعدت تیریدو پورې باقی وی هم دا وجه ده چه ښځه خپل مړ خاوند ته دبائنه کولو نه ورانديې غسل ورکولې شي. خو چه بائنه شی نو ددې نه پس که خاوند مړشو . دا ورته غسل نه شي ورکولې. نوهرکله چه مبتوته دمتوفی عنها زوجها سره لاحقه کړې شوه. نو چه کوم حکم دمتوفی عنها زوجها وی هم هغه حکم به دمبتوته وی.یعنی په دواړو باندې غم کول واجب دی.

دحداد مصداق

وَالْحِدَادُ او حداد أَنْ تَتْرُكَ الطِّيبَ وَالزِّينَةَ وَالدُّهْنَ وَالْكُحْلَ (دادې چه) ښځه خوشبو لګول، او زینت کول، او تیل لګول رانجه لګول، ، إِلَّا مِنْ عُذْرٍ مګرد عذر په وجه (استعمالول جائز دی).

حل اللغة ① **الكحل**:رانجه ② **الدهن**: تیل

تشریح> حداپه معنی دغم کولو دویم لغت احداد دې. اول دباب نصر اوضرب څخه دې. اودویم دباب افعال څخه دې. دښځې غم کول دادی چه دا خوشبوئی لګول زینت کول، رانجه لګول، تیل لګول که خوشبودار وی اوکه غیر خوشبودار وی. داټول څیزونه پریږدی. البته که څه عذر وی اود جامع صغیر د بیان مطابق که درد وغیره وی نو ددې څیزونو په استعمال کښې څه قباحت نشته دې.

دلائل احداد المعتدة> ① او په طریقه د صحت سره ثابته ده چه یوې معتدې دنبی ﷺ نه د رانجو لګولو اجازت اوغوښتلو. نو نبی ﷺ ورته اجازت ورنکړو. (۲)

② او دام سلمه ﷺ نه روایت دې چه (انها قالت امرأة جاءت إلى رسول الله ﷺ وقالت ان زوج ابنتي توفي وقد اشتكت عينها افتكحلها فقال رسول الله ﷺ لا مرتين اوثلاثا). حضرت ام سلمه ﷺ فرمائي چه یو ښځه رسول الله ﷺ له راغله او عرض ئې اوکړو یارسو الله ﷺ الله ﷺ زما د لور خاوند وفات شوې دې. او دهغې سترګو ته تکلیف دې. آیا زه دهغې په سترګوکښې رانجه واچوم.نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل نه. داکلمه

۱) تقدم تخريجه في جنايات الحج۔
(۲) أما المنع عن الإكتحال ففي حديث ام سلمة ﷺ أخرجه البخاري في الطلاق باب ٤٧ ومسلم في الطلاق رقم ٦٠ وأبوداؤد في الطلاق باب ٣٤ رقم ٢٢٩٩ والترمذي في الطلاق باب ١٨ رقم ١١٩٧ والنسائي في الطلاق باب ٦٤ رقم ٣٣٠٧ وابن ماجه في الطلاق باب ٨٥ رقم ٢٠٨٤)

نبي ﷺ دوه خله یا درې خله اوفرمائیله. د دې حدیث نه هم معلومیږي چه معتده به دا څیزونه نه استعمالوي.

اِلَّا مِنْ عُذْرٍ مګر د وجې د عذر نه (که عذر وي بیا احداد کولې شي)

تشریح﴾ المراد من العذر﴿ د قدوري قول (الامن عذر) مطلب دادې چه د معتده د پاره درانجو او تیلو استعمال ، د دوائي په طور استعمال جائز دی. د زیب اوزینت په طور جائزنه دی. اوکه ښځه د تېلو الګولو عادتي وي اوپه دې ویریږي که تیل اونه لګوی نو په سر به ئې درد راشي.نو په دې صورت کښې که غالب ګمان داوي. چه دتیلو دنه لګولو په وجه به بیماره شي نو غالب ګمان به دواقع کیدو پشان اوګرځولې شي او ددې اجازت به ورکړې شي ګنې نه.

وَلَا تَخْتَضِبُ بِالْحِنَّاءِ اود حناء رنګ به نه استعمالوي.

تشریح﴾ امام قدوري ﷫ فرمائي چه دنکریزو رنګ به هم نه استعمالوي.

دلیله﴾ او دام سلمه ﵂ نه روایت دې چه (انها قالت امراة جاءت إلی رسول الله ﷺ وقالت ان زوج ابنتي توفي وقد اشتکت عینها افنکحلها فقال رسول الله ﷺ لا مرتین اوثلاثا). حضرت ام سلمه ﵂ فرمائي چه یو ښځه رسول الله ﷺ له راغله او عرض ئې اوکړو یارسو الله ﷺ الله ﷻ زما د لور خاوند وفات شوې دې. او دهغې سترګو ته تکلیف دې. آیا زه دهغې په سترګوکښې رانجه واچوم.نو نبي ﷺ ورته اوفرمائیل نه. داکلمه نبي ﷺ دوه خله یا درې خله اوفرمائیله. د دې حدیث نه هم معلومیږي چه معتده به دا څیزونه نه استعمالوي.

وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا بِعُصْفُرٍ وَلَا بِزَعْفَرَانٍ اونه به داسې کپړه اغوندی.چه په کسم (یوقسم سورګل) یا زعفران سره رنګ کړې شوی وی

تشریح﴾ اومعتده به په کس او زعفرانو کښې رنګ شوې جامې نه اغوندی

دلیله﴾ ځکه چه ددې نه هم یو قسم خوشبوئي څي. ددې تائید ددې روایت نه هم کیږي چه کوم امام مالك، نسائي، ابوداود نقل کړې دې. (عن ام سلمه ﵂ قالت قال النبي ﷺ لا تلبس المتوفی عنها زوجها المعصفر من الثیاب ولا الممشقة ولا الحلي ولا تختضب ولا تکتحل)سلمه ﵂ فرمائي چه نبي کریم ﷺ فرمائیلی دی چه متوفی عنها زوجها به په معصفر(یوقسم خوشبو داررنګ) کښې رنګشوې جامې نه اغوندی.اونه به د(زیړو رنګ)جامې اغوندی . اونه به کالي اچوي. اونه به رانجه لګوي.

په کافر باندې غم کول نشته دې

وَلَا حِدَادَ عَلٰى كَافِرَةٍ چه په کافره ښځې باندې غم نشته

تشریح﴾ په دې عبارت کښې دهغه معتداتو ذکر دې چه په جا باندې غم کول واجب نه دی فرمائي. چه په کافره ښځه باندې غم کول واجب نه دې. ([1])

---

[1] **مسلك الائمین:-** البته امام شافعي ﷫ او امام مالك ﷫ فرمائي چه په کافره ښځه باندې هم غم کول واجب دې.

دلیله دلیل دادي چه کافره دالله ﷻ دحقوقو مخاطبه نه ده. او غم کول دالله ﷻ په حقوقو کښي دي.

دنبي کريم ﷺ په دي حديث (لايحل لامراة تؤمن بالله واليوم الاخر) کښي دي طرف ته اشاره ده.

وَلَاصَغِيرَةٍ او په صغيره باندي هم سوګ نشته.

تشريح په ماشومه باندي غم کول نشته دي.

دليله ځکه چه دالله ﷻ خطاب ددي نه پورته شوي دي.يعنى داپه خطاب الهى کښي داخله نه ده. او دامام شافعي او امام مالك رحمهما الله په نيز په دي باندي هم غم کول واجب دي.

وَعَلَى الْأَمَةِ الْإِحْدَادُ او په وينځه باندي غم کول واجب دي

تشريح وينځه که په عدت وفات يا طلاق بائن کښي وي نو په دي هم غم کول واجب دي.

دليله ځکه چه وينځه د شريعت په هغه تولو حقوقو مخاطبه ده په کومو چه د مولى حق نه باطليږي. او غم کول داسي څيز دي چه په دي باندي دمولى حق نه باطليږي.

په ام ولد او نکاح فاسد کښي دغم کولو حکم

وَلَيْسَ فِي عِدَّةِ النِّكَاحِ الْفَاسِدِ وَلَافِي عِدَّةِ أُمِّ الْوَلَدِ إِحْدَادٌ او د نکاح فاسد په عدت کښي او د ام ولد په عدت کښي احداد نشته

حل اللغة ① **احداد:** د خاوند په مرګ باندي د زينت پريخودل

تشريح که دام ولد مولى ام ولد آزاده کړه اوهغه مرشو نو په ام ولد باندي دهغه په وجه غم کول واجب نه دي او که يوه ښځه په نکاح فاسده کښي جدا شوه نوددي په عدت کښي هم دغم کول نشته دي.

دليله دليل دادي چه غم کول واجب وي د نکاح دنعمت په زوال باندي اودلته په دي ښځو کښي دچانکاح نه ده زائله شوي.چه په غم کولو سره دهغي اظهار اوکړي. اواصل دادي چه ښځه خپل ځان ښائسته ساتي يعني غم نه کوي نو ځکه به (ددي ښځو په حق) کښي حکم په خپل ځائي اصل باقى وي.

معتده ته دنکاح پيغام ليږل

وَلَا يَنْبَغِي أَنْ تُخْطَبَ الْمُعْتَدَّةُ اومعتدي ته د کوږدن پيغام ورکول مناسب نه دى **وَلَا بَأْسَ بِالتَّعْرِيضِ فِي الْخِطْبَةِ** اود کوږدن په تعريض (اشاره) کولو کښي هيڅ باك نشته. **لِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ} إِلَى أَنْ قَالَ** ځکه د الله تعالى ارشاد دي. **(وَلَا جُنَاحَ...الآيه)** تاسو باندي هيڅ ګناه نشته.چه (دي ذکر شوي)ښځو ته د(نکاح) پيغام ورکولو باره کښي څه خبره اشارةً اوکړئ.يا پخپل زړه کښي(اراده د نکاح) پټه اوساتئ:الله تعالى ته دا خبره معلوم ده.چه تاسو به ددي ښځو (ضرور) بيان شوي ذکرکوئ **(وَلَكِنْ لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا)** خو ددوى سره دنکاح وعده (او ګفتګو) مه کوئ. **إِلَّا أَنْ تَقُولُوا قَوْلًا مَعْرُوفًا)** مګر دا چه کومه خبره د قاعدي موافق اوکړئ **وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {السِّرُّ النِّكَاحُ}** نبى کريم ﷺ فرمانيلي دى.چه معنى د (سر) نکاح ده

حل اللغة ① **التعريض:** کنايه او اشاري سره د يوي خبري اظهار کول

٧٢) قال الزيلعي رحمه الله قلت غريب واخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه .. عن الشعبي في قوله تعالى ولكن لاتواعدوهن سراً لا يأخذ عليها عهداً وميثاقا ان لا تتزوج غيره (نصب:٢٨١\٣)۔

تعریح> امام ابوالحسن قدوری رحمه الله فرمائي چه معتده ښځو ته دنکاح پيغام ورکول مناسب نه دی

دليله> ځکه چه دالله ﷻ ارشاد دې چه ﴿وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ﴾ يعنی(معتده ښځو ته) دنکاح په اراده مه ورځئ تر دې چه دعدت زمانه ختمه شي. اود پيغام ليږلو په تعريض کښې څه قباحت نشته .دليل دالله ﷻ قول دې چه ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ أَوْ أَكْنَنْتُمْ فِي أَنْفُسِكُمْ﴾ د آيت ترجمه دعبارت په ترجمه کښې تيره شوې ده.

المراد من التعريض> تعريض دادې چه څه داسې څيز ذکر کړې شی چه په هغې سره په بل څيز دلالت کيدې شی .

دليله> حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائيلی دی چه تعريض دادې چه زه نکاح کول غواړم. يا اووائی چه زه غواړم چه ماته يوه نيکه بی بی ملاؤ شي.(۱)

دمطلقه رجعيه اومبتوته اومتوفى عنها زوجها دپاره د کور نه دوتلو احکام

﴿وَلَا يَجُوزُ لِلْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ وَالْمَبْتُوتَةِ الْخُرُوجُ مِنْ بَيْتِهَا لَيْلًا وَلَا نَهَارًا﴾ او کومې ښځې ته چه طلاق رجعی ورکړې شو.يا بائنه ورکړې شو.(دې له) د خپل کور نه وتل په شپه يا ورځ کښې جائز نه دی

حل اللغة> ① **المبتوتة:** په طلاق بائن سره جدا شوې ښځه

تعريح> مسئله داده چه کومې ښځې ته طلاق رجعي يا بائن ورکړې شوې وی نوهغه دې د ورځې يا د شپې دهغه کور نه بهرنه اوځی په کوم کښې چه دمفارقت په وخت کښې دا اوسيدله. البته که داپه وتلو باندې مجبوره شي لکه دکور پريوتلو ويره وی يا دخپل خان يا مال دلوټ کيدو ويره وی يامالک مکان دا اوباسی ځکه چه دا په کرايه باندې اوسيږی او اوس ئې د کرايه ورکولو طاقت نه کيږی نو څه خبره نه ده.

﴿وَالْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا تَخْرُجُ نَهَارًا وَبَعْضَ اللَّيْلِ﴾ .او دچا چه خاوند مرشوې وی.هغه تولـه ورځ اوڅـه د شپې پورې وتلې شی ﴿وَلَا تَبِيتُ فِي غَيْرِ مَنْزِلِهَا﴾ .(ليکن) د خپل کور نه علاوه کښې به شپه نه تيره وی

تعريح> اومتوفى عنها زوجها دپاره په تولـه ورځ کښې اودشپې په څهحصه کښې دکور نه دوتلو اجازت په شريعت کښې شته دې البته داده چهدعدت شپې به هم په خپل کور کښې تيروی په بل خانې کښې به نه تيروی.

دليل احداد المطلقة> دمطلقه ښځې دپاره دکور نه دبهر وتلو دليل دالله ﷻ ارشاد دې چه ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ وَاتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ﴾ يعنی تاسو دالله ﷻ نه ويريږئ چه ستاسو رب دې او تاسو دا ښځې د اوسيدو دکورونو نه مه اوباسئ؛(ځکه چه سکنی د مطلقه دمنکوحه پشان واجب ده) او نه دې دغه ښځې په خپله اوځی البته دا چه په ښکاره بې حيائۍ راتګ اوکړی نودا بيله خبره ده. مثلًا زنا ئې کړې وی يا دغلا دسزا دپاره بهر ته اوويستلې شی يادبعضې عالمانو د وينا مطابق ژبه ئې اوږده وی او هر وخت غم اوجګړې کوی.نوددې ويستل جائز دی (بيان القرآن).

(۷۳) اخرجه البخاری فی النکاح باب ۳۴) بلفظ إنی أريد التزويج ،ولوددت انه تيسر لی إمرأة صالحة-

دليل احداد المتوفي عنها دمتوفی عنها زوجها په ورځ کښې او دشپې په څه حصه کښې دکور نه د وتلو په اجازت باندې دليل دا دې چه متوفی عنها زوجها دپاره نفقه نه وی. نوځکه د طلب معاش په غرض ددې دپاره دکور نه دوتلو ضرورت پيښيږی. اوبعضې وخت په کارکولو کښې شپه شی. او څه حصه تيره شی نو ځکه ورته د ورځې سره دشپې په څه حصه کښې دبهر ايساريدو اجازت ورکړې شوې دې.

په فرقت واقع کيدونکې کور کښې عدت تيرول

وَعَلَى الْمُعْتَدَّةِ أَنْ تَعْتَدَّ فِي الْمَنْزِلِ او په معتده باندې واجب دی چه په هغه کورکښې عدت تير کړی الَّذِي يُضَافُ إِلَيْهَا بِالسُّكْنَى حَالَ وُقُوعِ الْفُرْقَةِ کوم چه ددې طرف ته په اوسيدو سره منسوب کولې شی. د جدايئ په وخت

حل اللغة ① المنزل: کور ② الفرقة: جدائی]

تشريح مسئله داده چه معتده ښځه چه د خاوند دمرګ په وخت کښې اود فرقت واقع کيدو په وخت کښې په کوم کور کښې اوسيدله نو هم په هغې کښې به عدت تيروی.

دلائله ① دليل دادې چه الله ﷻ فرمائی ﴿لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ﴾ اودښځې کور هغه دې په کوم کښې چه اوسيږی. اوسکنی يعنی اوسيدل عام دی. که په طريقه دملکيت وی او که په استعاره وی اوکه په کرايه وی. هم دا وجه ده که ښځه خپلې مور کره تلې وی او خاوند هم هلته دې ته طلاق ورکړلو نو په دې ښځه واجب دی چه واپس خپل کور ته راشی اوعدت په هغې کښې تيرکړی. ② اونبی کريم ﷺ هغه ښځې ته چه خاوند ئې شهيد شوې وو. اوفرمائيل أُسْكُنِي فِي بَيْتِكِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ﴾[1] چه ته هم خپل دې کور کښې اوسيږه تردې چه الله ﷻ د حکم مطابق ستا عدت پوره شی.

دوارثانو ښځې لره دکور نه وېستل

فَإِنْ كَانَ نَصِيبُهَا مِنْ دَارِ الْمَيِّتِ لَا يَكْفِيهَا اوکه د مرشوی خاوند په کورکښې ددې ښځې حصه ددې دپاره ناکافی وی وَأَخْرَجَهَا الْوَرَثَةُ مِنْ نَصِيبِهِمْ او وارثان دا د خپلې حصې نه اوباسی انْتَقَلَتْ نو دا ښځه دې منتقل شی

حل اللغة ① نصيب: حصه

تشريح مسئله داده چه دخاوند په کورکښې دښځې دميراث حصه دومره وی چه دا په هغې کښې اوسيدې نشی. او نور واراثان هم خپله حصه کښې د اوسيدو اجازت نه ورکوی. نو په دې صورت کښې دا ښځه بل کورته منتقل کيدې شی.

دليله دليل دادې چه ددې وتل دعذر په وجه دی. اوپه عباداتو کښې عذر متعبر دې. نوځکه دلته هم عذر معتبر دې. اوپه دې باندې يودليل دا دې چه د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دشهادت نه پس حضرت علی رضی الله عنه خپله لور ام کلثوم رضی الله عنها دعدت دکور نه منتقل کړې وه. او دا ئې اوفرمائيل چه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دخليفه کيدو په وجه په سرکاری کور کښې اوسيدلو او د دوئ د وفات نه پس دا کور د دويم خليفه حضرت عثمان رضی الله عنه په استعمال کښې راغلو. ددې وجې دحضرت ام کلثوم رضی الله عنها (زوجه عمر فاروق رضی الله عنه) ده کور نه دوتلو ضرورت پيښ شو. (عينی شرح هدايه).

(۱) من حديث فريعة بنت مالک بن سنان اخرجه ابوداود فی الطلاق باب ٤٤ رقم ٢٣٠٠ والترمذی فی الطلاق باب ٢٣ رقم ١٢٠٤ والنسائی فی الطلاق باب ٦٠ رقم ١٣٠ وابن ماجه فی الطلاق باب ٨ رقم ٢٠٣١ والدارمی فی الطلاق باب ١٤).

وَلَا يَجُوزُ أَنْ يُسَافِرَ بِالْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ او جائز نه دی چه سفر او کړی په مطلقې رجعیې باندې

تشریح> خاوند خپل ځان سره مطلقه رجعیه باندې سفرنشی کولی.

دلیله> دلیل دا دی چه الله تعالی فرمائیلی دی. (لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ) ددې آیت په باره کښې د تفسیر دامامانونه منقول دی.چه دا د مطلقه رجعیه په باره کښې نازل شوی دی.ترجمه به دا شی.چه مه اوباسئ هغه ښځې چه طلاق رجعی مو ورته ورکړی وی.دهغوی دکورونونه،نوددې آیت نه ثابته شوه.چه دخاوند دپاره دوی لره دکور نه ویستل جائزنه دی.

د طلاق بائن نه پس دوباره نکاح او د دخول نه وړاندې طلاق ورکول

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ طَلَاقًا بَائِنًا او که سړی خپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړو **ثُمَّ تَزَوَّجَهَا فِي عِدَّتِهَا** بیا ئې ددې په عدت کښې ددې سره نکاح اوکړله **وَطَلَّقَهَا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا** او ددې سره ددخول نه وړاندې ئې دې ته طلاق ورکړو **فَعَلَيْهِ مَهْرٌ كَامِلٌ وَعَلَيْهَا عِدَّةٌ مُسْتَقْبَلَةٌ** [۱] نو په خاوند باندې (ددې) پوره مهر او په ښځه باندې مستقلاً (جدا) عدت واجب دی

تشریح> صورت د مسئلې دادې چه سړی خپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړلو او بیا ئې ورسره دهغې په عدت کښې دوباره نکاح اوکړله. دوطی او خلوت صحیحه نه وړاندې ئې ورته بیا طلاق ورکړلو نو په دې باره کښې دشیخینو رحمهما الله په نیز د دویمې نکاح په وجه په خاوند باندې پوره مهر اوپه ښځه باندې مستقل دویم عدت واجب دی.

دلیلهما> د شیخینو رحمهما الله دلیل دادې چه دا ښځه په حقیقت کښې د اولنۍ وطی په وجه دخپل خاوند په لاس کښې مقبوضه ده.او تر اوسه پورې داولنۍ وطی اثر یعنی عدت هم باقی دی. نو هرکله چه خاوند دعدت په زمانه کښې تجدید دنکاح اوکړلو.حالانکه دا ښځه په اولنۍ نکاح کښې د دخول په وجه مقبوضه وه. نوهغه قبضه چه په اولنۍ نکاح کښې ددخول په وجه وه دا به ددې دویمې نکاح د قبضه واجبه قائمقام شی نو هرکله چه ورته ده طلاق ورکړو نو داسې شوه. لکه چه ده په دویمه نکاح کښې هم د دخول نه پس طلاق ورکړو. ددې وجې به په خاوند باندې پوره مهر اوپه ښځه باندې مستقل دویم عدت واجب وی.

نظیره> ددې نظیر دادې چه غاصب دمالک نه هغه مغصوب څیز واخستلو. کوم چه دغاصب په قبضه کښې وو نو په دې صورت کښې غاصب صرف د بیع دعقد په وجه قبضه کونکې شو . د نوې قبضې ضرورت نشته دی. ځکه چه کومه قبضه په حالت د غصب کښې وه هم ددې قائمقام شوه کومه چه په بیع باندې واجب شوه. نو ثابته شوه چه ددویمې نکاح نه پس طلاق بعد الدخول شو قبل الدخول نشو.

مسلک محمد> د امام محمد رحمه الله په نیز خاوند باندې نیم مهر واجب دی اوپه ښځه باندې بیخی عدت واجب نه دی نه اولنی او نه دویم.

دلیله> دامام محمد رحمه الله دلیل دادې چه دویمه نکاح کښې کوم طلاق ورکړی شوی وی هغه دوطی او خلوت صحیحه نه وړاندې ورکړی شوی وی. او په طلاق قبل الوطی او قبل الخلوت کښې نه په خاوند باندې پوره مهر واجبیږی اونه په ښځه باندې عدت واجبیږی نو په خاوند باندې به نیم مهر واجبیږی

---

[۱] القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا فی ردالمحتار(۲\۶۶۶) والبحرالرائق (۱۴\۱۴۸) والعنایة (۱۴\۱۵۶)نقلاً عن القول الراجح (۱۱\۳۷۲)-

پوره نه او په ښځه به دنوى عدت پوره کول واجب نه وى بلکه اولني عدت پوره کول واجب وي.
مسلک زفر امام زفر رحمه الله فرمائي چه عدت هدو شته نه او دليل دا بيانوى چه د دويمى نکاح په وجه اولني عدت ساقط شو نو هغه واپس نه واجبيږى
دليله ځکه چه قاعده ده (الساقط لايعود) او دويم عدت نه واجبيږى. ځکه چه طلاق قبل الدخول واقع شوي دي.اوطلاق قبل الدخول په وجه په ښځه باندې عدت واجب نه وى. دامام زفر رحمه الله د دليل جواب وړاندې تير شوي دي. هغه اوګورئ.

د مطلقه رجعيه د دوه کاله پس پيداشوى بچى نسب

وَيَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِ الْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ چه کومې ښځې ته طلاق رجعى ورکړې شو.ددې د بچى نسب به ثابت وى. إِذَا جَاءَتْ بِهِ لِسَنَتَيْنِ أَوْ أَكْثَرَ په دې شرط چه دې بچې دوه کاله يا ددوه کالونه په زيات کښې راوړلې وى (پيداشوې وى). مَا لَمْ تُقِرَّ بِانْقِضَاءِ عِدَّتِهَا چه ترکومې پورې ښځې دخپل عدت تيريدلو اقرار نه وى کړې.

تشريح صورت د مسئلې دادې.چه يوسړى خپلې ښځې ته طلاق رجعى ورکړلو.بيا ددې ښځې د طلاق د وخت نه دوه کاله پس بچى پيدا شو.نودا خاوند به ددې بچى نسب ثابت وى.په دې شرط چه ښځې دعدت تيريدلو اقرار نه وى کړې.
دليله دليل دادې.چه کيدلې شى.دا ښځه ممتده طهر والاوى.اود طهر اوګډيدلو په وجه ددې عدت اوګد شوې وى.او خاوند دعدت په زمانه کښې وطى کړې وى.ځکه چه د معتده رجعيه ښځې سره وطى حلال ده.نو په دې سره به رجعت هم ثابت شى.اود بچى نسب به هم ثابت وى.

وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سَنَتَيْنِ اوکه دې ښځې د دوه کالو نه په کم کښې بچې راوړلې وى بَانَتْ مِنْ زَوْجِهَا نودا به د خپل خاوند نه بائنه وى.

تشريح اوکه د دوه کاله نه په کمه موده کښې ماشوم پيدا شو.نو ښځه به په خپل خاوند باندې بائنه شى.او ددې بچى نسب به ددې د خاوند نه ثابت شى.
دليله بائنه به ځکه شى.چه د وضع حمل په وجه بائنه کيږى.

وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَكْثَرَ مِنْ سَنَتَيْنِ .اوکه دې ښځې د دوه کالو نه په زيات کښې بچې راوړ رو ثبت نسبه او نسب ئې ثابت شو وَكَانَتْ رَجْعَةً .نو دا به رجعت وى

تشريح اوکه بچې د طلاق د وخت نه د دوه کاله مودې نه زيات کښې پيدا شو.نو بلاشبه به رجعت ثابت وى. ځکه چه په دې صورت کښې به علوق يقيناً د طلاق نه پس وى.
دليله ځکه چه د حمل اکثره موده دوه کاله ده. اوښکاره حال هم دادې.چه دا علوق به هم ددې سړى نه شوې وى.ځکه چه د ښځې دطرفه نکاح منتفى ده.نو هرکله چه د عدت په زمانه کښې د مطلقه رجعيه سره وطى شوې وى.نودا کس به ددې وطى په وجه مراجعت کونکې شمارلې شى.

دطلاق بائن يا درې طلاق واقع کيدلونه پس
د دوه کاله نه په کمه موده کښې بچى پيدا کيدل

وَالْمَبْتُوتَةُ يَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا اوکومې ښځې ته چه طلاق بائن ورکړې شو.ددې د بچى نسب به (دخاوند) نه ثابتيږى. إِذَا جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سَنَتَيْنِ چه کله دې د دوه کاله نه په کم کښې راوړلې وى

حل اللغة ① سنتين:تثنيه د سنة: كال

تشريح مسئله داده.كه يوې ښځې ته يوطلاق بائن يا درې طلاقه رجعي وركړې شو.او بيا د فرقت د وخت نه دوه كاله نه كمه موده كښې بچې پيداشو.نو ددې بچي نسب به ددې مطلقه بائنه د خاوند نه ثابت وي.

دليله دليل دادې.چه دا احتمال موجود دې.چه د طلاق په وخت د بچي نطفه جوړه شوې وي.نو ددې خبرې يقين نشته.چه د نطفې جوړيدلو نه وراندې د ښځې فراش صحيح كيدل زائل شوى وو.نو احتياطاً به نسب ثابت وي.

واذاجاءت به لتمام سنتين من يوم الفرقة اوكه چې د ښځې د فرقت د ورځ نه پوره په دوه كاله باندې بچې راوړلو لم يثبت نسبه نو نسب به نه ثابتيږي

تشريح كه د فرقت د وخت نه په پوره دوه كاله باندې بچې پيدا شو.نونسب به نه ثابتيږي.ځكه چه په دې صورت كښې حمل باليقين د طلاق نه پس پيدا شوې دې.

دليله ځكه كه د طلاق نه مخكښې دحمل پيدا كيدل اومنلې شي.نود حمل موده به دوه كالو نه زياته شي.حالانكه دا باطل دې.نو هركله چه حمل بعد الطلاق پيدا شو.اود سړي مطلقه بائنه سره وطى كول حرام دى.نوثابته شوه.چه دا حمل ددې سړي د نطفې نه نه دې پيدا شوې.اوهركله چه حمل دده دنطفې نه نه دې.نو دده به نسب هم ثابت نه وي.

إلا أن يدعيه الزوج البته كه دا(خاوند) ددې مدعى وي

تشريح كه دا كس ددې دعوى كوي.چه دا بچې هم زما د نطفې نه پيدا شوې دې.نو دده نه به نسب ثابت شي.اگرچه بچې د فرقت د وخت نه دوه كاله نه زياته موده كښې پيدا شوې وي.

دليله دليل دادې.چه دې سړي ددې بچي نسب پخپله خپله ذمه باندې لازم كړې دې.او ددې يوه شرعي توجيه دا هم كيدلې شي.چه دې سړي د عدت په زمانه كښې دحلال په خيال سره دې معتده بائنه سره وطى كړې وي.اوچونكه د نسب په ثبوت كښې احتياط كولې شي.په دې وجه په دې صورت كښې هم نسب ثابتيږي.والله اعلم بالصواب

د كندې ښځې په دوه كاله كښې د پيدا شوي بچي نسب

ويثبت نسب ولد المتوفى عنها زوجها ما بين الوفاة وبين سنتين اود ،،متوفى عنها زوجها،، د بچي نسب به د وفات (د وخت) نه په دوه كاله كښې دننه ثابتيږي

تشريح صورت د مسئلې دادې.چه دكومې ښځې خاوند مړشو.كه دا صغيره وي.نو ددې دبچي نسب به ثابت وي.په دې شرط چه د لسومياشتو اود لسو ورځو نه په كم كښې پيدا شوې وي.او كه ددې نه په زياته موده كښې پيداشو.نود طرفينو رحمهما الله په نيز به نسب نه ثابتيږي.البته د امام ابويوسف رحمه الله په نيز ثابتيږي.اوكه ،،متوفى عنها زوجها،، صغيره وي.نو ددې د بچي نسب به د خاوند د وفات نه دوه كاله كښې ثابتيږي.

د معتده د عدت تيريدلو اقرارنه د شپږ مياشتو نه په كمه موده كښې د پيداشوي بچي نسب

وإذا اعترفت المعتدة بانقضاء عدتها اوهركله چه معتده دخپل عدت تيريدلو اقرار اوكړو ثم جاءت بولد

وَإِلَّا مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ بیا دې (د اقرار د وخت نه) د شپږ میاشتو نه په کم کښې بچې راوړو **ثَبَتَ نَسَبُهُ** نو ددې بچي نسب به ثابت وي

حل اللغة ① **انقضاء:** پوره کیدل

تشریح صورت د مسئلې دادې.چه معتدې او وئیل.زما عدت تیرشو.بیا ددې د اقرار د وخت نه د شپږ میاشتو نه په کمه موده کښې بچې پیدا شو.نو ددې بچي نسب به ثابت وي.

دلیله دلیل دادې.چه هرکله د اقرار د وخت نه د شپږ میاشتو نه په کمه موده کښې بچې پیداشو.نو معلومه شوه.چه د اقرار په وخت دا معتده حامله وه.اوچونکه د حامله عدت وضع د حمل وي.په دې وجه به دا معتده د عدت تیریدلو په اقرارکښې دروغژنه وي.نوچه په اقرار کښې دروغژنه ده.نو اقرار به باطل وي.او هرکله چه دعدت په تیریدلو کښې اقرار باطل شو.نود بچي نسب به ثابت وي.

وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ اوکه دې په شپږ میاشتو کښې بچې راوړو. **لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ** نو نسب به نه ثابتیږي

تشریح او که د اقرار د وخت نه پوره شپږ میاشتوکښې بچې پیدا شو.نو په دې وجه به د اقرار د بطلان یقین نه کیږي.

دلیله ځکه چه د اقرار باطلیدو مونږ ته علم نشته. ځکه چه د اقرار نه پس د حمل پیداکیدلو احتمال دي

د معتده بچي پیدا کیدل اوددہ نسب

وَإِذَا وَلَدَتِ الْمُعْتَدَّةُ وَلَدًا اوکله چه یوې معتدې بچې راوړو **لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ** نو ددې نسب به نه ثابتیږي **عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ**[1] د ابوحنیفه رحمه الله په نیز **إِلَّا أَنْ يَشْهَدَ بِوِلَادَتِهَا رَجُلَانِ أَوْ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ** مګر داچه ددې(بچي) د پیدا کیدو دوه سړي یا یوسړې او دوه ښځې ګواهي ورکړي **إِلَّا أَنْ يَكُونَ هُنَاكَ حَبَلٌ ظَاهِرٌ أَوِ اعْتِرَافٌ مِنْ قِبَلِ الزَّوْجِ** خوکه حمل ښکاره وي.یا د خاوند د طرفه اقرار بیاموندې شي **فَيَثْبُتُ النَّسَبُ مِنْ غَيْرِ شَهَادَةٍ** نود ګواهۍ نه بغیر به هم نسب ثابتیږي

حل اللغة ① **حبل:** امید،په رحم کښې بچې

تشریح مسلک ابي حنیفة صورت د مسئلې دادې.که د معتده ښځې بچې پیدا شو.او حمل مخکښې نه ښکاره وو.یا خاوند د حمل اقرار کړې وو.نو په دواړه صورتونوکښې به بغیر د شهادت نه نسب ثابت وي.او که د معتده ښځې بچې پیدا شو.او خاوند د پیدائش انکار اوکړلو.نود امام اعظم رحمه الله په نیز به نسب هغه وخت ثابتیږي.چه کله د بچي په پیدائش باندې دوه سړي یا یو سړې او دوه ښځې ګواهي ورکړي.

دلیله د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه هرکله ښځې د وضع حمل اقرار اوکړلو.نو ددې عدت تیرشو.او کوم څیز چه تیر شي.هغه حجت نشي کیدلې.حجت خو هغه وي.چه کوم موجود وي.نو د نوي سر نه د نسب ثابتولو ضرورت پیدا شو.په دې وجه د شهادت تامه کیدل به ضروري وي.او شهادت

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كما في الخانية (٢٧٤\١٢) وردالمحتار(٦٨٠\١٢) والهندية (٥٣٨\١) والبحرالرائق (١٦٠\١٤) نقلا عن القول الراجح (٣٧٦\١)-

تامه دادې.چه دوه سرې ګواهي ورکړي.يا يو سړې او دوه ښځې ګواهي ورکړي.خوکه حمل ښکاره شو.يا خاوند د حمل اقرار اوکړو.نود کامل شهادت شرط نه دې.ځکه چه په دې صورت کښې خو نسب د پيدائش نه وړاندې ثابت شو.او پاتې شوه داچه دا بچې ددې ښځې نه پيدا شوې دې.نودا خبره د يوې ښځې په ګواهئ سره ثابتيږي.

الاشكال د حضرت امام صاحب رحمه الله په مذهب باندې دا اشکال کيدلې شي.چه د نسب د اثبات دپاره د سړي شهادت شرط ګرځول.څنګه درست دی.حالانکه د سړې ښځې طرف ته کتل حرام دي؟

الجواب عنه نوجواب دادې.چه کتل ضروري نه دی.بلکه بغير د کتلو نه هم ګواهي ورکول ممکن دی.په دې طريقه چه داښځه د دوه ګواهانو مخکښې يې کمرې ته داخل شوه.او ګواهانو ته ددې خبرې علم دې.چه په دې کمره کښې ددې ښځې نه سوا بل څوک نشته.بيا دا ښځه د يوماشوم سره راو وتله.نود شهادت اداکولو دپاره دومره قدرې هم کافي ده.

وَقَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رحمهما الله.او صاحبين رحمهما الله فرمائي يَثْبُتُ فِي الْجَمِيعِ بِشَهَادَةِ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ چه په ټولو صورتونوکښې د يوې ښځې په ګواهئ سره نسب ثابتيږي

تشريح **مسلک الصاحبين** صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه په ټولوصورتونوکښې د يوې آزادې مسلمانې عادلې ښځې په ګواهئ باندې نسب ثابتيږي.که د مخکښې نه حمل ښکاره وي.او که نه.او خاوند دحمل اقرار کړې وي.او که نه.امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دې.اود امام شافعي رحمه الله په نيز دځلورو ښځو ګواهي شرط ده.اود امام مالک اود ابن ابی ليلی رحمهما الله په نيز د دوه ښځو په ګواهئ باندې نسب ثابتيږي.

دليلهما د دوی دليل دادې.چه دعدت موجود کيدلو په وجه ښځه دخپل خاوند فراش دې.او فراش کيدل نسب لازم کوي.نود نسب ثابتولو هيڅ ضرورت پاتې نشو.البته دا ضرورت شته.چه دا بچې هم ددې ښځې نه پيدا شوې دې.نودا خبره د يوې ښځې په ګواهئ سره ثابتيږي.لکه چه د نکاح قائميدلو په صورت کښې بالاتفاق د يوې ښځې په ګواهئ سره د ولد تعين کيږي.

د نکاح نه شپږ مياشتې نه په کمه موده کښې د پيدا شوي بچي نسب

وَإِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ امْرَأَةً اوکه سړې يوې ښځې سره نکاح اوکړله فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مُنْذُ يَوْمِ تَزَوَّجَهَا نود نکاح د ورځ نه د شپږ مياشت نه په کم کښې دې بچې راوړو لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ نو ددې (بچې) نسب به ثابت نه وي

تشريح صورت د مسئلې دادې.که يو سړې د يوې ښځې سره نکاح اوکړله.نود نکاح د وخت نه د شپږ مياشتو نه په کمه موده کښې ددې ښځې بچې پيدا شو.نو ددې بچې نسب به ددې سړي نه ثابت نه وي.

دليله دليل دادې.چه د حمل کم ازکم موده شپږ مياشتې ده.او بچې د شپږ مياشتو نه په کمه موده کښې پيدا شو.نو معلومه شوه.چه نطفه د نکاح نه وړاندې پيدا شوې وه.نو ثابته شوه.چه دا نطفه ددې خاوند نه نه ده.او هرکله چه نطفه ددې سړي نه نه ده.نو په دې سره به نسب هم نه ثابتيږي.او که د نکاح د وخت نه د شپږ مياشتو نه په زياته موده کښې بچې پيدا شو.نو ددې بچې نسب به دده نه ثابت وي.که خاوند ددې بچې اقرار اوکړي.او که خاموش پاتې شي.ځکه چه د ښځې فراش کيدل ثابت دي.اود حمل موده هم پوره ده.

وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ فَصَاعِدًا اوکه (د نکاح دوخت نه) په شپږو مياشتو باندې يا (ددې نه) په

زياتو باندې ئې بچې راوړو **يَثْبُتُ نَسَبُهُ** نود خاوند به ددې نسب ثابت وی **إِنْ اعْتَرَفَ بِهِ الزَّوْجُ أَوْ سَكَتَ** كه خاوند ددې اقرار اوكړى.اوكه خاموش پاتې شي

تشريح> كه بچې په شپږ مياشتو يا ددې نه په زياته موده كښې پيدا شو.خو خاوند د بچى پيدا كيدلو انكار اوكړلو.نو كه يوه ښځه د بچى پيدا كيدلو گواهي وركړى.نو ددې په شهادت سره به پيدائش ثابت شي. تردې كه خاوند ددې بچى نفى اوكړله.او وې وئيل.چه دا بچې زما د نطفې نه نه دې پيدا.نو خاوند به خپلې ښځې سره لعان كوى.

دليله> دليل دادې.چه د ښځې د فراش كيدلو په وجه د بچى نسب ثابت شو.او پاتې شو د پيدائش انكار،نودا ديوې ښځې په گواهئ سره ثابت شو.

فَإِنْ جَحَدَ الْوِلَادَةَ بيا كه خاوند د ولادت انكار اوكړو **يَثْبُتُ بِشَهَادَةِ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ تَشْهَدُ بِالْوِلَادَةِ** نو(ولادت به) ثابتيږى.د يوې ښځې په گواهئ سره كومه چه د ولادت شاهده وى

تشريح> مسئله ښكاره ده

د حمل كم نه كم اود زيات نه زياته موده

وَأَكْثَرُ مُدَّةِ الْحَمْلِ سَنَتَانِ چه دحمل اكثره موده دوه كاله ده

تشريح> د حمل زيات نه زياته موده دوه كاله ده.

دليله> دليل دادې.چه د حضرت عائشه رضي الله عنها قول دې.فرمائى.چه بچې د مور په خيټه كښې دوه كاله نه زيات نه پاتې كيږى.اگرچه د ميچن د لاسكى د سورى په اندازه وى.[1] او ښكاره هم داده.چه حضرت عائشه رضي الله عنها دا د نبى كريم ﷺ نه اوريدلى وى.او بيان كړې ئې وى.

وَأَقَلُّهُ سِتَّةُ أَشْهُرٍ اود حمل كم ازكم موده شپږ مياشتې ده.

تشريح> اود حمل كم نه كمه موده بالاتفاق شپږ مياشتې ده. ([1])

دليله> دليل د قرآن آيت ﴿وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا﴾ دې.يعنى په حمل كښې د پاتې كيدلو اود پيو ريخودلو موده ديرش مياشتې ده.بيا الله تعالى فرمائى ﴿وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ﴾ يعنى د بچى پئ ريخودل په دوه كاله كښې كيږى.نود حمل موده شپږ مياشتې پاتې شوه.

د علامه مرغينانى رحمه الله په كلام كښې تناقض دې.په دې طريقه چه په كتاب الرضاع كښې د امام صاحب رحمه الله دليل بيانولوكښې بيان شوى وو.چه په حمل او فصال دواړو كښې د هريو موده ديرش مياشتې ده.خود حمل په موده كښې منقص موجود دې.يعنى د عائشه رضي الله عنها حديث چه(الولد لايبقى فى البطن اكثر من سنتين) يعنى هلته كښې ئې دا موده په دواړو باندې نه وه تقسم كړې.بلكه په دواړو كښې د هريو موده ديرش مياشتې مقرر كړې شوې وې.اود عائشه رضي الله عنها په حديث سره د حمل په موده كښې كمې كړې شوې وو.او دلته كښې ئې چه هم هغه آيت پيش كړلو.نو په حمل اوفصال دواړو ئې دا موده

---

(١) اخرجه الدارقطنى فى سننه (٣٢٢٣) رقم ٠٨٢ والبيهقى فى السنن الكبرى (٧٨٢٧) رقم (٢٥٥٥١)-

([1]) **مسلك الائمه:**- د امام شافعى او امام مالك رحمه الله په نيز د حمل زياته موده خلور كاله دى.

تقسیم کړله.په دې طریقه چه څلیرېشت میاشتې ئې د فصال موده مقرر کړې ده.دآیت ﴿وَفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ﴾ په وجه.او باقي شپږ میاشتې ئې د حمل اقله موده ګرځولې ده.
په اصل کښې د حمل اقله موده بیانولوکښې علامه مرغیناني رحمه الله چه ددې مسئلې په تشریع کښې په هدایه کښې کومه طریقه اختیار کړې ده.دا دابن عباس رضي الله عنهما تاویل دې.لکه چه نقل دی.چه (أن رجلا تزوج امرأة فولدت لستة أشهر فهم عثمان برجمها فقال ابن عباس رضي الله عنهما أما إنها لو خاصمتكم بكتاب الله تعالى لخصمتكم قال الله تعالى ﴿وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا﴾ وقال ﴿وَفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ﴾ فلم يبق للحمل إلا ستة أشهر فدرأ عثمان الحد عنها)(فتح القدير) يو سړی د یوې ښځې سره نکاح اوکړله.په شپږمه میاشت ددې ښځې بچې پیدا شو.نو حضرت عثمان رضي الله عنه دده د سنګسار کولو اراده اوکړله.نو ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائیل.که دا ښځه تاسو سره د کتاب الله په ذریعه جګړه کوی.نو زه هم تاسو سره جګړه کوم.الله تعالی فرمائی. ﴿وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا﴾ او فرمائی. ﴿وَفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ﴾ نو حمل موده صرف شپږ میاشتې پاتې شوه.حضرت عثمان رضي الله عنه (چه دا واوریدل) نو ددې ښځې نه ئې حدلرې کړلو.نود حضرت عثمان رضي الله عنه حد دفع کول،اود هیڅ یوصحابي مخالفت نه کول،د اجماع دلیل دې.بهرحال که د ابن عباس رضي الله عنهما د تاویل مطابق استدلال اوکړې شی.لکه څنګه چه دلته کښې شوې دې.نو په ،،کتاب الرضاع،، چه کومه طریقه اختیارشوې ده.هغه به باطل شی.حاصل داچه په مصنف رحمه الله باندې د تناقض اشکال ختم نشو.

د ذمي ذمیه له طلاق ورکولو باندې دعدت حکم

> وَإِذَا طَلَّقَ الذِّمِّيُّ الذِّمِّيَّةَ اوکه ذمی ذمیه ته طلاق ورکړو فَلَا عِدَّةَ عَلَيْهَا .نو په ذمیه ښځه باندې عدت نشته

تشریح> په دې عبارت کښې فرمائی چه ذمي خپلې ښځې ته طلاق ورکړو. نو دامام ابو حنیفه رحمه الله په نیز ښځه باندې عدت واجب نه دې.که ښځه نکاح کوی نوشرعًا صحیح ده. خوکه دا ښځه حامله وی نو نکاح صحیح نه ده.
مسلك الصاحبين> صاحبین رحمهما الله فرمائی چه په دې کښې په ښځه باندې عدت واجب دې.
صاحب دهدایه رحمه الله فرمائیلی دی چه په ذمیه ښځه باندې دعدت په وجوب او عدم وجوب کښې دامام ابو حنیفه رحمه الله او صاحبینو رحمهما الله په نیز اختلاف داسې دې لکه څنګه چه په نکاح کښې وو. او دا اختلاف د دلائلو سره په (باب نكاح اهل الشرك) کښې تیر شوې دې.دا خیال ساتنې چه دامام ابو حنیفه رحمه الله قول په هغه صورت کښې دې چه د ذمیه اعتقاد داوی چه په ذمیه مطلقه باندې عدت نشته دې.

د زنا حاملې ښځې سره د نکاح حکم

> وَإِنْ تَزَوَّجَتِ الْحَامِلُ مِنَ الزِّنَا جَازَ النِّكَاحُ که نکاح ئې او کړو دَ زنا نه دَ حامله شوې ښځې سره نو جائز دې نکاح، وَلَا يَطَؤُهَا حَتّٰى تَضَعَ حَمْلَهَا ()او وطئ به ورسره نه کوی ترحمل پیدا کیدو پورې،

تشریح> په زنا سره که ښځه حامله شوې وی.نونود طرفینو رحمهما الله په نیز دې سره نکاح جائز ده.خو د وضع

---

[1] القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في ردالمحتار(۳۱۶/۲) ومجمع الأنهر(۳۲۹/۱) نقلاً عن القول الراجح (۲۴۶/۱)

حمل پورې وطی کول درست نه دی. (١)

دلیلهما> د طرفینو رحمهما الله دلیل دادې چه ،حامله من الزنا، د محللاتو ځنې ده.اود نص یعنی [وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ] نه ثابت ده.ځکه چه ،حامله من الزنا ،ذکر د محرماتو په بیان کښې اونکړې شو.اوکوم چه د محللاتو ځنې وی.هغې سره نکاح جائز ده.نود ،حامله من الزنا ،سره به هم نکاح جائز وی.خوکه تاسو ته دا اشکال پیدا شي.چه د ،حامله ثابت النسب، ذکر هم په محرماتوکښې نشته.نو څه وجه ده.چه داد [وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ] په حکم کښې داخل نکړې شوه.او ،حامله ثابت النسب، سره نکاح جائز اونه ګرځولې شوه.

جواب> ،حامله ثابت النسب،د الله تعالی په قول [وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ] کښې داخل ده..یعنی اراده مه کوئ د نکاح،تردې چه خپل مقررعدت آخره پورې اورسی، مطلب دادې.که یوه ښځه د خاوند نه جدا شی.نو ترکومه پورې چه په عدت کښې وی.د هیڅ چا دپاره جائز نه ده.چه ددې سره نکاح اوکړی.او دا ښکاره ده.چه د حامله عدت وضع د حمل ده.نود وضع حمل نه مخکښې به نکاح نه کوی.(عینی شرح هدایه)

الاشکال> خو سوال دادې.چه ،حامله من الزنا، چه هرکله د محللاتو ځنې ده.نو بیا د نکاح واقع کیدلو نه پس وطی ولې حرام کړې شوه؟

الجواب> وطی په دې وجه حرام کړې شوه.چه په خپلو اوبوسره د بل پټې اوبه کول، لازم نشی.ځکه چه دا حرام دی.د نبی کریم ﷺ ارشاد دې.[من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فلا يسقي ماءه زرع غيره] یعنی کوم کس چه په الله اود آخرت په ورځ باندې ایمان لری.په خپلو اوبو سره دې د بل پټې نه اوبه کوی.مراد دادې.چه د حاملو سره دې وطی نه کوی.

مسلک ابی یوسف> د امام ابویوسف رحمه الله په نیز د سره نکاح درست نه ده.اوکه حمل ،ثابت النسب، وی.مثلاً حامله، معتدة الغیر ،ده.نو په دې صورت کښې نکاح په اتفاق سره باطل ده.اوکه یو کس د یوې ښځې سره زنا اوکړه.اودا ښځه په دې سره حامله شوه.بیا هم دې زانی ددې سره نکاح اوکړه.نو نکاح هم جائز ده.او وطی هم بالاتفاق حلال ده

دلیله> د امام ابویوسف رحمه الله دلیل دادې.چه حمل که ،ثابت النسب، وی.نود نکاح عدم جواز د حمل د احترام په وجه دې.او، حمل من الزنا، هم محترم دې.ځکه چه د حمل د طرفه هیڅ جنایت نشته.جنایت چه څه هم دې.د زانی او مزنیه د طرفه دې.هم دغه وجه ده.چه حمل ساقطول ناجائز دی.البته زمونږ په زمانه کښې ساقطول جائز دی.(حاشیه هدایه)نو هرکله چه په اصل، یعنی په مقیس علیه کښې چه د نکاح دعدم جوازکوم علت دې.هم دغه علت په فرع یعنی په مقیس کښې هم موجود دې.نو بیا به په مقیس کښې هم د مقیس علیه حکم لګولې شی.یعنی د نکاح د عدم جواز علت مشترکه د حمل احترام دې.

١ ،مسلک الشافعي:- امام شافعي رحمه الله د نکاح اود وطی د دوارو د جواز قائل دي.

كتاب النفقات

ترجمه ﴿دا﴾ باب ﴿د﴾ نفقه ﴿د وجوب په بيان كښې﴾ دې .

تشريح نفقه اسم دې.د اتفاق په معنى كښې دې.او په اصطلاح كښې نفقه د روزمره هغه خوراك دې.چه دا دژوند اوسيدلو دپاره برابر جارى پاتې شى.اود نفقه وجوب په څو سببونو باندې كيږى.من جمله د هغې نه زوجيت دې،نسب دې، ملك دې.د هر يو بيان په ترتيب سره ذكر كيږى.

مفهوم النفقة په مخكينى باب كښې مصنف رحمه الله د بچى د پرورش حق بيان كړلو.اوهغه كسان ئې بيان كړل.چا دپاره چه د پرورش حق حاصل وى.ددې نه د فارغيدلو نه پس اوس په دې باب كښې د نفقه احكام.او په كوم كس چه نفقه واجب وى.هغه بيانوى.

په خاوند باندې د نفقه وجوب

النَّفَقَةُ وَاجِبَةٌ لِلزَّوْجَةِ عَلَى زَوْجِهَا چه د ښځې دپاره ددې په خاوند باندې نفقه واجب ده مُسْلِمَةً كَانَتْ كه دا ښځه مسلمانه وى أَوْ كَافِرَةً او كه كافره وى إِذَا سَلَّمَتْ نَفْسَهَا فِي مَنْزِلِهِ خوچه كله دا ښځه خپل ذات د خاوند په كور فَعَلَيْهِ نَفَقَتُهَا وَكِسْوَتُهَا وَسُكْنَاهَا نو په خاوند باندې ددې نفقه، لباس، او سكنى واجب ده

حل اللغة ① كسوة: جامې

تشريح مسئله:د ښځې نفقه ددې په خاوند باندې واجب ده.كه ښځه مسلمانه وى.او كه كتابيه وى.په دې شرط چه دا خپل ځان د خاوند كورته اوسپارى.نو په خاوند باندې ددې نفقه، ددې كپړې،او ددې سكونت واجب دې.

دلائله ① د نفقه په وجوب دليل دادې.چه الله تعالى فرمائيلى دى. ﴿لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهِ﴾ په آيت كښې امر بالاتفاق دې.او امر دوجوب دپاره راځى.او په دويم آيت كښې ئې حكم اوفرمائيلو. ﴿وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾ په دې آيت كښې ،،على،، د الزام دپاره دې.

② د عرفه په ورځ د حجة الوداع په طويله خطبه كښې نبى كريم ﷺ اوفرمائيل. ﴿فاتقوا الله في النساء فانهن عوان عندكم اخذتموهن بامانة الله واستحللتم فروجهن بكلمة الله ولكن عليهن ان لا يوطئن فرشكم احدا تكرهونه فان فعلن فاضربوهن ضربا غير مبرح ولهن عليكم رزقهن وكسوتهن بالمعروف﴾[85] د ښځو په باره كښې د الله نه اويريږئ.ځكه چه دوى تاسو سره قيد دى.تاسو دوى د الله تعالى په امانت سره اخستې دى.او تاسو ددوى شرمګاهونه د الله له حكم سره حلال كړى دى.اوستاسو دپاره په دوى واجب دى.چه ستاسو بسترې په يو داسې سړى باندې پائمال نكړى.چه تاسو ئې نه خوښوئ.كه دوى داسې اوكړل.نو دوى ره اووهئ.او ددوى دپاره په تاسو باندې ددوى خوراك،كپړه، د اعتدال په طريقه واجب دى.

③ عقلى دليل دادې.چه نفقه د محبوس كيدلو عوض دې.نوځوك چه د بل كس د مقصودى حق په وجه محبوس(قيد) شو.نو نفقه به هم په ده باندې واجب وى.نوچونكه ښځه هم د خپل خاوند دپاره محبوسه ده.نود ښځې نفقه به هم په خاوند باندې واجب وى.او ددې اصل قاضى دې.اوكوم كس چه د زكاة دپاره

---

٨٥) تقدم تخريجه في الحج في حديث جابر الطويل۔

عامل وي.ځکه چه دا دواړه د خپل ذات دپاره هیڅ کار نه کوي.بلکه د مسلمانانو مصالح پوره کوي.نود مسلمانانود عام حق، یعني د بیت المال نه د کفایت په اندازه ورکول واجب دي.اوهم دا حکم د مفتي، او د وقف د متولي،اود وصي د وصیت، اوکافرانو سره د جنګ کونکي مسلمان دي.او چونکه په دې دلائلو کښې هیڅ تفصیل نشته.په دې وجه په نفقه کښې مسلمانه ښځه او کتابیه ټول برابر دي.

الاشکال> دلته کښې یوسوال کیدې شي.هغه داچه تاسو اوفرمائیل.د محبوس نفقه په ده واجب ده.چه ددې د حق په وجه دا محبوس شوې دې.حالانکه داسې نه ده.ځکه چه د رهن نفقه په راهن باندې واجب ده.حالانکه رهن د مرتهن د حق په وجه محبوس دې؟

الجواب> جواب دادې.چه مونږ دا منو.چه رهن د مرتهن سره محبوس دې. خودا نه منو.چه داصرف د مرتهن د حق په وجه محبوس دې.بلکه ځنګه چه د مرتهن مقصود حاصلیږي .دغه شان د راهن مقصود هم حاصلیږي.که دین هلاك شي.نو راهن به د رهن په ذریعه دین ادا کوي.په دې وجه نفقه په مرتهن باندې واجب نه کړې شوه.

نفقه او ددې مقدار

وَيُعْتَبَرُ ذَٰلِكَ بِحَالِهِمَا جَمِيعًا اود نفقې په مقدار کښې به د خاوند اود ښځې د دواړو د حال اعتبار کولې شي مُوسِرًا كَانَ الزَّوْجُ أَوْ مُعْسِرًا برابره ده که خاوند ښې مالدار وي او که غریب وي مُعْسِرَةً او که ښځه غریبه وي وَالزَّوْجُ مُوسِرًا او خاوند مالدار وي فَنَفَقَتُهَا دُونَ نَفَقَةِ الْمُوسِرَاتِ وَفَوْقَ نَفَقَةِ الْمُعْسِرَاتِ نود غریبې ښځې نه زیات اود مالداره ښځې نه کمه نفقه به واجب وي

تشریح> په دې عبارت کښې مصنف رحمه الله ددې مسئلې وضاحت کوي.چه په نفقه او ددې په مقدار کښې به په ښځه خاوند کښې د کوم یوکس حال معتبر وي؟ امام قدوري رحمه الله فرمائي.چه په ښځه خاوند کښې به د دواړوحال معتبر وي.صاحب دهدایه رحمه الله فرمائي.چه د امام خصاف رحمه الله غوره مذهب هم دا دې. او په دې باندې فتوی ده.

توضیح قول خصاف> اود امام خصاف رحمه الله د قول تفسیر دادې.چه په دې کښې عقلي طورڅلور قسمونه دي.ځکه چه ښځه اوخاوند به دواړه مالداره وي.یا به دواړه غریبانان وي.او یا به خاوند مالداره وي. او ښځه به تنګدسته وي.یا به ددې په عکس وي.یعنی خاوند به غریب وي.او ښځه به مالداره وي.په رومبي قسم کښې به د مالدارئ نفقه واجب وي.او په دویم قسم کښې به د غریبئ نفقه واجب وي.او په دریم اوڅلورقسم کښې به دښځې دپاره درمیانه درجې نفقه واجب وي. یعنی د مالداره ښځو د نفقه نه کمتر،اود غریبو ښځو د نفقه نه به زیاته وي.

دلیله> د امام خصاف د قول وجه هغه حدیث دې.کوم چه امام بخاري رحمه الله روایت کړې دې.حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي. (ان هندا بنت عتبة (امرأة أبي سفيان) قالت یا رسول الله ﷺ أن أبا سفیان رجل شحيح لايعطيني مايكفيني وولدي الا ما أخذت منه وهو لايعلم فقال خذي من مال زوجك يكفيك وولدك بالمعروف) (¹) یعني هنده بنت عتبه (د ابوسفیان ښځې) اووئیل.ای د الله رسوله ﷺ ! ابوسفیان ډیر بخیل سړې دې.دې ماله دومره نه راکوي.چه زما او زما د اولاد کفایت اوکړي.مګر داچه زه بغیر وئیلو واخلم؟ نو نبي کریم ﷺ

---

¹) من حديث عائشة رضي الله عنها اخرجه البخاري وابوداود في البيوع ومسلم والنسائي في القضاء وابن ماجه في الأحكام (نصب:۳\۳۹۸)_

اوفرمائیل.چه ته د خپل خاوند د مال نه دومره قدري اخله.چه دا تاته اوستا اولاد ته د اعتدال په طور کفایت اوکړي.ددې واقعه نه معلومیږي.چه نبی کریم ﷺ د ښځې د حال اعتبار کړی دې.اود سمجه خبره هم داده.چه د ښځې د حال اعتبار اوکړې شي.ځکه چه نفقه خو دکفایت په طور واجبیږي.اوکومه ښځه چه غریبه وی.دې ته د مالدارې ښځې کفایت پکار نه دې.نود زیاتوالی هیڅ فائده نشته.او ابوسفیان مالداره سړې وو.نوکه د سړی اعتبار کیدلې.نود فراغت د مقدار اخستلو حکم به نې ورکړې وو.

القول الثاني﴾ امام کرخی رحمه الله فرمائی. چه د خاوند د حال اعتبار به کولې شی.د امام شافعی رحمه الله هم دا قول دې.د امام کرخی رحمه الله دلیل د الله تعالی [لِيُنْفِقْ ذُوسَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهِ ۖ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ ۚ](سورة الطلاق) دې. یعنی مالداره به د خپل طاقت مطابق خرچ کوی.او تنګدست به د هغه مال نه خرچ کوی.کوم چه الله تعالی ده ته ورکړې دې.الله تعالی په دواړه حالتونوکښې د سړی د حال اعتبار کړې دې.اوده ته ئې د خرچ کولوحکم ورکړې دې.

د ښځې نفقې حاصلولو دپاره خپل خاوند منع کول

وَإِنْ امْتَنَعَتْ مِنْ تَسْلِيمِ نَفْسِهَا اوکه ښځې د خپل ذات سپارلو نه انکار اوکړو حَتَّى يُعْطِيَهَا مَهْرَهَا تردې چه خاوند دې ته ددې مهر ورکړی فَلَهَا النَّفَقَةُ نود ښځې دپاره نفقه واجب ده

حل اللغة﴾ ① **تسلیم**:سپارل،حواله کول

تشریح﴾ مسئله دا ده.که ښځې خپل ځان خاوند ته د سپارلو نه بند کړلو.تردې چه خاوند ددې مهرمعجل ادا کړی.نو په دې صورت کښې به د ښځې نفقه نه ساقطیږی.بلکه په خاوند به واجب وی.

دلیله﴾ دلیل دادې.چه د ښځې خپل ځان منع کول، د خپل حق په وجه دی.نود احتباس فوت کیدل، په داسې وجه دی.چه د خاوند د طرفه پیدا شوې دې.نودا داسې شوه.لکه چه احتباس فوت نشو.او هرکله چه د ښځې د طرفه احتباس فوت نشو.نو ددې نفقه به هم نه ساقطیږی.

د نافرمانه او سرکشه ښځې نفقه

وَإِنْ نَشَزَتْ اوکه ښځې نافرمانی او بغاوت اوکړو فَلَا نَفَقَةَ لَهَا نو ددې دپاره به نفقه نه وی حَتَّى تَعُودَ إِلَى مَنْزِلِهِ تردې چه دا خپل خاوند کور ته واپس شی

حل اللغة﴾ ① **نشزت**:د نشوز نه دې یعنی که ښځه د خاوند نافرمانی کوی

تشریح﴾ مسئله داده.که ښځې نافرمانی او سرکشی اوکړله.نو ددې دپاره به نفقه نه وی.تردې پورې چه دا سرکشی پریږدی.اود خاوند کور ته واپس راشی.

دلیله﴾ ځکه چه دې خپل ځان محبوس کول د خپل ځان نه لرې کړې دې.یعنی نفقه ددې د احتباس په وجه واجب وه.اوکله چه دې احتباس پخپله ختم کړلو.نو نفقه به هم ساقط وی.

د صغیره دپاره نفقه

وَإِنْ كَانَتْ صَغِيرَةً اوکه صغیره وی لَا يُسْتَمْتَعُ بِهَا چه دې سره جماع نشی کیدلې فَلَا نَفَقَةَ لَهَا نو ددې دپاره نفقه نشته.وَإِنْ سَلَّمَتْ إِلَيْهِ نَفْسَهَا اګرچې سپارلې ئې وی هغه ته نفس خپل

تشریح﴾ صورت د مسئلې دادې.که ښځه دومره صغیره وی.چه دې سره جماع نشی کیدلې.نو ددې دپاره به په خاوند باندې نفقه واجب نه وی.که دا د خاوند په کورکښې وی.اوکه د خاوند په کور کښې

نه وی.تردې چه د جماع قابله شی. (۱)

علیله > دلیل دادې.چه د جماع ممتنع کیدل په داسې وجه سره دی.کوم چه په ښځه کښې موجود دې.یعنې د صغیره خپل ځان خاوند ته نه سپارل، نو صغیره داسې شوه.لکه ناشزه (نافرمانه) او کوم احتباس چه نفقه واجبوی.هغه دادې.چه د نکاح د مقصود(جماع یا دواعی د جماع) حاصلولو وسیله وی.او داسې احتباس موجود نشو.په دې وجه د صغیره دپاره په دې خاوند باندې نفقه هم واجب نه ده.په خلاف د بیمارې ښځې. چه ددې نفقه نه ساقطیږی.ددې تفصیل به عنقریب بیان کړې شی.ان شاءالله

وَإِنْ كَانَ الزَّوْجُ صَغِيرًا او که خاوند صغیر وی **لَا يَقْدِرُ عَلَى الْوَطْيِ** چه په جماع قادر نه وی **وَالْمَرْأَةُ كَبِيرَةً** حال داچه ښځه بالغ ده **فَلَهَا النَّفَقَةُ مِنْ مَالِهِ** نو ددې دپاره د خاوند په مال کښې نفقه واجب ده

تشریح > که خاوند نابالغه وی.په جماع قدرت نشی لرلې.او دده ښځه بالغه وی.نود خاوند د مال نه ددې دپاره نفقه واجب ده.

علیله > ځکه چه د ښځې د طرفه خپل ځان سپارل موجود شو.او عجز صرف د خاوند د طرفه دې.نو لکه څنګه چه د مقطوع الذکر اود نامرد د ښځې نفقه واجب وی.دغه شان به ددې نابالغ د ښځې نفقه هم واجب وی.او که ښځه خاوند دواړه نابالغ وی.چه په جماع قادر نه وی.نو په اجماع سره به دښځې نفقه واجب نه وی.(الذخیره)

د فرقت نه پس د نفقه اوسکنی احکام

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ او کله چه سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړو **فَلَهَا النَّفَقَةُ وَالسُّكْنَى فِي عِدَّتِهَا** نو دښځې دپاره به ددې په عدت کښې نفقه اوسکونت واجب وی **رَجْعِيًّا كَانَ أَوْ بَائِنًا**.(که طلاق) رجعی وی اوکه بائن وی

حل اللغة > ① **السكني**:استوګنه

تشریح > صورت د مسئلې دادې.که یوکس خپلې ښځې ته طلاق ورکړو.که طلاق رجعی ئې ورکړې وی.اوکه طلاق بائن ئې ورکړې وی.نود ښځې په عدت کښې به ددې دپاره نفقه اوسکنی واجب وی. (۲)

علیله > دلیل دادې.چه ښځې ته نفقه ورکول،دا خپل ځان سره د بندولو عوض دې.لکه څنګه چه مونږ د باب النفقه په شروع کښې بیان کړی دی.اودا احتباس(بندول) د نکاح په مقصود، یعنی د بچی په حق کښې اوس هم موجود دی.ځکه چه عدت په دې وجه واجب وی.چه د بچی حفاظت اوکړې شی.او هرکله چه احتباس موجود دې.نود ښځې دپاره به نفقه هم واجب وی.او هم ددې احتباس په وجه د مطلقه بائنه

---

[1] **مسلک الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه د صغیره دپاره نفقه واجب ده.

[2] **مسلک الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه کومه ښځه قطعی طور باندې جداکړې شوې وی.مثلاً یوطلاق بائن یا درې طلاقونه ئې ورکړې وی.یا ئې خلع کړې وی.نو ددې دپاره نفقه نشته.امام مالک اوامام احمد رحمهما الله هم ددې قائل دی.خوکه دا ښځه حامله وی.نو بالاجماع به ددې دپاره نفقه واجب وی.بهرحال د طلاق رجعی په صورت کښې د عدت تیریدلو پورې د ښځې دپاره بالاتفاق نفقه او سکنی واجب ده.

دپاره بالاجماع سکنی واجب ده.اودا داسې صورت شو.لکه چه دا حامله ښځه وي.

د ښځې دپاره د عدت په موده کښې د نفقه عدم وجوب

وَلَانَفَقَةَ لِلْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا اود،، متوفی عنها زوجها،، دپاره نفقه نشته.

تشریح> مسئله: که دیوې ښځې خاوند مړشو.نو ددې ښځې دپاره د عدت نفقه نشته.امام احمد رحمه الله ددې قائل دې.اود امام شافعي رحمه الله هم یو قول دادې.

دلائل> ① د ،متوفی عنها زوجها،دپاره د نفقه د عدم وجوب دلیل دادې.چه د ښځې خپل خان بندول د خاوند په حق کښې ذکر دی.دا د ،متوفی عنها زوجها،د طرفه عبادت دې.نود رحم پاکوالې معلومول، د ،،متوفی عنها زوجها،، په عدت کښې ملحوظ نه دی.تردې چه په دې عدت کښې حیض هم شرط نه دې. که د څلورمیاشتو او لس ورځو پورې هیڅ حیض رانشي.نو بیا به هم عدت تیرشي. نو په دې عدت کښې به په متوفی خاوند باندې نفقه واجب نه وي. ② دویم دلیل دادې.چه نفقه په لږه لږه واجبیږي.اود مرګ نه پس د خاوند ملك پاتې نشو.نو د وارثانو په ملك کښې نفقه واجبیدل ممکن نه دی.

که ښځه د فرقت سبب وي نو ددې نفقه

وَكُلُّ فُرْقَةٍ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْمَرْأَةِ بِمَعْصِيَةٍ او هره جدائی چه د معصیت په وجه د ښځې د طرفه راغلې وي فَلَانَفَقَةَ لَهَا نو ددې دپاره به نفقه نه وي

حل اللغة > ① **معصية**: ګناه

تشریح> **مسئله**>که د ښځې د طرفه د معصیت په وجه فرقت پیدا شو.مثلاً ښځه د اسلام نه واوړیدله. یادې په شهوت سره دخپل خاوند خوې ښکل کړلو.نو دې دپاره به نفقه نه وي.

دلیله> خکه چه دا خپل حق په ناحقه بندونکې ده.نودا داسې شوه.لکه چه دې نافرمانی کړې وي.اود کور نه بهر وتلې وي.

مصنف رحمه الله په عبارت کښې نفقه ذکر کړې ده.خکه چه سکنی ددې معتدې دپاره هم واجب وي. خکه چه د معتدې دپاره په کورکښې اوسیدل واجب دی.نود ښځې په معصیت سره سکنی نه ساقطیږي. په مبسوط کښې دي.چه د مرتدې نفقه خاص د ردت په وجه نه ساقطیږي. بلکه په دې وجه ساقطیږي.چه د ردت په وجه به دا قیده او بندولې شي.او ،،محبوسه بحقه،، (چه په خپل حق کښې ګرفتاره شوې وي) د نکاح د قیام په حالت کښې د نفقه مستحقه نه وي.نو هم دغه شان به په عدت کښې هم د نفقه مستحقه نه وي.تردې که ښځه مرتده شوه.او قیده نکړې شوه.بلکه د خاوند په کور کښې وي.نو ددې دپاره به نفقه واجب وي.خکه چه حبس او قید کول موجود نشو.(عینی،عنایه)

وجوب المهر> په خلاف ددې که ښځه د وطی نه پس مرتده شوه.نو ددې مهربه ساقط نه وي.خکه چه مهر د ملك بضع عوض وي.اود ښځې د طرفه په وطی سره د بضع سپارل موجود شو.په دې وجه به د خاوند د ذمې نه مهر نه ساقطیږي.

صورة الفرقة من غير معصية المرأة> ددې په خلاف که دښځې د طرفه فرقت د معصیت نه بغیر پیدا شو.مثلاً په خیار عتق.اود خیار بلوغ په وجه ښځې تفریق کړې دې.یا د کفوء نه کیدلو په وجه تفریق شوې وي.نود عدت په زمانه کښې به ددې ښځې دپاره نفقه واجب وي.دغه شان کومې ښځې چه لعان اوکړو.اود لعان په وجه تفریق اوشو.نو ددې دپاره به هم نفقه او سکنی واجب وي.او دغه شان که د خلع او ایلاء په وجه بائنه شوه.نو بیا به هم ددې دپاره نفقه او سکنی وي.دلیل دادې.چه په دې

صورتونو کښې ښځې خپل ځان په حق سره بند کړې دي.او داسې بندول نفقه نه ساقطوي.لکه مثلاً دې خپل ځان خاوند ته د تللو نه په دې وجه بند کړلو.چه خپل مهرمعجل وصول کړي.نو نفقه قائم پاتې کیدل نه ساقطیږي.

د طلاق نه پس د ښځې مرتد کیدل او ددې نفقه

وَاِنْ طَلَّقَهَا ثَلَاثًا اوکه خاوند (خپلې ښځې ته) درې طلاقه ورکړل ثُمَّ ارْتَدَّتْ ددې نه پس دا مرتده شوه سَقَطَتْ نَفَقَتُهَا .نو ددې نفقه ساقط شوه ،

تشریح> مسئله داده.که خاوند خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل.ددې نه پس ښځه العیاذ بالله مرتده شوه.نوددې ښځې نفقه ساقط شوه.

وَاِنْ مَكَّنَتْ اِبْنَ زَوْجِهَا مِنْ نَفْسِهَا اوکه دې د خپل خاوند خوی ته پخپل نفس باندې قابو ورکړله فَاِنْ كَانَ بَعْدَ الطَّلَاقِ فَلَهَا النَّفَقَةُ نو که د طلاق نه پس وُ نو ددې دپاره به نفقه وي وان كان قبل الطلاق فَلَا نَفَقَةَ لَهَا اوکه د طلاق نه وړاندې وي د دې د پاره به نفقه نه وي

تشریح> که د درې طلاقونو نه پس ښځې د خپل خاوند خوی ته (چه د مخکینۍ ښځې نه پیدا شوې وي) پخپل ځان باندې قابو ورکړلو.یعنې ده سره ئې خپل مخ تورکړلو. نو ددې دپاره به نفقه واجب وي.

الفرق بینهما> ددې دواړو مسئلو په مینځ کښې فرق دادې.چه په دواړه صورتونو کښې فرقت په درې طلاقونو سره ثابت شوې دې.او په مرتد کیدلو،اود ابن زوج سره وطی کولو ته دې فرقت کښې هیڅ دخل نشته.خو دومره خبره ده.چه کومه ښځه مرتده شی.هغه قید کولې شی.تردې چه توبه اوباسی.اود داسې قیدی ښځې دپاره نفقه نه وي.او کومې ښځې چه دخاوند خوی سره وطی اوکړله.نودا نشی قید کولې.په دې وجه ددې دپاره نفقه وي.په دې وجه دې دواړو مسئلوکښې فرق اوشو.

په قرض کښې د قیدی ښځې نفقه

وَاِذَا حُبِسَتِ الْمَرْاَةُ فِيْ دَيْنٍ اوکه ښځه د دین په وجه قید کړې

تشریح> صورت د مسئلې دادې.که ښځه د قرض او دین په وجه قیدی شوه.نو ددې دپاره به نفقه واجب نه وي.لکه څنګه چې به د راروان متن یعنې ((اوحجت مع محرم فلا نفقة لها))نه معلومه شي.

دلیله> دلیل دادې.چه په دې صورت کښې احتباس زائل کیدل د ښځې د طرفه متحقق شوې دې.څکه چه ده په قرض اداکولوکښې ټال مټول کړې دې.چه ددې په وجه دا قیدی شوه.نودا داسې شوه.لکه چه دې خپل ځان خاوند ته د سپارلو نه منع کړلو.او کومه ښځه چه بلاوجه خپل ځان خاوند ته نه حواله کوي.هغه ناشزه (نافرمانه) وي.اوچونکه د ناشزه نفقه ساقطیږي.په دې وجه به ددې ښځې نفقه هم ساقطیږي.اوکه احتباس زائل کول د ښځې د طرفه نه وي.په دې طریقه چه دا د قرضې اداکولو نه عاجزه وي.بیا هم دخاوند د طرفه نه دي.نود خاوند نه به د نفقه مطالبه نشی کولې.

اَوْغَصَبَهَا رَجُلٌ كُرْهًا اوبیو کس دا ښځې په زور سره غصب کړه فَذَهَبَ بِهَا او وې تختوله

تشریح> که سړي په زبردستۍ سره ښځه غصب کړي.او بوئې ځي.نو بیاهم دا حکم دې.چه دې دپاره به نفقه نه وي.دا ظاهرالروایت دې. لکه څنګه چې به د راروان متن یعنې ((اوحجت مع محرم فلا نفقة لها))نه معلومه شي.

فلیله› ځکه چه احتباس زائل کول، د خاوند د طرفه نه دی.چه اوونیلی شی.چه احتباس حکماً باقی دی.حاصل داچه د ښځي نفقه ددې خبرې عوض دې.چه ښځه خپل ځان دخاوند په کورکښې محبوس کړې.نوکه احتباس زائل کول، دخاوند د طرفه نه وی.نو احتباس حکماً هم نشی ګرځولې. او چونکه بغیر د احتباس نه د ښځي دپاره نفقه واجب نه وی.په دې وجه به په دې صورت کښې نفقه نه وی.

اَوْحَجَّتْ مَعَ مَحْرَمٍ اویا ښځي خپل محرم سره حج اوکړو **فَلَا نَفَقَةَ لَهَا** نوهغې دپاره نفقه نشته

تعریح› که ښځي د خاوند نه بغیر خپل محرم سره حج اوکړلو.نو بیا به هم ددې دپاره نفقه واجب نه وی.ځکه چه په دې صورت کښې احتباس زائل کول د ښځي د طرفه دی.

فلیله› دلیل دادې.چه په خاوند باندې دحضر نفقه واجب شوې ده.ځکه چه په آیت او روایت دواړو کښې ددې نفقې حکم ورکړې شوې دې.چه دا د ،،**مَعْرُوْف**،، په قید سره مقید دې.اود معروف نه مراد دا دی.چه نه په دې کښې اسراف وی.او نه تنګی وی.او چونکه په سفرکښې هرڅیز په ګران قیمت کښې ملاویږی.په دې وجه د سفر په نفقه کښې اسراف دې.نود سفر نفقه معروف (د اعتدال په طوړ) نه ده.او هرکله چه معروف نه ده.نو واجب به هم نه وی.

د بیمارې ښځي نفقه

وَاِذَا مَرِضَتْ فِي مَنْزِلِ الزَّوْجِ اوکه ښځه د خپل خاوند په کورکښې بیماره شوه **فَلَهَا النَّفَقَةُ** (١) نو ددې دپاره به نفقه واجب وی

تعریح› مسئله داده.چه ښځه د خاوند په کورکښې اوسیدله.اوبیماره شوه.نو ددې دپاره نفقه واجب ده. بیماری که د جماع نه مانع وه.او که نه وه.اود قیاس تقاضا داده.که بیماری د جماع مانع وی. نود ښځي دپاره نفقه واجب نه وی.ځکه چه د جماع دپاره کوم احتباس وو.د بیمارئ په وجه هغه فوت شو.او چونکه نفقه د احتباس عوض دې.په دې وجه د احتباس فوت کیدلو په وجه به نفقه هم ساقطیږی.

وجهه› د استحسان وجه داده.چه احتباس اوس هم موجود دې.ځکه چه خاوند د بیمارې ښځي سره خوشحاله وی.او ددې په ښکلولو سره مزه اخلی.اود کورحفاظت کوی.اود وطی مانع د عارض په وجه دې. نو دا بیماری د حیض مشابه شوه.چه لکه څنګه حیض د وطی مانع وی.خو د حیض په موده کښې د ښځي دپاره نفقه واجب وی.دغه بیماری اګرچه د وطی مانع ده.خود بیمارئ په زمانه کښې به دښځي دپاره نفقه واجب وی.

روایة عن ابي یوسف› د امام ابویوسف رحمه الله نه روایت دې.که ښځي ورانډې نه خپل ځان د خاوند حواله کړې وی.بیا بیماره شوې وی.نو ددې دپاره به نفقه واجب وی.او که ورانډې بیماره شوې وی.او بیا ئې ځان سپارلې وی.نو نفقه به واجب نه وی.وجه د فرق داده.چه په رومبی صورت کښې دښځي د طرفه خپل ځان سپارل موجودشو.او په دویم صورت کښې د مرض په وجه سپارل صحیح نشو.او زمونږ مشائخ وائی. چه دا تفصیل مناسب دې.اود قدوری عبارت هم دې طرف ته اشاره کوی.

---

(١) القول الراجح هو ظاهرالرواية كذا في ردالمحتار(٢\٧٠١) والبحرالرائق (٤\١٨٣) ومجمع الأنهر(١\٤٩٨) والهندية (١\٥٤٦) نقلاً عن القول الراجح (١\٣٨١)-

د ښځې او ددې د نوکر نفقه

وَتُفْرَضُ عَلَى الزَّوْجِ چه فرض کولې به شي په خاوند باندې نَفَقَةُ خَادِمِهَا نفقه د خادم ددې إِذَا كَانَ مُوسِرًا په دې شرط چې دې مالدار وي

تشریح> مسئله داده.که خاوند مالداره وي.نو په ده به دده د ښځې اود ښځې د خادم (نوکر) نفقه هم واجب وي.په ښکاره دا عبارت د ښځې د نفقه په باره مکرر دې. په دې وجه مصنف رحمه الله عذر اوکړلو. او وې فرمائیل.چه دلته کښې د ښځې د خادم نفقه بیانول مقصود دی.د ښځې نفقه بیانول مقصود نه دی.په دې وجه د قدوری په بعضو نسخوکښې عبارت داسې دې. (وتفرض على الزوج اذا كان موسرا نفقة خادمها)

دلیله> د خادم د نفقه دوجوب وجه داده.چه په خاوند باندې د ښځې کفایت(کافی کیدل) واجب دی.او دښځې پوره کفایت به داوی.چه د ښځې د خادم نفقه هم ضروری کړې شي.په دې وجه دښځې دپاره ددې د خادم نفقه هم واجب ده.خادم که غلام وي.او که وینځه وي.

باتې شوه داخبره چه د ښځې که خادم نه وي.نودا به پخپله کار کولو باندې مجبورولې شي.او که نه؟ نو ددې حکم دادې.که ښځه د کار کولو نه انکار اوکړي. نودا به په دې باندې نشي مجبورولې.ځکه چه په ښځه باندې صرف خاوند له په خپل ځان باندې قدرت واجب دی.دا کارونه واجب نه دی.ددې په خلاف که خادم د خدمت نه انکار اوکړلو.نودې به د نفقه مستحق نه وي.

د ښځې د یو نه د زیاتو نوکرانو نفقه

وَلَا تُفْرَضُ لِأَكْثَرَ مِنْ نَفَقَةِ خَادِمٍ وَاحِدٍ اود یوخادم نه د زیات نفقه به نشي فرض کولې

تشریح> **مسلک الطرفین**> مسئله داده.چه په خاوند باندې د ښځې د یوخادم نه د زیاتو نفقه واجب نه ده.داحکم د طرفینو رحمهما الله په نیز دې.اوهم دا قول د جمهورو عالمانو،اود امام مالك،امام شافعی اود امام احمد رحمهم الله دې.

دلیلهما> دلیل دادې.چه یوخادم په کور کښې دننه اود بهر ټول کار پوره کولې شي.نود دوه خادمانو هیڅ ضرورت نشته.دویم دلیل دادې.که خاوند پخپله د ښځې دکارونو خیال اوساتی.نو کافی کیږي.هم دغه شان که خاوند د خپل ځان په ځائې یوکس مقرر کړي.نوهم کافی ده.

مسلک ابي یوسف> امام ابویوسف رحمه الله فرمائی.چه په خاوند باندې د دوه خادمانو نفقه فرض ده.

دلیله> دلیل دادې.چه د دوه خادمانو ضرورت وي.ځکه چه یوخادم به په کور کښې دننه کار کوي.او دویم به د کورنه د بهر کار کوي.اود امام ابویوسف رحمه الله نه دویم روایت دې.که ښځه ډیره مالداره وي.چه ددې سره په جهیزکښې ډیرې خادمانې راغلې وي.نود ټولوخادمانو نفقه به واجب وي.هم دا هشام د امام محمد رحمه الله نه روایت کړې دې.اوهم دا امام طحاوی رحمه الله اختیارکړې دې.

د سکنې احکام

وَعَلَيْهِ او په خاوند باندې واجب دی أَنْ يُسْكِنَهَا فِي دَارٍ چه ښځه په جداکور کښې آباده کړي مُفْرَدَةٍ لَيْسَ فِيهَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِهِ چه په هغې کښې د خاوند د اهل څخې هیڅ څوك نه وي إِلَّا أَنْ تَخْتَارَ ذَلِكَ البته که ښځه پخپله دا خوښه کړي

تشریح د ښځې د نفقه بیانولو نه پس اوس د سکنی احکام بیانوي.فرمائي.په خاوند باندې واجب دی.چه دې خپله ښځه په خانله بیل کور کښې آباده کړی.چه په دې کښې د خاوند د کور د خلقو نه هیڅ څوك نه اوسیږي.څو که ښځه د خاوند د کورد خلقوسره او سیدل خوښوي.نو دې ته اختیار شته.

دلیل دلیل دادې.چه د ښځې د ضروریاتو څنې سکونت (اوسیدل) هم دې.نود نفقه پشان به دا هم په خاوند باندې واجب وي.اود ابن مسعود رضی الله عنه په قرات کښې دی. (أسكنوهن من حيث سكنتم وأنفقوا عليهن من وجدكم) یعنی تاسو خپلو ښځو ته د خپل طاقت مطابق د اوسیدلو دپاره کور ورکړئ.کوم خانې کښې چه تاسو اوسیږئ.او دوي ته نفقه ورکوئ.په دې آیت کښې الله تعالی د نفقه سره یوځائې سکنی هم واجب کړې ده.نو ثابته شوه.چه د نفقه پشان سکنی هم په خاوند باندې واجب ده.

د ښځې رشته داران ملاویدلونه منع کول

وَلِلزَّوْجِ او خاوند ته اختیار دې دې أَنْ يَمْنَعَ وَالِدَيْهَا وَوَلَدَهَا مِنْ غَيْرِهِ چه د ښځې موریلار،او ددې خامن کوم چه د مخکنی خاوند نه (پیدا) دی وَأَهْلَهَا مِنَ الدُّخُولِ عَلَيْهَا او ددې د کور خلق ددې خواته راتللو نه منع کړي

حل اللغة ① **یمنع**: منع کوی

تشریح مسئله خاوند ته دا اختیار شته.چه دې د خپلې مور اوپلار،او ددې هغه خوې چه د مخکینی خاوند نه پیدا شوي وی.دوی او ددې نور رشته داران دې ته د راتللو نه منع کړی.

دلیل دلیل دادې.چه دا کورخود خاوند ذاتی ملك دې.نو ده ته پخپل ملك کښې د راتللو نه د منع کولو اختیار حاصل دې.

وَلَا يَمْنَعُهُمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَيْهَا وَلَا مِنْ كَلَامِهِمْ فِي أَيِّ وَقْتٍ اخْتَارُوا اود ښځې موریلار وغیره چه کله دوی اوغواړي.چه دې ښځې طرف ته اوګوری او ددې سره خبرې اوکړی.منع نکړی

تشریح اوکه د ښځې موریلار وغیره دا کتل غواړي.یا خبرې کول غواړي.نو خاوند دا ښځه د کتلو اود خبروکولو نه نشی منع کولې.

دلیل ځکه چه په دې کښې قطع رحمی لازمیږي.او قطع رحمی حرام ده.ځکه نقل دی.چه (عن جبیر بن مطعم أنه سمع النبی ﷺ یقول لا یدخل الجنة قاطع) یعنی د جبیربن مطعم رضی الله عنه نه نقل دی.چه دوی د نبی کریم ﷺ نه دا واوریدل.چه قطعی رحمی کونکې به جنت ته نه داخلیږي.او ښځې طرف ته په کتلو او خبروکولو سره د خاوند په حق کښې هیڅ ضرر نه راځي.

خاوند د نفقه نه عاجزه کیدل

وَمَنْ أَعْسَرَ بِنَفَقَةِ امْرَأَتِهِ او کوم خاوند چه د خپلې ښځې د نفقې نه غریب شو لَمْ يُفَرَّقْ بَيْنَهُمَا نو په دې دواړوکښې به جدائی نشی کولې. وَيُقَالُ لَهَا (بلکه) قاضی به دې ښځې ته وائی اسْتَدِينِي عَلَيْهِ چه دخپل خاوند (په ذمه) باندې قرض واخله

حل اللغة ① **اعسر**: غریب شو

تشریح مسئله داده.که خاوند د خپلې ښځې د نفقه نه عاجزه شو.نو په دې وجه به په دواړوکښې تفریق نشی کولې.بلکه قاضی به ښځې ته وائی.چه د خپل خاوند په ذمه باندې قرض واخله.یعنی په دې شرط د خوراك سامان قرض واخله.چه ددې قیمت به ددې خاوند اداکوی.یاد خاوند په مالداره کیدلو

باندې به دده د مال نه دا قرضه اداکولې شي.امام زهري، عطاء، بن يسار،حسن بصري، سفيان ثوري، ابن ابي ليلى، ابن شبرمه، او حماد بن سلميان رحمهم الله هم ددې قائل دی. (۱)

دلائله ① دليل د الله تعالى قول ﴿وَإِنْ كَانَ ذُوعُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ﴾ دې.وجه د استدلال دا ده.چه نفقه آخركار دخاوند په ذمه قرض وی.او خاوند غريب شو.اود قرآن په نص دا حكم دې.چه كله مديون غريب شي.نو دائن يعني قرض غوښتونكې به ده ته د مالداره كيدلو پورې مهلت وركوی.نو ثابته شوه.چه د خاوند د غريب كيدلو په وجه به تفريق نشي كولې.بلكه ښځه به ده ته مهلت وركوی.

② او عقلي دليل دادې.كه تفريق اوكړې شي.نود خاوند حق به بالكليه باطل شي.اود ښځې حق داسې دې.چه په دې كښې تاخير كيدلې شي.څكه چه هركله قاضي نفقه مقرر كړی.نودا د خاوند په ذمه قرض وی.نو ښځه به ئې د خاوند نه په راروانه زمانه كښې وصول كوی.اود خاوند حق بالكليه باطلول په ضرركښې ډير زيات دې.نود اعلى ضرر لرې كولو دپاره به ادنى ضرر برداشت كولې شي.

د غائب سړي په مال كښې د هغه د ښځې نفقه اداكول

وَإِذَاغَابَ الرَّجُلُ او كه سړې غائب شو .وَلَهُ مَالٌ فِي يَدِرَجُلٍ او دده مال د يو كس په قبضه كښې دې يَعْتَرِفُ بِهِ چه ددې اقرار كوی وَبِالزَّوْجِيَّةِ او(دا اقرار هم كوی.چه دا ښځه ددې غائب سړی) بي بي ده فَرَضَ الْقَاضِي فِي ذٰلِكَ الْمَالِ نَفَقَةَ زَوْجَةِ الْغَائِبِ وَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ وَوَالِدَيْهِ نو قاضي به په دې مال كښې ددې غائب سړی د ښځې،دده د نابالغه اولاد او دده دمورپلار نفقه مقرر كوی

حل اللغة ① يعترف:اقرار كوی ② الزوجية: وادهٔ توب

تشريحمسئله داده.كه خاوند په سفركښې لاړلو.او دده څه مال د يوسړي مثلا د حامد په قبضه كښې دې.چه دې ددې امانت اقرار كوی.اودا اقرار هم كوی.چه دا ښځه ددې غائب سړی ښځه ده.نوقاضي به ددې مال نه ددې غائب سړی د ښځې او دده د نابالغ اولاد،او دده د مورپلار نفقه مقرركوی.

دليله دليل دادې.چه هركله حامد د زوجيت اود امانت دواړو اقرار اوكړلو.نوده دا هم اقرار اوكړلو.چه ښځې ته ددې مال نه د اخستلو حق شته. څكه چه ښځې ته اختيار وی.چه د خاوند د رضامندئ نه بغير دده د مال نه دضرورت په اندازه واخلي.او په دې دليل هغه حديث دې.چه د ابوسفيان رضي الله عنه ښځې هنده ته نبي كريم ﷺ اوفرمائيل. (خذي من مال زوجك مايكفيك وولدك بالمعروف)

الاشكال دلته كښې يواشكال كيږی.هغه دا كه قرض غوښتونكې د غائب د مودع (امانت دار) ياد قرض داری نه د خپلې قرضې مطالبه اوكړله.په داسې حال كښې چه مودع او قرضدار دواړه ددې خبرې اقرار كوی.چه ددې قرض غوښتونكې د غائب په ذمه قرض دې.او مونږ سره د غائب سړي مال هم شته.نو قاضي ددې امانت اود قرض مال نه دې غائب ته د قرض وركولو حكم نشي وركولې. حالانكه د ښځې اوبچو پشان د قرض غوښتونكې قرض اداكول هم په غائب باندې واجب دی.

الجواب جواب دادې.چه دغائب په حق كښې قاضي د هغه څيز حكم وركولې شي.چه كوم دده حق كښې فائده مند وی.او په كوم څيز كښې چه په غائب باندې شفقت نه وی.د هغې په باره كښې قاضي

(۱) **مسلك الشافعي**:- حضرت امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه په دواړو كښې به تفريق كولې شي.امام مالك او امام احمد رحمهما الله ددې قائل دی.هم دا اختلاف هغه وخت دې.چه كله خاوند د ښځې دپاره د كپړې اود اوسيدلو دپاره د كور وركولو نه عاجزه شي.اودا تفريق د امام شافعي اود امام احمد رحمهما الله په نيز فسخ د نكاح ده.اود امام مالك رحمه الله په نيز طلاق دې.

ته د حکم ورکولو اجازت نشته.نود ښځې اوبچو دپاره د نفقه حکم په ورکولوکښې په غائب سړی باندې شفقت دی.ځکه چه دده ملك به باقی پاتې وی.اود قرض په اداکولوکښې دده ملك باقی کیدل نشته.بلکه د يو اجنبی (غیر)کس په ونیلو سره دده په خلاف حکم کول دی.نود فرق په وجه قاضی د ښځې اود بچو دپاره د نفقه حکم کولې شی.خود قرض اداکولوحکم نشی کولې.

د ښځې نه د قاضی ضامن اخستل

وَيَأْخُذُ مِنْهَا كَفِيلًا بِهَا (١) او قاضی به ددې ښځې نه کفیل اخلی

حل اللغة ① **کفیل**:ذمه وار

تشریح صورت د مسئلې دادې.چه قاضی به ددې ښځې نه کفیل اخلی.یعنی یوکس به ذمه وار وی.که دا ښځه د نفقه مستحق نه وی.نود غائب مال به واپس اخستلې شی.چه د غائب سړی دمال ساتونکې شی. امام سرخسی رحمه الله فرمائی.چه د ښځې نه کفیل اخستل غوره دی.او که واپې نه خستلو.نوهم جائز دی. او صدرالشهید فرمائی.چه د غائب خاوند د رعایت په خاطر کفیل اخستل صحیح دی.خوقاضی به اول ددې ښځې نه په دې خبره باندې قسم اخلی.چه ددې خاوند دې ته نفقه نه ده ورکړې.ځکه کیدې شی.چه خاوند په سفرکښې د تللونه وراندې دې ښځې ته نفقه ورکړې وی.اودا ښځه په قاضی باندې معامله مشتبه کوی.او دوباره نفقه اخلی.نو هرکله چه دې ښځې قسم اوخوړلو.نو قاضی به دې ښځې ته نفقه ورکوی.اودده نه به کفیل (ذمه وار) اخلی.

دلیله دلیل دادې.چه ممکن ده.دې ښځې د خپل خاوند نه خپله نفقه د وراندې وصول کړې وی.یا خاوند دې ته طلاق ورکړې وی.او عدت ئې تیر شوې وی.نودا ښځه به د نفقه مستحق نه وی.په دې وجه به د خاوند د رعایت په لحاظ ددې نه کفیل اخستلې شی.

د غائب سړی د مال نه قاضی ته د نفقه ورکولو اختیار

وَلَا يَقْضِي بِنَفَقَةٍ فِي مَالِ غَائِبٍ قاضی به د چا په مال کښې د چا د نفقې حکم نه ورکوی إِلَّا لِهَؤُلَاءِ سوا د هغه خلقو

تشریح مسئله داده.چه قاضی د غائب په مال کښې صرف ددې ذکرشوی خلقو دپاره د نفقه حکم ورکولې شی.یعنی د ښځې، د وروبچو.اود موربلار دپاره یاچه څوك ددوی په حکم کښې وی.لکه بالغ اولاد چه ګډ شل وی.یا ښځې وی.او ددوی نه علاوه د نورو محارمو(لکه رور، تره، او نور رشته داران) دپاره قاضی د غائب په مال کښې د نفقه حکم نشی ورکولې.

وجه الفرق په دې دواړه صورتونو کښې وجه د فرق داده.چه د ښځې وغیره ذکر شوی خلقو دپاره نفقه د قاضی د حکم نه وراندې هم واجب وه.په دې وجه دې خلقو دپاره جائز دی.چه د قاضی د حکم نه وراندې خپله نفقه وصول کړی.خود غائب په مال باندې قابض دوی له نه ورکوی.په دې وجه د قاضی حکم دې خلقو دپاره اعانت (مدد) شو.

---

(١) القول الراجح هو قول أبي يوسف رحمه الله توضحه قال ابن الهمام امرآة قال تان زوجي يطيل الغيبة عني فطلبت كفيلا بالنفقة قال ابوحنيفة ليس لها ذلک وقال ابويوسف اخذا كفيلا بنفقة شهر واحد استحسانا وعليه الفتوى كذا في فتح القدير(٤\٢١٢) و ردالمحتار(٢\٧٠٢) وخلاصة الفتاوی (٢\٦٢) والبحرالرائق (٤\١٩٧) والهندية (١\٥٥٣) نقلاً عن القول الراجح(١\٣٨٦)-

حکم المحارم الاخری ﴾ پاتې شو نور محارم چه ددوی نفقه د محتاجۍ په وجه ددې سړي په ذمه لازم وي.نودا نفقه به هغه وخت واجب وي.چه کله قاضی حکم ورکړي.ځکه چه دا مسئله مختلف فيه ده.ځکه چه امام شافعي رحمه الله دغير محارم دپاره د نفقه د وجوب قائل نه دي.نو چونکه د غيرمحارم نفقه د قاضی په حکم سره واجبيږي .او زمونږ په نيز ، ،قضاء علی الغائب،، جائز نه ده.په دې وجه قاضی د غائب په مال کښې ددوی دپاره د نفقه حکم نشي ورکولې.

په غريبۍ او مالدارۍ کښې د نفقه کيفيت

وَإِذَا قَضَى الْقَاضِي لَهَا بِنَفَقَةِ الْإِعْسَارِ اوکه قاضی د ښځې دپاره د غريبۍ نفقه مقرر کړله.بيا ثُمَّ أَيْسَرَ ددې خاوند) مالداره شو فَخَاصَمَتْهُ نو ښځې ددې سره مخاصمت اوکړو تَمَّمَ لَهَا نَفَقَةَ الْمُوسِرِ نو قاضی به ددې دپاره د مالدارۍ نفقه پوره کوی

تشريح ﴾ مسئله داده.که قاضی د يوې ښځې دپاره په خپل ځان باندې د غريبۍ او فقيرۍ نفقه فرض کړله.بيا ددې خاوند مالداره شو.نو ښځې قاضی ته د مالدارۍ د نفقه دعوه اوړاندې کړله.نو قاضی به ددې دپاره (دمالدارۍ) نفقه مقرر کوی.

دليله ﴾ دليل دادې.چه د مالدارۍ اوغريبۍ موافق نفقه بدليږي رابدليږي.ځکه چه نفقه د ټول عمر دپاره په يوځل نه واجبيږي.بلکه روزانه په لږه لږه واجبيږي.په دې وجه به روزانه د ښځې د خاوند اود ښځې د حال اعتبار کولې شي.

د تيرشوي وخت له ادا شوي نفقې حکم

وَإِذَا مَضَتْ مُدَّةٌ اوکه يوه موده تيره شوه لَمْ يُنْفِقِ الزَّوْجُ عَلَيْهَا چه خاوند ښځې ته نفقه نه ده ورکړې وَطَالَبَتْهُ بِذَلِكَ بيا ښځې ددې نه دتيرې شوې نفقې مطالبه اوکړله فَلَاشَيْءَ لَهَا نود ښځې دپاره به هيڅ نه وي إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْقَاضِي فَرَضَ لَهَا النَّفَقَةَ مگردا چه قاضی ددې دپاره د نفقې (څه مقدار) فرض کړې وی أَوْصَالَحَتِ الزَّوْجَ عَلَى مِقْدَارِهَا يا دې خپل خاوند سره په څه مقدار باندې صلح کړې وی فَيَقْضِي لَهَا بِنَفَقَةِ مَا مَضَى نو(هم په دې حساب) قاضی ددې دپاره د تيرې شوې نفقې حکم ورکولې شی

تشريح ﴾ مسئله داده.که يوه موده تيره شوه.او خاوند خپلې ښځې ته نفقه ورنکړه.بيا دې ښځې د خپل خاوند نه ددې مودې د نفقه مطالبه اوکړله.نو زمونږ په نيز به ښځې ته هيڅ نه ملاويږي.ځکه چه د وخت تيريدلو په وجه نفقه د خاوند په ذمه نه قرض کيږي.او هرکله چه د تيرې شوې مودې نفقه د خاوند په ذمه قرض نشو.نوقاضی د تيرې شوې نفقې حکم هم نشی ورکولې.خو دوه صورتونه ددې حکم نه مستثنی دی.يودا چه قاضی د ښځې دپاره د نفقه څه مقدار مقرر کړی وی.دويم داچه ښځې خپل خاوند سره د نفقې په څه مقدار باندې صلح کړې وی.په دې دواړو صورتونو کښې به قاضی هم په دې حساب سره دښځې دپاره د تيرې شوې نفقې حکم ورکوی.

دليله ﴾ دليل دادې.چه نفقه عطيه ده.او زمونږ په نيز دملك عوض نه وی.لکه چه وړاندې تيرشوی دی.نود نفقه وجوب مستحکم او مضبوط نشو.خوچه کله د قاضی حکم اوشي.لکه د هبه په صورت کښې د ، ،موهوب له،، دپاره ملك هغه وخت ثابتيږي.چه کله مضبوطونکې څيز يعنی قبضه موجود شي.دغه شان د نفقه وجوب د قاضی په حکم سره مستحکم او مضبوطيږي.

دليل صورة الصلح ﴾ اود خاوند خپلې ښځې سره په څه څيز باندې صلح کول داسې دی.لکه د قاضی حکم کول.ځکه چه د خاوند ولايت په خپل ځان باندې د قاضی د ولايت نه زيات دې. ځکه چه د نفقه کوم

مقدار قاضي مقرر کړي دي.که خاوند اوغواړي.نو ددې د زياتي التزام کولې شي.نو صلح په منزله د قضاء د قاضي شوه.بلکه ددې نه هم زياته مستحکم ده.په خلاف دمهر.ځکه چه دا دملک بضع عوض وي.په دې وجه داد قاضي د حکم نه بغير لازميږي.

د خاوند په مرګ باندې د نفقه سقوط

فَإِنْ مَاتَ الزَّوْجُ او که خاوند مرشو بَعْدَمَا قَضَى عَلَيْهِ بِالنَّفَقَةِ پس ددې نه چه قاضي په ده باندې د نفقې حکم ورکړو وَمَضَتْ شُهُوْرٌ او څو مياشتې تيرې شوې سَقَطَتِ النَّفَقَةُ نو (ددې) نفقه ساقط شوه

تشريح مسئله داده.که خاوند ته د نفقه ورکولوحکم ورکړې شو.خوقاضي ښځې ته د قرضه اخستلو حکم ورنکړو.بيا خاوند مړشو.او څومياشتې تيرې شوې.نو نفقه به ساقط وي.دغه شان که ښځه مړه شوه.نو هم به ساقطيږي. [1]

دليله دليل دادې.چه نفقه يوه عطيه ده.او داسې عطيات د مرګ په وجه ساقطيږي.لکه مثلاً يوکس څه څيز هبه کړلو.اود ،،موهوب له،، د قبضه نه وړاندې هبه کونکې مړشو.يا موهوب له مړشو.نو هبه باطليږي.او امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه د قاضي د حکم نه وړاندې هم نفقه د خاوند په ذمه باندې قرض کيږي.اود خاوند په مرګ باندې نه ساقطيږي.بلکه د خاوند د ترکه نه به ئې ښځه وصول کوي.

د پيشګي (ايډوانس) نفقه نه پس د خاوند فوت کيدل

وَإِنْ أَسْلَفَهَا نَفَقَةَ السَّنَةِ او که خاوند خپلې ښځې ته د يو کال نفقه ورکړله (يعني پيشګي ئې ورکړله ثُمَّ مَاتَ بيا خاوند مرشو لَمْ يُسْتَرْجَعْ مِنْهَا شَيْءٌ نود ښځې نه به هيڅ واپس نشي اخستې اودا د امام ابوحنيفه اود ابويوسف رحمهما الله په نيز دي

حل اللغة ① **اسلف**: وړاندې ورکول

تشريح مسئله داده.که خاوند خپلې ښځې ته د يوکال نفقه ايډوانس (په يوځل) ورکړله.بيا ددې مودې تيريدلو نه مخکښې خاوند مړشو.يا ده ښځه مړه شوه.نوددې ښځې نه يا ده د ترکه نه به هيڅ واپس نشي اخستلې.دا د شيخينو رحمهما الله مذهب دي. [2]

دليلهما دليل دادې.چه نفقه يوعطيه ده.حالانکه دا د ښځې په قبضه کښې راغلې ده.او عطيات د مرګ نه پس واپس نشي ورکولې کيدلې.ځکه چه ددې حکم پوره کيږي.لکه څنګه چه په هبه کښې حکم دې.او هم په دې وجه دا نفقه که د ښځې د هلاکولو نه بغير ضائع شوه.نو بالاجماع به ددې نه هيڅ واپس نشي اخستلې.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ او امام محمد رحمه الله فرمائي يُحْتَسَبُ لَهَا نَفَقَةُ مَا مَضَى چه څومره زمانه تيره شوه.ددې نفقه به حساب کړې شي.دا به د ښځې دپاره شي وَمَا بَقِيَ لِلزَّوْجِ او باقي به د خاوند دپاره

[1] **مسلک الشافعي**:- دامام شافعي رحمه الله په نيز نفقه د ملک بضع عوض دې.نودا به په نورو قرضونو باندې قياس کولې شي.چه لکه څنګه ديون، د مديون په مرګ سره نه ساقطيږي.دغه شان د خاوند په مرګ سره دښځې نفقه هم نه ساقطيږي.

[2]) القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا في فتح القدير(۴\۲۰۵) وردالمحتار(۲\۷۱۷) والخانية (۱\۱۹۸) والبحرالرائق (۴\۱۹۱)وخلاصة الفتاوى (۲\۵۷) نقلاً عن القول الراجح (۱\۳۸۴)-

وي

تشریح> مسلك محمد> امام محمد رحمه الله فرماني.چه څومره زمانه تیره شوې ده.ددې په حساب نفقه به ښځې ته پریښودلې شي.او باقي به خاوند ته واپس کولې شي.اوکه ښځې دا هلاك کړلو.نو ددې نه به ددې د حق نه علاوه قیمت اخستلې شي.داد امام شافعي رحمه الله قول دې. امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دې.اوهم دا اختلاف په لباس کښې هم دې.

دلیله> دلیل دادې.چه د خاوند په بندولو چه د کوم څیز استحقاق دې ته په خاوند باندې حاصل وو.دې د ورانډې نه د عوض په طور واخستلو.اود خاوند په مرګ باندې دا استحقاق باطل شو.نو ددې په حساب به عوض هم باطل وي.لکه مثلاً قاضي د ورانډې نه د یوې مودې روزانه نفقه واخستله. اوبیا د مودې پوره کیدلو نه ورانډې د قاضي انتقال اوشو.نوحساب به کولې شي.اود باقي مودې د ورځو نفقه به د قاضي د ترکه نه واپس اخستلې شي.او لکه مثلاً د مجاهدینو عطیه که دوی د یوې مودې عطیه او رزق د ورانډې واخستلو.بیا ددې موده پوره کیدلو نه ورانډې دوی مړه شول.نود باقي مودې رزق به ددوی نه واپس اخستلې شي.

الروایة الثانیة عن محمد> د امام محمد رحمه الله نه دویم روایت دادې.که ښځې د یوې میاشت یا د کم نفقه وصول کړله.نود خاوند په مرکیدلویه ددې نه هیڅ واپس نشي اخستلې.ځکه چه دا یومعمولي څیز دې.نوګویا چه د في الحال نفقه به وي.یعني لکه څنګه چه ښځې د في الحال واجب نفقه واخستله.نود مرګ په وجه واپس نشي اخستلې.دغه شان که ئې د یومیاشت نفقه واخستله.نود مرګ په وجه به په دې صورت کښې هم واپس نشي اخستلې.والله اعلم

د مولا په اجازت سره آزادې ښځې سره د غلام واده کولو نه پس ددې ښځې د نفقې حکم

وَإِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ حُرَّةً او که غلام یوې آزادې ښځې سره نکاح اوکړله فَنَفَقَتُهَا دَيْنٌ عَلَيْهِ نو ددې نفقه به په غلام باندې قرض وي يُبَاعُ فِيهَا چه دا به په نفقه کښې خرڅولې شي.

تشریح> مسئله داده.که غلام د مولا په اجازت سره یوې آزادې ښځې سره نکاح اوکړله.نو ددې ښځې نفقه به په غلام باندې قرض وي.اودا غلام به دخپلې ښځې په نفقه کښې خرڅولې شي.

دلیله> دلیل دادې.چه نفقه یوقرض دې.چه دا د غلام په ذمه واجب دې.ځکه چه د نفقه د وجوب سببه یعني عقد د نکاح موجود شو.او نفقه واجب کیدل، دده د مولا په حق کښې هم ښکاره شو.ځکه چه مولا په رضا مندئ سره اجازت ورکړې وو.نوګویا چه مولا هم د نفقه په وجوب باندې راضي دې.په دې وجه به دا قرضه د غلام د ذمې سره متعلق وي.لکه مثلاً یوتاجر غلام ته مولا د تجارت اجازت ورکړلو.بیا ده په قرضو معامله اوکړله.نو په خپل ذمې باندې ئې قبضه اوکړله.نودا غلام به په قرضه کښې خرڅولې شي.

خیار المولي> خو مولا ته دا اختیارشته.چه دې ددې فدیه ورکړي.دلیل دادې.چه د ښځې حق په نفقه کښې دې.د غلام په ذمه کښې نه دې.نو هرکله چه مولا د ښځې نفقه اداکړله.نو ددې نه پس په نفقه کښې د ښځې حق باقي پاتې نشو.په دې وجه د فدیه ورکولو نه پس به د ښځې په نفقه کښې غلام نشي خرڅولې.

وينځې سره د آزاد سړي د نکاح نه پس ددې ښځې د نفقې حکم

وَإِنْ تَزَوَّجَ الرجل أَمَةً او كه آزاد سړي(د يوبل كس) وينځې سره نكاح اوكړله فَبَوَّأَهَا مَوْلَاهَا مَعَهُ مَنْزِلًا او مولا خپله وينځه دده سره د شپې جدا اوسولو اجازت وركړو فَعَلَيْهِ النَّفَقَةُ نو په ده به نفقه واجب وي. وَإِنْ لَمْ يُبَوِّئْهَا فَلَا نَفَقَةَ لَهَا او كه مولا د جدا اوسيدلو اجازت ورنكړو.نو په خاوند به نفقه واجب نه وي

تشريح> مسئله داده.كه آزاد سړي د يوكس د وينځې سره نكاح اوكړله.او مولا خپلې وينځې ته ددې خاوند سره د شپې د جدا اوسيدلو اجازت وركړلو.نوپه خاوند به ددې نفقه واجب وي.ځكه چه د ښځې د طرفه احتباس موجود شو.او نفقه د احتباس بدل دې.او كه مولا د جدا اوسيدلو اجازت ورنكړو.نو په خاوند به نفقه واجب نه وي.

دليله> ځكه چه احتباس اونوندې شو.بلكه چې كله هم خاوند غواړي خپل حاجت پوره كولې شي

مفهوم التبويت> او ،،تبويه،، يعنى د شپې جدا اوسيدلو اود ديره كيدلو نه مراد دادی.چه مولا خپلې وينځې ته د خاوند په كوركښې د اوسيدلو اجازت وركړي.اود وينځې نه خپل خدمت نه اخلي.اوكه مولا اول د اوسيدلو اجازت وركړلو.بيا ئې خپل خدمت دپاره راوستله.نو نفقه به ساقط وي.ځكه احتباس چه موجب د نفقه دې.دا فوت شو.په دې وجه به په خاوند باندې نفقه هم واجب نه وي.او په مولا باندې اوسول،او ديره كول لازم نه دی.لكه څنګه چه په ،، باب نكاح الرقيق،، كښې تيرشوی دی.

د اولاد نفقه

وَنَفَقَةُ الْأَوْلَادِ الصِّغَارِ عَلَى الْأَبِ اود نابالغ اولاد نفقه په پلار باندې واجب ده لَا يُشَارِكُهُ فِيهَا أَحَدٌ په دې كښې به پلار سره په نفقه كښې هيڅ څوك نه شريكيږي كَمَا لَا يُشَارِكُهُ فِي نَفَقَةِ الزَّوْجَةِ أَحَدٌ لكه چه د ښځې په نفقه كښې هيڅ څوك نه شريكيږي

تشريح> د ښځې د نفقه نه د فارغ كيدلو نه پس په دې فصل كښې د اولاد نفقه بيانوي.فرمائي.چه د نا بالغ اولاد نفقه صرف ددوی په پلار باندې واجب وي.په دې كښې پلار سره هيڅ څوك شريك نه وي.لكه څنګه چه دده د ښځې په نفقه كښې هيڅ څوك شريك نه وي.داحكم د ظاهرالروايه مطابق دې.او په دې باندې د څلورو امامانو اتفاق دې.

دليله> دليل د الله تعالى قول .﴿وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ﴾ دې.يعنى ،،ددې ښځو رزق په مولولود له باندې واجب دې،، اومولود له پلار دې.ددې آيت نه استدلال داسې دې.چه د مياندو رزق په پلار باندې د ولد په وجه دې.نو هركله چه د ولد په وجه په پلار باندې د مياندو رزق واجب دې.نو په ده به د ولد رزق په درجه اولى واجب وي.او په عدم اشتراك باندې دليل دادې.چه په موركيدلو،او په ولد كيدلو دواړوكښې هيڅ يوهم شراكت نه قبلوی.يعنى دا نشى كيدلې.چه ښځه دې په يو وخت كښې د دوه سړو منكوحه وي.اونه دا كيدلې شي.چه بچې د دوه پلارانو خوې وي.نو هم دغه شان كومه نفقه چه دې دواړو دپاره ثابت ده.دا هم شركت نه قبلوی.

الرواية عن ابي حنيفة> د امام ابوحنيفه رحمه الله نه يو روايت دادې.چه د بچې نفقه د ميراث مطابق په دريوكښې دوه حصې په پلار، اويوه حصه په مور باندې واجب ده.امام طحاوی رحمه الله بيان كړی دی.چه بالغ اولاد كه محتاجه وي. نو په دوی كښې به د مونث په نفقه باندې مجبوروليې شي.د مذكر په نفقه به نشي مجبوركولې.خوكه بالغ اولاد معذوره وي.مثلاً نابينا(روند) وي. يا ګډ وي.يا ئې خپې لاسونه شل وي.نو ددوی په نفقه به هم پلار مجبوروليې شي.

په مور باندې بچي له د پيو ورکولو عدم وجوب

وَإِنْ كَانَ الصَّغِيرُ رَضِيعًا اوکه ماشوم بچې پې: خکې **فَلَيْسَ عَلَى أُمِّهِ أَنْ تُرْضِعَهُ** نو ددې په مور باندې دا نه ده چې پې: ورکول واجب نه دی

حل اللغة ﴿ ① **رضيع:** تې رودونکې ماشوم

تشريح ﴿ مسئله: که صغير پې: څکونکې بچې وي.نو قضاءً ددې په مور باندې دې بچي ته پې: ورکول واجب نه دی.

دلائله ﴿ ① څکه د بچي پالنه په پلار باندې واجب ده.په دې کښې بل څوك شريك نشته.اود پيو څکلو مزدوري د نفقه پشان ده.نو لکه څنګه چه په پلار باندې د پيوڅکونکې نفقه واجب ده.دغه شان په ده باندې دا هم واجب دی.چه دې د بچي دپاره پيو څکونکې ښځه په اجرت باندې اونيسي.نو ثابته شوه.چه د نفقه پشان د پيوڅکلو اجرت هم په پلار باندې واجب دې ② دېره ممکنه ده.چه د بچي مور دڅه عذر په وجه ده ته په پيو ورکولو قادره نه وي. نودبچي مور په پيو ورکولو باندې دمجبورولو هيڅ معنى نشته.اود الله تعالى قول ﴿لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَّهُ بِوَلَدِهِ﴾ يعني ،،هيڅ يوې مورته به تکليف نشي رسولې.ددې د بچي په وجه.اونه به پلار ته تکليف رسولې شي.دده د بچي په وجه،، ددې په تفسير کښې ونيلې شوې دی.چه په دې به پې: ورکول نشي لازمولې.چه کله دا کار په دې باندې ګران وي.لکه چه حضرت اقدس تهانوي رحمه الله ليکلې دی.چه د بچي موريلار به خپل مينځ کښې په څه خبره باندې ضدبازي نه کوي.که مور ته په څه وجه عذر نه وي.نو ددې په ذمه دياتناً يعني عندالله واجب دی.چه بچي له پې: ورکړي.چه کله دا منکوحه وي. يا په عدت کښې وي.او اجرت اخستل صحيح نه دی.

مور دپاره د پيو ورکولو مزدوري

وَإِنِ اسْتَأْجَرَهَا اوکه ده (پلار) د بچي مور په اجرت باندې اونيولو **وَهِيَ زَوْجَتُهُ** حالاتکه دا دده ښځه ده **أَوْ مُعْتَدَّتُهُ** يا دده معتده ده **لِتُرْضِعَ وَلَدَهَا** چې دې بچي ته پې: ورکړي **لَمْ يَجُزْ** نوجائز نه دی

تشريح ﴿ مسئله: که خاوند د خپل بچي مور د پيو ورکولو دپاره په اجرت باندې اونيوله.حالاتکه دا دده ښځه ده.يعني په نکاح کښې موجود ده.يا دده د طلاق په عدت کښې ده.نودا په اجرت باندې اخستل جائز نه دی.

دليله ﴿ څکه چه دياتناً په دې ښځه باندې پې: ورکول پخپله واجب دی.لکه چه د الله تعالى ارشاد دې. ﴿وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ﴾ يعني ،، ميانديې دې خپلو بچو ته پې: ورکوي،، په آيت کښې ﴿يُرْضِعْنَ﴾ خبر دې د امر په معنى کښې دې.لکه څنګه چه په ﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ﴾ کښې ﴿يَتَرَبَّصْنَ﴾ خبر دې.اود امريه معنى کښې دې.خودا دعجز د احتمال په وجه معذوره ګرځولې شوې وه.نو هرکله چه دا په اجرت سره پيو ورکولو ته وړاندې شوه.نو ښکاره شوه.چه دا په پيو ورکولو قادره ده.نود الله ﷻ د حکم موافق په دې باندې پې: ورکول واجب شو.نو په دې کار باندې به ددې دپاره اجرت اخستل جائز نه وي.

د نکاح زائل کېدلو نه پس بچي له د پيو ورکولو دپاره په اجرت باندې نيول

وَإِنِ انْقَضَتْ عِدَّتُهَا اوکه د معتده عدت تيرشو **فَاسْتَأْجَرَهَا عَلَى إِرْضَاعِهِ جَازَ** بيا د خپل بچي دپاره کوم چه هم ددې ښځې نه پيدا دې.په اجاره باندې مقررشوه **جَازَ** نو جائز دی.

حل اللغة ﴿ ① **الارضاع:** پې: ورکول

تشریح> صورت د مسئلې داده.چه د معتده عدت تیر شو.بیا خاوند خپل بچی ته د پیو ورکولو دپاره کوم چه هم دده‌ (معتده) ښځې نه پیدا دې.دا ئې په اجرت باندې اونیوله.نودا اجاره جائز ده.

دلیله> دلیل داده.چه هرکله عدت تیرشو.نو نکاح بالکلیه زائل شوه.اودا ښځه د اجنبیه ښځو پشان شوه.نو لکه څنګه چه اجنبیه ښځه په اجرت باندې اخستل جائز دی.دغه شان دا هم په اجرت باندې اخستل صحیح دی.

د پیو په ورکولوکښې د بچی مورته ترجیح ورکول

وَإِنْ قَالَ الْأَبُ بیا که (د بچی) پلار اووئیل **لَا أَسْتَأْجِرُهَا** چه زه به د بچی مور په اجرت باندې نه نیسم **وَجَاءَ بِغَيْرِهَا** (بلکه) د بچی د مورنه علاوه ئې بل څوک پئ ورکونکې راوستله **فَرَضِيَتِ الْأُمُّ بِمِثْلِ أَجْرِ الْأَجْنَبِيَّةِ** بیاد اجنبیه د اجرت په مثل باندې (د بچی) مور راضی شوه **كَانَتِ الْأُمُّ أَحَقَّ** نوهم دا به مستحق وی .

تشریح> مسئله داده.که دبچی پلار اووئیل.چه زه به دده مور په اجرت باندې نه نیسم.بلکه ددې نه علاوه ئې بل څوک په اجرت باندې راوستل.بیا چه څومره اجرت اجنبیه ښځې غوښتلو.په هم دغه اندازه اجرت باندې یا د اجرت نه بغیر پخپله د بچی مور راضی شوه.نو په دې صورت کښې به دبچی مور مستحقه وی.

دلیله> دلیل داده.چه مور په خپل بچی باندې زیاته مهربانه وی.نو هم دې ته په سپارلوکښې د بچی په حق کښې بهتری ده او که د بچی مور د اجنبیه ښځې داجرت نه زیات غوښتلو.نو خاوند یعنی د بچی پلار به په زیاتی باندې نشي مجبوروولې.چه دده نه ضرر لرې شي.

وَإِنِ الْتَمَسَتْ زِيَادَةً اوکه د بچی مور داجنبیه ښځې د اجرت نه زیاته غوښتله **لَمْ يُجْبَرِ الزَّوْجُ عَلَيْهَا** نو خاوند به په زیات ورکولو باندې نشي مجبوره کولې

تشریح> دلیل داده.چه مور په خپل بچی باندې زیاته مهربانه وی.نو هم دې ته په سپارلوکښې د بچی په حق کښې بهتری ده.او که د بچی مور د اجنبیه ښځې داجرت نه زیات غوښتلو.نو خاوند یعنی د بچی پلار به په زیاتی باندې نشي مجبوروولې.

دلیله> دده د نه مجبوره کولو وجه دا ده چې په مجبوره کولو کښې ده ته ضرر او نقصان دې او شریعت چا ته نقصان نه رسوی.

په پلار باندې د صغیرې د نفقه وجوب

وَنَفَقَةُ الصَّغِيرِ وَاجِبَةٌ عَلَى أَبِيهِ اود صغیر بچی نفقه دده په پلار باندې واجب ده **وَإِنْ خَالَفَهُ فِي دِينِهِ** اګرچه پلار دده سره په دین کښې مخالف وی **كَمَا تَجِبُ نَفَقَةُ الزَّوْجَةِ عَلَى الزَّوْجِ** لکه څنګه چه په خاوند باندې د ښځې نفقه واجب ده. **وَإِنْ خَالَفَتْهُ فِي دِينِهِ** اګرچه خاوند په دین کښې مخالف وی

تشریح> فرمائی.چه د صغیر نفقه دده په پلار باندې واجب ده.اګرچه پلار دده سره په دین کښې مخالف وی. مثلاً صغیر اسلام قبول کړلو.او پلار کافر دې.یا پلار مسلمان وی.او بچی مرتد شو.یاد ساتئ.چه د پوهه ماشوم اسلام او مرتدکیدل صحیح دی.دغه شان د ښځې نفقه په خاوند باندې واجب ده.اګرچه دا په دین کښې د خاوند مخالفه وی.مثلاً یهودیه وی.یا نصرانیه وی.

دلیل وجوب نفقة الولد> د بچی په نفقه واجبیدلو باندې دلیل هغه آیت دې.کوم چه مونږ وراندې تلاوت کړلو.یعنی ﴿وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ﴾.دا آیت د ښځو په نفقه کښې عبارة النص دې.اود اولاد د نفقه په

باره کښې دلالة النص دی.لکه وړاندې بیان شو.او چونکه آیت مطلق دی.په دې وجه مطلقا د صغیر نفقه دده په پلار باندې واجب ده.که د دواړو دین یو وی.او که مختلف وی. او دویم دلیل دادې.چه بچی د خپل پلار جزء وی.نودا به د خپل ذات په حکم کښې وی.اوچونکه د خپل ذات نفقه فرض وی.په دې وجه به د خپل جزء یعنې د اولاد نفقه به هم فرض وی

دلیل نفقة الزوجة ﴿ د ښځې نفقه نو ددې دلیل دادې.چه د ښځې د نفقه سبب نکاح صحیح ده.ځکه چه د نکاح په وجه ښځه خپل ځان دخاوند دپاره پابند کوی.او ددې په مقابله کښې نفقه واجب وی.اودا خبره ښکاره ده.چه د کتابیه کافرې اود مسلمان سړی په مینځ کښې نکاح صحیح وی.لکه چه د الله تعالی قول ﴿وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ﴾ دې.نوهرکله چه ددې دواړو په مینځ کښې نکاح صحیح شوه.نو په دې نکاح به احتباس (بندول) مرتب کیږی.او هرکله چه په دې نکاح باندې احتباس مرتب شو.نو په خاوند به نفقه هم واجب وی.

ملحوظة ﴿ واضحه دې وی.چه څومره صورتونه مونږ ذکرکړل.په ټولوصورتونوکښې په پلار باندې د اولاد نفقه هغه وخت واجب وی.چه کله صغیر سره دده څه ذاتی مال نه وی.او که د صغیر بچی سره دده څه ذاتی مال وی.نو دده نفقه به ددې مال نه پوره کولې شی.ځکه اصل دادی.چه دسړی نفقه پخپل مال کښې وی.که دې صغیر وی.او که کبیر وی.

د صغیردپاره د مال کیدلو صورت دادې.چه ده دچانه میراث حاصل کړې وی.یا ده ته چا هبه ورکړې وی.او که د صغیر سره زمکه، یا کپړې، یا څاروی وغیره وی.او دده د نفقه دپاره ددې ضرورت پیداشی.نو پلار به متولی وی.چه دا ټول خرڅ کړی.او دده په نفقه کښې ئې خرچ کړی. (عینی شرح هدایه)

د جدایئ په صورت کښې د بچی حقدار

> وَاِذَا وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ فَالْاُمُّ اَحَقُّ بِالْوَلَدِ اوهرکله چه دښځې او خاوند په منځ کښې جدائی واقع شی نود بچی زیات حقدار ددې مورده.

حل اللغة ﴿ ① **الفرقة**: جدائی

تشریح ﴿ مسئله:که د خاوند اودده د ښځې په مینځ کښې جدائی واقع شوه.نود بچی زیات حقدار دده مورده.

دلائله ﴿ ① دلیل هغه حدیث دې.چه عمرو بن شعیب د خپل پلار نه روایت کړې دې.چه یوه ښځه نبی کریم ﷺ ته راغله.او وې وئیل.چه دا زما ځوې دې.چه دده دپاره زما خیټه لوښې(مسکن) وو.او زما غیګه دده دپاره خیمه وه.او زما سینې دده دپاره ډولونه وو.او اوس دده پلار وائی.چه دې به دا زمانه اخلی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل. اَنْتِ اَحَقُّ بِهٖ مَا لَمْ تَنْكِحِيْ (۱)چه هم ته ددې بچی زیاته حقداره ئې.چه ترکومه پورې ته نکاح اونکړې.

② دویم دلیل دادې.چه په بچی باندې مور زیاته مهربانه وی.ځکه بچې د مور حقیقی جزء دې.ځکه چه بچی په قینچۍ باندې کټ کولې شی.اود مورنه جداکولې شی.او مور د بچی په ښه طریقه پرورش کولې شی.نو مورته سپارل د بچی په حق کښې بهتر دی.

۱) من حدیث عمروبن شعیب عن ابیه عن جده عبدالله بن عمرو ﷺ اخرجه ابوداود فی الطلاق باب ۳۵ رقم ۲۲۷۶_

دي طرف ته ابوبکر صدیق ﷛ اشاره کړې ده.نقل دی.چه حضرت عمر ﷛ د ابوبکر ﷛ په وړاندې خپلې ښځې ام عاصم سره جګړه اوکړله.چه حضرت عمر ﷛ د خپلې ښځې نه عاصم په زور واخلی.نوحضرت عمر ﷛ ته حضرت صدیق ﷛ اوفرمائیل.ای عمر ﷛! دې بچی ته ستاد مصفاشهدو څکلونه ددې مور توکانړی څکل زیات خوښ دی.دا واقعه د هغه وخت ده.چه حضرت عمر ﷛ ام عاصم ﷛ ته طلاق ورکړې وو.اودا واقعه د ډیرو صحابو ﷛ په موجودګئ کښې راپیښه شوې وه.او هیڅ چا د صدیق اکبر ﷛ په فیصله باندې څه نکیر اونکړلو.نودا یوقسم اجماع منعقد شوه.والله اعلم.

فَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ أُمٌّ بیا که ددې(بچی) مور نه وی **فَأُمُّ الْأُمِّ أَوْلَى** نود مور مور(نیا) زیاته حقداره ده **مِنْ أُمِّ الْأَبِ** په نسبت د پلار مور(نیا)

تشریح> اوکه د بچی مور نه وی.په دې شان چه دا مړه شوې وی.یا کوم اجنبی سړی سره ئې نکاح کړې وی.نود مور مور(نیا) به د بچی زیاته حقداره وی.په نسبت د پلارمور(نیا) اګرچه د پورته درجې وی.یعنی پر نیا(د پلار،یاد مور نیا) یا ددې نه هم بره وی.

دلیله> دلیل دادې.چه دا ولایت میاندو طرف ته ددوی د شفقت په وجه مستفاد ده.نوکومه ښځه چه مور ته زیاته نیزدې وی.هغه به دهغه ښځه نه زیاته حقداره وی.کومه چه پلارته نیزدې وی.او په دې حکم کښې مسلمانه اوکافره ښځه دواړه برابر دی.ځکه چه دپرورش کولوحق د شفقت په وجه وی.اوشفقت د دین په اختلاف سره نه مختلف کیږی.

فَإِذَا لَمْ تَكُنْ لَهُ أُمُّ الْأُمِّ نوکه د ده د مور مور نه وی **فَأُمُّ الْأَبِ أَوْلَى** نود پلار مور به زیاته حقداره وی **مِنَ الْأَخَوَاتِ** (په نسبت) د خویندو

تشریح> اوکه د بچی د مورمور(نیا) او پرنیا هم نه وی.نود خویندو په مقابله کښې د بچی زیاته حقداره د پلار مور(نیا) ده.

دلائله> ① ځکه چه د پلار مورهم مور وی.هم دا وجه ده.چه د پلارمورته د میاندو میراث یعنی شپږمه حصه ملاویږی.حاصل داچه لکه څنګه د مړی په ترکه کښې د مړی مورته شپږمه حصه ملاویږی.په دې شرط چه د مړی د یونه زیات وروڼه خویندې وی.

② د پلارد مور(نیا) شفقت د پیدائشی قرابت په وجه ډیر زیات دې.اودا ولایت په شفقت باندې مبنی دی.په دې وجه به هم د پلار مور د بچی دپرورش زیاته حقداره وی.

فَإِنْ لَمْ تَكُنْ جَدَّةٌ بیا که د پلار مور(نیا) هم نه وی **فَالْأَخَوَاتُ أَوْلَى مِنَ الْعَمَّاتِ وَالْخَالَاتِ** نود ترورپانو (یعنی د مورپلار د خویندو په نسبت) خویندې زیات مستحق دی

تشریح> او که د بچی د پلار مورنه وی.نود ترورپانو(یعنی د مورپلار د خویندو) په نسبت خپلې خویندې زیاتې حقدارې دی.

دلیله> ځکه چه دوی ددې بچی د مورپلار لونړه دی.هم دا وجه ده.چه خویندې په میراث کښې مقدم دی.دا په مبسوط کښې د،،کتاب النکاح،، روایت دې.په دې کښې د قرابت د نیزدیکت رعایت ساتلې شوې دې.ځکه چه خور د ترور په مقابله کښې زیاته نیزدې وی.ځکه چه خور ددې بچی د پلار لور ده.او ترور ددې بچی د نیا لور ده.

په قرابت داروښځو د ترجیح مدارج

وَتُقَدَّمُ الْأُخْتُ مِنَ الْأَبِ وَالْأُمِّ او کومه خور چه د پلار او مور دواړو طرفه وی.هغه به په نورو خویندو باندې مقدم وی ثُمَّ الْأُخْتُ مِنَ الْأُمِّ بیا(هغه خور زیاته حقداره ده) کومه چه صرف د مور دطرفه وی.ثُمَّ الْأُخْتُ مِنَ الْأَبِ بیا کومه خور چه صرف د پلار د طرفه وی

تشریح مسئله داده.چه کومې ښځې سره دوه قسمه قرابت وی.نودا د یو قرابت والا ښځې نه زیاته حقداره ده.لکه فرمائی.چه حقیقی خوریعنی چه د پلار او مور دواړو طرفه وی.هغه د نورو خویندو نه زیاته حقداره ده.چه صرف د مور یاد پلار د طرفه خور وی.یعنی پلار شریك یا مور شریکه وی په دې وجه دې ته ترجیح ورکړې شوه.بیا به مور شریکې خورته په پلار شریکه خور باندې ترجیح ورکولې شی.ځکه چه خویندو ته د پرورش کولوحق د مور د طرفه دې.په دې وجه به مورشریکې خور ته په پلار شریکه خورباندې ترجیح ورکولې شی.

ثُمَّ الْخَالَاتُ أَوْلٰى مِنَ الْعَمَّاتِ بیا تروریانې(د مورخویندې) په نسبت دپلاردخویندو مقدم دی. وَيَنْزِلْنَ بیا به تروریانې درجه په درجه راکوزیکی كَمَا نَزَلَتِ الْأَخَوَاتُ لکه څنګه چه مونږ خویندې راښکته کړې ثُمَّ الْعَمَّاتُ يَنْزِلْنَ كَذٰلِكَ بیا د مور خویندوپه شان به د پلارخویندې هم راښکته کیږی.

حل اللغة ① **الخالات**: جمع د **خالة**: ترور ② **العمات**:جمع د **عمة**: تروریعنی د پلارخور

تشریح بیا د مور خویندې دپلار په خویندو باندې مقدم دی.

دلیله ځکه چه د مور خور ته دمور سره قرابت حاصل دې.د پلارخور ته نه دې حاصل.او په پرورش کولوکښې د مور قرابت ته ترجیح ورکولې شی.د پلار قرابت ته نشی ورکولې.بیا د مورخویندې دغه شان درجه په درجه حقداره دی.لکه څنګه چه مونږ خویندې بیان کړلې.یعنی د بچی د مورخور،ددې دمور حقیقی خور(چه د یومور پلار نه پیدا وی) دا زیات حقدار دی.بیا ددې بچی د مورخورچه صرف مور شریکه وی.بیا هغه چه صرف پلار شریکه وی.حاصل داچه دوه قرابت والو ته به ترجیح ورکولې شی.بیا به د مور قرابت ته د پلار په قرابت باندې ترجیح ورکولې شی.بیا دغه شان درجه په درجه د پلار خویندې دی.یعنی د پلار حقیقی خور مقدم ده.بیا د پلار مور شریکه خور، بیا د پلار، پلار شریکه خور ده.

د نکاح په وجه د پرورش د حق سقوط

وَكُلُّ مَنْ تَزَوَّجَتْ مِنْ هٰؤُلَاءِ او په دې ښځوکښې هرهغه ښځه کومې چه خپله نکاح کړې وی. سَقَطَ حَقُّهَا فِي الْحَضَانَةِ د هغې حق به په حضانت کښې ساقطیږی

تشریح مسئله داده.چه کومو ښځو ته د بچی د پرورش حق حاصل دې.په دوی کښې که چا نکاح اوکړله. نو د دې د پرورش حق به ساقط وی.

دلائله ① دلیل هغه حدیث دې.کوم چه وړاندې روایت شوې دې.یعنی نبی کریم ﷺ د بچی مور ته اوفرمائیل. (انت احق به مالم تزوجی) ته د بچی زیاته حقداره نې چه ترڅو ته نکاح اونکړې. ② ددې بچی د مور خاوند چه کله اجنبی سړې وی.نو دې بچی ته به لږ ځیز ورکوی.او په وړانو سترګو به ورته ګوری.(یعنی غصه به کوی) مطلب داچه دا سړې به دې بچی طرف ته کمه توجه ورکوی.نو بچې دده په پرورش کښې ورکول،د بچی په حق کښې د شفقت خیال نه ساتل دی.

إِلَّا الْجَدَّةَ بغير د نيا (د مور مور) نه **إِذَا كَانَ زَوْجُهَا الْجَدَّ** چه کله ددې (نيا) خاوند ددې (بچی) نيکه وی

تشريح> خو كه ددې بچی د مور مورخپله نكاح ددې بچی د پلار پلار سره اوکړله.يا ددې بچی د پلارمور خپله نكاح ددې بچی د مورپلار سره اوکړله.نو(په نكاح سره) ددې نياګانو د پرورش حق نه ساقطيږی.

دليله> ځکه چه نيکه (يعني د پلار پلار،ياد مور پلار) ددې بچی د پلار قائم مقام دې.نو ددوی شفقت به باقي پاتې وی.هم دا حال د هغه خاوند دې.چه هغه ددې بچی ، ،ذو رحم محرم، ، وی.ځکه چه د قرابت قريبه په وجه شفقت باقي پاتې وی.

د ښځې په غيرموجودګئ کښې د پرورش حقدار

فَإِنْ لَمْ تَكُنْ لِلصَّبِيِّ امْرَأَةٌ مِنْ أَهْلِهِ كه د بچی پرورش کونکې دده په خاندان کښې څوک ښځه نه وی **فَاخْتَصَمَ فِيهِ الرِّجَالُ** نو دده په پرورش کښې سرو جګړه اوکړله **فَأَوْلَاهُمْ بِهِ أَقْرَبُهُمْ** نويه دې سرو کښې د ماشوم د تربيت دپاره د تولو نه زيات مستحق هغه سړې دې **تَعْصِيبًا** چه په عصبه کيدلو کښې د تولو نه زيات نيزدې وی

تشريح> صورت د مسئلې دادې.كه د بچی(ماشوم) د پرورش كولو، دده په خاندان او قبيله کښې هيڅ ښځه نه وه.بيا سرو ددې بچی په پرورش کولوکښې اختلاف اوکړلو.نو په دې سروکښې د پرورش کولو تولو نه زيات مستحق هغه دې.چه په عصبه كيدلوكښې دې بچی ته په تولوکښې زيات نيزدې وی.

دليله> ځکه چه د ولايت حق زيات قرابت والا ته وی.اود عصبياتو ترتيب خپل ځائې کښې معلوم شوې دې.يعني د ، ،ميراث اود نكاح كولو د ولايت په باب کښې، ، او ترتيب دادې.چه اول پلار دې.بيا نيکه (د پلار پلار) بيا پرنيکه(د پلار نيکه) بيا هغه څوك دې.چه ددې نه اوچت وی.بيا حقيقی رور دې.بيا پلار شريك رور دې.بيا د حقيقی رور خوې، بيا د پلار شريك رور خوې، بيا هغه تره چه د پلار حقيقی رور وی.بيا هغه تره چه د پلار پلار شريك رور وی.او پاتې شو د تره اولاد ،نود دوی په پرورش کښې هلك ورکولې شي.او په دوی کښې به ترتيب دا وی.چه اول به دهغه تره خوې مستحق وی.چه هغه ددې بچی د پلار حقيقی رور وی.بيا د هغه تره خوې،چه هغه ددې بچی د پلار پلار شريك رور وی.او جينئ به د تره اولاد په پرورش کښې نشی ورکولې.ځکه چه د جينئ د تره اولاد ددې غيرمحرم دی.

اوكه د ماشومې هيڅ عصبه ولی نه وی.نودا ماشومه به د مورشريك رور په ترتيبت ورکولې شی.او كه دا هم نه وی.نو دده خوې ولي دې.او كه دا هم نه وی.نوددې ماشومې ولی به هغه تره وی.چه ددې د پلار، مورشريك رور وی.او كه داهم نه وی.نو ددې ماشومې ولی به ددې حقيقی ماما وی. (يعنی ددې ماشومې د مور حقيقی رور) بيا ددې ماشومې د مور پلارشريك رور، بيا ددې ماشومې د مور مورشريك رور،

ملحوظة> دا خبره دې ښكاره وی.چه دغيرعصبياتو دپاره د ولايت حق د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دې.اوچونکه مولا عتاقه اخری عصبه دې.په دې وجه که هيڅ څوك ولی نه وی.نو هلك به د مولا عتاقه په ترتيبت کښې ورکولې شی.خو جينئ به د هيڅ غير محرم عصبه په تربيت کښې نشی ورکولې.لکه د تره خوې،او مولا عتاقه.ځکه چه په دې کښې د فتنې خطره ده.

او که د يويچی خو رونړه وی.نو په دوی کښې چه کوم زيات نيك عمله او متقی وی.ددې بچی د پرورش زيات حقدار دې.او كه په نيکئ او تقوی کښې تول برابر وی.نو په دوی کښې چه په عمر کښې د تولو نه لوې وی.هغه به زيات حقدار وی.

دماشوم هلک د پرورش دپاره د مور اونیا دحق موده

وَالْأُمُّ وَالْجَدَّةُ أَحَقُّ بِالْغُلَامِ موراو نیا (د مورمور) د هلك زیات حقدار دی حَتّٰى يَأْكُلَ وَحْدَهٗ تردې چه دې یواخې (جدا) اوخوری وَيَشْرَبَ وَحْدَهٗ او خانله اوڅکی. وَيَلْبَسَ وَحْدَهٗ او خانله واغوندی وَيَسْتَنْجِيَ وَحْدَهٗ او خانله استنجا اوکړی

حل اللغة ① **يستنجي**:استنجاء کوی

تشریح مسئله داده.چه مور،اود مورمور(نیا) د بچی د پرورش زیاته حقداره هغه وخته پورې وی.چه ترکومه وخته پورې بچې پخپله خوراك شروع کړی.او خانله څکلې شی.او پخپله کپړې اغوستلې شی.او پخپله استنجاء کولې شی.

روایة جامع الصغیر حضرت امام محمد رحمه الله په جامع صغیر کښې ذکرکړی دی.چه مور او نیا د هلك زیات حقدار هغه وخته پورې دی.چه بچی مستغنی شی.چه دې خانله خوراك کولې شی.خانله څکلې شی. او خانله کپړې اغوستلې شی.په دواړه روایتونوکښې دا فرق دې.چه په قدوری کښې استنجاء ذکر ده. مستغنی کیدل ذکر نه دی.اوپه جامع صغیر کښې ددې په عکس ذکر دی. حاصل د دواړه روایتونو یو دې.څکه چه پوره مستغنی کیدل هغه وخت کیږی.چه کله بچې په استنجاء قدرت لرلې شی.او په استنجاء باندې قدرت دادې.چه په شروع کښې پرتوګ پرانستلو باندې قدرت لری.او د فراغت نه پس په ترلو باندې قادر شی.

دلیله د استغناء ذکر کولو وجه دا ده.چه کله بچې مستغنی شی.نودې د سرو آداب اواخلاق زده کولو محتاج وی.اود بچی په مؤدب جوړولوکښې پلار ته زیات قدرت حاصل وی.نواوس به دې د مور د تربیت نه اوخی.او د پلار په تربیت کښې به داخلیږی.امام ابوبکر خصاف رحمه الله د مستغنی کیدلو اندازه اووه کاله خودلې ده.څکه ماشوم د اووه کاله په عمرکښې عام طور د مور د پرورش نه مستغنی کیږی.اودې خانله په استنجاء کولوباندې قادرکیږی.فتوی هم په دې ده.

دماشومې جینۍ د پرورش دپاره د مور اونیا د حق موده

وَبِالْجَارِيَةِ او مور اونیا (د مورمور) د جینۍ په پرورش کښې زیات مستحق دی. حَتّٰى تَحِيضَ تردې چه دې ته حیض راشی

حل اللغة ① **الجارية**:جینۍ

تشریح امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه جینۍ به د حیض راتللو وخت پورې د مور او نیا په پرورش کښې وی.

دلیله څکه چه د پرورش نه د مستغنی کیدلو نه پس دې ته د ښځو آداب زده کولوحاجت وی.مثلاً کاتنا (مالوچ واندت کول) ګنډل، خوراك پخول،کپړې وینځل، او ښځه په نسبت د سړو په دې خیزونو باندې زیات قدرت لری.څکه که جینۍ د پلار حواله شوه.نود سړو د مخلوط اوسیدلو په وجه سره به دې شرم اوحیا کمه شی.حالانکه حیاء د ښځو دپاره زینت دې.اود بالغ کیدلو نه پس، ددې د نکاح په ذریعه د محصنه کولو، اود زنا نه د حفاظت کولو ضرورت دې.او پلار ته په دې کار باندې زیات قدرت حاصل دې.اودې کار طرف ته زیاته راهنمائی حاصل ده.په دې وجه د بالغ کیدلو نه پس د جینۍ زیات حقدار پلار دې.

روایة عن محمد هشام د امام محمد رحمه الله نه روایت کړې دې.چه جینۍ هرکله د شهوت حد ته

اورسي.نوپلارته به حواله کولې شي. (۱)

فائده خکه چه اوس ددې دحفاظت ضرورت دې.اود شهوت په حد کښې د فقهاؤ اختلاف دې.د بعضومذهب دادې.چه پوولس کاله عمر د شهوت دې.او فقيه ابوالليث رحمه الله فرمائي.چه نه کاله عمر د شهوت حد دې.او پوقول د شپږ کالو په باره کښې دې.او يو د اووه کاله. او يو د اته کالو په باره کښې دې. والله اعلم

د صغيرې دپاره د مور او نيکانوله علاوه د نورو خلقو سره د اوسيدلو موده

وَمَنْ سِوَى الْأُمِّ وَالْجَدَّةِ أَحَقُّ بِالْجَارِيَةِ اود مور او نيا(د مورمون) نه علاوه (باقي ښځې) د صغيره جينۍ په پرورش کښې دې حده پورې حقدار دی حَتَّى تَبْلُغَ حَدًّا تُشْتَهَى چه جينۍ د سړو د خواهش قابله شي

تشريح شيخ قدوري رحمه الله فرمائي.چه صغيره د مور او نياګانو نه علاوه، نورو ښځوسره د شهوت د حده پورې ساتلې شي.

رواية جامع الصغير امام محمد رحمه الله په جامع صغيرکښې فرمائيلې دی.چه صغيره به د مور او نياګانو نه علاوه نورو خلقو سره دومره موده پورې ساتلې شي.چه دا صغيره دچا د مدد محتاجه پاتې نشي.يعنې خانله خوراک کولې شي.او خانله اغوستلې شي.

فائده خکه چه صغيره اګرچه د ښځو د آدابو زده کولومحتاج ده.خو په آدابو خودلوکښې د صغيره نه پوقسم خدمت هم اخستلې شي.اود مور اونياګانو نه علاوه نورو خلقو ته شرعاً د خدمت اخستلوحق نشته‌هم دا وجه ده.چه جينۍ د خدمت د پاره په اجرت باندې ورکول ممنوع دی.نوکه د شهوت حد ته د رسيدلو نه پس د مور او نياګانو نه علاوه (بل چا) سره پريخودلې شوه. نو په دې سره به مقصود(آداب زده کول) نه حاصليږي.

د وينځې او ام ولد آزاديدلو نه پس په بچي ددوی د پرورش مرتبه

وَالْأَمَةُ إِذَا أَعْتَقَهَا مَوْلَاهَا وينځه چه کله ددې مولا آزاده کړله وَأُمُّ الْوَلَدِ إِذَا أُعْتِقَتْ او ام ولد چه کله آزاده کړې شوه فَهِيَ فِي الْوَلَدِ كَالْحُرَّةِ نودوی د بچي په حق کښې د آزادې ښځې پشان دی

تشريح مسئله داده.که وينځه ددې مولا آزاده کړله.او هرکله چه ام ولد آزاده کړې شوه.نود بچي په پرورش کښې ددې حق هم د آزادې ښځې پشان دې.ددې صورت دادې.چه مولا د خپلې وينځې يو سړی سره نکاح اوکړله.دهغه نه ئې بچې پيدا شو.بيا مولا دا آزاده کړله.نو ددې بچي د پرورش حقداره به هم دا مور وی.

فائده دليل دادې.چه د پرورش کولو د حق ثابتولو په وخت دا دواړه آزاد دی.نود خپل مولا په مقابله کښې به دا دواړه د بچي د پرورش زيات حقدار وی.اود آزاديدلو نه وړاندې د وينځې اود ام ولد د پاره د بچي په پرورش کښې هيڅ حق نشته.خکه چه دا دواړه د مولا په خدمت کښې د مشغوليدلو په وجه د بچي د پرورش کولو نه عاجزه دی.د امام شافعي اوامام احمد رحمهما الله هم دا قول دې.

وَلَيْسَ للامة وام الولد قَبْلَ الْعِتْقِ حَقٌّ فِي الْوَلَدِ اود آزاديدو نه وړاندې دوينځې او ام ولد دواړو د بچي

---

(۱) القول الراجح هو قول محمد رحمه الله كذا في فتح القدير(۴\۱۸۸) والبحرالرائق (۴\۱۷۰) وردالمحتار(۲\۶۹۶) وتبيين الحقائق (۳\۴۹) ومجمع الأنهر(۱\۴۹۰) والهندية (۱\۵۴۳) نقلاً عن القول الراجح (۱\۳۸۰)-

پرورش کښې هیڅ حق نشته

تشریح> نفس مسئله اسانه ده

دلیل> دلیل دادې.چه د پرورش کولو د حق ثابتولو په وخت دا دواړه آزاد دی.نود خپل مولا په مقابله کښې به دا دواړه د بچی د پرورش زیات حقدار وی.اود آزادېدلو نه وړاندې د وینځې اود ام ولد د پاره د بچی په پرورش کښې هیڅ حق نشته.ځکه چه دا دواړه د مولا په خدمت کښې د مشغولیدلو په وجه د بچی د پرورش کولو نه عاجزه دی.د امام شافعي اوامام احمد رحمهما الله هم دا قول دې.

د ذمیه کتابیه ښځې پخپل مسلمان بچی د پرورش حق

وَالذِّمِّيَّةُ أَحَقُّ بِوَلَدِهَا الْمُسْلِمِ او ذمیه ښځه د خپل مسلمان بچی زیاته حقداره ده مَا لَمْ يَعْقِلِ الْأَدْيَانَ تر هغه وخته پورې چه بچې دینونه نه پیژنی أَوْ يُخَافُ أَنْ يَأْلَفَ الْكُفْرَ یا دا یره نه وی.چه دا به کفرسره مینه اوکړی

تشریح> مسئله که یومسلمان سړی د یوې ذمیه کتابیه ښځې سره نکاح اوکړله.بیا ددې نه بچې پیدا شو. نو دابچې به د(خیر الأبوین دینا)تابع وی.یعنی د مسلمان پلار تابع به وی.او مسلمان به وی.خوددې بچی د پرورش کولو زیات مستحق به ددې ذمیه مور وی.خودا استحقاق به د ذمیه دپاره ترهغه وخته پورې وی.چه ترکومه وخته پورې په ده کښې د دین سمجهه (پوهه) نه وی.اود بچی په کفر باندې د متاثره کیدلو ویره نه وی.او هرکله چه بچی په دین او مذهب باندې پوهه شی.یا د بچی په کفر سره د متاثره کیدلو خطره وی.نو په داسې حالت کښې به د بچی د پرورش کولو مستحق ذمیه ښځه نه وی.

دلیل> دلیل دادې.چه ددې حالت نه وړاندې بچې د ذمیه په سپارلو کښې په ده باندې شفقت دې.او ددې حالت نه پس د ضرر احتمال دې.په دې وجه چه کله بچې په دین باندې پوهه شی.نودا به د ذمیه نه اخستلې شی. او مسلمان پلار ته به ورکولې شی.

د مطلقه ښځې دپاره د خپل بچی د ښار نه د وېستلو اختیار

وَإِذَا أَرَادَتِ الْمُطَلَّقَةُ که مطلقه ښځې اوغوښتل أَنْ تُخْرِجَ بِوَلَدِهَا مِنَ الْمِصْرِ چه خپل بچې ددې ښارنه بهر بوځی فَلَيْسَ لَهَا ذَلِكَ نودې ته دا اختیار نشته.

تشریح> مسئله داده.چه د عدت پوره کیدلو نه پس که مطلقه ښځه اوغواړی.چه خپل بچې ددې ښار نه بهر بوځی.نودې ته دا اختیار نشته.

دلیل> ځکه چه په داسې کولوکښې پلار ته د خپل بچی په جدایئ کښې تکلیف وی.

إِلَّا أَنْ تُخْرِجَهُ إِلَى وَطَنِهَا البته دا خپل وطن ته بوتلې شی وَقَدْ كَانَ الزَّوْجُ تَزَوَّجَهَا فِيهِ او حال داچه خاوند دې ښځې سره هم په دغه مقام کښې نکاح کړې وی

تشریح> خوکه دا بچی خپل وطن ته بوتلل اوغواړی. په داسې حال کښې چه خاوند دې ښځې سره هم په دې مقام کښې نکاح کړې وی.نو ښځې ته ددې اختیار شته. (چه هلته کښې ئې بوځی)

دلیل> دلیل داد ی.چه د ښځې په وطن کښې نکاح کولوسره عرفاً اوشرعاً هلته کښې قیام کول په خپل ځان باندې لازم کړې وو.عرفاً ځکه چه خاوند عادة په هغه ښار کښې قیام کوی.په کوم ښارکښې چه

نکاح اوکړی.او شرعاً ځکه چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی. (من تأهل ببلد فهو منهم) (۲) یعنی کوم سړی چه په کوم ښارکښې نکاح اوکړله.نودې هم د هغوی ځنې دې. او ابن ابی شیبه رحمه الله په خپل مصنف کښې د حضرت عثمان رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې.چه دوی په منی کښې پوره څلور رکعته مونځ اوکړو.بیا ئې اوفرمائیل. (قال رسول الله ﷺ من تأهل فی بلد فهو من أهلها يصلی بصلاة المقيم وإنی تأهلت منذ قدمت مكة) یعنی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.چه کوم کس په کوم ښار کښې نکاح اوکړله.نودې هم هغه ښار والوکښې شمارلې شی.چه دې د مقیم مونځ اوکړی.اوزه چه کوم وخت مکې ته داخل شوم.نو ما یوې ښځې سره نکاح اوکړله.او په یو روایت کښې دی. (سمعت رسول الله ﷺ يقول من تأهل فی بلد فيصلی بصلاة المقيم) ځکه چه په دې کښې د بچې په حق کښې بهتری ده.چه دې د ښار دخلقو اخلاق زده کړی.او په دې کښې د پلار په حق کښې هم څه ضررنشته.اوکه ددې په عکس د ښار نه بهر کلی ته بوتلل اوغواړی.نود بچی په حق کښې ضرر دې.ځکه چه د بانډیچیانو اخلاق به زده کړی.نو ښځې ته د داسې کولو اختیار نشته.

د مور پلار اود نیا.او نیکه د نفقه احکام

وَعَلَى الرَّجُلِ په سړی باندې واجب دی أَنْ يُنْفِقَ عَلَى أَبَوَيْهِ وَأَجْدَادِهِ وَجَدَّاتِهِ چه خپل موریلار ،نیکونو او نیاګانو ته نفقه ورکړی إِذَا كَانُوا فُقَرَاءَ که دوی محتاج وی وَإِنْ خَالَفُوهُ فِي دِينِهِ اګرچه په دین کښې ددوی مخالف وی

تشریح د اولاد نفقه نه د فارغ کیدلو نه پس په دې تفصیل کښې د موریلار ،او(د پلار د طرفه) د نیا نیکه، نفقه ده.کله چه دوی محتاجه وی.اګرچه په دین کښې دده نه مخالف وی.

دلیل وجوب نفقة الابوین د موریلار په نفقه کښې دلیل د الله تعالی قول ﴿وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ﴾ دې.یعنی که دوی دواړه په تا باندې ددې خبرې زور راوړی.چه ماسره داسې څیز شریك جوړکړه.چه دهغې تاسره څه دلیل نه وی.نو ددوی خبره مه منه.او په دنیاکښې ددوی سره ښه وخت تیره وه.اود هغه کس په لاره روان اوسه.څوك چه ما طرف ته رجوع کوی.(سورة لقمان) دا آیت د سعدبن ابی وقاص په باره کښې نازل شوی دی.دا پخپله مسلمان شوې وو.او دده مور جمیله کافره وه.او د سعد د اسلام راوړلو په وجه خوراك څکاك هم پریخودې وو.نو حضرت سعد رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضرشو.نودا آیت نازل شو.ددې حاصل دادې.چه د دین په معامله کښې ددوی اطاعت مه کوه.البته په دنیاوی معاملاتوکښې ددوی سره په معروف طریقه (رواج مطابق) چلیږه.په معروف طریقه اوسیدل دا نه دی.چه په خپله خو د الله تعالی په نعمتونوکښې عیش (مزې) کوی.او موریلار پریږدی.چه دوی د اولګې مره شی.ددې آیت نه ښکاره شوه.که موریلار محتاج وی.نو په خوی باندې ددوی نفقه واجب ده.اګرچه په دین کښې د دواړو اختلاف ولې نه وی.

ملحوظة یاد ساتئ چه د آیت ﴿وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا﴾ مصداق غیرحربی موریلار دی.او که موریلار حربی وی.نو ددې تفصیل روستو راروان دې

۲) من حديث عبدالله بن عبدالرحمن بن الحارث بن أبي ذباب عن أبيه أخرجه ابن ابی شيبة فی مصنفه (نصب:۳/۱۹۵)

دلیل وجوب نفقة الاجداد والجدات ﴾ د موریلار نه علاوه (د پلار د طرفه) نیا نیکه دپاره د نفقه دوجوب دلیل دادې.چه دوی هم د پلارانو او میاندوخنې دی.هم دا وجه ده.که پلار نه وی.نو نیکه دده قائم مقام وی. دویم دلیل دادې.چه نیا اونیکه هم د سرې د ژوندی اوسیدلو سبب دی.نو هم په دې سرې باندې د خپل ژوند استحقاق لری.لکه څنګه چه په موریلار کښې دی.

شرطية الفقر ﴾ د محتاجه کیدلو شرط ئې په دې وجه لګولې دې.چه پلار که مالداره وی.نو دده نفقه په خپل مال کښې واجبیدل غوره دی.په نسبت سره دغیر په مال کښې د واجبیدلو نه.نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی. (کل من کد يمينك وعرق جبينك) یعنی د خپل لاس اود وینې خولې په محنت سره خوره.

وجه عدم الفرق في اختلاف الدين ﴾ او پاتې شو د دین اختلاف،نوداً د نفقه واجبیدلو نه مانع نه جوړیږی.دلیل آیت ﴿وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا﴾ دې.دا آیت دلالت کوی.چه موریلار که مؤمن وی.او که کافر وی.دوی سره د اعتدال سلوك کوئ. امام مالك او امام شافعی رحمهما الله هم ددې قائل دی.

په دینی اختلاف سره د نفقه عدم وجوب

وَلَا تَجِبُ النَّفَقَةُ مَعَ اخْتِلَافِ الدِّيْنِ او په دینی اختلاف سره دچا نفقه نه واجبیږی إِلَّا لِلزَّوْجَةِ وَالْأَبَوَيْنِ وَالْأَجْدَادِ وَالْجَدَّاتِ وَالْوَلَدِ وَوَلَدِ الْوَلَدِ سوا د ښځې نه.اود موریلار، نیکونو، نیاګانو،او خامن، او نمسو نه،

تشریح ﴾ مسئله داده.چه د دینی اختلاف په موجودګئ کښې د هیڅ چا نفقه نه واجبیږی.سوا د ښځې ،د مور پلار،او (د پلار د طرفه) د نیا نیکه،اود خوی اود نمسی.

دلیل وجوب النفقة للزوج ﴾ د دینی اختلاف باوجود د ښځې نفقه ددې په خاوند باندې په دې وجه واجب ده.چه د ښځې دپاره نفقه د نکاح د عقد په وجه واجبیږی.ځکه چه ښځې خپل ځان د خاوند مقصودی حق یعنی د وطی وغیره دپاره محبوس ساتلې دې.او په دې کښې د زوجینو دینی اعتبار سره د متحدکیدلو هیڅ دخل نشته.

دلیل وجوب غیرالزوجة من المذکورین ﴾ د ښځې نه علاوه د باقی خلقو نفقه په دې وجه لازم ده.چه جزئیت ثابت دې.د ولد جزء کیدل خو ښکاره دی.او ددې نه علاوه د موریلار،او نیا نیکونو وغیره (جزئیت خکه دې.چه دوی ته د اولاد رشته شامل ده.بهرحال په دې ټولوکښې د جزئیت معنی موجود ده.اود سرې جزء دده د ذات په حکم کښې وی.نو لکه څنګه چه سرې دخپل ذات نفقه د خپل کفر په وجه نه منع کوی.نوهم دغه شان دچا سره چه دده دجزیت علاقه وی.دهغوی نفقه هم نشی بندولې.

صورة الاستثناء ﴾ که دوی محتاج وی.نوددوی نفقه به واجب وی اګرچه دې خلقو امان اخستې وی.او په داراسلام کښې داخل شوې وی.ځکه چه څوك مونږ سره د دین په باره کښې جنګ کوی.که هرڅوك وی.مونږ ددوی سره د احسان کولو نه منع شوی یو.ارشاد دې.﴿لَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْا إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۞ إِنَّمَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَأَخْرَجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ وَظٰهَرُوْا عَلٰى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۞﴾ د آیت ترجمه په رومبئ مسئله کښې تیره شوې ده.هلته کښې ئې اوګورئ.حاصل داچه ددې خلقو نفقه که کافر وی.نو په مسلمان به هغه وخت واجب وی.چه دا خلق په داراسلام کښې مطیع وی.ګنی واجب نه ده.

په غریب موریلار باندې د مالداره اولاد نفقه

وَلَا يُشَارِكُ الْوَلَدَ فِي نَفَقَةِ أَبَوَيْهِ أَحَدٌ اود موریلار په نفقه کښې به څوی سره هیڅ څوك نه شریکیږی

تشریح مسئله داده.که مورپلار غریبانان وی.او ددوی بچي مالداره وی.نوددوی نفقه به خاصکر هم په ده باندې واجب وی.ده سره به په نفقه ورکولو کښي بل څوك شريك نه وی.

دلائله ① څکه چه مورپلار د بچي په مال کښي د حديث (أنت ومالك لأبيك) (۹۰) په وجه تاويل کولي شي.اود غير په مال کښي تاويل نشي کولي.نودا دواړه به دخپل څوی د مال په وجه مالداره شمارلي شي.اود مالدار نفقه په غير باندې واجب نه وی.نو ددوی دواړو په نفقه کښي به غيرولد شريك نه وی.

② دویم دليل دادې.چه نفقه یوه عطيه ده.چه دا د قرابت په وجه واجبيږی.نوڅوك چه مورپلار ته زيات نيزدې وی.هم دې به د نفقه ورکولو زيات مستحق وی.او چونکه بچي خپل مورپلار ته زيات نيزدې وی.په نسبت سره د نوروخلقو.په دې وجه به د مورپلار نفقه صرف هم په ده باندې واجب وی.

تسوية الذكور والاناث د مورپلار په نفقه کښي جينۍ او هلك دواړه برابر دی.داحکم د ظاهرالروايه دې.اوهم دا صحيح ده.تردې که پلار محتاج وی.او دده يو هلك او يوه جينۍ (يعنی لور او څوی) مالداره وی.نو په دې دواړو باندې به نفقه نيمه نيمه (برابر) واجب وی.څکه چه د نفقه د وجوب سبب، يعني ولادت دواړو ته يوشان (برابر) شامل دې.ددې په خلاف که د يومحتاج سړی يو رور او خور مالداره وی.نو په دوی به دده نفقه اثلاثاً واجب وی.يعنی په درې حصوکښي به دوه حصې په رور باندې او يوه حصه به په خورباندې واجب وی.لکه څنگه چه په ميراث کښي په دريو حصوکښي دوه حصې رور ته او يوه حصه خور ته ملاويږی.څکه چه په دې صورت کښي د نفقه د وجوب سبب ميراث دې.

د ذي رحم محرم دپاره د نفقه وجوب

وَالنَّفَقَةُ وَاجِبَةٌ لِكُلِّ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ او نفقه د هرذي رحم محرم دپاره واجبيږی إِذَا كَانَ صَغِيرًا فَقِيرًا چه دوی صغير محتاج وی أَوْ كَانَتْ امْرَأَةً بَالِغَةً فَقِيرَةً يا ښځه بالغه محتاجه وی. أَوْ كَانَ ذَكَرًا فَقِيرًا زَمِنًا يا سړې محتاج شل أَوْ أَعْمَى فقيرا يا روند او فقير وی

تشریح مسئله داده.چه ذی رحم محرم که نا بالغه محتاج وی.يا ښځه بالغه محتاجه وی.يا سړې بالغ محتاج،گډشل يا روند وی.نو ددوی دپاره نفقه واجبيږی.ذی رحم محرم هغه دې.چه دده سره ،،على التابيد،نکاح حرام وی.اود ذی رحم محرم قيد په دې وجه لګولي شوې دې.که رحم اوموندې شی.او محرم اونه موندې شی.لکه د تره څوی، يا محرم وی.او رحم نه وی.لکه رضاعی رور يا خور.يا رحم او محرم دواړه اوموندې شی.خود قرابت نه بغير وی.لکه د تره څوی،چه رضاعی رور هم وی.نو ددوی دپاره به نفقه واجب نه وی.بهرحال ذی رحم محرم که نابالغه محتاج وی.يا ښځه بالغه محتاجه وی.يا سړې بالغ محتاج، شل يا روند وی.

دليله ددوی دپاره د نفقه د وجوب دليل دادې.چه احسان کول په قرابت قريبه کښي واجبيږی.او په قرابت بعيده کښي نه واجبيږی.الله تعالى فرمائي. ﴿وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ﴾ يعنی په وارث باندې ددې مثل واجبيږی.اود عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما په قرات کښي دی. (وعلى الوارث ذی الرحم المحرم مثل ذالك) يعنی ،،په هر داسې وارث باندې چه دده رشته دائمی حرام شوې وی.ددې مثل واجب دې،، اوپه قرابت قريبه او بعيده کښي فاصل دادې.که ذی رحم محرم وی.نو قرابت قريبه دې.اوکه دا نه وی.نو قرابت بعيده دې.

---

۹۰) يشواىل حديث انت ومالك لأبيك وسياتى تخريجه فى الحدود.

شرطيه وجوه الاعذار المذكورة د نفقه د وجوب دپاره محتاج كيدل ضروري دی. يعني د نفقه د وجوب دپاره محتاج كيدل شرط دی. او نابالغ كيدل، يا ښځه كيدل، يا ګډشل كيدل يا نابينا (روند) كيدل، د محتاج كيدلو دليل دي. ځكه چه په دې صورتونوكښې د كمائي (مزدورئ) نه عاجزه كيدل متحقق كيږي. ځكه چه كوم كس مزدوري كولې شي. هغه د خپلې مزدورئ په وجه محتاجه نشي كيدلې. بلكه غني وي.

وجه الفرق بين الابوين والمحارم ددې په خلاف مورپلار دی. كه دوی مزدوري كولې شي. بيا هم ددوی نفقه په اولاد باندې واجب وی. دليل دادې. چه په مزدوري كولوسره به په مورپلار ته مشقت (تكليف) رسيږي. حالانكه اولاد ته حكم وركړې شوې دې. چه د مورپلار نه ضرر لرې كړي. نو كه مورپلار ته د مزدورئ طاقت هم وی. نو بيا هم ددوی نفقه په اولاد باندې واجب ده.

د ميراث په مقدار د نفقه وجوب

وَيَجِبُ ذٰلِكَ عَلٰى مِقْدَارِ الْمِيْرَاثِ چه نفقه به د ميراث په مقدار واجب وی

تشريح مسئله: نفقه د ميراث په مقدار واجبيږي. يعني څومره قدرې چه ميراث ملاويږي. هم دومره قدرې به په ده باندې نفقه واجب وی. اود نفقه په دې مقدار باندې به دې مجبوره كولې شي.

دلائله ① دليل دادې. چه په آيت ﴿وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ﴾ كښې وارث ته صراحت كول په دې خبره باندې خبرداري دې. چه په نفقه كښې د ميراث د مقدار معتبر دې.

② د حاصلاتو په اندازه سړي تاوان برداشت كوي. يعني څومره قدرې چه ده ته ميراث ملاويږي. هم په دې حساب سره به بالفعل مورث ته نفقه وركوي. او پاتې شو دده مجبوره كول، نودا ځكه دی. چه كوم حق په ده باندې واجب دې. چه هغه اداكړي.

د بالغې جينۍ اود شل هلك دپاره د نفقه مقدار

وَتَجِبُ نَفَقَةُ الْاِبْنَةِ الْبَالِغَةِ وَالْاِبْنِ الزَّمِنِ عَلٰى اَبَوَيْهِ اَثْلَاثًا چه د بالغې جينۍ او شل هلك نفقه به په مورپلار باندې درې حصې كولې شي **عَلَى الْاَبِ الثُّلُثَانِ** دوه حصې په پلار باندې **وَعَلَى الْاُمِّ الثُّلُثُ** او يوه حصه به په مور باندې واجب وی.

تشريح مسئله: د بالغې جينۍ نفقه، اود بالغ شل هلك نفقه به ددوی په مورپلار باندې درې حصې كولې شي. دوه حصې به پلار باندې او يوه حصه به په مورباندې واجب وی.

دليله دليل دادې. كه پلار د خپل خوی ياد لور وارث شي. نو ده ته هم په دې حساب سره ميراث ملاويږي. نو په دوی به نفقه هم ددې مقدار مطابق واجبيږي.

مصنف د هدايه رحمه الله فرمائيلې دی. چه د قدوري دا ذكر كول. د امام خصاف اود حسن رحمهما الله روايت دې. امام شافعي رحمه الله هم ددې قائل دې.

د دين د اختلاف په وجه د ميراث بطلان او نفقه

وَلَا تَجِبُ نَفَقَتُهُمْ مَعَ اخْتِلَافِ الدِّيْنِ اود ذورحم محارمو نفقه په ديني اختلاف سره نه واجبيږي

تشريح ددې باوجود كه په دين كښې اختلاف وی. نو نفقه به واجب نه وی.

دليله ځكه چه د دين د اختلاف په صورت كښې د ميراث لياقت باطل دې. حالانكه د نفقه د وجوب دپاره ددې اعتبار ضروري دې.

په محتاج باندي د نفقه عدم وجوب

وَلَا تَجِبُ عَلَى الْفَقِيرِ او نفقه په محتاج باندي نه واجبيږي

تشريح> مسئله داده.چه دا نفقه په محتاج باندي نه واجبيږي.
دليله> دليل دادي.چه نفقه د صله رحمئ په طور باندي واجبيږي.حالانکه محتاجه پخپله ددې مستحق دې. چه بل څوك په ده باندې احسان اوكړي.نو په ده به نفقه څنګه واجبولي شي.

د غائب ځوی په مال کښې د مورپلار نفقه

وَإِذَا كَانَ لِلِابْنِ الْغَائِبِ مَالٌ اوكه دغائب ځوی سره مال دې قُضِيَ عَلَيْهِ بِنَفَقَةِ أَبَوَيْهِ نو په دې مال کښې به د مورپلار د نفقې حكم وركولي شي

تشريح> صورت د مسئلې او دليل دواړه ښكاره دي.

د خپل غائب ځوی سامان خرڅول

وَإِذَا بَاعَ أَبُوهُ مَتَاعَهُ فِي نَفَقَتِهِ اوكه پلار د خپل غائب ځوی سامان(پخپله) نفقه کښې خرڅ کړو جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى .نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز جائز دی وَإِنْ بَاعَ الْعَقَارَ كه پلار دده زمكه خرڅه کړه لَمْ يَجُزْ نوجائز نه ده

تشريح> مسئله داده.چه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز پلار له د خپل غائب ځوی سامان په خپله نفقه کښې خرڅول جائز دی.اودا حكم استحساني دې.او كه پلار د خپل غائب ځوی زمكه يا كور(جائيداد غير منقوله) خرڅ کړلو.نو جائز نه دی.
دليله> د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادي.چه پلار ته د غائب ځوی په مال کښې دحفاظت ولايت حاصل دې. لكه چه د حفاظت په خاطر وصی ته دا ولايت حاصل دې.چه د غائب بالغ وارث سامان خرڅ كړي.نو هركله چه وصی ته اختيار حاصل دې.نو پلار ته به په درجه اولی حاصل وی.ځکه چه د پلار شفقت زيات دې.او،مال متقوم،، خرڅول د حفاظت د اقسامو څخه دې.او په غيرمنقوله مال کښې دا خبره نشته.ځکه چه دا پخپله محفوظ وی.اود پلار نه علاوه نورو قرابتدارو (رشته دارو) ته دا اختيارنشته.ځکه چه دوی ته هيڅ قسمه ولايت حاصل نه دې.نه دوی ته دده په ماشوموالی کښې د تصرف اختيار وو.اونه د بالغ كيدلو نه پس د حفاظت ولايت شته.
مسلك الصاحبين> د صاحبينو رحمهما الله په نيز جائيداد منقوله اوغيرمنقوله هيڅ څه خرڅول جائز نه دی.او قياس هم دادي.
دليلهما> دليل دادي.چه پلار ته په دې باندې ولايت نشته.ځکه چه د بالغ كيدلو په وجه په ده باندې ولايت منقطع شوي دې.په دې وجه كه ځوی حاضر وی.نو پلار ته دخپل ځوی مال خرڅولو اختيار نشته.اود نفقه نه علاوه ني د بل هيڅ قرضه دپاره نشي خرڅولي.او هم دغه شان نورجائيداد په نفقه کښې نشي خرڅولي.

د غائب ځوی د مال نه خپله نفقه اخستل

وَإِنْ كَانَ لِلِابْنِ الْغَائِبِ مَالٌ فِي يَدِ أَبَوَيْهِ اوكه د غائب ځوی مال دده د مورپلار په قبضه کښې دې وَأَنْفَقَا مِنْهُ او مورپلار ددې نه نفقه واخستله لَمْ يَضْمَنَا نو ضامن به نه وی

تشريح> مسئله داده.كه ځوی په سفر لاړلو.او دده مال د مورپلار په قبضه کښې وی.اومحتاج مورپلار ددې نه خپله نفقه واخستله.نو دوی به ضامن نه وی.

دليله> دليل دادې چه دوی دوارو خپل حق حاصل کړلو.څکه چه د قاضی دحکم نه وړاندې ددوی نفقه واجب ده.لکه چه وړاندې د (ولایقضی بالنفقة فی مال الغائب الالهؤلاء) په تشریح کښې بیان شو.او دوی دوارو د خپل حق د جنس ځنې اخستې دې.په دې وجه به هم ضامن نه وی.

د غائب د مال نه د هغه موریلار له نفقه ورکول

وَإِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فِي يَدِ أَجْنَبِيٍّ اوکه د غائب خوی مال د يو اجنبي کس په قبضه کښې وی فَأَنْفَقَ عَلَيْهِمَا بِغَيْرِ إِذْنِ الْقَاضِي ده دده په موریلار باندې د قاضی دحکم نه بغير خرچ کړو ضَمِنَ نو دې به ضامن وی

تشریح> مسئله داده.چه خوې غائب وی.او دده مال د يو اجنبي کس په قبضه کښې وی.اوده دده موریلار ته د قاضی د اجازت نه بغير ددې نه نفقه ورکړله.نودا اجنبي کس به ضامن وی.
دليله> دليل دادې.چه دې اجنبي کس د غير په مال کښې د ولايت نه بغير تصرف کړې دې.څکه چه دې صرف دحفاظت نائب دې.بل څه اختيار ده ته نشته.

د تيرشوي وخت د نفقه سقوط

وَإِذَا قَضَى الْقَاضِي لِلْوَلَدِ وَالْوَالِدَيْنِ وَذَوِي الْأَرْحَامِ بِالنَّفَقَةِ او کله چه قاضی د خوی دپاره،اود موریلار دپاره،اود ذوی الارحام دپاره د نفقې حکم ورکړو فَمَضَتْ مُدَّةٌ بيا يوه موده تيره شوه سَقَطَتْ نو(ددې مودې نفقه) ساقط شوه.

تشریح> مسئله داده.چه هرکله قاضی په يوسړی باندې دده د بچو،د موریلار، اود نورو قرابت دارو نفقه مقرر کړله.بيا د نفقه ورکولو نه بغير څه موده تيره شوه.نو ددې مودې نفقه به ساقط وی.امام شافعي او امام احمد رحمهما الله هم ددې قائل دی.
دليله> دليل دادې.چه ددې خلقو نفقه د ضرورت پوره کولو دپاره واجبيږی .تردې که دا خلق مالداره وو.نو ددوی دپاره به نه واجب کيدلې.اود دومره مودې تيريدلو سره ددې مودې کفايت شوې دې.په دې وجه ددې مودې نفقه ساقطيږی.

إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُمُ الْقَاضِي فِي الِاسْتِدَانَةِ عَلَيْهِ مګردا چه قاضی په ده باندې د قرضه اخستلو حکم ورکړی

تشریح> امام قدوری رحمه الله فرمائی.که قاضی د غائب سړی په ذمه باندې د قرض اخستلو حکم کړې وی.نود مودې په تيريدلو سره به ددوی نفقه نه ساقطيږی.
دليله> دليل دادې.چه قاضی ته ولايت عامه حاصل دې.نود قاضی حکم ورکول داسې شو.لکه چه غائب سړی په خپله اجازت ورکړې وی.چه زما په ذمه قرض اخله.نودا قرض پخپله دده په ذمه شو.نود مودې په تيريدلو سره به نه ساقطيږی.

د غلام او وينځې نفقه

وَعَلَى الْمَوْلَى: په مولا واجب دی. أَنْ يُنْفِقَ عَلَى عَبْدِهِ وَأَمَتِهِ چه خپلې وينځې او غلام ته نفقه ورکړی

تشریح> په دې فصل کښې د مملوك او غير مملوك حيواناتو وغيره دنفقه حکم دې.
مسئله داده.په آقا باندې واجب ده.چه دې خپل غلام او وينځې ته نفقه ورکړی.

فائده خکه چه نبی کریم ﷺ د مملوکو(غلامانو) په حق کښې فرمائیلي دي. ‹‹هم إخوانكم جعلهم الله تعالی تحت أيديكم أطعموهم مما تأكلون والبسوهم مما تلبسون ولا تعذبوا عباد الله›› [1] یعنې ، ،دا خلق ستاسو رونړه دي.الله تعالی دوی تاسوته د لاس لاندې (په قبضه کښې) درکړي دي.نو څه چه پخپله خورئ.د هغې نه په دوی هم خوراك کوئ.اوڅه چه تاسو اغوندئ.د هغې نه دوی ته هم اغوندئ.اود الله تعالی بنده ګانو ته تکلیف مه ورکوئ، ، ددې حدیث نه معلومه شوه.چه په آقا باندې دده د غلام نفقه او کسوه(لباس) واجب دي.خو په حدیث کښې د خوراك اولباس جنس مراد دې.یعنې دوی ته نفقه ورکوئ.او کپړه ورکوئ.دا مراد نه دې.چه څنګه تاسو خورئ.هم هغه شان دوی باندې هم خورئ.او چه څنګه تاسو اغوندئ.هم هغه شان دوی ته هم اغوندئ.نوکه مولا خپل غلام ته سوچه کپړه ورکړله.او پخپله ددې نه ښه اغوندي.نو صحیح ده.

فَإِنْ امْتَنَعَ مِنْ ذَالِكَ نو که مولا د نفقه ورکولو نه منع شو وَكَانَ لَهُمَا كَسْبٌ او غلام او وینځې ته د ګټلو صلاحیت شته اكْتَسَبَا نو مزدوری دې کوي وَأَنْفَقَا مِنْهُ او د هغې نه دې خوري

تشریح بیا که مولا دوی ته د نفقه ورکولونه انکار اوکړلو.نو که وینځه اوغلام د مزدورئ صلاحیت لرلې شي. نومزدوری به کوي.او خپله ګزاره به کوي.
فائده خکه چه په دې کښې دواړه طرف ته رعایت دې.د مملوك (غلام) رعایت خو دا دې.چه که مزدوری کوي.او خوري.نو ژوندې به وي.اود مولا رعایت دادې.چه دده ملك به باقی پاتې وي.چه کله غواړي.خرڅ به ئې کړي.

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمَا كَسْبٌ اوکه په دې دواړوکښې د ګټې کولو لیاقت نه وي أُجْبِرَ الْمَوْلَى عَلَى بَيْعِهِمَا نو مولا به ددې دواړو په خرڅولو باندې مجبوره کولې شي

تشریح که دوی دواړه د مزدورئ صلاحیت نه لري.مثلاً غلام ګډشل دې.یا وینځه داسې وي.چه دا خوك په اجرت باندې نه اخلي.نو په دې صورت کښې به مولا مجبورولې شي.چه دا خرڅ کړي.
فائده خکه چه دا دواړه د نفقه مستحق دي.اود استحقاق اهلیت هم لري.او په خرڅولو کښې به ددوی دواړو حق هم اداشي.اود مولا د حق خلیفه یعنې د مملوك قیمت به ده ته حاصل شي.

كِتَابُ الْعِتَاقِ

ترجمه (دا) کتاب د ازادئ (د احکامو په بیان کښې) دې .

تشریح **الربط بما قبله** د آزادئ او طلاق په مینځ کښې مناسبت دادې.چه په دې دواړوکښې هر یو د اسقاط د قبیلې څخه دې.خودومره خبره ده.چه اعتاق ملك د رقبه ساقطوي.اوطلاق ملك د منافع ساقطوي.دویم مناسبت دادې.چه په دې دواړو کښې هریوکښې لزوم دې.لکه څنګه چه عتق فسخ نه قبلوي.دغه شان طلاق هم فسخ نه قبلوي.طلاق اګرچه غیرمندوب دې.خو ددې باوجود مقدم کړې شو.چه د نکاح په مقابله کښې ذکرشي.د اسقاطاتو یوخو قسمونه دي، ، اسقاط حق عن الرق، ، عتق

---

[1] من حديث ابی ذر رضی الله عنه اخرجه البخاری العتق باب ۱۲ ومسلم فی الایمان والنذور رقم ۳۸ وابوداود فی الادب باب ۱۲٤ رقم ۵۱۵۷.

دي.او ،،اسقاط حق عن البضع ،،طلاق دي.اوكوم څیزچه دچا په ذمه وي.هغه ساقطول ابراء ده.او ،،اسقاط حق عن القصاص والجراحات ،، عفو ده.

تعریف العتق لغةً په لغت کښې د ،،عتق،، معنی قوت دي.،،عتق الفرخ،، هغه وخت وئیلې شي.چه کله د مرغۍ بچي طاقتور شي.او په خپلو وزرو باندې والوځي.او ،،فرس عتیق،، هغه اس ته وئیلې شي.چه په منډه کښې د ټولو نه وړاندې شي.او ښکاره خبره ده.چه دا کار د قوت او طاقت نه بغیر نه کیږي.او ،،بیت عتیق،، کعبه ته هم په دې وجه وئیلې شي.چه دا د الله تعالی د قوت په وجه پخپل ځان باندې هرحمله کونکې، او مالکانه قبضه کونکې دفع کوي.او په شریعت کښې عتق هغه شرعي قوت ته وئیلې شي.چه ددې په وجه انسان د شهادت، ولایت، اود قضاء اهل جوړیږي.

مفهوم العتق عتق (آزادي) مملوك حکماً ژوندي کول دي.ځکه چه مملوك جماداتو سره ملحق کیږي.نو هرکله چه دې آزاد کړې شو.نود بشري کرامتونو اهل شو.مثلاً د آزادئ نه پس دده ګواهي قبلولې شي.او ده ته د ولایت حق حاصلیږي.اود آزادئ نه پس ددې صفاتو حاصلیدل کوم چه د آزادئ نه وړاندې حاصل نه وو.په حقیقت کښې ده ته ژوند ورکول دي.

سببه بیا د عتق سبب په دوه قسمه دي. ① اول داچه د سړي په ذمه واجب وي.لکه په کفاره او نذر وغیره کښې آزادول واجب وي.

② دویم داچه واجب نه وي..نو په دې کښې یو اختیاري وي.او بل غیر اختیاري وي. اختیاري دادې.چه یوکس د ثواب په نیت سره غلام آزادکړلو.او غیر اختیاري دادې.چه خپل قرابتي ئې واخستلو.نودې دده مالك جوړشو.اودې آزاد شو.

شرطه اود عتق شرط دادې.چه آزادونکې پخپله آزاد وي.او عاقل بالغ وي.اود مملوك مالك وي.که سړې وي. اوکه ښځه وي.او دعتق رکن هغه دې.چه په هغې سره آزادي ثابت شي.او ددې حکم رقیت اوملك د محل نه زائل کیدل دي.

اقسامه بیا د آزادولو څوقسمونه دي. ① اول مرسل: یعنی في الحال د څه شرط نه بغیر آزادول.② دویم معلق:یعني که تا داسې اوکړل.یا ماداسې اوکړل.نو ته دې آزاد ئې.

③ دریم: د خپل مرګ نه پس ته آزادي منسوب کول.بیا به په دې کښې هر یو یا په عوض(بدل) سره وي.یا به د عوض نه بغیر وي.(عنایه، فتح القدیر)

د اعتاق د صحت شرائط

اَلْعِتْقُ يَصِحُّ مِنَ الْحُرِّ الْبَالِغِ الْعَاقِلِ فِي مِلْكِهِ چه آزادول عاقل ، بالغ، آزاد سړي دطرفه (دده) پخپل ملك کښې صحیح دي

تشریح په عبارت کښې د عتق نه مراد اعتاق (آزادول) دي.قدوري د اعتاق د صحت دپاره څلورشرطونه بیان کړي دي.اول داچه آزادونکې پخپله آزاد وي.دویم داچه آزادونکې عاقل وي.دریم داچه بالغ وي.څلورم داچه غلام د آزادونکي په ملك کښې وي.لکه چه فرمائي.چه غلام آزادول صحیح نه دي.مګر د آزاد عاقل بالغ د طرفه، په دې شرط چه غلام دده په ملك کښې وي.

دلیل شرطیة الحریة د آزادونکي پخپله آزادیدل ځکه ضروري دي.چه اعتاق (آزادول) صرف پخپل ملك کښې صحیح کیږي.او څوك چه پخپله مملوك وي.د هغه هیڅ ملك نه وي.په دې وجه مملوك څوك آزادولې هم نشي.او بالغ کیدل ځکه شرط دي.چه په نابالغه کښې د آزادولو لیاقت نشته.ځکه چه آزادول په ښکاره ضرر وي. په دې وجه د نابالغه ولي او وصي ته د نابالغه د طرفه د آزادولوشرعاً اجازت نشته.اود عاقل کیدلوشرط په دې وجه لګولې شوې دې.چه لیوني او مجنون ته د هیڅ تصرف

لياقت نه وي.او چونكه نابالغه د تصرف اهل نه وي.په دې وجه كه بالغ سړى اووئيل.چه ما داخپل غلام په داسې حالت كښې آزادكړې وو.چه كله زه پخپله نابالغه ووم.نودده قول به معتبر وي.اوغلام به آزاد نه وي.ځكه چه ده آزادول داسې حالت طرف ته منسوب كړى دى.كوم حالت (يعنى د عدم بلوغ حالت) چه د اعتاق منافى دې.نو دده دا قول دده د طرفه د اعتاق صحيح كيدلو نه انكار كول دى.اود منكر قول قبلولې شي.په دې وجه به دده قول قبلولې شي.

شرطية البلوغ > چونكه د آزادونكى عاقل كيدل شرط دى.په دې وجه كه آزادونكى اووئيل.چه مادا خپل غلام په داسې حالت كښې آزادكړې وو.چه زه ليونې ووم.او حال دا چه ددې سړى جنون په خلقوكښې ښكاره وو.نو بيابه هم دده قول معتبر وي.ددې دليل هم دادې.چه دې سړى اعتاق داسې حالت طرف ته منسوب كړلو.كوم چه د حالت اعتقا منافى دې.نو گويا دا كس د اعتاق منكر دې.اود منكر قول معتبر وي.په دې وجه به دده قول معتبر وي.

شرطية العقل > هم دغه شان به آزادول صحيح نه وي.چه كله نابالغ سړې اووائي.چه هرمملوك چه زه ئې مالك يم.دا هغه وخت آزاد دې.كله چه زه بالغ شم.دليل دادې.چه نابالغه سړې ته دا لياقت نشته.چه داسې خبره اوكړي.چه هغه په ده لازم شي.ځكه چه نابالغه دداسې خبرو نه شرعاً منع كړې شوې دې.

شرطية كون العبد في ملكه > بيا دا ضروري ده.چه كوم غلام آزادول غواړي.هغه دده په ملك كښې وي.تردې كه يوكس د بل كس غلام آزاد كړلو.نودا به نافذ نه وي.د جمهورعالمانو هم دا مذهب دې.امام مالكؒ فرمائي. چه د خپل نابالغه بچى غلام آزادولې شي.خود بالغ اولاد غلام آزادول صحيح نه دى.دجمهور په مسلك باندې دليل د نبى كريمﷺ فرمان (لاعتق فيما لايملكه ابن آدم)، سړې چه د كوم (غلام) مالك نه وي.د هغه آزادول صحيح نه دى،، علامه مرغينانىؒ فرمائيلى دى.كه د بل كس غلام ئې آزادكړلو.نودا آزادى به نافذ نه وي.او دائې او نه وئيل.چه صحيح به نه وي.ځكه چه غير مملوك آزادول صحيح خودى.خو نفاذ به ئې د مالك په اجازت سره كيږى.د مالك د اجازت نه بغير نفاذ نه كيږى.

د نيت نه بغيرپه صريح الفاظوسره آزاديدل

فإذاقال لعبده أوأمته او كه آقا خپل غلام يا وينځې ته اووئيل **أنت حر** چه ته آزاد ئې **أومعتق أو عتيق** يا عتيق ئې **أومحرر** يا محررئې **أوحررتك** يا ته ما محرركړې **أوقد أعتقتك** يا ته ما آزاد كړې **فقد عتق** نو دا آزاد شو. **نوي المولى العتق أولم ينو** كه مولى په دې لفظ سره د آزادولو نيت كړې وي.اوكه نه وي كړې

تصريح > مسئله داده.كه آقا خپل غلام يا وينځې ته اووئيل. (أنت حر،ياأنت معتق،ياأنت عتيق،ياأنت محرر، ياقد حررتك ،ياقد اعتقتك) نودا به آزاد وي.كه په دې الفاظوسره آقا د آزادولو نيت كړې وي.او كه نه ئې وي كړې.

دليله > ځكه چه دا الفاظ د آزادولو په معنى كښې بالاتفاق صريح دى.او شرعاً او عرفاً هم په دې معنى كښې مستعمل دى.او صريحى الفاظ په عمل كولوكښې د نيت محتاج نه وي.په دې وجه په دې الفاظو كښې په يو لفظ سره آزادول د نيت محتاج نه دى.

په اصل وضع كښې اگرچه دا الفاظ د اخبار په معنى كښې وو.خوپه شرعى تصرفاتو كښې د ضرورت په وجه د انشاء په معنى كښې شوى دى.لكه څنگه چه په طلاق او بيع وغيره كښې كيږى.مثلاً (أنت طالق) د اصل وضع په اعتبار سره خبر دې.خود ضرورت په وجه دا د انشاء په معنى كښې اخستې

شوي دي.او هم دغه شان ،،بعت،، او ،،اشتريت،، په اصل وضع كښې خبر دی.خود انشاء معنی طرف ته ضرورة نقل كړشي شوی دی.

د بدن داسې اندام له آزادۍ منسوب ګڼل چه ټول بدن ترې مراد ګڼېږي شي

وَكَذَا اِذَا قَالَ او دغه شان كله چې اووائی (مملوك) ته **رَأْسُكَ حُرٌّ** چه ستا سر آزاد دي **أَوْ رَقَبَتُكَ أَوْ بَدَنُكَ** يا ستا سټ يا ستا بدن (آزاد دي) **أَوْ قَالَ لِأَمَتِهِ** يا ئې خپلې وينځې ته اووئيل **فَرْجُكِ حُرٌّ** چه ستا شرمګاه آزاد دي

حل اللغة ﴿١﴾ **وجهه:** مخ ﴿٢﴾ **رقبة:** څټ

تشريح مسئله:كه مولا خپل مملوك ته اووئيل. (رأسك حر) يا ئې اووئيل. (وجهك حر) يا ئې اووئيل. (رقبتك حر) يا ئې اووئيل. (بدنك حر) يا ئې خپلې وينځې ته اووئيل. (فرجك حر) نو په دې ټولو الفاظو سره مملوك آزاديږي.

دليله دليل دادې.چه دا ټول الفاظ داسې دی.چه په دې سره ټول بدن تعبير كولې شی.او په كتاب الطلاق كښې دا بيان تيرشوي دې.هلته كښې ئې اوګورئ.

د آزادۍ په كنائي الفاظوكښې د نيت ضرورت

وَاِنْ قَالَ اوكه (مملوك) ته اووائی **لَا مِلْكَ لِي عَلَيْكَ** زما په تاباندې هيڅ ملك نشته **وَنَوَى بِذَالِكَ الْحُرِّيَّةَ** او په دې سره ئې د آزادولو نيت اوكړو **عَتَقَ** نو دې به آزاد وی **وَاِنْ لَمْ يَنْوِ** اوكه نيت ئې اونكړو **لَمْ يَعْتِقْ** نو نه به آزاديږی.

تشريح صورت دمسئلې دادې.كه مولا خپل مملوك ته اووئيل.(لاملك لي عليك) او په دې كلام سره ئې د آزادولو نيت اوكړلو.نودا مملوك به آزاد وی.اوكه د آزادولو نيت ئې نه وی كړې.نو آزادی به نه واقع كيږی.

دليله دليل دادې.چه دا كلام دكنائی الفاظو څنې دی.ځكه چه په دې كښې دوه احتماله دی.يو داچه زما ملك په تا باندې په دې وجه نشته.چه تا ما خرڅ كړې ئې.او دويم احتمال دادې.چه ملك ځكه نشته.چه ته ما آزادكړلې.نو ثابته شوه.چه داكلام د آزادولو په معنی كښې صريح نه دې.بلكه كنائی دې.او كنائی الفاظ په عمل كښې دنيت محتاج وی.د نيت نه بغير ددې هيڅ احتمال نه متعين كيږی. او آزادی به نه واقع كيږی.

په كنائي الفاظوسره د آزادۍ نيت ګڼل

وَكَذَالِكَ جَمِيعُ كِنَايَاتِ الْعِتْقِ هم دغه شان حكم د عتق د كناياتو د ټولو الفاظو دي

تشريح صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.چه هم دا حال د آزادولو د كنائی الفاظو دي.يعنی په كنائی الفاظوسره ئې كه د آزادولو نيت كړې وی.نو آزادی به واقع كيږی.ګنی نه به واقع كيږی.دكنائی الفاظ مثال، لكه چه خپل غلام ته اووائی.،، ته زما د ملك نه اووتلې،، يا وينځې ته اووائی.،،ته زما دملك نه اووتلې،،او يا مثلا داسې اووائی.چه ،،زما دپاره په تا باندې هيڅ لاره نشته،،يا ،، په تاباندې زما رقيت نشته،، يا ،،ما ستالاره خالی پريخودې ده،،

دليله دليل دادې.چه په دې ټولو الفاظوكښې دآزادۍ نه علاوه د نورو معانو احتمال هم شته.ځكه چه لكه څنګه دا معنی ده.چه ما آزاد كړې.يا په دې وجه ته زما د ملك نه اووتلې. يا زما د آزادولو په وجه زما ملك په تاباندې پاتې نشو.وغيره ذالك.دغه شان دا احتمال هم شته.چه ته ما خرڅ كړې ئې.يا

مکاتب کړي نې.په دې وجه ته زما د ملك نه اووتلي.یا زما ملك په تا پاتې نشو.نود یو احتمال متعین کولو دپاره نیت کول ضروري دی.او که نیت اونه موندې شو.نو آزادي به نه واقع کیږي.

د آزادئ او غلامئ متعلق الفاظو حکم

وَاِنْ قَالَ اوکه (مولا) اووئیل لَاسُلْطَانَ لِيْ عَلَيْكَ په تاباندې زما سلطنت دې وَنَوٰى بِهِ الْعِتْقَ اوبه دې سره نې د آزادئ نیت اوکړو .لَمْ يُعْتَقْ نو نه به آزادیږي

حل اللغة ① **سلطان**؛ بادشاه

تشریح فوائد :د مصنف ﷫ په عبارت(السلطان عبارة عن الید) کښې تسامح ده.

دلیله ځکه چه سلطان قبضې ته نه وائي.بلکه صاحب د قبضه ته وائي.(عیني شرح هدایه)

مملوك له په خوئ وئیلو سره د آزادئ ثبوت

وَاِذَاقَالَ اوکله چې مولا (خپل مملوك ته) اووئیل هٰذَا ابْنِيْ چه دا زما خوئ دې وَثَبَتَ عَلٰى ذٰلِكَ اوهم په دې خبره باندې تینګ ولاړ وو

تشریح صورت دمسئلې دادې.که مولا خپل مملوك طرف ته اشاره اوکړله.او وې وئیل.چه (هذا ابني) او هم په دې خبره باندې ټینګ پاتې شو.نودا مملوك به آزاد وی.علامه بدرالدین عیني﷫ لیکلی دی.چه د (ثبت علی ذالك) قید اتفاقي دې.

دلیله ځکه چه په ،،ینابیع،، کښې ذکر دی.چه په دې خبره باندې ټینګیدل لازم نه دی.هم دا وجه ده.چه په ،،مبسوط،،کښې داقید ذکر نه دې.او علامه فخرالاسلام بزدوي﷫ فرمائي.چه په دې خبره باندې ټینګ پاتې کیدل د نسب د ثبوت دپاره شرط دی.د آزادئ دپاره شرط نه دی.نوکه د (هذا ابني) نه روسته نې دا اووئیل.چه ما غلط وئیلي وو.یا ماته وهم شوې وو.نودا مملوك به بیا هم آزاد وی.او دده تصدیق به نشي کولې.

توضیح صاحب الهدایة صاحب دهدایه﷫ په هدایه کښې فرمائي.چه ددې مسئلې نه مراد دادې.چه کوم کس ته نې خوئ اووئیل.چه دده عمر دومره قدرې وی.چه د مولا نه نې پیدا کیدل ممکن وی.اوکه غلام داسې وی.چه د مولا نه نشي پیدا کیدلې.مثلاً د مولا عمرشل کاله وی.اود غلام عمرپنځیشت کاله وی.نودا مسئله روسته راتلونکې ده.لږ شان انتظار اوکړئ.

غلام له په مولا وئیلو سره د آزادئ ثبوت

وَلَوْقَالَ هٰذَا مَوْلَايَ اوکه (مالك) اووئیل.د زما مولا دې. اَوْيَامَوْلَايَ یا نې اووئیل.چه اې مولا عَتَقَ نودا به آزاد وی

تشریح صورت د مسئلې دادې.که مولا خپل غلام طرف ته اشاره اوکړه.او وې وئیل.چه (هذا مولای) یانې ورته آواز اوکړلو.چه (یامولای) نو د نیت نه بغیر به غلام آزاد وی.

دلیل الصورة الاولی نود اول یعنی د (هذا مولای) وئیلو په صورت کښې دلیل دادې.چه لفظ د مولی اګرچه په ډیرو معانوکښې مشترك دې.

معاني المولی ① ځکه چه لفظ د مولا د ناصر(مددګار) په معنی کښې هم راځي. ② اود تره د خوی په معنی کښې هم مستعمل دې.③ اود دیني موالاتو په معنی کښې هم استعمال شوې دې.د موالات صورت دادې.چه آزاد عاقل بالغ مسلمان یو اجنبي کس ته اووائي. ته زما مولا نې.که زه مړشوم.نو ته

به زما وارث ئې.او كه زه جنايت اوكړم.نو ته به زما عاقله ئې.او زما د طرفه به تاوان وركوې.دويم اوونيل. (فهلت) نودا قبلونكې به دده مولا وى.كه دې مړشو.نو وارث به وى.او كه دې څه جنايت اوكړې.نو تاوان به وركوى.او لفظ د مولا د مُعتق يعنى د آزادولو په معنى كېښې هم مستعمل دې.اود مُعتَق يعنى د آزاد كړې شوى په معنى كېښې هم راځى.

المراد هيهنا خو دلته كېښې صرف د (أسفل في العتاقه) يعنى د آزاد كړې شوى غلام معنى متعين ده.نود مولا لفظ آزاد شوى غلام سره د اسم خاص پشان شو.پاتې شوه داخبره چه لفظ د مولا آزاد شوى غلام سره ولې خاص دې؟

وجوه عدم مراد معاني الاخرى نو ددې وجه داده.چه دلته كېښې د مولا نه د ناصر اومددګار معنى نشى مراد كيدلې.ځكه چه مولا عام طورخپل مملوك نه مدد نه طلب كوى.او چونكه دغلام نسب معلوم او مشهور دې.په دې وجه د مولا لفظ دلته كېښې د تره د خوى په معنى باندې محمول كول هم صحيح نه دى.او دينى موالات مجازى معنى ده.ځكه چه مولا د ،،ولى،، نه مشتق دې.چه ددې معنى د نيزدې كيدلو ده.اوهغه سړى چه په دوى كېښې يوكس د مشرق اوسيدونكې دې.اوبل د مغرب اوسيدونكې دې.په دوى كېښې هيڅ نيزديكت نشته.نه حقيقتاً نيزديكت شته.اونه د نسب په اعتبارسره،او نه د مكان په اعتبار سره قرب شته.نو دينى قرب متعين شو.حاصل داچه دينى موالا مجازى دى.حالاتكه دلته كېښې خبره په حقيقى معنى كېښې ده.په دې وجه دا معنى هم مراد نشى اخستلې كيدلې.اوچونكه دې كس غلام ته مولا وئيلى دى.په دې وجه د آزاديدلو په معنى كېښې هم نشى كيدلې. ځكه چه ،، نسبت الى العبد،، دده د معتق كيدلو منافى دى.نو هركله چه په دې كېښې يوه معنى هم مراد نه ده.نود آزاد كړې شوى معنى متعين شوه.او لفظ د مولا د آزاد شوى غلام په معنى كېښې د صريح پشان دې.او صريحى لفظ د نيت محتاج نه وى.په دې وجه د (هذا مولاى) په كلام سره د نيت نه بغير غلام آزاديږى.

خپل غلام تا رور يا څوى وئيل

ولوقال اوكه مولا اوونيل **ياابني** اى زما خويه **اوياأخي** يا اىٰ زما روره، **لم يعتق** نودا به آزاد نه وى

تعريح مسئله داده.كه مولا خپل مملوك ته اوونيل،،يا ابنى،،يا ئې اوونيل ،،يا اخي،،نودا مملوك به نه آزاديږى.او وراندې تيرشو.چه مالك كه خپل غلام ته په ،،ياحر،، وئيلو سره آواز اوكړلو.نودا غلام به آزاد وى.وجه د فرق داده.چه آواز كول هركله په يوداسې وصف سره وى.چه ددې ثابتول د رابلونكى د طرفه ممكن وى.(نو په منادى كېښې به هم دا وصف ثابت ګرځولې شى.يعنى دا به وئيلې شى.چه رابلونكى په منادى كېښې دا وصف ثابت كړې دې. چه منادى هم په دې خاص وصف سره خپلې مخې ته حاضركړى)، مثلاً وې وئيل چه ياحر، يعنى اىٰ آزاد.نو حريت (آزادى) يوداسې وصف دې.چه ددې ثابتول د رابلونكى د طرفه ممكن دى.نودا به وئيلى شى.چه مولا په منادى يعنى په غلام كېښې د حريت وصف ثابت كړې دې .چه دا غلام په دې خاص وصف سره د مولا مخې ته حاضرشى.او ددې مسئلې پوره تحقيق په تيره شوې مسئله كېښې بيان شوې دې.

القاعدة او هركله چه آواز كول په داسې وصف سره وى.چه ددې ثابتول د رابلونكى د طرفه ناممكن وى.نودا آواز كول به صرف د منادى خبرولو دپاره وى.او په منادى كېښې دا وصف ثابتول مقصود نه وى.ځكه چه دا وصف ثابتول ممكن نه دى.او په ذكرشوې مسئله كېښې خوې كيدل داسې وصف دې.چه د رابلونكى په حالت كېښې د رابلونكى دطرفه نشى ثابتيدلې.ځكه كه دې دغير د نطفه نه پيدا

شوې وي.نودا غلام ددې رابلونکی په رابللوسره خوې نشی کیدلې.نودا رابلل به صرف د خبرورکولو دپاره وي.داحکم د ظاهرالروایت مطابق دې.

روایة عن ابي حنیفة اود امام ابوحنیفه رحمه الله نه د حسن رحمه الله په واسطې سره یو شاذ روایت دا دې.چه په دواړه صورتونو (یعنی په یا بني،او په ، یا اخي) کښې دې آزاد یږی.

حاصل دا چه د نداء په ذریعه آزادی په دریې لفظونوسره واقع کیږی.یعنی په یاحر، یا عتیق، او په یامولای سره.هم دا ظاهرالروایت دې.اود حسن په روایت کښې په پنځه لفظونوسره د نداء په ذریعه آزادي واقع کیږی.ذکر شوی دریې لفظونه، او په یا ابنی، او یا اخی سره.خو اعتماد په ظاهرالروایة دې.والله اعلم بالصواب

.....

منز غلام ته خوی وئیلو سره آوازشول

وَإِنْ قَالَ لِغُلَامٍ اوکه داسې غلام ته ئې اووئیل **لَايُولَدُمِثْلُهُ لِمِثْلِهِ** چه دده مثل دده نه نشی پیدا کیدې **هٰذَا ابْنِي** چه دا زما خوې دې **عَتَقَ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ** نود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز به آزاد وی

تعریح مسئله داده.که مولا خپل غلام ته اووئیل.،،هذا ابنی،، په داسې حال کښې چه دا غلام دده نه په عمر کښې زیات وی.یعنی دداسې قسمه غلام دداسې عمر والا مولا نه پیدا کیدل ناممکن وی.نو په دې صورت کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دا غلام آزادیږی.

دلائله ① دلیل دادې.چه دا کلام اگرچه د خپلې حقیقی معنی (بنوت) په اعتبار سره محال دې.خود مجازی معنی (حریت) په اعتبار سره صحیح دې.ځکه چه مولا ددې خبرې خبر ورکړې دې.چه کله زه ددې غلام مالك شوې یم.دا آزاد دې.او دا په دې وجه دې.چه د مملوك خوې کیدل، دده د آزادئ سبب دې.یعنی د مملوك دپاره د خوی کیدلو ثبوت هغه وخت کیدلې شی.کله چه دې آزاد وی.حاصل داچه خوې کیدل د آزادئ سبب دې.یا خود اجماع د دلیل په وجه،او یا د قرابت د صله په وجه.په دې وجه بنوت (خوې کیدل) صله رحمی واجب کوی.او آزادې ددې صله ده.نو بنوت آزادی واجب کوی.نو دلته کښې سبب یعنی بنوت وئیلې شوې دې.او مسبب یعنی آزادې ترې مراد اخستې شوې ده.او سبب وئیل، او مسبب مراد اخستل مجاز دې.په دې وجه داکلام د خپلې مجازی معنی په اعتبار سره صحیح دې.② دویم دلیل دادې.چه په مملوك کښې د خوی کیدلو دپاره آزادی لازم ده. ځکه چه خوې د خپل پلار مملوك نشی کیدلې.نو خوې کیدل ملزوم، او آزادی ددې لازم شو.او په لازم وصف سره تشبیه ورکول هم یوقسم مجاز دې.نوکلام د لغو کولو نه د بچ کولو دپاره په مجازی معنی باندې محمول کولې شی.یعنی په ملزوم ،،هذا ابنی،، سره به ددې لازم یعنی ،،هذا حر،، مراد اخستلې شی.

وَعِنْدَهُمَا لَايُعْتَقُ اود صاحبینو رحمهما الله په نیز نه آزادیږی

تعریح **مسلك الصاحبین** په مذکوره مسئله کښې د صاحبینو په نیز غلام نه آزادیږی.

دلیلهما د صاحبینو دلیل دادې.چه ددې کلام په حقیقی معنی باندې محمول کول محال دی.نودا کلام به مردود او لغو وی.لکه داسې وئیل.چه زما د پیدا کیدلو نه وړاندې ته ما آزادکړې وې.نودا کلام لغو دې.دغه شان د خپل ځان نه زیات عمر والا غلام ته ،،هذا ابنی،، وئیل هم لغو دی.باقې شو دا اعتراض چه دا کلام که په حقیقی معنی، یعنی په ،،بنوت،، باندې محمول کول محال دی.نو په مجازی معنی یعنی په حریت باندې دې محمول کړې شی.او ښکاره خبره ده.چه په دې صورت کښې هم

غلام آزادیږی؟ جواب دادې.که په حقیقی معنی باندې عمل کول محال وی.نو مجازی معنی هم نه ثابتیږی.ځکه مجاز د حقیقت خلیفه دی.نو هرکله چه په اصل یعنی په حقیقت باندې حکم لګول ممکن نه دی.نو په خلیفه باندې به هم حکم لګول ممکن نه وی.او هرکله چه حقیقت او مجاز دواړه ممکن الحکم نه دی.نودا کلام به لغو وی.او ښکاره ده.چه د کلام لغو کولو په صورت کښې آزادی نه واقع کیږی.

الجواب عنه دا صورت (أعتقتك قبل أن أخلق يا قبل أن تخلق) دا په شهادت کښې پیش کول درست نه دی.ځکه چه د پیدا کیدلونه وړاندې آزادی ممکن نه ده.په دې وجه دې کلام کښې د مجاز هیڅ وجه نشته.نودا کلام لغو دې.اود استشهاد قابل نه دې.

په کنائی الفاظو سره د آزادولو نیت کول

وَإِنْ قَالَ لِأَمَتِهِ اوکه مالك خپلې وینځې ته اووئیل أَنْتِ طَالِقٌ چه ته طالقه ئې أَوْبَائِنٌ یا بائنه ئې وَنَوَى بِهِ الْعِتْقَ او په دې سره ئې د آزادولو نیت اوکړو لَمْ تُعْتَقْ نودا به نه آزادیږی

تشریح مسئله داده.که مولا خپلې وینځې ته اووئیل.،،انت طالق،،یا ،،انت بائن،، او په دې سره ئې د آزادولو نیت اوکړلو.نودا وینځه نه آزادیږی. (۱)

دلائله ① دلیل دادې.چه مولا په ،،انت طالق،،یا ،،بائن،،یا د طلاق په نورو الفاظوسره داسې معنی مراد واخستله.چه دا الفاظ ددې معنی احتمال نه لری.یعنی د طلاق او اعتاق په مینځ کښې هیڅ مناسبت نشته.ځکه چه په لغت کښې د اعتاق معنی قوت ورکول دی.اود طلاق معنی د نکاح قید ختمول دی.اود اعتاق معنی د ،،قوت ثبوت،، ځکه ده.چه کوم کس مملوك او غلام شی.دې په منزله د جماداتو شی.اود آزادیدلوپه وجه ژوندې کیږی.او طاقت او قوت پیدا کیږی.اود منکوحه ښځې دا حال نه دې.ځکه چه دا په هرتصرف باندې قادره وی.خود نکاح قید دا د تصرف کولو نه منع کوی.نوهرکله چه ئې دې ته طلاق ورکړو.نودا مانع ختم شو.اود مانع په ختمیدلو سره ددې قوت ښکاره کیږی.اودا خبره ،،اظهر من الشمس،، ده.چه اعتاق اقوی دې.او طلاق ادنی دې.او قاعده ده.چه ادنی د اعلی دپاره مستعارنشی اخستلې.په دې وجه د طلاق لفظ مجازا د آزادیدلو په معنی کښې نه استعمالیږی.② دویم دلیل دا دې.چه ملك رقبه په نسبت د ملك نکاح زیات وی.ځکه چه ملك یمین ملك نکاح ته مستلزم وی.خوملك د نکاح ملك یمین ته مستلزم نه وی.نوهرکله چه ملك یمین اقوی دې.نو ددې ساقطول به هم اقوی وی.ځکه چه کوم څیز اقوی وی.د هغې اسقاط هم اقوی وی.اولفظ د خپل حقیقت نه د کمتر دپاره مجاز وی.خود خپل حقیقت نه د زیات دپاره مجاز نه وی.نو ثابته شوه.چه په مختلف فیه مسئله کښې په ،،انت طالق ،، وئیلو سره مجازاً آزادی مراد نشی اخستلې.البته ددې په عکس جائز دې. یعنی ښځې ته ،،انت حرة،، وئیلو سره مجازاً طلاق مراد اخستلې شی.والله اعلم بالصواب

---

[1] ، **مسلك الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.که نیت اوکړی.نو آزادیږی.هم دا اختلاف د طلاق په ټولو الفاظوکښې دې.که صریح وی.او که کنائی وی.لکه چه شافعی مشائخو رحمهم الله بیان کړی دی.مثلاً خپلې وینځې ته اووائی. (انت مطلقة، طلقتك، انت طلقی، اطلقی، انت بریة، انت علیة) وغیره.د امام احمد رحمه الله نه دوه روایتونه دی.په یو کښې د احنافو رحمهم الله سره دې.او په یو کښې د شوافعو رحمهم الله سره دې.

د آزادۍ مشابه کولوسره د آزادۍ نیت کول

وَإِذَاقَالَ لِعَبْدِهِ او كه خپل غلام ته ني اووئيل أَنْتَ مِثْلُ الْحُرِّ چه ته د آزاد مثل ني لَمْ يُعْتَقْ نو آزاد به نه وي

تشریح﴿ صورت د مسئلي دادي.كه مولا خپل غلام ته اووئيل.، ،انت مثل الحر، ، نو غلام نه آزاديږي.

دلیله﴿ دليل دادي.چه لفظ د ، ،مثل، ، په عرف عام كښي په بعض اوصافو كښي مشترك كيدلو دپاره راځي.نو معلومه نه ده.چه غلام آزاد سره په كوم وصف كښي تشبيه وركړې شوي ده.په دي وجه په آزاديدلو كښي شك شو .اود شك په وجه آزادي نه واقع كيږي.په دي وجه دي كلام سره غلام نه آزاديږي.كه د آزادولو نيت ني كړي وي.او كه نه ني وي كړي.او په مبسوط كښي ذكر دي.كه نيت ني نه وي كړي.بيا خو نه آزاديږي.خو كه د آزاديدلو نيت ني كړي وي.نو غلام آزاديږي.څكه چه د آزادي نه واقع كيدل د شك په وجه وو.خوچه كله ني د آزاديدلو نيت اوكړلو.نو شك ختم شو.

وَلَوْقَالَ: مَا أَنْتَ إِلَّا حُرٌّ عَتَقَ اوكه وي وئيل.ته نه ني مگر آزاد ،نودا به آزاد وي

تشریح﴿ او كه مولا خپل غلام ته اووئيل.، ، ما انت الا حر، ،نو غلام آزاديږي.

دلیله﴿ څكه چه د نفي نه استثناء كول د تاكيد په طور اثبات وي.لكه څنګه چه په كلمه شهادت (لاإله إلا الله) كښي دي.يعنې د (لاإله إلا الله) معنى داده.چه د ، ،الوهيت، ، والا دي.دغه شان د ، ، ما انت الا حر، ،معنى ده.چه ته ضرور آزاد ني.او كه مولا اووئيل.، ،راسك راس، ، د جر په اضافت سره.نودا نه آزاديږي.څكه چه د حرف تشبيه په حذف كولوسره دا تشبيه ده.اصل عبارت داسي وو.، ، راسك كراس، ،او په رومبئ مسئله كښي به هم نه آزاديږي

د ذي رحم محرم مالك كيدلو سره آزادي

وَإِذَامَلَكَ الرَّجُلُ ذَارَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ عَتَقَ عَلَيْهِ اوكله چي يوكس چه دخپل ذى رحم محرم مالك شو عَتَقَ عَلَيْهِ نوهغه په ده باندي آزاديږي

تشریح﴿ مصنف رحمه الله وړاندي اعتاق اختياري بيان كړلو.اوس .هغه اعتاق بيانوي.چه بغير د اختياره ثابتيږي.لكه مثلاً څوك قرابتي اخستل، او هغه غلام چه مسلمان شي.اود دارحرب نه داراسلام ته راشي. قدوري مسئله بيان كړله.چه څوك د خپل ذى رحم محرم مالك شي.نودا ذى رحم محرم په ده باندي آزاديږي.

دلائله﴿ ① د قدوري داعبارت د نبى كريم ﷺ نه نقل دي.د نبى كريم ﷺ ارشاد دي. (من ملك ذا رحم محرم منه فهو حر) (۱) قدوري چه د حديث كوم الفاظ ذكر كړي دي.دا امام نسائي رحمه الله د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت كړي دي.اود (فهو حر) په الفاظوسره چه كوم حديث علامه مرغيناني رحمه الله ذكر كړي دي.دا اصحاب د سنن اربعه د حضرت سمره رضي الله عنه نه روايت كړي دي.په حديث كښي دوه لفظونه ، ،رحم او محرم، ، قابل ذكر دي.رحم په حقيقت كښي د مور په خيټه كښي د بچي دپاره ظرف (لوخي) وي.بيا د ولادت د قرابت او تعلق په وجه ددي نوم رحم كيخودلي شو.او ذوالرحم هم ددي څني دي.اومحرم دادي.كه يو سړي وي.او بله ښځه وي.نو په دوي كښي نكاح جائز نه وي.(عنايه ص ۱۲)

---

۱) من حديث ابن عمر رضي الله عنه اخرجه النسائي في السنن الكبرى (۳\۱۷۳) رقم ۴۸۹۷۶_

الاستدلال د حديث الفاظ عام دي.دا هرهغه قرابت دار ته شامل دي.چه دې سره دائمي حرمت وي.كه د ولادت په طريقه وي.او كه د ولادت د طريقې نه بغير وي.د ولادت په صورت كښې دادې.چه خوې يا لور، د خپل موريلار يا د نيا نيكه مالكان شو.يا دا خلقه د خپل خوي، لور يا د نمسو مالكان شو.اود ولادت نه غير صورت دادې.چه سرې د خپل رور خور يا ددوى د اولاد مالك شي.يا ددې په عكس وي.

② دويم دليل دادې.چه كله داكس د خپل قرابت دار مالك شو.دكوم كس قرابت چه په دائمي حرمت كښې موثر وي.نودا په ده باندې آزاديږي.او په اصل يعني د ولادت په قرابت كښې د محرميت قرابت موثر دې.اود ولادت هيڅ اثر نشته.حاصل داچه شارع ﷺ د هغه قرابت اعتبار كړې دې.كوم چه په دائمي حرمت كښې موثر وي.فرمائي.چه په (من ملك ذا رحم محرم منه عتق عليه)كښې د رحم نه مراد قرابت،اود محرم نه مراد حرمت د نكاح دې.لكه چه نبي كريم ﷺ اوفرمائيل.چه كوم كس د داسې قريب مالك شو.د كوم كس سره چه نكاح دائمي طور باندې حرام ده.نودا په ده باندې آزاديږي.كه د ولادت تعلق اوموندې شي.او كه اونه اوموندې شي.نو ثابته شوه.چه د ولادت په قرابت كښې هم د آزادئ په ثابتولوكښې د قريب محرم مالك كيدل موثر دى.او په آزادى واقع كيدلوكښې د ولادت قرابت هيڅ دخل نشته.ځكه چه د محرميت قرابت يو داسې څيز دې.چه ددې وصل (جوړ ساتل) فرض دى.او ددې قطع (پريكول) حرام ده.ترديې چه د قريب محرم نفقه واجب ده.او دې سره نكاح حرام ده.

د غلام بعض حصه آزادول

وَإِذَا أَعْتَقَ الْمَوْلَى بَعْضَ عَبْدِهِ اوكه مولا د خپل غلام څه حصه آزاده كړله عَتَقَ ذٰلِكَ الْبَعْضُ وَيَسْعَى فِي بَقِيَّةِ قِيمَتِهِ لِمَوْلَاهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به هم دومره حصه آزاده وي.اود باقي قيمت به مزدوري كوي.او خپل مولا ته به ئې وركوي

تشريح صورت د مسئلې دادې.كه مولا د خپل غلام څه حصه آزاده كړله.نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز هم دومره قدرې حصه آزاديږي.اود باقي حصې قيمت دپاره به مزدوري كوي.اومولا ته به وركوي. او صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه پوره غلام آزاديږي.اود اختلاف بنيادى وجه دادة.چه د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز باندې اعتاق ټكړې كيدلې شي.نو مولا چه څومره قدرې حصه آزاده كړله.هم دومره قدرې به آزديږي.

دليله د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه د اعتاق معنې د ملك لرې كولو په ذريعه عتق ثابتول دي.يا اعتاق ددې ملك لرې كولو نوم دې.ځكه چه ملك د آزادونكي حق دې.او رقيت د شريعت حق دې.ځكه چه كافركله د ،،عبدالله،، يعنى د الله تعالى د غلام كيدلو نه انكار اوكړو.نو الله تعالى ده ته په دې طريقه بدله وركړله.چه د خپل بنده غلام ئې جوړكړو.رقيت د عامو خلقو حق دې.ځكه چه مجاهدين ځنګه د رقيق نه علاوه سامان تقسيموي.دغه شان به رقيق هم تقسيموي.اود تصرف حكم هم دومره وي.څومره چه د تصرف كونكى په قابو او قدرت كښې وي.او هغه دادې.چه خپل حق لرې كړي.د غيرحق لرې نكړي.يعني مولا صرف ملك لرې كولې شي.رقيت نشي لرې كولې.او ملك تجزى (ټكړې) دې.نو اعتاق به هم متجزى وي.او خبره په اصل كښې داده.چه تصرف دومره حده پورې وي.څومره پورې چه ددې نسبت كړې شوې وي.او ددې حد نه علاوه طرف ته تجاوز كول په دې ضرورت سره كيدلې شي.چه ددې تجزى اونكړې شي.او دلته كښې چه كوم ملك د مولا حق دې.ددې تجزى كيدلې شي.لكه ځنګه چه په بيع او هبه كښې ښكاره ده.يعنى مثلاً نيم غلام ئې خرڅ كړلو.يا ئې هبه كړلو.نو بالاتفاق جائز دى.نود اعتاق تصرف به هم خپل اصل باندې باقي پاتې وي.يعني كه نيم ئې آزاد كړو.نوجائز دې.هم نيم به آزاد وي.

وقالا: يَعْتِقُ كُلُّهُ او صاحبينو رحمهما الله فرمائيلي دي.چه پوره غلام به آزادولې شي

تشريح> مسلک الصاحبين> د صاحبينو رحمهما الله په نيز باندې اعتاق نه تکرې کيږي. او د کوم څيزچه تکرې نه کيږي.دا يوې حصې اوجزء طرف ته منسوب کول داسې دی.لکه کل طرف ته منسوب کول .نو اعتاق د غلام يوې حصې طرف ته منسوب کول، کل طرف ته منسوب کول شو.په دې وجه دې صورت کښې پوره غلام آزاديږي.

اصل الاختلاف> د امام صاحب اود صاحبينو رحمهم الله په مينځ کښې د اختلاف حاصل دادې.چه نيم غلام آزاد کړې شو.نو رقيت به د پوره غلام نه زائل کيږي.او که نه؟ نود امام صاحب رحمه الله په نيز به رقيت نه زائل کيږي.بلکه پوره غلام به رقيق وی.البته د آزادئ په مقدار سره به د غلام نه د مولا ملك زائل شي.اود صاحبينو رحمهما الله په نيز د پوره غلام نه رقيت زائل کيږي.

دليلهما> دصاحبينو دليل دادې. چه د اعتاق معنى عتق ثابتول دی.او عتق د قوت حکميه نوم دې.يعنى د شريعت په حکم کښې ده ته د تصرفاتو قوت حاصليږي.حاصل داچه اعتاق د قوت حکميه ثابتولونوم دې.او ددې قوت ثابتول داسې کيږي.چه کوم څيز ددې ضد دې.هغه لرې کړې شي.او ددې ضد رقيت دې.يعنى مملوکيت،چه دا حکمى کمزورى ده.او ددې دواړو څيزونو يعنى د قوت حکمى (عتق) اود ضعف حکمى (رقيت) تکرې نشي کيدلې.په دې وجه د اعتاق تکرې هم نشي کيدلې.نو اعتاق په عدم تجزى کښې ميده شوې دې.لکه طلاق ورکول،قصاص معاف کول، ام ولد جوړول، مثلاً دا نشي کيدلې. چه نيمې ښځې ته طلاق ورکړې شي.او نيمې ته ورنکړې شي.او نيم قصاص معاف کړی.او نيم نه.دغه شان دا نشي کيدلې. چه نيمه وينځه ام ولد جوړه کړې شي.او نيمه نه.نو لکه څنګه چه په دې کښې بالاتفاق يو هم نشي تکرې کيدلې.دغه شان د اعتاق هم تکرې نشي کيدلې.

وجوب السعي على العبد> په غلام باندې د باقى حصې دپاره مزدورى واجب کيدل، نودا څکه دی.چه د باقى تکرې ماليت دې غلام سره بند دې.نو دده نه به وصولولې شي.او په کوم غلام چه مزدورى کول، او ددې اداکولو واجب دی.دا د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د مکاتب پشان دې.

دليله> څکه چه کله د اعتاق نسبت د غلام يوجزء طرف ته اوشو.نو په دې اعتبار سره دا لازم شو.چه په پوره غلام کښې ده ته ملکيت حاصل وی.يعنى چه غلام د خپل پوره ذات مالك شي.څکه چه عتق نه متجزى کيږي.اود مولا ملك په يوه حصه کښې باقى پاتې کيدل د رقيت په اعتبار سره ددې خبرې تقاضاکوی.چه دې د پوره ذات مالك نه وی.څکه چه رقيت هم نه متجزى کيږي.حاصل داچه دلته کښې دوه خبرې جمع شوې.يودا چه غلام د خپل پوره ذات مالك وی.دويم داچه د غلام په پوره ذات کښې د مولا ملك باقى پاتې وی.او چونکه په دواړه دليلونو باندې عمل کول ممکن دی.په دې وجه مونږ په دواړه دليلونو باندې عمل اوکړو.اودا غلام مو مکاتب اوګرځولو.څکه چه مکاتب يداً مالك وی.او رقبةً مملوك وی.نو هم دغه شان به دې هم د خپلې ګټې مالك وی.اود خپل ذات مالك به نه وی.

په شريکانوکښې د يوکس خپله حصه آزادول

وَإِذَا كَانَ الْعَبْدُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ او که يوغلام په دوه شريکانوکښې (مشترك) وو **فَأَعْتَقَ أَحَدُهُمَا نَصِيبَهُ** نو په دې دواړو کښې يوکس خپله حصه آزاده کړله **عَتَقَ** نو دده حصه به آزاده وی **فَإِنْ كَانَ مُوسِرًا** بيا که آزادونکې سړې مالدار وی **فَشَرِيكُهُ بِالْخِيَارِ** نو دده شريك ته اختيار دې **إِنْ شَاءَ أَعْتَقَ** که غواړی نو خپله حصه دې هم آزاده کړی **وَإِنْ شَاءَ** او که غواړی **ضَمَّنَ شَرِيكَهُ قِيمَةَ نَصِيبِهِ** د خپل شريك آزادونکی نه د خپلې حصې قيمت، تاوان واخلی. **وَإِنْ شَاءَ اسْتَسْعَى الْعَبْدَ** او که

غواړي.په غلام دې مزدوري اوکړي.(او وصول کړي وَإِنْ كَانَ الْمُعْتِقُ مُعْسِرًا اوکه آزادونکې غريب وي فَالشَّرِيكُ بِالْخِيَارِ نو شريك ته هم دا اختيار دې إِنْ شَاءَ أَعْتَقَ که غواړي.نو خپله حصه آزاده کړي وَإِنْ شَاءَ اسْتَسْعَى الْعَبْدَ اوکه غواړي.په غلام باندې مزدوري اوکړي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ اودا د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دی . وَقَالَ: ابويوسف ومحمد لَيْسَ لَهُ إِلَّا الضَّمَانُ مَعَ الْيَسَارِ او صاحبين رحمهما الله فرمائي چه شريك ته صرف دا اختيار دې وَالسِّعَايَةُ مَعَ الْإِعْسَارِ که (آزادونکې)مالدار وي.نو دده نه تاوان واخلي

حل اللغة ﴿ ① **المعسر**:غريب ② **الموسر**: مالدار ③ **استسعي**: مزدوري اوکړه ④ **الاعسار**:تاواني کول]

تشريح ﴿ صاحب دهدايه رحمه الله په هدايه کښې فرمائي.چه دا مسئله يعنې د آزادونکي خپل شريك ته ضمان اداکولو نه پس د غلام نه واپس اخستل يا نه اخستل، په دوه اصولو باندې مبني دی.

الاصل الاول ﴿ رومبې اصل دادې.چه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز اعتاق ټکړې کيږي.اود صاحبينو رحمهما الله په نيز اعتاق نه ټکړې کيږي.لکه څنګه چه د باب په شروع کښې بيان کړې شو.

الاصل الثاني ﴿ دويم اصل دادې.چه کله آزادونکې مالداره وي.نو دده مالداري د امام صاحب رحمه الله په نيز د غلام د مزدورئ مانع نه جوړيږي.اود صاحبينو رحمهما الله په نيز مانع دې.د رومبي اصل دلائل وړاندې تيرشوي دی.

دليلها في الاصل الثاني ﴿ په دويم اصل کښې د صاحبينو رحمهما الله د دليل حاصل دادې.چه په دې مسئله کښې د قياس مقتضی په دوه امورو کښې يو دې.يودا چه آزادونکې مالداره وي.او که غريب وي.په دواړه صورتونو کښې په آزادونکي باندې د خپل شريك دپاره ضمان واجب وي.څکه چه ده د خپلې حصې آزادولو په وجه د خپل شريك حصه خرابه کړله.څکه چه دده دپاره خپل ملك باقي ساتل او پخپله حصه کښې تصرف کول متعذر دی.اود افساد ضمان د مالدارئ او غريبئ په وجه نه مختلف کيږي.

دويم امر دادې.چه په آزادونکي باندې بالکل ضمان واجب نه وي.څکه چه آزادونکې په خپله حصه کښې تصرف کړې دې.او په خپله حصه کښې تصرف کونکې نه متعدی وي.اونه په ده باندې ضمان واجبيږي.اګرچه دده د تصرف ضرر د بل ملك ته متجاوز شي.لکه مثلاً يوکس په خپله زمکه کښې د فصل کټ کولو نه پس باقي پاتې ګيا ،بهوس وغيره اوسوزول.خو په دې سره د ګاوندي په ملك کښې هم څه لږشان اوسوزيدل.نو په ده به د ګاوندي دپاره څه ضمان واجب نه وي.دا دواړه قياسونه چونکه متضاد دی.په دې وجه صاحبينو رحمهما الله دا دواړه پريخودل.او په هغه حديث باندې ئې عمل اوکړو.کوم چه ائمه صحاح سته د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت کړې دې.يعنې نبي کريم صلى الله عليه وسلم دداسې کس په حق کښې(څوك چه خپله حصه آزاده کړي) ارشاد اوفرمائيلو. إن كان غنيا وإن كان فقيرا سعى في حصة الآخر الحديث)[1]

(دا آزادونکې مالداره وي.نود خپل شريکوال د حصې به ضامن وي.اوکه فقير وي.نود شريك دحصې دپاره به غلام مزدوري کوي،په دې حديث کښې د الله تعالی پاك رسول صلى الله عليه وسلم تقسيم اوفرمائيلو .او تقسيم د شرکت منافي دې.يعنې که آزادونکې مالداره وي.نو صرف دې به ضامن وي.او په غلام

١) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه اخرجه البخاري في الشركة باب ٥ ومسلم في العتق رقم ٣ وابوداود في العتق باب ٥ رقم ٣٩٣٧ والترمذي في الأحكام باب ١٤ وابن ماجه في العتق باب ٧ رقم ٢٥٢٧ واحمد في المسند(٢\٢٥٥)۔

باندي ئې سعایه یعنی مزدوري مقررنکره.اوکه دې فقیر وي.نو صرف په غلام باندې مزدوري ده.نو ددې نه معلومه شوه.چه د آزادونکي مالداره کیدل د غلام د مزدورئ نه مانع دي.(عنایه)

دلیله في الاصل الثاني د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه د شریك د حصې مالیت دې غلام سره بند شو.نوشریك ته اختیار دې.چه دده نه د خپل مال ضمان واخلي.یعني په غلام باندې مزدوري اوکړي.اودا داسې ده. لکه مثلاً یوکس کپړې هوا یوسي.اود بل کس د رنګګ په کړي (بالټی) کښې ئې واچوي.او کپړې رنګینې شي.یعنی کپړې رنګ رابنکي، اوجذب ئې کړي.نود کپړې په مالك باندې واجب دی.چه د رنګریز د رنګ قیمت اداکړي.که د کپړو والا مالداره وي.او که غریب وي.ځکه چه د کپړو والا سره دده رنګ بند شوي دې.نوهغه له تاوان اخستل جائز دی.نودغه شان حکم دلته کښې هم دې.خو دومره فرق دې خبره ده.که غلام بالکل فقیر وي.نودې به په غلام مزدوري کوي.اودا به وصول کوي.

خپل خوئې د بل کس سره شریك اخستل

> **وَإِذَا اشْتَرَى الرَّجُلَانِ** اوکه دواړو سړو(داسې غلام) واخستلو **ابْنَ أَحَدِهِمَا** چه دا په دې دواړوکښې د یوکس خوئې دې **عَتَقَ نَصِيبُ الْأَبِ** نود پلارحصه به آزاده وي

تشریح صورت د مسئلې دادې.چه پلار او یوبل کس ملاؤ شو.او په شریکه ئې خپل خوئې واخستلو. نود پلار حصه به آزاده وي.

دلیله ځکه چه دې د خپل قرابت دار دجزء مالك شو.او قرابتي اخستل آزادول دی.لکه څنګه چه په ،،فصل من ملك ذا رحم محرم،، کښې تیر شو.

> **وَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ** .او په پلار به تاوان واجب نه وي.

تشریح او په پلار به ضمان واجب نه وي.که شریك ته دا پته وي.چه دا زما خوئې دې.اوکه دا پته نه وي.

> **وَكَذَلِكَ إِذَا وَرِثَاهُ** اوهم دغه شان که دې دواړو ته دا غلام په میراث کښې ملاؤ شو **وَالشَّرِيكُ بِالْخِيَارِ** اوشریك ته دا اختیارشته **إِنْ شَاءَ أَعْتَقَ نَصِيبَهُ** که غواړي.نو خپله حصه آزاده کړي **وَإِنْ شَاءَ اسْتَسْعَى الْعَبْدَ** .او که غواړي په غلام باندې مزدوري اوکړي

تشریح او هم دا حکم هغه وخت دې.هرکله چه دې دواړو دا غلام په میراث کښې حاصل کړو.یعنی د پلار حصه به آزاده شي. ددې صورت به دا وي.چه یوې ښځې د خپل خاوند خوئې واخستلو.بیا دا ښځه مړه شوه.او دې خپل خاوند او رور پریخودل.نوددې غلام نصف به د خاوند دپاره وي.او په ده به آزاد وي.بیا د پلار نه علاوه نورو شریکانو ته دا اختیار دې.که غواړي نو خپله حصه دې آزاده کړي.او که غواړي په غلام دې مزدوري کوي.او خپل قیمت دې واخلي.دا د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله قول دې.

دلیله د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه شریك آخر په خپله حصه خرابولو باندې راضي وو.او رضامندئ سره ظلم نه جمع کیږي.نودې د پلار نه تاوان نشي اخستلې.لکه مثلاً یو شریکوال بل شریکوال ته دده د حصې آزادولو صریح اجازت ورکړي.اود شریك آخر د خپلې حصې په خرابولو باندې د رضامندئ دلیل دادې.چه شریك د غلام د پلار سره په داسې څیز کښې شرکت کړې دې. کوم چه د آزادیدلو علت دې.یعنی اخستل.ځکه چه د قریبي رشته دار اخستل آزادول دی.

مسلك الصاحبين صاحبین رحمهما الله فرمائي.چه د میراث په صورت کښې خو هم داحکم دې.خود اخستلو په صورت کښې که پلار مالداره وي.نود خوئې د نیم قیمت به د شریك دپاره ضامن وي.او که پلار غریب وي.نو خوئې به مزدوري کوي.اوخپل نیم قیمت به ادا کوي.اوهم دا اختلاف په دې صورت کښې دې.چه

كله پلار او بل كس ددې غلام د هبه په طور مالكان شي.په دې طريقه چه يو سړى ددې دواړو دپاره دا غلام صدقه كړلو.يا ئې د وصيت په طور مالكان شو.په دې طريقه چه يوسړى ددې دواړو دپاره ددې غلام وصيت اوكړو.

دليلهما صاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه پلار خپل حصه آزاده كړله.نود خپل ملكرى حصه ئې باطله كړله.ځكه چه د قريبي رشته دار اخستل آزادول دى.اودا داسې صورت شو.لكه مثلاً يو غلام د دوه اجنبي كسانو په مينځ كښې مشترك وى.بيا په دې دواړو كښې يوكس خپله حصه آزاده كړى.نو چونكه د صاحبينو رحمهما الله په نيز اعتاق نه متجزى كيږى.په دې وجه كه آزادونكې سړې مالداره وى.نود خپل ملكرى د حصې په ضامن وى.اوكه غريب وى.نو غلام به مزدورى كوى.اوخپل نيم قيمت به ادا كوى.

شريكانو په يو بل باندې د غلام آزادولو اقرار كول

> وَإِذَا شَهِدَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الشَّرِيكَيْنِ عَلَى الْآخَرِ بِالْحُرِّيَّةِ اوكله چې په دوه شريكانو كښې هريو خپل ملكرى باندې (د غلام) آزادولوگواهي وركړله سَعَى الْعَبْدُ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي نَصِيبِهِ نو غلام به په دې دواړوكښې د هر يو دپاره دده په حصه كښې مزدورى كوى مُوسِرَيْنِ كَانَا أَوْ مُعْسِرَيْنِ كه دواړه مالدار وى. اوكه غريبانان وى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ (دا) د ابوحنيفه رحمه الله په نيز دى

تشريح صورت د مسئلې دادې.چه په دواړه شريكانو كښې هر يوكس په بل باندې دا اقرار اوكړى. چه ده غلام آزاد كړې دې.نو په دې صورت كښې په غلام واجب دى.چه د هريوكس د حصې دپاره مزدورى كوى.او ادا ئې كړى.كه دواړه مالداره وى.او كه غريب وى.دا دحضرت امام صاحب رحمه الله مذهب دې.اوهم دا حكم هغه وخت دې.چه كله په دواړو كښې يو مالدار وى.او بل غريب وى.

دليله دليل دادې.چه په دواړه شريكانو كښې د هريو كس دا خيال دې.چه دده دويم شريكوال خپله حصه آزاده كړې ده.نو دده د خيال مطابق دا غلام مكاتب شو.لكه څنګه چه د امام ابوحنيفه رحمه الله قول دې.اوس په ده باندې دا غلام رقيق جوړول حرام شو.نود شريك ګمان اګرچه د دويم شريكوال په حق كښې صحيح نه وى.خو پخپله به دده په حق كښې تصديق كولې شي.په دې وجه به ددې نه منع كولې شي.چه دې خپل دا غلام رقيق جوړ نكړى.بلكه په ده باندې مزدورى اوكړى.ځكه چه مونږ ته دا يقين دې.چه ده ته د مزدورئ كولوحق دې.كه دې په خپل قول كښې رشتونې وى.او كه دروغژن وى.ځكه كه دا سړې په خپل قول كښې رشتونې وى.نو غلام به مكاتب وى.او كه دروغژن وى.نو غلام به مملوك وى.اود مملوك كمائى دده د مولا دپاره وى.نو په دې وجه غلام يا مكاتب دې.يا مملوك دې.بهرحال په دواړه شريكانو كښې هر يو په ده باندې مزدورى كولې شي.

عدم الفرق بين الاعسار واليسار دا حكم دغريبئ اود مالدارئ په وجه نه مختلف كيږى.ځكه چه كوم كس په دويم شريكوال باندې د خپلې حصې آزادولو دعوى كړې ده.په دواړه صورتونوكښې په دوه خبروكښې يوه ده.يعنى د مالدارئ په صورت كښې تاوان اخستل.يا مزدورى كول.

دليله ځكه چه د آزادونكې مالدارى د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز ددې خبرې نه منع كوى.چه په غلام باندې مزدورى اوكړى.او دلته كښې تاوان اخستل هم نامكن دى.ځكه چه دا شريكوال د آزادولو نه منكر دې.بلكه البته مدعى دې.چه دده شريكوال غلام آزاد كړې دې.نو هركله چه تاوان اخستل نامكن شو.نو اوس دويمه خبره پاتې شوه.يعنې هم دا اختيار پاتې شو.چه په غلام باندې مزدورى اوكړى.

> وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ او صاحبين رحمهما الله فرمائى إِنْ كَانَا مُعْسِرَيْنِ . كه دواړه شريكان فقيران وى سَعَى لَهُمَا نو غلام به د دواړو دپاره مزدورى كوى

تشريح> صاحبين فرمائي كه دواړه شريكان غريبانان وي.نو غلام به د دواړو دپاره مزدوري كوي.
دليلهما> ځكه چه هر يو شريكوال په دې غلام باندې د مزدورۍ مدعي دې.كه دې رشتوني وي.او كه دروغژن وي.ځكه چه غلام باندې د مزدورۍ وجوب يقيني دې.ځكه چه آزادونكې غريب دې.

وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا مُوسِرًا وَالْآخَرُ مُعْسِرًا او كه په دې دواړو كښې يومالدار او دويم فقير وي سَعَى لِلْمُوسِرِ نود مالدار دپاره به مزدوري كوي

تشريح> كه په دواړو كښې يو مالداره وي.او بل غريب وي.نو غلام به د مالداره دپاره مزدوري كوي.
دليله> ځكه چه دې په خپل شريكوال باندې دده د غريبۍ په وجه د ضمان دعوى نه كوي. بلكه په غلام باندې د مزدورۍ دعوى كوي.نو غلام به د مزدورۍ كولو نه برى كيږي.

وَلَمْ يَسْعَ لِلْمُعْسِرِ اود فقير شريك دپاره به غلام هم مزدوري نه كوي

تشريح> اود مفلس شريك دپاره به غلام هم مزدوري نه كوي.ځكه چه دې پخپل شريكوال باندې د تاوان دعوى كوي.
دليله> ځكه چه دده شريك مالداره دې.غريب غلام د مزدورۍ كولو نه برى كړې دې.

د الله دپاره غلام آزادول

وَمَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا لِوَجْهِ اللّٰهِ تَعَالٰى اوكوم كس چه خپل غلام د الله تعالى د رضا(حاصلولو دپاره) آزاد كړو أَوْلِلشَّيْطَانِ يا د شيطان دپاره أَوْلِلصَّنَمِ يا د بت دپاره عَتَقَ نو غلام به (په هرصورت كښې) آزاد وي

حل اللغة > [① صنم: بت]

تشريح> مسئله:كوم كس چه خپل غلام د الله دپاره آزاد كړلو.يا ئې د شيطان دپاره، يا ئې د بت دپاره آزاد كړلو.نو په هرصورت كښې غلام آزاديږي.
دليله> دليل دادې.چه ركن د اعتاق يعنى لفظ اعتاق دخپل اهل نه او پخپل محل كښې اوموندې شو.ځكه چه آزادونكې پخپله عاقل، بالغ، اود غلام مالك دې. اوغلام دده مملوك دې.او په رومبى صورت كښې د الله دپاره ونيل ضروري نه دى.بلكه دا يو زياتى څيز دې.نود شيطان يا د بت په صورت كښې ددې نه كيدل څه مضر نه دى.خو په دې دواړه صورتونوكښې به آزادونكې گناهگار وي.اگرچه غلام به آزاد شي.ځكه چه د شيطان اود بت په صورت كښې زيات نه زيات د قرابت اود ثواب نفي كيږي.خود قرابت نفي د آزادۍ نفي ته مستلزم نه ده.

په غلام آزادولو باندې مجبوره كول

وَعِتْقُ الْمُكْرَهِ اوكوم كس چه په غلام آزادولو باندې مجبوره كړې شو وَالسَّكْرَانِ وَاقِعٌ (دده آزادول اود نشې نه د مست سړى آزادول واقع دى

حل اللغة > [① المكره: مجبوره كړې شوې ② السكران: نشته]

تشريح> مسئله داده.چه يوسړې د خپل غلام په آزادولو باندې مجبوره كړې شو.نو ده آزاد كړلو.يا په نشه كښې مست سړى خپل غلام آزاد كړلو.نودا غلام آزاديږي.
دليله> ځكه چه د آزادېدلو ركن هم ددې د اهل يعنى د عاقل بالغ نه صادر شوې دې.اومنسوب شوې هم محل طرف ته دې.ځكه چه دا غلام مملوك دې.لكه څنگه چه دا مسئله په ،،كتاب الطلاق،، كښې په تفصيل سره بيان شوې ده.

آزادي ملکیت طرف ته منسوب کول

وَإِنْ أَضَافَ الْعِتْقَ إِلَى مِلْكٍ أَوْ شَرْطٍ او که یوکس آزادول مالك کیدو طرف ته تمنسوب کړل صَحَّ نو صحیح دی كَمَا يَصِحُّ فِي الطَّلَاقِ لکه څنګه چه په طلاق کښي (صحیح) دی

تشريح مسئله داده.که یوکس آزادي ملکیت طرف ته منسوب کړي.مثلا اووائی. (ان ملكتك فانت حر) ،،که زه ستا مالك شوم نوته آزاد ئې،، یا ئې شرط طرف ته نسبت اوکړي.مثلاً اووائی. (ان دخلت الدار فانت حر) ،،که ته کورته داخل شوې نو ته آزاد ئې،،نودا صحیح ده.لکه څنګه چه طلاق ملك یا شرط طرف ته منسوب کول صحیح دی.اود دې مسئلې تفصیل په کتاب الطلاق کښې تیرشوې دې هلته ئې اوګورئ.

داراسلام ته د غلام راتلل او اسلام راوړل

وَإِذَا خَرَجَ عَبْدُ الْحَرْبِيِّ مِنْ دَارِ الْحَرْبِ او هرکله چه د یوحربی کافرغلام مسلمان شو إِلَيْنَا مُسْلِمًا او زمونږ طرف ته دارالاسلام کښې) راغئ عَتَقَ نودا آزاد شو

تشريح که د حربی کافر غلام مسلمان شي.او داراسلام ته راشي.نو آزاد یږي.

دلائله ① دلیل دادې.چه کوم وخت د طائف غلامان(چه ددوی تعداد ۲۳ وو) مسلمانان شو.اود نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضرشول.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل. (هم عتقاء الله)[1] یعنی دا الله تعالی آزاد کړي دی.

② دویم دلیل دادې.چه دې غلام د اسلام په حالت کښې خپل ځان په داراسلام کښې محفوظ کړې دې.او په ابتداء کښې هیڅ یومسلمان غلام نشي جوړیدلې.په دې وجه به دې آزاد وی.

د حاملې وینځې په آزادولوسره د حمل آزادیدل

وَإِنْ أَعْتَقَ جَارِيَةً حَامِلًا او که یوکس حامله وینځه آزاده کړله عَتَقَتْ وَعَتَقَ حَمْلُهَا نود وینځې تابع به ددې حمل هم آزاد وی.

تشريح مسئله داده.که مالك خپله حامله وینځه آزاده کړله.نوحمل به هم ددې حامله وینځې تابع وی.او آزاد به وی.

دليله ځکه چه دا حمل دوینځې جزء دې.لکه څنګه چه نور اجزاء دی.نولکه څنګه چه د وینځې په آزادولوسره ددې ټول اجزاء او اندامونه آزادیږي.دغه شان ددې حمل هم آزادیږي.

وَإِنْ أَعْتَقَ الْحَمْلَ خَاصَّةً اوکه ده صرف حمل آزاد کړو عَتَقَ نو صرف حمل به آزادیږي ولم تعتق الام او مور نه آزادیږي

تشريح اوکه صرف حمل ئې آزاد کړې وی.نو صرف حمل به آزاد وی.ددې مور یعنی وینځه به نه آزادیږي.

دليله دلیل دا دې.چه د وینځې د آزادولو هیڅ صورت نشته.ځکه چه د وینځې د آزادولو دوه

---

(۱) من حدیث علی رضی الله عنه اخرجه ابوداود فی الجهاد باب ۱۲۶ رقم ۲۷۰۰ والترمذی فی مناقب علی (رضی الله عنه)

صورتونه دي. يو دا چه د وينځې ازادول بالقصد وي. دويم داچه د وينځې ازادول ددې د حمل تابع شي. خودا دواړه صورتونه ممكن نه دي. اول خو په دې وجه چه آزادول د وينځې طرف ته نه دي منسوب شوي. او دويم صورت ځكه ممكن نه دې. چه په دې كښې قلب د موضوع لازميږي. ځكه حمل چه تابع دې. دا به متبوع شي. او ددې مور چه متبوع ده. دا به تابع شي.

وَاِذَا أَعْتَقَ عَبْدَهُ عَلٰى مَالٍ كه يو كس خپل غلام د مال په عوض سره ازاد كړلو **فَقَبِلَ الْعَبْدُ** او غلام دا قبول هم كړلو **عَتَقَ** نو دې به هغه وخت [فى الحال] ازاد وي **فَاِذَا قَبِلَ صَارَ حُرًّا وَلَزِمَهُ الْمَالُ** كله چې ده قبول كړو عتق نو آزاد شو او لازميږي په ده باندې مال

تشريح> كله چه مولى خپل غلام د مال په عوض كښې آزاد كړي. او غلام دا آزادى قبوله كړي. نو آزاد يږي. او په ده باندې مال لازميږي

دليله> ځكه چه دلته معاوضه د مال [چه غلام دې] ده. په هغه څيز كوم چه مال نه دې. ځكه چه د مال په بدله كښې غلام ته آزادي ملاويږي. خو غلام د څه مالك نه دې. چه هغه څيز وركړي او خپل ځان آزاد كړي. حالانكه معاوضه دا تقاضا كوي. چه حكم [د ملكيت] دې هله ثابت شي. چه عوض فى الحال قبض شي. لكه څنګه چه په بيع كښې ملكيت هله ثابتيږي. چه قبضه راشي.

په عوض پورې د آزادۍ تعليق كول

وَلَوْ قَالَ او كه چرته وې ونيل **اِنْ أَدَّيْتَ إِلَيَّ أَلْفًا فَأَنْتَ حُرٌّ صَحَّ** كه تا راكړې ماته زر روپۍ نو ته دې آزاد نې نو دا صحيح ده **وَلَزِمَهُ الْمَالُ** او لازميږي په ده باندې مال **وَصَارَ مَأْذُونًا** او دې ماذون اوګرځيدلو

تشريح> ددې مسئلې دوه اړخونه دي. په ابتداء كښې تعليق د عتاق دې. او په آخر كښې چه دې زر روپۍ وركړي. نو په دې كښې عتق واقع شو خو په معاوضه باندې.

دليله> چونكه الفاظ په تعليق كښې صريحي دي. نو ځكه مونږ وايو. چه دا غلام آزاديږي. چه كله شرط موجود شي. يعنى زر روپۍ وركړي.

د غلام د مال پيش كولو نه پس مولى د مال په قبض كولو باندې مجبوره كول

فَإِنْ أَحْضَرَ الْمَالَ او كه غلام حاضر كړلو مال [مولى ته] **أَجْبَرَ الْحَاكِمُ الْمَوْلٰى عَلٰى قَبْضِهِ** نو مجبوره به نې كړي حاكم په قبض كولو د مال **وَعَتَقَ الْعَبْدُ** او آزاد به شي غلام

حل اللغة> ① **الاجبار**: مجبوره كول

تشريح> (ومعنى الإجبار فيه) په باب د عتق او ټولو حقوق العباد لكه بيع وغيره كښې په قبض كولو باندې د مجبوره كولو مطلب دا دې. چه په كوم څيز عقد منعقد شوې وي. هغه قابض ته په داسې حالت كښې پريږدي. كه هغه نې قبض كول اواخستل غواړي. نو څه ممانعت او ركاوټ په كښې نه وي. مثلاً زيد په عمرو باندې په سل روپۍ كتاب خرڅ كړلو. او عمرو ورته په دوكان كښې سل روپۍ كيخودلې. او روان شو . نو دا دده په دوكان كښې سل روپۍ پريخودل تخليه ده. ځكه چه عمرو د خپل دوكان نه د دغه سل روپۍ بغير د څه ركاوټ نه اخستلې شي. البته دا ضروري ده. چه تخليه به هله معتبره وي. چه كوم بدل ورته وركوي. هغه صحيح وي. او كه هغه شان نه وي څنګه چه د فريقينو په مينځ كښې په عقد كښې ذكر شوې وي. نو بيا صرف تخليه قبض نشي تصور كولې. مثلا په ذكر شوي مثال زيد عمرو ته سل روپۍ په دوكان كښې كيخودلې. خو هغه جعلي وي. نو دا تخليه معتبره نه ده. او په دې باندې د عمرو قبضه نشي منلې.

وَتَلِدُ الْأَمَةُ مِنْ مَوْلَاهَا حُرٌّ بچې د وينځې د خپل مولى نه آزاد دې

تشريح> مالك دخپلې وينځې سره جماع اوکړه او د هغې نه بچې پيدا شو.نو دغه بچې به آزاد وی
دليله> دليل دا دې چې دا ماشوم د يو آزاد کس د نطفې نه پيدا شوې دې اوچې د آزاد نه پيدا وی هغه نه وی مگر آزاد نو دا بچې به هم آزاد وی.

د وينځې د بچې حکم

وَوَلَدُهَا مِنْ زَوْجِهَا اوکه د وينځې بچې ددې د خاوند نه پيدا شوې وی دې مَمْلُوكٌ لِسَيِّدِهَا نودا به د وينځې د مالك مملوك وی

تشريح> مسئله داده.که د وينځې بچې ددې د خاوند نه پيدا شوې وی.نودا به د وينځې د مالك مملوك وی
دليله> .دليل دادې.چه دا تعارض موجود دې.ځکه چه منافات ثابت دې.او منافات ځکه ثابت دې.چه بچې د مورا‌و‌د پلار د دوارو د نطفې نه پيدا شوې دې.نو په دې صورت کښې که د مور د طرف اعتبار اوکړې شی.نو بچې به د وينځې د مولا مملوك وی.او که د پلار د طرف اعتبار اوکړې شی.نو بچې به د وينځې يعنی ددې د مور د مولا مملوك نه وی.نوچونکه په دواړه صورتونو کښې منافات متحقق شوې دی.په دې وجه به د ترجيح لاره اختيارولې شی.او په څو وجوهو سره د مور طرف ته ترجيح حاصل ده.
وجوه الترجيح> ① خوځکه چه د پرورش حق مور ته حاصل دې. ② دويم داچه د خاوند نطفه د وينځې يعنی د ښځې په نطفه کښې ملاؤ شوې ده.او هلاکه شوې ده.ځکه چه د ښځې نطفه پخپل ځائې برقرار ده.اود خاوند نطفه پخپل ځائې برقراره نه ده.بلکه منتقل شوې ده.اود ښځې په رحم کښې راغلې ده.
③ دريم داچه بچې ترکوم وخته پورې د مور په خيټه کښې د جنين په صورت کښې دې.نودا حساً او شرعاً د ښځې د يو اندام پشان دې.لکه څنګه چه ددې لاس او خپه اندامونه دی.حساً په دې وجه اندام دې.چه جنين د خپلې مور په ساه اخستلو سره ساه اخلی.او ددې په منتقل کيدلو سره منتقل کيږی.تردې چه د ولادت په وخت په قينچۍ سره کټ کولې شی.اودا دخپلې مور نه جدا کولې شی.اوشرعاً ځکه د اندام پشان دې.چه دوينځې په آزادولو سره جنين يعنی ددې د خيټې بچې هم آزادېږی.څلورم داچه حقيقتاً اوحکماً دواړه شان د مور د نطفې نه پيدا کيږی.اود پلار د نطفې نه صرف حکماً پيدا شوې دې.نود ترجيح په دې وجوه سره د مور طرف ته ترجيح ورکړې شوې ده.او مور طرف ته د ترجيح ورکولو نتيجه به دا وی.چه مور د کوم کس مملوکه وی.ددې بچې به هم دهغه کس مملوکه وی.

د غلام د آزادې ښځې د بچې حکم

وَوَلَدُ الْحُرَّةِ مِنَ الْعَبْدِ حُرٌّ او د آزادې ښځې بچې آزاد دې

تشريح> مسئله داده.چه د آزادې ښځې بچې په هرحال کښې آزاد وی.که ددې خاوند آزاد وی.اوکه غلام وی.
دليله> دليل دادې.چه وړاندې تير شوی دی.چه د ښځې طرف ته ترجيح ورکولې شی.په دې وجه به ددې بچې هم په آزاديدلو کښې ددې تابع وی.يعنی د مور د آزادکيدلو په وجه به ددې بچې هم آزاد وی.
نظائره> ① لکه څنګه چه دمور په مملوك او مرقوق کيدلو سره بچې هم مملوك او رقيق وی.
② دغه شان که مولا د خپلې ام ولد يو سړی سره نکاح اوکړله.يا ئې د خپلې مکاتبې نکاح اوکړله.نو بچې به د خپلې مور په حکم کښې وی.په (عينی شرح هدايه) کښې ليکلی دی.چه علامه کاکی رحمه الله فرمائی. چه مملوکيت او مرقوقيت دواړه ئې ځکه ذکر کړل.چه په دې دواړو کښې تغاير دې.ځکه چه په

مدبر او ام ولد کښې ملك کامل وی.او رقیت ناقص وی.او په مکاتب کښې ملك ناقص وی.او رقیت کامل وی.

بَابُ التَّدْبِيْرِ

ترجمه> دا باب د مدبر کولو په بیان کښې دې.

د مدبر تعریف

إِذَا قَالَ الْمَوْلَى لِمَمْلُوكِهِ إِذَا مِتُّ کله چه اووائي مولی خپل غلام ته کله چه زه مړ شم فَأَنْتَ حُرٌّ نو ته آزاد ئې أَوْ أَنْتَ حُرٌّ عَنْ دُبُرٍ مِنِّي یا ته دې آزاد ئې ورستو زما [د مرګ] نه أَوْ أَنْتَ مُدَبَّرٌ یا ته مدبر ئې أَوْ قَدْ دَبَّرْتُكَ یا ما مدبر کړې ته فَقَدْ صَارَ مُدَبَّرًا نو اوګرځیدلو [دی] مدبر

تشریح> نفس مسئله آسانه ده.

فائده> د تدبیر الفاظ په درې قسمه دی.① هغه الفاظ چه په اضافت د عتق دلالت کوی لکه (أعتقتك بها حررتك) وغیره

② هغه الفاظ چه په تعلیق د عتق دلالت کوی لکه (إن مت فأنت حر) وغیره

③ هغه الفاظ چه په وصیت باندې دلالت کوی لکه (وصیت لك) وغیره په دې ټولو الفاظ باندې تدبیر واقع کیږي.

مفهوم التدبیر> د تدبیر مفهوم دا دې.چه د دې الفاظو نه روسته فی الحال غلام د مولی په ملکیت کښې وی.اګرچه ده آزادی ورکړې ده.خو هغه آزادی ئې د مرګ نه پس وخت پورې مقید کړې ده.نو آزادی به ورته ملاویږي.خو د مرګ نه پس.نو په دې صورتونو کښې د مولی نیت ته ضرورت نشته.

په تدبیر باندې مرتب احکام

ثُمَّ لَا يَجُوزُ بَيْعُهُ بیا جائز نه دې خرڅول دده [غلام] وَلَا هِبَتُهُ او نه هبه کول دده

تشریح> د تدبیر نه پس په مدبر غلام کښې تصرفات کول لکه خرڅول هبه کول د جمهورو علمائو په نیز باندې جائز نه دی.

فائده> ځکه چه د مولی د مرګ نه پس دې آزادیږي.او دده د آزادئ سبب د دې نه سوا بل نه وی.چه دې مولی په خپل ژوند کښې مدبر کړې وو.د دې نه دا معلومه شوه.چه د آزادئ سبب هم په هغه وخت کښې موجود شوې وو.کله چه ورته د تدبیر الفاظ وئیلی وو.البته تر مرګه پورې په دغه سبب باندې فائده نه مرتب کیدله.او دا ځکه که چرته مونږ فی الحال آزادی واقع نکړو.او وقوع د آزادئ د مرګ نه ورستو وخت ته منسوب کړو.نو د مرګ نه پس خو به مولی کښې د آزادولو اهلیت نه پاتې کیږي.نو ځکه به دې د تدبیر اهل شي.د دې وجې مونږ به خامخا دا وایو.چه آزادی فی الحال واقع شوې ده.البته ظهور ئې د مولی مرګه پورې روستو شوې دې.

په مدبر کښې کوم قسم تصرفات جائز دی؟

وَلِلْمَوْلَى أَنْ يَسْتَخْدِمَهُ او جائز دی د مولی د پاره چه خدمت واخلی د مدبر نه وَيُؤَاجِرَهُ او په اجرت ئې ورکړي [چاته] وَإِنْ كَانَتْ أَمَةً او که وینځه وی فَلَهُ أَنْ يَطَأَهَا ده د پاره جائز دی چې وطی ئې کړی وَلَهُ أَنْ يُزَوِّجَهَا او جائز دی چه په نکاح سره ورکړی دا چاته

تشریح> چونکه په مدبر کښې ملکیت باقي دې نو ددې وجې مالک ته دده نه د خدمت اخستلو اختیار حاصل دې دغه شان که بل چاته ئې د مزدورئ کولو دپاره لیږي نو لیږلې شي او که وینځه وي نو دهغې سره صحبت کول ورله هم جائز دي او ددې بل چا سره واده کول ورته هم جائز دي.

تدبیره په دریمه حصه مال کښې وي.

وَإِذَا مَاتَ الْمَوْلٰى عَتَقَ الْمُدَبَّرُ مِنْ ثُلُثِ مَالِهِ [کله چه مرشي مولی آزادیږي مدبر په دریمه حصه د مال د مرې کښې ان خرج من الثلث که چرته هغه د دریمې حصې نه وتلې شي

تشریح> کله چې مولی مړ شي نو مدبر به آزاد شي خود ده آزادي به د ثلث څخه کیږي. که د مدبر قیمت د ثلث نه زیات وو. نو بیا دې نشي آزادیدې.

فائده> خکه چه دمړي ټول مال صرف دا غلام دې. نودا غلام به په درې حصو تقسیمولې شي. په یوه حصه کښې به دې د تدبیرېه وجه آزاد شي. اوباقي دوه حصې چونکه د وارثانو دي. نوکټه به کوي. اوهغوی ته به دوه حصې ورکوي. چه پوره آزاد شي

فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ که چرته نه وي د مولی دپاره مال سوا د دغه غلام نه [کوم چه ئې مدبرکړي وي] يَسْعٰى فِي ثُلُثَيْ قِيمَتِهِ نوکوشش به کوي په آزادولو د دوؤ حصو قیمت خپلو کښې

تشریح> که د مولی د مرګ نه پس اوکتلې شو نو د هغه نه صرف او صرف دا یو مدبر غلام په میراث کښې پاتې شو. نو ورانديې تیرشوچې دې نشي آزادیدې. نو اوس به مدبر د خپلې آزادئ دپاره سعي او کوشش کوي. اوخپل قیمت به وارثانو ته ادا کوي چې آزاد شي.

فائده> دا کوشش به د دې دپاره کوي چې نورو وارثانو ته خپله حصه پوره ملاؤ شي. د ده د تدبیر په وجه هغوی په حصه کښې کمي رانشي.

وَإِنْ كَانَ عَلَى الْمَوْلٰى دَيْنٌ اوکه چرته وي په مولی باندې قرض [نوپه دې صورت کښې به مدبرغلام د دریمې حصې نه نه آزادیږي يَسْعٰى فِي جَمِيْعِ قِيمَتِهِ لغرمائه مزدوري به کوي په ټول قیمت د هغه کښې

تشریح> نفس مسئله آسانه ده.

فائده> خکه چه ورانديې دي [پوره کول] د قرض د وصیت په جاري کولو باندې [یعنی که یوکس وصیت کړې وي. اوپه ده باندې قرض هم وي. نودده دمرګه پس به دټولونه اول قرض خلاصولې شي. دهغې نه پس که څه پاتې شي. هغه به په درې حصو تقسیمولې شي. یوه حصه به د وصیت اوتدبیرپوره کولوته ویستلې شي. اوکه څوک دا اووائي. چه هرکله د مولی ددې غلام نه سوا نورمال نشته. نود غلام آزادي دې باطله کړې شي. نوداسې خکه نشی کیدې چې د عتق رښتیا او توقي په دواړو حکم مرتب کیږي.

وَوَلَدُ الْمُدَبَّرَةِ مُدَبَّرٌ] اودمدبره وینځې بچې به مدبر وي. [نوکوم احکام چه د مدبرغلام وي. هم هغه احکام به د مدبره ښځې د بچې هم وي]

تشریح> د مدبر بچې به هم مدبر وي. لکه څنګه چې دغلام بچی هم غلام وي.

فائده په دې باندې د حضرات صحابه کرامو اجماع نقل شوې دې [۱]

فَإِنْ عَلَّقَ التَّدْبِيْرَ بِمَوْتِهِ که تدبیر ئې په خپل مرګ پورې معلق کړو عَلٰى صِفَةٍ په داسې طریقه مِثْلَ أَنْ يَّقُوْلَ چې اووائی إِنْ مُتُّ مِنْ مَرَضِيْ هٰذَا که زه د خپل دې بیمارۍ نه مړ شوم أَوْفِيْ سَفَرِيْ هٰذَا یا که زه په خپل دې سفر کښې مړ شوم أَوْمِنْ مَرَضٍ كَذَا یا که زه د فلانۍ بیمارۍ نه مړ شوم فَلَيْسَ بِمُدَبَّرٍ نو دې مدبر نه دې وَيَجُوْزُ بَيْعُهُ او جائز دی خرڅول د ده

تشریح که آقا د غلام تدبیر په خپل مرګ پورې معلق کړو. او په دې کښې ئې څه زیاتې صفت ذکر کړو. مثلا چې داسې ئې اووئیل که زه په خپله دې بیمارۍ کښې مړ شوم نو ته آزاد یې نو غلام به في الحال نه آزادیږی. بلکه دده خرڅول به جائز وی باقی تفصیل په دې متن کښې تیر شوې دې «وإذا اعتق المولى بعد عبده الخ»

....

فَإِنْ مَاتَ الْمَوْلٰى عَلَى الصِّفَةِ الَّتِيْ ذَكَرَهَا عَتَقَ كَمَا يُعْتَقُ الْمُدَبَّرُ که مالك په هغه طریقه مړ شو کومه چې هغه بیان کړې وه نو (غلام) آزادیږی لکه څنګه چې مدبر آزادیږی.

تشریح که آقا هم په هغه سبب سره مړ شو په کوم سبب چې ئې غلام ته د آزادئ خبره کړې وه نو دا غلام به د مالك د دریمې حصې مال څخه آزادیږی.

بَابُ الْإِسْتِيْلَادِ

ترجمه دا باب د ام ولد جوړولو په بیان کښې دې.

د استیلاد لغوي او شرعي معنی او احکام

تشریح **تعریف الاستیلاد** مالك د خپلې وینځې نکاح د چا سره اوکړه برابره ده که هغه سړې آزاد وو او که غلام دهغه نه د دې وینځې بچې پیدا شو. نوهغه بچې به د خپلې مور تابع وی اود مالك غلام به وی

فائده د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دې أَعْتَقَهَا وَلَدُهَا [۲] چې د دې بچی دا آزا ده کړه. په دلیل کښې وئیلې شوی وو. چه وطی د بچی په واسطه باندې سبب د جزئیت دې. هم دا وجه ده. چه دواړو یعنی مور اوپلار کښې هریوته په پوره نسبت سره دده نسبت کولې شی. او د ضرورت نه بغیر په جزء باندې استمتاع اخستل حرام دی.

وَإِذَا وَلَدَتِ الْأَمَةُ مِنْ مَوْلَاهَا او کله چې وینځه د خپل مالك نه بچې اوزیږوی فَقَدْ صَارَتْ أُمَّ وَلَدٍ لَهٗ نو دا د هغه ام ولد شوه لَا يَجُوْزُ لَهٗ بَيْعُهَا د دې خرڅول جائز نه دی وَلَا تَمْلِيْكُهَا او نه په دې باندې ملکیت راوستل جائز دی

۱) کذا فی مصنف عبدالرزاق ۹/۱٤٤) رقم ۱٦٦٨٣)۔

۱) من حدیث ابن عباس((أخرجه ابن ماجه باب ۲ رقم ۲۵۱٦) والمستدرك ۲/۱۹)۔

تشریح کله چې وینځه د خپل مالك د جماع نه امیدواره شي او بیا زیږول اوکړي نو دا ام ولد اوګرځیده د دې خرڅول جائز نه دي.اونه مالك دا د بل چا په ملکیت کښې په هبې کولو وغیره سره داخلولې شي.

دلیل نبي کریم ﷺ د ام ولد د خرڅولو نه منع فرمائیلې ده

وَلَهٗ جائزدي د مولی دپاره وَطْؤُهَا د[استیلادنه پس] دام ولد سره وطی کول وَاسْتِخْدَامُهَا اوددې نه خدمت اخستل وَإِجَارَتُهَا اودغه شان دغه چاته په اجاره ورکول وَتَزْوِيجُهَا اوچا سره ئې نکاح کول [دا ټول تصرفات].

تشریح مطلب دترجمه اواضافي قیوداتونه واضح دې.

دلیل ځکه چه ددې تصرفاتودپاره ملکیت شرط دې] اودمولی ملك په ام ولدکښې قائم دې نودمدبره وینځې سره مشابه شو.[نولکه څنګه چه په مدبره وینځه کښې دا تصرفات جائزدی دغه شان په ام ولدکښې هم جائزدی]

وَلَا يَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا اود ام ولدنه چه کوم ماشوم پیدا شي.دمولی نه دهغه نسب نه ثابتیږی إِلَّا أَنْ يَعْتَرِفَ بِهِ الْمَوْلَى البته دا چه مولی ددې اقرار اوکړی.[چه دا زما بچي دې]

تشریح کله چه د مولی د وینځې بچي پیدا شي.نودده نسب د مولی نه هله ثابتیږی.چه مولی اقراراوکړی.چه آو دا زما بچي دې.

دلیل ځکه چه دا هم ممکن ده.چه دا وینځه ددې مولی نه وراندې دبل چا په ملکیت کښې وی.اوهغه ورسره وطی کړې وی.اودا ولد د هغه د منې نه پیدا شوې وی.ددې وجې د نسب د ثبوت دپاره د مولی دعوی ضروری ده.

فَإِنْ جَاءَتْ بَعْدَ ذٰلِكَ بِوَلَدٍ که ددې نه پس [دویم] ماشوم پیدا شو ثَبَتَ نَسَبُهٗ بِغَيْرِ إِقْرَارٍ نودمولی داقرار نه بغیرد دغه ماشوم نسب د مولی نه ثابتیږی

تشریح که د وینځې ولد پیدا شو.اومولی دا اقرار اوکړلو.چه دا زما بچي دې.اوددې نه پس هم د دغه وینځې نه دویم ماشوم پیدا شو.نود دې دویم ماشوم د نسب د ثبوت دپاره د مولی د دعوی ضرورت نشته.بلکه خود بخود به دا ماشوم مولی ته منسوب وی.

دلیل ځکه چه عام طورځو په وینځې کښې د شهوت پوره کول مقصود وی.د دوی نه د اولاد پیدا کول مقصود نه وی.خوچه دې مولی د اولنی بچي د نسب اقراراوکړلو.نومعلومه شوه.چه مولی دا وینځه خپل فراش جوړ کړې دې.لکه څنګه چه منکوحه دخاوند فراش وی.اود منکوحه د ولد ثبوت بغیرد دعوی نه کیږی.دغه شان به په دې صورت کښې د ام ولد د بچي دنسب ثبوت هم بغیرد دعوی نه کیږی.

وان نَفَاهُ اوکه دا مولی د ام ولد بچي د نسب نه انکاراوکړی يَنْتَفِي بِقَوْلِهٖ نود مولی په انکارسره ترې دده نسب منتفي کیږی

تشریح نفس مسئله آسانه ده.

دلیل ځکه چه د ام ولد فراش کمزوری دې هم دا وجه ده.چه مولی دخپل خان نه ددې ملکیت منتقل کولې شی چه بل چا سره د ام ولد نکاح اوکړی

دام ولد د بچي د نسب نه د مولی انکار شول

وان زوجها اوکه مولی خپله ام ولد چاته په نکاح کړله فجاءت بولد اودې ولد اوزیږولو فهو في حكم امه نودغه ماشوم به دخپلې مورپه حکم کښې وی.[چه څنګه ئې مور د مولی د مرګه نه پس ازادیږی.دغه شان به ددې بچې هم آزاد وی]

تشریح> نفس مسئله آسانه ده.

دلیل> څکه چه د آزادئ حق [دمورنه] ماشوم ته رسي.پشان د تدبیر که مورمدبره وی.نو ددې بچې به هم مدبروی] آیا ته نه ګورې چه د آزادې بنځې بچې آزاد وی اود وینځې بچې غلام وی

د مولی دمرګ نه پس دام ولد آزادي

واذا مات المولی اوکله چه مولی مرشی عتقت من جميع المال نوام ولد دټول مال نه آزادیږی

تشریح> نفس مسئله آسانه ده.

دلائل> ① دسعیدبن المسیب[رح] دحدیث د وجې چه نبی ﷺ د امهات الاولاد د آزادولوحکم کړې وو اوددې حکم ئې کړې وو.چه دوی دې په قرض کښې نشی خرڅولې اوپه دریمه حصه مال کښې دې نشی شمارلې (۱) ② اوبله دا چه د ولد حاجت اصلی دې نودا حاجت به د مړی دکفن کولوپه حق باندې مقدم کولې شی

ولا تلزمها السعاية للغرماء اونشته کوشش د قرض خواهو دپاره په دې باندې دمولی دقرض په خلاصولوکښې په دې باندې کوشش نشته ان کان على المولى دين که چرته په مولی باندې قرض وی [چه دا به خواری مزدوری کوی.اودخپل مولی قرض به خلاصوی]

تشریح> نفس مسئله آسانه ده.

دلائل> ① دلیل هغه حدیث دې کوم چه مونږ روایت کړلو

② اوبله دا چه ام ولد مال متقوم نه دې هم دا وجه ده.که چا ام ولد غصب کړله.نوپه مولی باندې د ابوحنیفه[رح] په نیزتاوان نشته.[چه دا به خواری مزدوری کوی.اودمولی قرض به خلاصوی.نوچه مال متقوم نشو نوپه دې پورې به د قرضداروحق نه متعلق کیږی

واذا وطئ الرجل امة غيره بنكاح اوچاچه وطې اوکړه دبل چا وینځې سره په نکاح سره [مثلاً زید د بکرد وینځې سره نکاح کړې وه] فولدت منه اودهغې نه ئې بچې پیدا شو ثم ملكها اوبیا دې [زید] دهغې وینځې [چه دده منکوحه ده] مالك شو صارت ام ولد له نودغه وینځه د ده [زید] ام ولد شوه

تشریح> ① زید د عمرود وینځې په ملك نکاح سره مالك شو.اوبیا ئې په ملك یمین سره مالك اوګرځی.په دې صورت کښې داحنافو[رح] په نیز د زید دا منکوحه دده ام ولدګرځی.او د امام شافعی[رح] په نیزنه ګرځی.(۲)

(۱) خرجه الزيلعي رحمه الله ثم نقل احاديث في الباب منها حديث ابن عمر((أن النبي ﷺ نهى عن بيع امهات الأولاد وقال لايبعن ولا يوهبن ولايورثن يستمتع بها سيدها ما دام حياً فإذا مات فهي حرة اخرجه الدارقطني في سننه ۱۳۵/٤)_

(۲) مسلك الشافعي:- امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دا وینځه د هغه[زید] ام ولدنه ګرځی

مطلب> کله چه د وینزې په رحم کښې دمولی د منۍ نه ماشوم پیدا شی. نو دغه ماشوم د موردبدن یوه حصه شوه.اوچونکه دا حمل آزاد دې.ځکه چه د آزاد سړې د نطفه نه پیدا شوې دې.نودغه شان به وینځه هم آزاده شی.ځکه چه جزء (چه حمل دې) دکل نه (چه مور ده) مخالفت نه کوی]

وَإِذَا وَطِئَ الْأَبُ جَارِيَةَ ابْنِهِ چه یوکس د خپل ځوئې د وینځې سره وطی اوکړی فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ ودهغې بچې پیدا شی فَادَّعَاهُ اودې دهغه دعوی اوکړی چه دا زما ځوئې دې ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ نوددغه بچی نسب ددې پلار نه ثابتیږی وَصَارَتْ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ اودغه وینځه دپلار ام ولدشوه وَعَلَيْهِ قِيمَتُهَا اوپه پلار باندې دېنزې قیمت دې.[چه هغه به خپل ځوئی ته ورکوی] وَلَيْسَ عَلَيْهِ عُقْرُهَا اوپه پلار باندې دهغې وینځې عقر نشته. وَلَا قِيمَةُ وَلَدِهَا اونه پرې دبچی قیمت شته

تشریح> (عقرها) دعقرنه هغه مال مراد دې.کوم چه دمهر پشان په هغه وطی کښې لازمیږی.په کوم کښې چه حدزنا نه جاری کیږی.په زیربحث مسئله کښې هم زنا شته.خوپه پلارباندې حدزنا نه جاری کیږی.

مطلب> ځکه چه نبی ﷺ یوصحابی ؓ ته اوفرمائیل. (أنت ومالك لأبيك) ته اوستا مال ستا دپلار دې.چونکه وینځه هم مال دې.نوددې حدیث نه په ظاهره دا معلومیږی.چه لکه څنګه پلار دځوئی په نورو مالونو کښې تصرف کولې شی.دغه شان به په وینځه کښې هم تصرف کولې شی.چونکه دا شبه موجود ده.ددې وجې په حد جاری کولوکښې قانون دا دې.که دجرم په ثبوت کښې شك اوشبه پیدا شوه.نوحد ساقطیږی.

وَإِنْ وَطِئَ أَبُ الْأَبِ اوکه نیکه [زید] دنمسی [بکر] وینځې سره وطی اوکړله مَعَ بَقَاءِ الْأَبِ اود بکرخپل پلار[خالد] موجود وو.[اونیکه دعوی اوکړله.چه دا بچې زما دې. لَمْ يَثْبُتِ النَّسَبُ مِنْهُ نو] دنیکه نه نسب نه ثابتیږی

تشریح> نفس مسئله آسانه ده.
مطلب> ځکه چه پلار موجود وی.نونیکه ته د نمسی په مال کښې د ولایت حق نشته

وَإِنْ كَانَ الْأَبُ مَيِّتًا البته که پلار[خالد] مړ وی يَثْبُتُ مِنَ الْجَدِّ نودنیکه [زید] نسب ثابتیږی. كَمَا يَثْبُتُ النسب مِنَ الْأَبِ لکه څنګه چه د دې بچی نسب د پلار نه ثابتیږی .[په هغه صورت کښې کوم چه ذکرشو]

تشریح> نفس مسئله آسانه ده.
مطلب> ځکه چه کله پلار[خالد] نه وی.نودنیکه [زید] ولایت ثابت دې

وَإِنْ كَانَتِ الْجَارِيَةُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ اوچه یوه وینځه د دووکسانوپه مینځ کښې شریکه وی فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ نودهغې بچې پیدا شو فَادَّعَاهُ أَحَدُهُمَا اوپه دې دوو شریکانوکښې یودهغه دنسب دعوی اوکړله.[چه دا بچې زما دې] ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ نود دغه مدعی نه د بچی نسب ثابتیږی.

تشریح> نفس مسئله آسانه ده.
مطلب> ځکه چه په نصف بچی کښې نسب ثابت شو ځکه چه نیمه وینځه دده په ملکیت کښې ده نو [دبچی] په باقی نیمه حصه کښې به خامخا نسب ثابتیږی)ځکه چه نسب نه تقسیمیږی[چه ماشوم یو

وی.اونیم نسب ئې د زید شی اونیم دعمرو] اونسب ځکه نه تقسیمیږی.چه د نسب سبب چه علوق دې
هغه نه تقسیمیږی.ځکه چه یوبچې د دووکسانود مینځ نه پیدا کیږی

وَصَارَتْ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ اودغه وینځه د مدعی شریك ام ولد شوه

تشریح> نفس مسئله آسانه ده.

دلیله> ځکه چه استیلاد [چه وینځه ام ولد شی] دصاحبینو په نیز نه تقسیمیږی.[چه نیمه دې ام ولد وی اونیمه دې وینځه وی] داد صاحبینو مذهب دې.[یعنی دصاحبینو په نیز چه ځنګه د وینځې بچې پیدا شو.اویوشریك دعوی د نسب اوکړله.نودغه وینځه په یوځل ام ولداوګرځیدله.د ام ولد ګرځیدو دپاره دوو مرحلوته ضرورت نشته]

وَعَلَيْهِ نِصْفُ عُقْرِهَا اوپه مدعی شریك باندې به د دغه موطوءه وینځې نیم عقرهم تاوان وی چه نیم عقربه خپل شریکوال ته ورکوی وَنِصْفُ قِيمَتِهَا اونیم قیمت د هغې وَلَيْسَ عَلَيْهِ شَيْءٌ مِنْ قِيمَةِ وَلَدِهَا اونشته څه څیز په هغه باندې د قیمت د بچې د هغې

حل اللغة> ① **عقر:** مهر

تشریح> القاعدة الاولی> قاعده دا ده.که یوه وینځه د دووکسانوپه شریکه وی.نوپه دې دواړوکښې د یودپاره هم دې سره وطی کول جائز نه دی.ځکه چه اشتباه دنسب راځی.په زیربحث مسئله کښې چه د وینځې بچې پیدا شی.اویوکس ددې بچی دنسب دعوی هم اوکړی. نوپکاردا ده.چه په ده باندې حدزنا جاری شوې وې.ځکه چه ده دپاره د مشترکه وینزې سره وطی کول حرام وو.البته دلته یوه شبه موجود وه.هغه دا چه وینځې سره وطی کول جائزدی.خودلته حرمت د شریك د وجې راغلې دې.نوددې شبه په وجه حد ساقط شو.خوچونکه دخپل شریکوال په ملکیت کښې تصرف شوې دې.نوهغه ته به د دې وطی تاوان ورکوی.چه عقرورته وئیلې شی.

القاعدة الثانیة> قاعده دا ده.چه وینځه هله ام ولد ګرځی.چه ددې مولی ورسره وطی اوکړی.اودا دهغه نه حملداره شی.په زیربحث مسئله کښې که وینزه د مدعی شریك ام ولدګرځی.نوددې دپاره ضروری ده.چه وینځه دهغه مملوکه وی.حالانکه دمدعی شریك ملکیت خوپه نیمه وینځه کښې دی.نوداسې هم نشی کیدې.چه نیمه وینځه ام ولد شی اونیمه شریکوال په ملکیت کښې پاتې شی.ځکه چه استیلاد تقسیم نه قبلوی.نوداستیلاد تقاضادا ده.چه ټوله وینزه دمدعی ملکیت وی.ددې وجې مونږ وایو.چه په نیمه وینځه خود مدعی ملکیت د وراندې نه قائم وو.اوداستیلاد د وجې په باقی نیمه وینځه باندې هم دده ملکیت ثابت شو.

د دواړو مدعیانو د نسب ثبوت

فَإِنْ ادَّعَيَاهُ مَعًا اوکه دواړو شریکانوپه یوځائې دعوی اوکړله ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُمَا نود دواړو نه ئې نسب ثابتیږی

تشریح> نفس مسئله آسانه ده.

دلائله> ① دحضرت عمر رضی الله عنه په فتوی باندې دې.د فتوی تفصیل دا دې.چه دوو کسانویوې وینځې سره په هغه وخت کښې وطی اوکړله.چه هغه د حیض نه پاکه شوې وه.اوددغه وطی نه دهغې ماشوم پیدا شو.دواړو کسانو دبچی د نسب دعوی اوکړله.چه دا زما بچې دې.دا مقدمه حضرت عمر رضی الله عنه ته پیش شوه.هغوی درې قافیه شناس راوغوښتل.درې واړو ددې خبرې ګواهی ورکړله.چه په ماشوم کښې

د دوارو مدعيانو سره مشابهت موجود دې.حضرت عمر ﷺ په خپله هم قائفه شناس وو.نوهغوی اوفرمائيل.چه په سپي: باندې تور،زيړاو برګ سپي خيژی.خوپه انسانانوکښې ما دا نه وو ليدلي.اوس مې دا هم اوليدل.ددې نه پس ئې حکم اوکړلو.چه دا ماشوم د دوارو مدعيانوبچي دې.اوددې دوارو وارث به وی.اودا دواړه مدعيان به دده وارثان وی.اوپه دواړوکښې چه کوم ژوندې پاتې شو.دې به دهغه وی.ددې حکم نتيجه دا راوتله.چه د دې بچي دتربيت ټولې ذمه واريانې به په دواړو په شريکه وی.[١]

②او[د دوارونه د نسب ثابتيدوبل دليل دا دې.چه] دا دواړه داستحقاق په سبب کښې برابر دی.[چه ملکيت دې] نوپه حق اخستلوکښې به هم برابر وی اونسب اګرچه تقسيم نه قبلوی.[يوماشوم ددوو کسانوخوني نشی کيدې.]خوپه نسب باندې داسې احکام مرتب کيږی.چه هغه تقسيم قبلوی نوکوم احکام چه تقسيم قبلوی[لکه ميراث اوزل شو چه د خوی په مال کښې د پلارخومره حصه کيږی نوهغه به په دوارو شريکانوتقسيمولې شی اوچه کوم تقسيم نه قبلوی.[لکه نسب] نوهغه به د دوارو په مينځ کښې پوره پوره تقسيم کولې شی.داسې به وی چه هدو ده سره بل څوك شريك نشته [نوپه زيربحث مسئله کښې به هرمدعی د ماشوم پلاروی.دا نه چه نيم ماشوم به ديومدعی خوې وی.اونيم دبل]

دخپل مکاتب د وينځې سره وطی کول

وَإِذَا وَطِئَ الْمَوْلَىٰ جَارِيَةَ مُكَاتَبِهِ کله چه مولی د خپل مکاتب وينځه وطی کړی فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ اودهغې بچي پيدا شی فَادَّعَاهُ. اومولی دهغه دعوی اوکړی.[چه دا بچي زما نه پيدا شوې دې]فَإِنْ صَدَّقَهُ الْمُكَاتَبُ که مکاتب دده تصديق اوکړلو ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ نودبچي نسب د مولی نه ثابتيږی.

تشريح> نفس مسئله آسانه ده.

فائده> د مکاتب د تصديق په صورت کښې نسب ثابتيږی] اودا وجه په حقيقت کښې د دوارو مسئلوپه مينځ کښې فرق دې هغه دا چه مولی د خپل مکاتب په ګټه کښې د تصرف حقدار نه دې.[دې په کښې تصرف نشی کولې] هم دا وجه ده چه مولی دخپل مکاتب ګټه نشی خانته کولې اوپلار د خوی د مملوك څيزمالك جوړيدې شی نو[څکه] د خوی تصديق ته څه اعتبار نشته.[که هغه د پلارتصديق کوی اوکه نه کوی.دبچي نسب د مولی د پلارنه ثابتيږی.دغه شان دلته هم که مکاتب تصديق کوی اوکه نه کوی.نسب ئې د مولی نه ثابتيږی]

وَكَانَ عَلَيْهِ عُقْرُهَا امام قدوری ؒ فرمائی.په مولی باندې د وينځې عقردې

تشريح> په ظاهره خوکه ګوری نومولی د پردئ وينځې يعنی دمکاتب وينځې سره وطی کړې ده.ددې تقاضا خودا وه.چه په مولی باندې حدزنا جاری شوې وو.البته مولی په دې غلط فهمئ کښې وو.چه چونکه دمکاتب ګټه دده دپاره ده.نوزما دپاره به د دې وينځې سره وطی کول هم جائز وی.حالانکه مسئله داسې نه ده.نوددې غلط فهمئ په وجه يوه شبه پيدا شوه.اودهغه شبه د وجې حدزنا ساقط شو.البته مولی چونکه د مکاتب وينځه وطی کړې ده.نوددې وطی تاوان به ورته ورکوی.چه عقرورته وائی.

١) قال الزيلعي ﷺ اخرجه البيهقي بنقص يسير ثم نقل الواقعة نصب ا لرأية ٣/٤٤٣ـ

دلیله دا دي خبري دلیل چه په مولی باندي عقر واجبیږي.دا دي.چه په کوم وخت کښي مولی دخپل مکاتب وینځي سره وطی کوله.نوپه هغه وخت کښي دغه وینځه دمولی په ملکیت کښي نه وه.البته چونکه دا وینځه هم دده دمکاتب وینځه وه.نوپه دي وینځه کښي دمولی څه نا څه حق وو.اودغه حق ددي دپاره کافي وو.چه دا وینځه ام ولداوګرځي.

وَقِيْمَةُ وَلَدِهَا اوپه مولی باندي د بچی قیمت لازم دي [چه مولی به خپل مکاتب ته دبچی قیمت ورکوي]

تشریح اوپه مولی باندي لازم دي.چه د ماشوم کوم قیمت کیږي.هغه خپل مکاتب ته ورکړي.

دلیله ځکه دغه بچي د ولدمغرور په حکم کښي شو.یعني مولی په دي دهوکه شو.چه د مکاتب د وینځي سره به زما دپاره وطی کول جائزوي.ځکه چه دده کټه هم زما دپاره ده.نو کوم ماشوم چه پیدا شو.هغه د ولدمغرور په حکم کښي دي.اوپه ولدمغرور کښي دا مسئله ده. چه نسب ئي د واطی نه ثابتیږي.خوچه د چا وینځه وي.هغه ته به ددغه ولد قیمت ورکوي.

وَلَاتَصِيْرُالْجَارِيَةُ أُمَّ وَلَدٍلَهٗ اووینځه د مولی ام ولدنه ګرځي

تشریح نفس مسئله آسانه ده

دلیله ځکه چه په حقیقت کښي دمولی په وینځه باندي ملکیت نشته لکه څنګه چه په ولدمغرورکښي ملکیت نه وي

وَإِنْ كَذَّبَهُ الْمُكَاتِبُ فِي النَّسَبِ اوکه مکاتب په نسب کښي دمولی تکذیب اوکړلو .[چه دا ماشوم ستا خوني نه دي] **لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ مِنْهُ** نو[دمکاتب دانکارپه صورت کښي] دماشوم نسب دمولی نه نه ثابتیږي

تشریح نفس مسئله آسانه ده

دلیله دلیل وړاندي مونږ بیان کړوچه دمکاتب تصدیق ضروري دي

كِتَابُ الْمُكَاتِبِ

ترجمه (دا) کتاب د مکاتب جوړولو(په بیان کي) دي.

تشریح **الربط بما قبله** په قول د صاحب د نهایه رحمه الله دعقد اجاره نه روسته د عقد کتابت راوړلو مناسبت دادي.چه په دي کي هر یو داسي عقد دي.چه په دي سره د غیر مال په مقابله کي مال په داسي طریقه حاصلولي شي.چه په هغي کي عوض ذکر کولو سره اصالةً د ایجاب او قبول حاجت هم وي.او علامه اتقانی رحمه الله صاحب دغایة البیان چي دا لیکلي دي.چه کتابت د عتاق نه روسته راوړل پکار وو.ځکه چي دکتابت مال ولاء دي.اود ولاء دمال احکام د عتق ځني دي،په دي وجه حاکم شهید په کافی کي کتاب المکاتب او کتاب الولاء د کتاب العتاق نه روسته ذکرکړي دي.دا مناسب نه دي.ځکه چي عتاق کي د غلام ذات د خپل ملك نه د عوض نه بغیر اوبنکلي کیږي.او په کتابت کي دا خبره نشته. (لأنه لسبته الذاتيات أولى من لسبته العرضيات) پاتي شو د صاحب د کافي رحمه الله ولاء ذکرکول، نو هغه عتاق سره د ولاء مناسبت بیانولو لپاره دي.عتاق سره د مکاتبت مناسبت بیانولو لپاره نه دي.

تعریف المكاتب لغة لفظ د مکاتب د کاتبه مکاتبة نه اسم مفعول دي.په دي معنی چي د مال معین ادا

کولو په شرط آزادول.او دا په اصل کې د کتب (ن) کتابةً خني دي.په معنی د جمع کولو سره.لکه چې د لښکر یو مجتمع ډلې ته کتیبه وائي.او هم ددې نه کتاب دی.چه دا د بابونو او فصلونو جامع وي. (د منه يقال کتب النعل و القربة) پیزار یا مشك نې په بلې تسمې سره اوګنډلو.

تعریفه اللغوي> په کافی او کفایه وغیره کې ددې شرعی او اصطلاحی تعریف داسې شوې دی. (الکتابة تحرير يدا في الحال و رقبة عند أداء المال) غلام د تصرف په لحاظ سره بالفعل او د رقبة په اعتبار سره د بدل کتابت ادا کولو نه روسته آزادولو ته کتابت وائي.یعنی د عقد کتابت نه روسته غلام د تصرف اعتبار سره د بدل کتابت ادا کولو نه روسته غلام آزادیږی.ګویا قبضه فی الوقت حاصلیږی.او ملك رقبه د انجام په اعتبار سره حاصلیږی.

د مکاتب کولو احکام

(وَإِذَا كَاتَبَ الْمَوْلَى عَبْدَهُ أَوْ أَمَتَهُ عَلَى مَالٍ شَرَطَهُ عَلَيْهِ کله نې چې مکاتب کرو.خپل غلام یا وینځه د داسې مال په عوض چې هغه نې په ده شرط کړې دي.وَقَبِلَ الْعَبْدُ او غلام دا قبول کړو. ذٰلِكَ الْعَقْدَ صَارَ مُكَاتَبًا) نو هغه مکاتب شو.

تشریح> علامه عینی رحمه الله فرمائی.چه ابو الحسین قدوری رحمه الله لفظ د کاتب د باب مفاعلت نه استعمال کړې دي.چه دا د دوو په منځ کې د اشتراك تقاضه کوی.ځکه چې آقا د خپل ارخه عقد نامه لیکی.او غلام قسطونه اداکوی.په دې لحاظ سره اصل فعل کې دواړه مشترك دی.نو آقا مکاتِب بالکسر دې.او غلام مکاتَب بالفتح دې.

دلائل> ① دعقد کتابت د جواز دلیل د الله تعالی ارشاد دي. فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا مطلب دادې.که د یوکس غلام یا وینځه اووائي.چه زه په دومره موده کې دومره مال ستا لپاره اوګټم.نو ته به ما آزاده وې.نو مالك له پکار دی.چه قبول نې کړی.او اولیکی.کله چې هغه ته پته اولګی.چه واقعی ددې غلام یا وینځې په حق کې به آزادی غوره وی.د غلامۍ د قید نه خلاصیدلو نه روسته به غلاګانې، بدکارئ، او قسم قسم بدمعاشیانې نه کوی.

② سعید بن منصور د حضرت ام سلمه رضی الله عنها نه روایت کړې دي. (أن النبي ﷺ قال إذا كان لأحداكن مكاتب فملك ما يؤدى فلتحتجب منه وفيه أحاديث كثيرة سواه) او د کتابت په مشروعت باندې د امت اجماع ده.

حکم الکتابة> په ذکر شوی آیت کې د(فَكَاتِبُوهُمْ) امر وجوب لپاره وی.او که د غیروجوب لپاره وی.په دواړو صورتونو کې د عقد کتابت په مشروعیت باندې دلالت موجوده دې. آیت کې د(فَكَاتِبُوهُمْ) امر په اجماع د فقهاؤ، حسن، شعبی، سفیان ثوری، امام مالك، او د امام شافعی رحمهم الله وغیره په نیز حکم ایجابی نه دې.بلکه مستحب حکم دې.

الاشکال> په دې باندې اشکال کیږی.چه صاحب دکشاف د ذکرشوی آیت په تفسیر کې ونیلی دی. (د هذا الأمر للندب عند عامة العلماء وعن الحسن ليس ذاك بعزم ان شاء كاتب وان شاء لم يكاتب وعن عمر رضي الله عنه هي عزمة من عزمات الله وعن ابن سيرين مثله وهو مذهب داؤد). نو حضرت عمر رضی الله عنه چې دا په فقه او روایت کې د مشهور او جلیل القدر صحابو رضی الله عنهم خني دي.او حضرت ابن سیرین رحمه الله کوم چې په خاصو تابعینو او اعلی درجې فقهاؤ کې دي.هرکله چې ددوی په نیز مذکوره امر د وجوب لپاره دې.نو د فقهاؤ د اجماع

دعوه څنګه صحيح کيدی شی ؟

الجواب دادې چه د کشاف ذکر شوې مضمون صرف په دې دلالت کوی چه ددې امر د وجوب لپاره کيدل ددې حضراتو نه نقل دی. دا نه چې ددوی مقررمذهب دادې چه کتابت واجب دې.

قوله اشتراط قبول العبد د غلام د قبلولو شرط ددې لپاره دې چه د کتابت په وجه به دده په ذمه مال نه لازميږی. نودا ضروری ده. چه هغه پخپله ذمه مال لازمول قبول کړی. آئمه ثلاثه [illegible] هم ددې قائل دی.

د عقد کتابت صورتونه

(**ويجوز أن يشترط المال حالاً**) او دا جائز دی. چه شرط اولګولې شی د مال فی الحال (فوراً)، (**ويجوز مؤجلاً ومنجماً**) او جائز دی نيټه دار او په قسط وار هم.

تشريح د عقد کتابت دوې (دوه) صورتونه دی. کتابت حالـه، او کتابت مؤجلـه. کتابت حالـه دادې چه غلام بدل کتابت فی الحال اداکړی. (**بأن يقول المولى كاتبتك على ألف درهم**) (**صرح به الولوالجي في فتاواه**) کتابت مؤجله دادې چه بدل کتابت ميعادی (نيټه دار) او قسط وار وی. (**بأن يقول كاتبتك على ألف درهم إلى سنته يؤدى كل شهر من النجم كذا**)،، ما ته د يو کال په نيټه د زر درهمو په عوض مکاتب کړې چه هره مياشت دومره قسط اداکوه،،

په ظاهر الرواية کې د امام احمد [illegible] په نيز دا دواړه صورتونه جائز دی. رويانی وغيره بعضو شوافعو هم دا اختيار کړې دې. او ابن التين په قول د امام مالك [illegible] نه په دې اره کې هيڅ نص نشته. په جواهر مالکيه کې دی. (**قال ابوبكر ظاهر قول مالك أن التنجيم و التاجيل شرط فيه ثم قال و علماؤنا يقولون أن الكتابة الحالة جائزة**) ([1])

دلائله ① د آيت (**فكاتبوهم**) ظاهر دې چه په دې کښې تنجيم او تاجيل يعنی د فی الحال يا قسط وار کيدلو شرط لګول نص باندې زياتوالې دې چه دا يو ډول لـه د نسخ په درجه کې وی. ② دويم دليل دادې چه کتابت هم يو عقد معاوضه ده. چه په دې کې عوض معقود به دی. چه مال ادا کولو سره به غلام ته د خپل نفس آزادی حاصليږی. نو په کتابت کې به دا مال داسې وی. لکه څنګه چې بيع کې ثمن وی. چه په دې کې قدرت کيدل شرط نه دی. په دې وجه د قبضه نه وړاندې ددې بدل اخستل جائز دی. اودا د ثمن کيدلو علامت دې.

الاشكال د مکاتب ادا کولو نه عاجز کيدل د فسخ موجب وی. اودا د مبيع کيدلو علامت دې؟

الجواب په بدل کتابت کې دوې (دوه) سببه دی. من وجه ثمن دې. او من وجه مبيع دې. نو مونږ په دواړو جهتونو باندې عمل کولو سره اووئيل. چه د مبيع کيدلو په لحاظ سره به کتابت فسخ کيږی. اود ثمن کيدلو په لحاظ سره ادا کولو باندې قدرت کيدل شرط وی. په خلاف د سلم، چې په دې کې مسلم فيه معقود عليه وی. يعنی هرلحاظ سره مبيع وی. تردې چې د قبضې نه وړاندې ددې بدل اخستل جائز نه دی. نو په مسلم فيه به قدرت کيدل شرط وی. لکه څنګه چې مبيع کې وی. چه ددې د جواز لپاره د بائع په مبيع باندې قادر کيدل شرط نه دی. (**للإجماع على جواز الإعتام من لا يملك الثمن**) دغه ډول په کتابت کې به

[1]) **مسلك الشافعي:-** امام شافعی [illegible] فرمائی. چه د فی الحال ادا کولو شرط جائز نه دې. بلکه قسط وار کيدل ضروری دی.

هم دا شرط نه وی.چه غلام ته په مال باندې قدرت حاصل وی.

د صغیرغلام مکاتب جوړولو حکم

(وَتَجُوزُ كِتَابَةُ الْعَبْدِ الصَّغِيرِ إِذَا كَانَ يَعْقِلُ الشِّرَاءَ وَالْبَيْعَ)او جائز دی د کم عمره غلام مکاتب کول، چې هغه په اخستلو خرڅولو پوهیږی.

تشریح> که یو غلام کم عمره وی.او اخستلو خرڅولو باندې پوهیږی.چه شراء جالب (نفع راخکونکې) ده.او بیع سالب (ثمن واجبونکې) ده.نو د داسې صغیر غلام مکاتب کول جائز دی. [1]

دلیله> ځکه چې دده د اړخه به د ایجاب او قبول تحقق اوشی.

د کتابت له روسته غلام باندې د قبضې حکم

(وَإِذَا صَحَّتِ الْكِتَابَةُ کله چې عقد کتابت صحیح شو. خَرَجَ الْمُكَاتَبُ عَنْ يَدِ الْمَوْلَى نو مکاتب د آقا د قبضې نه اووتلو. وَلَمْ يَخْرُجْ عَنْ مِلْكِهِ)او دده د ملك نه نه دی وتلی

تشریح> کله چې عقد کتابت صحیح شی.نو مکاتب د خپل آقا د قبضې نه اوځی.خو دده د ملکیت نه نه اوځی.

دلائل عدم الخروج من القبضة> ① د قبضې نه وتل خو ځکه دی.چه دکتابت معنی چې هغه ضم (ملاوول) دی.هغه متحقق شی.ګویا مکاتب خپله قبضه خپل ذاتی ملکیت ارخ ته ملاوهی.یعنی فی الحال ده ته د خپل لاس د مزدورئ اختیار او آخرکار د خپل ذات آزادی حاصلیږی.نود لاس اختیار دذات اختیار سره ملاویږی.

② یا د آقا د قبضې نه وتل ځکه دی.چه د کتابت کوم مقصد (عوض اداکول) دی.هغه حاصل شی. نو مکاتب ته د اخستلو خرڅولو، او په سفر کې د تللو اختیار حاصلیږی.(که سفر اوګد وی.او لنډ وی). اګرچه آقا ده لره په سفر کې د تللو نه منع کړې وی.

دلائل عدم الخروج من ملکه> ① دلیل دا حدیث دې. (المکاتب عبد مابقی علیه درهم)

② کتابت یو عقد معاوضه ده.چه دا دواړو اړخه ته مساوات غواړی.حالانکه فی الحال د غلام په آزادېدلو سره دا خبره ختمه شوه.یعنی که هغه فی الحال آزاد شی.اود آقا د ملك نه اوځی.نو غلام ته به د خپل ذات عوض یعنی آزادی حاصله شی.حالانکه آقا ته لا اوس مال نه دې حاصل شوې.او یو دول له دده په ذمه حق هم ثابت شو.

مکاتب لپاره د بیع، شراء، اود سفر اجازت

(وَيَجُوزُ لَهُ الْبَيْعُ وَالشِّرَاءُ وَالسَّفَرُ)جائز دی مکاتب لپاره اخستل، خرڅول، او سفر.

تشریح> مکاتب لپاره اخستل، خرڅول،او سفر کول جائز دی.

دلیله> ځکه چې د کتابت د لوازماتو څخه دادی.چه غلام د تصرف په لحاظ سره آزادیږی.اودا هغه

[1] امام شافعی رحمه الله په دې کې زمونږ؟؟ خلاف دې.ددوی په نیز د صغیر غلام مکاتب کولو جائز نه دی.ددوی دا اختلاف په هغه اختلافی مسئلې باندې مبنی دې.چه داسې ماشوم چې هغه په تجارت کې توپیر کولې شی.هغه ته د تجارت اجازت ورکول صحیح دی او که نه؟ نو زمونږ په نیز صحیح دی.ددوی په نیز صحیح نه دی.

وخت کیدې شي.کله چې دې مستقل طور باندې د هر داسې تصرف مالك وي.چه د هغې په ذریعه خپل مقصود ته اورسیږي.یعنی بدل کتابت اداکړي.او آزاد شي.او اخستل خرڅول کول، او سفر کول هم ددې قبیلې ځنې دي.په دې وجه به دا کارونه دده لپاره جائز وي.په یو قول کې امام مالك او امام شافعي ﷮ ددې خلاف دي.

مکاتب لپاره د کومو ضروریاتو پوره کولو اجازت دې ؟

وَلَا يَجُوزُ لَهُ التَّزَوُّجُ إِلَّا بِإِذْنِ الْمَوْلَى)او نکاح به نه کوي.مګر د آقا په اجازت سره.

تشریح > د احنافو او آئمه ثلاثه ﷮ په نیز مکاتب ته د آقا د اجازت نه بغیر د نکاح کولو اختیار نشته.(ابن ابی لیلی فرمائی.که د آقا د ارخه د نکاح نه کولو شرط وي.بیا خو اختیار نشته.او که ددې شرط نه وي.نو د آقا د اجازت نه بغیر هم کولې شي.

دلیله > ځکه د کتابت مطلب دادې.چه د آقا ملك قائمیدو سره د تصرف ممانعت مات کړې شي.چه هغه مقصود ته د رسیدلو وسیله وي.او نکاح کول ددې مقصد وسیله نه ده.بلکه په دې کې نورهم خلل اچول دي.ځکه چې هغه به په نکاح کولو د مهر په ادا کولو او د نان نفقة په چکر کې پریوځي.او د آقا په اجازت د نکاح اختیار ځکه دې.چه په ده کې د آقا ملك قائم دې.

وَلَا يَهَبُ وَلَا يَتَصَدَّقُ اونه به هبه کوي.او نه به صدقه ورکوي.

تشریح > مکاتب ته د هبه او صدقه کولو اختیار هم نشته.

دلیله > ځکه چې دا د تبرعاتو(احساناتو) د قبیلې ځنې دي.او مکاتب د تبرعاتو اجازت نشته.

إِلَّا بِالشَّيْءِ الْيَسِيرِ)خود معمولي (آرزان) څیز

البته د معمولي معمولي څیزونو هبه کولو اجازت دې.

دلیله > ځکه چې دا د تجارت د ضروریاتو ځنې دي.ځکه چې کله کله د معاملاتو د خلقو د ملمستیا ضرورت راپیښیږي.کله کله د سوارلۍ وغیره څه شي عاریت ور کولو ضرورت راځي.چه سوداګرو سره د لین دین تعلقات قائم پاتې شي.

د مکاتب د هبه او صدقه کولو حکم

(وَلَا يَتَكَفَّلُ)او نه به کفالت قبلوي.

تشریح > مکاتب ته دا اختیار هم نشته.چه کفالت قبول کړي.که کفالت د نفس وي.اوکه د مال وي.اوکه د مکفول عنه په حکم سره وي.او که بغیر د هغه د حکم وي.دغه دول د نقد مال د پور ور کولو اختیار نشته.

دلیله > ځکه چې دا کار د قبلې د تبرعاتو ځنې دې.د تجارت د ضروریاتو ځنې نه دې.او نه د مزدورۍ د توابع ځنې دې.که مکاتب څه شئ د عوض په شرط هبه کړو.نودا به هم جائز نه وي.ځکه چې ابتداء کې هبه هم احسان وي.او په عقد کتابت کې تبرع داخل نه ده.

(وَإِنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ مِنْ أَمَةٍ لَهُ که د مکاتب د وینځې نه دده بچې پیدا شو. دَخَلَ فِي كِتَابَتِهِ)نو هغه به دده په کتابت کې داخلیږي.

تشریح > که د مکاتب د وینځې نه دده بچې پیدا شو.نو بچې به دده په حکم کې داخلیږي.په ذکر شوی

دلیله > دلیل سره (أنه من أهل أن یکاتب وإن لم یکن من أهل الإعتاق) نو ددې بچې حکم به د مکاتب پشان

وی. ائمه ثلاثه رحمهم الله هم ددې قائل دی. ښکاره داده. چه دلته کې د مکاتب وینځې سره دده خوې آزاد ېږی.

السوال> چې هرکله مکاتب ته نه د شب باشې (وینځې سره د شپې تیرولو) اختیار دې. اونه ددې سره وطی کولې شی. نو د وینځې سره به دده بچې څنګه پیدا کیږی؟ تردې چې هغه په کتابت کې داخل وی.

الجواب> د شب باشې اختیار نه کیدلو مطلب دادې. چه دده لپاره خپلې وینځې سره وطی کول حلال نه دی. خود آزاد سری پشان دده هم د مکاتبه په ملك کې یو ډول قبضه ده. اود دعوه په وخت د نسب د ثبوت لپاره دومره خبره کافی ده. نوکه ده وطی اوکړله. اود نسب دعوه ئې اوکړله. نو اګرچه وطی دده لپاره حلال نه ده. البته نسب ثابتیږی. لکه څنګه چې په مشترك وینځه کې دی. چه د یو شریك لپاره هم وطی حلال نه ده. خوکه اوکړی. اود بچی د زیږیدل نه روسته د نسب دعوه اوکړی. نو نسب ثابتیږی. دغه ډول که د خوی وینځې سره پلار وطی اوکړی. او د بچی دعوه ئې اوکړله. نو نسب ثابتیږی.

وَكَانَ حُكْمُهُ مِثْلَ حُكْمِ أَبِيهِ نو دده حکم پشان د حکم د پلار د ده دې چې مکاتب دې **وَكَسْبُهُ لَهُ** او د بچی مزدوری به مکاتب لپاره وی.

تشریح> اودا بچې چې کوم څه اوګټی. هغه به د مکاتب وی.

فائده> څکه چې ددې بچی مزدوری د مکاتب مزدوری ده. یعنی مکاتب دا بچې ګټلې دې. او بچی مال اوګټلو. بیا ترکومه پورې چې مکاتب دده د نسب دعوه نه وه کړې. هغه وخته پورې دده مزدوری د مکاتب وه. نود نسب دعوه کولو سره به هم د مزدورۍ اختصاص نه منقطع کیږی. مطلب دادې. چه دا بچې د مکاتب د غلام په حکم کې دې. نو لکه څنګه چې د نسب د دعوه نه وړاندې دده مزدوری مکاتب لپاره وه. هم دغه ډول به د نسب د دعوه نه روسته هم دده وی.

(**فَإِنْ تَزَوَّجَ الْمَوْلَى عَبْدَهُ مِنْ أَمَتِهِ** که یوکس دخپلې وینځې نکاح خپل غلام سره اوکړله. **ثُمَّ كَاتَبَهُمَا** بیا ئې دوی دواړه مکاتب کړل. **فَوَلَدَتْ مِنْهُ وَلَدًا** او وینځې دده نه بچې راوړلو. **دَخَلَ فِي كِتَابَتِهَا** نو دا بچې به د وینځې په کتابت کې داخل وی. **وَكَانَ كَسْبُهُ لَهَا**) او د بچی ګټه به دده د مور لپاره وی.

تشریح> که آقا د خپلې وینځې واده خپل یو غلام سره اوکړله. بیا ئې دواړه مکاتب کړل. بیا ددې نه بچې پیدا شو. نو بچې به د مور په کتابت کې داخل وی. او ددې بچی مزدوری به هم مور ته ملاویږی.

فائده> څکه چې د مور تابع کیدلو تله درنه ده. په دې وجه بچې په آزادۍ او غلامۍ کې د مور تابع وی. یعنې که مور د یو کس په قبضه کې وی. نو بچې به هم دهغه په ملك کې وی. اګرچه پلار آزاد وی. او که مور آزاده ښځه وی. نو بچې به هم آزاد وی. اګرچه پلار د بوکس غلام وی. نو په آزادۍ او غلامۍ کې بچې د خپلې مور او په نسب کې د پلار تابع وی.

(**وَإِنْ وَطِئَ الْمَوْلَى مُكَاتَبَتَهُ** که آقا د خپلې مکاتبې وینځې سره جماع اوکړله. **لَزِمَهُ الْعُقْرُ** نو په ده عقر (مهر) لازم وی. **وَإِنْ جَنَى عَلَيْهَا أَوْ عَلَى وَلَدِهَا** او که په دې یا د دې په بچی ئې څه زیاتې اوکړو **لَزِمَتْهُ الْجِنَايَةُ** نو په ده به ئې تاوان لازمیږی **وَإِنْ أَتْلَفَ مَالَهَا** او که ددې مال ئې هلاک کړو غرمنو تاوان به پرې راځی

تشریح> که مولی د خپلې وینځې سره وی اوکړه نو په ده به مهر. یا په دې یا د دې په بچی ئې جنایت اوکړو نو د جنایت نفس په صورت کښې به دیت اود جنایت مال په صورت کښې به مثل مال یا د مال قیمت په ده لازمیږی.

دلیله﴾ ځکه چې مکاتب د ځان او د منافعو د تصرف په لحاظ سره د مولی د ملکیت نه اوځی اود ځان او مال په باره کښې د اجنبي په شان شو.د دې وجې که مولی د مکاتب څه نقصان هم اوکړی د هغې تاوان به پرې لازمیږي.

ذو رحم په اخستلو سره کتابت کښې داخلیږي اوکه نه؟

(وَاِنِ اشْتَرَى ذَا رَحِمٍ مَّحْرَمٍ مِّنْهُ لَا وِلَادَ لَهُ)که داسې ذی رحم محرم ئې واخستلو.چه دده سره د ولاء قرابت نشته.لَمْ يَدْخُلْ فِي كِتَابَتِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو هغه به دده په کتابت کې نه داخلیږي.د امام ابوحنیفه په نیز.

تشریح﴾ که مکاتب خپل یو داسې ذی رحم محرم واخستلو.چه هغه سره قرابت د ولاء نشته.لکه رور، خور، ترور وغیره.نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز به کتابت کې نه داخلیږي.

دلیله﴾ د امام ابوحنیفه رحمه الله رومبې دلیل دادې.چه مکاتب صرف په مزدورئ او گټه کولو باندې قادر وی.حقیقي ملك ده ته نه حاصلیږي.ځکه چې رقیت کوم چې منافی د ملك دې.هغه موجود دې.په دې وجه هغه له د صدقې مال حلال دې.گویا چې هغه سره د مزدورئ مال وی.او هغه د هبه کولو مالك نه وی.او که هغه خپله ښځه واخلي.نو دده د ښځې نکاح نه فاسد یږي.او صرف په مزدورئ باندې قادر کیدل په قرابت د ولاء کې صله رحمئ لپاره کافي دی.نو کوم سړې چې په مزدورئ باندې قادر وی.هغه ته دا حکم وی.چه هغه خپل پلار او اولاد ته نفقه ورکړی.خو د قرابت غیر ولاء لپاره کافي نه وی.تردې چې د سکه رور نفقه صرف په دې وجه واجبیږي.چه هغه توانگر وی.(په مزدورئ والا باندې نه واجبیږي).معلومه شوه.چه په قرابت محرمه کې د صله رحمئ په لحاظ سره د ولادت او غیر ولادت فرق دې.

مسلك الصاحبين﴾ د صاحبینو رحمهما الله په نیز به هغوی هم مکاتب کیږي.

دلیلهما﴾ ځکه چې صله رحمی قرابت د ولاء او قرابت غیرولاء دواړو ته گډ ده.هم دا وجه ده.که آزاد سړې خپل پلار یا خوئې واخستلو.چه هغه سره ئې قرابت د ولادت دې.نو لکه څنگه چې دې آزادیږي.هم دغه ډول که خپل سکه رور ئې واخستلو.نو هغه هم آزادیږي.نو لکه څنگه چې د آزاد په صورت کې په دې دواړو قرابتونو کې هیڅ توپیر نشته.دغه ډول د مکاتب په صورت کې به هم هیڅ توپیر نه وی.

د مکاتب د عاجزیدلو په صورت کښې د مودې او مهلت بیان

(وَاِذَا عَجَزَ الْمُكَاتَبُ عَنْ نَجْمٍ)کله چې مکاتب د یو قسط نه عاجزه شي.نَظَرَ الْحَاكِمُ فِي حَالِهِ نو حاکم دې غور اوکړی.دده په حالت کې .فَاِنْ كَانَ لَهُ دَيْنٌ يَقْبِضُهُ نو که د هغه څه قرضه وی.چه هغه وصول کړی.اَوْ مَالٌ يَقْدَمُ عَلَيْهِ یا څه مال وی.چه هغه ده ته ملاو شي.لَمْ يُعَجِّلْ بِتَعْجِيزِهِ نو دده په عاجز کولو کې دې جلتی نه کوی.وَانْتَظَرَ عَلَيْهِ الْيَوْمَيْنِ اَوِ الثَّلَاثَةَ)بلکه دوې (دوه) درې ورځې دې انتظار اوکړی

تشریح﴾ یوسړې خپل غلام په قسطونو سره په بدل کتابت ادا کولو باندې مکاتب کړو.هغه د یو قسط ادا کولو نه عاجزه شو.نو که هغه ته د یو ځائې نه د مال ملاویدو امید وی.نو حاکم به دهغه د عجز فیصله نه ورکوي.بلکه دوې (دوه) درې ورځې دې انتظار اوکړی.

دلیله﴾ چه په دې کې د آقا او مکاتب دواړو رعایت دې.او د دریو ورځو موده یوه داسې موده ده.چه دا د عذرونو ښکاره کولو لپاره مقرر کړې شوې ده.چه د مدعی علیه د دعوې لرې کولو لپاره او قرضدار ته د پور ادا کولو لپاره درې ورځې موده ورکولې شي.او د خیار موده هم شرعاً درې ورځې ده.نو دده

سره به زيات مهلت نشي وركولې.او اصل په دې باب كې دحضرت موسی او خضر عليهما السلام قصه ده.چه حضرت خضر عليه السلام په دريم خلی فرمائيلي وو. ﴿هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَبَيْنِكَ﴾

د مهلت په موده کښې اداکولو نه د مکاتب د عاجز کېدلو حکم

(وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَجْهٌ او كه دده لپاره د مال هيڅ لاره نه وى. وَطَلَبَ الْمَوْلَى تَعْجِيزَهُ او آقا دده د عاجز كولو درخواست اوكړى. عَجَّزَهُ الْحَاكِمُ نو حاكم به دې عاجز اوګرځوى. وَفَسَخَ الْكِتَابَةَ،[1] او كتابت به فسخ كړى. دا د طرفينو رحمهما الله په نيز دى.

تشريح﴾ مسلك الطرفين﴿ كه مكاتب لپاره د مال حاصلولو هيڅ لاره نه وى.او هغه د درې ورځو نه روسته هم ادا نكړى.او آقا درخواست اوكړى.چه دې عاجز اوګرځولې شى.نو قاضى به دده د عجز حكم اوكړى.او كتابت به فسخ كړى.دا د طرفينو رحمهما الله په نيز دى.

دليلهما﴾ دليل دادې.چه سبب د فسخ يعنى د مكاتب عاجز كيدل متحقق شو.ځكه چې هركله هغه د يو قسط ادا كولو نه عاجز دې.نو د دوې (دوه) قسطونو ادا كولو سره به خامخا زيات عاجز وى.په خلاف د دوې (دوه) درې ورځو، چې دومره مهلت ضرورى دې.او د عجز سبب فسخ كيدل ځكه دى.چه د آقا مقصد دا وو.چه د قسط وخت په راتلو باندې مال وصول شو.او دا مقصد فوت شو.نو هركله چې آقا دې نه بغير راضي نه وو.نو عقد به فسخ كولې شى.

وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ:امام ابويوسف رحمه الله فرمائى.لَا يُعَجِّزُهُ حَتَّى يَتَوَالَى عَلَيْهِ نَجْمَانِ) چې دې به عاجز نه ګرځوى.تردې چې په ده باندې بلا ناغه دوې (دوه) قسطونه را واوړى.

تشريح﴾ مسلك ابي يوسف﴿ امام ابويوسف رحمه الله فرمائى.چه كومه پورې په ده باندې بلا ناغه دوې (دوه) قسطونه راواوړې.هغه وخته پورې به عجز حكم نه كوى.امام احمد ، ابن ابى ليلى ، سفيان بن عيينه، حسن بن حى رحمهم الله هم ددې قائل دى.

دليله﴾ دليل د حضرت على رضي الله عنه ارشاد دې.چه د ابن ابى شيبه په مصنف كې ، بيهقى په سنن كې روايت كړې دې. (إذا تتابع على المكاتب نجمان فلم يؤد نجومه رد فى الرق)،[2] چې كله مكاتب باندې دوې (دوه) قسطونه راواوړې. او هغه نې ادا نكړې شى.نو غلامئ ارخ ته به ګرځولې شى.نو حضرت على رضي الله عنه تعجيز دې شرط سره معلق كړې دې.او كوم چې معلق بالشروط وى.هغه د شرط نه وړاندې معدوم كيږى. (وهذا لا يعرف الا سماعا فصار المروى منه كالمروى عنه صلى الله عليه وسلم)

الجواب عنه﴾ د دې ځواب دا دې.چه په دې اره كې د صحابه كرامو رضي الله عنهم آثار خپل منځ كې متعارض دى.لكه د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما روايت دې.چه ددوى يوه مكاتبه وينځه د يو قسط ادا كولو نه عاجزه شوه.نو كتابت نې فسخ كړو.او هغه نې دوباره وينځه كړله.نو ددې آثار نه دليل نيول ساقط شو.خو د ابن عمر رضي الله عنهما په اثر كې د يو قسط قيد نشته .بلكه ابن ابى شيبه رحمه الله د حضرت عطاء نه روايت كړې دې. (أن ابن عمر رضي الله عنهما كاتب غلاما له على ألف دينار فأداها إلا مائة فرده فى الرق)، ،چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما خپل يو

---

[1]) القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا فى الدرالمنتقى (٤\٢٤) والهندية (٥\١٧) وردالمحتار(٥\٧٧) ومجمع الأنهر(٤\٢٤) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢٤٦)۔

[2]) أخرجه ابن ابى شيبة فى مصنفه فى كتاب البيوع۔

غلام په زر دیناره مکاتب کړو.غلام نهه سوه دیناره ادا کړل.او سل دینار ئي ادا نکړي شو.نو حضرت ابن عمر رضي الله عنه هغه دوباره غلام کړو.نو ښکاره شوه.چه هغه د سل دیناره ادا کولو نه عاجز شوي وو.یا پیوسته د دوي (دوه) قسطونو موده تیره شوي وه.بهرحال رومبي نودا د حضرت ابن عمر رضي الله عنه فعل دی.او په اثر د علی رضي الله عنه کي قول دی. دویم دا چي دواړو کي هیڅ معارضه نشته.نو ښکاره قول د امام ابویوسف رحمه الله دی.

(وَإِذَا عَجَزَ الْمُكَاتَبُ کله چي مکاتب عاجز شو. عَادَ إِلَى أَحْكَامِ الرِّقِّ) لِانْفِسَاخِ الْكِتَابَةِ نو هغه به د غلامۍ احکامو ارخ ته واپس کیږی.د کتابت د فسخ کولو په وجه.(وَمَا كَانَ فِي يَدِهِ مِنَ الْأَكْسَابِ لِمَوْلَاهُ)او کومې مزدورئ (گټې) چي دده په قبضه کي وی.هغه به دده د آقا وی.

تشریح نفس مسئله آسانه ده.

فائده ځکه دا خبره ښکاره شوه.چه دا دده د غلام مزدوری ده.او دا ځکه دی.چه مزدوری موقوف وه مکاتب باندې ،یا دده په آقا باندې، او اوس دا توقف ختم شو.

د مکاتب په مرګ سره دده د مال او کتابت حکم

(فَإِنْ مَاتَ الْمُكَاتَبُ که مکاتب مړ شو. وَلَهُ مَالٌ او حال داچه د هغه څه مال شته. لَمْ تَنْفَسِخِ الْكِتَابَةُ نو کتابت به نه فسخ کیږی. وَقُضِيَ مَا عَلَيْهِ مِنْ مَالِهِ او خلاصولي به شي.هغه (دیون) کوم چي دده په ذمه دی.د هغه د مال نه. وَحُكِمَ بِعِتْقِهِ فِي آخِرِ جُزْءٍ مِنْ أَجْزَاءِ حَيَاتِهِ او حکم به ورکولي شی.د هغه د آزادئ، د هغه د ژوند په آخری برخه کي. وَمَا بَقِيَ فَهُوَ مِيرَاثٌ لِوَرَثَتِهِ او کوم څه چي باقي پاتي شی.هغه به د هغه د وارثانو میراث وی. وَيُعْتَقُ أَوْلَادُهُ)او د هغه اولاد به آزاد وی.

تشریح که مکاتب د بدل کتابت ادا کولو نه وړاندي دومره ترکه (مال میراث) پریږدی.او مړشي.چه هغې سره بدل کتابت ادا کیدي شي.نو عقد کتابت نه فسخ کیږی.بلکه دده په ترکه کي به دده بدل کتابت اداکولي شی.اود ژوند په آخر کي به دده د آزادئ حکم ورکولي شی.او په ترکه کي چي کوم مال باقي پاتي شی.هغه به د هغه وارثانو ته ملاویږی. (1)

فائده ① حافظ بیهقی په سنن کي د امام شعبی رحمه الله نه روایت کړي دي. (قال كان زيد بن ثابت رضي الله عنه يقول المكاتب عبد ما بقي عليه درهم لا يرث ولا يورث وكان علي رضي الله عنه يقول إذا مات المكاتب وترك مالا قسم ما ترك على ما أدى وعلى ما بقي فما أصاب ما أدى فللورثة وما أصاب ما بقي فلمواليه وكان عبد الله رضي الله عنه يقول يؤدى إلى مواليه ما بقي من مكاتبته ولورثته ما بقي)، حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه فرمائی.چه مکاتب به غلام وی.ترکومه پوري چي په ده یو درهم هم باقي پاتي وی.نه به هغه د چا وارث وی.او نه به دده څوک وارث وی.حضرت علی رضي الله عنه فرمائی.چه کله مکاتب مړ شو.او هغه څه مال پریښولو .نو دده ترکه به په هغه باندې تقسیمولي شی.کوم چي ده آدا کړي ده.او کومه چي باقي ده.نو کومه چي ادا شوی ته اورسیږی.هغه به د وراثانو

---

(1) مسلک الشافعي،- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه عقد کتابت به فسخ کیږی.او مکاتب به د غلامۍ په حالت کي د دنیا نه رخصتیږی.او دده ترکه به مولا ته ملاویږی.ابو قتاده، سلیمان، عمر بن عبد العزیز، او امام احمد رحمه الله هم ددي قائل دی.

وي.او کومه چي باقي ته اورسيږي.هغه به دده د موالي لپاره وي.حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به فرمائيل.چه د مکاتبت نه کوم باقي وي.هغه به دده موالي ته ادا کولې شي.او کومه چي باقي پاتې شي.هغه دده د وارثانو لپاره ده.④ په مصنف د عبدالرزاق کي په اخبار د سفيان ثوري رحمه الله په واسطه د ،،سماك بن حرب عن قابوس بن مخارق،، نقل دی . (أن محمد بن أبي بكر كتب إلى علي رضي الله عنه يسأله عن مسلمين تزندقا وعن مسلم زنا بنصرانية وعن مكاتب مات وترك بقية من كتابته وأولاداً أحراراً فكتب إليه علي أما اللذان تزندقا فإن تابا وإلا فاضرب أعناقهما وأما المسلم فأقم عليه الحد وادفع النصرانية إلى أهل دينها وأما المكاتب فيؤدى بقية كتابته وما بقي فلوارثه الأحرار)،، حضرت علي رضي الله عنه د حضرت محمد بن ابي بکر رضي الله عنه د دريو وارو سوالونو په خواب کي اوليکل.چه هغوی دواړه زنديق شو.که توبه اوباسي.نو بهتره ده.گني ددوی ستونه اووهه.او په زناکار مسلمان باندې حد د زنا قائم کړه.او نصرانيه زناکاره د هغوی دين والا ته ورکړئ.او د مکاتب د ترکې نه د هغه باقي کتابت ادا کړئ.او کوم چي باقي پاتې شي.هغه د هغه آزاد اولاد لپاره دي.

⑤ دليل دادې.چه عقد کتابت يو عقد معاوضه ده.(د نکاح او وکالت وغيره په معنی کي نه دې).خکه چي مکاتب لپاره د يد د مالکيت او آقا لپاره د بدل کتابت مطالبه ثابت شوې ده.اود معاوضې تقاضا داده.چه مساوات (او برابري) وي.لکه عقد کتابت د احد المتعاقدينو، يعني د آقا په مرګ سره نه باطليږي.بلکه په اتفاق سره باقي پاتې کيږي.دغه ډول به د مکاتب په مرګ سره هم نه باطليږي.خکه چي علت مشترکه د حق ژوندی کولو حاجت دې.چه د آقا د مرګ نه روسته د عقد باقي پاتې کيدلو ضرورت خکه دې.چه ددې مقصود پورې وسيدل اوشي.يعني ولاء حاصل شي.نو هم دغه ډول د مکاتب د مرګ نه روسته هم عقد باقي اوساتلې شي.چه ده ته آزادئ شرف حاصل شي.

د مکاتب د اولاد حکم

(وَإِنْ لَمْ يَتْرُكْ وَفَاءً او که ده دومره کافي مال پرې نخودلو. وَتَرَكَ وَلَدًا مَوْلُودًا فِي الْكِتَابَةِ البته په کتابت کي پيدا شوې بچې ني پريښولو. سَعَى فِي كِتَابَةِ أَبِيهِ عَلَى نُجُومِهِ نو هغه به د خپل پلار په کتابت کي مزدوري کوي.د هغه په قسطونو باندې، فَإِذَا أَدَّى کله چي هغه ادا کړي. حَكَمْنَا بِعِتْقِ أَبِيهِ قَبْلَ مَوْتِهِ نو مونږ به حکم ورکوو.د هغه د پلار د آزادئ، د هغه د مرګ نه واندې. وَعَتَقَ الْوَلَدُ) او خوني به هم آزاد وي.

تعريح> او که مذکوره مکاتب دومره مال پرې نخودلو.چه د بدل کتابت ادا کولو لپاره کافي شي.البته يو داسې خوني ني پريښولو .کوم چي د کتابت په حالت کي پيدا شوې وو.نو هغه د خپل پلار په کتابت کي د هغه د قسطونو مطابق مزدوري کوي.اود بدل ادا کولو نه روسته به حکم ورکولې شي.چه دهغه پلار د خپل مرګ نه واندې آزاد شوې وو.او د هغه خوني به هم ازاد وي.

دليله- خکه چي دې د هغه په کتابت کي داخل دې.

کتابت کښې د اخستې خوي د مکاتب د مرګ نه روسته حکم

(وَإِنْ تَرَكَ وَلَدًا مُشْتَرًى فِي الْكِتَابَةِ که په کتابت کي ني اخستې خوني پريښولو . قِيلَ لَهُ نو هغه ته به
ونيلې شي. إِمَّا أَنْ تُؤَدِّيَ الْكِتَابَةَ حَالَةً چي يا ته في الحال بدل کتابت ادا کړه. وَإِلَّا رُدِدْتَ فِي الرِّقِّ)

يا به ته واپس غلام كولي شي. د امام ابوحنيفه ﷫ په نيز.(¹)

تشريح﴾ د يو مكاتب غلام انتقال اوشو.او هغه داسې اولاد پريښولو .كوم ئې چې د كتابت په حالت كې اخستې وو.د امام ابوحنيفه ﷫ په نيز به اولاد ته وئيلې شي.چه يا خو ته فوراً بدل كتابت ادا كړه.گنې غلام جوړ شه.

دليله﴾ امام ابوحنيفه ﷫ دليل او هم دا تويير دې.په دواړو فصلونو كې چې موده عقد كې شرط كيدلو سره ثابتيږي.نودا به په هرهغه حق كې ثابتيږي.كوم چې د عقد لاندې داخل شوې وي.حالانكه اخستې شوې نه دې داخل شوې.ځكه چې دا عقد نه هغه ارخ ته مضاف دې.او نه د عقد حكم هغه ارخ ته رسيږي.ځكه چې دا د هغې نه جدا دې

مسلك الصاحبين﴾ د صاحبينو او امام مالك ﷭ په نيز دده حكم هم د هغه اولاد پشان دې.كوم چې د كتابت په حالت كې پيدا شوې وي.يعنى هغه به د خپل پلار د قسطونو مطابق بدل كتابت اداكوي.

دليلهما﴾ صاحبينو اخستې شوې غلام په پيدا شوى غلام باندې قياس كړې دې.او د قياس علت مشتركه دادې.چه دواړه تبعاً مكاتب كيږي.چه اخستې شوې ځوني هم مكاتب باندې بې اختياره مكاتب كيږي.په دې وجه آقا ته دا اختيار شته.كه هغه غواړي.نو هغه دې آزاد كړي.په خلاف د هغه د نورو مزدورو،چه آقا په هغې كې تصرف نشي كولې.تردې چې خپل اخستې شوى غلامان نشي آزادولې.

د شرابو ،خنزير يا هم دده غلام د قيمت په عوض د مكاتب كولو حكم

(وَإِذَا كَاتَبَ الْمُسْلِمُ عَبْدَهُ عَلَى خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ كله چې مسلمان خپل غلام په شرابو يا په خنزير مكاتب كړو. أَوْ عَلَى قِيمَةِ نَفْسِهِ يا ئې پخپله دده غلام په قيمت باندې مكاتب كړو. فَالْكِتَابَةُ فَاسِدَةٌ) نو كتابت فاسد دې.

تشريح﴾ كه يو مسلمان خپل مسلمان غلام د شرابو، يا د خنزير په عوض يا پخپله هم دده غلام په عوض مكاتب كړو. (بِأَنْ قَالَ كَاتَبْتُكَ عَلَى قِيمَتِكَ) نودا كتابت په اجماع د احنافو او آئمه ثلاثه ﷭ فاسد دې.(دغه دول كه آقا ذمي اوغلام مسلمان وي.بيا به هم په خمر او خنزير كتابت صحيح نه وي).په رومبى يعنى په شرابو او خنزير باندې كتابت ځكه فاسديږي.چه شراب او خنزير د مسلمان په حق كې د متقوم مال نه كيدلو په وجه د بدل كيدلو صلاحيت نه لري.نو عقد كتابت د بدل نه بغير شو.نو فاسد به وي.

دليل فساد الصورة الاولي﴾ كتابت په شرابو، او كتابت په خنزير باندې په حقيقت كې دوې «دوه» مسئلې دى.په دې وجه تعبير په،،اما الأول،، سره كيدل پكار نه دى.خو جهت د فساد كوم چې د ماليت عدم تحقق دې.په دې كې چونكه دواړه متحد دى.نو گويا دواړه مسئلې يو دى.په دې وجه ئې دا دواړه په اول سره تعبير كړې.د نفس مسئلې په ليكلو كې دې نكتې ارخ ته اشاره هم موجود ده.چه موصوف د قيمت ذكر كولو په وخت د،، على ،، حرف جار اعاده كړې ده.د خنزير ذكر كولو په وخت ئې دا نه دې راوړلې.

¹) القول الراجح هو قول أبي حنيفة ﷫ كذا في ردالمحتار(٥\٧٨) ومجمع الأنهر(٤\٢٦) وكنز الدقائق (٣٣٠) والدرالمنتقى (٤\٢٥، ٢٦) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢٤٧)

دليل فساد الصورة الثانية > دویم یعنی د غلام د نفس په قیمت باندې دکتابت فاسدېدل خکه دی.چه د غلام قیمت دجنس، وصف او مقدار هر اعتبار سره مجهول دې.د قدر جهالت خو دادې.چه قیمت سل دوې (دوه) سوه دې.او که زر یا دوې (دوه) زره دې.هیڅ معلومه نه ده.او جهالت د جنس خکه دې.چه قیمت کله سرو زرو سره کیږی.کله په سپینو زرو سره، یعنی قیمت کله دراهم وی.او کله دنانیر وی.او جهالت د وصف دادې.چه اعلی ، یا ردی یا منخنی هیڅ ئې بیان نکړل.نو جهالت شدید شو.او داسې شوه.کله چې په یو خاروی یا کپړې باندې ئې مکاتب کړې وی.او جنس ئې نه وی بیان کړې.دا په اتفاق سره فاسد دې.خکه چې سوارلئ او کپړه مختلف جنس دې.او کوم شئ چې مجهول الجنس وی.هغه په ذمه کې دین نه ثابتیږی.لکه څنګه چې نکاح کې دی.

الاشكال > که آقا په مطلق غلام یا منخنی درجې والا غلام باندې مکاتب کړو.نودا زمونږ او د امام مالك رحمه الله په نیز صحیح دی.(اګرچه امام شافعي او امام احمد رحمهما الله ددې خلاف دی).په دې صورت کې د منخنی درجې غلام یا ددې قیمت واجبیږی.تردې که دا مکاتب د منخنی درجې غلام قیمت پیش کړی.نو آقا به ددې په قبلولو باندې مجبوره کولې شی.که د قیمت په عوض مکاتب کول فاسد وو.نو دلته به صحیح نه وه.او هرکله چې په دې کې صحیح ده.نو په ذکر شوې مسئله کې کله چې ده د قیمت صراحت اوکړو.نو په دې کې هم کتابت صحیح کیدل پکار دی.

الجواب > په ذکر شوې مسئله کې که قیمت واجب وی.نو ددې قیمت وجوب به قصداً وی.حکماً به نه وی.خکه چې په دې کې د قیمت تصریح ده.او قیمت مجهول دې.نو قصداواجبول ناممکن دی.او په اعتراض کې چې کومه مسئله ذکر ده.په هغې کې که قیمت واجب وی.نو د قیمت وجوب به حکماً وی.قصداً به نه وی.خکه چې په دې کې د عهد تصریح ده.د قیمت نه ده.او شئ کله حکماً او ضمناً ثابتیږی.اګرچه دا قصداً نه ثابتیږی.لکه چې د عجل (سخی) ذبح کول جائز نه دی.خود مور تابع جائز دی.دغه دول د جنین (حمل) بیع جائز نه ده.خود مور تابع جائز ده.

په شراب، یا خنزیر یا ددې په قیمت سره د آزادئ حکم

(فَإِنْ أَدَّى الْخَمْرَ وَالْخِنْزِيرَ عَتَقَ)بیا که ادا ئې کړل شراب او خنزیر،نو آزادیږی.

تشريح > بیا که مذکوره مکاتب په رومبئ مسئله کې شراب یا خنزیر ورکړی.یا په دویمه مسئله کې د خپل ذات قیمت ورکړی.نو هغه آزادیږی.که آقا هغه ته (إن أديت إلي فأنت حر) ونیلی وی.او که نه وی ونیلی. زمونږ د علماء ثلاثه نه ظاهرالروایة هم دغه دې.

ظاهرالرواية > په نوادر کې د امام ابوحنیفه رحمه الله نه روایت دې.چه د شرابو په ادا کولو به آزادی هغه وخت حاصلیږی.کله چې آقا هغه ته دا ونیلی وی. (إن أديت الخمر فأنت حر) نو په دې صورت کې به مکاتب آزادیږی.او په ده به د خپل ذات قیمت واجب وی.د قیمت وجوب خکه دې.چه په عقد فاسد کې کله معقود علیه هلاك کړې شی.نو په دې کې قیمت واجبیږی.لکه په بیع فاسد کې که مشتری سره مبیع هلاك شی.نو ددې قیمت واجبیږی.اود آزادئ وجه داده.چه په دې صورت کې به دا آزادی د ذکرشوی شرط ، ,إن أديت،، په وجه وی.د عقد کتابت په وجه به نه وی.او دا داسې شوه.لکه چې د مردار یا وینې په عوض ئې مکاتب کړې وی.چه ددې په ادا کولو سره هغه وخت آزادیږی.کله چې آقا دا ونیلی وی. (إن أديت الميتة أول الخمر فأنت حر)

عدم الفرق في حكم الصورتين > د شرابو او خنزیر مسئلې په اره کې ، ظاهرالروایة کې د شرط ذکر کولو او

نه ذکر کولو هيڅ توپير نشته.بلکه (إن أديت الخمر فأنت حر) اووائي.اوکه اونه وائي.په دواړو صورتونو کي آزاديږي.اود نوادر په روايت کي توپير دي.نو په ظاهرالروايه کي د شرابو او خنزير، او د مرداري او وينې په منځ کي وجه د توپير داده.چه شراب او خنزير خو فی الجمله مال دي.اګرچه د مسلمان په حق کي متقوم مال نه دي.نود ماليت په اعتبار سره په دي کي معنی د عقد، يعنی د معاوضة اعتبار کول ممکن دی.اود عقد دمعنی موجب هم دا عتق (آزادی) ده.کله چي د مشروط عوض ادائيګی اوشي.پاتي شو مردار او وينه، نودا بالکل مال نه دي.نو په دي کي د عقد د معنی اعتبار کول هم ناممکن دی.په دي وجه به په دي کي د شرط د معنی اعتبار کيږي.خو دا اعتبار به هغه وخت کيږي.کله چي آقا د شرط صراحت کري وی. (بأن قال إذا أديت الميتة أو الدم فأنت حر).

د شرابو په اداکولو سره د آزادئ حکم

(لَزِمَهُ أَنْ يَسْعَى فِي قِيمَتِهِ)نو په ده دا لازم دی.چه پخپل قيمت کي مزدوری اوکړی.

تشريح په مذکوره مسئله کي چي کله مکاتب بعينه شراب اداکړی.او آزاد شي.نو هغه به پخپل قيمت کي مزدوری کوی.يعنی خپل قيمت به ګټي.او آقا ته به ئې ورکوی.

دليله ځکه چي دلته د فاسد عقد په وجه رقبه واپس کول واجب دی.خو دده د آزادولو په وجه رقبه واپس کول متعذر دی.ځکه به قيمت واجب وی.لکه څنګه چي په بيع فاسد کي که مشتری سره مبيع هلاک شي.نو قيمت واجبيږی.خو ظاهرالروايه هم هغه دي.کوم چي وړاندي تير شو.

(وَلَا يُنْقَصُ عَنِ الْمُسَمَّى او کمولي به نشی د بيان شوی مقدار نه.وَيُزَادُ عَلَيْهِ)او په دي باندي زياتوالي کيدي شی

تشريح په کوم قيمت کي به چي مذکوره مکاتب مزدوری کوی.په دي کي به د هغه مقدار نه کمی نه کيږی .کوم چي د آقا د ارخه بيان شوي وو.البته په دي کي زيادت کيدي شی.کوم خاني پوري هم چي وی.

دليله ځکه چي دا عقد فاسد واقع شوي وو.نو لکه څنګه چي په بيع فاسد کي د مبيع هلاکيدلو په وخت ددي قيمت واجبيږی.خومره هم چي وی.هم دغه ډول به دلته کي هم واجبيږی.

په غیر موصوف څاروی باندي د غلام مکاتب کولو حکم

(وَإِذَا كَاتَبَهُ عَلَى حَيَوَانٍ غَيْرِ مَوْصُوفٍ که مکاتب ئې کړو غلام، په غیر موصوف حيوان باندي، فَالْكِتَابَةُ جَائِزَةٌ)نو کتابت جائز دي.استحساناً،

تشريح که غلام ئې د يو څاروی په عوض مکاتب کړو.او دهغي ئې صرف جنس بيان کړو.مثلاً دا چي اس، يا اوښ، يا غلام به ورکول وی.او نوع او وصف ئې بيان نکړو.چه غلام به مثلاً ترکی وی.يا هندی وی.اعلی به وی.او که ادنی به وی.نو خالي د جنس په معلوميدلو سره به عقد کتابت صحيح وی.اوس به دا منځنی درجي حيوان ارخ ته واپس کولي شی.او مکاتب چي ددي قيمت ورکوی.نو آقا به ددي په اخستلو باندي مجبوره کولي شی.خو که جنس ئې بيان نکړو.مثلاً وي وئيل. (كاتبتك على دابة) نودا به جائز نه وی.

دليله ځکه چي په دي کي مختلف اجناس ګډ دی.نوجهالت به سخت وی. ددي په خلاف که جنس ئې بيان کړو.مثلاً غلام يا خادم ئې اووئيل.نو دا ځکه صحيح دي.چه دا جهالت معمولی دي.ځکه چي دا

وصف ارخ ته واپس کیږي. ذات ارخ ته نه واپس کیږي. او داسې معمولي جهالت په کتابت کې برداشت کولې شي.
د بدل کتابت د خفیف جهالت قیاس د میعاد (مودې) په مجهول کیدلو باندې دې. که د بدل د اداء موده مجهوله وي. (بِأَنْ قَالَ كَاتَبْتُكَ إِلَى الْحَصَادِ) نو عقد کتابت صحیح کیږي. په دې لړ وضاحت سره داسې پوهه شئ: چه کتابت په دې لحاظ چې دا معاوضه مال بلا مال ده. د نکاح مشابه ده. او په دې لحاظ چې معاوضه مال بالمال ده. د بیع مشابه ده. نو که جنس مجهول وي. جائز به نه وي. او که نوع او وصف مجهول وي. نو دا جهالت چونکه معمولي دې. په دې وجه دنکاح په شان کتابت کې هم برداشت کولې شي.[1]

وَإِنْ كَاتَبَهُ عَلَى ثَوْبٍ لَمْ يُسَمِّ جِنْسَهُ او که کتابت ئې اوکړو هغه سره په جامه چې نامداره کړې نې نه وه لَمْ يَجُزْ نو جائز نه ده وَإِنْ أَدَّاهُ او که ادا ئې کړه جامه لَمْ يَعْتِقْ نو نه آزادیږي.

تشریح﴾ او که چا د خپل غلام سره په جامه باندې کتابت اوکړو خو د هغې جنس ئې متعین نکړو چې دا به کارتن وي که بوسکی یا لیلن به وي که سوچه کپړه نو په دې صورت کښې دا کتابت جائز نه دې او که کپړه ئې ورکړه نو هم به نه آزادیږي.
علته﴾ ځکه چې دوه قسمه کپړې جدا جدا جنس دې نو د جهالت په وجه کتابت صحیح نشو. اوچې کتابت صحیح نشو. نو په هغې باندې به نتیجه هم نه مرتب کیږي.

وَإِنْ كَاتَبَ عَبْدَيْهِ كِتَابَةً وَاحِدَةً بِأَلْفِ دِرْهَمٍ او که د خپلو دوو غلامانو سره ئې یو عقد کتابت اوکړو په ذر زروپئ: إِنْ أَدَّيَا عَتَقَا که دواړه ادا کړې نو دواړه آزادیږي وَإِنْ عَجَزَا او که داوړه د ادا کولو نه عاجزه شو رُدَّا إِلَى الرِّقِّ نو غلامئ ته به واپس کولې شي

تشریح﴾ مسئله آسانه ده. البته که په دواړو کښې یو کس د قبلولو نه انکار اوکړو نو عقد کتابت فاسد شو. ځکه چې په یو عقد کښې د دواړو سره د آزادئ خبره شوې ده. اوچې یو قبلوی بل نه قبلوی. عقد صحیح نشو. اوچې عقد صحیح نشو. نو که یو غلام پنځه سوه روپئ ورکړئ هم نه آزادیږي.

وَإِنْ كَاتَبَهُمَا او که د دواړو سره ئې کتابت اوکړو عَلَى أَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا ضَامِنٌ عَنِ الْآخَرِ په دې شرط چې هریو به د بل ذمه وار وي جَازَتِ الْكِتَابَةُ نو کتابت جائز دې وَأَيُّهُمَا أَدَّى عَتَقَا او که کوم یو چې هم بدل کتابت ادا کړو نو دواړه آزادیږي وَيَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِنِصْفِ مَا أَدَّى او هغه به د خپل ملګري نه نیم د هغه مال واخلي کوم چې ده ادا کړې وي

تشریح﴾ په مذکوره صورت کښې دا ضروري نه ده چې هریو غلام به خپل بدل کتابت ادا کوي بلکه که یو کس د بل ملګري بدل کتابت ادا کړو نو دواړه آزادیږي. البته دومره ده چې کوم غلام پوره بدل کتابت ادا کړې وي هغه به دخپل ملګري نه نیم قیمت اخلي.

[1] مسلک الشافعي: - دامام شافعي او امام احمد رحمهما الله په نیز به معمولي جهالت سره هم کتابت جائز نه وي. قیاس هم دادې. ځکه چې کتابت د معاوضه مال بالمال کیدلو په وجه یو عقد معاوضه ده. نود بیع مشابه شوه. اود بدل یا میعاد مجهول کیدلو په صورت کې بیع نه صحیح کیږي. نو کتابت به هم صحیح نه وي.

(وَإِذَا أَعْتَقَ الْمَوْلَى مُكَاتَبَهُ کله چې آقا خپله مکاتبه آزاده کړله. عَتَقَ بِعِتْقِهِ)

تشریح ﴿ که آقا خپله مکاتبه آزاده کړله. نو هغه به دده په آزادولو سره آزادیږي.

دلیله ﴿ څکه چې په دې کې د آقا ملك قائم دې. څکه چې وړاندې داخبره معلومه شوه. چه په مکاتب باندې تر کومه پورې یو درهم هم باقي پاتې وي. هغه غلام وي.

(وَسَقَطَ عَنْهُ مَالُ الْكِتَابَةِ) او بدل کتابت به ساقطیږي.

تشریح ﴿ هرکله چې هغه آزاده شوه. نو بدل کتابت به ساقطیږي.

دلیله ﴿ څکه چې د مال التزام خو دې څکه کړې وو. چه ددې په مقابله کې آزادي حاصله شي. او دلته هغه د مال نه بغیر آزاد شو. او عقد کتابت اګرچه د آقا په اړخ کې لازم دې. یعنی هغه دا نشي ماتولې. خود غلام په رضامندئ سره فسخ کیدې شي. او دا ښکاره ده. چه هرکله غلام ته دده مزدوري ملاویږي. مطلب دا چې د مزدورئ په حق کې مونږ دده کتابت باقي ساتلې دې. او ده ته آزادي هم مفت ملاویږي. نو دې به ضرور په دې خبره راضي کیږي. چه عقد کتابت مات شي.

د آقا په مرګ سره د عقد کتابت حکم

(وَإِذَا مَاتَ الْمَوْلَى الْمُكَاتِبُ که د مکاتب آقا مړشي. لَمْ تَنْفَسِخِ الْكِتَابَةُ) نو کتابت به نه فسخ کیږي.

تشریح ﴿ که د مکاتب آقا مړشي. نو کتابت نه فسخ کیږي. چه ددې نتیجه دا نه وي. چه د مکاتب حق ختم شي.

دلیله ﴿ وجه داده. چه کتابت د آزادئ سبب دې. او آزادي د مکاتب حق دې. او د کوم کس د آزادئ چې کوم سبب وي. هغه هم د هغه حق وي. نو کتابت د هغه حق شو. اود مرګ په وجه حق نه باطلیږي. لکه چې د یو کس د بل په ذمه پور وي. او د پور والا مړشي. نو پور نه باطلیږي.

(وَقِيلَ لَهُ او مکاتب ته به ونیلې شي. أَدِّ الْمَالَ إِلَى وَرَثَةِ الْمَوْلَى عَلَى نُجُومِهِ) چې د آقا وارثانو ته مال ادا کړه. د خپلو قسطونو مطابق.

تشریح ﴿ اوس به مذکوره مکاتب ته ونیلې شي. چه د آقا وارثانو ته بدل کتابت د قسطونو مطابق ادا کړه.

دلیله ﴿ څکه چې هغه د آزادئ مستحق په دې طریقه شوې وو. او هم په دې طریقه سبب منعقد شوې وو. نو هغه به هم په دې صفت باندې باقي وي. او په دې کې به هیڅ توپیر نه کیږي. وجه داده. چه آقا کله صحیح او تندرست وي. (یعنی بیمار نه وي). نو د هغه د پوره بدل کتابت موجل (نیته وار) کولو تصرف صحیح کیږي. لکه څنګه چې د پوره بدل کتابت ساقطولو تصرف صحیح وي. او دلته د مسئلې په صورت کې چونکه علی الاطلاق دې. ددې نه معلومه شوه. چه آقا صحیح او تندرست وو. نو د هغه تصرف صحیح شو. په خلاف ددې کله چې آقا بیمار وي. او هغه غلام مکاتب کړي. په دې صورت کې مکاتب یا خو فی الحال خپل دوې (دوه) ثلثه قیمت اداکړي. یا به دې غلام کولې شي. څکه چې د بیمارئ په صورت کې د آقا د تاجیل او اسقاط تصرف د دریمې برخې (حصې) مال نه علاوه کې نه صحیح کیږي.

الاشکال ﴿ د مخکنی قول ،،ولایتغیر،، نه استثناء ده. اګرچه د یو سوال څواب دې. سوال دادې. چه د آزادئ سبب څنګه نه بدلیږي. کله چې د آقا حق پوره بدل حاصلول وو. چه هغه وارثانو لپاره شو. اوهم دا بدلول دي ؟

تشریح حاصل د خواب دادي.چه د آقا وارثان به صرف د مال کتابت په وصولولو کې د هغه خلیفه وي.او صرف دومره خبري سره نه حق بدلیږي.نه عقد کتابت،، **لأنها باقیة کما کانت**،، لکه چې د یوکس د یو سړي په ذمه پور وي.او د پور والا مړشي.نو په وصولولوکې د هغه وارثان د هغه قائم مقام وي.او قرضدار لکه څنګه چې مورث (قرضخواه) ته ادا کولو سره بري کیږي.دغه ډول وارثانو ته ادا کولو سره هم بري کیږي.نو لکه څنګه چې په نورو ټولو قرضونو کې وارثان دهغه خلیفه وي.او دې ته بدلیدل نه واني.دغه ډول په دین د کتابت کې هم خلافت ته توپیر نشي ونیلې.

(فَإِنْ أَعْتَقَهُ أَحَدُ الْوَرَثَةِ)بیاکه یو وارث دې آزاد کړو.لَمْ يَنْفُذْ عِتْقُهُ)نو دده آزادول به نه نافذ کیږي.

تشریح بیا که د آقا وارثانو کې یو وارث مذکوره مکاتب آزاد کړو.نو د هغه آزادول به نه نافذ کیږي.څکه چې هغه دده مالك نه دې.

دلیله څکه چې مکاتب په اسبابو د ملك کې په هیڅ سبب سره نه مملوك کیږي. (**ولا عتق فيما لا يملكه ابن آدم**) په شرح اقطع کې دی.چه د امام شافعي رحمه الله په یو قول کې دده آزادول نافذ کیږي. (**لأنه يصح عنده بيع المكاتب ويصح أن يملك**)

وَإِنْ أَعْتَقُوهُ جَمِيعًا البته که واړه وارثان ئې آزاد کړي.عَتَقَ نو آزاد به وي.وَسَقَطَ عَنْهُ مَالُ الْكِتَابَةِ او دده سره به بدل کتابت ساقط شي.

تشریح او که ده لره ټولو وارثانو آزاد کړو.نو د قیاس تقاضه هم دا ده.چه اوس هم جائز نه وي.

دلیله څکه چې ددوی تصرف هغه ارخ ته مضاف شوې دې.کوم چې ددوی ملك نه دې.خو استحساناً به آزاد وي.او دده د ذمې سره به بدل کتابت ساقطیږي.وجه د استحسان داده.چه ددوی ټولو آزادول د بدل کتابت نه بري کول دي.څکه چې مذکوره عوض ددوی حق دې.په کوم کې چې وراثت جاري شوې دې.نو هغوی ته د خپل حق پریښولو اختیار دې.او هرکله چې مکاتب د کتابت د عوض نه بري شو.نو هغه به آزادیږي. لکه که آقا پخپله هغه بري کړې وي.نو هغه به آزادیدلو.

د ام ولد د مکاتبه جوړولو حکم

(وَإِذَا كَاتَبَ الْمَوْلَى أُمَّ وَلَدِهِ جَازَ)که آقا خپله ام ولد مکاتب کړله.نو جائز ده.

تشریح که آقا خپله ام ولد مکاتبه کړله.نو کتابت جائز دې.

دلیله څکه چې ام ولد د آقا د مرګ نه روسته آزادیدونکې ده.البته ددې نه وړاندې هم دې ته د آزادیدلو ضرورت دې.اودا خبره به د کتابت په ذریعه حاصلیږي.بیا په کتابت او ام ولد کې هیڅ منافات نشته.څکه چې ام ولد د آزادئ دوې (دوه) جهته حاصل کړي دی.نو کتابت به صحیح وي.

(فَإِنْ مَاتَ الْمَوْلَى بیا که آقا مړ شو.سَقَطَ عَنْهَا مَالُ الْكِتَابَةِ)او ددې سره به بدل کتابت ساقطیږي.

تشریح بیا که د بدل کتابت ادا کولو نه وړاندې د آقا انتقال اوشي.نو ام ولد به مفت آزادیږي.

دلیله څکه چې ددې آزادي د آقا مرګ سره متعلق شوې وه.او ددې د ذمې سره به بدل کتابت ساقطیږي.څکه چې د بدل کتابت د ایجاب مقصد دا وو.چه ددې د ادا کولو په وخت آزادي حاصله شي.او هرکله چې آزادي ددې نه وړاندې حاصله شوه.نو کوم مقصد چې ذکرشوې وو.د هغې توفیر (پوره کول) ناممکن شو.نو مال د کتابت ساقط شو.او کتابت باطل شو څکه چې ددې بې فائدې باقي ساتل ممتنع دی.خو دومره خبره ضرور ده.چه مذکوره ام ولد ته به د هغې مزدوري او اولاد سپارلې

شي.ځکه چې د عوض په حق کې کتابت فسخ شو.او د مزدورئ او اولاد په حق کې باقي دي.په دې وجه فسخ د کتابت د ام ولد د فائدې په لحاظ دې.او فائده هم په دې کې ده.چه د ام ولد په حق کې کتابت فسخ شي.اود مزدورئ او اولاد په حق کې باقي پاتې شي.

(وَإِنْ وَلَدَتْ مُكَاتَبَةٌ مِنْهُ) كه اوزېږدله د مولى مكاتبه دده نه (فَهِيَ بِالْخِيَارِ) نو هغې مكاتبې ته اختيار دې (إِنْ شَاءَتْ مَضَتْ عَلَى الْكِتَابَةِ) كه غواړي نو عقد كتابت دې جاري اوساتي (وَإِنْ شَاءَتْ عَجَّزَتْ نَفْسَهَا) او كه غواړي نو خپل ځان دې عاجزه كړي (وَصَارَتْ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ) اود دده ام ولده به اوګرځي

تشريح> په مذكوره صورت كښې مكاتبې ته د عقد كتابت نه علاوه په بل څيز سره هم يو قسمه آزادي ملاؤ شوه چې ام ولد ګرځيدل دي.نو اوس دې ته اختيار دې چې دا د مولى په ژوند كښې آزادي غواړي نو عقد كتابت دې باقي اوساتي اوكه غواړي چې څه به مزدوري كوم بس چې كله مې مولى وفات شي بيا به راته آزادي ملاؤ شي نو هم ټيک ده.

د مدبره د مكاتب كولو حكم

(وَإِنْ كَاتَبَ مُدَبَّرَتَهُ جَازَ) كه خپله مدبرۀ نې مكاتبه كړله.نو جائز دي.

تشريح> كه آقا خپله مدبره وينځه مكاتبه كړله.نودا هم جائز دى.

دليله> ځكه چې كوم ضرورت ذكر كړې شوې دې.هغه دلته كې هم ثابتيږي.او په كتابت او مدبر كيدلو كې هيڅ منافات نشته.ځكه چې مدبره كيدلو سره دې ته آزادي بالفعل حاصل نه ده.بلكه صرف د آزادئ استحقاق دې.اوس كه آقا مرشي.او ددې مدبره نه علاوه دده هيڅ مال نه وي.نو دې مدبره مكاتبه ته به اختيار وي.كه غواړي د خپل مدبرۀ كيدلو د قيمت په دوې (دوه) ثلثه (دريو برخو كې دوې (دوه) حصې) كې دې مزدوري اوكړي.او كه غواړي بدل كتابت كې دې مزدوري اوكړي.

(فَإِنْ مَاتَ الْمَوْلَى) كه آقا مړ شو.(وَلَا مَالَ لَهُ غَيْرُهَا) او حال دا چې دده هيڅ مال نشته، سوا د مدبرۀ نه.(فَهِيَ بِالْخِيَارِ بَيْنَ) نو هغې ته اختيار دې.(أَنْ تَسْعَى فِي ثُلُثَيْ قِيمَتِهَا) كه غواړي.پخپلو (دريو حصوكې دې په) دوې (دوه) برخو كې مزدوري اوكړي.(أَوْ جَمِيعِ مَالِ الْكِتَابَةِ) يا په پوره مال د كتابت كې (دې مزدوري اوكړي).

تشريح> په متن كښې چې كوم حكم ذكر شوې دې دا دامام ابوحنيفه مذهب دې.صاحبين په دې كښې اختلاف كوي.خو د هغې تفصيل به په هدايه كښې اووايې.

دليله> د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز اعتاق متجزى دې.يعنى عتق برخې (حصې) كيدې شي.او مدبره مذكوره د يو ثلث د آزادئ مستحقه شوه.(ځكه دا خبره معلومه ده.چه مدبره د اكثرو عالمانو په نيز د ثلث مال نه آزاديږي.سوا د ابراهيم نخعي او داؤد ظاهرى نه) نو ددې دوې (دوه) ثلثه رقبه مملوكه پاتې شوه.دلته ددې د آزادئ دوې (دوه) جهته دي.يو په ذريعه د مدبره كيدلو حريت معجله (فى الحال فورى آزادى)، او بل په ذريعه د كتابت حريت مؤجله (مودې او نيته داره آزادى چې په بدل كتابت ادا كولو سره به حاصليږي).نو دې ته به د قيمت د دوې (دوه) ثلثه اود بدل كتابت په دوې (دوه) ثلثه كې اختيار وي.په كوم كې چې غواړي.سعايت (مزدوري او د آزادئ كوشش) دې اوكړي. (1)

---

(1) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الهندية (١١٥/٥) والعناية (١٢٤/٨) والكفاية (١٢٤/٨) ورد

د مکاتبه مدبره جوړولو حکم

(وَإِنْ دَبَّرَ مُكَاتَبَتَهُ صَحَّ التَّدْبِيرُ)او که آقا خپله مکاتبه مدبره کړله.نو صحيح ده. لِمَا بَيَّنَّا.(وَلَهَا الْخِيَارُ، إِنْ شَاءَتْ مَضَتْ عَلَى الْكِتَابَةِ)او دې ته اختيار دې.که په کتابت باندې چلیږی.وَإِنْ شَاءَتْ عَجَّزَتْ نَفْسَهَا او که غواړی.خپل خان دې عاجزه کړی.وَصَارَتْ مُدَبَّرَةً)او مدبره دې شي.

تشريح که آقا خپله مکاتبه وينځه مدبره کړله.نو کوم دليل چې ذکرکړې شوې دې. (لأنه تلقتها جهتا حرية) مدبر کول صحيح دی.اوس دې مکاتبه مدبره ته اختيار دې.که غواړی عقد کتابت دې پوره کړی.او که غواړی.خپل خان دې عاجزه کړی.مدبره دې شي.

دليله څکه چې د احنافو اود ثلاثه امامانو رحمهم الله په نيز عقد کتابت د مملوك په اړخ کې نه لازميږی.بيا په ذخيره کې دی.چه ددې مسئلې په اړه کې د مشائخو اختلاف دې.چه کله مکاتبه خپل خان عاجزه اوګرځوی.اوکه آقا ددې د عاجزه کيدلو نه انکار اوکړی.نو دې ته ددې اختيار دې.خو شيخ ابوبکر بلخی رحمه الله فرمائی.چه دا خبره دهغې بالکل خلاف ده.کومه چې زمونږه اصحابو پخپلو کتابونو کې ذکرکړی ده.چه په دې کې غلام پخپله اختيار مند دی.

فَإِنْ مَضَتْ عَلَى كِتَابَتِهَا نو که هغه په کتابت باندې روانه شوه. فَمَاتَ الْمَوْلَى او آقا مړشو. وَلَا مَالَ لَهُ غَيْرُهَا او ددې نه علاوه د هغه هيڅ مال نشته. فَهِيَ بِالْخِيَارِ، إِنْ شَاءَتْ سَعَتْ فِي ثُلُثَيْ مَالِ الْكِتَابَةِ نو دې ته اختيار دې.که غواړې.په دوې (دوه) ثلثه مال کتابت کې دې سعايت (مزدوری) اوکړی. أَوْ ثُلُثَيْ قِيمَتِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. اوکه غواړی.د خپل قيمت په دوې (دوه) ثلثه کې دې مزدوری اوکړی.د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز

تشريح که ذکر شوې مکاتبه مدبره عقد کتابت پوره کول اختيار کړل.او ددې د پوره کولو نه وړاندې آقا مړشو.او ددې وينځې نه علاوه هيڅ مال نشته.نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به دا اختيار منده وی.که غواړی په دوې (دوه) ثلثه مال کتابت کې دې مزدوری اوکړی.او که غواړی.د خپل قيمت په دوې (دوه) ثلثه کې دې مزدوری اوکړی.صاحبين په دې کښې اختلاف کوی.د دې تفصيل به هدايه کښې راشي.

واذا أعتق المكاتب عبده او کله چې مکاتب خپل غلام آزاد کړو. على مال د مال په عوض کښې لم يجز نو جائز نه ده

تشريح مکاتب خپل غالم نشی آزادولې اګرچې آزادی د مال په عوض کښې وی

دليله څکه چې مکاتب ته د هغه څيزونو د کولو اجازت دې کوم چې تجارت وی يا د تجارت په توابع کښې وی اوغلام د مال په عوض کښې آزادول نه تجارت دې اونه د تجارت په توابعو کښې دی

وَإِذَا وَهَبَ عَلَى عِوَضٍ لَمْ يَصِحَّ او کله چې مکاتب د عوض په مقابله کښې آزادی اوکړی نو نه صحيح کيږی.

تشريح نفس مسئله آسانه ده.

المختار(۵\۷۴) و کنز(۳۲۷) نقلاً عن القول الراجع (۲\۲۴۲)۔

فلیله> ځکه چې هبه کول ابتداء احسان کول دی او مکاتب مجاز نه دې چې ځانته هبه اوکړي.

(وَاِنْ كَاتَبَ عَبْدَهٗ جَازَ) دغه دول که مکاتب نې کړو. خپل غلام نو جائز ده

تشریح> که مکاتب پخپلو تجارتی غلامانو کې یو غلام مکاتب کړو. نو استحساناً دا هم صحیح دی. امام مالك، قاضی حنبلی، او اهل ظاهر هم ددې قائل دی. اوقیاساً دا جائز نه دې

فلیله> وجه د استحسان داده. چې دا د مال ګټلو عقد دې. نو هغه به ددې مالك وی

فَاِنْ اَدَّى الثَّانِي قَبْلَ اَنْ يُّعْتَقَ الْاَوَّلُ بیا که اداکړو دویم د رومبی د آزادېدلو نه وړاندې.

تشریح> دمکاتب خپل غلام مکاتب کول جائز دی. لکه څنګه چې پورته معلومه شوه. په متن کښې د دې بیان دې که مکاتب ثانی (مکاتب المکاتب) به د بدل کتابت اداکول، د مکاتب اول ادا کولو نه وړاندې کوی. په دې صورت کې د مکاتب ثاني ولاء به دمکاتب آقا ته ملاوېږي.

فلیله> ځکه چې مکاتب ثانی کې د آقا هم یو دول له ملکیت دې. په دې معنی چې مکاتب ثانی د مکاتب اول په واسطه د آقا مکاتب دې. نو اول لپاره د آقا کتابت په منزله د علة العلة شو. (هم دا وجه ده. که مکاتب اول د بدل اداکولونه عاجز شي. نو دده پشان به مکاتب ثانی هم د آقا ملك وی).

فَوَلَاؤُهٗ لِلْمَوْلَى الْاَوَّلِ نو دده ولاء به د اولني آقا لپاره وی.

تشریح> ولاء دې ته وائی چې یوسړي غلام آزاد کړی بیا غلام وفات شی نو دهغه میراث به آزادونکی ته ملاوېږي. دغې میراث ته ولاء وائی.

فلیله> ولاء به د مکاتب اول مولی ته ځکه ملاوېږي چې په کوم وخت کښې اولني مکاتب آزاد شوې وو په هغه وخت کښې اولني مکاتب آزاد نه وو. بلکه غلام او په هغه وخت کښې اولنی مولی آزاد وو. او ولاء د آزاد دپاره وی د غلام دپاره نه وی.

(وَاِنْ اَدَّى الثَّانِي بَعْدَ عِتْقِ الْاَوَّلِ او که دویم اداکړو. د رومبی د آزادولو نه پس. فَوَلَاؤُهٗ لَهٗ) نو دده ولاء به دده لپاره وی.

تشریح> که دویم مکاتب خپل بدل کتابت د مکاتب اول (د بدل کتابت ادا کولو او آزادېدلو نه روسته اداکړو. او آزاد شو. نو دده ولاء به مکاتب اول ته ملاوېږي.

فلیله> ځکه چې اوس ده ته د ولاء اهلیت حاصل دې. او اصل مکاتب هم دادې. نو ولاء به هم ده ته حاصلېږي.

كِتَابُ الْوَلَاءِ

ترجمه> (دا) کتاب د ولاء (د احکامو په بیان کې) دې.

تشریح> الربط بما قبله> د کتاب المکاتب نه روسته نې کتاب الولاء ذکرکړې دې. ځکه چې ولاء د بدل کتابت ادا کولو په وخت د ملك رقبه د زوال په ذریعه د کتابت د آثارو څنې دې. او دا اګرچه د اثارو د اعتاق څنې هم دې. خو په رومبې طریقه باندې د تیرشوو کتابونو او بابونو د ترتیب موجباتو د کتابت تذکره تړې دې ځایه راوْ رسوله. چه د هغې په وجه کتاب الولاء د کتاب المکاتب نه موخر کول ضروری شو. چه موثر باندې د اثر تقدیم لازم نشی.

الولاء لغة ﴾ ولاء په لغت کې د ولی یلی نه مشتق دي.(او د باب ضرب نه قلیل الاستعمال دې.په معنی د قریب او نژدې کیدلو،د رومبی شي نه روسته دویم شی؛ د فصل نه بغیر حاصلیدل، وئیلې شی.،،دار، ولی داری،، د هغه کور زما کور سره نژدې دې.

الولاء شرعا ﴾ په اصطلاح د شریعت کې ولاء، د هغه میراث استحقاق ته وائی.کوم چې آزاد شوی غلام سره یا د موالاة په وجه حاصل شی.

المسأله ﴾ ددې دوې (دوه) قسمونه دی. ① ولاء عتاقه ② ولاء موالاة.....

سببه ﴾ د ولاء عتاقه سبب د صحیح قول مطابق عتق دې.یعنی دا چې غلام دده په ملك باندې آزاد شی.(که دده په آزادولو سره وی.اوکه دده نه بغیر وی).

د ولاء عتاقه احکام

(اذا اعتق الرجل مملوکه کله چې سړی خپل مملوك آزاد کړو. فولاؤه له نو دده ولاء به آقا لپاره وی.

تشریح ﴾ کله چې آقا خپل مملوك آزاد کړی.او هغه مړشی.اوخپل هیڅ وارث پرینږدی.نو د هغه ترکه به آزاد شوی ته ملاویږی.

دلیله ﴾ ځکه چې آئمه سته د حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت کړې دې. (أنها لما اشترت بريرة رضی الله عنها اشترط أهلها أن ولاءها لهم فسألت عائشة رضی الله عنها النبی صلی الله علیه وسلم فقال اعتقيها فإنما الولاء لمن أعتق) (١) ،کله چې حضرت عائشه رضی الله عنها حضرت بریره رضی الله عنها واخستله.نو د هغې خلقو دا شرط اوکړو.چه ددې ولاء به زمونږ لپاره وی.حضرت عائشه رضی الله عنها د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه.نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل.دا آزاده کړه.بې شکه ولاء هغه چا لپاره دې.څوك چې آزاد کړی ،،

وجه الاستدلال ﴾ وجه د استدلال داده.چه د ،،الولاء،، لام جنس او د ،،لمن أعتق،، لام اختصاص دواړه په دې باندې دلالت کوی.چه جنس ولاء معتق لپاره دې.ددې دغیر لپاره نه دې.لکه څنګه چې د الله تعالی د قول ،،الحمد لله ،، په اړه کې عالمانو وئیلی دی.چه په دې کې لام د جنس او لام اختصاص دواړه په دې دلالت کوی.چه جنس محامد د الله تعالی سره مختص دی.

وکذالك المرأة تعتق دغه دول ښځه ده.چه هغه آزاد کړی.

تشریح ﴾ دغه دول که ښځه څوك مملوك آزاد کړی.نو ښځه به هم دهغه د ولاء مستحقه وی.

دلیله ﴾ سنن نسائی کې ،،عن عبدالله بن شداد،، نقل دی. (أن ابنة حمزة رضی الله عنها أعتقت مملوكا لها فمات وترك ابنته وموالاته فقسم رسول الله صلی الله علیه وسلم ماله بين ابنته وبين ابنته فجعل لها النصف ولها النصف) (٢) چې د حضرت حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه لور امامه رضی الله عنها خپل مملوك آزاد کړو.او هغه غلام خپل موالات او خپله یوه لور پریخودله.نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغې مال زما او د هغې د لور په منځ کې نیم په نیمه ویش کړو.،،

---

(١) من حديث عائشة رضی الله عنها اخرجه البخاري في الصلاة رقم ٤٥٦ و مسلم في العتق رقم ٥ وأبوداود في العتاق باب ٢ والترمذي في الولاء باب ١ والنسائي في الطلاق باب ٢٩ وابن ماجه في الفرائض باب ٥١ وأحمد في المسند (٦\٣٣)

(٢) من حديث امامة بنت حمزة رضی الله عنها اخرجه النسائي في السنن الكبرى (٤\٨٦)_ رقم ٦٣٩٩_

د ولاء نه د آزادئ په شرط سره د غلام د ولاء حکم

(فَإِنْ شَرَطَ أَنَّهُ سَائِبَةٌ که شرط ئې کړو.چه دا غلام د ولاء نه آزاد دې. فَالشَّرْطُ بَاطِلٌ نوشرط باطل دې. وَالْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ)او ولاء به د هغه کس وی.چا چې آزاد کړو. لِأَنَّ الشَّرْطَ مُخَالِفٌ لِلنَّصِّ فَلَا يَصِحُّ خکه چې شرط د نص مخالف دې.نو صحیح به نه وی.

تشریح کله چې وراندې دا ثابته شوه.چه ولاء به آزادونکی ته ملاویږی.نو اوس که په اعتاق کې دا شرط وی.چه دا مملوك به سائبه وی.یعنی د آزادئ نه روسته به د هیڅ چا په ولاء کې نه وی.بلکه هغه به اختیار مند وی.چرته چې غواړی.لاړ دې شی.او څه چې غواړی.کوی دې. (بهذه قال لا ولاء لأحد عليك أنت سائبة قد أعتقتك سائبة أنت حر سائبة) وغیره د احنافو ﷺ وغیره د جمهورو عالمانو په نیز به مذکوره شرط باطل وی.او ولاء به هغه کس ته ملاویږی.چا چې آزاد کړې دې.

دلیله خکه چې مذکوره شرط د حدیث د نص خلاف دې.

(وَإِذَا أَدَّى الْمُكَاتَبُ عَتَقَ وَوَلَاؤُهُ لِلْمَوْلَى او کله چې مکاتب عوض ادا کړو.نو هغه آزاد شو.او ولاء به د آقا وی وَإِنْ عَتَقَ بَعْدَ مَوْتِ الْمَوْلَى) .اګرچه د آقا د مرګ نه روسته آزاد شوې وی. فَوَلَاؤُهُ لِوَرَثَتِهِ الْمَوْلَى نو د هغه ولاء د وارثانو دپاره ده

تشریح د متن دواړه مسئلې آسانې دی.

دلیله خکه چې هغه آقا باندې آزاد شوې دې.هم هغه سبب سره کوم چې آقا کړې وو.او هغه کتابت دې.اودا مونږ په کتابت المکاتبت کې بیان کړې دې.

(وَإِذَا مَاتَ الْمَوْلَى که آقا مړ شو. عَتَقَ مُدَبَّرُوهُ وَأُمَّهَاتُ أَوْلَادِهِ)نو آزادیږی به د هغه مدبر، او د اولاد میاندې،.(وَوَلَاؤُهُمْ لَهُ)او د هغوی ولاء به هم دده لپاره وی.

تشریح نفس مسئله آسانه ده.

دلیله خکه چې هغه آزاد کړې دې.په مدبر کولو او ام ولد جوړولو سره

(وَمَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ چې کوم سړې د خپل ذی رحم محرم مالك شی. عَتَقَ عَلَيْهِ)هغه په ده باندې آزادیږی.(وَوَلَاؤُهُ لَهُ)او د هغه ولاء هم دده لپاره وی.

تشریح نفس مسئله آسانه ده.او دلیل هم وراندې بار بار تیرشوې دې

د ولاء منتقل کولو یو صورت

(وَإِذَا تَزَوَّجَ عَبْدُ رَجُلٍ أَمَةً لِآخَرَ که د یو کس غلام د بل وینځې سره نکاح اوکړله. فَأَعْتَقَ مَوْلَى الْأَمَةِ الْأَمَةَ بیا د وینځې آقا وینځه آزاده کړله. وَهِيَ حَامِلٌ مِنَ الْعَبْدِ په داسې حالت کې چې وینځه د غلام نه حامله ده. عَتَقَتْ نو هغه به آزادیږی. وَعَتَقَ حَمْلُهَا او ددې حمل به هم آزاد وی. وَوَلَاءُ الْحَمْلِ لِمَوْلَى الْأُمِّ لَا يَنْتَقِلُ عَنْهُ أَبَدًا)اود حمل ولاء به دمور آقا ته ملاویږی.د هغه سره به هیڅ کله نه منتقل کیږی.

تشریح مسئله داده.چه د زید یو غلام دې.او د بکر یوه وینځه ده.نود زید غلام د بکر وینځې سره په اجازت صحیح نکاح اوکړله.بیا بکر خپله وینځه په داسې حالت کې آزاده کړله.چه هغه د غلام نه حامله ده.نو حکم دادې.چه دا وینځه به آزاده وی.او ددې حمل به هم آزاد وی.او د حمل ولاء به د هغه د

مور آقا ته ملاویږي.د هغه د پلار آقا ته به نه ملاویږي.

فلهٰه څکه چې حمل هم د مور یو جزء دې.او د مور آقا په قصد سره د هغې واره اجزاؤ باندې عتق واقع کړې دې.او هغه په قصد سره د اعتاق قابل هم دې.نو هغه هم د مور د آزادونکي د ارخه په قصد سره آزاد شو.نود هغه ولاء به د پلار آقا ارخ ته نه منتقل کیږي.څکه چې آزادونکي لپاره د ولاء ثابتیدل په نص کې مطلق دې.نو هم په دې به عمل کولې شي.

(فَإِنْ وَلَدَتْ بَعْدَ عِتْقِهَا لِأَكْثَرَ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ وَلَدًا بيا که وینځې د خان د آزادیدلو نه روسته د شپږ میاشتو نه په زیات کې بچې راوړلو. فَوَلَاؤُهُ لِمَوَالِي الْأُمِّ)نو د هغه ولاء به د مور موالی لپاره وي.

تعریح که مذکوره وینځې د خپلو آزادیدلو نه د شپږ میاشتو نه په زیات موده کې بچې راوړلو.نو د هغه ولاء به هم د هغه د مور آقا ته ملاویږي.په دې شرط چې د هغه پلار نه وي آزاد شوې لکه څنګه چې وریسې مسئله کې راروان دی.وجه دا ده.چه دا بچې د خپلې مور په اتباع کې آزاد شو.

فلهٰه څکه چې دمور د آزادئ نه روسته هغه مور سره متصل دې.نو په ولاء کې به هم د مور تابع وي.اود اعتاق په وخت د حمل قائمیدلو یقین نشته.چه په قصد سره آزاد شي.لکه څنګه چې مخکښې صورت کې وو.،،فلا جرم متق تبعا لها،،

فقدة په دوارو صورتونو کې توپیر داشو. چې په رومبي صورت کې کله چې د اعتاق په وخت حمل موجود دې.یا بچې د شپږ میاشتو نه په کم کې پیدا شوې دې.چه په دې سره د اعتاق په وخت د موجود کیدلو یقین دې.نو په دې صورت کې بچې هم په قصد سره آزاد کړې شو.او آزاد کونکې هم هغه آقا دې.چا چې دده مور آزاده کړې ده.نو د آزادونکې سره به ولاء نه منتقل کیږي.او په دې دویم صورت کې کله چې د آزادئ د وخت نه د شپږ میاشتونه په زیات باندې پیدا شوې دې.چه په دې سره د اعتاق په وخت د حمل موجود کیدلو یقین نشته.نو په دې صورت کې به د بچې آزادي قصداً نه وي.د مور په اتباع کې به وي.تردې چې دا ولاء قابل انتقال دې.اګرچه بالفعل به دده ولاء د مور آقا لپاره وي.

د ولاء راښکلو مسئله

(فَإِنْ أُعْتِقَ الْأَبُ بيا که پلار آزاد کړې شو. جَرَّ وَلَاءَ ابْنِهِ نو راکاږي به پلار د خپل څوی ولاء،وَانْتَقَلَ عَنْ مَوْلَى الْأُمِّ إِلَى مَوْلَى الْأَبِ)او منتقل کیږي به د موالی دمور د ارخ نه د پلار موالی ارخ ته.

تعریح اوکه د بچې پلار آزاد کړې شو.نو اوس به هغه د بچې ولاء راکاږي.او ولاء بـه د مور موالی نه منتقل کیږي.او د مور موالی ارخ ته به راواپس کیږي.جمهور صحابه کرام ﷺ، لوني لوني تابعین، ائمه ثلاثه او احناف ﷺ هم ددې قائل دی.

فلهٰه دلیل دادې چه ولاء په مرتبه د نسب دې.د نبی کریم ﷺ ارشاد دې. ،،الولاء لحمة،، (۱) چې ولاء یو قرابت دې. د قرابت د نسب پشان نه دا خرخولې شي.نه هبه کولې شي.اونه په دې کې وراثت جاري کیدې شي.بیا چونکه نسب د پلار نیکه ارخ ته کیږي.نو هم دغه ډول به ولاء هم د پلار نیکه ارخ ته کیږي.په رومبي صورت کې چې کوم نسبت د مور موالی ارخ ته شوې وو.هغه د پلار د اهلیت نه کیدلو په وجه وو.او کله چې پلار کې د آزادئ په وجه لیاقت پیدا شو.نو ولاء بـه هم هغه ارخ ته واپس راځي.ددې مثال دادې.چه یوې ښځې میره سره ملاعنه اوکړله.او هغې نه بچې پیدا شو.چه هغه د

(۱) من حدیث ابن عمر ﷺ اخرجه البیهقي في السنن الکبری (۱۰\۴۹۴) رقم ۲۱۴۳۲ ۔

ضرورت په وجه د مور قوم ارخ ته منسوب کړې شو.ددې نه روسته پلار اووئیل.چه زه په دې ښځې د زنا تهمت لګولو کې دروغجن ووم.نودا بچې به بیا خپل پلار ارخ ته منسوب کیږي.

د عرب آزادې ښځې سره د عجمي د نکاح نه روسته د ولاء حکم

(وَمَنْ تَزَوَّجَ مِنَ الْعَجَمِ بِمُعْتَقَةِ الْعَرَبِ که یو عجمي د عرب آزادې ښځې سره نکاح اوکړله. فَوَلَدَتْ لَهُ أَوْلَادًا) چې دهغې نه اولاد پیدا شو. فَوَلَاءُ أَوْلَادِهَا لِمَوَالِيهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ() رَحِمَهُمَا اللَّهُ نود هغې د اولاد ولاء به د هغې (یعنی د مور) د موالي لپاره وي.د امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام محمد په نیز.

تشریح> یو حر الاصل عجمي د یوې ښځې سره واده اوکړو.چه هغه د چا آزاده کړې شوې وه.(که هغه عجمي ښځه وي.او که عربیه وي.او ددې آزادونکې خوك عربي وي.او که عجمي وي). د هغې نه اولاد اوشو.نود اولاد ولاء به هم ددې معتقه ښځې موالي ته ملاویږي.اګرچه ددې عجمي میړه د یو کس سره عقد موالات کړې وي.دا حکم د طرفینو رحمهما الله په نیز دې.

دلیلهما> دلیل دادې.چه ولاء عتاقه قوي دې.اود احکامو په حق کې معتبر دې.چه په ولاء عتاقه کې د کفاءت اعتبار کیږي.تردې چې معتق د عجم، د عربو د معتق کفو نشي کیدې. (ولهذا یجوز ابطال حرمة العجم بالاستیلاد) او ولاء عتاقه په ذوي الارحام باندې مقدم کولې شي.او د ولاء عتاقه واقع کیدلو نه روسته قابل د فسخ نه جوړیږي.په خلاف د عجمیانو.چه ددوی په حق کې نسب ضعیف دې.ځکه چې هغوی خپل نسب برباد کړې دې.په دې وجه هغوی کې د نسب په لحاظ سره کفو کیدل معتبر نه وي.ځکه چې هغوی نسب سره هیڅ فخر نه کوي.د هغوی افتخار خو د اسلام نه وراندې دنیا تعمیر کول او د اسلام نه روسته دین سره دې.حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه هم دې ارخ ته اشاره کړې ده.کله چې د هغوی په اره کې اوونیلې شو.،، سلمان ابن من ،،نو هغوی اوفرمائیل.،، سلمان ابن الإسلام،،

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ:امام ابویوسف رحمه الله فرمائی. يَكُونُ وَلَاءُ أَوْلَادِهَا لِأَبِيهِمْ چې ددې اولاد ولاء به د دوی د پلار دپاره وي لان النسب الی الاباء ځکه چې نسب پلارانو ته منسوب کیږي.

تشریح> **مسلك ابي یوسف**> د امام ابویوسف رحمه الله په نیز ددې اولاد حکم ددوی د پلار پشان دې.یعنی دوی به آزاد وي.نو په دوی به ولاء عتاقه نه وي.بلکه دده مال به دده د ذوي الارحام لپاره وراثت وي.ائمه ثلاثه رحمهم الله هم ددې قائل دي.

دلیله> ځکه چې ولاء په مرتبه د نسب دې.او نسب د پلار ارخ ته کیږي.که پلار عربي وي.نود اولاد حکم به هم دغه وي.په خلاف ددې کله چې پلار غلام وي.چه هغه په مرتبه د مړي دې.په دې وجه د اولاد ولاء د هغوی د مور موالي ته ملاویږي.

په باب د وراثت کښې د معتق حیثیت

(وَوَلَاءُ الْعَتَاقَةِ تَعْصِيبٌ او ولاء عتاقه یو تعصیب دې.

تشریح> ولاء عتاقه: یو تعصیب دې.چه معتق عصبه جوړه وي.چه پلار په میراث کې په معتق (آزادونکې) ذوي الارحام باندې مقدم وي.اود نسبي عصبیاتو نه موخر وي.جمهور صحابه او تابعین

---

[1]) القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في الدرالمنتقى (۳۱\۴) ومجمع الأنهر(۱۸\۴) والهندية (۲۸\۵) نقلاً عن القول الراجح (۲۴۸\۲)

وغیره هم ددې قائل دی.او هم دا د حضرت علی ﷺ نه نقل دی.بلکه عبدالرزاق د حضرت زید بن ثابت ﷺ نه هم دا روایت کړي دي.

السوال> عبدالرزاق په ،،عن الثوری عن منصور عن حصین عن ابراهیم،،، د ،،حضرت عمر، حضرت علی، او ابن مسعود ﷺ،، نه روایت کړي دي.چه دې حضراتو به وراثت د ذوی الارحامو ورکولو.د موالی به نې نه ورکولو؟

الجواب> په دې اره کې دواړه قسمه روایات دی.او دواړو کې تطبیق ممکن دې.دغه دول د حضرت زید بن ثابت ﷺ وغیره نه چې دا نقل دی.چه وراثت به موالی ته ورکولې شو.ذوی الارحام ته به نشو ورکولې.په دې کې د ذوی الارحام نه مراد هغه خلق دی.کوم چې د ذوی الفرائض و عصبات نه کمتر وی.او حضرت علی، حضرت عمر، اود حضرت بن مسعود ﷺ نه چې دا نقل دی.چه دې حضراتو به وراثت ذوی الارحامو ته ورکولو. موالی ته به نې نه ورکولو.دا په دې محمول دې.چه د ذوی الارحام نه مراد ذوقرابت عصبات دی. (

وحينئذ يتفق الأقوال)

بهرحال د جمهورو په نیز حکم هم دادې.چه معتق په ذوی الارحامو باندې مقدم اود نسبی عصبیاتو نه مؤخر وی.نو که یو کس غلام آزاد کړو.او غلام په داسې حالت کې مړشو.چه د مور خور، او د پلار خور(یعنی تروریانې) نې پریخودل.نو دده میراث به آزادونکی ته ملاویږی.دده تروریانو ته به نه ملاویږی.

دلائله> ① دلیل هغه روایت دې.چه دهغې تخریج دارمی په مسند کې کړې دې. ([1])(أن رجلاً أتى النبي ﷺ برجل فقال: إني اشتريت هذا فأعتقته فما ترى فيه؟ قال أخوك و مولاك أن شكرك فهو خير له و شر لك وإن كفرك فهو شر له و خير لك قال فما ترى في ماله؟ قال إن مات ولم يدع وارثاً فلك ماله)، ،یو سړی یو کس د نبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر کړو.اوهغه عرض اوکړو.چه ما دې اخستې او آزاد کړې دې.نو دده په اره کې ستاسو څه حکم دې؟ نبی کریم ﷺ اوفرمانیل.دا ستا (دینی) رور دې.او ستا ازاد کړې شوې دې.② دویم دلیل دادې.چه نبی کریم ﷺ د حضرت حمزه ﷺ لور ته د هغې د آزاد شوی غلام نه د عصبه کیدلو په طور باندې میراث واخستلو.چه ددې آزادې شوې یوه لور موجود وه.(دا حدیث وراندې تیرشوې دې).نو هرکله چې آزادونکې عصبه مقرر کړې شو.نو په ذوی الارحام باندې به مقدم وی.

(فَإِنْ كَانَ لِلْمُعْتَقِ عَصَبَةٌ مِنَ النَّسَبِ یا که د ازاد شوې خوك نسبی عصبه وی. فَهُوَ أَوْلَى مِنْهُ نو هغه به د آزادونکی نه غوره وی.

تشریح> او که معتق (آزاد شوی) خوئي ، رور یا څوك نسبی عصبه پریخودو.نو دا عصبه به په معتق باندې مقدم وی.ځکه چې معتق خو بالکل آخری عصبه دې.

دلیله> په دې دلیل چې مذکوره حدیث کې نبی کریم ﷺ داسې اوفرمانیل. (ولم يدع وارثاً) او ددې په اره کې د عالمانو رانې ده.چه د وارث نه مراد هغه وارث دې.چه هغه عصبه وی.مطلب داشو.چه ده څوك عصبه نه وی پرې خودې.نو معتق به عصبه وی.په دلیل د حدیث د حضرت حمزه ﷺ د لور چې تیر شوې ﷺ حدیث کې نبی کریم ﷺ عصبه په طور هغې ته میراث ورکړو.معلومه شوه.چه معتق د عصبه

---

[1]) من حديث الحسن ﷺ اخرجه الدارمي في الفرائض باب ۳۱)۔

نه مؤخر دي.او په ذوي الارحام مقدم دي.

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ عَصَبَةٌ مِنَ النَّسَبِ او كه دده نسبي عصبه نه وي. فَمِيرَاثُهُ لِلْمُعْتِقِ)نو دده ميراث به معتق لپاره وي او كه د آزاد شوي څوك نسبي عصبه وي.نو هغه به د آزادونكي نه اولى وي.

تشريح > **مفهومي الجملة** > شارحينو ددې جملې دوې «دوه» مطلبه ذكر كړي دي.

① يو دا چې هلته كې داسې صاحب فرض نه وي.چه د هغه حق دوي «دوه» قسمه دي.لكه پلار او نيكه، چې ددوى حال د فرض نه علاوه عصوبت هم دې.يعني دا حق د فرض اخستلو نه روسته باقي د عصوبت په طور اخلي.كه داسې صاحب فرض وي.نو هغه د خپل فرض نه روسته باقي هم اخلي.ځكه چې هغه عصبه دې.

② دويم داچه داسې صاحب فرض نه وي.چه د هغه صرف يو حالت دې.لكه جيني: كه داسې صاحب فرض وي.نو دهغې د فرض وراثت نه روسته چې كوم باقي شي.هغه به معتق ته ملاويږي.صاحب د نهايه رحمه الله دا دويم تاويل زيات راجح منلې دي.

د ښځو لپاره ولاء شته اوكه نشته؟

فَإِنْ مَاتَ الْمَوْلَى كه د آقا انتقال اوشو. ثُمَّ مَاتَ الْمُعْتَقُ بيا معتق مرشو. فَمِيرَاثُهُ لِبَنِي الْمَوْلَى دُونَ بَنَاتِهِ)نو دده ميراث به د آقا خامنو ته ملاويږي.د هغه جينكو ته به نه ملاويږي. وَلَيْسَ لِلنِّسَاءِ مِنَ الْوَلَاءِ او د ښځو لپاره په ولاء كې هيڅ نشته.

تشريح > كه وړاندې مولا (معتق) مړشو.بيا معتق (آزادشوي) هم مړشو.چه دهغه څوك نسبي عصبه نشته.نود معتق ميراث به د معتق د اړخه نارينه اولاد ته ملاويږي.جينكو ته به نه ملاويږي.

دليله > ځكه چې په سنن بيهقي كې د حضرت علي ، حضرت ابن مسعود ،اود حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنهم نه نقل دي. (انهم كانوا يجعلون الولاء لكبير من العصبة ولا يورثوا النساء من الولاء الا ما اعتقن أو أعتق من اعتقن)او ابن شيبه په مصنف كې د حضرت حسن بصري ، عمربن عبدالعزيز ، ابن سيرين، ابن المسيب، عطاء، او ابراهيم نخعي رحمهم الله نه هم ددې په مثل روايت كړې دې.

إِلَّا مَا أَعْتَقْنَ مگر هغه كوم چې دوى آزاد كړل. أَوْ أَعْتَقَ مَنْ أَعْتَقْنَ يا ددوى آزاد كړې شوو آزاد كړل. أَوْ كَاتَبْنَ يا كوم چې دوى مكاتب كړل. أَوْ كَاتَبَ مَنْ كَاتَبْنَ يا ددوى مكاتب شوو مكاتب كړل. اودبرن اويا تدبير اوكړى اودبرمن دبرن او يا د هغوى د مدبرتدبير اوكړى اوجرولاء معتقهن او معتق معتقهن او يا راكاږي ولاء د آزادونكي يا د هغه چا ولاء راكاږي چې هغه آزاد شوي وي.

تشريح > **توضيح كلمة في آخرالرواية** > يعني د روايت په آخر كې دا هم دي.،،أوجرولاء معتقهن،، ([1])

د جر ولاء مسئله وړاندې تيره شوې ده.دلته د معتق نساء د جر ولاء صورت دادې.چه د يوې ښځې غلام ددې په اجازت سره د بل يو قوم ښځې سره نكاح اوكړله.او د هغې نه ئې اولاد اوشو.نود اولاد ولاء به د مور موالي لپاره وي.اوس كه دا سيده ښځه دا غلام آزاد كړي.نو غلام به د اولاد ولاء خپل اړخ ته

[1] غربه الزيلعي رحمه الله ثم قال واخرجه البيهقي (اى في السنن الكبرى (١٠\٥١٥ رقم ٢١٥١١) عن علي وابن مسعود وزيد بن ثابت انهم كانوا يجعلون الولاء للكبير من العصبة ولا يورثون النساء من الولاء إلا ما أعتقن أو أعتق من أعتقن (نصب الراية ٤\٣٧٣)_

راکاږي.اودا ښځه به هغه خپل ارخ ته راکاږي.او د جر ولاء معتق المعتق صورت دادي.چه يوې ښځې غلام واخستلو.او آزاد ئې کړو.بيا دې آزاد شوي غلام يو غلام واخستلو.او دې دويم غلام د يو قوم آزادې ښځې سره نکاح اوکړله.او هغې نه ئې اولاد اوشو.نود اولاد ولاء به د مور موالي لپاره وي.اوس که آزاد شوې غلام دا دويم غلام آزاد کړي.نودا غلام به د خپل اولاد ولاء راکاږي.بيا به دا ولاء رومبې معتق خپل ارخ ته راکاږي.او دده ولاء به دا ښځه خپل ارخ ته راکاږي.

فائده لکه څنګه چې پلار د خپل خوي ولاء راکاږي.دغه ډول نيکه د خپل نوسي ولاء راکاږي او که نه؟ نو حاکم په کافي کې د امام شعبي رحمه الله قول ذکر کړې دې.چه نيکه هم راکاږي.قاضي شريح، سفيان ثوري ،امام مالك، اهل مدينه، اوزاعي ، ابن ابي ليلى ، او ابن المبارك هم ددې قائل دي.خو زمونږ د آئمه ثلاثه رحمهم الله په نيز نيکه د نوسي ولاء نشي راخکلې.او نه نوسي د خپل نيکه د اسلام په اتباع کې مسلمان کيدې شي.د امام زفر رحمه الله په نيز، که پلار ژوندې وي.نو نيکه ولاء نشي راخکلې.او که پلار مړ شوي وي.نو راکاږي.

(وَاِذَا تَرَكَ الْمَوْلَى ابْنًا وَّاَوْلَادَ ابْنٍ آخَرَ) که آقا خپل خوئي اود بل خوی نارينه اولاد پريخودو. فَمِيرَاثُ الْمُعْتَقِ لِلِابْنِ دُوْنَ بَنِي الِابْنِ نود معتق ميراث به خوی لپاره وي.نوسو لپاره به نه وي.لِأَنَّ الْوَلَاءَ لِلْكِبَرِ) څکه چې ولاء په تولو کې د لوئي لپاره وي.

تشريح که آقا خوئي او د دويم خوی نارينه اولاد يعني نوسي پريخودل.چه د هغوی پلار مړ شوي دي.ددې نه روسته آزاد کړې شوې مړ شو.چه دهغه څوك نسبي عصبه وارث نشته.نو دمعتق ميراث به د آقا خوی ته ملاويږي.نوسو ته به نه ملاويږي.

دليل څکه چې د ولاء مستحق هم هغه وي.چه دهغه نسب د آقا په ارخ د تولو نه زيات نژدې وي.د صحابو رضي الله عنهم د يو جماعت د حضرت عمر، حضرت علي ، حضرت ابن مسعود، حضرت عبدالله بن عمر، اسامه بن زيد، ابو مسعود بدري ، او د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنهم وغيرهم نه دا نقل دي.لکه څنګه چې وراندې د سنن بيهقي په حواله سره تيرشوی دی. (انهم كانوا يجعلون الولاء للكبر من العصبة)([1]) بيا د مشائخو رحمهم الله د قول په بنا (بنياد) باندې دلته د کبير (لوئي) نه مراد قرب (نيزديکت) دې.يعني کوم چې د تولو نه زيات نژدې وي.او ښکاره ده.چه د آقا په نسبت چې کوم خوئي دې.هغه د نوسو نه زيات نژدې دې.

د يوکس په لاس اسلام راوړلو څخه موالات کولو سره د ولاء حکم

(وَاِذَا أَسْلَمَ رَجُلٌ عَلَى يَدِ رَجُلٍ) کله چې يوکس د چا په لاس اسلام راوړلو. وَوَالَاهُ عَلَى أَنْ يَرِثَهُ او هغه سره ئې موالات اوکړو.چه هغه به دده وارث وي. وَيَعْقِلَ عَنْهُ اِذَا جَنَى او دده ديت به ورکوی.که دې جنايت اوکړي. أَوْ أَسْلَمَ عَلَى يَدِ غَيْرِهِ يا ئې د بل چا په لاس باندې اسلام راوړلو. وَوَالَاهُ او هغه سره ئې موالات اوکړو. فَالْوَلَاءُ صَحِيحٌ نودا ولاء صحيح ده. وَعَقْلُهُ عَلَى مَوْلَاهُ او ديت به دده په مولا وي. فَإِنْ مَاتَ نو که هغه مړشي. وَلَا وَارِثَ لَهُ غَيْرُهُ او هيڅ څوك وارث نه وي. فَمِيرَاثُهُ لِلْمَوْلَى) نو دده ميراث به مولا لپاره وي.

---

[1]) تقدم ذکرهم عن قريب.

تعريح> يوسړى د بل كس په لاس باندې اسلام راوړلو.او نومسلمان دده سره موالات اوكړو.چه زما د مرګ نه روسته به دې زما د كل مال وارث وي.اوكه زما نه څه جرم اوشي.نو دده د اړخه به هغه ديت وركوي.يا ئې د بل چا په لاس اسلام راوړلو.او بل مسلمان سره ئې هم موالات اوكړو.نو زمونږ په نيز دا عقد صحيح دې.اوس ددې نومسلمه د مرګ نه روسته به دا سړې وارث وي.كه د هغه خپل وارث نه وي.اود جرم كولو په صورت كې به دهغه د اړخه تاوان وركوي. د حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علي ، او د حضرت ابن مسعودﷺ نه نقل دى.چه دې حضراتو موالات جائز ګرځولې دې.او ددې په سبب سره ئې وراثت وركړې دې. ابراهيم نخعي ، سعيد بن المسيب حسن بصري ، مكحول، عمر بن عبدالعزيز، ربيعه، يحي بن سعد ، عطار، زهري ، حكم، حماد ، امام ابوحنيفه او ددوى اصحاب ﷺ هم ددې قائل دى. (۱)

دليله> دليل دا آيت دې. ﴿وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ﴾ په دې كې ﴿عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ په معنى د ،،حالفتم،، دې.لكه چې دويم آيت كې دى. ﴿يَوْمَ يَنظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ﴾،، اى نفسه،، چونكه كسب او عمل زيات په لاسونو سره كيږي.په دې وجه د عقد اضافت ايمان اړخ ته اوكړې شو.وجه د استدلال داده.چه آيت د عقد موالات په اړه كې نازل شوې دې.دې دليل سره د مخكنى آيت ﴿وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ﴾ نه د وراثت په طور د برخو د استحقاق بيان مقصود وو.په ابتدائى طور باندې د قرابت او دنيكئ او د سلوك په طور وركول مقصود نه وو.نو هم دغه ډول كوم چې په دې باندې عطف دې.د هغې نه مراد به هم استحقاق په طريقه د ارث وي.ځكه چې د معطوف او معطوف عليه حكم يو وي.په مبسوط د بكرى كې دى.چه الله تعالى ولاء موالات على الاطلاق د ارث سبب ګرځولې دې. ددې توپير نه بغير چې مړى لپاره بل خپل وارث وي.يا نه وي.صرف دومره خبره ده.چه د چا بل خپل وارث وي. د هغه په حق كې دا په قول د الله تعالى ﴿وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ﴾ سره منسوخ شوې دې. او د چا چې بل خپل وارث نه وي.د هغه په حق كې هيڅ ناسخ نشته.نو هغه به د آيت د ظاهر لاندې داخل وي.

د وارث په موجودګۍ كښې د موالات حكم

﴿وَإِنْ كَانَ لَهُ وَارِثٌ﴾ اوكه دده خپل وارث وي.﴿فَهُوَ أَوْلَىٰ مِنْهُ﴾ نو د مولا سره به هغه زيات غوره وي.

تشريح> كه ددې نومسلم موالات كونكي خپل وارث وي.نو هغه به دده د مولا نه مقدم وي.يعنى ميراث به هغه ته ملاويږي.مولا ته به نه ملاويږي.

دليله> ځكه چې عقد موالات دوى دواړو پخپل طور باندې منعقد كړې دې.نو هغه به هم ددوى لپاره وي.په نورو به نه لازميږي.يعنى هغوى په دې سره د نورو وارثانو حق نشي ختمولې.

﴿وَلِلْمَوْلَىٰ أَنْ يَنْتَقِلَ عَنْهُ بِوَلَائِهِ إِلَىٰ غَيْرِهِ﴾ او مولا لپاره جائز دى.چه دده د موالات نه اوګرځيږي.او بل اړخ ته منتقل شي.﴿مَا لَمْ يَعْقِلْ عَنْهُ﴾ تركومه پورې چې دده د اړخه عاقله كيدلو سره هيڅ نه وي وركړې.

تعريح> د نومسلم موالات كونكى لپاره جائز دى.چه د چا سره هغه موالات كړې دې.د هغه د موالات

(۱) مسلك الائمة:-د ائمه ثلاثه او امام شعبي ﷺ په نيز موالات هيڅ شئ نه دې.(يعنى داسې شئ نه دې.چه هغه موجب د ارث او عقل وي.

نه اوګرځي.او بل سره موالات اوکړي.په دې شرط چې مولاتې اول دده د ارخه عاقله شوی نه وي.او څه نې ادا کړي نه وي.

دليله ځکه چې دا عقد په مرتبه د وصيت لازمي نه دې.ددې عدم لزوم په وجه مولاتې اعلى هم دده ولاء پريښودې شي.په دې شرط چې دا ترک د بل په موجودګئ کې وي.لکه څنګه چې په قصد سره د وکيل په معزول کولو کې کيږي.

(فَإِذَا عَقَلَ عَنْهُ او که هغه دده د ارخه عاقله جوړ شوې وي.(او جرمانه ورکړې وي).لَمْ يَكُنْ لَهُ أَنْ يَتَحَوَّلَ بِوَلَائِهِ إِلَى غَيْرِهِ)نو دده دولاء سره به بل ارخ ته د منتقل کيدلو اختيار نه وي.

تشريح که مولاتې اول دده د ارخه عاقله شوې وي.او جرمانه نې ادا کړې وي.نو بيا دده د ولاء نه نشي ګرځيدلې.

دليله ځکه چې دده سره د غير حق متعلق شوې دې.او قاضي دده مولا عاقله ګرځولې دې.او په ده باندې نې د ديت حکم کړې دې.

(وَلَيْسَ لِمَوْلَى الْعَتَاقَةِ أَنْ يُوَالِيَ أَحَدًا)او مولاتې عتاقه ته دا اختيار نشته.چه هغه چا سره موالات اوکړي.

تشريح اصل مسئله آسانه ده

دليله ځکه چې ولاء عتاقه لازم دې.او ددې په باقې پاتې کيدلو کې ادنى نشى ښکاره کيدلې.

مکاتب لپاره خپل پلار یا خوی سره د عقد کتابت حکم

(وَإِذَا اشْتَرَى الْمُكَاتَبُ أَبَاهُ أَوِ ابْنَهُ که مکاتب واخستلو، خپل پلار، یا خوئې، دَخَلَ فِي كِتَابَتِهِ)نو هغه دده په کتابت کې داخليږي.

تشريح که مکاتب خپل اصول او فروع (پلار، خوئې وغيره) واخستل.نو تبعاً به هغوی هم په کتابت کې داخليږي. نو مکاتب چې آزاديږي.دوی به هم آزاديږي.ګنی مکاتب سره به د آقا غلامئ کې اوسيږي.

دليله وجه داده.چه مکاتب که د آزادولو اهل نه دې.نو لږترلږه د مکاتب کولو اهل دې.نو حتى الامکان به د صله رحمئ رعايت ساتلې شي.نو آزاد سړې چې کله د اعتاق مالك وي.او هغه پلار یا خوئې واخستلو.نو هغه به په ده باندې آزاديږي.

فائده په متن کې بو خوځبرې د بيان قابل دی : ابو الحسين قدوري رحمه الله چې پلار په خوی باندې مقدم ذکرکړې دې.دا د پلار د تعظيم په لحاظ سره دی.ګنی په کتابت کې د داخليدلو په ترتيب کې خوئې په پلار باندې مقدم دې.که هغه په کتابت کې پيدا شوې وي.یا هغه اخستې شوې وي.او مولود في الکتابت (د کتابت په مهال پيدا شوې) په اخستې شوی خوی باندې مقدم دې.ځکه چې د مولود في الکتابة په حق کې د کتابت واړه احکام په طريقه د تبعيت ښکاره کيږي.مثلاً د پلار په ژوند کې دده بيع حرام وي.دده نه بدل کتابت د پلار د قسطونو مطابق اخستلې شي.په خلاف د مشترى د خوى ،چه په حالت د ژوند دده بيع حرام وي.خود پلار د مرګ نه روسته دده سره بدل کتابت د قسط نه بغير فوري اخستلې شي.او د قسطونو مطابق مزدورئ کولو باندې قابو نشي ورکولې.چه د مولود في الکتابت په نسبت دده د حالت نقصان ښکاره شي.پاتې شو پلار، نو دده د مکاتب خوی په ژوند کې دده بيع حرام وي.اود خوی د مرګ نه پس، دده نه بدل کتابت نشي قبلولې.نه وقتي طور (يعنى في الحال) او

نه غير وقتي طور باندي (يعنى روسته هم نه قبليږي)

په كتابت كښې د ام ولد د بچي حكم

(وَإِنِ اشْتَرَى أُمَّ وَلَدِهِ مَعَ وَلَدِهَا اوكه واخلي خستلو ام ولد، د هغې د بچي سره دَخَلَ وَلَدُهَا فِي الْكِتَابَةِ نو دا خليږي.ددې بچي په كتابت كې ،وَلَمْ يَجُزْ بَيْعُهَا)او دده بيع جائز نه ده.

تشريح> كه مكاتب خپله ام ولد واخستله.نو ددې بچي به مكاتب سره كتابت كې داخليږي.علامه مرغيناني رحمه الله فرمائيلي دي.چه دلته د ام ولد نه مراد مملوكه نه ده.بلكه د مكاتب ښځه مراد ده.كومه چي د غير وينځه اود مكاتب بي بي ده.چه ددې سره د مكاتب د نطفې نه بچي دي.بهرحال دلته كې دوې (دوه) حكمونه ذكر شوي دي.

① د ام ولد د اخستلو په صورت كې به بچي په كتابت كې داخليږي.

② دويم دا چې اوس مكاتب دده مور نشي خرڅولي.

فائده> د بچي په كتابت كې د داخليدلو وجه هم هغه ده.كومه چي د فصل په پيل كې تيره شوه. (انه من أهل أن يكاتب وإن لم يكن من أهل الإعتاق) او دده مور څكه نشي خرڅولي.چه هغه د آزادئ په حق كې او د بيع په نه كيدلو كې د خوى تابع ده.څكه نبى كريم ﷺ ارشاد فرمائيلې دي. (أعتقها ولدها) ([1]) دا ددې بچي آزاده كړله. (وقد تقدم في الإستيلاد)

كِتَابُ الْجِنَايَاتِ

ترجمه> (دا) كتاب د جناياتو(د احكامو په بيان كښې) دې.

تشريح> **الربط بماقبله**> د دې نه وراندې كتاب العتاق او د هغې متعلقات وو.په عتاق كښې آزادى او ژوند دې او دلته كتاب الجنايات دې په دې كښې مرګ او هلاكت دې.نو د دې دواړو په مينځ كښې د تضاد په اعتبار سره ربط دې دغه شان په عتاق كښې آزادى او ژوند دې او په قصاص كښې هم ژوند دې.نو په دې اعتبار سره هم د دواړو په مينځ كښې ربط دې.

اقسام الجناية> د جناياتو دوه قسمونه دى ① جنايت على نفسه ② جنايت على غيره،د رومبى قسم نه بحث كول دلته مقصود نه دى.

الاقسام الاربعة للجناية علي الغير> بيا د جنايت على غيره څلور قسمونه دى. ① جنايت په نفس غير باندې وى. ② جنايت على الغير دده په طرف وى. ③ جنايت على الغير دده په عزت (او آبرو) باندې وى. ④ جنايت على الغير په مال باندې وى.

اقسام الجناية علي نفس الغير> بيا د رومبى څلور قسمونه دى ① قتل ② صلب (په سولۍ كول او پهانسى كول) ③ حرق (سوزول) ④ غرق (ډوبول).

اقسام الجناية علي طرف الغير> او د دويم درې قسمونه دى ① قطع (كټ كول) ② كسر (ماتول) ③ شج (زخمى كول) او هم ددې دواړو احكام دلته په كتاب الجنايات كښې بيانول مقصود دى.

اقسام الجناية علي عزة النفس> د دريم دوه قسمونه دى ① قذف ددې موجب حد دې.چه ددې تفصيل د هداية په دويم جلد كښې تير شوې دې. ② غيبت ددې موجب اثم (اوګناه) ده.او دا د آخرت د احكامو څخه دې.

اقسام الجنایة علي مال الغیر ← بیا د خلورم دري قسمونه دی ① غصب چه ددې احکام د دریم جلد په آخر کښي ذکر دی. ② جنایت ③ سرقه. [کذا في عقود الجواهر المنيفه، ص۱۴۳، ج۲]

د قتل پنځه اقسام

اَلْقَتْلُ عَلٰى خَمْسَةِ أَوْجُهٍ او قتل په پنځه قسمه دي **عَمْدٌ، وَشِبْهُ عَمْدٍ، وَخَطَأٌ** عمد، او شبه عمد، او خطاء، **وَمَا أُجْرِيَ مُجْرَى الْخَطَأِ** او کوم چه دَ خطاء قائم مقام وی **وَالْقَتْلُ بِسَبَبٍ** او قتل په سبب سره.

تشریح ← امام قدوري رحمه الله فرمائي.چه د قتل اقسام ډیر دي.خو دلته کښي مونږ صرف هغه اقسام بیانوو.چه هغې سره دا احکام متعلق کیږي.قصاص، دیت، کفاره، میراث نه محرومیدل، او دا پنځه قسمه قتلونه دي.کوم چه ذکر شو.چه ددې تفصیلي احکام راروان دی.مونږ په درس سراجي کښي اقسام د قتل په اختصار او جامعیت سره بیان کړی دی.خو هلته کښي د مناسبت په وجه قائم مقام د قتل خطاء جدا نه دي بیان کړي شوي .په دې وجه صرف خلور قسمونه بیان شوی دی.

د قتل عمد تفصیل

(**فَالْعَمْدُ مَا تَعَمَّدَ** نو قتل عمد دا دي.چه اراده اوکړي شی **ضَرْبَهُ بِسِلَاحٍ** د مقتول د وژلو په وسلې سره **أَوْ مَا أُجْرِيَ مُجْرَى السِّلَاحِ** یا په داسې خیز سره کوم چه د وسلې قائم مقام وی. **فِي تَفْرِيقِ الْأَجْزَاءِ** اندامونو په ماتولو کښي **كَالْمُحَدَّدِ مِنَ الْخَشَبِ** لکه د سوکې والا لرګې، **وَالْحَجَرِ** او کانړی **وَالنَّارِ** او اور، **وَمُوجِبُ ذٰلِكَ الْمَأْثَمُ** او د قتل عمد موجب ګناه ده.

حل اللغة ← ① **سلاح**: وسله ② **الخشب**: د سوکې لرګي کانړي]

تشریح ← مخکښي امام قدوري رحمه الله د قتل پنځه اقسام بیان کړل.ددې ځائې نه د قتل عمد تفصیلي ذکر دي.نو وي فرمائیل.چه کله د یو انسان د وژلو اراده وی.او هغه دپاره داسې وسله استعمال کړې شي.چه هغه قتلونکي ده.نو دا قتل عمد دي.لکه توره، طمانچه، ټوپک، توپ وغیره، او لکه تیره لرګي.او تیره د بانس پوستکې، او تیره کانړي، او لکه اور، وجه ددې دا ده.چه د قتل عمد دپاره د قتل اراده پکار ده.او اراده یو مخفي او پټ خیز دي.نو کله چه د قتل د ارادې دلیل اوموندې شي.نو هم په دې به اکتفاء کولې شي.او دې ته به قتل عمد ونیلې شي.او کله چه قاتل داسې الات او وسله استعمال کړله.چه دې سره قتل واقع کیږي.نودا به د عمد دلیل وی.

حکمه ← د قتل عمد حکم دا دې.چه په دې کښي دیت او کفاره نه لازمیږي.بلکه ګناه او قصاص لازمیږي.هم دا مرغیناني رحمه الله فرمائیلي دی.چه د قتل عمد موجب ګناه ده.اوس فرمائي.چه قتل عمد ګناه ده.نو ددې دلیل دا آیت دي. ﴿وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾ ددې آیت نه معلومه شوه.چه قتل د مومن ګناه ده.او د ډیر حدیثونو نه د قتل ګناه کیدل معلومیږي. او د قتل عمد په ګناه کیدو باندې د امت اجماع ده.

قصاص په هغوم قتل سره واجبیږي

وَالْقَوَدُ)او قصاص واجب دي

تشریح ← د ګناه سره سره قتل عمد کښي قصاص هم واجبیږي.

دلیله ← ځکه چه د قرآن کریم دا آیت﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلٰى﴾ په وجوب د قصاص باندې دلالت کوی.

الاشکال ﴿ که څوك دا اعتراض اوکړي چه آيت کښې خو د قتل عمد ذکر نشته.بلکه د مطلق قتل ذکر دي؟ نو مونږ وايو چه په يو حديث سره ئې ددې آيت تفسير فرمائيلې دې.چه دلته د قتل نه قتل عمد مراد دي.حديث کښې دی. (العمدقوه)چه، .قتل عمد قصاص دې، .يعنی د قصاص سبب دي.

الجواب ﴿ او آيت کښې د قتل نه مراد قتل عمد دې.ددې دليل دا هم دې.چه پوره پوره جرم د عمديت په وجه کيږی.او د زجر(ملامته کولو) پوره نفع او فائده هم هغه وخت حاصليږی.کله چه جنايت کښې ده تعمد کړې وی.او د ټولو نه لوئې جرم دنيا کښې يوکس قتلول دی.او د ټولو نه لويه سزا قصاص ده.نو قصاص به په لوئې جنايت کښې واجب وی.او قتل به لوئې جنايت هغه وخت وی.لکه چه ددې عمد (قصد او اراده) وی.په دې وجه مذکوره آيت کښې وجوب د قصاص عمديت سره مقيد منلې شوي دي.

د قتل عمد سزا او ددې حکم

اِلَّاۤ اَنۡ يَّعۡفُوَالۡاَوۡلِيَـآءُخو دا چه اولياء معاف کړی

تشريح ﴿ د قتل عمد اصل سزا قصاص دې.او دا هم فرض عين دې.چا چه قتل کړې دې. هغه نه به قصاص اخستلې شی.دده په بدله کښې به د بل نه (قصاص) نشی اخستلې.خو قصاص د اولياو حق دي.که هغوی ئې معاف کړی.نو ختميږی.يا دوی مصالحت اوکړی.او ددې په بدله کښې څه واخلی.او قصاص پريږدی.نو جائز دی.خو د قصاص په ځائې به ديت هغه وخت واجبيږی.کله چه قاتل هم په ديت ورکولو باندې راضی شی.

وَلَاکَفَّارَةَ فِيۡهِاو په دې کښې زمونږ په نيز کفاره نشته

تشريح ﴿ ① په قتل عمد کښې کفاره نشته. (۱)

دلائله ﴿ ① دليل قتل عمد گناه کبيره ده.او ډيره سخته کبيره ده.اوپه کفاره کښې د عبادت معنی ده.نو کومه کفاره چه عبادت دې.د هغې سبب به داسې کبيره گناه څنگه جوړيږی.کفاره پخپلې رائې سره نه واجبيږی.بلکه د شريعت په متعين کولو سره واجبيږی.

② شريعت کفاره، د هغې گناه لرې کولو دپاره متعين کړې ده.کومه چه قتل خطاء کښې ده.او دا گناه معمولی ده.نو پخپل قياس سره د بنده گانو نه ددې گناه لرې کولو دپاره کفاره نشی متعين کيدې.کوم چه قتل عمد دې.او دا گناه ډيره لويه ده.

حکم قتل العمد ﴿ دقتل عمد حکم دا دې.چه قاتل ته به ميراث نه ملاويږی.حديث کښې راځی.چه ،قاتل ته به ميراث نه ملاويږی، يعنی قتل مانع د ميراث دې.

قتل شبه عمد کوم قتل ته وائی؟

وَشِبۡهُ الۡعَمۡدِ عِنۡدَ اَبِیۡ حَنِيۡفَةَاو شبه عمد د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دا دې آن يَّتَعَمَّدَ الضَّرۡبَ چه قاتل په داسې څيز سره د وهلو اراده اوکړی بِمَا لَيۡسَ بِسِلَاحٍ وَلَامَا اُجۡرِيَ مُجۡرَی السِّلَاحِ چه هغه نه وسله ده.او نه د وسلې قائم مقام دې.

تشريح ﴿ **مسلک ابي حنيفة** ﴿ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.چه کله په قصد سره اووهی.او په داسې څيز سره اووهی.کوم چه وسله نه شمارلې کيږی.نو دا شبه عمد دې.اگرچه ددې څيز په استعمالولو سره عام طور

---

(۱) **مسلک الشافعي**:- دامام شافعی په نيز واجب ده

باندې مرګ نه واقع کیږي. یا په دې مرګ نشي کولې.نوکه په امسا ئې مر کړي، یا ئې په کاڼي مرکړي، یا ئې په ډنډه(لرګی) مر کړي، یا ئې قینچۍ باندې مر کړي، چونکه دا وسله نه شمارلې کیږي.په دې وجه دا ټول صورتونه په شبه عمد کښې داخل دي.

دلیله د امام صاحب رحمه الله دلیل دا دې. چه په حدیث کښې دي.چه أَلَا أَنَّ قَتِيلَ خَطَإِ الْعَمْدِ قَتِيلُ السَّوْطِ وَالْعَصَا وَفِيهِ مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ [1] خبرشئ چه د شبه عمد مقتول، د کوړې او امسا (کونتۍ) مقتول دې ،او په دې کښې سل اوښان دی یعنی شبه عمد مقتول هغه دې.کوم چه په کوړې او امسا وغیره سره مر کړې شوي وی.او په دې کښې د دیت سل اوښان دی.نو اوګورئ چه دې حدیث کښې د مطلق امسا ذکر دې.چه دا ډنډې او امسا دواړو ته شامل دې.نو د صاحبینو رحمهما الله دا فرمائیل،چه ددې نه مراد ډنډه ده.دا مطلق باطلول دي.چه دا جائز نه دي.

> **وَقَالَا** او فرمائیلی دی امام ابویوسف او امام محمد رحمهما الله إِذَا ضَرَبَهُ بِحَجَرٍ عَظِيمٍ أَوْ بِخَشَبَةٍ عَظِيمَةٍ فَهُوَ عَمْدٌ کله چه قاتل مقتول په لوئې کاڼړي یا غټ لرګی سره اووهلو.نو دا عمد دې. **وَشِبْهُ الْعَمْدِ** او شبه عمد دا دې **أَنْ يَتَعَمَّدَ ضَرْبَهُ** چه د مقتول په داسې څیز سره د وهلو قصد اوکړی **بِمَا لَا يُقْتَلُ بِهِ غَالِبًا** چه هغې سره عام طور باندې قتل نه کیږي

حل اللغة ① **خشبة**: د سوکې والا لرګی

تشریح صاحبین فرمائی کله چې یې په لوئ کاڼړي باندې اووهل یا یې په لوئې لرګی اووهل نودا قتل عمد دې او په کوم څیز سره عام طور باندې نشی قتلولې.هغې سره قصدا مر کولو سره به شبه عمد وی.اګرچه دا وسله نه وی.خو ددې په استعمالولو سره مرګ واقع کیږي.نو په داسې څیز سره په وژلو باندې قتل عمد وی.نو د صاحبینو رحمهما الله په نیز که په لرګی وغیره سره مر کړی.نو بیا به هم قتل عمد وی.او په لوئې کاڼړي ئې مر کړو.نو بیا به هم قتل عمد وی.البته که په ډنډې سره ئې مر کړو.نو شبه عمد به وی.خو که پرله پسې ئې په ډنډه اووهی.نو بیا به قتل عمد وی.

دلائلهما ① ځکه چه د عمدیت معنی به قاصر(ناممکن) وی په داسې ورې آلې استعمالولو سره چه دې سره عام طور باندې نشی قتلولې ځکه چه ورې آلې سره د غیر د قتل قصد کولې شی لکه تادیب او ددې پشان، نو دا (وړوکې آلې سره قتلول) به شبه عمد وی

② بیا دویمه وجه دا هم ده.چه امسا وی او که ډنډه وی.ددې دواړو وضع د قتل دپاره نه کیږي.او نه دا د قتل دپاره استعمالولې شي. ځکه وسله هغه ده.چه د چا د قتلولو اراده ده.هغه نا خبره دی.او اچانک دې وار اوکړو.او هغه مړشو.لکه څنګه چه وسلو کښې کیږي.خو امسا یا ډنډه د مقتول ناخبرئ سره استعمالول ناممکن دی.ځکه چه دې کښې یو ځل وهل عام طور باندې د قتل دپاره نه کافی کیږي.بلکه بار بار وهل به ضروري وی.او په داسې صورت کښې به غفلت نه وی.بلکه غفلت صرف په رومبی ګزار کښې کیدې شی.او چونکه د غفلت په صورت کښې ددې استعمال ناممکن دې.په دې وجه قتل کښې د عمدیت معنی قاصر شوه.ځکه چه د قاتل د نفس قصد لحاظ نه دې.بلکه د آلې لحاظ دې.نو په امسا وغیره سره قتلول به هم دغه شان شبه عمد وی.لکه څنګه چه کوړې او ډنډې سره قتل شبه عمد دې.

[1]) من حديث عمرو بن العاص رضي الله عنه أخرجه أبوداود في الديات باب ١٧ والنسائي في القصاص باب ٣٣ رقم ٤٤٦٠ وابن ماجه في الديات باب ٥ رقم ٢٦٢٧)-

د قتل شبه عمد موجب او حکم

(وَمُوجِبُ ذٰلِكَ عَلَى الْقَوْلَيْنِ الْمَاثَمُ)او د شبه عمد موجب د دوارو قولونو مطابق گناه ده (وَالْكَفَّارَةُ)او کفاره واجب ده.فِيْهِ دِيَةٌ مُغَلَّظَةٌبلکه په دې کښې ديت مغلظه دې عَلَى الْعَاقِلَةِ)په عاقله باندې

تشريح> دا د قتل شبه عمد موجب او حکم بيان دې.چه ددې موجب گناه او کفاره او ديت دې. او د شبه عمد د فريقينو په نيز هم دا حکم دې.

دليل وجوب الاثم> گناه خکه واجب ده.چه ده په قصد سره وهلې دې.چه په دې سره قتل واقع شوې دې.

دليل وجوب الكفارة> او کفاره خکه واجب ده.چه دا دقتل خطاء مشابه ده.او ديت مغلظه به واجب وې.چه دا به دده په خاندان واجب وې.

القاعدة> په عاقله باندې د ديت د جوب دپاره قاعده کليه ذکر کوی چه کوم ديت براه راست (بغير واسطې) قتل سره واجيږي.هغه د قاتل په خاندان واجيږي.او که د قتل نه روستو مصالحت وغيره سره ديت واجب شي.نو هغه پخپله قاتل باندې واجيږي.او دلته ديت دځه واسطې نه بغير (براه راست) قتل سره واقع شوې دې.

وَالْخَطَأُ عَلَى وَجْهَيْنِ او (قتل) خطاء په دوه قسمه دې خَطَأٌ فِي الْقَصْدِ،يو د ارادې خطاء، وَهُوَ أَنْ يَرْمِيَ شَخْصًااو هغه دا دې.چه په غشي يو داسې سړې اولی يَظُنُّهُ صَيْدًا چه ده په هغه باندې د ښکار گمان کړې دې ،فَإِذَا هُوَ آدَمِيٌّ نو اچانك هغه سړې دې

تشريح> د قتل خطاء موجب کفاره او ديت دې.او ديت به په عاقله وې.او ددې اداکول به په دريو کالو کښې وی.چه ددې دليل تير شوې دې.او د خطاء دوه قسمونه دی.يو د ارادې خطاء ده. د دې مثال لکه چه هوسې نې ايشتله، خو هغه سړې اوختو. دا د ارادې خطاء ده.

وَخَطَأٌ فِي الْفِعْلِ،او دويم خطاء په فعل کښې وَهُوَ أَنْ يَرْمِيَ غَرَضًا او هغه دا دې.چه په يوه نښه غشې اولی. فَيُصِيبَ آدَمِيًّا، نو دا يو سړی ته اولگی وَمُوجِبُ ذٰلِكَ الْكَفَّارَةُ،وَالدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِاو ددې موجب کفاره او ديت دې.عاقله باندې

تشريح> دويم قسم د فعل خطاء ده.د دې مثال لکه چه په يوه نښه نې غشې اووېشتلو.خو هغه اونه لگيده.بلکه يو سړې اولگيدو.دا د فعل خطاء ده.بهرحال حکم د دوارو يو دې.چه کفاره او ديت واجب دې.

دليله> چه ددې دليل دا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ آيت دې.

په قتل خطاء کښې گناه شته اوکه نه؟

وَلَا مَأْثَمَ فِيهِ) او په قتل خطاء کښې گناه نشته

تشريح> امام قدوری رحمه الله اوفرمائيل. چه په قتل خطاء کښې گناه نشته.که په اراده کښې خطاء وی.اوکه په فعل کښې خطاء وی.صاحب د هدايه فرمائيلی دی چې مشائخو فرمائيلی دی.چه مراد د قتل گناه ده بهرحال فی نفسه دا فعل د گناه نه خالی نه دې د عزيمت په پريخودو خکه چې دده بې احتياطی کړې ده

د جاری مجری (قائم مقام) تعارف او حکم

(وَمَا أُجْرِيَ مَجْرَى الْخَطَأِ او کوم چه د قتل خطاء قائم مقام دې مِثْلُ النَّائِمِ يَنْقَلِبُ عَلَى رَجُلٍ لکه اوده

کس په یو سري را واوري **فَيَقْتُلُهُ** نو هغه مړ کړي **فَحُكْمُهُ حُكْمُ الْخَطَأِ** نو ددې حکم د قتل خطاء حکم دی.

تشريح د قتل خطاء نه د فراغت نه پس امام قدوري رحمه الله هغه قتل بیانوي.کوم چه د قتل خطاء قائم مقام دې. لکه مثلاً یو سړې اوده وو.هغه په ارخ واوختلو.خو په یو بل سري راپریوتلو.چه ددې په وجه هغه مړ شو.نو ددې حکم به هم هغه وي.کوم چه د قتل خطاء دې.

وَأَمَّا الْقَتْلُ بِسَبَبٍ او هغه چه قتل دې د سبب په ذریعه **كَحَافِرِ الْبِئْرِ** لکه د خپل ملك نه علاوه (د بل په ملك) کښې کوهې کنستونکې **وَوَاضِعِ الْحَجَرِ فِي غَيْرِ مِلْكِهِ** او کانړې ایخودونکې.

تشريح **سبب القتل** ددې نه پس بیا امام قدوري رحمه الله د قتل سبب ذکر کړو. لکه یو سړي په یو داسې زمکه کښې کوهې اوکنستلو.کوم چه دده ملکیت نه دې.او څوك په دې کښې پریوتلو.او مړ شو.یا ده په داسې زمکه کښې کانړي کیخودو.چه په دې سره یوکس تیندك (ڈغره) اوخوړلو .او مړ شو.

وَمُوجِبُهُ او ددې موجب **إِذَا تَلِفَ فِيهِ آدَمِيٌّ** کله چه یو سړې په دې کښې مړ شي، **الدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ** عاقله باندې دیت دې.

موجب القتل نو په دې کښې عاقله باندې دیت واجب دې.

دليله ځکه چه دا کوهې کنستل، او کانړې ایخودل د هلاکت سبب دې.او کله چه د سبب مرتکب متعدی کیږي.نو سبب د علت په مرتبه کښې راکوزولې شي.او دلته دده تعدی (زیاتې) ښکاره دې.نو داسې به ګڼړلې شي.ګویا چه ده پخپله هغه په کوهی کښې غورځولې دې.او پخپله ئې هغه په کانړي وردیکه کړې دې.نو دیت به واجب وي.

(وَلَا كَفَّارَةَ فِيهِ او په دې کښې کفاره نشته

تشريح البته په دې کښې به کفاره واجب نه وي.او نه به دا قاتل د میراث نه محرومیږي.[1]

دليله په حقیقت کښې د قاتل د طرفه قتل معدوم دې.البته دا صرف د قتل سبب دې.نو ددې سبب کیدو په وجه مونږ په ده باندې دیت واجب کړې دې.خو د کفارې او د میراث نه د محرومیدو په باره کښې مونږ دا ددې پخپل حقیقت باندې قائم ساتلې دې.چه دا دده د طرفه قتل نه دې.نو نه به کفاره وي.او نه به د میراث نه محرومیږي.او کفاره د قتل او د میراث نه محرومیدل به هغه وخت کیږي.کله چه قاتل د قتل په وجه ګناهګار وي.او دې د مرګ په وجه ګناهګار نه دې.بلکه د غیر په ملك کښې د کوهی کنستلو په وجه ګناهګار دې.

په کوم قتل سره قصاص واجبیږي؟

الْقِصَاصُ وَاجِبٌ بِقَتْلِ كُلِّ مَحْقُونِ الدَّمِ عَلَى التَّأْبِيدِ هرهغه سړي د کوم چه همیشه دپاره وینه محفوظ وي.د هغه په قتل سره قصاص واجبیږي. **إِذَا قُتِلَ عَمْدًا** کله چه دې په عمد (قصد) سره قتل کړې شي

حل اللغة ① **محقون:** محفوظ ② **التأبيد:** همیشه دپاره

[1] **مسلك الشافعي:**- امام شافعي رحمه الله فرماني چه په قتل سبب کښې دیت دې.او ورسره کفاره او د میراث نه محرومیدل هم شته او زمونږ احنافو په نیز نه کفاره شته او نه د میراث نه محرومیدل شته.

تشریح > په قتل عمد سره هغه وخت قصاص واجبیږی.کله چه مقتول داسې سړې وی.چه دهغه وینه همیشه دپاره محفوظه وی.لکه مسلمان یا ذمی، ځکه چه د ذمی امان هم همیشه دپاره دې.کافر، حربی، مرتد، باغی مستامن دا ټول ددې فهرست نه خارج دی.نو ددوی په قتل سره قصاص نه واجبیږی.

شرطي وجوب القصاص > امام ابوالحسن قدوری دوه قیده لګولي دی. ① عمدیت چه ددې بیان د کتاب الجنایات په شروع کښې تیر شوی دې.

② همیشه دپاره محفوظ الدم کیدل

وجهان للشرطين > نو ددې دوه وجې دی.① که دا شرط نه وی.نو ددې مقتول د وینې مباح کیدلو شبه به باقي وی.او شبه راتلو سره به قصاص ختمیږی.

② چه د قاتل او مقتول په منځ کښې مساوات راشي.چه مقتول محفوظ الدم وو.نو دده په بدله کښې به محفوظ الدم قاتل هم قتلولې شی.

غلام او آزاد به د یو بل په قتل کښې قصاص کولې شي او که نه؟

(وَيُقْتَلُ الْحُرُّ بِالْحُرِّ او آزاد به قتلولې شی.د آزاد په بدله کښې وَالْحُرُّ بِالْعَبْدِ او آزاد د غلام په بدله کښې،

تشریح > د غلام په بدله کښې قصاص کښې قتلولې شی [1]

دلیله > دلیل ددلیلونو عموم دې.لکه ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى﴾ او لکه مثلاً (تقدیم وتاخیر اوکړه) ﴿الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ﴾ او لکه (العبد قود)

د ذمی په بدله کښې به مسلمان قصاص کولې شي او که نه؟

وَالْمُسْلِمُ بِالذِّمِّيِّ) او قتلولې به شی مسلمان د ذمی په بدله کښې،

تشریح > که مسلمان ذمی قتل کړو.نو د ذمی په بدله کښې به قصاصاً مسلمان قتلولې شی [2]

دلیله > دلیل دا حدیث دې أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَتَلَ مُسْلِمًا بِذِمِّيٍّ } [3] چه نبی کریم ﷺ یو مسلمان په قصاص کښې قتل کړې وو.چه هغه ذمی قتل کړې وو. (کذا في دارقطنی)

د مستامن په قتل سره قصاص واجب دې او که نه؟

(وَلَا يُقْتَلُ المسلم بِالْمُسْتَأْمَنِ) او مسلمان به د مستامن په بدله کښې نشي قتلولې.

تشریح > مسلمان به د مستامن په بدله کښې نشي قتلولې.

دلیله > د مستامن د وینې په حفاظت کښې دوام (او همیشګی) نشته.نوکه یو مسلمان مستامن قتل

---

[1]) **مسلک الشافعي**:- اودامام شافعی رحمه الله په نیز نشي قتلولې اودا اختلاف په دې صورت کښې دې.کله چه مقتول غلام وی.او قاتل آزاد وی. اوکه دواړه غلامان وی.نو بالاتفاق قصاص شته.اوکه دواړه آزاد وی.بیا هم بالاتفاق قصاص شته. اوکه قاتل غلام وی او مقتول آزاد وی نو په دې صورت کښې به په اتفاق سره غلام قتلولې شی.

[2]) **مسلک الشافعي**:- د امام شافعی رحمه الله اختلاف دې.امام شافعی رحمه الله عدم مساوات په وجه د قصاص قائل نه دې.

[3]) من حدیث ابن عمر رضي الله عنه اخرجه الدارقطني في سننه (۳/۱۳٤)۔

کړو. نو قصاص به واجب نه وي.او دې د واپس کیدو اراده لري.نو دده کفر ده لره په جنګ باندې اماده (او راضی کونکې) دې.

سړی به د ښځې په بدله کښې قصاص کولی شي

(وَيُقْتَلُ الرَّجُلُ بِالْمَرْأَةِ)او قتلولې به شی سړې د ښځې په بدله کښې ،(وَالْكَبِيرُ بِالصَّغِيرِ) او غټ د ووړوکی په بدله کښې (وَالصَّحِيحُ بِالْأَعْمَى وَالزَّمِنِ)او صحت مند د ړوند او ګوډ په بدله کښې

حل اللغة ﴿ ① الزمن:ګوډ ② اعمى:ړوند

تشريح ﴿ هرکله چه د مساوات (او برابرۍ) مدار په اسلام او دارالاسلام باندې ایخودې شوې دې.نو کله چه دا مدار او موندې شی.هلته به قصاص اخستلې شی.که سړی ښځه قتل کړې وی.او که ددې په عکس وی.او که بالغ بچې قتل کړې وی.اوکه صحت مند سړی ړوند او ګوډ قتل کړې وی.

دليله ﴿ ځکه چه نص کښې عموم دې.اوکه د عصمت نه علاوه په نورو څیزونو کښې د مساواتو اعتبار اوکړې شی.نو بیا به خو د قصاص دروازه بنده شی.او هرکله چه قصاص نه اخستلې کیږی.نو بیا پخپل منځ کښې جنګ جګړې او د قتل دروازه پرانستلې شی.او خپل منځ کښې به یو بل هلاکوی.

پلار به د خوی په بدله کښې نشی قصاص کولی

(وَلَا يُقْتَلُ الرَّجُلُ بِابْنِهِ)او سړې به د خپل خوی په بدله کښې نشی قتلولې

تشريح ﴿ که پلار (خپل) خوئې قتل کړو.نو قصاص به نشی اخستلې. نوکه ذبح ئې کړی.او که په بله څه طریقه ئې قتل کړی.ټول په دې کښې داخل دی. [1]

دلائله ﴿ ① حدیث دې.{لَا يُقَادُ الْوَالِدُ بِوَلَدِهِ} [2] چه د پلار نه به د خپل بچی په بدله کښې قصاص نشی اخستلې.اودا حدیث عام دې د قتل ټولو صورتونو ته شامل دې.

② او دویمه وجه دا ده.چه د خوی د ژوند سبب پلار دې.نو خوی ته دا استحقاق نشی کیدې.چه پلار ختم کړی.هم دا وجه ده.که پلار د کافرانو په فوج کښې د جنګ دپاره راغلې وی.او قتال کوی.بیا هم شریعت خوی ته دا حق نه دې ورکړې.چه خپل پلار قتل کړی.چه ددې تفصیل په کتاب السیر کښې ذکر دې.دغه شان که پلار د محصن کیدو باوجود زنا اوکړله.او خوی اوکتلو.نو خوی له جائز نه دی.چه پلار قتل کړی.

الاشكال ﴿ که څوک دا اووائی چه قصاص خو د خوی د وارثانو حق وی.خوی ته خو دا حق نه وو.چه پلار قتل کړی.خو دلته خووارثان مستحق جوړ شوی دی؟

الجواب ﴿ مونږ وایو چه اول استحقاق د قصاص دپاره کیږی.بیا ددې په نیابت او خلافت کښې دا حق دده وراثانو ته ملاویږی.او دلته چه هرکله اصل ته حق ملاؤ نشو.نو دده خلیفه ته به څنګه ملاویږی.

حکم الام والجد ﴿ نیکه، ترنیکه، پرنیکه وغیره (چه د پلار د طرفه وی اوکه د مور د طرفه وی) د پلار په حکم کښې دی.مور او نیا ، تره نیا او پره نیا وغیره(چه د پلار د طرفه وی اوکه د مور د طرفه وی) هم د پلار په مرتبه کښې دی.او دلیل هم هغه دې.کوم چه ذکر شو. البته که خوی پلار قتل کړو.نو دلته

---

[1]) امام مالک رحمه الله فرمائیلی دی.چه قصاص به نشی اخستلې.خو که پلار خپل بچې ذبح کړې وی.نو قصاص به اخستلې شی.

[2]) من حدیث عمروبن شعیب عن ابیه عن جده ﷺ اخرجه البیهقی فی السنن الکبری (۶۹۹۸)۔

کښې هيڅ ساقطونکې نشته.په دې وجه به خوني په قصاص کښې قتل کولې شي.

آقا به د غلام، مدبر او مکاتب په بدل کښې نه قصاص کولې

وَلَا بِعَبْدِهٖ او قتلولې به نشي سرې د خپل غلام په بدله کښې، وَلَا مُدَبَّرِهٖ او د خپل مدبر په بدله کښې وَلَا مُكَاتَبِهٖ او نه د خپل مكاتب په بدله کښې وَلَا بِعَبْدِ وَلَدِهٖ او نه د خپل خوی د غلام په بدله کښې

تشريح ﴿ دلته مسئله دا ده که مولا خپل غلام قتل کړو.نو قصاص به نشي اخستلې.اود مدبر او مکاتب هم دا حکم دې.ځکه چه د قصاص وارث هم مولا دې.او اخستلې هم د مولا نه شي.او دا باطل دی.اوکه د خپل خوی غلام ئې قتل کړې وی.نو بيا به هم قصاص نه وی.

دليله ﴿ ځکه چه خوني هم پلار باندې د قصاص نشی مستحق کيدې.يو مشترك غلام دې. چه دا يو شريك قتل کړو.نو دده نه به قصاص نشي اخستلې.ځکه چه قصاص غير متجزی دې.

(وَمَنْ وَرِثَ قِصَاصًا عَلٰى أَبِيهِ سَقَطَ) او څوك چه وارث شو د قصاص، پخپل پلار باندې، نو قصاص به ساقطيږی ،

تشريح ﴿ که خوی ته د قصاص حق په ميراث کښې ملاو شو.بيا به هم قصاص نه وی.

دليله ﴿ ځکه چه د پلار توب احترام ددې نه مانع دې.مثلاً د خوی مور ئې قتل کړله.او خوني ددې وارث دې.نو قصاص به ساقطيږی.

قصاص به په توره او توپك سره اخستلې شي

وَلَا يُسْتَوْفَى الْقِصَاصُ قصاص به نشي اخستلې إِلَّا بِالسَّيْفِ مگر په توري سره،

تشريح ﴿ صرف وسلې سره قصاص اخستلې شي.که په توره وی اوکه په توپك وی. (۱)

دلائله ﴿ ① دليل د ابن ماجه حديث دې. لَا قَوَدَ إِلَّا بِالسَّيْفِ چه قصاص به توري يعنی وسلې سره اخستلې شي. ② او دويم دليل دا دې.که د مساوات صورت اختيار کړې شي.نو زياتوالې لازميږی.ځکه کيدې شي چه کومه طريقه قاتل اختيار کړې وه.که هم دغه طريقه اختيار کړې شي.نو کيدې شي چه قاتل مړ نشي.نو بيا به دده قتلول لازمي وی.نو قاتل سره دده د حرکت نه زيات حرکت اوشو.او دا جائز نه ده.ددې مثال هدوکې ماتول دی.که غابن ئې مات کړې وی.نو قصاص ممکن دې.ځکه چه غابن محدود دې.او که د غابن نه ئې علاوه بل څه هدوکې مات کړې وی.نو معلومه نه ده.چه په قصاص کښې به څومره هدوکې ماتولې شي.که هم دغه اومره هدوکې د قاتل مات کړې شي.څومره چه ده مات کړې وو.يا ددې نه کم نو جائز دې.او که زيات مات کړې شي.نو جائز نه ده.او چونکه دلته دا اطمينان نشته.چه زيات هدوکې به نه ماتيږی.په دې وجه د هدوکی قصاص جائز نه دې. چه د حق نه زيات وصول نکړې شي.دغه شان کله چه د قاتل د فعل نه زيات وصولول لازميږی.نو جائز به نه وی.

که د مکاتب مقتول د مولا نه بغير هيڅ څوك وارث نه وی نو د قصاص حکم

وَإِذَا قُتِلَ الْمُكَاتَبُ عَمْدًا او کله چه مکاتب عمداً قتل کړې شو وَلَيْسَ لَهُ وَارِثٌ إِلَّا الْمَوْلٰى او د آقا نه علاوه هيڅ څوك وارث نه وی فَلَهُ الْقِصَاصُ د آقا دپاره به قصاص وی. إِنْ لَمْ يَتْرُكْ وَفَاءً که دده د بدل

(۱) د امام شافعی رحمه الله مسلك دا دې.چه کوم فعل قاتل کړې دې.که دا مشروع فعل وی.نو قاتل سره به هم دغه شان کولې شی.بيا که هغه په دې سره مړ شونو ټيك ده.گنی ددې نه پس به دده سټ کټ کولې شی.

کتابت برابر مال پریخودي نه وي

تشریح ◄ مکاتب یو کس عمداً قتل کړو.او مکاتب په مزدورئ کولو دومره مال ګټلي او پریخودي دي.چه په دې سره د بدل کتابت اداکیدي شي.او د آقا نه علاوه بل څوک دده وارث نشته.نوشیخین حضرات رحمهما الله فرمائي.چه آقا ته د قصاص اخستلو حق شته.

دلیلهما ◄ دلیل دا دي.چه مولا ته د قصاص اخستلو حق شته.ځکه که هغه آزاد مړ شي او که غلام، دواړو صورتونو کښي مولا ته د قصاص اخستلو حق شته.او مستحق یعني مولا هم معلوم دي.او حکم هم متحد (یوشان) دي.یعني قصاص وصولول.

مسلک محمد ◄ امام محمد رحمه الله فرمائي.چه د قصاص اخستلو حق نشته.

دلیله ◄ ځکه چه دلته د قصاص اخستلو سبب مختلف دي.او د سبب اختلاف داسي دي.لکه د مستحق اختلاف.او د مستحق داختلاف په صورت کښي قصاص نشي اخستلي.نو دلته به هم قصاص نه اخستلي کیږي.ځکه که اومنلي شي.چه دي د آزادئ په حالت کښي مړ شوي دي.نو د قصاص اخستلو سبب ولاء دي.اوکه دا اومنلي شي. چه دي د غلامئ په حالت کښي مړ شوي دي.نو د قصاص اخستلو سبب ملك دي.

نظیره ◄ او ددي مثال دا دي.چه آقا د خپلي وینځي په باره کښي اووئیل.چه ما ددي سره ستا نکاح کړي ده.او هغه اووائي.داسي نه ده.بلکه دا تا په ما باندي په دومره خرڅه کړي ده.نو دده دپاره دي وینځي سره وطي کول جائز نه دي.ځکه چه سبب مختلف دي.او دغه شان دلته کښي د سبب اختلاف دي.نو لکه څنګه چه وطي جائز نه ده.دغه شان قصاص هم جائز نه دي.

الجواب عنه ◄ په سبب کښي اګرچه اختلاف دي.خو ددي به هیڅ پرواه نشي کولي.ځکه چه ددي په وجه حکم کښي اختلاف نشته.او د سبب دا اختلاف مفضی الی المنازعت دي.

الجواب عن نظیره ◄ کومه مسئله چه دلیل کښي امام محمد رحمه الله پیش کړي ده.د هغي خبره بله ده.ځکه چه هلته کښي حکم کښي مغایرت دي.ځکه چه د ملك یمین حکم یو دي.او د ملك نکاح حکم بل دي.ځکه د ملك یمین حکم دا دي.چه دا مملوکه وي.چه په دي کښي حلت تابع دي.او ملك رقبه اصل دي.او تابع د معدوم په مرتبه کښي وي.او په نکاح کښي حلت مقصود دي.

چه د مکاتب د مولا نه علاوه وارثان هم موجود وي نو د قصاص حکم

وَاِنْ تَرَكَ وَفَاءً او که (مقتول عمد مکاتب) د بدل کتابت برابر مال پریخودي وي وَوَارِثُهٗ غَيْرُ الْمَوْلٰى او د آقا نه علاوه بل څوك دده وارث وي فَلَا قِصَاصَ لَهُمْ نو هغوی دپاره قصاص نشته ،وَاِنِ اجْتَمَعُوْا مَعَ الْمَوْلٰى اګرچه وارثان آقا سره راجمع شي

تشریح ◄ اوکه د مولا نه علاوه دده نور وارثان هم موجود وي.او باقي صورت هم هغه وي.نو بالاتفاق به قصاص نشي اخستلي.

دلیله ◄ ځکه چه رومبی صورت کښي خو د سبب اختلاف وو.او حکم متحد وو.او مستحق هم متحد وو. او دلته په مستحق کښي اختلاف دي.مستحق په یو صورت کښي مولا دي.او په یو صورت کښي د مکاتب مقتول وارثان دي.که دا اومنلي شي.چه دي آزاد مړ شوي دي.نو وارث مستحق دي.اوکه دا اومنلي شي. چه غلام مړ شوي دي.نو آقا مستحق دي.او دي غلام مړ شوي دي، اوکه آزاد، دا د صحابو رضی الله عنهم اختلافي مسئله ده.نو د یو صورت متعین کول مشکل دي.په دې وجه قصاص ختم کړي شو.او په رومبی صورت کښي مستحق صرف مولا وو.په دې وجه شیخینو رحمهما الله اوفرمائیل.چه قصاص به اخستلي شي.

مرتهن سره د مرهون غلام عمداً قتل کولو سره د قصاص حکم

وَإِذَا قُتِلَ عَبْدُ الرَّهْنِ او کله چه د رهن غلام (د مرتهن په قبضه کښي) قتل کړي شو لَمْ يَجِبِ الْقِصَاصُ نو قصاص به واجب نه وی حَتَّى يَجْتَمِعَ الرَّاهِنُ وَالْمُرْتَهِنُ تردې چه راهن او مرتهن دواړه جمع شي

تشریح ﴿ که مرهون غلام عمداً (په قصد سره) د مرتهن په قبضه کښي قتل کړي شو.خو یواځي راهن ته، یا یواځي مرتهن ته به د قصاص اخستلو حق نه وی.بلکه د دواړو جمع کیدل شرط دی.

دلیله ﴿ راهن یواځي ځکه (قصاص) نشی اخستلي.چه د مرتهن د حق ابطال لازمیږی.او یواځي مرتهن ځکه قصاص نشی اخستلي.چه هغه ددې مالك نه دې.نو ضروری ده.چه دواړه جمع شي.چه د مرتهن د حق ابطال دده په رضامندئ سره وی.

الاشکال ﴿ که څوك دا اووائی چه هرکله چه د مرتهن په قبضه کښي غلام هلاك شو.نو دده حق هم دده نه ساقط شو؟

الجواب عنه ﴿ نو مونږ وایو دا تیك ده خو حق ساقطیدل اوس هم تام (او پوره) نه دی.ځکه کیدي شی.چه مصالحت اوشی.یا کیدې شی.چه داسي شبه راوځی.چه هغي سره دا قتل، قتل خطاء شی.

په قصداً وهلو تکولو، او زخمی کولو سره
د مر کیدو په صورت کښي د قصاص حکم

وَمَنْ جَرَحَ رَجُلًا عَمْدًا فَلَمْ يَزَلْ صَاحِبَ فِرَاشٍ او چا چه قصداً څوك سړي زخمی کړو.نو هغه مسلسل په بستره (بیمار) پروت وو حَتَّى مَاتَ فَعَلَيْهِ الْقِصَاصُ تردې چه مړ شو.نو په ده به قصاص واجب وی.

تشریح ﴿ عثمان بکر زخمی کړو.او ددې زخم په وجه بکر مثلاً یوه میاشت پورې په بستره (مریض) پروت وو. او مړ شو.نو د عثمان نه به قصاص اخستلي شي.

دلیله ﴿ ځکه چه د عثمان د زخم په وجه دې مړ شوې دې.چه دا تر اوسه پورې باطل شوې نه وو.نو د مرګ اضافت به د زخم لګولو طرف ته کیږی.

په کومو صورتونو کښي قصاص شته اوپه کومو کښي نشته

وَمَنْ قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ عَمْدًا مِنَ الْمَفْصِلِ او چا چه عمداً د خپل ځان نه غیر په جوړ کښي لاس کټ کړو قُطِعَتْ يَدُهُ نو دده لاس به کټ کولي شی. وَكَذَلِكَ الرِّجْلُ وَمَارِنُ الْأَنْفِ وَالْأُذُنُ دغه شان خپه، او د پوزې نرمه حصه ده.او غوږ دی.

حل اللغة ﴿ ① مفصل: جوړ]

تشریح ﴿ که یوکس د بل سړی یو اندام کټ کړو.نو په بعضو صورتونو کښي قصاص شته.او په بعضو کښي نشته.نو ددې اصولي (قاعده) کلیه دا ده.چه په کوم صورت کښي مماثلت کیدې شی.هلته به قصاص وی.چرته چه مماثلت متعذر یا نا ممکن وی.هلته به قصاص نه وی.بلکه دیت به واجب وی.تفصیل ددې اجمال دا دی.چه کله ئې لاس یا خپه د جوړ دپاسه کټ کړې وی.نو مماثلت به ممکن وی.یعني د مروند نه ئې کټ کړې وی.یا ئې د ځنګلي نه کټ کړې وی.یا ئې خپه د ګیټو نه،یا ئې د ځنګون نه کټ کړې وی.نو د بل (کټ کونکی) به هم دغه اومره کټ کولي شی.دغه شان په غوږ کښي د مماثلت رعایت کیدې شی. اودپوزې په نرمه حصه کښي هم مماثلت کیدې شی.نو په دې کښي به قصاص وی.

دلیله څکه د قرآن فیصله ده.چه(والجروح قصاص) [المائدة:۴۵] ،.د زخمونو بدله برابر ده.
د لاس کار نیول دی.نوکه د لاس د ورږکوالی یا غټ والي په وجه د لاس په منفعت کښې څه خلل نه وی.نو ددې اعتبار به نه کیږی.نو که کټ کړې شوې ورږکې وی.او د کټ کوونکې لاس غټ وی.بیا به هم قصاص واجب وی.او چرته چه د مماثلت رعایت نشی کیدې.لکه د مرونډ د نیمې نه نې لاس کټ کړې وی.یا نې د پنډئ د نیمې نه خپه کټ کړې وی.نو دلته د مماثلت رعایت ممکن نه دې.نو قصاص به هم نه وی.

په سترګه اوبهلو کښې د قصاص حکم او یوه قاعده کلیه

وَمَنْ ضَرَبَ عَيْنَ رَجُلٍ امام قدوری رحمه الله فرمائیلی دی.او چا چه یوکس په سترګه اووهلو. فَقَلَعَهَا نو دا نې بهر راوېستله. فَلَا قِصَاصَ عَلَيْهِ نو په ده به قصاص نه وی.په بهر راوېستلو کښې،

حل اللغة ① **قلع:** ویستل

تشریح وړاندې قاعده تیره شوه.چه چرته مماثلت ممکن وی.هلته به قصاص وی.او چرته چه مماثلت ممکن نه وی.نو هلته به قصاص واجب نه وی.نوکه زید د بکر سترګه اووهله.چه ددې په وجه د بکر ګاټې بهر راووتلو.نو قصاص به نه وی.

دلیله چونکه دلته کښې مماثلت ممکن نه دې.په دې وجه به قصاص نه وی.

فَإِنْ كَانَتْ قَائِمَةً اوکه سترګه موجود وی. وَذَهَبَ ضَوْءُهَا نو ددې نظر (بینائی) ختم شو. فَعَلَيْهِ الْقِصَاصُ نو په ده به قصاص وی. تُحْمَى لَهُ الْمِرْآةُ چه دده دپاره به آئنه ګرمه کړې شی. وَيُجْعَلُ عَلَى وَجْهِهِ قُطْنٌ رَطْبٌ. او دده په مخ باندې دې لامده مالوچ کیخودې شی. وَتُقَابَلُ عَيْنُهُ بِالْمِرْآةِ او آئینه دې دده سترګې ته مخامخ کړې شی. حتى يَذْهَبَ ضَوْءُهَا نو دده نظر به ختم شی،

حل اللغة ① **قطن:** مالوچ ② **المرآة:** شیشه]

تشریح اوکه سترګه موجود وی. صرف ددې بینائی (نظر) ختم شوې وی.نوقصاص به واجب وی.

دلیله څکه چې دلته مماثلت ممکن دې.او هغه دا دې.چه د کومې سترګې نه قصاص اخستل مقصود نه دی.هغه دې اوتړلې شی.او په مخ دې لامده مالوچ کیخودې شی.او ګرمه صفا اوسپنه دې دده هغه سترګې ته مخامخ کړې شی.د کومې نظر ختمول چه مقصود دی.په دې طریقه به بینائی ختمه شی.او مخ او دویمې سترګې ته به هیڅ نقصان نه رسیږی.د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کښې دا واقعه راپیښ شوې وه.نو حضرت عثمان رضی الله عنه صحابو رضی الله عنهم سره مشوره اوکړله.نو حضرت علی رضی الله عنه دا مشوره ورکړې وه.او ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم په دې باندې سکوت اختیار کړې وو.

په غاښ ماتولو کښې د قصاص حکم

(وَفِي السِّنِّ الْقِصَاصُ)او په غاښ کښې قصاص شته. (وَفِي كُلِّ شَجَّةٍ يُمْكِنُ فِيهَا الْمُمَاثَلَةُ الْقِصَاصُ او هر یو داسې زخم چه هغې کښې مماثلت متحقق کیدې شی.قصاص شته.

حل اللغة ① **شجة:** د سر زخم ② **السن:** غاښ]

تشریح که یوکس د بل سرې غاښ مات کړو.نو په دې کښې په قصاص وی.

دلیله په قرآن کښې صفا حکم موجود دې. ﴿وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ﴾ [المائدة:۴۵] چه ،، د غاښ په بدله کښې غاښ دې،،.اګرچه د یو کس غاښ ورږکې وی.او د بل کس غټ وی.څکه چه دې اختلاف سره د غاښونو

منفعت کښې هيڅ تفاوت نه راځي.او په ﴿وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ﴾ سره دا خبره ثابته شوې ده چه په کوم زخم کښې مماثلت ممکن وي.هغې کښې به قصاص اخستلې شي.

د غاښ نه علاوه هډوکي ماتولو کښې د قصاص حکم

وَلَاقِصَاصَ فِي عَظْمٍ او قصاص په هډوکي نشته إِلَّافِي السِّنِّ خو په غاښ کښې،

حل اللغة > ① **عظم:** هډوکي

تشريح > د غاښ نه علاوه په يو هډوکي کښې به هم قصاص نشي اخستلې.

دلائله > ① د حضرت عمر او د ابن مسعودؓ نه دا الفاظ نقل دي.(لاقصاص في عظم إلا في السن)[1] ② په حديث کښې دا هم دي.چه (لاقصاص في العظم) (۲) هډوکي کښې قصاص نشته.او د هډوکي نه مراد د غاښ نه علاوه دي.

③ بله دا چه اصول هم هغه دي.کوم چه ذکر شوي دي.چه چرته مماثلت ممکن وي.هلته به قصاص وي.ګني نه به وي.او په هډوکي کښې مماثلت نشي کيدې.البته په غاښ کښې مماثلت کيدې شي.خکه چه هډوکي کښې د کمي بيشي ، او د زياتي او نقصان احتمال شته.او دا احتمال په غاښ کښې نشته.خکه چه غاښ په سوان سره ئرولو سره د رومبي پشان جوړيدې شي.اوکه د رومبي ئې پوره غاښ اوښکلې وي.نو د دويم به هم پوره غاښ اوښکلې شي.

د نفس نه په کم کښې شبه عمد نه وي

وَلَيْسَ فِيمَادُونَ النَّفْسِ شِبْهُ عَمْدٍ وإِنَّمَاهُوَعَمْدٌأَوْخَطَأٌ او د نفس نه په علاوه کښې شبه عمد نشته.هغه (مادون النفس) خو عمد يا خطاء دې

تشريح > وړاندې تفصيل تير شوې دې.نو شبه عمد په پوره قتل کښې خو کيدې شي.د اندامونو په ماتولو کښې صرف دوه صورتونه دي.يا به عمد وي، يا به خطاء وي.

دليله > خکه چه شبه عمد آلې طرف ته واپس کولې شي او قتل د آلې په اختلاف سره مختلف کيږي. داسې نه چه کوم د نفس نه علاوه دې خکه چه د مادون النفس هلاکت به د آلې د اختلاف په وجه نه مختلف کيږي نو د عمد او خطاء نه علاوه هيڅ يو باقي پاتې نشو.

د يو بل په زخمي کولو کښې د قصاص حکم

(وَلَاقِصَاصَ بَيْنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ فِيمَادُونَ النَّفْسِ،او قصاص نشته، د سړي او ښځې په منځ کښې، د نفس نه علاوه کښې وَلَابَيْنَ الْحُرِّوَالْعَبْدِ،وَلَابَيْنَ الْعَبْدَيْنِ او نه د آزاد او غلام په منځ کښې، او نه د دوه غلامانو په منځ کښې،

تشريح > په قصاص في النفس کښې سړي او ښځه، آزاد او غلام، او دوه غلامان برابر دي.چه ددې بيان وړاندې تير شوې دې.خو د اندامونو په قصاص کښې دې کښې مساوات نشته.بلکه تفاوت

---

[1]) خرجه الزيلعيؒ عنهما ونقل عن الشعبي والحسن ؒ قالا ليس في العظام قصاص ما خلا السن والرأس وعزاه إلى مصنف ابن ابي شيبة (نصب:۵\۱۰۷)_

[2]) خرجه الزيلعيؒ ثم قال وروى ابن ابي شيبة في مصنفه ..عن عمرؓ قال إنا لنقيد من العظام ونقل بمثله عن ابن عباس ؓ (نصب:۵\۱۰۷)_

دي.وجه ددې دا ده.چه اندامونه د مالونو په درجه کښې ایخودې شوی دی.چه ددې وجه تیره شوې ده.او هرکله چه دا د اندامونو په مرتبه کښې شو.نو ددې قیمت به ملاویږي.او په قیمت کښې تفاوت دي.مثلاً د سري د لاس قیمت شریعت پنځه سوه دیناره مقرر کړي دي.او د ښځې د لاس قیمت ئې دوه سوه او پنځوس دیناره مقرر کړي دي.بهرحال هرکله چه تفاوت دي.نو د سړي د لاس په بدله کښې د ښځې لاس اود ښځې د لاس په بدله کښې به د سړي لاس نشي کټ کولی.او نه د غلام د آزاد په بدله کښې، او نه د آزاد د غلام په بدله کښې، او نه د غلام د غلام په بدله کښې، په دې ټولو صورتونو کښې به قصاص نه وي. [1]

دلیله> دلیل دا دې چه په لاس کښې اصل کښې نیول معتبر دی.اودا په دواړو لاسونو کښې موجود دی.او د تفاوت دپاره شریعت هیڅ اصول او قاعده نه ده مقرر کړې.نو ددې تفاوت اعتبار به نه کیږي.اود سړي او د ښځې په لاس کښې د تفاوت شریعت اعتبار کړي دي.او ددوی ئې جدا جدا قیمت متعین کړي دي.په دې وجه دا تفاوت معتبر منلې شوي دي.او د نفس په ضائع کولو کښې دا تفاوت هم معتبر نه دي.ځکه چه قاتل په هر صورت کښې د روح ضائع کونکې دي.او په روح کښې هیڅ تفاوت نشته.نو قصاص به واجب وي.

د مسلمان او ذمی په منځ کښې د قصاص مسئله

وَيَجِبُ الْقِصَاصُ فِي الْأَطْرَافِ بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْكَافِرِ او د مسلمان او کافر په منځ کښې اندامونو کښې قصاص واجب دې

تشریح> دلته د کافر نه مراد ذمی دې.د مسلمان او د ذمی د لاس قیمت شریعت یو ایخودي دي.نو د مساوات په وجه به قصاص واجب وي.

دلیله> ځکه چه قصاص مماثلت غواړي.او مماثلت موجود دي.

نیم مرونده پورې لاس کټ کول او تیره زخم
لګولو نه پس تیك کیدو سره د قصاص حکم

وَمَنْ قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ مِنْ نِصْفِ السَّاعِدِ امام قدوری رحمه الله فرمائیلی دی.او چا چه د یوسړي لاس د نیم مروند نه کټ کړو أَوْ جَرَحَهُ جَائِفَةً یا ئې ده ته جائفه زخم(تیره زخم) اولګولو فَبَرَأَ مِنْهَا نو هغه ددې نه تیك شو فَلَا قِصَاصَ عَلَيْهِ نو په ده به قصاص نه وی

حل اللغة> ①**جائفه :** هغه زخم ته وائي.کوم چه جوف (منځ) پورې متعدی شي.یعنی په سر ئې اووهلو.او ددې اثر دماغ پورې اورسیدو.یا معدې پورې اورسیدو.وغیره،

②**جراحات:**جمع د **جراحة:** زخم

تشریح> دلته دوه مسئلې بیانولې شي① که یوکس د بل نیم مروند کټ کړو.نو دلته به قصاص نه وی.ځکه چه دلته د مماثلت رعایت ممکن نه دي.ځکه چه دا هډوکې کټ کول دی.چه ددې حکم هم دا دي. ② داسې زخم ئې اولګولو.چه دا دننه پورې اورسیدو.یعنی جائفه چه ددې نه عام طور باندې سړې نه ښه کیږي.خو هغه تیك شو.نو قصاص به نه وی.

دلیله> ځکه چه دې خو تیك شو.او د دویم په باره کښې غالب ګمان هم دا دې.چه دې به تیك نشي.نو د

---

[1]) د امام شافعی رحمه الله په نیز به په دې ټولو صورتونو کښې قصاص وی.علاوه د یو صورت نه،

مماثلت رعايت ممکن نه دي.
البته که رومبي کس تيك شوي نه وي.نو کتلي به شي.چه زخم دننه پورې رسيدونکي دي.اوکه نه دي.که رسيدونکي وي.نو قصاص به وي.ګني اوس به انتظار کولې شي.کله دا حالت ښکاره شي.بيا به ددې مطابق عمل کولې شي.

د شل لاس يا د کمو ګوتو والا نه د لاس کټ کولو په جرم کښې د قصاص اختلو مسئله

وَإِذَا كَانَ يَدُ الْمَقْطُوعِ صَحِيحَةً اوکله چه کټ شوې لاس صحيح وي وَيَدُ الْقَاطِعِ شَلَّاءَ او د کټ کونکي لاس اوچ وي أَوْ نَاقِصَةَ الْأَصَابِعِ يا د ناقصو ګوتو والا وي فَالْمَقْطُوعُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ قَطَعَ الْيَدَ الْمَعِيبَةَ نو د چا لاس چه کټ کړې شوې دې.هغه ته اختيار دې.که غواړي.نو د عيب دار لاس دې کټ کړي وَلَا شَيْءَ لَهُ غَيْرُهَا او دده دپاره ددې عيب دار لاس نه علاوه هيڅ نشته وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الْأَرْشَ كَامِلًا او که غواړي.د لاس پوره ديت دې واخلي

تشريح > د زيد لاس صحيح سلامت دې.او د بکر لاس شل دې.اوچ دې.يا دده ګوتې کمې دی.او صورت دا شو.چه بکر د زيد لاس کټ کړو.نو اوس به زيد څه کوی.نو ده ته يواختيار دا حاصل دې که زيد غواړي.نو د بکر لاس چه هر څنګه دې.هم ددې نه دې قصاص واخلی.او دا دې کټ کړي.

دليله > څکه چه هرکله پوره لاس د بکر نشته.نو ددې نه علاوه بله لار نشته.او د خپل حق نه په کم باندې راضی کيدل، او په دې حال باندې بې پرواهی کول (او سترګې پټول) جائز دی.او که ده داسې اوکړل.نو دده حق ادا شو.او دا داسې شوه.لکه د کره درهمو په ځاني ردی (او کهوټه) اخستل.اودويم اختيار دا دې که قصاص وانخلی.بلکه ديت واخلی.

مثاله > ددې مثال بالکل داسې دې.چه زيد د بکر يو مثلي څيز هلاك کړو.نو په زيد واجب دی.چه ددې مثل ادا کړي. خو اتفاق سره دا څيز په بازار کښې نشته.او که وی.نو خراب (او معمولي) دې.نو اوس بکر ته اختيار دې.که غواړي.نو څنګه څيز چه بازار کښې ملاويږي.د هغې په اخستلو دې راضی شي.او په دې صورت کښې به دهغه حق ادا شی.اوکه غواړي.نو ددې قيمت دې واخلي.بالکل دغه شان مذکوره صورت هم دې.

د زخمی شوی سر ورو کې او د زخمی کونکي سر لټ وی نو څه حکم دې ؟

وَمَنْ شَجَّ رَجُلًا او چا چه د يو سړی سر زخمی کړې وی فَاسْتَوْعَبَتِ الشَّجَّةُ مَا بَيْنَ قَرْنَيْهِ نو زخم د سر دواړه طرفونه راګير کړې وی. وَهِيَ لَا تَسْتَوْعِبُ مَا بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّاجِّ او دا زخم، د زخم لګونکي دواړه طرفونه نشی راګيرولې فَالْمَشْجُوجُ بِالْخِيَارِ، إِنْ شَاءَ اقْتَصَّ بِمِقْدَارِ شَجَّتِهِ يَبْتَدِئُ مِنْ أَيِّ الْجَانِبَيْنِ شَاءَ، نو زخمی ته اختيار شته.که غواړي.د خپل زخم په مقدار دې قصاص واخلی.د کوم طرفه چه غواړي.شروع دې اوکړي. وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الْأَرْشَ كَامِلًا او که غواړي.پوره ديت دې واخلي

حل اللغة > ①**شاج**: د سر زخمی کونکي يعنی بکر، **مشجوج**: دکوم کس چه سر زخمی کړې شوې دې.يعنی زيد

تشريح > د خالد سر ورکوټې دې.مثلاً په پلن والی کښې د ښی طرفه ګس طرفه پورې ټول د څلورو ګوتو عرض دې.او د عثمان مثلاً يوه لیشت دې.اوس صورت دا شو.چه عثمان د خالد سر زخمی کړو.او دومره زخم ئې لګولي دې.چه څلور ګوتې پلن والې ئې ټول راګير کړې دې.اوس که خالد ته اوونيلی شي.چه څلور ګوتې قصاص واخله.نو د عثمان په سر کښې به څلور ګوتې معمولی شان درد

سره اوشي.او دده پوره سر به نه خرابیږي.نو د خالد حق ناقص پاتې شو.او که د پوره سر زخمي کولو یعنې پوره یوه لیشت زخمي کولو اختیار ورکړې شي.نو دا مقدار د جنایت نه زیات دې.او دا ظلم دې.نو خالد ته دوه اختیاره دي. ① صرف د خلورو ګوتو مقدار چه د کوم طرفه غواړي زخمي دې کړي. ② اوکه غواړي.نو دیت دې واخلي.لکه څنګه چه مخکښې مسئله کښې شوی وو.کله چه د پریکونکي لاس شل یا اوچ وو.دغه شان به دلته کښې هم وي.

په ژبه او خاص اندام (ذکر) کښې قصاص شته اوکه نه؟

وَلَاقِصَاصَ فِي اللِّسَانِ وَلَافِي الذَّكَرِ(¹) او په ژبه او ذکر کښې قصاص نشته

حل اللغة ﴿① **اللسان:** ژبه

تشریح ﴿ که زید د بکر ژبه کټ کړله.یا ئې ذکر کټ کړو.نو قصاص به نه وي.

دلیلهما ﴿ ژبه او ذکر کله راټولیږي.او کله پلنیږي. نو د مساوات اعتبار ممکن نه دې.

مسلك ابي یوسف ﴿ امام ابویوسف رحمه الله فرمائي. که ژبه او ذکر ئې د جرړې نه کټ کړو.نو قصاص به واجب وي.ګني نه به وي.

دلیله ﴿ ځکه چه اوس مماثلت او مساوات کیدې شي.چه د دویم کس هم د جرړې نه کټ کړې شي.

په حشفه (یعنې د خاص اندام په سر) کښې د قصاص حکم.

(إِلَّاأَن تُقْطَعَ الْحَشَفَةُ) خو دا چه حشفه (د اندام مخصوصه سر) کټ کړې شي.

حل اللغة ﴿① **حشفة:** د ذکر سر

تشریح ﴿ که یوکس د یوسړي حشفه کټ کړله.نو دا ځائې معلوم دې.نو قصاص به اخستلې شي.لکه څنګه چه د لاس په صورت کښې د جوړ نه د کټ کولو حکم وو.

حکم قطع بعض الذکر او الحشفة ﴿ او که د حشفې یا د ذکر (اندام مخصوصه) څه حصه کټ کړې شوې وي.نو په دې کښې به قصاص نه وي.

دلیله ﴿ دلیل دا دې چه بعض حصه معلوم نه ده.یعنې متعین ځائې نه دې.په دې وجه به د مماثلت او مساوات رعایت نشي کیدې.

الاستثناء ﴿ البته که غوږ ئې کټ کړو.ټول یا بعضې حصه، نو قصاص به واجب وي.ځکه چه غوږ نه راټولیږي.او نه خوریږي.او د غوږ یو حد مقرر دې. نو دلته مساوات کیدې شي.او که شونډې ئې پوره کټ کړې وي.نو قصاص شته.او په بعض حصه کښې به قصاص نه وي. ځکه چه رومبی صورت کښې مساوات کیدې شي.او په دویم کښې مساوات نشي کیدې.

که قاتل د مقتول وارثانو سره صلح اوکړي نو د قصاص څه حکم دې؟

وَإِذَااصْطَلَحَ الْقَاتِلُ وَأَوْلِيَاءُالْمَقْتُولِ او کله چه د قاتل او مقتول اولیاو مصالحت اوکړو عَلَى مَالٍ په یو مال باندې، سَقَطَ الْقِصَاصُ نو قصاص ساقط شو وَوَجَبَ الْمَالُ قَلِيلًا كَانَ أَوْكَثِيرًا او مال واجب شو.که لږ وي اوکه ډیر وي

تشریح ﴿ کله چه د قاتل او مقتول وارثانو دا مصالحت اوکړو.چه د دومره مال په بدله کښې صلح ده.او

¹) القول الراجح هوهذا قول الجمهور رحمهم الله كذا في ردالمحتار (٥٣٩٤) والهندية (١٥١٦) وملتقى الأبحر (٣٢٥١٤) والدرالمنتقى (٣٢٤١٤) نقلاً عن القول الراجح (٣٤٠١٢)-

قصاص معاف دي.نو اوس به قصاص ختم وی.او صرف مال به واجب وی.په کوم چه مصالحت شوي دي.که دا مال لږ وی.او که ډیر وی.

دلیله > د صلح ثبوت په قرآن سره دي ﴿فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ﴾ (هغه قاتل) چا لره چه دده د رور (مقتول) د طرفه څه معافی ورکړې شی.(په واسطه د اولیاو) نو تابعداری کول پکار دی.د دستور موافق، او په ښه طریقې سره دا ادا کول پکار دی.، یعنی د مقتول په وارثانو کښې که بعضې هم وینه معاف کړی.نو اوس به قاتل په قصاص کښې نشی قتلولې.بلکه کتلی به شی.چه دې وارثانو په کومه طریقه معاف کړې دې.چه خالص د ثواب په غرض سره نې د مال د معاوضې نه بغیر معاف کړې دې.

وجه استواء القلیل والکثیر > د صلح د مال مقدار به څومره وی.نو چونکه په نص کښې ددې مقدار نه دې وراد شوې.په دې وجه دا د ولی او قاتل په اتفاق باندې موقوف دی.که لږ وی.اوکه ډیر وی.لکه په خلع او د مال په بدله کښې آزادولو کښې هم دا صورت دې.اوکه دوي د نقد او قرض هیڅ ذکر نه وی کړې.نو نقد مال به واجب وی. ځکه قاعده دا ده.چه کوم مال په عقد سره د طرفینو په رضامندئ سره واجب وی.نو هغه به فی الحال واجب الاداء وی.او کوم مال چه عقد سره واجب نه وی.هغه به فی الحال واجب نه وی.او دا مال عقد سره واجب شوي دې.نو فی الحال به واجب الاداء وی.او دیت قسط وار واجب دې.ځکه چه ددې وجوب عقد سره نه دې.بلکه د شریعت په واجبولو سره دې.

آزاد او غلام په شریکه یو قتل اوکړونو په زر روپئ باندې صلح کولو کښې
په د مقتول د بعضو وارثانو د قصاص معاف کولو حکم

فَإِنْ عَفَا أَحَدُ الشُّرَكَاءِ مِنَ الدَّمِ او که شریکانو کښې یو کس وینه معاف کړله أَوْصَالَحَ مِنْ نَصِيبِهِ عَلَى عِوَضٍ یا ئې د خپلې حصې د طرفه په یو عوض باندې مصالحت اوکړو. سَقَطَ حَقُّ الْبَاقِينَ عَنِ الْقِصَاصِ نو د باقی خلقو حق د قصاص به معاف کیږی وَكَانَ لَهُمْ نَصِيبُهُمْ مِنَ الدِّيَةِ او د دوی دپاره به په دیت کښې ددوی حصه وی

تشریح > حق د قصاص چه چا دپاره ثابت وو.هغوی کښې یوخپل حق معاف کړو.نو اوس باقی اولیاء هم قصاص نشی اخستلې.بلکه د خپلې حصې دیت اخستلې شی.مثلاً د زید پنځه خامن دی.او بل هیڅ څوك وارث ئې نشته.زید چا عمداً قتل کړو.چه ددې په وجه قصاص واجب شو.خو یو ځوی خپل حق معاف کړو.نو اوس قصاص ساقط شو.صرف دیت به واجب وی.چه ددې صورت به دا وی.چه د پوره دیت نه به ۱/۵ خارجولې شی.او ۴/۵ به دوی څلور وارو په منځ کښې برابر برابر تقسیمیږی. ([1])

دلیله > دلیل دا دې.چه اشیم ضبابی خطاءً قتل کړې شوې وو.چه ددې په وجه دیت واجب شو.نو سرکار دوعالم ﷺ دا حکم فرمائیلې وو. ([2]) چه په دې دیت کښې دې د اشیم ښځې ته هم میراث ورکړې

[1]) دامام مالك او امام شافعی رحمهما الله په دې کښې اختلاف دې.دوی فرمائی.چه په قصاص او دیت کښې د زوجینو حق نشته.ځکه چه میراث کښې کوم وراثت ثابتیږی.ددې مال خلافت او نیابت دې.او د خلافت بنیاد نسب دې.سبب نه دې.ځکه چه سبب خو مرګ سره ختمیږی.نو د زوجینو هیڅ حق به په قصاص او دیت کښې نه وی.

[2]) من حدیث ضحاك بن سفیان ﷺ اخرجه ابوداود فی الفرائض والترمذی فی الفرائض باب ۱۸ وابن ماجه فی الدیات باب ۱۲ رقم ۲۶۴۲ والنسائی فی السنن الکبری (۴/۷۹) رقم ۶۳۶۶.

شي.ددې نه معلومه شوه.چه په ديت کښې د ښځې حق وو.په دې وجه خو ئې ورکړې وو.نو دغه شان په قصاص کښې هم حق وی.بيا قصاص او ديت داسې ځيز دې.چه په دې کښې ميراث جارى کيږى.او هركله چه ميراث جارى کيږى.نو بيا به دټولو وراثانو دپاره دا حق ثابت وى.

كه يو جماعت يو سړې عمدا قتل كړى نو د قصاص څه حكم دې ؟

وَإِذَاقَتَلَ جَمَاعَةٌ وَاحِدًا عَمْدًا او كله چه يو جماعت يو سړې عمداً قتل كړو أُقْتُصَّ مِنْ جَمِيعِهِمْ نو ددوى ټولو نه به قصاص اخستلې شي

تشريح ﴿ مقتول يو دې.او قاتل متعدد (ګنړ) دى.نو ټول به په قصاص کښې قتلولې شي.

چونكه قتل عام طور باندې هم داسې كيږى.چه د يوكس نور خلق مدد كوى. نو كه د قاتل د تعدد په وجه قصاص پريخودې شي.نو بيا به د قصاص دروازه بنده شي.او كوم چه مقصود دې. يعنى نظام د عالم قائم ساتل، او د خلقو ژوندى ساتل، دا مقصود به معطل (او عبث) پاتې شي.

دليله ﴿ په صنعاء كښې زينب نومې يوه ښځه وه.د هغې خاوند په سفر كښې پردى وطن ته تلې وو.او خپل يو خوئې ،، چه اصيل ئې نامه وه.او دده د مخكښنۍ ښځې نه پيدا شوې وو،، ددې سره ئې پريخودو.او لاړو.د زينب يو څو اشنايان پيدا شو.خو هغوى د اصيل نه تنګ راغلل.نو زينب خپلو چالاكو يارانو سره مشوره اوكړله.نو د ټولو دا رائې مقرر شوه.چه دا هلك مونږ رسوا كوى.نو ټول متفق شو.او دې ئې قتل كړو.او د عمدان په كوهى كښې ئې اوغورزولو.او دا ټول سره د ښځې اووه كسان وو.نو كله چه دا هلك ورك شو.نو هم دې زينب چغې كړې.او په چغو كښې به ئې وئيلې.چه اې الله چا چه اصيل قتل كړې وى.هغه دې تباه شي.او هغه دې اونيولې شي.او دغه وخت د حضرت عمر رضي الله عنه د طرفه يعلى د صنعاء وزير وو.نو دوى په دې باره كښې خلقو ته خطبه واورولـه.چه ددې تحقيق او معلومات اوكړئ.نو يو څو ورځې پس د غمدان كوهى په طرف يو سړې تيريدو.او هلته د مچانو د ډيروالى نه ده ته پته اولګيده.نو ده يعلى ته خبر وركړو.نو هغه خلق خان سره كړل.او تشريف ئې يوړلو.نو د ښځې په چالاكو يارانو كښې يوكس اووئيل.چه ما په رسۍ كښې ور زوړند كړئ.نو وركوز شو.او د اصيل لاش ئې د كوهى په غار(ګاڼ) كښې پټ كړو.بيا دې راووتلو.او ده اووئيل.چه ما هلته هيڅ او نه موندل.نو دويم سړى اووئيل.چه ما وركوز كړئ.بيا هغه وركوز شو.او لاش ئې راوښكلو.نو آخركار ښځې اقرار اوكړو.او ددې يارانو هم اقرار اوكړو.يعلى ددې تفصيل حضرت عمر رضي الله عنه ته اوليكلو.هغوى ددې دا حكم جارى كړو.لَوْتَمَالَأَعَلَيْهِ أَهْلُ صَنْعَاءَلَقَتَلْتُهُمْ [1] چه دوى ټول دې قتل كړې شي.

كه يو سړې پوره جماعت قتل كړى نو په
قصاص كښې به هم دا يوكس قتل كولې شي

وَإِذَاقَتَلَ وَاحِدٌ جَمَاعَةً اوكله چه يو سړى يو جماعت قتل كړو فَحَضَرَأَوْلِيَاءُالْمَقْتُولِينَ نو د مقتولينو اولياء حاضر شو قُتِلَ لِجَمَاعَتِهِمْ نو قاتل به ددوى د ټولو د طرفه قتلولې شي وَلَاشَيْءَلَهُمْ غَيْرُذَلِكَ او د اولياو دپاره به ددې نه علاوه هيڅ نه وى فَإِنْ حَضَرَوَاحِدٌمِنْهُمْ نو كه په دوى كښې يو حاضر شو قُتِلَ لَهُ نو دده دپاره به قاتل قتلولې شي وَسَقَطَ حَقُّ الْبَاقِينَ او د باقى (اولياو) حق به ساقطولې شي.

[1]) اخرجه مالك في موطاه في العقول رقم ۱۳)۔

تشریح یوسړی مثلاً لس کسان قتل کړی دی.نو که ټول اولیاء راجمع شي.بیا به هم قصاص کښې د ټولو دپاره دا یو قاتل وی.او دده په قتلولو سره به د ټولو قصاص ادا کیږی.اوکه په دوی کښې یو (ولی) حاضرشو.او قصاص ئې واخستلو.نو بیا هم د باقی (اولیاو) حق ساقط شو.او هیڅ مال به چا ته نه ملاویږی. (۱)

دلائله ① دلیل دا دې چه هرکله ټول اولیاء حاضر شو.او د قاضی د فیصلې نه پس هغوی پخپله یا ددوی وکیل هغه قتل کړو.نو په دواړو صورتونو کښې به دا ګڼړلې شی.چه هر یو کس خپل پوره حق ((قصاص علی سبیل الکمال)) حاصل کړو.نو تماثل شته.او لکه څنګه چه ړومبی صورت کښې مقتول یو وی.او قاتلان ګڼړ وی.هم دا ګڼړلی شوی دی.چه هر قاتل کامل وصف سره دې قتل کړې دې.ګنی ددې نه بغیر به د ټولو نه قصاص نه اخستلې کیدو.نو دلته به هم دغه شان ګڼړلې کیږی. ② بل دلیل دا دې چه په دوی کښې د هریو زخم ددې قابل دې.چه د روح وتلو سبب جوړ شی.نو د روح وتلو اضافت به دوی ټولو طرف ته کیږی.ځکه چه لکه څنګه قصاص غیر متجزی دی.دغه شان روح وتل هم غیر متجزی دی.او د سړی د بدن شلول (او زخمی کول) ممنوع دی.او داسې کونکې حدیث کښې ملعون ګرځولې شوې دې. خو ددې باوجود دلته کښې د ژوند د تحقیق په غرض سره قصاص مشروع کړې شوې دې.بهرحال کوم چه غرض (او مقصد) دې.یعنی تحقیق د ژوند ، هغه ددې قاتل په قتلولو سره حاصلیږی.او هرکله چه مقصد حاصل شو.نو په دې به اکتفاء کولې شی.او د قصاص نه علاوه به هیڅ مال واجب نه وی.

که قاتل مړشی نو د قصاص څه حکم دې؟

وَمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْقِصَاصُ او په چاچه قصاص واجب وی فَمَاتَ او هغه مړشو سَقَطَ الْقِصَاصُ نو قصاص ساقط شو

تشریح په کوم قاتل چه قصاص واجب وو.او دیت ورکول اختیار شوی نه وو.نو که دا قاتل مړ شی.نو قصاص به هم ساقطیږی.

دلیله ځکه چه د کوم محل نه قصاص وصولیدو.هغه محل ختم شوې دې.نو دا بالکل داسې ده.لکه چه یو غلام جنایت (جرم) اوکړی.او په دې کښې دا غلام ورکول لازمی شی.خو د ورکولو نه وړاندې دا غلام مړ شو.نو اوس به هیڅ نه ورکړې کیږی.ځکه چه محل فوت شوې دې.

اصلی واجب قصاص دې.او دیت طرف ته انتقال هغه وخت کیږی.کله چه دوی دواړه په دې باندې اتفاق اوکړی.او دا اتفاق شوې نه وو.نو اصلی موجب قصاص وو.او د محل فوت کیدو په وجه اوس دا فوت (ختم) شو.

---

(۱) د امام شافعی رحمه الله دلته مختلف اقوال دی: ① که قاتل دا ټول مقتولین یو بل پسې قتل کړې وی.نو د ړومبی په بدله کښې به قصاص وی.او د باقی په بدله کښې به مال واجب وی. ② اوکه ټول (ئې په یو ځل) قتل کړی وی.یا ئې وړاندې روستو قتل کړی وی.خو د ړومبی پته نه لګی.نو د ټولو دپاره به قتلولې شی.او بیا به دیتونه د دوی ټولو په منځ کښې تقسیمولې شی. ③ قرعه (او خسنړې) به اچولې شی.چه د چا نوم راوخی.د هغه دپاره به قتلولې شی.او د باقی دپاره به مال وی.

که دوو سړو د یو سړي لاس کټ کړونو د قصاص څه حکم دی ؟

وَإِذَاقَطَعَ رَجُلَانِ يَدَرَجُلٍ وَاحِدٍ اوکله چه دوو سړو د یو سړي لاس کټ کړو (فَلَاقِصَاصَ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نو په دوی دواړو کښې یو باندې هم قصاص نشته. وَعَلَيْهِمَا نِصْفُ الدِّيَةِ او دوی دواړو باندې به نیم دیت وی

تشریح زید او بکر په یوځائې د خالد یو لاس کټ کړو.نو په دواړو کښې په یو هم قصاص نشته البته په هر یو باندې نیم نیم دیت دې.(١)

دلیله دلیل دې.ددې حاصل دا دې.چه په زید او بکر کښې هر یو دده بعض لاس کټ کړې دې. ځکه چه چاره باندې د دواړو لاس دې.او د دواړو په زور د چاړې نه کار اخستې شوې دې.او د خالد لاس هم د تجزی (یعنی حصې کولو) قابل دې.نو دا به ضروری وی.چه داسې اوونیلې شی.چه هر یو بعض لاس کټ کړې دې.او هرکله چه هر یو بعض لاس کټ کړې دې.او دوی دواړو ته دا سزا ملاو شی.چه ددوی پوره لاس کټ کړې شی.نو مماثلت ختم شو.حالانکه قصاص کښې مماثلت ضروری دې.،،کمامر،،

یو لاس دوو سړو کټ کړولو د دیت څه حکم دی ؟

وَعَلَيْهِمَا نِصْفُ الدِّيَةِ چه په دوی دواړو به نصف دیت واجب وی

تشریح د یو لاس هغه دیت وی.کوم چه د پوره نفس د دیت نیم دې.نو هم دا نصف دیت به په دوی دواړو واجب وی.او په دوی دواړو کښې به هر یو باندې د نصف نیم نیم واجب وی.

دلیله:ځکه چه دوی یو لاس کټ کړې دې.نو ددې لاس ضمان به دوی دواړو باندې نصف واجب وی.ګویا چه هر یو باندې د نفس د دیت۱۱۴ واجب وی.

یو سړي د دوو سړو ښي لاس کټ کړواو دواړه حاضر شو لو څه حکم دی ؟

(وَإِنْ قَطَعَ وَاحِدٌ يَمِينَيْ رَجُلَيْنِ اوکه یو سړي د دوو سړو ښې لاس کټ کړو فَحَضَرَا نو دوی دواړه حاضر شو فَلَهُمَا نو ددوی دواړو حق دې آن يَقْطَعَا يَدَهُ.چه دده لاس کټ کړی وَيَأْخُذَامِنْهُ نِصْفَ الدِّيَةِ او دده نه نصف دیت واخلی يَقْتَسِمَانِهَا نِصْفَيْنِ چه دا دوی دواړه نیم په نیمه تقسیم کړی.

تشریح ارشد د حارث اوعثمان دواړو لاسونه کټ کړی دی.نو د ارشد لاس د دوی دواړو د لاسونو بدل خو نشی جوړیدې.نو دا صورت به اختیارولې شی. چه دوی دواړه د هغه لاس کټ کړی.او دا به د تعین نه بغیر د یو لاس بدل وی.او د دویم لاس دې دده نه دیت وصول کړی.او دا دې دواړه نیم په نیمه تقسیم کړی.که دواړه لاسونه ئې په یوځل کټ کړې وی.بیا هم دا حکم دې.او که وړاندې روستو ئې کټ کړې وی.بیا هم دا حکم دې.

دلیله دلیل دې.ددې حاصل دا دې.چه چونکه د زید او بکر دواړو لاسونه کټ کړې شوی دی.نو قصاص هم دواړو ته ملاوېدل پکار دی.ځکه چه هرکله په سبب کښې دواړه برابر دی.نو په حکم کښې به هم برابر وی.او ددې هم هغه طریقه ده.کومه چه مونږ بیان کړې ده.ددې مثال بعینه داسې دې.چه د زید په ذمه د بکر پنځوس روپۍ قرض دی.او د خالد څلوېښت دی. او د ساجد هم څلوېښت دی.او دا ټول قرض په مختلفو زمانو کښې ده اخستې دې.اوس زید وفات کیږی.او مال پریږدی.نو په دې ترکه کښې د ټولو (قرضخواهانو) حق برابر دې.دا به نشی کتلې.چه د کوم کس نه قرض مخکښې اخستې شوی دې.هغه ته به د مخکښې اخستلو حق حاصل وی.دغه شان به دلته کښې هم دا نشی کتلې.بلکه صرف په سبب کښې د مساوات په وجه به په حکم کښې مساوات ثابتیږی.

یو سړی د دوو سړو لاس غوڅ کړواو یو حاضر شونو څه حکم دی ؟

فَإِنْ حَضَرَ وَاحِدٌ مِنْهُمَا او که په دوی دواړو کښې یو حاضر شو فَقَطَعَ يَدَهُ نو ده دهغه لاس کټ کړو فَلِلآخَرِ عَلَيْهِ نِصْفُ الدِّيَةِ نو د دویم دپاره په ده باندې نیم دیت دی

تشریح وړاندې چه کومه مسئله بیان کړې شوې ده.دا حکم هغه وخت دې.چه د کومو دواړو لاسونه کټ کړې شوی دی.دوی دواړه حاضر شي.اوکه صرف یو حاضر شو.او دویم غائب وی.نو ددې حکم دا دې.کوم چه دلته کښې ذکر دې.یعنی حاضر خپل قصاص وصول کړی.اوکوم چه غائب دې.هغه دپاره به نصف دیت واجب وی.

دلیله څکه چه دوی دواړو کښې د هر یو لاس کټ شوې دې.نو د وصولولو حق هر یو ته حاصل دې.نو کوم چه حاضر دې.هغه ته به حق وی.چه هغه خپل حق وصول کړی.او پاتې شو غائب، نو دده په وجه به د حاضر حق موخر کول ضروری نه وی.څکه چه د غائب په حق کښې خو اوس هم تردد (او شک) دې. څکه کیدې شی.چه هغه خپل حق معاف کړی.او کیدې شی.چه هغه دسره حاضر هم نشی.نو حاضر ته حق شته.چه خپل حق وصول کړی.نو کله چه ده وصول کړو.نو چونکه محل د استیفاء (او وصولولی ،،یعنی ښی لاس،، ختم شو.نو اوس د دویم حق په دیت کښې متعین شو.ولې؟ څکه چه لاس پرکونکی پخپل لاس سره هغه حق ادا کړې دې.کوم چه په ده واجب وو.او په داسې صورت کښې د حقدار حق نه ختمیږی.چه ددې تفصیل وړاندې تیر شوې دې.

د غلام د قتل عمد اقرار معتبر دې اوکه نه؟

وَإِذَا أَقَرَّ الْعَبْدُ بِقَتْلِ الْعَمْدِ او کله چه غلام د قتل عمد اقرار اوکړو لَزِمَهُ الْقَوَدُ.([1]) .نو په ده به قصاص لازم وی.

تشریح غلام د قتل عمد اقرار کوی. زمونږ مذهب دا دې.چه اقرار صحیح دې.او د غلام نه به قصاص اخستلې شی.

دلائله ① دلیل دادې چه دې اقرار کښې غلام باندې هیڅ تهمت نشته.او د مال په اقرار کښې تهمت دې.څکه چه د آقا نه زیات نقصان خو پخپله دغلام دې.چه دده نفس به قتلیږی.نو دده اقرار به قبول وی.

② بله وجه دا ده که مونږ دغلام دآدمیت اوانسانیت خیال ساتونودې نه دا قاعده مقرر کیږی چه غلام پخپله وینه کښې د آزادئ صفت لری.او د قصاص اصلی مقصد وینه بهیول دی.مال نه دې.بلکه د مال معدوم کیدل ضمنی خیز دې.نو دلته د غلام اقرار د هغه خیز په باره کښې معتبر منلې شوې دې.کوم خیز چه د حریت صفت باندې قائم (او باقی پاتې) دې.اود دې دلیل دا دې چه غلام د انسانیت او آدمیت دحق مستحق دې که آقا پخپل غلام باندې د حدود یا قصاص اقرار اوکړی.نو دده اقرار به صحیح نه وی.او د مولا د اقرار په وجه به غلام باندې حد یا قصاص نه جاری کیږی.نو ددې مسئلې دا خبره معلومه شوه.چه غلام اګرچه غلام او مملوك دې.خوددہ اقرار به قبلولې شی.

وَمَنْ رَمَى رَجُلاً عَمْداً او چا چې یو سړي په قصد سره اوویشتلو فَنَفَذَ السَّهْمُ مِنْهُ إِلَى آخَرَ نو غشي د دې نه

[1]) القول الراجح هو هذالقول الجمهور ﷺ كذا في ردالمحتار(٥\٣٩٦) والفقه الإسلامي (٣\٣٢٣) نقلاً عن القول الراجح (٢\٣٤٢)-

اووتل او په بل کبني ورننوتلو فَمَاتَا اودواړه مړه شول فَعَلَيْهِ الْقِصَاصُ لِلْأَوَّلِ نو په ده باندي د اول دپاره قصاص دي وَالدِّيَةُ لِلثَّانِي اود دويم دپاره ديت دې عَلَى عَاقِلَتِهِ د هغه په عاقله باندي

تشریح﴾ خالد عامر په غشي باندي اوويشتلو عامر په غشي اولګيدلو د هغه نه اووتلو او په بکر کبني ورداخل شو او دواړه د دغه يو غشي نه مړه شو.نو په دې صورت کبني به خالد د عامر په قصاص کبني قتل کولي شي او د بکر ديت به دده په عاقله باندي واجبيږي.

دلیل﴾ د عامر قصاص پرې ځکه واجبيږي.چې خالد قصداً هغه ويشتي دې او هغه او کله چې څوك په قصد باندي بل اولی اوهغه مړ شي.نو قصاص واجب وي دغه شان به دلته هم قصاص واجب وي او د بکر قتل په خطاء سره شوي دې ځکه چې خالد بکر قصدا نه دې ويشتي بلکه د عامر د ويشتلو اراده ئې وه.خو بکر اولګيدلو.اوپه خطاء کبني ديت وي.نو دلته به هم ديت واجبيږي.

كِتَابُ الدِّيَاتِ

ترجمه﴾ (دا) کتاب د ديتونو(په بيان کبني) دې.

تشریح﴾ تعريف الدية﴾ ديت په شريعت کبني هغه مال ته وائي.کوم چه د نفس بدل ګرځولي شوي دي.يعنی دا د ،،تسمية الشئ باسم المصدر،، د قبيلې څخه دے.او ،،إرش،، (تاوان) هغه مال ته وائي.کوم چه د نفس نه په کم کبني واجبيږي.

الربط بما قبله﴾ مخکبني قصاص بيان کړي شوي دې.بيا ديت، ځکه چه قصاص اصل دې.او ديت دخليفه مثل دې.اودژوند اونفس حفاظت زيات اهم (اوضروری) دې.په دې وجه قصاص مقدم کړي شوي دي.

د قتل شبه عمد د ديت او كفارې حكم

إِذَا قَتَلَ رَجُلٌ رَجُلًا شِبْهَ عَمْدٍ کله چه يوسړي بل سړي قتل کړی په شبه عمد سره فَعَلَى الْعَاقِلَةِ دِيَةٌ مُغَلَّظَةٌ او شبه عمد په عاقله باندي ديت مغلظه دې وَعَلَيْهِ كَفَّارَةٌ.او په قاتل باندي کفاره ده

تشریح﴾ د قتل شبه عمد ديت په عاقله باندي وی.او کفاره په قاتل باندي وی.په هدايه څلورم جلد باندي ددې بيان تير شوي دې.خو د تغليظ طريقه هلته نه ده تيره شوې.هغه دلته بيانولي شی.کله چه اوښان سل واجب وی.او ددې دا څلور قسمونه واجب وی: ① بنت مخاض ② بنت لبون ③ حقاق ④ جزاع، ددې نوم ديت مغلظه دې.

د قتل خطاء كفاره، او د شيخينو رحمهما الله مسلك

وَدِيَةُ شِبْهِ الْعَمْدِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ أَرْبَاعًا او د شيخينو رحمهاالله په نيز د شبه عمد ديت د څلورو قسمونو سل اوښان دی خَمْسٌ وَعِشْرُونَ بِنْتَ مَخَاضٍ پنځه ويشت بنت مخاض

وَخَمْسٍ وَعِشْرُونَ بِنْتَ لَبُونٍ او پنځه ويشت بنت لبون، وَخَمْسٍ وَعِشْرُونَ حِقَّةً وَخَمْسٍ وَعِشْرُونَ جَذَعَةً (¹) او پنځه ويشت حقې او پنځه ويشت جذعې.

حل اللغة ① **بنت مخاض:** چه دا د اوښ هغه بچي دې.چه په دويم کال کښې شروع شوې وی.او چونکه اوس به ددې مور په دويم بچي سره حامله شوې وی.په دې وجه دې ته بنت مخاض وائي. ② **بنت لبون:** کومه چه په دريم کال کښې شروع شي.او چونکه اوس به ددې مور دويم بچې راوړلې وی.او پی به ورکوی.په دې وجه دې ته بنت لبون وائي. ③ **حقه:** کوم چه په څلورم کال کښې شروع شي. چونکه اوس به دا استحقاق وی.چه په دې سور شي.او په دې بوج بار کړې شي.په دې وجه دې ته حقه وائي. ④ **جذعه:** کومه چه په پنځم کال کښې شروع شي.څکه چه اوس به دې دوه غاښونه کړی وی.په دې وجه دې جذعه وائي.بهرحال د شيخينو رحمهما الله په نيز د سلو اوښانو تفصيل دا دې.کوم چه ذکر شو.

تشريح د شيخينو رحمهما الله مذهب دا دې. چه کومه د قتل شبه عمد کفاره ده.هم هغه د قتل خطاء کفاره ده.او په شبه عمد کښې به سل اوښان واجب وی. په دې کښې پنځه ويشت بنت مخاض وی او پنځه ويشت بنت لبون وی اوپنځه ويشت جذعه وی اوپنځه ويشت حقه وی

دلائلهما د شيخينو رحمهما الله دليل دې.رومبي دليل دا حديث دې. (في نفس المومن مائة من الإبل) چه دا ابن حبان صحيح ګرځولې دې. په دې حديث کښې صرف د سلو اوښانو دې.د دغه سلو به څلور قسمه اوښانو باندې د تقسيم تفصيل په کښې نشته نو معلومه شوه چه کوم قيدونه امام محمد اوامام شافعی رحمهما الله لګولی دی دا په واجب چه سل اوښان دی په هغې باندې زيادت دې حالانکه داسې موقعو کښې مقادير په قياسي موازنو (او خيالاتو) سره نه معلوميږی.

مسلک محمد امام محمد سل اوښان د څلورو قسمونو په ځائې دريو قسمونو باندې تقسيم کړی دی.يعنی جذعې ديرش وی.او حقې ديرش وی.او ثنيې څلويښت وی.،، **ثنی**،، د مذکر دپاره او مادې دپاره ،،**ثنيه**،، ده.او دا ټولې څلويښت ثنيې حاملې وی.د حامله مطلب دا دې.چه ددوی په خيټو کښې ددوی اولاد وی.

په دې خو د ټولو اتفاق دې.چه د شبه عمد په ديت کښې تغليظ دې.حضرات شيخينو رحمهما الله په څلور قسمونو باندې تقسيمول تغليظ ګڼړلې دې.او امام محمد د ثنيې په وجوب کښې تغليظ ګڼړلې دې.او ثنی هغه دې.چه په شپږم کال کښې شروع شي.او مونث ثنيه دې.چه دې وخت به دا حامله وی.او د خلفة په معنی کښې دې.حملداره اوښه د ،،في بطونها أولادها خلفات،، صفت کاشفه دې.

دليله ① دليل دا حديث دې (ألا إن قتيل خطأ العمد قتيل السوط والعصا وفيه مائة من الإبل أربعون منها في بطونها أولادها) (²)بهرحال حديث کښې صراحت دې.چه په دې سلو کښې څلويښت داسې کيدل پکار دی.چه هغه حاملې وی.او د عمر فاروق او زيد بن ثابت رضي الله عنهما نه نقل دی.چه ديرش به حقې وی.او ديرش به جذعې وی. نو ددې تفصيل نه معلومه شوه.چه درې قسمه اوښان به واجب وی.ديرش حقې، او ديرش

---

¹) القول الراجح هوهذا قول الشيخين رحمهما الله كذا في ردالمحتار(٥\٤٠٦) وملتقى (٤\٣٤١) والهندية (٦\٢٤) وكنز الدقائق (٣٩٨) نقلاً عن القول الراجح (٢\٣٤٧)-

²) تقدم تخريجه_

جذعې، او شلوېښت ثنيات،
الجواب عنه> امام محمد چه کوم حدیث بیان کړی دی.هغه حدیث اګرچه مرفوع دی. خو دا به غیرثابت شمارلې کیږی.ځکه که دا ثابت وی.نو د تغلیظ په صفت کښې چه د صحابه کرامو ﷡ په منع کښې کوم سخت اختلاف دی.دا به نه وو.ځکه چه د مذکوره قول قائل د ذکر شوی حدیث نه دلیل نیولو سره نور صحابه کرام ﷡ خاموش کولی شو.حالانکه په دې حدیث سره د صحابو ﷡ په منع کښې حجت پیش کول جاری نشو.دا ددې د نه ثابتیدو دلیل دې.

تغليظ صرف په اوښانو کښې دې

(**وَلَا يَثْبُتُ التَّغْلِيظُ** او تغلیظ به نه ثابتیږی **إِلَّا فِي الْإِبِلِ خَاصَّةً** خو خاص طور باندې په اوښانو کښې،

تشريح> چه ددې بیان اوس تیر شوې دی.خو چونکه شریعت تغلیظ صرف په اوښانو په شبه عمد کښې دیت مغلظه واجبیږی کښې خاص کړې دې.او په دې د امت اجماع منعقد شوې ده.نو د تغلیظ به بله کومه طریقه د ذکر شوې طریقې نه علاوه نه وی.
دليله> ځکه چه په شرعی مقدارونو کښې د قیاسی موازنو دخل نه وی.بلکه د شرعی مقدارونو پیژندلو دپاره نقل پکار دې.او نقل د اوښانو په سلسله کښې دې.نو که قاضی د اوښانو نه علاوه سره فیصله اوکړله.نو دده فیصله به نه نافذ کیږی.ځکه چه د توقیف مغائر دې.

په قتل خطاء کښې د دیت او کفارې حکم

وَفِي قَتْلِ الْخَطَإِ او په قتل خطاء کښې **تَجِبُ بِهِ الدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ وَالْكَفَّارَةُ عَلَى الْقَاتِلِ** ددې په وجه عاقله باندې دیت او په قاتل کفاره واجب ده

تشريح> په آیت کښې صراحت سره ذکر دی.چه په قتل خطاء کښې دیت او کفاره واجب ده.خو کفاره په قاتل ده.او دیت په عاقله باندې دې.چه ددې وجه په شروع د کتاب الجنایات کښې ذکر شوې ده.

د قتل خطاء دیت څه دې ؟

وَالدِّيَةُ فِي الْخَطَإِ مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ أَخْمَاسًا او په (قتل) خطاء کښې پنځه قسمه اوښان دی **عِشْرُونَ بِنْتَ مَخَاضٍ** شل بنت مخاض، **وَعِشْرُونَ ابْنَ مَخَاضٍ** اوشل ابن مخاض **وَعِشْرُونَ بِنْتَ لَبُونٍ** او شل بنت لبون **وَعِشْرُونَ حِقَّةً** ،او شل حقې **وَعِشْرُونَ جَذَعَةً** او شل جذعې،

تشريح> که د قتل خطاء دیت په اوښانو سره ادا کول وی.نو ددې مقدار سل اوښان دی.چه په دې کښې به دا پنځه قسمه اوښان وی. کوم چه دلته کښې ذکر دی.
دليله> دا د ابن مسعود ﷛ قول دې. (۱) دا به د حدیث مرفوع په درجه کښې شمارلې شی.د ابن مسعود ﷛ ددې فرمان په وجه مونږ او امام شافعی ﷫ هم دا قول اختیار کړې دې.چه د قتل خطاء دیت به په پنځو قسمونو سره اداکولې شی.او هم په دې طریقه ابن مسعود ﷛ د قتل خطاء په دیت کښې د نبی کریم ﷺ فیصله روایت کړې ده.او خاطی معذور هم دې.په دې وجه دده په دیت کښې (اسانتیا او) سپکوالې پکار دې.او دا د سپکوالې طریقه ده.

(۱) اخرجه اصحاب السنن الأربعة بالفاظ مختلفة نقلها الزيلعي ﷫ في نصب الراية و هو في أبي داود في الديات باب ۱۷ رقم ٤٥٥٦)_ والترمذی في أوائل الديات والنسائي رقم ٤٨٠٢ وابن ماجه رقم ٢٦٣١) كذا في نصب الراية:٥\١٢٥)_

د قتل خطاء په دیت کښې د سرو زرو او سپینو زرو مقدار

وَمِنَ الْعَيْنِ أَلْفُ دِينَارٍ او د (قتل خطاء دیت) د سرو زرو نه زر دینار وَمِنَ الْوَرِقِ عَشَرَةُ آلَافِ دِرْهَمٍ او د سپینو زرو نه لس زره درهمه دي

تشریح که د قتل خطاء دیت د سرو زرو نه ادا کول غواړي.نو زر دیناره د هغې مقدار دې.اوکه د سپینو زرو نه ادا کول وي.نو ددې مقدار لس زره درهمه دې. (۱)

دلیله دلیل د حضرت عمر رضی الله عنه روایت دې چه نبی ﷺ د یومقتول په دیت کښې په لس زره روپو باندې فیصله کړې وه (۲)

د اوښانو، سرو زرو، او سپینو زرو نه علاوه سره د دیت اداکولو مسئله

وَلَا تَثْبُتُ الدِّيَةُ او دیت به نه ثابتیږي. إِلَّا مِنْ هَذِهِ الْأَنْوَاعِ الثَّلَاثَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، (۳) مگر هم ددې دریو اقسامو نه د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز

تشریح هرکله چه قاتل دیت ادا کوي.نو هغه ته په دریو څیزونو کښې اختیار دې.که اوښانو سره دیت ادا کوي.اوکه دینار یا دراهمو سره،اوددې دریو څیزونو نه علاوه سره به دیت نه ادا کوي.او دا د امام صاحب رحمه الله فرمان دې.

دلیله دلیل دا دې.چه تقدیر په داسې څیز سره صحیح کیدې شي.چه دکوم مالیت معلوم وي.او د دینار او درهم مالیت هر څوك پیژني.نو هم دې تقدیر سره صحیح دې.خو د غواګانو، چیلو او جوړو مالیت مجهول (نا معلوم) دې.لکه څنګه چه ښکاره ده.هم دا وجه ده.که د یوکس څه څیز ني ضائع کړو.نو ددې د ضمان اندازه به غواګانو اوچیلو وغیره سره نشي کولې.

وَقَالَا او صاحبین رحمهما الله فرمائي مِنْهَا وَمِنَ الْبَقَرِ مِائَتَا بَقَرَةٍ،ددې نه او د غواګانو نه دوه سوه غواګانې وَمِنَ الْغَنَمِ أَلْفَا شَاةٍ اود چیلو نه زر چیلې؛ وَمِنَ الْحُلَلِ مِائَتَا حُلَّةٍ او د جوړو نه دوه سوه جوړې، كُلُّ حُلَّةٍ ثَوْبَانِ هره جوړه دوه کپړې،

تشریح **مسلك الصاحبین** صاحبین رحمهما الله فرمائي.چه د ذکر شوی دریو قسمونو نه هم د مقرر مقدار مطابق دیت ادا کولې شي.اوکه د غواګانو نه ادا کوي.نو دوه سوه به وي.اوکه د چیلو نه ادا کوي.نو زر به وي.اوکه جوړې ورکوي.نو دوه سوه جوړې به وي.چه په دې کښې به هره جوړه دوه کپړې وي.چه دا به زمونږ د عرف (او رواج) مطابق په دې زمانه کښې یو قمیص او یو پرتوګ وي.

دلیلهما څکه چه عمرفاروق رضی الله عنه هم دغه شان فیصله په دې مالونو کښې کړې وه.دا د صاحبینو

---

(۱) **مسلك الشافعي**:-امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه دولس زره درهمه دي.

(۲) غربه الزيلعي رحمه الله ثم نقل عن عبيدة السلماني قال وضع عمر رضي الله عنه الديات على أهل الذهب ألف دينار وعلى أهل الورق عشرة آلاف درهم وعلى أهل الإبل مائة من الإبل وعلى أهل البقر مائتي بقرة مسنة وعلى أهل الشاء ألفي شاة وعلى أهل الحلل مائة حلة وعزاه إلى كتاب الآثار لمحمد بن الحسن (نصب الراية: ۱۳۰\۵)_

(۳) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله ردالمحتار(۴۰۷\۵) والفقه الإسلامی (۳۰۲\۶) وملتقی (۳۴۲\۴) والهندية (۲۴\۶) نقلاً عن القول الراجح (۳۴۸۰\۱۲)-

رحمهماالله دلیل دي. ([1])

تنبیه دلته د بعضو فقهاو عبارتونه مختلف دي.سوال دا دي.چه دا صرف د قتل خطاء د دیت ذکر دي. یا د شبه عمد او د خطاء دواړو دي.نو محقق قول دا دي.چه د دواړو ذکر دي.یعنی د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د شبه عمد او خطاء دواړو دیت د دریو واړو قسمونو نه ادا کیدي شی.او د صاحبینو رحمهماالله په نیز د نورو هغه څیزونو نه هم ادا کیدي شی.کوم چه دلته کښي ذکر دی.

الاشکال که څوك دا اعتراض اوکړی چه وړاندي تیر شوی دی.چه په شبه عمد کښي به دیت مغلظه واجب وی.او تغلیظ به صرف اوښانو کښي وی.بیا دا ولي اوشو؟

الجواب نو د دي جواب دا دي چه د هغي مطلب دا وو.چه د تغلیظ تحقق به صرف اوښانو کښي وی.چه سل اوښان به په ذکر شوو څلورو قسمونو باندي تقسیمولي شی.او که دیت د اوښانو نه علاوه سره ادا کول وی.نو هلته به تغلیظ نشی کیدي.بلکه بیا به د شبه عمد او قتل خطاء په دیت کښي هیڅ فرق نه وی.ځکه چه د تغلیظ طریقه صرف په اوښانو کښي منقول ده.نو که قاضی د اوښ نه په علاوه کښي د تغلیظ فیصله ورکړله.نو د نه منقول کیدو په وجه تغلیظ ثابت نه وی.او د قاضی فیصله به نافذ نه وی.

د مسلمان او ذمي،او د نصراني، یهودي او د مجوسي د دیتونو مقدار

وَدِيَةُ الْمُسْلِمِ وَالذِّمِّيِّ سَوَاءٌ او د مسلمان او د ذمي دیت برابر دي

تشریح ① د مسلمان او ذمی دیت برابر دي. ([2])

دلیله دلیل دي.د ابوداؤد په مراسیلو کښي روایت دي. دِيَةُ كُلِّ ذِي عَهْدٍ فِي عَهْدِهِ أَلْفُ دِينَارٍ ([3]) چه د هر ذمی دیت زر دیناره دي.او هم دا د تیرشوی تصریح مطابق د مسلمان دیت دي.اوهم دا حضراتو شیخینو رحمهماالله فیصله ده.

اندامونو کښي د دیت حکم

(وَفِي النَّفْسِ الدِّيَةُ چه په نفس کښي دیت دي (وَفِي الْمَارِنِ الدِّيَةُ او په مارن (د پوزي په نرم هډوکی) کښي (پوره دیت) دیت دي وَفِي اللِّسَانِ الدِّيَةُ او په ژبه کښي دیت دي وَفِي الذَّكَرِ الدِّيَةُ او په ذکر (اندام مخصوصه) کښي دیت دي

حل اللغة ① **مارن**: د پوزي نرم هډوکي، تندوري ② **اللسان**: ژبه]

تشریح په متن کښي چي د کومو مسائلو ذکر دي هغه د وضاحت محتاجه نه دی.

دلیله دلیل دا دي چه نبی کریم ﷺ د یمن خلقو ته یو خط لیکلي وو.او حضرت عمرو بن حزم رضی الله عنه ته

---

[1]) من حدیث عمروبن شعیب عن ابیه عن جده رضی الله عنه اخرجه ابوداود فی الدیات باب ۱۶ رقم ۴۵۴۲)۔

[2]) **مسلك الشافعي**:۔ دویم مذهب د امام شافعی رحمه الله دي د هغوی په نیز که ذمی، نصرانی یا یهودی وی.نو ددهٔ دیت څلور زره درهمه دي.اوکه مجوسی وی.نو ددهٔ دیت اته سوه درهم دي.
مسلك مالك:دریم مذهب د امام مالك رحمه الله دي ددوی په نیز دیهودی اونصرانی دیت شپږزره درهمه دي.

[3]) من حدیث سعیدبن المسیب رحمه الله اخرجه ابوداود فی مراسیله (نصب:۵\۳۶۴)۔

ني ليکلي وو.چه هغې کښې د فرائضو، سنتو او د ديتونو تفصيل وو. (١) بهرحال مذکوره تولو خيزونو کښې به پوره ديت واجب وي.

القاعدة > هرکله د يو انسان په اندام کښې کولو سره ددې اندام کامل منفعت ختم شو.يا چه په دې سره کوم جمال مقصود وو.هغه زائل شو.نو دا داسې ده.لکه د نفس هلاکول.نو دې ته به د کامل هلاکولو درجه ورکولې شي.او پوره ديت به واجبولې شي.د انسان د احترام تقاضه هم دا ده. او ددې دليل دا دې.چه نبی کريم ﷺ په ژبه او پوزه کښې د پوره ديت فيصله فرمائيلې وه.خير دا يو کلی (قاعده او اصول دې.چه په دې باندې ډير جزئيات متفرع کيږي.فرمائي.

په وهلو سره عقل ختم شو.نو څه حکم دې ؟

وَفِي الْعَقْلِ إِذَا ضَرَبَ رَأْسَهُ فَذَهَبَ عَقْلُهُ الدِّيَةُ)او په عقل کښې کله چه وې وهلو سر دهغه نو دهغه عقل ختم شو.ديت دې

تشريح > که ګزار (وار) ئې اووهلو.او عقل ختم شو.نو پوره ديت به واجب وي.

دليله > ځکه چه د عقل په وجه سړې پخل نفس پخپلو ديني او اخروی ضروورياتو کښې لګوی.نو د معلومولو (او پوهيدو) د جنس منفعت فوت کيدو په وجه به پوره ديت واجب وي.

د ږيرې يا د سر ويښته خرئيلو سره د ديت حکم

وَفِي اللِّحْيَةِ إِذَا حُلِقَتْ او په ږيره کښې کله چه دا اوخرئيلې شی که يوکس د چا د ږيرې يا د سر ويښته اوخرئيل فَلَمْ تَنْبُتْ الدِّيَةُ نو راونه خيژی.ديت واجب دې

تشريح > او بيا ږيره يا د سر ويښته راونه ختل.نو د حنفيانو په نيز به خرايونکی باندې پوره ديت واجب وي. (٢)

دليله > ځکه دې دوارو سره چه کوم جمال (او ښائست) دې.هغه فوت شو.او دا جمال مقصود دې.

په وروځو کښې د ديت د وجوب مسئله

وَفِي شَعْرِ الرَّأْسِ الدِّيَةُ اود سر په ويختو کښې ديت دې وَفِي الْحَاجِبَيْنِ الدِّيَةُ او په دوارو وروځو کښې پوره ديت دې

حل اللغة > ① **الحاجبين:** تثنيه د حاجب ، وروځه

تشريح > که دواړه اوريخې ئې کټ کړلې.نو پوره ديت به واجب وي. (٣)

په کومو اندامو کټ کولو کښې پوره ديت او په کومو کښې نيم ديت واجب دې ؟

وَفِي الْعَيْنَيْنِ الدِّيَةُ او په دوارو سترګو کښې ديت دې وَفِي الْيَدَيْنِ الدِّيَةُ او په دوارو لاسونو کښې ديت دې وَفِي الرِّجْلَيْنِ الدِّيَةُ او په دوارو خپو کښې ديت دې وَفِي الْأُذُنَيْنِ الدِّيَةُ او په دوارو

(١) اخرجه النسائی فی القود رقم ٤٥١٣) وابوداود فی مراسيله وابن حبان فی صحيحه والحاکم فی المستدرک (١\٣٩٧) وعبدالرزاق فی مصنفه (نصب:٥\١٣٨)_

(٢) **مسلک الشافعي:**- د امام مالك او امام شافعی ﷫ مذهب دا دې.چه په دې دوارو صورتونو کښې حکومت عدل واجب دې.ديت واجب نه دې.

(٣) **مسلک الشافعي:**- د امام مالك اواما شافعی ﷫ په نيز د ږيرې پشان دلته هم حکومت عدل دې.

غوږونو کښې دیت دی وَفِي الشَّفَتَيْنِ الدِّيَةُ او په دواړو شونډو کښې دیت دې وَفِي الْأُنْثَيَيْنِ الدِّيَةُ او په دواړو خصیو (هګو) کښې دیت دی

تشریح مطلب د عبارت او ترجمې نه ښکاره دې. خلاصه د کلام دا چه چرته د دواړو لاسونو یا خپو وغیره کټ کولو سره پوره دیت واجب دې. هلته به د یو په کټ کولو سره نصف دیت واجب وی.

دلیله د سعید بن مسیب رح په حدیث (١) او د عمرو بن حزم رضي الله عنه په خط کښې دغه شان منقول دی. (٢) او د اصول خبره دا ده. چه کله جنس منفعت یا د پوره جمال فوت کولو سره پوره دیت واجب شو. نو د نصف په فوت کولو سره به نصف دیت واجب وی.

د ښځې یا د سړی تینو کټ کولو کښې څه حکم دې؟

وَفِي ثَدْيَيِ الْمَرْأَةِ الدِّيَةُ او د ښځې په دواړو تینو کښې پوره دیت دې.

حل اللغة ① ثدي: تی، میمی ② المرأة: ښځه

تشریح د ښځې دواړه تیونه کټ کړې شو. نو د ښځې پوره دیت به واجب وی.

دلیله ځکه چه جنس منفعت فوت شو. اوکه یو تې کټ کړو. نو د ښځې نیم دیت به واجب وی. د تیر شوی دلیل په وجه.

حکم قطع ثديي الرجل او که د سړی دواړه تیونه کټ کړې شو. نو په دې کښې صرف حکومت عدل واجب دې.

دلیله ځکه چه دې کښې نه د جنس منفعت فوت کیدل دی. او نه د جمال (او ښائست) فوت کیدل دی. ،، کما هو ظاهر،،

وَفِي كُلِّ واحدٍ من هذه الاشياء نصف الدية او د دې ټولو څیزونو په یو کښې به نیم دیت وی

تشریح د انسان چې کوم اندامونه یو یو دی لکه ژبه ،عضو تناسل پوزه نو په دې کښې پوره دیت دې او که کوم چې دوه دوه دی لکه غوږونه ، سترګې وریځې نو که د دې یو هلاك کړې شی په دې کښې به نیم دیت وی

د سترګو په بڼرو (ویښتو) کښې د دیت حکم

وَفِي أَشْفَارِ الْعَيْنَيْنِ الدِّيَةُ او د سترګو په بڼرو کښې پوره دیت دې. وَفِي إِحْدَاهَا رُبُعُ الدِّيَةِ او په دې کښې په یو کښې څلورمه حصه دیت دې

حل اللغة ① الاشفار: د اشفار معنی ده. د بڼرو (د سترګو د ویښتو) جرړه، یعنی کوم ځائې چه ویښته راخیژی. هغه ځائې اود اهداب معنی ده. بانړه، خو په دې دواړو کښې د مجاورت (ګواندې توب) تعلق دې چه دا د مجاز مرسل علاقه ده. نو د یو بل په معنی کښې استعمالولې شی. لکه د راویه معنی اوبښ، او په دې د پاسه د اوبو مشك ته ونیلې شی.

تشریح د قدوری په متن کښې د لفظ اشفار نه بانړه هم مراد اخستې شی. او د بڼرو جرړې (ایخونه)

---

(١) قال الزيلعي رحمه الله غريب وقد تقدم في كتاب عمرو بن حزم رضي الله عنه وفي الشفتين الدية وفي البيضتين الدية (نصب: ٥\١٤١)۔

(٢) تقدم تخريجه)۔

هم مراد کیدي شي.بهرحال حکم د دوارو یو دی.د بنړو ویخته تول څلور خایه وی.او ددي جرړي هم څلور ځایه وی.نو که یو کس پوره بانړه کټ کړل.نو پوره دیت به واجب وی.اوکه د یو ځاني بانړه ئي کټ کړل.نو چونکه د ټولو ۱۱۴ دي.نو دیت به هم ۱۱۴ واجب وی.»وقس علی هذا«

دلیله ﴿ د ټولو بنړو کټ کولو سره به پوره دیت څکه واجب وی.چه جنس منفعت هم فوت شو.او جمال هم فوت شو.د بنړو منفعت دا دي.چه ددي په ذریعه تکلیف ده څیز مثلاً خاوري او ګردونه او خزلي او بوسری په سترګو کنبي نه رسیږی.

د لاسونو او خپو په ګوتو کنبي د دیت حکم

وَفِي كُلِّ أُصْبُعٍ مِنْ أَصَابِعِ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ عُشْرُ الدِّيَةِ)او د دوارو لاسونو او د دوارو خپو په ګوتو کنبي، په هره ګوته کنبي د دیت عشر دي

تشریح ﴿ په یولاس کنبي پنځه ګوتي دی.او په دوارو لاسونو کنبي لس دی.او دغه شان په دوارو خپو کنبي لس ګوتي دی.او په دوارو لاسونو کنبي یا ددي په لسو ګوتو کنبي پوره دیت واجبیږی.او هره ګوته د دوارو لاسونو کنبي د ټولو ګوتو عشر (لسمه) ده.نو په هره ګوته کنبي به د پوره دیت عشر ۱۱۱۰ واجب وی.باقی مسئله ښکاره ده.

دلیله ﴿ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم حدیث دي «فِي كُلِّ أُصْبُعٍ عَشْرٌ مِنَ الْإِبِلِ»[1] هره ګوته کنبي لس اوښان دی.»

د لاسونو او خپو ټولي ګوتي برابر دي

وَالْأَصَابِعُ كُلُّهَا سَوَاءٌ)او ټولي ګوتي برابر دی

تشریح ﴿ که هره یوه ګوته وی.د ټولو حکم برابر دي.

دلیله ﴿ څکه چه کوم حدیث ددي نه وړاندي د ګوتو په باره کنبي ذکر شو.هغه مطلق دي.او د اصل نیولو منفعت کنبي ټولي ګوتي برابر دی.نو په دي کنبي به کمي زیاتي معتبر نه وی.لکه ښي او کس (چپ) لاس کنبي چه هیڅ شمارلي شوی نه دی.اوکوم حال چه د لاسونو د ګوتو دي.هم دا حال د خپو دګوتو دي.چه ددي ټولو په کټ کولو سره د تللو منفعت فوت کیږی.نو دیت به واجب وی.بیا چه څومره ګوتي کټ کړي شوی وی.نو مذکوره حساب به دلته هم جاری کیږی.

د ګوتو په بندونو کنبي کټ کولو کنبي د دیت حکم

وَفِي كُلِّ أُصْبُعٍ فِيهَا ثَلَاثَةُ مَفَاصِلَ او په هر هغه ګوته کنبي چه هغي کنبي دري جوړونه وی فَفِي أَحَدِهَا ثُلُثُ دِيَةِ الْأُصْبُعِ نو په یو جوړ کنبي د ګوتي دیت ثلث دي وَمَا فِيهَا مِفْصَلَانِ او هغه ګوته کومه کنبي چه دوه جوړونه وی فَفِي أَحَدِهِمَا نِصْفُ دِيَةِ الْأُصْبُعِ نو په یو جوړ کنبي به د ګوتي دیت نصف وی

حل اللغة ﴿ ① **الاصابع**: جمع د اصبعة، ګوته ② **مفاصل**: جمع د مفصل،جوړ]

تشریح ﴿ په ګوتو کنبي دري جوړونه (بندونه) وی.او په متئ ګوته کنبي دوه بندونه دی.نو د کومي ګوتي بندونه چه دري وی.که د هغي یو بند کټ کړي شي.نو هغي کنبي به د ګوتي د دیت ثلث واجب

[1] من حدیث ابي موسی ﷺ اخرجه أبوداود في الدیات باب ۱۸ رقم ۴۵۵۶ والنسائی في القسامة باب ۴۵ رقم ۴۵۰۳)

وی.او په کومه گوته کښې چه دوه بندونه وی.که د هغې یو بند کټ کړې شی.نو په دې کښې به د گوتې د دیت نصف واجب وی. لکه د لاس دیت په گوتو باندې تقسیمیږی.،، کما مر،، دغه شان به د گوتو دیت په بندونو باندې تقسیمیږی.

په غاښ کښې د دیت حکم؟

وَفِي كُلِّ سِنٍّ خَمْسٌ مِنَ الْإِبِلِ)او په هر غاښ کښې پنځه اوښان دی

تشریح که یوکس د یوسړی غاښ مات کړو.نو په هر غاښ کښې به پنځه اوښان واجب وی.

دلیله په حدیث کښې دی وَفِي كُلِّ سِنٍّ خَمْسٌ مِنَ الْإِبِلِ }[1] او په هر غاښې کښې پنځه اوښان دی

وَالْأَسْنَانُ وَالْأَضْرَاسُ كُلُّهَا سَوَاءٌ،او غاښ او جامه (د جامې غاښ) برابر دی

تشریح بیا غاښونه ټول برابر دی.که انیاب وی.او که اضرس یا طواحن وی.او که نواجذ وی.د ټولو حکم یو دې.

دلیله ځکه چه د ابو موسی اشعری رض په حدیث کښې اطلاق دې.او حدیث دا دې. (الأسنان كلها سواء) نو صفا معلومه شوه.چه ټول غاښونه برابر دی.بیا په اصل منفعت کښې ټول برابر دی.نو لکه څنګه چه په لاسونو او گوتو کښې یو بل ته فضیلت ورنکړې شو.دغه شان به په غاښونو کښې هم تفاضل معتبر نه وی.خو دا ټول تفصیل هغه وخت دې.کله چه دا ټول امور خطاء واقع شی.کنی د عمد په صورت کښې به قصاص واجب وی.

د اندام منفعت ضائع کولو سره د دیت حکم

وَمَنْ ضَرَبَ عُضْوًا چه د یوکس اندام اووهلو فَأَذْهَبَ مَنْفَعَتَهُ.نو د هغې منفعت ئې ختم کړو فَفِيهِ دِيَةٌ كَامِلَةٌ نو په دې کښې به پوره دیت واجب وی كَالْيَدِ إِذَا شُلَّتْ لکه لاس چه شل شی و وَالْعَيْنِ او لکه سترګه إِذَا ذَهَبَ ضَوْءُهَا کله چه ددې رنړائی (بینائی) ختمه شی.

حل اللغة ① **منفعة:** فائده

تشریح یوکس بل سړې په اندام باندې اووهلو.او ددې منفعت ئې ختم کړو.که ددې اندام صورت پخپل حال قائم وی.نو بیا به هم پوره دیت واجب وی.مثلاً په لاس ئې اووهلو.او لاس موجود دې.خو دا شل شو.یا ئې په سترګه اووهلو.اوسترګه موجود ده.خو بینائی (او نظر) ئې ختم شو.نو پوره دیت به واجب وی.

دلیله ځکه چه د پوره دیت وجوب د جنس منفعت فوت کیدو په وجه کیږی.د صورت د زوال په وجه نه کیږی.اودلته جنس منفعت فوت شوې دې.

د سر او مخ د شپاړ زخمونو بیان

الشِّجَاجُ عَشَرَةٌ:چه شجاج لس دی الْحَارِصَةُ حارصه، وَالدَّامِعَةُ او دامعه وَالدَّامِيَةُ او دامیه، وَالْبَاضِعَةُ او

[1] قال الزيلعي رحمه الله ليس هذا في حديث أبي موسى رضي الله عنه ثم نقل عن ابن عباس رضي الله عنهما وفيه ... أن النبي قضى في السن خمس من الإبل أخرجه ابن ماجه في الديات باب ١٧، وأحمد في المسند(١\٢٢٧) نصب:٥\١٤٤)۔

بضعه، والملاحمة او متلاحمه، والسمحاق او اسمحاق، وَالْمُوضِحَةُ او موضحه (وَالْهَاشِمَةُ) او هاشمه وَالْمُنَقِّلَةُ.اومنقله (وَالْآمَّةُ) او آمه،

تشریح> التعریفات> ① **شجة**کوم زخم چه په سر او مخ باندې وی.هغې ته شجه وائي.ددې جمع شجاج دې.

② **جراحة:** او کوم زخم چه د سر او مخ نه علاوه وی.هغې ته جراحت وائي.د نفس نه د کم په اقسامو کښې يو قسم شجاج هم دې.او د شجاتو (د سر د زخمونو) مسئلې هم ډیرې دی.په دې وجه دا په جدا فصل کښې بیان کړې شوی دی.

③ **حارصة** کښې صرف په څرمنه کښې خراش وی. او بس .

④ **دامعة:** کښې وینه ښکاری.خو بهیږی نه.لکه څنګه چه په سترګو کښې هر وخت اوښکې ښکاری. خو بهیږی نه. ⑤ **دامية:** چه په دې کښې وینه اوبهیږی.

⑥ **باضعة:** چه په دې کښې غوښه کټ شی.مرغینانی رحمه الله تعریف کړې دې.چه په دې کښې څرمنه کټ شی.خو دا تعریف مشکوك دې.ځکه چه دې لسو وارو کښې يو زخم هم داسې نشته.چه په دې کښې څرمنه نه کټ کیږی.بلکه څرمنه خو په ټولو کښې کټ کیږی.

⑦ **متلاحمة:** مرغینانی رحمه الله ددې تفسیر کړې دې.چه په دې کښې غوښه کټ شی.یعنی په غوښه کښې وربنخ شی.او په بدائع وغیره کښې ددې تفسیر داسې شوې دې.چه په دې کښې د باضعه نه زیات غوښه کښې وربنخ شی.

⑧ **اسمحاق:** د غوښې او د سر د هډوکی په منځ کښې یوه نرئ شان پرده وی.کله چه زخم دې پردې ته اورسیږی.نو دې ته اسمحاق وائي.

⑨ **موضحة:** چه په دې کښې هډوکې کلاو او ښکاره شی.

⑩ **هاشمة:** چه په دې کښې هډوکې مات شی.

⑪ **منقلة:** چه په دې کښې هډوکې مات شی.او خپل ځائې نه بې ځایه شی.

⑫ **امة:** چه زخم ام الراس ته اورسیږی.او أم الرس هغه دې.کوم ځائې چه دماغ وی.

د دې ځائې نه د سر او د مخ د شپږو زخمونو بیان شروع شو.اود لغاتو حل ئې اوشو.

که موضحه عمدا وی نو په دې کښې قصاص دې

فَفِي الْمُوضِحَةِ الْقِصَاصُ نو په موضحه کښې قصاص دې ان كَانَتْ عَمْدًا که دا عمداً وی

تشریح> د لسو اقسامو د بیانولو نه پس فرمائی.چه په دې کښې اووم قسم موضحه دې.که دا زخم عمداً وی.نو په دې کښې قصاص واجب دې.

دلائله> ① د بیهقی حدیث دې.چه په دې کښې موضحه کښې قصاص بیان کړې شوې دې.

② قصاص مساوات غواړی.او په موضحه کښې مساوات ممکن دې.چونکه دلته منتها (آخری حد) هډوکې موجود دې.نو په قصاص کښې هډوکی پورې کټ کولې کیدې شی.

د موضحه نه علاوه د سر او مخ په باقی زخمونو کښې قصاص نشته

وَلَاقِصَاصَ فِي بَقِيَّةِ الشِّجَاجِ) اوپه نورو زخمونو کښی قساص نشته.

تشریح> د موضحه نه علاوه په باقی نهو قسمونو کښې قصاص نشته.بلکه حکومت عدل دې.

دليله ﴿ ځکه چه قصاص مساوات غواړي.اودلته مساوات ممکن نه دي.ځکه چه په دې کښې هيڅ يو کښې هم داسې حد او منتها نشته.چه هلته کښې رسيدو سره چاره اودريږي. دا دليل خو د ټولو دپاره عام دي.او د موضحه نه پس چه د کومو دريو ذکر دي.يعنې هاشمه، منقله، آمه، په دې کښې د قصاص نه کيدو وجه دا هم ده.چه په دې ټولو کښې هډوکي ماتيږي.او وراندې مسئله تيره شوې ده.چه په هډوکو کښې قصاص نشته. خلاصه د کلام دا چه د امام ابوحنيفه رحمه الله د روايت مطابق د موضحه نه پورته کوم شپږ ذکر دي.نه هغې کښې قصاص شته.او نه په هغه دريو کښې کوم چه د موضحه نه روستو ذکر دي.

د موضحه نه په کم زخم کښې څه حکم دي ؟

وَفِيمَا دُونَ الْمُوضِحَةِ فَفِيْهِ حُكُومَةُ عَدْلٍ)او د موضحه نه په کم کښې حکومت عدل دي

تشريح ﴿ امام قدوري رحمه الله مخکښې فرمائيلي وو.چه د موضحه نه په علاوه کښې قصاص واجب نه دې.بلکه په دې کښې حکومت عدل واجب دې.يعنې نه ديت شته.او نه قصاص واجب دې.د عدم قصاص وجه خو ذکر شوې ده.

دليله ﴿ او د عدم ديت وجه دا ده.چه د شارع د طرفه تقدير نشته.او پخپل قياس سره د ارش (تاوان) مقدار نشې متعين کيدې.او دا هم نشې کيدې.چه هيڅ واجب نه وي.او دا به عبث (او فضول) ګرځولې شي.ځکه چه دا تکريم د انسان نه خلاف دي.نو هرکله چه هيڅ خلاصې ملاو نشو.نو مونږ مجبوراً حکومت عدل اختيار کړې دې.او دا د حضرت ابراهيم نخعي،او عمربن عبدالعزيز رحمهما الله نه منقول دي.

که موضحه خطاء وي نو ديت واجب دې

وَفِي الْمُوضِحَةِ إِنْ كَانَتْ خَطَأً او په موضحه کښې که دا خطاء وي نِصْفُ عُشْرِ الدِّيَةِ،د ديت د عشر نصف (يعنې شلمه) ده وَفِي الْهَاشِمَةِ عُشْرُ الدِّيَةِ، اوپه هاشمه کښې عشر (لسمه) ده وَفِي الْمُنَقِّلَةِ عُشْرُ الدِّيَةِ وَنِصْفُ عُشْرِ الدِّيَةِ،او په منقله کښې عشر او د ديت نصف عشر دي وَفِي الْآمَّةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ، او په آمه کښې دريمه حصه ديت دي وَفِي الْجَائِفَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ اوپه جائفه کښې دريمه حصه ديت دې فَإِنْ نَفَذَتْ نو که جائفه نه ورتير شو ،فَهِيَ جَائِفَتَانِ فَفِيهِمَا ثُلُثَا الدِّيَةِ نو دا دوه جائفې شوې.نو په دې دواړو کښې به د ديت دوه ثلثه واجب وي.

تشريح ﴿ وراندې د موضحه حکم قصاص بيان شوې دې.دا هغه وخت دې.کله چه دا زخم عمداً لګولې شوې وي.او که خطاء وي.نو په دې کښې به ديت واجب وي.چه ددې مقدار دلته کښې بيان شوې دې.او ددې نه علاوه نور هغه زخمونه په کومو کښې چه ديت واجب دې.هلته د خطاء قيد ملحوظ نه دې.بلکه په عمداً او خطاء دواړو صورتونو کښې هم دا حکم دې.اوس د ديت تفصيل بيانوي:

تفصيل الدية ﴿ ① په موضحه کښې به د ديت شلمه حصه واجب وي.يعنې پنځه اوښان،

② هاشمه کښې به د ديت عشر واجب وي.يعنې لس اوښان،

③ په منقله کښې به عشر ديت او نصف عشر واجب وي.يعنې پنځلس اوښان،

④ په آمه کښې به دريمه حصه ديت واجب وي.

⑤ په جائفه کښې به هم دريمه حصه ديت واجب وي.

اوجائفه هغه زخم دي.کوم چه جوف (منځ) پورې اورسيږي.که په سينه کښې وي.که په خيټه کښې وي.او که په شا وغيره کښې وي. باقي پاتې شوه دا خبره چه دلته خو د شجاج ذکر شروع دې.نو د

جائفه ذکر څنګه راغلئ؟

ددې په جواب کښې صاحب د نهايه رحمه الله فرمائيلي دي.چه دا ذکر دلته کښې اتفاقاً راغلې دې.ګنې شجاج صرف هغه زخم ته وائي.کوم چه په سر او مخ کښې وي.بيا ئې اوفرمائيل.چه په جائفه کښې به دريمه حصه ديت هغه وخت واجب وي.کله چه دا زخم بل طرف ته وتلې نه وي.که بل طرف ته وتلې وي.نو بيا به د ديت دري ثلثه واجب وي.

دليله امام قدوري رحمه الله چه کومې مسئلې بيان کړې وې.دا د هغه ټولو مسئلو دليل دې.ددې مسئلو درې اجزاء دي.نو د دليل هم درې اجزاء دي.

اجزاء الدليل ① په موضحه کښې پنځه اوښان دي.او هاشمه کښې لس دي. او منقله کښې پنځلس دي.او آمه کښې دريمه حصه ديت دې.نبی کريم صلی الله عليه وسلم چې عمروبن حزم رضي الله عنه ته کوم خط ليکلې وو په هغې کښې وو. وَفِي الْمُوضِحَةِ خَمْسٌ مِنَ الْإِبِلِ وَفِي الْهَاشِمَةِ عَشْرٌ، وَفِي الْمُنَقِّلَةِ خَمْسَةَ عَشَرَ، وَفِي الْآمَّةِ} ()او په موضحه کښې پنځه اوښان دي.او په هاشمه کښې لس اوښان دي.او په منقله کښې پنځلس د دې په دليل کښې د عمرو بن حزم رضي الله عنه د خط حديث دې.

② په جائفه کښې دوه ثلثه ديت دې.څکه چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي {فِي الْجَائِفَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ}چه په جائفه کښې دريمه حصه ديت دې

③ که جائفه د يو طرف نه بل طرف ته اوځي.ددې دپاره دليل د حضرت صديق اکبر رضي الله عنه فيصله ده. هغوی هم دغه شان فيصله کړې وه (٢) دغه شان دويم عقلي دليل دا دې .چه هرکله جائفه بل طرف ته اووتلو.نو اوس دا يوه جائفه پاتې نشوه.بلکه دوه شوې.او په هره جائفه کښې دريمه حصه ديت واجبيږي.نو په دوو کښې به ثلث واجبيږي.

د لاس ګوتو کټ کولو کښې د ديت حکم

وَفِي أَصَابِعِ الْيَدِ نِصْفُ الدِّيَةِ)او د يو لاس په ټولو ګوتو کښې نصف ديت دې

تشريح دا مسئله ورانديٍ تيره شوې ده.چه په يو لاس کښې نيم ديت واجبيږي.او که لاس کټ نکړې.بلکه د يو لاس پنځه واړه ګوتې کټ کړي.نو اوس هم نيم ديت واجبيږي.او په هره ګوته کښې لس اوښان واجبيږي.نو په دوو کښې به شل او په دريو کښې ديرش او په څلورو کښې څلويښت او په پنځو کښې به پنځوس اوښان واجب وي.او هم دا پنځوس اوښان نيم ديت دې.،،

دليله د پنځو واړو ګوتو د کټ کولو په وجه د نيولو د منفعت ختميدو، او دجنس منفعت فوت کيدو په وجه ديت واجبيږي.

فَإِنْ قَطَعَهَا مَعَ الْكَفِّ نو که ټولې ګوتې ئې سره د تهلی کټ کړلې فَفِيهِ أَيْضًا نِصْفُ الدِّيَةِ نو په دې کښې نيم ديت دې

حل اللغة ① **الكف:** تلې،ورغوې]

تشريح او که پنځه واړه ګوتې ئې سره د تهلی کټ کړلې.نو اوس به هم دا نيم ديت واجب وي.

[1]) تقدم تخريجه في كتاب عمروبن حزم رضي الله عنه۔

[2]) اخرجه عبدالرزاق في مصنفه (نصب:٥\١٤٨)۔

دلائله ① څکه حدیث کښي دي.چه په دواړو لاسونوکښي پوره دیت واجب دي.او په یو لاس کښي نیم دیت دي.او دا یو لاس کټ کړي شوي دي.نو نیم دیت به واجب وي. ([1])

② چونکه سړي د ګوتو په وجه نیول کوي.او نیول د لاس اصل منفعت دي.او تهلي په دي کښي د ګوتو تابع دي.په دي وجه د تابع په وجه به بل هیڅ نه واجبیږي.

د لاس څوتي د مروند سره په کټ څولو کښي څه سزا ده؟

وَإِنْ قَطَعَهَا مَعَ نِصْفِ السَّاعِدِ او که ګوتي ئي سره د نیم مروند کټ کړلي **فَفِي الْكَفِّ نِصْفُ الدِّيَةِ** نو په تول تلی کښي نیم دیت دي **وَفِي الزِّيَادَةِ حُكُومَةُ عَدْلٍ**.([2]) او په زیات کښي(مروند)کښي حکومت عدل دي

حل اللغة ① **الساعد**:مروند]

تشریح یوکس د زیددیولاس پنځه واړه ګوتي کټ کړلي.او تهلي ئي هم کټ کړو.او نیم مروند ئي هم کټ کړو.نو په دي کښي د طرفینورحمهماالله مذهب دا دي.چه د ګوتو او تهلي په وجه به نیم دیت واجبولي شي.او کوم نصف مروند ئي چه کټ کړي دي.هغي کښي حکومت عدل واجب دي. اودامام ابویوسف رحمه الله نه هم په یو روایت کښي دا منقول دی

دلیلهما د لاس کار نیول دی.او سړي په ګوتو اوتهلي سره نیول کوی.په مروند او مټ سره نیول نه کوی.نو مټ وغیره د ضمان په حق کښي د ګوتو تابع هم نشی کیدي.څکه که تاسو ئي تابع جوړ کړئ.نو د ګوتو تابع به ئي جوړوئ.یا د تهلي،او دواړه باطل دی.د ګوتو خو څکه نشی تابع کیدي.چه په منځ کښي کامل اندام تهلي موجود دي.او که تاسو ئي د تهلي تابع کوئ.نو دا هم باطل دي. څکه چه تهلي پخپله د بل تابع دي.او د تابع، تابع نشی کیدي.نومعلومه شوه.چه په زیاتی کښي دحکومت عدل نه علاوه بله لاره نشته.

مسلک ابي یوسف دامام ابویوسف رحمه الله نه دویم روایت دا منقول دي چه بس نیم دیت واجب دي. باقی هیڅ نشته.

دلیله دلیل دا بیانوی چه اصل ګوتي دی.او تهلي باقی مقدار تر اوګو پوري دا تول ددي تابع دي.څکه لاس وانی.د ګوتو نه واخله تر اوګو پوري ته، او څپه د څپو د ګوتو نه واخله تر د پنډئ پوري ته وانی. بهرحال مروند(مټ) وغیره تول تابع دی.دغه شان پنډئ وغیره تول تابع دی.او د تابع دپاره هیڅ نه واجبیږی.نو په مذکوره صورت کښي به مروند دپاره هیڅ واجب نه وی.

وَفِي الْأُصْبُعِ الزَّائِدَةِ حُكُومَةُ عَدْلٍ)او په زیاتی ګوته کښي حکومت عدل دي

تشریح البته دا هم دده د لاس جزء دي.نو د انسانی عزت او شرافت په لحاظ سره په دي کښي حکومت عدل واجب دي.دغه شان که د زید دواړه غابنونه راختلي وی.چه دي ،، داره ور،،ونیلي شي.او خالد دده زیاتی غابن مات کړو.نو ددي هم دغه حکم دي.چه حکومت عدل دي.

دلیله د سړي د شرافت په وجه، څکه چه دا دده دلاس جزء دي خو په دي کښي نه منفعت شته او نه ښائست شته

---

[1]) تقدم في الأحاديث المختلفة ذكرها_

[2]) هوهذاقول الطرفين کذا في الدرالمختار(۵\۴۱۳) وملتقی (۴\۳۵۱) نقلاً عن القول الراجح (۲\۳۴۹)-

د بچي د سترګې، ژبې .ذکر،او ژبې کټ شولو سزا

وَفِي عَيْنِ الصَّبِيِّ او د بچي په سترګه کښې وَلِسَانِهِ او دده په ژبه کښې وَذَكَرِهِ او دده په ذکر کښې إِذَا لَمْ يُعْلَمْ صِحَّتُهُ کله چه په دې کښې د هريو صحت معلوم نه وی حُكُومَةُ عَدْلٍ نو حکومت عدل دی.

تشریح ﴾ کله چه د بچي په باره کښې معلومه ده.چه دې ګوری.او کلام (خبری) کوی.او دده ذکر حرکت کوی.نو دا ددې اندامونو د صحت علامت دې.نو په داسې صورت کښې به بالاتفاق کامل ديت واجب وی.خو که اوس ددې صحت او تندرستی معلومه شوې نه وه.او چا دا کټ کړل. نوزمونږ په نيز په دې کښې به ديت واجب نه وی.بلکه حکومت عدل دې. (۱)

دلیله ﴾ دليل دا دې چه دې اندامونو سره مقصود منفعت دې نو ترکومه پورې چه ددې اندامونو صحت معلوم نشي نو د شک په وجه به کامل ارش واجب نه وی او د ظاهرالروايه دپاره د حجت جوړيدو صلاحيت نه لري

په وهلو سره د عقل ختميدو، يا د ويښتو غورزيدو حکم

وَمَنْ شَجَّ رَجُلًا مُوضِحَةً چا چه د يوکس سر زخمی کړو (فَذَهَبَ عَقْلُهُ نو دده عقل ختم شو أَوْشَعْرُ رَأْسِهِ يا دده د سر ايخته (ختم شو). دَخَلَ أَرْشُ الْمُوضِحَةِ فِي الدِّيَةِ نو د موضحه ارش (تاوان) به په ديت کښې داخل وی

تشریح ﴾ دلته امام قدوری رحمه الله په حقيقت کښې دا بيانول غواړی.چه زيد يو جنايت اوکړو.چه ددې وقوع په يو اندام باندې اوشو.خو دې دوه څيزونه ضائع کړل.او په دې کښې د يو ديت کم دې.او د دويم زيات دې.نو دلته به اقل په اکثر کښې داخليږی.که دا جنايت عمداً وی.او که خطاءً وی.او که جنايت جدا جدا په دواړو اندامونو باندې واقع شوې وی.نو تداخل به نه کيږی.بلکه د هر يو ديت به جدا جدا واجب وی.که جنايت عمداً وی.اوکه خطاء وی.دا تفصيل د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دې.خکه چه ددوی په نيز داسې صورت کښې قصاص ساقط دې.

مسلك الصاحبين ﴾ او د صاحبينو رحمهما الله په نيز که رومبې عمداً وی.او قصاص وصولول ممکن وی.نو قصاص به اخستلې شی.ګنی بيا ددوی هم هغه مسلك دې.کوم مسلك چه دامام صاحب رحمه الله دې.

توضيح العبارة ﴾ وړاندې تير شوی دی.چه د پوره سر ويخته خرئيلو کښې چه کله دا دوباره راو نه خيژی.پوره ديت دې. اوپه ګيره کښې پوره ديت دې. او که راوخيژی.نو هيڅ واجب نه دی.خو تعزير دې.او که د سر بعض ايخته ئې ختم کړل.نو په دې کښې حکومت عدل واجب دې.نو که دده سر زخمی کړو.چه په دې سره موضحه زخم جوړ شو.او (بعض) ايخته هم ختم شو.نو اوس به کتلې شی.چه د موضحه ديت زيات دې.او که د ويختو حکومت عدل زيات دې. نوکوم چه زيات وی.هم هغه به واجبولې شی.او قليل به په کثير کښې داخلولې شی.نو که حکومت عدل زيات وی.نو هم دا به واجب وی.او د موضحه ديت به په حکومت عدل کښې داخل منلې شی.نو هم دا يو خانې دې.چه دلته کښې ئې د موضحه ديت په کثير کښې داخل کړې دې.او دويم خانې دا دې.چه موضحه زخم جوړ کړې شوې وی.خو زخمی کړې شوې ددې په وجه مړ شو.نو دلته به کامل ديت واجب وی.اود موضحه ديت به په

---

(۱) **مسلك الشافعي**:-په دې صورت کښې امام شافعي رحمه الله زمونږ سره اختلاف کړې دې هغوی فرمائی چه غالب هم دا ده.چه دا اندامونه صحيح وی.نو هم په دې بنياد لکه څنګه چه د پوزې په نرمه حصه کښې او په غوږ کښې ديت واجبيږی.دغه شان به په مذکوره اندامونو کښې هم ديت واجب وی.

دي.او په دويم کښې ددوی په نيز تفصيل دې.يعنی په ذکر شوو دريو قوتونو کښې يو کښې يعنی نظر کښې دوې د امام ابوحنيفه رحمه الله سره دې.او په اوريدو او خبرو کولو کښې د تداخل قائل دی.اوس د دوارو روايتونو دليل اوګوری.

دليل عدم التداخل> په دې دريو وارو کښې هر يو جرم د نفس نه په کم کښې جرم کول دی.او په دې کښې دهر يو منفعت هم دغه اندام سره خاص دې.يعنی خبرې کول صرف د ژبې کاردې.اواوريدل د غوږونو.او کتل د سترګو کار دې.نو دا د مختلفو اندامونو مشابه شو.او په مختلفو اندامونو کښې تداخل نه کيږی.نو دلته به هم تداخل نه کيږی.بلکه ددې د ختمولو ديت ورکول به واجب وی.او د موضحه ديت به جدا ورکول لازمی وی.او د عقل په صورت کښې د تداخل قول خکه اختيار کړې شوې وو.چه د عقل منفعت پوره بدن طرف ته راجع دې.او دلته کښې داسې نه ده.بلکه هر قوت پخپل مخصوص دائره کښې کار کوی.

دليل التداخل> د دويم روايت دليل دا دې.چه قوت د اوريدو، او د خبرو کولو، باطنی او پټ خيزونه دی.لکه څنګه چه عقل باطنی (او پټ) څيز دې.نو دا دواړه په عقل باندې قياس کولو سره هم هغه حکم ورکړې شو.کوم چه د عقل په صورت کښې دې.او نظر يو ښکاره قوت دې.نو دا په عقل باندې قياس کړې شو.او د عدم تداخل قول اختيار کړې شو.

يوې ګوتې کټ کولو سره د دويمې ګوتې شل کيدو حکم

وَإِنْ قَطَعَ أُصْبُعَ رَجُلٍ فَشُلَّتْ أُخْرَى إِلَى جَنْبِهَا او که يوه ګوته ئې کټ کړله.نو ددې په ارخ کښې بله ګوته شله شوه فَفِيهِمَا الأَرْشُ نو په دې کښې ديت دې وَلَا قِصَاصَ فِيهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله نو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دې دوارو کښې يو کښې هم قصاص نشته

تشريح> يوه ګوته ئې کټ کړله.په ارخ کښې ورسره دويمه ګوته هم شله شوه.نو د امام صاحب رحمه الله په نيز به قصاص نه وی.او د ذکر شوو څلورو حضراتو په نيز به رومبی کښې قصاص او دويم کښې ديت واجب وی. دلته هم د فريقينو دليلونه هم هغه دی.کوم چه په پورتنۍ مسئله کښې وو.

د يو غاښ وتلو په ځائې بل غاښ راووتلو نو څه حکم دې؟

وَمَنْ قَطَعَ سِنَّ رَجُلٍ اوکه د يو سړی غاښ ئې اوبنکلو. فَنَبَتَتْ مَكَانَهَا أُخْرَى نو ددې په ځائې بل راوختلو سَقَطَ الأَرْشُ نوديت ساقطيږی.

تشريح> اوکه د غټ سړی غاښ ئې مات کړې دې.او ددې په ځائې دويم غاښ راختلې وی.نو امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.چه اوس ديت واجب نه دې. (۱)

دليله> دليل دا دې چه معناً جنايت معدوم اوختم شو نو دا داسې شو لکه چه که يوکس د ماشوم غاښ مات کړو.او دويم غاښ راوختلو.نو چونکه په دې نه ښائست ختم شو.او نه منفعت فوت شو.په دې وجه به په دې کښې بالاجماع ديت واجب نه وی.نودغه شان به دلته هم ديت ساقطيږی ②

مسلک الصاحبين> د صاحبينو رحمهما الله په نيز به کامل ديت واجب وی.

دليلهما> څکه چه د مجرم د طرفه خو کامل جنايت دې.او په دې عمر کښې غاښ راختل، دا د الله

---

۱) القول الراجح هو هذا قول ابي حنيفة رحمه الله كذا في ملتقى (۳۵۴\۴) وردالمحتار(۴۱۵\۵) نقلاً عن القول الراجح (۳۵۲\۲)-

تعالى نوي نعمت دي.نو په مجرم به كامل ديت واجب وي.يعنى پنځه اوبنان ››، كما مر››.

د شجه زخم نيك كيدو او نشان ختميدو له پس څه حكم دي ؟

وَمَنْ شَجَّ رَجُلًا او چا چه د يوسړي سر زخمي كړو فَالْتَحَمَتْ نو زخم ډك (جوړ) شو وَلَمْ يَبْقَ لَهَا أَثَرٌ او ددې هيڅ نشان باقي پاتې نشو وَنَبَتَ الشَّعْرُ او ايخته وينختـل سَقَطَ الْأَرْشُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله(١) نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز ديت ساقط شو

تشريح ﴿ زيد د خالد په سر كښې زخم اولګولو.او هغه بالكل ټيك شو.تردې چه د هغې هيڅ نشان هم باقي پاتې نشو.نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به اوس ددې تاوان واجب نه وي.

دليله ﴿ ځكه چه د كوم عيب په وجه مثل واجبيږي.هغه عيب ختم شو.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رحمه الله: او امام ابويوسف رحمه الله فرمائي يَجِبُ عَلَيْهِ أَرْشُ الْأَلَمِ چه په ده باندې د درد (تكليف) تاوان واجب دي

تشريح ﴿ **مسلک ابي يوسف** ﴾ د امام ابويوسف رحمه الله فرمان دا دي.چه په ذكر شوى صورت كښې حكومت عدل واجب دي.

دليله ﴿ ځكه چه ددې زخم او نشان او عيب اګرچه ختم شو.خو د هغه تكليف په وجه كوم چه هغه ته رسيدلې وو.او دده كوم صحت چه په دې سره متاثر شوې وو.د هغې هيڅ بدل ملاو نشو.نو د هغې بدل حكومت عدل دي.

د امام محمد رحمه الله مسلک

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: امام محمد رحمه الله اوفرمائيل عَلَيْهِ أُجْرَةُ الطَّبِيبِ؛ چه په ده (ضارب) باندې د ډاكټر اجرت دې.

تشريح ﴿ **مسلک محمد** ﴾ دا د امام محمد رحمه الله مسلك دې.چه په مذكوره صورت كښې به په ضارب باندې د ډاكټر فيس او د دوائي قيمت واجب وي.

دليله ﴿ ځكه چه دا ټول تاوان مضروب ته د ضارب د فعل په وجه ور رسيدلې دې.نو داسې شوه.ګويا چه دومره مال د مضروب نه ضارب اخستې دې.چه ددې واپس اخستل په ضارب باندې ضروري ده.

ملحوظة ﴿ خو امام صاحب رحمه الله فرمائي.چه په مذكوره صورت كښې درد اوتكليف برداشت كول د منافعو د قبيل ځنې دي.او منافع څه په ده متقوم نه دي.او په منافعو كښې تقوم اجارې سره حاصليږي.يا په شبه عقد سره، لكه څنګه چه په اجاره فاسده او مضاربت فاسده كښې دي.او دلته نه څه عقد شته.او نه شبه عقد دې.نو په ضارب او جنايت كونكي به دلته هيڅ تاوان هم واجب نه وي.

د زخم لګولو په صورت كښې د في الحال قصاص اخستلو حكم

وَمَنْ جَرَحَ رَجُلًا جِرَاحَةً او چا چه يو سړي ته زخم اولګولو لَمْ يُقْتَصَّ مِنْهُ نو في الحال به دده نه قصاص نشي اخستلې حَتَّى يَبْرَأَ تردې چه هغه ټيك شي.

تشريح ﴿ يو سړي ته چه كوم زخم لګولې شوې دې.كيدې شي.چه دا ټيك شي.او كيدې شي.چه حالت

---

(١) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(٥\٤١٥) والهندية (٦\٣٠) والدرالمنتقى (٤\٣٥٦) نقلاً عن القول الراجح (٢\٣٥٤)-

مرګ ته اورسیږی.په دې وجه به فی الحال قصاص نشی اخستلې.بلکه کله چه دې ټیک شی.نو هله به قصاص اخستلې شی. (۱)

دلائله ① دلیل دا حدیث دې.يُسْتَأْنَى فِي الْجِرَاحَاتِ سَنَةً} (۲) چه په زخمونو کښې به د یو کال مهلت ورکولې شی چه په زخمونو کښې به یو کال مهلت ورکولې شی.

② د زخم حال به اوس نه معلومیږی.ځکه ممکن ده.چه دا خور شی.او قتل پورې اورسیږی.نو په زخمونو کښې دحال اعتبار نه کیږی.بلکه د مال اعتبار کیږی.په دې وجه ټیک کیدو پورې به انتظار کولې شی.چه خبره په مسند (او د تحقیق په) طریقه باندې صفا شی.او ښکاره شی.

د خطاء لاس کټ کولو نه پس د قتلولو مسئله

وَمَنْ قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ خَطَأً او چا چه کټ کړو.په خطاء سره د یوسړی لاس ثُمَّ قَتَلَهُ خَطَأً قَبْلَ الْبُرْءِ بیا نې هغه د ټیک کیدو نه مخکښې په خطاء سره قتل کړو (فَعَلَيْهِ الدِّيَةُ نو په ده باندې دیت واجب دې وَسَقَطَ أَرْشُ الْيَدِ.او د لاس دیت به ساقط وی.

تشریح زیدد عمرو لاس خطاء سره کټ کړو.هغه اوس ښه شوې نه وو.چه بیا نې خطاء سره قتل کړو.نو اوس به د لاس دیت ساقطیږی.او د نفس دیت یعنی سل اوښان به واجب وی.

دلیله دلیل دا دې چه دواړه جنایتونه د خطاء کیدو په وجه جنس واحد دې.او د دواړو موجب هم یو دې.یعنی دیت دې.او دیت په حقیقت کښې د بدن د ټولو اجزاو عوض دې.نو د لاس عوض هم دې.په دې وجه به د لاس عوض دوباره (جدا) نشی اخستلې. بلکه تداخل به کولې شی.او داسې به شمارلې شی.ګویا چه زید عمرو لره د شروع نه قتل کړې دې.او په خطاء سره د قتلولو سزا دیت دې.چه دا واجب شوې دې.

وَإِنْ بَرَأَ ثُمَّ قَتَلَهُ او که هغه روغ شو او بیا نې قتل کړو فَعَلَيْهِ دِيَتَانِ نو په ده باندې دوه دیتونه دی دِيَةُ نَفْسٍ وَدِيَةُ الْيَدِ یو دیت د نفس او بل دیت د لاس

تشریح په متن کښې وانی که د لاس کټ کولو نه پس مقطوع الید روغ شو او جانی بیا په هغه جنایت اوکړو او هغه نې قتل کړو نوپه ده به دوه دیتونه وی یو دیت د نفس چې سل اوښان دی او بل دیت د لاس چې پنځوس اوښان دی.

وَكُلُّ عَمْدٍ سَقَطَ فِيهِ الْقِصَاصُ بِشُبْهَةٍ او هر قتل عمد په کوم کښې چه د شبهې په وجه قصاص ساقط شی (فَالدِّيَةُ فِي مَالِ الْقَاتِلِ نو دیت به د قاتل په مال کښې وی وَكُلُّ أَرْشٍ وَجَبَ بِالصُّلْحِ وَالْإِقْرَارِ او هر هغه دیت کوم چه د صلح یا د اقرار په وجه واجب شی فَهُوَ فِي مَالِ الْقَاتِلِ نو هغه د قاتل په مال کښې دې

تشریح ددې خانې نه یو اصول پیش کوی.چه چرته په قتل عمد کښې د شبهې په وجه قصاص ساقط شی.او دیت واجب شی.لکه مثلاً پلارخوئې قتل کړو.نوداسې دیت به د قاتل په مال کښې واجب وی.عاقله باندې به نه وی.او هر د جرمانې مال کوم چه د عمد په صورت کښې د مصالحت په بناء

(۱) **مسلک الشافعی:**-امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه قصاص به فی الحال (فوراً) اخستلې شی.

(۲) من حدیث جابر رضی الله عنه اخرجه الدارقطنی فی سننه(۳/۹۰) رقم ۳۲۔

واجب شوې وی.هغه به د قاتل په مال کښې واجب وی.

دليله خکه په حديث کښې وارد دی.لَاتَعْقِلُ الْعَوَاقِلُ عَمَدًا [1] چه عاقله د عمد برداشت نشی کولې،، او مذکوره صورت هم عمد دې.

وَإِذَاقَتَلَ الْأَبُ ابْنَهُ عَمَدًا او کله چه پلار خپل خوئي عمداً قتل کړو (فَالدِّيَةُ فِي مَالِهِ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ نو ديت به د قاتل په مال کښې دريو کالو کښې وی.

تشريح کله چه پلار خپل خوئي قتل کړو.نو قصاص نشته.بلکه ديت واجب دې.بيا په دې کښې اختلاف دې.چه دا ديت به مؤجل (روستو) وی.او که معجل (فوراً) به وی.زمونږ مذهب دا دې.چه مؤجل دې.چه دريوکالو کښې به ددې اداکول ضروری وی. ([2])

دليله چه کوم مال د قتل په وجه واجبيږی.هغه مؤجل وی.نو د قتل خطاء او شبه عمد ديت ددې شاهد دې.بيا انسان مالك دې.او په مالك د مملوك کښې هيڅ تماثل نشته.خو په خطاء وغيره کښې چه کوم تقويم ثابت شوې دې.دا خلاف قياس دې.خو د شريعت نه ثابته ده.خو دا ثبوت په طريقه د تاجيل دې.د تعجيل په طريقه نه دې.نو ضروری شوه.چه د شريعت د امر نه عدول نه وی.په دې وجه مونږ د تاجيل قائل شوی يو.بيا معجل د مؤجل په مقابله کښې زائد هم دې.نو د شريعت د مورد خلاف د زياتوالی د اثبات هيڅ وجه نشته.هم دا وجه ده.چه په قدر او جنس کښې د يو د موجود کيدو په وجه د برابرئ باوجود قرض بيع حراميږی.خکه چه د زياتوالی شبه ده.بهرحال کله ئې چه پلار قتل کړو.د ديت مقدار دلته هم سل اوښان دی.زيات نه دی.نو دده د عمداً کيدو په وجه چه کله مقدار کښې زياتوالې اونشو.نو په وصف کښې به په درجه اولی اضافه نه کيږی.اوديت به معجل نشی واجبولې.

که مجرم د جرم اقرار اوکړی نو ديت به په ده لازم وی اوکه په عاقله باندې ؟

وَكُلُّ جِنَايَةٍ اعْتَرَفَ بِهَا الْجَانِي او هر هغه جنايت د کوم چه جنايت کونکی اقرار اوکړو نه فَهِيَ فِي مَالِهِ نوهغه به هم دده په مال کښې واجب وی وَلَايُصَدَّقُ عَلَى عَاقِلَتِهِ او پخپلو عاقله باندې به ددې تصديق نشی کولې

تشريح د قتل خطاء ديت عاقله باندې واجب وی.خو که جنايت کونکی پخپله د جنايت اقرار کړې وی.نو دده اقرار به د عاقله خلاف حجت نه وی.نو دا جرمانه به اقرار کونکې د خپل مال نه اداکوی.

دليله خکه چه کوم حديث اوس تيرشوې وو.چه عاقله د عمد بوج نه اوچتوی.ددې په آخرکښې دی.

(ولاصلحا ولااعترافا) نو د حديث نه معلومه شوه.چه د اقرار تاوان په عاقله باندې نشته.

د بچې او ليونی عمد هم د خطاء په حکم کښې دې او ديت په عاقله باندې دې

وَعَمَدُ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ خَطَأٌ اود بچې او د ليونی عمد خطاء دې

تشريح که په قتل عمد کښې شبه اوشي.نو کوم ديت چه واجب وی.هغه به د قاتل په مال کښې وی.خو که بچې، يا مجنون، يا پاگل عمداً قتل کړو.نو قصاص نشته.

دليله خکه چه هغه غير مکلف دې.او که خطاء ئې قتل کړې وی.نو بيا هم دا حکم دې.

[1] قال الزيلعي رحمه الله غريب مرفوعاً واخرجه البيهقي عن الشعبي عن عمر رضي الله عنه قال العمد والعبد والصلح والإعتراف لا تعقله العاقلة أخرجه البيهقي في السنن الكبرى (۱۸۱\۸) رقم ۱۶۳۵۹)۔

[2] مسلك الشافعي:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه معجل او فی الحال ادا کول واجب دی.

وَفِيهِ الدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ او په دې کښې عاقله باندې ديت دې

تشريح دا ديت به د بچي او ليونی په عاقله وی. ([1])

دلائله ① د حضرت علی رضی الله عنه فرمان دې.چه د مجنون عمد او خطاء دواړه برابر دی.او تاسو عمل هم دا اوکړو.چه د ليونی ديت مو په عاقله باندې واجب کړې دې.

② دويم دليل دا هم دې.چه بچې د رحم او شفقت محل دې.او هرکله چه تاسو په عاقل خطاء کار باندې دده د معذور کيدو په وجه تخفيف اوکړو.او ديت مو په عاقله باندې واجب کړو.نو بچې د هغه نه زيات معذور دې.نو ده ته دا تخفيف په درجه اولی ملاويدل پکار دی.

په غير مملوکه زمکه کښې کوهې کنستل يا کاڼړې ايخودو سره په مرکيدو کښې د ضمان حکم

وَمَنْ حَفَرَ بِئْرًا فِي طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ او چاچه کوهې اوکنستلو.د مسلمانانو په لاره کښې.**أَوْ وَضَعَ حَجَرًا** يا ئې کاڼړې کيخودو. **فَتَلِفَ بِذَٰلِكَ إِنْسَانٌ** ، نو ددې په وجه څوک انسان هلاک شو **فَدِيَتُهُ عَلَى عَاقِلَتِهِ** نو دهغه ديت به دده په عاقله باندې وی **وَإِنْ تَلِفَ بِهِ بَهِيمَةٌ** اوکه يو څاروې هلاک شوې وی **فَضَمَانُهَا فِي مَالِهِ** نو د هغې ضمان به دده په مال کښې وی.

تشريح که يوکس د خپل مملوکه زمکې نه علاوه کښې کوهې اوکنستلو.يا ئې کاڼړې کيخودو.چه په دې کښې انسان يا څاروې پريوتلو.يا ئې ډغره (ټکره) اوخوړله.او مړ شو.نو په دواړو صورتونوکښې به ضمان واجب وی.

دليله ځکه چه دا دده زياتې دې.چه ده په لاره کښې دا حرکت کړې دې.خو د سړی ديت به عاقله باندې وی.او دڅاروی ضمان به يخپله ددې سړی په مال کښې واجب وی.ځکه چه خاندان د مال برداشت نشی کولې.صرف د نفس کولې شی.او دغه شان ئې په لاره کښې خاوره واچوله.يا ئې خټه جوړول شروع کړل.نو دا هم تعدی ده. ددې هم دغه حکم دې.

په لاره کښې يوکس باندې ناوه يا روشندان راپريوتو.او مړشولو د ديت مسئله

وَإِذَا أَشْرَعَ فِي الطَّرِيقِ رَوْشَنًا أَوْ مِيزَابًا اوکله ئې چه راوشکلو لاره کښې روشندان يا ناوه **فَسَقَطَ عَلَى إِنْسَانٍ** نو دا په يو انسان باندې راپريوتلو **فَعَطِبَ** نو هغه هلاک شو **فَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ** نو ديت به دده په عاقله باندې وی

تشريح قاعده کليه داده.چه څوک د چا د قتل او هلاکت سبب جوړ شی.نو دده په عاقله باندې د هلاکونکی ديت واجبيږی.نوکه يوکس په لاره کښې د ذکر شوو څيزونو څنې يو څيز جوړ کړو.او هغه په کس باندې راپريوځی.چه دې سره هغه مړ شی.نو په جوړونکی په عاقله باندې به ددې ديت واجب وی.په دومره خبرې سره مسئله صفا شوه.

دليله ځکه چه هغه دده د هلاکيدو سبب دې متعدی دې دده د مشغولولو په وجه د لارې فضاء

---

[1]) **مسلک الشافعی:** امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه عمد خو عمد دې.خو د بچې يا د ليونی کيدو په وجه مونږ قصاص پريخودو.چه داد قتل عمد موجب وو.او ددې دويم موجب دا دې.چه دا د ديت وجوب د قاتل په مال کښې وی.نو مونږ يو موجب پريخودو.خو دويم مو باقې اوساتلو.يعنی ديت مو د بچی په مال کښې واجب کړو.

(خلاء)،او دا د ضمان د اسبابوځنې دي او هم دا قاعده کلیه ده
فائده د روښن تفسیر صاحب د عین الهدایه ﷫ روښن دان سره کړي دي.او بعضو په پاوړۍ او بعضو په هغه لنتیر (چت) سره کړي دي.کوم چه په لاره واچولې شي.چه ددې طرفه بل کور ته ورتللې شي. بهرحال که هر څه تفسیر وي.حکم یو دي.

ولاکفارةعلی حافرالبیراونشته کفاره په کنستونکی د کوهی باندې وواضع الحجراو په کیخودونکی د کاڼړی باندې

تشریح نفس مسئله آسانه ده
دلیله کفاره په قتل خطاء کښې وی اود کوهي په کنستلو او د کاڼړی په کیخودو سره چې کوم سړې مړ شی نودا قتل بالسبب دې نو ځکه په دې کښې کفاره نشته.

که پخپل ملک یا د کور په کوهی کښې څوک مړ شي نو د ضمان حکم

وَمَنْ حَفَرَبِئْرًافِي مِلْكِهِ اوچا چې اوکنستل کوهي په خپل ملك کښې فَعَطِبَ بِهَا اِنْسَانٌ نو په هغې باندې یو انسان هلاك شو.لَمْ يَضْمَنْ نو نه ضامن کیږی

تشریح ځنګه مذکوره امورو کښې د امام د اجازت په صورت کښې ضمان واجب نه وی.دغه شان که په مملوکه زمکه کښې هم دا تصرفات اوکړی.نو بیا به هم ضمان نه وی.
دلیله ځکه چه دې کښې دده د طرفه هیڅ تعدی نشته.

د سور سړي سوارلۍ پوکس مرکړونو څه حکم دي ؟

الرَّاكِبُ ضَامِنٌ چه سور به ضامن وی لِمَا أَوْطَأَتْ الدَّابَّةُ د هغې کوم چه خاروی خپوکښې اغرلې وی.د مَا أَصَابَتْ بِيَدِهَا که په لاسونو (مخکنو خپو) ئې اغرکلې وی أَوْكَدَمَتْ یا ئې چیچلې وی وَلَا يَضْمَنُ او ضامن به نه وی مَا نَفَحَتْ بِرِجْلِهَا کله چه خاروی د خپلو خپو په نوکونو سره وهلې وی أَوْذَنَبِهَا یا ئې پخپلې لکۍ سره وهلې وی.

حل اللغة ① **الكدام**: په مخکنو غاښونو سره چیچل، ② **الوطاءت**: پائمال کول ⑤ **ذنب**: لکۍ
تشریح که زید پخپل اس باندې ناست چرته روان وو.چه د هغه اس خالد پائمال کړو او هلاك ئې کړو.اویا ئې په مخکنو پښو اغرلې وی یا ئې اوچیچلې وی نوپه ذکر شوو صورتونو کښې به په راکب باندې ضمان وی اوکه اس لته اووهله، یا ئې په لکۍ اووهلو.نو ضمان به نه وی.
دلیله په لاره کښې د ټولو خلقو حق دې.تول په دې کښې تیریدې شی.هر تیریدونکی من وجه پخپل حق کښې تصرف کوی.او من وجه د بل په حق کښې تصرف کوی.نو حکم کول پکار دی.چه ناجائز وی.خو دا تیریدل به په سلامتیا سره مقید وی.ځکه چه د دوارو طرفونو د غوره والی هم دا صورت دي.

په لاره کښې د خاروی په سولو سره د هلاکت د ضمان حکم

فَإِنْ رَاثَتْ نو که خاروی سوته اوکړله أَوْبَالَتْ فِي الطَّرِيقِ یا ئې په لاره کښې متیازې اوکړلې فَعَطِبَ بِهِ اِنْسَانٌ نو په دې سره څوك انسان هلاك شو لَمْ يَضْمَنْ نو هغه به ضامن نه وی

تشریح که اس په لاره کښې سوتې اوکړلې.یا ئې متیازې اوکړلې. نو که په دې کښې څوك اوخوئیږی.او مړ شی.نو په سورکس به ضمان نه وی.

دلیله خکه چې ددې نه بچ کیدل ممکن نه دی.دغه شان بعضې څاروی داسې وی.چه هغوی اودریږی.نو سوتې کوی.یا متیازې کوی.په دې وجه سور کس دا (څاروی) اودرولو .چه د خپل ضرورت نه فارغ شی.نو چونکه ددې په اودرولو کښې ضرورت وو.په دې وجه به اوس هم ضمان واجب نه وی.

د څاروی راښکونکې یا شړونکې به کله ضامن وی؟

وَالسَّابِقُ ضَامِنٌ او د شا طرفه شړونکې به ضامن وی لِمَا أَصَابَتْ د هغه څیز. کوم چه څاروی رسولې وی بِيَدِهَا أَوْرِجْلِهَا په مخکنو خپو یا شاتنو خپو سره، وَالْقَائِدُ ضَامِنٌ او راښکونکې ضامن دې لِمَا أَصَابَتْ بِيَدِهَا د هغه څیز کوم ئې چه رسولې دې.پخپلو مخکنو خپو سره دُونَ رِجْلِهَا په شاتنو خپو سره به نه وی

حل اللغة ① **السائق:** دڅاروی شړونکې

تشریح که سائق (شړونکې) څاروې شړی.او روان دې.نو په مخکنو خپو سره اغزل او په شاتنو خپو سره اغزل برابر دی.په دواړو صورتونو کښې به سائق باندې ضمان واجب وی.اوکه قائد (راخکونکې) دې.نو هغه به د شاتنو خپو ذمه دار نه وی.بلکه صرف د مخکنو خپو ذمه وار دې.

دلیله خکه چه شړونکې ته دواړه خپې مخامخ دی.نو هغه ددې نه بچکیدې شی.او چونکه د راښکونکی نظر په شاتنو خپو نه دې.نو هغه دپاره ددې نه بچ کیدل هم ممکن نه دی.په دې وجه به هغه د شاتنو خپو ضامن نه وی.

که د اوښانو په قطار کښې یو اوښ خوك هلاك كړی؟

وَمَنْ قَادَ قِطَارًا او چا چه د اوښانو قطار راښکلو فَهُوَ ضَامِنٌ نو هغه ضامن دې لِمَا أَوْطَأَ د هغه څیز کوم چه دې په خپو کښې واغزل

حل اللغة ① **قطار:** صف،لین، قطار ② **قاد:**اوښان راښکلو ③ **اوطا:** پائمال کړلو]

تشریح د اوښانو قطار روان دې.او یو سړی د مخکنی اوښ واګې نیولې دی.او مخکنې مخکنې روان دې.باقی ټول هغه پسې شاته روان دی.نو هغه ته قائد (راښکونکې) وائی.او اوښان د څه تکلیف نه بغیر دغه شان خی.نو په ذکر شوی صورت کښې که یو اوښ یو انسان هلاك كړو.نو ضمان به واجب وی.یعنی که نفس دې.نو ددې ضمان به د راښکونکی په عاقله باندې وی.اوکه مال دې.نو ددې ضمان به پخپله د راښکونکی په مال کښې وی.

دلیله دلته د ضمان د وجوب وجه دا ده.چه په راښکونکی باندې د قطار حفاظت ضروری دې.او هغه حفاظت کولې هم شی.هسې خو دا مسبب دې.خو په مسبب باندې د تعدی په صورت کښې ضمان واجبیږی.او دلته د قطار حفاظت پریخودل، دده د طرفه تعدی ده.

په مذکوره صورت کښې به شړونکې او راښکونکې دواړه ضامن وی

فَإِنْ كَانَ مَعَهُ سَائِقٌ اوکه راښکونکی سره شړونکې هم وی فَالضَّمَانُ عَلَيْهِمَا نو ضمان به په دوی دواړو باندې وی

تشریح زید قائد (د اوښانو راښکونکې) دې.چه په ده باندې رومبی صورت کښې ضمان واجب شوې وو. خو دده سره سائق (شړونکې) دې.نو دا قائد هم دې.نوپه دې صورت کښې به په دواړو باندې ضمان واجب وی

دلیله خکه چې په دواړو کښې هر یو قائد هم دې او سائق هم دې نوخکه په دواړو ضمان واجبیږی.

د غلام خطاء سره جنايت کولو باندې د ضمان حکم

وَإِذَا جَنَى الْعَبْدُ جِنَايَةً خَطَأً او کله چه غلام خطاء سره جنايت اوکړو قِيلَ لِمَوْلَاهُ: نو دده آقا ته به وئيلې شي إِمَّا أَنْ تَدْفَعَهُ بِهَا چه يا خو دا غلام د جنايت په بدله کښې ورکړه أَوْ تَفْدِيهِ يا ددې غلام فديه ادا کړه

تشريح کله چه يو غلام څه جرم اوکړو.مثلاً څوك ئې خطاء سره قتل کړو.يا ئې خطاء سره د چا سترګه زخمي کړله.وغيره وغيره.نو په دې صورت کښې د جرماني اصل وجوب په آقا باندې دې.خو د آسانتيا په طور آقا ته دا اختيار ورکړې شو.که غواړي.نو غلام دې د جنايت ولي ته حواله کړي.اوکه غواړي.نو د غلام فديه دې ورکړي. (۱)

دليله دليل دا دې.که د خطاء جنايت صادر کيدو په صورت کښې ددې جرمانه او بدل په مجرم باندې واجب کړې شي.نو هغه به هلاك شي.او په پريشانو کښې به مبتلا کړې شي. حالانکه خطاء کونکې په خطاء کښې معذور هم دې.ځکه چه هغه کوم څه کړي دي.خطاء سره ئې کړي دي.قصداً ئې نه دي کړي.نو که د هغه مددګار خاندان وي.نو ديت هم په دوه واجبيدل پکار دي.او د غلام مددګار دده آقا دې.ځکه چه د آقا نه غلام مدد غواړي.

که جنايت دوباره اوکړي نو څه حکم دې ؟

فَإِنْ عَادَ نو که مجرم راواپس شو فَجَنَى نو جنايت ئې (دوباره) اوکړو كَانَ حُكْمُ الْجِنَايَةِ الثَّانِيَةِ كَحُكْمِ الْأُولَى نو د دويم جنايت حکم د رومبي د جنايت پشان دې

تشريح که آقا دغلام فديه ادا کړې ده.خوغلام دوباره جنايت اوکړو.نو اوس به هم هغه حکم وي.کوم چه د رومبي جنايت په صورت کښې بيان کړې شوې دې.

دليله ځکه چه هرکله د رومبي جنايت فديه ادا شوه.نو غلام د جرم نه پاك صفا شوې دې.ګويا چه هغه جنايت هم نه دې کړې.اودا ګويا دده رومبي جنايت دې.

فَإِنْ جَنَى جِنَايَتَيْنِ اوکه غلام دوه جنايتونه اوکړل قِيلَ لِلْمَوْلَى نود هغه آقا ته به وئيلې شي إِمَّا أَنْ تَدْفَعَهُ إِلَى وَلِيِّ الْجِنَايَتَيْنِ چه يا خو ته غلام د دواړو جنايتونو وليانو ته ورکړه يَقْتَسِمَانِهِ عَلَى قَدْرِ حَقِّهِمَا چه دا به هغوی دواړه د خپل حق په اندازه تقسيموي وَإِمَّا أَنْ تَفْدِيَهِ او يا د غلام فديه ورکړه بِأَرْشِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا دهغوی دواړو د ديت په اندازه،

تشريح که غلام دوه جنايتونه کړې وي.مثلاً خالد ئې هم خطاء سره قتل کړې دې.او ساجد ئې هم خطاء سره قتل کړې دې.نو اوس هم آقا ته اختيار دې.که غواړي.نو د دواړو مقتول اولياء ته دې خپل مجرم غلام اوسپاري.او هغوی دې د خپلې حصې مطابق دا غلام تقسيم کړي.او که آقا غواړي.نو ددوی دواړو ديت دې ورکړي.او غلام دې خان سره اوساتي.

دليله ځکه چه د خالد په قتلولو سره به د ساجد د قتلولو جرم د معاف کولو قابل نه وي.لکه د آقا د مملوك کيدو باوجود دخالد قتلولو د جنايت تعلق ممتنع نشو.دغه شان د رومبي جنايت متعلق کيدو

---

(۱) د امام شافعي رحمه الله په نيز دغلام په سټ کښې ده. يعنې غلام به خرڅولې شي.او دهغه حق به ادا کولې شي.البته آقا ته به دا حق ضرور وي. چه هغه تاوان ادا کړي.او غلام خپل خان سره اوساتي.

سره د دویم جنایت دده دستې سره متعلق کیدل به ممنوع نه وي.لکه مثلاً که غلام قرض واخستلو.نو هغه به دده د ستې سره متعلق وي.اوکه دوباره او په دریم خلی ئې قرض واخستلو.نو هغه به هم دده ستې سره متعلق وي.

توضیح قوله علی قدر حقیهما ﴿ دخپل حق په اندازه د اخستلو مطلب دا دی.چه د دوی دوارو په دیت کښې کوم تناسب دې.په دې تناسب سره به د غلام په قیمت کښې اخلی.مثلاً یوکس ته ئې داسې زخم لګولې دی.چه په هغې سره پنځلس سوه روپئ واجبیږی.او د دویم زخم سره مثلاً درې زره روپئ واجبیږی.نو د غلام قیمت به هم د دوی دوارو په منځ کښې د دریو حصو په حساب سره تقسیمیږی.

څه آقا ته علم نه ووا و جنایت کونکې غلام ئې آزادکړو.نو څه حکم دې؟

وَإِنْ أَعْتَقَهُ الْمَوْلَى نوکه مجرم غلام آقا آزاد کړو **وَهُوَلَا يَعْلَمُ بِالْجِنَايَةِ** او آقا جنایت نه خبر نه وی **ضَمِنَ الْمَوْلَى الْأَقَلَّ مِنْ قِيمَتِهِ وَمِنْ أَرْشِهَا** نو آقا به دده په قیمت او د جنایت د دیت (یعنی دوارو) نه د کم ضامن وی **وَإِنْ بَاعَهُ أَوْ أَعْتَقَهُ** او که هغه ئې خرڅ کړو یا ئې آزاد کړو **بَعْدَ الْعِلْمِ بِالْجِنَايَةِ** د جنایت معلومیدو نه روستو **وَجَبَ عَلَيْهِ الْأَرْشُ**،نو په ده باندې دیت واجب دې

تشریح ﴿ د زید غلام خالد جنایت اوکړو.چه په دې کښې زید ته دوه اختیاره وو.غلام د جنایت ولی ته حواله کول.یا دهغه فدیه ادا کول.خو که زید خالد (غلام) آزاد کړو.نو ددې اعتاق په وجه زیدد فدیې اختیارونکې شو اوکه نه؟ نو ددې تفصیل دا دې.که زید ته دجنایت علم وی.نو هغه به د آزادولو په وجه د فدیې اختیارونکې جوړیږی.اوکه د جنایت علم نه وی.او آزاد ئې کړو.نو د فدیې اختیارونکې به نه شمارلې کیږی.بلکه په دې صورت کښې به د غلام قیمت او د جنایت په دیت کښې چه کوم یو کم وی.هم هغه به په آقا باندې واجب وی.

دلیله ﴿ ځکه چه د جرم د مستحق حق هم دا جوړیږی .چه دا آقا په مجرم غلام آزادولو سره فوت کړو.نوآقا به ددې ضامن وی.او آقا به د علم نه بغیر د فدیې اختیارونکې نه شمارلې کیږی.البته د علم نه روستو به د آزادولو په وجه فدیه واجب وی.ځکه چه اوس د غلام ورکول ممتنع شو.نو فدیه متعین شوه.

وَإِذَا جَنَى الْمُدَبَّرُ أَوْ أُمُّ الْوَلَدِ جِنَايَةً او کله چه مدبر او ام ولد څه جنایت اوکړو. **ضَمِنَ الْمَوْلَى الْأَقَلَّ مِنْ قِيمَتِهِ وَمِنْ أَرْشِهَا** نو آقا به دده د قیمت او د جنایت په ارش کښې د کم ضامن وی

تشریح ﴿ وراندې مسئله تیره شوې ده.که غلام جنایت اوکړو.خو آقا ته دده د جنایت علم نه وو شوې.چه هم په دې حالت کښې آقا غلام آزاد کړو.نو دلته به آقا د فدیې اختیارونکې نه شمارلې کیږی.خو چونکه د مجنی علیه هم څه قصور (نقصان) نشته.په دې وجه دلته آقا باندې واجب دی.چه د جنایت ارش او د غلام په قیمت کښې چه کم وی.هغه ورکړی.ځکه چه د غلام آزادولو نه پس خو اوس د هغه (غلام) د ورکولو هیڅ سوال نه پیدا کیږی.بالکل هم دغه شان دا مسئله هم ده.چه مدبر او ام ولد هم په جنایت کښې د ورکولو قابل نه دی.خو آقا ته څه خبر وو.چه دوی به روستو داسې کوی.نو دلته هم که دوی څه جنایت اوکړو.هم دا حکم به وی.چه ددوی په قیمت او ارش کښې چه کم وی.هغه به ورکولې شی.

دلیله ﴿ اوس پاتې شوه دا خبره چه د مدبر د جنایت ضمان آقا باندې ولې راغلې دې.نو په دې باره کښې اګرچه حدیث نشته.خو حضرت ابوعبیده ابن الجراح رضی الله عنه د شام امیر(ګورنر) وو.هغوی د مدبر د جنایت ضمان د هغه په آقا باندې واجب کړې وو.او د ډیرو صحابو رضی الله عنهم په موجودګئ کښې ئې کړې

وو.اوهيڅ يو صحابي په هغه به باندې نكير نه وو كړې.نو ګويا په دې باندې اجماع اوشوه. (۱)

وجه وجوب الاقل من القيمة اوپه قيمت اوارش كښې كم ځكه واجب دې چه د جنايت د ولي حق د قيمت نه زيات نه دې.او د قيمت نه زيات آقا منع كړې دې.ځكه چه دې كښې كوم كم وي.هم هغه به وركوي.اوكه څوك دا سوال اوكړي چه لكه څنګه چه په غلام وركولو او دده په فديه وركولو كښې آقا ته اختيار وي.دلته هم په كم او زيات كښې اختيار وركول پكار دى.د كم واجبولو څه وجه ده؟ نود دې جواب دا دې چه دلته د اختيار وركولو نه څه فائده ده؟ بنكاره ده.چه سړې كم اختياره وي.هغه به زيات ولې وركوي.

د آقا د يو جنايت قيمت ادا كولو نه پس د مدبر د بل جنايت حكم

فَإِنْ جَنٰى جِنَايَةً أُخْرٰي نوكه مدبر دويم جنايت اوكړو وَقَدْ دَفَعَ الْمَوْلٰى قِيمَتَهُ إِلَى الْوَلِيِّ الْأَوَّلِ بِقَضَاءٍ حالانكه مولا د رومبى جنايت ولي ته د قاضي په فيصلې سره قيمت وركړې دې. فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو په هغه باندې هيڅ نشته

تشريح كه مدبر جنايت اوكړو.او مولا د هغه قيمت د جنايت ولي ته وركړو.او د قاضي په حكم سره ئې وركړو.او مدبر دويم جنايت هم اوكړو.نو اوس به په مولا هيڅ ضمان نه وي.

دليله ده چه څه هم وركړي دى.د قاضي په حكم سره ئې وركړي دى.او د قاضي د حكم نه پس دې په وركولو باندې مجبوره دې.نوځكه به پرې ضمان نه وي

وَيَتْبَعُ وَلِيُّ الْجِنَايَةِ الثَّانِيَةِ او وريسې به شي ولي د جنايت دويم وَلِيَّ الْجِنَايَةِ الاولىٰ، په ولي د جنايت اولى پسې فَيُشَارِكُهُ فِيمَا أَخَذَ نو هغه سره به په هغه څه كښې شريك شي كوم چې هغه اخستي وي

تشريح مدبر يا ام ولد چې يو ځل جنايت كړې وو.اومولى د قاضي په فيصلې سره اول جنايت كونكي ته تاوان وركړې وو.اوس مدبر يا ام ولد دوباره جنايت اوكړو.نو په مولى باندې به څه تاوان نه وي بلكه د دويم جنايت ولي به د اولني جنايت ولي ته لاړ شي او څه چې هغه ته مولى وركړې وو.هغې كښې به ورسره شريك شي.

(وَإِنْ كَانَ الْمَوْلٰى دَفَعَ الْقِيمَةَ بِغَيْرِ قَضَاءٍ اوكه مولا (د قاضي) د فيصلې نه بغير قيمت وركړې وى فَالْوَلِيُّ بِالْخِيَارِ، نو د جنايت ولي ته اختيار دې إِنْ شَاءَ اتَّبَعَ الْمَوْلٰى كه غواړي.مولا پسې دې اولګى وَإِنْ شَاءَ اتَّبَعَ وَلِيَّ الْجِنَايَةِ الاولىٰ، او كه غواړي.د جنايت په ولي پسې دې اولګى

تشريح اوكه آقا د قاضي د فيصلې نه بغير قيمت ادا كړې وي.بيا مدبر دويم جنايت اوكړو. امام صاحب رحمه الله فرمائي .چه دلته د دويم جنايت ولي ته اختيار شته.كه غواړي.خپل حق دې د مولا نه اوغواړي.اوكه غواړي.نو د جنايت د ولي نه دې دخپل حق مطالبه اوكړي.

دليله دليل دادې.چه په جرم كښې د دواړو شريكوالى ده.د مولا هم او د دويم جنايت د ولي هم.د مولا جرم دا دې.چه هغه پخپله رضامندئ سره د دويم حق رومبى ته سپارلې دې.او د رومبى جنايت د ولي جرم دا دې.چه هغه د دويم په حق باندې ناجائز قبضه كړې ده.نو دويم ته اختيار ملاو شو.چه رومبې (د جنايت ولي) راونيسي.يا مولا راونيسي.

---

(۱) اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه (نصب:۵/۱۸۷)۔

توضيح چه د دويم جنايت دوه جهته دی.من وجه د رومبی نه موخر دی.او من وجه پیوست او متصل دی.ددې مقارنت (او پیوست کیدو) په وجه ډیرو صورتونو کښې دویم هم د رومبی شریك کیږی.او په مدبر کښې حصه حاصلوی.او د موخر کیدو په وجه په ډیرو صورتونو کښې دویم هم د رومبی سره شریکیږی.او په مدبر کښې حصه حاصلوی.او د موخر کیدو وجه دا ده.چه په دویم جنایت کښې به هغه قیمت معتبر وی.کوم چه د دویم جنایت په ورځ د مدبر وو.بهرحال هرکله چه د دويم دا دوه طرفونه دی.نو مونږ په دوارو مشابهتونو باندې د عمل په خیال دا اوکړل.چه د ضمان په حق کښې مونږ دا د مقارن او پیوست پشان اوګڼرلو.او ضمان مو واجب کړو.او چونکه د هغه هم حق مدبر سره متعلق وو.چه په دې کښې د مولا او د رومبی د ولی دوارو نقصان دې.په دې وجه د دوارو پسې د لګیدو حق ورکړې شو .او په دوارو مشابهتونو باندې عمل داسې اوشو.چه ضمان یا د اتصال په وجه واجب کړې شو.خو دده قیمت کم کړې شو.او هغه معتبر کړې شو.کوم چه په دغه ورځ دده قیمت وو.یا د موخر کولو په وجه واجب شوې دې.په [نتائج الافكار ص۳۷۷] باندې په دې خائې کښې ډیر بحث دې.

مسلك الصاحبين صاحبین رحمهما الله فرمائي.چه اوس به په مولا هیڅ ضمان نه وی.

دليلهما هرکله چه مولا د رومبی جنایت ولی ته قیمت ورکړې وو .هغه وخت دویم جنایت موجود نه وو.او مولا د حق مستحق ته د هغه پوره حق ادا کړې وو.نو د هغه پخپله ادا کول داسې شو.لکه د قاضی په حکم سره ورکول.

وَإِذَا مَالَ الْحَائِطُ او کله چه دیوال راکوږ شی **إِلَى طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ** د مسلمانانو لارې طرف ته، **فَطُولِبَ صَاحِبُهُ بِنَقْضِهِ** نو ددې د مالك نه ددې د ورانولو مطالبه اوکړې شوه **وَأُشْهِدَ عَلَيْهِ** او په دې باندې ګواهان جوړ کړې **فَلَمْ يَنْقُضْهُ** نو هغه مات نکړو **فِي مُدَّةٍ يَقْدِرُ عَلَى نَقْضِهِ** په دومره موده کښې چه ددې په ورانولو باندې قادر وو **حَتَّى سَقَطَ** تردې چه هغه راپریوتلو **ضَمِنَ مَا تَلِفَ بِهِ مِنْ نَفْسٍ أَوْ مَالٍ** نو ددې په وجه چه کوم نفس یا مال هلاك شي. هغې به ضامن وی.

تشريح د يوکس دیوال کوږ شو.چه ددې په وجه ددې د راغورځیدو خطره پیدا شوه.نوکه هغه ته چا هیڅ او نه ونیل.او دیوال راپریوتلو.او څوك هلاك شو.نو هغه به ضامن نه وی.او كه هغه ته په هغه خلقو کښې چا اوونیل.چاته چه په دې لاره کښې د تللو حق دې.او ونیلو هم د مشورې په طور نه وی.بلکه د حکم په طریقه وی.او بیا نې هم هغه مات نکړی.حالانکه هغه ته دومره مهلت ملاو شوې دې.چه په دې (موده) کښې هغه دا کار کولې شی.خو وې نکړو.او اوس هغه راپریوتلو.او څوك سرې هلاك شو.نو ددې ضمان به په هغه لازم وی.دا حکم د استحسان دې.

وجه الاستحسان د استحسان دلیل دې.ددې حاصل دا دې.چه دده دیوال د مسلمانانو د لارې پلن والې راګیر کړې دې.حالانکه ده ته ونیلی شوی وو.چه دا راوغورځوه.او تیك نې کړه.نو په ده راغورځول او تیك کول واجب شوی وو.بیا ده تیك نکړو.نو متعدی او ظالم شو.په دې وجه به ضمان واجب وی.ددې مثال بعینه داسې دې.چه د يو انسان کپړه هوا وغیره د بل په غیره کښې راو غورځوله.د کپړې مالك ددې مطالبه اوکړله .خو هغه ورنکړله.بیا هغه هلاکه شوه.نو په هغه به ضمان واجب وی.څکه چه هغه د منع کولو په وجه متعدی او ظالم اوګرځیدو.خو که تر اوسه پورې د کپړې مالك نه وه غوښتلې.چه ددې نه مخکښې هلاکه شوه.نو ضمان به واجب نه وی.څکه چه دې صورت کښې تعدی نشته.دغه شان که د دیوال تیك کولو حکم نه وو ورکړې شوې.چه ددې نه ورانډې دا حادثه راپیښه شوه.نو اوس به دې ظالم نه وی.او په ده به ضمان واجب نه وی.

وَيَسْتَوِي او برابره ده دا خبره أَنْ يُطَالِبَهُ بِنَقْضِهِ مُسْلِمٌ چه دده نه ددې د ورانولو مطالبه مسلمان اوكړي أَوْ ذِمِّيٌّ اوكه ذمي اوكړي

تشريح > بيا كوموخلقو ته چه په دې لاره كښې د تيريدو حق دې.كه هغه مسلمان وي.اوكه ذمي وي.تولو ته د مطالبې حق شته.كه هغه سړي وي.اوكه ښځه وي.آزاد وي.اوكه مكاتب وي.

دليله > ځكه ددې مطالبې حاصل دا دې.چه د ديوال مالك د لارې مشغولتيا لرې كړي.نو هر حقدار ته به د مطالبې اختيار وي.

وَإِنْ مَالَ إِلَى دَارِ رَجُلٍ او كه ديوال د يوسړي كور طرف ته كوږ شو فَالْمُطَالَبَةُ لِمَالِكِ الدَّارِ خَاصَّةً نو مطالبه به خاص طور باندې د كور مالك طرف ته كيږي

تشريح > د زيد دكور ديوال د لارې په ځاې د خالد كور طرف ته كوږ شو.نو دلته به د ورانولو اختيار صرف خالد ته وي.

دليله > ځكه چه حق صرف هم دده دې.

په دوو اسونو سواره كسان خپلو كښې ټكراو شي، او مړه شي نو د ديت حكم

وَإِذَا اصْطَدَمَ فَارِسَانِ اوكله چه دوه سواره اوجنګيږي.(ټكراو شي). فَمَاتَا نو دواړه مړه شو فَعَلَى عَاقِلَةِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا دِيَةُ الْآخَرِ نو د هر يو په مددګار خاندان (عاقله) باندې به د دويم ديت واجب وي.

تشريح > زيد او خالد دواړه په اسونو باندې سواره دي.دواړو ډغره اوخوړله.چه ددې په وجه دواړه مړه شو.يا دواړه پيدل وو.دواړو ډغره اوخوړله.او دواړه مړه شو.او ډغره په خطاء سره وي.نو اوس حكم دا دې.چه د زيد مددګار خاندان به د خالد پوره ديت او د خالد مددګار خاندان به د زيد پوره ديت ادا كوي. (١)

دليله > دليل دا دې.چه دلته اګرچه د دواړو د فعل دخل دې.خو په داسې موقعو كښې د مرګ اضافت خپل فعل طرف ته نه كيږي.بلكه د غير فعل طرف ته د مرګ اضافت كيږي.ځكه چه خپل ذاتي فعل خو د هر يو مباح دې.چه دا به د ضمان سبب نه وي.ځكه چه لاره كښې تلل مباح دي.بهرحال خپل ذاتي فعل موجب د ضمان نشي كيدې.لكه څوك تلونكي روان دې.چه د كوهي علم هغه ته نشته.او هغه په كوهي كښې پريوتلو.نو د هغه پوره ديت به واجب وي.او د هغه د تللو په وجه به هيڅ ديت نه ساقطيږي.

د غلام په قتلولو سره قيمت واجبيږي

وَإِذَا قَتَلَ رَجُلٌ عَبْدًا خَطَأً او چا چه غلام په خطاء سره قتل كړو فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ نو په قاتل باندې د هغه قيمت واجب دې لَا تُزَادُ عَلَى عَشَرَةِ آلَافِ دِرْهَمٍ چه دا به په لس زره درهم باندې نشي زياتولې فَإِنْ كَانَتْ قِيمَتُهُ عَشَرَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ نو كه د غلام قيمت لس زره درهم وي. أَوْ أَكْثَرَ يا زيات وي، قُضِيَ لَهُ بِعَشَرَةِ آلَافٍ نو هغه دپاره به د لسو زرو درهمو فيصله كولې شي إِلَّا عَشَرَةً بغير د لسو (د رهمو) نه وَفِي الْأَمَةِ او په وينځه كښې إِذَا زَادَتْ قِيمَتُهَا عَلَى الدِّيَةِ كله چه دهغې قيمت د آزادې ښځې د ديت نه زيات

---

(١) **مسلك الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله مذهب دا دې.چه د زيد په خاندان باندې به د خالد نيم ديت او د خالد په خاندان باندې به د زيد نيم ديت واجب وي.

وي خَمْسَةَ آلَافٍ إِلَّا عَشَرَةً د لس کم پنځو زرو فيصله به کولې شي

حل اللغة ① **الاف:** جمع دالف، زرا

تشريح که يو کس غلام خطاء سره قتل کړو.نو دلته به د ديت په ځاي ددغه غلام قيمت واجب وي.خو د طرفينو رحمهماالله په نيز شرط دا دې چه دا قيمت د آزاد د ديت نه زيات نشي.نوکه دده (مجني عليه غلام) قيمت بالفرض لس زره يا ددې نه هم زيات وي.نو په ديت کښې به لس درهمه کم لس زره (۹۹۹۰) درهم واجب وي. صرف،

د غلام په لاس ګښي نيم قيمت واجب دی

وَفِي يَدِ الْعَبْدِ نِصْفُ قِيمَتِهِ او د غلام په لاس کښې د هغه د قيمت نيمه ده لَا يُزَادُ عَلَى خَمْسَةِ آلَافٍ.چه په پنځو زرو (درهمو) به نشي زياتولې إِلَّا خَمْسَةً خو پنځه به کمولې شي

تشريح وړاندې تيرشوی دی.چه د سړی په لاس کښې نيم ديت واجبيږی.نو د غلام په لاس کښې به نيم قيمت واجب وی.اوکه دده نيم قيمت د پنځو زرو درهمو نه زياتيږی.نو د پنځو زرو نه به پنځه درهمه کم واجب وی.

دليله دليل په مخکښې مسئله کښې تير شوې دې.يعنې د کل په صورت کښې چه کومه طريقه اختيار کړې شوې ده.د نصف په صورت کښې به هم هغه طريقه اختيارولې شي.

په غلام کښې پوره قيمت کله واجبيږي؟

وَكُلُّ مَا يُقَدَّرُ مِنْ دِيَةِ الْحُرِّ او هرهغه جرم په کوم کښې چه د آزاد پوره ديت اندازه وی فَهُوَ مُقَدَّرٌ مِنْ قِيمَةِ الْعَبْدِ نو هلته به د غلام پوره قيمت اندازه وی

تشريح يعنې کوم ځاي چه د آزاد پوره ديت واجبيږی.هغه صورت کښې به د غلام پوره قيمت واجب وی.او کوم ځاي چه د آزاد نصف ديت واجبيږی.هلته به غلام کښې نصف ديت واجب وی.

دليله ځکه چه دا دواړه ديتونه دی.او دواړه د وينې بدل دی.د (وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ) نه دا خبره ښکاره ده.نوکه يو آزاد ته ني داسې زخم اولګولو.يعنې موضحه چه په هغې کښې د ديت ۱۱۲۰ حصه واجب ده.هلته به غلام کښې د هغه د قيمت ۱۱۲۰ واجب وی.او وړاندې تير شوی دی.چه ضمان د غصب ، د ماليت ضمان دې.

په ځيټه د وهلو په وجه د بچي غورځيدو مسئله

وَإِذَا ضَرَبَ رَجُلٌ بَطْنَ امْرَأَةٍ اوکله ني چه ښځه په ځيټه (ګيډه) اووهله فَأَلْقَتْ جَنِينًا مَيِّتًا نو هغې جنين اوغورځولو. فَعَلَيْهِ غُرَّةٌ نو په دې کښې يوه غره ده وَالْغُرَّةُ نِصْفُ عُشْرِ الدِّيَةِ او دا غره د ديت د عشر نيمه ده

تشريح که زيد يوه آزاده ښځه په ځيټه اووهله.يا ني په بل يو اندام په لته وغيره اووهله.چه په دې سره د هغې حمل پريوتلو.(يعنې بچې اوغورځيدو).نو دلته به ديت واجب وی.چه ددې مقدار د دراهمو نه پنځه سوه درهمه دې.که هلك وی او که جينۍ وی.او چونکه د ديت مقدار د ټولو نه کم او رومبې مقدار دې.په دې وجه دا غره سره تعبير کړې شوې دې.چه ددې معنی د رومبی خيز ده.اګرچه دهلك په صورت کښې د سړی د ديت شلمه حصه واجبيږی.او د جينۍ په صورت کښې د ښځې د ديت لسمه حصه واجبيږی.چه ددې مال يو وی. ،

هسې د قياس تقاضه دا وه.چه چونکه د جنين د ژوند هيڅ علم نشته.په دې وجه هيڅ واجبيدل پکار نه

وو.خو استحساناً غره واجب کړې شوې ده.

دليله وجه د استحسان د نبي کريم صلى الله عليه وسلم حديث دې {فِي الْجَنِينِ غُرَّةٌ عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ قِيمَتُهُ خَمْسُمِائَةٍ} وَيُرْوَى "أَوْ خَمْسُمِائَةٍ"[1] نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى چې په جنين کښې غره ده يعنى غلام يا چه ددې قيمت پنځه سوه درهم وى او نقل دى چه ،، يا پنځه سوه درهم.،

الاستدلال ددې حديث په وجه مونږ قياس پريخودو.او حديث کښې غره پنځو سوو درهمو سره خاص کړې شوې دې.

د حمل ماشوم ژوندې پيدا شو او مړ شو. نو پوره ديت واجب دې

فَإِنْ أَلْقَتْهُ حَيًّا نو که ښځې ژوندې جنين راورو ثُمَّ مَاتَ بيا هغه (بچې) مړ شو فَفِيهِ دِيَةٌ كَامِلَةٌ نو په دې کښې پوره ديت دې

تشريح يعنى که جنين ژوندې بهر راوتلې وى.او بيا مړ شوې وى.نو په دې صورت کښې به پوره ديت واجب وى.

دليله ځکه چه د بچى مړ کيدل د ړومبى وهلو اثر دې.او چونکه دده مرکيدل د ژوند ښکاره کيدو نه پس دى.نو پوره ديت به واجب وى.

د مړ جنين پيدا کيدو نه پس ښځه هم مړه شوهنو دمور د قتل ديت واجب دې

(وَإِنْ أَلْقَتْهُ مَيِّتًا او که ښځې مړ بچې اوغورځولو ثُمَّ مَاتَتِ الْأُمُّ بيا (ښځه) مړه شوه فَعَلَيْهِ دِيَةٌ نو په ضارب ديت دې وَغُرَّةٌ او غره ده

تشريح که د زيد لتې وهلو په وجه (مثلاً) جنين مړ بهر ته راووتلو.او بيا ښځه هم مړه شوه.نو دلته په زيد باندې دوه ضمانه دى.د ښځې ديت واجب دې.او د جنين په وجه غره واجب ده.

دليله دطبرانى د روايت په موجب په مذکوره صورت کښې حضرت ﷺ هم دا فيصله فرمائيلې ده.[2]

ښځه مړه شوه بيا مړ بچې پيدا شونو څه حکم دې ؟

وَإِنْ مَاتَتْ او که ښځه مړه شوه ثُمَّ أَلْقَتْ مَيِّتًا بيا هغې مړ بچې اوغورځولو فَلَا شَيْءَ فِي الْجَنِينِ او په جنين کښې هيڅ واجب نه دى.

تشريح اوکه دا صورت راپيښ شو.چه ښځه مړه شوه.بيا مړ شوې بچې را پيدا شو.نو زمونږ په نيز ذکر شوى صورت کښې به صرف د مور ديت واجب وى.او د بچى به هيڅ واجب نه وى.[3]

دليله دليل دا دې.چه د بچى د مرګ دلته کښې دوه سببونه دى: ① د وهلو په وجه مړ شى. ② د مور د مرګ په وجه سا بنده شى.او مړ شى.ځکه چه بچې د مور د ساه په ذريعه ساه اخلى.بهرحال دلته

---

[1] قال الزيلعي رحمه الله الأول غريب ورواية أوخمسمائة عند الطبراني في معجمه (كماذكره الهيثمي في مجمع الزوائد ٦\٣٠٠) وعزاه لطبراني والبزار) نصب الراية:١٥٨\٥ـ

[2] قال الزيلعي رحمه الله نظرت الكتب الستة إلاالنسائي فلم أجده بهذا المعنى والذى في الكتب الستة عن ابي هريرة رضي الله عنه أن النبي ﷺ قضى في جنين إمرأة من بني لحيان بغرة عبد أوامة ثم إن المرأة التي قضى عليها بالغرة توفيت فقضى رسول الله ﷺ ان ميراثها لبنيها ولزوجها وأن العقل على عصبتها (نصب:١٩١\٥)ـ

[3] **مسلك الشافعي**:-د امام شافعى رحمه الله په نيز به د مور ديت او په بچى کښې به غره واجب وى.

کېږي شك پيدا شو. چه مرګ د رومبي (وهلو) په وجه دي.اوکه د دويم (د مور د مرګ) په وجه دي.نو د شك په وجه به ضمان واجب نه وي.

د بچي غره به په وارثانو کښې د ميراث په طور تقسيميږي

وَمَا يَجِبُ فِي الْجَنِيْنِ او په جنين کښې چه کومه غره واجب وي مَوْرُوثٌ عَنْهُ هغه به دده د طرفه په ميراث کښې تقسيمولې شي

تشريح د جنين په ذکرشوو ټولو صورتونو کښې چه ضارب باندې کوم مال واجب کړې شوې دې.چونکه د تيرشوي تصريح مطابق د نفس بدل دې.نو دا به دجنين د وارثانو په منځ کښې تقسيمولې شي.خو که ضارب هم ددې وارث وي.نو هغه به د ميراث نه محروميږي.مثلاً يوکس خپله ښځه په خيټه باندې په لته اووهله.چه په دې سره مړ جنين بهر ته راووتلو.نو دلته به د وهونکي په خاندان باندې ديت واجب وي.او وهونکي به په دې غره کښې د ميراث مستحق نه وي.

دليله څکه چه قاتل ته ميراث نه ملاويږي.او دا قاتل دې.او دا قتل هم قتل د سبب نه دې.بلکه قتل د مباشرت (او ارادهٔ) دې.او ناحقه قتل دې.،،فيه مافيه،،

د وينځې په مذکر او مونث ژوندي بچي کښې به خومره ديت واجب وي

وَفِي جَنِيْنِ الْأَمَةِ إِذَا كَانَ ذَكَرًا او د وينځې په جنين کښې کله چه دا هلك وي نِصْفُ عُشْرِ قِيْمَتِهٖ دده (د جنين) د قيمت نصف عشر (شلمه) ده لَوْ كَانَ حَيًّا که ژوندې وي وَعُشْرُ قِيْمَتِهٖ اولسمه حصه د قيمت د ده وي لَوْ كَانَ أُنْثٰى که دا جينئ وي.

تشريح دا دهغه جنين تفصيل وو.کوم چه د آزادې ښځې نه راوغورځيږي.که د وينځې نه پيدا شي.نو دا به د وينځې د آقا غلام وي.په دې وجه ددې حکم لږ بل شان دې.نو که د وينځې جنين که ژوندې وي.نو دده قيمت به واجبيدو.ددې نه پس دې بيا اوکتلې شي.چه جنين هلك دې.اوکه جينئ ده.که هلك دې.نو دده د قيمت شلمه حصه به واجبولې شي.اوکه جينئ ده.نو لسمه حصه به واجبولې شي. [1]

دليله اصل لحاظ به د جنين د قيمت ساتلې شي.د مور به نشي ساتلې.څکه چه دا ضمان د نفس ضمان دجنين دې.د مور د اندام ضمان نه دې.څکه چه چرته د اندام ضمان واجبيږي.نو هلته به دې غور کولې شي. چه په اصل کښې څومره نقصان پيدا شوې دې.بيا هم دغه اومره نقصان واجبولې شي.حالانکه دلته ددې اعتبار اونکړې شو.بلکه مطلق اوفرمائيلې شو.چه د مور د قيمت عشر به واجب وي.نو که د ښځې نقصان ددې په وجه نه وي شوې.نو بيا هيڅ ضمان واجبيدل پکار نه دي.نو معلومه شوه.چه دا ضمان د نفس دې.ضمان د اندام نه دې.او هرکله چه دا د نفس ضمان دې.نو ددې اندازه به د نفس د قيمت په لحاظ سره وي.

په بچي کښې کفاره نشته اوکه لشته

(وَلَا كَفَّارَةَ فِي الْجَنِيْنِ)او په جنين کښې کفاره نشته

تشريح دجنين د ضمان بيانولو نه پس د جنين د کفاره بيان کوي اوفرمائي چه کفاره واجب نه ده. [2]

---

[1] **مسلك الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرمائيلي دي.چه په دواړو صورتونو کښې به د مور قيمت لګولې شي.اود مور د قيمت عشر به واجبولې شي.

[2] **مسلك الشافعي**:- د امام شافعي رحمه الله په نيز کفاره احتياطاً واجب ده.څکه چه جنين هم من وجه نفس

دلیله دلیل دا دې چه چونکه کفاره د مطلقه نفسونو په باره کښې وارد شوې ده.او دا مطلق نفس نه دی.بلکه من وجه نفس دې.نو عقوبت به صرف په مطلقه نفسونو کښې واجب وی.چونکه دا نفس مطلقه نه دې.په دې وجه خو د پوره دیت په ځائې غره واجب شوې ده.البته که احتیاطاً کفاره ورکړی.نو غوره ده.چه د تقرب سبب اوګرځی.او د جنین هلاکولو کوم جرم چه ده کړې دې.د هغې نه استغفار اوکړی.

د قتل شبه عمد کفاره څه ده؟

(والکفارۃ فی شبه العمد والخطاء او کفاره په شبهٔ عمد او قتل خطاء کښې عِتْقُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ د مومن غلام آزادول دی فَإِنْ لَمْ يَجِدْ نو که هغه غلام اونه مومی فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ نو د لګاتار دوو میاشتو روژې نیول دی

تشریح د شبه عمد کفاره دا ده.که قدرت وی.نو مومن غلام دې آزاد کړی.

دلیله د الله تعالی ارشاد دې(فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ)[النساء:۹۲] اوکه غلام ملاو نشی. نو بیا کفاره دا ده.چه د دوو میاشتو لګاتار (پرله پسې) روژې اونیسی.

وَلَا يُجْزِئُ فِيهِ الْإِطْعَامُ او په دې کښې به اطعام (په مسکینانو خوراك خوړل) نه کافی کیږی

تشریح او په کفاره د قتل کښې به په مسکینانو خوراك خوړل کافی نه وی.

دلیله څکه چه شرعی مقادیر د شریعت په خودلو معلومیدې شی.حالانکه په هیڅ نص کښې نقل نه دی.چه مسکینانو ته به په خوراك خوړلو باندې کفاره ادا کیږی.

بَابُ الْقَسَامَةِ

ترجمه (دا) باب د قسامت (د احکامو په بیان کښې) دې.

تشریح **القسامة لغة** په لغت کښې قسامت په معنی د قسم سره دې.

القسامة شرعاً په شریعت کښې قسامت په الله تعالی قسم خوړل دی.د مخصوص سبب په وجه، مخصوص عدد سره.په سړی باندې مخصوص طریقه باندې.

د قسامت بیان

وَإِذَا وُجِدَ الْقَتِيلُ فِي مَحَلَّةٍ اوکله چه په یوه محله کښې څوك مقتول اوموندلې شی لَا يُعْلَمُ مَنْ قَتَلَهُ د هغه د قاتل علم اونشی اُسْتُحْلِفَ خَمْسُونَ رَجُلًا مِنْهُمْ نو د محلې د پنځوسو سړو نه به قسم اخستلې شی يَتَخَيَّرُهُمُ الْوَلِيُّ کوم (پنځوس کسان) چه ولی اختیار کړی بِاللَّهِ مَا قَتَلْنَاهُ (د قسم الفاظ به دا وی).د خدائې قسم نه مونږ دې قتل کړې دې وَلَا عَلِمْنَا لَهُ قَاتِلًا او نه مونږ ته دده د قاتل علم شته.

حل اللغة ① **قتیل**: صیغه داسم مفعول،قتل شوې]

تشریح که یو سړې مقتول په یوه محله کښې اوموندې شو.او د قتل آثار په ده باندې موجود وی.او د هغه د قاتل معلومات نه وی.او د مقتول ولی په ټوله محله باندې یا په بعضو غیر معین باندې یا په

دې.نوکفاره به واجب وی.

بعضو معين باندې د قتل دعوه اوکړي.نو زمونږ په نيز به ولی ته حق وی.چه په محله کښې پنځوس کسان منتخب کړی.کوم چه دده خوښ وی.او د هغوی نه دې قسم واخستلې شی.هغوی به داسې قسم خوری.چه ،، د الله قسم نه مونږ دا قتل کړې دې.او نه مونږ ته دده د قاتل معلومات شته.اوکه هغوی قسم اوخوړلو.نو قصاص به ددوی نه ساقطيږی. البته ددوی په عاقله به ديت واجب وی.که ولی د قتل عمد دعوه کوی.او که د قتل خطاء دعوه کوی.خلاصه د کلام دا چه زمونږ په نيز قصاص صرف هغه وخت ثابتيږی.کله چه د محلې خلق د قسم نه انکار اوکړی.او د قتل اقرار کوی.يا په ګواهانو سره قتل عمد ثابت شی.دا زمونږ د مسلك تفصيل دې. [1]

دلائله ﴿ ① رومبې دليل مشهور حديث دې. (البينة على المدعي واليمين على من أنكر)

② دويم دليل د سعيد بن مسيب ﷺ روايت دې.چه د يهودو په يو کوهی کښې د يو مقتول ملاويدو په وجه د يمين او قسامت شروع ئې د يهودو نه اوکړله.او بيا ئې په يهودو باندې ديت واجب کړو.ځکه چه مقتول ددوی په منځ کښې ملاو شوې وو.

د قسامت په باره کښې د امام ابوحنيفه رحمه الله دعوه او د امام شافعي رحمه الله دليلونه

وَإِذَاحَلَفُوانو کله چه دوی قسم اوخوړلو قَضَى عَلَى أَهْلِ الْمَحَلَّةِ بِالدِّيَةِ نو د محلې په خلقو به د ديت فيصله کولې شی وَلَا يُسْتَحْلَفُ الْوَلِيُّ او د ولی نه به قسم نشی اخستلې

تشريح ﴿ کله چه د محلې د خلقو نه پنځوسو سړو قسم واخستلو.نو ددوی نه به قصاص ساقطيږی.او په دوی به ديت واجبيږی.دا زمونږ مذهب دې.

دلائله ﴿ ① دليل دا حديث دې چې النَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ جَمَعَ بَيْنَ الدِّيَةِ وَالْقَسَامَةِ فِي حَدِيثِ ابْنِ سَهْلٍ [2] چه نبیٔ کريم ﷺ د سهل ﷺ په حديث کښې ديت او قسامت جمع والې اوکړو

② اوهم دغه شان د زياد بن ابومريم په حديث کښې دواړه جمع کړې شوی دی. [3]

③ او دغه شان د قبيلهٔ همدان په يو شاخ وادعه کښې دا واقعه راپيښه شوه.نو فاروق اعظم ﷺ هم قسامت او ديت کښې جمع فرمائيلې وه.

وَلَا يُقْضَى عَلَيْهِ بِالْجِنَايَةِ وَإِنْ حَلَفَ اوفيصله به نشی کولې په ده باندې د جنايت اګرکه قسم اوخوری

تشريح ﴿ د مقتول د ولی نه په قسم نشی اخستې اوکه هغه قسم اوخوری نو هم به په هغه باندې د

---

[1] مسلك الشافعي ومالك:- امام شافعي ﷫ اوفرمائيل کله چه هلته څه قرينه وی نو د اولياء نه پنځوس قسمونه اخستلې شی و اولياء دپاره به مدعی عليه باندې د ديت فيصله ورکولې شی.دعوه که د (قتل) عمد وی اوکه د خطاء وی. امام مالك ﷫ فرمائی.که د مدعی دعوه د قتل عمد وی.نو دمدعی عليهم (د محلې خلقو) نه چه مدعی څوك اختيار کړی.د هغوی نه به قصاص اخستلې شی.[غرر الافکار، شامی]

[2] کماتقدم تخريجه في اول الباب)۔

[3] قال الزيلعي ﷫ وحديث زياد غريب و روى البزار في مسنده ..عن أبي سلمة بن عبدالرحمن عن أبيه قال كانت القسامة في الدم يوم خيبر وذكر ان رجلاً من الأنصارمن أصحاب النبي ﷺ فقد تحت الليل فجاءت الأنصار فقالوا إن صاحبنا يتشحط في دمه فقال أتعرفون قاتله؟قالوا لا إلا أن اليهود قتلته فقال رسول الله إختاروا منهم خمسين رجلاً فيحلفون بالله جهد أيمانهم لم يجدوا الدية منهم فعقلوا (نصب:٥\١٩٥)۔

جنایت فیصله نشی کولې.چې دا قتل ده کړې دې.

د محلي د خلقو د قسم خوړلو نه د انکار کولو حکم

وَاِنْ اَبَى وَاحِدٌ مِّنْهُمْ او که په دوی کښې یو کس د قسم نه انکار اوکړو حُبِسَ نو هغه به قید کولې شي حَتّٰى يَحْلِفَ تردې چه هغه قسم اوخوري

تشریح که د محلي په خلقو کښې چا د قسم نه انکار اوکړو.نو ترکومه پورې چه هغه قسم اونه خوري.تر هغه وخته به دې په قید کښې اچولې شي.

دلیله ځکه چه په باب د قسامت کښې صرف مال مقصود نه دې.بلکه یمین هم اصل مقصود دې.ځکه چه دا د وینې معامله ده.چه دا ډیره محترمه ده.نو دلته قسم هم واجب دې.او دیت هم واجب دې.

که په محله کښې پنځوس قسمونه پوره نشي نو د قسم طریقه

وَاِنْ لَّمْ يُكْمِلْ اَهْلُ الْمَحَلَّةِ او که د محلي د خلقو تعداد پوره نشو كُرِّرَتِ الْاَيْمَانُ عَلَيْهِمْ نو په دوی به قسمونه مکرر کولې شي.حَتّٰى تَتِمَّ خَمْسِيْنَ تردې چه پنځوس (قسمونه) پوره شي

تشریح وراندې ونیلې شوی دی.چه د محلي د خلقو د پنځوسو سړو نه به قسم اخستلې شي.نو که اتفاق سره پنځوس تعداد پوره نشي.نو د موجوده کسانو نه به مکرر قسم اخستلې شي.چه د پنځوسو تعداد پوره شي.

دلیله د حضرت عمر رضي الله عنه ([1]) او د قاضی شریح اونخعی رحمهما الله ([2]) نه هم دغه شان منقول دي.او چونکه دپنځوسو شمیر د حدیث نه ثابت دې.نو څومره چه ممکنه وی.(د پنځوسو قسمونو تعداد) پوره کول واجب دی.او ددې صورت دلته هم دا دې.کوم چه ذکر شو.

په بچي، مجنون، ښځه او غلام باندې د قسامت نه کیدو وجه

وَلَا يَدْخُلُ فِي الْقَسَامَةِ صَبِيٌّ وَّلَا مَجْنُوْنٌ) او په بچی او لیونی باندې قسامت نشته وَلَا امْرَاَةٌ وَّلَا عَبْدٌ) اونه په ښځه او نه په غلام باندې (قسامت شته).

تشریح په قسامت کښې به په ماشوم، لیونی، ښځه او غلام باندې قسم نه وی.

دلیله ځکه چه قسم قول صحیح ته وائی.او قسم په هغه خلقو باندې واجبیږی.کوم چه امداد کولې شي.او دلته رومبی دواړه قول صحیح نشی ونیلې.اوآخری دواړه اګرچه په صحیح قول کلام کولې شي.خو مدد نشی کولې.

په کومو صورتونو کښې د محلې په خلقو قسامت او دیت نشته؟

وَاِنْ وُّجِدَ مَيِّتًا او که مړې اوموندې شی لَا اَثَرَ بِهٖ چه په ده باندې (د قتل) اثر نه وی فَلَا قَسَامَةَ وَّلَا دِيَةَ نو نه قسامت شته او نه دیت شته وَكَذٰلِكَ اِنْ كَانَ الدَّمُ يَسِيْلُ مِنْ اَنْفِهٖ او هم دغه شان حکم دې چې وی وینه بهیږی د پوزې ده نه اَوْ دُبُرِهٖ یا ده د دبر اَوْ فَمِهٖ یا ده د خولې نه

تشریح که په محله کښې مړ انسان ملاؤ شو خو په ده باندې د زخم هیڅ اثر نه وو.نو په دې کښې نه قسامت شته اونه دیت دغه شان که ده د پوزې یا دبر یا خولې نه وینه روانه شوې وی نو دغه حکم دې

[1] اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه (نصب:۵\۱۹۸)۔

[2] حديث شريح اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه وحديث النخعي[رح] اخرجه عبدالرزاق في مصنفه (نصب:۵\۱۹۹)۔

چې په دې کېږي نه قسامت شته اونه دیت
دلیل> ځکه چه ددې ځایونو نه عام طور باندې دبل کس د فعل نه بغیر پخپله هم وینه راوځي.په ،، باب الشهید ،، کښې هم ددې بیان تیر شوې دې.

فَإِنْ كَانَ خَرَجَ مِنْ عَيْنَيْهِ أَوْأُذُنَيْهِ نو که وی وینه چې راوتلې وی دده د سترګو نه یا دده د غوږونو نه فَهُوَقَتِيْلٌ نو دې قتل کړې شوې دې

تشریح> اوکه دده د سترګو یا غوږونو نه وینه وتلې وی نو دا ددې خبرې دلیل دې چې دې مقتول دې
دلیل> ځکه چې ددې اندامونو نه پخپله وینه نه اوځي بلکه د چا د تشدد په وجه ترې اوځي.نو په دې صورت کښې به قسامت او دیت وی.

په خاروی باندې دمونډلی شوی مقتول د دیت حکم

وَإِذَاوُجِدَالْقَتِيْلُ عَلَى دَابَّةٍ او کله چه مقتول په یو خاروی باندې اوموندلې شی يَسُوقُهَارَجُلٌ چه دا یو سړې شړی فَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ نو دیت به دده په عاقله باندې وی دُونَ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ په محلې والا باندې به نه وی

تشریح> یو کس یو خاروې روان کړې دې.او په دې باندې یو مقتول دې.نو دده دیت به هم په ده باندې واجب وی.لکه که مقتول دده په کور کښې ملاو شوې وې.نو هم دا حکم به وو.بیا که دا سړې نې د شا طرفه شړی.یا نې د مخکښې طرفه راکاږی.یا په دې باندې سور وی.ټول برابر دی.
دلیل> ځکه چه مقتول د هغه په لاس کښې دې نو داسې شوه لکه چه دده په کور کښې وی

په یو کور کښې د مونډلی شوی مقتول د قسامت او دیت حکم

وَإِذَاوُجِدَالْقَتِيْلُ فِي دَارِإِنْسَانٍ اوکه مقتول د یو انسان په کور کښې اوموندلې شی فَالْقَسَامَةُعَلَيْهِ نو قسامت به هم په ده وی

تشریح> که یو مقتول دیوکس په کور کښې اوموندې شی.نو قسم به صرف په کور والا باندې وی.
دلیل> ځکه چه د کورمالك یواځې هم هغه دې.نو هغه به یواځې د محلې د خلقو په درجه کښې وی.

وَالدِّيَةُعَلَى عَاقِلَتِهِ اودیت دده په عاقله باندې دې

تشریح> او دیت به دده په مددګار خاندان باندې وی.
دلیل> ځکه د عاقله فریضه ده.مدد او نصرت کول، او د عاقله د مدد په وجه انسان پخپل خان کښې قوت او طاقت محسوسوی.

قسامت به په اصل اوسیدونکو وی او هغه په کرایه دارو به هم وی؟

وَلَايَدْخُلُ السُّكَّانُ فِي الْقَسَامَةِ او په قسامت کښې به سکان (د ملکیت نه بغیر اوسیدونکی) نه داخلیږی نیز مَعَ الْمُلَّاكِ د مالکانو سره عِنْدَأَبِي حَنِيْفَةَ(۱) د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز

تشریح> د یوې محلې څه اوسیدونکی خو هغه دی.کوم چه ددې ځائې اصلی اوسیدونکی دی.او ددې

(۱) القول الراجح هوهذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في ردالمحتار(۵\۴۴۷) والهندية (۶\۷۸) وملتقى (۴\۴۰۳) نقلاً عن القول ا لراجح (۲\۳۶۵)۔

ځائې د زمکو مالکان دي.او بعضې هغه دي.کوم چه د ملکیت نه بغیر کرایه وغیره باندې دلته اوسیږي.نو قسامت به صرف په مالکانو باندې وي.په سکان (په کرایه وغیره اوسیدونکو) به نه وي.دا د طرفینو رحمهماالله مذهب دې.

دلیلهما > د بقعې (او علاقې) نصرت دپاره مالکان مختص دي.د ملکیت نه بغیر اوسیدونکی نه دي.ځکه چه د ملکیت نه بغیر اوسیدو کښې قرار او همیشگی نشته.په خلاف د مالکانو، نو د تدبیر دلالت به په مالکانو باندې وي.او هم په دوی به حفاظت ضروري وي.نو کوتاهي د مالکانو د طرفه ده.نو هم دوی به گرفتارولې شي.

مسلک ابي یوسف > امام ابویوسف رحمه الله فرمائي.چه قسامت به په دواړو وي.ځکه چه د قسامت او دیت تعلق تدبیر سره دې.او په دې معامله کښې ټول برابر دي.

دلیله > د دوی دلیل دا وو.چه اوگورئ نبی کریم ﷺ په یهودو باندې قسامت او دیت واجب کړې وو.([1]) حالانکه هغوی د خیبر مالکان نه وو.بلکه د ملکیت نه بغیر د هغه اوسیدونکی وو.ددې نه معلومه شوه.چه په غیرمالکانو باندې هم قسامت او دیت شته.

الجواب عنه > د دې نه جواب دا دې چه هغوی مالکان وو.نبی کریم ﷺ هغوی لره د هغوی په زمکو او جانداد ونو قائم ساتلې وو.او د هغوی نه به نې چه کوم څه وصولول.هغه به نې د خراج په طریقه اخستل.

وَهُوَعَلٰى اَهْلِ الْخِطَّةِ او دا قسامت به په اهل خطه وي دُوْنَ الْمُشْتَرِيْنَ په اخستونکو باندې به نه وي وَلَوْبَقِيَ مِنْهُمْ وَاحِدٌ اگرچې په اهل خطه کښې يو هم باقي وي

تشریح > د محلې خلق په چا چې قسامت واجبیږي په هغوی کښې څه خو هغه دي چا ته چې د مسلمانانو امام په وخت کښې د دې زمکې نه څه حصه ورکړې وه څه چې دا علاقه فتح شوې وه.دا اهل خطه دي.اوکه اهل خطه نه وي نو بیا به د هغوی اولاد وي.په هغوی به قسامت وي.اودویمه ډله د هغه خلقو ده چې چې دا زمکه اخستې وي.اوکورونه نې په کښې آباد کړي وي.

مسلک الطرفین > د طرفینو په نیز په به قسامت صرف په اهل خطه باندې وي په اخستونکو به نه وي تردې که په اهل خطه کښې صرف يو کس پاتې شوې وي او نور نه وي نو په هغه به قسامت واجب وي.

مسلک ابي یوسف > دامام ابویوسف په نیز به قسامت په اهل خطه او اخستونکو دواړه قسمه خلقو باندې وي.

په کشتئ کښې د موندلې شوی مقتول د قسامت حکم

وَاِنْ وُجِدَ الْقَتِيْلُ فِيْ سَفِيْنَةٍ اوکه مقتول په کشتئ کښې اوموندې شي فَالْقَسَامَةُ عَلٰى مَنْ نو قسامت به په هغه خلقو باندې واجب وي فِيْهَا کوم چه په کشتئ کښې دي مِنَ الرُّكَّابِ یعنی سوارلې وَالْمَلَّاحِيْنَ اوکشتئ چلونکی (مانړکی)

حل اللغة > ① **سفینة**: کشتئ ② **ملاحین**: جمع د ملاح ده د کشتئ چلونکي ،مانړکي.

تشریح > که مقتول په کشتئ کښې وي.نوکوم خلق چه په کشتئ کښې دننه دي.هم په هغوی باندې قسامت او دیت واجب دې.که هغوی سواره وي.که مالکان وي.او که مانړکي وي.ټول به ضامن وي.او د ریړې (خرگاډی) هم دغه حال دې.نو د بسونو به هم دا حال وي.

---

[1] تقدم تخریجه۔

دليله > په دوی باندې ځکه واجبيږي چې کښتئ هم د دوی په لاس کښې ده .نومعلومه شوه چې دا هم دوی کړې دي.بل چا نه دي کړي.

د محلې په جمات کښې د موندلې شوي مقتول د قسامت مسئله

(وَإِنْ وُجِدَ فِي مَسْجِدِ مَحَلَّةٍ او که مقتول د محلې په جمات کښې اوموندې شو فَالْقَسَامَةُ عَلَى أَهْلِهَا نو قسامت به د محلې په خلقو وي

تشريح > د محلې د جمات حفاظت او تدبير د محلې د خلقو فريضه ده.نو که د محلې په جمات کښې څوك مقتول اوموندې شو.نو قسامت او ديت به د محلې په خلقو واجب وي.

دليله > ځکه چې دجمات انتظامات وغيره هم د دوی سره تعلق ساتي.اوهم د دوی په محله کښې دې نو قسامت او ديت به هم په دوی وي.

په جامع جمات يا په عامه لاره کښې د موندلې شوي مقتول د قسامت حکم

وَإِنْ وُجِدَ فِي الْجَامِعِ أَوِ الشَّارِعِ الْأَعْظَمِ او که مقتول په جامع جمات يا په عامه لاره کښې اوموندې شي فَلَا قَسَامَةَ فِيهِ نو په دې کښې قسامت نشته وَالدِّيَةُ عَلَى بَيْتِ الْمَالِ او ديت په بيت المال باندې دې

حل اللغة > ① **الشارع الاعظم:** لاره لويه

تشريح > که په جامع جمات کښې يا په عامه لاره کښې مقتول اوموندې شو.نو په دې صورت کښې قسامت نشته.او ديت به د بيت المال نه ادا کولې شي.

دليله > ځکه چه هيڅ څوك سرې يواځې د جامع جمات يا عامې لارې يا پل سره مخصوص نه دې.بلکه دا څيزونه د عامو مسلمانانو دپاره دی.او د بيت المال مال هم د عامو مسلمانانو دې.نو ددوی د مال نه به ديت ادا کولې شي.

په غير مملوکه ځنګل کښې د موندلې شوي مقتول د قسامت مسئله

(وَإِنْ وُجِدَ فِي بَرِّيَّةٍ اوکه مقتول په يو ځنګل کښې ملاو شی لَيْسَ بِقُرْبِهَا عِمَارَةٌ چه دې ته نيزدې هيڅ آبادي نه وی فَهُوَ هَدَرٌ نو دا فضول ده

حل اللغة > ① **برية:** ځنګل

تشريح > که مقتول په يو داسې ځنګل کښې ملاو شی.چه دا دچا مملوك نه وی.نو په هيڅ چا قسامت او ديت نشته.بلکه دده وينه عبث ده.

په هدايه کښې ئې دا تفصيل کړې دې چې په دې شرط چه دې ځنګل سره هيڅ آبادي نه وی.چه ددې ځنګل نه هغه آبادئ ته آواز اورسيږي.ځکه چه هرکله دې ته نيزدې داسې آبادي نشته.نو ده له هيڅ څوك فرياد پوره کونکې نشي راتلې.او په نه راتلو کښې د هيڅ يوکس د طرفه کوتاهي نشته.خو که دا ځنګل د چا مملوك وی .بيا به ددې ځنګل د مالك په عاقله باندې ديت واجب وی.

د دوو کلو په منځ کښې د موندلې شوي مقتول د قسامت حکم

وَإِنْ وُجِدَ بَيْنَ قَرْيَتَيْنِ او که مقتول د دوو کلو په منځ کښې ملاو شی كَانَ عَلَى أَقْرَبِهِمَا نو د ديت وجوب به په دوی کښې زيات نيزدې والا باندې وی

حل اللغة > ① **قريتين:** تثنيه د قرية، کلي

تشریح ﴿ که مقتول ددووکلوپه منځ کښې ملاو شی.نوکوم(کلي)چه دې خاني ته نیزدې وی.دهغې اوسیدونکو باندې به قسامت او دیت واجب وی.

دلیله ﴿ ځکه چه ددې خاني مدد هم ددوی فریضه ده.نو هم دوی طرف ته کوتاهی راګرځولې شوې ده.په دې وجه به دوی ددیت ذمه دار وی.

وَإِنْ وُجِدَ فِي وَسَطِ الْفُرَاتِ او که مقتول د فرات دریاب په منځ کښې ملاو شی يَمُرُّ بِهَا الْمَاءُ چه دا اوبه اوړی فَهُوَ هَدَرٌ نو دا عبث دی

تشریح ﴿ اوکه مقتول د فرات دریا په غاړه نه بلکه په منځ کښې ملاو شی.چه د اوبو چپې خان سره اوړی وی.نو دده دیت به په هیڅ چا هم واجب نه وی.

دلیله ﴿ ځکه چه دا د هیڅ چا په قبضه کښې نه دې.او د فرات لاندې (په حکم کښې) هر هغه دریاب داخل دې. کوم چه د چا په ملکیت کښې نه وی.

د لوئې دریاب په غاړه د راګیرشوی مقتول د دیت او قسامت مسئله

وَإِنْ كَانَ مُحْتَبَسًا بِالشَّاطِئِ اوکه مقتول د فرات (دریاب) په غاړه راګیرشوې وی فَهُوَ عَلَى أَقْرَبِ الْقُرَى مِنْ ذَلِكَ الْمَكَانِ نو دا (وجوب د دیت) به دې خاني ته نیزدې کلي والو باندې وی

حل اللغة ﴿ ① **محتبس:** راګیرشوې،بندشوې ② **الشط:** غاړه

تشریح ﴿ که مقتول د لوئې دریاب په غاړه راګیر شوې دې.نو کوم کلي چه دې خاني ته نیزدې وی.هم په هغوی به دیت واجب وی.

دلیله ﴿ ځکه چه ددې خاني مدد هم ددوی فریضه ده.نو هم دوی طرف ته کوتاهی راګرځولې شوې ده.په دې وجه به دوی ددیت ذمه دار وی.

د مقتول ولی د محلې د خلقو نه علاوه په بل سړی باندې دعوه کول

وَإِنِ ادَّعَى عَلَى وَاحِدٍ مِنْ غَيْرِهِمْ اوکه ددوی نه په علاوه کښې په یوکس باندې ولی د قتل دعوه اوکړله سَقَطَتْ عَنْهُمْ نو د محلې د خلقو نه به قسامت ساقطیږی

تشریح ﴿ که د مقتول ولی د محلې د خلقو نه علاوه په بل یوکس باندې د قتل دعوه اوکړله.نو اوس د محلې په خلقو نه قسامت شته.او نه دیت شته.

دلیله ﴿ هرکله د محلې په خلقو قسامت واجبیږی.نو دا ددې خبرې دلیل وی.چه قاتل هم ددوی نه یوکس دې.نو هرکله چه ولی د محلې په خلقو کښې یوکس متعین کړو.نو خبره اوس هم هغه شان شوه.ځکه چه وړاندې هم د محلې خلق قاتل شمار کړې شوی وو.او هرکله ئې چه په دوی کښې یوکس متعین کړو.نو تقدیراً اوس هم هغه شان قاتل دی.ځکه په دوی ضروری وه.چه دوی د قاتل لاس نیولې وې.او هغه ئې ظلم ته نه وې پریخودې.

د قاتل معلومولو دپاره د قسم خوړلو په جواب کښې د.. فلانی سړی خودلو.. حکم

وَإِذَا قَالَ الْمُسْتَحْلَفُ او کله چه یو قسم خوړونکی اووئیل قَتَلَهُ فُلَانٌ چه مقتول فلانی قتل کړې دې اُسْتُحْلِفَ بِاللَّهِ نو هغه ته به داسې قسم ورکولې شی مَا قَتَلْتُ چه ۀ خدائې قسم ما نه دې قتل کړې وَلَا عَرَفْتُ لَهُ قَاتِلًا غَيْرَ فُلَانٍ .او نه زه د فلانی نه علاوه بل څوک قاتل پیژنم

تشریح ﴿ کله چه د یو مقتول په باره کښې د یوکس نه قسم واخستلې شو.نوهغه داسې اووئیل.چه دا

فلاني سړی قتل کړې دې.نو اوس هم دا قسم پوره نشو.

دليله ځکه کيدې شي.چه فلانی قتل کړې وی.خوهغه سره دې پخپله هم شريك وی.يا مثلاً دده پلار شامل وی.چه هغه (پلار په قسم کښې) ده پريخودې وی.نو د قسم پوره کولو دپاره به اوس ده ته داسې قسم ورکولې شی.يعنې هغه به داسې وائي. چه (بالله ماقتلتُ ولاعرفتُ له قاتلاًغيرفلان)

وَإِذَاشَهِدَاثْنَانِ مِنْ أَهْلِ الْمَحَلَّةِعَلٰى رَجُلٍ او کله چه د محلې په خلقو کښې دوو سړو د داسې سړی خلاف ګواهي ورکړله مِنْ غَيْرِهِمْ چه هغه ددوی څنې نه دې أَنَّهُ قَتَلَ چه هغه دا مقتول قتل کړې دې لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمَا نو ددوی شهادت به نشی قبلولې

تشريح د محلې دوو سړو د داسې سړی په باره کښې ګواهي ورکړله.چه هغه ددوی د محلې نه دې.چه هغه مقتول قتل کړې دې.نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به دا ګواهي نشی قبلولې.

دليله دليل دادې.چه ددې خلقو کوتاهي خو ضرور ده.ځکه چه قتل ددوی په محله کښې شوې دې.په دوی حفاظت واجب وو.نو ددی دکوتاهئ په وجه دوی د قاتلانو په درجه کښې راغلی دی.او خصم جوړ شوی دی.خو اتفاقی خبره دا ده.چه اوس ولی په غير باندې د قتل دعوه اوکړله. چه په دې وجه دا خلق د خاصمانو په فهرست کښې نه دی.خو د رومبئ شبهې په وجه به ددوی شهادت نشی قبلولې.او دوی به داسې ګنړلې شی.لکه چه يوکس د چا وصی دې.خو اوس هغه د بچی د بالغ کيدو په وجه د وصی کيدو نه خارج شو.او اوس هغه ددې بچی ګواه دې.نو اوس به هم دده ګواهي نشی قبلولې.دغه شان حکم به دلته هم دې.

مسلك الصاحبين د صاحبينو رحمهماالله په نيز به دا ګواهي قبلولې شی. ([1])

دليلهما دليل دا دې.چه د محلې خلق اګرچه په نشانه وو.چه هم دا خلق خصم جوړ شی.خو اوس چه کله ولی د مقتول ددوی نه په علاوه باندې دعوه اوکړله.نو اوس ددوی په نښه باندې کيدل باطل شو.نو اوس ددوی په شهادت کښې هيڅ شبهه پاتې نشوه.او دا بالکل داسې اوګنړئ.لکه چه د يوکس څوك وکيل بالخصومت وی.نوهغه د خپل مؤکل ګواه نشی جوړيدې.خو که مؤکل هغه د خصومت نه وړاندې د وکالت نه معزول کړې وی.نو اوس هيڅ شبهه پاتې نشوه.نو اوس به دهغه ګواهي قبلولې شی.نو دلته به هم دغه شان کيږی.

كِتَابُ الْمَعَاقِلِ

ترجمه (دا) کتاب د معاقلو (خلقو په بيان کښې) دې.

تشريح وړاندې د دياتو بيان وو.او په دې کښې به د هغه خلقو بيان کولې شی.په کومو چه ديت واجبيږی. دلته اصل عبارت داسې دې.،،کتاب أهل المعاقل،، او اهل معاقل، عواقل دی.خو د عامو مصنفينو دا عادت دې.چه دوی دا په حذف د مضاف سره بيانوی.

[1] القول الراجح هوهذا قول الصاحبين رحمهما الله كذا في كشف الأسعار(٢\٣١٣) والهندية (٦\٧٩) نقلا عن القول الراجح (٢\٣٦٨)-

په عاقله باندې څوم څوم دیت لازمیږي ددې سبب او دلیل

الدِّيَةُ فِي شِبْهِ الْعَمْدِ وَالْخَطَإِ دیت په شبهٔ عمد او په خطاء کښې دې وَكُلُّ دِيَةٍ وجبت بِنَفْسِ الْقَتْلِ عَلَى الْعَاقِلَةِ او هرهغه دیت کوم چه د نفس قتل په وجه واجبیږي.هغه په عاقله باندې دې

تشریح ﴿ هرهغه دیت کوم چه د نفس قتل په وجه واجبیږي.یعنی د دم عمد نه د مصالحت په وجه او د پلار کیدو په وجه نه واجبیږي(یعنی چه قاتل پلار وی.نو په دې صورت کښې دیت صرف په پلار باندې دې.په عاقله باندې نه دې) بلکه د نفس قتل په وجه واجبیږي. یعنی په دې باندې د قتل موجب دیت وی.که هغه قتل شبه عمد وی.اوکه قتل خطاء وی.نو داسې دیت به پخپله قاتل باندې واجب نه وی.بلکه دده په مددګار خاندان باندې به واجب وی.او د دیاتو تفصیل به ، ،کتاب الدیات،، کښې تیر شوې دې.

دلائل ﴿ ① دحمل بن مالك دوه ښځې وې.په دوی کښې یوې دویمه د خیمې په لرګی باندې اووهله.چه په دې سره د هغې حمل ساقط شو.او پخپله هم مړه شوه.په دې باندې نبی کریم ﷺ د ضاربه (کومې ښځې چه وهل کړې وو د هغې) اولیاو ته حکم اوفرمائیلو.چه ددې دیت اداکړی. (١)

② عقلی دلیل دا دې چې د مقتول نفس محترم دې. چه دا عبث نشی ګرځولې کیدې.او خاطی هم معذور دې.که خطاء سره قتل شوې وی.بیا هم معذور دې .او په شبه عمد کښې هم معذور دې.ځکه چه دلته د آلې استعمال د تادیب دپاره وو.هغه اتفاق سره مړ شو.بهرحال دواړو صورتونو کښې قاتل معذور دې.بیا هم که په قاتل باندې عقوبت (سزا) واجب کړې شی.او هغه هم پوره دیت، نو د قاتل بربادی او هلاکت یقینی دې.په دې وجه به د آسانتیا دپاره دده سره عاقله ملاوولې شی.چه قاتل د تباهۍ نه بچ شی.

د عاقله مصداق

وَالْعَاقِلَةُ أَهْلُ الدِّيوَانِ إن كَانَ الْقَاتِلُ مِنْ أَهْلِ الدِّيوَانِ او عاقله اهل دیوان دی.که قاتل د اهل دیوان څخې وی

تشریح ﴿ دیت په عاقله باندې د مدد په بناء واجبیږي.اوس ضرورت راپیښ شو.چه مددګار کوم خلق دی.او هغه کوم خلق دی.چه هغوی ته عاقله وئیلې شی.نو په دې کښې ړومبی نمبر کښې اهل دیوان دی.

يُؤْخَذُ مِنْ عَطَايَاهُمْ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ نو دیت به ددوی د عطایانو نه په دریو کالونو کښې اخستلې شی

حل اللغة ﴿ ① **عطایا** جمع د عطیة، ورکړه

تشریح ﴿ اوس سوال کیږی.چه اهل دیوان کوم خلق دی.نو ددې وضاحت ئې کړې دې.چه ددې حاصل دا دې.چه کوم خلق په فوج کښې بهرتی کیږی.نو د هغه نوم په سرکارې کاغذونو او رجسترو کښې لیکلې کیږی.بیا ددوی مختلفې کمپنۍ (یونټې) وی.او مختلف جماعتونه وی.او په جدا جدا رجسترو کښې ددوی نوم لیکلې شوې وی.یعنی د هرې کمپنۍ رجستر جدا جدا وی.نو کوم خلق چه د یوې کمپنۍ افراد دی.هغوی خپل منځ کښې د یو بل عاقله دی.ځکه که په دوی کښې یوکس ته څه حادثه راپیښه شی.نو هغه به د خپلو ملګرو نه مدد طلب کوی.نوکه په دوی کښې د یوکس نه څه داسې کار اوشی.چه

(١) اخرجه الطبرانی فی معجمه (نصب:٥/١٦٠)۔

هغې سره ديت واجب شي .نو هغه به هم په دې اهل ديوان باندې واجب وي.او ديوان په معنى د رجستر دی.يعنى دده د كمپنۍ په خلقو باندې، (١)

دليله په اهل ديوان باندې د ديت په وجوب باندې د صحابو ﷺ اجماع ده.ځكه چه كله حضرت عمرفاروق ﷺ رجسترونه مدون (او رائج) كړل.نو په اهل ديوان باندې ئې ديت مقرر كړو.او دوى دا كار د صحابو ﷺ په موجودګۍ كښې كړې دې.چه په دې كښې هيڅ يو صحابى نكير اونكړو.

دلائل التقدير بثلاث سنين ① پاتې شوه دا خبره چه ديت ادا كول په دريو كالو كښې ولې دى؟ نو ددې وجه دا ده.چه دا د نبى كريم ﷺ نه نقل دى. (٢)

② دحضرت عمر ﷺ نه منقول دى. (٣)

③ چونكه دا سركارى انعامونه په يو كال كښې يوځل وركولې شي.اودعطياتو نه ديت اخستل د آسانتيا په غرض سره دى.نو د آسانتيا تقاضه دا شوه.چه قسطوار به په دريو كالو كښې ديت وصولولې شي.

دديت ادا كولو طريقه او موده

فَإِنْ خَرَجَتِ الْعَطَايَا فِي أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثِ سِنِينَ نوكه درې عطايانې د دريو كالو نه په زياته كښې يا په كم كښې اووتل أَوْ أَقَلَّ أُخِذَ مِنْهَا نو ديت به هم ددې نه اخستلې شي.

تشريح عام طور به داسې كيدل.چه د ماهانه رزق او مياشت په مياشت تنخواه نه علاوه چه به فوج ته كوم سالانه انعام ملاويدو.هغه به په يو كال كښې يوځل وركولې شو.نو ددې نه به د هر كال په عطايانو كښې د ديت ثلث وصولولې شو.چه په دريو كالو كښې پوره ديت ادا كړې شي.خو كه دا عطايانې د دريو كالو په ځانې شپږو كالونو كښې ملاو شي.نو بيا به په شپږو كالونو كښې ديت وصولولې شي.يعنى كال په كال به ٦\١ وصولولې شي.اوكه اتفاق سره د دريو كالو عطايانې په يو كال كښې وركړې شي.نو پوره ديت به هم ددې يو كال عطايانو نه وصولولې شي.

دليله ځكه مقصود خودا وو.چه كوم ديت وصول شي.هغه ددوى د عطايانو نه وصول شي.او دلته هم دغه شان ده.

لحاظ امرين خو دا كومې عطايانې چه اوس ملاو شوى دى.په دې كښې به د دوو خبرو لحاظ ساتلې كيږى ① په دې كښې به ديت هغه وخت واجب وى.كله چه قاضى په اهل ديوان باندې د ديت د وجوب فيصله وركړله .نو د قاضى د حكم نه پس به دا عطايانې مجاهدينو ته ملاوشوى وى.

② دا عطايانې د راروانو كالونو دپاره پيشګى وركړې شوى وى.وجه ددې دا ده.چه په عاقله كښې كلام دې.نو ددې تعين به د قاضى د قضاء په ذريعه كيږى.نوكه د تيرو شوو كالونو عطايانې بندې شوې وې.او د قاضى د قضاء نه روستو عطايانې وركړې شوى وى.نو ددې عطايانو نه به ديت نشى اخستلې.ځكه چه دويم شرط موجود نه دې.

---

(١) **مسلك الشافعي**:-د امام شافعى ﷺ په نيز به اهل ديوان باندې ديت نه واجبيږى. بلكه دديت وجوب به د خاندان په خلقو باندې وى.

(٢) قال الزيلعي ﷺ تقدم تخريجه في باب الجنايات (نصب: ٢٠٧\٥)۔

(٣) اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه (نصب:٨٥\٥)۔

كه څوك اهل ديوان نه وي نو ده عاقله به څوك وي؟

وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ الدِّيوَانِ او څوك چه د اهل ديوان څښې نه وي. فَعَاقِلَتُهُ قَبِيلَتُهُ نو د هغه عاقله د هغه قبيله ده

حل اللغة ① الديوان: رجستر]

تشريح كه يوكس د اهل ديوان څښې نه وي.نو ده عاقله به ده قبيله او ده خاندان وي.

دليله څكه چه ده مددګار ده خاندان وي.او د مدد په بنياد باندې د عاقله كيدو مدار دې.

د ديت طريقه

تُقَسَّطُ عَلَيْهِمْ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ ديت به په قبيله باندې دريو كالو كښې تقسيمولې شي لَا يُزَادُ الْوَاحِدُ عَلَى أَرْبَعَةِ دَرَاهِمَ فِي كُلِّ سَنَةٍ هركال كښې به د يو يا څلورو درهمو نه زيات نشي اخستلې درهم ودانقان يو درهم اودوه دانقه وَيُنْقَصُ مِنْهَا .او ددې نه كمولې هم شي

حل اللغة دانق د يودرهم شپږمه حصه ده.او دوانق ئې جمع ده.

تشريح كله چه په قبيلې والو باندې ديت تقسيم كړې شي.نو په دې كښې به دا خيال ساتلې شي.چه پوره ديت به ددوى نه په دريو كالو كښې قسط وار وصولولې شي.او په كال كښې به د هر يو نه صرف يو درهم ا خستلې شي.چه مجموعه درې شي.يا به دهريو نه يودرهم او د يو درهم دريمه اخستلې شي.چه مجموعه څلوردرهمه شي.څكه چه د هيڅ يوكس نه د څلورو درهمو نه زيات اخستل جائز نه دي.اګرچه د كمولو ګنجائش شته.خو د زياتو نشته.د صاحب قدورى د عبارت نه په ظاهره دا معلوميږى چې په دريو كلونو كښې د هريو نه د څلورو درهمو نه زياتې هم اخستې شي.خو اصح قول هم هغه دې كوم چې مونږ په تشريح كښې بيان كړو.

كه د عاقله قبيله د ديت دپاره كافي نه وي نوڅه حكم دې ؟

وَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَتَّسِعُ الْقَبِيلَةُ لِذَلِكَ او كه قبيله ددې دپاره كافي نه وي ضُمَّ إِلَيْهِمْ أَقْرَبُ الْقَبَائِلِ إِلَيْهِمْ نو د نسب په اعتبار سره به په قبيلوكښې زياته نيزدې ددوى په طرف ملاوولې شي

حل اللغة ① تتسع: كافي كيږى]

تشريح كومه قبيله چه ده عاقله شمار كړې شوې وه.هغه د ديت ادا كولو دپاره كافي نه ده.نو دريمه قبيله به ددوى په طرف ملاوولې شي.كومه چه د نسب په اعتبار سره دوى ته نيزدې وى.

دليله څكه چه عاقله باندې د ديت وجوب د سهولت په غرض سره دې.او سهولت په دې كښې دې.كوم چه مونږ بيان كړل.چه په يو سړى باندې په پوره ديت كښې د څلورو درهمو نه زيات رانشي.نو د اقرب فالاقرب په لحاظ سره به قبيلې ملاوولې شي.او د ا لاقرب فالاقرب هم هغه ترتيب دې.كوم چه د عصبياتو ترتيب دې.يعنى رومبې به د قاتل رونړه ملاوولې شي. بيا به د رونړو خامن، بيا ترونه، بيا د ترونو خامن وغيره ....(وقد بينا ترتيب العصبيات مفصلاً في درس السراجي)

قاتل هم عاقله كښې داخل دې اوكه نه؟

وَيَدْخُلُ الْقَاتِلُ مَعَ الْعَاقِلَةِ او عاقله سره به قاتل داخلولې شي فَيَكُونُ فِيمَا يُؤَدِّي كَأَحَدِهِمْ نو قاتل به په هغه ديت كښې كوم چه ادا كړې شوې دې.په عاقله كښې به د يوكس پشان شي

تشريح چرته چه عاقله باندې ديت واجب وى.هلته د عاقله يو فرد چه هغه پخپله قاتل دې.په ديت ادا

كولو كښې به شريكيږي.اودې به د قبيلې د يو فرد پشان شمارلې شي.([1])
دليله> دليل دا دې. چه جرم دې قاتل اوكړې.او راګيرى دې بل څوك، دا كوم انصاف دې؟ په دې وجه به قاتل هم د عاقله سره شريك وى.او په ده باندې پوره ديت ځكه نه دې واجب كړې شوې. چه دې په پريشانۍ كښې مبتلا نشى.او د دريو، څلورو درهمو په ادا كولو كښې به دده سا نه اوخى.(يعنى هيڅ پريشانى نه ده).

د آزاد شوى غلام عاقله به د آقا قبيله وى

وَعَاقِلَةُ الْمُعْتَقِ قَبِيلَةُ مَوْلَاهُ)او د معتق عاقله دده د آقا قبيله ده

تشريح> د آزاد كړې شوى عاقله معتق (آزادونكې) او ددې معتق خاندان دې.
دليله> ځكه چه دې به هم ددوى نه مدد طلب كوى.اوپه دې حديث د مذكوره حديث **مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْهُمْ** ([2])سره هم د دې تائيد كيږى.

د مولى الموالاة عاقله به د مولا خاندان وى

وَمَوْلَى الْمُوَالَاةِ يَعْقِلُ عَنْهُ مَوْلَاهُ وَقَبِيلَتُهُ)امام قدورى رحمه الله اوفرمائيل.او مولى الموالات، دده د طرفه به دده مولا او دده قبيله ديت ادا كوى

تشريح> كه په دوو سړو كښې عقد موالات قائم وى.او دده نه خطاء اوشوه.نو ددې ديت به دده مولا او دده د مولا خاندان ادا كوى.
دليله> ځكه چه لكه څنګه ولاء عتاقه خپل منځ كښې د امداد كولو ذريعه ده.دغه شان ولاءِ موالات هم خپل منځ كښې د امداد كولو ذريعه ده.د هداية په دريم جلد كښې په ،، كتاب الولاء،، كښې تير شوى دى.

عاقله به د څومره جرمانې لازميدو په صورت كښې ذمه دار وى؟

وَلَا تَتَحَمَّلُ الْعَاقِلَةُ أَقَلَّ مِنْ نِصْفِ عُشْرِ الدِّيَةِ او عاقله به د ديت د نصف عشر نه كم ديت نه وركوى **وَتَتَحَمَّلُ نِصْفَ الْعُشْرِ فَصَاعِدًا** او عاقله به د نصف عشر يا د زيات برداشت كوى

حل اللغة> ① **تتحمل:** برداشت كوى ② **فصاعدا:** زيات]
تشريح> عاقله باندې د ديت وجوب ځكه شوې دې.چه قاتل په پريشانو كښې مبتلا نشى.او په پريشانۍ كښې مبتلا كيدل به هغه وخت وى.كله چه ديت زيات وى.اوكه كم وى.نو په پريشانۍ كښې به نه مبتلا كيږى.بيا په كم او زيات كښې حد په عقل سره نشى معلوميدې.بلكه دا خبره نص سره معلومه شوې ده.
قدرالضمان> نص دا خودلې ده.چه د نصف عشر نه كم يعنى كه د پوره ديت د شلمې حصې نه هم كم ديت واجب وى.نو دا به عاقله نه ادا كوى.بلكه دا به قاتل اداكوى.البته كه شلمه حصه يا ددې نه زيات مقدار ديت واجب وى.نو دا به كثير شمارلې شي.او ديت به په عاقله باندې واجب وى.
دليله> دلته د ابن عباس رضي الله عنهما حديث دې.چه دا موقوفاً او مرفوعاً دواړه شان نقل دې.په دې كښې پنځه

[1]) **مسلك الشافعي:**-د امام شافعى رحمه الله په نيز به نه شريكيږى.
[2]) تقدم تخريجه فى الزكاة وغيرها)ـ

څيزونه فرمائيلي شوي دي: ① د قتل عمد ذمه داري په عاقله باندې نه ده.،، کمامر، ② که غلام قتل کړې وي.نو ددې ذمه داري د آقا په خاندان باندې نه ده.بلکه د جنايت ولي ته به دا غلام ورکولې شي. ③ که قاتل عمدا قتل کړې وي.او قاتل د مال په اداکولو مصالحت کړې وي.نو دا مال به په عاقله باندې واجب نه وي.بلکه د قاتل په مال کښې به واجب وي. ④ که قاتل پخپله د قتل اقرار کړې دې.او عاقله ددې تکذيب اوکړي.نو په عاقله به ديت واجب نه وي. ⑤ د موضحه د ارش نه کم چه کوم مالي تاوان واجبيږي.دا به عاقله نه ورکوي.بلکه ددې وجوب به د قاتل په مال کښې وي.او وړاندې تير شوي دي.چه په موضحه کښې نصف عشر يعني شلمه واجبيږي.نو معلومه شوه.چه ددې نه د کم به عاقله برداشت کونکي (او اوچتونکي) نه وي.

د جنايت کم مقدار.او د جنايت کونکي په مال کښې به د ديت فيصله کله کولې شي؟

وَمَانَقَصَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُوَفِي مَالِ الْجَانِي اوکوم چه ددې نه کم وي.هغه به د مجرم په مال کښې وي

تشريح ﴿ د نصف عشر نه چه کوم کم دې.هغه په عاقله باندې واجب نه دې.بلکه د قاتل په مال کښې واجب دې.

دليله ﴿ ځکه چه قياس دلته متعارض دې.يو قياس غواړي.چه د قليل او کثير په منځ کښې فرق کولو نه بغير ټول ديت په عاقله باندې واجب وي.او دويم قياس غواړي.چه په عاقله باندې بالکل واجب نه وي.بلکه ټول په قاتل باندې واجب وي.په دې وجه مونږ قياسونه پريخودي دي.او نص باندې مو عمل کړې دې.او د مذکوره نص نه صفا معلومه شوه.چه د نصف عشر نه د کم ذمه دار قاتل دې.او دويم حديث دا هم دې.چه نبي کريم ﷺ عاقله باندې د جنين ارش واجب کړو.چه دا د سړي د ديت ۲۰۱۱ دې.نو کوم مقدار چه ددې نه کم وي.دا به د مالونو په درجه کښې اېښودې شي. لکه څنګه چه د مال ضمان تقويم سره واجبيږي.دغه شان د نصف عشر نه کم تحکيم سره واجبيږي.نو دا به د مجرم په مال کښې واجبولې شي.

عاقله د کومو کارونو د جنايت برداشت نشي کولې ؟

وَلَاتَعْقِلُ الْعَاقِلَةُ جِنَايَةَ الْعَبْدِ او عاقله به د غلام د جنايت ديت نه ادا کوي.

تشريح ﴿ که غلام څوک په غلطۍ سره قتل کړونو د هغه ديت به د غلام د قيمت په حساب سره وي اوپخپله به مولى ته اختيار وي چې غلام ولي د جنايت ته حواله کوي او يا مولى دده ديت ورکړي اوغلام خان سره اوساتي مولى يا د مولى خاندان به دده ديت نه ورکوي که غلام آزاد شي نو بيا به د مولى خاندان دده ديت ورکوي.

وَلَاتَعْقِلُ الْجِنَايَةَ الَّتِي او عاقله به دهغه جنايت ديت نه ورکوي اِعْتَرَفَ بِهَا الْجَانِي دکوم چې جنايت کونکي اقرار کړې وي اِلَّااَنْ يُصَدِّقُوْهُ خو دا ده که عاقله ئې تصديق اوکړي.

تشريح ﴿ که قاتل دا اووئيل چې د مقتول دومره مال زما په ذمه دې نو دا مال به د قاتل قبيله نه ادا کوي خوکه عاقله دده تصديق اوکړي چې واقعي د مقتول مال ستا په ذمه دې.اومونږ دا په خوشحالۍ سره ادا کوو.نو دوی ئې ادا کولې شي.

دليله ﴿ د سړي اقرار هم په هغه باندې لازميږي په بل چا باندې نه، د دې وجې د جانې اقرار به عاقله باندې حجت نشي جوړيدې.البته چې عاقله په خپله د ده تصديق اوکړي نو بيا به ئې ادا کوي ځکه چې په

عاقله باندې د جاني اقرار نه لازمول د عاقل د حق د پاره وو اوهر کله چې عاقلې پخپله د ورکولو رضا ښکاره کړه نو خبره ختمه شوه.

وَلَا يَعْقِلُ مَا لَزِمَ بِالصُّلْحِ او عاقله به نه ورکوي هغه مال کوم چې لازم شوې وي په صلح کولو سره

تشریح > نفس مسئله آسانه ده.

دلیله > دا عدم لزوم خکه دې چې جاني په عاقله باندې ولایت کمزوری دې. نو دې په خپله صلح باندې په هغوی د یو مال لازمول نشي کولې

وَإِذَا جَنَى الْحُرُّ عَلَى الْعَبْدِ جِنَايَةً خَطَأً كَانَتْ عَلَى عَاقِلَتِهِ او کله چې قتل کړي آزاد سړې غلام لره په قتل خطاء سره نو وي به دیت په عاقله د آزاد سړي باندې

تشریح > که یو آزاد سړي په خطاء سره غلام قتل کړو. نو په دې صورت کښې به دیت د قاتل په عاقله باندې وي.

دلیله > خکه چې دا دیت د نفس په بدله کښې دې کوم چې په دقتل خطاء په وجه واجبیږي. او د بدل نفس وجوب په عاقله باندې وي.

كِتَابُ الْحُدُودِ

تشریح > **الحد لغة** > په لغت کښې حد منع کونکی ته وائي. ددې وجې دربان ته حذاد وائي. (خکه چه هغه خلق د دننه تلو نه منع کوي)

الحد شرعاً > په شریعت کښې حد هغه سزا ته وائي. چه هغه صرف د الله تعالی دحق دپاره مقرر شوې وي. تردې چه قصاص ته هم حد نشي وئیلې. خکه چه دا د بندګانود حق اخستلو دپاره دې. (ددې وجې ولي ته د قصاص معاف کولو اختیار شته) اوتعزیرته هم حد نشي وئیلې. خکه چه هغه مقدرنه وي. یعنی دهغې څه حد نه وي مقرر. چه په هغې کښې کمې زیاتې نشي کیدې. (بلکه قاضی ته دکمی اوبیشی اختیار حاصل وي)

د زنا د ثبوت طریقه

الزِّنَا يَثْبُتُ بِالْبَيِّنَةِ وَالْإِقْرَارِ

ترجمه > ابوالحسن قدوري رحمه الله فرمائي. چه د زنا ثبوت په ګواهانو سره کیږي. اوپه اقرار کولو سره.

تشریح > اود ثبوت نه مراد داسې ثبوت دې. کوم چه د وخت دامام مخامخ وي. خکه چه ګواهي یوظاهري دلیل دې. اوداقرار هم دا حکم دې. خکه چه په اقرار کښې هم رښتیا غالب وي. بیا خاص کردکوم څیزپه ثبوت کښې چه نقصان اوشرم وي. او دمسئلې حقیقي علم ته رسیدل ناممکن وي. نوخکه صرف په ظاهر باندې اکتفاء کولې شي. تفصیل به روستو راشي.

دګواهئ طریقه کار

فَالْبَيِّنَةُ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَةٌ مِنَ الشُّهُودِ عَلَى رَجُلٍ أَوِ امْرَأَةٍ بِالزِّنَا

ترجمه > ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي. دګواهئ ورکولو صورت به دا وي. چه په ګواهانو کښې خلور کسان په یو سړي اوښځه باندې د زنا ګواهي ورکړي.

تعریح﴾ دلائله﴾ ① دالله تعالی ددې فرمان د وجې چه «فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ» یعنی په داسې بنځویاندې دخپلو سړو نه څلورګواهان اولټوئ.

② اوالله تعالی دا هم فرمائیلی دی.«ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ» بیا که دغه خلقو څلورګواهان قائم نکړل.

③ اورسول الله ﷺ په هغه سړی باندې چا چه په خپله بنځه باندې د زنا تهمت لګولې وو.داسې فرمائیلی وو.ته داسې څلورسړی راوله.څوك چه ستا په خبره باندې ګواهی ورکړی.(۱)

④ دڅلورو سړو په شرطیت کښې د پرده پوشۍ معنی پرته ده.اوپرده اچول بوداسې کاردې.چه ددې ترغیب ورکړې شوې دې.اوفحش اودبې حیائې خبرې ته شهرت ورکول ددې پرده پوشۍ دعمل نه خلاف دی.

دلیله﴾ روایت دحضرت ابوهریره اوابن عمر ؓ نه نقل دې.چه کوم مسلمان دبل مسلمان پرده واخستله.نوالله تعالی به په دنیا اوآخرت کښې دده پرده واخلی.ترمذی ابوداود اونسائی ددې روایت کړې دې.

د زنا تحقیق کول

(وَإِذَا سَأَلَهُمُ الْإِمَامُ عَنِ الزِّنَا مَا هُوَ وَكَيْفَ هُوَ وَأَيْنَ زَنَى وَمَتَى زَنَى وَبِمَنْ زَنَى؟)

ترجمه﴾ اوکه دغه ګواهان په زنا باندې ګواهی ورکړی.نوبیا به امام دهغوی نه د زنا په باره کښې تپوس کوی.چه زنا څه څیزدې.اوپه کومه طریقه کیږی.اوپه کوم محل کښې کیږی.اوده زنا په کوم ځائې کښې کړې ده.اوکله ئې کړې ده.اوچا سره ئې کړې ده.

تشریح﴾ دلائله﴾ ① څکه چه رسول الله ﷺ د حضرت ماعزبن مالك ؓ نه د زنا کیفیت ،اودکومې ښځې سره چه ئې زنا کړې وه.ددې ټولوخبروپه باره کښې تپوسونه کړی وو.لکه څنګه چه ابوداود ددې روایت کړې دې.(۲)

② په داسې قسم سوالونوکښې احتیاط ددې وجې واجب دې.چه کیدې شی.دې کس په فرج کښې دځه کولوپه ځائې څه بل څیز مراد اخستې وی.مثلاً نظربازی(کتل راکتل) کوکې اخستل،ئې زنا ګنړلې وی.یا ده په دارالحرب کښې زنا کړی وی.یا په پخوا زمانه کښې ئې کړې وی.یا دکومې ښځې سره چه ئې زنا کړې وی.هلته داسې څه شبه وی.چه دهغې دوجې حد ساقط کیدې شی.حالانکه هغه په خپله دا نه پیژنی. (چه په دې باندې حد ساقطیږی) مثلاً چه یوکس دخپل خوئې د وینځې سره وطی اوکړله.(نوپه دې صورت کښې حد نه جاری کیږی) خلاصه دا چه ددې ټولو خبروپه باره کښې به امام ښه تحقیق اومعلومات اوکړی.کیدې شی.چه په دې طریقه د حد ساقط کیدو څه موقع په لاس راشی.

ددې وضاحت دا دې.چه په کوم سړی باندې ګواهانو زنا ګواهی ورکړې وی.کیدې شی.چه هغوی ته دزنا پوره معنی معلومه نه وی.یوسړی یوه پردئ بنځه ښکل کړله.اوبیادیر وارخطا د نبی ﷺ په مجلس کښې حاضرشو.اوعرض ئې اوکړلو.یارسول الله ﷺ په مابانديې حد جاری کړه.نو رسول الله ﷺ

---

۱) غربه الزيلعي بهذا اللفظ ثم اخرج عدة احاديث ما هو بمعناه منها حديث انس بن مالك ؓ وعزاه الى ابي يعلى الموصلي ؒ نصب الراية ۴۷۸/۳۔

۲) من حديث نعيم بن هزال اخرجه ابوداود في الحدود تب ۷ رقم ۴۳۷۷ واحمد في المسند ۲۱۷/۵) والحاكم في المستدرك ۳۶۳/۴) والنسائي في السنن الكبرى ۳۰۶/۴) رقم ۷۲۷۴ والبيهقي في السنن الكبرى ۵۷۴/۸)۔

پرې حد جاري نکړلو.او ورته ئې اوفرمائيل.تا مونږ سره مونځ ا وکړو.هغه ورته عرض اوکړو.او.نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل.مونځ او اودس واړه ګناهونه معاف کوي.اوحد ئې پرې جاري نکړلو.
دغه شان که په دارالحرب کښې زنا اوکړي.نوپه هغه باندې حد نه جاري کيږي.دغه شان که ګواهانوپه يوکس باندې د زنا کولوګواهي ورکړله.اودا معلوميدله.چه په زنا باندې کافي موده تيره شوې دې.نوپه دې باندې زنا نه ثابتيږي.ځکه چه ګواهانودومره اوږده مودهٔ په ګواهئ کولوکښې روستوالې اوکړلو.اودشريعت حاکم ته ئې خبرورنکړلو.نوداکسان په خپله فاسقان شول.اوددې په وجه دوی دګواهئ ورکولوقابل پاتې نشو.يادغه شان که د يوې ښځې سره داسې حرکت اوکړي.اوهغه دده د خوې منکوحه وی.يا دده مملوکه وی.تردې چه هغه ګواه بلکه هغه سړې په خپله په دې باندې د زنا ګمان کوی.حالانکه د شريعت په نظرکښې په دې کښې داسې څه خبره موجود نه ده.چه په هغې باندې حد ساقط شي.نوځکه دټولوخبرومعلومات کول پکار دي.چه په غلطه طريقه حدجاري نشي.

(فَإِذَا بَيَّنُوا ذَلِكَ وَقَالُوا رَأَيْنَاهُ وَطِئَهَا فِي فَرْجِهَا كَالْمِيلِ فِي الْمُكْحُلَةِ وَسَأَلَ الْقَاضِي عَنْهُمْ فَعُدِّلُوا فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ حَكَمَ بِشَهَادَتِهِمْ)

حل اللغة ﴿ ① **ميل**:د رانجو سلائی ② **المكحلة**:رجرومه ③ **السر**:پټ ④ **العلانية**:ښکاره

ترجمه ﴿ بيا چه کله دغه ټول ګواهان ددې سرې د زنا کيفيت بيان کړي.اودا اووائي.چه مونږ فلانې سړې په داسې حالت کښې ليدلې وو.چه هغه خپله شرمګاه دفلانئ په ښځې په شرمګاه کښې داسې وردننه کړې وه.لکه ځنګه چه په رجرومه کښې سلئ ورداخلولې شي.بيا به قاضی ددغه ګواهان دحال په باره کښې معلومات اوکړي.نوچه په پټه اوبه ښکاره په هرحالت کښې ددوی عدالت معلوم شي.نوبيا به قاضی دهغوی په ګواهئ باندې فيصله اوکړي.

تشريح ﴿ يعنی د زنا اوحدودو په ګواهئ کښې به قاضی ددوی ظاهری عدالت (ظاهری شکل اوشباهت اودهغوی په اسلام باندې اکتفاء نه کوی.چه دحدنه جاری کيدو حيله پيدا شي.يعنی چه د ثابتيدو نه بچ شي.
دليله ﴿ د شريعت دا نظردې چې څومره کيدې شی حدود دفع کړې دې لکه ځنګه چې په حديث کښې راغلی دی.اِدْرَءُوا الْحُدُودَ مَا اسْتَطَعْتُمْ (۱)يعنی څومره کيدې شی حدود دفع کړئ
الاكتفاء بالظاهر في غيرالحدود ﴿ په خلاف د نوروحقوقوځکه چه په هغې کښې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزد دغه ګواهانوپه ظاهری عدالت باندې اکتفا کولې شي.خوپه دې شرط چه دويم فريق په دغه ګواهانوځه اعتراض نه کوی)اودګواهانود پټ اوښکاره عدالت په باره کښې به انشاء الله مونږ په کتاب الشهادات کښې بيان اوکړو.

داقرار کولو طريقه کار

وَالْإِقْرَارُ أَنْ يُقِرَّ الْبَالِغُ الْعَاقِلُ عَلَى نَفْسِهِ بِالزِّنَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فِي أَرْبَعَةِ مَجَالِسَ مِنْ مَجَالِسِ الْمُقِرِّ كُلَّمَا أَقَرَّ رَدَّهُ الْقَاضِي)

ترجمه ﴿ ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه په خپله داقرارکولوصورت به دا وی.چه عاقل بالغ په خپل ځان په څلورو مجلسونوکښې دزنا کولواقراراوکړي.اوهرځل چه اقرارکوی.نوقاضی به هغه رد کوی.

تشريح ﴿ **اشتراط العقل والبلوغ** ﴿ په دې مسئله کښې دمجرم په باره کښې دعاقل اوبالغ شرطونه ددې

۱) من حديث عائشة رضي الله عنها اخرجه الترمذی في الحدود باب ۲ رقم ۱۴۲۴ـ

وجې لګولې شوی دی.چه د ماشوم اولیونی اقرار معتبر نه دی.یا دا چه په دوی باندې حد نه واجبیږي.
اشتراط الاقرار اربع مرات › څلورځله به اقرارکوی (١)
دلیل اربع مرات › دلیل هغه حدیث دی.چه په هغې کښې دحضرت ماعزبن مالک رضی الله عنه قصه ذکر ده.چه رسول الله ﷺ په هغه باندې دحد په قائمولوکښې روستوالي اوکړلو.تردې چه دهغه څلور ځله په څلورو مجلسونوکښې اقراربرابرشو.ددې روایت امام بخاری، مسلم، ابوداود او نسائی رحمهماالله وغیره کړې دی.
الاستدلال › که د څلورو نه په کم مقدارکښې هغه اقراربښکاره کیدلو.په کوم چه حد لازمیدلو.نونبی ﷺ به د حد په جاری کولو کښې روستوالي نه کولو.ځکه چه حد به واجب شوې وو. (اوچه کله یوځیزواجب شی.نوپه هغې کښې تاخیر د پیغمبر ﷺ دشان سره نه ښائی)
اختلاف المجلس › دغه شان په اقرارکښې دمجلس اختلاف هم ضروری دې.
دلیله › ددې دلیل هغه حدیث دې.دکوم روایت چه مونږ وړاندې کړې دې.
کیفیة اختلاف المجلس › دمجلس دمختلف کیدو صورت به دا وی.چه هغه مجرم کله د قاضی په وړاندې اقرار اوکړی. نو قاضی به هرځل یعنی چه کله هم هغه اقرار کوی.قاضی به ئې رد کوی.تردې چه هغه لاړ شی.اودومره لرې شی.چه قاضی هغه نشی لیدلې.اوبیابه دوباره راشی.او اقراربه اوکړی.دامام ابوحنیفه رحمه الله نه هم دا نقل دی.
دلیله › ځکه چه رسول الله ﷺ به دحضرت ماعز رضی الله عنه اقرارهرځل رد کولو.تردې چه هغه به د مدینې د دیوالونو نه پناه شو.(٢)
واقعة ماعز › حضرت ماعز رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته ورغلو.اوعرض ئې اوکړلو.یارسول ا لله ﷺ ما زنا کړې ده.نوتاسو ما پاك کړئ.په دې باندې رسول الله ﷺ مخ واړلو.نوهغه د بل طرف نه راغلو.اوهم دا عرض ئې اوکړلو.نبی ﷺ بیا هم مخ واړلو.بیا هغه د دریم طرف نه راغلو.اوهم دغه عرض ئې اوکړلو.اوبیا د څلورم طرف نه راغلو.اودا عرض ئې اوکړلو.نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل.چه تا څلور ځله اقراراوکړلو.دا راته اوښایه.چه تا چا سره زنا کړې ده.هغه اووئیل.ما د فلانئ ښځې سره زنا کړې ده.نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.کیدې شی. تا ترې صرف بوسه اخستې وی.کیدې شی چه ته ورته ورتر غاړه وتلې ئې.هغه اووئیل.بلکه د ښکاره زنا اقرارئې اوکړلو.په دې باندې نبی ﷺ اوفرمائیل.کیدې شی. په تا د دلیونتوب اثر وی.اوپه یوروایت کښې دی.چه نبی ﷺ دهغه دکورخلقو ته څوك د تحقیق کولودپاره اولیږلو.چه آیا تاسو ته ددې کس په عقل کښې څه کمزوری اوفطور ښکاری.هغوی اووئیل نه.بیا نبی ﷺ اوفرمائیل دا محصن (واده شوې) دې؟ نومعلومه شوه.چه اوهغه واده شوې وو.نوبیا نبی ﷺ د هغه د رجم کولو حکم ورکړلو.

دااقرارپوره کیدونه پس تحقیق کول

(فَإِذَا تَمَّ إِقْرَارُهُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ سَأَلَهُ عَنِ الزِّنَا مَا هُوَ وَكَيْفَ هُوَ وَأَيْنَ زَنَى وَبِمَنْ زَنَى ، فَإِذَا بَيَّنَ ذَلِكَ لَزِمَهُ الْحَدُّ)

---

(١) امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه صرف یوځل اقرارکول کافی دی.لکه څنګه چه په نوروحقوقوکښې یوځل اقرار کول کافی وی.

١) خرجه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم أخرج ما هو بمعناه عن أبي هريرة رضي الله عنه وعزاه إلى ابن حبان نصب الراية ٣/٤٨٩

ترجمه امام قدروي رحمه الله فرمائي. کله چه مجرم خپل اقرار څلور خله پوره کړي. نوقاضي به دهغه نه تپوس اوکړي. چه زنا څه کاردې. اوڅنګه کیږي. اوده په کوم ځائي کښې زنا کړې ده. اودکومې ښځې سره ئې کړې ده. نوکله چه دې صحیح صحیح خودنه اوکړي. نوبیا به په هغه باندې حد جاري کړې شي.

دلیله ځکه چه حجت پرې پوره شو. اوددې ځیزونود تپوس کولو مطلب مونږ دګواهئ ورکولو په صورت کښې بیان کړې دی.

دحد قائمولو طریقه

فَإِنْ كَانَ الزَّانِي مُحْصَنًا رَجَمَهُ بِالْحِجَارَةِ حَتَّى يَمُوتَ

حل اللغة ① **رجم**: په کاڼړو ویشتل ② **احصان**: ددې اسم فاعل محصن راځي هغه سړي چه واده ئې کړې وي

ترجمه که وي زناکارمحصن (داسي کس وي. چه په هغه کښې نور څه شرطونه موجود وي. دهغې تفصیل به څو صفحې روسته راشي. انشاء الله) نوحاکم دې په خپله (اونور مسلمانان) په دومره کاڼړو دې اولي. چه مړ شي.

تشریح **دلائله** ① ځکه چه رسول الله ﷺ حضرت ماعز رضي الله عنه رجم کړې وو. په داسي صورت کښې چه هغه محصن وو. اوپه یومشهورحدیث کښې دی. چه ((والزناء بعد الأحصان)) دمحصن کیدونه پس زنا کول. په دې خبره د صحابه کرامو رضي الله عنهم اجماع پاتې شوې ده. (۱)

② یوحدیث دا هم دې. چه د یومسلمان وینه د درې خبرونه په یوه خبره باندې حلالیږي. چه هغه د احصان نه پس زنا اوکړي. چه هغه دالله تعالی د رسول ﷺ سره د جنګ دپاره راوتلې وي. یعنی داکو وي. نوهغه به قتل کولې شي. اویا به په سولئ کولې شي. یا به د ملك نه ویستلې شي. هغه کس چه په ناحقه ئې قتل کړې وي. نوهغه به په قصاص کښې قتل کولې شي. اوابوداوددې روایت کړې دې. اوپه صحیحینوکښې دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت مشهور دې.

د رجم طریقه

يُخْرِجُهُ إِلَى أَرْضٍ فَضَاءٍ وَيَبْتَدِئُ الشُّهُودُ بِرَجْمِهِ ثُمَّ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ

ترجمه اوابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي. چه په کوم کس باندې رجم واجب شي. نوحاکم به هغه کولاؤ میدان ته اوباسي. هلته به د ټولونه وړاندې ګواهان هغه په کاڼړو باندې اولي. دهغوی نه پس امام اود ده نه پس نورخلق.

تشریح **دلائله** ① دحضرت علي رضي الله عنه نه هم داسي روایت نقل دې. (۲)

② ددې وجې هم چه ګواهان کله د دروغوګواهي ورکوي. اوددې جراءت کوي. خودهغه کس د قتل ذمه وارجوریدونه ویریږي. اود ګواهی نه رجوع کوي. په دې طریقه چه دګواهانونه د حد شروع اوشي. نودحد ختمولو یوه حیله هم په لاس راځي. ( )

---

۳) يعلم هذا من حديث علي رضي الله عنه اخرجه البخاري في الحدود باب ٦٥ ومسلم في القسامة رقم ٢٥ وأبوداود في الحدود باب ١ رقم ٤٣٥٢ والترمذي في الديات باب ١٠ والنسائي في القسامة باب ٦٥ وابن ماجه في الحدود باب ١ رقم ٢٥٣٤ واحمد في المسند ٣٨٢/١)۔

٤) أخرجه البيهقي في سنن الكبرى ٤٨٥/٨) رقم ١٦٩٦٣)۔

دګواه د ګانړي ويشتلو نه انکارکول

(وَإِنِ امْتَنَعَ الشُّهُودُ مِنَ الْإِبْتِدَاءِ سَقَطَ الْحَدُّ)

ترجمه که ګواهانود ګانړو په ويشتلود شروع کولو نه انکاراوکړلو.نوحد ساقط شو.

تشريح **دليله** ځکه چه ددې انکار نه دا معلوميږي.چه دوی دخپلې ګواهئ نه واوړيدل.

(وَإِنْ كَانَ الزَّانِي مُقِرًّا ابْتَدَأَ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ)

ترجمه اوکه زاني په خپله اقراری وی.يعنی هم دهغه د اقراريه وجه په هغه باندې حد ثابت شوې وی.نوبه ويشتلوکښې به امام د وخت شروع کوی.اوبيا به نې نورخلق په ګانړو وولی.

تشريح **دليله** دحضرت علی رضي الله عنه نه هم داسې نقل دی.اوحضرت غامديه رضي الله عنها (۲) دتولونه وړاندې رسول الله ﷺ د چنړې په برابر په يوځوګيټکو باندې ويشتلې وه.اوحضرت غامديه) په خپله په خپل ځان د زنا اقرارکړې وو.

(وَيُغَسَّلُ وَيُكَفَّنُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ)

ترجمه (چه په ګانړو ويشتلوسره مړشوې وی هغه ته به) غسل ورکړې شی.اوکفن کولې به شی.اودجنازې مونځ به پرې کولې شی.

تشريح اوکه دمجرم په خپل اقراريه هغه باندې زنا ثابته شوې وی.نودهغه په ګانړو ويشتلوکښې به امام دخپل ځان نه شروع کوی.اودهغه نه پس به نې نورخلق وولی.

دلائله ① ځکه چه رسول الله ﷺ دحضرت ماغز رضي الله عنه په باره کښې فرمائيلی وو.چه ده سره هم هغه شان معامله اوکړئ.ځکه چه تاسوخپلو نورو مړو سره کوئ.

② اوددې وجې هم چه دې په ناحقه نه (بلکه په حق) سنګسار شوې دې.نودده نه به غسل نه ساقطيږی.لکه ځنګه چه هغه کس ته غسل ورکولې شی.کوم چه په قصاص کښې قتل شوې وی.

③ اوغامديه د رجم کيدونه پس رسول الله ﷺ په هغې باندې د جنازې مونځ کړې وو.

د ناواده شوی حد

(وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُحْصَنًا وَكَانَ حُرًّا فَحَدُّهُ مِائَةُ جَلْدَةٍ)

ترجمه اوکه زناکارمحصن (واده شوې نه وو) اوآزادهم وی.نودده حد سل کوړې دی.

تشريح **دليله** دالله تعالی ددې فرمان د وجې چه زنا کارسړې اوزناکاره ښځه په دوی کښې هريوته سل کوړې ورکړئ.

النسخ في حق المحصن خودکوړو وهلودا حکم د واده شوی سړی اوواده شوې ښځې په باره کښې منسوخ شوې دې.ددې وجې به د نوروخلقو په باره کښې دا حکم باقی وی.

---

[۱] امام شافعی رحمه الله په کوړو باندې قياس کوی.اوفرمانی.چه په رجم کښې هم د ګواهانونه شروع کول شرط نه دی.يعنی که د ناواده شوې جينئ نه زنا صادره شی.اوهغه په کوړو باندې وهلې شي.نولکه ځنګه چه د وهلو په وخت کښې دا شرط نشی لګولې.چه شروع به د ګواهانونه کيږی.نودغه شان د ګانړو په ويشتلوکښې به هم د ګواهانو نه د رجم د شروع شرط نشی مقررولې.

۲) من حديث أبي بكرة رضي الله عنه اخرجه ابوداود في الحدود باب ۲۴ رقم ۴۴۴۳ـ

ترجمه> اوکه زناکارمحصن (وادہ شوي نه وو) اوآزادهم وي.نودده حد سل کورې دی.

تشریح> دلیله> دالله تعالی ددې فرمان د وجې چه زنا کارسړي اوزناکاره ښځه په دوی کښې هریوته سل کورې ورکړئ.

النسخ في حق المحصن> خودکورو وهلودا حکم د وادہ شوی سړی اووادہ شوي ښځې په باره کښې منسوخ شوي دي.ددې وجې به د نوروخلقو په باره کښې دا حکم باقي وی.

(يَأْمُرُ الْإِمَامُ بِضَرْبِهِ بِسَوْطٍ لَا ثَمَرَةَ لَهُ ضَرْبًا مُتَوَسِّطًا)

ترجمه> امام به کورې وهونکو ته د داسې کورو وهلوحکم اوکړی.چه په هغې کښې غوټه نه وی.اوپه درمیانه اندازه سره به ئې وهی.

تشریح> دلیله> ځکه چه حضرت علی رضی الله عنه د کورې وهلوحکم ورکول غوښتل.نود کورې غوټې ئې لرې کړې.اود درمیانه انداز سره د وهلو مطلب دا دې.چه نه به ئې دومره سخت وهی.چه زخمی شی.اونه به ئې بیخی نرم وهی.ځکه چه د زخمی کیدو نه پس دهغه د هلاکت ویره ده.اوپه معمولی وهلوسره مقصود نه حاصلیږی.ځکه چه ددې سزا مقصد دا دې.چه دې په آئنده کښې پرهیزکوی.

د کورو وهلوطریقه

(وَيُنْزَعُ عَنْهُ ثِيَابُهُ)

ترجمه> اوحدجاری کولوپه وخت کښې به دهغه نه جامې اوویستې شی.ددې نه مطلب دا دې.چه د لنګ یا پرتوګ نه سوا به ترې اوویستې شی.

تشریح> دلیله> ځکه چه حضرت علی رضی الله عنه به د حدودو قائمولوپه وخت کښې دجامو ویستلوحکم کولو.اوددې وجې هم چه د بدن نه جامې اوویستې شی.نوپه وهلوکښې به بدن ته تکلیف هم زیات وی.اودحد زنا مقصد هم دا دې.چه ده ته پوره زور اورسی.البته که دده لنګ هم اوویستې شو.نودې به بربنډ شی.اوپرده به ئې باقي پاتې نشي.نوځکه به ددې نه پرهیزکولې شی.

(وَيُفَرِّقُ الضَّرْبَ عَلَى أَعْضَائِهِ)

ترجمه> اودا وهل به دهغه مختلفو اندامونوته ورکولې شی.

تشریح> دلیله> ځکه چه د یوځائې وهلوپه وجه دهغه د روح وتلو خطره پیدا کیږی. حالانکه کوم حد چه لګولې شی.نودهغې مقصد دهغه هلاکول نه وی.بلکه دې په راروانه زمانه کښې د همیشه دپاره ویرول وی.

سر،مخ اوشرمګاه په کورو وهلوممانعت

(إِلَّا رَأْسَهُ وَوَجْهَهُ وَفَرْجَهُ)

حل اللغة > ① راس:سر ② وجه:مخ ③ فرج:شرمګاه

ترجمه> امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه په کورو به ټول بدن وهلې شی.سوا د سر،مخ،اوشرمګاه نه،.دا د صاحبینو مسلك دې.(¹)

---

¹) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في الخانية (٤\٤١٤) وفتح القدير(٥\١٩) والدرالمختار (٣\١٦١) والهندية (٢\١٤٦) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٣٥)-

تشریح> دلائله> ① ځکه چه رسول الله ﷺ چاته د حد جاري کولو حکم کړې وو. هغه ته ئې فرمائيلي وو. چه د ده مخ او شرمګاه د وهلونه بچ ساته.

② ددې وجې هم چه د شرمګاه د ګذارنه کله سړې مرې هم. او سر د حواس مجموعه ده. دغه شان مخ هم د ټولو حواسو دجمع کيدو ځائې دې. او مخ دده د خوبيانو ځائې دې. نو په دې کښې څه شك نشته. چه د دې په وهلو سره دده حواس يا د خوبيانو څه حصه ضائع شي. حالانکه داسې کول د دغه مجرم د قتلولو په حکم کښې دې. ځکه په قائم کولو کښې دا جائز نه دی.

مسلك ابي يوسف> او امام ابو يوسف رحمه الله فرمائي. (اګرچه په اولنی قول کښې په سر د وهلونه منع کړې وه. خو) رجوع و کړله. او دا ئې او وئيل. چه په سر باندې دې هم کوړې وهی.

دليله> ځکه چه حضرت ابوبکر رضي الله عنه فرمائيلي دی. په سر باندې ئې وهئ: ځکه چه په دې کښې شيطان دې. ابن ابی شيبه ددې روايت کړې دې. (۱)

الجواب عنه> دا جمله د داسې کس په باره کښې وه. چا چه خلق کفر ته رابلل. نو دهغه قتلول هم جائز دی. او په جواب کښې دا هم وئيلی شوی دی. چه دا ئې د حربی کافر په باره کښې فرمائيلي وو. چا چه به خلق کفر طرف ته رابلل. (او کافرانو په سر د رانو کښې وو) او د داسې کس وهل پکار دی.

د زناکار غلام حد

(وَإِنْ كَانَ عَبْدًا جَلَدَهُ خَمْسِينَ جَلْدَةً)

ترجمه> او زناکار خوك غلام (يا وينځه) وی. نو دا به پنځوس کوړې وهلی شي.

تشریح> دلائله> ① ځکه چه الله تعالی فرمائيلي دی. ﴿فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ﴾ يعنی په وينځو چه دحد کومه سزا لازمه ده. هغه به نيمه وی دهغه سزا په نسبت چه هغه د آزادو ښځو پاره وی. دا آيت د وينځو په باره کښې نازل شوې دې.

② او ددې وجې هم چه غلامی نعمت نيموی. نو ځکه دده سزا هم نيمه پکار ده. ځکه چه قانون دا دې. چه په چا باندې نعمتونه زيات وی. او ددې باوجود هغه نافرمانی کوی. نو دده سزا هم زياته وی. ددې وجې د آزاد په سزا کښې هم سختی وی. ددې په خلاف غلام صرف پنځوس کوړې وهلې شي.

دا قرار نه د رجوع کولو حکم

(فَإِنْ رَجَعَ الْمُقِرُّ عَنْ إِقْرَارِهِ قَبْلَ إِقَامَةِ الْحَدِّ أَوْ فِي وَسَطِهِ قُبِلَ رُجُوعُهُ وَخُلِّيَ سَبِيلُهُ)

حل اللغة> ① **وسط**: درميان، مينځ ② **خلي**: پريښودې، خوشې کيږی

ترجمه> اوس که اقرار کونکی کس دخپل اقرار نه رجوع او کړله. په ده باندې دحد جاری کولو نه وړاندې، يا دحد په دوران کښې، نو ده رجوع کول به قبولولې شي. او دې به پريخودې شي. (۲)

تشریح> دليله> دليل دا دې. چه دا قرار نه او ريدل يو داسې خيزدې. چه په دې کښې د رښتيا وئيلو احتمال هم شته. لکه څنګه چه اقرار کول يو خبر دې. (چه په هغې کښې د رښتيا او احتمال هم شته) نو څنګه چه اقرار وی. او دا قرار نه د رجوع کولو په صورت کښې بل څوك داسې نشته. چه دې دروغژن کری. يعنی دده

---

۲) من رواية القاسم أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه)_

(۲) **مسلك الشافعي**: - امام شافعی رحمه الله فرمائيلي دی. او دا دابن ابی ليلی رحمه الله قول هم دې. چه قاضی به په ده باندې حد جاري کوی.

خلاف ویونکي اوالزام ثابتونکي څوك نشته.نوځکه دده په اقرارکښې شبه پيدا شوه. (اومونږ ته ددې خبرې حکم راکړې شوې دې.چه مونږ د شبه په صورت کښې حد دفع کړو.يعنې جاري ئې نکړو)

دامام دپاره د رجوع دتلقين حکم

(وَيُسْتَحَبُّ لِلْإِمَامِ أَنْ يُلَقِّنَ الْمُقِرَّ الرُّجُوعَ فَيَقُولَ لَهُ: لَعَلَّكَ لَمَسْتَ أَوْ قَبَّلْتَ)

حل اللغة ﴿ ① **يلقن**:تلقين کول د يوې خبرې باربار ويٺا کول ② **لمس**:ګوتې اوړل ③ **قبلة**:ښکلول

ترجمه ﴾ دقاضي اوامام دپاره مستحب دی.چه داقراری مجرم وراندې داسې خبرې کوی.چه دهغې په وجه هغه دخپل اقرارنه واوړی.مثلاً داسې دې ورته اووائی.چه تا خوهغې ته صرف لاس وراوړې وو.يا تاخود هغې نه بوسه اخستې وه.

تشریح ﴾ **دليله** ﴾ ځکه چې نبی کريم ﷺ حضرت ماعز ﷜ ته فرمانيلي وو.کيدې شی تا ورته ګوتې وراوړې وی يا دې ښکل کړې وی.(۱)

(وَالرَّجُلُ وَالْمَرْأَةُ فِي ذَٰلِكَ سَوَاءٌ)

ترجمه ﴾ دحد په باره کښې سړې اوښځه دواړه سره برابر دی.

دليله ﴾ ځکه چه شرعی حکم د سړې اوښځو دواړو دپاره دې.

(غَيْرَ أَنَّ الْمَرْأَةَ لَا يُنْزَعُ مِنْ ثِيَابِهَا إِلَّا الْفَرْوُ وَالْحَشْوُ)

ترجمه ﴾ خويه سړی اوښځه کښې صرف دومره فرق دې.چه د ښځې جامې به نشی ويستلې سوا پوستين اوداسې کپړې نه چه هغه د مالوچو نه ډکه شوې وی.

دليله ﴾ ځکه چه دښځې نه دجامو په ويستلوکښې بې پردګی اوبې حيانی ده.اوچه غټې جامې وی.نودې سره په وهلوتکليف نه ملاوېږی.اوددې جامو نه بغيرهم دهغې پرده باقی پاتې کيږی.نوځکه به داسې غټې جامې ددې نه لرې کولې شی.اوپه ښځه به په ناسته حد جاری کولې شی.دحضرت علی ﷜ د بيان شوی حديث د وجې.

دښځې د رجم دپاره د کندې کنستل

(وَإِنْ حُفِرَ لَهَا فِي الرَّجْمِ جَازَ)

حل اللغة ﴾ ① **حفر**:اوکنستې شوه

ترجمه ﴾ فرمانی.اوکه دښځې سنګسارولودپاره يوه کنده اوکنستې شی.نوجائزده.يعنی کنده ويستل ضروره دی واجب نه دی.

تشریح ﴾ **دلائله** ﴾ ① ځکه چه رسول الله ﷺ د غامديه دپاره دهغې د سينې پورې کنده ويستلې وه.(۱)

② حضرت علی ﷜ د شراحه صمدانيه دپاره کنده ويستلې وه.(۲)

حکم عدم الحفر ﴾ اوکه امام د زناکارې ښځې دپاره کنده اونه کنستله.نوځه نقصان په کښې نشته.

دليله ﴾ ځکه چه رسول الله ﷺ ددې حکم نه دی ورکړې.

۱) من حديث ابن عباس ﷜ اخرجه الحاکم في المستدرك ۳٦۱/٤۔

۱) من حديث ابي بكرة ﷜ اخرجه ابوداود في الحدود باب ۲٤ رقم ٤٤٤۳)۔

۲) من رواية شعبي ﷫ اخرجه احمد والبيهقي كذا في نصب الراية ۳/۵۰۰)۔

حکم العفو للرجل ﴿ اوسړی ته د رجم ورکولو پاره به کنده نه کنی.

دلیله ﴿ ځکه چه رسول الله ﷺ په حضرت ماعز ﷛ باندې حد قائمولو پاره کنده نه وه کنستې. (حضرت ابوسعید خدری ﷛ فرمائی.چه کله رسول الله ﷺ دحضرت ماعز ﷛ د رجم کولو حکم ورکړلو.نومونږ هغه ته په بقیع کښې رجم ورکړلو.په الله قسم مونږ هغه په دغه وخت کښې نه تړلې وو.اونه مودهغه دپاره کنده کنستې وه.بلکه هغه ولاړ وو. (رواه مسلم)

دآقا په خپل غلام باندې د حد جاری کولو مسئله

(وَلَا يُقِيْمُ الْمَوْلَى الْحَدَّ عَلَى عَبْدِهٖ وَاَمَتِهٖ اِلَّا بِاِذْنِ الْاِمَامِ)

ترجمه ﴿ او مولی په خپل غلام باندې حد نشی جاری کولې.البته د امام په اجازت سره کولې شی. (١)

تشریح ﴿ **دلائله** ﴿ ① رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.چه څلورخیزونه د امام په اختیارکښې دی.اوهغه ته حواله دی.اوپه هغې کښې نې حدود هم ذکرکړی دی. (٢)اوباقی درې دا دی. جمعه قائمول،زکاة وصولول.اوحدودقائمول) خودا حدیث راته ملاؤ نشو.البته ابن ابی شیبه د حسن بصری اوعطاء خراسانی ﷫ دا قول ذکرکړې دې)

② حد دالله تعالی یوحق دې.ځکه چه د حدودو قائمولومقصد دا دې.چه دنیا د فساد نه پاکه وی.اوهم دا وجه ده.که بنده حد معاف هم کړی.نونه ساقطیږی. نوځکه به هم هغه کس حد قائموی.کوم چه د شریعت دطرفه ددې دپاره نائب وی.یعنی امام یا دهغه قائم مقام قاضی وغیره،

درجم نه وړاندې په ګواهانوکښې دیوګواه رجوع کول

(وَاِنْ رَجَعَ اَحَدُ الشُّهُوْدِ بَعْدَ الْحُكْمِ قَبْلَ الرَّجْمِ ضُرِبُوا الْحَدَّ وَسَقَطَ الْحَدُّ عَنِ الْمَشْهُوْدِ عَلَيْهِ)

ترجمه ﴿ که دمکملې ګواهئ نه پس هم مجرم ته (دچا خلاف چه ګواهی ورکړې شوې وه)په هغه باندې حد جاری نکړې شو.اوپه دې حالت کښې په ګواهانوکښې یو ګواه دخپلې دعوه نه واپس شو.نوپه دې ټولوګواهانوبه حدقذف لګولې شی.اود مشهود علیه نه به حدزنا ختم شی.

تشریح ﴿ نفس مسئله آسانه ده.

دلیله ﴿ د څلورو ګواهانو په ګواهئ سره په زانی باندې د سنګسار حکم اوشو.خو لاسنګسار شوې نه ووچې په ګواهانو کښې یو ګواه د ګواهئ نه واپس شو.نوپه دې صورت کښې به څلورو وارو ته حد قذف ورکولې شی.ځکه چې د دوی ګواهی ناقصه پاتې شوه د څلورو ګواهانو شمار برابر پاتې نشو.نو په دوی به حد قذف جاری کولې شی.او مشهود علیه به هم نشی سنسګسار کولې ځکه چې د زنا د ثبوت دپاره څلور ګواهان پکار دی.او دلته څلور باقی پاتې نشو.

دڅلورو ګواهانو په شهادت سنګساریدل اوبیا په هغې دیورجوع کول

(وَاِنْ رَجَعَ وَاحِدٌ حُدَّ الرَّاجِعُ وَحْدَهٗ وَغُرِّمَ رُبُعَ الدِّيَةِ)

---

(١) **مسلک الشافعي**:- امام شافعی ﷫ فرمائی.چه مولی ته دا حق حاصل دې.چه په خپل غلام پخپله حد قائم کړی.

(٢) وذکرالزیلعی ﷫ بعض الروایات وفیها ذکرالجمعة والفئ أیضاء نصب الرایة ۳/ ۵۰۰)۔

ترجمه اوکه واپس شو یو گواه د رجم نه پس نوهغه ته به حد قذف ورکولې شي. اوددغه کس د څلورمې حصې دیت به دې ضامن وي. (۱)

تشریح **دلیله** دلیل دا دې.چه دگواهۍ نه د انکار په وجه هغه تولگه گواهي په تهمت سره بدله شوه.څکه چه په دغه رجوع کولوسره هغه گواهي فسخ شوه.نودې رجوع کولوته به په مړي باندې تهمت لگول ونیلی شي.اود زنا ثابت کولوکوم حجت چه وو.هغه به ختم شي.اودهغې په حجتیت چه د څه بنیاد وو.یعنی هغې پورې متعلق چه دقاضی کومه فیصله وه.هغه به هم ختمه شي.نواوس هیڅ شبه هم نه پیدا کیږي.

دځلوروند دهم تعداد په صورت کښې د حد قذف وجوب

وَإِنْ نَقَصَ عَدَدُ الشُّهُودِ عَنْ أَرْبَعَةٍ حُدُّوا جَمِيعًا

ترجمه اوکه دگواهانوشمارد څلورو نه کم وو.نوټولوته به حد قذف ورکولې شي.

تشریح **دلیله** دې ټولو ته به څکه حد قذف ورکولې شي.چې د دوی گواهي د زنا د ثبوت نه قاصره شوه.څکه چې د زنا د ثبوت دپاره څلور گواهان ضروري دي.او دلته درې پاتې شو.او دا مسئله ده که درې کسانو په چا باندې تهمت د زنا اولگولو.او څلورم ورسره نه وي.نو ټولو ته به حد قذف ورکولې شي.دغه شان به دلته هم وي.

احصان په څه متعلق کیږي؟

(وَإِحْصَانُ الرَّجْمِ أَنْ يَكُونَ حُرًّا بَالِغًا عَاقِلًا مُسْلِمًا قَدْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً نِكَاحًا صَحِيحًا وَدَخَلَ بِهَا وَهُمَا عَلَى صِفَةِ الْإِحْصَانِ)

ترجمه اود رجم دپاره ددې مجرم احصان شرط لگولې شوې دې.په دې کښې داحصان معنی دا ده.چه سړې آزاد ، بالغ عاقل، اومسلمان وي.اوهغه دیوې ښځې سره صحیح نکاح کړې وي.اوپه هغې باندې نې دخول هم کړې وي.اود احصان دا صفتونه ددغه دخول په وخت کښې په دواړوکښې موجود وي.

تشریح **اشتراط العقل والبلوغ** عاقل اوبالغ خودحد سزا قائمولوشرطونه دی.څکه چه په دې دواړو پورې دالله تعالی حکم متعلق نه دې.

اشتراط بقية الاشياء اوباقی څیزونه ددې وجې شرط دی.چه دنعمت پوره کیدو په وجه دده جرم کامل شي.څکه چه نعمتونه پوره وي. نو د دې باوجود ددې ناشکری کول سخته گناه ده.اودا څیزونه هم په لویو نعمتونوکښې دی.اوچه دا نعمتونه په یوځائې موجود شوی وي.نود زنا په وجه رجم واجبیږي.څکه چه د رجم کولو حکم ددې نعمتونویوځائې کیدونه پس ثابتیږي.

اشتراط الحرية دآزادۍ په وجه د صحیح نکاح کولوقدرت ملاویږي.اوددې موقع ملاویږي.اودصحیح نکاح کولونه پس د حلالې وطی قدرت پیدا کیږي.اوددخول نه پس چه دا جائزکاراوکړي.نوآرام اواطمینان ورته ملاویږي.

اشتراط الاسلام داسلام په وجه د یوې مسلمانې ښځې سره د نکاح کولوقدرت ملاویږي. اوهم ددې اسلام په وجه د زنا دحرمت اعتقاد قوی کیږي. نو دا خبرې په مجموعی طور یو مسلمان د زنا نه په

(۱) **مسلک الشافعي:**- امام شافعي رحمه الله فرمائیلی دی.چه کوم گواه هم دخپلې گواهۍ نه واپس شي.نوپه هغه به مال نه واجبیږي.بلکه دهغه قتلول به واجب وي.

سختی سره منع کوی.اوددومره زیاتو رکاوټونو او ممانعتونوباوجود دده زنا کول زیاته سخته ګناه ده.([1])

رجم او کوړې دواړه نشي جمع کیدی.

وَلَا يُجْمَعُ فِي الْمُحْصِنِ بَيْنَ الرَّجْمِ وَالْجَلْدِ

ترجمه> فرمائی.اوپه محصن کښي به د سنګسارسره د کوړو دواړه سزاګاني نشي جمع کولي.

تشریح> ((ولایجمع في المحصن)) یعنی په کوم صورت کښي چه زناکارته رجم ورکولي شی.نوددې سزا سره به دکوړو ورکولوسزا نشی جمع کولي.ځکه چه د رجم سزا ډیره سخته ده.ددې سره د کوړو سزا جمع کول څه فائده نه ورکوی.ځکه چه د سزا نه مقصود نورخلق د زنا کولو نه منع کول دی.اوهغه په رجم سره حاصل شو.

دلیله> دلیل دا دې. چه دصاحبة العیف په باره کښي نبی ﷺ صرف د رجم حکم ورکړې وو.دغه شان حضرت ماعز رضی الله عنه ته صرف درجم ورکولوحکم وو.د کوړو نه وو.([2])

د کوړو اوجلاوطنۍ نه جمع کول

وَلَا يُجْمَعُ فِي الْبِكْرِ بَيْنَ الْجَلْدِ وَالنَّفْيِ)

حل اللغة > ① **بکر:پیغله**

ترجمه> (اوچه وادۀ شوې نه وي.برابره ده که سړې وی اوکه ښځه) دوی ته به هم دکوړو وهلواوجلاوطنۍ دوه سزاګاني نشی ورکولي.([3])

تشریح> دلیله> دلیل دالله تعالی دا فرمان دې.﴿ اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ په دې کښي لفظ د (فَاجْلِدُوْا) دې.

الاستدلال> ددې په ذریعه ئې صرف کوړې وهل پوره سزا بیان کړې ده. په دې چه په دې کښي دفاء کلمه اوکتلې شی.نودا معلومیږی.چه چا زنا کړې وی.دهغه واجبی اوپوره سزا سل کوړې دی.نومعلومه شوه.چه پوره سزا سل کوړې دی.یا دا اوګورئ چه کومه سزا ئې ذکرکړې ده. نو هم دا سل کوړې دی.نوکه په دې باندې بله سزا زیاته کړې شی.نواصل حکم به بدل شی.اوداسې زیادت ته منسوخ کیدل وائی.حالانکه قرآن په داسې حدیث باندې منسوخ کول جائز نه دی)

② ددې وجې هم چه د ښارنه بهرکړې شی.نود زنا دروازه پرانستې کیږی.ځکه چه یود کور اوخاندان نه به دده حیا ختمه شی.اوبیا چه دې د ښارنه اوویستې شی.نوچه دده دخوراك څښاك اوضروریات ژوند ختم شی.نوبعضې وخت ښځه زناکاری دخپل معیشت مستقله ذریعه جوړه کړی.اودا فعل د زنا په طریقوکښې د ټولونه بدترینه طریقه ده.ددې وجې به دحضرت علی رضی الله عنه قول ته ترجیح ورکولي شی.چه دښارنه شړل د فتنې خورولودپاره کافی دی.

---

[1] **مسلك الشافعي:-** امام شافعی رحمه الله د محصن په شرطونوکښې د مسلمان کیدو په شرط کښې زمونږ مخالفت کوی.دغه شان یوروایت داامام ابویوسف رحمه الله نه هم نقل دې

[2] كما هو مذكور في حديث العسيف رضي الله عنه وحديث ماعز رضي الله عنه حديث عسيف رضي الله عنه برواية أبي هريرة رضي الله عنه اخرجه اصحاب الكتب الستة وأما حديث ماعز رضي الله عنه فقد تقدم مراراً نصب الراية بتغير٣/٤/٥٠)

[3] **مسلك الشافعي:-** امام شافعی رحمه الله دواړه سزاګاني دحد په طورهم جمع کوی.

(إلاَّ أَنْ يَرَى الْإِمَامُ فِي ذَٰلِكَ مَصْلَحَةً فَيُعَزِّرُهُ عَلَى قَدْرِ مَا يَرَى)

ترجمه > كه امام داسي كول ضروري اوګڼي.يا څه مصلحت په كښي ورته ښكاري.نوچه دڅومره ورخو دپاره ورته هغه مصلحت ښكاري.دښارنه دې اوشړي.دامام داسي كول به د حد په طورنه وي.بلكه دتعزيراوسياست په طوربه وي.

تشريح > **دليله** > ځكه چه په بعضي حالاتوكښي داسي كول هم فائده مندوي.ددې وجې ددې پوره فيصله دامام په رائي پورې موقوفه شوه.اودبعضي صحابه كرامو‌ رضي الله عنهم چه دا منقول دى.چه هغوى دښارنه شړل كړي دى. نوهغه هم ددې تعزيراوسياست په معنى باندې محمول دى. «دابن عمر رضي الله عنه نه نقل دى.چه رسول الله ﷺ كوړې وهلى دى.اودښارنه ئې شړل كړى دى.دغه شان حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه هم كوړې وهلى دى.اودښارنه ئې شړل كړى دى رواه الترمذى»(٤)

دناجوړه محصن زناكارد رجم حكم

(وَإِذَا زَنَى الْمَرِيضُ وَحَدُّهُ الرَّجْمُ رُجِمَ)

ترجمه > اوكه يوداسي ناجوړه زنا اوكړه.چه دهغه سزا سنګساروو.نوهغه به هم سنګسارولې شي. (په دې مسئله كښې د ځلوروواړه امامانواتفاق دې)

تشريح > **دليله** > ځكه چه دده هلاكت خو مقصود دې.نودده بيمارئ دوجې به دده نه رجم نشى بندولې.

(وَإِنْ كَانَ حَدُّهُ الْجَلْدَ لَمْ يُجْلَدْ حَتَّى يَبْرَأَ)

ترجمه > اوكه دده سزا كوړې وهل وي.نودده دصحته پورې به ده ته كوړې نشى وركولې.

تشريح > **دليله** > په كوړو وهلوكښي زورنه مقصود وي.نوكه په حالت د مرض كښي په كوړو اووهلې شي.نودا مريض به هلاك شي.حالانكه دده هلاكت مقصود نه دې.بلكه دده منع كول مقصود دى.

دحاملې دحد جاري كولووخت

(وَإِنْ زَنَتِ الْحَامِلُ لَمْ تُحَدَّ حَتَّى تَضَعَ حَمْلَهَا)

حل اللغة > ① **تضع**:اوزيږوى

ترجمه > اوكله چه حامله زنا اوكړى.نودهغې دبچى پيدا كيدو پورې به په هغې باندې حد نشى جاري كولې . چه ددې په وجه دهغې بچې هلاك نشى.

تشريح > **دليله** > ځكه چه دا بچې خپلوقابل احترام نفس دې.

(وَإِنْ كَانَ حَدُّهَا الْجَلْدَ حَتَّى تَتَعَلَّى مِنْ نِفَاسِهَا)

ترجمه > اوكه ددې حاملې زناكارې سزا د كورو وهل وي.نوښځه ترڅودنفاس نه پاكه شوې نه وي.دې ته به كوړې نشى وركولې.

تشريح > **دليله** > ځكه چه نفاس يوقسم مرض دې.نوددې د ښه كيدوپورې به انتظاركولې شي.

---

٤) من هو مروى عن ابن عمر رضي الله عنه ان النبى ﷺ ضرب وغرب،وان ابابكر رضي الله عنه ضرب وغرب،وان عمر رضي الله عنه ضرب وغرب اخرجه الترمذى فى الحدود باب ١١)۔

الرواية عن ابي حنيفة ﴿ دامام ابوحنيفه رحمه الله نه روايت دي.چه په سنګسارکبني به ترهغه وخته پوري انتظارکولي شي.چه بچي ددې د تربيت محتاج پاتې نشي.خوبه دې شرط چه بل څوک ددې بچي د تربيت ذمه وار نه وي.

دليله ﴿ ځکه چه په دومره روستوالي کبني دماشوم ددې خبري حفاظت دې.چه هغه به ضائع نشي.په حديث کبني ذکردي.چه رسول الله ﷺ حضرت غامديه ته د حمل زيږلو نه پس فرمائيلي وو.چه ته اوس واپس لاړه شه.ترديې چه دا ماشوم ستا د تربيت نه لاپرواه شي.[۱]هم دا قول اصح دې.اوبه دې باندې فتوى ورکول پکار دي)

حكم الزانية التي ثبت زناها بالبينة ﴿ بيا داسې حامله چه دهغې زنا په ګواهانوسره ثابته شوې وى.نوهغه به د بچي دپيدائش پوري په جيلخانه کبني بندولي شي.چه هغه اونه تختي.په خلاف دهغه کس چه په خپله ئي د زنا اقرارکړې وي. نو د هغه په جيلخانه کبني د قيد کولوڅه فائده نشته.والله اعلم

﴿وَإِذَا شَهِدَ الشُّهُودُ بِحَدٍّ مُتَقَادِمٍ لَمْ يَمْنَعْهُمْ عَنْ إِقَامَتِهِ بُعْدُهُمْ عَنِ الْإِمَامِ لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمْ إِلَّا فِي حَدِّ الْقَذْفِ خَاصَّةً﴾

حل اللغة ﴿ ① **متقادم**:پخواني

ترجمه وتشريح ﴿ ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.که دوو ګواهانوپه چا باندې په تيره شوې زمانه کبني دحد جاري کيدو ګواهي ورکړه.حالانکه دهغوى دپاره هروخت امام ته په دې باره کبني پيش کيدو کبني اوګواهئ ورکولوکبني څه څيزمانع هم نه وو.اونه څه مجبوره وو.مثلا دامام نه ډيرلرې اوسيدل، يا په څه خاص بيمارئ کبني اخته وو،يا د لارې ويره وغيره وه.نود دوى ګواهي به مقبول نه وي.البته صرف د حد قذف په باره کبني به قبول وي. (يعني که يوکس په بل باندې د زنا تهمت اولګولو.اودې دهغې ګواه وي.اوبيا څه وخت په مقذوف(چه په چا قذف لګولي شوې وي) دعوه اوکړه. (چه ده په ما باندې د زنا تهمت لګولي دې.او زما بې عزتي ئي کړې ده) اوبه دغه وخت کبني دغه ګواهانوګواهي ورکړه.نوپه دې صورت کبني به ددوى ګواهي قبليږي.ځکه چه سمدستي په دوى باندې ګواهي ورکول واجب نه وو)

اصله ﴿ صورت دمسئلې دا دې.چه يوکس په داسې ګواهئ کبني روستوالي اوکړى. چه د هغې تعلق دهغه حدودو سره وى. کوم چه خالص دالله تعالى دحدودو په زمره کبني راځي.نودغه حقوق الله په شهادت کبني د تاخيربه وجه باطليږي.ځکه چه په حقوق الله کبني د اقرارنه پس د شهادت نه رجوع کول صحيح دى.اوبه دې کبني تاخيرد شهادت د قبوليت دپاره مانع دې.

دليله ﴿ دشهادت په تاخيرکبني ګواهانوته په دوو خبروکبني د يوې خبرې اختيار دې.يا خودې دغه ګواه دثواب په نيت باندې خاموشي اختيارکړي.يا به ددې وجې خاموشي اختياروى.چه د يومسلمان پرده اچول شي.نوکه داجراوثواب په نيت باندې ئي په ګواهئ کبني تاخيرکړې وى.اوبيا روستو دې په ګواهئ ورکولوباندې اماده شي.نودده په دې آماده کيدو کبني مقصد حسد اودشمني ده. (چه دې د زناکارسره دشمني کوى) نوپه دې صورت کبني د تهمت په وجه دې ګواه ،ګواهئ کولو ته رجوع اوکړه.که ددې خبرې عام اجازت ورکړې شي.نود حقوق الله يعنى حدود الله حيثيت به د لوبوتوقو

---

[۱] القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(۱۶۳\۳) والكفاية (۳۰\۵) والعناية (۳۰\۵) نقلاً عن القول الراجح (۴۳۷\۱)-

شي.اودا خبره دالله تعالی د شان سره نه ښائي.په داسي صورت حال کښي دالله تعالی اود هغه د حدودو اواحکاموتوهين ته دروازه پرانستي کيږي.دغه شان انسان د خطاء نه پيدا دي.د ده نه خامخا څه غلطي کيږي.خوپه ذکرشوي صورت کښي به لالچيان خلق د ذاتي دشمنۍ په طور دا خبره دخپلي ذاتي دشمنۍ دپاره استعمالوي.لکه په موجوده وخت کښي چه حکمران طبقه د خپلو مخالفينو مغلوبه کولودپاره قانوني حربي استعمالوي.ددي نوعيت ټول کارونه ددې د باطن په فساد باندي دلالت کوي. نو د باطن د فساد په وجه به په شهادت کښي تاخيرکول معتبر نه وي. (بلکه که روسته ګواهي ورکوي.هغه به غيرمقبول وي) اوکه دتاخيروجه پرده اچول کيدل وي. (که دي دهغه د زنا ګواهي ورکوي.نودهغه پرده اوعزت خرابيږي) نوپه دي صورت کښي رجوع کول په فسق باندي مبني ده. (يعني چه اول ئي شهادت نه وی کړی.او ورستوبيا شهادت کولوته رجوع اوکړي.نودا به دده فسق وي) ځکه چه د چا عيب ښکاره کول ګناه ده.نوپه شهادت کښي د پردي ښکاره کيدو په رجوع کول يعني د زنا شهادت ورکول يوقسم عيب ګڼرلي شي. (چه په يومسلمان پرده اچول دي) اوعيب ښکاره کول فسق دي.اودفاسق ګواهي غيرمعتبر وي.نوچه په شهادت کښي تاخيراوکړي.اوبيا روسته شهادت ورکوي.دا په شهادت کښي رجوع ده. (يعني شهادت ورکولوته رجوع ده.چه اول ئي شهادت نه وو کړي.اوبيا روستو شهادت کوي) اودګواهۍ نه رجوع کول فسق دي. نو د دي وجي د ګواهۍ نه رجوع کول صحيح نه دي.اوداقامت حد (يعني حد قائمولو) عمل به باطل شي.ځکه چه دالله تعالی ارشاد دي.چه ﴿ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ ﴾ يعني دالله تعالی دپاره ګواهي ورکوئ.نوپه شهادت کښي روستووالي د شهادت د قبوليت دپاره مانع دي.

د پردۍ ښځي سره دفرج نه سوا وطی اولواطت کول

(وَمَنْ وَطِئَ امرأةً أجنبيةً فيما دون الفرج يُعَزَّرْ)

ترجمه> اوکه يوکس د پردۍ ښځي سره د شرمګاه (فرج،مقعد) نه سوا په بل ځائي کښي وطی اوکړله. (مثلاً دښځي په پتون خيته يابل ځائي پوري ئي خپل عضوتناسل اومګل) نوداسي کس ته به تعزيري سزا ورکولي شي.(¹)

تشريح> دليله> اودامام ابوحنيفه‌رحمه‌الله دليل دا دي.چه په حقيقت کښي لواطت زنا نه ده.ځکه چه ددي د سزا په باره کښي په خپله دصحابه کرامورضي‌الله‌عنهم اختلاف وو.چه داسي کس دي په اورکښي اوسوزولي شي.يا دي پري ديوال راګذارکړي شي.يا دي د اوچت چت نه پر مخي راګذارکړي شي.اودپاسه دي پري کاڼري اوورولي شي.وغيره.اودا فعل هم د زنا په معنی کښي نه دي.ځکه چه په دي کښي بچي ضائع کيدل اود نسب مشتبه کيدل نه لازميږي. بلکه دا فعل خود زنا په مقابله کښي زيات سپک دي.ځکه چه دا صرف د يوطرف يعني د لوطي په خواهش سره کيږي.اوبل طرف ته په دي کښي څه خوند نه وي.نوبيخي بي خواهشه وي.اوپه زنا کښي دوارو ته خوند ملاويږي.اود دوارو طرفه خواهش وي.

مسلک الصاحبين> د صاحبين مسلك دا دي چي دا لواطت د زنا پشان دي نوپه ده باندي به حد زنا جاري کولي شي.

¹) القول الراجح هو هذا قول الإمام أبي حنيفةرحمه‌الله كذا في مجمع الأنهر(١\٦٠٣) وفتح القدير(٥\٤٤) والخانية (٤\٤٠٨) ورد المحتار(٣\١٧١) والهندية (٢\١٥٠) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٤٠)ـ

دليلهما > لواطت هم د زنا په حكم او معنى كښې دي.ځكه چه په لواطت كښې خپل خواهش نفسانى په داسې محل كښې پوره كولې شي.دكوم چه پوره خواهش وي.اوخپل دا خواهش په پوره طريقه باندې پوره كوي.اومنى په بې محله ځائې كښې تويوي.نوهركله چه د زنا ټول افعال دده نه څرګند شول.نودده سزا هم د زنا يا ددې پشان كيدل پكار دى.

دخوئ د وينځې سره وطي كول موجب حد نه ده

(وَلَاحَدَّعَلٰى مَنْ وَطِئَ جَارِيَةَ وَلَدِهٖ وَوَلَدِ وَلَدِهٖ وَإِنْ قَالَ: عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ)

ترجمه > اوپه هغه كس باندې حد نه جارى كيږى.چا چه دخپل خوى يا نمسى د وينځې سره وطى كړې وى.اګرچه دې دا وائى.چه ماته علم دې.چه دا په ما حرامه ده.

تشريح > **دليله** > ځكه چه دا شبه حكميه ده.ځكه چه د يودليل په وجه دا شبه پيدا شوې ده.هغه دليل د رسول الله ﷺ فرمان دې.چه «أنت ومالك لأبيك» يعنى ته اوستا مال اواسباب ستا د پلار دى.(۲)

(وَإِذَاوَطِئَ جَارِيَةَ أَبِيهِ أَوْأُمِّهِ أَوْزَوْجَتِهٖ اَوْوَطِئَ الْعَبْدُ جَارِيَةَ مَوْلَاهُ) وَقَالَ ظَنَنْتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِي فَلَاحَدَّعَلَيْهِ وَإِنْ قَالَ: عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ حُدَّ،

ترجمه > اوكه دخپلې پلار يا موريا ښځې وينځې سره ئې وطى اوكړله.او يا غلام د خپل مولى د وينځې سره وطى اوكړه اودا اووائى.چه ما پيژندل چه دا په ما باندې حرامه ده. نو هغې باندې به حد جارى كولې شى. اوكه دا ئې اووئيل چه زما دا ګمان وو.چه دا به زما دپاره حلاله وى.نوپه ده باندې به حد نه لازميږى.

تشريح > **دليله** > ځكه ددې خلقوپه مينځ كښې دګټې حاصلولوپه اعتبارسره فراخدلى وى.نوځكه دلته دا احتمال كيدې شى.چه په حقيقت كښې ده ته په وطى كولوسره د نفعې حاصلولوګمان شوې وى.ددې وجې ددې شبه نوم شبه اشتباه ده.خوچونكه په حقيقت كښې دا زنا ده.نوكه يوكس په ده باندې د زنا تهمت اولګوى.نوهغه ته به حدقذف نشى وركولې.

د ورور اوتره د وينځې سره وطى كولوباندې وجوب حد

(وَمَنْ وَطِئَ جَارِيَةَ أَخِيهِ أَوْعَمِّهٖ وَقَالَ: ظَنَنْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَلَالٌ حُدَّ)

حل اللغة > ① **جارية**:وينځه ② **اخ**:اورور ③ **عم**:تره

ترجمه > چا چې دخپل ورور يا تره د وينځې سره وطى اوكړله.اودا اووائى.چه زما ګمان خودا وو.چه دا وينځه زما دپاره حلاله ده.نوپه ده به حد جارى كولې شى.

تشريح > **دليله** > ځكه چه د ورور اوتره په مينځ كښې په مال كښې فراخدلى نه وى.اوهم دا حكم د نوروممحارمودې.مثلاً ماما اوترور وغيره.

وطى بالشبه موجب دحد نه ده

(وَمَنْ زُفَّتْ إِلَيْهِ غَيْرُامْرَأَتِهٖ وَقَالَتِ النِّسَاءُ: إِنَّهَازَوْجَتُكَ فَوَطِئَهَالَاحَدَّعَلَيْهِ وَعَلَيْهِ الْمَهْرُ)

---

۲) من حديث جابر ﷺ اخرجه ابن ماجه فى البيوع رقم ۲۲۹۱۔

ترجمه > که دنکاح نه پس د وادهٔ په شپه خاوندته دهغه د ښځې په ځاني بله یوه ښځه اولیږی.اودا ورته اووئیلې شی.چه دا ستا ښځه ده.ددې وجې هغه ورسره وطې اوکړی.نوپه ده باندې حدنشی جاری کولې. البته په دغه سړی باندې د ښځې مهرلازم دې.یعنی دښځې چه کوم مهروی.هغه به ورکوی.

تشريح > **دلائله** > ① حضرت علی رضی الله عنه هم د مهرد وجوب حکم کړې وو.(۱)

② اوددې وجې پرې هم حد نه جاری کیږی.چه سړی دخپلې ښځې دنا اشناوالی دوجې د دې په پیژندګلوکښې شبه کړې وه.ځکه چه ده دخان دپاره دا خبره دلیل جوړ کړې دې.اوپه دې باندې ئې اعتماد اوکړلو.چه ښځو ورته اووئیل.چه خپلې ښځې ته ورشه. ځکه چه یوسړې په اول ځل په خپله ښځه اوپردئ کښې امتیاز نشی کولې.

په خپله بستره پردئ ښځې سره وطی کول

وَمَنْ وَجَدَ امْرَأَةً عَلٰى فِرَاشِهِ فَوَطِئَهَا فَعَلَيْهِ الْحَدُّ

حل اللغة > ① **فراش**:بستره

ترجمه وتشريح > اوچا چه په خپله بستره یوه ښځه اوموندله.اوهغې سره ئې وطی اوکړله. (حالانکه هغه دده ښځه نه وه)نوپه ده باندې به حدجاری کیږی.

دليله > ځکه څه زمانې پورې چه دوی یوځائې پاتې شوی وی.نوده ته دخپلې ښځې په پیژندګلوکښې څه اشتباه نه پیدا کیږی.نوځکه دده دګمان قابل قبول دلیل نه دې.نوځکه اشتباه نشوه.

وَمَنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً لَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا فَوَطِئَهَا لَا يَجِبُ عَلَيْهِ الْحَدُّ

ترجمه>اوکه یوکس د داسې ښځې سره نکاح اوکړه.چه هغه په ده باندې همیشه دپاره حرامه وی. یعنی هغې سره ئې هیڅ کله نکاح نه صحیح کیږی.اوددې نه پس دهغې سره وطی هم اوکړی.نوپه ده باندې حد نشی جاری کولې.

تشريح > په هدایه کښې ورسره دا اضافه شوې ده چې ده ته به سخته سزا ورکولې شی.خوپه دې شرط چه ده قصداً عمداً داسې کړې وی. دسفیان ثوری اوزفررحمهماالله هم دا قول دې

دليله > دلیل دا دې.چه نکاح په هغه ځائې کښې شوې ده.کوم چه ددې ځائې دې.ځکه چه محل دتصرف هم هغه وی. کوم چه د مقصود حاصلولوقابل وی. (یاچه دځه نه مقصود حاصلیدې شی) حالانکه دنکاح اصلی مقصود د نکاح حاصلول دی.نوځکه نکاح په تولواحکاموکښې منعقداومؤثرګرځول پکار دی.خوشریعت څه خاص خلق حرام کړی دی.نوچه په نکاح سره د حلالوالی کومه فائده ملاویږی.نوهغه په دې مسئله کښې نشته.ځکه په دې عقدنکاح سره یوه شبه پیدا شوه.اګرچه هغه په خپله ثابته نه ده.خود ثابت شوې مشابه ده.اوچونکه سړی یوډیرلوې جرم کړې دې.اوهغه هم داسې جرم چه دهغې حد یا سزا د شریعت دطرفه مقرر شوې هم نه دې.نوځکه به ورته د موقع مناسب سخته سزا ورکولې شی.

مسلک الصاحبين > خوامام ابویوسف،امام محمداو امام شافعی رحمهماالله (اوامام مالك،اواحمد او نوروفقهاؤ هم) وئیلی دی.چه په ده به حد واجب وی.خوپه دې شرط چه ده قصداً عمداً داسې کړې وی.

۱) قال الزیلعی رحمه الله قلت غریب جداً۔

دليلهما خکه چه دا نکاح دغيرمحل يعنی چا سره چه نکاح نه صحيح کيږی شوي ده. نو ددی وجې لغواوکالعدم ده.لکه څنګه چه يوسړي دبل سړي يا بل هلك سره نکاح اوکړی.نوهغه هم لغوده.خکه چه محل دتصرف هم هغه وی.کوم محل چه دمکان محل وی.اودنکاح حکم دا دې.چه دچا سره نکاح شوې وی.هغه دده دپاره حلاله شی.حالانکه په موجوده مسئله کښې چه د کومې ښځې سره نکاح شوې ده.هغه دهغه ښځوخنی ده.چه هميشه دپاره په ده باندې حرامه ده. خويه دې مسئله کښې دصاحبينو رحمهماالله په قول باندې فتوی ده.په الخلاصه اوجامع الرموزکښې نقل دی.چه په متونوکښې دصاحبينورحمهماالله په قول باندې فتوی ده. (المضمرات)

دپردئ ښځې سره دفرج نه سوا وطی اولواطت کول

وَمَنْ أَتَى امْرَأَةً فِي الْمَوْضِعِ الْمَكْرُوهِ أَوْعَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ فَلَاحَدَّ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَيُعَزَّرُ[1]

ترجمه اوکه يوسړی ديوې ښځې په مکروه محل يعنی مقعد کښې وطی اوکړله.يا ده د قوم لوط عمل اوکړلو.يعنی ديوخوان هلك يا ماشوم په مقعد کښې ئې وطی اوکړله.نوداامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزپه ده باندې حدزنا نه لازميږی.بلکه بله څه سزا به ورته ورکولې شی.

تشريح **دليله** دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه په حقيقت کښې لواطت زنا نه ده.خکه چه ددې د سزا په باره کښې په خپله دصحابه کرامو رضي الله عنهم اختلاف وو.چه داسې کس دې په اورکښې اوسوزولې شی.يا دې پرې ديوال راګذارکړې شی.يا دې د اوچت چت نه پر مخې راګذارکړې شی.اودپاسه دې پرې کاڼړی اوورولې شی.وغيره،اودا فعل هم د زنا په معنی کښې نه دې.خکه چه په دې کښې بچې ضائع کيدل اود نسب مشتبه کيدل نه لازميږی.بلکه دا فعل خود زنا په مقابله کښې زيات سپك دې.خکه چه دا صرف د يوطرف يعنی د لوطی په خواهش سره کيږی.اوبل طرف ته په دې کښې څه خوند نه وی.نوبيخی بې خواهشه وی.اوپه زنا کښې دواړو ته خوند ملاويږی.اود دواړو طرفه خواهش وی.

وَقَالَا: هُوَكَالزِّنَا فَيُحَدُّ

مسلك الصاحبين صاحبينو فرمائيلی دی.چه دلواطت عمل د زنا پشان دې.نوپه داسې کونکی به هم حد جاری کولې شی. (يعنی محصن ته به رجم ورکولې شی.اوغيرمحصن ته به کوړې ورکولې شی.

دليلهما دصاحبينورحمهماالله دليل دا دې.چه لواطت هم د زنا په حکم او معنی کښې دې.خکه چه په لواطت کښې خپل خواهش نفسانی په داسې محل کښې پوره کولې شی.دکوم چه پوره خواهش وی.اوخپل دا خواهش په پوره طريقه باندې پوره کوی.اومنی په بې محله ځائې کښې تويوی.نوهرکله چه د زنا ټول افعال دده نه ښکاره شول.نودده سزا هم د زنا يا ددې پشان کيدل پکار دی.

دخناورسره دوطی کولوحکم

(وَمَنْ وَطِئَ بَهِيمَةً فَلَاحَدَّ عَلَيْهِ)

حل اللغة ① **بهيمة**:خناور

ترجمه اوکه يوکس د خناورسره وطی اوکړله.نوپه هغه باندې به حد نشی جاری کولې.

---

[1] القول الراجح هو هذا قول الإمام أبي حنيفة رحمه الله كذا في مجمع الأنهر(٦٠٣\١) وفتح القدير(٤٤\٥) والخانية (٤٠٨\٤) ورد المحتار(١٧١\٣) والهندية (١٥٠\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٤٠\١)_

تشریح> دلیله> ځکه چه په جرم او د خواهش په اعتبارسره دا فعل د زنا په معنی کښې نه دې.ځکه چه فطرت سلیمه ددې فعل نه نفرت کوی.اوپه دې فعل باندې اماده کیدل یا خودیرحماقت دې.اویا د شهوت نفساني زیادت دې.ددې وجې د څناوروشرمګاه پټول ددې په مالکانوباندې واجب نه دی.

وجوب التعزیر> که په داسې فعل کونکی باندې حدجاری هم نکړې شی.خوبیا هم ده ته تعزیری یا واجبی سزا ورکولې شی.ځکه چه داسې کارکول بیشکه ډیرناخوښه عمل دی.ددې وجې مونږ ورانډې بیان کړې ده.اوپه یوحدیث کښې چه دا خبره راغلې ده.چه دکوم څناور سره داسې کار اوشی.نوهغه دې ذبح اواودې سوزولې شی.نودا ددې وجې وو.چه خلق ددې واقعه شهرت نه کوی.خوبیا هم داسې کول ‹یعنی ذبح کول یا سوزول› واجب نه دی.

د دار الحرب په زنا په دارالاسلام کښې حد نه جاری کیدل

(وَمَنْ زَنٰى فِي دَارِ الْحَرْبِ أَوْفِي دَارِ الْبَغْيِ ثُمَّ خَرَجَ إِلَيْنَا لَمْ يُقَمْ عَلَيْهِ الْحَدُّ).

ترجمه> اوکه یوکس دکافروپه داسې ملك کښې زنا اوکړه.چا سره چه زمونږ جنګ جاری وی.یا نې د باغیانوپه ملك کښې زنا اوکړله.بیا هغه دارالاسلام ته یعنی زمونږ وطن ته راوتختیدلو.اودلته هغه په دار الحرب کښې د کړې زنا اقرار اوکړلو.نوپه ده به حد نشی جاری کولې. (۱)

تشریح> دلائله> ① دلیل دا حدیث دې.لَايُقَامُ الْحُدُودُفِي دَارِالْحَرْبِ} (۲)چه په دارالحرب کښې حدود نشی قائمولې.

② بله دا چه د حد نه خومقصود دا دې.چه دې پخپله اونورخلق داسې حرکت نه کوی.اوویریږی.خوپه دې صورت کښې خو دامام ولایت صرف په خپل ملك دارالاسلام کښې وی.دلته هغه حدود وغیره قائمولې شی.خوپه دار الکفر او دارالحرب کښې خودهغه په چا باندې څه اختیارنشته.نوځکه حد واجبول بې فائدې دی.اوچه هلته نه دارالاسلام ته راشی.نوبیا هم حد نشی قائمولې.ځکه چه په کوم وخت کښې دغه کس دا غلط کارکړې وو.په هغه وخت کښې دا زنا موجب د حد نشوه ګرځیدې.نواوس به هغه څنګه بدله شی.اود دې قابله شی.چه دهغې په وجه حد قائم کړې شی.

بَابُ حَدِّ الشُّرْبِ

ترجمه> باب دې په بیان د شراب وغیره څکلوپه حدکښې.

(وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَأُخِذَ وَرِيحُهَا مَوْجُودَةٌ فَشَهِدَ الشُّهُودُ عَلَيْهِ بِذٰلِكَ أَوْأَقَرَّ وَرِيحُهَا مَوْجُودَةٌ فَعَلَيْهِ الْحَدُّ).

ترجمه> کوم کس چه شراب اوڅکل. ‹یعنی هغه شراب دکوموچه په قرآن پاك کښې ذکردې› اویا هغه اونیولې شو.په داسې حال کښې چه دهغې بدبونې تراوسه پورې دهغه د خولې تلله. او ګواهانو دهغه دشرابوڅکلوګواهی ورکړله.نوپه ده به دشرابوڅکلوحد یعنی اتیا کوړې جاری کولې شی.

تشریح> ((ومن شرب الخمر)) دغه شان ده په خپله اقراراوکړلو.اوپه خوله کښې نې بدبونې موجوده وی.نوهم دا حکم دې.ځکه چه دده نه د شرابوڅکلوجرم ثابت شوې دې.اوپه وخت کښې روستووالې هم

(۱) امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په ده به حدجاری کولې شی.

(۲)خرجه الزیلعی رحمه الله مرفوعاً ثم روی عن زید بن ثابت رضي الله عنه قال لا تقام الحدود فی دارالحرب مخافة ان یلحق اهلها بالعدواخرجه البیهقی فی السنن الکبری ۹/۱۷۸.

نه دي شوې. (دشرابو په څښلو کښې بيهوشي راتلل شرط نه دي.بلکله که يوه قطره هم چا اوڅکله.نوهم به ورته حد ورکولې شي)

دليله> ددې حد وهلو په باره کښې اصل دا حديث دې.چه نبي ﷺ فرمائيلي دی.څوك چه شراب اوڅکی.نوهغه له کوړې ورکړئ.که بيا شراب اوڅکی.نوبيا ورته کوړې ورکړئ.اوکه په دريم ځل ئې بيا شراب اوڅکل.نوبيا ورته کوړې ورکړئ.اوکه په څلورم ځل ئې اوڅکی.نوقتل ئې کړئ.(۱)

مفهوم القتل> په دې کښې په څلورم ځل څکلو باندې دقتل حکم په دې باندې محمول دې.چه هغه د شرابوڅکلودحرمت قائل نه وی.يعنی دا حلال ګنړی.لکه څنګه چه دابن حبان په روايت کښې ددې صراحت راغلې دې.اوددې پشان د معاويه ﷛ نه هم مرفوع روايت منقول دې.

د بوئي ختميدونه پس اقرارکول

(وَإِنْ أَقَرَّ بَعْدَ ذَهَابِ رَائِحَتِهَا لَمْ يُحَدَّ)

تشريح> اوکه دشرابوڅکلوئې په خپله اقراراوکړلو.نودامام ابوحنيفه اوابويوسف ﷭ په نيزيه پرې حد نشي جاری کولې.البته په دې صورت کښې چه بدبوئي موجود وی.

دليلهما> څکه چه د شرابو په څکلوباندې د حد جاری کولوحکم ثبوت د صحابه کرامو ﷡ په اجماع سره دې.اواجماع به په هغه وخت کښې منعقد وی.چه په هغې کښې جليل القدرصحابه کرام ﷡ مثلاً دعبدالله بن مسعود ﷛ رائې هم شامل وی. حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ د بدبوي وجود د حد قائمولودپاره شرط ګرځولو.(۲)

مسلک محمد> اودامام محمد ﷫ په نيز که د بوئي تلو نه پس که لړه زمانه تيره شوې وی اوده اقرار اوکړو نو حد نه ساقطيږي.اوهغه يو مياشت ده.نو که د يوې مياشتې نه وړاندې وړاندې ئې اقرار اوکړو.حد به پرې جاری کولې شی ګنه نه.

دليله> د دوی دليل په زنا باندې قياس دې لکه څنګه چې يو کس د زنا اقرار اوکړی.نو که د اقرار او د زنا په مينځ کښې د يوې مياشتې نه کمه زمانه تيره شوې وی.حد به پرې جاری کولې شی.اوکه د يوې مياشتې نه زيات وخت تير شوې وی.اوبيا دې په خپله سابقه زنا باندې اقرار اوکړی.چا ما د يوې مياشتې نه وړاندې زنا کړې وه.نو په ده حد نه جاری کيږی.

دخه معقول عذرد وجې دخولې نه د بوئي ختميدل مانع د حدنه دي

(وَمَنْ سَكِرَ مِنَ النَّبِيذِ حُدَّ)

ترجمه> اوهغه کس چه د نبيذ څکلوپه وجه نشه شی.نوپه ده به حدجاری کولې شی.

---

۱) من حديث أبي هريرة ﷛ اخرجه أبوداود في الحدود باب ۳٦ والنسائي في الأشربة باب ٤۲ رقم ٥۲۳۳ وابن ماجه في الحدود باب ۱۷ رقم ۲٥۷۲ وأحمد في المسند ٥۰٤/۲ـ

۱) غريبه الزيلعي ﷫ بهذا اللفظ ثم نقل اثره ﷛ وفيه انه ﷛ أمرالجلاد بالذی شرب الخمرووجد منه ريح الخمروعزاه الی مصنف عبدالرزاق نصب الراية ۵۳۳/۳ـ

تشریح> دلیله> ځکه چه دارقطني په خپل سنن کښي روایت کړي دي.چه حضرت عمر ﷺ یوداسي کس باندي حد جاري کړي وو.چه هغه د نبیذ د ځکلوپه وجه نشه وو.(۱)انشاءالله مرنږ به وړاندي ددي بیان اوکړو.چه د نشي حدڅه دي.اوپه څومره مقدارڅکلوباندي سړي مستحق د حد ګرځي.

ما یؤخذ النبیذ؟> دهرڅیزوی.دکوم څیزنه چه نبیذتیاریږی.هغه پخولي شي.تردي چه هغه نبیذ لږ غوند ټینګ شي. دهغي ځکل جائز دی.مثال طور دنبیذ شربت د قچورو، غنمو، شهدو، جوارو، وریژو، باجره،انګور وغیره نه نبیذتیارولي شي.

دشرابوپه بوئی یا قئ باندي دحد عدم وجوب

(وَلَاحَدَّعَلٰى مَنْ وُجِدَمِنْهُ رَائِحَةُ الْخَمْرِأَوْمَن تَقَيَّأَهَا)

حل اللغة > ① **تقیأ:** ځان ساتل

ترجمه> اوګواهانویوکس په شرابوڅکلونه وو لیدلي.خودهغه د خولي نه دشرابو بوئي راځي.یا هغه د شرابو قئ اوکړلو.نوده ته به حد نشي لګولي.

تشریح> دلیله> ځکه چه په دي بدبوئي کښي احتمال شته. (چه دا شرابوبوئي دي اوکه د بل څه) دغه شان ځکاك هم د څه دباؤ او زورني دوجي کیدي شي.نوځکه به نشئ سړی ته حد نشي ورکولي.

وَلَايُحَدُّالسَّكْرَانُ حَتّٰى يُعْلَمَ أَنَّهُ سَكِرَمِنْ النَّبِيذِوَشَرِبَهُ طَوْعًا)

ترجمه > اوحد به نشي ورکولي تردي چه دا معلومه شي.چه دا کس د نبیذ په ځکاك باندي نشه شوي دي.اوده دا په خوشحالئ سره ځکلی دی.

تشریح> دلیله> ځکه چه په مباح څیزنشه راتلوباندي حد نه واجبیږی.لکه بهنګ اود اسپي پیوسره نشه شي.دغه شان هغه کس چه په هغه باندي په زور ځکلي شوي وی.نوپه هغه باندي هم حد نشي جاری کولي.ځکه چه دا څیزونه حد نه واجبوی.

دبیهوشئ په حالت کښي دحد عدم نفاذ

(وَلَايُحَدُّحَتّٰى يَزُولَ عَنْهُ السُّكْرُ)

ترجمه> نشئ ته به په حالت د نشه کښي حد نشي ورکولي.تردي چه دده نه نشه لاړه شي.

دلیله> چه بیا دپاره دي اوویریږی.اوزورنه قبول کړی.

(وَحَدُّالْخَمْرِوَالسُّكْرِفِي الْحُرِّثَمَانُونَ سَوْطًا)

حل اللغة > ① **سوطا:** کوړي

ترجمه > اود شرابواونشي حد د آزاد سړی دپاره اتیا کوړي دی.

تشریح> دلیله> ځکه چه په دي باندي صحابه کرامو ﷺ اجماع کړي ده.

(يُفَرَّقُ عَلٰى بَدَنِهِ كَمَا ذَكَرْنَافِي الزِّنَا

ترجمه > اوکوړي به دشرابی بدن مختلفوحصو ته ورکولي شي.لکه په زنا کښي چه مونږ بیان کړی دی

تشریح> دلیله> دلیل وړاندي تیرشوي دي.

---

۱) اخرجه الدارقطني في سننه ۱۶۷/۳۔

(وَإِذَا قَذَفَ الرَّجُلُ رَجُلًا مُحْصَنًا أَوِامْرَأَةً مُحْصَنَةً بِصَرِيحِ الزِّنَا، وَطَالَبَ الْمَقْذُوفُ بِالْحَدِّ حَدَّهُ الْحَاكِمُ ثَمَانِينَ سَوْطًا إِنْ كَانَ حُرًّا)

ترجمه کله چه یوسړي (زید) بل محصن سړي (بکر) یا محصنه ښځه (زینب) په صریحي زنا باندي داغداره(متهم) کړي. (چه دي بکریا زینب زنا کړي ده)اومقذوف (په چا چه تهمت لګولي شوي وي.یعني بکراوزینب په قاذف باندي) د حد (قائمولو) مطالبه اوکړي. (چه ده په ما باندي د زنا تهمت لګولي دي.په ده باندي حد قذف قائم کړئ) که دغه قاذف (زید) آزاد وي.نوقاضي به په ده د اتیا کوړو حد جاري کړي.

تشریح **دلیله** د الله تعالی ددي قول په دلیل سره چه ((وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ)) یعني کوم کسان چه په محصناتو ښځوباندي د زنا تهمت اولګوي.اوبیا دوی څلورګواهان پیش نکړي.نودوی ته اتیا کوړي ورکړئ.)اوپه آیت کښي د ، ،رمي،، نه مراد په اجماع سره زنا ده.اوپه نص کښي دي طرف ته اشاره ده. (چه د رمي نه مراد زنا ده.اودا اشاره شرط کول د څلورو ګواهانو دي. ځکه چه څلورګواهان په زنا پوري خاص دي. (یعني شریعت کښي څلورګواهان صرف د زنا په باب کښي شرط دي.نودي ته اشاره شوه.چه د رمي نه مراد زنا ده)

اشتراط مطالبة المقذوف اوشرط کولي شي.مطالبه د مقذوف(بکراوزینب.چه هغوی په قاذف باندي دحد جاري کولومطالبه اوکړي)

دلیله ځکه چه په دي (حدجاري کولوکښي) دده (مقذوف) حق دي.په دي حیثیت چه دځان نه ملامتیا لري کول دي. (چه صبا ورته څوك د زناکارپیغور ورنکړي) اود مقذوف (چه بکراوزینب ده) احصان ثابتول دي. (چه خلقوته دا ثابته شي.چه بکراوزینب ګناهګاران نه دي) لکه څنګه چه مونږ آیت تلاوت کړلو. (یعني په کښي دمحصنات قید شته)

تشریح د ترجمي نه مطلب واضح دي.

(يُفَرَّقُ عَلَى أَعْضَائِهِ)

ترجمه (ابو الحسن قدوري رحمه الله) فرمائیلي دي.اوجدا جدا به وهلي شي اندامونه د قاذف. (پس یوځاي به نه وهي.بلکه مختلف ځایونه به وهي.

تشریح **دلیله** دا د دي دپاره چي د یواندام دضائع کیدو یا د قاذف دهلاکت سبب اونه ګرځي) لکه څنګه چه تیرشوی دي.په بیان د حد زنا کښي (چه جدا جدا اندامونوته به کوړي لګولي شي)

(وَلَا يُجَرَّدُ مِنْ ثِيَابِهِ)

ترجمه اوجامي به تري نشي ویستلي.

تشریح **دلیله** ځکه چه د حد قذف سبب یقیني نه دي. (ځکه چه کیدي شي.قاذف په خپله خبره کښي رښتیا وي.خودي څلورګواهان پیدا نکړي شي.اوپه حد زنا کښي تري جامي ځکه ویستلي شي.چه هلته د څلوروګواهان په شهادت سره زنا ثابته شوي ده.یعني دي خبري دصداقت دپاره د څلورګواهانو پیش کول ګران شرط دي.ممکن ده.چه خبره رښتیا وي.خوڅلورګواهان پیدا نشي.اوچه دغه خبره په څلورګواهانو ثابته شي.نوبیا خوپه کښي د شك هدو څه خبره نشته.نوپه حدقذف کښي د دعوه دصحت امکان شته.اوپه حد زنا کښي د دعوه دکذب احتمال نشته) نوحدقذف به په سختئ سره نشي قائمولي. (چه په حدزنا اوحدقذف کښي د کیفیت په اعتبارسره هم فرق ښکاره شي.اګرچه دعدد په اعتبارسره فرق ښکاره دي) په خلاف د حد زنا (ځکه چه په هغې کښي تري جامي ویستلي شي)

(غَيْرَ أَنَّهُ يُنْزَعُ عَنْهُ الْفَرْوُ وَالْحَشْوُ)

ترجمه البته دومره ده چه د قاذف نه به پوستن (يعنى هغه څيزچه د ورئ نه جوړ شوې وى) اوحشو نه(يعنى هغه جامه چه د مالوچونه ډکه شوې وى)

تشريح **دليله** ځکه چه دا څيزونه (په بدن وى نو) بدن ته تکليف رسول منع کوى. (حالانکه دحد جارى کولومقصد خو دا دې.چه محدود ته زورنه اوتکليف ملاؤشي.اود نوروډپاره عبرت شي)

دغلام حدقذف

(وَإِنْ كَانَ عَبْدًا جَلَدَهُ أَرْبَعِينَ سَوْطًا

ترجمه اوکه تهت لګونکي غلام وو.نوهغه ته به څلويښت کوړې ورکوى.

تشريح **دليله** ځکه چې هغه غلام دې او وړاندې تير شوى دى چې دغلام سزا د آزاد د سزا په نيمه ده.نو د آزاد قاذف حد قذف اتيا کوړې دى.نودغلام به د هغې په نيمه چې څلويښت دى.دا وى.

وَالْإِحْصَانُ أَنْ يَكُونَ الْمَقْذُوفُ حُرًّا بَالِغًا عَاقِلًا مُسْلِمًا عَفِيفًا عَنْ فِعْلِ الزِّنَا)

ترجمه په دې مقام کښې د محصن معنى دا ده.چه هغه آزاد ، بالغ ،عاقل ،مسلمان،اودزنا د کارنه پاك وى.

تشريح **دليل اشتراط الحرية** په دې کښې د آزادئ قيدځکه دې.چه دې ته د احصان نوم ورکړې شوې دې.الله تعالى فرمائيلى دى.﴿ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ﴾ ددې محصنات نه آزادې ښځې مراد دى.

دليل اشتراط العقل والبلوغ اودعقل اوبلوغ قيدپه کښې ځکه لګولې شوې دې.چه د نابالغ اوليونى نه د زنا دفعل صادريدل نه کيږى.نوهغوى باندې شرميدل هم نه راځى.

دليل اشتراط الاسلام اوداسلام قيد ددې وجې دې.چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى.چا چه دالله تعالى سره شرك اوکړلو. هغه محصن نه دې.

دبل کس د نسب نه انکارکول

(وَمَنْ نَفَى نَسَبَ غَيْرِهِ فَقَالَ لَسْتَ لِأَبِيكَ أَوْ يَا ابْنَ الزَّانِيَةِ وَأُمُّهُ مَيِّتَةٌ مُحْصَنَةٌ فَطَالَبَ الِابْنُ بِحَدِّهَا حُدَّ الْقَاذِفُ)

ترجمه اوکه يوکس دبل کس د نسب نفى اوکړله.اودا ئې اوونيل.چه ته دخپل پلارنه نه ئې. اويا اې د زناکارې بچيه،حالانکه دهغه محصنه مورمړه شوې وى. او په دې باندې دهغې خونى دده خلاف دعوه اوکړله.نوقاذف باندې به حد لګولې شى.

تشريح **دليله** په اول صورت کښې به ځکه به قاذف بآندې حد جارى کولې شى چه دنسب دانکارمطلب دهغه په موربانديې د زنا تهمت لګول دى.ځکه چه دنسب انکارصرف د زناکارنه کيږى.دبل چا نه نه کيږى. (نوکه دده موردبل چا وينځه وه.چا سره چې د دغه ماشوم پلار نکاح کړې وه.نودا کس د خپلې مور د مالك غلام دې.نوپه دې صورت کښې د تهمت لګونکى د خبرې مطلب دا شو.چه ته دخپل پلار نه بلکه دخپل مولى ئې.نوځکه ددې نه د نسب نفى نه لازميږى.اوکه دا ئې اوونيل.چه ته دخپل پلار نه ئې.نوده ته به حد نشى ورکولې.

اوپه دویم صورت کښې ده په یوه محصنه ښځه دهغې د مرګ نه پس د زنا تهمت اولګولو. (په خلاف دهغه صورت کښې چه دغه ښځه ژوندئ وی.اودتهمت نه پس مړه شی.نوپه دې صورت کښې حد ساقطیږی.العنایه)

(وَلَا يُطَالِبُ بِحَدِّ الْقَذْفِ لِلْمَيِّتِ إِلَّا مَنْ يَقَعُ الْقَدْحُ فِي نَسَبِهِ بِقَذْفِهِ

حل اللغة ① **القدح**:نقص.

ترجمه او د مړی د طرفه د حدقذف مطالبه هیڅوك نشی کولې.سوا دهغه کس نه چه دهغه په نسب کښې ددې مړی په قذف سره نقص او عار پیدا کیږی.(اوهغه ددې مړی پلار یا خوئې کیدې شی.یعنی په نسب کښې پورته طرف ته پلاراونیکه وغیره اوښکته طرف ته خوئې اونمسې اود دوی ښکتنی اولاد دی.)[1]

تشریح **دلیله** ځکه چه پلار اوخوئې ته ددې مړی د جزئیت د تعلق په وجه په دې قذف سره عاراوشرم لاحق کیږی.په دې وجې صرف په مړی باندې تهمت لګول په حقیقت کښې په دې ټولوباندې تهمت لګول دی. (چا سره چه ئې جزئیت وی)

دغلام په خپل مولی باندې دحدجاری کولوحق نشته

(وَلَيْسَ لِلْعَبْدِ أَنْ يُطَالِبَ مَوْلَاهُ بِقَذْفِ أُمِّهِ الْحُرَّةِ،

ترجمه اوغلام ته دا حق نشته.چه په خپل مولی باندې (دحد جاری کولو) مطالبه اوکړی.چه دهغه مولی دده په آزاده موریاندې تهمت د زنا لګولې وی. (اودا صورت چه خوئې ئې غلام اومورئې آزاده وی.داسې کیدې شی.چه اول دواړه ددې مولی په ملکیت کښې وو.اوبیا مولی ددې غلام مورآزاده کړی.اودې هم دغه شان غلام وی)

تشریح **دلیله** غلام په خپل مولی باندې د حدقذف جاری کولومطالبه ځکه نشی کولې.(چه) مولی ته دخپل غلام په وجه سزا نشی ورکولې.

دقذف دااقرارنه د رجوع حکم

(وَمَنْ أَقَرَّ بِالْقَذْفِ ثُمَّ رَجَعَ لَمْ يُقْبَلْ رُجُوعُهُ)

ترجمه اوچا (زید) چه د قذف اقراراوکړلو. (چه ما په بکرباندې د زنا تهمت لګولې دې.چه ده زنا کړې ده) اوبیا (د اقرارنه پس) دې رجوع اوکړی. (چه نه ما پرې د زنا تهمت نه دې لګولې.نوپه دې صورت کښې به) دده رجوع نشی قبلولې.

تشریح **دلیله** ځکه چه د مقذوف (بکر) په دې (حدقذف) کښې حق دې. (اوهغه حق په قاذف باندې د حد قذف جاری کولومطالبه ده) نوهغه (مقذوف) به په رجوع کولوکښې دده (زید) تکذیب کوی. (چه نه بلکه تا ما باندې د زنا تهمت لګولې وو.نوهرکله چه ورپورې دمقذوف حق متعلق دې.د اقرار نه په رجوع کولوسره دهغه حق نه باطلیږی.) په خلاف د هغه صورت چه هغه صرف حق الله وی. (لکه زنا شوه.نو که د زنا اقراراوکړی.اوبیا دهغې نه رجوع اوکړی.نودده رجوع صحیح کیږی) ځکه چه (په دې صورت کښې د بندګانو دطرفه) دده (رجوع کونکی قاذف) څوك مکذب (دروغژن کونکې) نشته.چه (دا قاذف په) دې حق الله کښې دروغژن کړی. (چه نه تا زنا کړې وه.اواوس دروغ وائې.چه ما زنا نه ده کړې)

[1] **مسلك الشافعي**:- دامام شافعي رحمه الله په نیز ددې مطالبې حق دهغه ټولو وارثانوته حاصل دې.

عربي ته د نبطي وئيلو حکم

(وَمَنْ قَالَ لِعَرَبِيٍّ يَانَبَطِي لَمْ يُحَدَّ)

ترجمه اوچا (زید) چه عربی (بکر) ته اوونیل.اې نبطی (دعراق په اوسیدونکوکښې یوقوم دې) نوده (زید) ته به حد (قذف) نشی ورکولې.

تشریح **دلیله** ځکه چه په دې کلام سره په اخلاقو یا عدم فصاحت کښې تشبیه اراده کولې شی. (یعنی دقائل مراد یا دا دې.چه ته په بداخلاقۍ کښې د نبطیانو پشان ئې.یا ته په عدم فصاحت کښې د عراق د نبطیانوپشان ئې).

د((ابن السماء)) وئيلو حکم

(وَمَنْ قَالَ لِرَجُلٍ يَاابْنَ مَاءِ السَّمَاءِ فَلَيْسَ بِقَاذِفٍ)

ترجمه اوکه یوکس (زید) بل (بکر) ته اوونیل.اې دآسمانی اوبو بچیه! نو(په دې جمله سره) دې قاذف نه دې.

تشریح **دلیله** ځکه چه په دې کلام سره په سخاوت اوصفائي کښې دآسمانی اوبوسره تشبیه ورکول مراد کیدې شی. (چه ستا سخاوت د باران د اوبو پشان پریمانه دې.یا ستا حسن اوجمال په بنانست کښې د آسمانی اوبوپشان صفا دې.اودآسمانی اوبوسره تشبیه ځکه ګنړلې شی.چه) دآسمانی اوبود صفائی اوپریمانئ د وجې (یوکس ته) ددې لقب ورکولې شی.((چه یاابن السماء)) اې دآسمان بچیه! (لکه په یوحدیث کښې چه دحضرت اسماعیل ﷺ د موربی بی هاجره ؓ په باره کښې راغلی دی.((فهذه أمكم يابنی ماء السماء)) یعنی اې د آسمانی اوبو بچواهم دا ستاسو مور ده. رواه البخاری.نوددې نه معلومه شوه.چه دا الفاظ د تعریف دپاره وئیلې شی.د زنا تهمت لګولو دپاره نشی وئیلې)

ماما،تره یا میرنی پلارته دیوکس د ابنیت نسبت کولو حکم

(وَإِذَا نَسَبَهُ إِلَى عَمِّهِ أَوْ خَالِهِ أَوْ إِلَى زَوْجِ أُمِّهِ فَلَيْسَ بِقَذْفٍ)

حل اللغة ① عم:تره: ② خال:ماما

ترجمه اوکله چې نې دې د خپل تره (الف) یا ماما (ب) یا دهغه دمور خاوند(پ) ته منسوب کړلو. (چه اې د بکر بچیه،یا اې د الف بچیه! یا اې د،ب، بچیه! یا اې د ،پ، بچیه!) نو(په دې دریې واړه صورتونوکښې) دې قاذف نه دې.

تشریح **دلیله** ځکه چه په دوی (دریې واړو) کښې هریو(که تره دې اوکه ماما دې اوکه میرنې پلاردې) ته پلار وئیلې شی.

اطلاق الاب علي العم هرچه اول (یعنی تره) دې.نو(ده ته پلارځکه وئیلې شی.چه) الله تعالی فرمائیلې دی. (کله چه دیعقوب ﷺ خامنو نه حضرت یعقوب ﷺ تپوس اوکړلوچې تاسو به زما د مرګه پس دچا عبادت کوئ.نوهغوی ورته په جواب کښې اوونیل) مونږ به ستا اوستا د پلارانو حضرت ابراهیم ﷺ اوحضرت اسماعیل ﷺ حضرت اسحاق ﷺ د معبود عبادت کوو. (په دې آیت کښې حضرت اسماعیل ﷺ ته هم پلار وئیلې شوې دې.حالانکه) حضرت اسماعیل ﷺ د دوی (یعنی دیعقوب ﷺ د خامنو) تره وو. (نومعلومه شوه.چه په تره باندې هم د پلار اطلاق کیږی)

اطلاق الاب علي الخال ﴾ اودویم (چه ماما ته هم پلار ونیلی شی.) دنبی ﷺ ددې قول د وجې چه ماما (د مور ورور) پلار دې. (ګوره په دې حدیث کښې نبی ﷺ ماما ته پلار ونیلی دی.(۱)نومعلومه شوه.چه په ماما باندې هم د پلار اطلاق کیږی)

اطلاق الاب علي زوج الام ﴾ اودریم (چه میرنی پلار دې.نوده ته هم پلار ونیلی شی) د تربیت د وجې(ځکه چه میرنی پلار د میرنی خوی تربیت کوی.نوخلق ورته د تربیت په وجه دهغه ځونې وائی. خلاصه دا چه په دې درې واړو نسبتونو سره حدقذف نه واجبیږی)

د پردې ملك کښې وطی کونکی باندې د زنا تهمت لګولوحکم

وَمَنْ وَطِئَ وَطْئًا حَرَامًا فِيْ غَيْرِمِلْكِهٖ لَمْ يُحَدَّ قَاذِفُهٗ)

ترجمه ﴾ اوڅوك چه وطی اوکړی.داسې وطی چه هغه حرامه وی.چه دده په ملك کښې نه وی. (یعنی نه دده په ملك نکاح کښې وی.اونه نې په ملك یمین کښې وی.اویوکس راولړی.ددې وطی په وجه په ده باندې د زنا تهمت اولګوی)نودده قاذف ته به حدنشی ورکولې.د پاکدامنئ د نشتوالی د وجې.ځکه چه عفت د احصان د شرائط ځنې دی. (یعنی په زیربحث مسئله کښې چونکه مقذوف په غیرملك کښې وطی کړې ده.اوپه غیرملك کښې وطی کول حرام وی.نودا زنا شوه.اودې زناکارشو.نوچه چا په ده باندې د زنا تهمت اولګولو .هغه باندې به حدقذف نشی جاری کولې.

تشریح ﴾ **دلیله** ﴾ ځکه چه دقذف لګولوپاره دا شرط دې.چه مقذوف محصن وی.اوپه دې صورت کښې دې محصن نه دې.نوحدقذف به هم نشی لګولې.اودویم دلیل دا دې.چه په قاذف باندې په هغه صورت کښې حدقذف جاری کولې شی.چه هغه په دغه الزام لګولوکښې دروغژن وی.اوپه دې صورت کښې) قاذف رښتونې دې. (نوځکه پرې حدقذف نشی جاری کولې)

القاعدة ﴾ اوپه دې باب کښې اصل (اوقاعده) دا ده.چه کوم کس داسې حرامه وطی اوکړله.چه هغه حرامه لعینه وی.نودهغې په قذف باندې حد نه جاری کیږی. (یعنی که څوك پرې ددغه وطی په وجه د زنا تهمت اولګوی.نودغه قاذف ته به حدقذف نشی ورکولې) ځکه چه زنا داسې وطی ده.چه حرام لعینه ده. (یعنی چه د کومې وطی حرمت په ذاتی طور موجود وی.د څه عارض د وجې حرمت نه وی راغلې) اوکه (دغه وطی) حرامه لغیره وی. (یعنی داصل په اعتبارسره خو دغه وطی جائز وی.خود یوعارض اومانع د وجې حرامه ګرځیدلې وی.لکه په حالت د حیض کښې ښځې سره وطی کول نوپه دې صورت کښې که یوکس ددغه حرامه لغیره وطی په وجه په ده د زنا الزام اولګولو.هغه قاذف شو.نو) هغه ته به حد(قذف) لګولې شی.ځکه چه دا (وطی حرامه لغیره) زنا نه ده.

په یال بچه داره ښځه چه خاوندئې معلوم نه وی.دزنا تهمت لګول

والْمُلَاعَنَةِ بِوَلَدٍ لَا يُحَدُّ قَاذِفُهَا

ترجمه ﴾ په ملاعنه ښځه باندې چه د بچی په باره کښې (د ښځې اوخاوند په مینځ کښې) لعان واقع شوې وی (یعنی چه ددې نه وراندې دغه ښځه (خالده) د بکرپه نکاح کښې وی.اوهغه پرې د زنا تهمت لګولې وی.اودهغې په وجه د دغه دواړو په مینځ کښې لعان واقع شوې وی.اوزید راولګی.په دغه خالدې باندې د زنا تهمت اولګوی) نوپه قاذف باندې حد نشته.

---

۱) خرجه الزيلعي بهذا اللفظ ثم أخرج عن عبدالله بن عمرو مرفوعاً الخال والد من لا والد له وعزاه إلى فردوس الديلمي نصب الراية ۳/۵٤۰ـ

تشريح> دليله> (په قاذف باندې حدقذف ځکه نه جاري کيږي.چه) د زنا نښه موجود ده.اودغه نښه دا ده.چه بچي شته اوپلار ئې معلوم نه دې. (اوهرکله چه دا صورت حال دې.نود ښځې) پاکدامنی ختمه شوه.اودا (پاکدامنی) د احصان دپاره شرط دې. (يعنی په قاذف باندې به هله حدقذف جاري کولې شي.چه دې په محصنه ښځه باندې د زنا الزام اولګوی.اوپه زيربحث صورت کښې چونکه پاکدامنی نشته.نواحصان ثابت نشو.اوچه احصان ثابت نشو.نود قذف لګولوشرط موجود نشو.چه په محصنه ښځه باندې دزنا الزام لګول دي)

وَاِنْ كَانَتِ الْمُلَاعَنَةُ بِغَيْرِ وَلَدٍ حُدَّ قَاذِفُهَا

ترجمه> اوکه په داسې ښځه باندې د زنا الزام اولګوی.چه بغيرد بچی نه هغې لعان کړی وی. (يعنی په هغې باندې خپل خاوند د زنا تهمت لګولې وی.حالانکه نه دهغې حمل وی.اونه ئې بچې وی.اودهغې په نتيجه کښې د دغه ښځې اوخاوند په مينځ کښې لعان واقع شوې وی.اوس دا کس راولګی.په دغه ښځه ملاعنه ښځه باندې د زنا تهمت اولګوی) نوپه دې قاذف باندې حد قذف دې.

تشريح> دليله> ځکه چه د زنا څه نښه نشته. (چه دهغې نه دا معلومه شی.چه واقعی دې ښځې زنا کړې ده.اوهرکله چه د زنا څه علامه اونښه نشته.نودا ښځه محصنه شوه.اوپه محصنه باندې د زنا تهمت لګول موجب دحد قذف دې)

وَمَنْ قَذَفَ اَمَةً اَوْعَبْدًا اَوْكَافِرًا بِالزِّنَا اَوْقَذَفَ مُسْلِمًا بِغَيْرِ الزِّنَا فَقَالَ يَا فَاسِقُ اَوْيَا كَافِرُ اَوْيَا خَبِيثُ عُزِّرَ

حل اللغة > ① التعزير: هغه سزا چه د قاضی په اختيار کښې وی او هغه ئې مقرر کوی د شريعت د طرفه مقرر نه وی

ترجمه> اوچا چه په وينځه يا په غلام، يا په کافرباندې د زنا تهمت اولګولو او يا په مسلمان باندې د زنا نه سوا بل څه الزام اولګوی.لکه ورته اووائی.اې فاسقهٖ اويا اې کافره! يا اې پليته نوتعزيری سزا به ورکولې شی

تشريح> دليل صورة قذف غيرالمحصن> ځکه چه دا جنايت (فی نفسه) قذف دې. (قطع لحاظ ددې نه چه مقذوف څوک دې.اوچه قذف شو.نود قذف تقاضا دا ده.چه شرائط پوره وی.په قاذف باندې حدقذف جاري شي.اودحدقذف د جاري والی احصان شرط دې.اوپه احصان کښې آزادی اواسلام ضروری دې.ځکه مونږ وايو.چه) داحصان د شرط فوت کيدو د وجې دحد جاري کول ممتنع شو. (اوچه حد ممتنع شو.نودې مجرم داسې پريخودل هم نه دی پکار.ځکه چه ده د جرم ارتکاب کړې دې.اومجرم ته خامخا دخپل جرم سزا ورکول پکاردی.چه په معاشره کښې امن پيدا شی.نو) تعزير واجب شو

دليل صورة القذف بغيرالزنا> ځکه چه ده (زيد) ورته (عمرته) تکليف اورسولو.اوپه ده (عمر) پورې ئې عيب اولګولو.اود قياس په حدودو کښې څه دخل نشته. (چه مونږ په ده باندې څه حد جاري کړو.ځکه چه حد به صرف په هغه جرمونوکښې قائمولې شی.په کوموکښې چه شريعت مقرر کړې وی.نومونږ قياساً په ده باندې حدنشو جاري کولې.البته زيدعمر ته تکليف رسولې.نوددې تکليف لرې کولودپاره) تعزيرواجب شو.خوپه اول صورت کښې (چه په غيرمحصن باندې د زنا تهمت لګولې شوې وی.نوپه هغې کښې) به تعزيری سزا آخری حد ته رسی.ځکه چه دا (الزام) د جنس د هغه تهمتونو څخی دې.په کوم کښې چه حد واجيږی. (چه حد قذف دې) اوپه دويم صورت کښې (چه فاسق وغيره ئې ورته ونيلی وی تعزير) دقاضی رائې باندې موقوف وی. (چه هغه څومره سزا مناسب ګنړی.هغه دې ورته ورکړی)

دخریا خنزیر ویلو تعزیر

(وَاِنْ قَالَ يَا حِمَارُ اَوْيَا خِنْزِيْرُ لَمْ يُعَزَّرْ)

حل اللغة ① **حمار**: خر

ترجمه اوکه (زید عمرته) اووئیل. اي خره! یا اي خنزیره! ده (زید) ته به تعزیر نشي ورکولي. ځکه چه ویونکی په ده باندې عیب نه دې لګولې.

تشریح **دلیله** ځکه چه په یقین سره ددې نفي معلومه ده. (چه عمرنه خر دې اونه خنزیر دې)

القولان الآخران ① اووئیلې شوي دی چه زمونږ په عرف کښې به (ده ته) تعزیر ورکولې شي. ځکه چه دا کنځل شمارلې شي. (اوچه کنځل شو. نوزید دعمر توهین اوبې عزتي اوکړه. ځکه به زید ته تعزیر ورکولې شي)

② اووئیلي شوي دي. چه چا ته کنځل شوې وي. که هغه د معززينوځني وي. لکه فقهاء اوسیدان شول. نوده (زید) ته به تعزیر ورکولې شي. ځکه چه ددې الفاظو په وجه دوی ته سخت تکلیف رسي. اوکه عام سړې وي. (چه ددې الفاظو په وئیلو دهغه څه خاص پرواه نه وي) نوبیا به تعزیرنشي ورکولې. اودا قول ډیره ښه دې. (ځکه چه په دې کښې دساب او مسبوب دواړو رعایت شوې دې)

دتعزیر مقدار

(وَالتَّعْزِيْرُ اَكْثَرُهُ تِسْعَةٌ وَثَلَاثُوْنَ سَوْطًا وَاَقَلُّهُ ثَلَاثُ جَلْدَاتٍ.[1] وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ: يَبْلُغُ بِالتَّعْزِيْرِ خَمْسَةً وَسَبْعِيْنَ سَوْطًا.)

ترجمه اودتعزیرزیات مقدار یوکم څلوېښت کوړې دی. اوکم مقدارئې درې کوړې دی. او امام ابویوسف رحمه الله فرمائیلی دی. تعزیرترپنځه اویا کوړو ته رسي.

تشریح **الاصل** اصل (دلیل) په دې (باب) کښې د نبي ﷺ ارشاد دې. څوك چه حدته اورسیدلو. په داسې خیزکښې چه حد نه وي.[2] (یعنی دیوکس نه څه جرم اوشو. خوهغه جرم داسې نه وي. چه شریعت پرې حدمقرر کړې وي. خوچه څوك ورته تعزیر ورکوي. نو دجرمونوپه حدودوکښې د یوجرم حدته اورسي. مثلاً اتیا کوړې شوې. چه دشرابوحد دې) نودا کس د زیاتي کونکوځنې دې.

مدار دلیلهما اوهرکله چه د تعزیری سزا حد ته رسول ناجائز شو. نوامام ابوحنیفه اومحمد رحمهما الله کم حد ته نظرکړې دې. اوهغه په حدقذف کښې دغلام حددې. (چه څلوېښت کوړې دی) نودوی دا تعزیردې (دغلام حدقذف) ته واړوله. (یعنی دتعزیری سزا مقابله ئې د غلام د حدقذف پورې اوکړله) اوهغه څلوېښت کوړې دی. نود هغې نه ئې یوه کوړه کمه کړه. (اود یوکم څلوېښتو کوړو قول ئې اختیارکړلو. چه په تعزیری سزا کښې به د یوکس څلوېښتوکوړو نه زیاتې کوړې نشي ورکولې)

مدار دلیله امام ابویوسف رحمه الله کم حد په آزادوسړوکښې معتبر کړې دې. (اوتعزیری سزا مقابله ئې د آزادو د حد آخری سزا سره کړې ده. اوهغه اتیا کوړې دی. اودوی دغلام د حد په ځائې د آزاد حد سره د تعزیری سزا موازنه اومقابله ځکه کړې ده. چه) اصل خو (په انسانیت کښې) آزادي ده. (هرانسان الله

---

[1] القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في فتح القدير (۵\۱۱۵) والعناية (۵\۱۱۵) وردالمحتار (۱۳\۱۹۹) والبحر (۵\۴۷) نقلاً عن القول الراجح (۱\۴۵۷)-

[2] من نعمان بن بشيراخرجه البيهقي في السنن الكبرى ۸۵۶۷) رقم ۱۷۵۸۴ وفي معرفة السنن والآثار ۶۴۹)۔

تعالى آزاد پيدا كړي دي.اوغلامي چه راځي.دا خو يوعارضي څيزدي.نواعتباربه د اصل كولي شي د عارضي نه) نو يوه كوره ئي كمه كړي ده. (يعنى د تعزيرى سزا آخرى حد ئي يوكم اتيا كوري مقرركري دى)

وجه التقدير بثلاث جلدات بيا ئي په كتاب (القدوري) كښي دكم تعزير اندازه په دري كورو باندي كړي ده.ځكه چه ددي نه په كم مقدارباندي (چه دوه يا يوه كوري دى) تنبيه (اوزورنه) نه واقع كيږي. (اومقصود خو په تعزيركښي تنبيه اوزورنه وى.نوچه مقصود پري نه حاصليږي.هغه به معتبر نه وى)

تعزيرى سزا كښي د قيدكولوحكم

(وَإِنْ رَأَى الْإِمَامُ أَنْ يَضُمَّ إِلَى الضَّرْبِ فِي التَّعْزِيرِ الْحَبْسَ فَعَلَ)

حل اللغة ① **يضم**:يوځاي كړي ② **الحبس**:قيد،بنديز

ترجمه ابو الحسن قدوري رحمه الله فرماني.اوكه امام مناسب ګڼړي.چه په تعزيرى سزا كښي د كورو سره قيدول هم شامل كړي.نوداسي دي اوكړي.

تشريح **دليله** ځكه چه دا (په جيلخانه كښي بندول) دتعزيرصلاحيت لري. (يعنى دا هم يوقسم تعزير دى) اويا دا چه د څه حده پوري په شريعت كښي قيدول هم ثابت دى.

(وَأَشَدُّ الضَّرْبِ التَّعْزِيرُ)

ترجمه ابو الحسن قدوري رحمه الله فرماني.چه سخت وهل دتعزيرخني دي. (يعنى په وهلوكښي به سختي كوى)

تشريح **دليله** ځكه چه په دي (تعزير) كښي يوخل د شمارپه اعتبارسره تخفيف راغلي دي. (چه دتعزيرد كورو شماربه د حددكورو نه كم وى.اوددي حكم مطابق په تعزيركښي دومره كوري نشي وركولي.چه د حددكورو مقدارته اورسى)نود وصف په اعتبارسره به په كښي تخفيف نشي كولي. (د وصف نه مراد په وهلوكښي سختي اونرمي كول دى) د مقصود د فوت كيدو سبب اونه ګرځي. (يعنى د تعزيرد مشروعيت مقصددا دي.چه مجرم د جرم دارتكاب نه منع شي.اوس مونږ يوطرف ته د تعزيرد كورو په شماركښي كمى كړي دي.نوكه بل طرف ته ددي په وصف كښي هم كمي اوكړو.چه نرم وهل اوكړو.نويه دي سره مجرم ته زورنه اوتكليف نه ملاويږى.اوچه تكليف ورته نه ملاويږى.نود تعزيرد مشروعيت چه كوم مقصد دي.هغه به فوت شي. اوښكاره خبره ده.چه دا صحيح نه ده) اوددي وجي (چه دتعزيرمقصود فوت نشى) د مختلفواندامو په وهلو په كښي تخفيف نه دي شوي. (يعنى دا حكم نه دي وركړي شوي.چه مجرم به په يواندام نشي وهلي. بلكه جلاد ته دا اجازت شته.چه هم يواندام باندي تول حد جاري كړي.ځكه كه دا حكم اوكړي شى.چه په يواندام باندي به ئي نه وهى.نويه دي باندي مجرم ته تكليف نه ملاويږى.نودتعزيرمقصود به حاصل نشي.نوخلاصه دا چه دتعزيرپه عدد كښي قاضي ته اختيارحاصل دي.دي په كښي كمي زياتي كولي شي. خود تعزيرپه وصف كښي ده ته د سختئ اونرمئ كولواختيارنشته.بلكه په حد وركولوكښي به سختي كوى)

دشرابوڅكلوپه حدكښي سختي

(ثُمَّ حَدُّ الشُّرْبِ)

ترجمه بيا (دحدزنا نه پس) به د شرابوڅكلوحد سخت وى.

دليله ځكه چه ددي حد سبب (يعنى شراب څكل) يقيني دي.

(ثُمَّ حَدُّ الْقَذْفِ)

ترجمه اوبیا (د شرابو حد نه پس) به حد قذف سخت وی.

دلیله ① ځکه چه ددې سبب احتمالی دې. ځکه چه دا احتمال شته. چه قاذف رښتونې وی. (نو په دې صورت کښې په ده باندې دیانةً حد نه واجب کیدو. خو چونکه دشریعت مطابق څلور ګواهان ضروری وو. او دهغې نه دې عاجزه شو. ځکه په ده باندې حد قذف جاری کولې شی)

② اوبله ددې وجه (هم په مرتبه کښې حد قذف د شرابو څکلو د حد نه روستودې.) چه په دې حد (قذف) کښې یو ځل سختوالې راغلې دې. چه رد کول د شهادت دی. (یعنی دمحدود فی القذف ګواهی نه قبلیږی) نو د وصف په اعتبار سره به په کښې سختی نشی پیدا کولې. (یعنی دا به نشی ونیلې. چه کورې دې ورته هم نرمې ورکړی)

دحد په وجه دمرګ واقع کیدو حکم

(وَمَنْ حَدَّهُ الْإِمَامُ أَوْ عَزَّرَهُ فَمَاتَ فَدَمُهُ هَدَرٌ)

حل اللغة ① **هدر**: بې قیمته، بې دیته

ترجمه اوکوم کس چه امام پرې حد جاری کړی. یا ورته تعزیری سزا ورکړی. او مړ شو. نو دده وینه هدر ده (په چا باندې نې دیت او قصاص نشته)

تشریح **دلیله** ځکه چه امام څه کړی دی. د شریعت په حکم سره نې کړې دی. (یعنی شریعت ورته دا وئیلی دی. چه په مجرمانو باندې حدود جاری کوه) او دمامور فعل (یعنی چاته چه دیو کار حکم شوې وی. دهغه فعل) د سلامتیا په قید سره نشی مقید کولې. (یعنی په مامورباندې دا نشی لازمولې. چه دا کار اوکړه. خو که څه نقصان په کښې پیدا شو. نو ذمه وار به نې ته نې) لکه ځنګه چه په رګ لګونکی او حصی کونکی باندې تاوان نه وی. (یعنی که زید خالد له رګ وهلو. او هغه ته څه نقصان اورسیدلو. نو زید باندې تاوان نشته. دغه شان که زید یو څاروې خصی کولو. او هغه ته څه نقصان اورسیدلو نو په زید باندې څه تاوان نشته)

دمحدود فی القذف د ګواهئ بحث

(وَإِذَا حُدَّ الْمُسْلِمُ فِي قَذْفٍ سَقَطَتْ شَهَادَتُهُ وَإِنْ تَابَ)

ترجمه اوکله چه حد ورکړې شی. مسلمان ته په قذف کښې (چه په چا باندې نې دزنا تهمت لګولې وی. او هغه زنا ثابته نشی. او ده ته دهغې په سزا کښې، اتیا کورې ورکړې شی) نو دده شهادت ساقط شو. (یعنی ددې نه پس به په باب الشهادة کښې دده ګواهی نشی قبلولې) اګرچه توبه اوباسی. (چه بیا به په پاکدامن او بې ګناه کس باندې د زنا تهمت نه لګوم) (۱)

تشریح **دلیله** دلیل دالله تعالی دا ارشاد دې. چه [وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ] یعنی چه په چا باندې حد قذف جاری شی. تاسو کله هم ددوی ګواهی مه قبلوئ. او هم دغه کسان فاسقان دی. خو ددې نه پس الله تعالی فرمانی ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا﴾ مګر دا چه دوی توبه اوباسی. اوس امام شافعی رحمه الله فرمانی. چه دا استثناء د ﴿وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا﴾ نه ده. یعنی که توبه اوباسی. نو بیا نې

---

(۱) **مسلک الشافعي**: - او امام شافعی رحمه الله فرمانی. چه شهادت به نې قبلولې شی. چه توبه اوباسی. او دا مسئله به په باب الشهادات کښې اوبیژندې شی. (هلته به بیا پوره تفصیل انشاء الله بیانولې شی)

ګواهي قبلوي.

الاستدلال دا د فسق نه استثناء ده.یعنی که توبه اوباسي.نوبیا دوی فاسقان نه دي.

دکافر محدود في القذف ګواهي د کافر ذمي دپاره

(وَإِنْ حُدَّ الْكَافِرُ فِي قَذْفٍ ثُمَّ أَسْلَمَ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُ)

ترجمه اوکه کافرته په تهمت لګولوکښې حد ورکړې شي. (چه په چا ئې د زنا تهمت لګولې وي. اوحدپرې جاري شي) اګرچه دده دپاره په خپل هم جنس (یعنی نورو کافرانو) باندې دګواهۍ اهلیت شته. (مثلاً که دا کافر دبل کافرخلاف ګواهي ورکړي.نوهغه به قبوله وي. خوچه محدود في القذف وي.نوپه ذمیانوبه دده ګواهي نه قبلیږي.بلکه) د حد قذف دتکمیل دپاره به دده ګواهي رد کیږي.

تشریح **دلیله** ځکه چه په حد قذف کښې دوه سزا ګاني دي.یواتیا کوړې اوبل د شهادت رد کیدل. نو حد قذف به هله پوره په پوره واخستې شي.چه دده شهادت هم نه قبلیږي

كِتَابُ السَّرِقَةِ وَقُطَّاعُ الطَّرِيقِ

ترجمه (دا) کتاب د غلا اولارشوکونکو (په بیان کښې) دې.

تشریح **السرقة لغة** د سرقه لغوی معنی ده.دبل چا نه په پټه اوغلا باندې یوڅیز اخستل. اوپه دې معنی کښې دالله تعالی دا قول هم استعمال شوې دې.چه ﴿إِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ﴾ (یعنی د زمکې نه شیطانان دا طاقت نه لري.چه آسمان ته اوخیژي.اود فرشتو خبرو ته غوږ کیږي.اوهغه بیا خپلو کاهنانوته بیان کړي.ځکه چه دوی ددې نه منع شوی دی.البته چه څوك په پټه خبرې اوریدو ته غوږ کیږدي.نوپه هغه پسې یوه ښکاره سکروټکه شي .دلته هم استرق په پټه خبرې اوریدودپاره استعمال شوې دې)

السرقة شرعاً اوپه شریعت کښې په دې لغوی معنی باندې څو نور صفتونه زیات شوی دی.دهغې بیان به انشاءالله تاته راشي. (یعنی سارق ① عاقل وي ② بالغ وي. ③نصاب یا دنصاب برابرڅیزغلا وي④ دمحفوظ ځائې نه غلا شوی وي⑤ دبل ملکیت وي⑥ دبل په ملکیت کښې شبه نه وي.⑦ دا په پټه باندې حاصل شوې وي)

په سرقه کښې دلاس کټ کولو دپاره دعقل اوبلوغ شرطیت

(إِذَا سَرَقَ الْبَالِغُ الْعَاقِلُ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ أَوْ مَا يَبْلُغُ قِيمَتُهُ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ مَضْرُوبَةً كانت اوغيرمضروبة مِنْ حِرْزٍ لَا شُبْهَةَ فِيهِ وَجَبَ عليه الْقَطْعُ)

حل اللغة ① **يبلغ**: رسیږي ② **مضروبة**: تیارې شوې ③ **حرز**: محفوظ ④ **القطع**: کټ کول

ترجمه و تشریح مصنف رحمه الله فرمائي.کله چه غلا کړي ① بالغ ② بالغ سړی ③ لس روپۍ یا هغه څیزچه دهغه قیمت د سیکه لس روپو ته رسي. اودادې قیمت لس روپۍ وي کا جوړې شوي وي اوکه ناجوړې شوې وي ④ دمحفوظ ځائې نه واخلي. ⑤ (اوپه داسې طریقه باندې غلا اوکړي.چه) په هغې کښې شبه نه وي. (نوچه دا ټول واړه شرائط په کښې وي) واجب شوه په ده (سارق) باندې کټ کول (د لاس)

دلیله دلیل په دې (قطع د ید کښې) دالله قول دې. وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا یعنی غل سړی

اوغله ښځه کټ کړئ لاسونه ددې دواړو، د ایت اخره پورې.

اشتراط العقل والبلوغ اونښته مخلص د معتبروالی دعقل اوبلوغ نه (یعنی په سارق کښې عقل اوبلوغ ضروری شرطونه دی)

دلیله ځکه چه جنایت نه متحقق کیږی بغیرددې دواړو نه(یعنی چه په چا کښې عقل نه وی.نوکه دې گناه اوکړی.دې مجرم نه دی.اوماشوم غیرمکلف وی.نوکه گناه اوکړی.نوهم هغه دده په حق کښې گناه نه وی. او کټ کول (یعنی دلاس کټ کول) جزاء د گناه ده (یعنی لاس به هله کټ کیږی.چه جرم ثابت شی.اود لیونی اوماشوم په حق کښې غلا جرم نه دی.نودلاس کټ کول هم جائزنشو)

التقدیربالعشرة اوپه لسو روپو پورې (دغلا شوی مال) اندازه کول زمونږ(داحنافو) مذهب دې. (که یوکس د لسو درهمویه اندازه غلا اوکړله.نولاس به ئې کټ کولې شی) ([1])

دلیله دلیل دا دې.چه عمل کول په اکثریاندې په دې باب (دحدودو) کښې غوره دې.دپاره دحیلې جوړلو حد لرې کولوته(یعنی د حدودو په باره کښې بهتره خبره دا ده.چه حد لرې کولودپاره څه مانع پیدا کړې شی.اوحد قائم نکړې شی) اوحدسرقه نصاب اکثرمقررکول ځکه غوره دی.چه په کم کښې شبه دعدم جنایت ده. (یعنی که مونږ د سرقه نصاب درې روپئ مقرر کړو.نوکیدې شی.چه دالله تعالی په نیزبه درې روپئ باندې دلاس کټ کولوحکم نه وی.نوچه درې درهمه نصاب مقرر شی.په دې کښې دا شبه پیدا کیږی.چه کیدې شی.دالله تعالی په نیزدرې درهمه نصاب د سرقې نه وی. (اوشبه دفع کونکې ده (یعنی چه په کوم محل کښې شبه پیدا شی.حدنه قائمیږی نودلته به کم نصاب نه مقررکوو.بلکه زیات نصاب به مقررکوو) اودا خبره (چه کم نصاب ځکه نه دی مقرر کول چه په دې کښې شبه د دفع کولود حد ده) د نبی ﷺ په دې قول سره مویده ده. لَاقَطْعَ إِلَّافِي دِينَارٍ أَوْعَشَرَةِ دَرَاهِمَ (چه نښته کټ کول مگرپه یودینار یا لسو درهمو کښې .

اشتراط الحرز او(حد سرقه په حد قائمولو کښې) نښته مخلص د حفاظت نه داسې حفاظت چه شبه نه وی په هغې کښې ځکه چه شبه د حدقائمولونه منع کونکې ده. (یعنی دا کوم مال چه غلا شوې وی.دا ضروری ده.چه هغه دمحفوظ ځائې نه غلا شوې وی.

دلیله ځکه چه دغیرمحفوظ ځائې نه غلا شوې وی.بیا په کښې دلاس کټ کول نشته.یا داسې څیزغلا کړی.چه په هغې کښې شبه وی. نو لاس به نشی کټ کولې) اومونږبه دا روستو بیان کړو.انشاءالله (چه محفوظ مقام څه ته وائی.اوشبه څه ته وائی)

په حد سرقه کښې د آزاداوغلام دحکم برابری

وَالْعَبْدُوَالْحُرُّفِي الْقَطْعِ سَوَاءٌ

ترجمه وتشریح فرمائی.اوآزاداوغلام په کټ کولو(دلاس کښې) برابر دی. (دا نه چه د آزاد نه به پوره لاس کټ کولې شی.اود غلام نه دهغې په نیمه

دلائله ① ددوو وجوه نه یوه دا چه) نص قرآنی (چه والسارق والسارقة څه تفصیل نه دې بیان کړې. (چه د آزاد نه به پوره لاس کټ کوئ.اودغلام نه به دهغې په نیمه.

---

[1] **مسلک الشافعي**:-دامام شافعی رحمه الله په نیزاندازه کولې به شی په څلورمه حصه د دینار پورې.

مسلک مالک:-دامام مالک رحمه الله په نیز(اندازه کولې به شی) درې روپو پورې.

۱) من حديث ام ايمن رضي الله عنها اخرجه الطحاوى ف شرح معانى الآثار ۲/۹۳۔

۲ اودويم دليل دا دې.چه) تنصيف (يعني نيم والې) متعذردي. (غيرممکن دې.يعني داسې نشې کيدې.چه نيم لاس کټ کړې شي اونيم نه) نوکامل کولې به شي (سزا دغلام) دپاره دحفاظت د مالونودخلقو. (چه دغلام سزاهم کامله وي.نودې به هم د غلا کولونه ځان ساتي)

دغلا اقرارکولوباندې دلاس کټ کول

وَيَجِبُ الْقَطْعُ بِإِقْرَارِهِ مَرَّةً وَاحِدَةً

ترجمه و تشريح ﴿ اوواجب دی پريکول (دلاس) په اقرارکولودده (غل) يوځل. (که يوځل هم اقراراوکړی.چه ماغلا کړې ده.دده لاس به کټ کولې شي) اودا (حکم) په نيزدامام ابوحنيفه اومحمد رحمهماالله دې.

دليلهما ﴿ د طرفينورحمهماالله دليل دا دې.چه غلا يوځل ښکاره شوې ده په اقرارکولوسره (چه غل په خپله د غلا اقرارکړې دې. (نودوباره اقرارته څه ضرورت نشته بلکه) اکتفاء به کولې شي په دې (يوځل اقرار کولو) باندې. لکه څنګه چه په قصاص کښې دی. (که قاتل يوځل اووائی.چه ما قتل کړې دې.دې به قصاص کولې شي.دده نه به دوباره اقرارنشئ اخستې) اوپه حدالقذف کښې (چه قاذف يوځل اووائی.چه اوما په ده په دروغه د زنا الزام لګولې دې.نوپه ده به حدقذف جاری کولې شي.دوباره به ترې اقرارنشي اخستې)

مسلک ابي يوسف ﴿ اوفرمائيلي دي امام ابويوسف رحمه الله چه نه به شي کټ کولې مګرپه اقرارکولوسره دوه خله.اونقل شوی دی ددوی (امام ابو يوسف رحمه الله) نه چه دا (اقرار) به په دوو مجلسونو مختلفوکښې وی.

دليله ﴿ ځکه چه دا يوحجت دې د دوو حجتونو څخه (يعني د حد قائمولودپاره دوه حجتونه اودليلونه دی.يوګواهی اوبل اقرار.چه کله ديوکس خلاف ګواهان ګواهي ورکړی.يا دې په خپله دخپل جرم اقراراوکړی.نوده باندې حد جاری کولې شي)نودا (اقرار) به قياس کولې شي په بل باندې چه ګواهان دی. (يعني لکه څنګه چه په حد سرقه کښې دوه ګواهان ضروری دی.دغه شان به دوه خله اقرارکول هم ضروری وی) هم دغه شان مونږ قياس کړې دې. په زنا کښې (يعني دحد زنا جاری کولودپاره دوه طريقې دی.يودا چه څلورګواهان ګواهي ورکړی.اودويمه دا چه زانی په خپله د زنا اقرار اوکړی.نوکه دې اقرارکوی.څلور خله به اقرارکوی.ځکه چه لکه څنګه د زنا د ثبوت دپاره څلورګواهان ضروری دی.دغه شان به څلورخله اقرارکول هم ضروری وی.نودغه شان به په باب د سرقه کښې هم دوه خله اقرارکول ضروری وی)

الجواب عنه ﴿ اوصحيح نه دې قياس کول (د اقرارفی السرقه) په شهادت باندې(يعني امام ابويوسف رحمه الله چه په حدالسرقه کښې د اقرارقياس په ګواهئ باندې کوی.چه لکه څنګه دوه ګواهان ضروری دی.دغه شان به دوه خله اقرارهم ضروری وی) ځکه چه زيادت د ګواهئ فائده ورکوی په شهادت کښې.چه کم والې د تهمت د دروغو دې. (يعني چه ګواهان زيات وی.نوځوك دا ګمان نه کوی.چه دوی ټول به دروغ وائی.اوچه ګواه يو وی.نودا ګمان کولې شي.چه کيدې شي دا شاهد دروغ وائی) او(تکرارداقران) په اقرارکښې څه فائده نه ورکوی د هيڅ خيز.ځکه چه (په مقربانديې) د (دروغو) تهمت نه وی. (بلکه دې خوپه خپله په ځان جرم اقرارکوی.نودا قياس مع الفارق شو.اوقياس مع ا لفارق صحيح نه دې.)

دلاس کټ کولودپاره دګواهانو تعداد

اوبِشَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ)

ترجمه و تشريح ۔اوواجبيږي (حدسرقه) په شهادت د دووګواهانو(چه دوه ګواهان ګواهي ورکړي.چه دد غلا کړې ده.اود شهادت وجوب)

دليله دېنه ښکاره والي دپاره (چه دا خبره په تحقيق سره ثابته شي.چه ده غلا کړې ده)لکه څنګه چه په ټولو حقوقوکښې (که حقوق الله دی اوکه حقوق العباد) ګواهي واجب شوې ده.اومناسب دی چه تپوس اوکړي ددې دوارو ګواهانو نه امام د غلا دطريقې (چه ده په کومه طريقه غلا کړې ده) اودماهيت دهغې (چه غلا څه ته وائي) اود زمانې د هغې (چه غلا ئې کله کړې ده) اودهغې د ځائې (چه غلا ئې په کوم ځائې کښې کړې ده) دپاره د زيات احتياط لکه څنګه چه تيرشوی د حدودو دفع کولوپه بيان کښې.(يعنی دا احتياط به ځکه کوی.که چرته په ګواهئ کښې څه نقصان وی. نو حدبه ساقط شي.اوپه شريعت کښې په جائزه طريقه د حد ساقط کول مطلوب دی)

دغلا په واردا توکښې دګڼروکسانو شرکت

(وَإِذَا اشْتَرَكَ جَمَاعَةٌ فِي سَرِقَةٍ فَأَصَابَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ قُطِعَ، وَإِنْ أَصَابَهُ أَقَلُّ لَا يُقْطَعُ)

ترجمه و تشريح ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.اوکله چه شريك شي يوه ډله په غلا کښې.اواورسيږي هريوکس ته په دوی کښې لس روپئ.(يعنی دمال مسروق قيمت اولګولې شي.اوهغه قيمت په دغه غلو باندې تقسيم کړې شي.نودهريوغل په حصه کښې لس روپئ راځي) نوقطع کولې به شي(لاس دهريوکس) اوکه اورسيږي(هريوکس ته په دوی کښې) کمې د لسو روپو نه،نونه به شي کټ کولې (لاس)

دليله ځکه چه واجبونکي (دلاس کټ کولو) غلا دنصاب ده، (يعنی کوم څيزغلا کړی.هغه لس روپئ يا ددې برابر وی.)اوواجبيږي (قائمول دحد) په هريوکس ددوی نه موافق دهغه د جرم.نومعتبر به وی کامل نصاب دده په حق کښې (يعنی حدبه هله جاري کولې شي.چه دهرکس په حصه کښې کامل جرم يعنی د سرقه دنصاب غلا راشي .چه لس روپئ دی.اوپه دې صورت کښې چونکه دهريوپه حصه کښې دلسو نه کمې روپئ راځي.نولاس به ئې نشي کټ کولې)

دکوموڅيزونوپه غلا کښې چه لاس کټ کول نشته

(وَلَا يُقْطَعُ فِيمَا يُوجَدُ تَافِهًا مُبَاحًا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ كَالْخَشَبِ وَالْحَشِيشِ وَالْقَصَبِ وَالسَّمَكِ وَالصَّيْدِ)

حل اللغة ① **تاف**: حقير،معمولی ② **الخشب**:لرګي ③ **الحشيش**: ګياه ④ **القصب**:نل ⑤ **السمك**:کب، مهي ⑥ **الصيد**:ښکار

ترجمه و تشريح اوکټ کول (دلاس) به نشي کولې په هغه څيزکښې چه مونديږي شي حقيرمباح په دارالاسلام کښې لکه لرګي اوګياه،اونل (دورمې) اوکب اوښکار (نوکه يوکس دا څيزونه غلا کړل.په دې کښې لاس کټ کول نشته.البته که په دې خام اوکچه مال باندې کاريګری اوکړې شي.اوددې نه په محنت سره بل څه څيزجوړکړې شي.نوهغه بيا معمولی مال نشي ګڼرلې.بلکه دهغې په غلا به لاس کټ کولې شي.لکه د لرګي نه چه دروازې جوړيږي.فرنيچرترې جوړيږي داسې وريسې دا نور څيزونه راواخله)

دليله دليل په دې کښې (چه ددې څيزونوپه غلا کښې دلاس کټ کول نشته) د حديث دحضرت عائشې رضي الله عنها دې.دوی فرمائيلي دی.او لاس چه نه به شو کټ کيدې په زمانه د رسول الله ﷺ کښې په

څیز معمولي کنبي.يعنې حقیرکنبي.) (۱)
تعريف الحقير ﴿ دحقير څيز په غلا کښې دلاس کټ کول نشته.او حقيرڅيزيه هغه وي.چه خلق هغه معمولي ګڼري.دهغې دحفاظت څه خيال نه ساتي.اودهغې په استعمال کښې بخل نه کوي.نوکه يو څيزداسې وي.نوهغه به حقيروي.اوپه دې مقام کښې چه مصنف رحمه الله کوم څيزونه بيان کړي دي.چه دې په غلا کښې دلاس کټ کول نشته.نودا هم په دې صورت کښې چه خلق ئې حقيراومعمولي ګڼري.اوکه بالفرض پهيوخائې کښې دا څيزونه قيمتي ګڼلی شي.اوخلق ئې حفاظت کوي.اوخلقوته ئې په ورکولوکښې بخل کوي .نوکه دا څيزونه غلا کړې شي.دلاس کټ کول به په کښې وي.
وجه عدم القطع في الصيد ﴿ اوښکار تختي. (نوددې په حفاظت کښې هم کمې دې.اوورانده تيرشو.چه حدسرقه به د مال محفوظ په غلاکښې جاري کيږي)

وَلَافِيمَا يَسْرَعُ إِلَيْهِ الْفَسَادُ كَالْفَوَاكِهِ الرَّطْبَةِ وَاللَّبَنِ وَاللَّحْمِ وَالبطيخ

حل اللغة ﴿ ① **يسرع**:زر راځي ② **اللبن**:پې ③ **اللحم**:غوښه
ترجمه و تشريح ﴿ ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.اونشته کټ کول (دلاس) په هغه څه کښې چه زر راځي هغې ته فساد (يعنې زرخرابيږي) لکه تازه ميوې او پې اوغوښه اوخربوزه ( ).
دلائله ﴿ ① (ځکه چه دا څيزونه د ذخيره کيدو نه دي.بلکه زر خرابيږي) په وجه د دې قول د نبي ﷺ لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا فِي كَثَرٍ} (۱)چه نشته کټ کول (دلاس) په ميوه کښې اوپه کثرکښې.اوکثردخرما ګونډته وائي. (کوم چه د واڅکې پشان وي)او ونيلي شوي دي.چه دخرما ورکې بوټي ته وائي. (اودامام محمد رحمه الله نه دا نقل دي.چه ثمرهغه ميوه ده.چه د قجوروپه ونو کښې وي.اوکثردهغه خرما ونه ده)
② اونبي ﷺ فرمائيلي دي.لَاقَطْعَ فِي الطَّعَامِ} (۲)نشته کټ کول(دلاس) په (غلاد) طعام کښې اومراد د طعام نه الله ښه پوهيږي.هغه څيزدې چه زرورخي هغې ته فساد (يعنې زرخرابيږي)لکه هغه طعام دخوراك دپاره تيارشوې وي.ددې نه (يعنې طعام نه) اوهغه چه په معنی ددې کښې وي.لکه غوښه اوميوه. (ځکه چه دا هم زرخرابيږي.ذخيره کيږي نه.اوپه حديث کښې د طعام نه ځکه هغه څيزمراد دې چه زرخرابيږي.

---

۱) من حديث عائشة رضي الله عنها اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه وعبدالرزاق في مصنفه مرسلاً نصب الراية ۳/۵۵۲)۔
۲) **مسلك الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه په دې څيزونوکښې(کوم چه وړاندې تيرشو) به هم لاس کټ کولې شي.
۱) من حديث رافع بن خديج رضي الله عنه اخرجه الترمذي في الحدودباب ۱۹ والنسائي في قطع السارق باب ۱۳ رقم ۴۵۹۵ وابن ماجه في الحدود باب ۲۷ رقم ۲۵۹۳ والدارمي في الحدود باب واحمد في المسند ۱۴۰/۴ والشافعي في الأم ۱۴۸/۶) والبغوي في شرح السنة ۳۱۸/۱) والبيهقي في السنن الكبرى ۴۵۷/۸) رقم ۱۷۲۰۰) وكذا في معرفة السنن والآثاررقم ۵۱۵۴) ومالك في الحدود رقم ۳۲)۔
۲) غريبه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم اخرج ما هو بمعناه من حديث عبدالله بن عمرو رضي الله عنه ان النبي ﷺ سئل عن الثمر المعلق فقال من اصاب بفيه من ذى حاجة غير متخذ خبنة فلا شئ عليه ومن سرق منه شيأ بعد أن يؤويه الجرين فبلغ ثمن المجن فعليه القطع وعزاه إلى مراسيل أبي داود رقم ۲۱۵ كذا في نصب الراية ۵۵۵/۳)۔

دوهم دمبوي اوديمي دفصل په غلا د حد جاري کولو حکم

(وَلَا قَطْعَ فِي الْفَاكِهَةِ عَلَى الشَّجَرِ وَالزَّرْعِ الَّذِي لَمْ يُحْصَدْ)

حل اللغة ﴿ ① الشجر: ونه ② يحصد: ريبلي شي

ترجمه و تشريح ﴿ فرمائي. اونشته کټ کول (دلاس) په (غلا د) ميوه کښې (چه وی دا ميوه) په ونه باندې. اودهغه فصل (په غلاکښې کټ کول دلاس نشته) نه وی ريبلې شوې (په دې دواړوخيزونوکښې دلاس کټ کول نشته):

دليله ﴿ خکه چه حفاظت نشته. (ددې خيزونو دپټ اود ونې نه به څوک څوک منع کوي)

(وَلَا قَطْعَ فِي الْأَشْرِبَةِ الْمُطْرِبَةِ وَلَا فِي الطَّنْبُورِ)

حل اللغة ﴿ ① المطربة: نشه کونکی

ترجمه ﴿ اونشته کټ کول (دلاس) په شربوتونشه کونکوکښې،

تشريح ﴿ **دلائله** ﴿ ① خکه چه غل تاويل کوی په اخستلودې کښې د تويولو، (يعنی غل دا وئيلی شی. چه ما دا خيزدغلا په نيت نه دې اخستې. بلکه د تويې کولوپه نيت مې اخستې دې. نوپه دې سره دده په غلا کښې شبه پيدا شوه. اوحدود په شبه سره دفع کولی شي)

② بله دا چه ددې دا (نشه راوستونکی خيزونه دشريعت په نيز) مال نه دې. (اوحدخود هغه خيزپه غلا کښې جاری کولې شی. چه مال وی)

③ د بعضې (حرامو) مشروباتوپه باره کښې (دعالمانو) اختلاف دې. نوثابتيږی (په دې نشه راوستونکی خيزکښې) شبه دعدم ماليت. (اوچه په ماليت کښې ئې شبه راغله. نوحدساقط شو. چه حدود په شك سره دفع کولی شي)

د ستاراومصحف په غلا باندې د حد جاری کيدل

(وَلَا فِي سَرِقَةِ الْمُصْحَفِ وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ حِلْيَةٌ)

ترجمه و تشريح ﴿ اونشته په غلا کولود مصحف کښې (دلاس کټ کول) اګرکه په دې باندې سره زر وی. ([1]) اودا ظاهر روايت دې.

دلائله ﴿ ① اووجه د ظاهر روايت (چه د مصحف په غلا کښې دلاس کټ کول نشته. دا ده. چه) ددې (مصحف) په اخستلوکښې تاويل دقراءت کولې شی. اوپه دې کښې دکتلو. (نوپه دې تاويل سره دغلا په تعريف کښې شبه راغله. اوپه شبه سره حدساقطيږی. نوځکه د مصحف په غلا سره حدنه جاری کيږی.

② (دمصحف په غلا باندې حدځکه هم نه جاری کيږی. چه) دمصحف ماليت نشته. په اعتبارد مکتوب سره (يعنی دمصحف الفاظ مال نه دې. بلکه دا خودالله تعالی کلام دې. اوچه مال نشو. نوحدبه په کښې هم نه وی. ځکه چه مال نه دې. اوکه ته دا وائې. چه مصحف خوصرف کلام نه وی. بلکه په هغې کښې پاڼړې وی. نو پکارده چه ددې پاڼرو اوجلدپه وجه دمصحف په غل باندې حدجاری شی. نومونږ وايو. چه) د مصحف حفاظت د کلام د وجې کيږی. (چه دا دالله تعالی کلام دې) د جلد اوپاڼړو او سرو زرو دوجې نه کيږی. بلکه دا خيزونه (پاڼړې جلداوسره زر) توابع دی. (دمصحف) اوتابع لره څه اعتبارنه وی.

---

[1] **مسلك الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرمائي. چه (د مصحف په غلاکښې به لاس) کټ کولې شي.

نظیره ﴾ (اوددې مسئلې نظیردا دې.) که یوکس لوښې غلا کړی.اوپه هغې کښې شراب وی.اوقیمت د لوښی په نصاب باندې زیاتیږی. (نوپه دې صورت کښې هم حدسرقه نه واجبیږی.ځکه چه لوښې تابع وی.اواعتبارمتبوع لره وی.تابع لره نه وی.

روایة عن ابي یوسف ﴾ دامام ابویوسف رحمه الله ددې (قول) پشان نقل دی. (چه دمصحف په غلا کښې دلاس کټ کول شته)اودامام ابویوسف رحمه الله نه (دویم روایت) دا هم نقل دې.چه کټ کولې به شی(لاس) کله چه رسیږی سره زر (کوم چه په دې باندې دی) نصاب (د سرقه) ته.ځکه چه دا سرزرد مصحف نه نهٔ دی. (بلکه مستقل څیزدې) نومعتبربه وی خالله. (دمصحف تابع به نه وی)

د سروزروصلیب شطرنج منزری په غلا دلاس کټ کولوحکم

وَلَا الصَّلِیبِ مِنْ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَلَا الشِّطْرَنْجِ وَلَا النَّرْدِ)[1]

حل اللغة ﴾ ① **الصلیب**: دعیسایانو هغه مذهبی نښه کومه چه هغوی په خپلو عبادتخانو دپاسه لګولی وی ② **نرد**:منزری

ترجمه ﴾ دسرو زرود صلیب،شطرنج منزری (په غلا د لاس کټ کول نشته)

تشریح ﴾ **دلیله** ﴾ ځکه چه تاویل کوی څوك چه واخلی ده (په اخستلوددې کښې) د ماتولود وجې د منع کولو(دخلقو) د ممنوع شرعی څیزنه. (یعنی غل دا ونیلی شی.چه ما دڅیزځکه غلا کړلو.چه خلق د یوداسې څیزنه منع کړم.دکوم نه چه شریعت دوی منع کړی دی.نوپه دې سره شبه اباحت پیدا شوه.ځکه چه د ناروا څیز ضائع کول مباح دې.اوپه شبه باندې حد دفع کولې شی)

مسلك ابي یوسف ﴾ دامام ابویوسف رحمه الله نه نقل دی.چه چرته صلیب په عبادتګاه کښې وی.نونه به شی کټ کولې (لاس په غلا د دې) دوجې د نشتوالې دحفاظت نه

دلیله ﴾ (ځکه چه عبادتګاه ته خلق څی راځی.څیزپه کښې محفوظ نه وی.اوپه حد سرقه کښې دا شرط دې.چه مسروق څیزبه د محفوظ ځائې نه غلا شوې وی)اوکه په بل کور کښې وی.نوبیا به کټ کولې شی (لاس دغل په غلا کولو د صلیب) د وجې دکمال مالیت حفاظت دوجې (یعنی چه دا صلیب چه په کورکښې دې.نوددې مالیت هم پوره دې.اومحفوظ هم دې.نوددې په غلا به لاس کټ کولې شی)

دآزاد ماشوم په غلا باندې دحدجاری کیدوحکم

(وَلَا قَطْعَ عَلَى سَارِقِ الصَّبِيِّ الْحُرِّ وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ حُلِيٌّ)

ترجمه و تشریح ﴾ اونشته کټ کول په غلا د ماشوم آزاد .اګرچه په هغه کالی اچولې وی.

دلائله ﴾ ① ځکه چه آزاد انسان مال نه دې. (اوحدد مال په غلا باندې واجبیږی.اوکه ته دا وائې.چه سره زر خومال دې.نود ماشوم سره خوهغه هم دی.دهغې په وجه دې پرې حدجاری کړې شی.نوموږ وایو.چه) څه په هغه (ماشوم) باندې وی. (هغه اچولې وی) دکالو نه.نوتابع دی دهغه (ماشوم)

② اوبله دا چه دې (غل) تاویل کولی شی په اخستو دماشوم کښې د چپ کولودهغه. (یعنی دا ونیلی شی.چه دې ماشوم ژړل.ځکه ما راواخستل.چه قلار شی.نوپه دې سره په غلا کښې شبه پیدا شوه) اوبیا د اورلودده خپلې تی ورکونکې نه (یعنی غل دا ونیلی شی.چه دا ماشوم ما دې دپاره راواخستلو.چه

[1] القول الراجح هو هذا قول الطرفین رحمهما الله.كذا في فتح القدير(۱۳۳/۵) والعناية (۱۳۳/۵) والهندية (۱۷۷/۲) والدرالمختار(۲۱۷/۳) والبحرالرائق (۵۴/۵) نقلاً عن القول الراجح (۴۵۸/۱)-

پېژ ورکونکې ته ئې بوځم.اوهغه ورته پېژ ورکړی)

مسلک ابي يوسف ‹ داامام ابويوسف رحمه الله نه، نقل دی.چه کټ کولې به شي(لاس دغل) کله چه وی په ماشوم باندې کالي اووی هغه نصاب (يعني د حد سرقه د نصاب برابر وی.چه لس درهمه دی)

دليله ‹ څکه چه واجبيږی کټ کول (دلاس) په غلا کولود کالو چه خانله وی.نودغه شان به (کټ کولې شي) چه وی دبل څيز سره.اوهم دغه شان (اختلاف دې په مينځ د طرفينواوامام ابويوسف رحمه الله کنبې) کله چه غلا کړې لوښې د سپينو زرو اوپه هغې کښې نبيذ يا ثريد وی. (يعني دطرفينو رحمهماالله په نيزلاس نشي کټ کولې اودامام ابويوسف رحمه الله په نيزکه لوښې د سرقه نصاب ته رسی.نودلاس کټ کول په کښې واجب دی)

محل الاختلاف ‹ اودا اختلاف په هغه ماشوم کښې دې.چه تلې نشي اوخبرې نشي کولې.څکه دې په خپل ذاتی اختيارکښې نه وی. (اوکه ماشوم تلې شی اوخبرې کولې شی.نودهغه په غلاباندې په اتفاق سره لاس نشی کټ کولې)

دلوی يا ماشوم غلام په غلا باندې دلاس کټ کولوحکم

(وَلَا سَارِقِ الْعَبْدِ الْكَبِيرِ)

ترجمه و تشريح ‹ اونشته کټ کول(دلاس) په غلا د غلام لوئې باندې ،

دليله ‹ ① څکه چه دا غصب يا دهوکه ده. (غلا نه ده.غلا څکه نه ده.دغلا په تعريف کښې د يو څيزپه پټه باندې اخستل دی.اودلته لوئې غلام ، په پټه نه دې اخستې شوې.بلکه په زبردستئ اغوا کړې شوې دې.نوچه زبردستی شوه.دا غصب شو.

② يا دا چه په زبردستئ اوزورباندې ئې نه وی بوتلې.بلکه په څه بهانه باندې ئې دخپل خانې بوتلې وی.نودا دهوکه شوه.اودغصب يا دهوکه سزا لاس کټ کول نه دی)

(وَيُقْطَعُ فِي سَرِقَةِ الْعَبْدِ الصَّغِيرِ)[1]

ترجمه ‹ اوکټ کولې به شي (لاس) په غلا د غلام ماشوم کښې.

تشريح ‹ **دليله** ‹ دوجې د واقع کيدو دغلا نه د خپل تعريف سره(يعني دغلا چه څه تعريف دې.هغه د ماشوم غلام په غلاکولوکښې موجود دې)

صورة استثنائية ‹ البته دا که دا غلام دخپل نفس نه تعبيرکولې شی. (چه خپل نوم خودلې شی.نويا به دغل لاس نشی کټ کولې)څکه چه دې (يعني داسې ماشوم چه خپل نوم خودلې شي) اوبالغ برابر دی.په معتبروالی دخپل لاس کښې (يعني که بالغ وی اوکه نابالغه خوخبرې کولې شی.نودا دواړه دخپل خان په اختيارکښې برابر دی .يعني خپل ښه بد پيژنی.اوچه څه کوی هغه کولې شی دبل محتاج نه وی)

دليلهما ‹ دطرفينو رحمهماالله دليل دا دې.چه دا (ماشوم غلام چه نه پوهيږی) مال دې مطلقاً څکه چه نفع اخستې شی دده نه. (فی الحال.يعني داسې کارونه پرې کولې شی.کوم چه ماشومان کوی.لکه د دوکان نه څه معمولی څيز راوړل) اويا نزدې دې چه اوکرځی داسې چه فائده به اخستې شی دده نه (يعني چه

---

[1] القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في فتح القدير(٥\١٣٤) وردالمحتار(٣\٢١٨) والهندية (٢\١٧٧) والبحرالرائق (٥\٥٤) نقلاً عن القول الراجح(١\٦٠١)-

غټ شي.نودکور اودبهرکار روزګاراوخدمت به کولي شي.دغه شان که مولی ئې خرڅوی.نو خرڅولي ئې شي)

مسلك ابي يوسف امام ابويوسف رحمه الله فرمائي.چه نه به شي کټ کولي(لاس دغل په غلا دغلام کښې) اګرچه وی (دغه مسروقه غلام) ماشوم،چه نه پوهيږی اونه خبرې کولي شي.

دليله دوجې داستحسان نه، (څکه چه په دې ماشوم غلام کښې دوه حيثيتونه جمع شوی دی) دې بنيادم دې په يوحيثيت سره.اومال دې په يوحيثيت سره ، (نوهرکله چه دده په ماليت اوعدم ماليت کښې اشتراك راغلو.نوپه دې سره دده په ماليت کښې شبه پيدا شوه.اوپه شبه سره حدساقطيږی.نودماشوم غلام چه نه پوهيږی.اوخبرې نشی کولي دده په غلا سره حدنه جاری کيږی)

الجواب عنه دا دہ.چه يوخائې شوې دہ.دہ سره معنی د آدميت. (نوچه د انسان نوم ورته اخستې شی.په دې سره دده په ماليت کښې څه فرق نه راځی.اوچه په ماليت کښې ئې فرق نه راځی.نودده په غلا به حدجاری کولي شی)

د دفترې رجسټرواو فائلونوغلا کولوباندې دحدجاری کولوحکم

(وَلَا قَطْعَ فِي الدَّفَاتِرِ كُلِّهَا)

حل اللغة ① **الدفاتر**:جمع د دفتر،رجسټر

ترجمه و تشريح اونشته کټ کول(دلاس په غلا کولو) د دفترى رجسټرو (اوفائلونو) ټولوکښې،

دليله څکه چه مقصود هغه څه وی.چه په هغې کښې (ليکلی شوی) وی.اوهغه (څه چه په کښې ليکلی شوی وی.نوهغه) مال نه وی.

(إِلَّا فِي دَفَاتِرِ الْحِسَابِ)

ترجمه البته (دلاس کټ کول شته) په رجسټرود حساب کښې.

تشريح **دليله** څکه چه په دغه رجسټروکښې څه ليکلی وی.په اخستلوکښې هغه مقصود نه وی.نومقصود (هغه) کاغذونه شول. (په کوم کښې چه ليکل شوی وی .نوکه دهغې قيمت د سرقه نصاب ته رسی.په هغې کښې دلاس کټ کول وی.اوکه نه رسی.نوپه هغې کښې به د لاس کټ کول نه وی)

اقسام الدفتر دلته دا پيژندل پکاردی.چه دخپل معيارپه اعتبارسره فائلونه اوکاغذونه په پنځه قسمه دی. ①چه شرعی مواد په کښې وی.لکه قرآن پاك تفاسير،داحاديثوکتابونه وغيره چونکه ددې کتابونوپه کتلوسره د انسان دعقيدې اوعمل اصلاح کيږی.نود فائدې په لحاظ سره دا د قرآن پاك پشان شو.نولکه څنګه چه دقرآن پاك په غلا کښې حدنشته.دغه شان ددې په غلا کښې هم حدنشته.دغه شان مذهبی کيسټواو سی دی ګانوهم دا حکم دې.څکه چه په دې کښې مقصود دغه کيسټې نه وی.بلکه کوم موضوعات چه په هغې کښې وی.هغه مقصود وی.اوهغه مال نه دې.نوځکه دهغې غلا موجب دحد نه دې.

② دويم قسم غير اسلامی ناولې لټريچرې دانجسټې کوم چه په غيراسلامی بلکه په غيرمهذب اوبې حيائې په موادو باندې مشتمل وی.نوددې په غلا کښې هم لاس کټ کول نشته.څکه چه دا څيزونه د منکراتود خورولوذرايع دی. نوددې ضائع کول دنهی عن المنکرپه زمره کښې راځی.نوځکه موجب د حدسرقه نه دی.

③ هغه عدالتي يا دفتري رجستري چه په هغې کښې مقدمات يا د آمدن او خرچ تفصيل وی.يا د زمکې اوکورونود مالکانونومونه موجود وی.نوداسې قيمتی دستاويزاتو اوکاغذاتو غلا موجب دحد ده.

④ دغه شان که يوفائل داسې وی.چه په هغې کښې ديوکس د راز خبرې وی.يا ديوملك اهم ملکی رازونه وی.نو ددغه فائلونو په غلا باندې هم حد واجبيږی.دغه شان په عامومحکموکښې چه کوم ريکارډ وی.دهغې غلا هم موجب د حد ده.

⑤ البته داسې فائلونه يا کاغذونه چه ردی وی.يعنی بيکاره شوی وی.لکه په بينك کښې داخل شوې بلونه.يا په يونيورستويابورډونوکښې د تيرو کلونو زړې پرچې نو چونکه په دې څيزونو کښې مقصود هم کاغذ وی.لکه نن صبا چه په لاروکوځوکښې کسان ګرځی.اوردی کاغذونه راغونډوی.اوهغه بيا په کباړی باندې خرڅوی.اوکباړی ئې بيا په کارخانه باندې خرڅه وی اوکارخانه ترې بيا اخباری کاغذ وغيره جوړوی.نوداسې څيزونه چونکه مال دې.ځکه چه باقاعده په معاشره کښې ډيرخلق داسې دې.چه دهغوی دا کاروباردې.چه رد کاغذونه اخلی.اوبيا ئې په لويوکارخانه داروباندې خرڅوی.نوددې کاغذونو قيمت که حدسرقه ته رسی.په دې کښې به کټ کول وی.

د سپی اومنزری د غلا حکم

(وَلَا يُقْطَعُ سَارِقُ كَلْبٍ وَلَا فَهْدٍ)

حل اللغة ① **كلب**:سپې ② **فهد**: زمري

ترجمه و تشريح .اونشته کټ کول (دلاس) په غلا دسپی اود زمری باندې،

دلائله ① ځکه چه د جنس ددې دواړو نه موندلې شی مباح الاصل،اورغبت نشی کولې په (حاصلولود) هغې کښې، (او کوم څيزچه مباح الاصل وی.دهغې په غلاکښې حد نشته)

② اوبله داچه اختلاف بنکاره دې په مينځ د عالمانوکښې په ماليت دسپی کښې. (هغه دا چه امام شافعی رحمه الله فرمائی.که سپی ښکاری وی او کوځه دب وی.نودا مال نه دې.اوددې اخستل اوخرڅول جائزنه دی.اوامام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.چه سپې مال متقوم دې.په اصل کښې دا اختلاف په دې قاعده باندې مبنی دې.چه څوك سپې نجس العين ګڼړی.هغه ئې مال نه ګڼړی.اوچه څوك ئې نجس العين نه ګڼړی.نوهغه ئې مال ګڼړی) نودې (اختلاف) پيدا کړه. شبه (په ماليت د سپی کښې اودا خبره معلومه شوې ده.چه حد په شبه سره دفع کيږی)

شروط مباح الاصل دا مسئله بيان شوه.چه کوم څيزمباح الاصل وی.نودهغې په غلا کښې کټ کول نشته. اوس مباح الاصل څه ته وائی.نوپه مباح الاصل کښې پنځه خبرې دی. ①چه هغه څيزدخلقو په نظرکښې مرغوب اوخوښ نه وی. ② چه هغه څيزسپك اوحقيرګڼړلې شی.ځکه چه فائده په کښې نه وی③ چه دهغې چاته په ورکولو کښې بخل نشی کولې④که څوك هغه واخلی.نومالك پرې بد نه ګڼړی. ⑤ چه غيرمحفوظ وی.يعنی چه يو څيزدخپل معمولی والی دوجې دهغې حفاظت نشی کولې.کله چه په دې پنځه څيزونوکښې يوڅيزهم په يو څيز کښې موجود شو.نوهغه مباح الاصل دې.

د سرود آلاتو غلا کولوحکم

(وَلَا دُفٍّ وَلَا طَبْلٍ وَلَا مِزْمَارٍ)

حل اللغة ① **دف**:طمبل ② **طبل**:ډول ③ **مزمار**:باجه

ترجمه و تشريح اونشته کټ کول(دلاس) په طمبل، اوآلاتود سرود کښې،

دليله ◄ ځکه چه په نيزد صاحبينو رحمهماالله نشته قيمت ددې [1] (يعنى عندالشرع دا مال متقوم نه دى) اوپه نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله په اخستلودې کښې تاويل کولې شی د ماتولو. (يعنى پټونکې دا وئيلی شی چه دا څيزونه ما د ماتولوپه غرض اخستې دی.نودا دنهى عن المنکرپه زمره کښې راغلو.ځکه پرې حد نشته.يعنى ددې څيزونوپه غلا باندې په اتفاق سره لاس نشى کټ کولې.البته په وجه عدم قطع کښې اختلاف دې.صاحبين دا څيزونه مال نه ګنړی.ځکه پرې قطع نه واجبوی.اوابوحنيفه رحمه الله ددې وجې دقطع قائل نه دی.چه دا غل ددې په غلا کولوکښې دا وئيلی شی.چه ما د ماتولودپاره دا غلا کول.نوپه دې سره شبه پيدا شوه.اوشبه دافع د حد ده)

دقيمتى لرګى په غلا کښې دلاس کټ کول

(وَيُقْطَعُ فِي السَّاجِ وَالْقَنَا وَالْآبَنُوسِ وَالصَّنْدَلِ)

حل اللغة ◄ ① **الساج**:دا يوقسم د سور رنګ لرګې دې ② **آبنوس**: يو قيمتى د تور رنګ سخت لرګې ③ **الصندل**: هغه لرګې چه په نيزه کښې لګولې شی

ترجمه و تشريح ◄ اوکټ کولې به شی (لاس په غلا د) ساج (يوقيمتى د سور رنګ سخت لرګې) اوآبنوس (يو قيمتى د تور رنګ سخت لرګې) اوصندل (هغه لرګې چه په نيزه کښې لګولې شی) کښې

دليله ◄ ځکه چه دا مالونه دی محفوظ. (يعنى خلق ددې حفاظت کوی.اوحفاظت نې ځکه کوی.چه) دا قيمتى دی.په نيزد خلقو.اونشی موندې په اصلى صورت کښې مباح په دارالاسلام کښې. (نوهرکله چه دا څيزونه مال دې. محفوظ دې.مرغوب دی.مباح الاصل نه دې.نوددې په غلا کولوکښې به لاس کټ کولې شی.لکه څنګه که په بل څيزکښې دا صفات وی.نودهغې په غلا کولوکښې چه لاس کټ کولې شی)

(وَإِذَا اتَّخَذَ مِنَ الْخَشَبِ أَوَانِيَ وَأَبْوَابًا قُطِعَ فِيهَا)

حل اللغة ◄ ① **الخشب**:لرګې ② **اواني**:لوښې ③ **ابواب**:جمع د باب، دروازه

ترجمه و تشريح ◄ اوکله چه جوړکړې شی د لرګی نه لوښی يا دروازې نوکټ کولې به شی (لاس په غلا ددې) کښې،

دليله ◄ ځکه چه دا لرګې په کاريګرئ سره ملحق شو داموال مرغوبو سره، (نولکه څنګه چه د اموال مرغوبو په غلا کښې لاس کټ کولې شی.نودغه شان به ددې په کټ کولوکښې هم لاس کټ کولې شی.اوددې دقيمتى والى دليل دا دی.چه) ته ګورې نه چه ددې حفاظت کولې شی.

په خيانتګر،لوټګولي لټتولکي باندې د حدله جاري کول

(وَلَا قَطْعَ عَلَى خَائِنٍ وَلَا خَائِنَةٍ)

حل اللغة ◄ ① **خائنة**:خيانتګره

ترجمه و تشريح ◄ اونشته کټ کول (دلاس) په خيانتګرسرى اوخيانتګرې ښځې (چه چا ورسره يو څيزامانت کيخودې وی.اوهغه ترې پټ کړی)

دليله ◄ د وجې د نقصان په حفاظت کښې، (ځکه چه کله مالك خپل څيزداسې بې اعتماده سرى يا

---

[1] القول الراجح هو هذا قول الصاحبين كذا في ردالمحتار(٣\٢١٧) والبحرالرائق (٥\٥٥) والهندية (٢\١٧٧) نقلاً عن القول الراجح (٤\١٦٠)-

ښځې سره امانت کیخودو.چه په هغه باندې اعتماد نه وو پکار.نوده پخپله خپل مال غیر محفوظ اوګرځولو)

(وَلَانبـاش ولامُنْتَهِب وَلَا مُخْتَلِس)

ترجمه> اونه په کفن کښ باندې او نه په لوټ کونکی (چه دچا کوریا دوکان ته ورداخل شی.اوپه زور یوځیز راواخلی . او لاړ شی.نوپه ده هم دلاس کټ کول نشته) اونه په تختونکی (چه د چا دلاسه یوڅیزاوتختوی.لکه څنګه چه نن صبا په بازارونوکښې داسې کیږی)

تشريح> دليله> ځکه چه دې (یعنی هرواحد د لوټکونکی اوتختونکی نه) ښکاره والې کونکی دې په خپل فعل (یعنی لوټکونکې اوتختونکې څه په پټه مال نه اخلی.بلکه په ښکاره باندې دبل نه مال اخلی.نوپه دې کښې د غلا معنی رانغله.ځکه چه غلا خوپه پټه د چا نه مال اخستل دی.نوهرکله چه پرې د غلا تعریف نه صادقیږی.کټ کول دلاس به په کښې هم نه وی.ځکه چه قطع صرف په غلا کښې راغلې ده.په خیانت نهب اواختلاس کښې نه ده راغلې)څنګه به داسې اوشی(یعنی ددوی لاس به کټ کړې شی) حالانکه نبی ﷺ فرمائیلی دی.لَاقَطْعَ فِي مُخْتَلِسٍ وَلَا مُنْتَهِبٍ وَلَا خَـائِنٍ {(۱)نشته کټ کول (دلاس) په تختونکی،اونه په لوټکونکی اونه په خیانتګر . (نوددوو وجوه نه په دې کسانوباندې حدسرقه نشی جاری کولې.یوخودوی په فعل باندې د غلا تعریف نه صادقیږی.نودا غلا نشوه.اوبله دا چه صریحی حدیث موجود دې.چه په دوی باندې حدسرقه نشته)

دکفن کښ په لاس کټ کولوکښې اختلاف

عدم القطع علي النباش> په متن کښې په کفن کښ باندې دعدم قطع ذکر دې خو په دې کښې لږ تفصیل دې خو دا دامام ابوحنیفه اومحمد رحمهماالله مذهب دې.(۲)

دلائلهما> ① دطرفینو رحمهماالله دلیل د نبی ﷺ ارشاد دې.لَاقَطْـعَ عَلَـى الْمُخْتَفِـى {(۳)نشته کټ کول(دلاس) په مختفی باندې،اومختفی کفن کښ ته وائی په لغت د اهل مدینه کښې، (داخونقلی دلیل شو.

② اوبل عقلی دلیل دا دې.چه) اوشبه پیدا شوې ده په ملك کښې،ځکه چه نشته ملك د مړی دپاره په حقیقت کښې (ځکه چه ده کښې د ملکیت اهلیت پاتې نه دې)اونشته ملك د وارث دپاره،دوجې د وړاندې والی د حق د مړی (ځکه چه کله څوك مړ شی.نواول به دهغه په مال کښې دهغه دکفن انتظام کولې شی.چه دکفن نه زیاتی شی.بیا به هغه په وارثانوتقسیم کولې شی.نواوس په دې صورت کښې نه وارث دکفن مالك دې.اونه مړې.نوپه ملکیت کښې شبه راغله.یعنی دا داسې شوه.لکه چه غیرمملوك څیز اخستې شوی وی.اوچه غیرمملوك وی.هغه مباح وی.اودمباح څیز په غلا باندې کټ کول

---

۱) من حدیث جابر ﷺ اخرجه ابوداود فی الحدود باب ۱۴ رقم ۴۳۹۱ مقطعاً والترمذی فی الحدود باب ۱۸ والنسائی فی قطع السارق باب ۱۳ رقم ۴۶۲۶ وابن ماجه فی الحدود باب ۲۶ رقم ۲۵۹۱ والدارمی فی الحدود باب ۸)_

۲) القول الراجح هوهذا قول الطرفین رحمهما کذا فی ردالمحتار(۲۱۹\۳) والهندیة (۱۷۸\۲) وفتح القدیر (۱۳۸\۵) والکفایة (۱۳۸\۵) والبحرالرائق (۵۵\۵)نقلاً عن القول الراجح (۴۶۲\۱)-

۳) غربه الزیلعی رحمه الله هذا اللفظ ثم أخرج من أثرابن عباس رضي الله عنهما قال لیس علی النباش قطع وعزاه إلی ابن ابی شیبة نصب الرایة ۵۶۳/۳)_

كړې شي) حالانكه نبي ﷺ فرمانيلي دي. لَاقَطْعَ فِي مُخْتَلِسٍ وَلَامُنْتَهِبٍ وَلَاخَائِنٍ {(۱)نشته كټ كول (دلاس) په تختونكي، اونه په لوټكونكي اونه په خيانتګر . (نودوو وجوه نه په دې كسانوباندې حدسرقه نشي جاري كولې. يوخوددوی په فعل باندې د غلا تعريف نه صادقيږي. نودا غلا نشوه. اوبله دا چه صريحي حديث موجود دې. چه په دوی باندې حدسرقه نشته)

دكفن كښ په لاس كټ كولوكښې اختلاف

عدم القطع علي النباش ﴿ په متن كښې په كفن كښ باندې دعدم قطع ذكر دې خو په دې كښې لږ تفصيل دې خو دا دامام ابوحنيفه اومحمد رحمهماالله مذهب دې. (۲)

دلائلهما ﴿ ① دطرفينو رحمهماالله دليل د نبي ﷺ ارشاد دې. لَاقَطْعَ عَلَى الْمُخْتَفِي {(۲)نشته كټ كول(دلاس) په مختفي باندې، اومختفي كفن كښ ته واني په لغت د اهل مدينه كښې، (داخونقلي دليل شو.

② اوبل عقلي دليل دا دې. چه) اوشبه پيدا شوې ده په ملك كښې، ځكه چه نشته ملك د مړی دپاره په حقيقت كښې (ځكه چه ده كښې د ملكيت اهليت پاتې نه دې)اونشته ملك د وارث دپاره، دوجې د وړاندې والي د حق د مړی (ځكه چه كله څوك مړ شي. نواول به دهغه په مال كښې دهغه دكفن انتظام كولې شي. چه دكفن نه زياتی شي. بيا به هغه په وارثانوتقسيم كولې شي. نواوس په دې صورت كښې نه وارث دكفن مالك دې. اونه مړې. نوپه ملكيت كښې شبه راغله. يعنی دا داسې شوه. لكه چه غيرمملوك څيز اخستې شوی وی. اوچه غيرمملوك وی. هغه مباح وی. اودمباح څيزپه غلا باندې كټ كول نشته. نودغه شان به په نبش كښې هم كټ كول نه وی) اويقيناً واقع شوخلل په مقصود كښې اومقصود تنبيه ده(چه په سارق باندې حدجاري شي. نوسارق اوخلق به دغلا نه منع شي. اودلته په تنبيه كښې ددې وجې خلل واقع دې. چه) دا جنايت د كفن كښئ دخپل ذات په اعتبارسره ډيركم پيښيږي. (يعنی كه په نباش باندې حد قائم نكړې شي. نوهم خلق د مړی نه كفن ويستلونه ځان ساتي. اونفرت ترې كوي. نوبغيرد تنبيه نه دلته تنبيه موجود ده. ځكه به دنباش لاس نشي كټ كولې)

مسلك ابي يوسف ﴿ اوفرمانيلي دی امام ابويوسف اوشافعي رحمهماالله چه په ده باندې دلاس كټ كول شته.

دلائله ﴿ ① دوجې د وينا د نبي ﷺ نه چه چا قبرپرانسته اودمړی كفن ئې پټ كړلو . نو مونږ به ئې لاس كټ كوو. (۱)نويوخودا دليل نقلي شو.

---

۱) من حديث جابر رضي الله عنه اخرجه ابوداود فى الحدود باب ۱۴ رقم ۴۳۹۱ مقطعاً والترمذى فى الحدود باب ۱۸ والنسائى فى قطع السارق باب ۱۳ رقم ۴۶۲۶ وابن ماجه فى الحدود باب ۲۶ رقم ۲۵۹۱ والدارمى فى الحدود باب ۸)۔

۲) القول الراجح هوهذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في ردالمحتار(۳\۲۱۹) والهندية (۲\۱۷۸) وفتح القدير (۵\۱۳۸) والكفاية (۵\۱۳۸) والبحرالرائق (۵\۵۵)نقلاً عن القول الراجح (۱\۴۶۲)۔

۲) غريبه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم اخرج من اثرابن عباس رضي الله عنهما قال ليس على النباش قطع وعزاه الى ابن ابى شيبة نصب الراية ۳/۵۶۳)۔

۱) من حديث براء بن عازب رضي الله عنه اخرجه البيهقى فى كتاب معرفة السنن والآثاركذا قال الزيلعي رحمه الله نصب الراية ۳/۵۶۱)۔

② اوبل دليل عقلي دا چه) كفن مال متقوم دي.محفوظ دي په داسي حفاظت سره چه ددې سره مناسب دي. (يعني دكفن دپاره قبريومحفوظ خائي دې.ځكه چه كفن هم په قبركښې پكارراخي.دقبرنه بهرځوك په ژوندونى كفن نه اچوى)نوكټ كولي به شي(لاس) دكفن په غلا كښې، (ځكه چه دمحفوظ ځائي نه مال متقوم په پټه باندې غلا شوې دې.اوسرقه وائى هم دې ته.چه د محفوظ ځائي نه مال متقوم په پټه باندې غلا شي.نوپه دې باندې تعريف دسرقه صادق شو.نوچه څه حكم د سرقه وى.هغه به د نبش هم وى)

الجوابان منه ﴾ ① دا روايت مرفوع نه دې. (اومونږ چه دنباش په باره كښې كوم حديث ذكركړې دې.چه په مختفى باندې كټ كول نشته.هغه مرفوع دې.نوغيرمرفوع حديث د مرفوع په مقابله كښې حجت نشي جوړيدې)

② يا دا چه دا حديث محمول دې په سياشت باندې (يعنى اګرچه دنباش اصلى حكم دا دې.چه دده لاس كټ نكړې شي.البته كه امام اوحكمران دځه مقصد دپاره د نباش لاس كټ كړى.لكه په يوه علاقه كښې كفن چور زيات شوى وى.نود هغوى د عبرت دپاره كه امام دنباش لاس كټ كړى.دا جائزدې.نودنبي ﷺ دغه حكم چه مونږ به د نباش لاس كټ كړو.په دې سياست باندې محمول دې)

دبيت المال نه په غلا كولودلاس كټ كولوحكم

(وَلَا يُقْطَعُ السَّارِقُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ) وَلَا مِنْ مَالٍ لِلسَّارِقِ فِيهِ شَرِكَةٌ)

ترجمه و تشريح ﴾ اونه به شي كټ كولي (لاس د) غل (په غلا كولوسره) د بيت المال نه،

دليله ﴾ ځكه چه دا مال د عوامو دې.اودې (غل) ددوى نه (يوفرد) دې. (نوپه ملك كښې شبه پيدا شوه.اوپه شبه باندې حد ساقط كيږى.نودده نه حدساقط شو) اونشته (دلاس كټ كول) په غلا دهغه مال چه په هغې كښې د غل حصه وى.د وجې دهغه دليل نه چه مونږ بيان كړلو. (يعنى چه په دې مال مسروقه كښې د دې غل حصه ده نوپه ملك كښې شبه پيدا شوه .اوپه شبه باندې حد ساقط كيږى.نودده نه حدساقط شو)

دموريلار،اولاد اوليا دې رشته داروله دغلا كولوحكم

(وَمَنْ سَرَقَ مِنْ أَبَوَيْهِ أَوْ وَلَدِهِ أَوْ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ لَمْ يُقْطَعْ)

ترجمه و تشريح ﴾ اوځوك چه غلا اوكړى دخپل موريلارنه،يا دخپل اولاد نه،يادرشته دارنه چه حرام وى په ده باندې، (يعنى نكاح ئې ورسره نه كيږى) نونه به شي كټ كولي لاس،

دليل عدم القطع علي السرقة من الابوين والاولاد ﴾ په اول صورت كښې (يعنى چه اولاد د والدينونه غلا اوكړى.يا والدين داولاد نه غلا اوكړى.نولاس نشي كټ كولي) دوجې د فراخ دلئ نه په مال كښې(يعنى دوى بغيرد خفګان نه ديوبل مال اخلي.اوپه دې باندې خفه كيږى نه.ځكه چه د والدينو طرفه د اولاد دپاره شفقت موجود وى.او اولاد ته دخپلو والدينومال خپل مال ښكارى) اود وجې د داخليدو نه په محفوظ ځائي كښې(يعنى په كوم ځائي كښې چه مال پروت وى.اګرچه فى نفسه هغه محفوظ ځائي وى.خود والدينو اود اولاد په حق كښې غيرمحفوظ وى.ځكه چه هغوى دغه ځائي ته داخليږى راداخليږى.نوپه حد سرقه كښې چه كوم شرط دې.چه غلا به د محفوظ ځائي نه شوې وى.هغه شرط مفقودشو.اوپه انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راځى)

دليل عدم القطع علي السرقة من المحارم ﴾ اوپه دويم صورت كښې (يعنى كه سړې دمحرم نه څه څيزغلا كړى.نوهم پرې لاس كټ كول نشته) د دويمې وجې (يعنى چونكه د محرم په حق كښې دځائي حفاظت نشته.ځكه چه مثلاً په يوكور كښې خوراو وررو اوسيږى.نوپه كوم ځائي كښې چه مال پروت وى.هغه

اگرچه فی نفسه محفوظ ځائي دي.خود محرم په حق کښې غیرمحفوظ دي.نوهم هغه خبره شوه.چه وحدسرقه جاري کولوشرط چه دحفاظت دځائي دي.هغه فوت شو.نومشروط چه حدجاري کول دی هغه به هم فوت شي)

ثانیه> هم ددي وجې(چه محرم خپلوانوپه حق کښې مال غیرمحفوظ دي) مباح کړې دی شریعت نظرکول (دمحرم دپاره) ځایونود زینت ته چه ظاهري وی په اندامونوکښې(یعنی د محرم دپاره دا جائز دي.چه دخپلې محرم خور یا لور وغیره ظاهري چه کوم اندامونه د زینت دی.لکه لاسونه،مخ اوقدمونه دې ته ګوری) په خلاف د دوستانو(یعنی که یودوست دبل دوست نه غلا اوکړی.نودهغه دوست لاس به کټ کولې شي) ځکه چه دا دوست ورسره دشمنی کوی په غلا کولوسره(یعنی اګرچه دوستان وی.خوچه کله یودوست ته پته اولګی.چه دې بل دوست زما نه غلا کړې ده، نو دغه دوستی په دشمنۍ بدلیږی.اوپه اول صورت کښې یعنی د والدینواواولاد په مینځ کښې اودغه شان د محرم خپلوپه مینځ کښې چه کوم تعلق دې.هغه په غلا باندې په دشمنۍ نه بدلیږی.بلکه که دغلا عمل واقع شی.بیا هم دهغوی همدردیانې د یوبل سره وی) ([1])

د ښځې خاوند یا دغلام دمولی نه د غلا حکم

وكذالك (وَإِذَا سَرَقَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ مِنَ الْآخَرِ أَوِ الْعَبْدُ مِنْ سَيِّدِهِ أَوْمِنِ امْرَأَةِ سَيِّدِهِ أَوْمِنْ زَوْجِ سَيِّدَتِهِ او

ترجمه وتشریح> اوهمدغه حکم دې کله چه غلا اوکړی احدالزوجین دبل نه (یعنی یا ښځه د خاوندنه غلا اوکړی.یا خاوند دښځې نه غلا اوکړی) اوغلام د مولی نه (غلا اوکړی)اویا دښځې دخپل مولی نه (غلا اوکړی) او یاغلام (غلا اوکړی) دخپل مولی نه او یا ښځه (غلا اوکړی)د خاوند نه (نوپه دې ټولوصورتونوکښې نه به شی کټ کولې لاس د سارق)

دلیله> د وجې د موجودوالی د اجازت نه په داخلیدوکښې عام طور یعنی عام طور دا وی.چه دا کسان بغیرد اجازت نه دیوبل کورته ورداخلیږی.نود دوی په حق کښې مال محفوظ نشو.اولاس کټ کول خود مال محفوظ په غلا کښې وی

د مولی دخپل مکاتب نه نه دغلا حکم

(وَالْمَوْلَى مِنْ مُكَاتَبِهِ

ترجمه وتشریح>اوکه غلا اوکړله مولی د مکاتب خپل نه نونه به شی کټ کولې (لاس دمولی)

دلیله> ځکه چه دمولی دپاره حصه ده په ګټه د مکاتب کښې، (نوپه دې سره په ملکیت کښې شبه پیدا شوه.اوپه شبه باندې حدساقط کیږی)

دفوځی د بیت المال نه دغلا حکم

(وَكَذٰلِكَ السَّارِقُ مِنَ الْمَغْنَمِ)

حل اللغة> ① **المغنم**:مال غنیمت

ترجمه و تشریح> اودغه شان د (فوځی)حکم دې.چه غلا اوکړی د بیت المال نه، (نودهغه لاس به نشی کټ کولې.

[1] په دویم صورت کښې (چه محرم دخپل محرم نه غلا اوکړی) خلاف ثابت دې دامام شافعی رحمه الله (ځکه چه دهغوی په نیزپه دې صورت کښې به لاس کټ کولې شی)

دلائله ① ځکه چه دده په مال غنیمت کښې حصه ده. (نو په ملکیت کښې شبه پیدا شوه.اوپه شبه باندې حدساقط کیږي)

②حضرت علي رضي الله عنه نه ددې روایت تفصیل دا دې.چه دوی ته یوپه جهاد کښې یوفوځی راوستې شو.چه هغه د مال غنیمت نه داوسپې ټوپۍ یعنی خول پټ کړې وو.نوحضرت علي رضي الله عنه اوفرمائیل.په دې مال غنیمت کښې دده هم څه حصه ده.ددې نه پس ئې دهغه لاس کټ نکړلو) (۱)

دحفاظت قسمونه

(وَالْحِرْزُ عَلَى نَوْعَيْنِ حِرْزٌ لِمَعْنًى فِيهِ كَالْبُيُوتِ وَالدُّورِ. وَحِرْزٌ بِالْحَافِظِ)

ترجمه وتشریح اوحفاظت په دوه قسمه دې.یوحفاظت دڅه معنی دوجې وی.چه هغه معنی موجود وی.په دغه ځیزکښې،لکه کوټې،کورونه،(صندوق،الماریٰ وغیره) اوبل حفاظت دې په محافظ سره، (یعنی هغه ځیزکښې داسې څه معنی نه وی.چه محفوظ وی.بلکه دهغې دحفاظت دپاره محافظ مقررکړې شوې وی)

دلیله دغلاثابتولودپاره حفاظت ضروری دې.ځکه چه دغلاپه تعریف کښې په پټه د یوځیزاخستل رکن دې.او) پټوالې نه متحقق کیږی بغیردحفاظت نه. (یعنی یوځیزمحفوظ وی.نوغل د هغې دغلا دپاره دپټوالی طریقه اختیاروی.اوچه یوځیزښکاره اوغیرمحفوظ وی.دهغې د غلا دپاره د پټې تدبیرونه نشی کولې)

د محفوظ مقام یا محافظ نه د غلا په کولودلاس کټ کولوحکم

(فَمَنْ سَرَقَ عَيْنًا مِنْ حِرْزٍ أَوْمِنْ غَيْرِ حِرْزٍ وَصَاحِبُهُ عِنْدَهُ يَحْفَظُهُ وَجَبَ عَلَيْهِ الْقَطْعُ)

ترجمه و تشریح صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.چا چه غلا کړلو یو ځیز د محفوظ ځائې نه یا دغ محفوظ نه،اومالك د ځیز موجود وود هغې مال سره،چه حفاظت ئې کولو(دهغې) نوکټ کولې به شی لاس دسارق)

دلیله ځکه چه ده غلا کړلو مال چه محفوظ وو په یو د دوو طریقو دحفاظت، (یعنی په اول صورت کښې مال په محفوظ مکان کښې وو.اوده غلا کړلو.اوپه دویم صورت کښې د مال سره محافظ موجود وو.اوده غلا کړلونود غلا تعریف پرې صادق شو.چه محفوظ ځیز غلا کول دی. نودې غل شو.اودغل سزا لاس کټ کول وی)

دحمام نه دغلا په کولودلاس کټ کولوحکم

(وَلَا قَطْعَ عَلَى مَنْ سَرَقَ مِنْ حَمَّامٍ أَوْمِنْ بَيْتٍ أُذِنَ لِلنَّاسِ فِي دُخُولِهِ)

ترجمه و تشریح اونشته کټ کول (دلاس) په هغه چا چه غلا کښې مال د حمام نه،اویا د داسې کورنه چه اجازت شوې وی خلقوته په داخلیدوکښې هغې ته،دوجې د موجودوالی د اجازت نه په عادت کښې(یعنی بعضې داسې کورنه وی.چه عاموخلقو ته هغې ته د ورداخلیدو اجازت وی.لکه د پښتنو په کلو کښې حجره رواخله)

دلیله د وجې د وجود د اجازت نه عادة یا حقیقة په داخلیدو کښې (یعنی حمام ته د داخلیدو اجازت دخلقو پ ادت کښې جاری دې.نوعادت په دې باندې قرینه ده.چه اجازت شته،اوکورته د داخلیدو

۱) اخرجه عبدالرزاق فی مصنفه والدارقطنی فی المؤتلف والمختلف كذا قاله الزيلعي رحمه الله نصب الراية ۳/۵۶۳ـ

دپاره حقیقي اجازت ضروري دي.چه دا ونیلې شوې وي.که څوك دې كورته داخليږي.اجازت ورته شته) نونقصان راغلویه حفاظت (دمال) كښې، (اوچه په حفاظت كښې نقصان راغلو.نوددې نه په غلا كولوسره دلاس كټ كول نه واجبيږي.ځكه چه حدالسرقه په هغه وخت كښې جاري كيږي.چه د محفوظ خاني نه څيز غلا شوي وي)

په جمات کښې د موجود مالك نه په غلا کولود لاس کټ کولوحکم

(وَمَنْ سَرَقَ مِنَ الْمَسْجِدِ مَتَاعًا وَصَاحِبُهُ عِنْدَهُ قُطِعَ)

ترجمه و تشریح ﴿ اوڅوك چه پټ كړي د جمات نه سامان اومالك دهغې موجود وي دهغې سره،كټ كولې به شي (لاس د سارق)

دليله ﴿ ځكه چه دا سامان محفوظ دې په محافظ سره، (اګرچه د ځاني په اعتبارسره داسامان محفوظ نه دې) ځكه چه جمات نه دې جوړ شوې دپاره دحفاظت د مالونو(دخلقو) نومال نشو محفوظ په اعتبارد مكان سره، (بلكه جمات دعبادت دپاره جوړشوې دې.اوخلق ورته څې راځي)

د میلمه د کوربه نه په غلا کولودلاس کټ کولوحکم

(وَلَا قَطْعَ عَلَى الضَّيْفِ إِذَا سَرَقَ مِمَّنْ أَضَافَهُ)

ترجمه و تشریح ﴿ اونشته كټ كول (دلاس) په ميلمه باندې،كله چه دې غلا اوكړي دهغه چا نه چه ميلمه كړې وي هغه دې.

دليله ﴿ ځكه چه كور محفوظ پاتې نشو په حق د ده(ميلمه) كښې، ځكه چه ده ته كورته د داخليدو اجازت شوې دې. (اوپه حد سرقه كښې د مال حفاظت ضروري) اوبله دا چه دې پشان د كوربه دې. (ځكه چه دې هم په كوركښې دننه دې) نودده دا كارخيانت شو غلا نشوه. (اوپه خيانت كښې دلاس كټ كول نشته)

(وَإِذَا نَقَبَ اللِّصُّ الْبَيْتَ فَدَخَلَ وَأَخَذَ الْمَالَ وَنَاوَلَهُ آخَرَ خَارِجَ الْبَيْتِ فَلَا قَطْعَ عَلَيْهِمَا)()

حل اللغة ﴿ ① **نقب**:سوري اوكړي ② **اللص**:غل

ترجمه و تشریح ﴿ اوكله چه سوري اوكړي غل په كوركښې،نوداخل شي او راواخلي مال،او ورنې كړي بل كس ته چه بهروي د كورنه،نونشته دلاس كټ كول په دې (قسم غلا كښې)

دليله ﴿ ځكه چه اولني غل نه دی موجود شوې دده بهرته ويستل د مال دوجې د وجود دقبضې معتبرې په مال باندې وراندې د وتلود غل نه(يعني ترڅوچه سامان د كورنه نه وي بهرشوې.نوپه مال باندې د مالك قبضه برقرارده) اودويم كس (چه دكورنه بهروي) نه دې موجود شوې دده نه ماتول د حفاظت. (يعني دې هغه ځاني ته نه دې ورداخل شوې.كوم چه محفوظ وو) نوپوره نشوه غلا دهريو نه(كه خارج وي اوكه داخل.نوچه دهريوپه حق كښې غلا په كامله طريقه ثابته نشوه.نولاس كټ كول به هم نه كيږي)

مسلك ابي يوسف ﴿ دامام ابويوسف رحمه الله نه روايت دې.كه راويستلو دننه كس لاس خپل او ورنې كړلو بهركس ته،نوكټ كول (دلاس دی) په داخل باندې،اوكه وردننه كړلو بهركس لاس خپل او واخي خستلو د لاس د داخل نه،نوپه دواړوباندې(كه داخل دې اوكه خارج) كټ كول (دلاس) دی.

() القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في مجمع الأنهر(۱\۶۳۰) وفتح القدير(۵\۱۵۰) ورد المحتار(۳\۲۲۳) والكفاية (۵\۱۵۰) والبحر(۵\۶۰) نقلاً عن القول الراجح (۱\۴۶۶)-

(وَإِنْ أَلْقَاهُ فِي الطَّرِيقِ ثُمَّ خَرَجَ فَأَخَذَهُ قُطِعَ)

حل اللغة ① الالقاء: غورځول

ترجمه و تشريح اوكه وي غورځول مال په لاركښي (يعني داخل كس د كورنه مال په لاره كښي اوغورځولو) اوبيا روسته راوبهرشواو راواي اخستلو.نوكټ كولې به شي (لاس دده)

دليله دليل دا دي.چه راغوځول (دمال د كورنه بهرلاري ته) يوه حيله اوچل دي.چه بلد دي پري غلا خلق،ځكه چه ګران ورته وتل سره د سامانه،اويا ددي دپاره (سامان لاري ته راوغوځوي) چه فارغ شي جګړي ته د مالك د كور سره (يعني كله غل سامان د كورنه بهرلاري ته راغورځوي.كه دكور مالك پري راپيدار شي.چه هغه سره جګړه كولې شي.اوځان تري بچ كولې شي) اونه ده راغلي په دي مال باندي قبضه معتبره. (يعني داسي نه ده.چه ده لاري ته راوغورځولو.اوبل كس دغه مال د لاري نه اوچت كړلو.بلكه هم دا غل رابهرشوي دي.اوهغه مال ئي وري دي) نوحساب شو ټول كارونه يوكار (دغلا،يعني كه دكورنه بهرته دمال راغورځول دي.اوبيا پخپله راوتل دي.اودا مال په خپله قبضه كښي راوستل دي.نودا ټول يوفعل حسابيږي.چه غلا ده.يعني ددي ټولوكارونو مجموعه يوه غلا شوه) اوهركله چه رابهرئي كړي.او واپي نخلي.نودا كس (دمال) ضائع كونكي شو.غل نشو.

دبارشوي خره سرلو د غلا كولوحكم

(وَكَذَٰلِكَ إِنْ حَمَلَهُ عَلَىٰ حِمَارٍ فَسَاقَهُ وَأَخْرَجَهُ)

ترجمه و تشريح ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.اودغه شان كه باركړي سامان په خر باندي، اووي شړي او راوبياسي. (نوهم به دده لاس كټ كولې شي)

دليله ځكه چه ددي (خر) مزل مضاف دي ددي شړونكي ته، (يعني كه دغه كس دا خرشړلي نه وو.نوسامان به په هغه باندي په كوركښي دننه پروت وو.اوچه دننه وو.نودمالك په قبضه كښي وو.نودغلا تعريف پري نه صادق كيدلو.خوهركله چه ده اوشړل،اوسامان بهرته اووتل.نودا هم ددي شړونكي فعل شونوځكه به دده لاس كټ كولې شي)

دبوي ألي په شريكه دغلا كولوحكم

(وَإِذَا دَخَلَ الْحِرْزَ جَمَاعَةٌ فَتَوَلَّىٰ بَعْضُهُمُ الْأَخْذَ قُطِعُوا جَمِيعًا)

ترجمه و تشريح اوكله چه داخل شي محفوظ ځائي ته يوه ډله نوبعضي په دوی كښي راخستل اوكړي (دسامان) نو كټ كولې شي (لاسونه) د ټولو، دا (حكم) استحسان دي.

دليلنا راويستل موجود شوي دي د ټولو نه په اعتبارد معنى سره (يعني اګرچه په حقيقت كښي دسامان راويستونكي يودي.دغلا په دي كاركښي ورسره دا نورهم شريك دي.نومعنى ورسره دوی هم غله شول) دوجي د امداد كولو (دنورو ددي حامل سره په كاردغلا كښي) لكه څنګه چه سرقه كبرى كښي وي (د سرقه كبرى نه شوكه مراد ده.چه په لاره ځوكسان راجمع شوي وي.اوپه هغوی كښي ټول كسان يوكس اودروي.اوهغه سره څه وي.صرف يوكس تري هغه واخلي.نودا ټول غله شول.ددي ټولولاسونه به كټ كولې شي.اګرچه مال تري صرف يوكس اخستي وي) اودا حكم ځكه دي.چه عادت په دي جاري دي دغلو په مينځ كښي (چه ټول كسان سامان نه بهركوی بلكه) راواخلي بعضي كسان سامان (دكورنه) اوخواره وارة شي باقي كسان دپاره د دفع كولو (اودځان دحفاظت) نوكه چرته منع كړې شي كټ كول (دلاسونود نورو غلودحامل نه سوا) نومفضى به شي دا خبره بنديدو باب د حد لره (يعني كه په جمع باندي ډيركسان غلا اوكړي.اوموږ صرف دهغه كس لاس كټ كوو.چا چه سامان رابهركړې

وي.نوپه دې کښې به دحد جاري کولودروازه بنده شي.اوخلق بـه جرمونـه کـوي.اوچه تولوتـه سزا مـلاؤ شي.نوبيا به ټول دغلا نه منع شي)

مسلک زفر اوقيـاس دا دې.چه کټ دې کړې شـي (لاس) د راوړونکي صرف اودا (قياس) قول د امام زفرﷺ دې. (دهغوی په نيزبه صرف دحامل لاس کټ کولې شي.

دليله اودليل د قياس دا دې.چه) راويستل (دمال) موجود شوی دی دده (حامل) نه، نوپوره شوه غلا په ده (حامل) باندې،

کورته بغيرد داخليدونه غلا کولوباندې دحد حکم

(وَمَنْ نَقَبَ الْبَيْتَ وَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهِ وَأَخَذَ شَيْئًا لَمْ يُقْطَعْ)

ترجمه و تشريح اوچاچه کنډراوکړلو دکور،اوداخل ئې کړلو لاس خپل په هغې کښې،او راوائې اخستل څه څيز،نو نه به شي کټ کولې لاس، (دغل)

دليلهما دليـل دا دې.چه بې عزتـي د محفـوظ خانې،شرط کـولې شـی پـه دې کښـې کمـال(چه پـوره داخليدل واقع شوې وي.اودپوره داخليدو شرط لګول) دپاره دخان ساتلو د شبه دعدميت نه (يعنـی دا پوره دخول څکه شرط کړې شو.چه دا شبه په کښې پاتې نشي.چه بغيرد داخليدو نه د سامان راويستل غلا ده اوکه نه ده.اوچونکه شبه حدساقط کوي.څکه مو په سرقه کښې حرز ته داخليدل شرط اوګرځول) اوکمال (دسرقه راخي) په دخول سره، (چه محفوظ خانې ته ورداخل شي.اوغلا اوکړي) اوممکن دې اعتبارد داخليدو څکه چه (دغلا کولودپاره) داخليدل عادتي څيزدې. (يعنی کله چه هم څوك د محفوظ خانې نه څه څيزراوباسي.نوهغي ته ورداخليږي.نوحرز ته ورداخليدل غيرممکن نه دی.بلکه ممکن دی.نوچه ممکن دی.په حدسرقه کښې ئې شرط کول هم صحيح شو)

مسلک ابي يوسف دامام ابويوسفﷺ نه داملاء په روايت کښې دی.چه کټ کولې به شي(لاس دده)

دليله څکه چه ده راويستې دې مـال دمحفوظ خانې نه،اودمال راويستل مقصود دې. (يعنـی دغل مقصددا وی.چه سامان په خپله قبضه کښې راولي.اودا مقصود حاصل شو.اګرچه کورته د ورداخليدو نه بغيروی) نونشي شرط کولې دخول دې (کور) ته (څکه چه د داخليدو نه بغيرمقصود حل کيږی)

(وَإِنْ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي صُنْدُوقِ الصَّيْرَفِيِّ أَوْ فِي كُمِّ غَيْرِهِ وَأَخَذَ الْمَالَ يُقْطَعُ)

حل اللغة ① **الصيرفي**: صراف

ترجمه و تشريح اوکه داخل ئې کړلو لاس خپل د صراف په صندوق کښې يا په لستونړی کښې،نوکټ کولې به شی لاس د(ګنرګپ)

دليله د صندوق نه د غلا په صورت کښې څکه لاس کټ کولې شی.چه ګله تـه سرې ورننـوتې نشي.بلکه هم د لاس په ذريعه ترې پيسې راخلي.نو ګله ته ورداخليدل ناممکن شو.نوڅکه به ترې لاس کټ کولې شي. اوپه دويم صورت کښې(چه تيلئ په لستونړی کښې دننه وی) نوغوته بهروی،نوپه کټ کولوسره متحقق کيږی اخستل د محفوظ خانې نه،چه لستونړي دې. (نوڅکه پـه دې کښـې دلاس کټ کول شته)

دغل دلاس کټ کولومحل

(وَيُقْطَعُ يَمِينُ السَّارِقِ مِنَ الزَّنْدِ وَتُحْسَمُ)

تشریح > **دلیل القطع** > نو کټ (د لاس) ثابت دی دهغه دلیل نه کوم چه مونږ تلاوت کړې دې وړاندې (یعنی دا آیت چه [وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا] اود نبی لاس ثبوت کیږی د قراءت دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه (ځکه چه دهغوی په قراءت کښې داسې دی چه ﴿فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا﴾

دلیل القطع من الزند > اودجوړنه کټ کول ځکه دی چه د ،ید، لفظ شاملیږی ترترخه پورې (یعنی د یداطلاق د ګوتو د سرنه واخله ترترخه پورې کیږی) اودا جوړ یعنی مرونډ په یقین سره شامل دې په (تعریف د لاس) کښې، (نو داحیاط دپاره به په دې باندې عمل کولې شی چه چونکه دومره اندازې ته هم لاس ونیلی شی نو زمونږ به دا کوشش وی حدهم قائم شی اوسارق ته زیات نقصان هم اونه رسی دا خو عقلی دلیل وو اونقلی دلیل دا دې چه) اوپه صحت سره ثابت شوی دی چه نبی ﷺ حکم کړې وو دکټ کولو لاس دغل د مرونډ نه (۱)

دلائل الحسم > ① د داغ ورکولو د نبی ﷺ فرمان دې (په باره دغل کښې) کټ ئې کړئ (لاس) اوداغ ورته ورکړئ. (داخود داغ ورکولو نقلی دلیل شو.

② عقلی دلیل دا دې چه) اوکه چرته داغ ورنکړې شی. (نو ددې نه به وینه روانه وی اوچه وینه تری روانه وی) نو مفضی به شی (دا کټ کول دلاس) هلاکت د غل ته، (یعنی غل به هلاک شی) اوحد تنبیه ورکونکې دې. (چه مجرم ته په خپل جرم تنبیه ورکړی) هلاکونکې نه دې. (چه مجرم هلاک کړی)

خو څوځله دغلا کونکی کس حکم

(فَإِنْ سَرَقَ ثَانِيًا قُطِعَتْ رِجْلُهُ الْيُسْرَى، فَإِنْ سَرَقَ ثَالِثًا لَمْ يُقْطَعْ وَخُلِّدَ فِي السِّجْنِ حَتَّى يَتُوبَ)

حل اللغة > ① **السجن**: جیل ② **رجل**: پښه

ترجمه و تشریح > که غلا ئې اوکړله دوباره کټ به کړې شی پښه ګسه دده. که غلا ئې اوکړله په دریم ځل، نه به شی کټ کولې (دده هیڅ اندام) اوهمیشه دپاره به واچولی شی په قید کښې، تردې چه توبه اوباسی. اودا حکم چه په دریم ځل به کټ کول نه وی بلکه همیشه دپاره به په جیل کښې اچولې شی داستحسان دې. (۲)

دلیله > دلیل قول دحضرت علی ﷺ دې په داسې غل کښې، (چه په اولنی ځل ئې دغل ښې لاس کټ کړلو اوپه دویم ځل ئې ګسه پښه کټ کړله. اوچه په دریم ځل ورته راوستې شو. وې فرمائیل) ماله دالله تعالی نه حیا راځی چه زه دده یولاس هم پرې نږدم چه دې پرې خوراک کوی. اواستنجا پرې کوی اویوه پښه ورله هم پرې نګدم چه دې پرې تلل کوی. (۳) اوپه دې مسئله کښې خبرې اوکړې دوی (حضرت علی ﷺ سره نورصحابو ﷺ نوقائل کړل هغوی په دې دلیل سره (چه زه ترې بل لاس اوبله پښه هم پرې کړم نو دې به په څه خپل ضروریات پوره کوی؟ نو په دې باندې ورسره هغوی متفق شول.) نو په دې

---

۱) من عمروبن شعیب عن أبیه عن جده ﷺ أخرجه الدارقطنی فی سننه ۳/۲۰۴)-

۲) **مسلک الشافعي**:- اوفرمائی امام شافعی ﷫ چه (په اول ځل به ښې لاس اوپه دویم ځل ګس لاس او) په دریم ځل کښې به کټ کولې شی ګسه پښه د ده، اوپه څلورم ځل کټ کولې به شی ښئ پښه دده،

۳) أخرجه محمدبن الحسن فی کتاب الآثاروالدارقطنی فی سننه ۳/۱۸۰) رقم ۲۸۸)_

اجماع منعقد شوه. (چه دغل نه به په دریم ځل لاس یا پښه نشی کټ کولې.بلکه په جیل کښې به اچولې شی) (۱)

غل چه په ښو لاسو کښې شل یا کټ وی.نودده دحد حکم

(وَإِنْ كَانَ السَّارِقُ أَشَلَّ الْيَدِ الْيُسْرَى أَوْأَقْطَعَ أَوْمَقْطُوعَ الرِّجْلِ الْيُمْنَى لَمْ يُقْطَعْ)

ترجمه و تشریح > اوکله چه وی غل چه ګس لاس ني شل وی.اوبرې کړې شوې وی.پښه ښۍ؛نو(په دې صورتونو کښې به) نشی کټ کولې (لاس یا پښه دده)

دلیله > ځکه چه په دې کښې فوت کیدل د جنس منفعت د نیولواوتګ دی. (یعنی بیخی دې د نیولواود تللونه محرومه کیږی.اودا د جنس منفعت فوت کیدل دی.اوورانده تیر شوی دی.چه دجنس منفعت فوت معنوی هلاکت دې.نودا جائزنه شو) اودغه شان حکم دې(یعنی پښه یا لاس به نې نشی کټ کولې) کله چه وی پښه ګسه دده شله،د هغې دلیل د وجې کوم چه مونږ بیان کړلو. (چه په دې کښې دجنس منفعت فوت کیدل دی.اودا جائز نه دی)

دلاس کټ کولوپه وخت کښې دمسروق منه حاضرول

(وَلَا يُقْطَعُ السَّارِقُ إِلَّا أَنْ يَحْضُرَ الْمَسْرُوقُ مِنْهُ فَيُطَالِبُ بِالسَّرِقَةِ)

ترجمه و تشریح > اونه به شی کټ کولې لاس مګرپه داسې حالت کښې چه حاضر وی هغه کس چه غلا ترې شوې وی.نوهغه (مسروق منه) به مطالبه اوکړی دغلا(چه ده زما نه غلا کړې ده)

دلیله > ځکه چه خصومت (یعنی د خپل غلاشوی څیزمطالبه کول) شرط دې.دپاره دښکاره کولود غلا، (یعنی غلا به هله ښکاره کیږی.چه مسروق منه دخپل غلاشوی څیزمطالبه اوکړی.اوکه بالفرض دچا نه چه غلا شوې وی.هغه نه وی حاضرشوې.اوهغه دعوه نه وی کړې.)په دې کښې دا احتمال شته.چه مسروق منه خپل مال مباح کړې وی.یا نې سارق ته بخلی وی.نوددې وجې دهغه وجود اومطالبه ضروری ده) اونشته فرق په مینځ د شهادت اواقرارکښې (یعنی که دغل غلا دګواهانوپه ګواهۍ ثابته شوې وی.اوکه غل په خپله دغلا اقرارکړې وی.په دواړو صورتونوکښې به لاس هله کټ کولې شی.چه مسروق منه حاضر شی)

دقاضی دفیصلې نه پس دغل په مال مسروقه باندې ملک راتلل

(فَإِنْ وَهَبَهَا مِنَ السَّارِقِ أَوْبَاعَهَا مِنْهُ أَوْنَقَصَتْ قِيمَتُهَا مِنَ النِّصَابِ لَمْ يُقْطَعْ)

ترجمه و تشریح > که مالک مسروقه مال غل ته هبه کړل یا نې په هغه باندې خرخ کړل یا کم شو قیمت د مسروقه مال د نصاب نه نو نه بشی کټ کولې (۲)

دلیله > دلیل دا دې.چه دحد جاری کول دقاضی دفیصلې پوره والې دې په دې باب (دحدودو)کښې،ځکه چه واقع کیږی بې پرواهی د دې قضاء نه په حد اخستلو سره. (یعنی قاضی چه دا اووائی.چه ما د رجم یا د لاس کټ کولو یا د کوړو ورکولو حکم ورکړلو.نولکه څنګه چه دا الفاظ فیصله ده.دغه شان ددې الفاظو مطابق عمل کول اوحدجاری کول هم دقاضی فیصله ده. بالفرض که

---

۱) نقله الزيلعي رحمه الله بالتفصيل وعزاه إلى التنقيح نصب الراية ۵۷۳)_

۲) **مسلك الشافعي**:- فرمانی امام زفراوشافعی رحمه الله چه کټ کولې به شی (لاس د سارق) اودا یو روایت دامام ابویوسف رحمه الله نه هم دې. (چه لاس به نې کټ کولې شی.

قاضي فيصله واوروي.خوبه هغې باندې عمل اونشي.نود قاضي فيصله نافذه نشوه) ځکه چه فيصله (دقاضی) دپاره د ښکاره کولو ده(چه خلقو ته ښکاره شي.چه فلانی غلاکړې وه.اودهغې سزا ورته دلاس کټ کولوپه صورت کښې ملاؤ شوه.) اوددې (قاضي د فيصلې اورولو نه پس) دلاس کټ کول دالله تعالى حق دې.اودا (حق دالله تعالى) ښکاره کيږي په وخت د لاس کټ کولوکښې،اوهرکله چه داسې شوه. (يعنی دا چه دلاس کټ کول دقاضی د فيصلې پوره والې دې.که کټ والې اونشي.نودقاضی فيصله بې فائدې شوه) نوشرط کولې به شي قيام دخصومت په وخت د حدجاری کولوکښې(يعنی لکه ځنګه چه د فيصلې په ابتداء کښې خصومت شرط دې.دغه شان دا هم شرط دې.چه دا خصومت د حدجاری کولوپه وخت کښې هم وی.څوکه خصومت د فيصلې په اول کښې وی.چه مالك د سارق دلاس کټ کولومطالبه کوی.اوبيا کله چه د لاس کټ کولووخت راشي.دهغه دطرفه مطالبه نه وی.ځکه چه سارق ترې هغه مال مسروقه يا اخستې وی.يا ورته مالك هغه مال مسروقه بخلې وی.نودحدجاری کولوشرط مفقود شو.چه خصومت دې،اودا قاعده ده.چه کوم څيزد قضاء دپاره شرط وی.هغه څيزبه په هغه وخت کښې هم شرط وی.چه کله په دغه قضاء باندې عمل کولې شي.اوحدجاری کولې شي.څوچونکه په موجوده صورت کښې د حدجاری کولوپه وخت کښې خصومت نشته.ځکه چه مالك سارق ته مال مسروقه هبه کړې دې.يا ئې پرې خرڅ کړې دې) نودا داسې شوه.لکه چه مالك شوې ئې وی سارق وړاندې د قضاء نه (اودا مسئله وړاندې تيره شوې ده.چه مقدمه قاضی ته پيش شوې نه وی.سارق په څه طريقه باندې د مال مسروقه مالك جوړ شي.نوپه ده باندې د لاس کټ کول نشته.نودغه شان دلته په زيربحث مسئله کښې به هم په سارق باندې دلاس کټ کول نه وی.دهغه تقريرد وجې کوم چه مونږ بيان کړلو)

دليل عدم القطع في نقصان النصاب دليل دا دې.چه کمال دنصاب هرکله چه شرط وو،په وخت د قضاء دقاضی کښې.يعنی قاضی به هله دلاس کټ کولوفيصله کوی.چه مال مسروقه دسرقه نصاب ته رسی.که نه رسی.نوبيا دلاس کټ کولوحکم نشي کولې.نودغه شان) شرط کولې شي قيام ددې نصاب په وخت د پوره کولودحد(يعنی دلاس کټ کولوپه وخت کښې هم دا شرط دې.چه مال مسروقه به نصاب ته رسی.اوچه نه رسی.نولاس به نشي کټ کولې) دوجې دهغه تفصيل نه چه مونږ ذکرکړلو. (يعنی دحدجاری کول د قاضی د فيصلې يوه حصه ده.اودقاضی ذمه واری ده)

وَمَنْ سَرَقَ عَيْنًا فَقُطِعَ فِيهَا وَرَدَّهَا ثُمَّ عَادَ فَسَرَقَهَا وَهِيَ بِحَالِهَا لَمْ يُقْطَعْ

ترجمه و تشريح اوچا چه غلا کړلو.عين مال (هغه مال چه يوځل غلا کړې شي.اوبيا مالك ته واپس شي) ،نوکټ کړې لاس (د غل) په هغې کښې،اوواپس ئې کړه (هغه مسروق مال خپل مالك ته) بيا واپس شو(دا غل) اوغلا ئې کړه دغه څيز(په کوم کښې چه ئې په اول ځل لاس کټ شوې وو)اوهغه مال هم په هغه حالت وو. (څنګه چه وړاندې وو) نونه به شي کټ کولې (لاس ددې غل دوباره) ([1])

دليله دليل دا دې.چه کټ کولو(دلاس) پيدا کړه دا خبره چه ساقط ئې کړلوعصمت دمحل (يعنی کوم مال چه غلا شو.نودغه مال هغه شان محترم باقی پاتې نشو.ځنګه چه د غلا نه وړاندې وو)لکه چه اوبه پيژندې شي روستو انشاء الله تعالى اوبه واپس کولوسره مالك ته (يعنی دکوم مال په وجه چه د سارق لاس کټ کړې شي.اوهغه مال بيا خپل مالك ته واپس شي)اګرچه راګرځيدلو حقيقت دعصمت (يعنی

[1] **مسلك الشافعي:-** اوقياس دا وائی.چه کټ دې کړې شي. (دوباره بل لاس دده) اودا (د دويم لاس کټ کول) روايت دې د امام ابويوسف رحمه الله نه،اودا قول دامام شافعی رحمه الله دې.

هغه مال چه ځنګه ورانديږ معصوم اومحترم وو.نوچه دغلا نه پس بيا مالك ته راورسی.نوبيا په حقيقت کښي هغه شان معصوم اومحترم شو.ځنګه چه دغلا نه وړانديږ وو)البته دومره ده چه باقی پاتی ده شبه د زائله کيدو(داحترام اوعصمت دمال مسروقه،يعنی اګرچه په ظاهره بانديږ دغه مال چه دمالك لاس ته راغلو.نوبيا محفوظ شو.ليکن دا يوه شبه باقی ده.چه کيديږ شی.دغه مال اوس هغه شان معصوم اومحترم نه وی.ځنګه چه د غلا نه وړانديږ وو.اووديږ شبهي دباقی پاتيدوکيدو ګمان ځکه کوليږ شی)چه کتليږ شی اتحاد دملك ته(يعنی هم دا مال مسروقه اول هم ددي مالك په ملك کښيږ وو.اواوس هم دده په ملك کښيږ ديږ.اوکتل کوليږ شی) اتحاد د محل ته، (ځکه چه دا مال مسروقه چه وړانديږ دکوم کور نه غلا شويږ وو.هم هغه ځايږ ته واپس راغلو.اوکتل کوليږ شی) قيام د موجب ته کوم چه کټ کول دلاس دی.په دغه مال مسروقه کښيږ(يعنی دديږ مال عين دغلا په وجه چه دلاس کټ کيدو کوم حکم صادر شويږ وو. نودهغه حکم نتيجه چه کټ شويږ لاس ديږ.اوس هم باقی ديږ.هرکله چه دا درې واړه خبريږ موجود دی.نودا شبه پيدا کيږی.چه اوس دغه مال هغه شان معصوم اومحترم پاتيږ نه وی.ځنګه چه وړانديږ وو.اوچه دا شبه پيدا شوه.نوپه دويم ځل غلا کولوکښيږ حدساقط شو)

د مال داولني حالت نه د بدليدو حکم

(وَإِنْ تَغَيَّرَتْ عَنْ حَالِهَا مِثْلُ اَنْ كَانَتْ غَزْلًا فَسَرَقَهُ فَقُطِعَ فِيهِ وَرَدَّهُ ثُمَّ نُسِجَ فَعَادَ وَسَرَقَهُ قُطِعَ)

حل اللغة ① **غزل:** غيرګنډليږ شويږ ② **نسج:** اودليږ شويږ

تشريح صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.که بدل شو(عين مال) دخپل حالت نه، (يعنی غل چه کوم خيزغلاکرلو.هغه دغل نه مالك ته واپس شو.اوبيا په کښيږ دمالك په قبضه کښيږ تبديلي راغله) مثلاً چه وی مالوچ (دمالك سره) نوديږ (سارق) نيږ غلا کړی.او(ددغه مالوچويه غلا کښيږ) دده لاس کټ کړيږ شی.اوواپس نيږ کړی(خپل مالك ته) اوبيا اودليږ شی. (يعنی کپړه تريږ جوړه شی) نو بيرته اوګرځی غل غلا دهغيږ ته(اودا ځل هغه کپړه غلا کړی.کومه چه داولنومالوچونه جوړه شويږ وه.نوپه ديږ صورت کښيږ به نيږ) کټ کوليږ شی (لاس)

دليله ځکه چه عين مال (مسروقه خيز) بدل شو. (نودا داسيږ شوه.لکه چه غل په دوباره يونويږ خيزغلا کړلو.) اوکله چه خيزبدل شو.نوختمه شوه هغه شبه چه پيدا شويږ وه داتحاد د محل نه اود لاس کټ کيدونه په ديږ عين مال کښيږ، (يعنی په اولنی صورت کښيږ چه غل يوخيزغلا کړی.اودهغيږ په غلا کښيږ تريږ لاس کټ کړيږ شی.اوهغه خيزمالك ته واپس شی.اودا مقطوع اليد غل دوباره هم هغه خيزدوباره غلا کړی.نو وړانديږ تيرشو.چه چونکه په ديږ صورت کښيږ مال مسروقه هم يوديږ.اومحل يعنی دمالك قبضه هم يوه ده.اولاس هم په دغه خيزکښيږ يوځل کټ شويږ ديږ.نودوباره به ددغه غل لاس نشی کټ کيديږ.خوپه ديږ دويم صورت کښيږ چه د خيزد اتحاد کومه شبه وه.هغه ختمه شوه.نوچه هغه ختمه شوه.نوکه دوباره نيږ بل لاس کټ کوليږ شی.دا به هم دهغه خيزپه غلاکښيږ نه وی.دکوم خيزپه غلا کښيږ چه نيږ اول بل لاس کټ شويږ وو.هرکله چه داسيږ شوه) نو واجب شو لاس کټ کول دوباره.

دلاس کټ کولونه پس د مال مسروقه مالك ته دواپس کولواحکام

(وَإِذَا قُطِعَ السَّارِقُ وَالْعَيْنُ قَائِمَةٌ فِي يَدِهِ رَدَّهَا)

ترجمه و تشريح اوکله چه کټ کړيږ شی لاس دسارق،اوعين (مسروقه) موجود وی په لاس دده (سارق) کښيږ.نوواپس کوليږ به شی صاحب خپل ته (مسروق منه)

دليله د وجيږ د باقی پاتيږ کيدو دديږ (مال مسروقه) په ملك دهغه (مسروق منه) کښيږ،

(وَإِنْ كَانَتْ هَالِكَةً لَمْ يَضْمَنْ)

ترجمه وتشریح اوکه وی(مال مسروقه) هلاك شوې نه به شي تاوانی کولې (سارق چه مسروقه منه تړې د مال مسروقه تاوان واخلی)

وجوب الضمان علي الاطلاق- دا اطلاق (دابو الحسن قدوری چه وان کانت هالکة) شاملیږی هلاك(چه مال مسروقه په خپله هلاك شوې وی.لکه څه خناوروی.اومړشی) اواستهلاك ته (چه سارق هلاك کړې وی.لکه مال مسروقه ګډ وی.اودې نې مړکړی) اودا (برابری په حکم د هلاك او استهلاك کښې) روایت دابويوسف رحمه الله دې د امام ابوحنيفه رحمه الله نه،اوهم دا روایت مشهور دې. (چه دهلاك اواستهلاك په مینځ کښې څه فرق نشته) ([1])

دليله دلیل د نبي ﷺ ارشاد دې.{لَاغُرْمَ عَلَى السَّارِقِ بَعْدَ مَا قُطِعَتْ يَمِينُهُ}(۱)چه نشته تاوان په غل باندې پس ددې نه چه کټ کړې شي ښې لاس دده،

دليل عدم الضمان في صورة الاستهلاك اووجه دمشهو روایت (چه داستهلاك په صورت کښې هم په سارق باندې تاوان نشته.لکه څنګه چه د هلاك په صورت کښې نشته) دا ده.چه استهلاك پوره کول د مقصود دې. (یعنی سارق چه یو څیز غلا کوی.ددې دپاره نې غلا کوی.چه زه دا په خپله فائده راولم. نو غل چه مال مسروقه هلاك کړی.دا څه جدا جرم نه دې.بلکه هم د سرقه جرم اتمام ته اورسیدلو.نوهرکله چه جدا فعل نشو.بلکه هم د سرقه تکمیل شو)نومعتبره به وی شبه په دې استهلاك کښې (یعنی که داستهلاك په صورت کښې داباحت شبه راشی .نوچونکه استهلاك څه جدا جرم نه دې.بلکه د مقصد په اعتبار سره د سرقه تکمیل دې.اوسرقه سبب د کټ کولودلاس دې.نوپه استهلاك کښې شبه راتلل په ثبوت سرقه کښې شبه راتلل دی) اودغه شان ښکاره کیږی سقوط د عصمت په حق د ضمان کښې (په صورت د استهلاك کښې) څکه چه دا (سقوط دعصمت)من جمله د ضروریاتو د ددې (عصمت) دې په صورت د هلاك کښې،د وجې د نشتوالی د مماثلت نه (په مینځ د مال مسروقه اوضمان کښې.څکه چه ضمان مال معصوم دې دپاره دحق العبد په دواړو صورتونوکښې هلاك او استهلاك کښې.اومال مسروق د حق العبد په وجه صرف په صورت د استهلاك کښې معصوم دې.نوهرکله چه مماثلت نشته.نوضمان هم منتفي شو)

دسارق د مال مسروقه دملکیت دعوه کول

(وَإِذَا ادَّعَى السَّارِقُ أَنَّ الْعَيْنَ الْمَسْرُوقَةَ مِلْكُهُ سَقَطَ الْقَطْعُ عَنْهُ وَإِنْ لَمْ يُقِمْ بَيِّنَةً)

ترجمه و تشریح اوکله چه دعوه اوکړی غل چه د عین مسروقه دې مالك دې.نوساقط کیږی دلاس کټ کول دده نه اګرچه دې قائم نکړی ګواهان (په خپله دعوه باندې) مطلب ددې دا دې. (چه سارق د عین

---

[1] **مسلك الشافعي**:- فرمائیلی دی امام شافعي رحمه الله چه ضامن کیږی (سارق) په دواړوکښې (که صورت د هلاك دې اوکه د استهلاك.

۱) غربه الزيلعي رحمه الله هذا اللفظ ثم اخرج ما هو بمعناه من حديث عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال لا يغرم صاحب السرقة إذا اقيم عليه الحداخرجه النسائي في قطع السارق رقم ٤٩٨٤ كذا في نصب الراية ٥٧٧/٣

مسروقه د ملکیت دعوه اوکړی.) پس ددې نه چه ګواهی کړې وی دوو ګواهانو به غلا باندې (چه ده غلا کړې ده.اودې سارق دعین مسروقه د ملکیت دعوه کوی) (۱)

دلیله ﴿ دلیل دا دې.چه شبه لرې کونکې د حد ده.اوثابتیږی شبه صرف په دعوه کولوسره د وجې د احتمال نه (چه کیدې شی دا سارق رښتیا وائی.دا عین مسروقه هم دده خپل ملکیت وی.اوبه شبه باندې حدساقطیږی.نوپه دې صورت کښې به هم حد ساقط وی)

د ډاکې تعریف

وَإِذَا خَرَجَ جَمَاعَةٌ مُمْتَنِعِينَ أَوْ وَاحِدٌ يَقْدِرُ عَلَى الِامْتِنَاعِ فَقَصَدُوا قَطْعَ الطَّرِيقِ فَأُخِذُوا قَبْلَ أَنْ يَأْخُذُوا مَالًا وَيَقْتُلُوا نَفْسًا حَبَسَهُمُ الْإِمَامُ حَتَّى يُحْدِثُوا تَوْبَةً،

حل اللغة ﴿ ① **ممتنعين**:جمع د ممتنع:منع کونکې ② **الحبس**:بندول ③ **یحدثوا**:نوې کړی

ترجمه و تشریح ﴿ ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.کله چه اوځی (دتابعداریٔ دامام نه) یوه ډله (که په دغه ډله کښې مسلمان وی اوکه ذمی که آزاد وی اوکه غلام) چه منع کونکې (یعنی کوم کسان چه دوی سره مقابلې کولوپاره کول غواړی.چه دهغوی مقابله کولې شی) یا یوکس وی.اوقادر وی په منع کولو(یعنی په یواځې ورته دومره غلبه حاصله وی.چه د خلقو مقابله کولې شی.لکه دې مسلح وی.اوخلق خالی لاس وی) نواراده اوکړی دوی د شوکولو دلارې (یعنی چه دخلقونه هغه څه واخلی.چه هغوی سره وی) اودوی اونیولې شول وراندې ددې نه چه مال واخلی.اویا قتل کړی یوکس(یعنی چه نه ئې دخلقو نه مال اخستې وی.اونه ئې په هغوی کښې څوك قتل کړې وی) نوګرفتاربه کړی دوی لره امام تردې چه اوباسی توبه،

د ډاکوانود جرم مختلف صورتونه

وَإِنْ أَخَذُوا مَالَ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ، وَالْمَأْخُوذُ إِذَا قُسِمَ عَلَى جَمَاعَتِهِمْ أَصَابَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ فَصَاعِدًا أَوْ مَا تَبْلُغُ

قِيمَتُهُ ذَلِكَ قَطَعَ الْإِمَامُ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ مِنْ خِلَافٍ،

ترجمه و تشریح ﴿ ①اوواخلی دوی مال د مسلمان یاد ذمی اوچه اخستې شوې مال (یعنی کوم مال چه دوی اوشوکوی) کله تقسیم کړې شی په ډله ددوی(ډاکوانو) نو رسی هریوته په دوی کښې لس درهم یا زیاتې اویا هغه څیز وی چه رسیږی قیمت دهغې دې (لسو روپوته یعنی د سرقه نصاب ته) نوکټ به کړی امام لاسونه ددوی اوپښې ددوی ادل بدل(یعنی ښې لاس اوګسه پښه.دا یوحالت شو.چه دوی صرف مال لوټ کړی)

وَإِنْ قَتَلُوا نَفْسًا وَلَمْ يَأْخُذُوا مَالًا قَتَلَهُمُ الْإِمَامُ حَدًّا)

ترجمه و تشریح ﴿ (②دویم صورت دا دې.)اوکه دوی قتل اوکړی.اوواخلی مال،نوقتل به کړی دوی لره امام حداً (یعنی د دوی دا قتلول به د قطع الطریق د سزا په طورنه وی.بلکه دقصاص په طوربه وی.

دلیله ﴿ ځکه چه دوی مسلمان قتل کړې دې.نویوکس به د بل کس په مقابله کښې قتل کولې شی)

---

[1] **مسلك الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه نه ساقط کیږی (دلاس کټ کول دغل نه) صرف په دعوه کولو سره،

اودلیل په دې کښې قول دالله تعالی دې.﴿ إِنَّمَا جَزَٰٓؤُا۟ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ﴾ الایه» (یعنی سزا دهغه کسانوچه جګړه کوی الله سره یعنی دهغه دوستانومسلمانانو سره،اودهغه پیغمبر سره، ① چه قتل کړې شی. ② اویا په سولۍ کړې شی. ③ اویا کټ کړې شی لاسونه اوپښې ددوی ادل بدل ④اویا اوشړلی شی د زمکې نه)

وجه اشتراط القدرة علي الامتناع > اوشرط کړې ئې دې قدرت دمقابله (یعنی په ډاکوانوکښې دا شرط دې.چه داسې ډاکوان وی.چه چاسره مخامخ کیږی.دهغوی مقابله کولې شی)ځکه چه جنګ نه (په مینځ دډاکوانواوخلقوکښې) نه متحقق کیږی.مګرپه طاقت سره (یعنی په قران پاک کښې الله تعالی فرمائیلی دی.چه کوم کسان الله تعالی د دوستانواوپیغمبرسره محاربه یعنی جنګ کوی.ددې نه دا معلومه شوه.چه قطاع الطریق به هغه کسان وی.چه دجنګ طاقت اوقوت ورسره وی.که دا ورسره نه وی.نودې په قطاع الطریق کښې نه داخلیږی.اوچه په قطاع الطریق کښې داخل نشو.نودقطع الطریق سزا به ورته هم نشی ورکولې) اودویم حالت هغه دې.کوم چه مونږ بیان کړلو. (یعنی چه مال واخلی.اوقتل اونکړی.نوپه دې صورت کښې به ترې ښې لاس اوګسه پښه کټ کولې شی) دوجې د هغه آیت نه کوم چه مونږ تلاوت کړلو. (چه ﴿إِنَّمَا جَزَٰٓؤُا۟ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓا۟ أَوْ يُصَلَّبُوٓا۟ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ أَوْ يُنفَوْا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ﴾)

وجه اشتراط كون المال ماخوذا من مسلم او ذمي > اوشرط کړی دی ابو الحسن قدوری رحمه الله.چه وی اخستې شوې مال د مسلمان اویاد ذمی، (دا شرط اولګولې شو) دې دپاره چه وی عصمت (دمال) همیشه دپاره، (اونشته همیشه دپاره عصمت مګردمال د مسلمان یا د ذمی دپاره) اوددې وجې (یعنی د وجې د شرطیت د مال ماخوذه چه دا د مسلمان یا د ذمی وی) که اوشکوی لار په مستامن باندې(یعنی که ډاکوان داسې کس اوشوکوی.چه هغه کافر وی.خوامان ئې اخستې وی.اودارالاسلام ته داخل شوې وی) نونه واجبیږی کټ کول (دلاس. ځکه چه د مستامن مال همیشه دپاره محفوظ نه دې.بلکه چه ترڅویورې دې په مسلمانانو په امن کښې وی.مال به ئې محفوظ وی.چه کله ئې امن ختم شو.نومال ئې غیرمعصوم اوګرځیدلو)

وجه اشتراط كمال النصاب في حق كل واحد > اوشرط کړې دې (ابو الحسن قدوری رحمه الله کمال د نصاب په حق دهریوکس (یعنی وراندې ددې بیان اوشو.چه په ډاکه کښې به هله حدجاری کولې شی.چه کوم مال ډاکوانواخستې وی.که هغه په هغوی باندې تقسیم کړې شی.چه دیوکس په حصه کښې دومره مال راځی.چه د سرقه نصاب ته رسی.اوکه نه رسی.نوبیا به د قطع الطریق حدنشی جاری کولې.نوددې وجه دا دې) دې دپاره چه مباح نشی اندام دده (یعنی چه د قاطع الطریق لاس اوپښې کټ کول مباح اونه ګرځی) مګرپه اخستلودده (ډاکو) هغه مال چه قیمتی وی. (اودقیمتی مال ادنی مقدارد شریعت په رنړا کښې لس روپۍ دی.لکه وراندې چه تفصیل تیرشوې دې)

المراد من الايدي والارجل > اومراد د (الله تعالی ددې قول نه چه ﴿أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ﴾) کټ کول د ښی لاس اود ګسې پښې دی. (اود عالمانوپه مینځ کښې په دې حکم کښې څه اختلاف نشته.اوبلې دا چه دا جنایت د خپل سنګینۍ د وجې د دوو غلاګانوپشان اوګرځیدل،اوپه دووغلاګانوکښې هم دا حکم دې.که په اول ځل غلا اوکړی.ښې لاس به ئې کټ کولې شی.که دوباره اوکړی.نوګسه پښه به ئې کټ کولې شی.اوکه څوک دا اووائی.چه ډاکه د دوو غلاګانوپشان ده.نوپکارده چه نصاب د سرقه په کښې شل روپۍ وې.دهرې یوې غلا دپاره به لس لس روپۍ وې.نومونږ جواب ورکوو.چه په ډاکه کښې سختوالې د ډاکوانود فعل په اعتبارسره دې.ځکه چه دا

دالله تعالی اودهغه د رسول سره جنګ دي.دمالیت په اعتبار سره نه دي.تردي که لس درهمی؛ اوشکوی.نوهم به د قطع الطریق سزا ورکولې شي.او دا د بنی لاس اوکسې پښې د کټ کولوحکم خکه ورکړې شوي دي) چه اونه ګرځی دا کټ کول فوت کیدل جنس منفعت لره، (یعنی داسې مواونکرلو.چه د دواړو لاسونو یا د دواړو پښو کټ کولوحکم موکړې وي.خکه چه په هغې کښې جنس منفعت فوت کیږي.یعنی که دواړه لاسونه کټ کړي شي.نود نیولوصلاحیت به ختم شي.اوکه دواړه پښې کټ کړي شي. نود تللو صلاحیت به ختم شي.اودا دجنس منفعت فوت کیدل دی.کوم چه جائز نه دی.ددې وجې مو د یولاس اود یوې پښې کټ کولوحکم اوکړلو.چه قوت د نیولواودقوت د تللو باقی پاتې وی.خکه چه په یولاس باندې هم نیول کولې شي.اوپه یوه پښه باندې هم تلل کیدې شي)

فَاِنْ عَفَا الْاَوْلِيَاءُ عَنْهُمْ لَا يُلْتَفَتُ اِلٰى عَفْوِهِمْ)

حل اللغة ﴿ ① **يلتفت**:کتلې شي ② **العفو**:معافی کول

ترجمه وتشريح ﴿ که معافی اوکړله په اولیاؤ د مقتول کښې دوی (داکوانو) ته، نه به شی کتلې معافی؛ د دوی ته (بلکه حدبه پرې جاری کولې شی)

دليله ﴿ خکه چه دا (ددوی قتلولول) حق د شرع دي. (اوپه حق الله کښې د بنده معافی معتبر نه ده.تردې چه پیغمبر ﷺ هم د چا نه حدنشی ساقط کولې.اوپه دې خبره باندې د ټولوعالمانو اتفاق دي)

دقتل اومال لوټ کولواجتماعی سزا

(وَاِنْ قَتَلُوْا وَاَخَذُوا الْمَالَ فَالْاِمَامُ بِالْخِيَارِ اِنْ شَاءَ قَطَعَ اَيْدِيَهُمْ وَاَرْجُلَهُمْ مِنْ خِلَافٍ وَقَتَلَهُمْ وَصَلَبَهُمْ، وَاِنْ شَاءَ قَتَلَهُمْ، وَاِنْ شَاءَ صَلَبَهُمْ.)[1]

حل اللغة ﴿ ① **صلب**:په سولۍ کړلو

ترجمه و تشريح ﴿ اودخلورم (صورت دا دي) کله چه قتل کړی (داکوان خلقو لره) او واخلی مال (دهغوی) نوامام ته اختیاردي. (په یووددې کارونوکښې) ① که خوښه نې وی.نوکټ دې کړی لاسونه ددوی اوپښې ددوی ادل بدل اوقتل دې کړی دوی یا دې په سولۍ کړی(دا یو قسم سزا شوه) ② اوکه خوښه نې شی.نوقتل دې کړی دوی (بغیردکټ کولودلاسونواوپښو نه، دا دویمه قسم سزا شوه) ③اوکه اوغواړی.نو په سولۍ دې کړی دوی، (دا د شیخینواودامام احمد رحمهماالله قول دي)

دليلهما ﴿ دشیخینو رحمهماالله دلیل دا دي.چه دا یوه ګناه ده. (خکه چه مجموعی دې ته داکه ونیلی شی. اګرچه قتل اومال لوټ کول دواړه په کښې جمع شوی وی.البته دومره ده چه) دا سزا سخته ده.د وجې د سختوالی د سبب ددې نه (چه داکه ده) اودا (داکه) فوت کول د امن دی په اعتبارد انجام.چه قتل کول اود مال لوټ کول دی.اوددې وجې (چه دا یوه ګناه ده) وی کټ کول دلاس اودپښې په یوځائې په داکه کښې،حد یو،اګرچه دی دا دواړه سزاګانې په سرقه صغری کښې دوه حدونه (یعنی دلاس کټ کول د یو خل غلا حد دې.اوپښه کټ کول د دوباره غلا دي) اوتداخل راخی په حدودو کښې نه په یو حد کښې، (اودلته دلاس کټ کول اوقتل دواړه یوحددې.نوتداخل په یوبل کښې نشته.اوکه نه دا اووانې،چه دلاس کټ کول اوقتل کول دواړه یوحد دې.نوبیا خودقاضی دپاره دا جائز نه ده.چه په یوحد کښې خه قائم

---

[1] القول الراجح هوهذا قول الشيخين كذا في العناية (١٨٠\٥) والحاشية (٤١٥\٤) والبحرالرائق (٥\٦٦) والهندية (١٨٦\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٧٧\١)-

کړي.اوځه پرېږدي.نومونږ وايو.چه دا يوحد دي.خوترتيب په کښې لازم نه دي.چه اول به لاس کټ کولې شي.اوبيا به قتل کولې شي .نوچه ترتيب لازم نشو.اوده په قتل شروع اوکړله.نودلاس کټ کول به خپله ختم شو.ځکه چه د مرګ نه پس د لاس په کټ کولو کښې څه فائده نشته.لکه څنګه چه په حدقذف کښې چاته کوړې ورکولې شي.اودکوړو ورکولوپه مينځ کښې هغه مړشي.نوباقي چه کومې کوړې پاتې وي.هغه ساقطې شوې.ځکه چه د مرګ نه پس کوړو ورکولو کښې څه فائده نشته)

مسلک محمد ﴿ فرمائيلي دي.امام محمدؒچه قتل کولې به شي يا به په سولئ کولې شي.اوکټ کولې به نشي(لاس اوپښې)

دليله ﴿ ځکه چه دا (ډاکه) ګناه ده يوه نو نه به واجبيږي دوه حدونه (چه حدسرقه اوقصاص دي. ځکه چه جرم يووي.نوحد به هم يو وي.اوبل دليل دا دي.چه) کم د نفس نه داخليږي په نفس کښې په باب د حدودو کښې، (يعنې چه په کس باندې دوه حدونه لازم شوي وي.يود نفس دقتل وي.اوبل دقتل نه کمه سزا وي .نو وړه سزا په غټ سزا کښې شاملولې شي.اووړه سزا مستقله نشي اخستې) لکه حد د سرقه او رجم (کښې چه تداخل راځي.مثلاً په زيدباندې دغلا په وجه د لاس کټ کول واجب شوی دی.اود زنا په وجه ئې سنګسارواجب شوې دې.نوپه دې صورت کښې به صرف سنګسار ورکولې شي.دا نه چه اول به ئې لاس کټ کړې شي.اوبيا به سنګسارکولې شي.بلکه دلاس کټ کولوسزا په رجم کښې داخله شوه)

د حدجاري کولوطريقه

وَيُصْلَبُ حَيًّا وَيُبْعَجُ بَطْنُهُ بِرُمْحٍ إِلَى أَنْ يَمُوتَ)

حل اللغة ﴿ ① **يبعج**:څيرې کولې شي ② **بطن**:خيټه

ترجمه و تشريح ﴿ بيا فرمائي(ابو الحسن قدوري) اوپه سولئ به کړې شي. (ډاکو) په ژوندونې،اوڅيرې به کړې شي خيټه دده په نيزه باندې تردې چه (په دغه حالت کښې) مړشي.

دليله ﴿ سولئ کول په دې طريقه په دې کښې زياته مبالغه ده.په حيثيت د زجر(اوزورنې) اوهم دا (زجراوتنبيه) مقصود ده په دې (حد) سره،

په سولئ د پرېښودو موده

وَلَا يُصْلَبُ أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ)

ترجمه و تشريح ﴿ فرمائي (ابو الحسن قدوري ؒ) اونه شي پرېښودې په سولئ زيات د درې ورځونه،

دليله ﴿ ځکه چه دې (مړې) متغيرکيږي پس ددې نه،نو(که داسې پرېښودې شي) تکليف به رسي خلقونه په ده (يعنې دده په بدبوئې)

مسلک ابي يوسف ﴿ دامام ابويوسفؒ نه روايت دې.چه پرېښودې به شي (لاش) په لرګي (د سورلئ) باندې،تردې چه اورزيږي.بعضې حصه دده،چه عبرت واخلي دده نه نورخلق،

الجواب عنه ﴿ مونږ (جمهوراحناف) وايو.چه حاصليږي عبرت په هغه څه چه مونږبيان کړلو. (چه درې ورځې دی) اوآخرې حد ته رسيدل مقصود نه دې. (يعنې په حد قائمولو کښې صرف تنبيه او زورنه مقصود ده.هغه په درې ورځوسره حاصليږي)

په ډاکوانوکښې دغيرمکلف يا محرم وجود

(فَإِنْ كَانَ فِيهِمْ صَبِيٌّ أَوْ مَجْنُونٌ أَوْ ذُو رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنَ الْمَقْطُوعِ عَلَيْهِ سَقَطَ الْحَدُّ عَنِ الْبَاقِينَ)

ترجمه و تشريح ﴿ اوکه وی په ډاکوانوکښې ماشوم يا ليونې يا محرم دهغه چا دپاره چه شوکولې ئې وی خوک، (يعنې په ډاکوانوکښې څوک داسې وی.چه څوک لوټ شوې وی دهغه محرم وی.لکه پلار،ځوئ

وغيره) نوساقطيږی حد د نورو نه، نوذكرشوي په ماشوم اوليونی كښې قول دامام ابوحنيفه اوزفر رحمهماالله دي.(¹)

دليلهما ﴿ اودهغوی دواړو(طرفينو رحمهماالله دپاره دليل دا دي.چه دا ((ډاكه)) جنايت دې يو،چه قائم دې په ټولو ډاكوانو پورې(يعنی ټول ډاكوان د ډاكه په دې فعل كښې شريك دی) نوهركله چه نه واقع كيږی جرم د بعضې كسانو ددوی (چه ماشوم اومجنون دی) موجب (دحد.دشبه دوجې نه) نوری به فعل د نورو(ډاكوانو) بعضې علت(يعنی ډاكه ټوله يو جرم دې.اوټول په دې جرم كښې شريك دی.نوددوی دا جرم به په ټولو تقسيمولې شی.خوچه دجرم بعضې حصه د ماشوم اوليونی په حق كښې موجب د حد نشوه.نود نورو په حق كښې به هم موجب د حد نه وی.خكه چه حدسرقه خوتجزی نه قبلوی.چه دخپل جرم په سزا كښې ترې څه لاس كټ كړې شی.اودنورود سزا په حساب دې پريخودې شی.بلكه لاس به يا ټول كټ كولې شی اويا به پريخودې شی) اوپه دې (بعضې علت) سره نه ثابتيږی حكم ((دقتل كولو نوشوه دا مسئله پشان د خطا كار سره د قصدكونكی نه، (يعنی چه دوه كسان غشی اولی.يوكس پرې ښكار ولی. او زيد پرې اولګی.اوبل كس پرې هم زيد وولی.اوهغه د دواړو غشود ګذارنه مړ شو.نوپه دې صورت كښې په هغه كس باندې هم قصاص نشته.چا چه د زيد دويشتلو قصد كړې وی.خكه چه د مقتول قتل د خاطی اوعامد دواړوپه فعل سره واقع شوې دې.نود خاطی فعل په قتل كښې شبه پيدا كړه.دهغې د وجې د عامدقصاص هم ساقط شو)

مسلک ابي يوسف ﴿ اوامام ابويوسف رحمه الله نه روايت دې.كه كړې وی مباشرت ((دقتل سره)) عاقلانو(يعنی په ډاكوانو كښې ماشوم اوليونې هم وی.ليكن چا چه قتل كړې وی.هغه عاقلان يعنی مكلف وی) نوحد به وركولې شی نورو ډاكوانوته،

دليله ﴿ دليل دا دې.چه مباشر(دفعل دقتل سره) اصل دې. (خكه چه جرم دقتل د ده نه صادرشوې دې) اومدګار تابع دې. (داصل) اونشته څه خلل په مباشرة د عاقل كښې(يعنی په قاتل كښې داسې څه علت نشته.چه دهغې د وجې دهغه په جرم كښې نقص راشی.اوموږ دهغه نه حدساقط كړو.خكه هغه په خپله ماشوم نه دې ليونې نه دې) اونشته اعتبارخلل لره په تبع كښې (يعنی دې قاطع قاتل سره كه په ډله كښې ماشوم يا ليونې وی.نوپه هغوی كښې دعقل د نيشتوالی يا د عقل د نقص د وجې خلل شته . خو د هغوی خلل چه تابعين دی.د اصل په جرم كښې چه قاتل دې څه نقص نه راولی.يعنی نقص د عقل په تابع كښې دې په اصل كښې نه دې.اوموږ حد جاری كوو په اصل باندې نه په تبع باندې)

دحدساقط كيدو په صورت كښې دقصاص حكم

وَصَارَالْقَتْلُ إِلَى الْأَوْلِيَاءِ) فَإِنْ شَاءُوْاقَتَلُوْاوَإِنْ شَاءُوْاعَفَوْا)

ترجمه و تشريح ﴿ اوګرځی حق دقصاص اولياؤ (دمقتول ته)

دليله ﴿ دوجې دښكاره كيدود حق العبد نه،) نوكه غواړی (اولياء دمقتول) قتل دې كړی (قاتل) اوكه غواړی نو معافی دې اوكړی. (قاتل ته دالله دپاره)

په ډاكوانوكښې ديوكس په قتل دقصاص حدحكم

(وَإِنْ بَاشَرَالْقَتْلَ وَاحِدٌ مِّنْهُمْ أُجْرِيَ الْحَدُّ عَلٰى جَمَاعَتِهِمْ

¹) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(۵\۱۸۴) والعناية (۵\۱۸۴) وردالمحتار (۳\۲۳۵) والبحرالرائق (۵\۶۹) نقلاً عن القول الراجح (۱\۴۷۸)-

تشریح > **اقسام الخمر** > امام قدوری رحمه الله دلته کښي د شرابو څلور قسمونه بیان کړي دی.او دا څلور هغه قسمونه دی.چه حرام دی. ① اول د انګورو کچه شراب کله دا جوش اووهی.او زګ اونیسی.او د سختوالی نه مراد دا دې.چه هغه ددې قابل شی.چه نشه راوستونکې وی.او هم دې ته خمر(شراب) وائی.

② دویم قسم طلاء یعنی د انګورو شیره کله چه دا پخه کړې شی.او په ددې په دریو حصو کښې دوه حصو نه لږ کم ختم شی.خو په محیط کښې دی.چه طلاء ثلث (دریمې حصې) ته وائی.یعنی چه دکوم چه دوه حصې ختمه شی.او دکوم چه دوه ثلثه ختم شوې نه وی.بلکه کم وی.نو دې ته باذوق وائی.

③ دریم قسم سکر دې.یعنی اوبو کښې چوارې اچولې شوې وی.او اوبه پخې کړې شوې نه وی.کله چه دا جوش اووهی.او خګ اونیسی.

④ څلورم قسم نقیع الزبیب یعنی اوسکې (مَویز) په اوبو کښې اچولې شوې وی.او په دې کښې جوش او سختوالی پیدا شی.

تعریف الخمر > د انګورو کچه اوبه کله چه دا نشه پیدا کونکې شی.دې ته خمر وائی.ددې نه علاوه نورو څکونکو څیزونو نه چه شراب جوړ کړې شی.هغې ته به خمر نشی وئیلې.د اهل لغت او د اهل علم په منځ کښې هم دا مشهوره ده.چه خمر صرف هم دې ته وائی. ([1])

دلائله > ① د اهل لغت اتفاق دې.چه خمر صرف د انګورو شراب دی.او ددې دلیل دا دې.چه د خمر استعمال هم د انګورو په دې شرابو کښې معروف او مشهور دې.او ددې نه علاوه چه کوم نور شراب دی.د هغې دپاره خپل نومونه دی.لکه سکر، او نقیع وغیره.

②دخمر حرمت قطعی او د خمر نه د علاوه شرابو حرمت ظنی دې.که د انګورو شرابو نه علاوه نورو شرابو ته خمر اووئیلې شی.نو بیا به ددې حرمت قطعی منل ضروری وی.حالانکه دا بې دلیله ده.

د انګورو د شیرې بیان

وَالْعَصِيرُ إِذَا طُبِخَ حَتَّى يَذْهَبَ أَقَلُّ مِنْ ثُلُثَيْهِ اوشیره د انګورو کله چه پخه کړې شی.تردې چه ددې د دوه ثلثه نه کم ختم شی

تشریح > د خمر د بحث نه د فراغت نه پس د طلاء (د انګورو د شیرې) بیان دې.او ددې نوم باده دې.چه دا معرب کولو سره باذوق وئیلې شوې دی.او دا تول د انګورو د شیرې نه جوړیږی.او دا معمولی شان پخولې شی.تردې چه دریو حصو کښې د دوه حصو نه کم ختم شی.او یو قسم ددې منصف دې.چه ددې په پخولو سره نیم ختم شی.بهرحال دا دواړه قسمونه حرام دی.او دا زمونږ مسلک دې.خو حرام به هله وی.کله چه د تیزجوش سره زګ هم راشی.،،کذاقال الإمام رحمه الله،،

مسلک الصاحبین > او د صاحبینو رحمهماالله په نیز د څګ راتلو نه بغیر به هم د تیزوالی نه پس دې ته حرام وئیلې شی.

د نقیع تمر(یعنی د کجورو د کچه اوبو) بیان

وَنَقِيعُ التَّمْرِ او نقیع تمر

---

[1] **مسلک الأئمة**:- د آئمه ثلاثه رحمهم الله او د اصحاب ظاهر دا وینا ده.چه هر نشه ور څیز خمر دې.د انګورو نه جوړ شی.او که د بل څیز نه.

حل اللغة > ① **نقیع:** رس،نچوړ ② **التمر:**قجوره

تشریح > دا د دریم قسم د نقیع تمر بیان دې.چه په دې کښې لمدې کجورې اوبو کښې اچولې شوې وی.نو ددې حکم دا دې.چه دا حرام مکروه دې.

د نقیع الزبیب (یعنی د اوسکو د کچه اوبو) بیان

وَنَقِيعُ الزَّبِيبِ او نقیع زبیب إِذَا اشْتَدَّ وَغَلَى کله چه تیزې شی.او جوش اووهی

تشریح > او نقیع زبیب،دا د اوسکو او مویزو کچه اوبه دی.کله چه په دې کښې جوش او تیزی پیدا شی.نو دا حرام دی.

د نبیذ تمر او نبیذ زبیب د معمولی شان پخولو او څکلو حکم

وَنَبِيذُ التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ إِذَا طُبِخَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَدْنَى طَبْخَةٍ حَلَالٌ او نبیذ تمر او نبیذ زبیب کله چه دې کښې هر یو معمولی شان پاخه کړې شی.نو حلال دی وَإِنِ اشْتَدَّ اګرچه جوش اووهی إِذَا شُرِبَ مِنْهُ مَا يَغْلِبُ عَلَى ظَنِّهِ کله چه دا اوڅکی دومره مقدار چه دده غالب ګمان دا وی أَنَّهُ لَا يُسْكِرُهُ مِنْ غَيْرِ لَهْوٍ وَلَا طَرَبٍ، چه دا به نشه نه کوی.(کله چه اوڅکی) بغیر د مشغولتیا او خوشحالی (حاصلولو) نه

حل اللغة > ① **نبیذ:** رس،نچوړ ② **الزبیب:** اوسکې]

تشریح > نبیذ تمر او نبیذ زبیب کله چه دا معمولی شان پاخه کړې شی.د شیخینو رحمهماالله په نیز حلال دی.خو① رومبې شرط معمولی شان پخول دی. ② دویم شرط چه دومره مقدار اوڅکی.چه په دې سره نشه نه راځی③دریم شرط د څکلو مقصد مشغولتیا او خوشحالی حاصلول نه وی.بلکه د بدن طاقت وی.

د کجورو او اوسکو ګډ شرابو حقیقت او ددې حکم

وَلَا بَأْسَ بِالْخَلِيطَيْنِ او خلیطین (کجورې او انګور ملاؤ شوی) کښې هیڅ باك نشته.

تشریح > د خلیطینو حقیقت دا دې.چه کجورې او انګور، یا اوسکې او کجورې ملاوکړې شی.او شربت جوړ کړې شی.او دا حلال دی.په دې شرط چه معمولی شان پوخ کړې شی.

دلیل > ابن زیاد فرمائیلی دی.چه په ما ابن عمر رضی الله عنهما یو شربت اوڅکلو.هغې سره زما دا حالت جوړ شو.چه کوره پورې تلل راته ګران شو.په بله ورځ ما هغوی ته دا واقعه بیان کړله.نو وې فرمائیل.چه مونږ تا ته د کجورو او اوڅکو نه بغیر زیات څه نه دی څکولی.دې ته خلیطین وائی.او دا پخکړې شوی هم وو.چه ددې دلیل دا دې.چه د ابن عمر رضی الله عنهما نه نقل دې.چه د اوڅکو وغیره کچه اوبه حرام دی. (^۱) نو ددوی ددې خبرې نه معلومه شوه.چه دا پخکړې شوی وو.ګنی هغوی به دا په ابن زیاد باندې څنګه څکل.

الاشکال > که څوك دا اعتراض اوکړی چه تاسو خلیطینو ته جائز وایی.حالانکه حدیث کښې ددې ممانعت راغلې دې. نَهَى عَنِ الْجَمْعِ بَيْنَ التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ، وَالزَّبِيبِ وَالرُّطَبِ، وَالرُّطَبِ وَالْبُسْرِ (^۲) چه انګور او

---

[1] خرجه الزیلعی رحمه الله (نصب الرایه:۵\۱۰۱)۔

[2] – من حدیث جابر رضی الله عنه اخرجه البخاری فی الأشربة باب ۸ ومسلم فی الأشربة رقم ۱۷ وأبوداود فی الأشربة باب ۸ والترمذی فی الأشربة باب ۹ والنسائی فی الأشربة باب ۹ وابن ماجه فی الأشربة باب ۱۱)۔

جوارې او انګور اوکجورې او کجورې او جوارې ملاؤ (یوځائې) استعمال کړې شي؟

الجواب عنه﴾ نو د دې جواب دا دې چه دا ممانعت په ابتداء د اسلام کښې هغه وخت وو.کله چه د قحط زمانه وه.او مقصد دا وو.چه دا مه جمع کوئ.بلکه په یو باندې اکتفاء (او بسوالې) کوئ.او دویم غریبانانو ته ورکوئ.

د شهدو، انځرانو، د جوارو او اوربشو د نبیذو حکم

وَنَبِيذُ الْعَسَلِ وَالتِّينِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالذُّرَةِ حَلَالٌ وَإِنْ لَمْ يُطْبَخْ او د شهدو او انځرانو نبیذ او د غنمو او اوربشو جوارو نبیذ حلال دی. اګرچه پاخه نکړې شي

حل اللغة﴾ ① **العسل**:شهد ② **التين**: انځر ③ **الحنطة**: غنم ④ **الذرة**:جواره ⑤ **الشعير**:اوربشې

تشریح﴾ دا ټول ذکر شوی نبیذ حلال دی.اګرچه پخکړې شوې هم نه وی.خو شرط دا دې.چه د لهو او خوشحالولو نه بغیر د بدن د طاقت دپاره ئې استعمال کړی.ورانديې تیرشوی دی.چه نبی کریمﷺ د احکامو د بیان دپاره رالیګلې شوې دې.او نبی کریمﷺ چه کوم ارشاد فرمانیلې دې.(الخمر من هاتين....)ددې مطلب دا دې.چه کوم شراب حرام دی.هغه د انګورو او کجورو نه جوړولې شی.نو ددې نه معلومه شوه.چه کوم د شهدو او انځیرانو وغیره نه جوړولې شی.نو هغه به حرام نه وی.

د انګورو شیره چه پخولو سره دوه حصې ختم شي نو ددې حکم

وَعَصِيرُ الْعِنَبِ إِذَا طُبِخَ حَتَّى ذَهَبَ منه ثُلُثَاهُ حَلَالٌ وَإِنِ اشْتَدَّ او د انګورو شیره چه کله پخه کړې شی.تردې چه ددې دوه ثلثه ختم شوې وی.او یو ثلث باقی پاتې شی.نو دا حلال دی.اګرچه جوش اووهی

تشریح﴾ د انګورو نچوړ شوې رس دومره پوخ کړې شی.چه په دریو کښې دوه حصې ختمې شی.او صرف یوه حصه باقی پاتې شی.او په دې کښې جوش او تیزی راغلې وی.نودا جائز دی. کله چه مقصد په طاعاتو به قوت حاصلول وی.اوکه عبث او خوشحالی مقصد وی.نو بالاتفاق حرام دی.

دلیلهما﴾ د شیخینو رحمهماالله دلیل نبی کریم ﷺ حدیث دې حُرِّمَتِ الْخَمْرُ لِعَيْنِهَا وَالسُّكْرُ مِنْ كُلِّ شَرَابٍ یعنی خمر حرام لعینه دی.ددې قلیل او کثیر حرام دې.او د هرشراب مسکر حرام دې.نو عطف چونکه د مغایرت تقاضه کوی.نود حدیث نه ثابته شوه.چه د خمر عین حرام دې.او د غیرخمر سکر (نشه راوستونکې) حرام دې.او د سکر نه مخکښې حلال دی.

مسلک محمد﴾ امام محمد، امام مالك، او امام شافعی ﷺ دا حرام ګرځوی.او د امام محمد ﷺ په قول باندې فتوی ده.د امام محمد ﷺنه درې نور روایات هم نقل دی① پشان د شیخینو رحمهماالله ② مکروه ③ توقف.

دلیله﴾ د امام محمد ﷺوغیره دلیل دې.چه په دې کښې درې حدیثونه او یو عقلی دلیل دې① كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ هرنشه راوستونکې حرام دې

په کدو، چاټئ، او مزفت کښې د نبیذ جوړولو حکم

وَلَا بَأْسَ بِالِانْتِبَاذِ فِي الدُّبَّاءِ او هیڅ باك نشته. په نبیذ جوړولو سره.د کدو په لوخی کښې وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيرِ او په حنتم (چاټئ) کښې او مزفت موړلی شوی لوخی کښې.

حل اللغة﴾ ① **الانتباذ**: نبیذجوړول ② **الدباء**: کدو ③ **الحنتم**: چاټئ ④ **المزفت**:پالش شوې لوښې

تشریح﴾ د باء: د کدو لوخې، حنتم: د شین رنګ د خاورو کندولې(منګې)، مزفت: د تارکولو پشان بر

خیز دي.چه هغې ته زفت واني.کله چه په يو لوخی باندې ددې پالش اوکړې شي.نو دې لوخی ته مزفت واني.بهرحال دا خو د لوخی نوم دې.لکه زمونږ په علاقو کښې چاټئ (کوزه، منګې) نو په دې کښې څه باک نشته.

دلیله خلقو به په دې لوخو کښې شراب جوړول.کله چه د شرابو حرمت نازل شو.نو نبی کریم ﷺ ددې لوخو د استعمال نه منع فرمائیلې وه.چه د شرابو نفرت په زړونو کښې ښه کینی.بیا څه موده پس کله چه مقصد حاصل شو.نو ددې لوخو د استعمال اجازت ملاؤ شو.او ړومبې حکم منسوخ شو.دا حدیث په مشکواة کښې ستاسو په وړاندې تیر شوې دې.چه هلته کښې ددې ممانعت دې.

که شراب پخپله سرکه جوړه شي نو څه حکم دې ؟

وَإِذَا تَخَلَّلَتِ الْخَمْرُ حَلَّتْ سَوَاءٌ صَارَتْ بِنَفْسِهَا خَلًّا أَوْ بِشَيْءٍ يُطْرَحُ فِيهَا او کله چه خمر سرکه جوړه شوه.نو حلال شو.که هغه پخپله سرکه جوړه شوې وی.یا په څه داسې خیز سره (سرکه جوړه شوې وی) کوم چه دې کښې اچولې شوې وی وَلَا يُكْرَهُ تَخْلِيلُهَا او ددې سرکه جوړول مکروه نه دی.

حل اللغة ① **التخلیل**:سرکه جوړول

تشریح که د شرابو نه پخپله سرکه جوړه شي.او که جوړه کړې شي.اوس به دا حلال وی.او ددې نه سرکه جوړول مکروه هم نه دی.[1]

دلیله دلیل دا دې.چه حدیث کښې سرکې ته غوره سالن (ترکاری) فرمائیلې شوې دې.بیا سرکه جوړول حلال کیدل پکار دی.ځکه چه اوس مفسد وصف زائل شو.او ښه (صالح) وصف پیدا شو.یعنی صفراء ته په دې سره سکون ملاویږی.او شهوت ختمیږی.او په دې سره غذا حاصلیږی.او داسې اصلاح صحیح ده.او دا په انسانی ضروری فائدو کښې د کار راتلو قابل جوړیږی.نو لکه څنګه چه خمر پخپله سرکه جوړه شوه.او هغه حلال ده.نو دا هم حلال کیدل پکار دی.او لکه څنګه چه مرداره څرمن په رنګ کولو سره پاکیږی.او دې ته رنګ ورکول د کراهت نه بغیر جائز دې.نو هم دغه شان دلته کښې پکار دی.او هرکله چه حرام خیز ته نیزدې کیدل ددې د فساد لرې کولو دپاره وی.نو داسې نیزدې کیدل جائز دې.لکه که شراب بهیول وی.نو دې ته نیزدې کیدل بالاتفاق جائز دې.

كِتَابُ الصَّيْدِ

ترجمه (دا) کتاب د ښکار (د احکامو په بیان کښې) دې.

تشریح **الربط بماقبله** لکه څنګه چه شرابو سره خوشحالی حاصلولې شی.دغه شان ښکار سره هم خوند او مزه حاصلولې شی.(کما لا یخفیٰ) نو بیا د دواړو په منځ کښې وجه د مناسبت ښکاره ده.او ښکار د خوراکونو څنې دې.چه ددې شرابو سره مناسبت ښکاره دې.بیا لکه څنګه چه شراب څه حلال او څه

---

[1] **مسلک الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله سرکه جوړول مطلق مکروه ګرځوی.اوس پاتې شوه حاصل شوې سرکه نو په دې کښې تفصیل دې ① که په خمر کښې څه خیز شاملولو سره سرکه جوړه کړې شوې ده.نو د امام شافعی رحمه الله په دې کښې صرف يو قول دې.چه دا سرکه حلال نه ده. ② او که د څه اچولو نه بغیر سرکه جوړه شوې وی.نو په دې کښې د امام شافعی رحمه الله دوه قوله دی[1] يو دا چه حلال ده.[2] دویم دا چه حلال نه ده.

حرام دی.دغه شان په ښکار کښې هم څه حلال او څه حرام دی.بیا د اشربه مخکښې ذکر کولو وجه دا ده.چه په دې کښې د حرمت غلبه ده.او په دې کښې د حلت»، کماهوظاهر» .
د دې نه وړاندې چه د دې کتاب په مسائلو شروع اوکړو د ښکارد شرطونو بیان مناسب ګنړم نو زده کړه دا خبره چه د ښکار د جواز پنځلس شرطونه دی.
الشروط التي تتعلق بالصائد﴿ په دې کښې پنځه هغه دی.چه دهغې تعلق ښکار کونکی (ښکاری) سره دې.او هغه دا دی. ① د ذکاة (ذبح) اهل وی.
② دده د طرفه لیګل اوموندې شی.
③ دده سره په لیګلو کښې داسې کس شریك نه وی.چه د هغه ښکار حلال نه دې.
④ په قصد سره ئې تسمیه (بسم الله) نه وی پریخودې.
⑤ د لیګلو او نیولو په منځ کښې بل څه کار کښې نه وی مشغول شوې.
الشروط التي تتعلق بالكلب﴿ او پنځه شرطونه هغه دی.چه د هغې تعلق سپی سره دې.او هغه پنځه دی:
① سپې معلم وی.چه ددې تفصیل اوس راروان دې.
② سپې ئې چه په کومه طریقه (او رفتار) باندې پریخودې وی.هم په هغه طریقه باندې روان شی.
③ په ښکار نیولو کښې دده سره داسې سپې نه وی شریك شوې.چه د هغه مرښکار حلال نه دې.
④ سپې ښکار زخمی کړی.داسې نه چه پخپل بوج سره ئې مر کړی.
⑤ سپې ددې نه هیڅ او نخوری.
الشروط التي تتعلق بالصيد﴿ او پنځه شرطونه هغه دی.کوم چه په ښکار کښې دی.او هغه دا دی:
① ښکار د حشرات الارض څخې نه وی.
② د کب (مې) نه علاوه بل څه دریابی ځناور نه وی.
③ دا ښکار داسې وی.چه هغه پخپلو لاسونو او پنجویا ښکرو (وغیره) سره د خپل ځان حفاظت کونکې وی.
④ داسې ځناور نه وی.چه هغه پخپلو غاښونو سره شلول کوی.او خوری.یا پخپلو پنجو سره راښکه وی.او خوری.لکه بابنه، باز او لکه شرمخ، زمرې،
⑤ دا د ذبح کولو پورې په لاس نه وی راغلې.بلکه د ښکاری ځناور په زخمی کولو سره مر شوې وی.نو هله په لاس راغلې وی.نو که دا په لاس راغې.نو اوس د ذبح نه بغیر حلال نه دې.او ددې خلاصه دا ده.چه اصل کښې پخپل لاس سره ذبح کول لازم دی.او کله چه اختیاری ذبح ممکن نه وی.نو اضطراری ذبیحه به په ذریعه د غشی او ښکاری ځاروی هلاکولو سره حلال وی.نو کله چه ده ښکاری ځناور پریخودو.او ده اونیولو.او مالك ورته اورسیدو.حالانکه اوسه پورې ښکار ژوندې دې.نو اوس په ده باندې اختیاری ذبح کول واجب دی.تردې که دا مر شو.او ده ذبح نکړو.نو مردار شو.
الصيد لغة﴿ د ،،صید،،دوه معانې دی① هغه ځاروې کوم چه ښکار کړې شی. ② ښکار کول
په تعلیم یافته سپی،پړانګ، او باز سره د ښکار حکم

وَيَجُوزُ الاِصْطِيَادُ بِالْكَلْبِ الْمُعَلَّمِ وَالْفَهْدِ وَالْبَازِي وَسَائِرِ الْجَوَارِحِ الْمُعَلَّمَةِ او په تعلیم یافته سپی، او پړانګ، او باز، او ټولو تعلیم یافته ځناورو سره ښکار کول جائز دی

حل اللغة﴿ ① **الاصطياد**: ښکار کول ② **الفهد**:پړانګ ③ **البازی**: باز
تشریح﴿ کوم (درنده یا مارغه) نه چه تا تعلیم ورکړو.(چه ددې تفصیل نزدې راروان دې) که هغه ښکار

کونکي درنده وي.اوکه مارغه وي.نو د هغې کړې ښکار حلال دی.

دلیله> دلیل دا آیت دی[يَسْئَلُوْنَكَ مَاذَآ اُحِلَّ لَهُمْ ۭ قُلْ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ۙ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ ۡ فَكُلُوْا مِمَّآ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ] خلق ستاسو نه تپوس کوی.چه ددوی دپاره څه څيز حلال دی.تاسو اوفرمايئ:چه ستاسو پاکيزه څيزونه حلال دی.او هغه چه تاسو اوښايئ ښکاری څناورو نه په ښکار پسې ورتلل، چه تاسو ئې ورته ښايئ:د هغه خبرو نه کوم چه الله تعالی تاسو ته خودلی دی.نو تاسو خورئ د هغې نه کوم چه هغوی اوساتی. ستاسو دپاره، او په دې د الله نوم اخلئ.،

تعریف الجوارح> د مکلبينو جوارح هغه ټولو څناورو ته شامل دی.کوم چه پخپلو غاښونو او پنجو سره ښکار کونکی دی.چونکه جوارح د کواسب په معنی کښې دی.او ښکار کول ګټه کول دی.نو دا ټول څناور ګټه کونکی دی.او دلته د مکلبين معنی سپی نه دی.بلکه ددې معنی مسلطين ده.يعنی تاسو دا جوارح (مزدوری او ګټه کونکی) په ښکار باندې ور پرېږدئ. او دا په ښکار باندې مسلط کړئ.

د سپی او باز په تعليم کښې فرق

> تَعْلِيْمُ الْكَلْبِ اَنْ يَّتْرُكَ الْاَكْلَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، او د سپی په تعليم کښې فرق دا دی.چه دا درې خله خوراک پرېږدی وَتَعْلِيْمُ الْبَازِيِّ اَنْ يَّرْجِعَ او د باز تعليم دا دی.چه هغه واپس راشی وَيُجِيْبَ اِذَا دَعَوْتَهُ او د ده بلنه قبلوی کله چې ئې راوبلی

تشریح > بيا د سپی او باز په تعليم کښې فرق دی.سپی ته به هغه وخت معلم (تعليم يافته) ونيلې شی.کله چه په ده د تعليم او تاديب دا اثر ښکاره شی.چه دې ښکار اوکړی.او دا اونه خوری.بلکه مالک دپاره ئې اوساتی.او دا فعل دده نه درې خله صادر شوې وی.او د باز تعليم دا دی.چه هغه ستا په رابللو باندې راشی.

دلیله> مرغينانی رحمه الله په هدايه کښې فرمائيلی دی.چه دا تفصيل د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی.علامه زيلعی رحمه الله ددې اثر په باره کښې فرمائی.،،لم اجده،،(۱)

وجه الفرق بين الكلب والبازي> بيا په سپی او باز کښې فرق څکه شوې دی.چه سپی ته تعليم ورکول آسان دی.څکه چه دا وهل برداشت کولې شی.او د باز بدن وهل نه برداشت کوی.او دويمه خبره دا ده.چه د تعليم علامت دا دی.چه څناور د خپل خوښ څيز د خوراک د عادت او فطرت نه منع شی.او سپې چونکه سری سره اوسيدونکې (او اموخته) دی.نو په رابللو باندې راتلل به دده د تعليم علامت نه وی.البته د سپی عادت دی.چه څه ملاؤ شی.هغه اوخوری.او لوټ مار اوکړی.او کله چه ده ښکار اونيولو.او وی نه خورلو.نو دا به دده د معلم او مؤدب کيدو علامت وی.او باز خو وحشی مارغه دی.کله چه دا تا سره دومره عادت شی.چه په رابللو سره راشی.نو هم دا به د تعليم علامت شمارلې شی.

اشتراط الترك ثلاثا> د سپی د تعليم شرط دا دی.چه دا درې خله ښکار او نخوری.او دا د صاحبينو رحمهما الله مذهب دی.

---

۱ – قال الزيلعی رحمه الله غريب ثم قال وفی البخاری وقال ابن عباس رضی الله عنهما ان اكل الكلب فقد افسده انما امسك علی نفسه والله تعالی يقول تعلمون مما علمكم الله فيضرب ويعلم حتی يترك اخرجه البخاری فی الذبائح

دليله﴾ دليل دا دي.كه ده يو خل يا دوه خله خوراك پريخودلي وي.نو په دې كښې اوس هم ډير احتمالات دي.چه كيدې شي د ګيډې د ډكوالي په وجه ئې نه وي خوړلي.البته كله چه ده دري خله پورې اونخوړله.نو دا د عادت كيدو دليل دې.او دريو ته په عادت معلوموملو كښې او په نورو عذرونو كښې كافي دخل دې.او د موسى او خضرعليهما السلام په واقعه كښې هم د دريو دخل دې.حضرت موسىﷺ د دريم خل په باره كښې فرمائيلي وو. ﴿إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي﴾

د تعليم يافته سپي يا باز د زخمي ښكار حكم

وَإِذَا أَرْسَلَ كَلْبَهُ الْمُعَلَّمَ أَوْبَازِيَهُ او هركله چه ښكاري پريخودو خپل تعليم يافته سپې، يا تعليم يافته باز أَوْصَقْرَهُ عَلَى صَيْدٍ اويا خپل شكرې په يو ښكار پسې وَذَكَرَ اسْمَ اللهِ تَعَالَى عليه عِنْدَ إِرْسَالِهِ او د الله نوم واخستلو.دده د پريخودو په وخت فَأَخَذَ الصَّيْدَ وَجَرَحَهُ فَمَاتَ حَلَّ أَكْلُهُ نو ده ښكار اونيولو.او دا ئې زخمي كړو.نو ښكار مړ شو.نو ددې خوراك جائز دې.

تشريح﴾ كله چه ښكاري بسم الله اووئيله.او خپل معلم سپې يا باز ئې پريخودو.او سپي يا باز ښكار اونيولو .او دا ئې زخمي كړو.او ښكار مړ شو.نو ددې خوراك حلال دې.

دلائله﴾ ① دحضرت عدي بن ثابت په حديث كښې هم د دې مسئله ذكر دې او نبى صلى الله عليه وسلم د حلت فتوى وركړې وه

② لكه څنګه چه چاړه وغيره د ذبح آله ده.دغه شان سپې او باز هم د ذبح آله ده.او ښكاره ده.چه چاړه د استعمال نه بغير ذبح كول نه كوي.تردې كه چاړه پرته وي.او چيلۍ په دې دپاسه پريوتله.او ددې مرۍ كټ شوه. نو دا ذبح نشوه.ځكه چه استعمال او نه موندې شو.دغه شان سپې او باز هم د ښكارى دپاره د ذبح آلې دى.او آله د استعمال نه بغير كار نه كوي.او په سپي او باز كښې استعمال دا دې.چه دا په ښكار پسې پريږدى.نو ددې په ښكار پسې پريخودل داسې دى.لكه غشې ويشتل، او چاړه چلول،نو لكه څنګه چه د چاړې چلولو په وخت او د غشي ويشتو په وخت تسميه ضرورى ده.دغه شان د سپي او باز پريخودو په وخت هم تسميه ضرورى ده.

د سپي يا پړانګ د ښكار نه د خوړلو حكم

فَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ الْكَلْبُ أَوِالْفَهْدُ كه د ښكار نه سپي يا پړانګ اوخوړلو لَمْ يُؤْكَلْ نو ښكار به نشي خوړلې وَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ الْبَازِيُ أُكِلَ او كه ددې نه باز اوخوړلو.نو خوړلې به شي

حل اللغة﴾ ① **الكلب:** سپې ② **الفهد:** پړانګ]

تشريح﴾ كه سپي يا پړانګ د ښكار نه خوراك اوكړو.نو دا ښكار خوړل جائز نه دى.كه باز اوخوړلو.نو د هغې خوراك جائز دې.

دليله﴾ چه ددې تفصيل وړاندې تير شوې دې.او د عدى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حديث نه ددې تائيد كيږى.

د ښكارى سپي د ژوندى ښكار ذبح كولو حكم

وَإِنْ أَدْرَكَ الْمُرْسِلُ الصَّيْدَ حَيًّا كه ليګونكي ښكار ژوندې اوموندلو وَجَبَ عَلَيْهِ أَنْ يُذَكِّيَهُ نو په ده واجب دى.چه دا ذبح كړى فَإِنْ تَرَكَ تَذْكِيَتَهُ حَتَّى مَاتَ لَمْ يُؤْكَلْ اوكه ده ذبح كول پريخودل.تردې چه ښكار مړ شو.نو خوړلې به نشي

تعريح﴾ ښكارى په ښكار باندې خپل تعليم يافته سپې، يا تعليم يافته باز پريخودو.يا ئې غشي

اوويشتلو .چه په دې سره ښکار اونيولې شو.نو اوس به کتلې شي.چه هغه ژوندې دې.اوکه مړ دې.که مړ شوې وي.نو د هغې خوراك جائز دې.اوکه ژوندې وي.نو دا به هغه وخت حلال وي.چه دا ذبح کړې شي.ګني که ذبح نکړې شو.تردې چه مړ شو.نو حلال به نه وي.

دليله> ځکه چه اصول دا مقرر دې.که په بدل سره د مقصود حاصليدو نه مخکښې مخکښې اصل باندې قدرت اوشي.نو د بدل حکم به باطل وي.مثلاً يوکس تيمم اوکړو.او تر اوسه ئې مونځ نه دې کړې.چه اوبه باندې قادر شو.نو د تيمم حکم باطل شو.او اودس کول او مونځ کول به واجب وي.دغه شان دلته کښې مقصود د خوراك جواز دې.او ښکاره ده.چه د خوراك د جواز ښکاره کيدل به د ښکار د مرګ نه پس کيږي.ګني ددې ژوندې خوراك حلال نه دې.او اصول ذکاة اختياري دې.او بدل ذکاة اضطراري دې.نو په ذکاة اضطراري سره اوس مقصود حاصل شوې نه وو.چه دې په اصل باندې قادر شو.نو ذکاة اضطراري کوم چه بدل دې.هغه به باطل وي.

د زخم نه بغير صرف مرئ زورلو سره د ښکار حکم

وَإِنْ خَنَقَهُ الْكَلْبُ وَلَمْ يَجْرَحْهُ لَمْ يُؤْكَلْ اوکه سپي د ښکار مرئ خفه کړه.او دا ئې زخمي نکړله.نو خوړلې به نشي

حل اللغة> ① **الخنق:** مرئ خفه کول، بندول

تشريح> اوکه سپي د ښکار په مرئ زور کړو.(مرئ ئې خفه کړله) او زخم ئې اونه لګولو.نو دا به حلال نه وي.

دليله> زخم داسې کيدل شرط دې.چه دهغې نه وينه اوبهيږي.او دا مقصد په خپه ماتولو سره نه حاصليږي.نو دا داسې شوه.لکه چه مرئ ئې خفه کړې وي.او مړکړې ئې وي. دا ظاهر روايت دې.

رواية عن ابي حنيفة> خو د امام ابوحنيفه رحمه الله نه نقل دې.که سپي د ښکار يو اندام مات کړو.هغه حلال دې.

دليله> ځکه چه دلته کښې اګرچه ښکاره زخم نشته.خو پټ زخم شته.او زخم لګول شرط دې.او هغه موجود دې.

د معلم سپي د ښکار بعض حرام صورتونه

وَإِنْ شَارَكَهُ كَلْبٌ غَيْرُ مُعَلَّمٍ أَوْكَلْبُ مَجُوسِيٍّ قدوري اوفرمائيل.که شريك شو.دتعليم يافته سپي سره بې تعليمه سپي،يا د مجوسي سپي أَوْكَلْبٌ لَمْ يَذْكُرِاسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ يا داسې سپي چه هغې باندې د الله تعالى نوم نه دې اخستې شوې لَمْ يُؤْكَلْ نو نه به شي خوړلې

تشريح> که د مسلمان هغه تعليم يافته سپي سره کوم چه بسم الله وئيلو سره پريخودې شوې دې.بل يو سپي شريك شو.چه يا خو بې تعليمه دې.يا د مجوسي دې.يا په دې باندې قصداً بسم الله نه ده وئيلې شوې.نو دده دا نيولې شوې ښکار به نه خوړلې کيږي.

دلائله> ① د حضرت عدى رضي الله عنه په حديث کښې ددې صراحت موجود دې.

② او دويمه وجه دا ده.چه کله د حلال او حرام اجتماع اوشي.نو غلبه حرام ته حاصليږي. داسې ولې کيږي؟ ځکه چه په دې باره کښې حديث موجود دې.کوم چه په مسند عبدالرزاق کښې په ابن مسعود رضي الله عنه موقوف دې.يادې وجه احتياط ده.ځکه چه حرام واجب الترك دې.او حلال جائز الترك دې.نو احتياط په ترك کښې دې.

واذارمی الرجل سهما الی الصید اوکله چې غشی اولی یو کس په ښکار پسې فسمی الله تعالی عندالرمی یؤکل او د الله تعالی نوم ئې د غشی چلولو په وخت کښې واخستل اکل ما اصابه لم نو غشې چې کوم ښکار ته اورسیږی هغه دې خوری اذاجرحه السهم فمات خو په دې شرط چې غشی زخمی کړی وی او مړ شوی وی وان ادرکه حیاذکاه او که ده ژوندې رالاندې کړو ذبح به ئې کړی وان ترک تذکیته اوکه د هغه ذبح کول ئې اونکړل نو نه به ئې خوری

تشریح ﴿ **شروط حلة الصید بالسهم** ﴾ په تیر یا ټوپک سره د ښکار کولو درې شرطونه دی ① بسم الله ونیل که د بسم الله نه بغیر ئې غشی چلولې وې نو ښکار حلال نه دې ② چې ښکار زخمی شوې وی دې دپاره چې ذبح اضطراری شی. او په ذبح اضطراری دومره کافی ده چې ښکار زخمی شوې وی.
③ چې په لاس کښې لا راغلی نه وی او مړ شوې وی. ځکه که د مرګ نه وړاندې لاس ته راغلو نو د هغې ذبح کولو ضروری دی. که لاس ته د لاتلو نه پس ئې هم ذبح نکړل تردې چې مړ شونو ښکار حلال نه دې.

صفحه ۴۰۳) واذاوقع السهم بالصید او کله چې واقع شی غشې په ښکار باندې فتحامل حتی غاب عنه او هغه مشقت برداشت کړو تردې چې د ښکاری نه پټ شو. ولم یزل فی طلبه او ښکاری د هغه په تلاش کښې لګیدلې وو. حتی اصابه میتا تردې چې مړ ئې بیا مومی اکل نو خوری دې فان قعد عن طلبه اوکه د هغه د تلاش نه کیناستل ثم اصابه میتا اوبیا ئې هغه مړ بیا موندلو لم یؤکل نه به ئې خوری

تشریح ﴿ که یو کس ښکار اوویشتل او ښکار مشقت اوزغملو او په زخمی حالت کښې ئې ځان پټ کړو. چې د ښکاری نه غائب شو. په صبا باندې بیا دغه ښکار ښکاری ته په داسې حالت کښې ملاؤ شی چې هغه مړ شوې وی. نو اوس په دې کښې دوه صورتونه دی که ښکاری مسلسل د ښکار په طلب کښې وو. آرام ئې نه وو کړې. او بیا ورته ملاؤ شو. نو ده دپاره حلال دې. اوکه ده د هغې په تلاش او لټون کښې وقفه کړې وه. مثلاً څه لټون ئې اوکړو اوبیا ئې ونیل چې بس بریګده ئې اود هغې نه پس ئې بیا لټون شروع کړو. اوبیا ئې اوموندلو. نو په دې صورت کښې د هغې خوراک جائز نه دې.

دلیله ﴿ په اول صورت کښې ځکه جائز دې چې څه دومره وخت په کښې نه دې تیر شوې. او په دویم صورت کښې ځکه ناجائز دې کیدې شی چې ښکار د غشی په وجه نه وی مړ شوې بلکه په څه بله وجه مړ شوې وی. نو احتیاط هم په دې کښې دې چې ښکار دې حلال نشی.

د راز غریدلی ښکار حکم

وَاِنْ رَمَیٰ صَیْدًا او کله چه ده ښکار په غشی اوویشتلو فَوَقَعَ فِی الْمَاءِ نو دا ښکار اوبو کښې پریوتلو وکذلك ان وَقَعَ عَلیٰ سَطْحٍ او هم دغه شان کم دې چې واقع شی په چت باندې پریوتو اَوْجَبَلٍ یا په غر باندې پریوتو ثُمَّ تَرَدّٰی مِنْهُ اِلَی الْاَرْضِ لَمْ یُؤْکَلْ بیا ددې نه راوزغریدو. او په زمکه راپریوتو. نو دا به نشی خوړلې ؛

حل اللغة ﴿ ① **سطح**: چت

تشریح ﴿ د متردیه (راز غړلیدلې ښاروی) بیان وړاندې تیر شوې دې. په نص د قرآن سره ددې حرمت ثابت دې. نوکه یو ښکار ته غشې اولګیدو. او هغه زخمی شو. او په اوبو کښې پریوتلو. یا په یوچت باندې، یا په غر باندې پریوتو. بیا د هغه ځائې نه راوزغریدو. او په زمکه راپریوتو. او دا مړ شو. نو دا حرام دې.

دلائل ﴿ ① ځکه چې دا مترديه دې. په دې کښې احتمال دې.چه دا په غشی مړشوې دې.او دا احتمال هم شته.چه د اوبو په وجه مړ شوې وی.یا د پورته ځائې نه رازغړیدو سره مړ شوې وی.نو هرکله چه دوه سببونه جمع شو.نو د ذکر شوی اصول مطابق به د حرمت سبب ته ترجیح ورکولې شی.
② او د حضرت عدی رضی الله عنه حدیث د ابن حاتم طائی نه کوم چه نبی کریم ﷺ ارشاد فرمائیلې وو.هغې کښې هم دا حکم ذکر دې.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.چه کله ستا په غشي لګیدلې ښکار اوبو کښې پریوځی.نو دا مه خوره.(۱) ځکه چه دلته کښې دا معلومه نه ده.چه ددې مرګ اوبو کښې پریوتلو سره واقع شوې دې.او که د غشی په وجه.

د غشي لګيدو نه پس د ښکار په زمکه پريوتل او مړ کيدل

وَإِنْ وَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ ابْتِدَاءً أُكِلَ او که ښکار د شروع نه په زمکه پریوتلو.نو خوړلې به شی

تشريح ﴿ که ښکار په غشی اولګیدو.او فی الحال زمکې له راغې.نو دا حلال دې.
دليله ﴿ ځکه چه ښکار به په زمکه خامخا غورځیږی.ددې نه خو خلاصې نشته.او په غر وغیره باندې پریوتل، خه لازم او ضروری نه دی.په نورو الفاظو کښې داسې چه د غورزیدو نه بچ کیدل ممکن نه دی.نو ددې اعتبار اونکړې شو.او ښکار ته حلال اووئیلی شو.ګنی د ښکار کولو دروازه به بنده شی.او په غر وغیره باندې غورزیدل داسې څیز دې.چه ددې نه بچ کیدل ممکن دی.په دې وجه دا حرام اوګرځولی شو.
القاعدة ﴿ د تیرشوی تقریر نه یوه قاعده کلیه معلومه شوه.چه کله یو څیز کښې د حلت او حرمت دواړو سببونه جمع شی.نو اګرچه د حرمت سبب ته ترجیح ورکولې شی.خو ددې نه مخکښې به د حرمت په سبب باندې غور کولې شی.چه ددې نه بچ کیدل هم ممکن دی.اوکه نه؟ که بچ کیدل ممکن وی.نو ذکر شوی قاعده به جاری کولې شی.یعنی حرمت ته به ترجیح ورکولې شی.اوکه ددې نه بچ کیدل ممکن نه وی.لکه د ښکار په زمکه پریوتل شو.نو دا به کالعدم شمارلې شی.او هرکله چه دا معدوم (نیشت) شمار کړې شو.نو اوس صرف د حلت سبب باقی پاتې شو.نو ښکار به حلال وی.ځکه چه اصول مقرر دې.چه تکلیف په اندازه د قدرت وی.د الله تعالی فرمان دې﴿لَا تُكَلِّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا﴾.

د غشي په پلن والي سره د مړ شوي ښکار حکم

وَمَا أَصَابَ الْمِعْرَاضُ بِعَرْضِهِ او هغه ښکار چه هغې ته د سوکې نه بغیر غشي اولګیدو.خپل پلن والی (پیرې غاړې) سره لَمْ يُؤْكَلْ نه به شی خوړلې وَإِنْ جَرَحَهُ يُؤْكَلُ اوکه زخمی ئې کړو نو خوړلې به شی

حل اللغة ﴿ ① **المعراض**: دسوکې نه بغیرغشی ② **الجرح**: زخم
چه ددې دواړه غاړې نرئ وی.او منځنئ حصه ئې پیره وی.عرض: ونډه،(پلن والې) کومه چه د تیره والې نه علاوه ده. مطلب دا دې.چه ښکار په غشی اولګیدو.او هغه مړ شو.خو هغې ته د غشی منځ اولګیدو.کوم چه ونډې سره تعبیر شوې دې.نو دا شلول او ماتول شو.کټ کول نشو.په دې وجه به دا حلال ښکار نه وی.البته که غشی دا زخمی کړې وی.نو خوړلې به شی.خو دلته د زخمی کولو نه مراد شلول، ماتول نه دی.بلکه مراد دا دې.چه د غشی سوکه ده.چه تیره ده.که دا سوکه ښکار ته اولګیده.او

(۱) – اخارجه البخاری فی الذبائح باب ۸ ومسلم فی الصید رقم ۷ والترمذی فی الصید سباب ۵ والنسائي فی الصید باب ۱۸ والدارمی فی سننه ۱۴\ ۲۹۴)رقم ۹۰)

هغه ئې زخمي کړو.او مړ ئې کړو. نو ښکار به حلال وي.اوکه ډنډې زخمي کړو.نو حلال به نه وي.[والبسط في الشامي ص۳۰۴ج۵]

دليله دا مضمون په حديث د عدي بن حاتم رضي الله عنه سره ثابتيږي.د نبي کريم ﷺ ارشاد مبارک دې.مَا أَصَابَ بِحَدِّهِ فَكُلْ، وَمَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَلَا تَأْكُلْ [1] که غشي ښکار ته د سوکې د طرفه اولګيدو.نو خورئ.که د غشي ډنډه اولګيده.نو مه خورئ.او د مخکښې نه مراد ماتول نه دی. بلکه زخم او پريکول دی.چه دا نوکدار (او د سوکې والا) څيز سره حاصليږي.

په ټوپک سره د لګيدلی ښکار حکم

وَلَا يُؤْكَلُ مَا أَصَابَتْهُ الْبُنْدُقَةُ اذا مَاتَ بِهَا او خوړلې به نشي.کوم (ښکار) ته چه مرزکې (د ټوپک ګولۍ) اولګيده.او هغه په دې سره مړ شو

تشريح غله:ګولۍ، مرزکې کوم چه ټوپک کښې چليږي.اوهم دغه شان چاره او د ټوپک ګولۍ کټ کول نه کوی.بلکه شلول او ماتول کوی.نو کله چه ددې په وجه ښکار مړ شو.نو خوړلې به نشي.او دا ټول د معراض (بغيرسوکی والا غشي) په درجه کښې دی.

التفريعات ① ښکار ئې په کاڼړی اوويشتو.او مړ ئې کړو.نو دا به حلال نه وي.د ذکر شوی دليل په وجه.

② کاڼړې دروند وو.او په هغې کښې تيره غاړه هم شته.په هغې ئې ښکار اوويشتلو.او ښکار زخمي شو .نو اوس به نشي خوړلې.څکه چه اوس په دې کښې دا احتمال شته.چه کاڼړی ښکار پخپلې تيره جانې نه دې زخمي کړې بلکه په بوج ئې مړ کړې دې.

③ کاڼړې سپک وي.او په دې کښې تيره جانې (غاړه) وي.او ددې په ويشتلو سره ښکار مړ شو.نو ښکار حلال دې.څکه چه دلته دا خبره متعين ده.چه د زخم په وجه مرګ واقع شوې دې.

④ کاڼړې سپک دې.چه دا ئې د غشي پشان اوګد ساز کړې دې.او په دې کښې تيره غاړه ده.نو ددې ښکار به هم حلال وي.څکه چه دا کاڼړې به ښکار د زخم کولو په وجه مړ کوی.پخپل بوج سره به ئې نه مړ کوی.

په غشي ويشتلو سره د ښکار څه حصه کټ شوه نو ددې ښکار حکم

وَإِذَا رَمَى صَيْدًا اوکله چه ده ښکار په غشي اوويشتلو فَقَطَعَ عُضْوًا مِنْهُ أُكِلَ الصَّيْدُ نو په دې سره دده يو اندام کټ شو.نو ښکار به خوړلې شي.

تشريح که ښکار ئې په غشي اوويشتلو.چه په دې سره د ښکار د بدن څه حصه کټ شوه.او پريوتله.نو اوس څه حکم دې؟ نو وي فرمائيل.چه ښکار خو بالاتفاق حلال دې.

دليله څکه چه هرکله اندام کټ شو.نو زخم کوم چه د حلت شرط وو.اوموندې شو.نو ښکار حلال شو.

وَلَمْ يُؤْكَلِ الْعُضْوُ او اندام به نشي خوړلې.

[1] – من حديث عدى بن حاتم رضي الله عنه اخرجه البخاری فی البيوع باب ۳ ومسلم فی الصيد رقم ۲ وأبوداود فی الأضاحی باب ۲۲ والترمذی فی الصيد باب ۷ والنسائی فی الصيد باب ۲ وابن ماجه فی الصيد باب ۷ والدارمی فی الصيد باب ٤ وأحمد فی المسند (٤\٢٥٦)۔

تشریح اوس پاتې شوه مسئله د هغه ټکړې کومه چه کټ شوې ده.او پریوتلې ده.نو ددې خوراك حرام دې.[1]

دلیله دلیل دا دې چه(المطلق إذا أطلق مراد به الفرد الكامل) او د ژوندی فرد كامل دا دې.چه په ده كښې حقیقتاً او حکماً ژوند وی.د کوم ښکار نه چه اندام جدا کړې شوې دې.نو په وخت د جدا کولو په دې كښې حقیقي ژوند موجود دې.دا حقیقي ژوند دې.او ددې اندام د جدا كیدو نه پس كه دا ژوندې پاتې كیدې شی.نو دا دده حکمي ژوند دې.هرکله چه دا تقریر په ذهن كښې كیناستو.نو اوس په دلیل پوهه شې.حدیث كښې راغلی دی.(ما أبین من الحي فهو میت) (۲)کوم اندام چه د ژوندی نه جدا کړې شوې وی.او کټ کړې شوې وی.هغه مړ دې.اومړ حرام وی.نو نبی کریم ﷺ دلته كښې مطلق حيّ (ژوندې) ارشاد فرمائیلې دې.نو ددې نه به فرد كامل مراد وی.او فرد كامل دا دې.کوم چه مونږ ذکرکړې دې.چه په ښکار كښې فی الحال ژوند شته.او روستو ژوندې پاتې کیدې شی.رومبې ژوند حقیقی او دویم حکمی دې.نو هرکله چه د ژوندی د بدن ټکړه حرام ده.نو دا اندام به هم حرام وی.خکه چه میان منه اوس هم ژوندې دې.او روستو هم دده د ژوند احتمال شته.اوهم دا وجه ده.که ددې احتمال وی.او په داسې حالت كښې اوبو كښې پریوخی.نو دا به حرام وی.او داسې به ونیلې شی.چه اوبو دا هلاك كړې دې.نو معلومه شوه.چه شریعت د داسې ژوند اعتبار كړې دې.او اوس ئې دا ژوندې شمارکړې دې.او د ژوندی اندام په نص د حدیث سره حرام دې.

وَاِنْ قَطَعَهُ اَثْلَاثًا او که دا ئې درې ټکړې کړو وَالْاَكْثَرُ مِمَّا يَلِي الْعَجُزَ او زیات هغه وی کوم چې د کوناټې سره نږدې وی اُكِلَ الْجَمِيْعُ نو ټول به خوړلې شی وَاِنْ كَانَ الْاَكْثَرُ او که زیاته حصه هغه وه مِمَّا يَلِي الرَّأسَ کوم چې سر ته نږدې وی اُكِلَ الْاَكْثَرُ نو زیات به خوړلې شی.

تشریح که ښکار یې درې حصې کړل په داسې طریقه چې یوه حصه کمه وی او یوه حصه زیاته وی مثلاً یو طرف ته یوه حصه وی او بل طرف ته دوه حصې وی یعنی د ښکار لاس او پښې نه وی کټ شوې بلکه بدن دوه ټکړې شوې اوس که چرته د کوناټې طرف ته دوه حصې د بدن وې او سر طرف ته یوه حصه وه نو د کوناټې والا حصه هم حلاله ده او د سره حصه هم حلاله ده.لکه چې داسې ذبح شوې دې چې د سر سره د بدن هم څه حصه کټ شوې ده.او کله چې د بدن نه س رجدا وی نو بدن او سر دواړه حلال وی او که د سر طرف ته د نیمې نه زیاته حصه کټ شوې وی اود کوناټو طرف ته د نیمې نه کمه حصه وی.نو داسې به ګنړلې شی چې دا د ژوندې څناور نه یو اندام کټ شوې دې.او وړاندې مسئله تیره شوې ده که د ژوندی څناور نه یو اندام کټ کړې شی نوهغه حصه حلاله نه ده نو دغه شان دلته د کوناټې حصه هم حلاله نه ده.

د مجوسي، مرتد، او بت پرست د ښکار حکم

وَلَا يُؤْكَلُ صَيْدُ الْمَجُوسِيِّ وَالْمُرْتَدِّ وَالْوَثَنِيِّ او د مجوسی او بت پرست ښکار به نشی خوړلې

تشریح په ښکار كښې ذکاة اضطراری داسې دې.لکه څنګه چه په غیرښکار كښې ذکاة اختیاری،نو

---

[1] **مسلك الشافعي:**- د امام شافعی رحمه الله په مذهب كښې تفصیل دې.که ښکار ددې نه پس ژوندې وی. او مړ نشی.نو حلال نه دې.او که مرشی.نو دا اندام حلال دې.لکه څنګه چه ښکار حلال دې.رومبی (کټ شوی اندام) په میان او دویم (ښکار) په میان منه سره تعبیر کړې شوې دې.

[2] من حدیث ابن عمر رضی الله عنهما اخرجه ابن ماجه فی سننه فی الصیدباب ۸ رقم ۳۲۱۶ـ

کوم کس چه د ذکاة اختیاری اهل نه وی.هغه به د ښکار کولو هم اهل نه وی.او کوم کس چه د ذکاة اختیاری اهل وی.نو هغه به د ذکاة اضطراری او ښکار کولو اهل هم وی.ددې تفصیل نه معلومه شوه.چه آتش پرست او بت پرست د ذبح اهل نه دی.نو دوی به د ذکاة اضطراری اهل هم نه وی.لکه څنګه چه د دوی ذبیحه حرام وی.د هغوی ویشتلې شوې ښکار به هم حرام وی.او د نصرانی او یهودی ذبیحه حلال ده.ددوی ویشتلې شوې ښکار به هم حلال وی.

ښکار کښې د بچ کېدو قوت نشته چه دویم کس په غشی اوویشتلو نو ددې د ملکیت مسئله

وَمَنْ رَمٰى صَيْدًا او چا چه ښکار په غشی اوویشتلو فَاَصَابَهُ وَلَمْ يُثْخِنْهُ وَلَمْ يُخْرِجْهُ عَنْ حَيِّزِ الْاِمْتِنَاعِ او هغه په دې اولګیدو.او هغه ئې سخت زخمی نکړو.او هغه ئې د د خان بچ کولو د قوت نه خارج نکړو فَرَمَاهُ آخَرُ فَقَتَلَهُ نو دویم سړی دا په غشی اوویشتلو.نو دا ئې مړ کړو فَهُوَ لِلثَّانِي وَيُؤْكَلُ نو ښکار به د دویم کس وی.او خوړلې به شی؟

تشریح > یو سړی ښکار په غشی اوویشتلو.او هغه اولګیدو.خو په وحشی ځناور کښې چه د خپل ځان بچ کولو کوم قوت وی.هغه په ده کښې موجود دې.چه هغه خپل ځان بچ کولې شی.چه بل کس دا(ښکار) په غشی اوویشتلو. او دا ئې هلاک کړو.اوس دلته کښې دوه سوالونه جوړ شو. ① دا حلال دې اوکه نه؟ ② ددې مالك به څوك وی.نو جواب ئې ورکړو.چه ښکار حلال دې.څکه چه دا اوس د ښکار کیدو نه خارج شوې نه وو.چه ددې نه وړاندې دویم کس دا په غشی اوویشتلو.نو غشی باندې ښکار اولګیدو.چه دلته کښې ذکاة اضطراری کافی کیږی.او ددې مالك دویم کس دې.څکه چه نیونکې او په دې باندې قبضه کونکې دویم سړې دې.

دلیله > په حدیث کښې دی.اَلصَّيْدُ لِمَنْ اَخَذَ(۱) چه ښکار د هغه کس وی.څوك چه دا اونسی.او نیونکې دویم کس دې.ذکر شوې حدیث غریب دې.چه ددې هیڅ اصل نشته.

د رومبی غشی نه د بچ کېدو احتمال نه پس د بل په غشی سره مړکېدل او ددې حکم

وَاِنْ كَانَ الْاَوَّلُ اَثْخَنَهُ او که رومبی دا سخت زخمی کړو فَرَمَاهُ الثَّانِي فَقَتَلَهُ نو دویم دا په غشی اوویشتلو.نو دا ئې مړکړو فَهُوَ لِلْاَوَّلِ وَلَمْ يُؤْكَلْ نوهغه د اول دپاره ده او نه به شی خوړلې

حل اللغة > ① **الثخن**: سخت زخم ② **الرمي**: ویشتل]

تشریح > که رومبی غشی دا سخت زخمی کړې وی.چه په دې سره ئې د ځان بچکیدو نه اوبنکلې وی.بیا دویم کس غشې اوویشتلو.او دا ئې هلاك کړو.نو اوس څه حکم دې؟ نو وې فرمائیل.چه دلته کښې درې حکمونه دی① ښکار د رومبی کس ملکیت اوګرځولې شی. ② دا ښکار به نشی خوړلې.
③ دویم به ددې د قیمت ضامن وی.

دلیله > د رومبی سړی ملکیت به په دې وجه وی.چه هغه دا د بچکیدو (ژوند) نه اوبنکلې دې.او خوړلې به څکه نشی.چه دې کښې احتمال دې.چه په دویم غشی سره مړ شوې وی.او په دویم غشی سره مرګ ذکاة نه دې.څکه چه رومبی غشی سره هرکله ښکار د صیدیت (ښکار کیدو) نه خارج شو.نو ددې ذبح کول لازم شو.او په ذبح باندې قدرت موجود دې.چه دویم په دې حالت کښې غشې

---

(۱) اخرجه الزيلعي رحمه الله ثم نقل عن سعيدبن زيد قال قال رسول الله ﷺ من احى ارضافهي له وعزاه الى كتاب الذكرة لابي عبدالله محمد بن حمدون (نصب : ۵\ ۳۹) ۱۲

اووېشتلو.چه اوس دا ښکار نه دې.نو حرام شو.په رومبي صورت کښې دا د ښکار کيدو نه خارج شوي نه وو.په دې وجه دا دويم غشي ذکاة اضطراري وو.دا په دواړو مسئلو کښې وجه د فرق ده.خو د خوراك حرمت هغه وخت دې.کله چه رومبي غشي په داسې طريقه لګيدلي وي.چه ښکار بچ کيدې شي.او ژوندې پاتې کيدې شي.نو دغه وخت به ددې مرګ دويم غشي طرف ته منسوب کولې شي.

د ښکار بچ کيدو احتمال کښې د دويم کس د ضامن کيدو حکم

وَالثَّانِي ضَامِنٌ بِقِيمَتِهِ لِلْأَوَّلِ غَيْرَ مَا نَقَصَتْهُ جِرَاحَتُهُ او دويم ضامن دې.د ښکار د قيمت د اول دپاره، علاوه ددې نه کوم چه ښکار ته نقصان رسيدلې دې،د رومبي زخم

تشريح ﴿ دا د ذکر شوي صورت دريم حکم دې.چه دويم کس چا چه ښکار په غشي ويشتلې دې.دا حرام کړې دې.هغه به د رومبي دپاره د ښکار د قيمت ضامن وي.

دليله ﴿ ځکه چه ښکار د رومبي مملوك شوې وو.کله چه ده داسې غشي ويشتلې وو.چه هغه د بچکيدو د امکان نه خارج شو.خو په دويم کس به د ښکار پوره قيمت واجب نه وي.بلکه د رومبي زخم لګيدو په وجه چه کوم ددې قيمت کم شوې دې.هغه نقصان به اوښکلې شي.او باقي قيمت به واجب وي.مثلاً د زخم لګيدو نه مخکښې ددې قيمت پنځه روپۍ وو.او د زخمي کيدو په وجه ددې څلور روپۍ پاتې شو.نو هم دا څلور روپۍ به واجب وي.بيا دا سوال باقي پاتې شو.چه د هلاکولو په ورځ د ښکار قيمت پنځه روپۍ وو.او د اداکولو په ورځ شپږ روپۍ دې.نو د کوم قيمت اعتبار به کولې شي؟ نو وې فرمائيل.چه د هلاکولو د ورځې د قيمت اعتبار به کولې شي.

د ماکول اللحم او غير ماکول اللحم ښکار حکم

وَيَجُوزُ اصْطِيَادُ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ مِنَ الْحَيَوَانِ وَمَا لَا يُؤْكَلُ

تشريح ﴿ ښکار د ماکول اللحم او غير ماکول اللحم دواړو جائز دې.

دليله ﴿ ځکه چه ﴿وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا﴾ مطلق دې.او لفظ د صيد(ښکار) ماکول اللحم سره خاص نه دې.

د مسلمان او کتابي ذبيحه حلال ده

وَذَبِيحَةُ الْمُسْلِمِ وَالْكِتَابِيِّ حَلَالٌ او د مسلمان او کتابي ذبيحه حلال ده

تشريح ﴿ د مسلمان او کتابي ذبيحه حلال ده.

دليله ﴿ په قرآن پاك کښې الله تعالی فرمائيلي دی «وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ» چې ستاسو دپاره د اهل کتابو ذبيحه حلاله ده.

اوپه آيت کښې طعام نه مراد ذبيحه ده.که ذبح کونکې سړې وي.اوکه ښځه وي.بچې وي.او که ليونې وي.ټول جائز دی

د مجوسي د ذبيحې حکم

وَلَا تُؤْكَلُ ذَبِيحَةُ الْمَجُوسِيِّ) او د مجوسي ذبيحه به نشي خوړلې شو،وَالْمُرْتَدِّ او خوړلې به نشي د مرتد ذبيحه،

تشريح ﴿ آتش پرست چونکه توحيد پريخودونکې دی.نو د هغه ذبيحه به حلال نه وي.او ددې حديث نه هم دا خبره ثابته ده.ددې حاصل دا دې.چه لکه څنګه کتابيانو ته د جزية ادا کولو په وجه امان ملاويږي.هغوی ته به هم ملاويږي.فرق دا دې.چه د کتابيانو ښځو سره نکاح جائز ده.د مجوسي ښځو

سره جائز نه ده.او د کتابيانو ذبيحه حلال ده.د مجوسي نه ده.

دليل عدم صحة لذبح المرتد> مرتد به پخپل حال باقي نشي ساتلې.نو د هغه هيڅ دين نشته.نو د هغه ذبيحه هم حلال نه ده.

وَالْوَثَنِي او خوړلې به نشي د بت پرست ذبيحه ځکه چه هغه د دين اعتقاد نه لري.

تشريح> البته که کتابي دويم دين اختيار کړي.نو هغه به په هغه دين قائم ساتلې شي.کوم طرف ته چه اوختې دې.اوس به کتلې شي.چه د ذبح په وخت هغه په کوم دين دې.که په داسې دين باندې دې.چه د هغه ذبيحه حلال ده.نو د هغه ذبيحه به حلال وي.اوکه په داسې دين باندې دې.چه د هغه ذبيحه حلال نه ده.نو دهغه ذبيحه به حلال نه وي.مثلاً يو يهودي وو.نصراني شو.نو دهغه ذبيحه حلال ده.اوکه مجوسي (آتش پرست) شو.نو د هغه ذبيحه به حلال نه وي.خلاصه د کلام دا چه په وخت د ذبح هغه په کوم حال دې.د هغه حال اعتبار به کولې شي.د بت پرستو ذبيحه هم حلال نه ده.ځکه چه د هغوی هيڅ دين نشته.

په حالت د احرام يا په حرم کښې د ښکار ذبح کولو حکم

وَالْمُحْرِمُ او خوړلې به نشي د محرم ذبيحه،

تشريح> په حرم شريف کښې د چيلۍ وغيره ذبح جائز ده.د ښکار ذبح کول جائز نه دي.دغه شان محرم چيلۍ وغيره ذبح کولې شي.ښکار نشي ذبح کولې.که محرم په حرم کښې وي.اوکه په حل کښې وي.

دليله> ذکاة يو مشروع فعل دې.او په حرم کښې ښکار ذبح کول، يا د محرم ښکار ذبح کول ممنوع فعل دې.حرام دې.نو دا ذبح به ذکاة نه وي.

د قصداً بسم الله پريخودونکي د ذبيحې حکم

وَإِنْ تَرَكَ الذَّابِحُ التَّسْمِيَةَ عَمْدًا اوکه ذبح کونکي قصداً تسميه (بسم الله) پريخودله فَالذَّبِيحَةُ مَيْتَةٌ نو ذبيحه مرداره ده لَا تُؤْكَلُ خوړلې به نشي وَإِنْ تَرَكَهَا نَاسِيًا اوکه تسميه ئې په هيره پريخودله أُكِلَ نو خوړلې به شي

تشريح> په ذبيحه باندې تسميه ونيل ضروري دي. ([1])که په هيره ئې پريږدي.نو ذبيحه حلال ده.اوکه قصداً ئې پريږدي.نو ذبيحه مرداره او حرام ده.دا به نه خوړلې کيږي.صحابه کرام ﷺ او تابعين ﷺ تول متفق دي.چه په کوم باندې قصداً تسميه پريخودې شوې وي. نو هغه حرام دې.

دلائلهم> دا درې دليلونه دي: ① **کتاب الله:** د الله تعالى ارشاد دې. ﴿وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ﴾ يعنې،، په کومو ذبيحو چه تسميه اونه ونيلې شوه.هغه مه خورئ. ﴿لَا تَأْكُلُوا﴾ د نهي صيغه ده.چه دا تحريم دپاره ده.معلومه شوه.چه د قصداً تسميه پريخودې شوی خوراك حرام دې.

② **اجماع دامت:** يعنې د امام شافعي رحمه الله نه وړاندې ټول أمت ددې په حرمت باندې متفق دې.

③ حضرت عدي ابن حاتم رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو.چه دير خل زه پخپل ښکار باندې خپل سپې پريږدم.نو زما سپي سره بل سپې شريکيږي.اوس دا معلومه نه ده.چه کوم يو سپي ښکار نيولې

---

[1] **مسلك الائمة:** -امام مالك رحمه الله فرمائي.که په هيره يا قصد سره ئې تسميه پريخودې وي.نو ذبيحه به حلال نه وي.او امام شافعي رحمه الله بالکل ددې عکس فرمائي.يعنې که قصداً ئې پريږدي او که په هيره، دواړو صورتونو کښې ذبيحه حلال ده.

دي.نو آیا زه دا خورم؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل.چه تا پخپل سپی باندې تسمیه وئیلې ده.په دویم دې نه ده وئیلې.یعنی ددې خوراك حرام دې .اود حرمت علت تسمیه پریخودل دی.معلومه شوه.چه قصداً تسمیه پریخودل د ذبیحې د حرمت موجب دی.

د ذبح مقام

وَالذَّبۡحُ بَيۡنَ الحَلۡقِ وَاللَّبَّةِ اوفرمائیل امام قدوری رحمه الله او ذبح د حلق او سینې په منځ کښې ده

حل اللغة ① اللبة: سینه

تشریح دا مسئله وړاندې تیره شوې ده. دلته صرف دومره خبره د تشریح قابل ده. چه د حلق هره یوه حصه وی.که پورتنۍ وی او که د منځ یا لاندینۍ وی.که د هر ځائې نه ذبح کړې شی. برابر ده.

دلیله د نبی کریم ﷺ حدیث دې الذَّكَاةُ مَابَيۡنَ اللَّبَّةِ وَاللَّحۡيَيۡنِ[1] چه ذکاة (ذبح) د سینې او دواړو ژامو په منځ کښې دې.

په ذبح کښې کوم کوم رګونه کټ کول ضروری دی؟

وَالعُرُوقُ الَّتِي تُقۡطَعُ فِي الذَّكَاةِ أَرۡبَعَةٌ: امام قدوری رحمه الله اوفرمائیل.او هغه رګونه کوم چه ذبح کښې کټ کولې شی.څلور دی. الحُلۡقُومُ وَالمَرِيءُ وَالوَدَجَانِ)حلقوم (د ساه نالۍ)، نرخره (د خوراك داخلیدو ترتړو) او دواړه اوداج (د سټ دننه طرف ته دوه رګونه) فَإِنۡ قَطَعَهَا حَلَّ الأَكۡلُ اوکه دا ټې کټ کړل نو خوراک ئې جائز شو.

حل اللغة په ذبح کښې چه کوم رګونه کټ کولې شی.هغه څلور دی① حلقوم ② مرئ ③ اوداج۔ حلقوم ددې اصل حلق دې.په دې کښې واو او میم زیات کړې شوې دې.نوحلقوم شو.د ساه نالۍ ته حلقوم وائي.② مرئ: هغه نالۍ کومه کښې چه خوراك او اوبه ځی. ودجان: د ودج تثنیه ده.دا د سټ په دننه حصه کښې دوه رګونه وی.او حلقوم او مرئ ددې دواړو په منځ کښې وی.اردو کښې مرئ ته نرخره (او په پښتو کښې ورته ترتړو) وائی.بهرحال دا څلور رګونه دی.چه په ذبح کښې کټ کولې شی.نوچې دا رګونه ئې کټ کړل خوراک ئې جائز شو[2]

تشریح نفس مسئله آسانه ده.

دلیله دلیل دا حدیث دې (أَفۡرِ الأَوۡدَاجَ بِمَا شِئۡتَ[3])، د نبی کریم ﷺ د فرمان په وجه ،، چه په کوم څیز سره غواړې رګونه کټ کړه ،، او دا د اوداج جمع ده.چه ددې اقل فرد درې دی.نو په دې کښې نرخره او ودجان (د سټ دننه دوه رګونه) داخل دی.او چونکه دا درې واړه د حلقوم کټ کولو نه بغیر نشی کټ کیدې.نو په طریقه د اقتضاء حلقوم هم داخل شو.او په دې طریقه ټول رګونه څلور شو.

[1] من حدیث أبي هریرة رضي الله عنه أخرجه الدارقطني في سننه وابوداو في الأضاحي باب ۱۵ رقم ۲۸۲٤ والنسائي في الضحایا رقم ٤٠۹۹ وابن ماجه في الذبائح باب ۵ رقم ۳۱۷۷۔

[2] مسلك الشافعي:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه د حلقوم او مرئ په کټ کولو باندې اکتفاء جائز ده.

[3] – غربه الزيلعي رحمه الله ثم قال وروي ابن أبي شيبه في مصنفه....عن رافع بن خديج رضي الله عنه قال سألت رسول عن الذبح بالسطية، فقال كل مأفري الأفري الأوداج ، الاسنا وظفراً (ذكره الهيثمي في مجمع الزوائد(٤/٣٤) وعزاه للطبراني (نصب : ٤/ ٤٧٢) –

وَإِنْ قَطَعَ أَكْثَرَهَا اوکه په دې کښې ئې اکثر کټ کړل. فَكَذَٰلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله. (١) نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز هم دغه شان ده وَقَالَا .او صاحبين رحمهماالله فرمائي. لَابُدَّ مِنْ قَطْعِ الْحُلْقُومِ وَالْمَرِيءِ وَأَحَدِ الْوَدَجَيْنِ چه په حلقوم او مرئ او دوارو رګونو کښې د يو کټ کول ضروري دي.

تشريح ﴿ په دې څلورو کښې دريو باندې اکتفاء جائز ده.بيا دا درې کوم کوم دي.نوامام صاحب رحمه الله فرمائي. (لاعلى التعيين) چه کوم درې هم کټ کړې شو. نو ذبيحه به حلال وي.

دليل ابي حنيفة ﴿ د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې چه په ډيرو احکامو کښې اکثر د کل قائم مقام وي او کوم درې چه ده کټ کړې دي ،نو ده په څلورو کښې اکثر کټ کړل او کوم چه مقصود دې هغه به د دريو په کټ کولو سره حاصل شي او دا (مقصود) بهيدونکې وينه اوښکل دي

مسلک الصاحبين ﴿ صاحبين رحمهماالله فرمائي.چه حلقوم او مرئ کټ کول ضروري دي.البته ودجان کښې که په يو باندې اکتفاء اوکړې شي.نو غوره ده.

توضيح صاحب الهداية ﴿ مرغيناني رحمه الله په هدايه کښې فرمائي.چه امام قدوري رحمه الله پخپل مختصر کښې هم دا اختلاف ذکرکړې دې. خو د مشائخو په کتابونوکښې مشهورتيا سره دا منقول دې.چه په دې کښې صرف د امام صاحب او د امام ابويوسف رحمهماالله اختلاف دی.يعنی امام ابويوسف صاحب رحمه الله په دريو باندې اکتفاء ته جائز وائي.خو په دې شرط چه په ودجان کښې يو باندې اکتفاء اوکړې شي.او باقی تول کټ کړې شي.او امام صاحب رحمه الله مطلقاً دريو باندې اکتفاء جائز ګرځوی.يعنی په دې کښې د امام محمد رحمه الله قول ذکر نه دې.

الخلاصة ﴿ ددې تفصيل خلاصه دا ده.چه د امام صاحب رحمه الله مذهب دا دې.چه په څلورو وارو رګونوکښې د څه تعين نه بغير کوم درې هم چه کټ کړې شي.نو صحيح ده.او ذبيحه حلال ده.او د امام ابويوسف رحمه الله رومبې قول هم دا دې.بيا امام ابويوسف رحمه الله هغه قول اختيار کړو.کوم چه ذکر شو.يعنی حلقوم او مرئ او په دوو اوداجو کښې د يو کټ کول ضروري دي.

دليل ابي يوسف ﴿ د امام ابويوسف رحمه الله دليل دې.ددې خلاصه دا ده.چه حلقوم او نرخره به د يو بل نيابت نه کوي.ځکه چه دې دواړوکښې يوه د خوراك او اوبو نالئ ده.او بله د ساه اخستلو ده.خو په دواړو اوداجو کښې وينه ده.نوکه په يو باندې اکتفاء اوکړې شي.نو جائز ده.ځکه چه وينه به اوس هم اوځي.صرف دومره خبره ده.چه لږ وخت روستو به اوځي.او د دواړو کټ کولو په صورت کښې زر اوځي.

د بانړس په پوستکي، بکره، او د غابونو او نوکانو والا څيز سره د ذبح کولو حکم

وَيَجُوزُ الذَّبْحُ او ذبح جائز ده بِاللِّيطَةِ وَالْمَرْوَةِ د بانړس په پوستکی (چه دا تيره وي) او بکرې (سپين کانړې چه دا تيره وي) سره وَبِكُلِّ شَيْءٍ أَنْهَرَ الدَّمَ او په هر داسې څيز سره چه دا وينه اوبهيه وي إِلَّا السِّنَّ الْقَائِمَ وَالظُّفْرَ الْقَائِمَ علاوه د لګيدلی غاښ او لګيدلی نوك

حل اللغة ﴿ ① اللِّيطَة: دبانړس پوستکې ② مِيتَة: مرداره]

تشريح ﴿ هر هغه څيز کوم چه وينه اوبهيه وي.هغې سره ذبح جائز ده.که هغه د بانړس پوستکې وي.او

(١) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في رد المحتار (٥٢٠٧) وخلاصة الفتاوى (٣٠٦\٤) والبحر (٣١٠\٨)-

که کانړي وي.چه دا تیره وي.البته هغه نوك او غابس کوم چه لګیدلي دي.هغې سره ذبح جائز نه ده.بلکه ذبیحه به مرداره وي.

دليله ځکه چه دې صورت کښې به څاروي بوج سره مړ کیږي.نو د منخنقه (مړئ خفه کړي شوي) په درجه کښې به وي.

اصول محمد د امام محمد رحمه الله عادت دا دې.چه چرته هغوی ته نص ملاو نشي.نو احتیاط نه کار اخلي.او دغه وخت د حرمت په صورت کښې ،،یکره،، یا ،،لم یؤکل،، وائي.او د حلت په صورت کښې ،،لا باس به،، وائي.خو د لګیدلی نوك او غابس په باره کښې دوی په جامع صغیر کښې دا صراحت کړي دي.چه ذبیحه مرداره ده.چه دا ددې خبرې دلیل دې.چه هغوی به په دې باره کښې نص نه وی موندلې.

د ذبح مستحبات

وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يُحِدَّ الذَّابِحُ شَفْرَتَهُ او مستحب دی.چه ذبحه کونکې خپله چاړه تیزه کړی

حل اللغة ① **شفرة:** چاړه

تشريح چاړه تیره کول مستحب دي.او مستحب دي.چه د څاروی سملولو نه وړاندې چاړه تیره کړی.

دليله نبی کریم ﷺ فرمائیلي دی إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ[1] (بې شکه الله تعالی په هر څیز باندې احسان کول فرض کړې دي نو کله چه تاسو قتلوئ نو په ښه طریقه قتلوئ او کله چه تاسو ذبح کوئ نو په ښه طریقه ذبحه کوئ،، او پکاره ده.چه تاسو کښې هر یوکس چاړه تیره کړئ ،او خپلې ذبیحې ته آرام اورسوی.

د ذبح مکروهات

وَمَنْ بَلَغَ بِالسِّكِّينِ النُّخَاعَ او چا چه چاړه حرام مغز پورې اورسوله أَوْقَطَعَ الرَّأْسَ یا ئې سر کټ کړو كُرِهَ ذَلِكَ لَهُ نو دا دده دپاره مکروه دی وَتُؤْكَلُ ذَبِيحَتُهُ او دده ذبیحه به خوړلې شي

حل اللغة ① **السكين:** چاړه ② **نخاع:** حرام مغز

تشريح هر هغه کار چه ددې په ذبحه کښې ضرورت نه وی.او ددې نه مذبوح ته تکلیف اورسیږی.هغه مکروه دي.خو ذبیحه به حلال وی.چونکه دلته خرابی په نفس ذبح کښې نه ده.بلکه د یو زیاتی معنی په وجه خرابی راغلې ده.او دا بې وجه (بې فائدې) تکلیف ورکول دی.نو دا به د ذبیحه حرمت نه ثابتوی.بلکه ذبیحه حلال ده.البته دا فعل مکروه دې.

هغه کوم افعال دی.چه مکروه دی؟ ① حرام مغز پورې د ذبح کولو په وخت کټ کول. ② سر رابنکل چه د مذبوح د ذبح کولو ځاني ښکاره شي. ③ د یخیدو نه وړاندې سټ جدا کړې شي. ④ خپې نیول او د ذبح کولو ځاني پورې راوستل. ⑤ دیخیدو(اوحرکت ختمیدو) نه وړاندې څرمن اوبنکل.ـ رومبی درې واړه د حرام مغز په تفسیر کښې بیان کړې شوی دی.

[1] – من حديث شداد بن اوس رضي الله عنه اخرجه مسلم في الصيد رقم ۵۷ وابوداود في الأضاحي باب ۱۱ رقم ۲۸۱۵ والترمذي في الديات باب ۱۴ والنسائي في الضحايا باب ۲۲ وابن في الذبائح باب ۳ والدارمي في الأضاحي باب ۱۰

دليله ﴿ نبی کريم صلی الله عليه وسلم په چيلئ کښې حرام مغز پورې رسيدل منع کړی دی (۱)

د سټ د طرفه د چيلئ ذبح کولو حکم

وَإِنْ ذَبَحَ الشَّاةَ او که چيلئ ئې ذبح کړله مِنْ قَفَاهَا د دي د سټ نه فَإِنْ بَقِيَتْ حَيَّةً نو که هغه ژوندئ باقي پاتې شوه. حَتّٰى قَطَعَ الْعُرُوْقَ تردې چه ټول رګونه کټ کړې شو جَازَ نو حلال ده وَيُكْرَهُ او دا مکروه دې وَإِنْ مَاتَتْ قَبْلَ قَطْعِ الْعُرُوْقِ او که دا د رګونو کټ کولو نه مخکښې مره لَمْ تُؤْكَلْ نو خوړلې به نشي

حل اللغة ﴿ ① **شاة**: ګډه ② **العروق**: جمع د عرق، رګ

تشريح ﴿ که چيلئ ئې د سټ د شا طرفه ذبح کړله.نو اوس به دا کتلې شي.چه د ذبح د رګونو کټ کولو پورې دا ژوندئ ده.او که ددې نه وړاندې مره شوه.په رومبی صورت کښې دا حلاله ده.او په دويم صورت کښې حلاله نه ده.البته په دواړو صورتونو کښې دا فعل مکروه دې.ځکه چه دا د ضرورت نه بغير زيات تکليف ورکول دی.

په کومو ځاروو کښې په ذبح اختياري وي اوپه کومو کښې اضطراري؟

وَمَا اسْتَأْنَسَ مِنَ الصَّيْدِ او کوم ښکار چه اموخته (او بلدی) شو فَذَكَاتُهُ الذَّبْحُ نو ددې ذکاة ذبح ده وَمَا تَوَحَّشَ مِنَ النَّعَمِ او کوم چه د ځاروو نه وحشی (ځنګلی) شو فَذَكَاتُهُ الْعَقْرُ نو د هغې ذکاة اندام کټ کول، وَالْجُرْحُ او زخمی کول دی

حل اللغة ﴿ ① **استانس**: اموخته وی ② **توحش**: نفرت کوی ③ **العقر**: اندام کټ کول ④ **الجرح**: زخم]

تشريح ﴿ وړاندې بيان شوی دی.چه د ذکاة دوه قسمونه دی ① اضطراری ② اختياری.ـ دا دواړه کوم کوم ځائې کښې مشروع دی.دا هم معلومه شوې ده.اوس دا ښائی.چه ساتلې شوې ځاروې دې.لکه ميښه وغيره،خو دا اوتختيدله.او وحشی (ځنګلی) شوه.نو اوس دلته ذکاة اضطراری جائز ده.اوکه وحشی ځاروې د ساتلو په وجه عادت شو.نو اوس به دلته د ذکاة اختياری نه کار اخستلې شی.

په اوښ کښې نحر،او غوا اوچيلئ کښې ذبح مستحب ده

وَالْمُسْتَحَبُّ فِي الْإِبِلِ النَّحْرُ او په اوښ کښې نحر مستحب دې فَإِنْ ذَبَحَهَا نو که دا ئې ذبح کړو جَازَ...نو جائز دی ،وَيُكْرَهُ.او مکروه دی وَالْمُسْتَحَبُّ فِي الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ الذَّبْحُ او مستحب په غوا او چيلئ کښې ذبح ده فَإِنْ نَحَرَهُمَا نو که دا دواړه ئې نحر کړل جَازَ نو جائز دی وَيُكْرَهُ او مکروه دی.

تشريح ﴿ د نحر او ذبح تفصيل وړاندې تير شوې دې.اوس فرمائی.چه چيلئ وی.اوکه اوښ يا غوا وی.په هر يو کښې ذبح او نحر جائزدې.او ذبيحه حلال ده.خو په اوښ کښې نحر مستحب او ذبح مکروه ده.او په چيلئ او غوا کښې ذبح مستحب او نحر مکروه ده.

دلائل الاستحباب ﴿ ① داستحباب دليل دا دې.چه دا متوارث سنت دې. (۲) يعنی د اول نه واخله تر اوسه پورې په هغه زمانه کښې د ټولې دنيا مسلمانانو به دې په اوښ کښې نحر اوپه غواه ګډه کښې ذبح اختيا رکړې ده.

---

۱ – تقدم تخريجه في النفقات)

۲) تقدم تخريجه الحج)ـ

② او په اوښ کښې د ټولو رګونو اجتماع په منحر کښې ده.او په غوا او چيلۍ کښې (د رګونو اجتماع مذبح (په ځائي د ذبح) کښې ده.

دليل الكراهة> دا خبره معلومه شوه چې په اوښ کښې نحر او په غوا او چيلۍ کښې ذبح سنت او مستحب ده.او د سنت په مخالفت سره کراهت راځي.نوکه يو کس د نحر په ځائي ذبح اوکړه يا ئې د ذبحې په ځائي نحر اوکړو.نودا به مکروه وي.

د ذبح شوګو نه پس د خيټې د مړ بچي حکم

وَمَنْ نَحَرَ نَاقَةً او چا چه اوښه نحر کړله أَوْذَبَحَ بَقَرَةً يا ئې غوا ذبح کړله فَوَجَدَ فِي بَطْنِهَا جَنِينًا مَيِّتًا لَمْ يُؤْكَلْ نو وې موندلو ددې په خيټه کښې مړ بچې نو خوړلې به نشی أَشْعَرَ که ددې ايخته راختلې وی اولَمْ يُشْعِرْ او که نه وی راختلې

حل اللغة > ① **نحر:** د اوښ ذبح کول ② **بطن:** خيټه]

تشريح > اوښه يا غوا وغيره ذبح کړې شوه.او ددې د خيټې نه مړ شوې بچې راو وتلو.نو د امام ابوحنيفه، امام زفر او د امام حسن بن زياد ﷭ مذهب دا دې.چه دا به خوړلې نشی.که ددې ايخته راختلې وی.او که نه وی راختلې.او که پيدائش کښې پوره وی.او که پوره نه وی.په ټولو صورتونو کښې هم دا حکم دې.(١)

دليله> جنين پخپل ژوند کښې مستقل دې.هم دا وجه ده.چه د مور د مرګ نه روستو د جنين ژوند متصور(او منلې شوې) دې.بلکه داسې واقع شوی دی.لکه څنګه چه امام طحاوی ﷫ سره دا واقعه پيښه شوې وه.يعنی امام طحاوی ﷫ چه پيدا شونو مور ئې د دوی په ولادت کښې شهيده شوه.هرکله چه د جنين مستقل کيدل ثابت شو.نو ددې به جدا ذکاة کول ضروری وی.

مسلك الصاحبين> صاحبينو ﷭ قول دا دې.چه کله دا پيدائش کښې پوره شوې وی.نو خوړلې به شی.ګنی خوړلې به نشی.اودا د امام شافعی مذهب هم دې.

دلائلهما> ① د صاحبينو دليل نقلی دا دې.چه د نبی کريم ﷺ ارشاد دې.ذَكَاةُ أُمِّهِ ذَكَاةُ الْجَنِينِ(٢) چه ،، د مور ذکاة د جنين ذکاة دې،، ددې حديث نه معلومه شوه.چه مور ذبح کول، دا د بچی ذبح کول دی.نو بيا به ددې خوراك جائز وی.

② عقلی دليل دا دې چه جنين حقيقتاً هم او حکماً هم، د مور جزء دې.هرکله چه دا هر اعتبار سره د مور جزء دې.نو د مور ذکاة د جنين ذکاة کيدل پکار دی.حقيقتاً د جزء کيدو دليل دا دې.چه جنين مور سره متصل دې.اوکه دا جدا کول وی. نو د مور نوم وغيره کټ کولو سره به جدا کولې شی.او د مور غذا نه دا غذا حاصلوی.د مور په ساه اخستلو سره دا ساه اخلی.ددې ټولو خبرو نه معلومه شوه.چه جنين د حقيقت په اعتبار سره دمور جزء دې.
حکماً د مور د جزء کيدو دليل دا دې.چه کله مور خرڅولې شی.نو په دې کښې جنين هم داخليږی. او کله چه مور آزادولې شی.نو جنين هم آزاديږی.بهرحال هرکله چه جنين د مور جزء اوګرځيدو.نو د مور

(١) القول الراجح هذا قول ابي حنيفة كذا في الدرالمنتقى (١٦٠/٤) والبحرالرائق (٣١٢/٨) ورد المحتار (٢١٤/٤) والجوهرة النيرة (٢٧٨/٢) نقلاً عن القول الراجح (٢٨٩/٢)۔

(٢) من حديث ابي سعيدالخدري ﷺ اخرجه ابوداودفي الضحاياباب ١٨ رقم ٢٨٢٨ والبيهقي في السنن الكبري (٥٦١/٩) رقم ١٩٤٨٨)۔

ذکاة د جنین ذکاة کیدل پکار دی.او دا داسې ده.لکه څنګه چه ښکار کښې د ذکاة اختیاری نه د عاجز کیدو په وجه د ذکاة اضطراری نه کار اخستلې شي.دغه شان دلته هم د جنین د ذکاة نه عجز دې.نو ددې د مور په ذکاة باندې به اکتفاء کولې شي.

د کومو ښکارو او مارغانو خوراك حلال دي ؟

وَلَا يَجُوْزُ أَكْلُ ذِيْ نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ او جائز نه دی په درنده ګانو کښې ذوناب (په غاښونو سره ښکار کونکی) خوړل وَلَا ذِيْ مِخْلَبٍ مِنَ الطُّيُوْرِ او نه په مارغانو کښې ذومخلب (په پنجو سره ښکار کونکې د) خوړل

حل اللغة ۞ ①ناب: هغه غاښ دې.چه دا پورته او لاندې مخامخ څلورو غاښونو (رباعیاتو) سره ملاو شوی وی.چه دې ته داړه وائي.او مخلب پنجه، خو مراد دا دې.کوم چه مونږ ذکرکړې دې.چه کوم په خوله او پنجو سره ښکار مړ کوی. ② الطیور:جمع د طیر: پرندې، مرغئ ③ مخلب: مخوکه]

تشریح ۞ په ښکاورو کښې بعضې څلور څپو والا دی.او بعضې الوتونکی ښکاور دی.بیا په دې داړو کښې بعضې داسې دی.چه دا نور ښکاور ماتوی.او خوری.او بعضې داسې نه دی.لکه کونتره، او کوړکوره وغیره چه مارغان دی.خو درندې نه دی.اولکه میښې او غواګانې اوښ وغیره چه څلورو څپو والا دی.خو درندې نه دی.او لکه شیر،پړانګ، پیشو، لومبړه، زمرې وغیره څلورو څپو والا دی.او ماتونکی درندې دی.او دغه شان باخه، باز،او کارغه وغیره مارغان دی.خو پخپلو څپو سره ښکاره مړ کوی.او شلوی.او خوری.نو دا د مارغانو نه درندې دی.بهرحال درنده که څلورو څپو والا وی.یا مارغه وی.ددې خوراك حرام دې.

دلیله ۞ څکه چه د نبی کریم ﷺ حدیث دې نَهٰى عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِيْ مِخْلَبٍ مِنَ الطُّيُوْرِ وَكُلِّ ذِيْ نَابٍ [1] چې دوی ﷺ د هرقسمه ذی مخلب مارغانو نه،او د هرقسمه ذی ناب د درنده ګانو نه،

الاستدلال ۞ مرغینانی ﷫ په هدایه کښې فرمائي.چه په ذکر شوی حدیث کښې ،، من السباع ،، د ،، ذی مخلب،، او،، ذی ناب ،، نه روستو راغلې دې.نو ،،سباع ،، به ،، ذی مخلب،، او،، ذی ناب ،، دواړو ته شامل وی.یعنی په سباع کښې درنده ګان هم داخل دی.او مارغان هم.هرهغه ښکاور چه دهغې ناب (غاښ) وی.او مخلب (پنجه) وی.د هغې په سباع کښې شاملیدل ضروری نه دی.بلکه ضروری دا ده.چه دا شلونکې وی.،، کما مر،، بیا نې د درندې تعریف اوکړو.چه کوم غټه کونکې وی.د هغې تعلق که مارغانو سره وی.او که څلورو څپو والا سره وی.او لوټ کونکې وی.نوکه شیر صوفی جوړ شي.او حمله نه کوی.نو اوس هم هغه درنده دې.څکه چه دده په عادت کښې دا مذکوره صفات شامل دی.

د فصل د کارغه خوړلو حکم

وَلَا بَأْسَ بِأَكْلِ غُرَابِ الزَّرْعِ او د فصل په کارغه کښې هیڅ حرج نشته

تشریح ۞ کوم کارغه چه د فصل دانې خوری.او ګندګی نه خوری.د هغې په خوړلو کښې هیڅ باك نشته.
دلیله ۞ څکه چه دا ګندګی هم نه خوری.او په درنده ګانو کښې هم نه شمارلې کیږی.
الفائدة ۞ کارغان په درې قسمه دی① کوم چه صرف دانې خوری.او دا مکروه نه دی.

---

[1] من حدیث ابن عباس ﷠ اخرجه مسلم فی الصید والذبائح رقم ١٦)۔

② کوم چه صرف گندگي خوري.او دا مکروه دی.
③ کوم چه کله داني خوري.او کله گندگي خوري.دا د امام صاحب رحمه الله په نیز مکروه نه دی.او د امام ابویوسف رحمه الله په نیز مکروه دی.[کذا في مجمع الانهر ص:۴۹۵،ج۲]
په حضرت مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله باندې چه کومو خلقو د غراب (کارغه) د حلت په مسئله کښې اعتراض کړې دې.هغوی د احنافو امامانو د اقوالو نه ناخبره دی.

د ابقع او غداف (کارغانو) خوړلو حکم

وَلَا يُؤْكَلُ الْأَبْقَعُ او ابقع (تور او سپین کارغه) به نشي خوړلې الَّذِي يَأْكُلُ الْجِيَفَ کوم چه گندگي خوري ،

حل اللغة ① **الابقع**: تور او سپین کارغه
تشریح ‹‹ابقع›› هغه کارغه کوم تور او سپین وی.یعنی دیسی کارغه، چه ددې د سټ رنګ د خپو په نسبت سپین وی.گویا چه دا د ذکر شوو دریو اقسامونو نه د یو قسم بیان دې.‹‹غداف›› هم یو قسم کارغه دې.چه دا د سختې گرمۍ په زمانه کښې راځي.او په قول د ابن فارس غټ، دروند، د غټو خپو والا وی.چونکه دا هم گندگي خوري.نو ددې خوراك به هم د ابقع (تور اوسپین کارغه) پشان مکروه وی.

د کومو ځناورو خوراك مکروه دې ؟

وَيُكْرَهُ أَكْلُ الضَّبُعِ وَالضَّبِّ وَالْحَشَرَاتِ كُلِّهَا او کوګ او سمساره او ټول په زمکه باندې توخیدونکی (خوئیدونکی) ځناور (چینجي وغیره) مکروه دی

حل اللغة ① **الضبع**: کوګ ② **الضب**: سمساره
تشریح کوګ (غوښه خوړونکی ځناور)، سمساره، مچئ او د ټولو حشرات الارض خوراك مکروه دې.
دلیل کراهة الضبع د کوګ د کراهت دلیل دا دې چې دا درنده دې.او د درنده ګانو د خوراك عدم جواز وړاندې سره د دلیل نه ذکر شوې دې.
دلیل کراهة الضب د سمساره د کراهت دلیل دا دې.چه حضرت عائشه رضي الله عنها د نبی کریم ﷺ نه د سمساره دخوراك په باره کښې تپوس اوکړو.نو نبی کریم ﷺ منع اوفرمائیله.[1]
دلیل کراهة حشرات الارض د ټولو حشرات الارض مکروه کیدو دلیل دا دې.چه سمساره مکروه دې.او سمساره د حشرات الارض ځنې دې.نو د باقي حشراتو به هم دا حکم وی.

د ساتلو شوو خرو او خچرو غوښه خوړل حرام ده

وَلَا يَجُوزُ أَكْلُ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ وَالْبِغَالِ او د ساتلو شوو خرو او خچرو خوراك جائز نه دې

حل اللغة ① **الحمر**: جمع دحمار، خر ② **البغال**: جمع د بغل، قچر
تشریح د ساتلو شوو خرو او خچرو غوښه خوړل جائز نه ده.
دلائل ① د حضرت خالد رضي الله عنه نه روایت دې چې أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عَنْ لُحُومِ الْخَيْلِ وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيرِ

[1]) اخرجه ابوداود في الأطعمة باب ۲۷ رقم ۳۷۹۶-

(١) چه نبی کریم ﷺ د اسونو او خچرو او خرو د غوښو نه منع فرمائیلي ده

② د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت دي أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَهْدَرَ الْمُتْعَةَ وَحَرَّمَ لُحُومَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ يَوْمَ خَيْبَرَ (٢) چه نبی کریم ﷺ د خیبر په ورځ متعه باطل ګرځولي ده او د ساتلو شوو خرو غوښي ئې حرام اوګرځولي.

حدیث پیش کړي شوي دي.چه په دي کښي د ممانعت صراحت دي.

د اس د غوښي حکم

وَيُكْرَهُ أَكْلُ لَحْمِ الْفَرَسِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د اس غوښه مکروه ده

حل اللغة ① **الفرس**: اس ② **الاهلية**: په کور کښي پاللي شوي ③ **لحوم**: جمع د لحم،غوښه]

تشریح د امام صاحب رحمه الله په نیز د اسونو غوښه مکروه ده.

دلائله ① امام ابوحنیفه رحمه الله د آیت نه استدلال کړي دي.آیت دا دي.﴿وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً﴾ او الله تعالي اسونه او خچر او خره پیدا کړی دی.چه تاسو په دي باندي سواره شئ.او د ښائست دپاره،، نو الله تعالي په دي آیت کښي بنده ګانو باندي خپل احسان زباتی.نو که ددي خوراك جائز وي.نو خوراك دټولو نه اعلی منفعت دي.نو بیا به ددي ضرور ارشاد فرمائیلو.یعنی الله تعالی به فرمائیلی وو.چه مونږ دا پیدا کړل.چه تاسو دا خورئ.او الله حکیم ذات دي.او حکیم چه کله احسان زباتی.نو لوئي نعمت نه پریخودلو او وړوکی نعمت سره احسان نه زباتی.نو ددي آیت نه معلومه شوه.چه د اس غوښه به نشي خوړلي.

② او اس سره په دښمن رعب اچولي شی.نو بیا به احتراماً ددي خوراك مکروه وی.او په دي وجه چه اس د دښمن مرعوب کولو آله ده.نو ددي دپاره د مال غنیمت نه حصه مقرر شوي ده.چه ددي تفصیل د هدایة په دریم جلد کښي ذکر دي.

③ اوکه دا جائز اوګرځولي شی.نو د جهاد آله کمول به لازمیږی.په دي وجه هم ددي خوراك مکروه دي.

مسلك الصاحبين د صاحبینو په نیز جائز ده.او دامام شافعي هم دا مذهب دي. (٣)

دليلهما د حضرت جابر رضی الله عنه حدیث دي أَنَّهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ وَأَذِنَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ يَوْمَ خَيْبَرَ (٤) چه رسول الله ﷺ د خیبر په ورځ د ساتلو شوو خرو د غوښو نه منع اوفرمائیله او د اسونو د غوښو ئې اجازت ورکړو.

الجواب عنه ددي جواب دا دي چه د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه په حدیث کښي حرمت ښکاره دي.نو په دي دواړو حدیثونو کښي تعارض شو.او کله چه په حلال اوحرام کښي تعارض وی.نو حرام ته ترجیح ورکولي شی.نو د حضرت خالد رضی الله عنه حدیث چونکه محرم دي.په دي وجه به دي ته ترجیح ورکولي شی.

---

(١) من حديث خالد بن وليد رضی الله عنه اخرجه ابوداود في الأطعمة باب ٣٢ رقم ٣٨٠٦ وابن ماجه في الذبائح باب ١٤ رقم ٣١٩٨ والنسائي في الصيد باب ٣٠ رقم ٤٣٣١ـ

(٢) اخرجه البخاري في المغازي باب ٤٠ رقم ٤٢١٩ ومسلم في الصيدوالذبائح رقم ٣٦)

(٣) القول الراجح هو هذا قول الصاحبين. رحمهما الله كذا في ردالمحتار (٥\٢١٤) والدر المنتقى (٤\١٦١) ومجمع الأنهر (٤\١٦٢) نقلا عن القول الراجح (٢\٢٩٠)-

(٤) اخرجه البخارى في المغازى باب ٤٠ رقم ٤٢١٩ ومسلم في الصيد والذبائح رقم ٣٦ـ

نوعية الكراهة بيا د امام صاحب رحمه الله په نيز كراهت تحريمي دې.او كه تنزيهي دې.نو دواړه قوله شته.خو كراهت تحريمي زيات صحيح دې.پاتې شو د اسپې پې؛ نو په دې كښې د جهاد په آله كښې هيڅ كمي نه لازميږي.نو دا جائز دی.په [سكب الانهر ص:۴۳۶،ج۲] باندې ددې زيات تفصيل موجود دې.چه په دې كښې مفتى به قول كراهت تنزيهي نقل كړې دې.

د سويه (خرګوش) خوړلو حكم

(وَلَابَأْسَ بِأَكْلِ الْأَرْنَبِ) او په سويه خوړلو كښې هيڅ باك نشته

حل اللغة ① **الارنب:** سويه

تشريح سويه خوړل جائز دی.

دلائله ① ځكه چه نبى كريم ﷺ پخپله هم اوخوړله.او خپلو اصحابو رضي الله عنهم ته ئې د خوراك حكم اوفرمائيلو. (1)

② او دا نه درنده ده.او نه ګندګې خورې.نو دا د اوسئ مشابه شوه.

په ذبح سره د كومو ځناورو غوښه او څرمن پاكيږي او د كومو نه پاكيږي؟

وَإِذَاذُبِحَ او كله چه هغه ځناور ذبح كړې شو مَالَايُؤْكَلُ لَحْمُهُ د كوم غوښه چه نشي خوړلې طَهُرَجِلْدُهُ وَلَحْمُهُ نو ددې څرمن او غوښه به پاكيږي

حل اللغة ① **جلد:** څرمن

تشريح ذكاة سره چه لكه څنګه په ماكول اللحم ځناورو كښې غوښه حلاليږي.په غير ماكول اللحم ځناورو كښې غوښه او څرمن پاكيږي.اګرچه غوښه نه حلاليږي. (2)

دليله ځكه چه ذكاة شرعي سره بهيدونكې وينه او نجس رطوبات خارجيږي.نو غوښه پاكيږي.

إِلَّاالْآدَمِيَ وَالْخِنْزِيرَ خو سړې (بنيادم) او خنزير(ددې نه مستثنى دی)،

تشريح البته د سړي او خنزير څرمن نه دباغت (رنګ كولو) سره پاكيږي.او نه ذكاة سره،

دليله د بنيادم څرمن ځكه نه پاكيږي.چې ده ته الله تعالى عزت وركړې دې.اوده نه په مرونى څرمن ويستل دده اهانت دې.اود خنزير څرمن ځكه نه پاكيږي.چې هغه نجس العين دې.

د اوبو په ځناورو كښې د كومو ځناورو خوراك حلال دې؟

وَلَايُؤْكَلُ مِنْ حَيَوَانِ الْمَاءِإِلَّاالسَّمَكُ او د اوبو په ځناورو كښې د كب نه علاوه به هيڅ نه خوړلې كيږي

---

(1) قال الزيلعى رحمه الله كالمما حديثان فالأول ...عن انس رضي الله عنه قال نفجنا ارنباً بمرالظهران فسعى القوم فلغبوا فادركتها فاخذتها فاتيت بها اباطلحة فذبحها وبعث بوركها الى رسول الله ﷺ اوقال فخذيها فقبله قلت واكل منه؟ قال اكل منه ثم قال بعد قبله اخرجه البخارى فى الهبة باب ٥ ومسلم فى الصيد والذبائح رقم ٥٣ والترمذى فى الأطعمة باب ٣٢ والنسائى فى الصيد باب ٢٥ وابن ماجه فى الصيد باب ١٧) وفى حديث ابى هريرة رضي الله عنه قال جاء أعرابى الى رسول الله ﷺ بارنب قد شواها فوضعها بين يديه فامسك رسول الله ﷺ فلم ياكل وامرالقوم ان ياكلوا قال الزيلعى رحمه الله اخرجه النسائى (نصب:٤\٨٨)۔

(2) **مسلك الشافعي:**- د امام شافعى رحمه الله نه نقل دی.چه په غير ماكول اللحم كښې به ذكاة اثر نه كوی.

حل اللغة ﴿ ① **السمک:** کب ماهی

تشریح ﴿ د دریاب په ښناورو کښې صرف کب جائز دي.نور هیڅ جائز نه دی.([1])

دلیله ﴿ په کومه دوائی کښې چه چینډخ اچولې شوې وی.د داسې دوائی نه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده. ([2]) که چنډخ جائز وې.نو د دوائی به نې منع نه فرمائیله. دویم حدیث: په حدیث کښې د سرطان (کونی کبن) د بیع نه ممانعت فرمائیلې شوې دې.او وړاندې معلومه شوې ده.چه د بیع او خوړلو حکم یو دې.

پخپل مرګ د مړشوی کب حکم

وَيُكْرَهُ أَكْلُ الطَّافِي مِنْهُ او په کبانو کښې طّافی (کوم چه مړشی.او التِه شی) مکروه دی

تشریح ﴿ هرقسم کب حلال دې.که ژوندې وی.او که مړ وی.البته کوم کب چه پخپله دځه آفت او مصیبت نه بغیر مړ شی.او په دریاب کښې التِه شی.چه خیټه ئې پورته شی.او شا ئې لاندې شی.چه دې ته طّافی وائی.دا مکروه تحریمی دې. ([3])

دلیله ﴿ دلیل د حضرت جابر ؓ هغه حدیث دې.چې نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی مَا نَضَبَ عَنْهُ الْمَاءُ فَكُلُوا وَمَا لَفَظَهُ الْمَاءُ فَكُلُوا وَمَا طَفَا فَلَا تَأْكُلُوا ([4])د کوم کب نه چه اوبه اوچې شوې وی نو ته هغه اوخوره.او کوم چه دریاب راوغورځولو هغه خوره.او کوم چه التِه شو نو هغه مه خوره،

کب سره د خپلو ټولو اقسامو حلال دې .او د امام مالك ؒ نقطه نظر

(وَلَا بَأْسَ بِأَكْلِ الْجِرِّيثِ وَالْمَارْمَاهِي وَالْجَرَادِ بِلَا ذَكَاةٍ او جریث (یوقسم کب دې) مار مهې او د کب د ټولو اقسامو او د ملخ په خوراك کښې هیڅ باك نشته

حل اللغة ﴿ دکب په قسمونو کښې یو جریث (یوقسم کب دې) دې.چه دا تور وی.او یو مارمهې دې.چه دې ته بام وائی.چه دا د مار مشابه وی.

تشریح ﴿ که هر قسم کب وی.او ملخ دواړه د ذکاة (ذبح) نه بغیر خوړلو کښې هیڅ باك نشته. ([5])

---

[1] **مسلك الائمة:**-او امام مالك، ابن ابی لیلی او اصحاب الظواهر او د امام شافعی ؒ په یو قول کښې د دریاب هر ښناور حلال دې.اګرچه دا د دریاب خنزیر، او سپې، او انسان ولې نه وی.
د امام شافعی ؒ یو قول دا دې.چه ټول ښناور حلال دی.خو دریابی خنزیر او سپې او انسان جائز نه دې.هم دا د لیث ؒ قول دې.او د امام شافعی ؒ دریم قول دا دې.چه د چینډخ نه علاوه ټول ښناور حلال دی.

[2] من حديث عبدالرحمن بن عثمان القرشي ان طبيباً سال رسول الله ﷺ عن الضفدع يجعلها في دواء فنهى عن قتلها) اخرجه أبوداود في الطب باب ۱۱ واحمد في المسند(۳\۴۵۳) والحاكم في المستدرك (۴\۴۴۵) والنسائي في الصيد باب ۳۶ رقم ۴۰۶۲)۔

[3] **مسلك مالك والشافعي:**-امام مالك او امام شافعی ؒ دا هم حلال ګرځولې دې.

[4] – قال الزيلعي ؒ غريب بهذا اللفظ واخرج أبوداود (اى في الأطعمة باب ۳۵ رقم ۳۸۱۵) عن جابر ؓ ان رسول الله ﷺ قال ما ألقاه البحر أو جزر عنه فكلوه وما مات فيه وطفا فلا تأكلوه (نصب: ۴۹۲)۔

[5] **مسلك مالك:**-امام مالك ؒ فرمائی.چه ملخ ذبح کول ضروری دی.یعنی دا چه ددې سر جدا کړې شی.

دلائله ① حديث كښې راغلی دی.چه (أحلت لنا ميتتان) په دې كښې كب او ملخ دواړه داخل دی.نو لكه څنګه چه كب د ذكاة نه بغير خوړل جائز دی.دغه شان به ملخ هم د ذكاة نه بغير خوړل جائز وی.
② د حضرت علی رضی الله عنه نه دهغه ملخانو په باره كښې تپوس اوكړې شو.چه په دې كښې بعضې مړه شوی وی.او بعضې ژوندی وی.نو هغوی اوفرمائيل كُلُّهُ كُلُّهُ (۱).، كله كله ،،دا ټول خورئ.نو ددوی دا فرمان په اباحت باندې دلالت كوی.اګر چه دا پخپله مړ شوې وی.او دا جمله د حضرت علی رضی الله عنه په فصاحت كښې شمار كړې شوې ده.څكه چه دوه د يو شكل جملې ئې اوفرمائيلې.او معنی ئې جدا جدا ده.

القاعدة في السمک د كب په باره كښې دا قاعده كليه ده.چه كله دا په څه آفت سره مړ شی.نو دا به حلال وی.اوكه د څه آفت نه بغير مړ شی.نو دا به حلال نه وی.ړومبې لكه مثلاً هغه كب كوم چه ښكاری اونيولو (نو حلال دې).او دويم لكه طافی،(او دا) مكروه دې.

كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ

ترجمه (دا) كتاب د قربانئ (د احكامو په بيان كښې) دې.

تشريح د لفظ ،، اضحيه ،، تحقيق په ذبح او قربانئ كښې د عموم خصوص مطلق نسبت دې.ړومبې عام او دويم خاص دې.لكه حيوان او انسان، او د عام نه پس د خاص ذكر كول زيات مناسب دی.څكه چه عام د خاص جزء وی.مثلاً حيوان د انسان جزء دې.څكه چه د انسان ماهيت حيوان ناطق دې.او جزء طبعاً مقدم وی.نو وضعاً هم جزء مقدم كړې شوې دې.

الاضحية لغة **الأضحية** اصل كښې د ،، **أفعولة** ،،په وزن باندې، **أضحوية** ،، وو.په علم الصيغه كښې د ذكر شوې څوارلسم نمبر قاعدې مطابق ،، **اضحية** ،، شو.د لغت په اعتبار سره ،، **أُضْحِيَّة**،، هغه څاروی ته وئيلې شی.كوم چه د قربانئ په ورځو كښې ذبح كړې شی.يعنی دا (تسمية الشئ باسم وقته) د قبيل نه دې.

الاضحية شرعا شريعت كښې د ،، **أضحية**،، تعريف دا دې.(ذبح حيوانٍ مخصوصٍ بنية القربة في وقت مخصوصٍ)
ركنها د قربانئ سبب وخت دې.يعنی ايام نحر (د قربانئ ورځې) او په قول د بعضو راس (نصاب) دې.او ددې ركن داسې څاروې ذبح كول دی.د كوم ذبح كول چه دلته جائز دی.،، كما سيأتی،، نو چرګه وغيره دلته ذبح كول د مجوسيانو سره د مشابهت په وجه مكروه دی.او ددې حكم دنيا كښې د واجب د ذمه دارئ نه وتل دی.او په آخرت كښې د صحيح نيت په شرط د الله تعالى په فضل ثواب حاصلول دی.

شروطها ① اسلام ② مقيم كيدل ③ دومره مالداره كيدل چه ددې په وجه صدقة فطر واجب شی.په نورو الفاظو كښې داسې چه د قربانئ وجوب د صدقة فطر پشان د ممكن قدرت په وجه دې.د قدرت ميسره په وجه نه دې.،، والتفصيل في درس الحسامی ،،

---

(۱) قال الزيلعی رحمه الله غريب بهذا اللفظ وروی عبدالرزاق في مصنفه ...عن علی رضی الله عنه قال الحيتان والجراد ذكی كله (نصب:۴\۲۹۵)_

د قربانۍ حکم، چه دا په چا، کله او د کوم طرفه واجب ده

الْأُضْحِيَةُ وَاجِبَةٌ چه قرباني کول واجب دی عَلَى كُلِّ حُرٍّ مُسْلِمٍ په هر یو داسې آزاد باندې چه هغه مسلمان وی، مُقِيمٍ مُوسِرٍ مقیم وی، مالدار وی فِي يَوْمِ الْأَضْحَى په یوم الاضحی (ورځ د لوئې اختر کښې

تشریح ﴿ **وجوب الاضحیة** ﴾ امام طحاوی رحمه الله ذکر کړی دی چه د امام ابوحنیفه رحمه الله د قول مطابق واجب ده

دلائله ﴿ ① د وجوب دلیل دا حدیث دې. مَنْ وَجَدَ سَعَةً وَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا [1] چا ته چه د قربانۍ قدرت وی. بیا هم قربانی اونکړی. نو هغه دې زمونږ عیدګاه ته نیزدې نه راځي. دا ډیر سخت وعید دې. چه دا د واجب په پریخودو کښې وارد کیدې شی. نو ددې نه د قربانۍ وجوب ثابت شو. [2]

② اضافت سره ،، **یوم الأضحي** ،، وئیلې شی. یعنی قربانۍ طرف ته د قربانۍ د وخت اضافت کولې شی. او دا اضافت اختصاص دپاره دې. یعنی دا مختص ده. قربانۍ سره، او اختصاص به هغه وخت ثابتیږی. کله چه د قربانۍ وجود وی. او کیدې شی چه د سنت په صورت کښې ټول متکلفین په قربانۍ باندې اتفاق اوکړی نو وجود د قربانۍ دپاره وجوب ضروری دې. چه اختصاص ثابت شی. لکه یوم الجمعه، وقت الظهر، شهر رمضان کښې هم دا خبره ده.

مسلک الصاحبین ﴾ د صاحبینو رحمهما الله په نیز سنت مؤکده ده. بهرحال فتوی د قربانۍ په وجوب ده.

دلائلهما ﴾ ① د نبی کریم ﷺ حدیث دې مَنْ أَرَادَ أَنْ يُضَحِّيَ مِنْكُمْ فَلَا يَأْخُذْ مِنْ شَعْرِهِ وَأَظْفَارِهِ شَيْئًا [3] چه کوم کس د قربانۍ اراده اوکړی. نو خپل ایختـه وغیره دې نه کټ کوی. نو قربانی ئې په اراده باندې معلق کړې ده. او دا دجوب الفاظ نه دی.

② په مالی عبادتونو کښې مقیم او مسافر وی. حالانکه مسافر باندې قربانی واجب نه ده. نو معلومه شوه. چه په مقیم باندې هم واجب نه ده. ګنې د دواړو حکم مختلف کیدل به لازم شی. لکه څنګه چه زکاة مالی عباد دې. لکه څنګه چه مقیم باندې واجب دې. دغه شان مسافر باندې هم واجب ده. او لکه څنګه چه عتیره مسافر باندې واجب نه ده. نو مقیم باندې هم واجب نه ده.

المراد من القبلة ﴾ دلته د ارادې نه مراد دغه نه دې. کوم چه تاسو ګنړلې دې. چه اختیار ورکول مقصود دی. چه قربانی اوکړله. یا ئې پریږده. بلکه اراده په معنی د قصد ده. یعنی څوک چه ددې واجب ادا کولو قصد لری. نو هغه له دا کول پکار دی. چه ایختـه وغیره نه کټ کوی. او دا داسې ده. لکه (من أراد الصلاة فليتوضأ، ومن أراد الجمعة فليغتسل) نو په لفظ د ارادې سره سنت کیدو باندې استدلال صحیح نه دې.

اشتراط الحریة ﴾ ① رومبې شرط آزاد کیدل دی. ددې وجه دا ده. چه قربانۍ دپاره ملك پکار دې. او په غلام کښې د مالك کیدو صلاحیت نشته. بلکه دا مملوك دې. یعنی مالك کیدل صرف آزاد دپاره

[1] من حديث أبي هريرة رضي الله عنه اخرجه ابن ماجه في الأضاحي باب ٢ رقم ٣١٢٣) واحمد في المسند(٣٢١\٢) والدارقطني في سننه (٥٤٥\٢) والحاكم في المستدرك (٣٨٩\٢)_

[2] كما في حديث أبي هريرة رضي الله عنه اخرجه البخاري في العقيقة باب ٣ ومسلم في الأضاحي رقم ٣٨ وأبوداود في الأضاحي باب ١١ والترمذي في الأضاحي باب ١٥ والنسائي في الفرع باب ١ وابن ماجه في الذبائح باب ٢)_

[3] – من حديث ام سلمة رضي الله عنها أخرجه مسلم في الأضاحي رقم ٤١ والترمذي في الأضاحي باب ٢٢ وأبوداود في الأضاحي باب ٢ والنسائي في الضحايا باب . وابن ماجه في الأضاحي باب ١١)_

مخصوص دی.

اشتراط الاسلام> ② دويم شرط مسلمان كيدل دی.څكه چه قرباني قربت دي.او كافر د قرباتو ادا كولو اهل نه دي.

اشتراط التقييد> ③ دريم شرط مقيد كيدل دی.چه ددي دليل وراندي بيان شوي دي.يعنى (ولأن الأداء يختص بأسباب يشق....الخ)

اشتراط الغني> ④ څلورم شرط مالدار كيدل دی. چه دا وراندي ذكر شوی حديث نه معلوميږي.يعنى (من وجد سعة....الخ)

اشتراط الوقت> ⑤ پنځم شرط د قربانۍ وخت كيدل دی.يعنى ايام نحر(د قربانۍ ورځې) څكه چه قرباني هم دي ورځو سره مخصوص ده.

قرباني د كوم كوم كس د طرفه واجب ده؟

وَيَذْبَحُ عَنْ نَفْسِهِ او قرباني واجب ده.د خپل طرفه، .

تشريح> نفس مسئله آسانه ده.

دليله> څكه چه انسان اصل دی پخپل خان باندي د وجوب په سلسله كښي دهغه تفصيل مطابق كوم چه مونږ (په باب د صدقة الفطر كښي) بيان كړي دي

وَعَنْ وَلَدِهِ الصَّغِيرِ او قرباني واجب ده.د خپل وړوكي بچی د طرفه،

تشريح> نفس مسئله آسانه ده.

دليله> څكه چه دا (وړوكي بچي) دسړي د نفس په درجه كښي دي نو دا بچي به هم دده سره متعلق وی لكه څنګه چه صدقة فطر كښي (متعلق دي).

د قربانۍ كوم څاروی د څومره كسانو د طرفه كافي دي؟

وَيَذْبَحُ او سړي دي ذبح كړي عَنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ شَاةً په دوی (يعنى د خپل خان او پخپل اولاد) كښي د هر يو د طرفه يو چيلۍ أَوْيَذْبَحُ بَدَنَةً اوبَقَرَةً يا دي ذبح كړی يو اوبښ يا غوا أَوْعَنْ سَبْعَةٍ) يا يو اوبښ د اووه كسانو د طرفه

حل اللغة > ① **بدنة**: د بدنة اطلاق په غوا اوبښ وغيره باندي كيږی په كوم كښي چه اووه كسان شريكيدي شی]

تشريح > د چيلۍ قرباني صرف د يوكس د طرفه كيدي شی.او غټو څاروو لكه د غوا او اوبښ وغيره د اووه كسانو د طرفه كيدي شی.

دليله> عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ [1]

---

[1] – اخرجه مسلم فی الحج رقم ١٣٨ وأبوداود فی الأضاحی باب ٢ والترمذی فی الحج باب ٦٦ وابن ماجه فی الأضاحی باب ٥ والدارمی فی الأضاحی باب ٥ ومالك فی الضحايا رقم ٩)۔

حضرت جابر رضی الله عنه فرمائي چې مونږ د نبی کریم ﷺ سره د اووه کسانو د طرفه غواه او د اووه کسانو د طرفه اوښ قرباني کړې وو.

القياس> د قیاس تقاضا په غټ څاروی کښې دا وه.چه صرف د یو کس د طرفه وی.

دليله> ځکه چه دا هم یو نفس دې.او وینه تویول هم دواړو کښې یو دی.زیات نه دی.او وینه تویول قربت دې.

په مسافر او غريب باندې قرباني واجب نه ده

وَلَيْسَ عَلَى الْفَقِيرِ وَالْمُسَافِرِ أُضْحِيَةٌ او په فقیر او مسافر باندې قرباني نشته

تشريح> په مسافر او غریب باندې قربانۍ نشته.

دليله> حضرات شیخین رحمهما الله چې به کله مسافر وو.نو هغوی به بعضې ځل مطلقاً قربانی پریخودله.(۱)په دې یره چه خلق دا فرض او نه ګنړی.

د قربانۍ وخت او ورځې

وَوَقْتُ الْأُضْحِيَةِ يَدْخُلُ او د قربانۍ وخت داخليږی بِطُلُوعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ د یوم النحر (د قربانۍ د ورځې) د فجر (سحر) راختلو نه إِلَّا أَنَّهُ لَا يَجُوزُ لِأَهْلِ الْأَمْصَارِ الذَّبْحُ، خو دا چه د ښار خلقو دپاره ذبح جائز نه ده حَتَّى يُصَلِّيَ الْإِمَامُ صَلَاةَ الْعِيدِ تردې چه امام د اختر مونځ اوکړی فَأَمَّا أَهْلُ السَّوَادِ نو بهرحال دکلو خلق فَيَذْبَحُونَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ نو هغوی دې ذبح کوی د صبا نه روستو،

حل اللغة> ① **السواد**: کلې والی ② **الامصار**: جمع د مصر،ښار]

تشريح> ایام نحر (د قربانۍ ورځې) درې دی.(۱۰،۱۱،۱۲) خو د ښار خلقو دپاره د اختر مانځه نه وړاندې قرباني کول جائز نه دی.البته کوم ځائې چه د جمعې او اخترونو مونځ مشروع (روا) نه دې.هغوی د قربانۍ په ورځ د صبح صادق (سحر) نه پس ذبح کولې شی.

دليله> إِنَّ أَوَّلَ نُسُكِنَا فِي هَذَا الْيَوْمِ الصَّلَاةُ ثُمَّ الْأُضْحِيَةُ (۲) نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چې زمونږ رومبې عمل نن ورځ مونځ دې بیا قربانی ده.

د قربانۍ ورځې

وَهِيَ جَائِزَةٌ فِي ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ او قربانی جائز ده درې ورځو کښې يَوْمُ النَّحْرِ په یوم نحر (د قربانۍ په ورځ کښې) وَيَوْمَانِ بَعْدَهُ او ددې نه روستو دوو ورځو کښې،

تشريح> د قربانۍ ورځې درې دی.(۱۰،۱۱،۱۲) او د تشریق ورځې درې ورځې دی.(۱۱،۱۲،۱۳) (۳)

دليله> دلیل د حضرت عمر،حضرت علی،او د حضرت ابن عباس رضی الله عنهم حدیث دې.چه (ایام النحر ثلاثة ایام

---

۱ – قال الزيلعي رحمه الله رواية غريبة وجهل من استشهد بحديث مخنف بن سليم المتقدم(نصب:٤\٢٠٥)۔

۲ من حديث براء بن عازب رضی الله عنه اخرجه البخاری فی العيدين باب ۸ ومسلم فی الأضاحی رقم ۷ والنسائی فی العيدين باب ۸)

۳ **مسلک الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله تشریق ورځې د قربانۍ ورځې ګنړی.اوفرمائی چې د اختر د څلورمې ورځې پورې قربانی کیږی.

افضلها اولها) (۱) او دا داسې څيز دې.چه دلته قياسي پابندئ کار نه کوی.نو معلومه شوه.چه دې حضراتو کوم څه فرمائيلی دی.د نبی کريمﷺ نه ئې اوريدلی دی.نو فرمائيلی ئې دی.يعنی دا په سماع باندې محمول ده.

افضلها اولها رومبئ ورځ غوره ده.

دليله ددې دليل دغه دې.کوم چه دغه حضراتو فرمائيلې دې.

د څومره عيبدارو څاروو قربانی جائز نه ده؟

وَلَا يُضَحَّى بِالْعَمْيَاءِ وَالْعَوْرَاءِ چه قربانی به نه کوی.د ړندو،او نه د کانړا(چه په يو سترګه ړوند وی)، وَالْعَرْجَاءِ الَّتِي لَاتَمْشِي إِلَى الْمَنْسِكِ اونه هغه ګوډ، کوم چه مذبح (ځائې د حلالې) ته نشی تللې وَلَا الْعَجْفَاءِ او نه د ډير کمزور (او تپ څاروی).

تشريح نفس مسئله آسانه ده.

دليله دنبی کريمﷺ فرمان دې لَاتُجْزِئُ فِي الضَّحَايَا أَرْبَعَةٌ: الْعَوْرَاءُ الْبَيِّنُ عَوَرُهَا وَالْعَرْجَاءُ الْبَيِّنُ عَرَجُهَا وَالْمَرِيضَةُ الْبَيِّنُ مَرَضُهَا وَالْعَجْفَاءُ الَّتِي لَاتُنْقِي(۲) په قربانو کښې څلور څاروی جائز نه دی هغه کانړا (چغوت) چه دده کانړاتوب ښکاره وی او هغه ګوډ چه دده ګوډ کيدل ښکاره وی او هغه بيمار چه دده مرض ښکاره وی دې او هغه کمزور چه دده سرب کيدل نه کيږی

وَلَا تُجْزِءُ مَقْطُوعَةُ الْأُذُنِ وَالذَّنَبِ او جائز نه ده غوږ او لکئ کټ شوې

تشريح قاعده دا ده.چه د معمولی عيب نه خو څاروې خالی نه وی.نو ددې نه خالی کيدا شرط نه دی. البته د زيات عيب نه خالی وی.نو ددې نه خالی کيدل شرط دی.باقی خبرې ښکاره دی.ددې قاعدې مطابق که غوږ يا لکئ ئې کټ وی نو قربانئ پرې جائز نه ده.

دليله د نبی کريمﷺ فرمان دې اسْتَشْرِفُوا الْعَيْنَ وَالْأُذُنَ(۳) چه سترګه او غوږ ښه ګورئ يعنی ددې دواړو سلامتيا ګورئ او لکئ چې کټ وی نو هم پرې قربانی نه کيږی ځکه چې چه دا يو کامل اندام دې او دا مقصودنو دا د غوږ پشان شو.

څومره مقدار به عيب شمارلې شي؟

وَلَا الَّتِي ذَهَبَ أَكْثَرُ أُذُنِهَا وَذَنَبِهَا او جائز دې هغه څاروې چه دده د غوږ او لکئ زياته حصه ختم شوې وی،وَإِنْ بَقِيَ أَكْثَرُ مِنَ الْأُذُنِ وَالذَّنَبِ او که د غوږ او لکئ زياته حصه باقی وی جَازَتْنو جائز ده

حل اللغة ① الاذن: غوږ ② الذنب: لکئ

---

[1] – قال الزيلعي رحمه الله غريب جداً وتقدم نحوه في الحج في الحديث الرابع والستين وروى مالك في الموطاء عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنهما انه كان يقول الأضحى يومان بعد يوم الأضحى انتهى وقال مالك انه بلغه أن على بن أبي طالب رضي الله عنه كان يقول مثل ذلك(نصب: ٤\٥٠٥)۔

[2] – من حديث براء بن عازب رضي الله عنه اخرجه ابوداود في الأضاحي باب ٦ رقم ٢٨٠٢ والترمذى في الأضاحي باب ٦٥ والنسائي في الضحايا باب ٥ وابن ماجه في الأضاحي باب ٨ رقم ٣١٤٤ ومالك في الضحايا رقم ١)۔

[3] – من حديث على رضي الله عنه اخرجه ابوداود في الأضاحي باب ٦ رقم ٢٨٠٤ والترمذى في الأضاحي باب ٦ والنسائي في الضحايا رقم ٤٣٧٢ وابن ماجه في الأضاحي باب ٨ رقم ٣١٤٢)۔

تشریح ﴿ دکوم ځاروي چې زیاته حصه د غوږ یا د لکۍ نه وي نو په هغې قرباني نه کیږي.اوکه زیاته باقي وي نو په هغې قرباني کیږي.

دلیله ﴿ ځکه چه کومه حصه باقي وي او کومه ختمه شوې وي نو په دې کښې اکثر لره د کل حکم دې یعنی که باقي زیاته وي نو دا به کل حسابیږي اوکه ختمه شوې زیاته وي نو هغه به کل حسابیږي. او وراندې تیر شو چې غوږ یا لکۍ ئې نه وي نو په هغې قرباني نه کیږي.دغه شان به په دې هم نه کیږي.چې اکثره حصه ئې نه وي.اوکه معمولي عیب وي.نو ددې نه بچ کیدل ممکن نه دي.نو دا به معاف ګرځولې شي.

که ښکرې بالکل نه وي یا مات شوي وي نو د قربانۍ حکم

وَيَجُوزُ أَنْ يُضَحِّيَ بِالْجَمَّاءِ او د جماء قرباني جائز ده

حل اللغة ﴿ ① **الجماء:** بې ښکرو

تشریح ﴿ ښکرې ئې بالکل نه وي.یا ماتیدل، د قربانۍ د جواز دپاره مانع نه دي.البته که ښکرې د جرړې نه اوخې.چه د ماتیدو اثر دننه پورې اورسیږي.نو ددې قرباني به جائز نه وي.[شامي ص: ۲۰۵، ج۵]

دلیله ﴿ ځکه چه ښکرپورې هیڅ مقصود متعلق نشته.نه دا غوښه ده چې څوك ئې اوخوري.اونه بل څه د فائدې څیز دې.

د خصي د قربانۍ حکم

وَالْخَصِيِّ او د خصي قرباني جائز ده.

تشریح ﴿ نفس مسئله آسانه ده.

دلیله ﴿ ځکه چه ددې غوښه خوږه (ترسکونه) وي او دا خبره د صحت درجې پورې رسیدلې ده چه نبي کریم ﷺ د دوو ګډانو قرباني اوکړله چه دا تور او سپین وو.(برګی) چه دا دواړه خصي وو. ([1])

د لیونی ځاروي قرباني کولو حکم

وَالْجَرْبَاءِ او په هغه ځاروي چې خارښ پرې وي وَالثَّوْلَاءِ او د ثولاء یعنی د لیوني قرباني جائز ده

حل اللغة ﴿ ① **الثولاء:** لیونۍ ② **الجرباء:** خارښتې، چه ښارښ وي پرې

تشریح ﴿ ځاروي خو غیر ذوی العقول وي.نو دلته د لیونتوب نه مراد هسې بیسه اخوا دیخوا تختې راتختې مراد دي.نو که ګیا خوري.نو ددې قرباني جائز ده.ګنی نه ده.او که خارښ دې.نو دوه صورتونه دي.چه دې خارښ سره بدن کمزورې شوې دې.او که نه؟ که کمزورې شوې دې.نو معلومه شوه.چه خارښ په غوښه کښې هم دې.نو جائز نه ده.او که بدن کمزورې شوې نه دې.نو معلومه شوه.چه خارښ په څرمنه کښې دې.نو ددې قرباني جائز ده.

قربانۍ دپاره درې ځاروي دي

وَالْأُضْحِيَّةُ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ او قرباني به د اوښ، غوا او چیلۍ وي

---

[1]) من حديث عائشة وأبي هريرة ﷺ اخرجه ابن ماجه في سننه في الأضاحي باب ۱ رقم ۳۱۲۲ وأحمد في المسند(۲۲۰\٦)ـ

تشریح > د قربانۍ دپاره صرف دا درې څاروی مخصوص دی ① اوښ ② غوا، غوئی، میښه ③ چیلۍ، ګډه او ګډ ـــ.

دلیله > د دې نه سوا په نورو څاروی قربانی ځکه نه کیږي چې زمونږ دپاره مقتدا نبی کریم ﷺ او حضرات صحابه کرام دی.او په هغوی کښې چا هم د دې نه علاوه په بل څاروی قربانی نه ده کړې . (۱)

د ګډو او چیلو د ..جذع.. او د باقی څاروو د.. ثنی.. قربانی جائز ده

وَيُجْزِئُ مِنْ ذٰلِكَ كُلِّهِ الثَّنِيُّ فَصَاعِدًا او په دې ټولو کښې ثنی یا ددې نه زیات کافی دې إِلَّا الضَّأْنَ علاوه د ګډې نه فَإِنَّ الْجَذَعَ مِنْهُ يُجْزِئُ ځکه چه ددې جذع کافی ده

حل اللغة > ① **جذع**: د ګډې یا چیلۍ هغه بچې چه د شپږو میاشتو شوې وی. ② **ثنی**: د ګډې یا چیلۍ هغه بچې کوم چه د یو کال وی.او د غوا او میښې هغه بچې کوم چه د دوو کالو وی.او د اوښې هغه بچې کوم چه د پنځو کالو وی.

تشریح > په قربانۍ کښې دې دریو وارو کښې ثنی جائز ده.یعنی چیلۍ د یو کال، غوئی د دوو کالو،او اوښ د پنځو کالو.البته چه ګډه کله چه د شپږو میاشتو وی.او سربه وی.چه دا د یو کال د ګډ برابر معلومیږی.نوددې قربانی جائز ده.د میښې او غوا یو جنس دې.

دلائله > ① د نبی کریم ﷺ فرمان دې ضَحُّوا بِالثَّنَايَا إِلَّا أَنْ يَعْسِرَ عَلَى أَحَدِكُمْ فَلْيَذْبَحِ الْجَذَعَ مِنَ الضَّأْنِ (۲) چه د دریو وارو قربانی کوئ خوداچه داپه تاسوکښې په چاباندې ګران وی نو د ګډو جذع ذبح کوئ.

② د نبی کریم ﷺ ارشاد دې نِعْمَتِ الْأُضْحِيَّةُ الْجَذَعُ مِنَ الضَّأْنِ (۳) د ګډو جذع قربانی کول غوره قربانی ده.

د قربانۍ د غوښې پخپله خوړل،یا په خلقو خوړل،یا د اوچولو حکم .

وَيَأْكُلُ مِنْ لَحْمِ الْأُضْحِيَّةِ او اودې خوری د قربانۍ د غوښې نه وَيُطْعِمُ الْأَغْنِيَاءَ وَالْفُقَرَاءَ وَيَدَّخِرُ او خوراك دې اوکړی په مالدارو اوغریبانانو،

تشریح > نفس مسئله آسانه ده.

دليله > دلیل د نبی کریم ﷺ حدیث دې چې دوی فرمائیلی دی كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْأَضَاحِيِّ فَكُلُوا مِنْهَا وَادَّخِرُوا.

(۴) د نبی کریم ﷺ د فرمان په وجه، چه ما به تاسو د قربانۍ د غوښو نه منع کولئ نو د دې نه خورئاو ذخیره کوئ (ایږدئ).

د دریمې حصې صدقه کول مستحب دی

وَيُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ لَا يَنْقُصَ الصَّدَقَةَ او مستحب دی چه صدقه کمه نکړی.مِنَ الثُّلُثِ د دریمې حصې نه،

(۱) قال الزيلعي رحمه الله أما الإبل ففي مسلم في حديث جابر الطويل ان النبي ﷺ نحر بيده يوم النحر ثلاثا وستين بدنة وأما البقر ففي الصحيحين عن جابر وعائشة رضي الله عنهما أن النبي ﷺ ضحى عن نسائه بالبقر وأما الغنم ففي الصحيحين أيضاً عن أنس رضي الله عنه ضحى بكبشين أملحين فلم ينقل خلافه (نصب:۴\۵۰۹)ـ

(۲) من حديث جابر رضي الله عنه أخرجه مسلم في الأضاحي باب ۱۳ وأبوداود في الأضاحي باب ۴ والنسائي في الضحايا باب ۱۳ وابن ماجه في الأضاحي باب ۷)ـ

(۳) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه الترمذي في الأضاحي باب ۷ وأحمد في المسند(۲\۴۴۵)ـ

(۴) من حديث جابر رضي الله عنه أخرجه مسلم في الأضاحي رقم ۲۹)ـ ۱)

تشریح ◄ د دریمې حصې صدقه کول مستحب دي.

دلیله ◄ ځکه چه دلته درې طرفه دي. ① پخپله خوړل ② په بل خوړل ③ ایخودل۔ نو د هر طرف په حصه کښې دریمه راغله.نو صدقه دې د دریمې نه کمه وي.قانع صبر کونکي،ځوك چه په نورو خلقو خپل ضرورت نه ښکاره کوي.معتر: بې صبره،کوم چه په نورو پورې اینخلی.او د غوښتلو عادت ئې وي.

د قربانۍ د څرمنې حکم

وَيَتَصَدَّقُ بِجِلْدِهَا او صدقه دې کړي د قربانۍ څرمن أَوْيَعْمَلُ مِنْهُ آلَةً یا دې د څرمنې نه داسې څیز جوړ کړي تُسْتَعْمَلُ فِي الْبَيْتِ کوم چه په کور کښې استعمال کړې شي

حل اللغة ◄ ① جلد:څرمن

تشریح ◄ د خپلې قربانۍ څرمن پخپله کور کښې ایخودل، او فائده اخستل جائز دي.خو غوره دا ده.چه صدقه کړې شي.

دلیله ◄ ځکه چې د دې نه فائده اخستل جائز دي.او د څرمنې په بدله کښې داسې څیز هم اخستلې شي.کوم چه د څرمنې پشان وي.چه ددې څیزونو باقي ساتلو سره ددې نه فائده اخستلې شي.لکه کټ، او صندوق او مصلي (جا نماز) وغیره.البته که د روپو پیسو په بدله کښې ئې څرمن خرڅه کړله.یا ئې د داسې څیز په بدله کښې (خرڅه کړله).چه دهغې نه هغه وخت نفع اخستلې شي.چه دغه څیز ختم شي.نو اوس به د څرمن قیمت صدقه کول واجب وي.او په دې باب کښې چه کوم حکم د څرمن دې.هم هغه د غوښې دي.

قرباني پخپله ذبح کول افضل دي

وَالْأَفْضَلُ او غوره دا ده أَنْ يَذْبَحَ أُضْحِيَّتَهُ بِيَدِهٖ چه خپله قرباني پخپل لاس ذبح کړي إِنْ كَانَ يُحْسِنُ الذَّبْحَ که دې ښه ذبح کولو باندې پوهیږي

تشریح ◄ که پخپله ذبح کولو باندې پوهیږي.نو پخپله دې ذبح کړي.اوکه نه پوهیږي.نو د بل نه دې مدد حاصل کړي.خو افضل هم دا ده.چه پخپله هلته حاضر وي.لکه څنګه چه د مذکوره حدیث نه ثابته ده.

دلیله ◄ نبی کریم ﷺ حضرت فاطمه ته فرمائیلي وو.قال علیه السلام لِفَاطِمَةَ قُومِي فَاشْهَدِي أُضْحِيَّتَكِ فَإِنَّهُ يُغْفَرُ لَكِ بِأَوَّلِ قَطْرَةٍ مِنْ دَمِهَا كُلُّ ذنب [1] حضرت فاطمې ؓ ته چه اودریږه.خپلې قربانۍ سره حاضره شه ځکه.چه ددې د وینې رومبی څاسکی سره به ستا هره ګناه معاف کولې شي

په کتابی سره د ذبح کولو حکم

وَيُكْرَهُ أَنْ يَذْبَحَهَا الْكِتَابِيُّ او مکروه دي.چه قرباني کتابی ذبح کړي

تشریح ◄ د کتابی ذبیحه اګرچه حلاله ده.خو په ده باندې ذبح کول مکروه دي.

دلیله ◄ ځکه چه دا یو قربت دې.او کتابی د قربت اهل نه دې.بهرحال که مسلمان کتابی ته قربانۍ ذبح کولو حکم ورکړو.نو قرباني به جائز نه وي.ځکه چه مسلمان دې نائب جوړ کړې دې.او مسلمان د قربت

[1] من حدیث عمران ؓ اخرجه الحاکم فی المستدرك (۴\۲۲۲)۔

خپل ضرورت نه ښکاره کوي.معتر: بې صبره،کوم چه په نورو پورې اينخلى.او د غوښتلو عادت ني وي.

د قربانۍ د څرمنې حکم

وَيَتَصَدَّقُ بِجِلْدِهَا او صدقه دې کړي د قربانۍ څرمن أَوْيَعْمَلُ مِنْهُ آلَةً يا دې د څرمنې نه داسې څيز جوړ کړي تُسْتَعْمَلُ فِي الْبَيْتِ کوم چه په کور کښې استعمال کړې شي

حل اللغة ﴿ ① جلد:څرمن

تشريح ﴿ د خپلې قربانۍ څرمن پخپله کور کښې ايخودل، او فائده اخستل جائز دی.خو غوره دا ده.چه صدقه کړې شي.

دليله ﴿ ځکه چې د دې نه فائده اخستل جائز دی.او د څرمنې په بدله کښې داسې څيز هم اخستلې شي.کوم چه د څرمنې پشان وی.چه ددې څيزونو باقی ساتلو سره سره ددې نه فائده اخستلې شي.لکه کتب، او صندوق او مصلی (جا نماز) وغيره.البته که د روپو پيسو په بدله کښې نې څرمن خرڅه کړله.يا نې د داسې څيز په بدله کښې (خرڅه کړله).چه دهغې نه هغه وخت نفع اخستلې شي.چه دغه څيز ختم شي.نو اوس به د څرمن قيمت صدقه کول واجب وی.او په دې باب کښې چه کوم حکم د څرمن دې.هم هغه د غوښې دې.

قربانی پخپله ذبح کول افضل دی

وَالْأَفْضَلُ او غوره دا ده أَنْ يَذْبَحَ أُضْحِيَتَهُ بِيَدِهِ پخپله قربانی پخپل لاس ذبح کړی إِنْ كَانَ يُحْسِنُ الذَّبْحَ که دې ښه ذبح کولو باندې پوهيږی

تشريح ﴿ که پخپله ذبح کولو باندې پوهيږی.نو پخپله دې ذبح کړي.اوکه نه پوهيږی.نو د بل نه دې مدد حاصل کړی.خو افضل هم دا ده.چه پخپله هلته حاضر وی.لکه ځکه چه د مذکوره حديث نه ثابته ده.

دليله ﴿ نبی کريم ﷺ حضرت فاطمه ته فرمائيلي وو.قال عليه السلام لِفَاطِمَةَ قُومِي فَاشْهَدِي أُضْحِيَتَكِ فَإِنَّهُ يُغْفَرُ لَكِ بِأَوَّلِ قَطْرَةٍ مِنْ دَمِهَا كُلُّ ذنب [1] حضرت فاطمې ؓ ته چه اودريږه.خپلې قربانۍ سره حاضره شه ځکه.چه ددې د وينې رومبی څاسکی سره به ستا هره ګناه معاف کولې شي

په کتابی سره د ذبح کولو حکم

وَيُكْرَهُ أَنْ يَذْبَحَهَا الْكِتَابِيُّ او مکروه دی.چه قربانی کتابی ذبح کړی

تشريح ﴿ د کتابی ذبيحه اګرچه حلاله ده.خو په ده باندې ذبح کول مکروه دی.

دليله ﴿ ځکه چه دا يو قربت دې.او کتابی د قربت اهل نه دې.بهرحال که مسلمان کتابی ته قربانۍ ذبح کولو حکم ورکړو.نو قربانی به جائز وی.ځکه چه مسلمان دې نائب جوړ کړي دې.او مسلمان د قربت نيت کړي دې.نو دده نيت کافی دې.

په غلطۍ سره د يو بل د قربانۍ ذبح کولو حکم

وَإِذَا غَلِطَ رَجُلَانِ اوکله چه دوو سړو غلطی اوکړله فَذَبَحَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أُضْحِيَةَ الْآخَرِ نو ذبح کړله

---

[1] من حديث عمران ؓ اخرجه الحاكم في المستدرك (٤\٢٢٢)۔

په دوى دواړو كښې هريو دبل قرباني أَجْزَأَ عَنْهُمَا نو دا ددوى دواړو د طرفه كافى ده وَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمَا او په دوى دواړو باندې ضمان نشته

تشريح دوو سړو د قربانۍ دپاره خپله خپله چيلۍ اخستې وى.بيا په ذبح كولو كښې غلطى واقع شوه.زيد د خالد چيلۍ ذبح كړله.او خالد د زيد.نو ذبح جائز ده اوپه يو كس باندې هم ضمان او تاوان نشته.

دليل دليل دا دې.چه په دې كښې هره يوه چيلۍ دكوم كار دپاره متعين وه.هغه كار اوشو.يعنى دا چيلۍ قربانۍ كښې د ذبح كولو دپاره متعين وې.او دواړه په قربانۍ كښې ذبح كړې شوې.ځكه چه كومه چيلۍ وغيره قربانۍ دپاره متعين وى.نوپه دې كښې ګويا مالك دلالتاً د هر هغه كس نه مدد غواړى.كوم چه د ذبح كولو طريقه پيژنى.او د ذبح اهل وى.او ګويا دلالتاً هر داسې سړى ته دې د ذبح كولو اجازت وركوى.ځكه دا خبره فيصله شوې ده.چه د قربانۍ ورځو تيريدو سره قربانى فوت كيږى .او ډير وخته داسې كيږى.چه سړې پخپله د قربانۍ كولو نه عاجز كيږى.نوهغه له د نورو نه مدد اخستل ضرورى وى.

نظيره د مذكوره حكم بالكل داسې شو.لكه چه يو قصاب د چيلۍ خپې اوتړلې.او د ذبح تيارى ئې اوكړله.چه بل كس تسميه سره په دې باندې چاړه راښكله.نو په دې چاړې راښكونكى باندې به ضمان واجب نه وى.ځكه چه دا خو د قصاب (ذبح كولو دپاره) معين شوه.دغه شان به دلته هم په زيد او خالد كښې په هيڅ يوكس باندې ضمان واجب نه وى.او د هر يوكس قربانى به صحيح وى.

ملحوظه دا حكم د جواز استحسان دې.د قياس تقاضا عدم جواز دې.

كِتَابُ الْأَيْمَانِ

ترجمه (دا) كتاب د قسمونو(په بيان كښې) دې.

تشريح يمين دكوم قسم په پابندى نه كولوچه جزاء لازميږى. (دا واحد دې اوايمان ئې جمع ده)لكه والله زه به دا څيز نه خورم.نوكه هغه څيزئې اوخوړلو.نوكفاره به پرې لازميږى.اوكه دا اووائى. كه مادا څيز اوخوړلو .نو زما غلام دې آزاد وى.فقهاء داسې كلام ته يمين وائى.تردې كه هغه څيزئې اوخوړلو نو غلام آزاد شو.اوحنث يعنى قسم ماتيږى.اوحانث قسم ماتونكې ګرځى.

د يمين درې قسمونه

(الْأَيْمَانُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَضْرُبٍ) يَمِينُ غُمُوسٍ وَيَمِينٌ مُنْعَقِدَةٌ، وَيَمِينُ لَغْوٍ

حل اللغة ①**ايمان**: جمع د يمين قسم ته وائى ② **اضرب**: جمع د ضرب ده دلته په معنى د قسم اوصنف دې ③ **الغموس**: په اصل كښې غوپه كيدو ته وائى اودلته هم چونكه په دروغه قسم خوړونكې په ګناه كښې غوپه كيږى ځكه ورته يمين غموس وائى

ترجمه قسم په درې قسمه دې. ①يمين غموس ②يمين منعقده ③يمين لغو،

فَيَمِينُ الْغُمُوسِ هِيَ الْحَلْفُ عَلَى أَمْرٍ مَاضٍ يَتَعَمَّدُ الْكِذْبَ فِيهِ فَهٰذِهِ الْيَمِينُ يَأْثَمُ بِهَا صَاحِبُهَا وَلَا كَفَّارَةَ فِيهَا إِلَّا التَّوْبَةُ وَالْإِسْتِغْفَارُ

ترجمه نويمين غموس په يو تير شوى كار باندې قسم خوړل دى چې قصدا ئې په كښې دروغ ونيلى وى نودا قسم ددې خوړونكې ګناهګاريږى اوپه دې كښې كفاره نشته سوا د توبې او استغفار نه

تعریف الغموس غموس قسم خوړل دی په یوکار په زمانه تیره شوي کښې چه قصد ئې کړې وی د دروغو په دې (قسم) کښې،

حکمه نودا قسم چه دې.ګناهګاریږی په دې کښې صاحب ددې (یعنی قسم خوړونکې)

دلیله د نبی ﷺ ارشاد دې مَنْ حَلَفَ كَاذِبًا أَدْخَلَهُ اللهُ النَّارَ (۱)چاچه قسم اوخوړلو په دروغو داخل به ئې کړې الله تعالی اورته،

(وَلَا كَفَّارَةَ فِيهَا إِلَّا التَّوْبَةَ وَالْإِسْتِغْفَارَ)

ترجمه وتشریح اودا دومره لویه ګناه ده.چه) نشته کفاره په دې (یمین غموس) کښې،سوا د توبې اواستغفارنه، (۲)

تشریح په قسم غموس کښې د توبې اواستغفار نه سوا بل څه نشته.یعنی دا داسې ګناه نه ده.چه په کفارې سره به معاف شی.بلکه دا داسې لویه ګناه ده.چه د توبې اواستغفارنه سوا په بل څه نه معاف کیږی.

دلیله دشریعت احکام په درې قسمه دی.① عبادات محضه چه سبب ئې صرف مباح څیزوی.لکه چه یوڅیزواخلی نوپه هغې باندې ملکیت راځی.اوددې ملکیت راتللوچه سبب ددغه څیزقیمت ادا کول دی.

② عقوبة محضه (صرف سزا ورکول) چه سبب ئې صرف د ناجائزه کارارتکاب وی.لکه قصاص چه سبب ئې قتل ناحق دې.

③ کفارات،دا د عبادات اوعقوبت دواړه په مینځ کښې دی.لکه روژه راواخله.دا دعبادات اوعقوبت په مینځ کښې شك واقع کونکې ده.ځکه چه روژه د فرضی اونفلی هم وی.اود غیرشرعی کارپه ارتکاب سره هم لازمیږی.لکه دقسم ماتولوپه کفاره کښې چه درې روژې نیول شو.ددې تفصیل نه پس دمتن مسئلې ته راشه،یمین غموس چونکه ګناه محضه ده.نودا چه د کوم څیزدپاره سبب ګرځی.هغه به صرف سزا وی.دعبادات معنی به په کښې نه وی.لکه څنګه چه قتل ګناه محضه ده.اودا چه د کوم سبب څیزسبب ګرځی.هغه سزا ده.چه قصاص دې.دعبادات معنی په کښې نشته.اوس که مونږ یمین غموس د کفاره دپاره سبب اوګرځو.نودا صحیح نه ده.ځکه چه کفاره صرف سزا نه ده.بلکه په دې کښې دعبادات معنی پرته ده.

دیمین منعقده تعریف

وَالْمُنْعَقِدَةُ مَا يَحْلِفُ عَلَى الْأَمْرِ الْمُسْتَقْبَلِ أَنْ يَفْعَلَهُ أَوْلَا يَفْعَلَهُ فَإِذَا حَنِثَ فِي ذَلِكَ لَزِمَتْهُ الْكَفَّارَةُ

۱) خرجه الزيلعی رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل حديث اشعث بن قيس رضی الله عنه قال خاصم رجل من الحضرميين رجلاً منا يقال له الجفشيش الى النبی ﷺ فی ارض له فقال النبی ﷺ للحضرمی جئ بشهودك على حقك والا حلف لك،فقال أرضی أعظم شانا من أن يحلف عليها فقال النبی ﷺ إن يمين المسلم ما وراءها أعظم من ذلك فانطلق ليحلف فقال ﷺ إن هو حلف كاذبا ليدخله الله النارفذهب الأشعث رضی الله عنه فاخبره فقال أصلح بينی وبينه،قال فاصلح بينهما أخرجه الطبرانی فی معجمه وروی بمعناه عن أبی امامة رضی الله عنه اخرجه ابن حبان فی صحيحه وروی عن ابن مسعود رضی الله عنه فی ذلك اخرجه البخاری فی الأيمان والنذور باب ۱۱ ومسلم فی الأيمان رقم ۲۲۰)۔

۲) **مسلك الشافعي:**- فرمائی شافعی رحمه الله په دې کښې کفاره شته.

حل اللغة ⟩ ① **لايواخذ: آخذ يواخذ مواخذة**: نیول ② **عقد**: قصد کول

ترجمه ⟩ اویمین منعقده هغه قسم دې چه اوخورلې شي په یوکارپه مستقبل (راروانه زمانه) کښې چه دا کار به کوی اویا به ئې نه کوی.اوهرکله چه حانث شي (یعنی هغه کاراوکړی) لازمیږی پرې کفاره.

تشریح ⟩ **دلیله** ⟩ د الله تعالی ارشاد دې لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ نه نیسی تاسوالله تعالی په لغوسره په قسمونوستاسوکښې (مثلاً چه تاسوپه خپل گمان کښې یوکارکړې وی.اوبه هغې قسم اوخورئ حالانکه په حقیقت کښې مو هغه نه وی کړې) بلکه نیسی مو په هغه کوم چه تاسو مضبوط کړی وی په قسمونو.

دیمین لغو تعریف

> وَيَمِينُ اللَّغْوِ هُوَ أَنْ يَحْلِفَ عَلَى أَمْرٍ مَاضٍ وَهُوَ أَنَّهُ يَظُنُّ كَمَا قَالَ وَالْأَمْرُ بِخِلَافِهِ فَهٰذِهِ الْيَمِينُ نَرْجُوا أَنْ لَا يُؤَاخِذَ اللهُ بِهِ صَاحِبَهَا)

حل اللغة ⟩ ① **يظن**: گمان کوی

ترجمه ⟩ اویمین لغو دا دې.چه قسم اوخوری په یوکارتیرشوی باندې اودې. گمان کوی چه دا کارهم هغه شان دې ځنګه چه دې وائی.خوکارهغه شان نه وی.نودا قسم مونږ امید کوو چه نه به نسی الله تعالی په دې باندې خوړونکې ددې

تشریح ⟩ **دلیله** ⟩ اصل (دلیل) په دې (یمین لغو) کښې قول دالله تعالی دې.چه «نه نیسی الله تعالی تاسو په لغو سره په قسمونوستاسوکښې بلکه نیسی تاسو د آیت آخره پورې (اووایه)
البته ابو الحسن قدوری رحمه الله دا قسم په امید سره مقید کړلو(چه مونږ امیدساتو.چه الله تعالی به ئې نه نیسی.حالانکه الله تعالی د عفو وعده کړې ده.) دوجې داختلاف نه په تفسیر ددې کښې،
الاختلاف في تعريف يمين اللغو ⟩ چه ددې په تفسیر کښې اختلاف دې.① دحضرت عائشې رضی الله عنها نه د دې په تفسیرکښې نقل دی.چه د یمین لغو صورت دا دې.چه سړې اووائی.چه «لاوالله یابلی والله» (دا حدیث امام بخاری روایت کړې دې.اوامام ابوداود رحمه الله مرفوعاً روایت کړې دې.اوامام بیهقی اوابن حبان) هم مرفوع نقل کړې دې.اودارقطنی رحمه الله فرمائیلی دی.چه ددې موقوف روایت هم صحیح دې.دغه شان امام شافعی اوامام مالك) هم روایت کړې دی.)ــ ددې معنی دا ده.چه یوکس بل ته اووئیل.نن ته هلته نه ئې تلې.اوهغه ورته جواب ورکړی.چه نه والله زه نه یم تلې. اودې په حقیقت کښې هم هلته نه وی تلې.نودا یمین لغو شو.یا ورته اووائی.والله اوګوره زه په دې زیر کاغذباندې لیکل کوم.اوهغه زیر کاغذ وی.نودا هم لغو دې.ځکه چه هرکس دا وینی.چه دې په زیرکاغذ باندې لیکل کوی.
② اوعبدالرزاق په خپل مصنف کښې دحضرت مجاهد رحمه الله نه روایت کړې دې.چه لغو دا ده.چه یوکس په دې خبره قسم اوخوری.اودا پیژنی.چه دا هم داسې دې.حالانکه په حقیقت کښې هغه شان نه وی.نودا یمین لغودې.

③ اوسعیدبن جبیر رحمه الله فرمائیلی دی.چه لغو دا ده.چه یوکس په حرام څیزقسم اوخوری.چه زه داسې نه کوم.

④ اوحسن بصری اوابراهیم نخعی) فرمائیلی دی.چه یوکس په یوه خبره باندې قسم اوخوری.اوبیا ترې هیرشی.

⑤ اوامام سرخسی رحمه الله په اصولوکښې فرمائیلی دی.چه لغوهغه قسم دې.چه هغه شرعاً اووصفاً دقسم د فائدې نه خالی وی.ځکه چه د قسم فائده دا ده.چه د یوداسې خیرخبرورکړی.چه په هغې کښې د

دروغواحتمال وي.اوبيا قسم دهغې رښتيا والي ثابت کړي.اوکه داسې ئې اونکړلو.بلکه په داسې خېزني قسم اوخوړلو.چه په هغې کښې د غلطۍ احتمال نه وي.نوهغه د فائدې نه خالي وي.

په قسم کښې د زبردستۍ اوهيرې برابري

(وَالْقَاصِدُفِي الْيَمِينِ وَالْمُكْرَهِ وَالنَّاسِي سَوَاءٌ)

حل اللغة ① **القاصد:** قصد کونکې ② **المكره:** صيغه د اسم مفعول چا باندې چه زور اوزبردستي شوې وي ③ **الناسي:** هيرونکې

ترجمه ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.قصدکونکې په قسم کښې اومجبوره شوې او هيرونکې برابردي (په حکم کښې)

تشريح په دې درې واړو صورتونوکښې) کښې کفاره واجبيږي

دليله دنبي ﷺ ارشاد دې ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ: النِّكَاحُ، وَالطَّلَاقُ، وَالْيَمِينُ }(۱)درې خيزونه دي.چه قصد خوني هسې هم قصد دې اوټوقې ئې هم قصد دې. ① نکاح ② طلاق ③ اوعتاق،

(وَمَنْ فَعَلَ الْمَحْلُوفَ عَلَيْهِ مُكْرَهًا أَوْنَاسِيًا فَهُوَسَوَاءٌ)

ترجمه اوچا چې اوکړلو هغه خيزچه قسم ئې پرې خوړلې وي.په زبردستۍ يا په هيره نودا برابر دي.

دليله ځکه چه فعل حقيقي نه نشت کيږي په زبردستۍ سره (يعني دفعل حقيقت موجود شوې دې.که په رضا وي اوکه په زبردستۍ.لکه ځنګه چه ګلاس مات کړي.که په زور وي اوکه په رضا ګلاس خومات شوکه نه،) اوهم دا (وجود د فعل) شرط دې (د حانث کيدو دپاره)

(وَالْيَمِينُ بِاللهِ تَعَالَى أَوْبِاسْمٍ مِنْ أَسْمَائِهِ كَالرَّحْمٰنِ وَالرَّحِيمِ أَوْبِصِفَةٍ مِنْ صِفَاتِ ذَاتِهِ كَعِزَّةِ اللهِ وَجَلَالِهِ وَكِبْرِيَائِهِ)

ترجمه يمين (منعقد) کيږي په (اسم د) الله اوپه بل نوم باندې دالله تعالى د نومونو ځنې،لکه رحمن رحيم اويا په يوصفت سره دده د صفتونوځنې، لکه عزت دالله جلال دالله کبرياء دالله

تشريح **دليله** ځکه چه قسم په دې (الفاظو) متعارف دې.اومعنې د يمين چه قوت دې هغه حاصل ده ،ځکه چه دې (حالف) اعتقاد کوي د تعظيم دالله اودتعظيم دصفاتود هغه،نوصلاحيت لرې ذکرددې چه اماده کونکې شي (په کولوديوکار) اومانع شي. (حالف لره د کولود يوکارنه)

(إِلَّاقَوْلَهُ وَعِلْمِ اللهِ فَإِنَّهُ لَايَكُونُ يَمِينًا)

ترجمه (ابو الحسن قدوري رحمه الله) فرمائي.خونه منعقد کيږي (قسم) په وينا دده چه په علم دالله

تشريح **دليله** ځکه چه (په عرف کښې) دا يمين نه دې.اوبله دا چه دا ذکرشي اومراد ترې معلوم وي.وئيلې شي اې الله ته خپل علم (کوم چه زمونږ په ګناهونو تاته حاصل دې) معلومات ماته اوبښه،

(وَإِنْ حَلَفَ بِصِفَةٍ مِنْ صِفَاتِ الْفِعْلِ كَغَضَبِ اللهِ وَسَخَطِهِ لَمْ يَكُنْ حَالِفًا)

---

۱) قال الزيلعي رحمه الله هكذا ذكره المصنف وبعض الفقهاء يجعل عوض اليمين العتاق ومنهم صاحب الخلاصة والغزالي في الوسيط وغيرهما وكلاهما غريب وإنما الحديث ((النكاح والطلاق والرجعة)) اخرجه أبوداود في الطلاق باب ۹ رقم ۲۱۹۴ والترمذي في الطلاق باب ۹ وابن ماجه في الطلاق باب ۱۳ رقم ۲۰۳۹۔

ترجمه> اوكه قسم اوكړی په صفت سره د صفاتو د فعل نه لكه غضب دالله اوپه غصه دهغه نو نه ګرځی قسم خوړنكې په الله اودغه شان (چه اووائی.قسم دې وی) په رحمت دالله ، (نوهم قسم خوړنكې نه ګرځی.

تشریح> دلیله> ځكه چه قسم په دې (جملوباندې) نه دې متعارف اوبله دا چه رحمت كله مراد اخستې شی په دې سره اثر ددې (رحمت) او هغه (اثرد رحمت) باران یا جنت دې.اوغضب او غصه مراد ا خستې شی په دې سره سزا.

په غیرالله باندې دقسم خوړلو حكم

(وَمَنْ حَلَفَ بِغَيْرِاللهِ لَمْ يَكُنْ حَالِفًا كَالنَّبِيِّ وَالْقُرآنِ وَالْكَعْبَةِ)

ترجمه> اوځوك چه اوخوری قسم په غیرالله نونه ګرځی قسم خوړونكې لكه په نبی ﷺ په قران اوخانه كعبه باندې

تشریح> دلیله> د نبی ﷺ ارشاد دې مَنْ كَانَ مِنْكُمْ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ أَوْلِيَذَرْ }(1)ځوك چې په تاسوكښې قسم خوری نوقسم دې خوری په الله تعالی اویا دې نه خوری

انعقاد الحلف بالقرآن> صاحب دبدائع رحمه الله فرمائیلی دی.چه په نبی اوكعبه باندې قسم ځكه نه كیږی.چه دا غیردی دالله تعالی نه،البته په قرآن باندې قسم كیږی.ځكه چه قرآن اګرچه دالله تعالی ذات نه دې.خودهغه صفت ضروردې.نودصاحب بدائع رحمه الله دقول مطابق په قرآن باندې قسم منقعد كیږی.البته صاحب دهدایه رحمه الله فرمائی.چه په قرآن باندې دخلقوقسم كول متعارف نه دی.نود تعارف دقید نه دا معلومیږی.چه په كوموعلاقوكښې په قرآن باندې قسم كول متعارف وی اوپه رواج كښې وی.نوپه هغه علاقوكښې په قرآن قسم صحیح كیږی.لكه زمونږصوبه سرحد په علاقوكښې چه خلق په قران قسم كوی. اوداحنافوپه نیزهم دا قول مفتی به دې.چه په قران قسم منقعد كیږی.

دقسم الفاظ

(وَالْحَلِفُ بِحُرُوفِ الْقَسَمِ وَحُرُوفُ الْقَسَمِ ثَلاثَةُ الْوَاوُكَقَوْلِهِ وَاللهِ وَالْبَاءُ كَقَوْلِهِ بِاللهِ وَالتَّاءُ كَقَوْلِهِ تَاللهِ)

ترجمه> صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.اوقسم كول په حروفو دقسم سره قسم وی. (كه حرف قسم په كښې نه وی.نوقسم به نه وی)اوحروف قسم واو دې.لكه دده قول چه ((والله)) اوباء لكه د ده قول چه ((بالله)) اوتاء لكه د ده قول چه ((تالله))

تشریح> دلیله> ځكه چه دا تول الفاظ په یمین كښې معلوم دی. (چه دقسم الفاظ دی)او ذكرشوی دی په قرآن كښې،

(وَقَدْ تُضْمَرُالْحُرُوفُ فَيَكُونُ حَالِفًا كَقَوْلِهِ اللهِ لَاأَفْعَلُ كَذَا)

حل اللغة> ① **یضمر**:پټول

ترجمه> اوكه كله حرف قسم پټ وی.لكه دده قول چه ((الله لاافعل كذا)) په الله قسم چه زه به فلانې كارنه كوم،

---

(1)من حدیث ابن عمر رضی الله عنه اخرجه البخاری فی الأدب باب ۷۴ رقم ۶۱۰۸ ومسلم فی الأیمان رقم ۲ وابوداود فی الأیمان والنذور باب ۴ رقم ۳۲۴۹ والترمذی فی النذور باب ۹ وابن ماجه فی الكفارات وباب ۲ رقم ۲۰۹۴)

تشریح دلیله خکه چه حذف کول دحرف دعربوعادت دي. (چه په خپل کلام کښي حذف د حرف قسم کوي) دپاره د اختصار (چه په کلام کښي لنډوالي پيدا شي)

په ((بحق الله)) دقسم په انعقادکښي اختلاف

وَقَالَ أَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ: إِذَا قَالَ وَحَقِّ اللهِ فَلَيْسَ بِحَالِفٍ.(¹)

ترجمه اوفرمائی امام ابوحنيفه رحمه الله کله چه اووائی قسم دي وی په حق دالله نو قسم خوړونکي نه دي .

تشریح دطرفينو په نيز په مذکوره صورت کښي قسم خوړونکي حالف نه دي د امام ابويوسف نه هم دا يو روايت دي.

دليلهما د طرفين رحمهما الله دليل دا دي.چه اراده کولي شی په حق سره طاعت دالله تعالى،خکه چه طاعات دالله تعالى حقوق دی.نودا قسم په غيرالله شو. (اوقسم په غيرالله نه صحيح کيږی.دغه شان دا هم نه صحيح کيږی)

مسلک ابي يوسف دامام ابويوسف په نيز په دويم روايت کښي دا دی چي بل روايت دا دي،چه دا يمين دي،

دليله خکه چه حق دالله تعالى دصفاتوخنی دي،اودا حقيقت دي.نودا داسي شولکه چه دي اووائی قسم دي وی په الله چه حق دي،اوپه دي الفاظوباندي قسم (په خلقوکښي) متعارف (اومروج) دي.

(وَإِذَا قَالَ أُقْسِمُ أَوْأُقْسِمُ بِاللهِ أَوْأَحْلِفُ أَوْأَحْلِفُ بِاللهِ أَوْأَشْهَدُ أَوْأَشْهَدُ بِاللهِ فَهُوَحَالِفٌ)

ترجمه اوکه اووائی چه زه قسم کوم يا اووائی قسم کوم په الله باندي او حلف اوچتوم يا حلف اوچتوم په الله باندي اويا ګواهی کوم يا ګواهی کوم په الله باندي (نوپه دي ټولو صورتونوکښي) دي قسم کونکي دي.

تشریح دليله کوم الفاظ چه په متن کښي ذکردی.په شريعت اوعرف دواړوکښي دا په الله تعالى باندي دقسم دپاره استعماليږی.نوپه دي باندي قسم منعقد کيږی.که ده نيت دقسم کړي وی اوکه نه وی کړي.

(وَكَذَلِكَ قَوْلُهُ وَعَهْدُ اللهِ وَمِيثَاقُه

حل اللغة ① عهدالله: وعده د الله ② ميثاق: محکمه او مضبوطه وعده

ترجمه اودغه شان (قسم منعقد کيږی په) قول د ده (قائل) چه ((عهدالله)) اوپه ((ميثاق الله)) باندي، (په عهدالله باندي منعقد کيږی)

تشریح دليله خکه چه عهد يمين دي.الله تعالى فرمائيلی دی،، پوره کړئ وعده دالله تعالى،، اوميثاق عبارت دي د عهد نه،نولکه څنګه چه په عهد باندي قسم منعقد کيږی دغه شان په ميثاق باندي هم)

(وَعَلَيَّ نَذْرٌ أَوْنَذْرُ اللهِ فَهُوَيَمِينٌ

ترجمه اوکله چه اووائی په ما باندي نذردي يا په ما باندي دالله تعالى نذردي.نودا قسم دي.

(¹) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في فتح القدير(٤\٣٥٨٠) والهندية (٢\٥٢) وخلاصة (٢\١٢٦) ورد المحتار (٣\٦٢) نقلاً عن القول الراجح (١/٤٠٨)-

تشریح﴿ دلیله﴾ د نبی کریم ﷺ ارشاد دې مَنْ نَذَرَ نَذْرًا وَلَمْ يُسَمِّ فَعَلَيْهِ كَفَّارَةُ يَمِينٍ [۱] چا چه نذر اوکړلو په نذر کولو سره اوبیان ئې نکړلو.نو په ده باندې کفاره د قسم ده.

کفر د شرط جزاء کرځول

(وَإِنْ قَالَ إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَهُوَ يَهُودِيٌّ أَوْ نَصْرَانِيٌّ اومجوسي اومشرك أَوْ كَافِرٌ يَكُونُ يَمِينًا)

ترجمه﴾ اوکه داسې ئې اووئیل.که ده (یعنی ما) فلانی کاراوکړلونودې (یعنی زه) به یهودی یا نصرانی یا مجوسی یا مشرک یا کافریم. (که په دې درې واړو الفاظوکښې ئې یولفظ اووئیل. نودا الفاظ د یمین دی)

تشریح﴿ دلیله﴾ کوم الفاظ چه دې قائل اووئیل.نو په ظاهره دا د قسم الفاظ نه دی. خو د دې وجې یمین ګرځی.چه دلته دوه څیزونه دی.یوشرط چه دکارکول دی.اودویمه جزاء چه د یهودیت یا نصرانیت یا کفرواقع کیدل دی.نوده په خپل قول کښې شرط یعنی دکارکول دجزاء یعنی یهودیت وغیره دپاره یوه نښه اوګرځوله.اویقینی ده چه مسلمان دهرهغه کارنه ځان ساتل واجب ګڼړی.په کوم چه دې کافرکیږی.نوده چه خپل کارکول دکفردپاره نښه اوګرځوله.نودې د دغه کارنه ځان ساتل ضروری ګڼړی.

په غضب الله اوسخط الله پورې دتعلیق حکم

(وَإِنْ قَالَ فَعَلَيَّ غَضَبُ اللَّهِ أَوْ سَخَطُهُ فَلَيْسَ بِحَالِفٍ)

ترجمه﴾ اوکه داسې ئې اووئیل.که ما دا کاراوکړلو.نو په ما دې دالله تعالی غضب یا غصه وی.نودې قسم خوړونکې نه دې.

تشریح﴿ دلائله﴾ ① ځکه چه دا خپل ځان ته خیرې کول دی. (قسم نه دې) اودا د شرطونوسره څه تعلق نه ساتی.

② اوبله دا چه (دقسم دانعقاد دپاره عرف هم یودلیل دې.او)دا (په خلقوکښې) غیرمتعارف دې. (یعنی رواج ئې نشته.ځوک په دې الفاظوقسم نه خوری)

وَكَذَا إِنْ قَالَ إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَأَنَا زَانٍ أَوْ شَارِبُ خَمْرٍ أَوْ آكِلُ رِبًا فَلَيْسَ بِحَالِفٍ

ترجمه﴾ اوداسې حکم ددې هم دې.که اووائی.که ما فلانې کار اوکړلو.نوزه دې زناکار یا دې شرابی یم یا سود خور یم.نو(په دې صورتونوکښې قسم خوړنکې نه ګرځی.)

تشریح﴿ دلیله﴾ ځکه چه ددې څیزونوحرمت دمنسوخ کیدو اوبدلیدو احتمال لري.نود الله تعالی د نوم د حرمت پشان نشو. (ځکه چه دالله تعالی نوم همیشه دپاره واجب الاحترام دې) اوبله دا چه په دې الفاظو قسم خوړل متعارف نه دې. (یعنی په خلقو کښې ئې رواج نشته)

دکفاره قسمونه

كَفَّارَةُ الْيَمِينِ عِتْقُ رَقَبَةٍ يُجْزِي فِيهَا مَا يُجْزِي فِي الظِّهَارِ وَإِنْ شَاءَ كَسَا عَشَرَةَ مَسَاكِينَ كُلَّ وَاحِدٍ ثَوْبًا فَمَا زَادَ، وَأَدْنَاهُ مَا يَجُوزُ فِيهِ الصَّلَاةُ وَإِنْ شَاءَ أَطْعَمَ عَشَرَةَ مَسَاكِينَ كَالْإِطْعَامِ فِي كَفَّارَةِ الظِّهَارِ)

---

۱) من حدیث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه ابوداود فی الأیمان والنذور باب ۲۵ رقم ۳۳۲۲ وابن ماجه فی الکفارات باب ۱۷ رقم ۲۱۲۸ـ

حل اللغة ﴿ ① **کسا:** واغوندی صیغه د مذکرغائب ② **ثوبا:** جامه ③ **ادنا:** معمولی ④ **اطعم:** خوراک دې اوکړی

ترجمه ﴿ دقسم کفاره د غلام آزادول دی په دې کښې هغه څیزکافی کیږي.کوم چه په کفاره دظهارکښې کافی کیږي.یا خودې لسومسکینانوته جامې واغوندوی.هریومسکین ته دې یوه جوړه جامې ورکړي.یا که د یوې جوړې نه زیاتې وی. (نوهم ښه خبره ده) او معمولی جامه هغه ده.چه مونځ په کښې جائز کیږي. (یعنی چه سترعورت پرې پټیږی) اوکه غواړی نو لسو مسکینانوته دې روټئ ورکړي.لکه څنګه چه په کفاره د ظهارکښې دی. (چه لسومسکینانوته روټئ ورکوی)

تشریح ﴿ **دلیله** ﴿ دلیل دالله تعالی دا ارشاد دې.[فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ] چه ددې (ظهار) کفاره لسو مسکینانوته روټې ورکول دی.

(فَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى أَحَدِ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ الثَّلَاثَةِ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ)

حل اللغة ﴿ ① **یقدر:** قادر وی ② **ایام:** جمع د یوم ورځ ③ **متتابعات:** پرله پسې

ترجمه ﴿ صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.که په دې درې څیزونوکښې په یوڅیزهم قادر نه وو. نو (ددې په ځائې به) درې ورځې به پرله پسې روژې اونیسی.([1])

تشریح ﴿ **دلیله** ﴿ په تتابع اوپرله پسې والی باندې دلیل د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قراءت دې.څکه چه دهغوی په قراءت کښې ((فصیام ثلاثة أیام متتابعات)) دی.اودا قراءت دخبرمشهور پشان دې.اوقاعده دا ده.چه د خبر مشهور په وجه په کتاب الله باندې زیادت جائز دې.

دحنث نه وړاندې دکفاره ورکولو حکم

(فَإِنْ قَدَّمَ الْكَفَّارَةَ عَلَى الْحِنْثِ لَمْ يُجْزِهِ)

ترجمه ﴿ اوکه حالف د حانث کیدونه وړاندې کفاره ورکړله.نوجائزنه ده. ([2])

تشریح ﴿ **دلیله** ﴿ دلیل دا دې.چه دکفاره وجوب د ګناه پټولو دپاره دې. (چه کفاره ورکړی.اوګناه ئې پټه شي) اودلته خو ګناه نشته. (څکه چه صرف په یمین منعقده خوړلوکښې ګناه نشته.ګناه خوهله وی.چه حانث شي)

په ګناه باندې دقسم کولوحکم

(وَمَنْ حَلَفَ عَلَى مَعْصِيَةٍ مِثْلَ أَنْ لَا يُصَلِّيَ أَوْلَا يُكَلِّمَ أَبَاهُ أَوْ لَيَقْتُلَنَّ فُلَانًا يَنْبَغِي أَنْ يُحْنِثَ نَفْسَهُ وَيُكَفِّرَ عَنْ يَمِينِهِ)

حل اللغة ﴿ ① **معصیة:** ګناه ② **ینبغي:** پکار دی مناسب دی

ترجمه ﴿ که یوکس په ګناه باندې قسم اوخوری مثلاً دا چه مونځ به نه کوی.اویا خپل پلار سره به خبرې نه کوی،یا فلانې به قتلوی.نوپکارده چه ځان حانث کړی.اودخپل قسم کفاره ورکړی.

---

[1] **مسلک الشافعي:**- امام شافعی رحمه الله فرمائی. (چه په پرله پسې والی اوجدا جدا نیولوکښې) ده ته اختیاردې. (چه څنګه ئې نیسی جائزدې)

[2] **مسلک الشافعي:**- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه دمال نه کفاره ورکول جائزدې. (اګرچه د حنث نه ئې وړاندې کړی)

تشریح> دلیله> ځکه چه د نبی ﷺ ارشاد دی. مَنْ حَلَفَ عَلَىٰ يَمِينٍ وَرَأَىٰ غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَلْيَأْتِ بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ ثُمَّ لِيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ }(۱)چا چه په یوڅیزباندې قسم اوخوړلو.اوبیا ئې بل څیزدهغې نه ښه اولیدلو. نوهغه کاردې اوکړی.کوم چه غوره وی.اوبیا دې دخپل قسم کفاره ورکړی.

دکافردقسم اوکفارې حکم

(وَإِذَا حَلَفَ الْكَافِرُ ثُمَّ حَنِثَ فِي حَالِ الْكُفْرِ أَوْبَعْدَ إِسْلَامِهِ فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ)

ترجمه> اوکله چه کافرقسم اوخوری.اوبیا هم دکفرپه حالت کښې حانث شی.یا داسلام نه پس حانث شی. (یعنی قسم مات کړی) نوپه ده باندې کفاره نشته.

تشریح> دلیله> ځکه چه (دقسم خوړلوپه وخت کښې) دې د یمین اهل نه وو.ځکه چه قسم دالله تعالی دتعظیم دپاره خوړلې شی.اوچه کافروی نوده کښې دتعظیم صلاحیت نشته.او (کفاره پرې هم نه لازمیږی.ځکه چه) دې دکفارې اهل نه دې.ځکه چه کفاره عبادت دې. (کافردعبادت اهل نه دې.اول به ترې مطالبه دایمان کولې شی.بیا روستود نوروفروعی احکامو)

دحلال څیزحرامولوحکم

(وَمَنْ حَرَّمَ عَلَىٰ نَفْسِهِ شَيْئًا مِمَّا يَمْلِكُهُ لَمْ يَصِرْ مُحَرَّمًا وَعَلَيْهِ إِنِ اسْتَبَاحَهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ)

حل اللغة> ① **حرم:** حرام کړل ② **استباح:** مباح ګرځول

ترجمه> اوچا چه په خپل ځان باندې یوڅیزحرام کړل.چه دې ئې مالك وو.نوهغه په ده باندې نه حرامیږی.اوکه (دحراموئونه پس ئې) هغه مباح کړلو. (یعنی استعمال ئې کړلو) نوپه ده باندې دقسم کفاره ده. (۲)

تشریح> دلیله> مونږ د قائل الفاظوته ګورو.نوددې الفاظو تقاضا دا ده.چه دغه څیزدې حرام شی.ځکه چه د یوعاقل بالغ خبره به د لغویت نه بچ شی.نواوس په دې ځائې کښې دوه خبرې جمع شوې یود شریعت حکم چه حلت دې.اوبل د قائل دالفاظوحکم چه حرمت دې.نومونږ راولګیدو.داسې یوه طریقه مو اختیارکړه.چه نه سیخ اوسوزی اونه کباب،یعنی چه د شریعت حکم هم بدل نشی.اودقائل قول هم لغو نشی.هغه طریقه دا ده.چه حرمت په دوه قسمه دې.یوحرمت لذاته دې اوبل حرمت لغیره دې.نومونږ دا منوچه دغه څیزچه قائل حرام کړې دې.دا حرام لذاته دې.خود قسم د وجې حرام لغیره هم دې.نوهم یوڅیزحرام او حلال دواړه شو.خود ذات اودغیرپه اعتبار سره،ددې مثال به داسې وی.چه بیع مباح ده.خوچه کله د جمعې په ورځ د جمعې دپاره اذان اوشی.نوخرڅول اخستل حرام شی.نوګوره هم یوڅیزچه بیع ده.مباح لذاته ده.خوحرام لغیره ده.اوهغه غیرد جمعې مانځه ته تلل دی.هم دغه شان په زیربحث مسئله کښې یوڅیزحلال لذاته دې اوحرام لغیره شو.

د ((کل حل علی حرام)) حکم

(فَإِنْ قَالَ كُلُّ حِلَالٍ عَلَيَّ حَرَامٌ فَهُوَ عَلَى الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ غَيْرَ ذَلِكَ)

ترجمه> اوکه یوکس داسې اووائی.چه هرحلال څیزپه ما باندې حرام دې. (نواګرچه دا عام لفظ دې په دې کښې هرڅیز داخل شو.خوبیا هم هرڅیزپرې نه حرامیږی.بلکه) د دې نه به دخوراك څکاك څیزونه

---

۱) من حدیث ابی هریرة ﷺ اخرجه مسلم فی الأیمان والنذور رقم ۱۳)۔

۲) **مسلك الشافعي:**- امام شافعی ﷫ فرمائی.چه په ده کفاره نشته.

مراد وی.البته دا ده.که ددې دواړه قسمه څیزونونه علاوه هم ده په نیت کښې راوستې وی. (نوهغه به په کښې هم داخل وی.مثلاً دا چه زه به دفلانی کورته نه داخلیږم.نودا هم یوحلال کاردې.څوکه ده نې نیت کړې وی.نودا به په کښې هم شامل وی.دا حکم چه ددې نه به صرف د خوراك څكاك څیزونه مراد وی. استحسانی حکم دې)

تشریح > **وجه الاستحسان** > د استحسان وجه دا ده.دقسم اصلی مقصد دهغې پوره کول وی. (چه محلوف علیه کاراونشی.اوقسم مات نشی)اودا مقصود (چه د قسم نه ماتیدل دی) په دې صورت کښې نه حاصلیږی.که مونږ ددې نه عامه معنی واخلو. (نومونږددې عامه معنی وانخستله) اوهرکله چه د دې قول عموم ساقط شو.نوددې نه به صرف دخوراك څكاك څیزونه مراد وی.دعرف د وجې.څکه چه په عرف کښې داسې لفظ دخوراك څكاك د څیزونودپاره استعمالیږی. (اودقسم په باب کښې عرف لره اعتبارشته.نوددې نه به صرف دخوراك څكاك څیزونه مراد وی.که ددې نه علاوه بل مباح کاراوکړی.نونه به حانثیږی)

القیاس > دقیاس تقاضا دا ده.چه څنګه دې ددې قول نه فارغ شی.نودې به حانثیږی.څکه چه (د دې قول نه پس سمدستی) ده یو مباح فعل اوکړلو(چه ده دپاره جائزوو) چه ساه اختسل یا بل څه (مثلاً قدم اخستل) دی.اودا (چه ددې نه پس سمدستی قائل حانثیږی) د امام زفر رحمه الله قول دې.خو

(وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا مُطْلَقًا فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ)

ترجمه > اوچا چه مطلق نذراومنلو.نوپه ده باندې دهغې پوره کول واجب دی.

تشریح > **دلیله** > څکه چه د نبی ﷺ ارشاد دې . مَنْ نَذَرَ وَسَمّٰى فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِمَا سَمّٰى } (۱)چا چه نذراوکړلو.اوهغه نذرئې متعین کړلو. (چه مثلا په مادې دالله تعالی دپاره یوه روژه وی) نوپه دې باندې ددغه نذرپوره کول واجب دی.

(وَإِنْ عَلَّقَ النَّذْرَ بِشَرْطٍ فَوُجِدَ الشَّرْطُ فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِنَفْسِ النَّذْرِ)

ترجمه > اوکه په یوشرط پورې ئې نذرمعلق کړلو. (مثلاً که زه په امتحان کښې پاس شوم. نوپه ما دې یوه ورځ روژه نذروی) نوچه شرط موجود شی. (لکه کوم زمونږ په ورکړی مثال کښې چه روژه ده) نوپه ده باندې ددغه نذر پوره کول واجب شو.

تشریح > **دلیله** > څکه چه دحدیث په اطلاق کښې دا هم داخل دی.یعنی په حدیث کښې د دې خبرې ذکر دې چې چا نذر اوکړو.نوهغه دې پوره کړی او دا ذکر په کښې نشته چې نذرمطلق ئې کړې دې او که نذر معلق .نودا نذر معلق په کښې هم داخل شو.او وفا به پرې کوی.

(وروی انا اباحنیفة رحمه الله رجع عن ذلك وقال :اذاقال ان فعلت كذا فعلى حجة أوصوم سنة أوصدقة ما املكه أجزاه من ذلك كفارة يمين .وهوقول محمد رحمه الله)

ترجمه > دامام ابوحنیفه رحمه الله نه دا هم نقل دی.چه دوی دخپل دې قول نه(چه نذرمعلق دنذر مطلق پشان

---

۱)غریبه الزیلعی رحمه الله بهذا اللفظ ثم اخرج احادیثاً فی وجوب الوفاء بالنذر منها حدیث عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من نذر أن یطیع الله فلیطعه ومن نذران یعصی الله فلا یعصه اخرجه البخاری فی الأیمان باب ۲۸ وأبوداود فی الأیمان باب ۱۹ والترمذی فی النذور باب ۲ والنسائی فی الأیمان باب ۲۷ وابن ماجه فی الکفارات باب ۱٦ والدارمی فی النذور باب ۳ ومالك فی النذور رقم ۸ واحمد فی المسند ٦/۳٦)۔

دي) رجوع کړي ده.اوامام اعظم رحمه الله فرمائيلي دي.چه يوکس دا اوواني.که ما فلانی کاراوکړلو.نوپه ما دي حج يا روژه يا ديوکال روژي يا دهغه خيزصدقه واجب وي. کوم چه زه مالك يم.نوپه دي (خلورو وارو صورتونوکښي) ده دپاره دقسم کفاره کافي کيږي. (که د قسم کفاره ورکړي.اودغه خيزونه اونکړي.نوغاړه ئي نيولي نه ده)اودا دامام محمد رحمه الله قول دي.

تشریح ◄ د ترجمي اواضافي قيوداتونه مطلب واضح دي.

کورته د داخليدو نه قسم خوړل

(وَمَنْ حَلَفَ لَايَدْخُلُ بَيْتًا فَدَخَلَ الْكَعْبَةَ أَوِالْمَسْجِدَ أَوِالْبِيعَةَ أَوِالْكَنِيسَةَ لَمْ يَحْنَثْ)

حل اللغة ◄ ① **البيعة**: د يهوديانو عبادت خانه ② **الكنيسة**: د عيسايانو عبادت خانه

ترجمه ◄ څوك چه قسم اوخوري چه کورته به نه داخليږي. (ددي قسم نه پس) بيا دي خانه کعبه يا جمات يا کليسي(د يهوديانوعبادت خانه) يا ګرجي(دعيسايانوعبادت خانه) ته داخل شو.نوپه دي داخليدو دي) نه حانثيږي.

تشریح ◄ **دليله** ◄ ځکه چه کورهغه ځائي ته واني.چه د شپي تيرولو دپاره جوړ شوي وي.اودا ځايونه (چه کوم ذکر شول) د شپي تيرولودپاره نه دي تيارشوي.

د خبرو کولوقسم نه پس قرآن پاك لوستل

(وَمَنْ حَلَفَ اَنْ لَايَتَكَلَّمَ فَقَرَأَ الْقُرْآنَ فِي الصَّلَاةِ لَمْ يَحْنَثْ.

ترجمه ◄ اوکه قسم ئي اوخوړلو.چه خبري به نه کوي. (اوددي قسم نه پس ئي) په مانځه کښي قرآن اولوستلو . (نوپه دي صورت کښي) نه حانثيږي. ([1])

تشریح ◄ **دليله** ◄ دليل دا دي.چه په مانځه کښي دننه دا خيزونه د عرف اوشريعت په رڼا کښي کلام نه دي. (په شريعت کښي خوځکه کلام نه دي.چه) نبي ﷺ فرمائيلي دي.اِنَّ صَلَاتَنَا هٰذِهٖ لَايَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ } ([2])زمونږپه دي مونځ کښي دخلقود خبرو څه ګنجائش نشته. (چه خلق په مانځه کښي خبري کوي.نوکه په مانځه کښي دقرآن لوستل کلام وو.پکاردا وه.چه په دي باندي مونځ ماتيدلو.حالانکه مونږ په مانځه کښي قرات لولو.خوڅوك هم دا نه واني.چه دده قرآت خبري دي.اوپه دي باندي مونځ ماتيږي)

قول بعض العلماء ◄ اوونيلي شوي دي.چه په عرف کښي دمانځه نه سوا په بل څه کښي هم د قرآن لوستلوباندي نه حانثيږي.ځکه چه (چه سړي قرآن لولي.) هغه ته خبري کونکي نه واني.بلکه قاري يا تسبيح ويونکي ورته واني. (دا دويم قول دفقيه ابوالليث،شيخ الاسلام اوصدرشهيد رحمه الله دي.اوهم په دي باندي فتوی ده.که دمانځه نه بهرقرآن اولولي.يا تسبيح اوواني.نودي نه حانثيږي)

د لباس دپاره د جامواغوستونه قسم کول

(وَمَنْ حَلَفَ لَايَلْبَسُ هٰذَا الثَّوْبَ وَهُوَ لَابِسُهُ فَنَزَعَهُ فِي الْحَالِ لَمْ يَحْنَثْ) وَكَذَا إِذَا حَلَفَ لَايَرْكَبُ هٰذِهٖ

---

[1] **مسلك الشافعي**:- د قياس تقاضا دا ده.چه په دوارو صورتونوکښي حانث شي. (ځکه چه تکلم دخولي نه الفاظ راويستلو ته واني.که قرآن وي اوکه غيرقرآن وي.که په مانځه کښي وي اوکه دمانځه نه بهروي) اودا قياس دامام شافعي رحمه الله قول دي.

[2] تقدم تخريجه في باب مفسدات الصلاة

(الدَّابَّةَ وَهُوَ رَاكِبُهَا فَنَزَلَ فِي الْحَالِ لَمْ يَحْنَثْ، (فَإِنْ لَبِثَ عَلَى حَالِهِ سَاعَةً حَنِثَ)

حل اللغة ① **يلبس**: اغوندی ② **الثوب**: جامه ③ **يركب**: سوریږی ④ **دابة**: سورلۍ ⑤ **نزل**: کوز شو

ترجمه (صورت دمسئلې دا دې که) یوکس قسم اوخوړلو چه دا جامې به نه اغوندی. (حالانکه د قسم په وخت کښې) ده هغه جامې اغوستې وی. (اوس به گورو) که ده فی الحال دغه جامې اوویستلې نه حانثیږی. (اوکه دومره وخت په کښې ایسارشو چه په هغې کښې ئې جامې ویستلې شوې نوحانثیږی) اودغه شان چه په سورلۍ سور وی. اودا قسم اوخوری چه دې سورلۍ باندې به نه سوریږی. (اودقسم خوړلونه پس) دې سمدستی راکوز شی نه حانثیږی.

تشریح **دلیله** دلیل دا دې چه دقسم انعقاد د پوره کولودپاره وی. (چه قسم پوره کړی اوحانث نشی) نوددې نه به دومره وخت مستثنا کولې شی چه په هغې کښې د شرط وجود متحقق کیدې شی نو(که د قسم خوړلو نه پس) دې هم په خپل حالت پاتې شو حانثیږی. خکه چه دا کارونه د دوام تقاضا کوی. هروخت کښې ددې پشان نورکارونه پیدا کیږی. ولې کتلې نشی چه ددې افعالوسره مودهٔ یادولې شی. ونیلې شی زه یوه ورځ سور ووم. اوما یوه ورځ جامې اغوستې وې. په خلاف د داخلیدو خکه چه د مودې او وخت په معنی کښې داسې نشی ونیلې چه زه پوره ورځ داخلیدم. اوکه حالف د خالص ابتداء نیت کړې وی نوتصدیق به ئې کولې شی. خکه چه خالصه ابتداء هم دده د کلام احتمال لری.

مفهوم الابتداء الخالص په سورلۍ اوجامواغوستلوکښې که لږ ساعت پاتې شو نوحانث کیږی. خکه چه رکوب او لبس د دوام تقاضا کوی. البته که ده دا نیت کړې وی چه اوس خومې جامې اغوستې دی چه دا اوباسم نوبیا به جامې نه اغوندم. یا ئې دا نیت وی چه اوس خو په سورلۍ باندې سوریم چه ددې نه کوز شم. نوبیا به پرې نه سوریږم. نوپه دې صورت کښې به نه حانثیږی. اودا تصدیق ئې خکه کولې شی.

چه دا لفظ چه «لاألبس اولاأرکب» د دې احتمال لری چه دده مراد وی چه ددې نه پس به زه جامې نه اغوندم. اوددې نه پس به زه په سورلۍ نه سوریږم. نوهرکله چه احتمال شته نودده د نیت اعتباربه کولې شی.

په کورکښې دناست کس دا قسم چه «لا أدخل هذه الدار» حکم

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هَذِهِ الدَّارَ وَهُوَ فِيهَا لَمْ يَحْنَثْ بِالْقُعُودِ حَتَّى يَخْرُجَ ثُمَّ يَدْخُلَ

حل اللغة ① **القعود**: ناسته ② **الدوام**: همیشه والې

ترجمه صاحب قدوری رحمه الله فرمائی که یوکس قسم اوخوړلو چه دې کورته به نه داخلیږی. او(دقسم په وخت کښې) دې هلته وو. نوپه کیناستوباندې نه حانثیږی. ترڅوچه دهغې نه وتلې نه وی. اوبیا داخل شوې نه وی.

تشریح **وجه الاستحسان** دا د استحسان حکم دې. اود استحسان وجه دا ده. چه د داخلیدو دپاره دوام نشته. خکه چه داخلیدل خود بهرنه دننه تلل دی. (اودلته په دې کیفیت سره داخلیدل نه دی موجود شوی. نوخکه نه حانثیږی)

کنډرکور ته داخلیدو سره د قسم احکام

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ دَارًا فَدَخَلَ دَارًا خَرَابًا لَمْ يَحْنَثْ، وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هَذِهِ الدَّارَ فَدَخَلَهَا بَعْدَمَا انْهَدَمَتْ وَصَارَتْ صَحْرَاءَ حَنِثَ)

حل اللغة ① **دار**: کور ② **خرابا**: کنډر ③ **صحراء**: بیابان ④ **انهدمت**: نړیدلې، غورزیدلې

ترجمه اوځوك چه قسم اوخوري چه (مطلق) كور ته به نه داخليږي.اوكندر كورته ورداخل شو نه حانثيږي. اوكه قسم اوخوري چه دې كورته به نه داخليږي. (يعني دقسم په وخت كښې دهغې كور آبادې موجود وي) اودهغې د نړيدو نه پس ورته داخل شي.چه هموار ميدان ترې جوړ شوې وي.نوحانثيږي.

دليله ځكه چه د عربواوعجموپه نيز كورميدان اوغولي ته ونيلي شي. (چه ګيرچاپيره ديوال ترې وي.كه آباد وي اوكه كندر. اوپه دې باندې دليل دا دې.چه) دارعامرة (په عين مهمله) هغه كورته ونيلې شي.چه آباد وي.اودارغامرة (په غين معجمه) هغه كورته ونيلي شي.چه آباد نه وي.اود عربواشعارهم په دې باندې ګواه دى. (چه چارديوارى ترې تاو وي.نودارآباد اوكندر دواړو ته ونيلي شي) نوآبادي په كوركښې (يوزياتي) صفت دې. (لكه څنګه چه په انسان كښې علم يوزياتي صفت دې.كه علم په كښې وي اوكه نه وي.دواړو ته انسان ونيلي شي) البته دومره ده چه په حاضر كور كښې (يعني چه مخامخ موجود وي) د آبادئ صفت لغو اوعبث دې. (ځكه چه اشاره ورته كولي شي. كه ته صفت بيان كړې اوكه نه دغه كورپه خپله متعين دې) اوپه غائب كوركښې (چه اشاره ورته نه وي شوې.دآبادي) صفت معتبر دې. (نود قسم تعلق به صرف دهغه كورسره وي.چه آبادي په كښې وي)

(وَمَنْ حَلَفَ لَايَدْخُلُ هٰذَا الْبَيْتَ فَدَخَلَ بَعْدَمَا انْهَدَمَ لَمْ يَحْنَثْ)

ترجمه اوكه قسم ئې اوخوړلو چه دې كورته به نه داخليږي.اودهغې د نړيدو نه پس چه ميدان ترې جوړشوې وي ورته داخل شي.نو(په دې صورت كښې) نه حانثيږي.

تشريح دليله ځكه چه د كورنوم ترې زائله شوې دې. (اوس ورته څوك كورنه وائي.حالانكه ده خود كورد داخليدو نه قسم خوړلې دې.ځكه چه كورخو هغه ځائي ته ونيلي شي.چه شپه په كښې كولي شي)اوپه دې كښې اوس شپه نشي كولې. (ځكه دا ځائي محفوظ نه وي.)

(وَمَنْ حَلَفَ اَنْ لَايُكَلِّمُ زوجة فلان فطلقها فلان لم كلمها حنث)

ترجمه اوچاچه قسم اوخوړلوچه دفلاني د ښځې سره به خبرې نه كوم نو فلاني ورته طلاق وركړو او بيا ورسره ده خبرې اوكړې نو حانثيږي

تشريح دليله ځكه چې په اصل كښې دده مقصود د فلاني ښځې نه د خپل خفګان اظهار دې.په دې وجه د خبرو كولو نه قسم نه خوري چې د فلاني ښځه ده.دا فلاني ته چې ئې د زوجيت نسبت كړې دې.صرف د تعارف دپاره نو چې خبرې ورسره اوكړې حانثيږي به اګرچې د فلاني په زوجيت كښې باقي پاتې نه وي.

د فلاني دغلام يا ښځې يا ملكيرې سره د خبروكولو نه قسم كول

(وَمَنْ حَلَفَ اَنْ لَايُكَلِّمُ عَبْدَ فُلَانٍ اَوْلَايَدْخُلُ دَارَفُلَانٍ فَبَاعَ فُلَانٌ عَبْدَهٗ اَوْدَارَهٗ ثُمَّ كَلَّمَ الْعَبْدَ اَوْ دَخَلَ الدَّارَ لَمْ يَحْنِثْ)

ترجمه اوچاچه قسم اوخوړلوچه دفلاني يومعين غلام سره به خبرې نه كوي.اويا د فلاني په كورته به نه داخليږي نو(په اول صورت كښې) فلاني خپل غلام خرڅ كړلو. (اوپه دويم صورت كښې) هغه كور ته ورداخل شونو(په دې دواړو صورتونو كښې) دې نه حانثيږي.

تشريح دليله ځكه چه ده خپل يمين په داسې فعل باندې منعقد كړې دې.چه هغه فعل په داسې محل كښې واقع كيږي.دكوم تعلق چه د فلاني سره دې. (يعني ده خپلې خبرې كول داسې كسانو سره متعلق كړې.دچا چه د فلاني كس سره تعلق وي) برابره ده كه دغه تعلق د ملكيت وي. (لكه د فلاني غلام او د

فلاني كور) اوس چونكه دهغه سره ئې تعلق پاتې نشو. (خكه چه غلام ازاد شو.كور خرڅ شو. نو نه حانثيږي.

د شړۍ دخاوند سره دخبروكولونه قسم كول

(وَإِنْ حَلَفَ أَنْ لَا يُكَلِّمَ صَاحِبَ هَذَا الطَّيْلَسَانِ فَبَاعَهُ ثُمَّ كَلَّمَهُ حَنِثَ)

حل اللغة ① **طيلسان:** شړۍ

ترجمه (امام محمد رحمه الله په جامع صغير كښې) فرمائي.كه يوكس(زيد) قسم اوخوړلو.چه ددې شړۍ خاوند (بكر) سره به خبرې نه كوي.نوهغه دغه شړۍ خرڅه كړه.اوده (د هغې د خرڅولونه پس) ده (زيد) ورسره خبرې اوكړې.نودې حانثيږي.

تشريح **دليله** خكه چه دا اضافت (د شړۍ) صرف د پيژند گلودپاره دې. (چه زما مراد هغه كس دې. چه شړۍ ئې اغوستې ده)خكه چه انسان د شړۍ د وجې دشمنى نه كوي. (چه د شړۍ د وجې بكرسره دشمنى اوكړي.بلكه د شړۍ دخاوند سره دشمنى كوي) نودا صورت داسې شو.لكه چه ده ورته اشاره كړې وي. (چه زما دې قسم وي.بكرسره به خبرې نه كوم. او شړۍ ئې په كښې هډو ياده كړې نه وي.نو په دغه صورت كښې كه زيد دبكرسره خبرې اوكړې.حانثيږي.دغه شان به د شړۍ په مسئله كښې هم حانثيږي)

(وَكَذَلِكَ إِذَا حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ هَذَا الشَّابَّ فَكَلَّمَهُ وَقَدْ صَارَ شَيْخًا حَنِثَ)

حل اللغة ① **الشاب:** خوان ② **شيخ:** بوډا

ترجمه اودغه شان حكم دې كله چې ئې قسم اوخوړلو.چه ددې خوان(بكر) سره به خبرې نه كوي.اوده ورسره په داسې حالت كښې خبرې اوكړې.چه هغه بوډا شوې وو.نو(په دې صورت كښې) حانثيږي.

تشريح د مسئلې وضاحت دا دې.چه زيد ،بكرطرف ته اشاره اوكړه.چه زه به ددې خوان سره خبرې نه كوم. يعنى د خوانۍ په صفت سره ئې ذكركړلو.بيا وخت تيريدلو.تردې چه بكر بوډا شو.اوزيد ورسره خبرې اوكړې .نويه دې صورت كښې دې حانثيږي.

دليله اودې خكه حانثيږي.چه په قسم كښې د برى كيدو اوحانث كيدو تعلق د هغه كس سره وي.چاته چه اشاره شوې وي.اوچه كله يوكس ته اشاره اوشي.نوصفت په كښې لغو وي. مثلاً ته بكرته اشاره اوكړې.اوهغه خوان وي.نوكه ته هغه د خوانۍ په صفت موصوف كوې اوكه نه.په دواړو صورتونو كښې محلوف عليه بكرشو.دهغه د خوانۍ صفت محلوف عليه نه دې.ددې وجې كه په بوډا توب كښې ورسره خبرې اوكړې.نوهم حانثيږي.

د ماشوم يا خوان سره د خبرو كولونه قسم

(وإن حَلَفَ أَنْ لَا يَأْكُلَ لَحْمَ هَذَا الْحَمَلِ فَأَكَلَ بَعْدَ مَا صَارَ كَبْشًا حَنِثَ)

ترجمه اوكه قسم ئې اوخوړلو . چه د دې حمل (د گډې يوكلنيز بچى) نه به خوراك نه كوي. بيا د گډ كيدونه پس ترې خوراك اوكړي. (نويه دې صورت كښې) حانثيږي.

تشريح **دليله** خكه چه په حمل كښې د صغرصفت د يمين داعى نه دې. (يعنى داسې نه ده. چه يوسړې د يوكليز گډ خوښې خوړلو نه نفرت كوي.اوچه كله گډ شي.نوبيا ئې غوښه خوري) خكه چه نفرت كونكې ددې (حمل د غوښې خوړلو)نه زيات نفرت كوي (ددې حمل دغوښې په نسبت) د غوښې د گډ نه (نوخوك چه دحمل د غوښې خوراك نه قسم اوخوري.كه دې د گډ غوښه اوخوري.نوهم به

حانثيږي.ځکه چه د يوکليز بچي غوبنه چه څوك نه خوري.دي به په طريقه اولى سره د ګړ غوبنه نه خوري.ځکه چه د يوکليزبچي غوبنه د ګړ دغوبنې نه ترسکونه اومزيداره وي)

د قجورې د ونې نه د نه خوړلو قسم کول

(وَاِنْ حَلَفَ اَنْ لَايَاْكُلَ مِنْ هٰذِهِ النَّخْلَةِ فَهُوَعَلٰى ثَمَرِهَا)

حل اللغة ① النخلة: قجوره ② ثمر: ميوه ③ الخل: سرکه

ترجمه اوکه قسم ئې اوخوړلو.چه د قجورې ددې ونې نه به خوراك نه کوم.نوددې قسم اطلاق به ددې په ميوه باندې کيږي.

دليله ځکه چه ده د قسم نسبت هغه څيزته اوکړلو.چه هغه نه خوړلې کيږي. (چه وونه ده) نوهغه څيزته ترې مراد وي.چه ددې ونې نه راوځي. اوهغه ميوه ده.ځکه چه ونه د ميوې پيدا کيدو سبب دې. (هرکله چه ونه د ميوې د پيدا کيدوسبب دې) نودا صلاحيت لري.چه ونه د ميوې نه مجاز شي. (اودقبيلې د ذکرد سبب مراد ترې نه مسبب شي)

تشريح دترجمې اواضافي قيوداتونه مطلب ښکاره دې.

د کچه قجورو خوړلو نه قسم کول

(وَمَنْ حَلَفَ اَنْ لَايَاْكُلَ مِنْ هٰذَا الْبُسْرِ فَصَارَ رُطَبًا فَاَكَلَهٗ لَمْ يَحْنَثْ وَاِنْ حَلَفَ لَايَاْكُلُ بُسْرًا فَاَكَلَ رُطَبًا لَمْ يَحْنَثْ)

حل اللغة ① البسر: کچه قجورې ② رطبا: پخې قجورې

ترجمه اوچا چې قسم اوخوړلو.چه دا کچه قجورې به نه خوري. (په هغه وخت کښې ئې اونه خوړلې.خو) چه کله هغه پخې شوې.نووې خوړلې. (په دې صورت کښې) نه حانثيږي.اوکه قسم اوخوري.چه ددې پخوقجورو نه به نه خوري.او(دقسم خوړلو نه پس) هغه پخې قجورې چوارې شوې اوخوري. نوبه دې (نولوصورتونوکښې) نه حانثيږي.

دليله ځکه چه د کچه والي اوپوخ والي صفت قسم خوړلو ته اماده کونکي دي. (يعنې خلق کچه اوپخې قجورې دواړه دبل څيزد ګډون نه بغير خوري.نوچه په کوم صفت باندې قسم خوړلې شوې وي.هم) په هغه صفت به مقيد کولې شي.

د کچه اوپخوقجورو د خوړلونه د قسم خوړلواحکام

(وَاِنْ حَلَفَ اَنْ لَايَاْكُلَ رُطَبًا فَاَكَلَ بُسْرًا مُذَنِّبًا حَنِثَ عِنْدَ اَبِي حَنِيْفَةَ)[1]

حل اللغة ① بسرا: کچه قجورې ② رطبا: پخې قجورې ③ مذنبا: هغه چواره چه د لکۍ د طرفه پخه وي نوره کچه وي

ترجمه اوچاچه قسم اوخوړلو.چه پخې قجورې به نه خوري. (اود قسم نه پس ئې) بسرمذنب (هغه چواره چه دلکۍ د طرف نه پخه شوې وي.اوباقی کچه وي.نوپه دې صورت کښې) ئې اوخوړله.نودامام ابوحنيفهؒ په نيز حانثيږي.

دلائله ① دامام اعظمؒ دليل دا دې.چه رطب مذنب هغې ته وائي.چه دهغې په لکۍ کښې لږ

---

[1] القول الراجح هو قول أبي حنيفةؒ كذا في فتح القدير(٤\٣٩٨) وردالمحتار(٣\٩٨) والبحرالرائق (٤\٣٢٠) والهندية (٢\٨٢) نقلاً عن القول الراجح (١/٤١١) –

غونډي کچه والي وي.اوبسرمذنب دديې په عکس دي. (یعنې چه دهغې په لکئ کنبې لږ غونډي پوخ والې وي.نوره ټوله کچه وي) نود دي (یعنې رطب مذنب اوبسرمذنب) خوړل به لکه د رطب اوبسرخوړلوپشان وي. (ځکه چه قاعده دا ده.چه اکثرلره حکم د کل وي.نورطب مذنب به هم د رطب په حکم کنبې وي.اوبسرمذنب به هم د بسرپه حکم کنبې وي چه لکه څنګه د رطب نه دقسم خوړلو په صورت کنبې د رطب په خوړلو حانثیږي.دغه شان به د رطب مذنب په خوړلو هم حانثیږي.اولکه څنګه چه د بسرنه د قسم کولوپه صورت کنبې دبسرپه خوړلو حانثیږي.دغه شان به د بسرمذنب په خوړلوهم حانثیږي)

② اوبل دلیل دا دي.چه ټول (که رطب وي اوکه رطب مذنب اودغه شان که بسروي اوکه بسرمذنب) ټول په خوړلوکنبې مقصود دی. (یعنې دبل څیز د ګډون نه بغیرخلق ټول خوری.په خوړلوکنبې خانله حیثیت لری.

مسلک الصاحبین> اوصاحبین رحمهماالله فرمائی.چه د رطب په صورت کنبې نه حانثیږي.که دا قسم ئې خوړلې وي.چه رطب به نه خوری.اوپه رطب مذنب باندې به هم نه حانثیږي.که دا قسم ئې خوړلې وي.چه بسربه نه خوری.

دلیلهما> ځکه چه رطب مذنب ته هم رطب وائی.اوبسرمذنب ته هم بسر وائی.نودا داسې شو.لکه چه په اختلوباندې قسم اوخوری (دکوم بحث چه به په راروانه مسئله کنبې راشی)

دغوښې نه په قسم کولوکښې دکب عدم شمولیت

(وَلَوحَلَفَ لَايَأكُلُ لَحْمًافَأَكَلَ لَحْمَ السَّمَكِ لَايَحْنَثُ)

حل اللغة> ① **لحم**:غوښه ② **السمک**: کب

ترجمه> چا چه قسم اوخوړلو.چه غوښه به نه خوری.نوده د کب غوښه اوخوړله. (په دې باندې) نه حانثیږي.

وجه الاستحسان> داستحسان وجه دا ده.چه دکب غوښې ته لحم وئیل مجازاً دی.ځکه چه غوښه د وینې نه پیدا کیږی.اوپه کب کنبې وینه نشته.ځکه چه دې په اوبوکنبې اوسیږی. (اود وینې ځیزپه اوبوکنبې ژوندې نشی پاتې کیدې)

القیاس> قیاس دا وائی.چه حانث دې شی.ځکه چه په قرآن کنبې دې(دکب غوښې) ته غوښه وئیلې شوې ده. (الله تعالی فرمائیلی دی.﴿ وَمِنْ كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا﴾

د دجلې نه دڅکاك نه کولوقسم

(وَمَنْ حَلَفَ لَايَشْرَبُ مِنْ دِجْلَةَ فَشَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ لَمْ يَحْنَثْ) حَتّٰى يَكْرَعَ مِنْهَا كَرْعًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ(¹)

حل اللغة> ① **اناء**:لوښې ② **الكرع**:په خوله لګولو سره اوبه څکل

ترجمه> چا چه قسم اوخوړلو.چه ددجلې نه به نه څکی.بیا ئې ددې نه په لوښې کنبې اوبه اوڅکلې. (نوپه دې صورت کنبې) نه حانثیږي.تردې چه ددې نه په خوله اوبه اوڅکی. (بیا به) د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزحانثیږي.

¹) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة ﷫ كذا في الخانية (١٣\١٤) والكفاية (٣١١\٤) والعناية (٣١١\٤) والدرالمختار(١٠٨\٣) والبحرالرائق (٣٢٨\٤) والهندية (٩٥\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤١٥\١)۔

دلیله > دامام ابوحنیفه دلیل دا دی چه کلمه د ((من)) د تبعیض دپاره ده.اوپه (بله دا چه) اودا معنی (په خلقو کښې) مستعمله ده.اودا جمله په خوله لګولوسره په اوبوڅکلوکښې حقیقت دی. (ځکه چه داسې وائی.چه د دجلې نه به اوبه نه څکم.د څکلو د آله ذکرپه کښې نشته) هم دا وجه ده.که په خوله ئې تري اوبه اوڅکلې.نوپه اجماع سره حانثیږی. (نوهرکله چه په حقیقت عمل ممکن دی.) مجازته تګ منع شو.اګرچه (د دجله نه په لوښی کښې اوبه څکل متعارف دی)

مسلک الصاحبین > صاحبینورحمهماالله فرمائیلی دی.کله چه ددې نه په لوښیی کښې اوبه اوڅکی. (نوحانثیږی)

دلیلهما > ځکه چه په لوښی کښې اوبه څکل متعارف دی. (په خلقو کښې ئې رواج دې) اوددې لفظ نه لا اشرب من دجلة) نه هم دا مطلب اخستې شي.

(وَإِنْ حَلَفَ لَا يَشْرَبُ مِنْ مَاءِ دِجْلَةَ فَشَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ حَنِثَ)

ترجمه > اوکه ده داسې اووئیل.چه زه به د دجلې داوبو نه څکاك نه کوم.اوبیا ئې دهغې اوبه په لوښی کښې اوڅکلې.نوپه دې صورت کښې حانثیږی.

دلیله > ځکه چه په لوښی کښې راخستلونه پس هم هغه د دجلې اوبه دی.اوهم دا په کښې شرط وو. (چه د دجلې اوبه به نه څکم) نودا داسې شوه.لکه چه دنهر د اوبو نه اوڅکی.چه هغه نهرد دجله نه راوتلې وی. (نوپه هغې صورت کښې هم حانثیږی.دغه شان به د لوښی په ذریعه اوبوڅکلوباندې هم حانثیږی)

داوړود خوراك نه قسم خوړل

(وَلَوْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هَذَا الدَّقِيقِ فَأَكَلَ مِنْ خُبْزِهِ حَنِثَ)

حل اللغة > ① **الدقیق**: اوړه ② **خبز**: روټئ

ترجمه > که قسم ئې اوخوړلو.چه دا اوړه به نه خوری.اوبیا ئې دهغې د روټئ اوخوړله.نوپه دې صورت کښې) حانثیږی.

دلیله > ځکه چه اوړۀ نشی خوړلې.نوهغه خیزبه تري مراد وی.چه ددې نه جوړیږی.

(وَلَوِ اسْتَفَّهُ كَمَا هُوَ لَا يَحْنَثُ)

حل اللغة > ① **استف**:اوړه اومه اوخوړل

ترجمه > اوکه اوړۀ ئې دغه شان اومۀ اوخوړل.نه حانثیږی. (ددې په خوراك)

دلیله > ځکه چه دلته مجازی معنی مراد اخستل متعین ده.یعنی خلق روټئ خوری اومه اوړه څوك نه خوری.اوچې ده اوړه اوخوړل نو نه حانثیږی.

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ فُلَانًا فَكَلَّمَهُ وَهُوَ بِحَيْثُ يَسْمَعُ إِلَّا أَنَّهُ نَائِمٌ حَنِثَ)

حل اللغة > ① **نائم**:اوده

ترجمه > چا چه قسم اوخوړلو.چه فلانی سره به خبرې نه کوی.اوبیا ده د هغه فلانی سره خبرې اوکړې.اوهغه په داسې ځائې کښې وی.چه (ده) خبرې اوریدې شی.خو دومره وی.چه هغه اوده وی. (ددې وجې ده خبرې واورې). (نوپه دې صورت کښې) حانثیږی.

دلیله > (دلیل دا دی.چه) ده دهغه سره خبرې اوکړې.اودهغه غوږو ته خبرې اورسیدلې.خو دهغه دخوب د وجې ده په خبرو پوهه نشو.نودا داسې شو.چه دې ورته آواز اوکړی.اوهغه په داسې ځائې کښې

وی.چه دده په خبره دغفلت د وجې پوهه نشي. (نوپه دغه صورت کښې حانثیږی.نوداسې به په زیربحث مسئله کښې هم حانثیږی)

نسخة المبسوط> اود مبسوط په بعضې نسخوکښې ئې د رابیدارولو شرط لګولې دې. (چه هله به حانثیږی.چه دا حالف هغه د خوب نه رابیدار کړی.اوصاحب دهدایه فرمائی زمونږ مشائخ هم ددې قول قائلین دی.

دلیله> ځکه چه حالف هغه کس اودهٔ کس رابیدارنکړلو.نودا داسې شوه لکه چه دې ورته د لرې نه آواز اوکړی.چه هغه په دومره فاصله کښې وی.چه دده آواز واوئه ری. (نوپه دغه صورت کښې نه حانثیږی.نودغه شان چه اودهٔ وی.اودې ورته خبرې اوکړی.هم به نه حانثیږی)

د خبرونه کولوتعلیق په اذن اواجازت پورې

(وَاِن حَلَفَ اَن لَّایُکَلِّمَهُ اِلَّا بِاِذنِهٖ فَاَذِنَ لَهٗ وَلَم یَعلَم بِالاِذنِ حَتّٰی کَلَّمَهٗ حَنِثَ)()

ترجمه> اوکه (زید) قسم اوخوړلو.چه بغیراجازته به خبرې نه کوی.بیا ده ته اجازت ملاؤ شو.خوده ته داجازت علم نه وو. (اودعلم نه وړاندې) ده دهغه سره خبرې اوکړې.نو(په دې صورت کښې) حانثیږی.

دلیلهما> (دحنث وجه ئې دا ده.چه) اذن د اذان نه مشتق دې.اواذان اعلان ته وائی. (اوحالف اعلان نه دې اوریدلې.نودا داسې شوه لکه چه هډو اجازت شوې نه وی) یا اذن په غوږ کښې د واقع کیدو نه مشتق دې.(چه د سړی په غوږ کښې اجازت واقع شی.یعنی داجازت کلمات واوری) اوپه دې دواړو کښې هر یو(که اجازت د اعلان نه عبارت شی.اوکه په غوږ کښې د واقع کیدونه) اجازت صرف په اوریدو سره متحقق (اوواقع) کیږی. (یعنی اجازت به هله اجازت وی.چه حالف دغه د اجازت الفاظ واوری.اوپه زیربحث مسئله کښې اګرچه اجازت شوې دې. خوحالف د اجازت الفاظ نه دی اوریدلې.ځکه په خبرو کولوسره دې حانث کیږی) دا دطرفینو مسلك دې.

مسلك ابي يوسف> امام أبویوسف رحمه الله فرمائی.چه (په زیربحث مسئله کښې) نه حانث کیږی.

دلیله> (د دوی دلیل دا دې.چه) اذن د اطلاق په معنی ده. او دا اطلاق په اعلان سره پوره کیږی. (یعنی اذن د بندیزختمولو ته وائی.چه وړاندې په یوځیز پابندی لګیدلې وی.اوروستو هغه ختمه شی.په دې کښې د اسماع اوعدم اسماع څه ضرورت نشته.یعنی که ده اوریدلې وی اوکه نه.خوچه اعلان اواجازت اوکړې شو.نودده خبرې د اجازت نه پس واقع شوې.اوچه د اجازت نه پس واقع شوې.نونه حانثیږی) لکه د رضا په صورت کښې.

الجواب عنه> مونږ(جمهوراحناف رحمهم الله) وایو.چه رضا د زړه عمل دې. اواعلان داسې نه دې. (یعنی د زړه عمل نه دې.نود دواړو په مینځ کښې فرق راغلو.نود اجازت مسئله د رضا د مسئلې پشان نشوه) لکه څنګه چه وړاندې تیرشوی دی. (یعنی چه اذن یا د اعلان نه مشتق دې.اوپه اعلان کښې اورول ضروری وی.اویا په غوږ کښې د غږ کولو نه مشتق دې.اوپه زیربحث مسئله کښې نه اعلان شته.ځکه چه حالف د اجازت الفاظ نه دی اوریدلې.اونه په غوږ کښې غږ کول شته.ځکه چه دحالف په غوږ کښې داجازت الفاظ نه دی وئیلی شوی.

() القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في العناية (٤\١٩٤) وردالمحتار(٣\١٢٢) والهندية (٢\٩٧) نقلاً عن القول الراجح (١\٤١٨)-

دحاکم يوکس ته د شرپسندو دخبر کولو قسم ورکول

(وَإِذَا اسْتَحْلَفَ الْوَالِي رَجُلًا لِيُعْلِمَنَّهُ بِكُلِّ دَاعِرٍ دَخَلَ الْبَلَدَ فَهٰذَا عَلٰى حَالِ وِلَايَتِهِ خَاصَّةً)

ترجمه> که حاکم يوکس ته قسم ورکړلو.چه دې ملك ته څوك شرپسند راشي.يعني غل، داکو ،وغيره ،نود هريوبه مونږ ته خبرراکوي.نوداقسم به ترهغه وخته پورې باقي وی.ترڅوچه دغه حاکم برقرار وی.

دليله> ځکه چه ددې قسم ورکولومقصد دا دې.چه دې شرپسند ته سزا ورکړي.اوددې د شريا دنورو دشر نه بچ شي.نوچه د دغه حاکم اختيارختم شي.نوبيا د خبر ورکولو فائده نشته.اودا اختيار به په هغه صورت کښې ختميږی .چه دې مړ شي.يا دې ددغه عهدې نه معزوله کړې شي.نوبيا هم په ظاهره هم دا حکم دې.

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَرْكَبُ دَابَّةَ فُلَانٍ فَرَكِبَ دَابَّةَ عَبْدٍ مَأْذُونٍ لَهُ مَدْيُونٍ لَمْ يَحْنَثْ)

ترجمه> اوچا (زيد) چه قسم اوخوړلو.چه دفلانی (بکر) په سورلئ به نه سوريږم. (اوددې نه پس) دهغه د عبد ماذون په سورلئ باندې سور شو.نوحانثيږی.

دليله> ځکه چې حالف دپه هغه دابه باندې د سوريدو نه قسم کړې دې کومه چې براه راست د فلانی په ملکيت کښې وی اود عبد ماذون دابه اګرچې د فلانی په ملکيت کښې ده.خوبه دې کښې ورسره عبد ماذون هم په تصرف کولو کښې شريك دې.

د کورپه چت اودريدو باندې دحانث کيدوحکم

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هٰذِهِ الدَّارَ فَوَقَفَ عَلٰى سَطْحِهَا اَوْدَخَلَ دِهْلِيْزَهَا حَنِثَ)

حل اللغة> ① **وقف**: اودريدلو ② **سطح**:چت ③ **دهليز**: غولې،صحن

ترجمه> اوچاچه قسم اوخوړلو.چه دې (متعين) کورته به نه داخليږی. (دقسم خوړلونه پس) دهغې په چت باندې اودريدلو.اوکله چې داخل شی دودئ د کور ته نوحانثيږی.

دليله> ځکه چه چت د کورحصه ده.ولې ته نه ګورې چه د معتکف اعتکاف په دې نه ماتيږی.چه دې د جمات چت ته اوخيژی. (ځکه چه دجمات چت دجمات حصه ده.که چرته د جمات حصه نه وه.نودمعتکف اعتکاف به پرې ماتيدلو) البته ډيوډئ ته د داخليدو په صورت کښې دا تفصيل دې که د کور د دروازې په بندلوهغه ډيوډئ دننه پاتې کيږی.اوچت پرې دپاسه وی.نو دې به حانثيږی.اوکه دننه حصه نه جوړيږی.بلکه هم بهروی.نوبيا نه حانثيږی)

(وَاِنْ وَقَفَ فِي طَاقِ الْبَابِ بِحَيْثُ اِذَا اُغْلِقَ الْبَابُ كَانَ خَارِجًا لَمْ يَحْنَثْ)

ترجمه> اوکه د دروزاې په چوکاټ کښې داسې اودريږی.که دروازه بنده کړې شی.نودې بهر پاتې کيږی.نو نه حانثيږی.

دليله> ځکه چه دروازه د کوراوپه کورکښې چه څه وی دهغې دحفاظت دپاره وی.نوچه کومه حصه د دروازې نه بهروی.هغه په کورکښې نه داخليږی. (ځکه په دې صورت کښې نه حانثيږی)

وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الشِّوَاءَ فَهُوَ عَلَى اللَّحْمِ دُوْنَ الْبَاذَنْجَانِ وَالْجَزَرِ

حل اللغة> ① **الشّواء**: وريته شوې غوښه

ترجمه> اوکه قسم ئې اوخوړلو.چه ورته شوې به نه خوری.نوددې اطلاق به په غوښه کيږی. (که وريته شوې غوښه اوخوری.حانثيږی به) نه په باتنګړو اوپه ګازرو باندې.

دليله ◄ څکه چه کله وريت شوي ځيزمطلقا ذکرشي.مراد ترې وريته شوي غوښه وي.البته دا ده.که (په قسم کښې) دهغه ځيزنيت اوکړي.چه وريتولي شي.لکه هګۍ وغيره.دحقيقي معنى د وجې(يعنى د وريت شوى ځيز حقيقي معنى چه ورتيدل په کښې وي.په هګۍ وغيره باندې صادقيږي.البته په عرف کښې چه وريت شوې ځيز ياد کړې شي.نو مراد ترې هګۍ نه وي.خوچونکه دده کلام ددې احتمال هم لري.چه ددې نه وريته شوې هګۍ مراد شي.اوچه ده ئې نيت هم کړې وي.نودده نيت به معتبر وي.اوکه هګۍ اوخوري.حانث به شي)

(وَإِنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الطَّبِيخَ فَهُوَعَلَى مَا يُطْبَخُ مِنَ اللَّحْمِ)

ترجمه ◄ اوکه قسم اوخوري چه پوخ شوي ځيزبه نه خوري.نوددې اطلاق به په پخه شوې غوښه کيږي.
دليله ◄ اودا د استحسان حکم دې.دعرف د اعتبار په وجه (څکه چه په عرف کښې چه پخ شوې ځيزياد کړې شي.نومراد ترې پخه شوې غوښه وي.اوپه قسم کښې خوعرف معتبر دې) اودا غوښه ترې څکه مراد اخلو.چه د پخ شوې ځيزعامه معنى اخستل متعذر دى. (څکه چه په دې کښې سبزي وغيره هرپخ شوې ځيزشامليږي.نوکه مونږ ددې نه هرپخ شوې ځيز واخلو.نوپه ده به غوښه اوسبزيان اوبکرى متې غرض دا چه هرهغه ځيزچه په اور پخ شوې وي.هغه حرام شى.نودا غريب به څه خوري؟.ددې وجې مونږ د پخ شوى ځيزعامه معنى وانخستله) نود دې پخ شوى ځيزنه به خاص متعارف ځيزمراد وي.يعنى هغه غوښه چه په اوبوکښې پخ شوې وي.

د سرد خوړلونه د قسم کولواحکام

(وَمَنْ حَلَفَ أَنْ لَا يَأْكُلَ الرُّءُوسَ فَيَمِينُهُ عَلَى مَا يُكْبَسُ فِي التَّنَانِيرِوَيُبَاعُ فِي الْمِصْرِ)

حل اللغة ◄ ① **يكبس**: پخولي شى ② **التنانير**:تنورونه
ترجمه ◄ اوچا چه قسم اوخوړلو.چه زه به سر(يعنى دسرمغزوغيره) نه خورم.نوده د قسم نه به هغه سرونه مراد وى.کوم چه په تنورونوکښې پخيږي. (لکه د چيلۍ اوګډ سرونه شول) اوپه ښارونوکښې خرڅيږي.
رواية جامع الصغير ◄ اوپه جامع صغيرکښې دى.که قسم اوخوري.چه زه به سر نه خورم.نوداابوحنيفه رحمه الله په نيزددې قسم اطلاق به د غوا اوچيلۍ دواړو په سرونوباندې کيږي. (که د غوا يا د چيلۍ سرئې اوخوړلو.نوحانث کيږى به) اوامام ابويوسف اومحمد رحمهما الله فرمائي. چه ددې اطلاق به صرف د چيلۍ په سر باندې کيږي. (دبل څه د سرپه خوراك به نه حانثيږي)
بناء الاختلاف ◄ اوددې اختلاف بنياد د زماني اووخت اختلاف دې.لکه چه د ابوحنيفه رحمه الله په زمانه کښې په عرف کښې د سراطلاق د غوا اوچيلۍ دواړو په سرباندې کيدلو. (څکه هغوى د سرنه د غوا او چيلۍ سرا مراد اخستې دې) اودصاحبينو رحمهما الله په زمانه کښې صرف د چيلۍ په سرباندې کيدلو.اوزمونږ په زمانه کښې به د عادت (اوعرف) په بنياد فتوى ورکولې شى.په مختصر القدورى کښې هم دا خبره ذکرشوې ده.

(وَمن حَلَفَ ان لَا يَأْكُلَ خُبْزًا فَيَمِينُهُ عَلَى مَا يَعْتَادُ أَهْلُ الْبلدِ أَكْلَهُ خُبْزًا)

ترجمه وتشريح ◄ اوچا چې قسم اوخوړلو.چه روټۍ به نه خوري.چه دښارخلق چه د څه روټۍ خوري. د ده په قسم کښې به هغه مراد وي.اوهغه دغنمويا جوارو روټۍ ده.څکه چه زياتو ښارونو کښې هم ددې رواج دې. زمونږ په پاکستان کښې د غنمو د روټۍ رواج دې.نو د غنمو روټۍ به ترې مراد وى.

(فَإِنْ أَكَلَ خُبْزَالْقَطَايِفِ)

ترجمه وتشریح﴾ او که دقطائف (یعنی دکدو، خربوزې، بادامود دانود مغزنه جوړې شوې) روټۍ نې اوخوړله.نونه حانثیږي.

دلیله﴾ ځکه چه عام طوردې ته روټۍ نشي وئیلې.البته که ددې روټو نیت ئې کړې وی.نوبیا حانثیږي. ځکه چه د ده په کلام کښې ددې روټو احتمال هم شته.

(اَوۡخُبۡزَ الۡاَرُزِّ بِالۡعِرَاقِ لَمۡ يَحۡنَثۡ)

ترجمه و تشریح﴾ اوکه په عراق کښې ئې د وریخو روټۍ اوخوړله.نونه حانثیږي .

دلیله﴾ ځکه چه د وریخو د روټۍ په دوی کښې رواج نشته.اوکه په بنګله دیش کښې ئې د وریخو د روټۍ نه قسم اوخوړلواوبیا ئې اوخوړله نو حانثیږي به ځکه چې په دې ملك کښې د دې رواج دې.

(وَمَنۡ حَلَفَ لَا يَبِيعُ اَوۡلَا يَشۡتَرِيۡ اَوۡلَا يُؤَاجِرُ فَوَكَّلَ مَنۡ فَعَلَ ذٰلِكَ لَمۡ يَحۡنَثۡ)

حل اللغة﴾ ① **يواجر**:په مزدورۍ به څوك نه نیسی

ترجمه﴾که یوکس قسم اوخوړلو.چه زه به نه اخلم،نه به خرځوم.په کرایه باندې به نه اخلم.بیا ئې خپل کارد بل په ذمه کړلو.اوهغه دغه کار اوکړلو.نونه حانثیږي.

دلیله﴾ دفعل په حقیقي طورفاعل هم هغه وی.څوك چه دفعل مرتکب اوکونکې وی.اوس چه وکیل د خرڅولواخستلووغیره کارونه اوکړل.نوددې کار اوټول عمل نسبت وکیل طرف ته کیږي.نوچه په کومو معاملاتوکښې دکارنسبت وکیل طرف ته کیږي.په هغه معاملاتوکښې به حالف نه حانثیږي.اوچه دکومو معاملاتو نسبت وکیل ته نه کیږي.نوپه هغې کښې به حالف حانثیږي.

حکم صورة النية﴾ البته که قسم خوړونکی د قسم کولوپه وخت کښې ددې نیت هم کړې وی. (چه دوکیل په ذریعه به هم دا کارونه نه کوم) نوحانثیږي.ځکه چه ددې خبرې په منلو(چه ما دا نیت کړې وو) په قسم خوړونکی باندې سختي زیاتیږي.یاقسم خوړونکې داسې حاکم یا صاحب د اختیار وی.چه هغه دا کارونه په خپله نه کوی.نوبیا هم دده د وکیل په ذریعه په معامله کولوباندې هغه حانثیږي.ځکه چه ده خپل ځان د داسې کارونه منع کړې دې.دکوموکول چه دهغه عادت نه وی.

(وَمَنۡ حَلَفَ اَنۡ لَا يَجۡلِسَ عَلَى الۡاَرۡضِ فَجَلَسَ عَلٰى بِسَاطٍ اَوۡعَلٰى حَصِيۡرٍ لَمۡ يَحۡنَثۡ)

ترجمه﴾ اوچا چې قسم اوخوړلو.چه په زمکه به نه کینم.اوبیا په څادر یا پوزکی باندې کیناستلو.نودې نه حانثیږي.

دلیله﴾ ځکه چه داسې کس ته په عرف کښې په زمکه باندې کیناستونکې نشي وئیلې. ددې په خلاف که د قسم خوړونکی اود زمکې په مینځ کښې دده جامې وی.نودې به په زمکه کیناستونکې وی.ځکه چه دده جامې دده تابع دی.نوځکه دا حائل نشي شمارلې. (اوکه ده جامې اوویستې.اوپه زمکه ئې واچولې.اوبیا په هغې باندې کیناستلو.نواوس نه حانثیږي.ځکه چه دا جامې د څادرپه حکم کښې دی)

(وَمَنۡ حَلَفَ اَنۡ لَا يَجۡلِسَ عَلٰى سَرِيۡرٍ فَجَلَسَ عَلٰى سَرِيۡرٍ فَوۡقَهٗ بِسَاطٌ حَنِثَ)

اوکه یوکس قسم اوخوړلو.چه په دې معین تخت به نه کینم.اوبیا ئې په هغې باندې بستره واچولو.اوپه هغې باندې کیناستلو.نوحانثیږي. (ددې تخت نه مراد معین تخت دې. الجوهره)

دلیله﴾ په ګدئ باندې که نرې څادر واچولې شي نو هغه تبعاً ګدئ شمارلې شي د مستقل څادر حیثیت نه لری ځکه چه عام طور په بستره یا ګدئ باندې نرې څادر یا په دې غرض اچولې شي چه هغه بستره یا ګدئ خیرنه وی نو په څادر باندې د هغې خیرنوالې پټ کړی یا د ډیکوریشن او ښائست دپاره په

ګدئ باندې نرې اوښانسته ځادر اچولي شي نوهرکله چه دغه ځادر تبعا هم د ګدئ په حکم کښې دې په دې حالف حانثيږي البته که د دغه درئ دپاسه بله درئ واچوی نو بيا دې نه حانثيږي ځکه چه هغه دويمه درئ مستقل حيثيت لرى د لانديني درې تابع نشي ګرځولي.

وان جَعَلَ فَوْقَهُ سَرِيرًا آخَرَ فَجَلَسَ عليه لم يحنث

ترجمه> اوکه د هغې دپاسه ئې بل کټ کیخودو اوپه هغې باندې کيناستلو نو نه حانثيږي.

تشريح> که د کټ دپاسه ئې پوزکې وغيره خورکړې وى.په هغې باندې دويم تخت کيږدى.اوپه هغې باندې کينى. نو نه حانثيږي.

دليله> ځکه چې په کوم باندې ئې د کيناستو نه قسم خوړلي وو.په هغې باندې کې نه ناسته بلکه په بل کيناستونو نه حانثيږي.

په فرش باندې د اوده کيدو نه قسم کول اوبيا په بستره څملاستل

(وَإِنْ حَلَفَ ان لَا يَنَامَ عَلَى فِرَاشٍ فَنَامَ عَلَيْهِ وَفَوْقَهُ قِرَامٌ حَنِثَ)

ترجمه> اوچا چې قسم اوخوړلو.چه په فرش به نه څملم.اوبيا په داسې فرش باندې څملاستل.چه په هغې باندې نرې ځادر وو.نودې به حانثيږي.

دليله> ځکه چه دا ځادر ددې فرش تابع دې.نوځکه به دې هم په دې فرش څملاستونکې ګڼړلې شي.

(وَإِنْ جَعَلَ فَوْقَهُ فِرَاشًا آخَرَ فَنَامَ عَلَيْهِ لَا يَحْنَثُ)

ترجمه> اوکه په فرش يعنى ځادر دپاسه ئې بل ځادرواچولو.اوپه هغې باندې اوده شو.نونه حانثيږي.

دليله> ځکه چه يوځيزدبل پشان وى.نوهغه ددغه ځيزتابع نه وى.يعنى پورتنې ځادر د لاندينى ځادر تابع نه دې.نوځکه په لاندينى ځادرباندې د څملاستلونسبت باقى پاتې نشو. (بلکه دې په پورتنى ځادرباندې اوده کيدونکې ګڼړلې شي)

په قسم کښې متصل د انشاء الله ويلو حکم

(وَمَنْ حَلَفَ بِيَمِينٍ وَقَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ مُتَّصِلًا بِيَمِينِهِ فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ

ترجمه> چا چه په څه ځيزقسم اوخوړلو.اووريسې ئې انشاء الله اوونيل.نو(که دغه کاراوکړى.) نه حانثيږي.

دليله> ځکه چه نبى ﷺ فرمائيلى دى. مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ وَقَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ فَقَدْ بَرَّ فِي يَمِينِهِ }([1])چا چه په يوځيزقسم اوخوړلو.اووريسې ئې انشاء الله اوونيل.نودې په خپل قسم کښې برى شو(يعنى په استثناء سره د قصد معنى لغو شوه.قسم نه کيږى)

البته دا ضرورى ده.چه انشاء الله به وريسې متصل (اوسمدستى) وى.ځکه چه دانشاء الله ويل په خپل قسم نه رجوع (او واپس کيدل دى) اوپه قسم کښې رجوع نه وى. (بلکه په قسم کښې خو تاکيد وى.نو د انشاء الله ويل د يمين د ماهيت اوتعريف نه خلاف دې.ځکه چه په يمين کښې د تاکيد معنى پرته ده.اوپه استثناء کښې رجوع ده)

١) غريبه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم أخرج أحاديثاً بمعناه منها حديث ابن عمر رضي الله عنهما عن النبي ﷺ قال من حلف فاستثنى فإن شاء مضى وإن شاء ترك غيرحنث اخرجه أبوداود فى الأيمان باب ٩ رقم ٣٢٦٢ والترمذى فى النذور والأيمان باب الإستثناء فى ا ليمين والنسائى فى الأيمان والنذور رقم ٣٥٥١ وابن ماجه فى الكفارات باب ٦ رقم ٢١٠٥)۔

(وَلَوْحَلَفَ لَيَأْتِيَنَّهُ إِنِ اسْتَطَاعَ فَهٰذَا عَلٰى اسْتِطَاعَةِ الصِّحَّةِ دُوْنَ الْقُدْرَةِ)

ترجمه> اوکه دا قسم ئې اوخوړلو.چه ده ته (یعنی تاته) به درځم.خویه دې شرط که طاقت لرم.نوددې اسطاعت نه استطاعت صحت مراد وی.

تفسیر الاستطاعة> او(امام محمد رحمه الله) په جامع صغیر کښې ددې (استطاعت صحت) تفسیر کړې دې.اوفرمائیلی ئې دی.چه (د قسم خوړلونه پس) دې بیمار نشی. (چه دهغې دوجې ورسره ملاویدې نشو) اوبادشاه ئې (دهغه سره د ملاقات نه) منع نه کړی.اوداسې څه بل عذرپیدا نشی.چه دې هغه ته په ورتلوقادر نشی.نو(په دې ټولو صورتونوکښې دې) حانشیږی.

د حین او زمان په لفظ سره قسم خوړل

(وَإِنْ حَلَفَ أَنْ لَا يُكَلِّمَهُ حِيْنًا أَوْزَمَانًا أَوِالْحِيْنَ أَوِالزَّمَانَ فَهُوَ عَلٰى سِتَّةِ أَشْهُرٍ)

حل اللغة> ① **حین**:وخت ② **ستة**:شپږ ③ **اشهر**:جمع د شهر ،میاشت

ترجمه> (ابو الحسن قدوری رحمه الله) فرمائی.اوچا (زید) چه قسم اوخوړلو.چه دهغه (بکر) سره به څه وخت یا څه زمانې پورې خبرې نه کوی. (دالف لام نه بغیرحین او زمان ذکرکړی) اویا (داسې اووائی.چه بکرسره به) تریو وخت یا زمانې پورې خبرې نه کوی.نودا قسم به په شپږو میاشتویاندې حمل کولې شی. (یعنی ددې وخت او زمانې نه به شپږ میاشتې مراد وی.

دلیله: دا شپږ میاشتې ترې ځکه مراد اخلو) چه دحین د لفظ نه کله لږه زمانه مراد وی اوکله څلویښت کاله. (د څلویښتو کالودپاره دلیل دا دې.چه) الله تعالی فرمائیلی دی.﴿ هَلْ أَتٰى عَلَى الْإِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ﴾ (مفسرینو فرمائیلی دی.چه دلته د حین نه مراد څلویښت کاله دی) اوکله د حین د لفظ نه شپږ میاشتې مراد وی. (د شپږو میاشتو دپاره دلیل دا دې.چه) الله تعالی فرمائیلی دی.﴿ تُؤْتِيْ أُكُلَهَا كُلَّ حِيْنٍ ﴾ (دابن عباس رضی الله عنه د قول مطابق دا شپږ میاشتې دی) اودا (شپږ میاشتې) درمیانه موده ده. (نوچه د حین او زمان په لفظ کښې د څه مودې نیت نه وی شوې.نو) دا شپږ میاشتې به قسم ته اړولې شی. (اودحین او زمان نه به شپږ میاشتې مراد وی.)

وجه الحمل علي ستة اشهر> دا (یمین په شپږومیاشتو) حمل کولې شی.ځکه چه (په قسم کښې د) لږ وخت دپاره خبرې نه کول مقصود نه وی.ځکه چه د لږ وخت دپاره خبروکولو نه منع کیدل خو عام طور هسې هم وی. (که قسم ئې خوړلې وی.اوکه نه.نوبیا دقسم فائده څه شوه) او(لکه څنګه چه په قسم کښې لږه موده خبرې نه کول مقصود نه وی.نودغه شان) ډیرې زمانې پورې خبرې کول هم اکثرپه دې (لفظ د حین سره) مقصود نه وی.ځکه چه دا (ډیره زمانه چه څلویښت کاله دی) پشان د همیشه ده. (نود حین په لفظ سره ډیره زمانه مراد نه وی.بلکه دهغې دپاره په عرف کښې د ابد لفظ استعمالیږی) اوکه (زید) دومره (اوږده) زمانه (چه څلویښت کاله دی) چپ شی.نوهمیشوالې به ثابت شی. (حالانکه په لفظ د حین سره همیشوالې مراد نه وی،نوددې تفصیل نه) هغه موده متعین شوه.کومه چه ماتن ذکرکړه. (چه شپږ میاشتې دی) اودغه شان زمانه (یعنی چه په قسم کښې د حین په ځائې زمان استعمال کړی) هم د ،،حین،، په ځائې استعمالیږی (په محاوره کښې) وئیلی شی.ما ته د دومره وخت نه نه وې لیدلې. (حین په کښې استعمالوی) اود دومره زمانې نه مې نه وې لیدلې. (زمان په کښې استعمالوی) دواړه (که حین دې اوکه زمان دې) یوه معنی ورکوی.اودا حکم (چه کله په قسم کښې حین یا زمان استعمال کړی.نوشپږ میاشتې به ترې مراد وی.) په هغه وخت کښې دی.ده (حالف د قسم خوړلوپه وخت کښې) دڅه نیت نه وی کړې.اوکه ده د یوې مودې نیت کړې وی. (که شپږ میاشتې وی اوکه ددې کمې یا

زیاتي چه دومره موده به ورسره خبري نه کوم) نوده (حالف) چه څه نیت کړي وي.په هغې باندې به حمل کولې شي. (اوهم هغه به تري مراد وي.اودده تصدیق به کولې شي.اوتصدیق به ئې ځکه کولې شي.چه) ده د خپل کلام د حقیقي معنی نیت کړي دې. (اوکله چه د کلام د حقیقي معنی نیت اوکړې شي.نوهم هغه حقیقي معنی به تري مراد وي.اګر که عرف اوظاهري نه خلاف وي)

(وَكَذٰلِكَ الدَّهْرُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ(١)

ترجمه﴾ اودغه شان د صاحبینو رحمهما الله په نیزد ،الدهر، لفظ هم دې. (یعنی کوم احکام چه د حین اوزمان دی.هم هغه شان د ،الدهر، د لفظ هم دی)

دلیلهما﴾ صاحبین رحمهما الله فرمائي.چه لفظ د دهر لکه د حین اودزمان د لفظ پشان استعمالیږي .ددې په حکم کښې څه فرق نشته.هم دا وجه ده.که یوکس «ما رأیتك منذ دهر» اووئیل.یا ئې «ما رأیتك منذ حین» اووئیل.نوپه دواړو قولونو کښې څه فرق نشته.نودا دواړه الفاظ د معنی په اعتبارسره یوه معنی ورکوي.

مسلك ابي حنيفة﴾ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي.که ،دهر، بغیرد الف لام نه وي. نو د دې نه چه څومره زمانه مراد ده.شپږ میاشتې دي اوکه ددې نه کم یا زیات.په دې باندې زه نه پوهیږم.نودوی په کښې توقف کړې دې.البته که ،الدهر، په الف لام سره معرفه وي.نوبیا د ټولوپه نیز په عرف کښې ددې نه دوام اوهمشوالې مراد دې.

دليله﴾ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي.چه کله ،دهر،نکره ذکرکړې شي.نوپه دې صورت کښې به خاموشي اختیارولې شي.دخپل طرفه به څه موده نشي مقررکولې.ځکه چه نومونه کیخودل اومقدارونه مقرر کول د نقل سره تعلق ساتي.چه په عرف اورواج کښې ددې نه څه استعمال وي.هغه به تري مراد وي.اود دهرد پاره په عرف کښې څه موده متعین نه ده.نوځکه به په دې مسئله کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزتوقف کولې شي.

په ایام اوالایام باندې قسم خوړل

(وَلَوْ حَلَفَ اَنْ لَا يُكَلِّمَ أَيَّامًا فَهُوَ عَلٰى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ)

حل اللغة﴾ ① **ایام**:جمع د یوم ،ورځ

ترجمه﴾ اوکه یوکس (په عربئ کښې) دا قسم اوخورلو.چه «لایکلم ایاما» (بغیرد الف لام نه) یعنی څو ورځې به خبرې نه کوي.نودا به په درې ورځو محمول وي. (اوددې نه به درې ورځې مراد وي.درې ورځې به ورسره خبرې نه کوي.

دليله﴾ د درې ورځو دلیل دا دې.چه) دا ایام اسم جمع ده.اونکره ذکرشوې ده.نود جمع اقل اوکم عدد چه وي.هغه به مراد وي.چه درې ورځې دی.

وَلَوْ حَلَفَ اَنْ لَا يُكَلِّمَهُ الْأَيَّامَ فَهُوَ عَلٰى عَشَرَةِ أَيَّامٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ،(١) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: هُوَ عَلٰى أَيَّامِ الْأُسْبُوعِ.

[1] القول الراجح هوهذا قول الصاحبين رحمهما الله كذا في الدرالمختار(١١٨\٣) وشرح عقود ص،٦٩) والبحرالرائق (٣٢٩\٤) وردالمختار(١١٨\٣) والهندية (١٠٥\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٢٤\١)-

ترجمه> اودا که قسم ئي اوخورلو.چه ((لایکلمه الأیام)) نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزبه دا لفظ په لسو ورځو باندې حمل کولې شي. (یعنی لس روځې به ترې مراد وي)

مسلک الصاحبین> صاحبین رحمهما الله فرمائي.چه په یوه هفته به حمل کولې شي. (یعنی اووه ورځې به ترې مراد وي

وَلَوْحَلَفَ اِنْ لَایُکَلِّمَهُ الشُّهُوْرَفَهُوَعَلٰی عَشَرَةِ أَشْهُرٍعِنْدَاَبِی حَنِیْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ.وَقَالَ ابویوسف ومحمد: هُوَعَلٰی اِثْنَیْ عَشَرَشَهْرًا

ترجمه> اوکه دا قسم اوخوری.((لایکلمه الشهور)) (په الف لام سره) نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزبه لسو میاشتو به حمل وي. (یعنی لس میاشتې به ترې مراد وي) اودصاحبینو رحمهما الله په نیزبه په دولسو میاشتو حمل وي.

دلیله> دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې.چه دا (لفظ د الایام او د الشهور) جمع ده.اوپه الف لام سره معرفه شوې ده.نود جمعې د لفظ چه زیات نه زیات چه په، کوم عدد باندې اطلاق کیږی.هغه به ترې مراد وي. اوهغه لس ورځې دي.

دلیلهما> په دواړو مسئلوکښې د صاحبینو رحمهما الله دلیل دا دې.)خکه چه الف لام (په الایام او الشهور کښې) د عهد دپاره دي. (یعنی په عرف اوخلقو کښې دخاص عدد دپاره دي) اودغه عدد هغه دې.کوم چه مونږ ذکرکړلو. (یعنی په الایام کښې یوه هفته ده.اوپه الشهورکښې دولس میاشتې دي) خکه هم ددې نه تاویږی راتاویږی. (یعنی ورځې اووه په هفته کښې، یوچکرلګوی.اوپه هفته کښې اووه ورځې دی.نوهم اووه به ترې مراد وي. او میاشتې په کال کښې یوچکرلګوی.اوپه کال کښې دولس میاشتې وي.نوهم دولس میاشتې به ترې مراد وي)

(وَلَوحَلَفَ لَایَفْعَلُ کَذَاتَرَکَهُ اَبَدًا)

ترجمه> که یوکس دا قسم اوخورلو.چه زه به فلانې کارنه کوم.نوهغه به همیشه دپاره پریږدی.خکه چه ده ددغه فعل د نه کولومطلق نفی اوکړله.نودنفی دعموم دوجې به په هرهٔ زمانه کښې ددې نه بچ اوسی.

دلیله> په مذکوره صورت کښې حالف د مطلق فعل د کولو نه قسم خوړلې دې خکه چه قول او فعل د دوو حالتونو نه خالی نه وي یا به مطلق وي او یا به مقید وي. د مطلق مطلب دا دې چه د متکلم قول او فعل د هرقسم توقیت او تمکن نه خالی نوچه کوم قول یا فعل ددې نوعیت وی هغې ته مطلق ونیلی شي په زیربحث صورت کښې هم حالف د مطلق فعل نه قسم خوړلې دې نو همیشه دپاره به دې دغه کار نه کوی او که وې کړلو نو حانث به وي.

دیوکارد کولوقسم خوړل.اویو ځل هغه کول

(وَاِنْ حَلَفَ لَیَفْعَلَنَّ کَذَافَفَعَلَهُ مَرَّةً وَّاحِدَةً بَرَّفِیْ یَمِیْنِهٖ)

ترجمه> اوکه دا قسم اوخوری.چه زه به دا کارخامخا کوم.او: هغې نه پس دغه کاریوځل اوکړی.نودهٔ خپل قسم پوره کړلو.

---

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في العناية (٤\٤٢٩) وردالمختار(١١٩\٣) ومجمع الأنهر(١\٥٧٧) والهندية (٢\١٠٦) والبحرالرائق (٤\٣٤١، ٣٤٠)نقلاً عن القول الراجح (١/٤٢٥)–

دلیله> ځکه چه کوم څیزده په خپل ځان باندې لازم کړې وو.هغه صرف یوځل بغیرد تعین نه کول وو.ځکه چه دا موقع د اثبات ده.کومه چه ددې تقاضا کوي.چه دې یوځل کارپه وجود کښې راولي.اوو یې کړي.نوځکه چه کله هم دې یوځل دغه کاراوکړي.په خپل قسم کښې به بري شي.اوکله چه دغه کار د کولو نه مایوسه شي.نوبیا به حانثیږي.اودا مایوسي به په هغه وخت کښې وي.چه قسم خورونکې مړ شي.یا چه په کوم محل باندې دا کارکیږي.هغه محل پاتې نشي.(مثلاً چه دا قسم اوخوري.چه په دې پوزي به مونځ کوم.نوچه کله ئې هم په دغه پوزي باندې هرقسم مونځ اوکړلو.که فرض وي اوکه نفل،نودا قسم پوره شو.اوکه په دغه باندې د مونځ کولونه وړاندې مړ شو.یا پوزې اوسوزیدلو.نودې به حانث شي.

بغیراجازة د ښځي په وتلوقسم خوړل

(وَمَنْ حَلَفَ لَا تَخْرُجُ امْرَأَتُهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ فَأَذِنَ لَهَا مَرَّةً وَاحِدَةً فَخَرَجَتْ وَرَجَعَتْ ثُمَّ خَرَجَتْ مَرَّةً أُخْرَى بِغَيْرِ إِذْنِهِ حَنِثَ)

ترجمه> اوڅوك چه قسم اوخوري.چه دده (یعنی زما) ښځه به د ده د اجازت نه بغیر(د کورنه) نه وځي.(ددې قسم نه پس) ده ورته یوځل (کورنه د وتلو) اجازت اوکړلو.اوهغه اووتله.خوبیا دوباره دده د اجازت نه بغیراووتله.(نوپه دې صورت کښې) دې حانثیږي.

دلیله> (ځکه چه شرط موجود شو.چه دده داجازته بغیروتل وو.اوپه دې صورت کښې)

(وَلَا بُدَّ مِنَ الْإِذْنِ فِي كُلِّ خُرُوجٍ)

ترجمه> اودهرځل وتلودپاره اجازت ضروري دې.

دلیله> ځکه چه مستثنی هغه وتل دی .چه دهغې سره اجازت وي.اوداجازت نه بغیرچه هرڅنګه وتل وي.نوهغه به په ممنوع وتلوکښې داخل وي.(یعنی که داجازت نه بغیرښځه په هرصورت کښې اووتله.خاوند به ئې حانثیږي.

صورة نية الزوج مرة واحدة> اوپه ذکرشوي صورت کښې) که خاوند صرف یوځل د اجازت نیت کړې وي.(چه صرف یوځل به زمانه اجازت غواړي.دهرځل وتلودپاره داجازت غوښتلو نیت ئې نه وي کړې.نوپه دې صورت کښې) دیانةً به دده تصدیق کولې شي. (اودې به نه حانث کیږي)خوقضاء به ئې تصدیق نشي کولې. (بلکه قاضی به پرې کفاره دیمین واجبوي.اودیانة ئې تصدیق کولې شي)

دلیله> ځکه چه ده چه دکوم څیزنیت کړې دې.دده په کلام کښې ددغه نیت احتمال شته. (چه ده هم یوځل د اجازت غوښتلونیت کړې وي) خوچونکه دده دا قول د ظاهرنه خلاف دې. (نوقاضی به دده د نیت اعتبارنه کوي.ځکه چه قاضی د مسئلې په ظاهري صورت باندې حکم لګوي)

(وَإِنْ قَالَ إِلَّا أَنْ آذَنَ لَكِ فَأَذِنَ لَهَا مَرَّةً وَاحِدَةً ثُمَّ خَرَجَتْ بَعْدَهَا بِغَيْرِ إِذْنِهِ لَمْ يَحْنَثْ)

ترجمه> اوکه (خاوندښځې ته اووائي.ته به د کورنه نه اوځې.)مګردا چه زه تاته اجازت اوکړم.(نوداجازت په صورت کښې د کورنه وتلې شي. (او د دې قسم نه پس) یوځل اجازت ئې ورته اوکړلو. اود دې نه پس بیا دده د اجازت نه بغیر اووتله. (نوپه دې صورت کښې) نه حانثیږي.

دلیله> ځکه چه دا د کلمه د غایت، ده.نوپه دې باندې به قسم ختمیږي.لکه په دې صورت کښې (چه قسم ختمیږي.چه) دې ورته اووائي. (ته به د کورنه بهرته نه وځې.) تردې چه زه تاته اجازت اوکړم.

دناشته کولونه قسم خوړل

(وَإِذَا حَلَفَ أَنْ لَا يَتَغَدَّى فَالْغَدَاءُ هُوَ الْأَكْلُ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلَى الظُّهْرِ وَالْعَشَاءُ مِنْ صَلَاةِ الظُّهْرِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ)

حل اللغة> ① **الغداء**:د صبا ناشته ② **سحور**:پیشمني

ترجمه> اوکله چه قسم اوخوري.چه «لا أتغدی» یعنی ناشته به نه کوم.نود «غدا» اطلاق په هغه خوراك کیږي.چه د صبا راختو نه پس ترماسپخین پورې وی.او«عشاء» هغه خوراك ته وائی.چه د ماسپخین نه ترنیمې شپې پورې وی.

دلیله> ځکه چه د زوال نه پس خوراك ته «عشاء» وائی.اوددې وجې (چه د زوال نه پس ترنیمې شپې پورې خوراك ته عشاء وائی.) په حدیث کښې دماسپخین مونځ ته د عشاء په دوو مونځونو کښې یومونځ وئیلې شوې دې.

(وَالسَّحُورُمِنْ نِصْفِ اللَّيْلِ إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ)

ترجمه> اودسحور اطلاق په هغه خوراك باندې کیږي.چه د نیمې شپې نه واخله ترصبا راختو پورې وی.

دلیله> ځکه چه دا د سحر نه مشتق دې.اودغه شان (دسحور اطلاق) په هغه خوراك کیږي.چه دې ته نزدې وی.بیا غدا او عشاء هغه خوراك ته وئیلی شی.چه په هغې باندې عام طور مړیدل مقصود وی. (یعنی که د صبا یا ماښام په وخت کښې ئې یوه یا دوه نوړئ اوخوړلې.نودې ته غدا اوعشاء نشی وئیلې)اوهرښاردخلقو په حق کښې هم د هغوی عادت معتبر دې. (نوکه په ناشته کښې ددوی عادت د غوښې خوراك وی. نود غوښې په خوراك به حانثیږي.اوکه په ناشته کښې د دو خوراك روټئ وی.نوبه روټئ خوړلوبه حانثیږي)

په زرقرض ادا کولوقسم خوړل

(وَإِنْ حَلَفَ لَيَقْضِيَنَّ دَيْنَهُ إِلَى قَرِيبٍ فَهُوَعَلَى مَادُونَ الشَّهْرِ،وَإِنْ قَالَ إِلَى بَعِيدٍ فَهُوَأَكْثَرُمِنَ الشَّهْرِ)

حل اللغة> ① **يقضي**:ادا کوی ② **شهر**:میاشت

ترجمه> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.که یوکس قسم اوخوړلو.چه زه به زرد هغه قرض ادا کړم.نوددې نه به دیوې میاشتې نه کمه موده مراد وی.یعنی که د یوې میاشتې نه په کمه موده کښې ئې ادا کړلو.نوبه قسم کښې بری شو.اوکه دا قسم ئې اوخوړلو.چه زه به ئې په زیاته موده کښې ادا کوم.نوددې نه د یوې میاشتې نه زیاته موده مراد ده.

دلیله> که د قریب او بعید په لفظ باندې غور اوکړې شی نو معلومیږي چه قریب د لږې مودې یا د نزدې فاصلې دپاره استعمالیږی او بعید لفظ د ډیرې مودې اود لرې فاصلې دپاره استعمالیږي.اوفاصله او مسافت دواړه الفاظ مترادفین دی نو مسافت په دوه قسمه شو مسافت زمانی او مسافت مکانی.په زیربحث مسئله کښې د مسافت اولنې قسم یعنی مسافت زمانی مراد دې.اوس نفس مسئلې ته راشئ په متن کښې دی چه د قریب لفظ د میاشتې نه د کمې مودې دپاره اود بعید لفظ د میاشتې نه د زیاتې مودې دپاره استعمالیږی اود دې مودې تعین د خلقو عرف او رواج دې چه کله یو کس مثلا اووائی چه زه کراچئ ته ځم اوزربه واپس راځم نو مراد به دا وی چه د یوې میاشتې نه به وړاندې وړاندې راځم.

دمحلوف علیه کورنه پخپله وتلواود نورې کوې پریښودلوحکم

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَسْكُنُ هٰذِهِ الدَّارَفَخَرَجَ منهابِنَفْسِهِ وترك فِيهَاوَأَهْلَهُ وَمَتَاعَهُ فِيهَاحَنِثَ)

حل اللغة> ① **متاع**:سامان، کره

ترجمه> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.اوځوك چه دا قسم اوخوری.چه په دې كوركښې به نه اوسيږي.اوددې قسم خوړلو نه پس) دې پخپله اووتلو. (خو) دده سامان او اهل وعيال په دغه كور كښې موجود وو. (نوپه دې صورت كښې) دې حانث كيږي.

دليله> ځكه چه دده اهل وعيال اوسامان په كښې موجود وى.نوپه عرف كښې ده ته ددې كور اوسيدونكې شمارلې شى. (ددې دپاره يونظيردا هم دې) چه د بازارى سړى توله ورځ په بازار كښې وى. (خواهل وعيال اوكله ئې په كوركښې وى.اوځوك ترې تپوس اوكړى.چه ته كوم ځائې كښې اوسيږې.نو) هغه وائى.زه په فلانئ كوڅه كښې اوسيږم.

دغيرممكن كارد كولوقسم خوړل

وَمَنْ حَلَفَ لَيَصْعَدَنَّ السَّمَاءَ أَوْلَيَقْلِبَنَّ هٰذَا الْحَجَرَ ذَهَبًا انْعَقَدَتْ يَمِيْنُهُ وَحَنِثَ عَقِيْبَهَا)

حل اللغة> ① **يصعد**:پورته ختل ② **يقلب**:بدلول ③ **الحجر**:كانړى ④ **ذهب**:سره زر

ترجمه> ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائى.چا چه قسم اوخوړلو.چه دې (يعنى زه به) آسمان ته خيژم.يا به ددې كانړى نه سره زر جوړوى.نودده قسم منعقدشو.

دليله> دليل دا دې.چه په قسم كښې برى كيدل په حقيقت كښې متصور دى.ځكه چه آسمان ته حقيقة ختل ممكن دى.ته ګورې نه چه فرشتې آسمان ته خيژى.اودغه شان د كانړى نه سره زر هم جوړيږى.چه الله تعالى ئې په خپل قدرت سره سره زر كړى.اوهركله چه ددې تصور كيدې شى.نويمين منعقد كيږى.اودا يمين (چه منعقدشى.نو) د يمين خليفه (چه كفاره ده) هغه به واجبيږى.اويا چونكه دعادت په اعتبارسره دې د يمين پوره كولو نه عاجز شو .نوحانثيږى.

نظيره> دا مسئله داسې شوه.لكه چه يوقسم خوړونكې مړ شى. (اوده دا قسم خوړلې وى.چه دا كاربه كوم.اودمرګ نه وړاندې هغه كاراونكړى.نوپه دې صورت كښې) قسم خوړونكې حانثيږى.ددې باوجود چه ددې احتمال شته.چه دې دوباره راژوندې شى.

په نن ورځ د قرض ادا كولوقسم خوړل

وَمَنْ حَلَفَ لَيَقْضِيَنَّ فُلَانًا دَيْنَهُ الْيَوْمَ فَقَضَاهُ ثُمَّ وَجَدَ فُلَانٌ بَعْضَهَا زُيُوفًا أَوْنَبَهْرَجَةً أَوْمُسْتَحَقَّةً لَمْ يَحْنَثْ الْحَالِفُ)

حل اللغة> ① **زيوف** هغه دراهم دى.كوم چه بيت المال كوټه اوګرځوى.او رد ئې كړى.خو تاجر(اوسوداګر) خلق ئې پخپلو معاملاتوكښې اخلى.② **بنهرجه** (بنهره) هغه دراهم دى.كوم چه سوداګرخلق هم ردكوى.ګويا بنهرجه د كوټه نه هم ادنى دى.خو بيا هم دراهم دى.

ترجمه> كه يوكس قسم اوخوړلو.چه زه به نن د زيد قرض ادا كوم.اوبيا هم په هغه ورځ قرض ادا كړلو.خوچه زيد په لاس كښې واخستلې.نومعلومه شوه.چه په هغې كښې كوټه روپئ دى.بنهرجه وى.يا دهغې بل يوكس مستحق وى.نوقسم خوړونكې نه حانثيږى.

دليله> ځكه چه سكه كوټه وى.نودا يوعيب دې.اوعيب دوجې هغه جنس معدوم اوور كيږى نه.ددې وجې كه اخستونكې زيد په هغې كښې نرمى اوكړى.اودعيب نه سترګې پټى كړى.اوهغه قبولې كړى.نوهغه دخپل قرض وصول كونكې دې.اودغه شان د قسم پوره كولوشرط موجود شو.اوپه ادا شوو روپوكښې چه د كومو يويل كس مستحق اوخيژى.نوپه هغې باندې د زيد قبضه كول صحيح دى.اودقسم خوړونكې قسم پوره كيدو نه پس كه دغه وړې خپل مستحق ته واپس شى.نوپه دې باندې د قسم په پوره كيدوكښې څه فرق نه راځى.يعنى قسم به هم پوره وى.

(وَإِنْ وَجَدَهَا رَصَاصًا أَوْ سَتُّوقَةً حَنِثَ)

حل اللغة ① او ستوقه هغه دراهمو ته وائي.چه په دې کښې کوټ غالب او سپين زر مغلوب وي.ګويا دا د سره درهم هم نه دی.② رصاص ،قلعي نه جوړه شوې روپۍ.③ **ستوقة**.دسين په فتح سره فارسي ني په عربۍ کښې استعمال کړې ده.ستوقه د درې طبقو واله،يعني د پيتلوسکه په دې باندې د دواړو طرفونو نه سپين زرختلې وي.چونکه دا دواړه يعنی رصاص اوستوقه د سکو د جنس څنې نه دی.نوځکه په بيع صرف اوبيع سلم کښې ددې ورکول جائز نه دی.

ترجمه اوکه قرض غوښتونکی دا روپۍ ،رصاص،يا ،ستوقه، بيامونډې.نوقسم خوړونکې به حانث وي.

دليله ځکه چه دا دواړه د خالصې روپۍ دجنس څنې نه دی.تردې چه د چشم پوشۍ په طوردې دواړو بيع صرف اوبيع سلم کښې اخستل جائز نه دی.

دلږ لږ قرض نه اخستلوقسم خوړل

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَقْبِضُ دَيْنَهُ دِرْهَمًا دُونَ دِرْهَمٍ فَقَبَضَ بَعْضَهُ لَمْ يَحْنَثْ حَتَّى يَقْبِضَ جَمِيعَهُ متفرقا)

ترجمه اوکه يوکس دا قسم اوخوړلو.چه زه به په خپل قرض باندې داسې قبضه نه کوم.چه په لږ باندې قبضه اوکړم.اوبه لږ باندې نه،يعنی خپل قرض به متفرق اولږ لږ نه وصول کوم.اوبيا ده لږ قرض واخستلو.نونه حانثيږي.تردې چه ټول قرض داسې په لږه لږه وصول کړي.

دليله ځکه چه د حانث کيدو شرط دا دې.چه ټول قرض داسې وصول کړي.چه هغه لږ لږ وی.ولې دې ته نښی کتلې.که قسم خوړونکی قرض خپل خان ته منسوب کړي.اوقرض معرفه کړي.نوددې حکم به د ټول قرض وصولو ته منسوب وی.ددې وجې به په هغه وخت کښې حانثيږي.چه دا شرط په کښې موجود شي.يعنی چه متفرق طور نې وصول کړي.(خلاصه دا شوه.چه که په يومجلس اوبه يوه ناسته کښې نې د وصولۍ په طورقرض جدا جدا حصې کړې.نونه حانثيږي.اوکه دټول قرض ټول مقدار نې جدا جدا وصول کړلو.نوحانثيږي)

(وَإِنْ قَبَضَ دَيْنَهُ فِي وَزْنَيْنِ لَمْ يَتَشَاغَلْ بَيْنَهُمَا إِلَّا بِعَمَلِ الْوَزْنِ لَمْ يَحْنَثْ وَلَيْسَ ذَلِكَ بِتَفْرِيقٍ)

ترجمه بيا که خپله قبضه نې دوه ځله اوتلله.اووصول نې کړله.اوبه دواړو ځله تللوکښې د دغه کارنه سوا په بل کارکښې مشغول نشی.نونه حانثيږي.

دليله په متن کښې ذکرشوې صورت د مثال په رڼا کښې داسې زده کړئ که د حالف په زيد باندې شل زره روپۍ وې او هغه ورته په يومجلس کښې اول پنځه زره روپۍ د سلو نوټونه اوشمارل او بيا نې پنځه زره روپۍ د پنځه سوو روپو نوټونه اوشمارل او بيا نې لس زره روپۍ د زرو روپو نوټونه اوشمارل او هم په يومجلس کښې نې ورته ورکړې نو دا وصولی په يوځائې وصولی ده متفرقه وصولی نه ده ددې وجې به حالف په خپل قسم کښې حانث نه وی اوکه د دوو قسطونو په مينځ کښې په موداً کښې دومره وقفه اوشوه چه په عرف او رواج کښې هغه متفرق شمارلې اوګڼرلې شي نو په دې صورت کښې به حالف حانث وی.

بصري ته دتلوقسم خوړل اوددې حکمونه

(وَمَنْ حَلَفَ لَيَأْتِيَنَّ الْبَصْرَةَ فَلَمْ يَأْتِهَا حَتَّى مَاتَ حَنِثَ فِي آخِرِ جُزْءٍ مِنْ أَجْزَاءِ حَيَاتِهِ)

ترجمه اوکه دا قسم نې اوخوړلو.چه بصرې ته به ځي.اوترمرګه پورې ورته لاترلو.نود خپل ژوند په آخرې حصه کښې حانثيږي.

دليله خکه چه ددې امید کیدې شو.چه د مرګ نه وړاندې دې په خپل قسم وفااوکړی. (اوپه هغې کښې بری شي. (خوچه کله پرې مرګ راغلو.نود امید دغه شمع هم مړه شوه)

كِتَابُ الدَّعْوٰى

ترجمه (دا) کتاب د دعوه (په بیان کې) دې.

الربط بما قبله د قسم په ذریعه په خبرو کې تاکید پیدا کولې شی د دې وجې نې د کتاب الایمان نه پس د کتاب الدعوی ذکر اوکړو.

الدعوى في اللغة دعوه په لغت کې د هغه قول نوم دې.په کوم سره چې انسان په بل سرې باندې د حق واجبولو اراده اوکړی.

الدعوى في الإصطلاح اودفقهاؤ په اصطلاح کې دعوه دهغه سرې (قاضی) په مجلس کې د حق د مطالبې نوم دې.کوم سرې چې د حق د ثبوت په صورت کې په خلاصی ورکولو قادر وی.د دعوه سبب هم هغه دې. کوم چې د بیع سبب دې.یعنی (تعلق البقاء المقدور بتعاطی المعاملات) خکه چې د مدعی دعوه به یا د نسل بقاء ارخ ته راجع وی.یا به د نفس بقاء ارخ ته، یا به ددې دواړو توابع ارخ ته راجع وی.اوپه درې واړه صورتونوکې ژوند باقی ساتل مقصود دی.

شروطه ① د مدعی دعوه کې به خصم حاضر وی ② مدعا به معلوم شئ وی. ③ مجلس د قاضی ④ دې دعوې سره مدعی علیه باندې حکم متعلق کیږی.خکه چې د قاضی دمجلس نه په علاوه کې دعوه نه صحیح کیږی. اوکه خصم حاضر نه وی.مدعی به مجهول وی.یا دعوې سره مدعی علیه باندې هیڅ نه لازمیږی.نو په دې صورتونو کې به دعوه فاسد وی.د دعوه حکم دادې.چه خصم باندې، ،نعم، ، یا ، ،لا ، ، سره جواب واجب وی.

د مدعي دعوی پرېښودل

(الْمُدَّعِي مَنْ لَا يُجْبَرُ عَلَى الْخُصُومَةِ إِذَا تَرَكَهَا مدعی هغه کس دې.که هغه دعوه پریږدی.نو هغه په خصومت باندې نشی مجبوره کولې. وَالْمُدَّعٰى عَلَيْهِ مَنْ يُجْبَرُ عَلَى الْخُصُومَةِ)او مدعی علیه هغه دې.چه په خصومت باندې مجبوره کولې شی.

تعریف المدعي والمدعي علیه ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه مدعی هغه سرې دې.کوم چې په خصومت باندې نشی مجبوره کولې.یعنی د دعوه کولونه روسته که هغه دعوه پریښنول اوغواړی.نو هغه دې پریږدی.په هغه هیڅ قسمه زبردستی نشته.او مدعی علیه هغه کس دې.کوم چې په خصومت باندې مجبوره کولې شی.یعنی مدعی علیه،اود دعوه کولو نه روسته هغه باندې خواب ورکول واجب دی.د خصومت نه د ډډې کولو(او مخ اړولو) اجازت نشته.

دعوی به کله قبلولې شی؟

وَلَا تُقْبَلُ الدَّعْوٰى حَتّٰى يَذْكُرَ شَيْئًا مَعْلُومًا فِي جِنْسِهٖ وَقَدْرِهٖ)او دعوه به نشی قبلولې.تردې چې مدعی یو داسې شئ بیان کړی.چه د هغې جنس او مقدار معلوم وی.

تشریح د مدعی دعوه به هغه وخت قبلولې شی.کله چې دې ددغه شئ جنس او مقدار ذکرکړی.د کوم چې دعوه کړې شوې ده.مثلاً داسې اووائی.چه زما په فلانی سرې باندې سل دینار دی.سل درهم دی.یو کړ غنم دی.

دلیله خکه د دعوې فائده داده.چه حجت قائم کړی.او مدعی علیه باندې د مدعی حق لازم کړې شی.اود مجهول شیٔ لازمول ممکن نه دی.په دې وجه د مدعی به شیٔ جنس او مقدار بیانول ضروری دی.

(فَإِنْ كَانَ عَيْنًا فِي يَدِ الْمُدَّعٰى) عَلَيْهِ نو که د مدعی علیه په قبضه کې څه مال عین وی. كُلِّفَ إِحْضَارَهَا نو مدعی علیه ته په تکلیف ورکولې شی. يُشِيْرُ إِلَيْهَا بِالدَّعْوٰى چه مدعی د دعوی په وخت هغې ته اشاره کوی.

ترجمه که مدعی به(دکوم چې دعوه شوې ده) د مدعی علیه په قبضه کې مال عین منقول وی.نو مدعی علیه ته به تکلیف ورکولې شی.چه هغه دغه مال د قاضی په عدالت کې حاضر کړی.چه مدعی د دعوه کولو په وخت دغه مال ارخ ته اشاره اوکړې شی.

دلیله دلیل دادې.چه د مدعی به په اړه کې خومره چې ممکن وی.خبرول شرط دی.او داسې خبردل په مال منقول کې اشاره سره کیږی.خکه چې مال منقول په عدالت کې منتقل کول هم ممکن دی.اوپه اشارې سره زیاته پیژندګلو کیږی.خکه اشاره کول داسې دی.لکه چې په یوخیز باندې لاس ایخودلې وی.اود لاس ایخودلو نه روسته په شناخت او پیژندلو کې څه شبه کیدلې شی؟ بهرحال اشاره کولو لپاره ددې مدعی به شیٔ د قاضی په مجلس کې حاضرول ضروری دی.

(وَإِنْ لَمْ تَكُنْ حَاضِرَةً) اوکه دغه مال منقول حاضر نه وی. ذَكَرَ قِيْمَتَهَا نود هغې قیمت به ذکرکوی.

تشریح ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.که مال منقول د کوم چې دعوه کړې شوې ده.د مدعی علیه په قبضه کې موجود نه وی.بلکه ضائع شو.یا(مدعی علیه) غائب شو.چه د هغه د اوسیدلو ځائې معلوم نه دی.نو په دې صورت کې به مدعی ددغه مال قیمت ذکرکوی.

دلیله دې دپاره چه مدعی معلومه شی.او دعوه صحیح شی.په دې صورت کې به د وصف بیانول کافی نه وی.خکه چې کله کله وصف په ډیرو اعیانو کې مشترك وی.نود اشتراك په وجه د وصف په ذریعه د عین شیٔ شناخت (او پیژندګلو) نه کیږی.او هرکله چې داسې ده.نو ددې اشتراك په وجه به د وصف بیانول ګټور نه وی.او پاتې شو قیمت،نو ددې په ذریعه د شیٔ شناخت کیدلې شی.نو هرکله چې د قیمت په ذریعه د شیٔ شناخت کیدلې شی.اود عین شیٔ مشاهده کول متعذر دی.نو قیمت ذکر کول به ګټور وی.خکه چې په داسې صورت کې قیمت ذکرکول د خبریدلو آخری ممکن درجه ده.فقیه ابوالليث رحمه الله فرمائی.چه په ذکر شوی صورت کې د قیمت بیانولو سره ددې بیانول هم ضروری دی.چه دکوم دعوه شوې ده.چه مذکر دې.اوکه مونث دې.

دغیر منقول خیز دعوی لپاره حدود اربعه بیانول

وَإِنْ ادَّعٰى عَقَارًا که مدعی د یوغیر منقول شیٔ دعوه اوکړله. حَدَّدَهُ وَذَكَرَ أَنَّهُ فِي يَدِ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ نو مدعی به د هغې حدود اربعه هم بیانوی.چه هغه د مدعی علیه په قبضه کې دې. وَأَنَّهُ يُطَالِبُهُ اودا چې مدعی هغه نه ددې مطالبه کړې ده.

تشریح مسئله داده.که مدعی د غیرمنقول شیٔ مثلاً د زمکې یا د کور دعوه اوکړله.نو ددې دعوه صحیح کیدلو لپاره درې شیان ضروری دی.

① مدعی ددغه مدعی به شیٔ حدود بیان کړی.یعنی دا بیان کړی.چه دمدعی به د مشرقی ارخ مالك فلانې دې.د مغربی ارخ فلانې،د شمالی ارخ فلانې، او د جنوب د ارخ فلانې مالك دې.

۳ مدعی دا هم بیان کړی.چه مدعی به شئ د مدعی علیه په قبضه کې دې.
۴ اودا هم بیان کړی.چه ما د مدعی علیه ددې مدعی به شئ مطالبه هم کړې ده. باقی تفصیل به په هدایه وغیره کتبو کې اوګورئ.

(وَإِنْ كَانَ حَقًّا فِي الذِّمَّةِ اوکه مدعی په ذمه کې کوم حق وی. ذُكِرَ أَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِهِ) نو مدعی ذکر کړی.چه دې د مدعی علیه ددې حق مطالبه کوی.

تشریح د کوم شئ دعوه کړې شوې ده.که دا شئ په ذمه کې څه حق یعنی دین وی.نو مدعی لپاره دا بیانول ضروری دی.چه دې د مدعی علیه نه ددې حق مطالبه اوکړی.

دلیله دلیل دا دې چه مطالبه د مدعی حق دې.نو دده دا مطالبه کول ضروری ده.اودا څکه چې دچا په ذمه کې حق دې.یعنی مدعی علیه، او هغه عدالت ته حاضر شو.نو اوس د مطالبې نه سوا هیڅ نه دی پاتې.خو چونکه دین مال معین نه دې.په دې وجه هغې اړخ ته اشاره کول ناممکن دی.البته وصف بیانولو سره د هغې شناخت کول ضروری دی.څکه چې کوم حق په ذمه کې واجب وی.یعنی غیرمعین وی.د هغې شناخت او پیژندګلو هم په دې وصف بیانولو سره کیږی.مثلاً داسې اووانی.چه پنځه سوه کره درهم د فلانی وزن، د فلانی د خوی په ذمه دی.

د دعوی صحیح کیدو نه روسته د قاضی د مدعی علیه نه معلومات کول

(فَإِذَا صَحَّتِ الدَّعْوَى اوکله چې دعوه صحیح شوه. سَأَلَ الْقَاضِي الْمُدَّعَى عَلَيْهِ عَنْهَا) نو قاضی به مدعی علیه نه ددې دعوه په اړه کې معلومات کوی. (فَإِنِ اعْتَرَفَ نوکه مدعی علیه اقرار اوکړو. قُضِيَ عَلَيْهِ بِهَا) نو قاضی به مدعی علیه باندې ددې دعوه حکم کوی.

تشریح صورت د مسئلې دادې.چه هرکله دعوه خپلو شرطونو سره صحیح شوه.نو قاضی به مدعی علیه نه ددې دعوه په اړه کې پوښتنه کوی.چه ته ددې دعوه اقرار کوې.او که انکار کوې.چه قاضی مدعی علیه باندې ددې دعوه حکم اوکړی.

دلیله څکه چې اقرار پخپله موجب او حجت وی.اود قاضی په قضاء باندې موقوف نه وی.او وجه ددې داده.چه انسان ته پخپل ذات باندې مکمل ولایت حاصل دې.په دې وجه صرف په اقرار کولو سره د مدعی حق په ده باندې ثابتیږی.البته قاضی به مدعی علیه ته ددې خبرې حکم کوی.چه هغه دا حق اداکړی.او بری الذمه شی.

(وَإِنْ أَنْكَرَ اوکه مدعی علیه د دعوه نه انکار اوکړو. سَأَلَ الْمُدَّعِيَ الْبَيِّنَةَ) نو قاضی به مدعی نه ګواهان طلب کوی.

تشریح اوکه مدعی علیه ددې دعوه انکار اوکړو.نو ددې دعوه ثابتولو لپاره به قاضی د مدعی نه ګواهان طلبوی.

دلیله څکه چې د په بخاری او مسلم کې د وائل بن حجر حدیث دې.چه حضر موت نه یو سړې راغئ.او یو سړی کنده نه راغئ.حضرمی اوونیل.ای د الله رسوله (ﷺ)! دې کندمی زما په مځکه باندې ظلماً قبضه کړې ده.کندمی اوونیل.ای د الله رسوله(ﷺ)! دا زما مځکه ده.زما په قبضه کې ده.زه په دې کې زمیداری کوم.دده په دې کې هیڅ حق نشته.د الله رسول ﷺ حضرمی یعنی مدعی ته اوونیل.تا سره په دې دعوه باندې بینه موجود ده. حضرمی اوونیل.د الله رسوله(ﷺ) بینه خو موجود نه ده.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.اوس ستا لپاره ددې مدعی علیه قسم دې.یعنی ستا د حق په وجه به ددې

مدعی علیه نه قسم اخستلې شی.حضرمي اووئیل.ایٔ د الله رسوله(ﷺ) دا کندمی فاجر،فاسق سړی دی.په دروغ قسم خوړلوکي به دي هیڅ پرواه نه کوی.د الله رسول ﷺ اوفرمائیل.ستا لپاره ددې نه سوا هیڅ حق نشته.نو کله چې دا کندمی یعنی مدعی علیه د قسم خوړلو لپاره لاړلو.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.که دې سړی په ناحق طور باندې د مال خوړلو لپاره دروغ قسم اوخوړلو.نو په قیامت کې به الله تعالی سره داسې حالت کې ملاویږی.چه الله تعالی به دده ناراضه وی.(۱)

الاستدلال ددې حدیث نه معلومه شوه.چه رسول الله ﷺ د مدعی نه اول بینه طلب کړل.اوبیا د بینه نه کیدلو په صورت کې ئې په دې باندې قسم مرتب کړو.حاصل داچه قسم په بینه نه کیدلو باندې مرتب دې.او هرکله چې قسم په بینه نه کیدلو باندې مرتب دې.نوقاضی به رومبې د مدعی نه د بینه سوال کوی.چه قاضی لپاره مدعی علیه نه قسم اخستل ممکن شی.

(فَإِنْ أَحْضَرَهَا نوکه مدعی بینه پیش کړل.قُضِيَ بِهَا)نو قاضی به د بینه مطابق حکم کوی.

تشریح ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.که مدعی پخپله دعوه باندې بینه پیش کړل.نو قاضی به ددې بینه مطابق فیصله ورکوی.

دلیله خکه په کومه دعوه کې چې د صدق او کذب دواړو احتمال وو.د بینه په وجه د صدق اړخ راجح شو.او دعوه سره د کذب تهمت لرې شو.او هرکله چې بینه سره د دعوه صادق کیدل راجح شو.نو قاضی به د بینه مطابق مدعی لپاره فیصله کوی.

(وَإِنْ عَجَزَ عَنْ ذَلِكَ او که هغه ددې نه عاجزه شو.وَطَلَبَ يَمِينَ خَصْمِهِ)او هغه د مدعی علیه نه قسم طلب کړو.اسْتَحْلَفَهُ(عَلَيْهَا)نوقسم به واخلی په دې دعوی باندې.

تشریح که مدعی د بینه پیش کولو نه عاجزه شو.او هغه د مدعی علیه نه د قسم مطالبه اوکړله.نو قاضی به په دې دعوه باندې مدعی علیه نه قسم اخلی.

دلیله دلیل هغه حدیث دې.کوم چې پورته تیر شو.چې ((والیمین علی من انکر)) خکه چې مدعی علیه باندې قسم د مدعی یو حق دې.او دلیل ددې دادې.چه حدیث کې یمین په حرف لام سره مدعی اړخ ته منسوب دې.لکه فرمائی.چه (لك یمینه) یعنی ستا لپاره د مدعی علیه قسم دې.ددې نه معلومه شوه.چه د مدعی علیه قسم د مدعی حق دې.او صاحب حق ته دده حق هغه وخت ورکولې شی.کله چې هغه مطالبه کوی.نو دغه دول کله چې مدعی خپل حق یعنی یمین طلب کړی.نو قاضی به مدعی علیه نه قسم اخلی.

د ګواهانو موجود کیدو باوجود د قسم طلب کولو حکم

(وَإِنْ قَالَ اوکه مدعی اووئیل.لِي بَيِّنَةٌ حَاضِرَةٌ چې زما سره بینه موجود دی.وَطَلَبَ الْيَمِينَ او هغه مدعی علیه نه قسم طلب کړو.لَمْ يُسْتَحْلَفْ)عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ،(۲)نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز مدعی

۱) من حدیث وائل بن حجر رضي الله عنه اخرجه مسلم في الإیمان رقم ۲۲ وأبوداود في الأیمان باب ۱۱ رقم ۳۲۴۵ والترمذی في الأحکام باب ۱۲ رقم ۱۳۴۰)۔

۲) القول الراجح هو قول أبي حنیفة کذا في (تنویر الأبصار ۴۷۴\۹۴) ومجمع الأنهر(۳۵۳\۳) والدرالمنتقی (۳۵۳\۳) نقلاً عن القول الراجح (۱۷۰\۲)

علیه څخه به قسم نشی اخستلی.

تشریح صورة المسئلة صورت د مسئلې دادې. که مدعی اووئیل. چه زما گواهان حاضر دی. او ده د مدعی علیه نه د قسم مطالبه اوکړله. نود حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز به مدعی علیه نه قسم نشی اخستلې. مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې فرمائیلی دی. چه د ،،حاضرة،، نه مراد دا دې. چه زما گواهان په دې ښار کې حاضر او موجود دې. دا مراد نه دې. چه زما گواهان عدالت کې حاضر دی. ځکه چې عدالت کې حاضریدلو په صورت کې بالاتفاق مدعی علیه نه قسم نشی اخستلې. بلکه که مدعی اووئیل. چه زما گواهان په دې ښارکې حاضر دی. نوپه دې کې اختلاف دې. امام صاحب رحمه الله فرمائی. چه قسم به نشی اخستلې.

دلیله د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې. چه تیر شوې حدیث یعنی د نبی کریم ﷺ ارشاد (ألك بينة فقال لا، فقال لك يمينه) سره دا خبره ثابته ده. چه قسم کې د مدعی حق ثابتیدل، گواهانو قائمولو نه عاجز کیدلو باندې مرتب دی. نو ترکومه پورې چې مدعی د گواهانو قائمولو نه عاجز نه وی. تر هغه وخته پورې به قسم د مدعی حق نه وی. لکه که گواهان د قاضی په مجلس کې موجود وی. نو بالاتفاق قسم د مدعی حق نه دې. بهرحال هرکله چې د بینه په موجودګۍ کې قسم د مدعی حق نه دې. نو مدعی که د بینه پیش کولو نه عاجز نه وی. یعنی بینه په ښار کې موجود وی. نو مدعی ته به د مدعی علیه نه د قسم طلب کولو هیڅ حق نه وی.

مسلک ابي یوسف په پورتنۍ مسئله کې امام ابویوسف رحمه الله فرمائی. چه قسم به اخستلې شی.

دلیله دامام ابویوسف رحمه الله دلیل دادې. چه د حدیث مشهور (البينة على المدعى واليمين على من أنكر) یا وړاندې مذکور (لك يمينه) په وجه دا خبره ثابته ده. چه قسم د مدعی حق دې. نو هرکله چې مدعی دمدعی علیه نه دخپل حق یعنی د قسم مطالبه کوی. نو قاضی به دا قبلوی. یعنی مدعی علیه ته به د قسم حکم ورکوی. یا دا چه مدعی علیه به د مدعی دا مطالبه قبلوی. یعنی قسم به خوری.

محمد مع من؟ صاحب د هدایه فرمائیلی دی چې د امام محمد رحمه الله نه دوه روایتونه دی. د امام خصاف د روایت مطابق امام محمد رحمه الله د امام ابویوسف رحمه الله سره دې. اود امام طحاوی رحمه الله د روایت مطابق امام محمد رحمه الله د امام ابوحنیفه رحمه الله سره دې. په غاية البيان کې مرغینانی رحمه الله باندې اعتراض شوې دې. فرمائی. چه د امام محمد رحمه الله قول نه خصاف رحمه الله نقل کړې دې. اونه طحاوی رحمه الله نقل کړې دې. خو صاحب دهدایه رحمه الله ددوی دواړو بزرګانو په حواله سره د امام محمد رحمه الله قول پته نه لګی. د کوم ځائې نه رانقل کړې دې. والله اعلم.

د مدعی نه د قسم اخستلو حکم

وَلَاتُرَدُّ الْيَمِيْنُ عَلَى الْمُدَّعِيْ) چې یمین به مدعی باندې نشی واپس کولې. (الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِيْ وَالْيَمِيْنُ عَلٰى مَنْ أَنْكَرَ} (۱) اومنکر باندې یمین دې. قَسَّمَ الله رسول ﷺ ویش فرمائیلې دې. وَالْقِسْمَةُ تُنَافِي الشَّرِكَةَ، او ویش د شرکت منافی دې. وَجَعَلَ جِنْسَ الْأَيْمَانِ عَلَى الْمُنْكِرِيْنَ او جنس ایمان ئې منکرینو باندې مقرر کړې دې. وَلَيْسَ وَرَاءَ الْجِنْسِ شَيْءٌ او د جنس نه علاوه هیڅ شئ باقی نه دې.

۱) من حديث ابن عباس رضى الله عنهما اخرجه البيهقى فى السنن الكبرى (۵\۵٤۱) رقم ۱۰۸۰۳۔

تشریح﴿ مدعی باندې په هیڅ حال کې هم قسم نشته.یعنې داسې به کله هم نه کیږی.چه د مدعی په قسم خوړلو باندې قاضی دده په حق کې حکم صادرکړی (۱)

دلیله﴿ رسول الله ﷺ د مدعي او مدعی علیه په منځ کې دوه شیان ویش کړی دی. اَلْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ (۲) یعنی مدعی باندې ئې بینه مقرر کړی دی.او مدعی علیه باندې ئې قسم مقرر کړې دې.او ویش د شرکت منافی دې. نو رسول الله ﷺ په ،،الیمین،،کې الف لام جنس سره ذکرکړې دې.او جنس قسم ئې په منکر یعنی مدعی علیه باندې ضروری کړې دې.اود جنس نه علاوه بل څه شئ باقی نه دې.نو هرکله چې جنس قسم مدعی علیه سره مختص شو.نو اوس به دقسم هیڅ برخه داسې نه وی.چه هغه مدعی لپاره وی.او هرکله چې مدعی لپاره د قسم هیڅ برخه پاتې نشوه.نو مدعی باندې به قسم هم نه راځی.

په ملك مطلق کښې د قابض د بینې حکم

(وَلَا تُقْبَلُ بَيِّنَةُ صَاحِبِ الْيَدِ فِي الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ، چې په ملك مطلق کې به د قابض بینه نه قبلیږی.

تشریح﴿ مسئله داده.که یوسړې په مال معین باندې قابض دې.او په دې باندې یو غیرقابض د ملك مطلق دعوه اوکړله.یعنې د ملك دعوه ئې اوکړله.خود مالك کیدلو سبب ئې بیان نکړو.مثلاً دا ئې اووئیل.چه دا شئ زما ملك دې.او ددې قابض په قبضه کې په ناحق طور دې.نود ملك مطلق په صورت کې که قابض د خپل مالك کیدلو باندې بینه پیش کړل.او غیرقابض پخپل مالك کیدلو باندې بینه پیش کړل.نو زمونږ په نیز به د غیرقابض بینه اولی (او غوره) وی.نوهم دا به قبلولې شی.اود غیرقابض بینه به نشی قبلولې. (۳)

دلیله﴿ دلیل دادې.چه د غیرقابض بینه دده لپاره ملك ثابتوی.اود قابض بینه قابض لپاره ملك نه ثابتوی. ځکه چې د قابض ملك د هغه په قبضه سره ثابتیږی.نود قابض بینه به هغه لپاره مؤکد وی.کوم چې په ملك سره ثابتیږی.او تاکید موجود لپاره د وصف ثابتولو نوم دې.د اصل ملك ثابتولو نوم نه دې.بهرحال هرکله چې د قابض بینه د ثابت شوی ملك لپاره مؤکد دی.اود غیر قابض بینه د ملك اثبات یا اظهار دې.نود قابض د قبضې په وجه به ظاهری ملك باندې د غیرقابض بینه ته ترجیح ورکولې شی. او ددې ترجیح په وجه به دده بینه قبلولې شی.

---

۱) **مسلك الشافعي**:- په پورتنی حکم کې د امام شافعی رحمه الله اختلاف دې. دا یو روایت د امام مالك او امام محمد رحمهما الله هم دې.دوی فرمائی.چه کله مدعی سره بالکل ګواهان نه وی.او قاضی مدعی علیه نه قسم واخستلو.خو هغه د قسم خوړلو نه انکار اوکړو.نو قسم به مدعی ارخ ته واپس کیږی.نو که مدعی قسم اوخوړلو.نو قاضی به د هغه په قسم باندې د هغه په حق کې فیصله ورکوی.دغه ډول که مدعی یو ګواه پیش کړو.اود دوهم ګواه نه عاجز شو(او پیش ئې نکړې شو).نو بیا به هم قسم مدعی ارخ ته واپس کیږی.نوکه دې ګواه سره مدعی قسم اوخوړلو.نو قاضی به دده په حق کې فیصله صادرکوی.اوکه مدعی د قسم نه انکار اوکړو.نود مدعی په حق کې به فیصله نه ورکوی.

۱) من حدیث ابن عباس رضی الله عنهما اخرجه البیهقی فی السنن الکبری (۵\۱٤٥) رقم ۲۰۸۰۳)۔

۲) **مسلك الشافعي** رحمه الله :- حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه د قابض ګواه به قبلولې شی.او هم دده په حق کې به فیصله ورکولې شی.

د مدعی علیه د قسم په انکار کولو سره د قاضي فیصله ورکول

(وَإِذَا نَكَلَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ عَنِ الْيَمِينِ او کله چې مدعی علیه د قسم نه انکار اوکړو. قُضِيَ عَلَيْهِ بِالنُّكُولِ نو قاضی به د انکار په وجه دده په خلاف فیصله ورکوی. وَأَلْزَمَهُ مَا ادَّعَى عَلَيْهِ) او مدعی چې په ده باندې دځه دعوه کړې ده. هغه به دده په ذمه لازم کړي.

تشریح> د مدعی د بینه نه پیش کولو په صورت کې که مدعی علیه دقسم خوړلو نه انکار اوکړو. نود مدعی علیه د انکار په وجه به قاضی د مدعی علیه خلاف حکم ورکوی. او مدعی چې کومه دعوه په ده باندې کړې ده. قاضی به هغه د مدعی علیه په ذمه لازموی. (۱)

دلیله> د مدعی علیه د قسم خوړلو نه انکار کول په دې خبره باندې دلالت کوی. چه مدعی علیه مدعی به په بهادرئ او زړه ورتیا سره ردکول غواړي. یعنی دا وائی. چه د مدعی دعوه غلطه ده. خو زه قسم نه خورم. اومدعی به اداکړم. یعنی په ناحقه اداکول مې قبول دی. خو قسم خوړل راته منظور نه دی. یا مدعی علیه دده د دعوه اقرار کوی. یعنی دا وائی. چه د مدعی دعوه صحیح ده. نوزه به دروغ قسم نه خورم. وجه ددې داده. که په دې کې یوه خبره هم نه وی. نوهغه به د شریعت واجب کړې شوې قسم ادا کولو دپاره، او د خپل خان نه ضرر لرې کولو لپاره د قسم خوړلو اقدام ضرور کړې وو. نو دده د قسم خوړلو نه انکار کول، ددې خبرې دلیل دې. چه هغه د مدعی د دعوه اقرار کوی. یاقسم پریږدی. او بهادرئ سره مدعی به اداکول غواړي.

د قاضي په مدعی علیه باندې درې ځله قسم پیش کول او فیصله کول

(وَيَنْبَغِي لِلْقَاضِي او قاضی لپاره مناسب دی. أَنْ يَقُولَ لَهُ چې هغه مدعی علیه ته داسې اووائی. إِنِّي أَعْرِضُ عَلَيْكَ الْيَمِينَ ثَلَاثًا، چې زه په تا باندې درې ځله قسم پیش کوم. فَإِنْ حَلَفْتَ نوکه تا قسم اوخوړلو. وَإِلَّا قَضَيْتُ عَلَيْكَ بِمَا ادَّعَاهُ) خو صحیح ده. ګنی زه به تا باندې د هغه شئ فیصله ورکوم. دکوم چې مدعی دعوه کړې ده.

تشریح> که مدعی سره بینه نه وی. او مدعی علیه د قسم لپاره تیار شو. نو قاضی به مدعی علیه ته دا وائی. چه زه تا باندې درې ځله قسم پیش کوم. که تا قسم اوخوړلو. نو ډیره ښه ده. یعنی ته به د مدعی د دعوه نه خلاص شې. اوکه تا قسم اونه خوړلو. بلکه د قسم خوړلو نه دې انکار اوکړو. نو زه به ستا خلاف د مدعی د دعوه حکم ورکوم.

فائدة التکرار> د قاضی دا ږرول. یعنی مدعی علیه ته دا ونیل. چه د انکار په صورت کې به ستا خلاف فیصله ورکوم. په دې غرض دی. چه هغه ته د قسم نه د انکار حکم اوخودلې شی. ځکه چې دا د پټولو مقام دې. یعنی ممکن ده. چه مدعی علیه ته د امام شافعی رحمه الله مذهب معلوم وی. چه د قسم په انکار سره مدعی علیه باندې حکم نشی ورکولې. بلکه مدعی باندې قسم واپس کولې شی. نو قاضی به دې دخپل مذهب (چې د مدعی علیه د انکار نه روسته دهغه خلاف حکم ورکولې شی) نه خبردار کړو. چه

---

(۱) **مسلک الشافعي رحمه الله**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی. چه د مدعی علیه په انکار کولو باندې قاضی ته د فیصلې ورکولو اجازت نشته. بلکه قسم به په مدعی باندې واپس کولې شی. که مدعی قسم اوخوړلو. نو قاضی به د هغه په حق کې حکم صادرکړی. اوکه مدعی هم انکار اوکړو. نو مقدمه به خارجولې شی.

مدعى عليه باندې دا خبره پټه پاتې نشي.

فَإِذَا كَرَّرَ الْعَرْضَ عَلَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ نو هركله چې قاضي مدعى عليه باندې درې ځله قسم پيش کړو. قُضِيَ عَلَيْهِ بِالنُّكُولِ) نود انکار په وجه به د هغه خلاف حکم وركوي.

تشريح> هركله قاضي مدعى عليه باندې درې ځله قسم پيش کړو. او مدعى عليه هرځل انكار اوكړو. نو اوس به قاضي دده خلاف حکم وركوي. مرغيناني رحمه الله فرمائيلي دى. چه دا تكرار يعني درې ځله قسم پيش كول د امام صاحب رحمه الله د بيان مطابق د استحباب په درجه کې دى. د شرط او واجب په درجه کې نه دى. او ددې مقصد زيات احتياط او په عذر ښکاره کولو کې مبالغه ده. لکه څنګه چې مرتد ته درې ورځې مهلت وركولې شي. نو دا درې ورځې مهلت وركول مستحب دى. واجب نه دى.

الحكم المفتي به> بهرحال درې ځل قسم پيش كول د احتياط په وجه دى. ګنې مذهب مفتى به حكم دادې. که قاضي د يوځل قسم پيش کولو نه روسته د مدعى عليه د انكار په بنا (بنياد) باندې حكم وركړو. نو بيا هم جائز دې. او دليل ورانديې تيرشوي دې. چه مدعى عليه انكار اوكړو. نو مدعى به په بهادرۍ سره وركول غواړي. يا د مدعى د دعوه اقرار كوى. او په دې دواړوکې په هيڅ يو کې تكرار شرط نه دې. نو په قسم پيش كولو کې به هم تكرار شرط نه وى. مرغيناني رحمه الله فرماني. هم دا قول صحيح دې. يعنى د مدعى عليه د يو ځل انكار نه روسته كه قاضي فيصله وركړله. نودا فيصله به نافذ وى. اګرچه بعض خلق واني. چه د يوځل انكار نه روسته كه قاضي حكم وركړو. نودا حكم به نافذ نه وى. مرغيناني رحمه الله فرماني. چه رومبې غوره دې. يعنى يوځل انكار كولو نه روسته فيصله وركول اګرچه جائز ده. خو بهتره داده. چه درې ځله د قسم پيش كولو نه روسته قاضي حكم صادر كړي.

د نكاح په دعوى كښې د منكر نه د قسم اخستلو حكم

(وَإِنْ كَانَتِ الدَّعْوَى نِكَاحًا او كه د نكاح دعوه وى. لَمْ يُسْتَحْلَفِ الْمُنْكِرُ) عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به منكر نه قسم نشى اخستلې. وَلَا يُسْتَحْلَفُ فِي النِّكَاحِ وَالرَّجْعَةِ وَالْفَيْءِ فِي الْإِيلَاءِ وَالرِّقِّ وَالْإِسْتِيلَادِ وَالنَّسَبِ وَالْوَلَاءِ وَالْحُدُودِ وَاللِّعَانِ. اود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به نكاح كې، رجعت كې، د ايلاء په رجوع كولوكې، رقيت كې، استيلاد كې، نسب كې، ولاء، حدود، او لعان كې قسم نشى اخستلې.

عدم الاستحلاف في الاشياء التسعة> نهه شيان دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز داسې دى. چه هغې کې د منكر يعني مدعى عليه نه قسم نشى اخستلې. او هغه نهه شيان دادى. ① نكاح: يعني سړى په يوې ښځې باندې دعوه اوكړله. چه ما ددې ښځې سره نكاح كړې ده. او ښځه ددې انكار كوى. يا ښځې د نكاح دعوه اوكړله. او سړې ددې منكر دې.

② رجعت: يعنى سړى خپلې ښځې ته طلاق رجعى وركړو. اود هغې عدت پوره شو. ددې نه روسته سړى دعوه اوكړله. چه د عدت په زمانه كې ده رجعت كړې وو. خو ښځه ددې منكره ده.

③ ايلاء رجعت: يعنى د ايلاء موده تيريدلو نه روسته سړى دعوه اوكړله. چه ما د ايلاء په موده كې دې ته رجوع كړې ده. او ښځه ددې منكره ده. يا ښځې د رجوع كولو دعوه اوكړله. او سړى ددې انكار اوكړو.

④ رقيت: يعنى يوسړى د يو مجهول النسب سړى په اړه كې دعوه اوكړله. چه دا زما غلام دې. او مجهول النسب ددې انكار اوكړو. يا مجهول النسب دعوه اوكړله. چه زه دده غلام يم. اوهغه انكار اوكړو.

⑤ استيلاد: يعنې يوې وينځې خپل مولا باندې دعوه اوکړله.چه ما ده د نطفې نه يو بچې راوړلې دې.او مولا ددې انکار اوکړو.دې صورت کې به عکس نه جارې کيږې.ځکه که مولا دعوه اوکړله.نود مولا په اقرار سره به استيلاد ثابتيږې.اود وينځې انکار اړخ ته به توجه نشي ورکولې.

⑥ نسب: يعنې يوسړې په يو مجهول النسب باندې دعوه اوکړله.چه دا زما خوې دې.يا دا زما پلار دې.او مجهول النسب ددې انکار اوکړو.يا مجهول النسب ددې دعوه اوکړله.او دې سړې انکار اوکړو.

⑦ ولاء: يعنې يو سړې د يو مجهول النسب سړې په اړه کې دعوه اوکړله.چه ما دا آزاد کړې دې.او زه دده مولا يم.خو مجهول النسب ددې انکار اوکړو.يا مجهول النسب ددې خبرې دعوه اوکړله.او دې سړې انکار اوکړو.

⑧ حدود: يعنې يو سړې په بل کس باندې دداسې شئ دعوه اوکړله.چه هغه حد واجبوي.مثلاً د زنا، يا غلا دعوه ئې اوکړله.او هغه دوهم سړې ددې منکر دې.

⑨ لعان: يعنې ښځې خپل ميړه باندې دعوه اوکړله.چه ده په ما باندې داسې تهمت لګولې دې.چه هغه لعان واجبوي.خو ميړه ددې انکار اوکړو.د لعان نه سوا واړه شيان قدورې کې ذکر دي.او لعان اګرچه قدورې کې مذکور نه دې.خو په جامع صغيرکې مذکور نه دې.

دليله ﴿ دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه د مدعى عليه د قسم نه انکار کول، بذل يعنې بهادرئ او زړه ورتيا سره د ور کولو اراده ده.او بذل نه مقصود جګړه لرې کول دې.اود بذل په صورت کې هم جګړه لرې کولې شي.نو بذل سره به قسم واجب نه وې.

تائيد صاحب الهداية مسلک ابي حنيفة رحمه الله ﴿ مرغينانى رحمه الله په هدايه کښې د امام صاحب رحمه الله د اړخه فرمائى.چه د مدعى عليه د قسم نه انکار، د دوه خبرو احتمال لرې. ① يو د مدعى د دعوه اقرار، لکه ځنګه چې صاحبين رحمهما الله فرمائى. ② دوهم بذل يعنې په بهادرئ او زړه ورتيا سره د مدعى به مال ور کولو اراده کول.لکه ځنګه چې امام صاحب رحمه الله فرمائى.رومبى صورت يعنې انکار عن اليمين د دعوه اقرار ګنړلو په صورت کې اګرچه جګړه ختميږې.خود دعوه په انکار کې د مدعى عليه دروغجن کيدل نه لازميږې.نو يو مسلمان (مدعى عليه) د دروغو د تهمت نه بچ کولو دپاره، د مدعى عليه انکار عن اليمين بذل باندې محمول کول زيات غوره دې.حاصل داچه دا خبره ثابته شوه.چه د مدعى عليه د قسم نه انکار کول بذل دې.او په ذکر شوي څيزونوکې بذل نه جارې کيږې.مثلاً يوې ښځې مدعى عليها اووئيل.چه زما او ستا په منځ کې هيڅ نکاح نه ده شوې.يعنې ښځې د نکاح انکار اوکړو.خو ما ستا لپاره د خپل نفس بذل (قربانى) اوکړه.نودا بذل صحيح نه دې.نو هرکله چې په دې څيزونو کې بذل نه جارې کيږې.نود مدعى عليه په انکار يعنې د بذل په وجه به د قاضې حکم هم نه صادريږې.او هرکله چې په دې څيزونو کې د قاضې حکم نشي صادرکيدلې.نود قسم بې فائدې کيدلو په وجه به ذکرشوي څيزونوکې مدعى عليه نه قسم نشي اخستلې.

وَقَالَا:او صاحبين رحمهما الله فرمائى.يُسْتَحْلَفُ فِي ذٰلِكَ كُلِّهِ(١) اِلَّا فِي الْحُدُوْدِ وَاللِّعَانِ. چې په دې ټولو کې به قسم اخستلې شي.سوا د حدود او لعان نه.

مسلک الصاحبين رحمهما الله ﴿ صاحبين رحمهما الله فرمائى.چه حدود او لعان نه علاوه کې به منکر يعنې

١) القول الراجح هو قول الصاحبين رحمهما الله كذا في نتائج الأفكار(١٦٩\٧) والخانية ٩٢، ٩٣) وردالمختار(٤٧٣\٤) ومجمع الأنهر(٣٥١\٣)نقلاً عن القول الراجح (١٧١\٢)

مدعی علیه نه قسم اخستلې شي.حاصل داچه په حدود او لعان کې به بالاتفاق مدعی علیه یعني منکر نه قسم نشي اخستلې.خوپه باقې اووه ځیزونو کې اختلاف دې.یعنی د امام صاحب رحمه الله په نیز په دې اووه ځیزونو کې به قسم نشي اخستلې.اود صاحبینو رحمهماالله په نیز به اخستلې شي.د حضرت امام صاحب رحمه الله په نیز د قسم نه اخستلو مطلب دادې.که مدعی سره بینه نه وي.نو مقدمه به خارجولې شي.او قاضي لپاره به دمدعي په حق کې فیصله ورکول جائز نه وي.

دلیلهما د مدعی علیه یعنی منکر د قسم نه انکار کول،یو قسم له د مدعی د دعوه اقرار کول دي.ځکه چې قسم خوړلو سره انکار کول ددې خبرې دلیل دې.چه مدعی علیه د مدعی دعوه نه په انکار کولوکې بالکل دروغجن دې.ځکه که مدعی علیه د دعوه په انکار کې دروغجن نه وو.نو هغه به قسم خوړلو ته ضروروراندې شوې وو.غرض داچه د مدعی علیه د قسم خوړلو نه انکار کول، د مدعی د دعوه اقرار دې.یا د اقرار بدل او خلیفه دې.او اقرار په ذکر شوي ټولو ځیزونو کې جاري کیږي.نوانکار عن الیمین به هم په ټولو ځیزونو کې جاري کیږي.او انکار عن الیمین به هغه وخت جاري کیږي.کله چې مدعی علیه نه قسم واخستلې شي.نو ثابته شوه.چه په ذکرشوي مسئلوکې به مدعی علیه نه قسم اخستلې شي.

وجه إستثناء الإستحلاف في الحدود واللعان خوانکار عن الیمین د مدعی د دعوه داسې اقرار دې.چه دې کې شبه ده.ځکه چې یمین نه انکار کول، د دعوه په اره کې فی نفسه سکوت دې.او سکوت اقرار وي.خو سره د شبه،اود شبهاتو په وجه حدود لرې کیږي.نود مدعی علیه په دې اقرار مع الشبه سره به مدعی علیه باندې حد نه جاري کیږي.او هرکله چې په دې صورت کې مدعی علیه باندې حد نه جاري کیږي.نو په دې صورت کې به انکار هم نه جاري کیږي.یعنی په دې انکار به د قاضي د فیصلې ور کولو فائده هم نه مرتب کیږي.او هرکله چې په دې انکار باندې فائده مرتب نشوه.نو مدعی علیه څخه به قسم هم نشي اخستلې.بهرحال حدود کې به مدعی علیه نه قسم نشي اخستلې.او پاتې شو لعان،نودا د حد په معنی کې دې.ځکه چې لعان د میړه په حق کې د حد قذف قائم مقام وي.اود ښځې په حق کې د حد زنا قائم مقام وي.لکه څنګه چې کتاب اللعان کې تیر شوي دي.نو هرکله چې لعان د حد په معنی کې دې.نو لعان کې به هم انکار نه جاري کیږي.او مدعی علیه څخه به قسم نشي اخستلې.

په یو ملک کښې د دوو کسانو د دعوې کولو مسئله

وَإِذَا ادَّعَى اثْنَانِ عَيْنًا فِي يَدِ آخَرَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا دوه سړو د یو خاص شئ دعوه اوکړله.کوم چې د دریم کس په قبضه کې دې.يَزْعُمُ أَنَّهَا لَهُ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ او هغوی کې هریو کس واني.چه دا شئ زما دې.او دواړو بینه قائم کړل.قُضِيَ بِهَا بَيْنَهُمَا نودا فیصله به کولې شي.چه دا شئ دې دواړو کې برابر دې.

تشریح مخکې یوه قاعده باندې پوهه شئ.چه په مسئلو آسانتیا سره پوه شئ.قاعده داده.چه کله د مطلق ملکیت دعوه په داسې دوه سړو کې وي.چه دوی کې یو قابض وي.او دوهم غیرقابض وي (چه ده ته خارج واني).نو زمونږ په نیز(عندالاحناف) د غیرقابض (خارج) حجت به مقدم وي. امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دې. اوس دوه سړو دیو شئ دعوه اوکړله.او هغه شئ د دریم کس په لاس کې دې.او دواړو ګواهان قائم کړل.نو زمونږ په نیز به دغه شئ دواړو کې دوه حصوکې برابر تقسیمیږي. (1)

(1) **مسلک الشافعي**:-د امام شافعي (عند الشوافع رحمهم الله په نیز به د دواړو ګواهان ساقط الاعتبار وي.د

دلائله ﴿ ① دليل د تميم بن ارخه حديث دې.چه ددې تخريج ابن ابى شيبه او عبدالرزاق پخپل خپل مصنف کې او بيهقى په ،،کتاب المعرفه،،کې کړې دې. (أن رجلين ادعيا بعيرا فأقام كل واحد منهما البينة أنه له فقضى النبى ﷺ به بينهما) (¹) چه،،د نبى كريم ﷺ په خدمت کې دوه سړو د اوښ په اړه کې دعوه اوکړله.او په دوى کې هريو کس ګواهان قائم کړل.چه دا اوښ زما دې.نو نبى كريم ﷺ ددوى دواړو په منځ کې نيم په نيمه ويش کړو،،

② عقلى دليل دې.چه فريقينو کې هر يو لپاره د عادلو ګواهانو کوم شئ د شهادت جائز ګرځولو احتمال لرى.هغه محتمل الوجود دې.په دې طريقه چې ممکن ده.يو فريق د ملکيت په سبب باندې اعتماد کړې وى.او دوهم په ښکاره قبضې په کتلو ګواهى ورکړې وى.او هرهغه شهادت چې هغې لپاره داسې قسمه مجيز(د جواز احتمال) موجود وى.هغه صحيح وى.که د واقع مطابق وى. او که نه وى.خکه چې د شهادت صحت په واقع کې د مشهود به تحقق باندې موقوف نه دې.خکه چې دا خود غيبو خبره ده.چه په دې باندې بنده ګان نشى خبريدلې.بلکه د شهادت د صحت اعتماد په ښکاره حالت باندې دې.نو دواړه شهادتونه صحيح شو.نو ترکومه چې ممکن وى.دواړو باندې عمل کول ضرورى دى.او دلته کې عمل په دې طريقه ممکن دې.چه دواړو لپاره د نصف نصف حکم ورکړې شى.خکه چې محل قابل تنصيف دې.او قابل تنصيف خکه دې.چه د استحقاق په سبب کې دواړه برابر دى.

په يوې ښځې باندې د وو سړو د نکاح د دعوى حکم

(وَإِنْ ادَّعَى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا که دعوه اوکړله.په دوى کې هر يو نِكَاحَ امْرَأَةٍ په نکاح د يوې ښځې، وَأَقَامَ بَيِّنَةً او دواړو بينه قائم کړل.لَمْ يَقْضِ بِوَاحِدَةٍ مِنْ الْبَيِّنَتَيْنِ)نو فيصله به نه کيږى.په دواړو کې په يو بينه هم.دواړو باندې

تشريح﴿ که دوه سړو يوې ښځې سره نکاح باندې ګواهان قائم کړل.نو دواړه به ساقط الاعتبار وى.
دليله﴿ خکه چې محل قابل د اشتراك نه دې.يوه ښځه د دوو کسانو په نکاح کښې نشى کيدې.

وَيَرْجِعُ او رجوع به کولې شى.إِلَى تَصْدِيقِ الْمَرْأَةِ لِأَحَدِهِمَا) د يو کس لپاره د ښځې تصديق ارخ ته.

هرکله چې د يو په حق کښې هم فيصله نشى کولې نو اوس به ښځه د هغه کس بى بى وى.دکوم کس چې دا تصديق اوکړى.
دليله﴿ خکه نکاح داسې شئ دې. چې د زوجينو خپل منځ کې تصديق سره ددې حکم ورکولې شى.
التفصيل المزيد﴿ په دې شرط چې دواړو ګواهانو تاريخ نه وى بيان کړې.که تاريخ ئې بيان کړو.نودکوم کس تاريخ چې وړاندې وى.ښځه به هم د هغه کس وى.اوکه د ګواهانو قائمولو نه وړاندې ښځې د يو کس دمنکوحه کيدلو اقرار اوکړو.نو ښځه به هم د هغه وى.بيا که دوهم کس پخپله منکوحه کيدلو باندې بينه قائم کړل.نو ښځه به هغه ته ورکولې شى.خکه چې ګواهى د اقرار نه زيات مضبوط دى. خکه چې ګواهان حجت متعديه دى.او اقرار حجت قاصره دې.حاصل دا چې د تاريخ مخکې والې په تولو باندې راجح دې.بيا قبضه، بيا وطى ، بيا د تاريخ والا اقرار دې.

امام احمد رحمه الله په نيز به قرعه اندازى کولې شى.دا يو قول د امام شافعى رحمه الله هم دې.
۲)أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه (نصب الراية ۴\۲۳۷)۔

(وَإِنِ ادَّعَى اثْنَانِ كُلٌّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا او كه دعوه اوكړله دواړو كې هر يو. أَنَّهُ اشْتَرَى مِنْهُ هَذَا الْعَبْدَ) چې دا غلام ما دهغه نه اخستې دې وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ او دواړو بينه قائم كړل. فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ نو دوى كې به هريو ته اختيار وى. إِنْ شَاءَ أَخَذَ نِصْفَ الْعَبْدِ بِنِصْفِ الثَّمَنِ كه غواړى. د نصف ثمن په عوض دې واخلى. وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ) كه غواړى ، ترك دې كړى.

تشريح> اوكه په دوه سړو كې يوكس دعوه اوكړله.چه ما دا غلام ددې سړى (يعنى قابض) نه اخستې دې.او هر يو مدعى د تاريخ ذكر كولو نه بغير بينه قائم كړل.نو په دوى كې به هر يو ته دا اختيار وى.كه غواړى.نو نصف غلام دې د نصف قيمت په بدله كې واخلى.كه غواړى ، نو ترك دې كړى.(نه دې اخلى).

دليله> ځكه چې قاضى به د دوى دواړو په منځ كې دغلام د نصف نصف كيدلو فيصله كوى.ځكه چې سبب كې دواړه برابر دى.نو داسې شوه.لكه چې دوه فضولى د دريم سړى غلام د خپل خپل مشترى په لاس خرڅ كړى.او مالك د دواړو بيع جائز اوساتى.چه هر يو مشترى ته دا اختيار وى.كه غواړى وادېخلى.كه غواړى پريدېردى.ځكه چې هرمشترى باندې دهغه شرط عقد (رضا) بدله شوه.ځكه ممكن ده.چه دده شوق دا وى.چه زه پوره غلام حاصل كړم.

د قاضي د نصف غلام په فيصله باندې د يو مدعى د نه راضى كيدو حكم

(فَإِنْ قَضَى الْقَاضِي بِهِ بَيْنَهُمَا بيا كه قاضى حكم وركړو.ددوى دواړو كې د غلام د نصف نصف كيدلو.فَقَالَ أَحَدُهُمَا:بيا يو كس اوونيل.لَا أَخْتَارُ چې نصف اخستل نه غواړم.لَمْ يَكُنْ لِلْآخَرِ أَنْ يَأْخُذَ جَمِيعَهُ)نود دوهم لپاره به د پوره غلام اخستلو اختيار نه وى.

تشريح> په مذكوره عبارت كې علامه مرغينانى رحمه الله فرمائى.كه قاضى دا فيصله وركړله.چه دا غلام دواړو كې نيم په نيمه مشترك دې.بيا په دوى كې يوكس اوونيل. چې زه نيم نه اخلم.نو اوس دوهم مشترى پوره غلام نشى اخستلې.

دليله> ځكه چې هغه مقتضى عليه شو.يعنى ده باندې نصف غلام كې فيصله وركړې شوه.نو په دغه نصف كې بيع ماته شوه.او كله چې عقد د قاضى په قضاء سره مات شى.نو هغه د تجديد نه بغير نه واپس كيږى.او دلته كې تجديد (دوباره عقد) نه دې موندې شوې.

(وَإِنْ ذَكَرَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا تَارِيخًا او كه دوى كې هريو تاريخ ذكر كړو. فَهُوَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا)نو غلام به د رومبى تاريخ والا وى.

تشريح> اوكه د دواړو ګواهانو د اخستلو تاريخ بيان كړو.نو شئ (مدعى به) به وراندې تاريخ والا ته ملاويږى. آئمه ثلاثه رحمهم الله هم ددې قائل دى.

دليله> ځكه چې ده خپل اخستل په داسې وخت كې ثابت كړى دى.چه په هغې كې دده هيڅ څوك مزاحم نشته.نو په دې دليل سره دويم(مدعى) دفع شو.

(وَإِنْ لَمْ يَذْكُرَا تَارِيخًا او كه دواړو تاريخ ذكر نكړو. وَمَعَ أَحَدِهِمَا قَبْضٌ او د يو كس قبضه ده. فَهُوَ أَوْلَى) نو هم دې اولى (او راجح) دې.

تشريح> اوكه دواړو هيڅ تاريخ بيان نكړو.او غلام مذكور د يو مدعى په قبضه كې دې.نو غلام به د قابض وى.

دلائله> ① ځکه چې د قابض قبضه په رومبي اخستلو باندې دلالت کوي.
② په دې وجه هم چې کله هغه د دعوه په اثبات کې برابر دي.نود کوم کس دعوه چې بالفعل ثابت ده.هغه به د شك په وجه نشي ماتولې.

د هبې مع القبض او اخستلو دعوې شونځو د ګواهانو قائمولو حکم

وَإِنِ ادَّعَى أَحَدُهُمَا شِرَاءً او که په دوی کې يو کس د اخستلو دعوه اوکړله.وَالْآخَرُ هِبَةً وَقَبْضًا)او دوهم کس د هبه مع القبض (دعوه اوکړله)، وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ او دواړو بينه قائم کړل.وَلَا تَارِيخَ مَعَهُمَا او تاريخ يو کس سره هم نشته.فَالشِّرَاءُ أَوْلَى مِنَ الْآخَرِ)نو اخستل راجح دي.دبل نه

تشريح> که يو کس دعوه اوکړله.چه ما دا شئ د زيد نه اخستې دې. دوهم کس دعوه اوکړله.چه ماته دا شئ زيد هبه (تحفه) راکړې دې.او دواړو ګواهان قائم کړل.خو هيڅ ګواه تاريخ بيان نکړو.نود اخستلو دعوه به دهبه په دعوه باندې مقدم وي.
دليله> ځکه چې شراء بنفسه د ملکيت مثبت ده.په خلاف د هبه چې دا په قبضه باندې موقوف ده.او شراء د جانبينو د اړخه معاوضه ده.او هبه معاوضه نه ده.

وَإِذَا ادَّعَى أَحَدُهُمَا الشِّرَاءَ که دعوه اوکړله يو کس د اخستلو،وَادَّعَتْ امْرَأَةٌ أَنَّهُ تَزَوَّجَهَا عَلَيْهِ او ښځې دعوه اوکړله.چه ده په دې(ځين) باندې زما سره واده (نکاح) کړې ده فَهُمَا سَوَاءٌ).نو دا دواړه برابر دي.

مسلك ابي يوسف> د عمرو په قبضه کې يو غلام دې.زيد دعوه اوکړله.چه ما دا غلام دعمرو نه اخستې دې.او هندې دعوه اوکړله.چه عمرو دا غلام زما مقرر کړې دې.او ما سره ئې نکاح کړې ده.او دواړو ګواهان قائم کړل.نو د دواړو دعوه او ګواهان به برابر وي.دا دامام ابويوسف مذهب دې. ([1])
دليله> ځکه چې شراء (اخستل) او نکاح دواړه عقود معاوضه او بنفسه د ملکيت مثبت دي.نو په قوت کې دواړه برابر شو.خودا د امام ابويوسف مذهب دې.
مسلك محمد> د امام محمد رحمه الله په نيز د اخستلو دعوه اولي (او راجح) ده.يعنې د اخستلو حکم به ورکولې شي.او ښځې لپاره به خپل ميره باندې ددې غلام قيمت واجب وي.
دليله> ځکه چې دواړو ګواهانو باندې عمل ممکن دې.ځکه چې د غيرمملوك مال عين باندې نکاح کول جائز دي.او هرکله چې دا او نشي سپارلې.نو د هغې قيمت به واجب وي.نودا خبره ممکن ده.چه ښځې لپاره ددې په ميره باندې د غلام قيمت واجب کړې شي.او مشتري لپاره د اخستلو حکم ورکړې شي.

وَإِنِ ادَّعَى أَحَدُهُمَا که يو کس دعوه اوکړله.رَهْنًا وَقَبْضًا د رهن مع القبض وَالْآخَرُ هِبَةً وَقَبْضًا او دوهم د هبه مع القبض (دعوه اوکړله). فَالرَّهْنُ أَوْلَى)نو رهن راجح دې.

تشريح> او که يوسړي د رهن مع القبض دعوه اوکړله.او دوهم د هبه مع القبض دعوه اوکړله.نود رهن دعوه به اولي وي.خودا استحسان دې.
وجه الاستحسان> وجه د استحسان دا ده.چه مقبوض په حکم د رهن سره مضمون وي.او مقبوض په حکم

[1]) القول الراجح هوقول أبي يوسف رحمه الله كذا في الدرالمنتقى (۳\۳۷۶) وكنز (۲۸۲) وتنوير الأبصار(۴\۴۸۸) نقلاً عن القول الراجح (۲\۱۸۴)

د هبه سره مضمون نه وي.او عقد ضمان د عقد تبرع نه زيات مضبوط دی.نود رهن دعوه به اولی وي.
صورة استثنائية> خودا هغه وخت دی.کله چې د هبه بلاعوض دعوه وي.اوکه د هبه دعوه په شرط د عوض وي.نو بیا به د هبه دا دعوه اولی وي.ځکه چې هبه بشرط العوض انتهاءً بيع وي.او بيع د رهن نه اولی وي.

په ملك او تاريخ باندې د دوو غير قبضه كونكو ګواهانو قائمول

وَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجَانِ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمِلْكِ وَالتَّارِيخِ که دوه غير قابضانو په ملك او تاريخ باندې بينه قائم کړل.فَصَاحِبُ التَّارِيخِ الْأَقْدَمِ أَوْلَى)نود وړاندې تاريخ والا (بينه) راجح دی.

تشريح> يو مال عين د يو قابض په قبضه کې دی.په دې باندې دوه مدعيانو د خپل خپل ملکيت دعوه اوکړله.يعنی وې ونيل.چه دا شئ زما دې.اود اخستلو يا د ميراث وغيره هيڅ سبب ئې بيان نکړو.البته د ملکيت تاريخ ئې بيان کړو.او هم ددې مطابق ګواهانو ګواهي ورکړله.مثلاً د يو(کس ګواهانو) د رمضان۱۳۰۵ھ اوخودله.او د دويم(کس ګواهانو) د محرم۱۳۰۴ھ اوخودله.نو حکم به رومبی تاريخ والا لپاره وي.
دليله> ځکه چې ددې اول مالك کيدل ثابت شو.نو دوهم ته ملکيت هم دده د اړخه ملاويدې شي.حالانکه دده دا دعوه نه ده کړې.چه ما د اخستلو يا د تحفه وغيره په ذريعه ملکيت دده د اړخه حاصل کړې دې.نو دده دعوه به مسترد کولې شي.

وَإِنْ ادَّعَيَا که دواړو دعوه اوکړله.الشِّرَاءَ مِنْ وَاحِدٍ)د اخستلو د يوسړی نه..وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ عَلَى تَارِيخَيْنِ اوکه دواړو په دوه تاريخونو باندې بينه قائم کړل.فَالْأَوَّلُ أَوْلَى)د رومبی تاريخ والا (بينه اولی او) راجح دی.

تشريح> نفس مسئله آسانه ده.
دليله> ځکه مونږ بيان کړل چې ده اخستل داسې وخت کې ثابت کړل. چې هغې کې دده هيڅ څوك مزاحم (او مقابل) نشته.نو دده بينه ته به ترجيح وي.

(وَإِنْ أَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ اوکه هر يو بينه قائم کړل.عَلَى الشِّرَاءِ مِنْ الْآخَرِ د بل نه په اخستلو باندې وَذَكَرَا تَارِيخًا)او که دواړو تاريخ ذکر کړو.فَهُمَا سَوَاءٌ نو دواړه برابر دی.

تشريح> اوکه په دوه مدعيانو کې هريو د جلا جلا سړی (غيرقابض) نه اخستلو باندې ګواهان قائم کړل.مثلاً يو مدعی د زيد نه او دوهم د عمرو نه اخستلو باندې ګواهان قائم کړل.اودواړو يو تاريخ بيان کړو.نو دواړه به برابر وي.او اخستې شوې شئ به د دواړو په منځ کې برابر برابر تقسيميږي.
دليله> ځکه چې دوی دواړه د خپل خپل بائع لپاره ملك ثابتوی.نودا داسې شوه.لکه چې دوی دواړه بائع موجود وي.او دعوه اوکړی.او دواړه يو تاريخ ذکر کړی.

د قابض او غير قابض په ملك مؤرخ او د تاريخ په تقدير باندې ګواهانو قائمولو حکم

وَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجُ الْبَيِّنَةَ عَلَى مِلْكٍ مُؤَرَّخٍ که غيرقابض په ملك مورخ باندې بينه قائم کړل.وَأَقَامَ صَاحِبُ الْيَدِ الْبَيِّنَةَ عَلَى مِلْكٍ او قابض (بينه قائم کړل) په داسې ملك باندې، أَقْدَمَ تَارِيخًا کوم چې د هغه د تاريخ نه وړاندې دی.كَانَ أَوْلَى نو قابض به اولی (او راجح) وي.

تشريح> خارج سړې (غيرقابض) او قابض دواړو په ملك مورخ باندې ګواهان قائم کړل.اود قبضه

کونکې تاریخ وړاندې دې.نود شیخینو رحمهماالله په نیز به د قابض ګواهان مقدم وی.(¹)

دليلهما> دليل دادې.چه د قابض د تاریخ ګواهان معنی د خارج ګواهانو دفع کولو ته متضمن دی.ځکه چې کله یو وخت کې دچا لپاره څه ملك ثابت شی.نو ددغه وخت نه روسته د دوهم کس لپاره دملك ثبوت هم دده د اړخه حاصلولو سره کیدلې شی.اود خصومت په دفع کولو باندې د قابض ګواهان قبلیږی.نود قابض ګواهان به وړاندې وی.

مسلك محمد> د امام محمد رحمه الله نه هم یو روایت دادې.خو ددې روایت نه ئې رجوع کړې ده.کوم روایت اړخ ته ئې چې رجوع کړې ده.هغه دا دې.چه د قابض بینه به نه قبلیږی.

دليله> ځکه چې د دواړو ګواهان په ملك مطلق باندې قائم دی.او دوی د ملکیت اړخ ته هیڅ اعتراض نه دې کړې.نو تقدم او تاخر به برابر وی.

د قابض اود غیر قابض په زیږیدل باندې د ګواهانو قائمول

وَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجُ که بینه قائم کړل،قابض وَصَاحِبُ الْيَدِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةً بِالنِّتَاجِ او غیرقابض کې هر یو په زیږیدل زیږیدل باندې،فَصَاحِبُ الْيَدِ أَوْلَى)نو قابض اولی (او راجح) دې.وكَذٰلِكَ النَّسْجُ فِي الثِّيَابِ الَّتِي لَا تُنْسَجُ إِلَّا مَرَّةً وَاحِدَةً اودغه شان اودل دی په هغه جامو کښې چې نشی اودلې مګر یو ځل وكَذٰلِكَ كُلُّ سَبَبٍ فِي الْمِلْكِ لَا يَتَكَرَّرُ اودغه شان هرسبب چې په ملك کښې مکرر کیږی نه.

تشريح> په دې عبارت کې امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه خارج سړی (غیر قابض) او قابض دواړو د ملکیت په داسې سبب باندې ګواهان قائم کړل.کوم چې بار بار نه واقع کیږی.یو ځل واقع کیږی.لکه نتاج یعنی د یو څاروی بچې پیداکیدل، دمالوچو د کپړې جوړول، مالوچ ریښل (یعنی تار جوړول).شیدې لوشل ، پنیر جوړول، وړئ تراشل، وغیره چې دا سببونه یو ځل کیږی.بار بار نه کیږی.اوس خارج سړی (غیر قابض) او قابض دواړو په ګواهانو سره دا ثابته کړله.چه دا بچې زما د څاروی دې.او زما(یا زما د بائع یا د مورث) په ملکیت کې پیدا شوې دې.نود قابض ګواهان به معتبر وی.که قابض خپل ګواهان د خارج په حق کې د قاضی د فیصلې کولو نه روسته پیش کړې وی.او که وړاندې پش کړې وی.

دلائله> ① نقلی دلیل په دار قطنی کې د جابربن عبدالله رضی الله عنه روایت دې.چه،،یوسړی د یوې اوښې دعوه اوکړله.او په ګواهانو سره ئې ثابته کړله.چه دا زما ده.زما سره پیدا شوې ده.قابض هم دغه دول ګواهانو سره ثابته کړله.نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوښه قابض ته ورکړله،،

② مذکوره ګواهی داسې شئ کې قائم شوې ده.چه په دې باندې قبضه دلالت نه کوی.نو ګواهئ کې دواړه برابر شو.بیا د قابض ګواهانو ته د قبضې په وجه ترجیح ورکولې شی.هم دا صحیح ده.عام مشائخ هم دې اړخ ته تلی دی.

وَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجُ بَيِّنَةً که غیرقابض بینه قائم کړل.عَلَى الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ په ملك مطلق باندې .وَصَاحِبُ الْيَدِ بَيِّنَةً عَلَى الشِّرَاءِ مِنْهُ او قابض دده نه په اخستلو باندې (بینه قائم کړل).كَانَ صَاحِبُ الْيَدِ أَوْلَى) نود قابض بینه به اولی وی.

---

¹) القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا في الدرالمنتقى (٣\٣٧٧) وتنوير الأبصار(٤\٤٩٠) وكنز الدقائق (ص،٢٨٣) نقلاً عن القول الراجح(٢\١٨٥)

تشريح> خارج سړی (غير قابض) په مطلق ملکيت باندې ګواهان قائم کړل.او قابض په دې خبره (ګواهان قائم کړل) چې ما د خارج سړی نه اخستې دې.نود قابض ګواهان به معتبر وی.

دليله> ځکه چې خارج سړې رومبې ملکيت ثابتوی.او قابض د هغه نه ملکيت حاصلول ثابتوی.او په دې دواړو کې هيڅ توپير نشته.نو داسې شوه.لکه چې قابض اول د غير لپاره اقرار اوکړو.بيا ئې د هغه نه د اخستلو دعوه اوکړله.

د دوو مدعيانو د يو بل نه په اخستلو باندې ګواه قائمول

وَإِنْ أَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ که بينه قائم کړل په دوی کې هر يو ، عَلَى الشِّرَاءِ مِنَ الْآخَرِ د بل نه په اخستلو باندې، وَلَا تَارِيخَ مَعَهُمَا او تاريخ دواړو سره نشته. تَهَاتَرَتِ الْبَيِّنَتَانِ نو دواړه بينه به پريخودلې شی.

تشريح> د مذکوره مسئلې وضاحت دادې.که خارج سړی او قابض کې هر يو د بل نه اخستلو باندې ګواهان قائم کړل.يعنی خارج ثابته کړله.چه ما دا کور قابض نه اخستې دې.او قابض ثابته کړله.چه ما د خارج سړی نه اخستې دې.او تاريخ هيڅ يوکس سره هم نشته.نود شيخينو رحمهاالله په نيز به د دواړو ګواهان ساقط الاعتبار وی.اوکور به د قاضی د قضاء نه بغير دمخکې پشان فی الحال هم دقابض په لاس کې پريخودلې شی.()

دلائلهما> ① د شيخينو رحمهاالله دليل دادې.چه اخستلو باندې اقدام کول د بل د ملك اقرار کول دی.نو ګويا د هر سړی ګواهان د بل په اقرار باندې قائم شو.او په دې صورت کې د تعذر جمع کيدلو په وجه بالاجماع دواړه بينې ساقط الاعتبار جوړيږی.نو دلته به هم ساقط الاعتبار وی.

② د سبب اعتبار هغه وخت کيږی.کله چې هغه مفيد د حکم وی.نو اخستل کوم چې سبب دې.د هغې اعتبار به هله کيږی.کله چې دا د حکم يعنی د ملکيت فائده ورکړی.او دلته قابض لپاره حکم ورکول ممکن نه دې .خو په ملك مستحق سره، يعنی په داسې ملك سره چې خارج سړې ددې مستحق دې.حالانکه دا غيرمفيد دې.

مسلك محمد> د امام محمد رحمه الله په نيز به دواړه بينې (يعنی د دواړو ګواهان) قبلولې شی.اوکور به خارج سړی ته ورکولې شی.

دليله> ځکه چې ګواهانو باندې په دې طريقه عمل کيدلې شی.چه ممکن ده.قابض د خارج سړی نه اخستې وی.بيا ئې د خارج سړی په لاس خرڅ کړې وی.او قبضه کړې ئې نه وی.ځکه چې قبضه د سبقت دليل دې.او ددې په عکس به نشی کولې.ځکه چې د امام محمد رحمه الله په نيز بيع د قبضې نه وړاندې جائز نه ده.اګرچه په عقار(غيرمنقول) کې وی.

يو مدعی دوه او بل ځلور ګواهان قائم کړل

وَإِنْ أَقَامَ أَحَدُ الْمُدَّعِيَيْنِ شَاهِدَيْنِ که يو مدعی دوه ګواهان پيش کړل. وَالْآخَرُ أَرْبَعَةً او دوهم کس ځلور (ګواهان پيش کړل). فَهُمَا سَوَاءٌ)نو دواړه برابر دی.

تشريح> نفس مسئله آسانه ده.

() القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا في كنز الدقائق (ص،٢٨٣) وملتقى الأبحر(٣٨١\١٣) وتنوير الأبصار على هامش ردالمحتار(٤٩٠\٤) ونتائج الأفكار(٢٥٥\١٧) والهندية (٧٧\٤) نقلاً عن القول الراجح(١٨٨\٢)

دلیله د ترجیح لپاره د زیاتو دلائلو ارتیا نه وي.بلکه د دلائلو قوي (او مضبوط کیدل) ضروري دي.دې قول ته د فقهې د قانون په لحاظ سره د دلائلو په کثرت سره ترجیح نشي ورکولی .بلکه د دلائلو د قوت لحاظ کولې شي.هم ددې قانون لاندې صاحب دهدایه رحمه الله دا مسئله په هدایه کښې بیان کړې ده چه زمونږ په نیز د کثرت شهود په وجه ترجیح نشي ورکولی.مثلاً د یوکس دوه ګواهان وي.اود بل څلور ګواهان وي.نود شهادت (او ګواهانو) قانونو کې به دوی دواړه برابر وي.او ترجیح کثرت علل سره نه کیږي.بلکه قوت علل سره کیږي.مثلاً یو اړخ ته دلیل متواتر وي.او بل اړخ ته احاد وي.نو ترجیح به متواتر ته ورکولې شي.او داسې به نه کیږي.چه یو اړخ ته دوه حدیثونه دي.او بل اړخ ته یو حدیث دې.نو دوه حدیثونو اړخ ته به ترجیح ورکولې شي.دغه ډول یو اړخ ته دلیل مفسر وي. دوهم اړخ ته مجمل وي.نو مفسر ته به په مجمل باندې ترجیح ورکولې شي.وعلی هذا القیاس،

د قصاص په دعوې کښې د قسم نه انکار کول

وَمَنْ ادَّعَى قِصَاصًا عَلَى غَيْرِهِ که یوسړی په بل باندې د قصاص دعوه اوکړله. فَجَحَدَ اُسْتُحْلِفَ نو مدعی علیه ددې انکار اوکړونوقسم به ترې اخستلې شی.فَإِنْ نَكَلَ عَنِ الْيَمِينِ فِيمَا دُونَ النَّفْسِ بیا که مدعی علیه د نفس نه په کم کې د قسم انکار اوکړو.لَزِمَهُ الْقِصَاصُ نو په ده به قصاص لازم وي.وَإِنْ نَكَلَ فِي النَّفْسِ حُبِسَ حَتَّى يُقِرَّ اَوْيَحْلِفَ)(١)او که په قصاص د نفس کې ئې قسم نه انکار اوکړو.نو مدعی علیه به قید کې اچولې شي.تردې چې هغه اقرار اوکړی او یا قسم اوخوری.اودا د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دی.

مسلک أبي حنیفه رحمه الله د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز که یو سړی په بل باندې د قصاص دعوه اوکړله.مدعی علیه ددې انکار اوکړو.او مدعی بینه پیش نکړې شوه.نو مدعی علیه څخه به بالاجماع قسم اخستلې شي.دعوه د نفس د قصاص وي.اوکه د نفس نه د کم د قصاص وي.نو که مدعی علیه قسم اوخوړلو.نو هغه به د قصاص نه بری کیږي.اوکه هغه د نفس نه په کم کې د قسم خوړلو نه انکار اوکړو.نو په ده به قصاص لازم وي.په دې شرط چې ده قصداً جرم کړې وي.اوکه مدعی علیه په قصاص د نفس کې د قسم خوړلو نه انکار اوکړو.نو مدعی علیه به په قیدخانه کې اچولې شي.تردې چې هغه قسم اوخوري.یا د قصاص نفس اقرار اوکړي.

دلیله د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه اطراف او اندامونوکې د مالونو پشان سلوک کولې شي.څکه چې لکه څنګه مالونه د نفسونو او څانونو د ساتنه لپاره پیدا کړې شوی دی.دغه ډول اطراف او اندامونه هم د نفسونو د ساتنه لپاره پیدا کړې شوی دی.نو لکه څنګه چې مالونو کې بذل جاري کیږي.دغه ډول به په اطراف او اندامونوکې هم بذل (بهادرئ سره ورکول) جاري کیږي.یعنی که یوکس په بل سړی باندې د یواندام په قصد سره د کټ کولو دعوه اوکړله.اود بینه نه کیدلو په وجه مدعی علیه نه د قسم مطالبه اوکړله.او مدعی علیه د قسم خوړلو نه انکار اوکړو.نو مدعی علیه څخه به ددې اندام قصاص اخستلې شي.ددې په خلاف که عمداً (په قصد) د نفس تلف کولو دعوه ئې اوکړله.نو په دې کې به د مالونو پشان سلوک (او معامله) نشي کولی.یعنی نفسونو کې به بذل نه جاري کیږي.که یو کس بل سړی ته اووئیل.چه ته زما لاس کټ کړه.هغه ددې قائل لاس کټ کړو.نو قاطع

(١) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في تنوير الأبصار(٤\٤٧٤)وملتقى الأبحر(٣\٣٥٣) والهندية (٤\١٦) نقلاً عن القول الراجح(٢\١٧١)

باندې به ضمان واجب نه وي.اودا د ضمان نه واجبيدل، اطراف او اندامونوکې د بذل اثر دې.اوکه يو کس بل سړي ته اووئيل.چه ته ما قتل کړه.هغه دا قاتل قتل کړو.نو قاتل باندې به د يو روايت مطابق قصاص واجب وي.او د يو روايت مطابق به ديت واجب وي.اود قصاص يا ديت واجبيدل ددې خبرې علامت دې.چه نفسونو کې بذل نه جاري کيږي.

وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّد:او صاحبين رحمهما الله فرمائي.يَلْزَمُهُ الْأَرْشُ فِيهِمَا چې دواړو صورتونوکې به مدعى عليه باندې ديت لازم وي.

مسلك الصاحبين رحمهما الله > صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه په انکار د قسم سره په نفس او مادون النفس دواړو صورتونوکې مدعى عليه باندې ديت لازميږي.يعنې قصداً د قتل دعوه وي.نو بيا به هم د قسم په انکار سره مدعى عليه باندې ديت لازم وي.اوکه د يو اندام په اړه کې دعوه وي.نو بيا به هم مدعى عليه باندې ديت لازم وي.

دليلهما > د صاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه د قسم نه انکار کول ددوي په نيز داسې اقرار دې. چې دې کې شبه وي.ځکه کيداې شي.چه مدعى عليه د دعوه په انکارکې رشتونې وي.خو تورعاً (احتياطاً) د قسم خوړلو نه انکار کوي.نود مدعى عليه د قسم نه انکار کول به د دعوه اقرار نه وي.بلکه دده د اړخه به بذل (د زړه په خوښئ مال ورکول) وي.بهرحال د قسم نه انکار داسې اقرار دې.چه دې کې شبه ده.او شبه سره قصاص نه ثابتيږي.نود مدعى عليه په دې انکار سره به قصاص نه ثابتيږي.البته د ديت مال به واجب وي.ځکه چې مال شبه سره هم ثابتيږي.خاص طور باندې کله چې د قصاص ممتنع کيدل داسې سبب سره وي.کوم سبب چې د من عليه القصاص يعنې د مدعى د اړخه مونډلې شوې وي.مثلاً مدعى عليه يعنې قاتل د قتل خطاء اقرار اوکړو.او ولي د مقتول د قتل عمد دعوه اوکړله.نو په دې صورت کې ديت واجبيږي. قصاص نه واجبيږي.نو هم دغه ډول د مدعى عليه د قسم نه د انکار په صورت کې دده باندې ديت واجبيږي. او قصاص نه واجبيږي.

د مدعي ګواهانو حاضرولو پورې د مدعى عليه نه د کفيل اخستل

وَإِنْ قَالَ الْمُدَّعِي که مدعي اووئيل.لِي بَيِّنَةٌ حَاضِرَةٌ چې زما ګواهان په ښارکې موجود دي. قِيلَ، لِخَصْمِهِ أَعْطِهِ كَفِيلًا بِنَفْسِكَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ)

تشريح > مسئله داده.که مدعى د قاضي په مجلس کې اووئيل.چه زما ګواهان په ښار کې موجود دي.نو دده مدعى عليه ته به حکم ورکولې شي.چه درې ورځو لپاره د خپل ذات کفيل ورکړه.يعنې څوك سړې د مدعى عليه د حاضرولو ضامن کيدل پکار دي.

دليله > وجه ددې داده.که مدعى عليه نه کفيل وانه خستلې شو.نو مدعى عليه پټيدلې شي.او د مدعى عليه د پټيدلو په صورت کې د مدعى حق ضائع کيدلې شي.نود مدعى حق ضائع کيدلونه د بچ کولو لپاره مدعى عليه ته د کفيل ور کولو حکم ورکړې شوې دې.

فَإِنْ فَعَلَ وَإِلَّا أُمِرَ بِمُلَازَمَتِهِ) نو که مدعى عليه کفيل ورکړلو.خو ډيره ښه ده.ګني نو مدعى ته به په دې پسې د ګرځيدلو حکم ورکولې شي.(إِلَّا أَنْ يَكُونَ غَرِيبًا عَلَى الطَّرِيقِ خودا که مدعى عليه د لارې مسافر(بې وطنه) سړې وي. فَيُلَازِمُهُ مِقْدَارَ مَجْلِسِ الْقَاضِي)نو مدعى به د قاضي د مجلس په اندازه هغه پسې ګرځيدلې وي.

تشريح > ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.که مدعى عليه د خپل اړخه کفيل ورکړو.نو ډيره ښه ده.ګني

مدعي ته به حکم ورکولې شي.چه هغه مدعی علیه پسې اولګی.او د هغه لمنه اونیسي.یعنی هروخت مدعی علیه سره لګیدلې وی.چه دده حق ضائع نشي.

إستثناء المسافر> البته که مدعی علیه په پردی وطن کې وی.یا مسافر وی.نو په دې صورت کې به د قاضي د مجلس ختمیدلو پورې مدعی علیه پسې د لګیدلو اجازت ورکولې شي.نو کله چې د عدالت نه د قاضي د پاسیدلو وخت راشي.اومدعی بینه پیش نکړې شو.نو قاضي به مدعی علیه نه قسم اخلي.او فیصله به صادرکوی.اود بینه د راتګ و انتظار به نه کوی.

د مدعی علیه په ودیعت ، رهن یا غصب باندې دعوی کول

(**وَإِنْ قَالَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ هَذَا الشَّيْءُ أَوْدَعَنِيهِ فُلَانٌ الْغَائِبُ** اوکله چې مدعی اوونیل.چه دا شیان فلانی غائب زما سره ودیعت ایخودې دی.**أَوْرَهَنَهُ عِنْدِي** یا ئې دا زما سره رهن ایخودې دی.**أَوْغَصَبْتُهُ مِنْهُ** یا ما دهغه نه غصب کړی دی.**وَأَقَامَ بَيِّنَةً عَلَى ذَلِكَ** او هغه په دې باندې بینه قائم کړل.**فَلَا خُصُومَةَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمُدَّعِي**)نو دده اود مدعی په منځ کې هیڅ خصومت نشته.

تشریح> مسئله داده.چه یوسړی مثلاً عارف دعوه اوکړله.چه فلانی غلام کوم چې د واصف په قبضه کې دې. زما ملك دې.یعنی زه ددې مالك یم.نو مدعی علیه قابض (واصف) اوونیل. چې دا غلام فلانی سړی کوم چې غائب دې.هغه ودیعت ایخودې دې.یعنی زه امین یم.اومودع (بکسرالدال) کوم چې اصل مالك دې.هغه فی الحال په سفر کې تلې دې.یا ئې دا اوونیل.چه فلانی غائب سړی دا زما سره رهن ایخودې دې.یا ئې دا اوونیل.چه دا غلام ما هغه نه غصب کړې دې. او مدعی علیه یعنی قابض پخپلو ذکر شوو اقوالو باندې بینه قائم کړل.نو ددې قابض (مدعی علیه) او مدعی (عارف) په منځ کې به خصومت نه وی.یعنی قاضی به د مدعی ددې دعوه سماعت نه کوی.او دده څخه به د بینه وغیره مطالبه نه کوی.

دلیله> د ذکر شوو ټولو صورتونو دلیل دادې.چه مدعی علیه (قابض) د بینه په ذریعه دا خبره ثابته کړې ده. چې زما قبضه د خصومت نه ده.او کوم سړې چې داسې وی.یعنی دا ثابتوی.چه زما قبضه د خصومت قبضه نه ده.نو هغه خصم نشي کیدې.نودا قابض به هم خصم نه وی.

د مدعی علیه د غلام اخستلو دعوی کول

(**وَإِنْ قَالَ**:اوکه مدعی علیه اوونیل.**ابْتَعْتُهُ مِنْ فُلَانٍ الْغَائِبِ** چې ما دا غلام د غائب سړی نه اخستې دې.**فَهُوَخَصْمٌ**)نو هغه به خصم وی.

تشریح> صورت د مسئلې دادې.که یوسړی په بل باندې دعوه اوکړله.چه دده په قبضه کې کوم غلام دې.هغه زما ملك دې.مدعی علیه چې دا واوریدل.نو وی ونیل.چه ما دا غلام د فلانی سړی نه اخستې دې.چه هغه دې وخت په سفرکې دې.نو په دې صورت کې به دا قابض ددې مدعی خصم او مدعی علیه وی.یعنی قاضی لپاره به ددې دعوه سماعت (اوریدل) جائز وی.

دلیله> دلیل دادې.چه هرکله قابض دا اوونیل.چه زما قبضه مالکانه قبضه ده.نو ده د خپل خصم او مدعی کیدلو اقرار کړې دې.

(**وَإِنْ قَالَ الْمُدَّعِي**:اوکه مدعی اوونیل.**سُرِقَ مِنِّي** چې دا شئ زما نه غلا شوې دې.**وَقَالَ**

صَاحِبُ الْيَدِ:او قابض اووئيل.أَوْدَعَنِيهِ فُلَانٌ چې فلانی زما سره دا وديعت ايخودي دي.وَأَقَامَ الْبَيِّنَةَ اوبينه ئې قائم كړل.لَمْ تَنْدَفِعِ الْخُصُومَةُ)()نوخصومت به نه دفع كيږي.

تشریح﴾ په متن كښې چې كومه مسئله ذكر شوي ده دا د شيخينو قول دي اودا استحسان دي.

دلائلهما﴾ ① دشخينو رحمهماالله دليل دادي. چې د غلا فعل تقاضا كوی.چه څوك غلا كونكي وی.او ښكاره هم دا ده.چه غل هم هغه دي.دچا په قبضه كې چې دا شئ دي.خو مدعی دا معين نكړو.بو په دي غرض، چې د شفقت په خيال ئې دده نه قطع د يد دفع كول اوغوښتل.② دوهم دا چې ده د پردي اچولو د ثواب لحاظ اوساتلو.نودا قول داسې شو.لكه چې ده مدعی عليه ته اووئيل.سَرَقْتَ، چې تا غلا كړي ده.

مسلك محمد﴾ امام محمد رحمه الله فرمائي. چې صومت لرې كيږي.

دليله﴾ ځكه چې مدعی په ده باندې د څه فعل دعوه نه ده كړې.اودا داسې شوه.لكه چې مدعی اووئيل. چې زما نه دا شئ غصب شوي دي.يعنی څوك غاصب ئې بيان نكړو.

الجواب عن القياس﴾ په غصب كې دا خبره نشته.ځكه چې دې كې هيڅ حد نشته. نو ددې د ښكاره كولو څخه به خان نه ساتي.(بلكه ښكاره به يې).

د مدعی د اخستلو دعوی او د قابض د وديعت اقرار كښې د خصومت حكم

(وَإِنْ قَالَ الْمُدَّعِي:او كله چې مدعی اووئيل.ابْتَعْتُهُ مِنْ فُلَانٍ چې ما دا شئ د فلانی نه اخستې دي.وَقَالَ صَاحِبُ الْيَدِ:او قابض اووئيل.أَوْدَعَنِيهِ فُلَانٌ ذَلِكَ چې هم هغه دا شئ زما سره وديعت ايخودي دي.سَقَطَتِ الْخُصُومَةُ بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ)نو خصومت به د بينه نه بغير ساقطيږی.يعنی مدعی عليه ته به د بينه قائمولو ارتيا نه وی.

تشریح﴾ نفس مسئله آسانه ده.

دليله﴾ ځكه چې هركله مدعی او مدعی عليه اتفاق اوكړو.چه په دې څيزكې اصلی ملك د مدعی عليه نه علاوه د بل سړی دې.نود مدعی عليه په قبضه كې رارسيدل به هم د هغه د اړخه وی. نود قابض قبضه د خصومت قبضه نشوه.

د قسم اخستلو د طريقې بيان

(وَالْيَمِينُ بِاللَّهِ تَعَالَى دُونَ غَيْرِهِ) چې قسم خو د الله په نوم سره كيږی.دده نه د علاوه په نوم سره نه كيږی.

تشریح﴾ قسم د الله تعالى په نومونوكې په هر يو نوم سره كيږی.اود الله نه علاوه د بل چا په نوم سره قسم نه كيږی.

دليله﴾ ځكه چې د بخاري او مسلم په يو حديث كې د الله رسول ﷺ فرمانيلی دی.مَنْ كَانَ مِنْكُمْ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللَّهِ أَوْلِيَذَرْ}(٢) كه په تاسو كې څوك سړي قسم اوخوری.نود الله قسم دې

---

١) القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا في ردالمختار(٤\٤٨٥) ومجمع (٣٧١) والهندية (٤\٤٩) والبحر الرائق (٢٣٢\٧) نقلا عن القول الراجح(٢\١٨٤)

١) تقدم تخريجه في الأيمان

اوخوري. يا دي دا پريږدي.

(ويؤكدُ بذِكرِ أوصافِهِ) او كله قسم د الله د اوصافو ذكر كولو سره مؤكد كولي شي.

تشريح ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي. چه قسم د الله په او صافو ذكر كولو سره مؤكد كولي هم شي. او په ذكر د اوصافو سره قسم مؤكد تغليظ كيږي. يعني قسم زيات سختيږي. مثلاً قاضي دا الفاظ اووائي. (والله الذي لا إله إلا هو عالم الغيب والشهادة هو الرحمن الرحيم الذي يعلم من السر والخفاء ما يعلم من العلانية ما لفلا هذا عليك ولا قبلك هذا المال الذي أعاه وهو كذا وكذا ولا شئ منه) د هغه ذات قسم چې د هغه نه سوا بل هيڅ څوك معبود نشته. هغه په حاضر او غائب باندې خبردار دى. هغه رحمن او رحيم دى. چه هغه په پټ او باطن د علانيه او ښكاره پشان پوهيږي. د فلانى سړى په تا (يعنى ما) باندې يا ستا د اړخه (يعنى زما د طرفه) اصل مال كې د كوم چې مدعى دعوه كړې ده. او هغه دومره قدرې مال دې نشته. او نه په دې كې څه دى.

دليل التغليظ ددې زياتوالى په سلسله كې د ابوهريره رضي الله عنه حديث اصل دې. نقل دى. چه يوسړى د نبى كريم ﷺ په وړاندې قسم اوخوړلو. او دا ئې اووئيل. (والله الذي لا إله إلا هو الرحمن الرحيم الذي أنزل عليك الكتاب) د هغه ذات قسم چې د هغه نه سوا هيڅ څوك معبود نشته. هم دا رحمن او رحيم دې. هغه په تا باندې كتاب نازل كړې دې. نبى كريم ﷺ دا واوريدل. او هيڅ نكير ئې اونه فرمائيلو. نو ددې نه معلومه شوه. چه د قسم په الفاظو كې تغليظ كولو لپاره د زياتوالى اجازت دې. خود قسم الفاظ زياتولو په وخت به قاضى ډير احتياط كوى. يعنى د الله نومونه او صفتونه د واؤ نه بغير د ذكر كولو هدايت به كوى. ځكه كه مدعى عليه (والله والرحمن والرحيم) واؤ سره ذكر كړل. نو دا به درې قسمونه شى. حالانكه ده باندې واجب يو قسم دې.

د طلاق يا عتاق قسم اخستل

(ولا يستحلف بالطلاق ولا بالعتاق)

تشريح مسئله: مدعى عليه څخه به د طلاق يا عتاق قسم نشى اخستلى. يعنى مدعى عليه به دا نه وائى. كه د مدعى عليه دعوه صحيح وى. نو زما ښځه به درې طلاقه وى. يا زما غلام دې آزاد وى.

دليله دليل دا حديث دې (من كان حالفاً فليحلف بالله أو ليذر)

قول بعض المشائخ بعض مشائخ فرمايي. كه مدعى عليه جګړالو ښكاره كيږي. نو قاضى هغه نه د عتاق يا طلاق قسم اخستلې شى. ځكه چې دې كې اكثر خلق د فسق په وجه د الله نه كم يريږي. او طلاق وغيره غورځولو سره يريږي. نود دروغ قسم خوړلو نه منع كيږي. نو كله چې قاضى محسوس كړې. چه مدعى عليه جګړالو يا بې پرواه سړې دې. نو دده د طلاق يا عتاق قسم اخستلې شى. دا دې واضحه وى. چه دا قسم اګرچه ګټور دې. خود حديث د نص (من كان حالفاً فليحلف بالله أو ليذر) نه مخالف دې.

د يهودي او نصراني نه د قسم اخستلو طريقه

(ويستحلف اليهودي بالله الذي أنزل التوراة على موسى عليه السلام) چې يهودى څخه به قسم اخستلې شى. چه په هغه الله قسم چاچه موسى عليه السلام باندې تورات نازل كړې دې. (والنصراني بالله الذي أنزل الإنجيل على عيسى عليه السلام) او د نصرانى نه چې په هغه الله قسم چاچه عيسى عليه السلام باندې انجيل نازل كړې دې.

تشریح شیخ ابوالحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه قاضی به یهودی باندې قسم داسې خوری. (بالله الذی أنزل التوراة على موسى) په هغه خدائې قسم چاچه موسی علیه السلام باندې تورات نازل کړې دې.او نصرانی به داسې قسم خوری. (بالله الذی أنزل الإنجيل على عيسى) په هغه الله قسم چاچه عیسی علیه السلام باندې انجیل نازل کړې دې.

دلائله ① دلیل دادې.چه یو ځل نبی کریم ﷺ د هغه یهودی په خواکې تیر شو.چه دهغه مخ د زنا په سزاکې توره شوې وه.نبی کریم ﷺ یهودی راؤغوښتلو.او پوښتنه ئې ترې اوکړه.چه آیا ستاسو کتاب کې د زنا هم دا سزا ده.تولو اووئیل.آو.ددې نه روسته نبی کریم ﷺ د یهودیانو یو عالم عبدالله بن صوريا راؤغوښتلو.او وې وئیل.چه ستا دې په هغه خدائې قسم وی.چاچه موسی علیه السلام باندې تورات نازل کړې دې.چه آیا ستاسو په کتاب کې حد د زنا هم دا دې.ابن صوريا اووئیل.نا.بلکه زمونږ په کتاب کې حد زنا رجم دې.او ګوره اې محمد! که تاسو په ما قسم نه وو خوړلې.نو ما به هم تاته خبر نه وو درکړې.ابن صوریا اووئیل.چه اصل واقعه داده.چه کله مونږشریفانو او غیرشریفانو په منځ کې ویش اوکړو.چه که یو شریف سړی ددې جرم ارتکاب اوکړو.نود هغه به صرف مخ تورولې شی.اوکه یو غیر شریف دا حرکت اوکړو.نو هغه ته به کوړې ورکولې شی.اورجم مونږ بالکل پریښولو .حالانکه تورات کې د رجم حکم دې.نبی کریم ﷺ چې پوره واقعه واوریدله.نوددې زناکاردرجم حکم ئې اوفرمائیلو.او په معصومانه او عاشقانه انداز کې ئې داسې اوفرمائیل .(اللهم إني أول من أحيا أمرك إذا ماتوه) اې الله زه رومبې سړې یم.چه ستا حکم مې ژوندې کړو.حالانکه یهودیانو دا دفن کړې وو.ددې واقعې نه هم معلومه شوه.چه د یهود او نصاری څخه به په ذکر شوی الفاظو سره قسم اخستلې شی.

② عقلی دلیل دا دې یهودیانو د حضرت موسی علیه السلام په نبوت باندې اعتقاد ساتی.او نصاری د حضرت عیسی علیه السلام په نبوت باندې اعتقاد لری.نود دروغ قسم نه د پرهیز کولو لپاره به قاضی په دوی کې هر یو ته هغه کتاب ذکرکوی.او تغلیظ به کوی.کوم کتاب چې ددوی په نبی نازل شوې دې.

د مجوسی نه د قسم اخستلو طریقه

وَيُسْتَحْلَفُ (الْمَجُوسِي بِاللّٰهِ الَّذِي خَلَقَ النَّارَ) او مجوسی څخه به (داسې) قسم اخستلې شی.چه، د هغه خدائې قسم چاچه أور پیدا کړې دې

تشریح ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه قاضی به مجوسی (آتش پرست: چې د اورعبادت کوی) نه په دې الفاظو سره قسم اخلی. (بالله الذی خلق النار) د هغه خدائې قسم چاچه أور پیدا کړې دې. دا قول امام محمد رحمه الله په مبسوط کې ذکر کړی دی.(1)

دلیله وجه ددې داده.چه مجوسی د اور د عزت او عظمت اعتقاد لری.نو هغه به هم د دروغو قسم نه خان ساتی.اود قسم مقصود به حاصلیږی.

رواية عن ابي حنيفة د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله نه نقل دی.چه قاضی به صرف د الله په نوم سره قسم اخلی.مدعی که مسلمان وی.که یهودی وی.اوکه نصرانی یا مجوسی وی.

دليل هذه الرواية ځکه چې د الله تعالی نه د علاوه نوم سره د قسم خوړلو اجازت ور کولو کې د الله سره

(1) القول الراجح هو قول محمد رحمه الله كذا في مجمع الأنهر(۳۵۶\۳) وتنوير الأبصار(۴۷۶\۴) وبدائع الصنائع (۲۲۸\۶) وكنز(۲۷۸) نقلاً عن القول الراجح(۱۷۲\۲)

په تعظیم کې غیرالله شریکول لازمیږي.چه دا په هیڅ شان مناسب نه ده.

قول الخصاف امام خصاف رحمه الله ذکر کړی دی.چه یهودیان او نصاری د الله نه علاوه د خپل مذهب مطابق نور اوصاف ذکرکولې شي.خو ددوی نه علاوه (د نورو خلقو) څخه به د الله په نوم قسم اخستلې شي.دا زمونږ بعض مشائخو خوښ کړې دي.

دلیله د الله نوم سره اُور ذکرکړې شو.نود اور به هم تعظیم وی.حالانکه د اُور تعظیم په هیڅ شان مناسب نه دی.ددې په خلاف تورات او انجیل دی.چه د الله تعالی ټولو کتابونه معظم دی.نود الله نوم سره ددې په ذکر کولو کې که ددې تعظیم کیږي.نوپه دې کې هیڅ باك نشته.

د دوی عبادت خانو کښې په قسم نه اخستلې

(وَلَا يُسْتَحْلَفُونَ فِي بُيُوتِ عِبَادَتِهِمْ) او ددوی څخه به ددوی په عبادت خانوکې قسم نشی اخستلې.

تشریح په متن کې څه مشکل نشته

دلیله ځکه چې قاضی به هلته کې نه حاضریږي. بلکه قاضی هلته کې د تللو نه منع کړې شوې دې.

په زمان او مکان سره د تغلیظ حکم

(وَلَا يَجِبُ تَغْلِيظُ الْيَمِينِ عَلَى الْمُسْلِمِ بِزَمَانٍ وَلَا بِمَكَانٍ) او مسلمان باندې د قسم تغلیظ په زمان او مکان سره واجب نه دې.

تشریح د مسلمان قسم غلیظ کولو لپاره د کوم یو متبرك زمان یا مکان ذکر کول واجب نه دی.یعنی دا ضروری نه ده.چه په یو متبرك زمان یا مکان کې قسم واخستلې شي.

دلیله ځکه چې قسم سره د هغه معبود تعظیم مقصود دې.دچا د نوم چې قسم خورلې شي.اودا تعظیم ددې زمان او مکان ذکر کولو نه بغیر هم حاصلیږي.اود زمان یا مکان متعین کولوکې قاضی په حرج کې اخته کول لازمیږي. ځکه چې د زمان او مکان د تعین په صورت کې به قاضی باندې هلته کې حاضریدل لازمیږي.حالانکه شریعت اسلام حرج لرې کړې دې.نودا خبره واجب نه ده.بلکه قاضی اختیار مند دې.کوم ځائې چې غواړی.قسم دې واخلی.

مدعی علیه باندې د اخستلو دعوی او دده نه د قسم اخستلو طریقه

(وَمَنْ ادَّعَى) که یوکس دعوه اوکړله.(أَنَّهُ ابْتَاعَ مِنْ هَذَا عَبْدَهُ بِأَلْفٍ) چې ده د هغه نه دهغه غلام د زر(درهمو) په عوض اخستې دې. (فَجَحَدَ) نو مدعی علیه ددې انکار اوکړو.(اسْتُحْلِفَ بِاللَّهِ مَا بَيْنَكُمَا بَيْعٌ قَائِمٌ فِيهِ) نو هغه څخه به قسم اخستلې شی.چه،، په خدائې قسم زما او دده په مینځ کې په غلام کې بیع نه ده قائم شوې ،، (وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِاللَّهِ مَا بِعْت) اودا قسم به نشی اخستلې.چه،،په خدائې قسم ما نه دې خرڅ کړې،،

تشریح صورت د مسئلې دادې.که یوسړی په بل کس باندې دعوه اوکړله.چه ما دده نه دده غلام د زر(درهمو) په عوض اخستې دې.او مدعی علیه ددې انکار اوکړو.نوکه مدعی سره بینه موجود نه وی.نو مدعی علیه (بائع) څخه به په دې طریقه قسم اخستلې شي.چه،، په خدائې قسم زما او دده په مینځ کې په دې غلام کې بیع موجود نه ده،،او داسې قسم به نشی اخستلې.چه په خدائې قسم مادا غلام نه دې خرڅ کړې.یعنی په حاصل مراد به قسم اخستلې شی.او په سبب به قسم نشی اخستلې.

دلیله دلیل دادې.چه کله یو معین مال خرڅولې شی.او بیا په دې کې اقاله کولې شی.د اقالې نه روسته بیع پخپل حال باندې باقی نه پاتې کیږي.نو که مدعی علیه نه سبب یعنی بیع باندې قسم

واخستلې شو.نو په دې سره به مدعى عليه ته نقصان رسيږي.نو دده نه د ضرر لرې کولو لپاره به حاصل مراد باندې قسم اخستلې شي.

(وَيُسْتَحْلَفُ فِي الْغَصْبِ بِاللّٰهِ مَا يَسْتَحِقُّ عَلَيْكَ رَدَّ هٰذِهِ الْعَيْنِ او په غصب کې به قسم اخستلې شي.چه،، په خدائې قسم تا باندې د دې عين واپسي مستحق نه ده،، ولا رد قيمتها اونه واپس کول د قيمت د دې وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِاللّٰهِ مَا غَصَبْتَ)او قاضى به داسې قسم نه اخلى.چه ما غصب کړې نه دې.

تشريح> اوکه يوکس په بل سړى باندې د غصب دعوه اوکړله.او مدعى سره بينه نه وى.نو مدعى عليه ځخه به په دې الفاظو سره قسم اخستلې شي.چه په خدائې قسم دا مدعى ما باندې د مغصوب شئ واپس کولو استحقاق نه لرى.او په دې الفاظو سره به قسم نشى اخستلې.چه په خدائې قسم ما نه دې غصب کړې.

دليله> ځکه چې کله سړې غصب کوى.خو مال غاصب ته عين مغصوب هبه کوى.يا ئې د غاصب په لاس خرڅوى.يا کله غاصب تاوان ور کولو سره د مغصوب شئ مالك کيږى.نوکه مدعى عليه (غاصب) نه دا قسم واخستلې شو.چه ما نه دې غصب کړې.نو په دې صورت کې به د مدعى عليه ضرر وى.نو ددې ضرر لرې کولو لپاره به داسې قسم اخستلې شي.چه مدعى ما باندې د غصب مال واپسئ حق نه لرى. ځکه که غصب موجود شو .نو د هغې واپس کول به ضرورى وى.

(وَفِي النِّكَاحِ بِاللّٰهِ مَا بَيْنَكُمَا نِكَاحٌ قَائِمٌ فِي الْحَالِ)او په نکاح کې به (داسې قسم خورى چه)،، په خدائې قسم ستاسو دواړو په منځ کې فى الحال نکاح قائم نه ده،،

تشريح> اوکه يوکس په يوې ښځې باندې د نکاح دعوه اوکړله.او ښځې انکار اوکړو.يا ددې برعکس اوشو.او مدعى بينه پيش نکړې شو.نو مدعى عليه ځخه به په دې الفاظو سره قسم اخستلې شي.چه په خدائې قسم زمونږ دواړو په منځ کې فى الحال نکاح قائم نه ده.اودا قسم به نه اخلى.چه په خدائې قسم ما ددې (يادده) سره نکاح نه ده کړې.

دليله> ځکه چې کله د نکاح نه روستـه خلع کيږى.اود خلع نه روستـه نکاح باقى نه پاتې کيږى.نو په دې قسم اخستلوکې (چې په خدائې ما نکاح نه ده کړې) دمدعى عليه ضرر دې.نو ددې ضرر لرې کولو لپاره به په دې الفاظو قسم نشى اخستلې.

(وَفِي دَعْوَى الطَّلَاقِ بِاللّٰهِ مَا هِيَ بَائِنٌ مِنْكَ السَّاعَةَ بِمَا ذَكَرَتْ او د طلاق په دعوه کې (به داسې قسم خورى چه)،، په خدائې قسم دا ښځه تا باندې په دې وخت بائنه نه ده.د هغه امر په وجه کوم چې دې ښځې ذکر کړې دې،، وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِاللّٰهِ مَا طَلَّقَهَا)اوداسې قسم به نشى اخستلې.چه په خدائې قسم ده دې نه طلاق نه دې ورکړې.

تشريح> اوکه ښځې سړى باندې د طلاق دعوه اوکړله.او سړى ددې انکار اوکړو.او مدعى سره بينه نه وى.نو مدعى عليه (خاوند) ځخه به په دې الفاظو سره قسم اخستلې شي.چه په خدائې قسم دا ښځه ما باندې دې وخت په دې وجه بائنه نه ده.دکوم چې دا دعوه کوى.اودا قسم به نشى اخستلې.چه په خدائې قسم ما دې ته طلاق نه دې ورکړې.

دليله> ځکه چې د بائنه کولو نه روستـه کله د نکاح تجديد کولې شي.اوس که دده نه داسې قسم واخستلې شي.چه په خدائې قسم ما دې ته طلاق نه دې ورکړې.نو په دې صورت کې به مدعى عليه ته ضرر رسيږى.نو ددې نه د ضرر لرې کولو لپاره به په دې الفاظو سره قسم نشى اخستلې.بلکه دا به

وائي چه په خدائي قسم دا بنځه ما باندي دې وخت باننه نه ده.

وَإِن كَانَتْ دَارٌ فِي يَدِ رَجُلٍ كه د يوسړي په قبضه كې كور وي. اِدَّعَاهُ اثْنَانِ چې دهغې دعوه دوه سړي اوكړي. أَحَدُهُمَا جَمِيعَهَا وَالْآخَرُ نِصْفَهَا يو د كُل او بل د نصف (دعوه اوكړي). وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ او دواړه بينه قائم كړي. فَلِصَاحِبِ الْجَمِيعِ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِهَا نو كُل والا لپاره به ددې (كور) درې څلورمې برخې (حصې) وي. وَلِصَاحِبِ النِّصْفِ رُبُعُهَا او نصف والا لپاره به يوه څلورمه برخه وي. عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ)(١)

تشريح يو كور د يو سړي په قبضه كې دې. ددې دوه سړو دعوه اوكړله. يو د كُل مكان، او دوهم د نصف مكان، او دواړو گواهان قائم كړل. نو د امام صاحب رحمه الله په نيز به د منازعت په طريقه د كُل مدعى لپاره د مكان په څلورو حصوكې درې برخې (حصې) وي. اود نصف مدعى لپاره به څلورمه برخه وي. مطلب د ،،طريقه د منازعت،، دادې. چه كله مدعى د نصف د نيم كور دعوه اوكړله. نو دويمه نيمه د كُل مدعى لپاره سلامت پاتې شوه. او په يو نصف كې د دواړو منازعت قائم پاتې شو. اودا نصف به د دواړو په منځ كې نيمولې شي.

دليله د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د منازعت د طريق په اعتبار سره. څكه به مدعى د نصف دوهم مدعى سره منازعت نه كوى. په نصف كې. نودا نصف دده لپاره د منازعت نه بغير سلامت پاتې شو. او په باقى نصف كې ددوى دواړو منازعت برابر دې. نو په دواړو كې به نصف نصف كولې شي.

(وَقَالَا: صاحبين رحمهما الله فرمائى. هِيَ بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا) چې كور به دوى دواړوكې درې برخې (حصې) كيږى.

مسلك الصاحبين د صاحبينو مسلك دادې. چه ددوې په نيز به د عول او مضاربت په طريقه كور اثلاثا تقسيمولې شى. يعنى د كُل مدعى لپاره به دوه ثُلثه (يعنى د دريو برخو دوه حصې) وى. اود نصف مدعى لپاره به يو ثلث (يعنى دريمه حصه) وى.

دليلهما څكه چې مسئله كې نصف اوكُل مجتمع دى. نو مسئله به د دوه نه پيل كولې شى. څكه چې د نصف مخرج دوه(٢) دې. اود دوه عدد دريو ارخ ته عول كوى. نو دوه برخې (حصې) به د كُل مدعى لپاره وى. او يوه برخه به د نصف مدعى لپاره وى.

وَلَوْ كَانَتْ الدَّارُ فِي أَيْدِيهِمَا اوكه كور د دواړه په قبضه كې وى. سُلِّمَتْ لِصَاحِبِ الْجَمِيعِ نو مدعى به د كُل لپاره وى. نِصْفُهَا عَلَى وَجْهِ الْقَضَاءِ نيم په طريقه د قضاء. وَنِصْفُهَا لَا عَلَى وَجْهِ الْقَضَاءِ) او نيم بلا قضاء.

تشريح اوكه دا كور د دواړو مدعيانو په قبضه كې وى. نو پوره مكان به د كُل مدعى لپاره وى. نيم په طريقه د قضاء او نيم بغير د قضاء نه.

دليله څكه چې هركله كور د دواړو په قبضه كې دې. نود هر يو په قبضه كې نيم نيم كور شو. نو كوم نيم چې د كُل مدعى په قبضه كې دې. د هغې خو هيڅ څوك مدعى نشته. نو هغه د قاضى دقضاء نه بغير دهغه دې. او كوم نصف چې دنصف د مدعى په قبضه كې دې. د كُل مدعى د هغې (هم مدعى) دې. او هغه خارج سړې دې. اودا وراندې معلوم شوى دى. چه د قابض سړى بينه معتبر وى. د خارج

---

(١) القول الراجح هو قول الإمام الأعظم رحمه الله كذا في ملتقى الأبحر(٣\٣٨٣) وردالمختار(٤\٤٩٠) ومجمع الأنهر (٣\٣٨٣) والدرالمنتقى (٣\٣٨٣) والبحر الرائق(٧\٢٤٤) نقلاً عن القول الراجح(٢\١٩٠)۔

معتبر نه وي.نودا نصف به هم قاضي هغه ته ورکوي.

په یو خاروي کښې د دوو سړو جګړه کول

(وَإِذَا تَنَازَعَا فِي دَابَّةٍ که دوه کسانو په یو خاروي کې جګړه اوکړله. وَأَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةً او هر یو بینه قائم کړل. أَنَّهَا نُتِجَتْ، چې دا زما سره (زما د خاروی نه) پیدا شوي دي. وَذَكَرَا تَارِيخًا او دواړو تاریخ ذکر کړو. وَسِنُّ الدَّابَّةِ تُوَافِقُ أَحَدَ التَّارِيخَيْنِ او د خاروي عمر (په دوی کې) د یو تاریخ موافق دي. فَهُوَ أَوْلَى)نو هم هغه به اولی وي.

تشریح > په دې عبارت کې صاحب دهدایه رحمه الله فرمائی.چه دوه سړو د یو خاروي په اړه کې جګړه اوکړله.او دواړو پخپل خپل ملکیت کې د خاروی د بچی په پیدا کیدلو باندې ګواهان قائم کړل.او دواړو تاریخ هم بیان کړو.نو ددې عمر چې د کوم مدعی تاریخ سره موافق وي.خاروې به هم هغه ته ورکولې شي.

دلیله > ځکه چې ښکاره حالت د هغه په حق کې شاهد دی.

(وَإِنْ أَشْكَلَ ذَلِكَ او که دا مشتبه شي. كَانَتْ بَيْنَهُمَا)نو حیوان (خاروې) به دواړو کې مشترك وي.

تشریح > او که ددوی بیان شوی تاریخونو په لحاظ سره ددې د عمر پته لګول مشکل وي.نو حیوان (خاروې) به د دواړو په منځ کې برابر وي.

دلیله > ځکه چه د دلیل په لحاظ سره یو د بل نه غوره نه دې.نو د دواړو په مینځ کښې به برابر وي

د راکب او واګې نیونکې د خاروي په قبضه کښې جګړه

(وَإِذَا تَنَازَعَا فِي دَابَّةٍ او کله چې جګړه اوکړله دواړو په یو خاروی کې ، أَحَدُهُمَا رَاكِبُهَا چې یو به دې باندې سور دي. وَالْآخَرُ مُتَعَلِّقٌ بِلِجَامِهَا او دوهم کس ددې واګې نیولې دی. فَالرَّاكِبُ أَوْلَى)نو سور اولی (او راجح) دی.

تشریح > نفس مسئله آسانه ده.

دلیله > ځکه چې ددې تصرف ډیر ښکاره دې ځکه چې سوریدل ملك سره مختص دي.

(وَكَذَا إِذَا تَنَازَعَا فِي بَعِيرٍ دغه ډول که دوی جګړه اوکړی.په هغه اوښ کې وَعَلَيْهِ حِمْلٌ لِأَحَدِهِمَا په کوم چې د یو کس بوج بار دې.او د دوهم کس د اوبو لوخې (ګیلن وغیره) رازوړند دې. فَصَاحِبُ الْحِمْلِ أَوْلَى)نود بوج والا به اولی (او راجح) وي.

تشریح > نفس مسئله آسانه ده.

دلیله > ځکه چې هم هغه متصرف دې.اوخاروې په خپله ښه راولی نو دا د دې خبرې دلیل دې چې دا خاروی د ده دې

(وَكَذَا إِذَا تَنَازَعَا فِي قَمِيصٍ أَحَدُهُمَا لَابِسُهُ دغه ډول که جګړه اوکړی.په قمیص کې چې دا یو کس اغوستې دې. وَالْآخَرُ مُتَعَلِّقٌ بِكُمِّهِ او دوهم کس نې لستونړې نیولې دې. فَاللَّابِسُ أَوْلَى)نو اغوستونکې به اولی وي.لِأَنَّهُ

تشریح > نفس مسئله آسانه ده.

دلیله > ځکه چې هم هغه متصرف دې.اوخاروې په خپله ښه راولی نو دا د دې خبرې دلیل دې چې دا

خاروې د ده دي

د بائع او مشتری په مبیع یا ثمن کښې د اختلاف مسئله

(وَإِذَا اخْتَلَفَ الْمُتَبَايِعَانِ فِي الْبَيْعِ که بائع او مشتری په بیع کې اختلاف اوکړو. فَادَّعَى الْمُشْتَرِي ثَمَنًا نو په دوې دواړو کې مشتری د ثمن دعوه اوکړله. وَادَّعَى الْبَائِعُ أَكْثَرَ مِنْهُ او بائع ددې نه د زیاتو دعوه اوکړله. أَوِاعْتَرَفَ الْبَائِعُ بِقَدْرٍ مِنَ الْمَبِيعِ وَادَّعَى الْمُشْتَرِي أَكْثَرَ مِنْهُ وَأَقَامَ أَحَدُهُمَا الْبَيِّنَةَ او په دوې دواړو کې یو کس بینه قائم کړل. قُضِيَ لَهُ بِهَا) نو دده د بینه مطابق به دده لپاره حکم ورکولې شي.

تشریح ﴿ صورت د مسئلې دادې. که بائع او مشتری د ثمن یا د مبیع په مقدار کې اختلاف اوکړو. مثلاً مشتری دعوه اوکړله. چه ثمن سل درهم دی. او بائع دعوه اوکړله. چه ثمن دوه سوه درهم دی. یا مثلاً بائع دعوه اوکړله. چه مبیع یو من غنم دی. اومشتری دعوه اوکړله. چه مبیع دوه منه غنم دی. نو دواړوکې یو کس خپله دعوه باندې بینه پیش کړل. او دوهم کس عاجز شو. نو کوم کس چې بینه پیش کړې دی. دهغه په حق کې به فیصله ورکولې شي.

دلیله ﴿ ځکه چې دوهم اړخ ته صرف دعوه ده. او دې اړخ ته دعوه باندې بینه هم موجود دی. اود خالی دعوه نه بینه مضبوط دی. ځکه چې بینه قاضی باندې حکم صادرکول لازموی. او صرف دعوه حکم نه لازموی. بهرحال هرکله چې بینه اقوی (او مضبوط) دی. نو په کوم اړخ کې چې بینه دی. هم هغه اړخ کې به حکم صادرکولې شي.

(فَإِنْ أَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةً او که په دواړو کې هر یو بینه قائم کړل. كَانَتِ الْبَيِّنَةُ الْمُثْبِتَةُ لِلزِّيَادَةِ أَوْلَى) نود زیاتوالي ثابتونکی بینه به اولي (غوره) وي.

تشریح ﴿ اوکه دواړو بینه قائم کړل. نود کوم کس بینه چې زیاتوالي ثابتوی. د هغه په بینه باندې به حکم ورکولې شي.

دلیله ﴿ ځکه چې شریعت کې بینات (ګواهیانې) د ثابتولو لپاره وضع شوی دی. نود کوم کس بینه چې زیاتوالي ثابتونکې وی. د هغه بینه به زیات مثبت وی. او کوم بینه چې زیات مثبت وی. هغه به قبلولې شي. اود کوم بینه چې کموالي ثابتونکې وی. هغه به د زیاتوالي ثابتونکو معارض هم نه وی. نو هرکله چې مثبت للزیادت د معارض نه محفوظ دې. نوهم دا به قبلولې شي.

(فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةٌ اوکه دواړو کې یوکس سره هم بینه نه وی. قِيلَ لِلْمُشْتَرِي نو مشتری ته به ونیلې شي. إِمَّا أَنْ تَرْضَى بِالثَّمَنِ الَّذِي ادَّعَاهُ الْبَائِعُ وَإِلَّا فَسَخْنَا الْبَيْعَ. یا خوته په دې ثمن باندې راضی شه. د کوم چې بائع مدعی دې. ګنی مونږ به بیع فسخ کړو. وَقِيلَ لِلْبَائِعِ او بائع ته به ونیلې شي. إِمَّا أَنْ تُسَلِّمَ مَا ادَّعَاهُ الْمُشْتَرِي مِنَ الْمَبِيعِ وَإِلَّا فَسَخْنَا الْبَيْعَ) یا خوته هغه مبیع اوسپاره. دکوم چې مشتری مدعی دې. ګنی مونږ به بیع فسخ کړو.

تشریح ﴿ اوکه دواړو کې یو کس سره هم بینه نه وی. نو حاکم به مشتری ته وائي. چه یا خوته په دې ثمن باندې راضی شه. د کوم چې بائع مدعی دې. ګنی مونږ به عقد بیع فسخ کړو. او حاکم به بائع ته وائي. چه یا خوته هغه مبیع اوسپاره. دکوم چې مشتری مدعی دې. ګنی نو مونږ به عقد بیع فسخ کړو.

دلیله ﴿ ځکه چې مقصود جګړه ختمول دی. اودا هم د جګړې ختمولو یوه طریقه ده. ځکه چې په عامه توګه (عام طور) باندې عاقدین (بائع او مشتری) په فسخ د بیع باندې نه راضی کیږی. نو هرکله چې د حاکم په خبرولو سره دوی ته د فسخ علم اوشو. نو دوی دواړه به خپل منع کې د رضامندئ کوشش

کوی.اود دواړو خپل منخ کې رضامند کیدلو سره هم چونکه جګړه ختمیږی.په دې وجه به قاضی نه ددې طریقې هم اجازت وی.

د بائع او مشتری نه راضی کیدو په صورت کښې د قسم اخستلو طریقه

(فَإِنْ لَمْ يَتَرَاضَيَا)یا که بائع او مشتری دواړه راضی نشو.اسْتَحْلَفَ الْحَاكِمُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى دَعْوَى الْآخَرِ)نو حاکم به دوی دواړو کې هریو نه د دوهم په دعوه باندې قسم اخلی.

تشریح مسئله داده.که بائع او مشتری دواړو اختلاف اوکړو.او دواړه خپل منخ کې رضامند هم نشو.نو حاکم به دواړو کې هر یو نه د بل کس د دعوه خلاف قسم اخلی.که دواړو قسم اوخوړلو.نو بیع به فسخ کولې شی.که مشتری په مبیع باندې قبضه کړې وی.اوکه قبضه نه وی کړې.

دلیله خپل منخ کې د قسم خوړلو داحکم د مشتری د قبضې نه وړاندې د قیاس موافق دې.او د قبضې نه روسته د قیاس خلاف دې.د قبضې نه وړاندې د قیاس موافق ځکه دې.چه بائع د ثمن د زیاتوالی مدعی دې.او مشتری ددې منکر دې.او مشتری ددې اداکړې شوی ثمن په عوض کې د مبیع سپارلو د وجوب مدعی دې.او بائع ددې منکر دې.حاصل داچه دواړو کې هریو منکر دې. اودمشهور حدیث (والیمین علی من أنکر) په وجه منکر باندې قسم عائد کیږی.نو په دواړوکې به هر یو نه قسم اخستلې شی.نو که دواړو قسم اوخوړلو.یا دواړو د قسم انکار اوکړو.نو بیع به فسخ کولای شی .اوکه یوکس انکار اوکړو.او یو قسم اوخوړلو.نود انکار کونکی خلاف به دعوه ثابتولې شی.

د قسم پیل به د چا نه کولې شی؟

(وَيَبْتَدِئُ بِيَمِينِ الْمُشْتَرِي)او قاضی به د مشتری په قسم سره پیل کوی.

تشریح صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه په کوم صورت کې بائع او مشتری دواړو نه قسم اخستلې شی.هغه صورت کې به قاضی د مشتری د قسم نه پیل کوی.یعنی مخکې به مشتری نه قسم اخلی.او بیا به بائع نه قسم اخلی.

دلائله ځکه چې د مشتری انکار سخت دې.او سخت ځکه دې.چه کله د مشتری نه د ثمن مطالبه کولې شی.نو هغه د دوې (دوه) څیزونو انکار کوی.یو د اصل وجوب ثمن، او دوهم د وجوب اداء.او هرکله چې داسې ده.نو دده انکار سخت شو.

② ځکه چې اولاً مشتری نه د ثمن مطالبه کولې شی.او هرکله چې اول مشتری نه د ثمن مطالبه کیږی.نود هغه انکار به هم وړاندې وی.اود انکار مخکې کیدل،دا هم دده د سخت کیدلو دلیل دې.
او ځکه هم چې د مشتری د قسم د انکار فائده فوراً ښکاره کیږی.ځکه چې کله مشتری د قسم نه انکار اوکړی.نو په ده باندې فوراً ثمن لازمولې شی.اود قسم فائده انکار لپاره مشروع شوې ده.بې فائدې نه ده مشروع شوې.

(وَإِنْ نَكَلَ أَحَدُهُمَا عَنِ الْيَمِينِ)اوکه دواړو کې یو د قسم خوړلو نه انکار اوکړو.(لَزِمَهُ دَعْوَى الْآخَرِ)نود دوهم دعوه به په ده باندې لازم وی.

تشریح که په دواړو کې یو کس د قسم نه انکار اوکړو.نو منکر باندې به د دوهم دعوه لازم وی.
دلیله ځکه چې د امام ابوحنیفه رحمه الله د قول مطابق منکر باذل (په بهادرئ سره پخپل حق ور کاوه باندې راضی) دې.او هرکله چې داسې ده.نو دده دعوه د بل د دعوه معارض نشوه.او هرکله چې دده دعوه معارض نشوه.نو ګویا منکر د بل د دعوه د ثبوت قائل شو.اوهرکله چې منکر د بل د دعوه د

راکړي. نو په دې تولو صورتونو کښې به به د دواړو نه قسم نشي اخستې بلکه څوك چې انکار کوی د هغه نه به قسم اخستې شي.

دليله> دليل ښکاره دې چې د منکر نه قسم اخستې شي.د مدعی نه نشي اخستې.

د مبيع هلاکيدو نه روسته د اختلاف په صورت کښې د قسم حکم

(وإِنْ هَلَكَ الْمَبِيعُ که مبيع هلاك شو. ثُمَّ اخْتَلَفَا فِي الثَّمَنِ بيا بائع او مشتری د ثمن په مقدار کې اختلاف اوکړو. لَمْ يَتَحَالَفَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رحمهما الله[1] نود ابوحنيفه او ابويوسف رحمهماالله په نيز به دواړه قسم نه خوری. وَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُشْتَرِي. فِي الثَّمَنِ او قول به د مشتری معتبر وی په ثمن کښې.

تشريح> صورت د مسئلې دادې.که د مشتری قبضه کولو نه روسته مبيع هلاك شو.بيا بائع او مشتری د ثمن په مقدار کې اختلاف اوکړو.نود امام ابوحنيفه او ابويوسف رحمهماالله په نيز به دواړو نه قسم اخستلې شي.بلکه د ثمن د مقدار په سلسله کې به دمشتری قول مع اليمين معتبر وی.

دلائلهما> ① د حضرت امام ابوحنيفه او امام ابويوسف رحمهماالله دليل دادې.چه د مشتری د مبيع قبضه کولو نه روسته تحالف خلاف قياس دې.ځکه چې بائع مشتری ته هغه مال واپس کړې دې.دکوم چې مشتری مدعی دې.او شريعت کې تحالف هغه مال باندې وارد شوې دې.کله چې سامان د مبيع موجود وی.لکه چې د نبی کريم ﷺ ارشاد دې. (اذا اختلف المتبايعان والسلعة قائمة بعينها تحالفا وترادا) نو هرکله چې د مبيع د قبضه کولو نه روسته د مبيع سامان موجود کيدلو په صورت کې تحالف ورادکيدل خلاف قياس دی.نودا به د مبيع سامان هلاکيدلو صورت ارخ ته نه متعدی کيږی.يعنی د مبيع سامان هلاکيدلو صورت کې به تحالف واجب نه وی.

② دوهم دليل او د امام محمد او امام شافعی رحمهماالله د دليل خواب دادې.چه د مقصود حاصليدلو نه روسته په سبب کې د اختلاف اعتبار نه کيږی.يعنی د بيع مقصود مشتری لپاره مبيع سلامت پاتې کيدل دی.نو هرکله چې بائع مشتری ته مبيع سپارلې دې.او هغه د مشتری په ملك کې هلاك شو.نو مقصود حاصل شو.اوهرکله چې مقصود حاصل شو.نود سبب (عقد) ذکر لغو شو.اود بائع او مشتری اختلاف د سبب نه بغير په زر او دوه زره (درهمو) کې شو.يعنی مشتری د زر(درهمو) مدعی دې.او بائع ددې منکر دې.او بائع د دوه زره (درهمو) مدعی دې.او مشتری ددې منکر دې.نو مشتری چې د کومو زياتی زر (درهمو) منکر دې.هغې باندې به قسم واجب وی.اود قسم خوړلو په صورت کې به هم دده قول معتبر وی.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ: او امام محمد رحمه الله فرمائی. يَتَحَالَفَانِ دواړه به قسم خوری. وَيُفْسَخُ الْبَيْعُ عَلَى قِيمَةِ الْهَالِكِ) او د هلاك شوی په قيمت به بيع فسخ کولې شي.

تشريح> مسلك محمد> امام محمد فرمائی.چه دواړو څخه به قسم اخستلې شي.که دواړو قسم اوخوړلو.نو بيع به فسخ کولې شي.او مشتری باندې به د هلاك شوی مبيع قيمت ورکول واجب وی.هم

[1]) القول الراجح هوقول الشيخين كذا في نتائج الأفكار(۲۰۱\۷) ومجمع الأنهر(۳۶۲\۳) وشرح المجلة (۵۳۰\۵) المادة (۱۷۸۲) وكنز (۲۸۰) والدرالمختار(۴۷۹\۴) والهندية (۳۳\۴) نقلاً عن القول الراجح (۱۷۴\۲)

دا اختلاف هغه وخت دي.كله چې مبيع د مشتري د ملك نه وتلې وي.يا د عيب په وجه مشتري د مبيع په واپس كولو قادر نه وي.

دليله> دامام محمد دليل دادې.چه بائع او مشتري دواړوكې هريو ددې عقد د علاوه دعوه كوي.د كوم چې دده انډيوال مدعى دې.او دوهم ددې منكر دې.مثلاً بائع د دوه زره (درهمو) په عوض د بيع دعوه كوي.او مشتري ددې منكر دې.او مشتري د زر(درهمو) په عوض د بيع دعوه كوي. اوبائع ددې منكر دې.اودا خبره هم ښكاره ده.چه،، بيع بالف،، د،، بيع بالفين،، نه غير ده.هم دا وجه ده. چې د بيع دوه گواهان كه په مقدار د ثمن كې اختلاف اوكړي.نو ددوى نه قبليږي.ځكه چې د دواړو گواهي په جلا بيع باندې ده.او په هر يو بيع نصاب د شهادت نه دې پوره شوې.نو دچا گواهي به هم قبول نه وي.

الاشكال> پاتې شودا سوال،چه د مبيع هلاكيدلو نه روسته د امام محمد رحمه الله په قول باندې د تحالف فائده څه ده.

الجواب> ددې ځواب دادې.چه د تحالف فائده داده.كه مشتري د قسم خوړلو نه انكار اوكړي.نو په مشتري به د ثمن هغه زياتوالې واجب وي.د كوم چې بائع مدعى دې.او كه بائع د قسم نه انكار اوكړو.نو مشتري ځخه به د ثمن هغه زياتوالې لرې كولې شي.د كوم چې بائع مدعى دې.بهرحال هركله چې د تحالف فائده موجود ده.نو دواړو ځخه به قسم اخستلې شي.اودا داسې ده.لكه چې د مبيع سامان هلاكيدلو نه روسته د ثمن په جنس كې اختلاف كړې وي.مثلاً يوكس دعوه اوكړله.د عقد بالدراهم،او دوهم كس د عقد بالدنانير دعوه اوكړله.نو په دې صورت كې مشتري باندې د قيمت واپس كول لازميږي.دغه ډول د متن په مسئله كې دواړو نه قسم اخستلې شي.او بيع به فسخ كولې شي.او مشتري باندې به د هلاك شوى مبيع قيمت واجبولې شي.

جواب الشيخين عنه> د امام محمد د دليل نه ځواب دادې.چه فائده هم هغه معتبر ده.كوم چې د موجبات عقد ځنې وي.اود ثمن زياتوالى لرې كولو فائده دموجبات عقد ځنې نه ده.بلكه دا فائده د بائع د قسم نه د انكار كولو د موجباتو ځنې ده.او چونكه قسم د موجبات عقد ځنې نه ده.نود بائع انكار قسم به هم موجبات عقد ځنې نه وي.او هركله چې د بائع د قسم انكار دموجبات ځنې نه ده.نو دده د قسم د انكار په وجه به هغه شئ نشى پريخودلې.كوم شئ چې د موجبات عقد ځنې دې.يعنى مبيع باندې د مشتري ملكيت او قبضه.او هركله چې دا ترك نكړې شوه.نو بائع ځخه به قسم نشى اخستلې.بلكه صرف به مشتري ځخه به قسم اخستلې شي.

دوه غلامانو كښې د يو غلام هلاكيدو نه روسته ثمن كښې اختلاف او د قسم حكم

> وَإِنْ هَلَكَ أَحَدُ الْعَبْدَيْنِ كه په دوه غلامانوكې يو هلاك شو. ثُمَّ اخْتَلَفَا فِي الثَّمَنِ بيا دواړو په ثمن كې اختلاف اوكړو. لَمْ يَتَحَالَفَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ إِلَّا أَنْ يَرْضَى الْبَائِعُ أَنْ يَتْرُكَ حِصَّةَ الْهَالِكِ()نود امام صاحب رحمه الله په نيز به دواړه قسمونه نه خوري.خودا چې بائع په دې خبره راضى شي.چه هغه به د هلاك شوى غلام برخه پريږدي (نو قسم به اخستلې شي)

تشريح> كه يوسړي خپل دوه غلامان د عقد واحد لاندې خرڅ كړل.او مشتري په دوى دواړو باندې قبضه اوكړله.بيا په دوى دواړو كې يو هلاك شو. ددې نه روسته بائع او مشتري د ثمن په مقدار كې

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في العناية (۲۰۳\۷) ومجمع الأنهر(۳۶۳\۳) والهندية (۳۳\۴) والدرالمختار (۴۷۹\۴) نقلاً عن القول الراجح(۱۷۶\۲)

اختلاف اوکړو.بائع اووئيل.چه ما دوارہ غلامان د دوه زره (درهمو) په عوض خرخ کړي دي.اومشتري اووئيل.چه ما ستا نه دوي دواړه د زر(درهمو) په عوض اخستي دي.نود حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دې صورت کې به تحالف نه کيږي.يعني دواړو څخه به قسم نشي اخستلې.البته که بائع د هلاك شوي غلام د برخې (حصې) ثمن پرينبولو باندې راضي شو.نو په دې صورت کې به دواړو نه قسم اخستلې شي.او جامع صغير کې هم دا مسئله په دې طريقه ذکر شوې ده.چه د ابوحنيفه رحمه الله په نيز د مشتري قول به مع اليمين معتبر وي.خودا چې بائع په دې خبره باندې راضي شي.چه هغه به ژوندي غلام اخلي.اود هلاك شوي قيمت څخه به هغه لپاره هيڅ نه وي.د دواړو عبارتونو حاصل يو دې.صرف دومره توپير دې.چه د قدوري په عبارت کې مستثنى منه عدم تحالف (لم يتحالفا) ده.اود جامع صغير په عبارت کې مستثنى منه د مشتري يمين دې.

دليله> د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه د مشتري د قبضې نه روسته تحالف خلاف قياس د حديث نه په هغه صورت کې ثابت دې.کله چې مبيع موجود وي.لکه څنګه چې وړاندې تير شوي دي.او مبيع دخپلو پوره اجزاؤ نوم دې.نود بعض اجزاؤ فوت کيدلو نه روسته مبيع باقي پاتې نشو.څکه چې انتفاء د جزء انتفاء د کُل لره مستلزم ده.او چې مبيع باقي پاتې نشو.نود حديث واردیدلو محل هم باقي پاتې نشو.او هرکله چې د وارد شوي حديث محل باقي پاتې نشو.نود حديث مطابق به تحالف هم نه وي.اود مبيع په موجودګۍ کې تحالف خلاف قياس ثابت دې.په دې وجه د هلاکيدلو صورت به په دې نشي قياس کولې.او تحالف به نشي واجبولې.بهرحال په دې صورت کې تحالف نشته.

> **وَقَالَ أَبُويُوسُفَ**:او ابويوسف رحمه الله فرمائي. **يَتَحَالَفَانِ وَيُفْسَخُ الْبَيْعُ فِي الْحَيِّ**، چې د ژوندي غلام په اړه کې به عقد فسخ کولې شي. **وَقِيمَةِ الْهَالِكِ**. او د تلف شوي په قيمت کې به د مشتري قول معتبر وي. **وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ**:او دا د امام محمد رحمه الله قول دې

تشريح> مسلك الصاحبين> حضرت امام ابويوسف رحمه الله فرمائي.چه د ژوندي غلام په اړه کې به، بائع او مشتري دواړو نه قسم اخستلې شي.اود تحالف نه روسته به ژوندي غلام کې عقد بيع فسخ کولې شي.اود هلاك شوي غلام د ثمن په برخه کې به د مشتري قول مع اليمين معتبر وي.اودا د امام محمد قول هم دې

دليلهما> د حضرت امام ابويوسف رحمه الله دليل دادې.چه تحالف (خپل منځ کې د قسم) ممتنع کيدل په دې وجه دي.چه مبيع هلاك شوې دې.نو څومره قدرې چې ضائع شوې دې.هم هغه مقدار کې به تحالف ممتنع وي.نو ژوندي غلام کوم چې نه دې هلاك شوې.هغه کې به دواړو نه قسم اخستلې شي.او هلاك شوي غلام کې به تحالف نه کيږي.بلکه دده په ثمن کې به د مشتري قول مع اليمين معتبر وي.

د ښځې ميره په مينځ کښې په مهر کښې اختلاف

> **وَإِذَا اخْتَلَفَ الزَّوْجَانِ فِي الْمَهْرِ**او که ښځې او ميره په مهر کې اختلاف اوکړو. **فَادَّعَى الزَّوْجُ**يا ميره دعوه اوکړله. **أَنَّهُ تَزَوَّجَهَا بِأَلْفٍ** چې ما ددې سره په زر(درهمو) باندې نکاح کړې وه. **وَقَالَتْ**او ښځې اووئيل. **تَزَوَّجَنِي بِأَلْفَيْنِ** چې تا ما سره په دوي (دوه) زره (درهمو) نکاح کړې وه. **فَأَيُّهُمَا أَقَامَ الْبَيِّنَةَ تُقْبَلُ بَيِّنَتُهُ**)نو کوم کس چې بينه قائم کړل.د هغه بينه به قبول وي.

تشريح> صورت د مسئلې دادې.که ښځې او ميره د مهر په مقدار کې اختلاف اوکړو. ميره دعوه اوکړله .چه ما ددې ښځې سره د زر (درهمو) په عوض نکاح کړې ده.او ښځې دعوه اوکړله.چه ده زما سره د دوي (دوه) زره (درهمو) په عوض نکاح کړې ده.نو په دواړو کې چې کوم يوکس بينه قائم کړل.د

دې وجه دی.چه مبیع هلاك شوې دې.نو څومره قدرې چې ضائع شوې دې.هم هغه مقدار کې به تحالف ممتنع وی.نو ژوندې غلام کوم چې نه دې هلاك شوې.هغه کې به دواړو نه قسم اخستلې شی.او هلاك شوی غلام کې به تحالف نه کیږی.بلکه دده په ثمن کې به د مشتری قول مع الیمین معتبر وی.

د ښځې میړه په مینځ کښې په مهر کښې اختلاف

(وَإِذَا اخْتَلَفَ الزَّوْجَانِ فِي الْمَهْرِ)او که ښځې او میړه په مهر کې اختلاف اوکړو.فَادَّعَى الزَّوْجُ)بیا میړه دعوه اوکړله.أَنَّهُ تَزَوَّجَهَا بِأَلْفٍ چې ما ددې سره په زر(درهمو) باندې نکاح کړې وه.وَقَالَتْ)او ښځې اووئیل.تَزَوَّجَنِي بِأَلْفَيْنِ چې تا ما سره په دوې (دوه) زره (درهمو) نکاح کړې وه.فَأَيُّهُمَا أَقَامَ الْبَيِّنَةَ تُقْبَلُ بَيِّنَتُهُ)نو کوم کس چې بینه قائم کړل.د هغه بینه به قبول وی.

تشریح> صورت د مسئلې دادې.که ښځې او میړه د مهر په مقدار کې اختلاف اوکړو. میړه دعوه اوکړله .چه ما ددې ښځې سره د زر (درهمو) په عوض نکاح کړې ده.او ښځې دعوه اوکړله.چه ده زما سره د دوې (دوه) زره (درهمو) په عوض نکاح کړې ده.نو په دواړو کې چې کوم یوکس بینه قائم کړل.د هغه بینه به قبول وی.

دلیله> ځکه چې هغه خپله دعوه بینه سره ثابت کړله.که ښځې بینه قائم کړل.نود هغې بینه قبلول بالکل ښکاره دی.ځکه چې هغه د زیاتوالی مدعیه ده.اود مدعی بینه قبلولې شی.نو ددې بینه به قبول وی.خود میړه بینه قبلولو کې څه قدرې اشکال دې.ځکه چې میړه د زیادت منکر دې.نو په ده باندې قسم واجبیدل پکار دی.بینه واجبیدل پکار نه دی.خو ددې باوجود که ده بینه پیش کړل.نو ځکه به قبلیږی.چه دې صورةً مدعی دې.اود بینه قبلیدلو لپاره دومره کافی ده.

(وَإِنْ أَقَامَا الْبَيِّنَةَ)بیا که ښځې میړه دواړو بینه قائم کړل.فَالْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الْمَرْأَةِ)نود ښځې بینه به قبول وی.لِأَنَّهَا تُثْبِتُ الزِّيَادَةَ،ځکه چې د ښځې بینه زیادت ثابتوی.مَعْنَاهُ)ددې مطلب دادې.إِذَا كَانَ مَهْرُ مِثْلِهَا أَقَلَّ مِمَّا ادَّعَتْهُ چې کله د ښځې مهر مثل د ښځې د دعوه نه کم وی.

تشریح> اوکه ښځې او میړه دواړو خپل خپل بینه قائم کړل.نود ښځې بینه به قبول وی.

دلیله> ځکه چې د ښځې بینه د مهر زیادت ثابتوی.خود ښځې بینه به هغه وخت قبلیږی.کله چې مهر مثل دهغې نه کم وی.دکوم چې ښځه دعوه کوی.ګنی که مهر مثل د هغې برابر وی.دکوم چې ښځه دعوه کوی.یا هغې نه زیات وی.نو په دې دواړو صورتونوکې به د میړه بینه قبول وی.

(وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمَا بَيِّنَةٌ)اوکه دواړو سره بینه نه وی.تَحَالَفَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ)نود ابوحنیفه رحمه الله په نیز به دواړو نه قسم اخستلې شی.وَلَا يُفْسَخُ النِّكَاحُ)او نکاح به نشی فسخ کیدلې.

تشریح> او که ښځه او میړه دواړه د بینه قائمولو نه عاجز شو.نود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز به دواړو نه قسم اخستلې شی.خو نکاح به نشی فسخ کولې.

دلیله> ځکه چې د تحالف اثر به دا وی.چه د مهر په سلسله کې د دواړو دعوه معدوم شی.او داسې شی.لکه چې د مهر ذکر ئې نه وی کړې.اود مهر ذکر نه کول د نکاح د صحت لپاره محل(خلل) نه واقع کیږی.ځکه چې مهر په نکاح کې تابع وی.نو په دې تحالف سره د مهر تسمیه معدوم کیږی.خو نکاح به نه فسخ کیږی.

(وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمَا بَيِّنَةٌ)اوکه دواړو سره بینه نه وی.تَحَالَفَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ)نود ابوحنیفه رحمه الله په نیز به

دوارو نه قسم اخستلي شي.﴿وَلَا يُفْسَخُ النِّكَاحُ﴾او نكاح به نشي فسخ كيدلي.

تشريح> او كه ښځه او ميړه دواړه د بينه قائمولو نه عاجز شو.نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به دواړو نه قسم اخستلي شي.خو نكاح به نشي فسخ كولي.

دليله> ځكه چې د تحالف اثر به دا وي.چه د مهر په سلسله كې د دواړو دعوه معدوم شي.او داسې شي.لكه چې د مهر ذكر ئې نه وي كړي.اود مهر ذكر نه كول د نكاح د صحت لپاره محل(خلل) نه واقع كيږي.ځكه چې مهر په نكاح كې تابع وي.نو په دې تحالف سره د مهر تسميه معدوم كيږي.خو نكاح به نه فسخ كيږي.

﴿وَلٰكِنْ يُحَكَّمُ مَهْرُ الْمِثْلِ﴾نو بيع به فسخ كولي شي.خو مهر مثل به حَكَم(او فيصل) كرځولي شي.

تشريح> بهرحال د مهر په سلسله كې د تحالف نه روسته د مهر ذكر كول معدوم شو.او نكاح فسخ نشوه.او هركله چې نكاح فسخ نشوه.اود مهر ذكركول معدوم شو.نود جګړې ختمولو لپاره به مهرمثل حكم جوړولي شي.

﴿فَإِنْ كَانَ مِثْلَ مَا اعْتَرَفَ بِهِ الزَّوْجُ﴾نو كه مهر مثل دومره وي.د څومره چې ميړه اقرار كړي دي.﴿أَوْ أَقَلَّ﴾يا ددې نه كم وي.﴿قَضَى بِمَا قَالَ الزَّوْجُ﴾نو دهغې فيصله به كولي شي.كوم چې ميړه وئيلي دي.

تشريح> نو كه مهرمثل د ميړه د اقرار كړې شوې مهر برابر وي.يا ددې نه كم وي.نود څومره مهر چې ميړه اقرار كړي دي.هم د هغې په اندازه به حكم وركولي شي.

دليله> ځكه چې ښكاره حال د ميړه دقول شاهد دي.او ښكاره حال چې دچا شاهد وي.هغه مدعى عليه وي.

اود بينه نه كيدلو په صورت كې د مدعى عليه قول معتبر وي.نو په دې صورت كې به هم د مدعى عليه يعني د ميړه قول معتبر وي.اوهغه مهر به واجب وي.دكوم چې ميړه اقرار كړي دي.

﴿وَإِنْ كَانَ مِثْلَ مَا ادَّعَتْهُ الْمَرْأَةُ﴾اوكه د هغې هومره وي.د څومره چې ښځې دعوه كړې ده.﴿أَوْ أَكْثَرَ﴾ ﴿قَضَى بِمَا ادَّعَتْهُ الْمَرْأَةُ﴾نو ښځې لپاره به د مهر مثل فيصله كولي شي.

تشريح> اوكه مهر مثل دومره وي.د څومره چې ښځې دعوه كړې ده.يا ددې نه زيات وي.نود څومره چې ښځې دعوه كړې ده.هم دهغې حكم به وركولي شي.

دليله> ځكه چې په دې صورت كې ښكاره حال د ښځې شاهد دي.

﴿وَإِنْ كَانَ مَهْرُ الْمِثْلِ أَكْثَرَ مِمَّا اعْتَرَفَ بِهِ الزَّوْجُ وَأَقَلَّ مِمَّا ادَّعَتْهُ الْمَرْأَةُ قَضَى لَهَا بِمَهْرِ الْمِثْلِ﴾

تشريح> اوكه مهرمثل منځنى وي.يعنى د ميړه د اقرار كړې شوې مهرنه زيات وي.اود ښځې د دعوه كړې شوې مهر نه كم وي.نو ښځې لپاره به د مهرمثل حكم وركولي شي.

دليله> ځكه چې هركله دواړو قسم اوخوړلو .نونه به د مهرمثل نه زياتى ثابتيږي.اونه به ددې نه كم ثابتيږي.يعنى د ميړه د قسم خوړلو په وجه به د مهرمثل نه زياتى نه ثابتيږي.اود ښځې د قسم خوړلو په وجه به د مهر مثل نه كم نه ثابتيږي.نو هركله چې نه د مهرمثل نه زيات ثابت شو.او نه كم ثابت شو.نود مهرمثل حكم به وركولي شي.

د مؤجر او مستاجر اختلاف او د تحالف حكم

﴿وَإِنِ اخْتَلَفَا فِي الْإِجَارَةِ قَبْلَ اسْتِيفَاءِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ﴾اوكه د معقود عليه وصولولو نه وړاندې موجر او

مستاجر په اجاره کي اختلاف اوکړو. تَحَالَفَانو دواړه به قسم خوري. وَتَرَادَّا او اجاره دي واپس کړي.

تشریح مسئله داده. چه موجر (اجاره باندې ورکونکي) او مستاجر (اجرت باندې اخستونکي) د اجرت په مقدار کي اختلاف اوکړو. یا معقود علیه یعنی د منفعت په مقدار کي اختلاف اوکړو. اودا اختلاف د منافعو حاصلولو نه مخکي واقع شو. نو په دې صورت کي به دواړو نه قسم اخستلې شي. او عقد اجاره به فسخ کولې شي. د بدل (اجرت) او مبدل (معقودعليه) په ذکر کاوه سره دا خبره واضحه شوه. که اختلاف د میعاد په مقدار کي وي. نو په دې صورت کي به تحالف نه کيږي. بلکه د زیاتوالي د منکر قول به مع اليمين معتبر وي.

دلیله په مبيع باندې د قبضه کاوه نه وړاندې په بيع يعنى ثمن يا مبيع کي اختلاف د قياس مطابق دې. او اجاره منفعت باندې د قبضه کاوه نه وړاندې په مبيع باندې د قبضه کاوه نه وړاندې د بيع مثال دې. ځکه چې دواړو کي هريو عقد معاوضه ده. او زمونږ کلام په دې صورت کي دې. کله چې معقود عليه يعنى منفعت باندې قبضه نه وى شوې. نو د منفعت حاصلولو نه وړاندې اجاره کي اختلاف داسې شو. لکه مبيع باندې قبضه کاوه نه وړاندې په بيع کي اختلاف. نو لکه څنګه چې بيع کي تحالف جارى کيږي. دغه ډول به اجاره کي هم تحالف جارى کيږي.

د منافعو حاصلولو نه روسته اختلاف کښې د تحالف حکم

وَإِنْ اخْتَلَفَا بَعْدَ الْاِسْتِيفَاءِ او که د منافعو وصولولو نه روسته دواړو اختلاف اوکړو. لَمْ يَتَحَالَفَا نو دواړه به قسم نه خوري. وَكَانَ الْقَوْلُ قَوْلَ الْمُسْتَأْجِرِ او د مستاجر قول به معتبر وي.

تشریح که په اجاره کي د منافعو حاصلولو نه روسته دواړو اختلاف اوکړو. نو بالاجماع به دواړو نه قسم نشي اخستلې. بلکه د مستاجر قول به مع اليمين معتبر وي.

دلیله د تحالف نه واجبيدل د شيخينو رحمهما الله په نيز خو ښکاره دى. ځکه چې کله معقود عليه معدوم شي. نو ددوى په نيز تحالف هم ممتنع کيږي. او دلته کي معقودعليه د منفعت وصولولو نه روسته پاته پاتې نشو. په دې وجه دا ونيلي شي. چه اجاره کي معقودعليه هلاك او معدوم شو. اود امام محمد رحمه الله په اصل باندې هم عدم تحالف ښکاره دې. ځکه چې د امام محمد رحمه الله په نيز باندې مبيع کي تحالف نه ممتنع کيدل، په دې وجه دى. چه د مبيع قيمت وى. او قيمت د بيع قائم مقام وى. نود امام محمد رحمه الله په نيز بائع او مشترى دواړه به قيمت باندې تحالف کوى.

د بعضي منافع حاصلولو نه روسته اختلاف او د تحالف حکم

وَإِنْ اخْتَلَفَا بَعْدَ اسْتِيفَاءِ بَعْضِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ او که د بعض معقود عليه حاصلولو نه روسته دواړو اختلاف اوکړو. تَحَالَفَا نو دواړه به قسم خوري. وَفُسِخَ الْعَقْدُ فِيمَا بَقِيَ او مابقى کي به عقد فسخ کولې شي. وَكَانَ الْقَوْلُ فِي الْمَاضِي قَوْلَ الْمُسْتَأْجِرِ او د تيرې شوې زمانې اره کي به د مستاجر قول معتبر وى. مَعَ يَمِينِهِ سره د قسم د ده نه

تشریح مسئله داده. که په عقد اجاره کي د څه منافعو حاصلولو نه روسته موجر او مستاجر په اجرت کي اختلاف اوکړو. نود دواړو څخه به قسم اخستلې شي. او په مابقى کي به عقد اجاره فسخ کولې شي. اود تيره شوې زمانې په اره کي به د مستاجر قول معتبر وى.

دلیله دليل دادې. چه عقد اجاره په يوځل نه منعقد کيږي. نو داسې شوه. ګويا د منفعت هرڅيز باندې جديد عقد وارد شوې دې. نو هغه منافع کومې چې پاته پاتې شوې. د هغې په اعتبار سره به د

معقودعليه حاصلولو نـه ورانـدې اختـلاف وي.اود معقودعليـه حاصـلولو نـه ورانـدې بانـدې بـه تحالـف جاري كيږي.او كوم منافع چې تيرې شوې.د هغې په اعتبار سره به د معقود عليـه حاصـلولو نـه روسـته اختلاف وي.اود معقود عليه حاصلولو نه روسته تحالف نه جاري كيږي.بلكه بالاتفاق د مسـتاجر قـول قبلولې شي.نود تيرې شوو منافعو په حق كې به تحالف نه جاري كيږي.بلكه د مسـتاجر قـول بـه قبلـولې شي.

د مولی او مکاتب په مينځ کښې اختلاف او د تحالف حکم

وَإِذَا اخْتَلَفَ الْمَوْلَى وَالْمُكَاتَبُ فِي مَالِ الْكِتَابَةِ اوكه مولا او مكاتب په مال كتابت كې اختلاف اوكړو. لَمْ يَتَحَالَفَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.(١) نود ابوحنيفه رحمه الله په نيز تحالف نشته.

تشريح﴾ كه مولا او مكاتب د بدل كتابت په مقدار كې اختلاف اوكړو.نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دواړو باندې تحالف نه واجبيږي.بلكه د مكاتب قول به مع اليمين معتبر وي.

دليله﴾ د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه بدل كتابت فى الحال دهغه ركاوټ لرې كولو په مقابله كې دې.كوم چې د تصرف وغيره په سلسله كې مكاتب ته حاصل شوې دې.اود تصرف ركاوټ لرې كيدل مكاتب لپاره بدل كتابت كې داختلاف باوجود حاصل دې.څكه چې مولا او مكاتب د كتابت په ثبوت باندې دواړه متفق دې.او بدل كتابت كې د آزادئ مقابل هغه وخت شو.كله چې بدل كتابت ادا كړې.نو حاصل داشو.چه د ادا نه وړاندې بدل كتابت د آزادئ مقابل وې.نـود اداء نـه وړانـدې مكاتب آزاديدل پكار وو.حالانكه داسې نه ده.بهرحال هركله چې هغه شئ يعنى د تصرف ممانعت لرې كيدل د بدل كتابت مقابل دې.او هغه مكاتب ته حاصل دې.نو اختلاف صرف د بدل كتابت په مقدار كې شو.څكه چې دې وخت غلام مولا باندې د هيڅ شئ دعوه نه كوى.بلكه دې دهغه زيادت منكر دې.د كوم چې مولا مدعى دې.نو دلته كې مولا مدعى او مكاتب منكر شو.او په كوم صورت كې چې يو مدعى او بل منكر وي.په هغه صورت كې تحالف نه واجبيږي.بلكه د منكر قول معى اليمين قبلولې شي.نو دلته كې به هم تحالف نه واجبيږي.بلكه مكاتب كوم چې منكر دې.د هغه قول به مع اليمين معتبر وي.دا حكم هغه وخت دې.كله چې دواړو سره بينه نه وي.اوكه يوكس بينه پيش كړل.نود هغه بينه به قبلولې شي.اوكه دواړو بينه قائم كړل.نود مولا بينه به اولى وي.

وَقَالَا:او صاحبين رحمهماالله فرمائي.يَتَحَالَفَانِ چې دواړه به قسم خورى.وَتُفْسَخُ الْكِتَابَةُ)اوكتابت به فسخ كولې شي.

تشريح﴾ **مسلک الصاحبين**﴾ صاحبين رحمهماالله فرمائي.چه تحالف به واجب وي.اود تحالف نه روسته به عقد كتابت فسخ كولې شي.هم دا قول د امام شافعى رحمه الله دې.

دليلهما﴾ دليل دادې.چه كتابت داسې عقد معاوضه ده.چه فسخ قبلوى.نودا د بيع مشابه شو.يعنى لكه څنګه چې بيع داسې عقد معاوضه ده.چه فسخ قبلوى.دغه ډول كتابت داسې عقد معاوضه ده.چه فسخ قبلوى.اود دواړو په منځ كې علت جامعه دادې.چه لكه څنګه بائع او مشترى د ثمن په مقدار كې اختلاف كوى.او بائع د ثمن د زيادت مدعى وي.او مشترى ددې منكر وي.او مشترى د خپل بيان شوى ثمن په عوض د مبيع د استحقاق دعوه كوى.او بائع ددې منكر وي.دغه ډول مولا د زيات بدل

---

(١) القول الراجح هو قول الإمام كذا في ملتقى الأبحر(٣٦٦\٣) ونتائج الأفكار(٢١١٩\٧) نقلاً عن القول الراجح (١٧٨\٢)

کتابت دعوه کوی.او مکاتب ددې منکر دې.او مکاتب پخپل مولا باندې ددغه مقدار په ادا کولو باندې د عتق د استحقاق دعوه کوی.د کوم چې مکاتب مدعی دې.او مولا ددې منکر دې.نو ددې علت مشترکه په وجه لکه څنګه چې د ثمن د اختلاف په صورت کې بائع او مشتری باندې تحالف واجبیږی.دغه ډول بدل کتابت کې د اختلاف په صورت کې به هم مولا او مکاتب دواړو باندې تحالف واجبیږی.

د ښځې او میړه د کور په سامان کښې د اختلاف مسئله

وَإِذَا اخْتَلَفَ الزَّوْجَانِ فِي مَتَاعِ الْبَيْتِ او که ښځې او میره د کور په سامان کې اختلاف اوکړو. فَمَا يَصْلُحُ لِلرِّجَالِ فَهُوَ لِلرَّجُلِ نو کوم شیان چې د سړو لائق (او مناسب) دی.هغه به د سړو لپاره وی

تشریح> که ښځې او میره دکور په سامان کې اختلاف اوکړو.چه دا سامان زما ملك دې. اوبینه دواړو سره موجود نه دی.نو کوم سامان چې د سړی مناسب دې.هغه سامان به قسم اخستلو سره سړی ته ورکولې شی.لکه عمامه (پګړۍ)، توشیدې، کتابونه، قباء، کمان (لینده)،د جهاد سامان (وغیره).

دلیله> څکه چې داسې قسمه سامان کې ښکاره حال د سړی شاهد دې.او په دعوو کې هم دهغه کس قول معتبر وی.د چا چې ښکاره حال شاهد وی.

وَمَا يَصْلُحُ لِلنِّسَاءِ فَهُوَ لِلْمَرْأَةِ اوکوم شیان چې د ښځو لائق دی.هغه به دښځې لپاره وی.لکه پټو (څادر) (یعنی سرپیچك یا سر ترونې) لِشَهَادَةِ الظَّاهِرِ لَهَا څکه چې ښکاره حال ددې شاهد دې.

تشریح> کوم سامان چې د ښځو لائق وی.هغه سامان به قسم اخستلو سره ښځې ته ورکولې شی.لکه لوپټه پټو (څادر) برقعه، او زیورات (کالی) وغیره.

دلیله> څکه چې دې کې ښکاره حال د ښځې شاهد دې.

(وَمَا يَصْلُحُ لَهُمَا اوکوم شیان چې د دواړو لائق دی. فَهُوَ لِلرَّجُلِ)نو هغه سړی لپاره دی.

تشریح> او کوم سامان چې د دواړو مناسب دې.هغه به هم سړی ته ورکولې شی.

دلیله> څکه چې د ښځې او سړی د قبضې ټولو شیان د سړی لپاره وی.او په دعوو کې د قابض قول معتبر وی.نو سړې کوم چې د ښځې او د ښځې په مقبوضه څیزونو باندې قابض دې.په ټولو کې به د سړی قول معتبر وی.کوم سامان چې ښځو سره مختص وی.هغه به ښځې لپاره څکه وی.چه یو اړخ ته د میړه ښکاره قبضه ده.او بل اړخ ته د ښځې قبضه ده.کومه چې ددې نه زیاته مضبوطه ده.نود ښځې قبضه کومه چې زیاده مضبوطه ده.هغې ته به ترجیح حاصل وی.لکه مثلاً دوه سړو په یوه کپړه کې اختلاف اوکړو.او یو کس دا اغوستې ده.او دوهم ددې لستونړی نیولی دی.نو کوم کس چې اغوستې ده.د هغه قول به معتبر وی.

په زوجینو کښې د یو د مړلو نه روسته په ژوندي او وارثانو کښې اختلاف

فَإِنْ مَاتَ أَحَدُهُمَا نوکه په ښځې او میره کې یوکس مړ شو. وَاخْتَلَفَ وَرَثَتُهُ مَعَ الْآخَرِ او ددې مړی وارثانو د نورو سره اختلاف اوکړو. فَمَا يَصْلُحُ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ نو کوم څیزونه چې د سړو لائق دی.اود ښځو لائق دی. فَهُوَ لِلْبَاقِي مِنْهُمَا)هغه واړه به دوی کې ژوندي لپاره وی.

تشریح> که په زوجین (ښځه او خاوند) کې یوکس مړشو.او بیا د مړی وارثانو او ژوندی د سامان په اړه کې اختلاف اوکړو.نود کور واړه سامان به هغه کس لپاره وی.کوم چې ژوندې وی.که هغه سامان د

سرو مناسب وی.اوکه د ښځو مناسب وی.دا د امام ابوحنیفه مسلك دې.()
دلیله> ځکه چې قبضه د ژوندی سړی معتبر وی.د مړی معتبر نه وی.

وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ:او ابویوسف رحمه الله فرمائی.يَدْفَعُ إِلَى الْمَرْأَةِ مَا يُجَهَّزُ بِهِ مِثْلُهَا، چې هغه سامان به ښځې ته ورکولې شی.کوم چې دې د جهیز په طور(دخپل پلار د کوره د واده سامان) راوړلې دې.وَالْبَاقِي لِلزَّوْجِ او باقی (سامان) به د میړه لپاره وی.

تشریح> مسلك ابي یوسف> حضرت امام ابویوسف رحمه الله فرمائی.چه ښځې کوم سامان د جهیز په طور(د پلار د کوره) راوړلې دې.هغه سامان به ښځې ته ورکولې شی.او باقی سامان به میړه نه قسم اخستلې شی.او میړه ته به ورکولې شی.
دلیله> ځکه دا خبره ښکاره ده.چه ښځې جهیز راوړی.اودا ظاهر(ښکاره حال) د میړه د ښکاره قبضې په نسبت زیات قوی دې.نو ددی ظاهر په ذریعه به د میړه ظاهری قبضه باطلیږی.بیا کوم سامان چې باقی پاتې شو.هغې کې چونکه د میړه د ښکاره قبضې هیڅ معارض نشته.نو دده ښکاره قبضه به معتبر وی.
مسلك محمد> حضرت امام محمد رحمه الله فرمائی.چه کوم شیان د سړو مناسب دی.هغه به واړه د میړه وی.او کوم شیان چې د ښځو سره مناسب وی.هغه به دښځې وی.او کوم شیان چې د دواړو مناسب دی.هغه به د میړه وی.که میړه ژوندې وی.او که میړه مړ وی.نو دده د وراثانو به وی.
دلیله> دلیل هغه دې.کوم چې مونږ د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل بیان کړې دې.یعنی ښځه اود ښځې مقبوضه واړه شیان د میړه په قبضه کې وی.او قول د قابض معتبر وی.په دې وجه دې خیزونو کې د میړه یعنی د قابض قول معتبر وی.اود امام محمد رحمه الله په نیز هم طلاق اومرګ دواړه په حکم کې یوشان دی.ځکه چې وارث د خپل مورث قائم مقام دې.

د وینځې نیز میاشتو نه کمه موده کښې پیدا شوی بچی باندې د بائع دعوی

(وَإِذَا بَاعَ الرجل جَارِيَةً)یوکس یوه وینځه خرڅه کړله.فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ هغې بچې پیدا شو.فَادَّعَاهُ الْبَائِعُ او بائع د هغې دعوه اوکړله.فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ يَوْمِ بَاعَهَا نو که هغې د شپږ میاشتو نه په کم کې بچې راوړلې وی.د کومې ورځې نه نې چې دا خرڅ کړې وو.فَهُوَ ابْنُ الْبَائِعِ نو بچې به د بائع خوې وی. وَأُمُّهُ أُمُّ وَلَدٍ لَهُ()اود بچی مور به دده ام ولده وی.وَيُفْسَخُ الْبَيْعُ نو بیع به ختمولې شی.

تشریح> نفس مسئله آسانه ده
دلیله> ځکه چې د ام ولد بیع جائز نه ده.

(وَيَرُدُّ الثَّمَنَ)اوس دې ثمن واپس کړی.

دلیله> ځکه چې ده په ناحقه وصول کړی دې.

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (١٨٣\١) وشرح المجلة (٥٠٠\٥) المادة (١٧٧١)نقلاً عن القول الراجح (١٨٠\٢)
[2]) القول الراجح هو قول الجمهور رحمهم الله كذا في تنوير الأبصار(٤٩٤\٤) ومنحة الخالق (٢٤٩\٧) وملتقى الأبحر (٢٨٨\٣) والهندية (١١٥\٤) ونتاج الأفكار(٢٧٤\٧) نقلاً عن القول الراجح (١٩١\٢، ١٩٢)

تشريح ◄ يو سړی يوه وينځه خرڅه کړله.هغې د بيع د وخت نه شپږ مياشتو نه کم کې بچی راوړلو.او بائع د بچی دعوه اوکړله.نودا بچی به استحساناً د بائع خوې وی.او وينځه به د هغه ام ولد وی.

وجه الاستحسان ◄ وجه د استحسان داده.چه د حمل قرار موندل،يو پټ امر دې.په دې وجه به د تناقض لحاظ نشی ساتلې.اود بائع په ملکيت کې دحمل ودريدل ددې خبرې دليل دې.چه بچې د بائع دې.ځکه چې ولادت د شپږ مياشتونه کم کې دې.او هرکله چې په مذکور طريقه د بائع دعوه صحيح وی. نودا به اصل علوق اړخ ته مستند وی.معلومه شوه.چه دا د ام ولد بيع کړې ده.نو بيع به ختمولې شی.ځکه چې د ام ولد بيع جائز نه ده.او ثمن واپس کول به ضروری وی.ځکه چې دا ده ناحق وصول کړې دې.

مسلک زفر ◄ د امام زفر او آئمه ثلاثه رحمهم الله په نيز د بائع دعوه باطل ده.د قياس تقاضا هم داده.

دليله ◄ ځکه چې د بائع وينځه خرڅول، ددې خبرې اقرار دې.چه هغه دده ام ولد نه بلکه وينځه ده.نود تيرشوی اقرار اود لاحق دعوه په منځ کې تناقض دې.نو دعوه به نشي اوريدلې.

(وَإِنِ ادَّعَاهُ الْمُشْتَرِي او که ددې دعوه مشتری اوکړله. مَعَ دَعْوَةِ الْبَائِعِ د بائع دعوه سره أَوْبَعْدَهَا يا ددې نه پس، فَدَعْوَةُ الْبَائِعِ أَوْلَى)نود بائع دعوه به اولی وی.

تشريح ◄ پوهيدل پکار دی.چه د خرڅې شوې وينځې نه کله بچی پيدا شی.نو ددې درې صورتونه دی.يا به د بيع د وخت نه شپږ مياشتو کې دننه پيدا وی.يا به دوه کالو نه په زيات کې پيدا وی.او يا به ددې دواړو مودو په منځ کې پيدا وی.په دې کې د هر يو بيا څلور صورتونه دی.يا به د بچی مدعی صرف بائع وی.يا به صرف مشتری وی.يا به دواړه يوځائې وی.يا به د يو بل نه روسته وی.نود ړومبی صورت بيان پورته ذکر کړې شو.

او که مشتری ددې بچی د نسب دعوه اوکړله.نو دده د دعوه به هيڅ اعتبار نه کيږی.که د بائع دعوه سره يوځائې ئې کړې وی.او که د هغه نه روسته ئې کړې وی.

دليله ◄ که د بائع دعوه د مشتری د دعوه نه وړاندې وی.بيا خو د هغه د دعوه وړاندې کيدل ښکاره دی.اوکه دا دعوه د مشتری نه روسته وی.نو دده لپاره دا د حمل وخت اړخ ته مستند دې.ځکه چې دا دعوه د استيلاد ده.چه دې کې فی الحال د قوت په وجه د ملکيت د قيام هم اړتيا نه وی.په خلاف د مشتری د دعوې،چه دا دعوه د تحرير ده.

ماشوم مړ کيدو باندې د بائع د ام ولد جوړيدو دعوی

(وَإِنْ مَاتَ الْوَلَدُ که بچی مړ شو. فَادَّعَاهُ الْبَائِعُ بيا بائع دعوه اوکړله. وَقَدْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ او وينځې دا (بچی) د شپږ مياشتو نه په کمه موده کې راوړلو. لَمْ يَثْبُتِ النَّسَبُ فِي الْوَلَدِ وَلَا الِاسْتِيلَادُ فِي الْأُمِّ)نو په وينځه کې به ام ولد نه ثابتيږی.

تشريح ◄ که د بچی انتقال اوشو.(حالانکه دا د بيع د وخت نه شپږ مياشتې کم باندې پيدا شوې وو) بيا بائع دده د نسب دعوه اوکړله.نو نه به استيلاد په ولد کېنې ثابتيږی اونه په مور کېنې.

دليله ◄ ځکه چې بچی ته د نسب اړتيا نشته.اود مور ام ولد کيدل ځکه نه ثابتيږی چې مور د ولد تابع ده.او بچی اصل دې.هرکله چې اصل کې نسب ثابت نشو.نو تابع کې به استيلاد هم نه ثابتيږی.،،لانه فرع النسب،،.

(وَإِنْ مَاتَتِ الْأُمُّ او که مور مړه شوه. فَادَّعَاهُ الْبَائِعُ بيا بائع دعوه اوکړله. وَقَدْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ

(ثُمَّ)او وينځې دا بچې د شپږ مياشتو نه په کمه موده کې راوړلو.(يَثْبُتُ النَّسَبُ مِنْهُ فِي الْوَلَدِ)نو نسب به بچي کې ثابتيږي.(وَأَخَذَهُ الْبَائِعُ)او بائع به دا اخلي.

تشريح که بائع د وينځې فوت کيدلو نه روسته د بچي متعلق دعوه اوکړي.که د بچي د مور يعنی وينځې انتقال اوشو.او ددې نه روسته بائع د بچي دعوه اوکړله.او بچې شپږ مياشتونه کم کې پيدا شوي وي.بيا به نسب ثابتيږي.

دليله ځکه چې آزادئ کې اصل بچې دې.مور نه ده.هم دا وجه ده.چه بچې مور ارخ ته منسوب کيږي.،.يقال ام ولد،، او وينځې ته هم آزادي په بچي سره حاصليږي. نبی کريم ﷺ فرمائيلي دي{أَعْتَقَهَا وَلَدُهَا}(۱) او هرکله چې بچې اصل شو.نو تابع يعنی د مور فوت کيدل به هيڅ مضر نه وي.

د مشتري په قبضه کښې د وينځې د بچي په مرګ د ثمن مسئله

(وَيَرُدُّ الثَّمَنَ كُلَّهُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ(۲))اوواپس کوی به پوره ثمن د امام ابوحنيفه رحمه الله په قول کې (وَقَالَا:)امام ابويوسف او امام محمد رحمهماالله فرمائی.(يَرُدُّ حِصَّةَ الْوَلَدِ) چې د بچي برخه به واپس کوی.(وَلَا يَرُدُّ حِصَّةَ الْأُمِّ)اود مور برخه به نه واپس کوی.

تشريح هرکله چې د مور د وفات نه روسته د بچي نسب ثابت شو.نو بائع به دا اخلي.اوس د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز بائع باندې پوره ثمن واپس کول واجب دی.

مسلک الصاحبين صاحبين رحمهماالله فرمائی.چه صرف د بچي د برخې (حصې) ثمن به واپس کوی.وجه داده.چه د بائع نه د بچي نسب ثابتيدلو سره دا خبره واضح شوه.چه ده خپله ام ولد خرڅه کړې وه.اود ام ولد بيع ناجائز ده.

بناء الاختلاف د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د ام ولد متقوم نه دې.نه په عقد بيع کې او نه په غصب کې .نو مشتری به ددې ضامن وی.يعنی هغه به د خپل کُل ثمن واپس اخستلو مستحق وی.د صاحبينو رحمهماالله په نيز ددې ماليت متقوم دې.نو مشتری به ددې ضامن وی.دا داسې اوګنړه.چه مثلاً مشتری مذکوره ام ولد د لس دينارو په عوض واخستله.اودا چې وينځه فرض کړې شی.نو ددې د قيمت اندازه پنځلس ديناره، او بچې چې غلام فرض کړې شی.نو دده قيمت لس دينار دې.نو مذکوره لس ديناره ثمن د وينځې او ددې د بچي په مقابله کې واقع شو.اود وينځې قيمت پنځلس ديناره اود بچي لس ديناره اندازه اوکړې شوه.نو لس ديناره ثمن ددې دواړو په مقابله کې داسې ويش شو.چه شپږ ديناره د وينځې په بدله کې ، او څلور ديناره د بچي په بدله کې شو.بيا چې مشتری بچې بائع ته واپس کړو.نو بائع به ددې بچي څلور ديناره واپس کوی.چه بدل او مبدل دواړه جمع نشي.او ام ولد چونکه مشتری سره مړه شوه.نو ددې شپږ ديناره بائع نه ساقط شو.اود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د وينځې په مړکيدلو سره په منزله د آزاد هيڅ نه ساقطيږي.

۱) تقدم تخريج في باب الإستيلاد)

۲) القول الراجح هو قول الإمام الأعظم رحمه الله كذا في تنوير الأبصار(٤\٤٩٤) وخلاصة الفتاوى (٤\١٠٥) والهندية (٤\١١٥) والزيلعي(٤\٣٣٠) نقلاً عن القول الراجح (٢\١٩٢)

په غبرګونی بچو کښې په یو د نسب دعوی سره د دوهم حکم

وَمَنْ ادَّعٰی نَسَبَ اَحَدِ التَّوْاَمَیْنِ چاچه په دوه غبرګونی بچو کې د یو د نسب دعوه اوکړله. یَثْبُتُ نَسَبُهُمَا مِنْهُ) نو په دې سره به د دواړو نسب ثابتیږی.

تشریح> د غبرګونی بچو په اړه کښې فرمائی. چه د یوسړی سره دده د وینځې نه جوړه (غبرګونی) یعنی دوه بچی د یوې خیټې (د یوحمل) نه پیدا شو. او هغه په دوی کې د یو د نسب دعوه اوکړله. نود دواړو نسب به ثابتیږی.

دلیله> ځکه چې دوی دواړه بچی د یوې نطفې نه پیدا شوی دی. نو هرکله چې د یو نسب ثابت شو. نود دوهم نسب ثابتیدل ضروری دی.

كِتَابُ الشَّهَادَاتِ

ترجمه> (دا) کتاب د شهادتونو (په بیان کښې) دې.

تشریح> د کتاب الدعوی او کتاب الشهادة کښې مناسبت دا دې چې په دعوی کښې اکثر د شهادت ضرورت وی. نوځکه چې په دعوی پسې د شهادت ذکر اوکړو. اوچونکه اول دعوی وی بیا د دعوې د ثابتولو دپاره د شهادت ضرورت راځی نو ځکه ئې کتاب الدعوی په کتاب الشهادات باندې مقدم کړو.

معنی الشهادة لغة وشرعاً> د شهادت لغوی معنی ده. د مشاهدې نه پس د څه څیز خبر ورکول. اود فقهاؤ په اصطلاح کښې د چا حق ثابتولو دپاره د قاضی په مجلس کښې په لفظ د شهادت سره د رشتیا خبرې د خبر ورکولو ده.

سبب تحملها> اود شهادت د تحمل سبب ددغه څیز مشاهده کول دی. د کوم څیز په باره کښې چه ګواهی ورکولې شی. یعنی کوم څیزونه چه په سترګو سره کتلې کیږی. په هغې کښې کتل ضروری دی. او کوم څیزونه چه په غوږونو سره اوریدلې شی. په هغې کښې اوریدل ضروری دی.

سبب أداءها> اود شهادت اداکولو سبب دادې چه یا خو دده مدعی ګواهی طلب کړی. او یا د مدعی د حق فوت کیدلو یره وی. خودا به هغه وخت وی. کله چه مدعی ته دده شاهد کیدل معلوم نه وی. اود شهادت شرط دادې چه شاهد کامل العقل وی. د شهادت یاد ساتلو صلاحیت وی. ولایت حاصل وی. اود مدعی او مدعی علیه په منځ کښې فرق کولو باندې قدرت حاصل وی. اوکه مدعی علیه مسلمان وی. نود شاهد مسلمان کیدل هم شرط دی.

رکنها> د شهادت رکن لفظ ،،اشهد،، دې. او ددې حکم د شاهدینو په نیز د تزکیه نه پس قاضی باندې د شهادت د مقتضی مطابق فیصله و اجبیدل دی.

اَلشَّهَادَةُ فَرْضٌ تَلْزَمُ الشُّهُوْدَ ګواهی داسې فرض دې. چه په ګواهانو باندې لازم ده. وَلَا یَسَعُهُمْ كِتْمَانُهَا اِذَا طَالَبَهُمُ الْمُدَّعِی اوکله چې مدعی ددوی نه مطالبه اوکړی. نود ګواهانو لپاره ددې د پټولو ګنجائش نشته.

حل اللغة> ① **تلزم**-لازمیږی- ② **یسع**-اجازت- ③ **کتمان**-پټول- ④ **طالب**-چه طلب اوکړی

تشریح> دشهادت ادا کولو دوه صورتونه دی په صورت کې فرض عین او په بل صورت کې فرض کفایه دې. که ګواهی ورکونکی که یو، دوه متعین سړی وی. نو ګواهی ورکول به فرض عین وی. اوکه د یر خلق

وي.نو فرض کفایه به وي.

دلائله> د شهادت په فرضیت باندې دا آیاتونه دلیل دی. ① ﴿وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُوا﴾ بقره) یعنی کله چې ګواهان راوُ غوښتلې شي.نو دوی دې انکار نه کوی.په آیت کې چونکه د مطالبې په وخت د انکار کولو نه منع فرمائیلې شوې ده.ځکه به د مطالبې په وخت د حاضریدلو امروی.او امرپه وجوب باندې دلالت کوی.نو شهادت ورکول به واجب او لازم وی

② ﴿وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ﴾ یعنی تاسو ګواهی مه پټوئ.په دې آیت کې د کتمان شهادت نه منع فرمائیلې شوې ده.اود کتمان شهادت نه منع کول مستلزم دی.د شهادت اظهار ته.اود شهادت اظهار نوم دې د شهادت اداکولو.نو هرکله چې کتمان شهادت ممنوع دې. نو اظهار شهادت یعنی شهادت اداکول به واجب وی.

③ ﴿وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ﴾ یعنی کوم کس چې ګواهی پټوی.د هغه زړه ګناهګار دې.په دې آیت کې په کتمان شهادت باندې وعید دې.اود وعید استحقاق چونکه د واجب په پریښودلو سره کیږی.ځکه به شهادت ادا کولو واجب وی.پاتې شوه داخبره چې په آیت کې خاص طور باندې قلب (زړه) ته ګناهګار ولې ونیلی شوی دی؟ نو ددې ځواب دادې.چه قلب رئیس الاعضاء دې.نو کله چې رئیس الاعضاء ګناهګار وی.نو نور اندامونه به په درجه اولی ګناهګار وی.

وجه اشتراط مطالبة المدعي> د مدعی طلب کول ځکه شرط دی.چه شهادت د مدعی حق دې.نود نورو حقونو پشان شهادت هم دده په طلب کولو باندې موقوف دی.یعنی لکه څنګه چې نور حقوق د مدعی په طلب کولو باندې موقوف دی.دغه ډول شهادت هم دده په طلب کولو باندې موقوف دی.

د ګواهئ شرعي حیثیت

وَالشَّهَادَةُ فِي الْحُدُودِ يُخَيَّرُ فِيهَا الشَّاهِدُ بَيْنَ السَّتْرِ وَالْإِظْهَارِ او په شهادت فی الحدود کې د ګواهئ پټولو او ښکاره کولو په منځ کې اختیار دې.

حل اللغة> ①**یخیر**-اختیار ورکولې شي-②**الستر**-پټیدل-③**الإظهار**-ښکاره کول-

تشریح> که یوکس په حدود کې ګواه وی.نوهغه ته اختیار دې.که غواړی.ګواهی دې ورکړی.اود مبتلی به عیب دې ښکاره کړی.اوکه زړه نې غواړی.ګواهی دې نه ورکوی.د هغه د عیب پرده پوشی دې اوکړی.

دلیله> ځکه چې ګواه په دواړه صورتونوکې د اجر او ثواب مستحق دې.په دې طریقه که ده ګواهی ورکړله.نود حد الهی قائمولو په وجه به مستحق د ثواب وی.اوکه ګواهی نې ورنکړله.نود یو مسلمان د پردې اخستلو نه د بچ کیدلو په وجه به د ثواب مستحق وی.بهرحال په دواړه صورتونوکې مستحق د ثواب دې.

وَالسَّتْرُ أَفْضَلُ خو پټول افضل دی.

تشریح> خود حدود په بدله کې ګواهانو ته اګرچه د ستر او اظهار(پټولو او ښکاره کولو) دواړو اختیار دې.خو ستر یعنی ګواهی نه ورکول افضل دی.

دلائله> ① دلیل دادې.چه هزال نومې سړی چې کله حضرت ماعز اسلمی رضی الله عنه د زنا په اقرار باندې راوُچت کړو.اوماعز د زنا اقرار اوکړو.او بیا دوی ته د رجم حکم اوکړې شو.نود الله تعالی رسول ﷺ هزال ته اوفرمائیل. (لو سترته بثوبك وفي رواية بردائك لكان خيراً لك) یعنی که تا ماعز پخپله کپړه یا خپل پټو

(څادر) سره پټ کړې وو. یعنی هغه دې د زنا په اقرار باندې نه تیارولو. (یعنی نه راضی کولو) نو ستا لپاره به غوره وه. ددې حدیث نه معلومیږی. چه د حدود په سلسله کې ګواهی نه ورکول افضل دی

④ د نبی کریم ﷺ ارشاد دې (من ستر علی مسلم ستر الله علیه فی الدنیا والآخرة) یعنی که یوکس د یو مسلمان پرده اوساتی. نو الله تعالی به په دنیا او آخرت کې دده پرده اوساتی. ځکه چې الله تعالی پخپله هم ستار دې. او ستر خوښوی.

③ د ستر په افضلیت باندې دا دلیل هم دې. چه د رسول الله ﷺ او ددوی د صحابو رضی الله عنهم نه د حدودو دفع کولو په سلسله کې تلقین منقول دې. یعنی دوی او ددوی صحابو رضی الله عنهم به حتی الامکان کوشش کولو. چه په کومه طریقه حد لرې شی. لکه د رسول الله ﷺ نه منقول دی. چه کله حضرت ماعز رضی الله عنه د زنا اقرار اوکړو. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل. تا به ښکل کړې وی. تا به کتلې وی. یعنی تا به مچې کول یا کتل د زنا خیال کړې وی. خو ددې تلقین باوجود چې کله ماعز رضی الله عنه د زنا اقرار کولو. نو هله رسول الله ﷺ د رجم حکم اوفرمائیلو.

إِلَّا أَنَّهُ يَجِبُ أَنْ يَشْهَدَ بِالْمَالِ فِي السَّرِقَةِ خودا چې په غلا کې د ګواه لپاره دمال ګواهی ورکول واجب دی. فَيَقُولُ: أَخَذَ الْمَالَ نووائی به مال ئې اخستې دې وَلَا يَقُولُ سَرَقَ او دا به نه وائی چې غلا ئې کړې ده

تشریح په حدودو کې ګواهی پټول افضل دی. خو په حد سرقه کې ګواهی کول اګرچه غوره دی. خود مال ګواهی ورکول واجب دی.

دلیله ځکه چې په ګواهئ ورکولو سره به د مسروق منه (د کوم کس مال چې پټ شوې وی) حق ژوندی ژوندې شی

په حدود کښې د ګواهانو لپاره د ګواهئ د پټولو حکم

وَالشَّهَادَةُ عَلَى مَرَاتِبَ: د شهادت یو څو مرتبې دی. مِنْهَا الشَّهَادَةُ فِي الزِّنَا يُعْتَبَرُ فِيهَا أَرْبَعَةٌ مِنَ الرِّجَالِ په هغې کې یو د زنا شهادت دې. په زناکې د څلور سړو شهادت معتبر دې.

حل اللغة ①**مراتب**-درجې-②**یعتبر**-معتبرولې شی معتبر دی-③**اربعة**-څلور-④**الرجال**-جمع د رجل ،سړې

تشریح امام قدوری رحمه الله فرمائی. چه د شهادت یوڅو مرتبې دی. ① شهادت فی الزنا په دې کې د څلورو سړو ګواهی معتبر ده.

دلیله ځکه د الله تعالی ارشاد دې. (وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ) یعنی هغه ښځې چې بدکاری اوکړی. په هغوی باندې د خپلو نه څلور سړی ګواهان راوله. په دې آیت کې لفظ د (أَرْبَعَةً) د څلور په عدد اود ګواهانو په مذکر کیدلو کې نص دې. د څلور په عدد باندې نص کیدل خو ښکاره دی. اود ګواهانو په مذکر کیدلوکې ځکه نص دې. چه لفظ د (أَرْبَعَةً) مونث دې. اود عربی قاعدې په اعتبار سره د دریو نه نهو پورې یعنی د ثلاثه نه تسعة پورې عدد که مذکر وی. نو معدود مونث راځی. او که عدد مونث وی. نو معدود مذکر وی. دلته په آیت کې چونکه لفظ د (أَرْبَعَةً) مونث دې. ځکه به ددې معدود مذکر وی. نو ثابته شوه. چه د زنا ثابتولو لپاره د څلور سړو ګواه کیدل ضروری دی.

وَلَا تُقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ النِّسَاءِ او په زناکې د ښځو ګواهی قبول نه ده.

تشریح ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی. په زنا کې به د ښځو ګواهي نه قبلیږي.

دلائل ① دلیل د زهری حدیث دی. یعنې رسول الله ﷺ او ددوی نه روسته صدیق اکبر او فاروق اعظم رضي الله عنهما د زمانې نه دا سنت جاری دی.چه په حدودو او قصاص کې د ښځو ګواهي معتبر نه ده. ([1])

② په زنا کې د ښځو د ګواهۍ په نه معتبر کیدلو باندې عقلي دلیل دادی.چه د ښځو په ګواهۍ کې د بدلیت شبه ده.اود بدلیت شبه څکه ده. چې د ښځو ګواهي د سړو د ګواهۍ قائم مقام وی.لکه چې د الله تعالی ارشاد دی. ﴿وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ ۖ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ﴾ او ګواه کړئ دوه شاهدان د خپلو سړو نه بیا که نه وی.دوه سړی نو یو سړې او دوه ښځې ، ، اوګورئ.الله تعالی اوفرمائیل.که دوه سړی نه وی.نو یوسړې او دوه ښځې به ګواهي ورکوی. معلومه شوه. چې ښځې په ګواهي ور کولو کې اصل نه دی.بلکه د سړو په غیرموجودګۍ کې ددوی قائم مقام کیدای شي.

د شهادت مراتب او په زناکښې د ګواهانو تعداد

وَمِنْهَا الشَّهَادَةُ بِبَقِيَّةِ الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ او ددې نه په باقی حدودو او قصاص کښې شهادت دی. تُقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ چه په دې کښې د دوه سړو ګواهي قبلیږي.

تشریح د شهادت دویمه مرتبه حد زنا نه علاوه نور حدود مثلاً حد قذف، حدشرب خمر،او حدسرقه او قصاص کښې شهادت دی.چه د حد زنا نه علاوه په نورو حدودو او قصاص کښې د دوه سړو شهادت معتبر دی.

دلیله دلیل د الله تعالی قول .﴿وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ﴾ دی.په آیت کښې د ﴿شَهِيدَيْنِ﴾ تثنیه صیغه د ګواهانو په دوه کیدلو باندې او﴿مِن رِّجَالِكُمْ﴾ لفظ د ګواهانو په مذکر(یعنی سړی) کیدلو باندې دلالت کوی.علامه مرغیناني رحمه الله فرمائی.چه د حد زنا نه علاوه په حدودو او قصاص کښې هم د ښځو ګواهي غیر معتبر ده.دلیل د زهری حدیث اود بدلیت شبه ده.چه ددې تقریر د تیره شوې تشریح لاندې تیر شوې دی.

په باقي حقوقو کښې د ګواهانو تعداد

وَمَا سِوَى ذٰلِكَ مِنَ الْحُقُوقِ يُقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ اود حدودو او قصاص نه علاوه په نورو حقوقو کښې د دوه سړو ګواهي یاد یو سړی اود دوه ښځو ګواهي مقبول ده. سَوَاءٌ كَانَ الْحَقُّ مَالًا أَوْ غَيْرَ مَالٍ برابره (خبره) ده.که دغه حق مال وی. مِثْلُ النِّكَاحِ وَالطَّلَاقِ وَالْوَكَالَةِ وَالْوَصِيَّةِ او که غیرمال وی.لکه نکاح، طلاق، وکالت، وصیت،

تشریح د شهادت دریمه مرتبه داده.چه د حدودو او قصاص نه علاوه په نورو حقوقو کښې د دوه سړو ګواهي یاد یو سړی اود دوه ښځو ګواهي معتبر ده.هغه حق که د مال د قبیلې څخه وی.لکه بیع،اوکه د غیرمال قبیلې څخه وی.لکه نکاح، طلاق، وکالت، وصیت، عتاق، رجعت،او نسب.([2])

---

(۱)من روایة الزهری أخرجه ابن ابی شیبة فی مصنفه کذا فی نصب الرایة (۱۶٤\٤)۔

(۲) **مسلک الشافعي**:- حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه د ښځو شهادت سرو سره په هیڅ معامله کښې معتبر نه دی.سوائې د اموال او ددې د توابع نه (چه په دې کښې قبلیږي) یعنی مال او ددې توابع

دلیله> دلیل دادې.چه د ښځو په ګواهئ کښې اصل دادی.چه قبول شی.خکه چه په کومو ځیزونو باندې د شهادت د اهلیت مدار دې.(یعنی مشاهده، ضبط، او اداء) هغه ځیزونه په ښځو کښې موجود دی.او په دې ځیزونو باندې د شهادت د اهلیت مدار خکه دې.چه د مشاهدې په ذریعه به ګواه ته د هغه ځیز علم وی.د کوم ځیز په باره کښې چه ګواهی ورکوی.او ضبط یعنی په ښه غور سره اوریدلو، پوهیدلو،او محفوظ کولو په وجه به د شهادت اداکولو پورې علم باقی پاتې وی.اود شهادت اداکولو په وجه به قاضی ته علم کیږی.نو هرکله چه په ښځوکښې هغه ځیزونه موجود دی.په کومو چه د شهادت د اهلیت مدار دې.نود ښځو شهادت به قبلولې شی.خکه چه د ښځو په ګواهئ کښې اصل دادی.چه قبول شی.په دې وجه احادیثوکښې د ښځې خبر ورکول یعنی روایت کول معتبر دی.او محدثین د ښځو روایت کړې شوی احادیث قبلوی هم.نوهرکله چه په احادیثوکښې د ښځې خبر ورکول معتبر دی.نو ددوی شهادت به هم معتبر وی.

د ښځې د ګواهئ معتبر کیدلو مواقع

وَتُقْبَلُ فِي الْوِلَادَةِ وَالْبَكَارَةِ وَالْعُيُوبِ بِالنِّسَاءِ فِي مَوْضِعٍ لَا يَطَّلِعُ عَلَيْهِ الرِّجَالُ شَهَادَةُ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ فرمائی.او په ولادت، بکارت، اود ښځو د داسې ځایونو په عیبونو کښې چه په هغې باندې سړې نشی خبریدلې.د یوې ښځې ګواهی به قبلولې شی.

حل اللغة>الولادة: پیدائش،**البکارة:** هغه پیغله چه وطی شوې نه وی **الرجال:** جمع د رجل،سړې

تشریح> د شهادت خلورمه مرتبه داده.چه په ولادت، بکارت، اود ښځو په بدن باندې داسې مخفی (او پټ) عیبونه چه په هغې باندې صرف ښځې خبریدلې شی.او سړی نشی خبریدلې.په هغې کښې د یوې ښځې شهادت کافی دې.(۱)

دلائله> ① دلیل دا حدیث دې.(قال رسول الله ﷺ شهادة النساء جائزة فیما لایستطیع الرجل النظر الیه) (۱) یعنی د ښځو شهادت په هغه ځیزونو کښې جائز دې.کوم ځیزونه چه سړی نشی کتلې.

② عقلی دلیل دادې.چه په ولادت وغیره ځیزونوکښې د ګواه مذکر او سړی کیدلو قید خکه ساقط شوې دې.چه ښځې طرف ته کتل کم ازکم وی.خکه چه ښځې طرف ته کتل حرام دی.اود ښځې ښځې طرف ته کتل د سړی د کتلو په نسبت خفیف دی.یعنی د سړی ښځې طرف ته کتل چه خومره غلیظ او بد دی.د ښځې ښځې طرف ته کتل دومره غلیظ او بد نه دی.اودا خبره خکه ده.چه ښځې طرف ته په کتلو سره کتونکې ښځه کښې شهوت کم راوچتیږی.خوکه کتونکې سړې وی.نو په هغه کښې شهوت زیات راوچتیږی. خکه د سړی ښځې طرف ته د کتلوپه مقابله کښې د ښځې ښځې طرف ته کتل اخف دی.نو هرکله چه ښځې طرفته کتل خفیف اومعمولی کیدلوپاره په ګواهانو کښې د مذکرکیدلوشرط ساقط کړې شو.نو هم ددې مقصد په لحاظ د عدد شرط هم ساقط کړې شوې دې.خکه چه ښځې طرف ته د یوې ښځې په کتلوکښې تخفیف دې.په نسبت د دوه یا څلورو ښځو د کتلو.یعنی ښځې طرف ته د

ځیزونه یعنی اعاره، اجاره، کفاله، میعاد،او شرط خیار وغیره کښې د ښځو ګواهی د سړو سره معتبر ده. امام مالک ﷫ هم ددې قائل دې.اویو روایت د امام محمد ﷫ هم دادې.

(۱) **مسلک الشافعي:**- د حضرت امام شافعی ﷫ په نیز د څلورو ښځو شهادت ضروری دې.

(۱) غریبه الزیلعي ثم قال روی عبدالرزاق فی مصنفه ... عن الزهری قال مضت السنة علی ان تجوز شهادة النساء فیما لا یطالع علیه غیرهن من ولادة النساء وعیوبهن (نصب: ۱۶۵\۴)-

يوې ښځې کتل خفيف دی.اود يوځو (د يو نه د زياتو) ښځو کتل

په ګواهئ کښې د عدالت اود لفظ شهادت حيثيت

وَلَابُدَّ فِي ذٰلِكَ كُلِّهٖ مِنَ الْعَدَالَةِ وَلَفْظَةِ الشَّهَادَةِ، اود شهادت په ټولو صورتونو کښې عدالت او لفظ شهادت ضروری دي. فَإِنْ لَمْ يَذْكُرِ الشَّاهِدُ لَفْظَةَ الشَّهَادَةِ وَقَالَ أَعْلَمُ أَوْ أَتَيَقَّنُ لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُ نوکه شاهد لفظ د شهادت ذکر نکړو.او وې وئيل.چه زه خبر يم.يا زه يقين کوم.نو دده شهادت به نه قبليږی.

تشريح په شهادت کښې عدل دادې.چه انسان د کبائرو(غټو ګناهونو) نه ځان ساتی.په صغائرو (ورو ګناهونو) باندې مصر نه وی.دده صلاح دده د فساد نه زياته وی.او دده صواب (صائب الرائي کيدل) دده د خطاء نه زيات وی.بهرحال ابو الحسين قدوری رحمه الله فرمائی.چه د شهادت په ټولو انواعو کښې د ګواهانو عادل کيدل شرط دی.او لفظ د شهادت شرط دې.يعنی ګواه به د شهادت په وخت دا وائی.چه،،زه شهادت ورکوم، يا زه ګواهی ورکوم،، ترديې که د ګواهئ په وخت ګواه اووئيل.چه ماته علم دې.يا زه يقين کوم.نو په دې مقدمه کښې به دغه وخت دده ګواهی نه قبليږی.

دليل اشتراط لفظ العدالة .چه د ګواه عادل کيدل خو ځکه شرط دی.چه① الله تعالی فرمائيلی دی. ﴿مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ﴾ يعنی،، دوه ګواهان کړئ د هغه خلقو نه چه تاسو نې خوښوئ په ګواهانو کښې،، حاصل داچه ګواه به خلقو کښې خوښ سړې وی.اودا ښکاره ده.چه فاسق به خلقو کښې خوښ نه شمارلې کيږی.نو ددې آيت نه معلومه شوه.چه شاهد فاسق سړې نه وی.بلکه دده عادل کيدل ضروری دی.

دلائل اشتراط لفظ الشهادة ① دالله تعالی ارشاد دې. ﴿وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ﴾ دلته په دې آيت کښې الله تعالی لفظ د شهادت ذکر کړې دې.نو د دې نه به عدول نشی کولې.

② د نبی کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد دې.(اذا علمت مثل الشمس فاشهدوا الا فدع) يعنی که تاته د يوې خبرې علم د نمر پشان واضح (اوښکاره) طور باندې اوشی.نو ګواهی ورکړه.ګنې دا پريږده.نو هرکله چه د ګواهئ په سلسله کښې نصوص د قرآن او نص د حديث په لفظ د شهادت سره صراحة ناطق دی.نود ګواهئ په باب کښې د لفظ شهادت په ځائې به بل هيڅ لفظ استعمالول صحيح نه وی.

د ګواهانو لپاره د عدالت معيار

قَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ: يَقْتَصِرُ الْحَاكِمُ عَلٰى ظَاهِرِ عَدَالَةِ الْمُسْلِمِ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.چه د مسلمان په حق کې به حاکم په ظاهری عدالت باندې اکتفاء کوی.

تشريح په دې خبره د ټولو امامانو اتفاق دې.چه د ګواهانو عادل کيدل ضروری دی.خو ددې اتفاق نه روسته حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.چه کله مدعی د قاضی په عدالت کې ګواه پيش کړی.او مدعی عليه په ګواهانو باندې څه طعن اونکړی.يعنی دا اونه وائی.چه د مدعی ګواه دروغجن دی،يا غلامان دی،يا غيرمسلم دی،يا محدود فی القذف دی.يعنی په ګواهانو کې څه داسې نقص بيان نکړی.چه د هغې په وجه د هغوی شهادت مردود شی.نو قاضی به مسلمانانو ګواهانو کې ددوی په ظاهری عدالت باندې اکتفاء اوکړی.يعنی دوی به عادل اوګرځوی.ددوی د عدالت او ديانت په اره کې به تفتيش (او معلومات) نه کوی.

دلائله ① دليل دا حديث دي. {اَلْمُسْلِمُوْنَ عُدُوْلٌ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ، اِلَّا مَحْدُوْدًا فِي قَذْفٍ}[1] يعنى تمام مسلمانان عادل دى.د يو بل په خلاف حجت دى.سوا د محدود في القذف نه.يعنى د محدود في القذف گواهى د هيڅ مسلمان خلاف حجت نشي کيدي.

② عقلي دليل دادي.چه د مسلمان ښکاره حال دادي.چه هغه د هريو داسي فعل نه کوم چي دده په دين کي حرام دي.مثلاً د دروغ ويلو څخه به پرهيز کوی.او هم په دي ظاره حال به اکتفاء کولي شي.ځکه چي قطعي او يقيني طور باندي دگواهانو عادل کيدل نشي معلوميدلي.نوکه قاضى د مزکى يعنى د تعديل کونکى نه د گواهانو د حال معلومات اوکړو.او هغه گواه عادل اوخودل.نو بيا هم دده د عادل کيدلو قطعي يقين نشي کيدلي.سوا دديَ نه چي دا اوويلي شي.چه تعديل کونکي مزکى به په ښکاره دروغ نه وائي.نو لکه ځنګه چي د تعديل کونکى په اړه کي دا گمان اوکړي شو.چه هغه به دروغ نه وائي.دغه ډول پخپله د گواه په نسبت دا گمان کيداي شي.چه دا مسلمان به دروغ نه وائي.نوپه دي ظاهرى عدالت باندي اکتفاء کول کافي ده.

.اِلَّا فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ فَاِنَّهُ يَسْأَلُ عَنِ الشُّهُوْدِ خو په حدودو او قصاص کي .چه (په دي کي به) د گواهانو حال به معلوموى.

تشريح ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائي.که په حدودو او قصاص کي مسلمان گواه گواهى ورکړى.نو قاضى به ددوى په ظاهرى عدالت اکتفاء نه کوى.که مدعى عليه طعن اوکړى.يا طعن اونکړى.بلکه ددوى عدالت دي معلوم کړى.يعنى د ديانت او امانت په سلسله کي دي ددوى حال معلوم کړى.

دلائله ① دليل دادي.چه قاضي چونکه د حدودو اوقصاص ساقطولو بهانه لټون کولوکي د شريعت اړخه مکلف دي.ځکه به د گواهانو د عدالت په سلسله کي په پوره طور باندي تفتيش او تحقيق کول شرط وى.چه يوه داسي خبره ښکاره شي.چه په هغي سره حد ساقط شي.

② دوهم دليل دادي.چه د گواهانو په ظاهرى عدالت باندي د اکتفاء کولو په صورت کي ددوى د غيرعادل کيدلو شبه باقي کيږى.او په حدودو کي شبه پيدا کيدل حدود ساقطوى.نود حدودو ثابتولو لپاره به د گواهانو په ظاهرى عدالت باندي اکتفاء کول صحيح نه وى.بلکه د گواهانو دحال معلومات کول به ضرورى وى.

وَاِنْ طَعَنَ الْخَصْمُ فِيْهِمْ يَسْأَلُ عَنْهُمْ اوکه مدعى عليه په گواهانو کي طعن اوکړو.نو په پټه اوپه ښکاره به د دغه گواهانو په اړه کي معلومات کوى.

تشريح او که د حدودو او قصاص نه علاوه د نورو معاملاتو په گواهانو کي مدعى عليه طعن (او ملامته) اوکړه. يعنى څه داسي نقص ئي بيان کړو.چه په هغي سره د گواهانو گواهى مردود کيږى.نو په داسي صورت کي به قاضى خفيه او علانيه(په پټه او په ښکاره) دواړه شان د گواهانو د عدالت معلومات کوى.

دليله ځکه چي دلته کي دوه ظاهر معارض او مقابل شوى دى.يو ظاهر خو دادي.چه دا گواهان به دروغجن نه وى.او دوهم ظاهر دادي.چه مدعى عليه به پخپل طعن کي دروغجن نه وى.يعنى د مسلمان کيدلو په وجه د گواهانو ظاهر ددي خبري تقاضا کوى.چه گواه پخپله گواهئ کي دروغجن نه

(۱) من حديث عمروبن شعيب عن ابيه عن جده ﷺ اخرجه ابن أبي شيبة فى مصنفه فى البيوع (نصب:۴\۱۶۷)۔

وي.او ددوی په ګواهئ باندې د مدعی په حق کې فیصله اوکړې شي.اود مدعی علیه ظاهر ددې خبرې تقاضا کوی.چه مدعی علیه پخپل طعن کې دروغجن نه وی.او ددې طعن په وجه د ګواهانو ګواهی معتبر نه وی.نو هرکله چې دوه ظاهر معارض او مقابل شو.نو یو اړخ ته ترجیح ور کولو لپاره به قاضی د ګواهانو د حال معلومات کوی.نوکه د تحقیق او تفتیش نه روسته که د ګواهانو عادل کیدل ثابت شو.نود ګواهانو ظاهر ته به ترجیح حاصل وی.او که ددوی عادل کیدل ثابت نشو.بلکه د مدعی علیه ذکر شوی طعن ثابت شو.نود مدعی علیه ظاهر ته به ترجیح حاصل وی.

وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ :او امام ابویوسف او امام محمد رحمهماالله فرمایي لَابُدَّ أَنْ يَسْأَلَ عَنْهُمْ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ()چه په حقونو کې په پټه او په ښکاره د ګواهانو عدالت معلومات کول ضروری دی.

تشريح حضرت امام ابویوسف او امام محمد رحمهماالله فرمائی.چه په ټولو حقوقوکې خفیه او علانیه د ګواهانو حال معلومول ضروری دی.که مدعی علیه په ګواهانو باندې طعن کړې وی.اوکه طعن نه وی کړې.امام احمد او امام شافعی رحمهماالله هم ددې قائل دی.امام مالك رحمه الله فرمائی.که ګواه په عدالت یعنی په دیانت او امانت او صداقت کې په خلقو کې مشهور وی.نو قاضی به ددوی د حال معلومات نه کوی.اوکه ددوی جرح مشهور وی.یعنی په داسې شئ سره مشهور وی.چه د هغې په وجه ګواهی ردکیږی.نو په داسې صورت کې به د هغوی ګواهی ردکولې شي.او که ددوی عدالت او جرح مشکوك وی.نو قاضی به ددوی د حال معلومات کوی.

دلائلهما د صاحبینو رحمهماالله ① دلیل دادې.چه د قاضی د فیصلې دارومدار په حجت باندې دې.او حجت نوم دې د عادل ګواهانو د شهادت،اود ګواهانو د عدالت حکم چونکه د قاضی د معلومات کولو نه روسته کیږی.په دې وجه قاضی باندې د ګواهانو د عدالت او دیانت په اره کې معلومات کول ضروری دی.

② دوهم دلیل دادې.چه د ګواهانو د حال معلوملو په صورت کې د قاضی فیصله باطلیدلو نه محفوظ کیږی.په دې طریقه که قاضی د ګواهانو حال معلوملو نه بغیر څه فیصله ورکړله.او روسته د ګواهانو غلام کیدل، یا کافر کیدل،یا محدود فی القذف کیدل، ښکاره شو.نود قاضی دا فیصله به باطل وی.اوکه د حال معلوملو نه روسته ئې فیصله ورکړله.نو ددې فیصلې باطلیدلو نوبت(مهلت) به نه راځی.اود قاضی فیصله د امکان حده پورې د باطلیدلو نه محفوظ کول ضروری دی.نود قاضی فیصله د باطلولو نه د بچ کولو لپاره د ګواهانو حال معلومول ضروری اوګرځولی شو.

القول المفتي به علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې فرمائی.چه بعض مشائخو فرمائیلی دی.چه د حضرت امام صاحب اود صاحبینو رحمهم الله په منځ کې د ګواهانو په ظاهری عدالت باندې د اکتفاء کولو او نه کولو په اره کې چې کوم اختلاف دې.دا په هیڅ حجت او برهان (دلیل) باندې مبنی نه دې.بلکه دا د زمانې اختلاف دې.یعنی امام ابوحنیفه رحمه الله د ګواهانو په ظاهری عدالت باندې د اکتفاء کولو حکم په هغه زمانه کې ورکړې دې.په کومه زمانه کې چې د صلاح او نیکئ غلبه وه. خلقو به په عامه توګه (عام

() القول الراجح هو هذا قول الصاحبين رحمهما الله كذا في فتح القدير(٦\٤٥٨) وردالمحتار(٤\٤١٤) والهندية (٣\٤٥٠) والبحرالرائق (٧\٦٣) نقلاً عن القول الراجح (٢\١٣٠)۔

طور) رشتیا وئیل.رسول الله ﷺ د هغه زمانې د ښه کیدلو شهادت ورکړې دې.لکه چې فرمائیلي ئې دي (خیر القرون قرني ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم ثم یفشوا الکذب) په دې حدیث کې د الله رسول ﷺ درې زمانو (عهدصحابه،عهد تابعین، عهد تبع تابعین) ته ښه وئیلي دي.اود څلورم عهد په اړه کې ئې اوفرمائیل.چه په دغه زمانه کې به دروغ زیات وي.دروغ وئیل به عام وي. خلق به دروغ عقلمندي (هوښیارتوب) او سیاست ګڼړي.حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله چونکه د قرن ثاني او ثالث په خلقو کې دې.څکه حضرت امام صاحب رحمه الله د خیر د غلبه په وجه د ګواهانو په ظاهري عدالت باندې اکتفاء کړې ده.او صاحبین رحمهما الله چونکه د قرن رابع په خلق وکې دي.څکه دوی د غلبې د شر اود کذب او دروغ عام کیدلو په وجه په ظاهري عدالت باندې اکتفاء نه اونکړله.بلکه د ګواهانو د حال تحقیق او تفتیش ئې ضروري ګرځولې دې.

علامه مرغیناني رحمه الله فرمائیلي دي .چه په دې زمانه کې فتوی د صاحبینو رحمهما الله په قول ده.څکه چې په دې زمانه کې عوام خو لاڅه کوې،خواص هم د دروغ وئیلو او کذب نه محفوظ نه دي.په دې وجه د ګواهانو د رشتیا یا دروغجن کیدلو تحقیق او تفتیش ضروري او ګرځولې شو.د ګواهانو د تزکیه او تعدیل کولوحکم

ګواهي اود ګواهۍ اداکولو بیان

وَمَا يَتَحَمَّلُهُ الشَّاهِدُ عَلَى ضَرْبَيْنِ: فصل:ګواه چې د کوم شئ ګواهي اوچتوی(برداشت کوی).په دوه قسمه دی. أَحَدُهُمَا مَا يَثْبُتُ حُكْمُهُ بِنَفْسِهِ په هغې کې یو هغه دې.چه د هغې حکم پخپله ثابتیږي. مِثْلُ الْبَيْعِ وَالْإِقْرَارِ وَالْغَصْبِ وَالْقَتْلِ وَحُكْمِ الْحَاكِمِ، لکه بیع، اقرار، غصب، قتل،اود حاکم حکم. فَإِذَا سَمِعَ ذَلِكَ الشَّاهِدُ أَوْ رَآهُ وَسِعَهُ أَنْ يَشْهَدَ بِهِ نوهرکله چې دا ګواه واوریدل.یا اوکتل.نود هغه لپاره جائز دی.چه هغه ګواهي ورکړي. وَإِنْ لَمْ يُشْهَدْ عَلَيْهِ اګرچه هغه په دې معامله باندې ګواه نه وی جوړشوې.

حل اللغة ① **يتحمل** -اوچتوی- ② **ضربين** -تثنیه د ضرب قسم-

تشريح د کومو څیزونو چې ګواه جوړیدلې شي.دهغې دوه قسمونه دي. ① یو هغه چې دهغې حکم پخپله ثابتیږي.په هغې کې د ګواه جوړولو ارتیا نه پیښیږي.لکه بیع، اقرار، غصب، قتل،اود حاکم حکم.نو هرکله چې ګواه یو مسموع (اوریدونکې) شئ واوریدلو. لکه بیع، اقرار،اود حاکم حکم.یا کوم مبصر (د کوم تعلق چې د کتلو سره وي) شئ اوکتلو.مثلاً غصب او قتل.نو ګواه لپاره صرف په اوریدلو یا صرف په کتلو ګواهي ورکول جائز دی.اګرچه دې ګواه نه وی جوړ کړې شوې.

دلائله ① دلیل دا دې چې ګواه ته په اوریدلو یا په کتلو د هغه شئ علم شوې دې.کوم چې پخپله موجب دې.نو دده لپاره شهادت اداکول جائز کیږي.څکه چې علم (معلومیدل)کوم چې د ادائې شهادت د جواز رکن دې.هغه اومونده شو.او علم د شهادت ادا کولو د جواز رکن څکه دې.چه الله تعالی فرمائیلي دي. (إِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ) یعني کوم خلق چې د حق نه خبر وي د حق ګواهي ورکوي.د آیت نه معلومه شوه.چه د ګواهۍ لپاره علم (خبریدل) ضروري دي.

۲ رسول الله ﷺ فرمانیلي دي. إِذَا عَلِمْتَ مِثْلَ الشَّمْسِ فَاشْهَدْ وَإِلَّا فَدَعْ (۱) یعني کله چې ته لمر پشان پوهه شې.نو ګواهي ورکړه.ګني پرېږده.حاصل داچه کله چې یوکس ته د څه شئ په اړه کې یقیني علم حاصل شي.نو دده لپاره ګواهي ورکول جائز دي.او که علم نه وي.نو ګواهي ورکول جائز نه دي.بهرحال ددې حدیث نه معلومه شوه.چه د ګواهۍ لپاره د هغه شئ نه خبرېدل ضروري دي.د کوم ګواهي چې ورکولې شي.

په روښې قسم کښې د ګواهۍ اداکولو الفاظ

وَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ بَاعَ ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه دا ګواه به داسې وائي.چه زه ګواهي ورکوم.چه ده خرڅ کړي دي. وَلَا يَقُولُ أَشْهَدَنِي او داسې به نه وائي.چه ده زه ګواه جوړکړې یم.

تشریح> صورت د مسئلې دادې.که یوکس د بل سړي نه داسې خبره واوریدله.کومه چې د مسموعاتو د قبیلې څخې ده.مثلاً خرخول، اخستل، یا اقرار کول.او چا ده لره په دې باندې ګواه هم جوړ نکړو.خود ګواهۍ ارتیا پېښ شو.نودا ګواه (اوریدونکې) به د ګواهۍ ورکولو په وخت داسې وائي.چه زه ګواهي ورکوم.چه ده خرڅ کړي دي.یا ده اخستي دي.یا ئې د فلاني لپاره خپل خان باندې د دومره رقم اقرار کړي دي.او داسې به نه وائي.چه ده زه ګواه جوړکړې یم.

دليله> ځکه چې دا بالکل دروغ دي.او دروغ ځکه دي.چه ده لره هیڅ چا ګواه نه دې جوړکړې.بلکه د مدعی علیه کلام اوریدلو سره دې پخپله ګواه جوړشوې دې.

دوهم قسم د ګواهۍ پخپله ثابتېدل

وَمِنْهُ مَا لَا يَثْبُتُ الْحُكْمُ بِنَفْسِهِ او په دې کې یو دول هغه دې.چه د هغې حکم پخپله ثابت نه وي. مِثْلَ الشَّهَادَةِ عَلَى الشَّهَادَةِ لکه په ګواهۍ باندې ګواهي ورکول. فَإِذَا سَمِعَ شَاهِدًا يَشْهَدُ بِشَيْءٍ لَمْ يَجُزْ لَهُ نوکله چې یوکس د یو ګواه نه واوریدل.چه هغه د یوڅیز ګواهي ورکوي.نو دده لپاره جائز نه دي. أَنْ يَشْهَدَ عَلَى شَهَادَتِهِ إِلَّا أَنْ يُشْهِدَ چې دې دهغه په ګواهۍ باندې ګواهي ورکړي.مګر داچه هغه دې پخپله ګواهۍ باندې ګواه جوړکړي.

تشریح> په ذکرشوي قسمونو کې دوهم دول هغه دې.چه دهغې حکم پخپله نه ثابتېږي.بلکه په هغې کې د ګواه جوړولو ارتیا پېښېږي.لکه، شهادة على الشهادة، چه ترکومه پورې اصلي ګواه پخپله ګواهۍ باندې ګواه جوړ نکړي.تر هغه وخته پورې شهود فرع لپاره د ګواهۍ ورکولو حکم نه ثابتېږي.نوکه یو کس مثلاً زید دګواه مثلاً د بکر نه د قاضي د مجلس نه علاوه کې واوریدل.چه بکر ددې خبرې ګواهي ورکوي.چه د خالد په حامد باندې یو زر درهم پور دي.نو شاهدفرع یعني زید لپاره دا جائز نه دي.چه دې د خالد په حامد باندې د یو زر درهمو قرضه کېدلو ګواهي ورکړي.البته که شاهد اصل یعني بکر دې پخپله ګواهۍ باندې ګواه جوړکړي.نو ددې شاهد فرع یعني زید لپاره ګواهي ورکول جائز نه دي.

دليله> ددې دلیل دادې.چه د اصول شهادت پخپله حکم نه واجبوي.نود بکر صرف ګواه کېدلو سره حامد باندې پور نه واجبېږي.بلکه د اصول (اصل ګواهانو) شهادت هغه وخت حکم واجبوي.کله چې

---

(۱)من حديث ابن عباس اخرجه البيهقي في السنن الكبرى (۱۰\۲۵۲ _ رقم ۲۰۵۳۷) والحاكم في المستدرك في كتاب الأحكام)_

اصول خپل شهادت د قاضي مجلس ته منتقل کړي.بهرحال د اصل شهادت پخپله موجب د حکم نه دي.نوهرکله چې د اصول شهادت پخپله موجب د حکم نه دي.بلکه موجب د حکم جوړولو لپاره ددې د قاضي په مجلس کې نقل کول ضروري دي.نود اصول (اصل ګواهانو) لپاره ضروري دی.چه دوی په فروع باندې د شهادت بوج واچوی.اود شهادت په ادا کولو کې دوی خپل نائب مقرر کړي.چه فروع د اصول شهادت د قاضي په مجلس کې نقل کړي.

او ددې وجه داده.چه د فروع ګواهي ورکول د اصول په حق کې تصرف کول دي.په دې طور چې د مشهود عليه (مدعی علیه) خلاف قول نافذ کيدلوکې اصول ته ولايت حاصل وو.يعنې اصول ته دا ولايت حاصل وو.چه دوی خپل قول (ګواهي) د مشهود عليه خلاف نافذ کړي.خوکله چې فروع د اصول د اړخه ګواهي نقل کړله.نو ګويا فروع د اصول هغه ولايت زائل کړو.کوم ولايت چې د اصول لپاره ثابت وو.اودا خبره منلې شوې ده.چه چا له د چا ولايت او حق د هغه د رضامندئ نه بغير زائل کول جائز نه دي.نود شهود فرع د شهادت لپاره به هم د اصول رضامندي ضروري وي.اود اصول رضامندي داده.چه اصول فروع د خپل اړخه شاهد او نائب مقرر کړي.نود متن په فرض شوې مسئله کې د اصول د اړخه په فروع باندې د شهادت بوج اچول (شاهد جوړول) اومونډې شو.اونه نائب مقرر کول اومونډې شو.په دې وجه د فروع صرف د اصول ګواهي اوريدلو سره ګواهي ورکول جائز نه ده

وَكَذٰلِكَ لَوْسَمِعَهُ يُشْهِدُ الشَّاهِدَ عَلٰى شَهَادَتِهٖ او دغه ډول که يوکس د اصل ګواه نه واورېدل.چه شاهد بالفرع پخپله ګواهئ باندې ګواه جوړوی. لَمْ يَسَعْ لِلسَّامِعِ أَنْ يَشْهَدَ عَلٰى ذٰلِكَ نود اوريدونکي لپاره جائز نه ده چې په هغې ګواهي ورکړي

تشريح دغه ډول که يوکس حقيقي او اصلي ګواهي واورېدله.چه هغه پخپلې ګواهئ باندې څوک ګواه جوړوی. نو سامع (اوريدونکي) له د اصلي ګواه په ګواهئ باندې ګواهي ورکول جائز نه دي.مثلاً حامد واورېدل. چې خالد (اصل ګواه) پخپله ګواهئ باندې شاهد ګواه جوړوی.نو سامع يعنې حامد ته دا اختيار نشته.چه هغه د خالد (اصلي ګواه) په ګواهئ باندې ګواهي ورکړي.

دليله ځکه چې اصلي ګواه د خپلې ګواهئ بوج په دې اوريدونکي حامد باندې نه دې اچولې.بلکه دده نه علاوه په شاهد باندې ني اچولې دې.البته شاهد کوم چې خالد پخپله ګواهئ باندې ګواه کړې دې.هغه ګواهي ورکولې شي.خو حامد ګواهي نشي ورکولې.

د خپل تحرير مضمون په کتلو باندې ګواهي ورکول

وَلَا يَحِلُّ لِلشَّاهِدِ إِذَا رَأٰى خَطَّهُ أَنْ يَشْهَدَ اوګواه له دا حلال نه دي.چه هغه خپل خط اوګوری.او ګواهي ورکړي. إِلَّا أَنْ يَتَذَكَّرَ الشَّهَادَةَ مګر داچه هغه ته ګواهي ياده شي.

تشريح که ګواه هم په دستاويز (تحرير) کې د خپلې ګواهئ تحرير اوکتلو.خود کومې واقعې سره چې د ګواهئ تعلق دې.نه هغه واقعه ياده شوه.اونه ګواهي ورکول ورياد شو.نو ددې ګواهئ لپاره صرف په تحرير کتلو سره ګواهي ورکول جائز نه دي.

دليله ځکه چې يو تحرير د بل تحرير مشابه وي.اوهرکله چې يو تحرير د بل تحرير مشابه وي.نودا مشتبه شو.چه آيا دا تحرير هم ددې ګواه دې.يا د بل چا دې.او مشتبه شئ د علم او يقين فائده نه ورکوی.نو په دې تحرير سره به علم نه حاصليږي.حالانکه د شهادت لپاره د هغه واقعې علم ضروري دې.د کومې واقعې متعلق چې شهادت ورکولې شي.نو هرکله چې د شهادت ور کولو لپاره د مشهود به خبريدل ضروري دی.او په ذکر شوی تحرير سره علم نه حاصليږي.نود ذکر شوې تحرير په کتلو

باندې به ګواهي ورکول هم جائز نه وي.

د نا بینا(روند) د ګواهۍ حکم

وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْأَعْمَى.([1])او د نا بینا سړي ګواهي به نشي قبلولې

حل اللغة أعمی -روند-

تشریح په حدود او قصاص کې په اتفاق سره د نابینا ګواهي نه قبلیږي البته که نابینا په هغه څیزونو کې ګواه دي په کومو کې چې د خلقو نه په اوریدلو سره ګواهي ورکول جائز ده. لکه نسب، او مرګ.

دلیلهما د طرفینو رحمهماالله دلیل دادې.چه د شهادت ادا کولو لپاره ضروري دي.چه ګواه د مدعی او مدعی علیه په منځ کې اشاره سره امتیاز (فرق) اوکړي.او نابینا سړې صرف ددوی په آواز سره ددوی په منځ کې توپیر کولې شي.په اشاره سره فرق نشي کولې.او چونکه د یو آواز د بل آواز سره مشابه وي.ځکه به په آوازکې یو ډول اشتباه وي.اود جنس ګواه په ذریعه ددې اشتباه نه بچ کیدل هم ممکن دي.په دې طریقه چې د سترګو (نظر) والا ډیر ګواهان موجود دي.چه هغوی د مدعی اومدعی علیه په منځ کې اشاره سره فرق کولې شي.نوهرکله چې د سترګو والا ګواهان موجود دي.نو نابینا کوم چې د مدعی او مدعی علیه په منځ کې اشاره سره فرق نشي کولې.هغه به ګواه جوړول څنګه صحیح وي.

مسلک زفر د امام زفر رحمه الله په نیز به د نابینا ګواهي قبلولې شي.هم دا د امام ابوحنیفه رحمه الله نه د ابن شجاع روایت دې.

دلیل زفر دلیل دادې.چه په کومو څیزونوکې د خلقو نه په اوریدلوکې د خلقو نه په اوریدلو ګواهي ورکول جائز دي.په هغه څیزونوکې صرف د اوریدلو ارتیا دې.اود نابینا په سماعت کې هیڅ خلل نشته.بلکه د نابینا سماعت د بینا سړي په شان دې.نو هرکله چې په دې څیزونو کې صرف د اوریدلو ارتیا دې.اود نابینا سړي په سماعت کې هیڅ خلل نشته.نو په دې څیزونوکې به د نابینا ګواهي قبلولې شي.البته که نابینا سړې کنړ هم وي.نو دده ګواهي به بالاتفاق نه قبلیږي.

مسلک ابي یوسف اوکه نا بینا په هغه څیزونو کې ګواه دې.په کوموکې چې د خلقو نه په اوریدلو سره ګواهي ورکول جائز نه ده. لکه بیع او شراء. نو که نا بینا د شهادت د تحمل په وخت بینا او مشهود به غیر منقول وي.نود امام ابویوسف او امام شافعي رحمهماالله په نیز به دې صورت کې د هغه ګواهي قبلولې شي.او که په دې دواړو خبروکې کومه یوه خبره منتفي شي.یعني نا بینا د شهادت د تحمل په وخت بینا نه وي.یا مشهود به غیرمنقول نه وي.بلکه شئ منقول وي.نود ائمه ثلاثه (ابوحنیفه او صاحبین رحمهم الله) په دې باندې اتفاق دې.چه په دې صورت کې به د نا بینا ګواهي نه قبلیږي.

دلیل ابي یوسف دلیل دادې.چه نابینا هرکله د تحمل شهادت په وخت (د ګواهۍ اوچتولو په وخت) بینا او کتونکې (نظر والا) وو.نو هغه ته د مشهود به علم حاصل شوې دې.اوکوم سړي ته چې د تحمل شهادت په وخت په مشاهده سره د مشهود به علم حاصلیږي.د هغه تحمل (ګواهي اوچتول) صحیح کیږي.بهرحال کوم سړي چې فی الحال نابینا دې.خود تحمل شهادت په وخت نظر والا وو.د هغه تحمل شهادت صحیح شو.اوس پاتې شو د شهادت اداکول، نوهغه صرف په کلام سره کیږي.اود نابینا په ژبه

[1] القول الراجح هوهذا قول الطرفین رحمهما الله كذا في الكفاية (٤٧٥\٦) وفتح القدير(٤٧٣\٦) وردالمحتار(٤٢١\٤) نقلاً عن القول الراجح (١٣٤\٢)-

کې چونکه هيڅ عيب نشته.په دې د هغه په کلام کې به هيڅ خلل نه وي.اوهرکله چې د نابينا په ژبه کې د عيب نه کيدلو په وجه د هغه په کلام کې هيڅ خلل نشته.نود هغه شهادت اداکول به هم صحيح وي.

دليلهما﴿ د طرفينو رحمهماالله دليل دادې.چه د شهادت ادا کولو لپاره ضروري دی.چه ګواه د مدعی او مدعی عليه په منځ کې اشاره سره امتياز (فرق) اوکړي.او نابينا سړې صرف ددوی په آواز سره ددوی په منځ کې توپير کولې شي.په اشاره سره فرق نشي کولې.او چونکه د يو آواز د بل آواز سره مشابه وي.ځکه به په آوازکې يو ډول اشتباه وي.اود جنس ګواه په ذريعه ددې اشتباه نه بچ کيدل هم ممکن دی.په دې طريقه چې د سترګو (نظر) والا ډير ګواهان موجود دی.چه هغوی د مدعی اومدعی عليه په منځ کې اشاره سره فرق کولې شي.نوهرکله چې د سترګو والا ګواهان موجود دی.نو نابينا کوم چې د مدعی او مدعی عليه په منځ کې اشاره سره فرق نشي کولې.هغه به ګواه جوړول ځنګه صحيح وي.

د مملوک د ګواهئ حکم

وَلَا الْمَمْلُوكِ اود مملوك ګواهی هم جائز نه ده.

حل اللغة﴿ ① **المملوک**-غلام-

تشريح﴿ ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه د نابينا پشان د مملوك (غلام او وينځې) ګواهی هم نه قبليږي.امام مالك او امام شافعي رحمهماالله هم ددې قائل دی.

دليله﴿ دليل دادې.چه شهادت د ولايت د قبيلې ځنې دې.يعنی لکه ځنګه چې په ولايت کې ،،تنفيذ القول علی الغير،، وي.دغه ډول په شهادت کې هم ،،تنفيذ القول علی الغير،، وي.نوهرکله چې شهادت د ولايت د قبيلې ځنې دې.نو شاهد(ګواه) هم هغه سړې کيداې شي.چاته چې د ولايت حق حاصل وي.او پاتې شوغلام،نو هرکله چې هغه ته پخپل ذات باندې د ولايت حق حاصل نه دې.نو په بل به په درجه اولی د ولايت حق حاصل نه وي.او هرکله چې غلام ته د ولايت حق حاصل نه دې.نو هغه ته به د ګواهئ ور کولو حق ځنګه حاصل وي. زمونږ ددې قول تائيد په حديث سره هم کيږي. (عن ابن عباس رضي الله عنهما قال لا تجوز شهادة العبد) ابن عباس رضي الله عنهما فرمائيلی دی.چه د غلام شهادت جائز نه دې.(عينی)

د محدود فی القذف د ګواهئ حکم

وَلَا الْمَحْدُودِفِي قَذْفٍ وَإِنْ تَابَ اود محدود فی القذف ګواهی هم جائز نه ده.اګرچه هغه توبه کړې وی.

حل اللغة﴿ محدود فی القذف هغه کس دې.کوم کس چې په يو مسلمان باندې د زنا تهمت اولګولو.خو هغه ئې ثابت نکړې شو.نو ددې تهمت لګولو په سزاکې هغه ته اتيا(۸۰) کوړې لګولې شوی وی. ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه د محدود فی القذف ګواهی به نشی قبلولې.اګرچه هغه توبه اوباسی. ([1])

تشريح﴿ **دلائله**﴿ ① دليل دادې.چه الله تعالی د،، محدود فی القذف،،په اره کې فرمائيلی دی. ﴿وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا﴾([1]) وجه د استدلال داده،چه الله ﷻ لفظ د ﴿أَبَدًا﴾ په صراحت سره ذکر کړې دې.او﴿أَبَدًا﴾ هغه ته وائي.چه د هغې هيڅ انتهاء نه وي.يعنی د،،محدودين فی القذف،، ګواهی کله

---

[1]) **مسلک الائمة**:- حضرت امام شافعي، امام مالك، او امام احمد رحمهم الله فرمائيلی دی.چه د توبې نه روسته به د محدود فی القذف ګواهی قبلولې شي.

هم مه مقبلوئ.نود الله تعالی د لفظ،، ابدا،، تصریح کول د شهادت د قبولیت منافی دې.یعنی د توبې نه روسته د محدود فی القذف ګواهی قبلول د ؟(وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا)منافی دې.اوهرکله چې د توبې نه روسته د محدود فی القذف ګواهی قبلول د (وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا)منافی دی.نود محدود فی القذف ګواهی به د توبه نه روسته هم نه قبلیږی.[۲] د استدلال دویمه وجه داده .چه په(وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ کې د،، هم،، ضمیر مرجع ،، محدودین فی القذف،، دی.یعنی د شهادت د عدم قبولیت حکم،، محدودین فی القذف،، لپاره دې.او،، محدود فی القذف،، د توبه په وجه د،، محدود فی القذف،، کیدلو نه خارجیږی.نوهرکله چې د توبه کولو باوجود د،، محدود فی القذف،، کیدلو نه نه خارجیږی.بلکه،، محدود فی القذف،، پاتې کیږی.او،، محدود فی القذف،، لپاره د شهادت د عدم قبول حکم دې.نود توبه نه روسته به هم د،، محدود فی القذف،، شهادت نه قبلیږی.

② دوهم دلیل دادې.چه د،، محدود فی القذف،، ګواهی نه قبلول د حدقذف تتمه او تکمله ده.یعنی د قذف او بهتان اصل حد خو اتیا[۸۰] کوړې دی.اود ګواهۍ نه قبلیدل دا حدمکمل کوی.نو لکه څنګه چې د توبه نه روسته اصل حد باقی کیږی.اود توبه په وجه نه ساقطیږی.دغه ډول په اصل حد باندې قیاس کولو سره ددې تکمله او تتمه یعنی د شهادت عدم قبولیت به هم باقی کیږی.اود توبه په وجه به نه ساقطیږی.پاتې شوه دا خبره،چه د ګواهۍ نه قبلیدل.د حد قذف تتمه ګرځولې شوې ده؟ نو ددې خواب دادې.چه لکه څنګه حد قذف، قاذف راروان وخت لپاره د بهتان لګولو نه منع کوی.دغه ډول دغه ګواهی ردکول هم ددغه ډول بهتان لګولو نه منع کوی.البته دومره توپیر دې.چه په اصل حد(کوړو) سره د قاذف بدن ته تکلیف رسیږی.او په شهادت رد کیدلو سره د هغه زړه ته تکلیف رسیږی.او قاذف په بهتان لګولو سره پخپله ژبه د مقذوف زړه دردمند کړې دې.په دې وجه د هغه ژبې د جرم موافق هغه ته د حد نه روسته دا سزا ورکړې شوه.چه د هغه شهادت قبول نکړې شی.

د اولاد په حق کښې د ګواهۍ قبلولو حکم

وَلَا شَهَادَةُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهِ وَوَلَدِ وَلَدِهِ،اود پلار ګواهی د هغه د خوی او نمسی په حق کې نه قبلیږی. وَلَا شَهَادَةُ الْوَلَدِ لِأَبَوَيْهِ وَأَجْدَادِهِ،اود خوی ګواهی د هغه د مورپلار او نیکونو په حق کې نه قبلیږی.

تشریح ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه د پلار ګواهی به د هغه د اولاد، او د اولاد اولاد په حق کې نشی قبلولې.اونه به د اولاد ګواهی د هغوی د مور پلار او نیکونو په حق کې قبلولې شي.

دلائل ① په دې اړه کې دا حدیث اصل دې.رسول الله ﷺ فرمائیلی دی لَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْوَلَدِ لِوَالِدِهِ وَلَا الْوَالِدِ لِوَلَدِهِ.[۱] چه،، د خوی ګواهی د هغه د پلار په حق کې،اود پلار ګواهی د هغه د خوی په حق کې نه قبلیږی،اونه د ښځې ګواهی د هغې د میړه په حق کې قبلیږی.اونه د میړه ګواهی د هغه د بی بی په حق کې قبلیږی،اونه د غلام ګواهی د هغه د آقا په حق کې قبلیږی،او نه د آقا ګواهی د هغه دغلام په حق کې قبلیږی.اونه د مزدورګواهی په اجرت باندې د اخستونکی په حق کې قبلیږی،،په دې حدیث کې د(ولا العبد لسیده) په جمله باندې اعتراض دې.

(۱)قال الزیلعی غریب وهو فی مصنف ابن ابی شیبة وعبدالرزاق من قو ل شریح قال عبدالرزاق ...عن شریح قال لا تجوز شهادة ابن لابیه ولا اب لابنه ولا مراة لزوجها ولا زوج لامراته ولا شریك لشریکه فی شی بینهما لکن فی غیره ولا آجرلمن استاجره ولا عبد لسیده(نصب:۴\۱۷۲)۔

② عقلي دليل دادې.چه د اولاد او پلار نيکونو په منځ کې منافع يوځاى وى.يعنى د پلار مملوكه شى نه خوى،اود خوى مملوکه شئ نه پلار نفع اوچتوى.او په عرف کې دا بد هم نه ګنړلې کيږى.په دې وجه د پلار خپل ځوى ته،اود ځوى خپل پلار ته زکاة ورکول جائز نه دې.نوکه پلار د خپل ځوى يا نمسى په حق کې ګواهي ورکوى.يا ځوى د خپل پلار لپاره ګواهي ورکوى.نو ددوى په منځ کې چونکه منافع متصل او مشترک دى.ځکه به دا شهادت من وجه د خپل ذات لپاره وى.يا به کم ازکم په دې کې دا شبه وى.چه ګواه د خپلې نفع لپاره ګواهي ورکړې ده.اودا خبره منلې شوې ده.چه ګواه له داسې ګواهي په کومې سره چې د هغه ذات ته نفع رسيږى.يا د نفع رسيدلو شبه وى.د تهمت په وجه نه قبليږى.نود پلار ګواهي د اولاد په حق کې اود اولاد ګواهي د مور پلار په حق کې نه قبليږى.

د ښځې او ميړه يو بل لپاره د ګواهئ ورکولوحکم

وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ أَحَدِ الزَّوْجَيْنِ لِلْآخَرِ او په ښځه ميړه کې د يو ګواهي د بل لپاره نشى قبلولې.

حل اللغة ① **الزوجين** -ښځه خاوند-

تشريح په ښځه ميړه کې د يو ګواهي د بل لپاره نه قبليږى.امام مالك او امام احمد رحمهماالله هم ددې قائل دى. ([1])

دلائله ① دليل هغه حديث دې.کوم چې مونږ وړاندې روايت کړې دې.يعنى(لاتجوز شهادة الوالد لولده ولا الولد لوالده ولا المراة لزوجها ولا الزوج لإمرأته) دا حديث په صراحت سره دلالت کوى.چه د ښځې ګواهي د ميړه لپاره اود ميړه ګواهي د ښځې لپاره جائز نه ده.

② او عقلي دليل دادې.چه د زوجين په منځ کې منافع په عامه توګه (عام طور) باندې متصل وى.يعنى ميړه د ښځې د مال په وجه توانګر شمارلې کيږى.او ښځه د ميړه د مال په وجه مالداره شمارلې کيږى.هم په دې وجه الله تعالى فرمائيلى دى. ﴿إِنْ يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَاللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا﴾ او وې موندلو تا لره فقير نو بيا نې مالداره کړې.،بعض حضرات فرمائى.مراد دادې.چه د حضرت خديجه ﷺ په مال سره نې ته مالداره کړې.ددې آيت نه معلومه شوه.چه دښځې په مالداره کيدلو سره ميړه مالداره شمارلې کيږى.بلکه ډير ځله د ښځې او ميړه په منځ کې منافع کې دومره اتصال او ګډ وَدى (انبساط) وى.چه د اولاد اود موريلار (د مال) په منځ کې نه وى.يعنى ميړه په ښځه باندې او ښځه په ميړه باندې دومره ايثار(قربانى) کوى. چه موريلار پخپل اولاد باندې او اولاد پخپل موريلار باندې دومره ايثار(اوقربانى) نه کوى. بلکه کله کله خو ميړه د خپلې ښځې خوشحالولو لپاره خپل موريلار سره دشمنى کوى.او ښځه د خپل ميړه خوشحالولو لپاره خپل موريلار ناراضه کوى.بهرحال د زوجينو په منځ کې منافع متصل او مشترک وى.اود زوجيت رشتې نه نفع اخستل مقصود وى.نو هرکله چې د زوجينو په منځ کې منافع متصل او مشترک وى.او نفع هم مقصود وى.نو په دوى کې د يو کس د بل لپاره ګواهي ورکول من وجه خپل خان لپاره ګواهي ورکول شو.يا هغه پخپل شهادت کې خپل ځان لپاره نفع حاصلولو سره متهم کيږى.او سړې چې خپل ځان لپاره ګواهي ورکړى.بيا هم د هغه ګواهي ردکولې شى.اوکه پخپله ګواهئ کې متهم شى.بيا هم رد کولې شى.په دې وجه زوجينوکې د يو ګواهي د بل لپاره نه قبليږى.

---

[1] مسلك الشافعي:- امام شافعي رحمه الله فرمائى.چه د احد الزوجين شهادة به د بل دپاره قبلولې شى.

د غلام او مکاتب په حق کښې د مولا د ګواهۍ حکم

وَلَا شَهَادَةُ الْمَوْلَى لِعَبْدِهٖ اود آقا ګواهي د هغه د غلام په حق کې نه قبليږي.

تشريح ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه د آقا شهادت پخپله د هغه د غلام په حق کې نشي قبلولې. په تيرشوی

دليله دليل کې ذکر شوې دا حديث (ولا المولى لعبده) دې.

وَلَا لِمُكَاتَبِهٖ اود مولا ګواهي د هغه د مکاتب لپاره هم جائز نه ده.

تشريح اود آقا شهادت د هغه د مکاتب په حق کې هم نه قبليږي.
دليله ځکه چې د مکاتب حالت هم انجام ته په تلو باندې موقوف دې.ځکه که مکاتب بدل کتابت اداکړو.نو هغه به د مولا لپاره اجنبي وی.اود هغه په حق کې به د مولا شهادت قبول وی.اوکه هغه بدل کتابت ادا نکړې شو.نو هغه به د مولا رقيق او غلام وی.اود هغه په حق کې به د مولا شهادت ورکول شهادت لنفسه وی.بهرحال په يو صورت کې شهادت لنفسه لازميږی.او په يو صورت کې نه لازميږی.نود دواړو اعتبار کولو سره د آقا د خپل مکاتب په حق کې ګواهي ور کولو سره من وجه پخپل حق کې ګواهي ورکول لازميږی.او وراندې تير شوی دی.چه دا ناجائز او قابل قبول دې.ځکه به د آقا شهادت د هغه د مکاتب په حق کې نه قبليږی.

وَلَا شَهَادَةُ الشَّرِيكِ لِشَرِيكِهٖ فِيمَا هُوَ مِنْ شَرِكَتِهِمَا اود يو شريکوال ګواهي د هغه د دوهم شريکوال لپاره په داسې خيزکې جائز نه ده.کوم چې ددوی دواړو په شرکت کې دې.

تشريح اوکه په شريک مال کې يو شريک په چا څه دعوه اوکړله.او بل شريک د هغه لپاره ګواهي ورکړله.نودا ګواهي به هم قبول نه وی.
دليله ځکه چې مال مدعی به د مدعی او شاهد په منځ کې مشترك دې.نود شاهد شهادت به د مال په څه برخه کې پخپله د خپل ځان لپاره وی.اودا باطل دی.اوهر کله چې د بعض مال شهادت باطل شو.نود پوره مال شهادت به هم باطل وی.ځکه چې شهادت يو دې.په دې کې تجزی (ټکړې او حصې) نه کيږی.چه يو شهادت په بعض مال کې صحيح وی.او په بعض مال کې باطل وی.

د رور او اکا (تره) په حق کښې د ګواهۍ د حکم

وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ الرَّجُلِ لِأَخِيهِ وَعَمِّهٖ اود سړی شهادت د هغه د رور او اکا (تره) لپاره قبلولې شی. لِانْعِدَامِ التُّهْمَةِ ځکه چې تهمت معدوم دې.

تشريح د يو رور شهادت د بل رور لپاره اود وراره شهادت د هغه د اکا (تره) لپاره اود ولادت د قرابت نه علاوه په ټولو قرابتونو کې د يو شهادت د بل لپاره قبلولې شی.
دليله دليل دادې.چه د ولادت نه علاوه د ټولو قرابتونو املاك او منافع جلا جلا وی.او بلا تکلفه (په آزادۍ سره) د يو بل په مال کې د تصرف اختيار هم نه وی.نو هرکله چې ددوی املاك او منافع جلا جلا دی.او خپل منځ کې د يو بل په مال کې بلا تکلفه د تصرف اختيار هم نه وی.نو په دوی کې که يو کس د بل په حق کې ګواهي ورکړله.نو ګواه به پخپله ګواهۍ کې متهم نه وی.او هرکله چې ګواه پخپله ګواهۍ کې متهم نشو.نود هغه ګواهي به قبلولې شی.

د مخنث (هیجړا) د ګواهۍ حکم

وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْمُخَنَّثِ اود مخنث (هیجړا) ګواهي مقبول نه ده.

حل اللغة ① **المخنث** –هیجړا-

تشریح د مخنث(هیجړا) ګواهۍ به هم نشي قبلولې.صاحب د هدایه فرمائیلي دي چې د مصنف رحمه الله مراد د مخنث نه هغه مخنث دې.کوم چې خلقو ته خپل خان سره په لواطت باندې قدرت ورکوي.او په زیب وزینت کې د ښځو مشابهت اختیاروي.اود ښځو پشان په نخرو نخرو(او ناز و انداز سره ګرځي.اود زنانو په لهجه کې خبرې کوي.

دلیله دداسې مخنث د ګواهۍ نه قبلیدلو وجه داده.چه داسې سړې فاسق دې.(لکه د نبي کریم ﷺ ارشاد دې. (لعن الله المخنثين من الرجال) الله تعالی دې په مخنث سړو باندې لعنت اوکړي) او وراندې تیر شوي دي.چه د فاسق ګواهي نه قبلیږي.نود مخنث ګواهي به هم نه قبلیږي.

الاستثناء البته که د یوکس په خبرو اترو کې فطري نرمي او په اندامونوکې مورزاده (پیدائشي) او قدرتي لچك (اود ښځو انداز) وي.او په څه ګنده فعل سره مشهور نه وي.نود هغه ګواهي به نشي قبلولې.

د نائحه او مغنیه د ګواهۍ حکم

وَلَا نَائِحَةٍ وَلَا مُغَنِّيَةٍ اود (پیشې په طور) جړیدونکي ښځې اود لوبو(ګانو) ویونکې ښځې شهادت به نه قبلیږي.

حل اللغة ① **نائحة** –ویرکونکې-② **مغنية** –سندرغاړې-③ **توتکبان** –صیغه تثنیه ، ارتکاب کوي-④ **محرما** –حرام

تشریح د پیشې په طور ژړیدونکو او ګانې (لوبې) ویونکو ښځو ګواهي به نشي قبلولې.څکه چې دا دواړه ښځې د فعل حرام مرتکب دي.

دلیله اودا فعل څکه حرام دې.او رسول الله ﷺ ددې دواړو بې وقوفو آوازونو نه منع فرمائیلې ده.عَنْ الصَّوْتَيْنِ الْأَحْمَقَيْنِ النَّائِحَةُ وَالْمُغَنِّيَةُ} (۱) نو هرکله چې دا دواړه آوازونه حرام دي.او ذکر شوو ښځو ددې آوازونو ارتکاب (جرم) کړې دې.نودا دواړه ښځې فاسق شوې.اود فاسق ګواهي نه قبلیږي.نو ددې ښځو ګواهي به هم نشي قبلولې.

د شرابي اود مارغانو ساتونکو د ګواهۍ حکم

وَلَا مُدْمِنٍ الشُّرْبِ عَلَى اللَّهْوِ اود لهو (عبث) په طور د همیشه شراب څکونکي ګواهي به هم نشي قبلولې

حل اللغة ① **مدمن** –عادتي-② **الشرب** –شراب-③ **اللهو** –عبث،فضول

تشریح ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه د لهو(عبث) په طور باندې د پیوسته شراب څکونکي ګواهي هم نه قبلیږي.

(۱) من حدیث جابر بن عبدالله رضي الله عنه اخرجه الترمذي في الجنائز باب ۲۵ رقم ۱۰۰۵-

دليله خکه چې شراب څښل حرام دی.نودا سړی د حرام مرتکب شو.اود حرام مرتکب فاسق وی.اود فاسق ګواهي نه قبلیږی.نود هغه ګواهي به نه قبلیږی.

اشتراط الادمان ابو الحسن قدوری ﷫ د ،،ادمان،، (همیشه څښلو) شرط ځکه لګولی دی.چه دده شرابی کیدل خلقو ته ښکاره شی.ځکه چې کوم کس پخپل کور کې شراب څښلو باندې متهم دی.اود خلقو په وړاندې دا فعل نه دی ښکاره شوی.نود هغه ګواهي به قبول وی.اګرچه په کور کې شراب څښل هم ګناه کبیره ده.البته که په خلقو باندې دده شراب څښل ښکاره شی.یا هغه شراب اوڅکی.اود نشې په حالت کې بهر ته راوځی.او ماشومان د هغه تمسخر اوکړی.نو چونکه داسې قسمه سړی د دروغو نه پرهیز نه کوی.ځکه به د هغه ګواهي نه قبلیږی.

وَلَامَنْ يَلْعَبُ بِالطُّيُورِ اونه د هغه کس ګواهي څوك چې مارغانو سره بازي کوی.

حل اللغة ① **يلعب** - بازي کوی-**الطيور**-جمع د طير ،مرغی-

تشریح او مارغانو سره د لوبو کونکی ګواهي به هم نه قبلیږی.

دلائله ① ځکه چې مارغان الوځول په سړی کې غفلت پیدا کوی.اود غفلت په وجه به په ده باندې د نسیان غلبه وی.اود نسیان په وجه به په مشهود به کې د کمی زیاتی امکان پیدا کیږی.او ددې امکان په موجودګۍ کې ګواهي نه قبلیږی.نود مارغانو الوځولو ګواهي به نه قبلیږی.

② دوهم دلیل دادې.چه مارغان الوځونکې د مارغانو الوځولو لپاره د کوټې په چت باندې خیژی.نو کله چې هغه په چت باندې خیژی.نو خامخا به د هغه نظر په نامحرمه ښځو باندې پریوځی.او نامحرمه ښځو ته کتل حرام دی.نود حرامو د مرتکب کیدلو په وجه به د هغه شهادت نه قبلیږی.

د مغني يا مغنيه اود مرتكب كبيره د ګواهۍ حكم

وَلَامَنْ يُغَنِّي لِلنَّاسِ اود هغه کس ګواهي هم مقبول نه ده.څوك چې خلقو ته ګانې (لوبې) اوروی.

تشریح چه کوم سړی نورو خلقو ته ګانې اوروی.د هغه ګواهي به نشی قبلولې.لکه ځنکه چې د اوریدونکو ګواهي نه قبلیږی.

دليله ځکه چې دا سړی خلق په کبیره ګناه باندې راجمع کوی.او په کبیره ګناه باندې د خلقو راجمع کول پخپله کبیره ګناه ده.اود کبیره ګناه د مرتکب ګواهي نه قبلیږی.نو خلقو ته د ګانو اوروونکی ګواهي به هم نشی قبلولې.

وَلَامَنْ يَأْتِي بَابًا مِنَ الْكَبَائِرِ اود هغه کس ګواهي هم مقبول نه ده.څوك چې د داسې کبیره ګناه ارتکاب اوکړی. الَّتِي يَتَعَلَّقُ بِهَا الْحَدُّ کوم سره چې حد متعلق کیږی.

تشریح که یو کس دداسې کبیره ګناه ارتکاب اوکړو.په کوم سره چې حد متعلق کیږی. لکه سرقه، زنا وغیره.نود هغه ګواهي به هم نه قبلیږی.

دليله ځکه چې د داسې ګناه د ارتکاب په وجه دا سړی فاسق شوی دی.اود فاسق ګواهي نه قبلیږی.نود هغه ګواهي به هم نه قبلیږی.

الاقوال في تعريف الكبائر د ګناه کبیره په تفسیر کې د عالمانو اختلاف دی.

① بعض حضرات فرمائی.چه کبائر اووه دی.کوم چې رسول الله ﷺ په یو مشهورحدیث کې ذکر کړی دی. الله تعالی سره څوك شریکول. د ګر جنګ نه تیخته اختیارول. د مور پلار نافرمانی کول. په ناحقه

خوك قتلول. مومن باندې تهمت لګول. شراب څکل. زنا.. اوچا ور سره د سود خوراك هم ګډ کړی دی.
② بعض حضرات فرمائي. هر هغه ګناه چې په هغې باندې حد وارد شوې وی. هغې ته کباره ګناه وائي.
③ او بعض فرمائي. چه کوم کار د مسلمانانو په نیز ناخوښه او معیوب وی. او په هغې کې د الله تعالی د دین د حرمت سپکاوې کیږی. هغه کبیره ګناه ده.
④ او بعض فرمائي. چه په یو ګناه باندې اصرار (همیشوالې) کول کبیره ګناه ده. صحیح خبره داده. چه ګناه یو اضافي شئ دې. یعنی هره یوه ګناه داسې ده. چه د هغې نه باندې (پورته) هم ګناه شته. او لاندې هم ګناه شته. نود لاندې ګناه په اعتبار سره به هغې ته کبیره وئیلې شی. اود پورتنۍ ګناه په اعتبار سره به هغې ته صغیره ونیلې کیږی.

وَلَامَنْ يَدْخُلُ الْحَمَّامَ بِغَيْرِ إِزَارٍ اوله به دهغه کس ګواهی قبلیږی. څوك چې حمام (غسل خانې) ته د تهبند (لنګ) نه بغیر داخلیږی.

حل اللغة ﴿ **يدخل** -داخلیږی- ② **الحمام** -د ګرمو اوبو خانې- ③ **إزار** -لنګ-

تشریح ﴿ ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي. چه کوم کس د ازار (لنګ) نه بغیر برینډ حمام ته داخلیږی. یعنی ستر د عورت ښکاره کوی. او څی. د هغه ګواهی به هم نه قبلیږی.

دليله ﴿ ځکه چې شرمګاه اود واجب الستر بدن ښکاره کول حرام دی. اود حرام مرتکب فاسق وی. اود فاسق ګواهی نه قبلیږی. نود هغه ګواهی به هم نه قبلیږی. او رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. (**لعن الله الناظر والمنظور اليه**) یعنی،، الله تعالی دې شرمګاه ته په کتونکی او دچا شرمګاه ته چې اوکتلې شو. دواړو باندې لعنت اوکړی،، حاصل داچه شرمګاه ښکاره کونکې د لعنت مستحق دې. او شهادت یو کرامت (اوعزت) دې. نو کوم کس چې د لعنت مستحق دې. هغه د شهادت نشی مستحق کیدې. د حمام نه د غسل هغه خانې مراد دې. کوم چې په هوټل کې تیارولې شی. او بیا سړې اوبنځه هر قسمه سړې راځی. او په هغې کې غسل کوی.

ولامن يَأْكُلُ الرِّبَا وَلَا الْمُقَامِرُ بِالنَّرْدِ وَالشِّطْرَنْجِ یا سود خوری یا په تاش او شطرنج سره جواری کونکې وی. (نود هغه ګواهی به هم نه قبلیږی)

حل اللغة ﴿ **يأكل** -خوری- ② **الربا** -سود- ③ **النرد** -تاش- تاش یو ډول لوبه ده. کوم چې أرد شیر بن بابك د ایران بادشاه ایجاد کړې وه.

تشریح ﴿ د سود خورونکی (سود خور) ګواهی به هم نه قبلیږی. او تاش او شطرنج سره د جوارۍ کونکی ګواهی به هم نه قبلیږی. دلیل دادې چه سود خوری او جواری دواړه کبیره ګناه دی. او وراندې تیرشوی دی. چه د کبیره ګناه د مرتکب ګواهی نه قبلیږی. نود سودخور او جوارګر ګواهی به هم نه قبلیږی.

دليله ﴿ ځکه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی (**ملعون من لعب بالنرد**) یعنی تاش سره بازې کونکې سړې ملعون دې. او ملعون سړې ځنګه عادل کیدای شی. نوهرکله چې نرد سره بازې کونکې ملعون او غیرعادل دې. نود هغه ګواهی به هم نشی قبلولې. ځکه چې ګواهی د عادل قبلولې شی. د غیر عادل نشی قبلولې.

رد الشهادة بالنرد ﴿ او تاش سره د بازې کونکی ګواهی به هغه وخت مردود وی. کله چې په دوو خبروکې یوه خبره اوموندې شی.
① یا خو تاش سره جواری کوی. ② یا په تاش کې د مشغولیدلو په وجه لمونځ فوت کیږی. ځکه چې درې شیان د کبائرو څنې دی

حكم النرد العجوه > پاتې شو صرف تاش باندې بازي كول.نو هغه فسق نه دې.اوهركله چې فسق نه دې.نو مانع د شهادت به هم نه وي.او د ذكر شوي درې خبرو نه بغير صرف تاش سره بازي كول خكه فسق نه دې چه د عالمانو په دې كې اختلاف دې.د امام مالك او امام شافعي رحمهماالله په نيز تاش باندې بازي كول حلال او جائز دي.نو هركله چې يو شئ د دوه جليل القدر عالمانو په نيز حلال اوجائز وي.د هغې مرتكب څنګه فاسق كيداې شي.اود كوم شئ مرتكب چې فاسق نه وي.د هغه ګواهي قبلولې شي.نو صرف په تاش سره د بازي كونكي ګواهي به قبلولې شي.

وَلَامَنْ يَفْعَلُ الْأَفْعَالَ الْمُسْتَخِفَّةِ كَالْبَوْلِ عَلَى الطَّرِيقِ وَالْأَكْلِ عَلَى الطَّرِيقِ اونه به د هغه ګواهي قبليږي.څوك چې سپك اود بې وقوفئ كارونه كوي.لكه په لاره كې بولې كول، او په لاره كې خوراك كول.

حل اللغة > ① **المستخفة**-سپك-② **البول**-متيازې-③ **الطريق**-لاره-

تشريح > ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه كوم كس خفيف او سپك حركات كوي.د هغه ګواهي به نشي قبلولې.لكه په لاره كې بولې كول، په لاره كې خوراك كول،او په بازار كې د خلقو په وړاندې خوراك خوړل.اود امام كرخي رحمه الله په قول صرف تهبند (لنګ) يا يې كالي (پرتوګ) اغوستلو سره په لاره كې تلل.

دليله > ځكه چې داسې سړې ښه اخلاق او انسانيت پريږدي.او هركله چې هغه په داسې كارونو سره شرم نه كوي.نو په دروغو ويلو سره به هم شرم نه كوي.او كوم كس چې په دروغ ويلو كې نه شرميږي.هغه به پخپله ګواهئ كې متهم وي.او كوم سړې چې پخپله ګواهي متهم وي.د هغه ګواهي نه قبليږي.نود هغه ګواهي به هم نه قبليږي.په دې مسئله كې د څلور واړه امامانو اتفاق دې.

وَلَاتُقْبَلُ شَهَادَةُ مَنْ يُظْهِرُ سَبَّ السَّلَفِ اود هغه سړي ګواهي به هم نه قبليږي.څوك چې اسلافو(بزرګانو) ته په ښكاره بدې ردې وائي.

تشريح > كه يوكس صحابه رضي الله عنهم ، تابعين،او مجتهدين امامانو ته په ښكاره بدې ردې وائي.د هغه ګواهي به هم نه قبليږي.

دليله > ځكه چې دداسې سړي فاسق كيدل ښكاره دي.اود فاسق ګواهي مقبول نه ده.اوكه د هغوى په اره كې د بدئ اعتقاد ساتي.خوهغه نه ښكاره كوي.نودا سړې عادل او مقبول الشهادت دې.

دخطابيه فرقې نه علاوه د اهل هوا د ګواهئ حكم

وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ أَهْلِ الْأَهْوَاءِ إِلَّا الْخَطَّابِيَّةَ د خطابيه فرقې نه علاوه د اهل هوا ګواهي قبلولې شي.

حل اللغة > **الأهواء**-خواهشات-

تشريح > د اهل هوا دوه اويا فرقې اهل هوا هغه خلق دي.كوم چې د نفساني خواهشاتو مطابق اعتقاد لري. يعني د نفس تابعداري اود سنتو مخالفت كوي. (۱)

فرق اهل الهوى > د اهل هوا بنيادي شپږ فرقې دي. ① جبريه ② قدريه ③ روافض ④ خوارج ⑤ مشبه ⑥ معطله.....بيا په دوى كې د هر يو دولس دولس فرقې دي.نو په دې طريقه به د اهل هواء ټولې فرقې

(۱) امام شافعي رحمه الله فرمائي چې د اهل هواء ګواهي نه قبليږي. امام مالك رحمه الله هم ددې قائل دې.

دوه اویا(٢٢) وی.او یوه فرقه به د اهل حق وی.یعنی اهل سنت والجماعت.ددوی د تولو عقائد او په دوی کې خپل منځ کې اختلاف دعلم کلام په کتابونوکې په پوره شرح او تفصیل سره ذکر دې.

دلیله ﴿ د اهل هواء فاسق کیدل صرف د اعتقاد په اعتبار سره دی.خود هغوی دا اعتقاد ددې په حق ګنړلو دې.یعنی دا سړې پخپل خیال کې هم دا حق خیال کوی.نود هغه د خیال مطابق د هغه خپله عقیده تدین او دینداری ده.ترک دین نه دې.اوکوم سړې چې متدین او دینداره وی.هغه د دروغو ونیلو نه ځان ساتی.نو اهل هوا به هم د دروغ ونیلو نه ځان ساتی.اوکوم سړې چې د دروغ ونیلو نه ځان ساتی.هغه په دروغ ونیلو سره نه متهم کیږی.په دې وجه د هغه ګواهی قبلولې شی.نود اهل هواء ګواهی به هم قبلولې شی.

الاقوال في تعريف الخطابية ﴿ نو د دوی په اره کې ① رومبی قول دادې.چه خطابیه د روافضو یوه غلو کونکې فرقه ده.کومه چې ابو الخطاب محمدبن ابی وهب اجدع ارخ ته منسوب ده.ابوالخطاب په کوفه کې اوسیدلو.د هغه عقیده وه.چه حضرت علی رضي الله عنه اله اکبر (لوئې خدائې) دې.او جعفر بن محمد صادق اله اصغر(وړوکې خدائې) دې.کله چې دی د جعفر صادق په خدمت کې پیش کړې شو.نو جعفر هغه ته دیکه ورکړله.اود دربار نه نې بهر اوښکلو.نو هغه د خپل اله (خدائې) کیدلو دعوه اوکړله.اود هغه مریدانو اوونیل.چه جعفر خدائې دې.او ابوالخطاب لوئې خدائې دې.عیسی بن موسی بن علی بن عبدالله بن عباس د هغه سره مقابله او جنګ اوکړو.او هغه نې قتل کړو.بیا عیسی هغه په سولئ کړو.او تولې دنیا لپاره نې د عبرت سامان پیدا کړو.

② دوهم قول دادې.چه د فرقه خطابیه عقیده دا ده.که په فرقه خطابیه کې یوکس په چا باندې دځه شئ دعوه اوکړی.نو ددې دلې په باقی خلقو باندې د هغه په حق کې ګواهی ورکول واجب دی.که د هغه دعوه رشتیا وی.اوکه دروغ وی.

③ او دریم قول دادې.چه د خطابیه عقیده داده.چه څوك ددوی په وړاندې قسم اوخوری.د هغه په حق کې ګواهی ورکول صحیح ګنړی

د هغوی ګواهی د احنافو په نیز هم نه قبلیږی.ځکه چې د قول اول په بناء باندې د خطابیه خلق کافر دی.اود کافرانو ګواهی د مسلمانانو خلاف نه قبلیږی.نود هغوی ګواهی به نه قبلیږی.اود دوهم او دریم قول په بناء باندې د هغوی په شهادت کې د دروغ ونیلو شبه ده.په دې طریقه چې هغوی د خپلې دلې په حق کې ګواهی ورکول واجب ګنړی.که د هغوی د دلې د خلقو دعوه رشتیا وی.او که دروغ وی.یا څوك چې د هغوی په وړاندې قسم اوخوری.د هغه لپاره ګواهی ورکول جائز ګنړی.که هغوی پخپل قسم کې دروغجن وی.او که رشتونی وی.بهرحال دا خلق پخپل شهادت کې متهم بالکذب دی.اود متهم بالکذب ګواهی نشی قبلولې.نود هغوی ګواهی به هم نه قبلیږی.

د ذمی په حق کښې د حربی د ګواهئ حکم

وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ أَهْلِ الذِّمَّةِ بَعْضِهِمْ عَلَى بَعْضٍ اود ذمیانو ګواهی به خپل منځ کې د یو بل په خلاف قبلولې شی. وَإِنْ اخْتَلَفَ مِلَلُهُمْ اګرچه د هغوی دینونه جلا جلا وی.

حل اللغة ﴿ ① ملل-جمع د ملة ،دین.

تعريح> په ذميانوکي د بعض شهادت د بعض خلاف قبلولي شي. يعنى كه يو ذمى د بل ذمى په خلاف گواهي ورکړي.نود هغه گواهي به مقبول وي.اگرچه د هغوى اديان مختلف وي.مثلاً د يهودى د نصراني خلاف، اود نصراني د يهودي خلاف گواهي ورکول جائز ده.([1]).

دلائله> ① دليل دا حديث دي. (أن النبي ﷺ أجاز شهادة النصارى بعضهم على بعض) ([2]) يعنى رسول الله ﷺ د نصارى د بعضو شهادت د بعضو خلاف جائز گرځولي دي.

② دوهم دليل دادي.چه كافر ته پخپل ذات باندي هم ولايت حاصل دي.او پخپل نابالغ اولاد باندي هم،او كوم سړى ته چي ولايت حاصل وي.هغه د شهادت هم اهل وي.نو كافر به د شهادت اهل وي.البته د كافر گواهي به د هغه دجنس (كافر) خلاف قبلولي شي.خود هغه د جنس نه علاوه (د مسلمانانو خلاف به نشي قبلولي.ځكه الله تعالى فرمائيلي دي. (وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا) يعني، هيڅ چري به نه ورکوى.الله تعالى كافرانو ته په مسلمانانو باندي لار د غلبي، اود مسلمانانو خلاف گواهي ور كولو كي چونكه د كافرانو غلبه ده.ځكه به د مسلمانانو خلاف د كافرانو گواهي نه قبليږي.

د ذمي په حق کښي د حربي د ګواهئ حکم

وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْحَرْبِيِّ عَلَى الذِّمِّيِّ اود ذمى په خلاف به د حربي گواهي نه قبليږي.

تعريح> د حربي شهادت به د ذمي په خلاف نه قبليږي.

المراد من الحربي> علامه مرغيناني رحمه الله فرمائي.چه د حربي نه مراد هغه حربي دي.چاچه امان اخستي وي.او دارالاسلام ته راغلي وي. يعنى د حربي مستامن گواهي د ذمي په خلاف نشي قبلولي.

د حربي نه حربي مستامن ځكه مراد اخستي دي.چه د حربي غيرمستامن گواهي ناممكن ده.ځكه چي د شهادت لپاره د قاضي مجلس ضروري دي.او قضاء لپاره دارالسلام كي د مصر او بنار كيدل شرط دى.نو حربي غيرمستامن كوم چي په دارالحرب كي مقيم دي.هغه دا شرط څنگه پوره كولي شي.اوكه حربي په دارالسلام كي د امان نه بغير داخل شي.او په مجلس د قضاء كي حاضر شو.نو هغه به چونكه قهراً او غلبة نيولي

كيږي.ځكه به هغه غلام وي.اود غلام گواهي نه دچا په حق كي قبلولي شي.اونه دچا خلاف قبلولي شي.

دلائله> ① دليل دادي.چه حربي مستامن ته په ذمي باندي هيڅ ولايت نشته.ځكه چي حربي مستامن د دارالحرب اوسيدونكي دي.او ذمي د دارالاسلام اوسيدونكي دي.او حكماً د دارين اختلاف ولايت منقطع كوى.يعني د دار الحرب او دارالاسلام كي ديو دار اوسيدونكي ته د دوهم دار اوسيدونكى باندي د ولايت حق نه حاصليږي.نوهركله چي حربي مستامن ته په ذمي باندي د ولايت حق نه حاصليږي. نود حربي مستامن گواهي به د ذمي خلاف نه قبليږي.ځكه د شهادت اهل هغه كس

---

[1] **مسلک الاماما**ن:- امام مالك او امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه د ذميانو گواهي خپل منځ كي د يو بل په خلاف مطلقاً نه قبليږي.كه د هغوى دينونه متفق وي.اوكه مختلف وي.

[2] (۱) غريبه الزيلعي بهذا اللفظ ثم خرجه من حديث جابربن عبدالله رضي الله عنه ان النبي ﷺ اجاز شهادة اهل الكتاب بعضهم على بعض اخرجه ابن ماجه في الأحكام باب ۳۳ رقم ۲۳۷۴) لكن يشكل هذا الحديث على صاحب الهداية لأن فيه ذكراهل الكتاب دون النصارى والله اعلم)۔

وي.کوم چې د اهل ولايت ختنې وي.

② دويمه وجه داده.چه د ذمي حالت د حربي مستامن نه څو چنده غوره دې.يعني ذمي اهل اسلام ته زيات نژدې دې.او ذمي اهل اسلام ته زيات نژدې ځکه دې.چه ذمي د اسلام خليفه يعني جزيه قبول کړې ده.او په دې وجه هم چې د مسلمان پشان د ذمي وينه محفوظ شوې ده.هم دا وجه ده.که يو مسلمان يو ذمي په ناحقه قصداً قتل کړو.نو مسلمان به په قصاص کې قتلولې شي.او که مسلمان څوک حربي مستامن قتل کړي.نود هغه په قصاص کې به مسلمان نشي قتلولې.بهرحال د ذمي حالت د حربي مستامن نه ډير غوره دې.او اسلام ته په نژدې والي کې د اعلى حال والا په خلاف د ادنى حال والا گواهي نه قبليږي.نود ذمي خلاف به د حربي مستامن گواهي نه قبليږي.

په شهادت کښې د عدالت معيار

وَإِنْ كَانَتِ الْحَسَنَاتُ أَغْلَبَ مِنَ السَّيِّئَاتِ وَالرَّجُلُ مِمَّنْ يَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ اوکه (د يوکس) نيکۍ د هغه په گناهونو غالب وي.اود کبيره گناهونو نه پرهيز کوي. قُبِلَتْ شَهَادَتُهُ نود هغه شهادت به قبلولې شي. وَإِنْ أَلَمَّ بِمَعْصِيَةٍ

حل اللغة ◄ ① **الحسنات** –جمع د حسنة نيکۍ-② **السيات**–جمع د سيئة ،بدي-③ **يجتنب**–پرهيزکوي-④ **ألم**–درد ⑤ **المعصية**–گناه-

تشريح ◄ ابو الحسن قدوري رحمه الله فرماني.چه په شهادت کې کوم عدالت شرعاً معتبر دې.د هغې تعريف دادې.چه گواه داسې سړې وي.چه فرائض نه ترک کوي.اود کبائر او اصرار على الصغيره نه پرهيز کوي.اود هغه نيکياني د هغه په ورو ورو گناهونو باندې غالب وي. حاصل داچه د کبائر او اصرار على الصغيره نه بچکيدل خو ډير زيات ضروري دي.ددې نه روسته به د غالب اعتبار کيږي.يعني که نيکياني د هغه د گناهونو نه زياتې وي.نود هغه گواهي به قبلولې شي.اگرچه هغه د څه صغيره گناه ارتکاب کړې وي.

دليل عدم النقصان بارتكاب صغيرة ◄ دليل دا دې چې د صغيره گناه په ارتکاب سره د هغه په عدالت کې هيڅ نقصان نه واقع کيږي.کوم عدالت چې په شهادت کښې شرط دې.او هرکله چې د صغيره گناه په ارتکاب سره په عدالت کې نقصان نه واقع کيږي.نود هغې په وجه به مشروط شهادت نه ساقطيږي.اود صغيره گناه په ارتکاب سره نقصان ځکه نه واقع کيږي. که د عدالت لپاره د ټولو صغيره گناهونو نه بچ کيدل ضروري اوگرځولې شي.نود شهادت دروازه به بنده شي.حالانکه د خلقو د حقوقو ژوندې کولو لپاره د شهادت دروازه کلاؤ ده. ځکه چې د انبياؤ نه روسته داسې سړې نشته.چه د هغه نه څه ناڅه د صغيره گناه ارتکاب نه کيږي.نوهرکله چې دا خبره ده.اود شهادت دروازه هم کلاؤ ده.نود شهادت لپاره به د ټولو صغيره گناهونو نه بچ کيدل ضروري وي.

د غير مختون (ناسنته) د گواهۍ حکم

وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ الْأَقْلَفِ

حل اللغة ◄ ① **الأقلف**: ناسنته -

تشريح ◄ د غيرمختون گواهي به قبلولې شي.

دليله ◄ ځکه چې ختنه زمونږ په نيز سنت ده.او ترک سنت په عدالت کې مخل نه وي.نود ختنې نه کيدل به دده په عدالت کې مخل نه وي.او هرکله چې غيرمختون کيدل دده په عدالت کې مخل نه دی.نو دده گواهي به هم قبول وي.

صورة عدم قبول شهادة الأقلف البته که د سنت نه ئې اعراض اوکړو. دين ئې حقير (اوسپك) اوګڼړلو. او ختنه ئې پريخودله. نو يقيناً د هغه ګواهي به نه قبليږي. ځکه چې هغه په دې حرکت سره عادل لا څه کوې مسلمان هم پاتې نشو. او هرکله چې عادل پاتې نشو. بلکه مسلمان هم پاتې نشو. نود هغه ګواهي ځنګه قبليدلې شي. خوکه د څه عذر په وجه ئې ختنه ترك کړې وي. نود هغه ګواهي به قبول وي.

د خصي د ګواهۍ حکم

وَالْخَصِيّ اود خصي ګواهي قبول ده.

تشريح خصي هغه سړی دې. چه د هغه خصيتين (هګۍ) اوبنکلې شوي وي. ابو الحسن قدوري رحمه الله چې د خصي ګواهي قبلولې شي.

دليله دليل دادې. چه حضرت عمر رضی الله عنه د قدامه بن مظعون رضی الله عنه خلاف د شرابو څښلو په سلسله کې د علقمه خصي ګواهي قبول کړې ده. (١) قدامه بن مظعون صحابي دې. په غزوه بدر او په نورو تولو غزواتو کې ئې شرکت کړې دې. د عبدالله بن عمر اود حفصه بنت عمر رضی الله عنهما ماما دې. حضرت عمر رضی الله عنه هغه لره د بحرين عامل مقرر کړې وو. خو بيا ئې معزول کړې وو. مختصر واقعه داده. چه د عبدالقيس بن البحرين سردار جارود د قدامه بن مظعون خلاف ګواهي ورکړله. چه دې شراب څکي. حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل. چه آيا ستا سره بل څوك دوهم ګواه شته. علقمه خصي اووئيل. زه ګواهي ورکوم. چه ما دې په شرابو څښلو باندې کتلې دې. ددې نه روسته حضرت عمر رضی الله عنه خپل اوښې (دخورخاوند) قدامه ته کوړې اولګولې. او هغه ئې معزول کړو.

د ولد الزنا د ګواهۍ حکم

وَوَلَدِ الزِّنَا اود ولد الزنا ګواهي به هم قبول وي.

تشريح ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي. چه د ولدالزنا ګواهي به نه قبليږي.

دليله ځکه چې د زنا ارتکاب کولو سره موريلار فاسق کيږي.

د خنثى د ګواهۍ حکم

وَشَهَادَةُ الْخُنْثٰى جَائِزَةٌ اود خنثى ګواهي جائز ده.

تشريح خنثى هغه دې. په کوم کس کې چې د سړي او ښځې دواړو علامت موروزاده (پيدائشي) وي. نوکه خنثى عادل وي. نود هغه ګواهي به قبول وي.

دليله دليل دا دې چې دا به سړې وي. يا به ښځه وي. اود قرآن نه ثابته ده. چه د دواړو ګواهي مقبول ده. لکه ارشاد دې. ﴿وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ﴾ احتياط دادې. چه خنثى سره يو سړې او يوه ښځه ګواهي ورکړي. ځکه خنثى که ښځه وي. نو په دې صورت کې به يو سړې او دوه ښځې ګواه وي. اوکه خنثى سړې وي. نو په دې صورت کې به دوه سړي ګواه وي. اوښځه به زياتي وي. او دا هم مناسب ده. چې په حدودو اوقصاص کې د خنثى ګواهي قبول نکړې شي. ځکه چې په خنثى کې د ښځې کيدلوهم احتمال دې. حالانکه په حدودو او قصاص کې د ښځو ګواهي نه قبليږي.

(١) اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه في الأقضية (نصب: ٤\١٧٧)۔

د دعوې موافق یا مخالف ګواهئ حکم

وَإِذَا الشَّهَادَةُ وَافَقَتِ الدَّعْوَىٰ قُبِلَتْ او کله چې ګواهي د دعوې موافق وی.نو قبلولې به شي. وَإِنْ خَالَفَتْهَا لَمْ تُقْبَلْ اوکه د دعوې مخالف وی.نو قبلولې به نشي.

حل اللغة ① وافقت -موافق شي- ② خالفت -مخالف شي-

تشریح دعوه وائی.دداسې سړی په مجلس کې دخپل حق مطالبه کول.چاته چې د حق ثابتيدلو نه روسته د خلاصې ور کولو اختيار حاصل وی. ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی. که شهادت د دعوه موافق وی.نو قبلولې به شي.اوکه مخالف وی.نو قبلولې به نشي.

د موافق کیدلو مطلب دادې.چه دعوه او شهادت د نسب په اعتبار سره متحد وی. مثلاً که یوکس دعوه اوکړله.چه فلاني کس زما غلام دې.دا زما د فلانئ وینځې نه پیدا شوې دې.ګواه ګواهي ورکړله.چه ددې نه علاوه د بلې وینځې نه پیدا شوې دې.نو په نسبت کې د اتحاد نه کیدلو په وجه به شهادت د دعوې موافق نه وی.

یا د ملك په اعتبار سره متحد وی. مثلاً که یوکس دعوه اوکړله.چه فلاني شئ زما ملك دې.اوګواه ګواهي ورکړله.چه دده د خوی ملك دې.نو په ملك کې د اتحاد نه کیدلو په وجه به شهادت د دعوې موافق نه وی.

یا د وضع په اعتبار سره متحد وی. مثلاً که یو کس دعوه اوکړله.د مشرق اړخ د زمکې.او ګواه د لویدیځ اړخ د زمکې ګواهي ورکړله.نو په وضع کې د اتحاد نه کیدلو په وجه به شهادت د دعوې موافق نه وی.

یا د انفعال،په اعتبار سره متحد وی.مثلاً که یوکس دعوه اوکړله.چه فلانی زما زې اوشلوله.او په دې کې دننه شئ نې ضائع کړې دې.او ګواه ګواهي ورکړله.چه دا زې پخپله د مدعی سره شلیدلې ده.نو په فعل او انفعال کې د اتحاد نه کیدلو په وجه به شهادت د دعوې موافق نه وی.

یا د زمان اومکان په اعتبار سره متحد وی.مثلاً که یو کس دعوه اوکړله.چه فلانی زما پلار په یوم نحرکې په دیوبند کې قتل کړې دې.او ګواه ګواهي ورکړله.چه په یوم فطرکې نې سهارنپور کې قتل کړې دې.نو په زمان او مکان کې د اتحاد نه کیدلو په وجه به شهادت د دعوه موافق نه وی.

یا د کیف په اعتبار سره متحد وی مثلاً که یوسړی په بل کس باندې د سرې کپړې پټولو دعوه اوکړله.او ګواه د سپینې کپړې ګواهي ورکړله.نو په کیف کې د اتحاد نه کیدلو په وجه به شهادت د دعوې موافق نه وی.

یا د نوع په اعتبار سره متحد وی مثلاً که یوسړی په بل کس باندې د لس دینارو دعوه اوکړله.او شاهد د لس درهمو شهادت ورکړو.نو په نوع کې د اتحاد نه کیدلو په وجه به شهادت د دعوې موافق نه وی.بهرحال په ذکرشوی څیزونوکې که اتحاد اوموندې شو.نو شهادت به د دعوې موافق وی.ګنې مخالف به وی.

دلیله ددې دلیل چې د موافقت په صورت کې به شهادت قبول وی.اود مخالفت په صورت کې به قبول نه وی.داده.چه په حقوق العباد کې د شهادت د قبولیت لپاره د دعوه مقدم کیدل شرط دی.اود موافقت په صورت کې دا شرط موجود دې.نو شهادت به قبول وی.اود مخالفت په ضورت کې دا شرط معدوم دې.نو شهادت به قبول نه وی.

وجه تقدیم الدعوی لقبول الشهادة پاتې شوه داخبره چې د شهادت د قبولیت لپاره ددعوې مقدم کیدل شرط ولې دی؟ نو ددې وجه داده.چه قاضی د خصوماتو د فیصلو لپاره مقرر وی.نود خصوماتو د

فیصلې لپاره د خصومت مقدم کیدل ضروري دي.اود خصومت نه دعوه مراد ده.نود دعوې مخکې کیدل به ضروري وي.اود موافقت په صورت کې دا شرط ځکه موجود دې.چه شهادت وانې.د دعوې تصدیق کولو ته.نو هرکله چې ګواه شهادت ورکوي.نو ګویا د دعوې تصدیق کوي اود تصدیق لپاره ضروري دي.چه د کوم شي تصدیق اوکړې شي.هغه د وړاندې نه موجود وي.نود موافقت په صورت کې د دعوې مقدم کیدل اوموندې شو.او هرکله چې د دعوې مقدم کیدل کوم چې د شهادت د قبولیت لپاره شرط دې.هغه اوموندې شو.نو شهادت به هم قبول وي.اود مخالفت په صورت کې د شاهد صدق معتبر وي.د مدعی صدق معتبر نه وي.نو شاهد چې کله د دعوې مخالفت اوکړي.نو ګویا هغه د دعوې تکذیب او تردید اوکړو.او هرکله چې د دعوې تکذیب او تردید اوشو.نود دعوې کیدل اونه کیدل برابر شو.اوهرکله چې د دعوې کیدل او نه کیدل برابر شو.نود دعوې تقدم کوم چې د شهادت د قبولیت لپاره شرط دې.اونه موندې شو.او هرکله چې د قبولیت شرط اونه موندې شو.نو شهادت به هم قبول نه وي.

د ګواهانو په ګواهۍ کښې د اتفاق حکم

وَيُعْتَبَرُ اتِّفَاقُ الشَّاهِدَيْنِ فِي اللَّفْظِ وَالْمَعْنَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ فرمائي.اود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د دواړه ګواهانو په لفظ او معنی کې متفق کیدل معتبر دی. فَإِنْ شَهِدَ أَحَدُهُمَا بِأَلْفٍ وَالْآخَرُ بِأَلْفَيْنِ لَمْ تُقْبَلِ الشَّهَادَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ[1] نو که په دوی کې یو ګواه د یو زر ګواهي ورکړله.او دوهم د دوو زرو ګواهي ورکړله.نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز به ګواهي نه قبلیږي.

تشریح> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د ګواهانو په لفظ او معنی دواړه اعتبار سره متفق کیدل ضروري دی.ځوکه د ترادف په وجه لفظي اختلاف اوشو.نودا به مانع د شهادت نه وي.مثلاً یو ګواه د هبه ګواهي ورکړله.او دوهم د عطیه ګواهي ورکړله.نودا ګواهي به قبلولې شي.اګرچه لفظي اختلاف دې.خودا اختلاف د ترادف په وجه دې.ځکه چې هبه او عطیه دواړه مترادف دی.بهرحال د امام صاحب رحمه الله په نیز د دواړو ګواهانو په لفظ کې هم متفق کیدل ضروري دی. په معنی کې هم متفق کیدل ضروري دی.

دلیله> د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه هرکله یوګواه د یو زرګواهي ورکړله.او دوهم د دوه زره ګواهي ورکړله.نو دواړو لفظاً اختلاف کړې دې.اود لفظ اختلاف دلالت کوي.په اختلاف د معنی باندې.ځکه چې معنی د لفظ نه مستفاد کیږي.نو هرکله چې په لفظ کې اختلاف شو.نو په معنی کې به هم اختلاف وي.او اختلاف د لفظ په اختلاف د معنی باندې په دې وجه هم دلالت کوي.چه مثلاً لفظ الف (یو زر) سره دوه زره مقدار نشي تعبیر کولې.او په لفظ الفین (دوه زره) سره د یو زر مقدار نشي تعبیرکولې.نو په دواړه ګواهانو کې به د هریو کلام د دوهم د کلام مغایر وي.ځکه چې په دواړو کې د هریودکلام مدلول د دوهم د کلام د مدلول مغائر او مبائن دې.او هرکله چې دا خبره ده.نو په هرکلام باندې یو ګواه پاتې شو.یعنی په یو زر باندې یو ګواه پاتې شو.او په دوه زره هم یو ګواه پاتې شو.اودا خبره وړاندې تیره شوې ده.چه شهادت د دوه ګواهانو د ګواهۍ نوم دې.نود یو په کلام باندې هم شهادت تامه اونه موندې شو.او هرکله چې شهادت تامه اونه موندې شو.نودا به قبلولې هم نشي.اودا

[1] القول الراجح هو هذا قول الإمام رحمه الله كذا في الدرالمنتقى (۲۸۶\۳) والهندية (۵۰۴\۳) نقلاً عن القول الراجح (۱۳۷\۲)-

داسې شوه.لکه چې ګواهانو په جنس مال کې اختلاف کړې وي.مثلاً يو ګواه د زر درهمو او دوهم د سلو دينارو ګواهي ورکړې وي.نودا ګواهي نشي قبلولې.نو هم دغه ډول د يو زر اود دوه زره د اختلاف په صورت کې به هم ګواهي قبول نه وي.

وَقَالَ ابويوسف ومحمد تُقْبَلُ عَلَى الْأَلْفِ او د صاحبينو رحمهماالله په نيز به دوو زرو باندې ګواهي قبليږي.

تشريح> مسلک الصاحبين رحمهماالله> د صاحبينو په نيز صرف معنی کې متفق کيدل ضروري دی.لفظ کې متفق کيدل ضروري نه دی. نوکه مدعي په يوکس باندې د دوه زره روپو دعوه اوکړله.او بيا ئې په دې باندې بينه پيش کړل.خو يو ګواه د يو زر روپو ګواهي ورکړله.او دوهم ګواه د دوو زرو روپو ګواهي ورکړله.نود حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به دا ګواهي قبول نه وي.اود صاحبينو رحمهماالله په نيز به په کمتر باندې قبلولې شي.

دليلهما> دليل دادې.چه دواړه ګواهانو په کمتر باندې خو اتفاق کړې دې.يعنی د متن په مسئله کې په يو زر باندې،اود شرح په مسئله کې په سلو باندې او په يو طلاق باندې خو دواړه ګواهان متفق دی.البته يو ګواه څه زيادت کړې دې.يعنی د متن په مسئله کې ئې د يو زر زياتوالې کړې دې.اود شرح په مسئله کې ئې د سل،اود يو طلاق يا دوه طلاقو زيادت کړې دې.نو په کوم مقدار باندې چې دواړه ګواهان متفق دی.يعنی يو زر،يا يوسل،يا يو طلاق هغه مقدار به ثابتولې شي.او په کوم مقدار چې صرف يو ګواه ګواهي ورکړې ده.يعنی زياتي يو زر،يا زياتي سل،يا زياتي يو طلاق يا دوه طلاقه،هغه مقدار به د ګواه لپاره د پاتې کيدلو په وجه نه ثابتيږي.او ددې مثال داسې دې.لکه چې يوکس په بل باندې د يونيم زر روپو دعوه اوکړله.خو يو ګواه د يو زرګواهي ورکړله.اويو د يو نيم زرګواهي ورکړله.نود شاهدينو په يو زر باندې لفظاً او معناً د اتفاق کولو په وجه به په يو زر باندې ګواهي بالاتفاق قبلولې شي.نو دغه ډول په ذکر شوې مسئله کې به هم په کمتر مقدار باندې ګواهي قبلولې شي.

د دوو ګواهانو د کمي زياتې اختلاف په صورت کښې د مدعي د دعوې حکم

وَإِنْ شَهِدَ أَحَدُهُمَا بِأَلْفٍ وَالْآخَرُ بِأَلْفٍ وَخَمْسِمِائَةٍ او که په دوه ګواهانو کې يوګواه د يو زر،او دوهم ګواه د يونيم زر ګواهي ورکړله. وَالْمُدَّعِي يَدَّعِي أَلْفًا وَخَمْسَمِائَةٍ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمَا عَلَى الْأَلْفِ او مدعي هم د يونيم زر دعوه کوي.نو په يو زرباندې به د دواړو ګواهي قبلولې شي.

تشريح> دا معلومه شوې ده .چه د حضرت امام صاحب رحمه الله په نيز د شاهدينو په لفظ او معنی کې متفق کيدل د شهادت د قبوليت شرط دې.هم په هغې باندې متفرع کولو سره فرمائی.که په دواړو ګواهانوکې يوکس د يو زر درهمو ګواهي ورکړله.او دوهم د يوزر او پنځه سوه درهمو ګواهي ورکړله.او مدعي هم د يو نيم زرو دعوه کوي.نو په يو زر درهمو به ګواهي قبلولې شي.

دليلهما> دليل دا دې چې دواړه ګواه په يو زر باندې لفظاً هم متفق دی.او معنی هم متفق دی.معنی متفق کيدل خوښکاره دی.ځکه چې د يونيم زر په ضمن کې يو زر هم موجود دی.او لفظاً اتفاق ځکه دې.چه،،الالف والخمس مائة،،(يو زر او پنځه سوه) دوه جملې دی.د دوهمې جملې په رومبۍ باندې عطف شوې دی.يعنی د ،،خمس مائة،، په،،الف،، باندې عطف شوې دی.او عطف اول يعنی معطوف ثابتوی.نو کوم ګواه چې د يوزر او پنځه سوه ګواهي ورکړې ده.هغه هم اولاً د يو زرګواهي ورکړې ده.نو په يو زر باندې د دواړو ګواهانو اتفاق اوموندې شو.او هرکله چې په يو زر باندې دواړه ګواهان لفظاً او

معنا دواړه یو شان متفق شو.نود شهادت د قبولیت شرط موندلو په وجه په یو زر باندې به ګواهي قبلولې شي.

دوه ګواهانو کښې د یو په پنځه سوه اداکولو باندې د ګواهۍ ورکولو حکم

وَإِذَا شَهِدَا بِأَلْفٍ وَقَالَ أَحَدُهُمَا قَضَاهُ مِنْهَا خَمْسَمِائَةٍ که دواړه ګواهانو د یو زر ګواهي ورکړله.او په دوی کې یو ګواه اووئیل.چه مدعی علیه مدعی ته پنځه سوه اداکړی دی. **قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمَا بِأَلْفٍ**[1] نو په زرو به د دواړو ګواهي قبلولې شي.

تشریح صورت د مسئلې دادې.چه یو سړی په بل سړی باندې د یو زر روپو دعوه اوکړله.او دوه ګواهانو د مدعی په حق کې د یو زر روپو ګواهي ورکړله.خو یو ګواه اووئیل.چه مدعی علیه ددې نه پنځه سوه روپۍ ادا کړی دی.نو په یو زر به د دواړو ګواهي قبلولې شي.

دلیله ځکه چې په دې مقدار باندې دواړه ګواهان متفق دی.

وَلَمْ يُسْمَعْ قَوْلُهُ إِنَّهُ قَضَاهُ مِنْهَا خَمْسَمِائَةٍ اود ګواه قول چې مدعی علیه د هغې نه پنځه سوه اداکړی دی.اوریدلې به نشي. **إِلَّا أَنْ يَشْهَدَ مَعَهُ آخَرُ** ځکه چې دا د یو سړی ګواهي ده.خودا که دوهم سړې دده سره وی.

تشریح اود یو ګواه دا ووئیل.چه مدعی علیه پنځه سوه روپۍ اداکړی دی.مسموع او قابل قبول به نه وی.په یو زر باندې د دواړو ګواهي به

دلیله ځکه قبلولې شي.چه دواړه ګواهان په یو زر روپو باندې متفق دی.اود پنځه سوه روپو ادا کولو قول به ځکه نشي قبلولې .چه دا صرف د یو سړی ګواهي ده.حالاتکه د یو سړی ګواهۍ سره هیڅ حق نه ثابتیږی.خوکه دوهم سړې هم دده سره وی.اود پنځه سوه روپو ادا کولو ګواهي ورکړی.نو ګواهي به قبلولې شي.

مسلک ابي یوسف په زیربحث مسئله کې د حضرت امام ابویوسف رحمه الله نه نقل دی.چه قاضی به صرف د پنځه سوه روپو حکم ورکوی.یعنی ددې شهادت په نتیجه کې به په مدعی علیه باندې صرف پنځه سوه روپۍ اداکول واجب وی.

دلیله دلیل دادې.چه کوم ګواه د پنځه سوه روپو ادا کولو ګواهي ورکړې ده.دهغه د ګواهۍ مضمون دا دې چې د مدعی علیه په ذمه صرف د پنځه سوه روپو قرضه ده.نودا داسې شوه.ګویا یو ګواه د یو زر ګواهي ورکړې ده.او دوهم د پنځه سوه روپو ګواهي ورکړې ده.او په داسې صورت کې قاضی ته په اقل مقدار باندې د فیصله ور کولو اجازت وی.

الجواب عنه د دې دلیل نه جواب دا دې چې په ابتداء کې د یو زر په ګواهۍ باندې دواړه ګواهان متفق دی.خو پنځه سوه روپۍ ادا کولو باندې صرف یو سړې ګواه دې.اود یوسړی ګواهي نشي قبلولې.نود پنځه سوه روپو ادا کولو ګواهي به مردود وی.او په یو زر باندې د دواړه ګواهانو د متفق کیدلو په وجه به په یو زر باندې ګواهي قبول وی.

[1]) القول الراجح هو هذا ظاهر الرواية من قبول شهادتهما بالالف كذا في فتح القدير(۵۰۷\۶) نقلاً عن القول الراجح (۱۳۷\۲)-

په اداکولو باندې د علم په صورت کښې د ګواهئ ورکولو حکم

وَيَنْبَغِي لِلشَّاهِدِ او د ګواه لپاره مناسب دی. إِذَا عَلِمَ ذٰلِكَ أَنْ لَا يَشْهَدَ بِأَلْفٍ چې کله هغه ته دا معلومه شي. چې مدعی علیه پنځه سوه روپئ اداکړی دی. نو هغه دې د زرو ګواهي نه ورکوی. حَتّٰى يُقِرَّ الْمُدَّعِي أَنَّهُ قَبَضَ خَمْسَمِائَةٍ تر دې چې مدعی دا اووائی. چه ما په پنځه سوه روپو باندې قبضه کړې ده.

تشریح صورت د مسئلې دادې. چه یو سړی په دوهم سړی باندې د یو زر روپو د پور دعوه اوکړله. او په دې دعوه باندې مدعی سره دوه ګواهان موجود دی. خو په دوی کې یو ګواه ته دا معلومه ده. چه مدعی علیه پنځه سوه روپئ مدعی ته اداکړی دی. نو دا ګواه دې د یو زر روپو ګواهي هغه وخت پورې نه ورکوی. ترکومه پورې چې مدعی دا اقرار اونکړی. چه ما پنځه سوه روپئ مدعی علیه نه وصول کړی دی.

دلیله ځکه که د مدعی د اقررا نه وړاندې ګواه دا ګواهي ورکړله. چه د مدعی په مدعی علیه باندې یو زر روپئ پور دی. نو دا ګواه به په ظلم باندې د مدعی کومک کونکې وی. په دې طریقه چې د مدعی علیه په ذمه د مدعی ۔ یو زر روپو په ګواهئ باندې خو دواړه ګواهان متفق دی. خو یو ګواه په دې خبره باندې شاهد دې. چه مدعی علیه به د هغې نه پنځه سوه روپئ اداکړی دی نو په وړاندې مسئله کې تیر شوی دی. چه د یوزر په قرضه باندې د دواړو ګواهانو د متفق کیدلو په وجه به یو زر روپئ د مدعی علیه په ذمه باندې ثابت شي. او ګواهي به قبول وی. او د پنځه سوه په ادا کولو باندې صرف د یو ګواه کیدلو په وجه به دا ګواهي نه قبلیږی. او قاضی به په مدعی علیه باندې د یو زر فیصله ورکوی. او په دې صورت کې به د مدعی علیه حق ضائع کیږی. یعنی مدعی علیه چې کومې پنځه سوه روپئ اداکړی دی. هغه به ضائع شی. او دا سراسر په مدعی علیه باندې ظلم دې. او په دې ظلم کې هغه ګواه هم د مدعی سره شریك دې. کوم ته چې دا معلومه ده. چه مدعی د مدعی علیه نه پنځه سوه روپئ وصول کړی دی. خو ددې باوجود نې د یو زر روپو پور ګواهي ورکړله.

خوکله چې مدعی د پنځه سوه روپو وصولولو اقرار اوکړو. نو هغه ګواه چاته چې ددې د وصولولو علم دې. د یو زر ګواهي ور کولو سره به په ظلم باندې اعانت (او مدد) کونکې نه وی. ځکه چې په دې صورت کې به د مدعی د اقرار کولو په وجه قاضی په مدعی علیه باندې د یو زر فیصله نه ورکوی. بلکه صرف د پنځه سوه روپو فیصله به ورکوی.

په مکان کښې د ګواهانو د اختلاف حکم

وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ أَنَّ زَيْدًا قُتِلَ يَوْمَ النَّحْرِ بِمَكَّةَ فرمانی. او کله چې دوه ګواهانو ګواهي ورکړله. چه ده زید په یوم النحر کې په مکه کې قتل کړې دې. وَشَهِدَ آخَرَانِ أَنَّهُ قُتِلَ يَوْمَ النَّحْرِ بِالْكُوفَةِ او نورو دوه ګواهانو ګواهي ورکړله. چه هغه زید په یوم النحر کې په کوفه کې قتل کړې دې. وَاجْتَمَعُوا عِنْدَ الْحَاكِمِ لَمْ يَقْبَلِ الشَّهَادَتَيْنِ او د دواړو ګواهانو دواړه فریق د قاضی په عدالت کې جمع شو. نو دواړه شهادتونه به قبول نه وی.

حل اللغة ① **یوم**-ورځ-② **النحر**-قربانی-③ **قتل**-قتل کړې دې-④ **اجتمعوا**-جمع شول

تشریح مخکې بیان شوی دی. چه د شاهدینو په مکان او د حادثې په ځائې کې اختلاف د شهادت د قبولیت لپاره مانع دې. هم د هغې په مثال کې دا مسئله په خدمت کې وړاندې کولې شی. که دوه ګواهانو دا شهادت ورکړو. چه بکر زید په لسم د ذی الحجه په مکه مکرمه کې قتل کړې دې. بیا هم

رغه وخت د قاضي دحکم صادر کولو نه وړاندې نورو دوه ګواهانو ګواهي ورکړله.چه بکر زید په لسم ذي الحجه کې په کوفه کې قتل کړې دې.نو دواړه شهادتونه به نه قبلیږي.
دليله دليل دادې.چه يو فعل يعني د يو سړي قتل په دوه ځايونوکې چونکه ناممکن دې.په دې وجه دې
دواړو شهادتونوکې به يو شهادت يقيني طور باندې دروغ وي.اود مرجح نه کيدلو په وجه به يو ته ترجيح هم حاصل نه وي.نوهرکله چې دواړه شهادتونه د برابر درجې دی.او يو ته په بل باندې ترجيح هم حاصل نه ده.نود تعارض په وجه به دواړه ردکولې شي.

فَإِنْ سَبَقَتْ إِحْدَاهُمَا وَقَضَى بِهَا ثُمَّ حَضَرَتِ الْأُخْرَى لَمْ تُقْبَلْ نو که په دوی کې يو فريق سبقت اوکړو.او قاضي (دوباره من الاصل په دې باندې فيصله ورکړله.بيا دوهم فريق (د قاضي په مجلس کې) حاضر شو.نودا به نشي قبلولې.

حل اللغة ① **سبقت**-وړاندې والې-
تشريح البته که دواړو ګواهانو مخکې ګواهي ورکړله.او قاضي د هغې مطابق فيصله ورکړله.بيا نورو دوه ګواهانو شهادت ورکړو.نودا دوهم شهادت به قبول نه وي.
دليله ځکه چې رومبی شهادت سره د قاضي حکم متصل شوې دې.ځکه به رومبې شهادت راجح وي.او دوهم شهادت د قاضي د قضاء سره د نه متصل کيدلو په وجه مرجوح دې.اود مرجوح په وجه راجح نشي ماتولې.او نشي پريخودلې.نو رومبې شهادت به د راجح کيدلو په وجه قبلولې شي.او دوهم شهادت به د مرجوح کيدلو په و جه ردکولې شي.

په خالص جرح کښې د قاضي لپاره حکم

وَلَا يَسْمَعُ الْقَاضِي الشَّهَادَةَ عَلَى جَرْحٍ وَلَا نَفْيٍ فرماني.چه قاضي به شهادت نه آوري په خالص جرح کيدو يا نه کيدوکې.وَلَا يَحْكُمُ بِذَلِكَ اونه به د هغې مطابق حکم ورکوي.

حل اللغة ① **يسمع**-اوري-② **جرح**-عيب-③ **يحكم**-فيصله کوي
تشريح د مسئلې صورت دادې.چه مدعی پخپله دعوه باندې ګواهان پيش کړل.خو مدعی عليه پخپلو ګواهانو باندې جرح مجرد اوکړه.(جرح مجرد هغه ده.چه دهغې په وجه نه د شريعت حق واجبيږي.اونه د بنده حق واجبيږي.اوجرح مجر دحاکم د حکم لاندې هم نه داخليږي.) مثلا وې ونيل.چه د مدعی دا ګواهان فاسقان دی.يا زناکار دی.يا شرابيان دی.يا سود خواره دی.او مدعی عليه په خپله دې جرح مجرد باندې ګواهان هم پيش کړل.نو قاضي به په دې جرح مجرد باندې دمدعی عليه د ګواهانو ګواهي نه قبلوي.اونه به ددې جرح مطابق حکم ورکوي.
دلائله ① دليل دادې.چه قاضي شهادت ځکه قبلوي.چه ددې شهادت په بنا (بنياد) باندې حکم ورکړي.هرکله چې د حکم ور کولو لپاره شهادت قبلولې شي.نو ضروري ده.چه مشهود به داسې شئ وي.کوم چې د حاکم د حکم لاندې داخليدې شي.او جرح مجرد چې ددې حاصل د مدعی ګواهانو ته فاسق ونيل دی.هغه د حاکم د حکم لاندې نه داخليږي.ځکه چې د حاکم حکم د مشهود به لازمول دی.حالانکه د قاضي او حاکم په توان کې فسق لازمول نشته.ځکه فسق داسې شئ دې.کوم چې د توبه په ذريعه لرې کيدلې شي.نوهرکله چې فسق د توبه په ذريعه لرې کولې شي.نوبه فسق کې به دالزام معنی نه متحقق کيږي.او هرکله چې په دې کې د الزام معنی نه متحقق کيږي.نودا به دحاکم د حکم

لاندې هم نه داخليږي.او هرکله چې فسق د حاكم د حكم لاندې نه داخليږي.نو په دې به شهادت هم نه قبليږي.ځکه چې شهادت په هغه شئ قبلولې شي.کوم شئ چې د حاکم د حکم لاندې داخليدې شي.

۴ د مدعى عليه د ګواهانو،د مدعی د ګواهانو په فاسق کیدلو،یا زناکار کیدلو،یا په شراب څښلو ،یا په سود خور کیدلو باندې ګواهي ورکول،یعنی په جرح مجرد باندې ګواهي ورکول، پخپله د مدعی علیه ګواهان فاسق کوی.اود فاسق ګواهي نه قبليږي.نود مدعى عليه د ګواهانو ګواهي به هم نه قبليږي.

إِلَّا إِذَا اسْتَحَقَّ عَلَيْهِ حَقًّا مګر دا چې د کوم استحقاق ثابت شي.

تشریح که د مدعی علیه ګواهانو که د مدعی د ګواهانو فاسق کیدلو ګواهي ورکړله.اودا نې اووئیل چه دا فاسق دی،یعنی د زناکارئ،یاد شرابو څښلو ،یا د سود خورئ عادتیان دی.نودا ګواهي به نشي قبلولې.

دليله ځکه چې فسق د قاضی دحکم لاندې نه داخليږي.

وَلَا يَجُوزُ لِلشَّاهِدِ أَنْ يَشْهَدَ بِشَيْءٍ لَمْ يُعَايِنْهُ د ګواه لپاره دداسې شئ ګواهي ورکول جائز نه دی.د کوم چې ده مشاهده نه ده کړې. إِلَّا النَّسَبَ وَالْمَوْتَ وَالنِّكَاحَ وَالدُّخُولَ وَوِلَايَةَ الْقَاضِي سوا د نسب، مرګ، نکاح، دخول، اود قاضی د ولایت نه. فَإِنَّهُ يَسَعُهُ أَنْ يَشْهَدَ بِهَذِهِ الْأَشْيَاءِ إِذَا أَخْبَرَهُ بِهَا مَنْ يَثِقُ بِهِ ددِه لپاره ددې خیزونو ګواهي جائز نه ده.په دې شرط چې ده لره په دې خیزونو باندې کوم ثقه سړی خبر ورکړې وی.

حل اللغة ① **لم يعاينه** –چه لیدلې نې نه وی-② **يسع** –جائز دی-③ **أخبر** –خبر ورکړی-④ **يثق به** –قابل اعتماد

تشریح **مسئله** د ګواه لپاره دداسې خیزونو په اړه کې ګواهي ورکول د کوم چې ده مشاهده نه وی کړې. جائز نه دې.البته پنځه شیان داسې دی.چه د هغې په اړه کې د مشاهدې نه بغیر صرف د ثقه خلقو نه په اوریدلو سره ګواهي ورکول جائز دی. ① نسب ② مرګ ③ نکاح ④ دخول ⑤ ولایت د قاضی.

صورة النسب د نسب نه مراد دادې.چه مثلاً حامد د خلقو نه واوریدل.چه شاهد د فلانی خوئ دې.خود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز خبر ورکونکې جماعت (دله) داسې وی.چه ددوی په دروغو باندې اتفاق د عقل نه لرې وی.اود صاحبینو رحمهما الله په نیز دوه عادل سړی کافی دی.نوکه حامد نسب داسې واوریدلو نو دده لپاره دا ګواهي ورکول حلال دې.چه شاهد د فلانی خوئ دې.

صورة الموت د مرګ صورت دادې چه ګواه مثلاً حامد د خلقو نه واوریدل.چه فلاح مرشوې دې.یا نې خلق اوکتل.چه دده سره د تکفین او تدفین د سړو پشان معامله کوی.نود ګواه لپاره دده دمرګ ګواهي ورکول جائز دی.اګرچه ددې مشاهده نې نه وی کړې.

صورة النكاح د نکاح صورت دادې.چه ګواه د خلقو نه دا واوریدل.چه فلانی سړی د فلانئ ښځې سره نکاح کړې ده.نو ګوه اګرچه د نکاح مشاهده نه ده کړې.خوده له د نکاح ګواهي ورکول جائز دی.

صورة الدخول اود دخول صورت دادې چه ګواه د خلقو نه واوریدل.چه فلانئ ښځه د فلانی سړی ښځه (بی بی) ده.او هغه ددې سره دخول کړې دې.اګرچه ده د عقد نکاح اود دخول مشاهده نه وی کړې.

صورة ولاية القاضي د قاضی د ولایت صورت دادې.چه یو سړی د خلقو نه واوریدل.چه فلانی ددې ښار قاضی دې.او هغه نې اوکتلو.چه په خلقوکې فیصلې جاری کوی.نو ددې سړی لپاره دا ګواهي ورکول جائز دی.چه فلانې سړې د فلانی ښار قاضی دې.اګرچه د امام المسلمين د اړخه دده د قاضی جوړولو

مشاهده نه وي کړي.بهرحال ددې پنځه څيزونو په اړه کې د ثقه خلقو نه اوريدلو سره ګواهي ورکول جائز دي.اګرچه ددې مشاهده ئې نه وي کړې.خو دا حکم استحساني دې.

وجه الاستحسان داستحسان وجه داده.چه ذکر شوي پنځه شيان داسې دي.چه ددې د اسبابو معائنه خاص خاص خلق کوي.په هغې باندې عام خلق نه خبرېږي.حالانکه ددې څيزونو سره داسې احکام متعلق کيږي.کوم چې د مودو تيريدلو باوجود هم باقي کيږي.مثلاً نسب، مرګ، او نکاح سره ميراث متعلق دې.او دخول سره کمال مهر، عدت، ثبوت، احصان، او نسب متعلق دي.يعنې که د سړي ښځې سره دخول متحقق شي.نو په سړي به پوره مهر واجب وي.د طلاق په صورت کې به په ښځه عدت واجب وي.ښځه او سړې به دواړه محصن شمارلې کيږي.بچې پيدا شو.نود هغه نسب به ثابت وي.نوکه په دې څيزونو کې صرف په اوريدلو باندې ګواهي قبول نه وي.نو حرج به لاحق شي.او ډير احکام به معطل پاتې شي.مثلاً پنځوس کاله روسته يو سړي دعوه اوکړله.چه دا شئ زما د پلار ميراث دې.يا ښځې په مړي باندې د خپل مهر دعوه اوکړله.حالانکه نه ددې سړي د ولادت د مشاهدې ګواه موجود دې.او نه ددې ښځې ددې مړي سره د نکاح د مشاهدې ګواهان موجود دي.اوس که په دې دواړو صورتونوکې د هغه حضراتو ګواهي قبول نشي.چاچه نه د مدعي ولادت کتلې دې.اونه ئې ددې ښځې د نکاح مشاهده کړې ده.بلکه صرف د خلقو نه ئې اوريدلي دي.نو په رومبي صورت کې به د ميراث او په دوهم صورت کې به د مهر حکم بې کاره پاتې شي.د ميراث او مهر مدعيان به په حرج کې اخته شي.اود ټولو نه لوئې دليل دادې.چه مونږ ددې خبرې شهادت ورکوو.چه حضرت علي رضي الله عنه د ابوطالب خوئې دې.اګرچه مونږ ددوي د ولادت مشاهده نه ده کړې.او مونږ ددې خبرې شاهدان يو.چه دواړه صحابه رضي الله عنهما وفات شوي دي.اګرچه مونږ په دوي کې د هيڅ چا د مرګ مشاهده نه ده کړې.ددې مثال نه معلوميږي.چه په ذکر شوي پنځه څيزونوکې صرف په اوريدلو سره ګواهي ورکول جائز دي.

القياس في المسئلة د قياس تقاضا داده.چه صرف په اوريدلو سره ګواهي ورکول جائز نه وي.

دليل القياس ځکه چې شهادت د مشاهدې نه مشتق دې.او مشاهده په کتلو سره کيږي.په اوريدلو سره نه کيږي.حالانکه په ذکر شوي پنځه څيزونوکې معاينه او کتل اونه موندې شو.نودا شيان د بيع پشان شو.يعنې لکه څنګه چې صرف په اوريدلو سره د کتلو نه بغير د بيع شهادت ورکول جائز نه دي.دغه دول د قياس د مقتضاء مطابق صرف په اوريدلو سره ددې څيزونو ګواهي ورکول هم ناجائز دي.

په کوم حق کښې ..شهادة على الشهادة..ورکول جائز دي؟

> الشَّهَادَةُ عَلَى الشَّهَادَةِ جَائِزَةٌ فِي كُلِّ حَقٍّ په ګواهئ باندې ګواهي ورکول په هر داسې حق کې ورکول جائز دي. لَا يَسْقُطُ بِالشُّبْهَةِ کوم چې په شبه سره نه ساقطيږي.

حل اللغة ① **جائزة** -جائز دې-② **يسقط** -ساقطيږي-③ **الشبهة** -شبه-④ **الشهادة** -ګواهي

تشريح ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه ..شهادة على الشهادة..په هر داسې حق کې کوم چې د شبه په وجه نه ساقطيږي.خو دا استحساناً جائز دې.

وجه الاستحسان وجه د استحسان داده.چه د ..شهادة على الشهادة..سخت ارتيا دې.ځکه چې کله شهود اصل (اصلي ګواه) د عوارضو په وجه د شهادت ادا کولو نه عاجز کيږي.مثلاً شهود اصل بيمار وي.يا په سفر کې وي.يا د خپل څه مصروفيت په وجه د قاضي په مجلس کې نشي راتلې.نو په داسې صورت کې که..شهادة على الشهادة..جائز اونه ساتلې شي.نود خلقو(مدعيانو) حقوق به تلف (ضائع) شي.حالانکه د خلقو حقوق تلف کول ناجائز دي.او د هغې ژوندي کول واجب دي.نوهم ددې سخت حاجت په وجه ..شهادة على الشهادة..جائز اوګرځولې شو.اګرچه شهود فرع زيات وي.

القیاس قیاسا دا جائز نه دي.

وجه القیاس وجه د قیاس داده.چه شهادت عبادت بدنیه دي.کوم چې په شاهد اصل باندې لازم شوي دي.او شهادت د مشهود له حق نه دي.څکه چې مشهود له ته نه شاهدانو سره د مخاصمې حق دي.اونه په ګواهی ور کولو باندې د مجبوره کولو حق دي.بهرحال شهادت یو بدنی عبادت دي.او په شاهد اصل باندې لازم دي.او په عباداتِ بدنیه کې نیابت نه جاری کیږي.نو، ،شهادة علی الشهادة، ،کوم چې نیابت دي.هغه به هم نه جاری کیږي.اونه به جائز وي.خود خلقو د حقوقو ژوندی کولو لپاره دلته کې قیاس پریخودلې شوي دي.

د شهود فرع د زیادت دوه مطلبونه دی. ① یو داچه دوه ګواهان خپل نائب مقرر کړي.بیا دې نائبانو خپل نائب مقرر کړل.بیا هغوی خپل نائب مقررکړل....علی هذا القیاس.په دې صورت کې به، ،ان کثرت، ،د، ،وان بعدت، ، په معنی کې وي. ② دوهم مطلب دادې.چه شهود اصل دوه دی.په دوی کې هر یو خپلې ګواهۍ باندې دوه ګواهان مقررکړل.بیا په شهود فرع څلور واړه کې هریو خپلې ګواهۍ باندې دوه دوه ګواهان مقررکړل.نو په دې صورت کې به ، ،وان کثرت، ، پخپله معنی کې وي.او معنی به دا وي.چه د شهود فرع تعداد څومره زیات ولې نه وي.

وَلَا تُقْبَلُ فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ نه به شي قبلولې په حدود او قصاص.کښې

تشریح د شهود اصل په ذریعه ددې نه بچ کیدل هم ممکن دی.نوپه حدود او قصاص.کې به نشي قبلولې.

دلیله د فروع په شهادت کې یو ډول شبه ده.شبه خو یا په دې اعتبار سره ده.چه فروع د اصول بدل دی.او بدل ارخ ته هغه وخت رجوع کولې شي.کله چې انسان د اصل نه عاجز شي. شهادتِ فرع بدل دې.او په بدل کې د اصل په نسبت یو ډول شبه وي.یا په شهادتِ فرع کې په دې اعتبار سره شبه ده چه په دې کې احتمال د کذب زیات دې.یعنی په اصل ګواهانو کې د هغوی د نه معصوم کیدلو په وجه د دروغو احتمال وو.نو په فروع کې به احتمال نورهم زیات وي.بهرحال په شهادتِ فروع کې یو ډول شبه ده.او جنس شهود یعنی د شهود اصل په ذریعه د شهادتِ فروع نه بچ کیدل هم ممکن دی.په دې طریقه چې د اصول تعداد زیاتِ وي.که بعضو ته عذر راپیښ شو.نو باقی نور شهود اصل به ګواهی ورکوي.

د شهادة علی الشهادة شرعی حیثیت

وَتَجُوزُ شَهَادَةُ شَاهِدَيْنِ عَلَى شَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ اود دوه ګواهانو په ګواهۍ باندې دُ دوه ګواهانو ګواهی جائز ده.

تشریح د دوه اصلی ګواهانو ګواهۍ باندې د دوه فرعی ګواهانو ګواهی جائز ده.یعنی دوه فرعی ګواه مخکې د یواصل ګواه ګواهی نقل کړي.بیا هم دغه د واړه د دوهم اصل ګواه نقل کړي.دغه ډول دوه فرعی ګواه د دواړه اصلی ګواهانو ګواهی نقل کولې شي. (۱)

دلائله ① دلیل د حضرت علی رضی الله عنه قول دي. (لا یجوز علی شهادة رجل الا شهادة رجلین) (۱) یعنی د یوسړي په

---

(۱) **مسلک الشافعي:**- امام شافعي رحمه الله فرمائی.چه د دوه اصلی ګواهانو ګواهی نقل کولو لپاره د څلورو فرعی ګواهانو کیدل ضروری دی.یعنی دوه فرعی ګواه به د یو اصلی ګواه ګواهی نقل کوي.او نور دوه فرعی ګواه به د دوهم اصلی ګواه ګواهی نقل کوي.

شهادت باندې د دوه سړو شهادت ضروري دي.مطلب دادې.چه دوه فرعي ګواه به يوځل د يو اصلي ګواه ګواهي نقل کړي.او يو ځل به د دوهم اصلي ګواه ګواهي نقل کړي.دغه ډول به د هر اصلي ګواه په ګواهئ باندې دوه فرعي ګواهان هم شي.اود فرعي ګواهانو تعداد به هم د دوه نه زياتيږي.او ځلورکيږي به نه.لکه څنګه چې فقيه مرتاض حضرت امام شافعي رح نورالله مرقده فرمائيلي دي.

② د اصلي ګواه ګواهي نقل کول د حقوق الناس ځني دي.اود يوحق ثابتولو لپاره د نصاب شهادت(دوه ګواهان) کيدل ضروري دي.نو دوه فرعي ګواهانو چې د يو اصلي ګواه ګواهي نقل کړله.نو ګويا چې هغوی په يوحق باندې شهادت ورکړو.او په دې باندې نصاب شهادت هم پوره شو.بيا هم دوی فرعي ګواهانو هرکله چې د دوهم اصلي ګواه ګواهي نقل کړله.نو ګويا دوی د مخکنی حق نه علاوه په دوهم حق باندې ګواهي ورکړله.او په دې باندې هم نصاب شهادت اوموندې شو.اودا خبره هم مسلم ده.چه دوه ګواهان بلا ناغه په مختلف حقوقو باندې ګواهي ورکولې شي.نوهرکله چې په شهود اصل کې د هريو په شهادت نقل کولو باندې نصاب شهادت اوموندې شو.نود ذکر شوی دواړه فرعي ګواهانو ګواهي به قبلولې شي.په خلاف د دوه ښځو د شهادت.څکه چې دوه ښځې د يوسړی په مرتبه کې وي.په دې وجه صرف په دوه ښځو سره نصاب نه پوره کيږي.اوهرکله چې په دوه ښځو سره نصاب شهادت نه پوره کيږي.نو د دوی په شهادت باندې به د قاضي فيصله هم نه مرتب کيږي.

وَلَاتُقْبَلُ شَهَادَةُوَاحِدٍاود يو شهادت به په يو باندې قبول نه وي. عَلٰى شَهَادَةِوَاحِدٍ

تشريح> يو فرعي ګواه به يوځل د يو اصلي ګواه ګواهي نقل کړي.او يو ځل به د دوهم اصلي ګواه ګواهي نقل کړي.نو دغه ډول يو فرعي ګواه کافي دې.

دليله> ① دليل د حضرت علي رضي الله عنه قول دې. (لايجوز على شهادة رجل على شهادة رجلين) ([2]) يعني د يوسړی په شهادت باندې د دوه سړو شهادت ضروري دي.

② عقلي دليل دادې.چه شهادت نقل کول يو ډول حق دې.اود يو حق ثابتولو لپاره نصاب شهادت ضروري دې.نود اصل ګواهي ګواهي نقل کولو لپاره د دوه فرعي ګواهانو کيدل ضروري دي.يو فرعي ګواه به کافي نه وي.لکه څنګه چې زمونږ د بزرګ حضرت امام مالک رحمه الله قول دې.ددې په خلاف د احاديثو روايت دې.چه دا چونکه د حقوقو ځني نه دې.په دې وجه احاديث يو سړې هم د يوسړی نه روايت کولې شي.

په شهادت باندې د ګواه جوړولو طريقه

وَصِفَةُالْإِشْهَادِاو پخپله ګواهئ باندې د ګواه جوړولو طريقه داده. أَنْ يَقُولَ شَاهِدُالْأَصْلِ لِشَاهِدِ الْفَرْعِ:اشْهَدْعَلٰى شَهَادَتِيْ چې شاهد اصل به شاهد فرع ته دا وائي.چه ته زما په شهادت باندې شهادت ورکړه. أَنِّيْ أَشْهَدُأَنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ أَقَرَّعِنْدِيْ بِكَذَاچې زه شهادت ورکوم.چه فلان بن فلان زما په وړاندې داسې اقرار کړې دې. وَأَشْهَدَنِيْ عَلٰى نَفْسِهِ اوزه ئې پخپل ذات باندې شاهد جوړکړې يم.

حل اللغة> ① صفة -طريقه - ② الإشهاد-ګواه جوړول-

(۱) غريبه الزيلعي هذا للفظ ثم اخرج عن علي رضي الله عنه قال لايجوز على شهادة الميت إلا رجلان (نصب:۱۸۴\۴)۔

(۱) غريبه الزيلعي هذا للفظ ثم اخرج عن علي رضي الله عنه قال لايجوز على شهادة الميت إلا رجلان (نصب:۱۸۴\۴)۔

تشریح> دشاهد اصل شاهد فرع پخپل شهادت باندې د ګواه کولو طریقه داده.چه شاهد اصل شاهد فرع ته داسې اووائي.چه زه شهادت ورکوم.چه فلان بن فلان زما په وړاندې د فلان بن فلان لپاره د فلاني حق اقرار کړي دی.او مقر پخپل ذات باندې زه ګواه مقرر کړي یم.

دلیله> په شهادت فرع کې د شاهد اصل، شاهد فرع پخپل شهادت باندې د ګواه کولو شرط ځکه لګولې شوې دې.چه ګویا شاهد فرع د شاهد اصل نائب دې.او نائب جوړول ضروري دی.د نائب جوړولو نه بغیر څوک سړې نائب نشي کیدلې.نود شاهد اصل، شاهد فرع پخپله ګواهئ باندې ګواه کول ضروري دي.

،،شهادة علی الشهادة،،په هغه وخت حجت وي.کله چې شاهد فرع د شاهد اصل شهادت د قاضي په مجلس کې منتقل کړي.او شاهد فرع ته د شاهد اصل شهادت د قاضي په مجلس کې هغه وخت د منتقل کولو اجازت وي.کله چې شاهد اصل په هغه باندې د شهادت بوج اچولې وي.بهرحال ثابته شوه.چه د ،،شهادة علی الشهادة،، لپاره تحمیل یعني د شاهد اصل، شاهد فرع ته،،اشهد علی شهادتي،، ونیلو سره په هغه باندې د شهادت بار اچولو،او هغه حامل شهادت جوړول ضروري دی.او شاهد فرع چونکه د شاهد اصل وکیل دې. په دې وجه دده وکیل جوړول هم ضروري دی.ددې تفصیل د ،،فصل ما یتحمله الشاهد،، لاندې تیر شوې دې.

وَإِنْ لَمْ يَقُلْ أَشْهَدَنِي عَلَى نَفْسِهِ جَازَ او که اصلي ګواه،،اشهد علی نفسه،، اونه ونیل.نو بیا هم جائز دی.

تشریح> اوکه شاهد اصل شاهد فرع ته داسې نه وي ونیلې.چه مقر زه پخپل ذات باندې ګواه کړې ووم.نودا هم جائز دی.

دلیله> ځکه چې کوم کس د بل سړي اقرار آوریدلې دې.د هغه لپاره ګواهي ورکول حلال دی.اګرچه مقر داسې نه وي ونیلې.چه ته زما په ذات باندې ګواه شه.

په ګواهئ باندې د ګواهئ ورکولو طریقه

وَيَقُولُ شَاهِدُ الْفَرْعِ عِنْدَ الْأَدَاءِ ګواهئ ادا کولو په وخت به شاهد فرع داسې وائي.، أَشْهَدُ أَنَّ فُلَانًا اود ،زه ګواهي ورکوم. أَنَّ فُلَانًا أَقَرَّ عِنْدَهُ بِكَذَا چې فلاني سړی د اصل ګواه په وړاندې د فلاني حق اقرار کړي دي. وَقَالَ لِي أَشْهَدْ عَلَى شَهَادَتِي بِذَلِكَ او اصلي ګواه ماته اوونیل.چه ته زما په دې ګواهئ باندې ګواه یې،، فَإِنِّي أَشْهَدُ عَلَى ذَلِكَ او زه په دې باندې ګواه یم

تشریح> ابو الحسن قدوري رحمه الله د فرعي ګواه د ګواهئ کیفیت بیانولو کې فرمائي.چه شاهد فرع به د قاضي په مجلس کې د شهادت ادا کولو په وخت داسې وائي.چه،، زه ګواهي ورکوم.چه فلان بن فلان زه پخپله ګواهئ باندې ګواه کړي یم.چه فلان بن فلان دده په وړاندې د فلان بن فلان لپاره ددې حق اقرار کړي دې.او(اصلي ګواه) ماته اوونیل.چه ته زما په دې ګواهئ باندې ګواه شه،،

دلیله> ددې پوره عبارت ونیلو وجه داده.چه د شاهد فرع شهادت ضروري دې.نو هغه به وائي.چه،،زه شهادت ورکوم،، اودا هم ضروري ده.چه شاهد فرع خپل ځان باندې د شهادت بوج بار کولو ذکر اوکړي.نو هغه به وائي.چه،،شاهد اصل ماته ونیلي دي.چه ته زما په دې شهادت باندې شاهد شه،،

عدم تخصیص العبادة> د ادا کولو په وخت شاهد فرع د پورته ذکر شوي عبارت نه په اوږد عبارت کې هم خپل مقصود اداکولې.اوپه کم عبارت کې هم اداکولې شي. اوږد عبارت مثلاً شاهد فرع د قاضي په وړاندې داسې اووائي.چه،،زه شهادت ورکوم.چه فلاني زما په وړاندې شهادت ورکړي دې.چه د فلاني

لپاره په فلانی باندې دومره قدرې مال دې.اوزه ئې پخپل شهادت باندې شاهد جوړکړې يم.او ماته ئې حکم کړې دې.چه زه د هغه په شهادت باندې شهادت ورکړم.نو اوس زه د هغه په شهادت باندې شهادت ورکوم،،او کم عبارت مثلاً شاهد فرع د قاضي په وړاندې داسې اووائي.چه،،زه د فلانی په شهادت باندې د فلانی شئ په اړه کې شهادت ورکوم،،او په قدوری کې ذکرشوې عبارت منځنی

دې.نه په دې کې اوږدوالې دې.اونه اختصار دې اود (خيرالامور اوسطها) قاعده مشهور ده.په دې وجه اوږد او مختصر عبارتونه پريښودې شوی دی.اودا عبارت اختيارکړې شوې دې.

د شهود فرع ګواهي کله قبلول ېکار دی؟

وَلَاتُقْبَلُ شَهَادَةُ شُهُوْدِالْفَرْعِ او د شهود فرع شهادت به نشي قبلولې. إِلَّاأَنْ يَمُوْتَ شُهُوْدُالْأَصْلِ أَوْيَغِيْبُوْا مَسِيْرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا خودا چې شهود فرع مړه شي.يا د درې ورځو يا زيات مسافه باندې غائب شي. أَوْيَمْرَضُوْامَرَضًالَايَسْتَطِيْعُوْنَ مَعَهُ حُضُوْرَمَجْلِسِ الْحَاكِمِ يا داسې بيمار شي.چه هغې (بيمارئ) سره د حاکم په مجلس کې نشي حاضريدلې.

حل اللغة> ① **يموت**-مړ کيږي-② **يغيبوا**-غائب کيږي-③ **مسيرة**-فاصله-④ **حضور**-حاضريدل

تشریح> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه د شهود فرع شهادت به درې وجوکې په يو وجه سره قبلولې شي. ① يا خو شهود اصل مړه شوی وی. ②يا شهود اصل د سفر په موده يعنی درې ورځې درې شپې يا ددې نه زيات مسافه باندې غائب وی.③ يا شهود اصل په داسې بيمارئ کې اخته وی.چه په دغه بيمارئ سره د قاضي په مجلس کې حاضری مشکل وی.

دليله> دليل دادې.چه،،شهادة علی الشهادة،، د اړتيا په بناء جائز ګرځولې شوې دې.لکه څنګه چې په اول باب کې تير شوی دی.او اړتيا هغه وخت راپيښيږی.کله چې شهود اصل د ګواهئ ور کولو نه عاجز وی.او په ذکرشوی درې واړه صورتونوکې د شهود اصل ګواهی ور کولو سره عاجزکيدل متحقق دی.نو چونکه په ذکر شوی درې واړه صورتونوکې د شهود اصل عاجزکيدلو په وجه د ،،شهادة علی الشهادة،، اړتيا موجود دې.څکه به په دې درې واړه صورتونوکې ،،شهادة علی الشهادة،،قبلولې شي.

وجه اعتبار مدة السفر> د سفر د مودې اعتبار څکه شوې دې.چه د شهود اصل د قاضي په مجلس کې حاضريدلو اود ګواهئ نه عاجز کونکې شئ د مسافه لرې والې دې.اود سفر موده حکماً لرې ده.څکه چې د بعد مسافه په وجه د سفر موده د ډيرو احکامو مدار ده.لکه چې د سفر د مودې په اراده سره سفر کول په لمونځ کې قصر کوی.په رمضان کې دافطار اجازت ورکوی.د مسح موده د يو ورځ او يوې شپې نه زياتوی.او درې ورځې او درې شپې کوی.د قربانئ او د جمعې وجوب ساقطوی.د ښځې لپاره د محرم او ميړه نه بغير وتل حراموی.نو د سفر په مسافه کې د عاجز کيدلو په وجه لکه څنګه چې دا احکام مرتب کيږی.دغه ډول داحکم يعنی د ،،شهادة علی الشهادة،، جواز به هم مرتب وی.

د شهود فرع لپاره د شهود اصل د تعديل حکم

فَإِنْ عَدَّلَ شُهُوْدُالْأَصْلِ شُهُوْدُالْفَرْعِ جَازَ فرمائی.که د شهود اصل شهود فرع تعديل اوکړو.نودا جائز دې.

تشریح> صورت د مسئلې دادې.که شهود فرع د شهود اصل په شهادت باندې شهادت ورکړو.نو ددې څلور صورتونه دی.

① كه قاضي به يا د شهود اصل او شهود فرع دواړه فريقو د عادل كيدلو نه خبر وي. نو په دې صورت كې به قاضي بلا تامل (بلاتاخيره) فيصله وركوي.
② اوكه د دواړود عادل كيدو نه خبر نه وي.نو په دې صورت كې به د اصول او فروع د دواړو د عدالت په اړه كې به تحقيق كوي.
③ اوكه د اصول د عادل كيدونه واقف وي.اود فروع نه خبر نه وي.نو په دې صورت كې به د فروع د عدالت په اړه كې تحقيق كوي.
④ اوكه د فروع د عادل كيدو نه خبر وي.خود اصول نه خبر نه وي نو په دې صورت كې به د اصول د عدالت په اړه كې تحقيق كوي.كه فروع د اصول تعديل اوكړو.يعنى فروع اوونيل.چه اصول عادل دي.نود فروع په تعديل كولو سره به د اصول عدالت ثابتيږي.په دې باندې ائمه اربعه متفق دي.
دليله> دليل دادې.چه شهود فرع د مزكي جوړيدلو صلاحيت لري.نود هغوى تعديل او تزكيه په معتبر وي.

د شهود اصل د تعديل نه د شهود فرع د سكوت په وخت د ګواهئ حكم

وَإِنْ سَكَتُوا عَنْ تَعْدِيلِهِمْ جَازَفرمائي.اوكه فروع د خپل اصول د تعديل نه سكوت (خاموشي) اختيار كړله.نود فروع شهادت جائز دې: وَيَنْظُرُ الْقَاضِي فِي حَالِهِمْ ( )اود اصول په حال كې به قاضي نظر كوي.

حل اللغة> ① **سكتوا** –چپ شي-② **تعديل**–عادل كول-③ **ينظر**–نظراوكړي-④ **حال**–حالت

تشريح> ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.كه قاضي د شهود فرع نه د شهود اصل د عدالت په سلسله كې پوښتنه اوكړه.خو شهود فرع د اصول د تعديل كولونه سكوت اوكړو.يعنى دائې اونه ونيل.چه هغوى عادلان دى.او نه ئې دا اوونيل.چه هغه وى عادلان نه دى.يا ئې دا اوونيل.چه مونږ ته د اصول عادل كيدل معلوم نه دى.يا ئې دا اوونيل.چه مونږ به تاسو ته د اصول دعدالت په اړه كې هيڅ خبر نه دركوو.نو په دې صورتونوكې د امام ابويوسف رحمه الله په نيز د فروع شهادت جائز دې.خو قاضي به د اصول په اړه كې نظر كوي.يعنى د فروع نه علاوه د نورو اهل تزكيه حضراتو څخه به پوښتنه كوي.كه د فروع نه علاوه نورو مزكينو حضراتو د اصول تعديل اوكړو.نو قاضي به په دې شهادت باندې فيصله صادركوي.اوكه تعديل ئې اونكړو.نو قاضي به فيصله نه وركوي.
دليله> د حضرت امام ابويوسف رحمه الله دليل دادې.چه په شهود فرع باندې صرف شهادت نقل كول لازم دي.اود خپل اصول تعديل كول لازم نه دى.ځكه چې ډير خله فروع باندې د اصول عدالت پټ وي.نو هركله چې فروع د قاضي په وړاندې هغه ګواهي نقل كړله.كومه ګواهي چې اصول په فروع باندې بار كړې وه.نو فروع د خپلې ذمه وارئ نه خلاص شو.خو قاضي ته به د فروع نه علاوه د نورو مزكينو نه د اصولو د عدالت معلومات كولو تكليف كول ضروري وي.كه دغه حضراتو د اصول تعديل اوكړو.نو قاضي به په دغه شهادت باندې فيصله وركوي.اوكه تعديل ئې اونكړو.نو فيصله به نه وركوي.
مسلك محمد> حضرت امام محمد رحمه الله فرمائي.چه په دې صورت كې به د فروع شهادت د سره نه قبليږي.

---

[1] القول الراجح هوهذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في فتح القدير (٦\٥٣٠) والبحر الرائق (٧\١٢٢) ومجمع الأنهر(٣\٢٩٦) وردالمحتار(٤\) والكفاية (٦\٥٣٠) نقلاً عن القول الراجح (٢\١٤٣)ـ

دلیله> دلیل دادې.چه د فرع شهادت ځکه قبلولې شی.چه دوی د اصول شهادت نقل کړې دې.اود اصول شهادت د اصول دعدالت نه بغیر شهادت نه وی.یعنی د عدالت نه بغیر هیڅ شهادت، شهادت نه وی.نوهرکله چې فروع ته د اصول د عدالت علم نشته.نود عدالت نه بغیر به د اصول شهادت نه ثابتیږی.او هرکله چې د اصول شهادت ثابت نشو.نود فروع د اړخه به د هغوی شهادت نقل کول هم متحقق نه وی.اوهرکله چې د فروع د اړخه د اصول شهادت نقل کول متحقق نشو.نود فروع شهادت به هم قبول نه وی.

د شهود اصل د تعدیل نه د شهود فرع د سکوت په وخت د ګواهۍ حکم

وَإِنْ أَنْكَرَ شُهُودُ الْأَصْلِ الشَّهَادَةَ اوکه شهود اصل د شهادت انکار اوکړو لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَةُ الشُّهُودِ الْفَرْعِ نود شهود فرع شهادت به نه قبلیږی.

تشریح> اصول د شهادت انکار اوکړو.مثلاً دائې اووئیل.چه په دې مقدمه کې زمونږ لپاره هیڅ شهادت نشته.بیا فروع د هغوی په شهادت باندې شهادت ورکړو.نود شهود فرع شهادت به نه قبلیږی.

دلیله> دلیل دا دې چې د شهود اصل د شهادت نه انکار کول په حقیقت کې د تحمیل یعنی پخپله ګواهۍ باندې د ګواه کولو نه انکار کول دی.حالانکه د شهود فرع شهادت قبلیدلو لپاره تحمیل شرط دې.نوهرکله چې د قبولیت شرط اونه موندې شو.نود هغوی شهادت به هم قبول نه وی.

علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې دا دلیل په دې طریقه بیان کړې دې.چه هرکله اصول د شهادت نه انکار اوکړو .یعنی دا ئې اووئیل.چه په دې مقدمه کې مونږ شاهد نه یو.او هرکله چې مونږ پخپله شاهدان نه یو.نود بل چا د ګواه کولو څه سوال پیدا کیږی.ګویا شهود اصل د تحمیل انکار اوکړو.او شهود فرع د هغوی په شهادت باندې شهادت ورکړو.ګویا دا ئې اووئیل.چه تحمیل اوموندې شو.یعنی اصول مونږ په ګواهۍ باندې ګواه کړې یو.اودا ښکاره ده.چه په دې دواړه خبروکې تعارض دې.اودا هم مسلم ده.چه د تعارض په وجه تحمیل نه ثابتیږی.نوهرکله چې د تعارض په وجه تحمیل نه ثابتیږی.نود شهود فرع شهادت به هم نه قبلیږی.ځکه چې د شهود فرع شهادت قبلیدلو لپاره تحمیل شرط دې.

د دروغجن ګواه د سزاحکم

قَالَ أَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ: فِي شَاهِدِ الزُّورِ أُشَهِّرُهُ فِي السُّوقِ وَلَا أُعَزِّرُهُ [1] امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی.چه د دروغو ګواهی ورکونکی به بازارکې تشهیر کوم.او دده تعزیر به نه کوم.

حل اللغة> ① شاهدالزور –د دروغو ګواه-② اشهره تشهیرا–مشهور کول-③ سوق–بازار

تشریح> د دروغو ګواهی ئې په جلا فصل کې ځکه ذکر کړې ده.چه ددې مخصوص احکام دی.او په آخرکې ئې ځکه ذکرکړله.چه اصل خود رشتیاؤ ګواهې ده.د دروغو ګواهی داده.چه ګواه ددې خبرې اقرار اوکړی.چه ما د دروغو ګواهی ورکړې ده.یا مثلاً یوسړی ګواهی ورکړې ده.چه خالد قتل کړې شوې دې.بیا اوکتلې شو.چه خالد ژوندې دې.نودا ګواهی به هم ددرغو وی.غرض داچه ګواه پخپله اقرار اوکړی .یا په یقین سره په یو خارجی دلیل سره دده دروغجن کیدل معلوم شی.بهرحال امام

---

[1]) القول الراجح هوهذا قول ابي حنيفة رحمه الله كذا ردالمحتار(٤٤٠\١٤) والبحرالرائق (١٢٥\٧) نقلاً عن القول الراجح (١٤٤\٢)-

ابوحنيفه رحمه الله فرمائي.چه زه به د دروغو گواه په بازاركي تشهير كوم.او هغه په رسوا كوم.اود هغه تعزير به نه كوم.يعني هغه به په كورو نه وهم.

دلائله د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله ① دليل دادي.چه قاضي شريح به د دروغو د گواه تشهير كولو. خوهغه به ئي نه وهلو.اود قاضي شريح دا عمل د فاروق اعظم،حضرت علي، اود صحابه كرامو رضي الله عنهم يو لوئي جماعت په زمانه كي وو.ښكاره ده.چه په صحابه كرامو رضي الله عنهم به د شريح دا عمل مخفي نه وي پاتي شوي.خو ددي باوجود حضرات صحابه كرامو رضي الله عنهم چوپوالي اختيار كړي ده.نودا د اجماع قائم مقام شوه.گويا د دروغو گواه تعزير نه كول د صحابو رضي الله عنهم په اجماع سره ثابت دي.

② دوهم دليل دادي.چه د دروغو د گواه د دروغو د گواهئ نه بندول مقصود دي.اودا مقصد صرف په تشهير سره هم حاصليږي.نوهركله چي داعمل په تشهير سره حاصليږي.نو هم په دي به اكتفاء كولي شي.د وهلو ټ كولو هيڅ اړتيا نشته.وهل ټكول او تعزير كول اگرچه په دي مقصد كي ډير مددگار دي.خو يو نقصان هم دي.نقصان دادي.چه كله د دروغو گواه د وهلو ټ كولو تصور كوي.نود وهلو ټ كولو د يرې به د دروغو اقرار نه كوي.اود رجوع نه كولو په صورت كي به د خلقو حقوق ضائع كيږي.نو ددي نقصان په لحاظ سره تخفيف يعني تشهير باندي اكتفاء كول واجب دي.

> **وَقَالَا: نُوجِعُهُ ضَرْبًا وَنَحْبِسُهُ** او صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه مونږ به دي وهو.او په قيدخانه كي به ئي قيد كوو.

حل اللغة ① **توجيعه ايجاعا** -تكليف رسول- ② **نحبسه،حبسا**-قيد كول-

تشريح **مسلك الصاحبين** او صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه هغه به وهلي هم شي.او په قيدخانه كي به هم اچولي شي.هم دا قول د امام شافعي،امام مالك،امام احمد اود عامو عالمانو رحمهم الله دي.

دليلهما دليل هغه اثر دي.كوم چي د فاروق اعظم رضي الله عنه نه نقل دي.چه هغوی د دروغو گواه ته څلويښت كوړي اولگولي.او بيا ئي د هغه مخ توركړو.دا اثر د تعزير په مشروع كيدلو باندي دلالت كوي.اود وليدبن ابي مالك نه نقل دی.چي حضرت عمر رضي الله عنه خپلو د شام عاملانو ته اوليكل.چه د دروغو گواه دي څلويښت كوړي اووهلي شي.دهغه مخ دي توركړي شي.اود هغه سر دي اوخرولي شي.اود ډير وخته پوري دي په قيدخانه كي اوساتلي شي. (١) ددي اثر نه هم د دروغجن گواه تعزير ثابتيږي.اود حضرت عمر رضي الله عنه جليل القدر اولوالعزم صحابی تقليد زمونږ لپاره حجت دي.

الجواب عنه دا حديث په سياست باندي محمول دي.يعني حضرت عمر رضي الله عنه د انتظامي مصلحت په لحاظ سره د دروغو د گواه تعزير اوكړو. اوپه دي باندي ① قرينه داده.چه حضرت عمر رضي الله عنه شاهد زورته څلويښت كوړي اولگولي.حالانكه څلويښت كوړي د غلام او وينځي حد قذف دي.اود تعزير په طور باندي د هر يوحد په مقدار كوړي لگول ممنوع دی.لكه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دی.كه يو داسي سړی ته د حد په اندازه كوړي اولگولي شوي.په چاچه حد واجب نه دي.نو دغه كوړي وهونكي به ظالم وي.نو ددي وعيد باوجود د حضرت عمر رضي الله عنه د دروغو گواه ته څلويښت كوړي لگول د تعزير په طور نه وو.بلكه د انتظامي په لحاظ وو. ② دويمه قرينه داده.چه مخ تورول هم تعزير كي داخل نه دی.نودا به هم سياست باندي محمول وي.

---

(١)اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه (نصب:٤\١٨٥)۔

د فیصلې نه وړاندې دګواهانو د ګواهۍ نه د رجوع کولوحکم

إِذَا رَجَعَ الشُّهُودُ عَنْ شَهَادَتِهِمْ قَبْلَ الْحُكْمِ بِهَا سَقَطَتْ شَهَادَتُهُمْ که په ګواهۍ سره دحکم کولو نه وړاندې ګواهانو دخپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله.نو ګواهی به ساقطیږی.

تشریح> صورت د مسئلې دادې.چه د ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع کول د قاضی د فیصلې کولو نه وړاندې وی.یا به روسته وی.که وړاندې وی.نو بالاتفاق به شهادت ساقطیږی.یعنی په دې شهادت به مدعی علیه باندې هیڅ حق نشی ثابتولې.

دلیله> دلیل دادې.چه حق د قاضی په حکم سره ثابتیږی.او دلته کې اوسه پورې د قاضی هیڅ حکم نشته.او روسته هم قاضی هیڅ حکم نشی کولې.ځکه چې د ګواهانو په کلام کې تناقض دې.په دې طریقه چې ګواهانو مخکې پخپله ګواهی ورکړله.او بیا ئې پخپله د هغې تردید اوکړو.او په کوم کلام کې چې تناقض وی. قاضی ته د هغې مطابق د حکم کولو اجازت نه وی.نوهرکله چې قاضی ته د ګواهانو په کلام کې د تناقض په وجه د فیصلې کولو اجازت نشته.نو په مدعی علیه به هیڅ حق نه ثابتیږی.

وَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمْ په دې ګواهانو به تاوان هم واجب نه وی.

تشریح> اوپه ګواهانو باندې ضمان نشته ځکه چې د شهادت نه د رجوع کولو په وجه په ګواهانو باندې هیڅ قسمه تاوان هم نه واجبیږی.

دلیله> ځکه چې تاوان د چا د څه شئ تلف کولو په وجه واجبیږی.حالانکه دلته کې هیڅ شئ تلف کیدل اونه موندې شو.ځکه چې ګواهانو نه د مدعی څه شئ تلف کړې دې.اونه ئې د مدعی علیه څه شئ تلف کړې دې.د مدعی علیه څه شئ تلف کول خو ښکاره دی.اود مدعی څه شئ نه تلف کول ځکه دی.که شهادت واقعةً حق وو.او ګواهانو د قاضی د حکم نه وړاندې رجوع اوکړله.نودا ګواهان کتمان شهادت کونکی وی.اوپه کتمان شهادت کونکی باندې هیڅ تاوان نه واجبیږی.نو په دې ګواهانو به هم د رجوع عن الشهادة په وجه هیڅ تاوان نه واجبیږی.

فَإِنْ حَكَمَ بِشَهَادَتِهِمْ ثُمَّ رَجَعُوا لَمْ يُفْسَخِ الْحُكْمُ او که قاضی د هغوی په ګواهۍ باندې حکم ورکړو.بیا هغوی رجوع اوکړله.نود قاضی حکم به نه فسخ کیږی

تشریح> اوکه قاضی د ګواهانو په په ګواهۍ باندې فیصله کړې ده.او ددې نه روسته ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع کړې ده. نود قاضی فیصله به کالعدم نه وی.بلکه علی حاله به برقرار وی.

دلیله> دلیل دادې.چه دګواهانو آخری کلام ددوی د رومبی کلام معارض او مناقض دې.اوکلام مناقض عقلاً او شرعاً ساقط الاعتبار وی.او په ساقط الاعتبار کلام سره حکم نه ماتیږی.نود ګواهانو په آخر کلام یعنی رجوع عن الشهادة سره به هم د قاضی حکم نه ماتیږی.او کلام مناقض ساقط الاعتبار ځکه دې.که ددې اعتبار اوکړې شی.نو تسلسل به لازمیږی.په دې طریقه چې هرکله ګواهانو د خپل شهادت نه رجوع اوکړله.نو ددې اعتبار کولو په وجه د قاضی حکم مات شو.بیا که هغوی د خپلې رجوع نه رجوع اوکړی.یعنی شهادت باقی اوساتی.نو چونکه ددې اعتبار به هم وی.ځکه به د قاضی حکم باقی کیږی.بیا که دوی د خپلې رجوع د رجوع نه هم رجوع اوکړی.نو بیا ددې به هم اعتبار کولې شی.اود قاضی حکم به ماتیږی.نو چونکه یو کلام ته په بل باندې ترجیح نشته.په دې وجه به دا تسلسل ترقیامته برابر روان وی.حالانکه تسلسل محال دې.او کوم شئ چې محال ته مستلزم وی.هغه پخپله محال وی.ځکه به د کلام مناقض معتبر کیدل محال وی.

وَوَجَبَ عَلَيْهِمْ ضَمَانُ او په دې ګواهانو به د هغه شي تاوان واجب وي. **مَا أَتْلَفُوهُ بِشَهَادَتِهِمْ** كوم چې هغوى په خپلې ګواهۍ سره تلف كړو.

تشريح> په دې صورت كې چې ګواهانو په خپلې ګواهۍ سره څه هم تلف كړي دي. يعنى ددوى په ګواهۍ سره چې د مدعى عليه كوم مال تلف شوي دي.د هغې تاوان به پخپله دې ګواهانو باندې واجب وي.

دليله> ځكه چې هم دوى پخپل ذات باندې ددې اقرار كړې دې.چه مدعى عليه كوم مال مدعى ته وركړي دي.هغه ئې چونكه زمونږ په شهادت باندې وركړې دې.ځكه د رجوع عن الشهادة په وجه د هغې تلف كونكى شو.حاصل داچه ګواهانو د ضمان د سبب اقرار كړې دې.اوهركله چې د ضمان د سبب اقرار ئې كړې دې.يعنى د خپل شهادت نه ئې رجوع كړې ده.نو په دوى به ضمان واجب وي.

الاشكال> كه دا اووئيلى شي.چه د مدعى عليه د مال تلف كيدلو علت د قاضى حكم دې.يعنى كه قاضى حكم نه كولې. نومدعى عليه دا مال به ولې تلف كيدلو.نو تاوان په قاضى باندې واجبيدل پكار دي.په ګواهانو واجبيدل پكار نه دي.

الجواب> نو ددې ځواب دادې.چه دمال تلف كولو علت اګرچه د قاضى حكم دې.خو ددې فيصلې سبب ګواهانو پيدا كړې دې.يعنى كه ګواهانو ګواهى نه وركولې.نو قاضى به هيڅ كله فيصله نه وه كړې.ګويا قاضى د ګواهانو د اړخه په فيصله كولو باندې مجبور او مضطر وو.او په داسې موقع حكم، سبب پيدا كونكى اړخ ته منسوب كيږي.نو ددې مال تلف كول به هم ګواهانو اړخ ته منسوب كولې شي.اوهركله چې د مال دا تلف كول ګواهانو اړخ ته منسوب دى.نو ضمان به ګواهانو اړخ ته منسوب كولې شي.او هركله چې د مال دا تلف كول ګواهانو اړخ ته منسوب دى.نو ضمان به ګواهانو باندې واجب وي.په قاضى به واجب نه وي.او ددې مثال داسې دې.لكه مثلاً يوكس په لاره كې څاه اوكنستلو.او په هغې كې يو د لارې تيريدونكې پريوتلو.او مړشو.نودا څاه كنستونكې چونكه مسبب دې.يعنى د هغه د هلاكت سبب پيداكونكې دې.په دې وجه به د هغې تاوان يعنى ديت هم په دغه څاه كنستونكى باندې واجب وي.

د حاكم په موجودګۍ كښې د ګواهۍ نه رجوع ضروري ده

وَلَا يَصِحُّ الرُّجُوعُ إِلَّا بِحَضْرَةِ الْحَاكِمِ او رجوع صحيح نه ده.خود حاكم په موجودګۍ كې ،

تشريح> ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائي.چه د ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع كول به صرف د قاضى په مجلس كې معتبر وي.قاضى كه هم هغه وي.د چا په وړاندې ئې چې ګواهى وركړې وه.اوكه د هغه نه علاوه څوك دوهم قاضى وي.بهرحال د رجوع عن الشهادت لپاره هم د قاضى مجلس شرط دې.

دلائله> ① د رجوع عن الشهادت د قاضى مجلس سره د مختص كيدلو دليل دادې.چه رجوع عن الشهادت د جنايت كذب نه توبه ده.او توبه د جنايت مطابق وي.يعنى د كومې درجې چې جنايت وي.د هغه درجې توبه معتبر وي.كه جنايت په پټه وي.نو توبه به هم په پټه كافى وي.اوكه جنايت په ښكاره وي.نو توبه به هم علانيه (او په ښكاره) ضرورى وي.او د دروغو ګواهى چونكه د قاضى په مجلس كې جنايت او جرم دې.په دې وجه ددې نه توبه يعنى رجوع عن الشهادت به هم د قاضى مجلس سره مقيد او مختص وي.

② دليل دادې.چه د شهادت نه رجوع كول په حقيقت كې شهادت فسخ كول دى.نو رجوع عن الشهادت به هم هغه مجلس سره مختص وي.كوم سره چې شهادت مختص دې.اودا وړاندې تير شوى

دي.چه شهادت د قاضي مجلس سره مختص دي.نو رجوع عن الشهادت به هم د قاضي مجلس سره مختص وي.

الاشکال﴾ دلته يو اعتراض دي.هغه داچه رجوع عن الشهادت د قاضي مجلس سره مختص کول پکار نه دي.ځکه چې رجوع عن الشهادت دګواهانو خپل ځان باندې د مدعی علیه د مال د تاوان اقرار دی.ځکه چې ګواهانو د دروغو ګواهئ په ذريعه د هغه مال تلف کړي دي.اود مال د تاوان اقرار چونکه د قاضي مجلس سره مختص نه وي.ځکه به رجوع عن الشهادت هم د قاضي مجلس سره مختص نه وي.

الجواب﴾ ددې ځواب دادې. چې د شهادت په نتيجه کې چې د مدعی په مدعی علیه باندې کوم استحقاق ثابت شوی دې.هغه به هغه وخته پورې نه مرتفع کیږي.کومه پورې چې حجت باقي وي.نو ددې استحقاق لرې کولو لپاره د حجت رفع ضروري ده.اود قاضي د مجلس نه علاوه کې د شهادت نه رجوع کول به حجت رفع کول نه وي.ځکه چې د قاضي د مجلس نه په علاوه کې شهادت حجت نه وي.نو هرکله چې د قاضي د مجلس نه په علاوه کې شهادت حجت نه دې.نود قاضي دمجلس نه په علاوه کې به حجت رفع کول هم صحيح نه وي.اوهرکله چې د قاضي دمجلس نه په علاوه کې به حجت رفع کول صحيح نه دی.نود قاضي دمجلس نه په غير کې به رجوع عن الشهادت هم صحيح نه وي.او پاتې شو د ګواهانو اقرار بالضمان، نو هغه د حجت د رفع په ضمن کې ثابتيږي.نو اقرار بالضمان به د رفع حجت د تابع ځنې وي.او ددې به هيڅ اعتبار نه وي.

د حاکم د فیصلې نه روسته د ګواهانو د رجوع حکم

وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ بِمَالٍ فرمائي.اوکه دوه ګواهانو دمال ګواهي ورکړله. فَحَكَمَ الْحَاكِمُ بِهِ نو حاکم ددې ګواهئ موافق حکم ورکړو ثُمَّ رَجَعَا ضَمِنَا الْمَالَ الْمَشْهُودَ عَلَيْهِ بیا دوی رجوع اوکړله.نو دواړه ګواهانو به دمشهودعليه لپاره دمال ضامن وي.

تشریح﴾ صورت د مسئلې دادې.که دوه ګواهانو د يوسړي خلاف دمال ګواهي ورکړله.بيا قاضي ددې ګواهئ مطابق حکم ورکړو.او مدعي ته ئې مال واپس ورکړو.بيا دواړه ګواهانو د ګواهئ نه رجوع اوکړله.نو دواړه ګواهان به د مدعی علیه لپاره دمال ضامن وي.امام مالك او امام احمد رحمهماالله هم ددې قائل دی. او د امام شافعي رحمه الله صحيح قول هم دادې.

دليله﴾ دليل دادې.چه په ناحقه او په ظلم باندې سبب پيدا کول د ضمان سبب وي.يعنی که يوکس په ناحقه اود ظلم په طور سبب پيدا کړي.نو حکم هم دغه سبب ارخ ته منسوب کيږي.او ضمان په سبب پيداکونکي باندې واجبيږي.په مباشر او په مرتکب د فعل باندې نه واجبيږي.مثلاً که يوسړي په يو مځکه يالاره کې ځاه اوکنستلو.او په هغې کې ځوك سړی يا حيوان (ځاروی) پريوتلو.او مړ شو.نود هغې ضمان به په کوهي کنستونکي باندې واجب وي.ځکه چې ځاه کنستونکي ظلم کونکي دې.نوکه د مرکيدونکي تلف کيدل دده ارخ ته منسوب کړې شي.يعنی دا اوويلې شي.چه هم ده تلف کړې دې.او هرکله چې ده تلف کړې دي.نود تلف ضمان به هم په ده واجب وي.هم دغه دول په ذکرشوې مسئله کې د مدعی علیه مال په ناحقه اود ظلم په طور د تلف کولو سبب دې دواړه ګواهانو پيدا کړې دې.يعنی دې دواړه ګواهانو پخپله ګواهئ سره د مدعی علیه مال تلف کړې دې.اود ګواهئ نه ئې په رجوع کولو سره ددې خبرې هم اقرار کړې دې.چه مونږه دواړو د مدعی علیه مال په ناحقه اود ظلم په طور تلف کړې دې.نوهرکله چې دواړه ګواهانو په ناحقه او په ظلم باندې د مدعی علیه مال تلف کولو سبب پيدا کړې دې.نو ضمان به هم په دې ګواهانو باندې واجب وي.

د یو ګواه د رجوع کولو حکم

فَإِنْ رَجَعَ أَحَدُهُمَا که په دوی دواړو ګواهانو کې یو رجوع اوکړله. ضَمِنَ النِّصْفَ نود نیم مال به ضامن وي.

تشریح صورت د مسئلې دادې. که دوه سړي د یو مال ګواهي ورکړي. بیا په هغوی کې یو رجوع اوکړي. نو رجوع کونکې به د نیم مال ضامن وي. د جامع کبیر په شروحاتو کې د رجوع عن الشهادت په سلسله کې یوه قاعده بیان کړې شوې ده. قاعده داده. چه په ګواهانو کې کوم کس په ګواهۍ باندې باقي شو. د هغه باقي کیدل معتبر دي. او چاچه رجوع اوکړله. د هغه رجوع کول به معتبر نه وي.

دلیله دلیل دادې. چه د مدعي په مدعی علیه باندې د دوه ګواهانو په ګواهۍ سره حق ثابتیږي. او د دوه ګواهانو د زیاتي د قاضي په فیصله کې اعتبار نه وي. بلکه کوم ګواه چې پخپله ګواهۍ باندې باقي کیږي. د هغه اعتبار کولې شي. او چاچه د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله. دهغه اعتبار نه کیږي. ځکه که د رجوع کونکي اعتبار اوکړې شي. نو په کوم صورت کې چې ګواهان درې وي. په هغه صورت کې به رجوع کونکي باندې ضمان هم واجب وي. او نصاب شهادت یعني د دوه ګواهانو په وجه به په مدعی علیه باندې پوره حق هم باقي وي. دا بالکل د خندا خبره ده. چه پوره حق دې هم باقي شي. او ګواه دې د حق د یوې برخې (حصې) ضامن هم وي. نو ثابته شوه. چه د رجوع کونکي ګواه اعتبار به نه کیږي.

وَإِنْ شَهِدَ بِالْمَالِ ثَلَاثَةٌ فَرَجَعَ أَحَدُهُمْ فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ اوکه دریو سړو د مال ګواهي ورکړله. بیا په دوی کې یو رجوع اوکړله. نو په ده باندې ضمان نشته.

تشریح اوکه دریو سړو دمال ګواهي ورکړله. بیا په هغوی کې یو د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله. نو په دې رجوع کونکي به ضمان واجب نه وي.

دلیله ځکه چې د رجوع کونکي نه علاوه د ګواهانو د دومره تعداد نه روسته هم دوه ګواهان باقي دي. او دوو په ګواهۍ سره پوره حق ثابتیږي. نو په دې صورت کې به د دوه ګواهانو په ګواهۍ سره مدعی علیه باندې پوره حق ثابتیږي. او رجوع کونکې ګواه به ضامن ځکه نه وي. چه په مشهود به باندې د مدعي استحقاق د حجت تامه په ذریعه باقي دې. یعني د باقي دوه ګواهانو په ګواهۍ سره د مدعي په مدعی علیه باندې پوره حق ثابت دې. نو رجوع کونکي ګواه د خپلې ګواهۍ نه په رجوع کولو سره چونکه د مدعی علیه هیڅ نه دی تلف کړي. ځکه به په هغه باندې ضمان واجب نه وي.

فَإِنْ رَجَعَ آخَرُ ضَمِنَ الرَّاجِعَانِ نِصْفَ الْمَالِ نو که په دریو کې دوهم هم رجوع اوکړله. نو دواړه رجوع کونکي به د نصف حق ضامن وي.

تشریح که په دریو کې د یو نه روسته دوهم هم رجوع اوکړله. نودا دواړه رجوع کونکي به د نصف حق یعني د نیم مال مدعی علیه لپاره ضامن وي.

دلیله ځکه چې په دواړه ګواهانوکې د یو ګواه باقي کیدلو په وجه د مدعي په مدعی علیه باندې نیم حق باقي کیږي. ګویا رجوع کونکي دوه ګواهانو د مدعی علیه نصف حق تلف کړې دې. او هرکله چې نصف حق تلف کړې شي. نو دواړه ګواهان به د نصف حق ضامن وي.

الاشکال دلته یو اعتراض دې. چه کوم ګواه اولاً رجوع کړې ده. په هغه باندې بالکل ضمان واجبیدل پکار نه دی. ځکه چې تاسو قاعده بیان کړې ده. چه باقي کیدونکي ګواه معتبر وي. او رجوع کونکي معتبر نه وي. نود ړومبي ګواه رجوع کولو نه روسته چونکه نصاب شهادت (دوه) باقي وو. په دې وجه

هغه هيڅ شئ تلف نکړو.خوکله چې ددې نه روسته دوهم ګواه رجوع اوکړله.نو هغه نصف حق تلف کړو.نو هرکله چې ده نصف حق تلف کړو.نوهم په ده باندې د نصف حق ضمان واجبيدل پکار دی.او رومبي رجوع کونکې په دې ضمان کې شريکول پکار نه دی؟

الجواب> ددې خواب دادې.چه هرکله درې ګواهانو ګواهی ورکړله.نود مدعی حق د دريو وارو ګواهانو سره ثابت شوې دې.بيا هرکله چې يوګواه رجوع اوکړله.نو ددې ګواه کاذب کيدل ښکاره شو.اود دوهم د کاذب کيدلو احتمال دې.بيا هرکله چې دوهم رجوع اوکړله.نو معلومه شوه.چه د نصف حق اتلاف د ابتداء نه ددو دوارو په ګواهئ سره وو.نو هرکله چې د نصف حق ضائع کول د دوارو په ګواهئ سره دی.نو ضمان به هم په دوارو باندې لازم وی.

وَإِنْ شَهِدَ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ فَرَجَعَتْ امْرَأَةٌ ضَمِنَتْ رُبُعَ الْحَقِّ اوکه يو سړی او دوه ښځو ګواهی ورکړله.بيا يوې ښځې رجوع اوکړله.نو هغه به د څلورمې برخې (حصې) د حق ضامنه وی.

حل اللغة> ① ربع –څلورمه برخه -

تشريح> اوکه په مال باندې يوسړی او دوه ښځو ګواهی ورکړله.بيا يوې ښځې رجوع اوکړله.نودا ښځه به د څلورمې برخې (حصې) د حق ضامنه وی.

دليله> ځکه چې د يوسړی او يوې ښځې په باقی کيدلو سره د څلورو درې برخې (حصې) حق باقی دې.ددې وجه داده.چه دوه ښځې د يو سړی قائم مقام وی.نو نصف حق به د دوارو ښځو په مقابله کې وی.اوهرکله چې نصف حق د دواړه ښځو په مقابله کې دې.نود يو سړی په رجوع کولو سره څلورمه برخه حصه تلف شوه.او درې برخې (حصې) باقی شوې.

وَإِنْ رَجَعَتَا ضَمِنَتَا نِصْفَ الْحَقِّ اوکه دواړه ښځو رجوع اوکړله.نو دواړه به د نصف ضامن وی.

تشريح> اوکه دوارو ښځو رجوع اوکړله.نو دواړه به د نصف حق ضامن وی.

دليله> ځکه چې د يو سړی په ګواهئ سره نصف حق باقی شوې دې.ځکه چې دوه ښځې د يو سړی قائم مقام وی.نو نصف حق به د سړی په مقابله کې وی.او نصف به د دوارو ښځو په مقابله کې وی.نود سړی په مقابله کې چې کوم نصف حق وو.هغه باقی شو.اود دوه ښځو په مقابله کې چې کوم نصف حق وو.د هغوی په رجوع کولو سره تلف شو.چه د هغې ضمان به په دوی دوارو باندې لازم وی.

په يوسړی او لس ښځو ګواهانوکښې د اته ښځو په رجوع سره د ضمان حکم

وَإِنْ شَهِدَ رَجُلٌ وَعَشْرَةُ نِسْوَةٍ اوکه يوسړی او لس ښځو ګواهی ورکړله. فَرَجَعَ ثَمَانٌ فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِنَّ اوکه يوسړی او لس ښځو ګواهی ورکړله.نواتو ښځو رجوع اوکړله.نو په دوی به هيڅ ضمان نه وی.

تشريح> صورت د مسئلې دادې.که يوسړی او لس ښځو د يومال ګواهی ورکړله.بيا په دوی کې اتو ښځو رجوع اوکړله.نو په هغوی به هيڅ ضمان واجب نه وی.

دليله> ځکه چې د اتو ښځو د رجوع کولو نه روسته د ګواهانو دومره تعداد باقی دې.چه دهغوی په ګواهئ سره پوره حق باقی کيږی.يعنی د اتو ښځو د رجوع کولو نه روسته يو سړې او دوه ښځې باقی دی.اود يوسړی او دوه ښځو په ګواهئ سره پوره حق ثابتيږی.نو هرکله چې د يوسړی او دوه ښځو پوره حق باقی دې.اود رجوع کونکو ښځو په رجوع کولو سره په حق کې هيڅ کمې نه واقع کيږی.نود رجوع کولو په وجه به په هغوی باندې هيڅ ضمان واجب نه وی.امام مالک رحمه الله هم ددې قائل دې.او هم دا د امام شافعی رحمه الله يو قول دې.

فَإِنْ رَجَعَتْ أُخْرَى كَانَ عَلَى النسوة رُبُعُ الحَقِّ نوكه د اتونه علاوه يوې ښځې رجوع اوكړله.نو په دوی تولو به د څلورمې برخې (حصې) حق ضمان واجب وی.

تشريح> اوكه د اتو نه علاوه يوې بلې (نهمې) ښځې هم رجوع اوكړله.نو په دې نهو ښځو باندې څلورمه برخه ضمان واجب وی.

دليله> ځكه چې په گواهانو كې يو سړې او يوه ښځه پاتې شوی دی.اود يوسړي په گواهئ سره نصف حق باقي شو.اود يوې ښځې په گواهئ سره څلورمه برخه حق باقي شوې دې.نو دغه دول په څلوروكې درې برخې (حصې) حق باقي شوې دې.او څلورمه برخه حق چونكه د نهو ښځو په رجوع كولو سره تلف شوې دې.په دې وجه به په نهو ښځو باندې د څلورې برخې (حصې) حق ضمان واجب وی.

فَإِنْ رَجَعَ الرَّجُلُ وَالنِّسَاءُ فَعَلَى الرَّجُلِ سُدُسُ الحَقِّ وَعَلَى النِّسْوَةِ خَمْسَةُ أَسْدَاسِ الحق عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ ( )او كه سړی او ټولو ښځو رجوع اوكړله.نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به په سړی باندې د حق شپږمه برخه واجب وی.او په ښځو پنځه سدسه واجب وی.

تشريح> اوكه سړي او لس په لسه ټولو ښځو رجوع اوكړله.نود حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به په سړي باندې شپږمه اوپه ښځو به (د شپږو حصو) پنځه برخې (حصې) حق ضمان واجب وی.د امام مالك، امام شافعی اود امام احمد رحمهم الله هم دا قول دې.

دليله> د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه په لسوښځو كې هر دوه ښځې د يوسړی قائم مقام دی. او ددې دليل دادې.چه رسول الله ﷺ د ښځو د نقصان عقل په اره كې فرمائيلی دی.چه په ښځو كې د دوه ښځو شهادت د يوسړی د شهادت برابر وی. ([2]) نود يو سړی اود لس ښځو شهادت وركول داسې شو.لكه چې شپږو سړو سشهادت وركړې وی. بيا دوی ټولو سړو رجوع كړې وی.نو واړه به برابر د يو يو سدس ضامن وی.نو دغه دول به هر دوه ښځې د يو يو سدس ضامن وی.نو په دې حساب سره به يوسړې د يو سدس ضامن وی. او لس ښځې به (په شپږو حصوكې) د پنځوحصو ضامن وی.

وَقَالَا عَلَى الرَّجُلِ النِّصْفُ وَعَلَى النِّسْوَةِ النِّصْفُ او امام ابويوسف اوامام محمد رحمهما الله فرمائی.چه په سړی نصف حق او په ښځو به نصف حق واجب وی.

تشريح> **مسلك الصاحبين**> صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه په سړی به د نصف حق ضمان واجب وی.او په لس واړه ښځو به د نصف حق ضمان واجب وی.

دليلهما> دليل دادې.چه ښځې اگرچه كثير دی.خو ټولې د يوسړی قائم مقام دی.هم دا وجه ده.چه سړی سره د ملاويدلو نه بغير د يواځې ښځو گواهي نشي قبلولې.نود لسو ښځو شهادت د دوه ښځو د شهادت پشان شوې دې.او ضمان په سړی او ښځو باندې نيم په نيمه واجبيږی.يعنی نصف ضمان په سړی باندې واجبيږی.او نصف ضمان په دغه لسو ښځو باندې واجبيږی.ځكه چې ددوی شهادت د دوه ښځو پشان دې.بيا دا نصف ضمان به په دغه ټولو ښځو باندې برابر واجب وی.

[1] القول الراجح هوهذا قول الإمام رحمه الله كذا في فتح القدير(٦\٥٤٢) والعناية (٦\٥٤٢) والدرالمنتقى (٣\٢٠١) والدرالمختار(٤\٤٤٢) نقلاً عن القول الراجح (٢\١٤٥)-

(٢) من حديث الخدرى رضي الله عنه اخرجه البخارى في الحيض باب ٦\٣٠٤)۔

د ښځې په مهر مثل باندې د دواړه ګواهانو د رجوع کولو حکم

وَاِنْ شَهِدَ شَاهِدَانِ عَلَى امْرَأَةٍ بِالنِّكَاحِ بِمِقْدَارِ مَهْرِ مِثْلِهَا او که دوه ګواهانو په یوه ښځه باندې د هغې د مهرمثل په عوض د نکاح ګواهي ورکړله. اواکثراو د مهر مثل نه په زیات باندې ثُمَّ رَجَعَا فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمَا بیا دواړه ګواهانو رجوع اوکړله.نو په هغوی به هیڅ ضمان نه وی.

تشریح صورت د مسئلې دادې.چه یوسړی په یوه ښځه باندې د نکاح دعوه اوکړله.او د مهر مثل په عوض وی. اودوه ګواهانو ددې نکاح ګواهي ورکړله.او قاضی دهغوی په شهادت باندې دنکاح فیصله ورکړله.بیا دواړو ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله.او دا ئې اووئیل.چه مونږ د دروغو ګواهي ورکړې ده.نود هغوی په رجوع کولو سره به نه نکاح فسخ کیږی.اونه به دغه دواړه ګواهان په دواړه صورتونوکې د څه شئ ضامن وی.

وَاِنْ شَهِدَا بِاَقَلَّ مِنْ مَهْرِ الْمِثْلِ که دوه ګواهانو د مهرمثل نه د کم په عوض د نکاح ګواهي ورکړله. ثُمَّ رَجَعَا لَمْ يَضْمَنَا النُّقْصَانَ بیا دواړو رجوع اوکړه نو د نقصان نه ضامن کیږی

تشریح دغه دول دا حکم په هغه صورت کې هم دې چې یوسړی په یوه ښځه باندې د نکاح دعوه اوکړله.او د مهر مثل نه په کم عوض ئې دعوی اوکړه اونورصورت د مسئلې هغه دې کوم چې په وراندینۍ مسئله کې ذکرشو.نو حکم ئې هم د اولنی صورت پشان دې.

دلیله هرکله قاضی د نکاح حکم صادر کړې دې.نو ګواهانو د خپلې ګواهۍ سره د ښځې منافع بضع تلف کړې دی.یعنی منافع بضع د کومو چې ښځه مالکه وه.ګواهانو د نکاح ګواهي ور کولو سره د هغې مالك سړې جوړکړې دې.اودا د ښځې په حق کې سراسر اتلاف دې.بهرحال ګواهانو په شهادت ور کولو سره د ښځې منافع بضع تلف کړی دی.او په کوم صورت کې چې منافع بضع تلف کړې شوی دی.په هغه صورت کې منافع بضع متقوم نه وی.او کوم شئ چې متقوم نه وی.د هغې ضمان هم نه واجبیږی.نود منافع بضع تلف کولو په وجه ګواهانو باندې به هم د ښځې لپاره ددې ضمان واجب نه وی.

دلیل کون منافع البضع غیر متقومة پاتې شوه دا خبرهٔ چې د اتلاف په وخت منافع بضع غیرمتقوم ولې وی.نو ددې دلیل دادې.چه تضمین یعنی د اتلاف په وجه د یو شئ ضامن جوړول ددې خبرې تقاضا کوی.چه د هلاك شوی شئ او د شئ مضمون په منځ کې مماثلت موجود وی. حالانکه دلته کې منافع بضع کوم چې تلف کړې شوی دی.او هغه مال په کوم سره چې ښځې ته ضمان ورکولې شی.د دواړو په منځ کې هیڅ مماثلت نشته.ځکه چې د مال عین او منفعت په منځ کې هیڅ مماثلت نه وی.ددې پوره تفصیل د خادم په قلم سره د لیکلی شوی کتاب، ،قوت الاخیار شرح اردو نورالانوار، ، کې کتلې شئ.بهرحال هرکله چې د منافع بضع او مال عین په منځ کې مماثلت نشته.نو منافع مضمون هم نشی کیدلې.او کوم شئ چې مضمون نه وی.هغه غیر متقوم وی.نو ثابته شوه.چه منافع بضع غیرمتقوم دی. البته دا خبره یاد ساتئ چې په دې صورت کې لکه څنګه چې ضمان نه واجبیږی دغه دول نکاح هم نه فسخ کیږی.اونکاح ځکه نه فسخ کیږی چې هدایه کې د، ،فصل فی نکاح المحرمات، ، په اخر کې تیرشوی دی.که قاضی د دروغو په ګواهۍ باندې دکوم عقد یا فسخ فیصله ورکړی.نود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د هغه داحکم ظاهراً او باطناً دواړه شان نافذ کیږی.یعنی د فیصله صادریدلو نه روسته که د ګواهانو دروغ کیدل ښکاره شو.نود قاضی فیصله به نه ردکیږی.بلکه پخپل حال به ناطق او نافذ وی.نو

د يوسړي خلاف يوې ښځې سره د نکاح ګواهۍ او د ضمان حکم

وَكَذٰلِكَ إِذَا شَهِدَا عَلٰى رَجُلٍ بِتَزَوُّجِ امْرَأَةٍ بِمِقْدَارِ مَهْرِ مِثْلِهَا اَوْ اَقَلَّ او هم دغه دول کله چې دوه ګواهانو د يوسړي خلاف د مهر مثل مقدار په عوض يوې ښځې سره د نکاح ګواهي ورکړله. يا د دې نه په کم باندې ګواهي ورکړي

تشريح> د تيرې شوې مسئلې بل صورت دادې.چه يوې ښځې د يوسړي خلاف دا دعوه اوکړله.چه زما ده سره د مهرمثل په عوض نکاح شوې ده.او سړې ددې منکر دې.بيا دوه ګواهانو د ښځې د دعوې موافق ګواهي ورکړله.او قاضي د ګواهۍ مطابق حکم صادرکړو.بيا هغوی د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله.نونه به دا نکاح فسخ کيږي.نه به دواړه ګواهان د ميړه لپاره د مهرمثل ضامن وی.

دليله> دليل دادې.چه ګواهانو بلاشبه د ميړه مال د مهرمثل په اندازه خپلې ګواهۍ سره تلف کړې دې.خود مهر مثل په عوض کې ئې د ملك بضع مالك هم جوړکړې دې.اود ميړه په ملك کې د داخليدو په وخت چونکه ملك بضع متقوم وی.په دې وجه مهرمثل د هغې عوض او هغه د مهرمثل عوض ګرځول هم صحيح دی.حاصل داچه ګواهانو اګرچه د مهرمثل په اندازه د ميړه مال تلف کړې دې.په دې طريقه چې د ګواهانو دګواهۍ په وجه ميړه له د مهرمثل په مقدار مال مدعيه ښځې ته ورکول ضروری شوی دی.حالانکه هغه ددې مال په ور کولو راضی نه وو.خود هغې په عوض ده ته ملك بضع هم حاصل شوې دې.نود ګواهانو د اړخه د مهرمثل اتلاف بالعوض يعنی د ملك بضع په عوض شو.اوکوم اتلاف چې بالعوض وی.هغه داسې دې.لکه چې هيڅ نه وی تلف کړې شوی.اوهرکله چې ګواهانو د اتلاف بالعوض په وجه د ميړه هيڅ تلف کړی نه دی.نو په ګواهانو باندې د څه نه تلف کولو په وجه د ميړه لپاره ضمان هم واجب نه وی.

د مهرمثل نه په زيات باندې ګواهۍ ورکولو نه رجوع کولوکښې د ضمان حکم

وَإِنْ شَهِدَا بِأَكْثَرَ مِنْ مَهْرِ الْمِثْلِ ثُمَّ رَجَعَا اوکه دواړه ګواهانو دمهرمثل نه د زيات ګواهي ورکړله.بيا هغوی رجوع اوکړله. ضَمِنَا الزِّيَادَةَ نودواړه به د زياتوالی ضامن وی.

تشريح> د مسئلې بل صورت دا دې چې يوې ښځې په يو سړي باندې د مهرمثل نه د زيات په عوض د نکاح دعوه اوکړله . او سړې ددې واقعې منکر دې.نو دوه ګواهانو د ښځې د دعوې مطابق ګواهي ورکړله.او قاضی فيصله اوکړله.بيا دواړه ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله.نو نه به دا نکاح فسخ وی.اونه به دوی دواړه د مهرمثل د مقدار ضامن وی.البته د مهرمثل نه د زيات به ضامن وی.

دليله> دليل دا دې چې مهرمثل يعنی د يوزر اتلاف خو د ملك بضع په عوض کې دې.اود اتلاف بالعوض په صورت کې ضمان نه واجبيږی.نود مهرمثل په مقدار ضمان به په ګواهانو باندې واجب نه وی.خود مهرمثل نه د زياتی مقدار يعنی د پنځه سوه روپو اتلاف بلاعوض دې.يعنی ددې پنځه سوه روپو په عوض کې ميړه ته هيڅ ملاؤ نشو.څکه به ددې پنځه سوه روپو ضمان ګواهانو باندې واجب وی.څکه چې اتلاف بلاعوض ضمان واجبوی.

د يوڅيز د مثل يا زيات قيمت په عوض ګواهۍ نه رجوع کولو کښې دضمان حکم

وَإِنْ شَهِدَا بِبَيْعِ شَيْءٍ بِمِثْلِ الْقِيمَةِ أَوْ أَكْثَرَ اوکه دوه ګواهانو د يو شئ د مثل قيمت يا د زيات عوض په خرڅولو ګواهی ورکړله. ثُمَّ رَجَعَا لَمْ يَضْمَنَا بيا دواړو رجوع اوکړله.نو ضامن به نه وی.

تشريح> صورت د مسئلې دادې.چه مشتری مثلاً خالد دعوه اوکړله.چه حامد خپل دا غلام چې د زر روپو د قيمت دې.د زر روپو په عوض يا د يونيم زر روپو په عوض ما باندې راخرڅ کړې دې.او بائع

ددې منکر دې.نو مشتري ګواه پیش کړل.دغه ګواهانو هم د مشتري د دعوې موافق شهادت ورکړو.بیا د قاضي دحکم نه روسته ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله.نودا د واړه ګواهان به د بائع لپاره ضامن نه وي.

دلیله> خکه ګواهانو اګرچه خپلې ګواهۍ سره د بائع مبیع یعني غلام تلف کړې دې.خو بائع ته ددې پوره معاوضه هم ملاؤ شوې ده.نودا به اتلاف بالعوض وي.او وړاندې تیر شوی دی.چه اتلاف بالعوض چونکه د عدم اتلاف په مرتبه کې وي.په دې وجه ددې ضمان نه واجبیږي.او هرکله چې د اتلاف بالعوض په صورت کې ضمان نه واجبیږي.نو په دې ګواهانو به هم ضمان نه واجبیږي.

وَإِنْ كَانَ بِأَقَلَّ مِنَ الْقِيمَةِ ضَمِنَا النُّقْصَانَ اوکه د قیمت نه د کم په عوض د خرڅولو ګواهي ئې ورکړله.نو دواړه به د نقصان ضامن وي.

تشریح> اوکه مشتري د قیمت نه د کم په عوض مثلاً داووه سوو روپو په عوض د مذکوره غلام اخستلو دعوه اوکړله.او هم ددې مطابق ګواهانو ګواهي ورکړله.او بیا د قاضي د فیصلې نه روسته ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله.نو دواړه ګواهان به د بائع لپاره د نقصان په اندازه یعني د اووه سوه روپو ضامن وي.

دلیله> خکه چې دوی د غلام هغه جزء کوم چې د پنخه سوه روپو په مقابله کې دې.بلاعوض تلف کړې دې.یعني د غلام مالیت زر روپۍ دې.او بائع ته صرف پنخه سوه روپۍ ملاؤ شوې دی.نو ګویا ګواهانو نیم غلام بلاعوض تلف کړې دې.او وړاندې تیر شوی دی.چه د اتلاف بلاعوض په صورت کې تلف کونکي باندې ضمان واجبیږي.نو په ګواهانو به د هغه مقدار ضمان واجب وي.کوم ئې چې بلاعوض تلف کړې دې.یعني پنخه سوه روپۍ کوم چې د نقصان مقدار دې.ګواهان به ددې ضامن وي.

په طلاق قبل الدخول باندې د ګواهۍ نه رجوع کولوکښې د ضمان حکم

وَإِنْ شَهِدَا عَلَى رَجُلٍ اوکه دوه ګواهانو په یوسړي باندې ګواهي ورکړله. أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا چې ده خپلې ښځې سره د دخول نه وړاندې طلاق ورکړې دې. ثُمَّ رَجَعَا ضَمِنَا نِصْفَ الْمَهْرِ بیا هغوی رجوع اوکړله.نو دواړه به د نصف مهر ضامن وي. وَإِنْ كَانَ بَعْدَ الدُّخُولِ لَمْ يَضْمَنَا اوکه پس د دخول نه وي نو بیا دواړه نه ضامن کیږي

تشریح> صورت د مسئلې دادې.که ښځې دعوه اوکړله.چه زما میړه ماته د دخول نه وړاندې طلاق راکړې دې.او میړه ددې منکر دې.بیا د ښځې موافق دوه ګواهانو ګواهي ورکړله.چه ددې ښځې میړه د دخول نه وړاندې دې ته طلاق ورکړې دې.نو ددې ګواهۍ موافق قاضي په زوجین (ښځه خاوند) کې تفریق اوکړو.او ددې ښځې مهر که مسمی وو.نو په میړه باندې نصف مهر واجب کړو.اوکه مهرمثل وو.نو په میړه باندې ئې متعه واجب کړله.یا ددې فیصلې نه روسته دواړه ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله.نودا دواړه ګواهان به د مهرمسمی په صورت کې د نصف مهر ضامن وي.امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دې.اود امام مالک او امام شافعي رحمهما الله هم یو روایت دادې.

دلیله> دلیل دادې.چه ښځې سره د دخول نه وړاندې د مهر ساقطیدلو هروخت امکان دې.که ښځې د خپل میړه هغه خوی ته په وطی باندې قدرت ورکړو(کوم چې د مخکښې ښځې نه پیدا دې).یا دې په شهوت سره دده (خاوند) دخوی کوکۍ واخستله.یا العیاذ بالله ښځه مرتده شوه.نو مهر بالکل ساقطیږي.یعني د دخول نه وړاندې د داسې قسمه نشوز او نافرمانۍ په وجه د میړه ذمې نه مهر بالکل ساقطیږي.بهرحال کوم مهر چې د میړه په ذمه دې.د دخول نه وړاندې هغه نه مؤکد کیږي.بلکه

ساقطولو ته نژدې وی. خوګواهانو د طلاق ګواهی ور کولو سره نصف مهر مؤکد کړې دې.ځکه چې د طلاق قبل الدخول په وجه میړه باندې نصف مهر اداکول واجبیږی.او په مؤکد (پخولو) باندې هم هغه واجبیږی.کوم چې په موجب (واجبونکی) باندې لازمیږی.اوګواهانو که پخپلې ګواهۍ سره څه لازمولې.او بیا هغوی د خپلې ګواهۍ نه رجوع کړې وه.نو په هغوی به ضمان واجبیدلو.نوهم دغه دول هرکله چې دوه ګواهانو پخپلې ګواهۍ سره نصف مهرمؤکد کړې دې. او بیا ئې ددې نه رجوع کړې ده.نو په هغوی به ضمان واجب وی.په موجب چې کوم واجبیږی.په مؤکد هم هغه واجبیږی.

د غلام آزادولو ګواهۍ نه په رجوع کولوکښې د ضمان حکم

وَإِنْ شَهِدَا أَنَّهُ أَعْتَقَ عَبْدَهُ اوکه دوه ګواهانو په دې خبره ګواهی ورکړله.چه ده خپل غلام آزاد کړې دې. ثُمَّ رَجَعَا ضَمِنَا قِيمَتَهُ بیا دواړو رجوع اوکړله.نو دواړه به ددې غلام د قیمت ضامن وی.

تشریح صورت د مسئلې دادې.دوه سړو ګواهی ورکړله.چه عارف خپل غلام آزاد کړې دې.قاضی ددې مطابق فیصله ورکړله.بیا دواړه ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله.نو دواړه ګواهان به د مولا لپاره د غلام د قیمت په اندازه د مال ضامن وی.دواړه ګواهان که مالداره وی.اوکه فقیران وی.

دلیله ځکه چې دوی دواړو کوم څه تلف کړی دی.یعنی غلام هغه مال متقوم دې.او دا تلف کول بلاعوض دی.او وراندې تیر شوی دی.چه بلاعوض تلف کول ضمان واجبوی.ځکه به دواړه ګواهان د مولا لپاره د غلام د قیمت ضامن وی.

د قصاص ګواهۍ نه په رجوع کولو سره د ضمان حکم

وَإِنْ شَهِدَا بِقِصَاصٍ اوکه ګواهانو د قصاص ګواهی ورکړله. ثُمَّ رَجَعَا بَعْدَ الْقَتْلِ ضَمِنَا الدِّيَةَ بیا ئې د قتل نه روسته رجوع اوکړله.نو دوی به د دیت ضامن وی. وَلَا يُقْتَصُّ مِنْهُمَا اود ګواهانو څخه به قصاص نشی اخستې.

تشریح صورت د مسئلې دادې.چه یوسړی مثلاً حامد دعوه اوکړله.چه خالد زما پلار عمداً په ناحقه قتل کړې دې.او خالد ددې منکر دې.بیا دوه ګواهانو ګواهی ورکړله.چه واقعتاً (په حقیقت کې) خالد د حامد پلار عمداً په ناحقه قتل کړې دې.قاضی په دې شهادت باندې فیصله ورکړله.او حامد د خپل پلار په قصاص کې خالد قتل کړو.ددې نه روسته ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله.نودا ګواهان به د خالد وارثانو لپاره د دیت ضامن وی.او دیت به د ګواهانو په عاقله (د خاندان په خلقو) باندې واجب وی.او ددې ګواهانو څخه به قصاص نشی اخستې.د حضرت امام مالك رحمه الله هم دا مذهب دې. [1]

دلیله دلیل دادې.چه قتل د یو فعل نوم دې.اود قتل دا فعل د ګواهانو د اړخه اونه موندې شو.بلکه د قاتل د قتل مرتکب ولی د قصاص دې.او په ولی د قصاص باندې د قاتل د قتل قصاص نه لازمیږی.نو هرکله چې ولی د قصاص کوم چې مرتکب قتل دې.په هغه باندې د قاتل د قتل قصاص نه لازمیږی.نو دده نه علاوه یعنی ګواهان کومو چې د قاتل د قتل ارتکاب نه دې کړې.هغوی باندې به د قاتل د قتل قصاص څنګه لازمیږی. حاصل داچه د شهادت نه د رجوع کولو نه روسته د ګواهانو نه د قاتل د قتل قصاص نشی وصولولې.

[1] مسلك الشافعي:- حضرت امام شافعی رحمه الله په نیز به په ګواهانو باندې قصاص واجب وی.

د شهود فرع په رجوع سره د ضمان حکم

وَإِنْ رَجَعَ شُهُودُ الْفَرْعِ ضَمِنُوا او که شهود فرع رجوع اوکړله نو ضامن به وي.

تشريح صورت د مسئلې دادې که د شهادت علی الشهادت په صورت کې شهود فرع د خپل شهادت نه رجوع اوکړله. نو بالاتفاق د مشهود ضمان به هم په هغوی واجب وي.

دليله دليل دا دې چې د قاضي په عدالت کې شهود فرع گواهي ورکړې ده. نو تلف کول به هم دوی ارخ ته منسوب وي. او هرکله چې تلف دوی ارخ ته منسوب کيږي. نو ضمان به هم په دوی باندې واجب وي.

د شهود فرع د شهادت نه د شهود اصل انکار او په رجوع سره د ضمان حکم

وَإِنْ رَجَعَ شُهُودُ الْأَصْلِ او که شهود اصل رجوع اوکړله. وَقَالُوا لَمْ نُشْهِدْ شُهُودَ الْفَرْعِ عَلَى شَهَادَتِنَا او وئيل چه مونږ پخپل شهادت باندې شهود فرع شاهد نه دي مقرر کړي. فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمْ نو په شهود اصل به ضمان واجب نه وي

تشريح صورت د مسئلې دادې. که شهود اصل دا اووئيل. چه مونږ شهود فرع پخپل شهادت باندې شاهد نه دي جوړ کړي. او شهود فرع پخپل شهادت باندې باقي دي. نو په شهود اصل به بالاجماع ضمان واجب نه وي.

دليله دليل دا دې چې هغوی سبب اتلاف يعني پخپل شهادت باندې د شاهد جوړولو انکار کړې دې. يعني د شهود فرع په شهادت سره چې د مدعى عليه کوم مال تلف شوې دې. يعني ته ورکړې شوې دې. د هغې سبب مونږه نه يو. ځکه چې مونږ پخپل شهادت باندې شهود فرع شاهد نه دي جوړ کړي. نو هرکله چې شهود اصل د سبب اتلاف منکر دې. نو په دوی به ضمان اتلاف هم واجب نه وي.

د شهود فرع په مقررولو د شهود اصل د خپلې غلطۍ په اقرارکولو د ضمان حکم

وَإِنْ قَالُوا أَشْهَدْنَاهُمْ او که شهود اصل اووئيل. چه مونږ فروع گواه کړي وو. وَغَلِطْنَا ضَمِنُوا او مونږ غلطي کړې ده. نو اصل به ضامن وي.

تشريح که شهود اصل اووئيل. چه مونږ فروع پخپل شهادت باندې شاهد جوړ کړي وو. خو زمونږ نه غلطي شوې ده. يا ئې داسې اووئيل. چه مونږ هغوی شاهد جوړ کړي وو. خو مونږ رجوع کړې ده. نو په دې دواړو اقوالو کې به د امام محمد رحمه الله په نيز شهود اصل ضامن وي.

دليله د امام محمد رحمه الله دليل دادې. چه شهود فرع د شهود اصل شهادت د قاضي مجلس ارخ ته منتقل کولوکې د شهود اصل قائم مقام دي. هم دا وجه ده. چه د قاضي د قضاء لپاره د شهود اصل عادل کيدل هم شرعاً معتبر دي. بهرحال هرکله چې فروع د اصول قائم مقام دي. او فروع د اصول شهادت د قاضي په عدالت کې نقل کړې دې. نو داسې شوه. گويا شهود اصل د قاضي په مجلس کې پخپله حاضر شوي وو. او گواهي ئې ورکړې وه. او بيا په مجلس کې حاضر شوي دي. او رجوع ئې کړې ده. او په داسې کولو سره اصول باندې ضمان واجبيږي. نو په ذکر شوې مسئله کې به هم اصول باندې ضمان واجب وي.

مسلک الشیخین> اود شیخینو رحمهماالله په نیز په شهود اصل به ضمان واجب نه وی. (۱)

دلیلهما> دلیل دا دې چې د فروع شهادت د قاضی په مجلس کې موجود شوې دې.د اصول شهادت نه دې موجود شوې.بهرحال هرکله چې قاضی د فروع د شهادت مشاهده کړې ده.نود فروع شهادت به حجت وی.او هم ددې مطابق به قاضی فیصله ورکوی.اود اصل شهادت چونکه د قاضی په مجلس کې نه دې موجود شوې.څکه به د اصول شهادت حجت نه وی.او هرکله چې د اصول شهادت حجت نه دې.او قاضی د هغوی په شهادت باندې فیصله نه ده ورکړې.نود هغوی د خپل شهادت نه رجوع کول به د اتلاف سبب هم نه وی.او هرکله چې د اصول رجوع کول د مشهود به د اتلاف سبب نه دې.نو په هغوی به ضمان هم واجب نه وی.

وَاِنْ قَالَ شُهُوْدُالْفَرْعِ كَذَبَ شُهُوْدُالْاَصْلِ اَوْغَلِطُوافِي شَهَادَتِهِمْ اوکه فروع اوونیل.چه شهود اصل دروغجن دی.یا هغوی په دې اره کې غلطی کړې ده. **لَمْ يُلْتَفَتْ اِلَى ذٰلِكَ** نو ددوی دې قول ارخ ته به رجوع نشی کولې.

تشریح> علامه مرغینانی رحمه الله فرمائی.که د قاضی د قضاء نه روسته شهود فرع اوونیل.چه شهود اصل په مدعی علیه باندې د درغو ګواهی ورکړې ده.یا شهود اصل په دې اره کې غلطی کړې ده.نو د شهود فرع دې قول ارخ ته به توجه نشی ورکولې.

دلیله> څکه چې قاضی کومه فیصله ورکړې ده.هغه به ددوی په دې قول سره نه باطلیږی.څکه چې ددوی په دې قول کې د صدق او کذب دواړو احتمال دې.او د احتمال په وجه د قاضی فیصله نه باطلیږی.نود قاضی فیصله به باطل نه وی.

د احصان د ګواهانو په رجوع باندې عدم ضمان

واذاشهداربعةبالزنا اوکله چې څلورو کسانو د زنا ګواهی ورکړه **وشاهدان بالاحصان** او دوو کسانو د احصان یعنی واده کړی کیدو ګواهی ورکړه **فرجم شهودالاحصان** بیا د احصان ګواهانو رجوع اوکړه **لم یضمنوا** نو دوی به نه ضامن کیږی.

تشریح> څلورو ګواهانو په دې خبره ګواهی ورکړه چې زید زنا کړې ده او دوه کسانو د زید په احصان ګواهی ورکړه چې دې واده شوې دې.د دې ګواهو په نتیجه چې زید ته رجم ورکړې شو ددې نه پس د احصان ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړه نو که دې محصن نه وو د رجم نه به بچ شوې وو خو د دې دوو ګواهانو په ګواهۍ سره هغه رجم شو.خو په دې صورت کښې هم دغه د احصان دوه ګواهان به ضامن نه وی .

دلیله> څکه چې د حد زنا علت زنا نه ده اود احصان ګواهان زنا نشی ثابتولې څکه چې زنا خو د وارندې نه څلورو ګواهانو په خپل شهادت سره ثابته کړې ده ددې وجې کومو کسانو چې د احصان ګواهی ورکړې ده د هغوی په رجوع باندې په هغوی باندې دیت نه لازمیږی.چې د زید وارثانو ته د زید دیت ورکړی.

---

(۱) القول الراجح هوهذا قول الشیخین رحمهما الله كذا في الدر المنتقى (۳۰۳\۳) وفتح القدير(۵۵۰\۶) وتنوير الأبصار(۴۴۳\۴) نقلاً عن القول الراجح (۱۴۶\۲)-

د تزکیه او تعدیل کونکو په رجوع سره د ضمان حکم

وَإِذَارَجَعَ الْمُزَكُّونَ عَنِ التَّزْكِيَةِ اوکه تزکیه او تعدیل کونکو د تزکیه نه رجوع اوکړله ضمنوانو هغوی به ضامن وی. ( )

تشریح صورت د مسئلې دادې.که ګواهانو د یوکس خلاف د مال ګواهي ورکړله.بیا تزکیه کونکو ددې ګواهانو تزکیه اوکړله.او قاضی د مدعی علیه خلاف د مال فیصله اوکړله.او ددې فیصلې په بنا (بنیاد) مدعی په مال مشهود به باندې قبضه اوکړله.ددې نهروسته تزکیه کونکو د خپلې تزکیه او تعدیل نه رجوع اوکړله.نود حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز تزکیه کونکی به د مدعی علیه لپاره د مال مشهود به ضامن وی.امام مالك او امام محمد رحمهماالله هم ددې قائل دی.

التمهید د امام ابوحنیفه د دلیل بیانولو نه وړاندې د تمهید په طور دا خبره زده کړه ، چې د علت، سبب، شرط، او علامت په منځ کې توپیر دادې.چه علت په حکم کې دننه موثر وی.سبب د تاثیر نه بغیر حکم اړخ ته مفضی وی.او شرط نه په حکم کې دننه موثر کیږی.او نه حکم اړخ ته مفضی کیږی.بلکه د حکم وجود د هغې په وجود باندې موقوف وی.او علامت هغه دې.په کوم چې حکم دلالت اوکړی.خود حکم وجود د هغې په وجود باندې موقوف نه وی.لکه مثلاً یوکس خپلې ښځې ته ،،انت طالق ان دخلت الدار،، اوونیل.نو،،انت طالق،، د طلاق واقع کیدلو علت، او،،دخول دار،، شرط دې.او شهادت د قاضی د حکم لپاره سبب دې.او د ټرین (ریل ګاړی) راتلو نه وړاندې هارن وهل د ټرین د راتلو علامت دې.

دلیله اوس دلیل ته راشه د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه تزکیه د ګواهئ کارآمد (او ګټور) جوړولو علت دې.یعنی قاضی د هغه ګواهئ موافق عمل کوی.د کومې ګواهئ د ګواهانو چې تعدیل شوې وی.او ګواهی د قاضی د فیصلې علت دې.حاصل داچه د قاضی د فیصلې علت شهادت دې.اود شهادت کارآمد جوړولو علت تعدیل دې.نو تعدیل کول د علة العلة په معنی کې شو.او حکم چې څنګه علت اړخ ته منسوب کیږی.دغه ډول علة العلة اړخ ته هم منسوب کیږی.

مسلک الصاحبین په زیر بحث مسئله کې صاحبین رحمهماالله فرمائی.چه تزکیه کونکی به ضامن وی.

دلیلهما دلیل دادې.چه تزکیه کونکو دګواهانو تعریف کړې دې.په کومه دعوه نې ګواهی نه ده ورکړې.نو د قاضی هغه فیصله دکوم په وجه چې د مدعی علیه مال تلف شوې دې.په تزکیه باندې نه دې واقع شوې.بلکه د ګواهانو په ګواهئ باندې واقع شوې دې.او هرکله چې د قاضی فیصله په ګواهئ باندې واقع شوه. او په تزکیه باندې واقع نشوه.نود مدعی علیه مال تلف کیدل به تزکیه کونکو اړخ ته نه منسوب کیږی.او هرکله چې اتلاف تزکیه کونکو اړخ ته منسوب نه دې.نو د تزکیه نه د رجوع کولو په صورت کې به په تزکیه کونکو باندې ضمان هم واجب نه وی.

د ګواهانو د یمین او د شرط د وجود ګواهئ نه په رجوع کولو د ضمان حکم

وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ بِالْيَمِينِ اوکه دوه ګواهانو د یمین ګواهی ورکړله وَشَاهِدَانِ بِوُجُودِ الشَّرْطِ او دوه

() القول الراجح هو هذا قول الإمام الاعظم رحمه الله كذا في فتح القدير(٦\٥٥١) والمجمع (٣\٢٠٤) والبحرالرائق (٤\٣١٤) نقلا عن القول الراجح (٢\١٤٦)-

ګواهانو د وجود شرط ګواهي ورکړله. ثُمَّ رَجَعُوا بيا خلور واړه ګواهانو رجوع اوکړله. فَالضَّمَانُ عَلَى شُهُودِ الْيَمِينِ خَاصَّةً نو ضمان به خاص طور باندې شهود يمين باندې واجب وي.

تشريح صورت د مسئلې دادې چه دوه سړو د يمين عتاق ګواهي ورکړله. مثلاً دا ګواهي ئې ورکړله چه خالد خپل غلام ته.. ان دخلت هذه الدارفانت حر،، ونيلي دي. يا يې د يمين طلاق قبل الدخول ګواهي ورکړله. مثلاً وې ونيل چه خالد د خول نه وړاندې خپلې ښځې ته،، ان دخلت هذه الدار فانت طالق،، ونيلي دي. بيا نورو ګواهانو د وجود شرط ګواهي ورکړله. يعني ددې خبرې ګواهي ئې ورکړله چه غلام يا ښځه په کور کې داخل شوي دي. نو قاضي د غلام آزادولو، يا د ښځې د مطلقه کيدلو فيصله ورکړله. بيا خلور واړه ګواهانو د خپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړله.

وجوب الضمان نو د غلام د قيمت يا د نصف مهر ضمان به خاص طور باندې د يمين په ګواهانو باندې واجب وي. يعني خالد لپاره به ضمان هغه ګواهانو باندې واجب وي. چاچه دا ګواهي ورکړې وه. چه خالد خپل غلام ته،، ان دخلت هذه الدار فانت حر،، يا خپلې غيرمدخول بها ښځې ته،، ان دخلت هذه الدار فانت طالق،، ونيلي دي. او کومو ګواهانو چې دا ګواهي ورکړې وه. چه د دخول دارشرط موجود شوي دې په هغوی به ضمان واجب نه وي.

دليله دليل دادې چه د غلام د آزادۍ او د ښځې د طلاق سبب هم دا يمين دې. يعني،، انت حر،، او،، انت طالق،، کوم چې په دخول دار باندې معلق دې. هم دا د غلام آزادولو او د ښځې د مطلقه کيدلو سبب دې.

كِتَابُ آدَابِ الْقَاضِي

ترجمه (دا) کتاب د ادب القاضي (په بيان کښې) دې.

تشريح الربط بما قبله د کتاب الشهادات په احکامو کښې د دې خبرې ذکرشوي وو چې د دعوی د اثبات دپاره د ګواهۍ ضرورت دې او ګواهي به د قاضي په عدلت کښې کولې شي د دې وجې ئې په کتاب الشهادة پسې کتاب آداب القاضي ذکر کړل.

معني القضاء لغة وشرعاً د قضاء لغوی معنی لازمول دی. او په شريعت کښې قضاء هغه قول دې. کوم چه په ولايت عامه سره صادر شي. يعني کوم کس ته چه ولايت عامه حاصل دې. د هغه نه صادر شي. او څوک چه ددهٔ د قول مخاطب وي. په هغه لازم شي.

المراد من الأدب د ادب معنی ښائسته اخلاق او ښه خصلتونه دی. اودلته ترې داسې امور مراد دی. کوم چه شرعاً محمود وی. قاضي هغه لازم اونيسي. مثلاً انصاف عام کول، ظلم ختمول، د شريعت په حدودو او سنتو باندې قائم پاتې کيدل.

ثبوت القضاء بأدلة الشرع ① قضاء په کتاب الله سره ثابته ده لکه د الله تعالی ارشاد دې.

﴿وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ ② اود نبی ﷺ په سنت سره هم ثابته ده حضرت علی او معاذ رضی الله عنهما چه کله دا دواړه نبی قاضيان جوړ کړل او خپل د قضاءت مقام ته ئې ليږل نو دا ئې ورته فرمائيلی وو (بم تقضي يا معاذ؟ فقال بكتاب الله قال فإن لم تجد قال بسنة رسول الله ﷺ قال فإن لم تجد قال أجتهد برأيي قال الحمد لله الذي وفق رسول رسول الله لما يرضى رسول الله)

③ د قضاء په مشروعيت باندې د مسلمانانو اجماع هم ثابت ده.

③اود عقل په ذريعه داسې ثابت ده.چه په قضاء بالحق کښې به عدل ښکاره کيږي.د ظالم ظلم به لرې کيږي.او ظالم ته به انصاف ملاويږي.اودا داسې څيزونه دي.چه دې طرف ته د هر عاقل عقل دعوت ورکوي.نو معلومه شوه.چه عقلاً هم قضاء ثابت ده.

د قضاء د عهدې لپاره شرائط

وَلَا تَصِحُّ وِلَايَةُ الْقَاضِي د قاضي متولي کيدل نه صحيح کيږي. **حَتّٰى تَجْتَمِعَ فِي الْمُوَلّٰى شَرَائِطُ الشَّهَادَةِ** تردې چې کوم کس متولي کړې شي.چه په ده کې د ګواهۍ شرطونه موجود وي. **وَيَكُونَ مِنْ أَهْلِ الِاجْتِهَادِ** اودې د اهل اجتهاد څخې هم وي.

حل اللغة ‹ ① **ولاية**-متولي کيدل-② **يجتمع**-جمع کيږي-

تشريح ‹ **اجتماع شروط الشهادة في المولي** › د يوسړي قاضي جوړول به هغه وخت جائز وي.چه کله په ده کې د شهادت واړه شرطونه موجود شي.مثلاً مسلمان وي، بالغ وي، عاقل وي، آزاد وي،او نابينا (ړوند) او محدود في القذف نه وي.او غوره داده. چې عادل وي، عفيف (پاکدامن) وي، عالم بالسنة وي.اود خان نه د مخکنو قاضيانو په طريقه وي.

كون القاضي من اهل الاجتهاد › د قدوري د عبارت (ولاتصح) نه معلوميږي.چه د اجتهاد شرط، شرط صحت دې.يعنى د قوتِ اجتهاد نه بغير څوك قاضي جوړول جائز نه دي.خو صحيح خبره داده.چه د اجتهاد شرط اولويت (غوره والي) دې.يعنى غوره داده.چه قاضي مجتهد وي. زمونږ په نيز جاهل يعنى غيرمجتهد قاضي جوړول جائز دي. كذا في الهدايه

د قضاء عهده قبلولو حکم

وَلَا بَأْسَ بِالدُّخُولِ فِي الْقَضَاءِ لِمَنْ يَثِقُ بِنَفْسِهِ فرمائى.اود هغه کس لپاره د قضاء عهده قبلولو کې هيڅ باك نشته.کوم چې پخپل ځان باندې اعتماد لري. **أَنَّهُ يُؤَدِّي فَرْضَهُ** چې دې به د قضاء فريضه اداکوي.

حل اللغة ‹ ① **لاباس**-پراه نشته-② **بالدخول**-په داخليدو-③ **يثق**-چه اعتماد ئې وي-④ **أن يؤدى**-چه ادا به کړي

تشريح ‹ ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائى.که يوسړي ته پخپل ځان باندې دا اعتماد وي.چه دې به د قضاء فريضه سرته اورسوي.يعنى د حق مطابق فيصله کولې شي.نو دده لپاره د قضاء عهده قبلولو کې هيڅ حرج نشته.

دلائله ‹ ① دليل دادې.چه صحابه کرامو رضي الله عنهم د قضاء عهده قبول کړې ده.لکه چې په عهد رسالت کې د حضرت معاذ رضي الله عنه قاضي کيدل معروف او مشهور دي.او حضرت علي رضي الله عنه پخپله فرمائى. (**بعثنى رسول الله صلى الله عليه وسلم الى اليمن قاضياً** ...... **الحديث**) دغه ډول نور احاديث هم د قضاء په قبلولو کې راغلى دى.مونږ صرف په دې باندې اکتفاء اوکړله.

② قاضي چونکه امر بالمعروف نهى عن المنكر کوي.په دې وجه قاضي کيدل فرض على الكفايه دى.که څوك هم دا عهده قبول نکړي.نو واړه به ګناهګار وي.دلته کې د قدوري په عبارت باندې اشکال کيداې شي.هغه دا چې قاضي کيدل فرض على الكفايه دى.اود فرض على الكفايه اولى مرتبه ندب او استحباب ده.نو ددې قبلول به کم ازکم مستحب وي. حالانکه قدوري رحمه الله د (لاباس) لفظ

ذکرکړي دي.چه دا په اباحت باندې دلالت کوي؟ ددې ځواب دادې.چه د قضاء په عهده کې چونکه ډېر لوی خطرات دی.او هرسړي دا پوره طور باندې نشي برداشت کولې.په دې وجه مصنف رحمه الله د (لابأس) لفظ ونيلو سره جواز بيان کړې دې.

د قضاء عهده قبلول د چا لپاره مکروه ی ده؟

وَيُكْرَهُ الدُّخُولُ فِيهِ لِمَنْ يَخَافُ الْعَجْزَ عَنْهُ فرماني.اوکوم کس چې د قضاء بالحق نه د عاجزئ يره لري. وَلَا يَأْمَنُ عَلَى نَفْسِهِ الْحَيْفَ فِيهِ او پخپل ځان باندې په حکم قضاء کښې د ظلم نه مطمئن نه وی.نو دده په قضاء کې داخليدل مکروه دی.

حل اللغة ① **يخاف**–ويريږی-② **يأمن**–په امن وی -③ **الحيف**–ظلم-

تشريح که يو سړی ته د قضاء بالحق نه د عجز خطره وی.اود ظلم او بې انصافئ نه پخپل ځان باندې مطمئن نه وی.نود داسې سړی لپاره د قضاء عهده قبلول مکروه تحريمي ده.

دليله ددې لپاره چې د قضاء عهده قبلول د قبيح (ناکاره) امر يعنی د ظلم او بې انصافئ کولو وسيله او ذريعه نشي.

كراهة قبول القضاء عند البعض د بعض عالمانو په نيز د قضاء عهده قبلول مطلقاً مکروه تحريمي ده.که پخپل ځان باندې اعتماد کوی.او که يريږی.

دليلهم ددې حضراتو دليل د حضرت أبوهريره رضي الله عنه دا حديث دې.چه کوم سړې قاضی مقرر کړې شو.ګويا دې د چاړه نه بغير ذبح کړې شو.د قضاء عهدې ته د چاړې نه بغير ذبح کولو سره ځکه تشبيه ورکړې شوې ده.چه چاړه په ظاهر او باطن دواړوکې موثر وی.اود چاړه نه بغير ذبح د روح وتلو په وجه باطن کې موثرکيږی.او په ظاهرکې نه موثر کيږی.دغه ډول د قضاء وبال (بوج) په ظاهرکې نه موثر کيږی.خوپه باطن کې موثر کيږی.ځکه چې د قضاء عهده په ظاهرکې يو عظيم الشان منصب دې.خو په باطن کې واړه هلاکت هلاکت دې.هم دا وجه ده.چه حضرت امام أبوحنيفه رحمه الله ته درې ځله د قضاء عهده پيش کړې شوه.خو درې واړه ځل ئې انکار اوکړو.اود انکار کولو په وجه هرځل ډيرش ډيرش کوړې اووهلې شو.دغه ډول امام محمد رحمه الله ته د قضاء عهده پيش کړې شوه.نو امام محمد رحمه الله هم انکار اوکړو. تردې چې امام موصوف رحمه الله په قيد خانه کې بنديوان کړې شو.نو مجبوراً ئې قبول کړو.

القول الصحيح علامه مرغيناني رحمه الله په هدايه کښې فرماني.صحيح قول دادې.چه د عدل او انصاف قائمولو په اراده سره د قضاء عهده قبلول جائز دی.يعنی که قاضی شو.نو ګناهګار به نه وی.خو عزيمت ددې پرينښولو کې دې.اوددې مثال په موزو باندې مسح او په سفر کې روژه ده.يعنی لکه ځنګه چې په موزو باندې مسح کول رخصت او پښې وينځل عزيمت دې. او په سفر کې افطار رخصت او روژه نيول عزيمت دې.دغه ډول د قضاء عهده قبلول رخصت او پرينښول ئې عزيمت دې.د ترک کولو په عزيمت کيدلو باندې دليل دادې.که قاضی مجتهد نه وی.نو ددې امکان دې.چه دې غلطی اوکړی.او ده ته د صحيح فيصلې توفيق نه وی.يا قاضی پخپله مجتهد نه وی.او بل څوک دده اعانت اونکړی.حالانکه په دې صورت کې اعانت ضروری دې.نو ددې حالاتو په لحاظ سره ترک کول عزيمت دې.

صورة فرضية قبول القضاء صاحب دهدايه ليکلی دی.که د قاضی کيدلو لائق هم دا سړې وی.او بل هيڅ څوک موجود نه وی.نو په داسې صورت کې د قضاء عهده قبلول فرض دی.چه د بنده ګانو د حقوقو ساتنه اوکړی.اوعالم د ظلم د فساد نه خالی کړی.

قضاء عهده طلب کولو حکم

وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يَطْلُبَ الْوِلَايَةَ وَلَا يَسْأَلَهَا فرمائی. او مناسب دادی. چه نه (څوك) ولایت لټون کړی. او نه ددې درخواست اوکړی.

حل اللغة ① الولاية-عهده-

تشریح ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی. که څوك سړی د قاضی کیدلو صلاحیت لری. بیا هم ده له پکار دی. چه نه خودې په زړه سره ددې خواهش اوکړی. اونه په ژبه سره ددې درخواست اوکړی.

دلائل ① څکه دحضرت انس رضي الله عنه حدیث دی. مَنْ طَلَبَ الْقَضَاءَ وُكِلَ إِلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أُجْبِرَ عَلَيْهِ نَزَلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ يُسَدِّدُهُ} ([1]) چه کوم سړی د قضاء عهده طلب کړله. دی خپل نفس ته اوسپارلې شو. او څوك چې په دې باندې مجبوره کړې شو. په ده باندې یوه فرښته راکوځیږی. چه دې په صحیح لاره باندې ساتی. ② عقلی دلیل دادې. چه کوم سړې د عهدې طالب دې. ګویا ده پخپله پوهه، تقوی، او ذکاوت باندې اعتماد اوکړو. او په دې څیزونو باندې د اعتماد کولو په وجه په غرور او کبرکې اخته شو. اوکوم کس چې د غرور او تکبر په وجه خپل نفس باندې اعتماد کوی. دې د توفیق الهی نه محرم پاتې کیږی. څکه د الله تعالی ارشاد دی. إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ اوڅوك چې د قضاء عهدې قبلولو باندې مجبورکړې شو. دې پخپل پروردګار باندې اعتماد کوی. او څوك چې په الله تعالی باندې اعتماد کوی. هغه ته د الله تعالی توفیق ملاویږی. په دې وجه عهده نه طلب کول مناسب دی. اوکه د بزرګانو د اړخه ورکړې شی. نو په قبلولو کې هیڅ باك نشته.

د قضاء عهده سنبالولو نه روسته ضروری امور

وَمَنْ قُلِّدَ فِي الْقَضَاءِ سُلِّمَ إِلَيْهِ دِيوَانُ الْقَاضِي الَّذِي كَانَ قَبْلَهُ فرمائی. اوکوم کس چې قاضی مقررکړې شو. هغه دې مخکې د قاضی دفتر لټون کړی.

حل اللغة ① سلم-حواله به کړې شی-② دیوان-رجسټر-

تشریح کوم سړی ته د قضاء عهده سپارلې شوې ده. دده د ټولو نه رومبې کار دادې. چه دې د معزول شوی قاضی نه د هغه ټهیلو په اړه کې پوښتنه اوکړی. په کوم کې چې سرکاری فائلونه او ریکارډ ایخودلې شی.

المراد من الدیوان علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی. چه د دیوان نه مراد د څرمې هغه تهیلۍ دی. په کوم کې چې د ساتنه په غرض څه شیۍ کیخودلې شی. او ددې خوله بندولې شی. نو قاضی سره چې کومې تهیلۍ وی. په هغې کې سجلات (رجسټر) یعنی د خلقو د مقدمو فائلونه (او ریکارډ) ایخودلې شی. او نور دستاویزات مثلاً د اوقاف فائلونه ایخودلې شی. او په خاوندانو او وارثانو باندې چې د کومو خلقو نفقات مقرر ولې شی. د هغې تحریرات او فائلونه هم ایخودلې شی. بهرحال لندیز دادہ. چه بحال قاضی به د معزول قاضی نه د ذکرشوی تهیلو په اړه کې څکه معلومات کوی. چه په دې تهیلوکې

---

[1] الحديث المذكور من حديث انس رضي الله عنه اخرجه ابوداود في الأقضية باب ۳ رقم ۳۵۷۸ والترمذي في الأحكام باب ۱ رقم ۱۳۲۳ وابن ماجه في الأحكام باب ۱ رقم ۲۳۰۹ واحمد في المسند (۱۱۸/۳) والحاكم في المستدرك (۹۲/۴) والبيهقي في السنن الكبرى (۱۷۲/۱۰) رقم ۲۰۲۴۹) وفي معرفة السنن والآثار رقم۵۸۵۵ـ

د مقدماتو رجسټرې او نور دستاویزات (او فائیلونه) څکه ایخودلې شي.چه د ارتیا په وخت په کار راشي.نودا به د موجوده قاضي په لاس کې ایخودلې شي.څکه چې اوس د ټولو معاملاتو تعلق د موجوده قاضي سره دې.معزول شوی قاضي سره د هیڅ معاملې څه تعلق پاتې نشو.دې خود عامو خلقو پشان یو فرد جوړ شوې دې.

د قیدیانو سره د نوي قاضي سلوک کول

وَيَنْظُرُ فِي حَالِ الْمَحْبُوسِينَ او نوې قاضي دې د قیدیانو په حال باندې نظر واچوي.

حل اللغة ◀ ① **ينظر**-ګوري-② **المحبوسين**-قیدیان-③ **اعترف**-اقرار اوکړو-④ **ألزم**-لازم به کړي

تشریح ◀ ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه نوې قاضي د چارج اخستلونه روسته د ټولو نه وړاندې دې د قیدیانو په حال باندې نظر اوکړي.یعنې څوک سرې قید خانې ته اولیګی.ددوی تعداد او ددوی نومونه معلوم کړي.او ددوی نه دا معلومات اوکړي.چه دوی په څه وجه قیدخانه کې اچولې شوی دي.
دلیله ◀ څکه چې قاضي د مسلمانانو د امورو او معاملاتو نګران مقررولې شي.اود معزول قاضي قول حجت نه جوړیږي.په دې وجه د قیدیانو حالات معلومول ضروري دي.او ددې صورت دادې.چه نوې قاضي قیدیان او مدعیان راجمع کړي.

فَمَنْ اعْتَرَفَ مِنْهُمْ بِحَقٍّ أَلْزَمَهُ إِيَّاهُ نو کوم قیدي چې د حق اقرار اوکړو.نوهغه به په ده باندې لازم کوي.

تشریح ◀ نوکه کوم قیدي د خپل مدعي د حق خپل ځان باندې اقرار اوکړو.نو نوې قاضي به په ده باندې دا حق لازم کړي.اود مدعي په مطالبه کولو باندې به دې قیدخانې ته واپس کولې شي.
دلیله ◀ څکه چې اقرار داسې حجت دې.چه په اقرار کونکي باندې هغه شئ لازم کړي.د کوم څیزچه ده اقرار کړې دې.اوهرکله چې مدعي د خپل حق په وجه دده د قید کولو درخواست اوکړي.نودې به قید کولې شي.

وَمَنْ أَنْكَرَ لَمْ يَقْبَلْ قَوْلَ الْمَعْزُولِ عَلَيْهِ او چاچه انکار اوکړو.د هغه خلاف به د معزول قول قبول نه وي. إِلَّا بِبَيِّنَةٍ خو په بینه سره،

حل اللغة ◀ **أنكر**-انکار اوکړو-

تشریح ◀ اوکه قیدي د خپل مدعي د هغه حق انکار اوکړو.کوم چې د حبس او قید سبب دې.او معزول قاضي که دده د قیدکیدلوسبب خبرورکړو.نودمعزول قاضي قول به نه قبلیږي.
دلیله ◀ څکه چې معزول قاضي معزول کیدلو سره د رعایا ،،رعیت،، یو فرد جوړشوې دې. اود یو فرد ګواهي حجت نه وي.بالخصوص کله چې پخپل ذاتي فعل باندې وي.نوپه درجه اولی به حجت نه وي.نود معزول قاضي دا قول چه،،ما دا په دې وجه قید کړې دې.چه په ده باندې قید برحق دې،،حجت به نه وي.امام شافعي او امام مالک رحمهما الله هم ددې قائل دې.

فَإِنْ لَمْ تَقُمْ بَيِّنَةٌ لَمْ يُعَجِّلْ بِتَخْلِيَتِهِ بیا که بینه قائم نشو.نو نوې قاضي به ددې قیدي په آزادولو کې جلتي نه کوي. حَتَّى يُنَادِيَ عَلَيْهِ تردې چې په دې باندې آواز(اعلان) اوکړي. وَيَسْتَظْهِرَ فِي أَمْرِهِ او دده په معامله کې نظر اوکړي.

حل اللغة ◀ ① **لم تقم**-قائم نکړل -② **تخلية**-خالي کول-③ **لم يعجل**-تلوارنکوي-

تشریح> اوکه د قیدي خلاف بینه پیش نکړې شو.یا مدعی حاضر نشو.او قیدي دعوه اوکړله. چه زما خلاف هیڅ څوك مدعی نشته.زه په ناحقه باندې قیدشوې یم.نو نوې قاضي به دده په آزادولو باندې جلتي نه کوي.بلکه څو ورځې به آواز کوي.چه د قاضي د اړخه دا اعلان کولې شي.چه فلانې د فلانې خوې چې په فلانی قیدخانه کې بندیوان دې.که په ده باندې دچا څه مطالبه وي.نوحاضر دې شي.او خپله مطالبه دې ثابت کړي.نوکه مدعی حاضرشو.څو صحیح ده.ګنې قاضي دې څو ورځو پورې دا اعلان بیا بیا اوکړي.څو ورځې اعلان کولو باندې که مدعی حاضر نشو. نو نوې قاضي دې د قیدي نه کفیل بنفسه واخلي. او آزاد دې کړي.

دلیله> د قیدي خلاف ګواه نه موجود کیدلو په صورت کې قیدي په جلتئ سره د نه آزادولو حکم په دې وجه ورکړې شوې دې.چه د معزول قاضي فعل یعني دده قید کول په ښکاره صحیح معلومیږي.ځکه به نې زر نه خلاصوي.ځکه ډیره ممکن ده.چه مدعی غائب وي.او په زر آزادولو سره د مدعی حق باطل شي.په داسې حال کې چې دچا حق باطلول جائز نه دی.

د امانتونو اود اوقافو آمدنئ سره د نوي قاضي سلوك

وَيَنْظُرُ فِي الْوَدَائِعِ وَارْتِفَاعِ الْوُقُوفِ او نوې قاضي به د امانتونو اود اوقاف د حاصلاتو (آمدنئ) کې نظر اوکړي. فَيَعْمَلُ عَلَى حَسَبِ مَا تَقُومُ بِهِ الْبَيِّنَةُ نو څنګه چې ګواهان قائم وي.هم د هغې مطابق دې په دې مالونوکې عمل اوکړي. أَوْيَعْتَرِفُ بِهِ مَنْ هُوَفِي يَدِهِ یاد کوم کس په قبضه کې چې وي.هغه دې اقرار اوکړي.

حل اللغة> ① **الودائع**-امانتونه-② **ارتفاع**-خلاصول-

تشریح> جدید قاضي د قیدیانو د معلومات کولو نه روسته به د امانتونو معلومات اوکړي. کوم چې معزول قاضي خپل امانت ګرو سره ایخودې دی.اود اوقافو په آمدنئ او خرچ باندې دې هم نظر اوکړي.چه د اوقافو آمدني د شرائطو مطابق تقسیمیږي.اوکه نه.اودا معلومات دې هم اوکړي.چه د اوقافو متولي د اوقافو جائیداد چرته پخپله خو نه پټوي.نو قاضي جدید به د امانتونو اود اوقافو په مالونوکې د ګواهانو د ګواهئ موافق عمل کوي.مثلاً په دې خبره ګواهي ورکړې شوه.چه خالد سره کوم امانت دې.هغه د حامد دې.نو جدید قاضي به ذکرشوې امانت د خالد نه اخلي.او حامد ته به نې ورکوي.یا قابض اقرار اوکړي.چا چې ما سره دا د فلاني امانت دې.نو جدید قاضي به ددې موافق عمل کوي.

دلیله> د بینه یاد قابض د اقرار موافق عمل کولو دلیل دادې.چه د قاضي جدید د عمل کولو لپاره د حجت شرعیه موجود کیدل ضروري دی.او بینه اود قابض اقرار، په دې دواړوکې هر یو حجت شرعي دې.لهذا جدید قاضي به د بینه موافق هم عمل کوي.اود قابض د اقرار مطابق د عمل کولو به هم پابندي کوي.

وَلَايُقْبَلُ قَوْلُ الْمَعْزُوْلِ اونه به شي قبلولې قول د معزول قاضي إِلَّاأَنْ يَعْتَرِفَ الَّذِي هُوَفِي يَدِهِ مګر داچه دچا په قبضه کې امانتونه دی.هغه اقرار اوکړي. أَنَّ الْمَعْزُوْلَ سَلَّمَهَا إِلَيْهِ چې معزول قاضي ده ته سپارلي وو. فَيُقْبَلُ قَوْلُهُ فِيهَا نو ددې امانتونو په اړه کې به د معزول قاضي قول قبول وي.

حل اللغة> ① **سلم**-سپارلې وه-② **المعزول**-فارغ کړې شوې-

تشریح اوکه معزول قاضي د قابض خلاف څه اووئیل.مثلاً معزول قاضي اووئیل.چه خالد سره د حامد زر روپۍ امانت دی.او خالد ددې انکار اوکړو.اووې وئیل.چه دا زر روپۍ خو زما دی.نو په دې صورت کې به د معزول قاضي قول نه قبلیږي.ځکه چې د معزول کیدلو په وجه دې د رعایا ، رعیت، یو فرد دی.او ځانله د یو سړي قول حجت نه وي.په دې وجه به د معزول قاضي قول نه قبلیږي.البته که قاضي اقرار اوکړو.چه دا امانت معزول قاضي ماته سپارلي وو.او ماته دا معلومه نه ده.چه د چا دی.یا قابض دا اووائي.چه دا امانت معزول قاضي ماته سپارلي وو.اودا د فلاني د خوی د فلاني دی.او معزول قاضي هم دده لپاره اقرار کوي.نو په دې دواړو صورتونوکې به د معزول قاضي قول قبول وي.

دلیله ځکه چې د قابض په اقرار سره ثابته شوه.چه په امانت باندې په اصل کې د معزول قاضي قبضه وه.اوهرکله چې په اصل کې د معزول قاضي قبضه وه.نو ګویا ذکرشوې امانت في الحال هم د معزول قاضي په قبضه کې دې.اود امانت په سلسله کې چونکه امین یعنی د قابض قول معتبر وي.په دې وجه ذکرشوی دواړو صورتونوکې به د معزول قاضي قول قبول وي.

د قاضي د ناستې ځائې اود کیناستلو کیفیت

وَيَجْلِسُ لِلْحُكْمِ جُلُوسًا ظَاهِرًا فِي الْمَسْجِدِ فرمائي.او قاضي به د فیصلې کولو لپاره په جمات کې ښکاره کیني.

حل اللغة ① **يجلس** : کښیني به-

تشریح قاضي به د مقدماتو د سماعت (اوریدلو) لپاره په جمات کې ښکاره کیني.

دلائله ① چه په مسافرو او بعض مقیمو خلقو باندې دده ځائې مشتبه نشي.او جامع مسجد زیات غوره دې.ځکه چې جامع جمات داسې مشهور مقام وي.چه دا هر ډول کس پیژني. هلته کې به په تلوکې هیڅ چاته څه تکلیف نه وي.خودا هغه وخت دی.کله چې جامع جمات د ښار په منځ کې وي.خوکه جامع مسجد د ښار په اطرافوکې وي.نو قاضي دې دداسې جمات انتخاب اوکړي.چه د ښار په منځ کې وي.چه د هر اړخ خلق په آسانتیا سره راورسي.امام مالك او امام احمد رحمهماالله هم ددې تفصیل قائل دی. ([1])

② دلیل دا حدیث دې. (انما بنيت المساجد لذكر الله والحكم) ([2]) یعنی جماتونه د الله ﷻ د ذکر اود مقدماتو فیصلو لپاره جوړشوی دی.علامه ابن الهمام رحمه الله فرمائیلی دی.چه دا حدیث په دې الفاظو سره مشهور نه دې.

③ رسول الله ﷺ به په خپل معتکف کې د مقدماتو فیصله فرمائیله. ([1]) لکه چې په صحیحینو کې د سهل بن سعد رضي الله عنه د لعان حدیث دې.په هغې کې دا ذکر دی.چه یوسړی او ښځې په جمات کې لعان

---

[1] **مسلك الشافعي**:- حضرت امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه د مقدماتو د سماعت لپاره د قاضي په جمات کې کښیناستل مکروه دی.

(۱) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم اخرج من حديث انس رضي الله عنه قال بينما نحن في المسجد مع رسول الله ﷺ إذ جا اعرابي فقام يبول في المسجد فقال اصحاب رسول الله ﷺ مه مه،فقال ﷺ لا تزرموه،دعوه فتركوه حتى بال ثم انه ﷺ دعاه فقال له إن هذه المساجد لا تصلح لي من هذا البول ولا القذر وإنما هي لذكر الله والصلاة وقراءة القرآن قال وأمر رجلا من القوم فجا بدلوو من ماء فشنه عليه قال محققه شمس الدين اخرجه مسلم في الطهارة رقم ۱۰۰ والبخاري في الأدب ۳۵ رقم ۶۰۲۵ مختصراً من حديث انس وابن ماجه في الطهارة باب ۷۸ رقم ۵۲۸ وأحمد في المسند(۱۹۱/۳)۔

اوکړو.حالانکه په دوی کې یو یقینا دروغژن دې.نو معلومه شوه. چه د دروغو قسم او دروغ ونیل، په جمات کې د مقدماتو د فیصلو کولو لپاره مانع نه دی.

④ دغه ډول په خلفائي راشدین هم د مقدماتو د فیصلو لپاره په جمات کې کیناستل. (۲) لکه چې د حضرت عمر او حضرت عثمان رضي الله عنهما نه په جمات کې د مقدماتو اوریدل ثابت دی.او قاضي ابوبکر ابن محمد بن عمرو بن حزم چې دې د حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله په زمانه کې قاضي وو.په جمات کې به کیناستلو.او فیصلې به ئې ورکولې.

قاضي لپاره د هديه قبلولو حکم

وَلَايَقْبَلُ هَدِيَّةً إِلَّامِنْ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ فرمائی.او قاضي به د هیڅ چا هدیه نه قبلوی.سوا د خپل ذی رحم محرم، أَوْمِمَّنْ جَرَتْ عَادَتُهُ قَبْلَ الْقَضَاءِ بِمُهَادَاتِهِ یا د داسې کس دچا سره ئې چې د قاضي کیدلونه وړاندې خپل منځ کې د هدیه اخستلو او ور کولو عادت جاري وو.

حل اللغة ﴿ ① **يقبل**- قبلوی-② **هدية**-ډالئ-③ **مهادات**-ډالئ ورکول-

توضیح﴿ په هدیه او رشوت کې توپیر دې.رشوت په دې شرط سره ورکولې شي.چه اخستونکې دده کومك اوکړی.او په هدیه کې دا شرط نه دې.ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه قاضي به د دوه کسانو نه علاوه د هیڅ چا هدیه نه قبلوی.

① ذی رحم محرم یعنی قرابت دار (رشته دار) ② د چا سره چې د قاضي کیدلو نه وړاندې د هدیه اخستلو او ور کولو عادت جاري وو.

دلیل حرمة قبول الهدية﴿ په بخاری شریف کې د ابوحمید الساعدی نه نقل دی. (أن رسول الله ﷺ إستعمل رجلاً من الأزد على الصدقة فلما قدم قال هذا لكم وهذا أهدی لی فقال رسول الله ﷺ فهلا جلس في بيت أبيه أو بيت أمه فينظر أيهدى له أم لا) یعنی رسول الله ﷺ د ازد قبیلې یو سړې په صدقه باندې مقررکړو.بیا کله چې دې راغې:نو وې ونیل.چه دا ستاسو مال دې.اودا ماته هدیه راکړې شوې ده.نو رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل.دې ولې د خپل مور یا خپل پلار په کورکې نه کیناستلو.چه کتلې شوی وو.چه ده ته هدیه ور کولای شي او که نشي ورکولې؟

دلیل جواز القبول من ذی رحم محرم﴿ اود ذی رحم محرم هدیه قبلول ځکه جائز دی.چه دا هدیه د صله رحمئ په وجه ده.د قاضي کیدلو په وجه نه ده.

دلیل جواز القبول ممن جرت العادة علي الهدية قبل القضاء ﴿ اوهم دغه ډول د قاضي کیدلو نه وړاندې چې دچا سره د هدې د لین دین عادت جاري وو.د قاضي کیدلو نه روسته د هغه هدیه قبلول به د قاضي کیدلو په وجه نه وی.بلکه د مخکنی عادت په وجه به وی.اوکومه هدیه چې د قاضي کیدلو په وجه نه وی.د

---

[1] قال فيه الزيلعي رحمه الله غريب ثم قال وفي صحيح البخاری في باب من قضى ولاعن في المسجد، ولاعن عمر عند منبرالنبي ﷺ وقضى شريح ،الشعبي ويحي بن يعمر في المسجد وقضى مروان على زيد بن ثابت باليمن عند المنبركذا في نصب الراية (۴/۱۴۵)_

(۱) قال الزيلعي رحمه الله غريب ثم قال وفي صحيح البخاری في باب من قضى ولاعن في المسجد، ولاعن عمر عند منبرالنبي ﷺ وقضى شريح ،الشعبي ويحي بن يعمر في المسجد وقضى مروان على زيد بن ثابت باليمن عند المنبركذا في نصب الراية (۴/۱۴۵)_

هغې په قبلولو کې هيڅ باك نشته.په دې وجه د ذی رحم محرم هديه.اود چا سره ئې چې د مخکې نه عادت جاري وو، ددوی هديه قبلول جائز دی.

وَلَا يَحْضُرُ دَعْوَةً إِلَّا أَنْ تَكُونَ عَامَّةً او هيڅ دعوت کې به نه ځی.سوا ددې نه که عام دعوت وی.

تشريح > قاضی به خصوصی دعوت نه قبلوی.البته عام دعوت قبلولې شی.

دليله > ځکه چې خصوصی دعوت به د قاضی کيدلو په وجه وی.او ددې په قبلولو سره به متهم کيږی.په خلاف د عام دعوت، ځکه چې عام دعوت قبلولې شی.ځکه چې د عمومی دعوت په قبلولو کې به قاضی نه متهم کيږی.

دخول القريب في الحكم > علامه مرغينانی رحمه الله په هدايه کښې فرمائی.چه په دې حکم کې يعنی په خصوصی دعوت نه قبلولو کې د قاضی قريبی رشته دارهم ګډ دی.يعنی قاضی به خصوصی دعوت نه قبلوی.دعوت کونکې که اجنبی وی.او که ذی رحم محرم وی.هم دا د شيخينو رحمهما الله قول دې.

مسلك محمد > حضرت امام محمد رحمه الله فرمائی.چه قاضی د ذی رحم محرم دعوت قبلولې شی.اګرچه خصوصی دعوت وی. ([1]) لکه څنګه چې دده هديه قبلولې شی.

الفرق بين العام والخاص > او په عام او خاص دعوت کې توپير دادې.که داعی ته دا معلومه شی.چه قاضی به رانشی.نودې دا ملتوی (روسته) کړی.نودا خاص دعوت دې.اوکه داسې نه وی.نودا عام دعوت دې.او بعض مشائخو فرمائيلی دی.چه د لسو سړو نه کم خاص دعوت دې.اوکه داسې نه وی. يعنی ددې نه زيات وی.نو دا عام دعوت دې.او بعض فرمائی.چه د نکاح او سنت (ختنه) دعوت، عام دعوت دې.او ددې نه علاوه خاص دعوتونه دی.

قاضی لپاره فريقينو سره د برابرئ حکم

وَيَشْهَدُ الْجَنَازَةَ وَيَعُودُ الْمَرِيضَ فرمائی.او قاضی به جنازې ته حاضريږی.اود مريض عيادت (بيمار پُرسی) به کوی.

حل اللغة > ① **يشهد**-حاضريږی -② **يعود**-بيمارپرسی کوی-

تشريح > قاضی دې په جنازه کې شرکت کوی.اود بيمار، بيمارپرسی دې کوی.

دليله > ځکه چې دا دواړه شيان د خلقو د حقوقو ځنې دی.نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی.چه د يومسلمان په بل مسلمان باندې شپږ حقونه دی.په هغې کې يو په جنازه کې حاضريدل هم دی.اويو د بيمار بيمارپرسی کول هم دی.په مسلم شريف کې د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې. **(قال رسول الله ﷺ حق المسلم على المسلم خمس رد السلام وتشميت العاطس وإجابة الدعوة وعيادة المريض واتباع الجنائز وإذا استنصحك فانصح له فهذه هي السادسة)** ([2]) يعنی د يو مسلمان په بل مسلمان باندې پنځه حقونه دی.د سلام ځواب ورکول،د فرنجې ځواب، دعوت قبلول، د بيمار بيمارپرسی کول، د جنازې اتباع کول،اوکله چې دې تانه نصيحت اوغواړی، نو ده ته نصيحت کوه.هم دا شپږم حق دې.

---

[1] القول الراجح هوهذا قول محمد رحمه الله في دعوة القريب كذا في ردالمختار(٣٤٧\٤) والبحرالرائق (٢٨١\٦) وبحرالرائق (٢٨٠\٦) نقلاً عن القول الراجح (١٠٦\٢)-

[2] (١) أخرجه البخاري في الجنائز باب الأمر باتباع الجنائز رقم ١٢٤٠ ومسلم في السلام باب من حق المسلم على المسلم رد السلام رقم ٤ وأحمد في المسند(٣٧٢/٢)_

وَلَا يُضَيِّفُ أَحَدَ الْخَصْمَيْنِ دُونَ خَصْمِهِ او قاضی به په مدعی او مدعی علیه کې د یوکس دعوت د بل کس نه بغیر نه کوی.

حل اللغة> ① **یضیف**-میلمه کوی-② **خصم**-جګړه کونکې-

تشریح> قاضی به داسې هم نه کوی.چه په مدعی او مدعی علیه کې د یو دعوت اوکړی.اود بل دعوت اونکړی.

دلائله> ① ځکه د حضرت علی ﷺ حدیث دې. (أنه قال نهانا رسول الله ﷺ أن نضيف الخصم إلا أن يكون خصمه معه) (١) حضرت علی ﷺ فرمائی.چه رسول الله ﷺ مونږ منع کړی یو.چه مونږ د خصم ملمستیا اوکړو.مګردا چې دده سره دده خصم هم وی.(نو خیردې) یعنی په مدعی اومدعی علیه کې د یو کس د دعوت نه منع شوې ده.ځوکه ددې دواړو دعوت اوکړی.نو هیڅ باك نشته.

② دوهم دلیل دادې.چه په داسې کولوکې به قاضی متهم کیږی.یعنی خلق به دا خیال کوی.چه قاضی ددې سړی (مدعی یا مدعی علیه) اړخ ته مائل دې.

قاضی لپاره ګواهانو ته د تلقین کولو حکم

فَإِذَا حَضَرَا اوکله چې (مدعی او مدعی علیه) دواړه حاضر شی. سَوَّى بَيْنَهُمَا فِي الْجُلُوسِ وَالْإِقْبَالِ نو قاضی به د دواړو په منځ کې کینی.او په توجه کولو کې به برابری کوی.

حل اللغة> **سوی**-برابروی-**الجلوس**-ناسته-**الإقبال**-خیال ساتل

تشریح> چه کله مدعی اومدعی علیه دواړه حاضر وی.نو په ناسته او توجه کولوکې دې د دواړو په منځ کې کینی.یعنی په ناسته کې دې یو ته په بل باندې فضیلت ورنکړی.بلکه دواړو لپاره دې برابری وی.ترڅو که یوکس په مسند(ګدئ) باندې کینول مناسب وی.نو دوهم دې هم دغه ډول کینوی.او یو ښی او بل چپه (چپ) اړخ ته دې هم نه کینوی.ځکه چې ښی اړخ والا ته په چپه اړخ والا باندې یو ډول فضیلت حاصل دې.په دې وجه به په دې صورت کې برابری حاصل نشی.او قاضی به دواړه یو اړخ ته هم نه کینوی.ځکه چې په دې صورت کې به یو قاضی ته زیات نژدې وی.او یو به کم نژدې وی.نو په دې صورت کې به هم برابری قائم پاتې نشی.مناسب داده.چه مدعی او مدعی علیه دواړه قاضی ته مخکې په مخکه کینی.دغه ډول دواړو اړخ ته په کتلو او توجه کولو کې دې هم برابری اوکړی.یعنی قاضی دې دواړو اړخ ته برابر متوجه وی.او دواړو ته دې یوشان ګوری.

دلیله> دلیل د حضرت ام سلمه ﷺ حدیث دې.ام سلمه ﷺ فرمائی.رسول الله ﷺ اوفرمائیل. چه کوم کس په مسلمانانوکې د قضاء په منصب سره اخته کړې شو.دې دې د فریقینو په منځ کې کیناستلو، اشاره کولو.او په کتلوکې برابری اوکړی.او په احد الخصمین دې د دوهم نه زیات آواز اوچت نکړی. (١)

وَلَا يُسَارُّ أَحَدَهُمَا وَلَا يُشِيرُ إِلَيْهِ وَلَا يُلَقِّنُهُ حُجَّةً اود تهمت په وجه به په دوی دواړوکې د یو کس سره په غوږ کې خبره نه کوی.اونه به یوکس اړخ ته اشاره کوی.اونه به ده ته د حجت تلقین کوی.

(٣٧٣) من حديث علي ﷺ اخرجه إسحاق بن راهويه ﷺ في مسنده ورواه عبدالرزاق في مصنفه والدارقطني في كتاب المؤتلف والمختلف كذا في نصب الراية (٤/١٤٦)۔

(١) من حديث ام سلمة ﷺ اخرجه الطبراني في معجمه الكبير وأشار إليه الهيثمي في مجمع الزوائد (٤/١٩٤)۔

حل اللغة > ① **يسار**-كبنت خبرې كوي ② **لايشير**-اشاره دې نه كوي-③ **يلقن**-خودنه كوي

تشريح > قاضي دې د يو سره كبنت كبنت (پټې پټې) خبرې نه كوي.او پخپل لاس، يا سر يا وريځو سره دې اشاره نه كوي.اونه دې ده ته د حجت تلقين كوي.

دلائله > ① ځكه چې په داسې كولوكې قاضي په رشوت او طرفدارئ سره متهم كيداې شي.نود تهمت نه د بچ كيدلو لپاره دې ذكرشوي كارونو نه خان بچ اوساتي.

② دوهم دليل دادې.چه په داسې كولوكې د دوهم كس زړه ماتيږي.(او همت ختميږي).ځكه به دې خپل حق پريږدي.يعنى كله چې دې دا خيال اوكړي.چه د قاضي طبعي ميلان زما خصم ارخ ته دې.نود قاضي څخه به د انصاف اميد نه ساتي.او خپل حق به پريږدي.

قاضي لپاره په قيدكښې د اچولو هدايات

فَإِذَاثَبَتَ الْحَقُّ عِنْدَهُ اوكله چې د قاضي په نيز حق ثابت شو. وَطَلَبَ صَاحِبُ الْحَقِّ حَبْسَ غَرِيمِهِ او صاحب حق د خپل قرضدار قيدكول طلب كړل. لَمْ يُعَجِّلْ بِحَبْسِهِ نو دده په قيدكولوكې به جلتي نه كوي. وَأَمَرَهُ بِدَفْعِ مَا عَلَيْهِ او قرضدار ته به حكم اوكړي.چه څه په ده باندې دي.هغه وركړي.

حل اللغة > ① **ثبت**-ثابت شي-② **حبس**-بندبه كړې شي-③ **غريم**-قرضدار-④ **دفع**-وركول

تشريح > صورت د مسئلې دادې.چه كله د صاحب حق، حق د قاضي په نيز ثابت شي.او صاحب حق د خپل قرضدار گرفتارولو مطالبه اوكړي.نوكه د ده حق د اقرار په ذريعه ثابت وي.نو قاضي به د قرضدار په قيدكولوكې جلتي نه كوي.بلكه قرضدار ته به حكم وركوي. چه دې صاحب حق قرضه اداكړي.قرضه كه يو درهم وي.او كه ددې نه كم وي.يا زيات وي.

دليله > دليل دادې.چه قيد او جيل د ټال متهول سزا ده.نو په قيد كولو سره د قرضدار د ارخه ټال مواره ښكاره كول ضروري دي.نوهركله چې د قرضدار د اقرار په وجه د صاحب حق ، حق ثابت شو.نو په پيل كې به دده د ارخه ټال متهول نه ښكاره كيږي.ځكه دې به دا وائي.چه ماته د مهلت ملاويدلو اميد وو.په دې وجه ما د خان سره مال رانورو.اوس كه تاسو د مهلت ور كولو نه انكار كوئ.نو زه ستاسو حق اداكوم.خوكه د صاحب حق، حق ثابتيدلو.نه روسته قرضدار دده د حق ادا كولو نه منع شو.نو په دې صورت كې چونكه د قرضدار د ارخه ټال متهول اومونډې شو.ځكه به قاضي دې قيدكوي.

د پور په عوض كښې د قيدكولوحكم

فَإِنِ امْتَنَعَ فرمائي.بيا كه دې (د اداكولونه) منع شو. حَبَسَهُ فِي كُلِّ دَيْنٍ لَزِمَهُ بَدَلًا عَنْ مَالٍ حَصَلَ فِي يَدِهِ نودې به په هر داسې قرضه كې قيد كوي.كوم چې دداسې مال عوض وي.كوم چې دده په قبضه كې حاصل شوې دې. كَثَمَنِ الْمَبِيعِ وَبَدَلِ الْقَرْضِ لكه د مبيع ثمن اود قرض بدل، أَوِالْتَزَمَهُ بِعَقْدٍ ياني عقد سره دا لازم كړې دې. كَالْمَهْرِ وَالْكَفَالَةِ لكه مهر اود كفاله مال،

حل اللغة > ① **دين**-قرض-② **لزم**-لازم شو-③ **ثمن**-قيمت-④ **عقد**-معاهده

تشريح > ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.كه د قاضي د حكم نه روسته قرضدار د پور ادا كولو نه منع شو.او قرضخواه دده د قيد كولو مطالبه اوكړله.نو قاضي به دې د هر داسې پور په بدله كې قيد كوي.كومه قرضه چې دداسې مال عوض وي.كومه چې ده پخپله قبضه كې اخستې دې.لكه د مبيع ثمن، يعنى په قرضدار اگرچه د ثمن قرضه واجب شوې ده.خو مبيع دده په قبضه كې راغلې دې.يا

داسې قرضه وي. کومه چې ده په عقد سره پخپل ځان باندې لازم کړې ده. لکه په عقدنکاح سره ئې د مهر مال لازم کړې وي. یا ئې په عقد کفاله سره مال مکفول به لازم کړې وي.

دلیله> دلیل دادې. چه هرکله د قرضدار په قبضه کې مال راغی. نو ددې مال په ذریعه دده مالداره کیدل ثابت شو. اوکله چې توانګر د پور ادا کولو نه منع کیږي. نو دې قید کولې شی. نو په دې قرضه کې به ذکرشوې قرضدار قید کولې شي. یعنې دده څخه به مطالبه کولې شي. چه کوم مبیع دده په قبضه کې دي. دادې خرڅ کړي. اود بائع ثمن دې اداکړي. او پخپل اختیار سره خپل ځان باندې د مال لازمولو اقدام کول، دده د مالداره کیدلو دلیل دې. ځکه چې انسان پخپل ځان باندې دداسې مال التزام کوي. کوم چې دې اداکولې شي. نود مهر او کفاله مال کله چې ده په خپله ذمه اخستې دې. نو ګویا دا اداکولې شي. علامه مرغیناني رحمه الله فرمائي. چه په متن کې د مهر نه مراد مهرمعجل دې. مهرمؤجل نه دې. ځکه چې عادةً مهرمعجل سپارلې کیږي. مهرمؤجل نه سپارلې کیږي. نود مهرمعجل نه ادا کولو په صورت کې به قید کیږي. اود مهرمؤجل نه ادا کولو په صورت کې به نه قید کیږي.

د نه قیدکولو بعض امور

وَلَا يَحْبِسُهُ فِيمَا سِوَى ذَٰلِكَ فرمائی. اود ذکرشوې پور څخه به علاوه کې قاضي دې نه قیدکوی. إِذَا قَالَ إِنِّي فَقِيرٌ کله چې ده دا اووئیل. چه زه فقیر یم. إِلَّا أَنْ يُثْبِتَ غَرِيمُهُ أَنَّ لَهُ مَالًا (۱) مګر داچه دده قرضخواه دا ثابته کړي. چه دده سره مال موجود دې.

حل اللغة> سوی-علاوه-غریم-قرضدار---

تشریح> که په قرضدار باندې داسې قرضه وي. کومه چې د څه مال په عوض کې لازم شوې وي. یا د کوم عقد په وجه ئې ددې التزام کړې وي. او بیا قرضدار دا اووائي. چه زه فقیر یم. اود پور ادا کولو نه منع شو. نو قاضي به دې قید کوی. خو ددې دواړو صورتونو نه په علاوه کې که قرضدار دا اووائي. چه زه فقیر یم. نو قاضي به دې نه قید کوی. خوکه ګواهانو دا ثابته کړله. چه دده سره مال موجود دې. نو قاضي به دې قید کوی. مثلاً یو سړي دچا مال تلف یا غصب سره ضائع کړو. یا په ده باندې څه تاوان واجب شو. بیا ده د عوی اوکړله. چه زه غریب یم. نو دده دا قول به قبلولې شي. او قاضي به دې نه قید کوی. خوکه قرضخواه اووئیل. چه داسې نه ده. بلکه ده ته د ادا کولو قدرت حاصل دې. اوده دا خبره د بینه په ذریعه ثابت کړله. نو قاضي به دې قید کوی.

دلیله> دلیل دادې. چه ترکومه پورې د قرضخواه د ارخه د قرضدارۍ د مالداره کیدلو څه دلیل اونه موندې شی. ترهغه وخته پورې به دهغه کس قول معتبر وي. په چاچه قرضه ده. ځکه چې دې دخپل حال نه زیات خبر دې. (صاحب البيت أدرى ما في البيت) خوکله چې قرضخواه په بینه سره د قرضدار توانګر کیدل ثابت کړل. نود مدعی علیه په ادا کولو باندې قدرت حاصل شو. اوهرکله چې قرضدار د دین په ادا کولو باندې قادر دې. خو ددې باوجود ئې ادانکړو. نودې به د ټال مټول کولو په وجه قیدکولې شي.

وَيَحْبِسُهُ شَهْرَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً نو قاضي به دې دوه درې میاشتې قید کوی. ثُمَّ يَسْأَلُ عَنْهُ بیا به دده حال معلوموي. فَالْحَبْسُ لِظُهُورِ ظُلْمِهِ نو محبوس کول فی الحال دده د ظلم ښکاره کولو په وجه دي.

---

(۱) القول الراجح هو هذا القول الأول (من عدم الحبس الا ان يثبت الغريم وجود ماله) كذا في ردالمحتار(۴\۳۵۲) ومجمع الأنهر(۳\۳۳۵) والبحرالرائق (۶\۲۸۵) نقلاً عن القول الراجح (۲\۱۱۰)-

حل اللغة ﴿ **شهرین**-دوه میاشتي-**ثلاثة**-دري-**یسال**-پوښتنه کوی-

تشریح ﴿ علامه مرغیناني رحمه الله فرمائي.چه په کوم صورت کې د قرضخواه قول (چې قرضدار توانګر دی) معتبر وی.یا په کوم صورت کې د قرضدار قول(چې زه فقیر یم) معتبر وی.خو قرضخواه د بینه په ذریعه ثابت کړی.چه دده سره مال موجود دی.نو په دې دوارو صورتونو کې به قاضي قرضدار دوه یا درې میاشتو لپاره قید کړی.بیا به دده د ګاونډیانو اود متعلقینو خلقو نه دده د فقیرئ او مالدارئ په اره کې پوښتنه اوکړی.چه دا قرضدار فقیر دی.او که توانګر دی؟

دلیله ﴿ قید کوی به ئې ځکه چه د تال متول کولو په وجه فی الحال دده ظالم کیدل ښکاره شوی دی.اود ظلم سزا قید ده.په دې وجه به دې قید کولې شي.

د قرضدار قیدي د قیدکولو موده

﴿فَإِنْ لَمْ يَظْهَرْ لَهُ مَالٌ خُلِّيَ سَبِيلُهُ﴾بیاکه دده هیڅ مال ښکاره نشی.نو دده لاره دې پریږدی.

حل اللغة ﴿ ① **خل**-پریږدی -② **سبیل**-لاره-

تشریح ﴿ د قید موده تیریدلو نه روسته که قیدی سره مال ښکاره نشو.نو قاضي به دې آزاد کړی.

دلیله ﴿ ځکه چې داسرې اوس د مالداره کیدلو پورې د مهلت موندلو مستحق شوې دې.لکه چې د الله تعالی ارشاد دې. ﴿وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ﴾ اوهرکله چې دا سرې د مهلت موندلو مستحق شو.نو ددې نه روسته به دده قیدکول سراسر ظلم وی.اود ظلم لرې کول چونکه ضروری دی.په دې وجه به قاضي قیدی آزاد کړی.

﴿وَلَا يَحُولُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غُرَمَائِهِ﴾او دده او دده د قرضخواهانو په منځ کې دې منع نه کوی.

حل اللغة ﴿ ① **خل**-خالي کړو-② **یحول**-رکاوټ کیږی-③ **غرماء**-قرضخواهان-④ **کلام**-بحث\خبري

تشریح ﴿ قاضي دې دده اود قرضخواهانو په منځ کې نه حائل کیږی.اودا په ملازمت کې کلام دې.یعنی دا په دې اره کې کلام دې.چه د قیدی د آزادیدلو نه روسته به قرضخواه په ده پسې لګی.اوکه نه لګی؟ ددې تفصیل به انشاء الله په کتاب الحجرکې ذکرکولې شي.

د ښځې په نفقه کښې د میره قیدکولو حکم

﴿وَيُحْبَسُ الرَّجُلُ فِي نَفَقَةِ زَوْجَتِهِ﴾او سرې به د خپلې ښځې په نفقه کې قیدکولې شي.

حل اللغة ﴿ ① **یحبس**-بندولې شی-② **الرجل**-سرې -③ **زوجة**-ښځه-

تشریح ﴿ صورت د مسئلې دادې.که قاضي په یو سرې باندې دده دښځې نفقه مقرر کړې وی.یا ښځې او میره د نفقې په څه مقدار باندې اتفاق کړې وی.بیا میره د ښځې نفقه ادا نکړله.او ښځې د قاضي په عدالت کې مقدمه پیش کړله.نو قاضي به میره قیدکوی.

دلیله ﴿ ځکه چې د نفقه نه ور کولو په وجه د میره ظالم کیدل ښکاره شوی دی.اود ظالم سزا جیل او قید دې.په دې وجه به میره د ښځې د نفقه نه ور کولو په وجه قید کولې شي.

خوی په پور کښې د پلار قیدکولوحکم

﴿وَلَا يُحْبَسُ الْوَالِدُ فِي دَيْنِ وَلَدِهِ﴾او پلار به دده د خوی په نفقه کې نشی قیدکولې.

تشريح او پلار به د خپل خوى د پور په وجه نشى قيد كولې .يعنى كه دخوى په پلار باندې قرضه وى.او پلار ئې ادانكړى.او خوئ قاضى ته مقدمه پيش كړى.نو قاضى به دده پلار نه قيد كوى.

دليله ځكه چې قيدكول يو ډول سزا ده.او خوى ته په پلار باندې د داسې سزا استحقاق نشته.تردې كه پلار خوئ په قصد سره قتل كړو.نود پلار څخه به قصاص نشى اخستلې.اوكه پلار پخپل خوى باندې د زنا تهمت اولګولو.نو په پلار به حدقذف نه جارى كيږى.دغه ډول كه پلار د خوى قرضه ادا نكړى.نو خوى ته دا حق حاصل نه دې.چه د خپلې پور په وجه پلار قيد كړى.

اِلَّا اِذَا امْتَنَعَ مِنَ الْاِنْفَاقِ عَلَيْهِ خو كله چې پلار په خوى باندې د خرچ كولو نه انكار اوكړى.

حل اللغة امتنع-منع شى-الإنفاق-خرچ كول-

تشريح البته كه پلار دخپل خوى د نفقه وركولونه انكار اوكړو.نو دې به قيد كولې شى.

دليله ځكه چې په نفقه وركولوكې دده د بچى ژوند او پرورش دې.او په نفقه نه وركولوكې دده د هلاكولو كوشش دې.نو بچى د هلاكولو د ارادې نه دمنع كولوپاره به دې قيدكولې شى.

د ښځې قاضى جوړېدلو حكم

وَيَجُوْزُ قَضَاءُ الْمَرْأَةِ فِي كُلِّ شَيْءٍ اِلَّا فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ اود ښځې حكم قضاء په هرڅيزكې جائز ده.علاوه د حدود او قصاص نه.

تشريح د حدود او قصاص نه علاوه په هره معامله كې ښځه قاضى جوړول جائز دى.اود حدود او قصاص نه علاوه په هره معامله كې به ددې فيصله نافذ وى.احناف ﷺ هم ددې قائل دى. (۱)

دليله دليل دښځې د قضاء حكم ددې په شهادت باندې قياس كړې شوې دې.يعنى حكم قضاء د شهادت د حكم نه مستفاد دې.نو كوم كس چې د شهادت اهل دې.هغه به د قضاء اهل هم وى.او څوك چې د شهادت اهل نه دې.هغه به د قضاء اهل هم نه وى.نود ښځې شهادت چونكه د حدود او قصاص نه په علاوه كې جائز دې.په دې وجه د حدود او قصاص نه په علاوه كې به ددې د قضاء حكم هم جائز وى.او په حدود او قصاص كې د ښځې شهادت جائز نه دې.په دې وجه حدود او قصاص كې به ددې د قضاء حكم هم جائز نه وى.

په كومو حقوقوكښې به د قاضى خط قبلولې شى؟

وَيُقْبَلُ كِتَابُ الْقَاضِي اِلَى الْقَاضِي فِي الْحُقُوقِ او ،،كتاب القاضى الى القاضى،،به په حقوقو كې قبلولې شى. اِذَا شُهِدَ بِهِ عِنْدَهُ كله چې دوهم قاضى په وړاندې ددې خط شهادت وركړې شى.

تشريح د قاضى خط د بل قاضى په نوم داسې حقوقوكې مقبول دې.كوم حقوق چې د شبهاتو باوجود ثابتيږى.په دې شرط چې دوه ګواهان مكتوب اليه قاضى په وړاندې دا ګواهى وركړى.چه دا خط د فلانى قاضى دې.اودا د هغه مهر دې.اوكوم حقوق چې د شبهاتو په وجه لرې كيږى. لكه حدود او قصاص، په هغې كې د يوقاضى خط د بل قاضى په نوم نه قبليږى.

---

(۱) **مسلك الائمة**:- امام مالك، امام شافعى او امام احمد ﷺ فرمائى.چه ښځه په هيڅ معامله كې هم قاضى جوړول جائز نه دى.او ددې فيصله به نه په حدود او قصاص كې نافذ وى.اونه به په بله څه معامله كې نافذ وى.

فَإِنْ شَهِدُوا عَلَى خَصْمٍ حَاضِرٍ حَكَمَ بِالشَّهَادَةِ نو که ګواهانو په خصم حاضر باندې ګواهي ورکړله.نو کاتب قاضي به د شهادت موافق حکم ورکوي. وَكَتَبَ بِحُكْمِهِ څکه حجت اومونديې شو.او خپل حکم به ليکي.

حل اللغة ﴿١﴾ حاضر-موجود-﴿٢﴾ حکم-فيصله اوکړه -

تشريح که ګواهانو د مدعی عليه په وړاندې ګواهي ورکړله.نو چونکه شرعي حجت اومونديې شو.په دې وجه به کاتب قاضي د شهادت موافق حکم ورکوي.اوخپل دا حکم به ليکي. چې ما د ګواهۍ موافق په فلاني مدعی عليه باندې حکم ورکړې دې.دې ته سجل وئيلې شي.

الاشكال خو دلته کې دا سوال کيږي.چه هرکله ګواهي د مدعی عليه په وړاندې ورکړې شوې ده.او هم دده په موجودګۍ کې حکم ورکړې شو.نو بيا دوهم قاضي ته د خط اوړلو څه اړتيا دې؟

الجواب ددې ځواب دادې.چه داسې کيداې شي. چې قاضي په حاضر مدعی عليه باندې حکم ورکړې وي.خودا ئې جاري کړې نه وي.او په دې موده کې مدعی عليه بل ښار ته لاړشي.نود حکم جاري کولو لپاره د هغه ځائې قاضي په نوم د خط ليکلو اړتيا راپيښيږي.

وَإِنْ شَهِدُوا بِغَيْرِ حَضْرَةِ خَصْمِهِ لَمْ يَحْكُمْ اوکه ګواهانو د خصم حاضريدلو نه بغير ګواهي ورکړله.نو کاتب قاضي به په ده باندې حکم نه کوي.

تشريح اوکه ګواهانو د خصم (مدعی عليه) په غيرموجودګۍ کې ګواهي ورکړې وي.

دليله نو چونکه د غائب په خلاف حکم ورکول جائز نه دی.په دې وجه به کاتب قاضي حکم نه ورکوي.بلکه صرف شهادت به ليکي.چه مکتوب اليه قاضي ددې ګواهۍ موافق حکم ورکړي.هم دې ته خط حکمي وائي.

وَكَتَبَ بِالشَّهَادَةِ لِيَحْكُمَ بِهَا الْمَكْتُوبُ إِلَيْهِ او قاضي به شهادت ليکي.چه مکتوب اليه قاضي ددې ګواهۍ مطابق فيصله ورکړي.

تشريح **الفرق بين السجل والخط الحكمي** د سجل او خط حکمي په منځ کې توپير دادې.چه سجل که مکتوب اليه قاضي ته اورسي.نوهغه به دا نافذ کوي.که دا دده د رائې موافق وي.اوکه مخالف وي.څکه چې په دې کې کاتب قاضي ورکړې شوې حکم موجود دې.اود خط حکمي په صورت کې که د مکتوب اليه قاضي د رائې موافق وي.نو نافذ به ئې کړي. ګنې نه به ئې نافذ کوي.څکه چې په دې کې د کاتب قاضي حکم موجود نه دې.هم دا علامه خط حکمي په حقيقت کې د شهادت منتقل کولو نوم دې.يعنې د قاضي مکتوب اليه اړخ ته ئې شهادت منتقل کړې دې.چه مکتوب اليه قاضي هم ددې مطابق حکم ورکړي.

معرفة الامور الخمسة اود ،،کتاب القاضي الى القاضي،، لپاره يو څو شرطونه دی.چه دا به روسته ذکرکوو.من جمله د هغې نه د پنځه څيزونو معلوميدل ضروري دی.

﴿١﴾ کاتب قاضي معلوم وي.﴿٢﴾ قاضي مکتوب اليه معلوم وي.﴿٣﴾ د کوم شئ په اړه کې چې خط دې.﴿٤﴾ او دچا لپاره چې خط دې.يعنې مدعی، ﴿٥﴾ هغه معلوم وي.اود چا خلاف چې خط دې.يعنې مدعی عليه هغه معلوم وي.

دليل الجواز د ،،کتاب القاضي الى القاضي،، اجازت ورکړې شوې دې.او اړتيا په دې شان ده.چه ډير څله مدعی لپاره مدعی عليه او ګواهان جمع کول مشکل وي.په دې طريقه چې ګواهان خود مدعی په

ښار کې وی.او مدعی علیه په بل ښار کې وی.او ګواهان د مدعی علیه ښار ته تللو لپاره تیار نه دی.او مدعی علیه د ګواهانو ښار ته راتګ لپاره راضی نه دی. نو په داسې صورت کې د،،کتاب القاضی الی القاضی،، نه بغیر بل څه شکل نه جوړیږی.نود،،کتاب القاضی الی القاضی،،اجازت ورکړې شو.اودا د شهادت علی الشهادت مشابه شو.نولکه څنګه چې د بنده ګانو حقونو ژوندی کولو لپاره شهادت علی الشهادت جائز کړې شوې دې.هم دغه شان،،کتاب القاضی الی القاضی،،هم جائز کړې شوې دې.

دديې نه روسته دې خط راوړی.په دې دې مهر اولګوی.بیا دې دا خط مدعی ته حواله کړی.نوکله چې مدعی دا خط مکتوب الیه قاضی ته بیان کړی.چه دا د فلانی قاضی خط دې.نوهغه دې په دې باندې ګواهان طلب کړی.بیا کوم وخته پورې چې مدعی علیه حاضر نشی.د ګواهانو سماعت به نه کوی(یعنی ګواهی به نه اوری).اوکله چې دې حاضر شی.او اقرار اوکړی.چه هم زه فلان بن فلان یعنی شاهد د ماجد آله آبادی خوې یم.نو مکتوب الیه قاضی به د ګواهانو سماعت اوکړی.اوکه مدعی علیه انکار اوکړی.نو مدعی دې پخپلوګواهانو سره ثابته کړی.چه هم دا شاهد بن ماجد آله آبادی مدعی علیه دې.نود مدعی علیه د ثبوت نه روسته دې د مدعی د ګواهانو سماعت اوکړی.چه دا د فلانی قاضی خط دې.بیا به مکتوب الیه قاضی د ګواهانو نه پوښتنه کوی.چه قاضی په دې کې څه لیکلی دی.هغه ني تاسو ته اورولې وو.که دوی اقرار اوکړو.او ګواهی ني ورکړله.چه دا خط هم د هغه دې.اوهم د هغه مهر دې.نو مکتوب الیه قاضی به ددوی د عدالت او دیانت معلومات اوکړی.نوکله چې ددوی عدالت او دیانت ثابت شی.نود مدعی علیه په موجودګئ کې به مهر اوشلوی.او خط به واوروی.

د مکتوب الیه قاضی لپاره د خط قبلولو شرطیت

وَلَايُقْبَلُ الْكِتَابُ فرمانی.او مکتوب الیه قاضی به د کاتب قاضی خط نه قبلوی. اِلَّا بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ أَوْرَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ مګر د دوه سړو یاد یو سړی اود دوه ښځو په ګواهئ سره،

حل اللغة> ① **شهادة**-ګواهی-② **رجلین**-جمع د رجل سړی-③ **امراتین**-جمع د مرأة ښځه-④ **یقبل**-قبلولې شی

تعریح> مکتوب الیه قاضی به د کاتب قاضی خط هغه وخت قبلوی.کله چې په دې باندې بینه موجود وی.یعنی دوه عادل سړی یا یوسړی او دوه ښځې ګواهی ورکړی.چه دا دکاتب قاضی خط اود هغه مهر دې.اوهغه مونږ ګواهان مقرر کړی یو.

دلیله> دلیل دادې.چه یو خط چونکه د بل خط مشابه وی.په دې وجه د کاتب قاضی خط کیدل، د حجت تامه نه بغیر نه ثابتیږی.اود حجت او بینه کیدل ځکه شرط دی.چه د قاضی د خط په ذریعه مدعی علیه باندې هغه شئ لازمولې شی.کوم چې په خط کې دننه لیکلی شوی دی.او په چا باندې یو شئ لازمول د بینه نه بغیر نه کیږی.په دې وجه د قاضی د خط قبلولو لپاره بینه او حجت تامه کیدل ضروری دی.اود یوسړی اود دوه ښځو شهادت قبلول ځکه جائز دی.چه ورانديې تیرشوی دی.چه د قاضی خط په داسې حقونو کې قبلیږی.کوم حقوق چې په شبهاتو سره نه ساقطیږی.اوکوم حقوق چې په شبهاتو سره نه ساقطیږی.په هغې کې سړو سره د ښځو شهادت هم قبلولې شی.په دې وجه د قاضی د خط قبلولو لپاره د یوسړی او دوه ښځو شهادت هم کافی دې.

د کاتب قاضي ګواهانو خط آورول او مهر لګول

وَيَجِبُ أَنْ يَقْرَأَ الْكِتَابَ عَلَيْهِمْ لِيَعْرِفُوا مَا فِيهِ اود کاتب قاضي لپاره واجب دی.چه دې ګواهانو ته خط واوروی.چه دوی ددې د مضمون نه خبرشي.

تشریح> شهادت وغیره کوم څه چې کاتب قاضي پخپل خط کې لیکلي دي. قاضي کاتب به د خط پوره مضمون ګواهانو ته اوروی.

دلیله> څکه که ګواهانو ته د خط مضمون معلوم نه وی.نو ددوی ګواهي به د علم نه بغیر وی.اود علم نه بغیر ګواهي ورکول باطل دی.لکه چې د الله تعالی ارشاد دې. ﴿إِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾.خو چاچه ګواهي ورکړله رشتوني،او دوی خبر وو، ، یعنی که یوکس د خپل علم مطابق رشتوني ګواهي ورکړله.نو هغه معتبر ده.ددې آیت نه معلومه شوه.چه ګواه ته دهغه شي علم ضروری دې.د څه په اړه کې چې دې ګواهي ورکول غواړي.

ثُمَّ يَخْتِمُهُ وَيُسَلِّمُهُ إِلَيْهِمْ بیا دې پرې مهر اولګوی.اودا خط دې دوی ته اوسپاری.

تشریح> بهرحال کاتب قاضي چې کله د ګواهانو په وړاندې خط واوړولو. نو ددوی په موجودګئ کې دې مهر اولګوی.او بند دې کړی.د طرفینو رحمهما الله په نیز دې دا خط ګواهانو ته حواله کړی.اود امام ابویوسف رحمه الله په نیز دې مدعی ته حواله کړی.او مهر لګول او بندول،

دلیله> په دې وجه دې پرې مهرلګوی چه په مضمون کې دننه د څه تغیراو تبدیلئ شبه پاتې نشي.

د مکتوب الیه قاضي د خط قبلولو حکم

وَإِذَا وَصَلَ إِلَى الْقَاضِي فرمانی.بیا کله چې دا خط مکتوب الیه قاضي ته اورسی. لَمْ يَقْبَلْهُ إِلَّا بِحَضْرَةِ الْخَصْمِ نوهغه دې دا نه قبلوی.مګر د مدعی په وړاندې،

حل اللغة> ① وصل-اورسیږی-② حضرة-موجودګی-③ حضور-موجودګی

تشریح> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمانی.چه کله د کاتب قاضي خط مکتوب الیه قاضي ته ملاوشی.نو مکتوب الیه قاضي به دا خط د مدعی علیه په موجودګئ کې قبلوی.یعنی د مدعی علیه په حاضریدو سره دې دا خط د مدعی یا ګواهانو نه وصول کړی.

دلائله> ① دلیل دادې.چه دا خط د مکتوب الیه په وړاندې د ګواهئ ادا کولو په مرتبه کې دې.اود ګواهئ ادا کولو په وخت د مدعی علیه موجودیدل ضروری دی.نو ددې خط قبلولو په وخت به هم د مدعی علیه حاضریدل ضروری وی.

② دوهم دلیل دادې.چه د کاتب قاضي خط د شهادة علی الشهادة په مرتبه کې دې. څکه چې قاضي کاتب د خپل خط په ذریعه د ګواهانو الفاظ مکتوب الیه قاضي اړخ ته منتقل کوی.لکه څنګه چې فرع شاهد د اصل شاهد د شهادت الفاظ نقل کوی.اود ، ،شهادة علی الشهادة، ، سماعت لپاره د مدعی علیه موجودیدل ضروری دی.نو دلته کې هم د قاضي خط قبلولو په وخت د مدعی علیه موجودیدل ضروری دی.

مکتوب الیه قاضي لپاره د خط د مهر چك کول

فَإِذَا سَلَّمَهُ الشُّهُودُ إِلَيْهِ نَظَرَ إِلَى خَتْمِهِ فرمانی.بیا کله چې (د مدعی علیه په موجودګئ کې) ګواهان مکتوب الیه قاضي ته دا خط اوسپاری.نو مکتوب الیه قاضي دې ددې مهر اوګوری. فَإِذَا شَهِدُوا أَنَّهُ

كِتَابُ فُلَانٍ الْقَاضِي بيا كله چې ګواهان ګواهي ورکړي.چه دا خط د فلانی قاضی دې. سَلَّمَهُ إِلَيْنَا فِي مَجْلِسِ حُكْمِهِ وَقَضَائِهِ هغه مونږ ته دا خط د حکم او قضاء پخپل مجلس کې سپارلې وو. وَقَرَأَهُ عَلَيْنَا وَخَتَمَهُ او مونږ ته ئې اورولې وو.او خپل مهر ئې اولګولو.او بند ئې کړو. فَتَحَهُ الْقَاضِي وَقَرَأَهُ عَلَى الْخَصْمِ وَأَلْزَمَهُ مَا فِيهِ نو مکتوب الیه قاضی به دا کلاؤ کړی.او مدعی علیه ته به ئې واوروی. او کوم څه چې په خط کې دی.هغه به په ده باندې لازم کړي.

حل اللغة ① **سلم**-ورکړي-② **نظر**- ګوري-③ **كتاب**-خط-④ **ختم**-مهر ئې اولګولو

تشريح کله چې د مدعی علیه په موجودګئ کې ګواهانو یا مدعی د قاضی دا خط قاضی مکتوب الیه ته اوسپارلو.نو قاضی مکتوب الیه به د ټولو نه وړاندې ددې مهر اوګوری.بیا کله چې ګواهان ګواهي ورکړي.چه دا د فلانی د څوی د فلانی ښار د قاضی خط دې.هغه مونږ ته دا خط پخپل مجلس قضاء کې اوسپارلو.او مونږ ته ئې واورولو.او زمونږ په وړاندې ئې مهر اولګولو.اودا ئې بند کړو.نو مکتوب الیه قاضی به دا خط کلاؤ کړی.او مدعی علیه ته به ئې واوروی.اوڅه چې په خط کې لیکلی شوی دی.هغه دې په مدعی علیه باندې لازم کړي.په دې شرط چې د مکتوب الیه قاضی په رائې کې د کاتب قاضی لیکلې شوې فیصله او شهادت د اسلامی شریعت موافق وی.او مدعی علیه سره ددې خلاف څه حجت نه وی.دا د طرفینو مذهب دې.

مسلک ابي يوسف د قاضی امام ابویوسف رحمه الله مذهب دا دې چې صرف په دې خبره باندې ګواهي کافی ده.چه دا خط د فلانی قاضی دې.اوهم د هغه مهردې.د دومره قدرې ګواهئ نه روسته د مکتوب الیه قاضی لپاره خط قبلول جائز دی.پاته په ذکر شوو امورو کې هیڅ شئ شرط نه دې. ([1])

په حدود او قصاص کښې د قاضی الی القاضی خط قبلولو حکم

وَلَا يُقْبَلُ كِتَابُ الْقَاضِي إِلَى الْقَاضِي فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ او په حدود او قصاص کې به، ،کتاب القاضی الی القاضی، ،نه قبلیږی.

تشريح په حدود او قصاص کې ، ،کتاب القاضی الی القاضی، ،نه قبلیږی. هم دا یو قول د امام شافعی رحمه الله هم دې. ([2])

دلائله ① دلیل دادې.چه په خط د قاضی کې د بدلیت شبه موجود ده.په دې طریقه چې اصلی ګواهانو دکاتب قاضی په وړاندې ګواهی ورکړې ده.او کاتب قاضی دا لیکلې ده.او مکتوب الیه قاضی ارخ ته ئې منتقل کړې ده.نودا د ، ،شهادة علی الشهادة، ،د قبیلې څخه شو.او په حدود او قصاص کې ، ،شهادة علی الشهادة، ، نه قبلیږی.په دې وجه به، ،کتاب القاضی الی القاضی، ،هم نه قبلیږی.

② د حدود او قصاص بنا (بنیاد) په ساقطولو دې.یعنی ممکن کوشش دا کول پکار دی.چه دا ساقط کړې شی.حالانکه د قاضی خط قبلولو کې ددې ثابتول لازمیږی.په دې وجه حدود او قصاص کې به د

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول أبي يوسف رحمه الله كما ظهر من قبل وفي شرط ظهور العدالة الأصح قول محمد رحمه الله كذا في العناية (۳۸۸\۶) والبحرالرائق (۴\۷) نقلاً عن القول الراجح (۲\۱۱۵۶)-

[2]) **مسلک مالک واحمد**:- امام مالك او امام احمد رحمهما الله فرمائي.چه په حدود اوقصاص کې به هم ، ،کتاب القاضی الی القاضی، ، قبلولې شی.دا یو قول د امام شافعی رحمه الله هم دې.

قاضي خط نه قبليږي..

قاضي لپاره د نائب جوړولو حکم

وَلَيْسَ لِلْقَاضِي أَنْ يَسْتَخْلِفَ عَلَى الْقَضَاءِ او قاضي ته دا اختيار نشته.چه په قضاء باندي خپل خليفه مقرر کړي. إِلَّا أَنْ يُفَوَّضَ إِلَيْهِ ذٰلِكَ مګر داکه ده ته دا اختيار سپارلي شوي وي.

حل اللغة ﴿١﴾ **يستخلف**-قسم ورکوي-﴿٢﴾ **يفوض**-سپارلي شي-

تشريح قاضي ته دا اختيار نه وي.چه دې د عذر په وجه ياد عذر نه بغير د قضاء په سلسله کې څوک خپل نائب او خليفه مقرر کړي.البته که سلطان او حاکم اعلی ده ته دا اختيار ورکړي وي.نو نائب مقررول جائز دی.امام مالك، امام شافعي او امام احمد ﷬ هم ددې قائل دي.

دليله ځکه چې ده ته د قضاء عهده سپارلي شوې ده د قاضي جوړولو ذمه واري ورته نه ده حواله شوي.نودا داسي شوه.لکه د يو وکيل د خپل ځان په ځائې بل څوک وکيل کول،يعنی لکه څنګه چې د مؤکل د اجازت نه بغير وکيل ته دا اختيار نشته.چه دې بل څوک د ځان په ځائې وکيل مقرر کړي.دغه ډول قاضي ته د سلطان د اجازت نه بغير دخپل نائب او خليفه مقررولو اجازت نشته.

د قاضي په عدالت کې د حاکم د حکم پيش کولو مسئله

وَإِذَا رُفِعَ إِلَى الْقَاضِي حُكْمُ حَاكِمٍ أَمْضَاهُ فرمائي.اوکه يو قاضي ته د حاکم د حکم مرافعه اوکړي شوه.نو قاضي به داحکم نافذ کوي. إِلَّا أَنْ يُخَالِفَ الْكِتَابَ أَوِ السُّنَّةَ أَوِ الْإِجْمَاعَ خوکه دا حکم د کتاب، يا سنت يا اجماع خلاف وي.

حل اللغة ﴿١﴾ **رفع**-يوړې شي-﴿٢﴾ **أمضا**-نافذ کړي-﴿٣﴾ **يخالف**-مخالفت کوي-﴿٤﴾ **الكتاب**-قرآن

تشريح که د يو قاضي په عدالت کې د يو حاکم د حکم مرافعه اوکړې شوه. يعنی اپيل اوکړې شو.نو قاضي به هم هغه مخکني حکم نافذ کوي.په دې شرط چې د حاکم دا حکم د کتاب الله، سنت رسول ﷺ اود اجماع خلاف نه وي.که د حاکم حکم په ذکرشوی دليلونوکې د کوم يو خلاف وي.نو قاضي اعلی چاته چې مرافعه شوې ده.هغه به دا حکم نه نافذ کوي.

مثلاً ماتحت قاضي د ،،متروك التسميه عامداً،، د حلال کيدلو حکم ورکړو.حالانکه دا حکم د الله تعالی د قول(وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ) خلاف دې.

يامثلاً ماتحت قاضي دا حکم ورکړو.چه مطلقه ثلاثه د وطی نه بغير صرف زوج ثانی سره په نکاح کولو رومبی ميړه لپاره حلاله شوې ده.حالانکه دا حکم د حديث رفاعة (لاحتي تذوقي من عسيلته ويذوق من عسيلتك) خلاف دې.

يا مثلاً ماتحت قاضي د نکاح متعه د حلال کيدلو حکم ورکړو.حالانکه دا حکم د اجماع صحابه ﷺ خلاف دې.نوکه په دې صورتونوکې د قاضي اعلی په عدالت کې اپيل اوکړې شو.نو قاضي اعلی به دماتحت قاضي داحکم نه نافذ کوي.کوم چې د کتاب الله، يا سنت رسول ﷺ يا د اجماع خلاف دې.

اويَكُونَ قَوْلًا لَا دَلِيلَ عَلَيْهِ په دې طريقه چې داسې قول وي.چه په دې باندې هيڅ دليل موجود نه وي (نو بيا به ئې نه نافذوي).

تشريح که د اعلی قاضي په عدالت کې د ماتحت قاضي د کومې فيصلې اپيل اوکړې شو.نو قاضي اعلی به هم دا فيصله نافذ کوي.خوکه د ماتحت قاضي فيصله د قرآن، حديث يا اجماع خلاف وي.لکه چې وړاندې ددې مثالونه تيرشو.ياد ماتحت قاضي حکم داسې قول وي.چه په دې باندې هيڅ دليل نه

وي. (مثلاً ماتحت قاضي دولس كاله تيريدلو باندې په مطالبه كې د تاخير په وجه د قرضدار د ذمې نه د پور ساقطولو حكم وركړو.اودا داسې قول دې.چه په دې باندې هيڅ دليل شرعي نشته) نو په دې صورتونوكې به قاضي اعلى د ماتحت قاضي فيصله نه نافذ كوي.

په غائب باندې د قاضي د فيصلې حكم

وَلَا يَقْضِي الْقَاضِي عَلَى غَائِبٍ فرمائي.او قاضي به په يوغائب باندې حكم نه وركوي. إِلَّا أَنْ يَحْضُرَ مَنْ يَقُومُ مَقَامَهُ مگر داچه د هغه قائم مقام حاضر وي.

تشريح> كه مدعى عليه غائب وي.كه د ښار نه غائب وي.اوكه په ښار كې پټ وي.خود قاضي د مجلس نه غائب وي.نو زمونږ په نيز قاضي د بينه په وجه نه دده خلاف حكم وركولې شي.اونه دده موافق حكم وركولې شي.يعنې د غائب مدعى عليه په خلاف او موافق دواړه شان فيصله وركول ناجائز دي.كه قاضي د غائب خلاف يا موافق څه فيصله وركړله.نودا به نشي نافذ كولې.كه د مدعى عليه غائب څوك قائم مقام موجود وي.مثلاً دده وكيل وي.يا وصي وي.نو په دې صورت كې زمونږ په نيز قضاء على الغائب جائز ده.([1])

دلائل> ① دليل دادې.چه د بينه په دې طريقه حجت كيدل چې په دې باندې عمل كول واجب وي.په دې موقوف دي.چه منكر يعنې مدعى عليه د بينه په دفع كولو او په دې كې د طعن كولو نه عاجز وي.اود مدعى عليه عاجزكيدل به هغه وخت معلوميږي.كله چې مدعى عليه پخپله موجود وي.يا دده نائب موجود وي.نوهركله چې مدعى عليه اودده نائب دواړه غائب وي.نو دده عجز به نه معلوميږي.اوهركله چې دده عجز معلوم نشو.نود بينه حجت شرعي كيدل به هم نه ثابتيږي.اوهركله چې د مدعى عليه اونائب په غيرموجودگئ كې د بينه حجت شرعي كيدل ښكاره نشو.نو ددې بينه په وجه د مدعى په حق كې د قاضي فيصله به هم تيك نه وي.ددې دليل نه معلومه شوه.چه قضاء على الغائب ناجائز ده.

② دوهم دليل كوم چې علامه مرغيناني رحمه الله ذكركړې دې.دادې.چه په شهادت او بينه باندې عمل صرف د جگړې ختمولو لپاره جائز دې.اوجگړه به هغه وخت پيداكيږي.كله چې مدعى عليه د مدعى د دعوې نه انكار اوكړي.اود مدعى عليه په غيرموجودگئ كې انكار نه موجود كيږي.نوهركله چې د مدعى عليه غائب كيدلو په وجه انكار اونه موندې شو.اود انكار نه موجودكيدلو په وجه جگړه پيدا نشوه.نو په شهادت به عمل كول هم جائز نه وي. يعنې د مدعى عليه په غيرموجودگئ كې كه قاضي فيصله وركړله.نودا به نافذ نه وي.او په دې به عمل كول جائزنه وي.ددې دليل نه هم ثابته شوه.چه قضاء على الغائب جائز نه ده.

پخپله ثالث مقررول او دده په فيصله باندې د متفق كيدلو حكم

وَإِذَا حَكَّمَ رَجُلَانِ رَجُلًا اوكله چې دوه سړو يو سړې حكم جوړ كړو. بَيْنَهُمَا وَرَضِيَا بِحُكْمِهِ جَازَ او دده د دواړو په منځ كې فيصله وركړه.او دواړه دده په حكم كيدلو باندې راضي شو.نو جائز دي.

---

[1] حضرت امام شافعي رحمه الله فرمائي.كه مدعى عليه د ښار نه غائب وي.اوكه په ښار كې پټ وي.خود قاضي د مجلس نه غائب وي.نو په ده باندې فيصله وركول جائز دي.د امام مالك او امام احمد رحمهما الله هم دا قول دې.

تشریح﴾ که دوه سړو په یوه نزاعی مسئله کښې څوک دریم سړې حَکَم (ثالث) مقرر کړو.او دده په فیصله باندې راضی شو.نودا جائز دی.

دلیله﴾ ځکه چې د دواړو په ذات باندې ولایت حاصل دې.نو ددې دواړو پخپله مسئله کښې څوک دریم سړې حکم جوړول صحیح دی.او هرکله چې حکم جوړول جائز دی.نود حکم فیصله به هم په دې دواړو باندې نافذ وی.البته ددې دواړو نه په علاوه باندې به نافذ نه وی.لکه مثلاً که د مشتری او بائع په منځ کښې د اختلاف په وجه دواړو یو دریم سړې حکم مقررکړو.بیا د حکم د فیصلې مطابق مشتری خپل بائع ته مبیع واپس کړو.نو بائع لپاره به خپل بائع اول ته واپس کول جائز نه وی.ځکه چې بائع ثانی او مشتری چاچه حکم مقرر کړې دې.په دوی به د حکم فیصله نافذ وی.خو په بائع اول کوم چې ددې دواړو نه غیر (علاوه) دې.په هغه به دده فیصله نافذ نه وی.

إِذَاكَانَ بِصِفَةِ الْحَاكِمِ اودا حَکَم هغه وخت دې.کله چې محکم دحاکم صفت سره وی.

تشریح﴾ حکم هغه سړې کیدای شی.په چاکې چې د حاکم او قاضی جوړیدلو صلاحیت وی.یعنی لکه څنګه چې قاضی لپاره د شهادت اهل کیدل شرط دی.دغه ډول د حکم لپاره هم د شهادت اهل کیدل ضروری دی.

دلیله﴾ ځکه چې حکم ددې دواړو سړو په منځ کښې چاچه حکم مقرر کړې دې.په منزله د قاضی دې.اود قاضی لپاره چونکه د شهادت او قضاء اهل کیدل ضروری دی.په دې وجه حکم چې د قاضی په مرتبه کښې دې.د هغه لپاره به د شهادت او قضاء اهل کیدل شرط وی.نوکه دوه سړو یوه ښځه په داسې مسئله کښې حکم مقرر کړله.کوم چې په شهادت سره هم ثابتیږی.نودا جائز دی.ځکه چې په داسې مسئله کښې ښځه د شهادت اهل ده.

وَلَايَجُوزُ تَحْكِيمُ الْكَافِرِوَالْعَبْدِوَالذِّمِّيِ وَالْمَحْدُودِفِي الْقَذْفِ وَالْفَاسِقِ وَالصَّبِيِّ اود کافر، غلام، ذمی، محدود فی القذف، فاسق اود نابالغ حکم جوړول جائز نه دی.

حل اللغة﴾ ① **تحکیم**-حاکم جوړول-② **العبد**-غلام-

تشریح﴾ کافر، غلام، ذمی، محدود فی القذف، فاسق او نابالغ حکم مقررول جائز نه دی.

دلیله﴾ ځکه چې په ذکرشوو کسانوکې چونکه د شهادت لیاقت موجود نه دې.په دې وجه ذکرشوی نفر قاضی نشی جوړیدلې.اوهرکله چې قاضی نشی کیدلې.نوحکم هم نشی کیدلې. خو ذمی حکم مقررول هغه وخت ناجائز دی.کله چې دې مسلمان حکم مقررکړې وی.اوکه ذمیانو څوک ذمی حکم مقررکړو.نودا جائز دی.ځکه چې ذمی د مسلمانانو په حق کښې اګرچه اهل شهادت څنې نه دې.خود اهل ذمه په حق کښې د شهادت اهل کیدای شی.

د ثالث نه د جوړونکو د رجوع حکم

وَلِكُلِّ وَاحِدٍمِنَ الْمُحَكِّمَيْنِ أَنْ يَّرْجِعَ او په حَکَم جوړونکی دواړه سړوکې هريو ته د حَکَم جوړولو نه د رجوع اختيار دې. مَالَمْ يَحْكُمْ عَلَيْهِمَا ترکومه پورې چې حَکَم په دوی باندې حُکم نه وی صادر کړې.

تشریح﴾ د حکم جوړونکو دواړه کسانو کښې هريو ته د حَکَم د حُکم کولو نه مخکې مخکې د حَکَم جوړولو نه د رجوع اختيار دې.یعنی د حَکَم د حُکم کولو نه مخکې مخکې دواړو کښې هريو دا ونیلې

شی.چه اوس تاسو زما حکم نه یئ.هم دا دامام شافعي رحمه الله قول دې.اود امام مالك رحمه الله یو روایت هم دا دی.اود امام احمد رحمه الله نه هم یو روایت دادې.

دليله» دلیل دادې.چه حکم هم ددې دواړو په اتفاق سره مقررکړې شو.نو ترکومه پورې چې دوی دواړه دده په حکم کیدلو باندې راضی وی.هغه وخت پورې به دده ته د حکم او فیصله کولو اجازت وی.اوکله چې په دواړوکې یوکس د ناراضګئ اظهار اوکړو.نو ده ته به د حکم کولو اجازت نه وی.ځکه چې د چا وجود دوه څیزونو سره متعلق وی.د هغه د موجود کیدلو لپاره د دواړه څیزونو موجود کیدل ضروری دی.خو ددې د معدوم کیدلو لپاره د دواړه څیزونو معدوم کیدل ضروری نه وی.بلکه که په دواړه څیزونوکې یو شئ هم معدوم شو.نو هغه شئ به معدوم وی.نو هم په دې وجه ونیلې شوی دی.چه د حَکم حُکم باقی ساتلو لپاره د دواړه سرو راضی پاتې کیدل ضروری دی.او دده حَکم کیدل ختمولو لپاره د یو ناراض کیدل هم کافی دی.

وَإِذَاحَكَمَ عَلَيْهِمَا لَزِمَهُمَا اوکله چې حَکم حُکم ورکړو.نو په دې دواړو به لازم وی.

تشریح» که حکم کوم حکم صادر کړو.نود حکم دا حکم به لازم وی.او په فریقینو کې به هیڅ یو ته د انحراف حق نه وی.لکه که قاضی یوه فیصله ورکړله.بیا سلطان دې معزول کړو.نود قاضی دا فیصله نافذ اولازم وی.هم دا یو قول د امام شافعي رحمه الله دې.اود امام مالك او امام احمد رحمهما الله مذهب هم دا دی.

دليله» ځکه چې حَکم کوم وخت حُکم ورکړې دې.دغه وخت ده ته په دواړو باندې ولایت حاصل وو.اود صاحب ولایت حکم لازم وی.په دې وجه د حَکم ذکرشوې حُکم به هم لازم وی.

وَإِذَارُفِعَ حُكْمُهُ إِلَى الْقَاضِي فَوَافَقَ مَذْهَبَهُ أَمْضَاهُ اود حکم د حُکم مرافعه قاضی ته اوکړې شوه.اودا حکم دده د مذهب موافق وو.نو قاضی به دا نافذ کوی.

حل اللغة» رفع-یوړې شی-أمضا-نافذ کړی-

تشریح» که د حَکم د حُکم قاضی ته مرافعه اوکړې شوه.اودا حُکم د قاضی د مذهب موافق وی.نو قاضی به دحَکم حُکم نافذوی.

دليله» ځکه چې د حَکم حُکم ماتول او بیاهم دغه ډول ددې په مضبوطولوکې هیڅ فائده نشته.یعنې په دې کې څه فائده نشته.چه قاضی مخکې د حَکم حُکم مات کړی.او بیا د خپل اړخه هم دغه حکم صادرکړی.اود قاضی په عدالت کې مرافعه کولو سره به دا فائده وی.چه هرکله قاضی د حَکم حُکم نافذ کړو.بیا د یو داسې قاضی په عدالت کې مرافعه اوشوه. دچا د مذهب چې دا حکم موافق نه دې.نودې دوهم قاضی ته به ددې د ماتولو اجازت نه وی.ځکه وړاندې تیرشوی دی.که یوه مجتهدفیه مسئله یو قاضی نافذ کړله.نو دوهم قاضی (چاته چې مرافعه شوې ده) ته به ددې دماتولو اجازت نه وی.

وَإِنْ خَالَفَهُ أَبْطَلَهُ اوکه د حَکم حُکم د قاضی دمذهب خلاف وو.نو دا به باطلوی.

تشریح» اوکه د حکم حُکم ددې قاضی د مذهب مخالف وی.د چا په عدالت کې چې مرافعه شوې ده.نو قاضی به د حَکم حُکم باطل کړی.

دليله» ځکه چې د حَکم حُکم په قاضی باندې لازم نه دې.او په قاضی باندې د حَکم حُکم لازمول ځکه نه دې.چه د قاضی د اړخه دده د حَکم جوړول نه دی موجود شوی.اودا خبره وړاندې تیره شوې ده.چه د

حکم حکم په هغه چا لازمیږي.چاچه دی حکم جوړ کړي وي.دده نه په علاوه باندې نه نافذ کیږي.په دې وجه د حکم داحُکم به په قاضي باندې لازم نه وي.

په حدود او قصاص کښې د ثالث جوړولو حکم

وَلَا يَجُوْزُ التَّحْكِيْمُ فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ اوپه حدود او قصاص کې حکم جوړول جائز نه دي.

تشریح په حدود اوقصاص کې حَکم جوړول جائز نه دي. زمونږ په احنافو عالمانو کې دا مذهب د امام خصاف رحمه الله دي.شیخ ابوالحسن قدوري او علامه مرغیناني رحمهماالله هم دا اختیار کړي دي.خو دلته کې د حدودو نه هغه حدود مراد دي.کوم چې خالص د الله ﷻ حق دي.لکه حدزنا او حد شرب خمر،

دلیله دلیل دادې.چه حکم مقررونکو ته پخپل ځان او وینه باندې هیڅ ولایت حاصل نه دې.هم دا وجه ده.چه چاته د خپلې وینې مباح کولو اختیار نه دې ورکړې شوې.نوهرکله چې چاته پخپل ځان او وینې باندې ولایت حاصل نه دې.اود خپلې وینې مباح کولو اختیار نه دې ورکړې شوې.نو دده په رضامندئ سره به دده وینه نه مباح کیږي.اوهرکله چې د رضامندئ باوجود خپله وینه مباح نشوه.نود قصاص(وینه تویولو) لپاره به څوک حکم مقررول هم جائز او مباح نه وي

وَإِنْ حَكَّمَاهُ فِي دَمِ خَطَإٍ فَقَضَى الْحَاكِمُ عَلَى الْعَاقِلَةِ بِالدِّيَةِ لَمْ يَنْفُذْ حُكْمُهُ اوکه دوه سړو په قتل خطا کې دې حکم جوړکړو.نوده په عاقله باندې د دیت فیصله ورکړله.نو دده فیصله به نه نافذ کیږي.

تشریح که دوه سړو په قتل خطاء کې څوک حکم مقررکړو.او حکم په عاقله (مددګار خاندان) باندې د دیت حکم ورکړو.نود حَکم داحکم به نافذ نه وي.

دلیله ځکه چې عاقله دې د خپل اړخه حَکم نه دې مقررکړې.په دې وجه به عاقله باندې حَکم ته هیڅ ولایت هم حاصل نه وي.اوهرکله چې عاقله باندې حکم ته څه ولایت حاصل نه دې.نو په عاقله باندې به د حکم حُکم هم نافذ او لازم نه وي.

ثالث لپاره د بینه په سماعت یا په انکار د قسم باندې د فیصلې حکم

وَيَجُوْزُ أَنْ يَسْمَعَ الْبَيِّنَةَ وَيَقْضِيَ بِالنُّكُوْلِ اود حَکم لپاره جائز دي.چه دې د بینه سماعت اوکړي.اود قسم په انکار باندې حکم ورکړي.

حل اللغة يسمع-اوري-البينة-ګواهان-النكول-انکار-

تشریح کله چې دوه کسانو څوک خپل حَکم مقررکړو.نود حکم لپاره دا خبره جائز ده.که مدعي بینه پیش کړي.نو دده د بینه سماعت اوکړي.او مدعي سره د بینه نه کیدلو په صورت کې مدعي علیه نه قسم واخلي.اوچه مدعي علیه د قسم نه انکار اوکړي.نو حکم د مدعي په حق کې فیصله ورکړي.دغه ډول که مدعي علیه د مدعي په حق کې اقرار اوکړو.نو په دې اقرار سره به هم حَکم فیصله ورکوي.

دلیله دلیل دادې.چه د بینه سماعت، د مدعي علیه د قسم په انکار باندې فیصله ورکول، او په اقرار باندې حکم ورکول، درې واړه خبرې د شریعت موافق دي.او حَکم نه د شریعت موافق د هرکار اجازت وي.نو ددې خبرو پوره کولو اجازت به هم وي.

وَحُكْمُ الْحَاكِمِ لِأَبَوَيْهِ وَزَوْجَتِهِ وَوَلَدِهِ بَاطِلٌ اود حاکم حکم د خپل مورپلار، ښځې،او اولاد لپاره باطل دي.

حل اللغة ① حكم-فیصله-② الأبوي-مورپلار-

تشریح چې حاکم قاضی وی.اوکه حکم وی.که ده د خپل مورپلار یا اولاد یا د ښځې موافق څه حکم ورکړو.نودا حکم به معتبر نه وی.بلکه باطل به وی.

دلیله دلیل دادې.چه د قضاء لپاره اهل شهادت شرط دې.یعنی کوم کس چې د شهادت اهل وی.هم هغه به د قاضی او حکم جوړیدلو اهل وی.اود تهمت د خطرې په وجه د چا شهادت چې دده د مورپلار، اولاد اود ښځې په حق کې نه قبلیږی.په دې وجه به ددوی په حق کې دده حکم او فیصله هم نه قبلیږی.

كِتَابُ الْقِسْمَةِ

ترجمه (دا) کتاب د تقسیم (په بیان کښې) دې.

تشریح الربط بما قبله تقسیم هم یو قسم قضاوت دې څکه چې فیصله هله مکمل کیږی چې تقسیم په کښې اوشی د دې وجې نې په کتاب اداب القاضی پسې کتاب القسمة راوړې دې

تعریف القسمة مغرب کښې دی.چه دا د اقتسام اسم دې.او په المعجم الوسیط کښې هم دې ته د اقتسام اسم وئیلی شوی دی.او په قاموس کښې دی.چه قسمة د تقسیم اسم دې.خو چونکه د اسم فاعل صیغه قاسم مستقل ده.په دې وجه مناسب دا ده.چه دا د ،،قسم الشئ،، مصدر اوګرځولې شی.لکه څنګه چه قهستانی کښې ذکر دی.

[مجمع الانهر ص۴۶۹ ج۲_ شامی ص۱۶۰ ج۵]

مشروعیتها من القرآن د الله تعالی ارشاد دې: ﴿وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُوا الْقُرْبَىٰ﴾ ﴿وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُحْتَضَرٌ﴾ ﴿لَهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَعْلُومٍ﴾

مشروعیتها من السنة د سنت نه هم ددې مشروعیت ثابت دې.څکه چه نبی کریم ﷺ میراثونه او غنیمتونه تقسیم کړی دی.او نبی کریم ﷺ د خپلو بیبیانو په مینځ کښې نمبر مقرر کړې وو.او دنبی کریم ﷺ ارشاد دې.(واعط کل ذی حق حقه) او ددې په مشروعیت باندې د امت اجماع ده.

شرطها په تقسیم سره د منفعت نه فوت کیدل، په دې وجه به دکوهی، جرندې او غسل خانې (حمام) تقسیم نشی کولې.

سببها ټول یا بعضې شریکان دا مطالبه اوکړی.چه مونږ ته د خپل حق نه د فائدې حاصلولو داسې حق ملاو شی.چه په دې کښې د بل چا شرکت نه وی.نو که شریکان مطالبه اونکړی.نو تقسیم به صحیح نه وی.

رکنها هغه فعل د کوم په ذریعه چه د حصو په مینځ کښې جدائی او فرق واقع شی.لکه ناپ کول، تلل، پیمانه کول یا شمارل.

حکمها د هر شریك حصه جدا جدا متعین کول.

قاضی دپاره د تقسیمونکی د مقررولو جواز

(وَيَنْبَغِي لِلْإِمَامِ أَنْ يَنْصِبَ قَاسِمًا يَرْزُقُهُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ) او قاضی دپاره مناسب دی.چه یو کس تقسیمونکې مقرر کړی.چه هغه ته د بیت المال نه روزی ورکوی. لِيَقْسِمَ بَيْنَ النَّاسِ بِغَيْرِ أَجْرٍ)چه هغه د خلقو په مینځ کښې د اجرت نه بغیر تقسیمول کوی.

تشریح د قاضی چونکه د قضاء په نورو کارونو کښې د مشغولیدو په وجه د خلقو زمکو ناپ کولو دپاره ګرځیدل مشکل دی.په دې وجه قاضی دپاره جائز دی.چه هغه داسې کس مقررکړی.چه هغه د

خلقو په مینځ کښې د اجرت نه بغیر تقسیم کوی.او هغه ته به د بیت المال نه تنخواه ملاویږی.لکه څنګه چه قاضی ته ملاویږی.ځکه چه تقسیم هم یو قسم قضاء ده.

دلیله ځکه چه د خلقو جګړې به مکمل طریقه هغه وخت ختمیږی.چه د فیصلې مطابق تقسیم هم اوشی.او چونکه د تقسیمونکی فائده به ټولو خلقو ته رسیږی.نو د هغه خرچه هم د عامو خلقو په مالونو کښې کیدل پکار دی.او د هغوی مال د بیت المال دی.ځکه چه منفعت په اندازه د ضمان وی.نو چاته چه منفعت (فائده) حاصله شی.هم په هغه باندې د تقسیمونکی د خرچې بوج اچول پکار دی.

قاضی دپاره د تقسیمونکی مقررولو دویم صورت

(فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ نَصَبَ قَاسِمًا يَقْسِمُ بِالْأَجْرِ)نو که قاضی داسې اونکړی.نو څوك دې تقسیمونکې مقرر کړی.چه هغه اجرت سره تقسیم کوی.

تشریح که قاضی په مذکوره طریقه باندې تقسیمونکې مقرر نکړی.نو بیا دې داسې اوکړی.چه څوك عادل سړی دې ددې کار دپاره مقرر کړی.او اجرت دې د هغه خلقو نه اخلی.د چا تقسیم چه کوی.

دلیله ځکه چه دلته مخصوص نفع هم دوی ته رسیږی.نو اجرت به هم دوی ادا کوی.او قاضی دې د هغه اجرت مثلی هم مقرر کړی.ګنی د حکومت د سړی کیدو په وجه به په خلقو ظلم کوی.او د زیات مطالبه به کوی.او خلق به په ورکولو مجبور وی.خو افضله طریقه هم هغه ده.چه دده تنخواه د بیت المال نه مقرر کړې شی.چه په دې کښې خلقو دپاره آسانتیا ده.او د تهمت شبه هم ختمیږی.

د تقسیمونکی د اوصافو بیان

(وَيَجِبُ أَنْ يَكُونَ عَدْلًا مَأْمُونًا عَالِمًا بِالْقِسْمَةِ) او واجب دی.چه تقسیمونکې عادل وی.امانت دار وی.په تقسیم پوهیږی.

تشریح خو په دې زمانه کښې قاضی هم بدنیته وی.نو دا کار د بادشاه حواله کول پکار دی.چه هم هغه د هرکس تنخواه مقرر کړی.او قطعی طور باندې داسې اسباب پیدا کړی.چه هغې سره حکام (افسران) د عوامو نه هیڅ رشوت وانخستلې شی.او د مخکښې زمانې خلق به حق پرست وو.خاص کر قاضی به یو متقی، پرهیزګاره سړې وو.او د شریعت حکم به ئې ورکولو.چه د جهنم او د آخرت د عذاب د یرې به ئې رشوت وغیره طرف ته خیال هم نه کولو.بلکه د شریعت مطابق به ئې به ټولو کارونو کښې فیصله کوله.د دغه شان بادشاهانو او قاضیانو د عدل (او انصاف) په وجه بادشاهئ روښانه وی.او د هغوی د یوې ورځې عدل د عبادت کونکو ټول کال عبادت نه پورته وو.او اوس دا خبره پاتې نشوه.د دې وجې امام قدوری رحمه الله په دې عبارت کښې فرمائی چه به قاضی کښې ددې دریو صفاتو کیدل ضروری دی.چه عادل وی.امانت دار وی.او د تقسیم د مسئلو نه خبر وی.

دلیله ځکه چه تقسیم هم یو قسم قضاء ده.نو د قاضی صفات په ده کښې هم کیدل پکار دی. او د تقسیم دپاره په دې باندې قدرت ضروری دی.او قدرت به علم سره راځی.او دده په قول باندې اعتماد ضروری دی.او اعتماد به هغه وخت وی.کله چه دې عادل او امانت دار وی.

قاضی به په یو تقسیمونکی خلق نه مجبوروی

(وَلَا يُجْبِرُ الْقَاضِي النَّاسَ عَلَى قَاسِمٍ وَاحِدٍ)او قاضی دې خلق په یو تقسیمونکی نه مجبوره وی.

حل اللغة ① **لایجبر**:نشی مجبوره کولې

تشریح یعنی قاضی به خلق نه مجبوره کوی.چه هم په دې تقسیمونکی تقسیم اوکړی.

دلیله ځکه چه دا په عقد کولو باندې زبردستی ده.حالانکه عقدونو کښې زبردستی نه چلیږی.او که

قاضي يو كس متعين كړي.نو هغه به د خلقو نه زيات اجرت اخلي.اودا به ګنړې.چه زما نه علاوه خو بل څوك تقسيمونكي هسې هم نشته.

د مشترك تقسيم كونكو حكم

(وَلَا يَتْرُكُ الْقُسَّامَ يَشْتَرِكُونَ)او نه به پريږدي تقسيمونكى، چه هغوى شركت اوكړي.

تشريح تول تقسيمونكي يو ځائي شي.او تقسيمول نه كوي.نو په دوى دې قاضي پابندي اولګوي.
دليله كه داسې اونكړي نو تول به اتفاق اوكړي.چه دومره اجرت به وي.نو اجرت به ګران شي.او كله چه ددوى شركت نه وي.نو هر يو به رامنډې وهي.چه چرته بل تقسيمونكى پسې لاړ نشي.نو په طريقه به اجرت كم وي.

د تقسيم كونكي د اجرت حكم

وَأُجْرَةُ الْقِسَامِ عَلَى عَدَدِ رُءُوسِهِمْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله [1] او د تقسيم اجرت به د روؤسو(د تقسيم كونكو افرادو) دعدد مطابق وي.د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز،

تشريح د تقسيمونكى اجرت به په كوم حساب سره وركولې شي.كله چه ديو كس حصه كمه وي.او د بل زياته وي؟ نو وې فرمائيل.چه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز چه څومره سرې دى.په هغوى به برابر اجرت وي.د حصو د كمى زياتي لحاظ به نشى كولې.
دلائله ① د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل فرمائي.① چه په تقسيم كښې د هريو كس حصه جدا كولې شي.نو لكه څنګه چه لږ. د زيات نه جدا كولې شي.هم دغه شان زيات د لږ نه جدا كولې شي.نو بيا د كم او زيات جدا كول برابر شو.نو اجرت به هم برابر وي.
② او دغه شان كله وړه حصه حساب مشكل جوړه وي.او كله ددې په عكس كيږي.نو اصل مدار په جدا كولو شو.چه په دې كښې فرق نشته.

وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ عَلَى قَدْرِ الْأَنْصِبَاءِ)فرمائيلى دى امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله ، چه د حصو د مقدار مطابق به وي.

تشريح **مسلك الصاحبين** صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه څومره حصه وي.د هغې مطابق به اجرت وي.
دليلهما څكه چه اجرت دلته د ملكيت د بار خرچه ده.نو څومره چه دچا ملكيت وي.هغومره به په هغه اجرت وي.مثلاً په يوكور كښې د زيد حصه نيمه ده.او د بكر دريمه حصه ده.او دخالد شپږمه ده.هغوى دا تقسيم كړو.چه ددې اجرت دولس روپئ مقرر شو.نو د امام صاحب رحمه الله په نيز هر يو باندې درې درې روپئ شوې.او د صاحبينو رحمهما الله په نيز زيد باندې شپږ روپئ، اوبكر باندې څلور روپئ، اوخالد باندې دوه روپئ شوې.څكه چه ملكيت هم په دې حساب سره دې.

د شريكانو د ميراث دعوه.او د قاضي نه د تقسيم مطالبه كول

وَإِذَا حَضَرَ الشُّرَكَاءُ عِنْدَ الْقَاضِي اوكله چه قاضي ته شريكان حاضر شي. وَفِي أَيْدِيهِمْ دَارٌ أَوْ ضَيْعَةٌ او ددوى په قبضه كښې كوريا زمكه وي وَادَّعَوْا أَنَّهُمْ وَرِثُوهَا عَنْ فُلَانٍ.او هغوى دعوه اوكړله.چه هغوى

[1] القول الراجح هوهذا قول الإمام ابوحنيفة رحمه الله كذا في الدرالمنتقى (١٢٦\٤) وملتقى الأبحر(١٢٦\٤) وردالمحتار (١٨٠\٥) ونصب (٢٦٦\٥) نقلاً عن القول الراجح (٢٧٧\٢)۔

دا د فلاني نه ميراث كښې اخستې دے. لَمْ يَقْسِمْهَا الْقَاضِي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به قاضي دا نه تقسيموي حَتَّى يُقِيمُوا الْبَيِّنَةَ عَلَى مَوْتِهِ وَعَدَدِ وَرَثَتِهِ تر دې چه هغوی دده په مرګ او دده د وارثانو په تعداد باندې ګواهان قائم کړي.

تشریح شریکان قاضي ته حاضر شي. او دا دعوه اوکړي. چه دا د فلاني ميراث دې. مونږ ته ملاو شوې دې. او د تقسيم مطالبه اوکړي. د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز ګواهان قائمول ضروري دي.

دليله دليل دې. ددې حاصل دا دې. چه ترکومه پورې د مړي ترکه (ميراث) تقسيم نکړې شي. هغه وخته پورې دا دمړي ملك دې. نو هرکله چه دا تر اوسه پورې د مړي ملك شو. نو د قاضي فيصله به قضاء على الميت وي. او چونکه اقرار محدود حجت دې. چه دا په مړي باندې حجت نشي کيدې. په دې وجه به ګواهان قائمول ضروري وي. چه د هغې په بنياد قضاء على الميت اوکړې شي.

اوددې خبرې دليل چه ترکه (ميراث) د تقسيم نه وړاندې د مړي ملك دې؟ دا دې چه که مړي چا دپاره د وينځې وصيت کړې وي. او د موصى د مرګ نه پس د تقسيم نه وړاندې بچي پيدا شو. نو په دې بچي کښې به هم وصيت جاري کيږي. دغه شان به داسې زياتوالي سره د مړي ترکه ادا کولې شي. ددې نه ثابته شوه. چه د تقسيم نه وړاندې د مړي ملك برقرار (باقي پاتې) دې.

وَقَالَا او صاحبين رحمهما الله فرمائي يُقَسِّمُهَا بِاعْتِرَافِهِمْ چه دا به ددوی د اقرار مطابق تقسيموي. وَيَذْكُرُ فِي كِتَابِ الْقِسْمَةِ او د تقسيم په رجسټر کښې به ئې ليکي، أَنَّهُ قَسَمَهَا بِقَوْلِهِمْ. چه ده دا ددوی د قول مطابق تقسيم کړې دے.

تشریح او د صاحبينو رحمهما الله په نيز به د ګواهانو قائمولو نه بغير ددوی د اقرار مطابق تقسيم کولې شي. البته قاضي به دا يادداشت دپاره د تقسيم په رجسټر کښې دا ليکي. چه دا تقسيم ددوی د قول مطابق شوې دې. که بل څوك شريك راوځي. چه د هغه د نقصان اونشي.

دليلهما دليل دا دې. چه زمکه د شريکانو په قبضه کښې ده. چه دا د ملك دليل دې. او ددوی اقرار ددوی د صدق علامت دې. او هيڅ څوك ددوی په دعوه کښې مخالف نشته. نو لکه څنګه چه په دويم او دريم صورت کښې د ګواهانو قائمولو نه بغير تقسيم شوې دې. دغه شان به دلته کښې هم کول پکار وي. ځکه چه د ګواهانو قائمولو ضرورت د منکر خلاف راپيښيږي. او دلته څوك منکر نشته. نو ګواهان قائمول به عبث وي. په دې وجه به قاضي د ګواهانو قائمولو نه بغير تقسيموي. خو تقسيم به په کاغذونو (رجسټر) کښې ليکي. چه ما دا تقسيم ددوی په اقرار باندې کړې دې. چه دا تقسيم هم ددوی حده پورې محدود پاتې وي. او که اتفاق سره بل څوك شريك وي. هغوی پورې متعدی نشي.

اقسام التقسيم تنبيه د تقسيم دوه قسمونه دي① تقسيم بالبينه② تقسيم بالاقرار ـــ رومبې به غير طرف ته متعدی وي. او دويم به غير طرف ته متعدی نه وي. که تقسيم اقرار سره شوې وي. او د مړي ام ولد او دده مدبر د آزادئ دعوه اوکړله. نو قاضي به ددوی د آزادئ فيصله نه کوي. ترکومه پورې چه دا دواړه د مولا په مرګ باندې ګواهان قائم نکړي. ځکه چه دا تقسيم بالاقرار دې. چه دا غير طرف ته نه متعدی کيږي. او که د تقسيم بالبينه صورتې وي. او ام ولد او مدبر د آزادئ دعوه اوکړله. نو قاضي به په دوی باندې د مولا په مرګ باندې ګواهان قائمول نه لازمي کوي. بلکه د ګواهانو قائمولو نه بغير به ددوی د آزادئ فيصله ورکوي. ځکه چه دا تقسيم غير طرف ته متعدی کيږي.

وَإِنْ كَانَ الْمَالُ الْمُشْتَرَكُ مَا سِوَى الْعَقَارِ او که مشترك مال د زمکې نه علاوه (د بل څه منقوله څيز) وي وَادَّعَوْا أَنَّهُ مِيرَاثٌ. او هغوی دعوه اوکړي. چه دا ميراث دې قَسَمَهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا نو قاضي به

ددوى د تولو د قول مطابق دا تقسيموى.

تشريح په دې عبارت کښې دويم صورت بيانوى که د زمکې نه علاوه په منقوله څيزونو کښې د يو څيز په باره کښې هم دا دعوه اوکړى.او د تقسيم مطالبه اوکړى.

وَإِنِ ادَّعَوْا فِي الْعَقَارِ اوکه هغوى د زمکې په باره کښې دعوه اوکړى أَنَّهُمُ اشْتَرَوْهُ قَسَمَهُ بَيْنَهُمْ) چه هغوى دا اخستې ده.نو قاضى به دا ددوى په مينځ کښې تقسيموى.

تشريح په دې عبارت کښې دريم صورت بيانوى يعنى مسئله هم د زمکې ده.خو په ميراث کښې د ملاويدو دعوه نه وى.بلکه د اخستلو دعوه وى. نو په آخرى دوارو مسئلو کښې زمونږ د ثلاثه عالمانو اتفاق دې.چه دوى کښې د ګواهانو قائمولو حاجت نشته.بلکه د ګواهانو قائمولو نه بغير به قاضى دا تقسيموى.او رومبۍ مسئله اختلافى ده.

د شريکانو د ملک سبب نه خودلو سره د تقسيم د مطالبې حکم

وَإِنِ ادَّعَوُا الْمِلْكَ وَلَمْ يَذْكُرُوا كَيْفَ انْتَقَلَ إِلَيْهِمْ او که دوى د ملك دعوه اوکړله.او دوى دا ذکر نکړل.چه دوى طرف ته دا څنګه منتقل شوه. قَسَمَهُ بَيْنَهُمْ نو قاضى به دا ددوى په مينځ کښې تقسيموى.

تشريح شريکان قاضى ته حاضر شى.او د تقسيم دعوه اوکړى.او دا او نه ښائى.چه دا زمکه دوى ته څنګه ملاو شوې ده.نو چونکه دوى د هيڅ چا دپاره د مخکنى ملکيت اقرار نه دې کړې.چه دې سره قضاء علي الغير لازميږى.په دې وجه به قاضى ددوى په مينځ کښې دا زمکه تقسيموى.

دليله څکه چه دې تقسيم کښې قضاء علي الغير نشته. څکه چه دوى د ځان نه علاوه دپاره د ملك اقرار نه دې

که د خپلې خپلې حصې نه انتفاع اخستل ممکن وى نو د يوکس په مطالبې به تقسيم کولې شى

(وَإِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الشُّرَكَاءِ يَنْتَفِعُ بِنَصِيبِهِ اوکله چه شريکانو کښې هريوکس د خپلې حصې نه انتفاع حاصلولې شى. قَسَمَ بِطَلَبِ أَحَدِهِمْ) نو قاضى به په دوى کښې د يوکس په طلب باندې تقسيم کوى.(اګرچه دويم انکار کوى).

تشريح که د تقسيم نه روستو هر شريك د خپلې حصې نه نفع حاصلولې شى.نو هرکله چه شريکانو کښې يو کس د تقسيم مطالبه اوکړله.نو قاضى به تقسيم کوى.او په دې کښې به قاضى دپاره منکر باندې زبردستى جائز وى.

دليله څکه وړاندې تيرشوى دى.چه کوم څيزونه د تقسيم احتمال لرى.هغه کښې تقسيم کول لازمى حق دې.

په دوو شريکانو کښې د يوکس دکمې حصې په وجه جدا انتفاع نشى کيدې نو د تقسيم حکم

(وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمْ يَنْتَفِعُ وَالْآخَرُ يَسْتَضِرُّ بِهِ لِقِلَّةِ نَصِيبِهِ اوکه په دوى کښې يوکس (دخپلې حصې نه) نفع اخستلې شى.او دويم کس ته به د خپلې حصې د کموالى په وجه ضرر وى. «فَإِنْ طَلَبَ صَاحِبُ الْكَثِيرِ قَسَمَ نو که د زياتې حصې والا مطالبه اوکړى.نو قاضى به تقسيم کوى. «وَإِنْ طَلَبَ صَاحِبُ الْقَلِيلِ لَمْ يَقْسِمْ) اوکه د لږې حصې والا مطالبه اوکړى.نو قاضى به تقسيم نه کوى.

حل اللغة ① **يستضر**: ضرر رسى ② **ينتفع**: نفع اخلى

تشريح دوه شريکان دى.په دوى کښې د يو شريك حصه ډيره کمه ده.چه د تقسيم نه روستو د کوم نه

انتفاع نشی کیدې.او د دویم حصه زیاته ده.چه د تقسیم نه روستو هم د هغې نه فائده اخستلې شي.او په دوی کښې یوکس د تقسیم مطالبه کوی.نو اوس به قاضی څه کوی؟ نو په دې کښې درې قوله دي رومبې قول د امام قدوری رحمه الله دې.چه طلب کونکی که د زیاتې حصې مالك دې.نو تقسیم به کولې شي.او د کمې حصې والا په طلب به تقسیم نشی کولې.

دلیله> ځکه د رومبی طلب معتبر دې.ځکه چه د هغه نفع برقرار ده.او د دویم طلب معتبر نه دې.ځکه چه هغه پخپلې بربادئ پسې لګیدلې دې.

د جدا حصې نه د انتفاع نه کیدو باوجود رضامندئ سره د تقسیم حکم

(وَإِنْ كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَسْتَضِرُّ او که هر یو ته ضرر وی. لَمْ يَقْسِمْهَا إِلَّا بِتَرَاضِيهِمَا) نو قاضی به دا نه تقسیموی.خو ددوی دواړو رضامندئ سره.

حل اللغة> ① تراضیهما: په راضی کیدو د دواړو

تشریح> یعنی که دیوکس حصه دومره لږه وی.چه د تقسیم نه روستو د انتفاع قابل پاتې نشی.نو قاضی هغه وخت تقسیمولې شی.کله چه دواړه راضی شی.ګنی نه به تقسیموی.

دلیله> ځکه د تقسیم موضوع هم دا وه.چه په دې سره د منفعت تکمیل کیدې شی.او دلته منفعت فوت کول دی.البته که دواړه راضی وی.نو قاضی به تقسیم کوی.ځکه چه دا ددوی دواړو حق دې.او خپل معاملات او حالات هغوی ښه پیژنی.البته د قاضی کار په ښکاره باندې اعتماد کول دی.او ښکاره ضرر او نقصان دې.نو د یو په مطالبه باندې به په ښکاره باندې اعتبار کوی.او د دواړو مطالبه به د ښکاره بدلونکې وی.ځکه د دواړو رضامندئ نه دا معلومیږی.چه کیدې شی.دې کښې څه منفعت وی.علامه زیلعی رحمه الله په تبیین کښې فرمائیلی دی.چه قاضی به د دواړو په مطالبه باندې هم تقسیم نه کوی.

په منقوله یو جنس څیزونو کښې د شریکانو په مطالبې سره د تقسیم حکم

(وَيَقْسِمُ الْعُرُوضَ إِذَا كَانَتْ مِنْ صِنْفٍ وَاحِدٍ)او سامانونه به قاضی تقسیموی.(په زبردستئ سره).کله چه د یو جنس څنې وی.

تشریح> په منقول څیز کښې شریکانو د قسمت مطالبه اوکړله.او هغه یو جنس دې.مثلاً کپړې دی.نو د جنس د متحد کیدو په وجه به دلته برابری حاصلیږی.او په منفعت کښې به تکمیل حاصلیږی.او دا د تقسیم مقصد او موضوع ده.نو قاضی به تقسیموی.او په دې کښې به قاضی دپاره منکر باندې زبردستی جائز وی.

په دوو جنسونو کښې قاضی دپاره د تقسیم حکم

(وَلَا يَقْسِمُ الْجِنْسَيْنِ بَعْضَهُمَا فِي بَعْضٍ) او قاضی به په دوو جنسونو کښې تقسیم نه کوی.په دې کښې بعض په بعضو کښې،

تشریح>.په رومبی صورت کښې خو قاضی ته د زبردستی کولو ولایت حاصل دې.خو که دوه جنسونه وی.نو بیا قاضی ته ولایت د زبردستئ نشته.مثلاً اوښان او اسونه وی.نو په دې کښې به خو اختلاط (ګډون) نه وی.چه تقسیم دلته د جدا والی دپاره اوګرځولې شی.بلکه دا به د معاوضې صورت وی.او په معاوضه کښې زبردستی نشی کولې.بلکه ددې آسانه طریقه هم دا ده.چه شریکان راضی شی.نو بیا داسې تقسیم جائز دې.

غلام او جواهرات قاضي په زبردستئ تقسيمولي شي اوكه نه؟

(وَقَالَ أَبُوحَنِيفَةَ لَايَقْسِمُ الرَّقِيقَ وَالْجَوَاهِرَ)[1] او اوفرمائيل امام ابوحنيفه رحمه الله قاضي به تقسيم نه كوى د غلام او د هيرو ددوى دوارو د تفاوت په وجه.

حل اللغة> ① **الرقيق**: خالص غلام ② **الجواهر**: جمع د جوهرة، ملغلره

تشريح> په غلامانو كښې خپل مينځ كښې ډير زيات تفاوت دې.او هم دغه شان په هيرو كښې، نو قاضى به په دې كښې زبردستئ سره تقسيم نه كوى.

دليله> دليل دا دې.چه د صاحبينو رحمهماالله غلامان په څارور باندې قياس كول صحيح نه دى.ځكه چه څارور كښې د جنس د اتحاد په صورت كښې لږ تفاوت دې.او په انسانانو كښې د باطنى معانو او باطنى كمالاتو د اختلاف په وجه ډير زيات تفاوت دې.هم دا وجه ده.چه فقهاء سرى او ښځې مختلف الجنس شمارى.او په څارور كښې نر او ماده د يو جنس شمارى.

(وَقَالَ:ابويوسف ومحمد يَقْسِمُ الرَّقِيقَ)او صاحبين رحمهماالله فرمائى.د غلامانو تقسيم به كوى.

تشريح> **مسلك الصاحبين**> صاحبين رحمهماالله فرمائى.چه د غلامانو جنس متحد دې.په دې وجه به تقسيم كولې شى.

دليلهما> لكه څنګه په اوښانو او چيلو كښې د ډير زيات تفاوت باوجود تقسيم جائز دې.دغه شان په غنيمت كښې چه كوم غلامان ملاو شى.د هغوى تقسيم جائز دې.نو دلته به هم غلامانو كښې تقسيم جائز وى.

الجواب عنه> دا قياس هم صحيح نه دې. ځكه چه غنيمت كښې د مجاهدينو حق صرف ماليت كښې دې.او په مذكوره غلامانو كښې د شريكانو حق عين او ماليت دوارو كښې دې.هم دا وجه ده.چه امام ته حق شته.چه د غنيمت غلامان خرڅ كړى.او د هغوى قيمت مجاهدينو كښې تقسيم كړى.او دلته قاضى ته ددې حق نشته.معلومه شوه.چه مذكوره قياس صحيح نه دې.

الاقسام الثلاثة للجواهر> په هيرو كښې د تقسيم نه كولو بيان كړې دې.اوس دلته درې قوله بيانوى① كه ددې جنس مختلف وى.نو بيا قاضى زبردستئ سره تقسيم نشى كولې.لكه څنګه چه د غمو او ياقوتو جنس مختلف دې.

②په غټو هيرو كښې تفاوت زيات دې.او په ورو كښې كم دې.نو په رومبى كښې تقسيم صحيح نه دې.او په دويم كښې جائز دې

③مطلقاً جائز نه دې.ځكه چه هيرو كښې د مطلق غلامانو نه زيات جهالت دې.او هركله چه غلامانو كښې زبردستئ سره تقسيم نه كيږى.نو په هيرو كښې به په درجه اولى نه وى.

دليله> ددې خبرې دليل چه په هيرو كښې تفاوت د غلام دتفاوت نه زيات دې دا دې كه يوكس د يوې ښځې سره نكاح اوكړله.او په مهر كښې ئې د ياقوتو يا غمو نوم واخستلو.نو چونكه په دې كښې ډير زيات تفاوت دې.په دې وجه به دا تسميه معتبر نه وى.اوكه په غلام ئې نكاح كړې وى.نو دلته كښې تسميه صحيح ده.د هدايه په دريم جلد باب المهر كښې ددې تفصيلات موجود دى.

---

[1] القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ملتقى الأبحر (١٢٠\١٤) وكنز(ص،٣٥٦) والدرالمختار (١٨٣\٥) نقلاً عن القول ا لراجح (٢٧٨\٢)۔

د غسل خانې ، کوهې، او د جرندې د تقسیم مسئله

(وَلَا يُقْسَمُ حَمَّامٌ وَلَا بِئْرٌ وَلَا رَحًى إِلَّا أَنْ يَتَرَاضَى الشُّرَكَاءُ) او غسل خانه او کوهې او جرنده به نشي تقسيمولي.خو دا چه شريکان راضي شي.

حل اللغة ﴿ ① **حمام**: د ګرمو اوبو غسل خانه ② **بئر**: کوهې ③ **رحي**: جرنده

تشريح ﴿ که دا څيز داسې وي.چه دا تقسيم نه پس چا دپاره هم قابل د انتفاع پاتې نشي.کوم چه ددې نه مقصود وو.نو دلته به تقسيم سره ضرر وي.په دې وجه قاضي د رضامندئ نه بغير دا نشي تقسيمولي.او په رضامندئ سره ئې تقسيمولې شي.د غسلخانې، کوهې، او جرندې هم دا حال دې.

د وارثانو په حاضريدو او ګواهانو قائمولو سره د تقسيم حکم

(وَإِذَا حَضَرَ وَارِثَانِ عِنْدَ الْقَاضِي وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ عَلَى الْوَفَاةِ وَعَدَدِ الْوَرَثَةِ) او کله چه دوه وارثان حاضر شي.او د وفات او وارثانو په تعداد باندې ګواهان قائم کړي. (وَالدَّارُ فِي أَيْدِيهِمْ) او کور د هغوی په قبضه کښې وي. (وَمَعَهُمْ وَارِثٌ غَائِبٌ) او هغوی سره څوك غائب وارث وي. (قَسَمَهَا الْقَاضِي بِطَلَبِ الْحَاضِرِينَ) نو قاضي به دا د حاضرينو په مطالبه باندې تقسيموی (وَيُنَصِّبُ وَكِيلًا يَقْبِضُ نَصِيبَهُ) او يو وکيل به مقرر کوی.چه هغه د غائب په حصه باندې قبضه اوکړی.

تشريح ﴿ که دوه وارثان حاضر شو.اود مورث په وفات باندې او د وارثانو په تعداد باندې ئې ګواهان قائم کړل.او يو بل وارث هم دې.چه هغه غائب دې.اوکور هم ددوی په قبضه کښې دې.کوم چه موجود دی.نو قاضي به دا ددوی په مينځ کښې تقسيم کړی.او غائب دپاره به يو وکيل مقرر کړی.چه دې د هغه په حصه باندې قبضه اوکړی.

دليله ﴿ خکه چه دې کښې د ټولو رعايت دې.او د غائب او بچې دپاره دشفقت سبب دې.او د ګواهانو قائمولو مخکښې اختلاف کوم چه د امام صاحب او صاحبينو ﷫ په مينځ کښې وو.هغه دلته هم شته.

د يو مشتري په غير موجودګئ کښې قاضي دپاره د تقسيم حکم

(وَلَوْ كَانُوا مُشْتَرِينَ لَمْ يَقْسِمْ مَعَ غَيْبَةِ أَحَدِهِمْ) او که دوی اخستونکي وی.نو قاضي به په دوی کښې د يو کس په غائب کيدو سره نه تقسيموی.

تشريح ﴿ دوه کسان قاضي ته حاضر شو.او ددوی په قبضه کښې يو کور وغيره دې.دعوه دعوه اوکړله.چه مونږ دا کور د فلاني سړی نه اخستې دې.او مونږ درې شريکان يو.په مونږ کښې يو غائب دې.او مونږ تقسيم غواړو.نو آيا قاضي تقسيمولې شي؟ نو وې فرمائيل.که ټول موجود وي.نو قاضي به تقسيمولو.خو دلته به نه تقسيموی.اګرچه حاضر شوی شريکان په اخستلو باندې ګواهان هم قائم کړی.بيا به هم قاضي نه تقسيموی.

الاشکال ﴿ که څوك اعتراض اوکړی چه په اولني صورت کښې يعنی کله چه يو وارث غائب وی.نو هلته د تقسيم کولو حکم ورکولې شي نو دلته په دې صورت کښې د تقسيم نه انکار ولې کولې شي

الجواب عنه ﴿ نو ددې نه جواب دا دې چه په رومبی صورت کښې په شريکانو کښې يو کس دمړی د طرفه خصم مقررولی شي.او دلته د نيابت هيڅ صورت نشته.بائع خو د مينځ نه بالکل خارج شوې دې.اوبه حاضر شريك کښې هم دا صلاحيت نشته.چه دې د غائب شريك نائب او خليفه جوړ شي.نو دلته قضاء على الغائب لازميږی.او په رومبی صورت کښې قضاء على الغائب نشته.بلکه د متخاصمينو مخامخ قضاء ده.

(وَإِنْ كَانَ الْعَقَارُ فِي يَدِ الْوَارِثِ الْغَائِبِ أَوْشَيْءٌ مِنْهُ او که زمکه یا ددې څه حصه د غائب وارث په قبضه کښې وی.نو قاضی به نه تقسیموی. لَمْ يُقْسَمْ او هم دغه شان (حکم دې) کله چه د غائب د مودع (امین) سره وی نو تقسیم به نشی کولې.

تشریح ﴿ دا صورت د پنځمې مسئلې تتمه ده.په هغه مسئله کښې کله چه زمکه د حاضرینو شریکانو په قبضه کښې وه.حکم دا وو.چه تقسیم به کولې شی.او په تتمه کښې ئې اوفرمائیل. که زمکه هم د هغه وارث په قبضه کښې ده.کوم چه غائب دې.که ټوله د هغه په قبضه کښې وی.او که بعضې وی.یا دهغه غائب وارث مودع (امین) سره وی. نو په دې صورتونو کښې که ګواهان قائم شوی وې.اوکه قائم شوې نه وی.بهرحال قاضی به تقسیم نه کوی.

دلیله ﴿ ځکه چه د غائب او ماشوم قبضه ده.حالانکه ددوی هیڅ څوك مقرر شوې نائب او وکیل موجود نه دې.نو که دلته تقسیم جائز اوګرځولې شی.نو د داسې خصم نه بغیر قضاء لازمیږی.کوم چه ددوی د طرفه نائب وی.او دا به قضاء علی الغائب او په ماشوم باندې قضاء وی.چه دا جائز نه ده.

د یو وارث په حاضریدو سره قاضی دپاره د تقسیم حکم

(وَإِنْ حَضَرَ وَارِثٌ وَاحِدٌ لَمْ يُقْسَمْ او که یو وارث حاضر وی.نو قاضی به تقسیم نه کوی.

حل اللغة ﴿ ① مقاسم (بالکسر) اسم فاعل مقاسم ،تقسیمونکې (بالفتح) اسم مفعول تقسیم کړې شوې

تشریح ﴿ دا هم د مذکوره تتمه جزء دې.که صرف یو وارث حاضر وی.او ګواهان هم قائم کړی.بیا به هم قاضی تقسیم نه کوی.که زمکه د هغه په قبضه کښې وی.او که د غیر په قبضه کښې وی.

دلیله ﴿ ځکه چه فیصلې دپاره کم ازم کم دوه شریکان حاضریدل ضروری دی.ځکه دانشی کیدې.چه یو سړې دې مخاصم هم وی.او مخاصم هم وی.او هم دې مقاسم وی.او مقاسم هم وی.په دې وجه دلته تقسیم نشی کولې.

په یو ښارکښې د مشترکو کورونو د تقسیم طریقه

(وَإِذَا كَانَتْ دُوْرٌ مُشْتَرَكَةٌ فِي مِصْرٍ وَاحِدٍ او کله چه په یو ښار کښې مشترك کورونه وی. قُسِمَتْ كُلُّ دَارٍ عَلَى حِدَتِهَا فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله (١) نو د امام ابوحنیفه رحمه الله د قول مطابق به قاضی هر یو کور جدا جدا تقسیموی.

تشریح ﴿ هر کور جداجدا تقسیمول دا تقسیم خانله خانله دې.نو ټول یو خانې ملاوول او تقسیمول دا تقسیم د جمعې دې.نو په یو ښار کښې مختلف کورونه دی.نو ددې تقسیم به څنګه کیږی؟ نو وې فرمائیل.چه د امام صاحب رحمه الله په نیز به هر کور جدا جدا تقسیمولې شی.

دلیله ﴿ د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل چه ونې شمارل دې مطلب دې.اوکه امونه خورل. یعنی صرف د معنی او مقصود اعتبار کیږی.او دا ښکاره ده.چه په مقصود کښې د ښارونو او محلو بدلیدو سره ډیر زیات اختلاف پیدا کیږی.دغه شان د ګاوندیانو په وجه، او د جمات نه د لرې والی او نیزدې والی په وجه ډیر زیات اختلاف وی.نو هرکله چه خبره دغه شان ده.نو بیا به یو خانې ملاوولو سره تقسیم کښې برابری

(١) القول الراجح هوهذا لقول ابي حنيفة رحمه الله كذا في مجمع الأنهر (١٤\١٣٠) وملتقى (١٤\١٤٠) والخانية (٢١٢\٣) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢٧٩)۔

نه کیږي.کوم چه د تقسیم اصلي مقصد دی.

(وَقَالَا: إِنْ كَانَ الْأَصْلَحُ لَهُمْ قِسْمَةَ بَعْضِهَا فِي بَعْضٍ قَسَمَهَا)او صاحبین رحمهماالله فرمائي.که شریکانو دپاره په دې کښې بعض د بعضو سره ملاوولو کښې تقسیم غوره وي.نو هم دغه شان دې تقسیم کړي.

تشریح> **مسلک الصاحبین**> صاحبین رحمهماالله فرمائي.چه د قاضي په رائې باندې موقوف ده.که جدا جدا تقسیمول غوره ګڼړي.نو داسې دې اوکړي.او که یوځائې ملاوول او تقسیمول ددوی دپاره غوره ګڼړي.نو دا دې اختیار کړي.

دلیلهما> اوسیدل خو په هرکور کښې حاصلیدې شي.خو په بعضو کورونو کښې چه کوم آرام او راحت ملاویږي. هغه په نورو کښې نه ملاویږي.داسې کیږي.او دا وراندې تیر شوی دی.چه د یوجنس خیزونه به یو ځائې ملاوولو سره تقسیمیږي.او مختلف جنسونو والا به جدا جدا تقسیمیږي.نو صاحبین رحمهماالله فرمائي .چه په کور کښې دوه جهته دي.د اتحاد د جنس هم، او د اختلاف د جنس هم، نو مونږ د دواړو رعایت کولو سره دا معامله د قاضي رائې باندې پریخودله.هغه د اتحاد جنس اعتبار کولو سره تقسیم د جمعې اختیار کړي.نو کولې شي.او د جنس د اختلاف اعتبار کولو سره جدا جدا تقسیم اختیار کولې شي.نو هم کولې شي.که مونږ دا اوګورو.چه کورونه صرف په اوسیدو کښې تول برابر دي.او په نوم او صورت کښې هم اتحاد شته.نو ددې نه د جنس د اتحاد پته لګي.اوکه نورو عوارضو ته اوکتلې شي.نو چونکه په معنی کښې تفاوت دې.نو ددې نه د جنس د اختلاف پته لګي.بهرحال مونږ د دواړو لحاظ کړې دې.

د کور او زمکې یا د کور او دوکان د تقسیم طریقه

(وَإِنْ كَانَتْ دَارٌ وَضَيْعَةٌ أَوْ دَارًا وَحَانُوتًا قَسَّمَ كُلَّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَةٍ)

حل اللغة> ① **حانوت**: دکان

تشریح> زمکه او کور، دوکان او کور مختلف جنسونه دي.نو ددې تقسیم به جدا جدا وي.او ددې مختلف جنس والا کیدل امام قدوري او امام خصاف رحمهماالله نقل کړي دي.خو په مبسوط کښې یوه جزئیه ده.چه د کور په بدله کښې دوکان کرایه باندې اخستل، یعني کور هم په کرایه باندې وي.او ددې اجرت دوکان وي.نو دا جائز ده.ددې نه معلومه شوه.چه کور او دوکان د یو جنس دي.اوس دوه صورتونه دي.یا خو دا اوونیلې شي.چه په دې مسئله کښې دوه روایتونه دي.یو د جسن د اتحاد، او دویم اختلاف د جنس، یا بیا داسې اوونیلې شي.چه دې خو دواړه مختلف جنس والا، خو د یو جنس کیدو شبه موجود ده.او د سود په طرف کښې شبه د حقیقت په درجه کښې وي.په دې وجه دلته د سود د حرمت په وجه مذکوره اجارې ته نا جائز اوونیلې شو.

اود سود شبه په دې وجه ده چه هرکله چه کور او دوکان یو جنس شمارلې شي.نو دلته اګرچه کمې زیاتې جائز وي.خو قرض نه جائز کیږي.او په اجاره کښې منافع په یو ځل نه وي.بلکه ګویا قرض دي.چه دا په مزه مزه ادا کولې شي.په دې مقام عنایه، نتائج الافکار،او مجمع الانهر کښې سوالونه او جوابونه دي.د چا چه شوق وي.اودې ګوري.

د تقسیم طریقه

(وَيَنْبَغِي لِلْقَاسِمِ أَنْ يُصَوِّرَ مَا يَقْسِمُهُ) او تقسیمونکی دپاره مناسب دی.چه کوم تقسیموي.د هغې نقشه جوړه کړي. (وَيُعَدِّلَهُ) يَعْنِي يُسَوِّيَهُ عَلَى سِهَامٍ او دا د تقسیم په حصو باندې برابر کړي. (وَيَذْرَعَهُ)

لِيُعْرَفَ قَدْرُهُ او ددې ناپ اوكړي.چه ددې مقدار معلوم شي(وَيُقَوِّمَ الْبِنَاءَ)او د عمارت قيمت اولګوي. (وَيُفْرِدَ كُلَّ نَصِيبٍ عَنِ الْبَاقِي بِطَرِيقِهِ وَشِرْبِهِ)او هره حصه دې د باقي نه جدا كړي.د هغې د لارې او اوبو سره. حَتَّى لَا يَكُونَ لِنَصِيبِ بَعْضِهِمْ بِنَصِيبِ الْآخَرِ تَعَلُّقٌ) ترديې چه په دې كښې د بعضو د حصې د بعضو سره تعلق پاتې نشي.

تشریح ﴿ دا ټولې خبرې د تقسيمونكي د آسانتيا دپاره دي.چه مخكښې ددې زمكې نقشه په كاغذ باندې جوړه كړي.چه په ذهن كښې وي.او ددې څومره حصه دار دي.د هغې په اعتبار سره د زمكې حصې برابرې كړي.او د هغې ناپ اوكړي.چه معلومه شي.چه څومره ده.او چونكه آخر كښې قيمت ته هم ضرورت راپيښيدې شي.په دې وجه دې د مخكښې نه د عمارت قيمت اولګوي.

دلیله ﴿ دا د دې دپاره چه جګړه بالكل ختمه شي.نو كه ممكن وي.د هر يوكس حصه دې سره د لارې او اوبو جدا جدا كړي.

حکم الافراز بالطریق والشرب ﴿ امام قدوري رحمه الله چه كوم دا فرمائيلي دي.چه هره يوه حصه سره د لارې او اوبو جدا كړي.دا د افضليت بيان دې.ګنې كه قاضي داسې اونكړي.يا داسې ممكن نه وي.نو بيا هم جائز ده.او خسنړې اچول څه ضروري نه دي.بلكه د زړونو مطمئن كولو، او ددې تهمت لرې كولو دپاره دي.چه قاضي د فلاني طرف داري كړې ده.ګنې كه قاضي د خسنړې نه بغير پخپله حصې مقرر كړي.نو كولې شي.ځكه چه قاضي ته ولايت د الزام حاصل دې.او دا هم د قضاء كار دې.اوكه تقسيمونكې وي.نو هغه هم د قاضي نمائنده (نائب) دې.هغه هم حصې مقررولې شي.

د زمكې حصې مقررول،نومونه مقررول، يا قرعه اندازي كول

وَيَكْتُبُ أَسَامِيَهُمْ او د هغوی نومونه به اوليكي وَيَجْعَلُهَا قُرْعَةً اوجوړه به كړي د هغوی خسنړې ثُمَّ يُلَقِّبُ نَصِيبًا بِالْأَوَّلِ بيا دې نومونه مقرر كړي.د يوې حصې رومبى سره، وَالَّذِي يَلِيهِ بِالثَّانِي او كومه چه دې سره متصل ده.هغه په دويم وَالَّذِي يَلِيهِ بِالثَّالِثِ او كومه چه دې سره متصل ده.هغه په دريم وَعَلَى هَذَا او دغه شان وريسې قياس كوه ثُمَّ يُخْرِجُ الْقُرْعَةَ،فَمَنْ خَرَجَ اسْمُهُ أَوَّلًا فَلَهُ السَّهْمُ الْأَوَّلُ بيا دې قرعه (خسنړې) اوباسي.نو د چا نوم چه مخكښې راوخي.هغه دپاره رومبۍ حصه ده. وَمَنْ خَرَجَ ثَانِيًا او دچا چه دويم راوخي ،فَلَهُ السَّهْمُ الثَّانِي .هغه دپاره دويمه حصه ده.

حل اللغة ﴿ ① **القرعة:** خسنړې

تشریح ﴿ يعني د زمكې حصې دې جوړې كړي.د هغې نومونه دې مقرر كړي.چه دا رومبۍ حصه ده.او ددې نه روستو والا دويمه ده.او وريسې دريمه ده.بيا دې قرعه اندازي اوكړي.(خسنړې دې اوباسي). نو د چا نوم چه مخكښې راوخي.هغه ته دې رومبۍ حصه وركړي.او د چا چه دويم ځل راوخي.د هغه دويمه حصه ده.او د دريم دريمه حصه ده.

القاعدة ﴿ اوس دلته دا سوال وو.چه زمكه به په څومره حصو تقسيموي؟ نو دلته ددې جواب وركوي.او يوه قاعده كليه بيانوي.كه شريكان ډير وي.او ددوی حصې برابر وي.نو تقسيم به د سرو د تعداد مطابق وي.،،وهوظاهر،، او كه په حصو كښې تفاوت دې.نو كومه حصه چه د ټولو نه وړه ده.هغه واخله.او په دغومره حصو باندې ټوله زمكه تقسيم كړه.په دې سره به د ټولو حساب راوخي.مثلاً درې شريكان دي.او د ټولو حصه برابر ده.نو په دريو به تقسيمولې شي.اوكه درې شريكان دي.او د يوحصه نصف ده.او د دويم دريمه حصه ده.او د دريم كس شپږمه ده.نو د زمكې به شپږ حصې كولې شي.بيا

په رومبی ته دري حصې او دویم ته دوه حصې او دریم ته به یوه حصه ورکولې شي.دغه شان څلور شریکان دي.د یو نصف ده.او د دویم دریمه حصه ده.او د دوو دولسمه حصه ده.نو د زمکې به دولس حصې جوړولې شي.آخري دوارو ته به یوه یوه او دویم ته به څلور حصې او رومبی ته به شپږ حصې ملاویږي.

په تقسیم کښې دراهم او دنانیر د شریکانو په رضامندئ سره شریکولې شي

(وَلَايَدْخُلُ فِي الْقِسْمَةِ الدَّرَاهِمُ وَالدَّنَانِيْرُ اِلَّا بِتَرَاضِيْهِمْ) په تقسیم کښې دي دراهم او دنانیر نه داخلوی.خو د شریکانو په رضامندئ سره

تشريح د زمکې په تقسیم کښې به د شریکانو د رضامندئ نه بغیر دراهم او دنانیر نشي داخلولې.
دلیله ځکه چه ددوی شرکت په زمکه کښې دي.په دراهمو کښې نه دي.او تقسیم په هغه څیز کښې وي.په کوم کښې چه شرکت وي.او هغه زمکه ده.او په داسې کولو سره برابری نشي کیدې.ځکه د چا په حصه کښې چه زمکه راغله.نو هغه خو په دې قبضه کونکې شو.او دا قبضه کونکې به چه چاته روپئ ورکوي.هغه په ده باندې اوس واجب دي.چه ورکړې ئې نه دي.نو برابری چرته پاتې شوه؟

که د تقسیم په وخت د لارې او لختي ذکر نه وي شوې نو اوس به څه کیږي؟

(فَاِنْ قَسَمَ بَيْنَهُمْ وَلِاَحَدِهِمْ مَسِيْلٌ فِي مِلْكِ الْاٰخَرِ) نوکه قاضي ددوی په مینځ کښې تقسیم اوکړو.او په دوی کښې د یوکس لختې دې.د بل کس په حصه کښې. اَوْطَرِيْقٌ لَمْ يَشْتَرِطْ فِي الْقِسْمَةِ)،فَاِنْ اَمْكَنَ صَرْفُ الطَّرِيْقِ وَالْمَسِيْلِ عَنْهُ یا لاره ده.چه شرط شوې نه ده په تقسیم کښې.نوکه لاره او لختې ددې (حصې) نه اړول ممکن وي. لَيْسَ لَهٗ اَنْ يَسْتَطْرِقَ نو هغه ته حق نشته.چه هغه د بل په حصه کښې لاره جوړه کړي. وَيسِيْلُ فِي نَصِيْبِ الْاٰخَر او د بل په حصه کښې لختې اوباسي (وَاِنْ لَمْ يُمْكِنْ فُسِخَتِ الْقِسْمَةُ) او که ممکن نه وي.نو تقسیم به فسخ کولې شي.

حل اللغة ① **المسیل**:د اوبو لاره،لختي ② **يستطرق**: لاره جوړول

تشريح قاضي د شریکانو په مینځ کښې تقسیم اوکړو.او د تقسیم په وخت ئې د لارې او د لختي هیڅ ذکر اونکړو.او حال دا دې.چه یو د بل کس په حصه کښې تیریږي.او د هغه په حصه کښې خپله نالئ بهیه وي.نو اوس به څه کیږي؟ نو وې فرمائیل.چه اوس دوه صورتونه دي① که هغه خپله لاره او نالئ خپله حصه کښې جوړولې شي.نو بیا اړول ضروري دي.②اوکه نشي جوړولې.یعنې دهغه حصه ددې برداشت نشي کولې.نو بیا به تقسیم فسخ کولې شي.او دوباره به تقسیمولې شي.ځکه چه دې صورت کښې د تقسیم مقصود کوم چه د منفعت پوره والې دې.حاصل نشو.
دلیله ځکه چه د تقسیم معنی جدا جدا کول او تفریق دې.او د جدا کیدو پوره والې دا دې.چه د هر یوکس د بل حصې سره هیڅ تعلق باقي پاتې نشي او ددې اثبات ممکن دې.د لارې او لختي اړولو سره.ددې غیر طرف ته.د ضرر نه بغیر نو اړولې به شي.هغې طرف ته

په پورتنۍ چت او لاندینۍ چت کښې د تقسیم طریقه

(وَاِذَا كَانَ سُفْلٌ لَاعُلُوَّ لَهٗ وَعُلُوٌّ لَاسُفْلَ لَهٗ او کله چه لاندینې منزل (کور) وي.چه ددې دپاسه بالاخانه نه وي.او بالاخانه وي.چه هغې دپاره لاندې منزل (کور) نه وي. وَسُفْلٌ لَهٗ عُلُوٌّ قُوِّمَ كُلُّ وَاحِدٍ عَلٰى حِدَتِهٖ او دغه شان لاندې منزل وي.چه هغې دپاره بالاخانه وي.نو د هر یو به جدا قیمت لګولې شي.

وَقِيَمٍ بِالْقِيمَةِ او د قيمت په ذريعه به تقسيم كولې شي وَلَا يُعْتَبَرُ بِغَيْرِ ذٰلِكَ) (١).او ددې نه د علاوه اعتبار به نشي كولې.

تشريح > د زيد او عمر اشتراك دي.عنى په رومبى كور كښې زيد او عمر پورتني منزل كښې شريك دى.او لاندينې منزل د بل چا دې.او په دويم كور كښې زيد او عمر په لاندينى منزل كښې شريك دى.او پورتنې منزل د بل چا دې.او په دريم كور كښې دواړه منزله (چتونه) شريك دى.اوس دوى دواړو د قاضي نه د تقسيم مطالبه اوكړله.نو قاضي به څه كوى؟
نو امام محمد رحمه الله فرمائي.چه د هر كور دې جدا جدا قيمت اولګولې شي.او د قيمت په اعتبار سره دې تقسيم كړې شي. او هم په دې فتوى ده.خو دلته ښكاره د عبارت نه دا معلوميږي.چه مطلقاً به د قيمت په اعتبار سره تقسيم كولې شي.خو په شامي او مجمع الانهر وغيره كښې صراحت دې.چه د عمارت قيمت به لګولې شي.او خالص د زمكې او صحن قيمت تقسيم به ګزونو(ناپ كولو) سره كولې شي.(ثم الإختلاف في الساحة وأما البناء فيقسم بالقيمة إتفاقاً كما في الجوهرة [شامي ص: ۱۶۷، ج: ۵، سكب الأنهر: ۲۳، ج: ۴، مجمع الأنهر ص: ۲۷، ج: ۴]

دليله > د امام محمد رحمه الله دليل دې.چه په لاندينى منزل (كور) كښې كوهى جوړيدې شي. تاخانه او اصطبل (د څاروو تړلو ځائي) جوړولې شي.چه دا په بالاخانه كښې نشي جوړيدې. او په تقسيم كښې برابري مقصود ده.او هركله چه په دې دواړو كښې ښكاره تفاوت دې.نو بيا د قيمت نه بغير برابري نشي كيدې.

مسلك الشيخين > په مذكوره مسئله كښې شيخين فرمائي چې په ګذونو سره به تقسيم كولې شي

دليلهما > دلته شراكت په زمكه او آبادئ كښې دې.قيمت كښې نه دې.او شراكت چه په كوم څيز كښې وى.تقسيم هم د هغې كول پكار دى.او صرف د اوسيدو په لحاظ دواړه منزلونه (كورونه) برابر دى.او په راحت (او آرام) كښې د تفاوت لحاظ نه دې ساتلې شوې.بهرحال تقسيم به ناپ سره كولې شي.په دې كښې د شيخينو رحمهما الله اتفاق دې.خو طريقه به كومه اختيارولې شى.په دې كښې د دواړو اختلاف دې.

د تقسيم نه روستو په شريكانو كښې د اختلاف مسئله

(وَإِذَا اخْتَلَفَ الْمُتَقَاسِمُونَ او كله چه شريكان تقسيمونكى خپل مينځ كښې اختلاف اوكړى فَشَهِدَ الْقَاسِمَانِ .اودوه تقسيمونكى ګواهي وركړى. قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمَا (٢)) نو ددوى ګواهي به قبلولې شي.

حل اللغة > ① **المتقاسمون**: جمع د متقاسم،تقسيم كونكى

تشريح > تقسيمونكو د شريكانو په مينځ كښې تقسيم اوكړو.اوس په شريكانو كښې اختلاف شو.په دوى كښې يوكس اووئيل.چه زما حصه ما ته نه ده رارسيدلې.حالانكه زما حصه په فلانئ كمره كښې هم وو.او دوه تقسيمونكو دا ګواهي وركړله.چه ده خپله حصه اخستې ده.نو آيا ددوى ګواهي به قبلولې

---

(١) القول الراجح هو هذا قول محمد رحمه الله كذا في بحر(٢٧٩\٨) ونصب (٢٧٢\٥) وملتقى الأبحر(١٣٣\٤) ومجمع الأنهر (١٣٣\٤) نقلاً عن القول الراجح (٢٨٠\٢)۔

(٢) القول الراجح هو هذا قول الشيخين كذا في ملتقى (١٣٣\٤) والدرالمنتقى (١٣٤\٤) والبحر (٢٨١\٨) نقلاً عن القول الراجح (٢٨١\٢)۔

شی؟ نو امام قدوری رحمه الله مطلقا اوفرمائیل.چه قبلولې به شي.یعنی په دې کښې اختلاف نه دې نقل کړې.ددې نه معلومیږي. چه د امام قدوری رحمه الله په نیز د خصاف رحمه الله قول معتبر دې.چه په دې کښې هم اختلاف نه کیدل ذکر دي.

دلیله د امام محمد رحمه الله دلیل دې.چه دلته تقسیمونکی پخپل فعل باندې ګواهي ورکوي. حالانکه پخپل فعل باندې ګواهي نه قبلیږي.لکه مثلاً زید اووئیل.که خالد نن یوه سیپاره تلاوت اوکړو.نو زما غلام آزاد دې.غلام د خپلې آزادۍ دعوه اوکړله.او خالد د یوې سیپارې وئیلو ګواهي ورکړله.چه غلام آزاد شي.نو د خالد ګواهي به معتبر نه وي.ځکه چه هغه پخپل فعل باندې ګواهي ورکړې ده.دغه شان به دلته هم ګواهي معتبر نه وي.

د شریك د غلط تقسیم دعوه کول

وَإِذَا ادَّعَى أَحَدُهُمَا الْغَلَطَ او کله چه په تقسیم کونکو کښې یوکس د غلطۍ دعوه اوکړله. وَزَعَمَ أَنَّهُ أَصَابَهُ شَيْءٌ فِي يَدِ صَاحِبِهِ او وې وئیل.چه په دې څیزونو کښې کوم چه ده ته رسیدلی دی.یو څیز ددهٔ د ملګرې په قبضه کښې دې. وَقَدْ أَشْهَدَ عَلَى نَفْسِهِ بِالْإِسْتِيفَاءِ حالانکه هغه پخپل نفس باندې د وصولولو اقرار کړې وو. لَمْ يُصَدَّقْ عَلَى ذٰلِكَ إِلَّا بِبَيِّنَةٍ نو په ده به ددې تصدیق نشي کولې.خو ګواهانو سره.

تشریح مثلاً یوکور د دریو سړو په مینځ کښې مشترك وو.هغوی تقسیم اوکړو.او پخپل خپل حق باندې ئې قبضه اوکړله.اوس په دوی کښې یوکس د غلطۍ دعوه کوي.او وائي.چه فلانۍ کمره هم زما په حصه کښې ده.نو دلته به دوباره تقسیم نشي کولې.خو مدعی نه به د غلطۍ ثابتولو دپاره د بینه قائمولو مطالبه کولې شي.که هغه ګواهان قائم کړل.نو ډیره ښه ده.ګنې دده په مطالبه به قاضي د نورو ګواهانو نه قسم اخلي.هغوی کښې یوکس قسم اوخوړلو.او یو انکار اوکړو.نو د مدعی او د منکر حصې به یوځائې جمع کولې شي.او ددوی دحصو په اندازه به دوباره تقسیمولې شي.او قسم خوړونکې به د مینځ نه خارجیږي.په [بدائع ص:۲۶ ج۷] باندې دا مسئله په واضحو الفاظو کښې تیره شوې ده.

د خصم قول به معتبر وي

وَإِنْ قَالَ قَدِ اسْتَوْفَيْتُ حَقِّي ثُمَّ قَالَ أَخَذْتُ بَعْضَهُ اوکه ده اووئیل.چه ما خپل حق وصول کړې وو.او تا د هغې نه څه واخستلو. فَالْقَوْلُ قَوْلُ خَصْمِهِ مَعَ يَمِينِهِ)نو سره د قسم نه به ددهٔ د خصم قول معتبر وي.

تشریح او د منکر قول سره د قسم نه معتبر وي.نو د خصم قول به معتبر نه وي.

دلیله ځکه چه هغه دده په غصب باندې دعوه کوي او هغه منکر دې.

د تقسیم په بعضې حصه باندې د عدم قبضې دعوه کول

(وَإِنْ قَالَ أَصَابَنِي إِلَى مَوْضِعِ كَذَا فَلَمْ يُسَلِّمْهُ إِلَيَّ اوکه ده اووئیل.چه زه ئې د فلانی ځائې پورې رسیدلې ووم.نو هغه ما ته رانکړو. وَلَمْ يَشْهَدْ عَلَى نَفْسِهِ بِالْإِسْتِيفَاءِ وَكَذَّبَهُ شَرِيكُهُ او هغه پخپل نفس باندې د وصولولو اقرار اونکړو.او د هغه شریك دده تکذیب اوکړو. تَحَالَفَا وَفُسِخَتِ الْقِسْمَةُ نو دواړه به قسم خوري.او تقسیم به فسخ کولې شي.

تشریح دلته مدعی د قبضې اقرار نه دې کړې.بلکه داسې ئې اووئیل.چه زما حصه دهغه ځائې پورې ده.چه دا ماته رانکړې شوه.او دویم شریك منکر دې.او دې دروغجن کوي.نو چونکه دلته په هغه مقدار کښې اختلاف دې.چه دا به تقسیم سره حاصلیږي.نو دا داسې شوه. لکه ځنګه چه بائع او مشتری د مبیع په مقدار کښې اختلاف اوکړي.نو په باب التحالف کښې د ذکر شوی حکم مطابق لکه ځنګه چه

بیع کښې د دواړو نه قسم اخستلې شي.او بیع فسخ کولې شي.دلته به هم تقسیم فسخ کولې شي.

د مستحق راوتلو مسئله

(وَإِن اُسْتُحِقَّ بَعْضُ نَصِيبِ أَحَدِهِمَا بِعَيْنِه) او کله چه په دوی دواړو کښې د یوکس معین بعضې حصه مستحقه راوخي. لَمْ تُفْسَخِ القِسمة عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ، وَرَجَعَ بِحِصَّةِ ذٰلِكَ مِنْ نَصِيبِ شَرِيكِه[1] نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز به تقسیم نشي فسخ کولې.او هغه به دخپلې حصې په اندازه د خپل ملګری په حصه کښې رجوع کوی. وَقَالَ أَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تُفْسَخُ القِسمة، او امام ابویوسف رحمه الله فرمائي.چه تقسیم به فسخ کولې شي.

حل اللغة> ① **معین:** معلوم② **شائع:** خور وور،

تشریح> د زید او خالد په مینځ کښې پوره کور مشترك وو.چه دا مثلاً درې سوه ګزه مربع دې.زید او خالد تقسیم اوکړو.نو د زید په حصه کښې د لارې د طرف حصه راغله.چه دا قیمتي وی.بهرحال د زید سل ګزه د خالد د دوو سوو ګزو برابر ده.د قیمت او مالیت په اعتبار سره.چه صورت ئې دا دې.چه دواړه پخپلو خپلو حصو باندې قابض شو.نو ساجد د قاضي په عدالت کښې د استحقاق دعوه اوکړله.او په دې ئې ګواهان پیش کړل.نو څومره چه دده استحقاق وو.هغه ساجد ته ملاو شو.اوس به د تقسیم څه حکم وی؟ نو دلته ددې بیان کوی.

الصور الثلاثة> خلاصه د کلام دا چه ددې درې صورتونه دی① ساجد د زید په حصه کښې صرف د یوې کمرې دعوه اوکړی.ددې حاصل دا دې.چه ساجد د زید په حصه کښې په یو معین جزء کښې دعوه کړې ده.چه دا ما په مذکوره نقشه کښې مستحق سره تعبیر کړې دې.

② ساجد د زید په حصه کښې د غیرمعین جزء دعوه اوکړی.یعنی اووائي.چه په دې کښې زما دریمه حصه ده.یا څلورمه حصه ده.وغیره.دا ما په مذکوره نقشه کښې مستحق ثلث سره تعبیر کړې دې.

③ ساجد دا دعوه اوکړی.چه په پوره کور کښې زما نصف دې.یعنی دده حصه څوره ده.د زید او خالد دواړو په حصو کښې.بهرحال دا درې صورتونه دی.

① د هر یو حکم جدا جدا دې.په رومبی صورت کښې به تقسیم نه فسخ کیږی.چه په دې د ټولو اتفاق دې.البته ساجد چه څومره حصه د زید نه اخستې ده.ددې حساب به هغه د خالد سره اوکړی.او د خپل حساب په اندازه به د خالد نه واپس اخلی.او د دوباره تقسیم حاجت به نه وی.② او په دریم صورت کښې به بالاتفاق تقسیم فسخ کولې شي.

الصورة الاختلافية> ③ او دویم صورت اختلافي دې.د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز به تقسیم نه فسخ کیږی.او د رومبی پشان به زید د خالد نه د خپل حساب په اندازه واپس اخلی.او د امام ابویوسف رحمه الله په نیز به تقسیم فسخ کولې شي.او امام محمد رحمه الله د اصح قول مطابق امام صاحب رحمه الله سره دې.دا اصل مسئله او په دې کښې د اختلاف تفصیل دې.

دلیلهما> د طرفینو رحمهماالله دلیل دې.فرمائي.زید، ساجد او خالد په یو کور کښې شریك دی.ددې په مخکښې حصه کښې د زید، خالد او ساجد دریو واړو اشتراك دې.او په روستنۍ حصه کښې صرف د زید او خالد اشتراك دې.په دې کښې د ساجد هیڅ حصه نشته.اوس زید او خالد تقسیم غواړی.چه په

---

[1] القول الراجح هوهذا قول ابي حنيفة رحمه الله كذا في (ملتقى الابحر (۱۳۵\٤) ومجمع الانهر (۱۳۵\٤) والدرالمنتقى (۱۳۵\٤) وردالمحتار (۱۸۷\٥) نقلاً عن القول الراجح (۲۸۲\۲)-

دي کبني دا فيصله اوشوه.چه په مخکښي حصه کبني خالد خپله حصه زيد ته ورکړله.او زيد ته ني د روستني حصي په خاني د نصف څلورمه ورکړله.نو اوس به صورت دا وي.چه په مخکښي نيمه کبني زيد او ساجد نيمه په نيمه شريك شو.او په روستني نيمه کبني د خالد ۳۱۴ او د زيد ۱۱۴ شوه.او دا مذکوره تقسيم بالکل صحيح دي.چه په دي کبني د جدا کيدو معنى موجود کيدل ضروري دي.نو هرکله چه ابتداء کبني دغه شان تقسيم کيدي شي.نو که په ابتداء کبني بعينه هم دا صورت راوخي.نو دا به ولي جائز نه وي.او دلته به جدا جدا کيدل ولي زائل کيږي.حالانکه کله چه دلته کبني د زيد په حصه کبني د ساجد استحقاق په جزء شائع کبني ثابت شو.بالکل هم دغه صورت دي.نو معلومه شوه.چه په دي صورت کبني د تقسيم معنى باقي ده.نو بيا به د تقسيم فسخ کولو ضرورت نه وي.نو لکه څنګه چه د معين جزء د استحقاق په صورت کبني د جدا جدا کيدو معنى موجود ده.دغه شان دلته هم موجود ده.

دليل ابي يوسف دا د امام ابويوسف رحمه الله دليل دي.ددي حاصل دا دي.که په دوارو حصوکبني د مستحق استحقاق په طريقه د شيوع وي.نو تقسيم به بالاجماع فسخ کيدو.ولي؟ څکه چه مستحق دريم شريك دي.او د شريك د رضامندئ نه بغير تقسيم شوي وو.چه دا د اصول مطابق فسخ کيږي.او بالکل هم دا صورت په جزء شائع کبني هم دي.نو دا تقسيم به هم فسخ کيږي.

المناسبة بينهما اوس پاتي شوه دا خبره چه په مقيس او مقيس عليه کبني څه مناسبت دي.نو په مذکوره صورت کبني به زيد د خالد په حصه کبني څلورمه په طريقه د شيوع (او حصه داري) اخلي.نو د تقيسم معنى يعني جدا جدا کيدل معدوم شو.نو بيا تقسيم څنګه باقي پاتي شو.او په متفق عليه صورت کبني چونکه استحقاق په جزء معين کبني دي.نو د زيد رجوع به هم په جزء معين کبني وي.نو د تقسيم معنى باقي ده.په دي وجه به بالاجماع تقسيم نه فسخ کيږي.

كِتَابُ الْإِكْرَاهِ

ترجمه (دا) کتاب د اکراه (په بيان کي) دي.

تشريح د عقد موالات په ذريعه د اعلى حال، حرمت نه حلت ارخ ته تبديليږي.مطلب دادي.که موالات نه وو.نو د مولا اسفل مال اخستل به حلال نه وو.کله چي عقد موالات اوشو.نو اوس دده لپاره دده مال اخستل حلال شو.بالکل هم دا خبره اکراه کي ده.چه په دي کي د مخاطب حال د حرمت نه حلت ارخ ته بدليږي.يعني دده لپاره چي د کوم شئ مباشرت د اکراه نه وړاندي حرام وو.هغه د اکراه نه روسته حلاليږي.په دي وجه ني د موالات نه روسته کتاب الاکراه ذکرکړي دي.

د اکراه لغوي او اصطلاحي تعريف

اَلْإِكْرَاهُ يَثْبُتُ حُكْمُهُ إِذَا حَصَلَ مِمَّنْ يَقْدِرُ عَلَى إِيقَاعِ مَا يُوعَدُ بِهِ سُلْطَانًا كَانَ أَوْ لِصًّا د اکراه حکم ثابتيږي.کله چي حاصل شي.د هغه کس نه چي قادر وي.د هغې پر واقع کولو باندې،د کوم څه ني چي دهمکي ورکړي ده.بادشاه وي.او که غل وي.

تشريح **الاكراه لغة** اکراه په لغت کي د يو کس مجبوره کول او په نا خوښه کار باندي راضي کولو ته واني.

الاكراه اصطلاحا په اصطلاح د فقهاؤ کي اکراه هغه فعل دي.چه هغه سړي د بل په سبب سره داسي اوکړي.چه د هغه رضامندي ختمه شي.يا د هغه اختيار فاسد شي.

اقسامه د اکراه دوه قسمونه دي. ① اکراه ملجئ (کامل اکراه) اکراه ملجئ هغه ده.چه هغې کي مکره

نه د خپل ځان یا د یو اندام هلاکیدو خطره وی.لکه د قتل یا د لاس کټ کولو وغیره دهمکی ورکول.په دې صورت کښې دمکره رضامندی فوت کیږی.اواختیار فاسدیږی.② اکراه غیر ملجئ:(اکراه قاصر)،اکراه غیر ملجئ هغه دې.چه هغې کښې د ځان یا اندام هلاکیدلو خطره نه وی.بلکه صرف رضامندی فوت کیږی.لکه د قید دهمکی ، یا د وهلو وغیره دهمکی ور کولو په صورت کښې .نو د رضا فوت کیدل د اختیار د فساد نه عام دې.ځکه چې مقابل د رضا کراهت دې.او مقابل د اختیار جبر (زبردستی) دې.او د قید کولو او د وهلو ټکولو په اکراه کښې بلا شبه اکراه موجود ده.نو رضا معدوم شوه.خو اختیار سره د وصف د صحت نه موجود دې.ځکه چې اختیار هغه وخت فاسدیږی.کله چې د ځان یا د یو اندام فوت کیدلو خطره وی.نو اکراه ملجئ به هغه تصرفاتو کښې موثر وی.په کومو کښې چې د رضا حاجت وی.لکه بیع، اقرار، او اجاره وغیره.او اکراه ملجئ په ټولو تصرفاتو کښې موثر وی.

فائدة> که اکراه ملجئ وی.او که غیر ملجئ وی.په دواړو صورتونو کښې نه په دې سره د مکره اهلیت باطلیږی.او نه دده نه نطاب(کم عقل توب) وضع کیږی. ددې دلیل دادې.چه د مکره افعال په فرض، خطر و اباحت، او رخصت کښې مختلف کیږی.او کله دې ګناهګاریږی.او کله مستحق د اجر او ثواب وی.مثلاً په ده باندې د نفس قتل، لاره کښې شوکه کول،او زنا وغیره حرام ده.نو هغه به ددې په مباشرت (او په دې باندې عمل کولو) سره ګناهګاریږی.او که منع شی.نو ثواب به ملاویږی.دغه ډول دده لپاره د مرداریې خوړلو ، او د شرابو څښلو اباحت دې.او د کلمهٔ کفر وئیلو رخصت دې.شیخ فخرالاسلام بزدوی رحمه الله په خپلو اصولو کښې یو دریم ډول بل هم ذکرکړې دې.او هغه دا چې پلار یا خوئې یا هغه څوک چې ددوی قائم مقام وی.د هغه د قید کولو دهمکی ورکړی. (وكأنه لم يجعله من أقسام الإكراه لعدم ترتب أحكامه عليه).

شرط تحقق الاكره> د اکراه د تحقق لپاره دوه شرطونه دی : ① مکره په هغه امر باندې قادر وی.د کوم چې هغه یره ورکوی.که هغه د وخت بادشاه وی.او که غل وی.یا بل څوك وی.د امام صاحب رحمه الله نه چې یو روایت دادې.چه اکراه د بادشاه نه بغیر بل څوك نشی کولې.دا د هغوی د زمانې په لحاظ سره دی.چه هغه زمانه کښې به داسې قدرت صرف بادشاه ته حاصل وو.نن سهار دا خبره نشته.نن سهار خو د هر فساد کونکی نه اکراه کیداې شی.لکه څنګه چې د صاحبینو رحمهما الله قول دې.او هم په دې فتوی ده. ② مکره ته ددې خبرې غالب ګمان وی.چه مکره د کومې خبرې دهمکی ورکوی.هغه به دا خامخا کوی.

د اکراه د احکامو تفصیل

وَإِذَا أُكْرِهَ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ مَالِهِ کله چې مجبوره کړې شو.یو سړی د خپل مال په خرڅولو ، أَوْعَلَى شِرَاءِ سِلْعَةٍ یا د یو سامان په اخستلو ، أَوْعَلَى أَنْ يُقِرَّ لِرَجُلٍ بِأَلْفٍ دِرْهَمٍ یا د چا لپاره د زرو(درهمو) په اقرار کولو، أَوْيُؤَاجِرَ دَارَهُ وَأُكْرِهَ عَلَى ذَلِكَ بِالْقَتْلِ أَوْبِالضَّرْبِ الشَّدِيدِ أَوْبِالْحَبْسِ یا دخپل کور په کرایه ور کولو باندې، په قتلولو یا سختو وهلو یا د قید کولو په دهمکئ سره، فَبَاعَ نو هغه خرڅ کړو، أَوْاشْتَرَى فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَمْضَى الْبَيْعَ نو هغه ته اختیار دې.که غواړی.بیع دې جائز اوساتی.وَإِنْ شَاءَ فَسَخَهُ او که غواړی.ماته دې کړی.وَرَجَعَ بِالْمَبِيعِ)او مبیع دې واپس واخلی.

تشریح> یو سړی لره په دهمکئ د قتل، یا په زبردستو وهلو ټکولو، یا اوږدې زمانې پورې په قید کولو د یو شئ په خرڅولو، یا اخستلو یا اقرار کولو باندې مجبورکړې شو.او هغه دا شئ خرڅ کړو.یا

ئې واخستلو.يا ئې دهغې اقرار اوكړو.نود اكراه د زوال نه روسته هغه ته اختيار دې.كه غواړي.دا عقود دې نافذ كړي.او كه غواړي.فسخ دې كړي.ددې قاعده كليه داده.چه زمونږ په نيز د مكره واره تصرفات د قول په لحاظ سره منعقد كيږي.اوس په كومو عقودو كې چې فسخ احتمال شته.لكه بيع او اجاره وغيره، هغه دې فسخ كولې شي.او په كومو عقودو كې چې د فسخ احتمال نشته.لكه طلاق، نكاح، عتاق، تدبير، استيلاد، نذر وغيره، هغه دې نشي فسخ كولې.بلكه هغه لازميږي.البته د آئمه ثلاثه ﷺ په نيز نه لازميږي.

دليله> يعنى په اكراه ملجئ سره رضاء معدوم كيږي.حالانكه ددې عقودو د صحت شرط دادې.چه خپل منځ كې رضامندي موجود وي.لكه د الله تعالى ارشاد دې﴿لَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ﴾ او ذكر شوى دهمكيانو سره اكراه كولوكې رضامندى ختميږي.نو عقد به فاسد وي.څكه چې د شرط نه موجود كيدلو په وجه د مشروط هم نفي كيږي.

په حقوق العباد كښې د اكراه حكم

فَإِنْ كَانَ قَبَضَ الثَّمَنَ طَوْعًا بيا كه مكره په خوشحالئ سره ثمن باندې قبضه اوكړله.فَقَدْ أَجَازَ الْبَيْعَ)نو د بيع اجازت ئې وركړو.

تشريح> كه مكره خرخ كړو، د زبردستئ په وجه، او ددې قيمت ئې په خوشحالئ واخستلو.نو په خوشحالئ قيمت اخستل، بيع نافذ كول،او ددې نه راضى كيدل دى.

دليله> څكه چې ثمن په خوشحالئ قبلول د اجازت دليل دې.لكه په بيع موقوف كې د مالك په ثمن باندې قبضه كول،دلالةً اجازت وي.او كه اكراه صرف په عقد د بيع باندې وي.د مبيع په سپارلو باندې نه وي.او هغه مبيع په خوشحالئ اوسپاري.نودا هم دليل د اجازت دې.

(وَإِنْ كَانَ قَبَضَهُ مُكْرَهًا او كه ثمن باندې ئې قبضه د مجبورئ نه اوكړله.فَلَيْسَ بِإِجَازَةٍ نو اجازت نه دې.وَعَلَيْهِ رَدُّهُ إِنْ كَانَ قَائِمًا فِي يَدِهِ)او په ده باندې واپس كول واجب دى.كه دده سره قائم وي.

تشريح> اوكه بائع ثمن باندې قبضه د مجورئ نه اوكړله.نودا به اجازت نه وي.اوپه ده به واپس كول واجب وي.كه هغه دده سره په دې حالت كې موجود وي.څكه چې د اكراه په وجه عقد فاسد دې.او كه ثمن هلاك شوې وي.نو دده به هيڅ نشي اخستلې.

دليله> څكه چې مكره سره دا ثمن امانت وو.څكه چې ده هغې باندې د مشترى په اجازت سره قبضه كړې وه.او كله چې قبضه په اجازت د مالك وي.نو هغه موجب د ضمان هغه وخت وي.كله چې قبضه د تملك لپاره وي.حالانكه دلته كې بائع ثمن باندې قبضه تملك لپاره نه ده كړې.څكه چې هغه خو ددې په قبضه كولو مجبور وو.نو ثمن دده سره امانت شو.او د امانت په ضائع كيدلو سره ضمان نه راځي.

وَإِنْ هَلَكَ الْمَبِيعُ فِي يَدِ الْمُشْتَرِي او كه مبيع هلاك شو.مشترى سره.وَهُوَغَيْرُ مُكْرَهٍ حالانكه هغه مكره نه دې.ضَمِنَ قِيمَتَهُ نو هغه به ددې د قيمت ضامن وي.

تشريح> بائع په زبردستئ يو شئ خرخ كړو.او مشترى هغه د زبردستئ نه بغير واخستلو.بيا هغه مشترى سره هلاك شو.نو مشترى به بائع ته ددې د قيمت تاوان وركوى.

دليله> څكه چې دمكره بيع فاسد ده.او بيع فاسد كې هم مبيع مشترى باندې مضمون وي.

(وَلِلْمُكْرَهِ أَنْ يُضَمِّنَ الْمُكْرِهَ إِنْ شَاءَ)او مكره لپاره اختيار دې.كه غواړي.مكره نه تاوان واخلي.

تشريح بائع په زبردستئ يو شئ خرڅ کړو.او مشتري هغه د زبردستئ نه بغير واخستلو.بيا هغه مشتري سره هلاك شو.نو مشتري به بائع ته ددې د قيمت تاوان ورکوي.

دليله ځکه چې دمکره بيع فاسد ده.او بيع فاسد کې هم مبيع مشتري باندې مضمون وي.خو مکره ته دا اختيار هم شته.چه چا په ده باندې زبردستي کړې وه.هغه نه د قيمت تاوان واخلي.ځکه چې د ترکومه پورې د هلا کولو معنى موجود وي.هلته کې مکره (مجبور) ددې مکره آله وي.(اګرچه د کلام کيدلو په حيثيت سره هغه آله نه ده) (لأن التكلم بلسان الغير لايصح) نو ګويا مکره د بائع (مکره) مال مشتري ته ورکړو.نو مکره ته اختيار دې.چه مکره او مشتري دواړو کې د چا نه غواړي.تاوان واخلي.

په حقوق الله کښې د اکراه حکم

وَإِنْ أُكْرِهَ عَلَى أَنْ يَأْكُلَ الْمَيْتَةَ أَوْيَشْرَبَ الْخَمْرَ،که مجبور کړې شو.په مردار خوړلو يا شراب څښلو باندې، فَأُكْرِهَ عَلَى ذٰلِكَ بِحَبْسٍ أَوْضَرْبٍ أَوْقَيْدٍ،په قيد کولو يا وهلو، يا د هتکړئ په اچولو دهمکي ور کولو سره، لَمْ يَحِلَّ لَهُ إِلَّا أَنْ يُكْرَهَ بِمَا يَخَافُ مِنْهُ عَلَى نَفْسِهِ أَوْعَلَى عُضْوٍ مِنْ أَعْضَائِهِ،نو حلال به نه وي.مګر دا چې مجبور کړې شي.په داسې دهمکئ سره، چې هغې سره خطره وي.د خپل ځان يا د يو اندام، فَإِذَا خَافَ عَلَى ذٰلِكَ،کله چې ددې يره وي. وَسِعَهُ أَنْ يُقْدِمَ عَلَى مَا أُكْرِهَ عَلَيْهِ)نو ګنجائش شته.چه وراوړاندې شي هغه شئ ته په کوم چې مجبور کړې شوې دې.

تشريح يوسړې د خنزير يا د مردار د غوښې په خوړلو، يا د شرابو او وينې څښلو باندې د جيل او وهلو او د قيد کولو او بندولو يره او دهمکي ور کولو باندې مجبور کړې شو.نو هغه لپاره ددې څيزونو خوراك صحيح نه دې.

دليله ځکه چې ددې محرماتو د خوراك اباحت د اړتيا په وخت دې.او اړتيا هغه وخت ده.چه کله د ځان يا د يو اندام د هلاکت يره وي.نو که يو کس د نفس قتلولو يا د يو اندام کټ کولو يره ورکړله.او مجبوره ئې کړو.نو په دې صورت کې دده لپاره خوراك حلال دې.

(وَلَا يَسَعُهُ أَنْ يَصْبِرَ عَلَى مَا تُوُعِّدَ بِهِ،او ددېجزء : ګنجائش به نه وي.چه په دې باندې صبر اوکړي.د کومې چې دهمکي ورکړې شوې ده. فَإِنْ صَبَرَ حَتّٰى أَوْقَعُوا بِهِ وَلَمْ يَأْكُلْ که ده صبر اوکړو.تردې چې هغه داسې اوکړل.او ده او نخوړل. فَهُوَ آثِمٌ)نو ګنهګار به وي. لِأَنَّهُ لَمَّا أُبِيحَ ځکه چې هرکله دا شئ جائز کړې شو.

تشريح که هغه ئې اونه خوري.او صبر اوکړي.او د ځان قرباني ورکړي.نو ګناهګار به وي.

دليله په منع کيدلو سره پخپل ځان هلا کولو باندې د غير مددګار (او معاون) شو. نو ګنهګار به وي.لکه څنګه چې په حالت د مخمصه (سخته لوګه) کې کيږي.

مکره لپاره کلمه دکفر او د نورو ګستاخو کلماتو ويلو حکم

(وَإِنْ أُكْرِهَ عَلَى الْكُفْرِ بِاللّٰهِ تَعَالٰى أَوْسَبِّ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَيْدٍ أَوْحَبْسٍ أَوْضَرْبٍ که مجبور کړې شو د الله تعالىٰ په انکار کولو باندې، والعياذ بالله، يا رسول الله ﷺ ته په ښکنځلو (او بد رد وئيلو) باندې، د هتکړو، يا قيد، يا د وهلو دهمکي ور کولو سره، لَمْ يَكُنْ ذٰلِكَ إِكْرَاهًا حَتّٰى يُكْرَهَ بِأَمْرٍ يَخَافُ مِنْهُ عَلَى نَفْسِهِ أَوْعَلَى عُضْوٍ مِنْ أَعْضَائِهِ)نودا به اکراه نه وي.تردې چې مجبور نکړې شي.په داسې دهمکئ سره، چې هغې سره يره وي د ځان، يا د يو اندام.

تشريح که یو مسلمان د قید و بند او د وهلو ټکولو په دهمکئ سره د کفر کلمې په وئیلو،او د نبی کریم ﷺ په شان مبارك كې ګستاخانه الفاظ اوښکلو باندې مجبور کړې شو.نودا اکراه نه ده.

دليله ځکه چې هرکله په قید وبند وغیره سره د شرابو په څښلو کې اکراه نه کیږي.نو کفر کوم چې په حرمت کې دهغې نه سخت دې.هغې کې به په طریق اولی اکراه نه وی.

(فَإِذَاخَافَ عَلَىٰ ذَٰلِكَ نو هرکله چې ددې خطره وی. وَسِعَهُ أَنْ يُظْهِرَمَـا أَمَرُوهُ بِهِ نو ګنجائش شته.چه ښکاره کړی.هغه د کوم چې دوی حکم کړې دې. وَيُوَرِّي،او توريه اوکړی. فَإِنْ أَظْهَرَذَٰلِكَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ که هغه دا ښکاره کړله.په داسې حالت کې ،چه دده زړه په ایمان سره مطمئن دې. فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ) نو په دد به ګناه نه وی.

تشريح البته که د نفس قتل،یا د یو اندام د پرې کولو په وجه د کفر کلمې وئیلو باندې یا د نبی کریم ﷺ په شان کې په بد رد(او کنځلو) وئیلو باندې مجبور کړې شو.نو دده لپاره د توریه په طور پخپله ژبه د وئیلو ګنجائش شته.په دې شرط چې دده زړه په ایمان مطمئن وی.

دليله د عمار ﷺ حديث دې أخذ المشركون عمار بن ياسر فلم يتركوه حتى سب النبي ﷺ و ذكر الهتهم بخير ثم تركوه فلما أتى رسول الله ﷺ قال له ﷺ ما وراءك قال: شر يا رسول الله ﷺ ما تركت حتى نلت منك و ذكرت الهتهم بخير قال: فكيف تجد قلبك قال: مطمئنا بالإيمان قال: فإن عادوا فعد[1] یعنی عمار بن یاسر ﷺ مشرکانو اونیولو.او ترکومه پورې چې هغه د هغوی د بتانو تعریف او د نبی کریم ﷺ بد رد نه ووکړې.هغه وخته پورې هغوی هغه پرې نخودلو.هغه د نبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شو.واقعه ئې بیان کړله.نبی کریم ﷺ پوښتنه اوکړه.هغه وخت ستا د زړه څه حالت وو؟ عرض ئې کړل، ائې د الله رسوله ﷺ ! زما په زړه کې ایمان مضبوط وو.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.که مشرکان بیا داسې اوکړی.نو ته هم دغه ډول کوه،،

(فَإِنْ صَبَرَحَتَّىٰ قُتِلَ اوکه ده صبر اوکړو.تردې چې قتل کړې شو. وَلَمْ يُظْهِرِالْكُفْرَ خو ده کفر ښکاره نکړو. كَانَ مَأْجُورًا) نو هغه ته به اجر ملاویږی.؛

تشريح د ذکرشوې توریۀ عقلی دلیل دې.ددې تقریر دادې.چه ایمان د ژبې د اقرار او د زړه د تصدیق نوم دې.چه ددې رکن اصلی تصدیق دې.کوم چې په مذکوره صورت کې قائم دې.نو په داسې ښکاره کولو سره ایمان په حقیقت کې نه فوت کیږی.او په منع کیدلو کې حقیقت کې د ځان (نفس) تللو خطره وی.په دې وجه د کفر ښکاره کولو ګنجائش شته.خو که هغه په دې حالت کې صبر اوکړی.او په ژبه کلمه د کفر اونه ګرځوی.نو د ثواب مستحق به وی.

دليله په صبر کولو باندې د اجر مستحق کیدلو عقلی دلیل دا دې.چه دکفر د قباحت په وجه حرمت باقی دې.نو هغه اکراه باندې صبر کولو سره د محرم شرعی نه ځان ساتونکې او د شرعی نهی تعمیل کونکې شو.اود دین د اعزاز په خاطر د کلمهٔ کفر ښکاره کولو نه منع کیدل د مضبوطې حوصلې د میړه دې.او په دې کې هیڅ شك نشته.چه د رخصت اختیارولو په نسبت عزیمت باندې عمل کول

[1]) من حديثه اخرجه الحاكم في المستدرك في تفسير سورة النحل (۲\۳۵۷)۔

افضل دی.په خلاف د مرداري خورلي، اود شرابو څښلو ،چه په دي کي د استثناء دِالَّامَا اضْطُرِرْتُمْ اِلَيْهِ)
په وجه اباحت اوشو.

مکره لپاره مسلمان ته د نقصان رسولو حکم

وَاِنْ اُكْرِهَ عَلَى اِتْلَافِ مَالِ مُسْلِمٍ بِاَمْرٍ يَخَافُ مِنْهُ عَلَى نَفْسِهِ اَوْعَلَى عُضْوٍ مِنْ اَعْضَائِهِ كه مجبور كړي شو.د يوكس مال هلاكولو باندي،په داسي دهمكۍ سره چي هغې سره خطره وي.د خپل خان يا د يو اندام، وَسِعَهُ اَنْ يَفْعَلَ ذٰلِكَ)نو ګنجانش شته.چه اوكړي.

تشريح> كه د نفس په قتلولو يا د يو اندام كټ كولو په دهمكۍ سره د يو مسلمان مال هلاكولو باندي مجبور كړي شو.نو دده لپاره د داسي كولو ګنجانش شته.

دليله> ځكه چي د ارتيا په وجه د غير مال جائز كيږي.لكه څنګه چي په حالت د مخمصه (د سختي لوګه) كي كيږي.او دلته كي هم ارتيا متحقق شو.چه خان بچ كول دي.نود غير مال هلاكولي شي.اوكه هلاك ني نكړي.بلكه په تكليف باندي صبر اوكړي.نو ثواب به ملاويږي.

وَلِصَاحِبِ الْمَالِ اَنْ يُضَمِّنَ الْمُكْرِهَ)اود مال مالك ته اختيار دي.چه مكره نه تاوان واخلي.

تشريح> بيا د مال مالك لكه څنګه چي د مكره نه تاوان اخستي شي.هم دغه ډول هغه د مكره نه هم اخستي شي.

دليله> ځكه چي دا وراندي معلومه شوه.چه افعالو كي فاعل د حامل لپاره آله كيداي شي.او مال هلاكول هم د افعالو د قبيلي څخه دي.نو ګويا مكره د مكره په ذريعه د فلانی مال هلاك كړو.نو هغه د مكره نه تاوان اخستي شي.

مکره لپاره د قتل کولو حکم

(وَاِنْ اُكْرِهَهُ بِقَتْلٍ عَلَى قَتْلِ غَيْرِهِ كه مجبور كړي شو د قتل په دهمكۍ سره.د بل كس په قتلولو باندي.لَمْ يَسَعْهُ اَنْ يُقْدِمَ عَلَيْهِ نو هغه لپاره ګنجانش نشته.چه د هغه په قتل باندي اقدام اوكړي.وَيَصْبِرُ حَتّٰى يُقْتَلَ بلكه صبر دي اوكړي.تردي چي پخپله قتل كړي شي.فَاِنْ قَتَلَهُ كه هغه نې مسلمان كرو.كَانَ آثِمًا)نو ګناهګار به وي.

تشريح> او كه د نفس قتلولو په دهمكۍ سره د يو مسلمان په قتل باندي مجبور كړي شو.نو هغه ته د قتلولو ګنجانش نشته.كه قتل ني كړي.نو ګناهګار به وي.

دليله> ځكه چي مسلمان قتلول په هيڅ حالت كي هم جائز نه دي.

وَالْقِصَاصُ عَلَى الَّذِي اكرهه اِنْ كَانَ الْقَتْلُ عَمْدًا)او قصاص به په هغه چا وي چي هغه زور كړي وي كه قتل عمداً وي.

تشريح> په دي وجه كه ده په قصد سره قتل كړو.نو په اكراه كونكي باندي به قصاص وي

دليله> دليل دادي.چي دي مكره په حقيقت كښي قتل نه دي كړي دي خو مجبوره كړي شوي دي لكه چي دي د تيره آله په ځاني استعمال شوي دي او قاعده دا د چي څوك آله د قتل استعمال كړي په هغه باندي قصاص وي

د مکره د طلاق او اعتاق حکم

وَاِنْ اُكْرِهَ عَلَى طَلَاقِ امْرَاَتِهِ كه مجبور كړي شو د خپلي ښځي په طلاق وركولو، اَوْعِتْقِ عَبْدِهِ يا د

خپل غلام په آزادولو، فَفَعَلَ او هغه اوكړل.وَقَعَ مَا أُكْرِهَ عَلَيْهِ نو واقع كيږي به هغه په كوم چې دې مجبور كړې شوې دې.

تشريح ﴿ كه بنځې ته به طلاق وركولو يا د غلام په آزادولو باندې مجبور كړې شو.او هغه طلاق وركړو.يا ئې غلام آزاد كړو.نو دا امور واقع كيږي.ددې تفصيل په كتاب الطلاق كې تير شوي دي.

(وَيَرْجِعُ عَلَى الَّذِي أَكْرَهَهُ بِقِيمَةِ الْعَبْدِ)او رجوع به كوي په هغه كس باندې چاچه دې مجبور كړې دې.د غلام په قيمت،

تشريح ﴿ د آزادئ په صورت كې به مكرَه د اكراه كونكي نه د غلام قيمت اخلي.

دليله ﴿ ځكه چې د هلاكت په حق كې مكرَه د اكراه كونكي آله كيداې شي.نو هلاكت به هم هغه ارخ ته منسوب كيږي.او دا ضمان چونكه ضمان د هلاكت دې.چه دا په مالدارئ او غريبئ سره نه مختلف كيږي.په دې وجه به د غلام قيمت اخلي.كه اكراه كونكې توانگر او كه غريب وي.

(وَيَرْجِعُ بِنِصْفِ مَهْرِ الْمَرْأَةِ إِنْ كَانَ قَبْلَ الدُّخُولِ،اود اكراه كونكي څخه به د بنځې نصف مهر واپس اخلي.كه طلاق د صحبت نه وړاندې وي

تشريح ﴿ او د طلاق په صورت كې به د اكراه كونكي نه د مهرمسمى نصف اخلي.په دې شرط چې طلاق د دخول نه وړاندې وي.

دليله ﴿ وجه داده.چه په ميړه كوم مهر واجب وو.نو هغې كې د ساقطيدلو احتمال وو.يعنى (كيداې شي) فرقت (او جدائي) د بنځې د اړخه واقع شي.خو كله چې طلاق واقع شو.نو مهر مؤكد شو.نو د مال دا هلاكت به اكراه كونكي اړخ ته منسوب وي.او مكرَه به دده نه د نصف مهر اخستلو حقدار وي.

حكم صورة الوطي ﴿ خو كه هغه وطى كړې وي.نو د اكراه كونكي نه هيڅ هم نشي اخستلې.ځكه چې اوس مهر د وطى په وجه مؤكد شوي دې.د طلاق په وجه نه دې مؤكد شوې.نو صرف د ملك نكاح هلاكت باقي پاتې شو.او ملك د نكاح (په وخت د وتلو) مال نه دې.او كوم شئ چې مال نه وي.د هغې ضمان مال سره نه كيږي.

(وَإِنْ أُكْرِهَ عَلَى الزِّنَا كه يوكس په زنا باندې مجبور كړې شو.وَجَبَ عَلَيْهِ الْحَدُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو په مكره به حد واجب وي.د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز..

تشريح ﴿ كه يوكس په زنا كولو باندې مجبور كړې شو.او هغه زنا اوكړله.نو د امام ابوحنيفه او امام زفر رحمهما الله په نيز به په ده باندې حد د زنا واجب وي.

دليله ﴿ ځكه چې سړي اړخ ته د زنا تصور د آلې منتشر كيدلو نه بغير نه كيږي.او د آلې انتشار د لذت نه بغير نه كيږي.او لذت كيدل د خوشحالئ په طور د كولو دليل دي.

(إِلَّا أَنْ يُكْرِهَهُ السُّلْطَانُ،خو كه ده لره بادشاه مجبور كړو.(نو حد به نه وي).وَقَالَا صاحبين رحمهما الله فرمائي.لَا يَلْزَمُهُ الْحَدُّ) چې په ده به حد لازم نه وي.

تشريح ﴿ البته كه په دې فعل باندې مجبور كونكې بادشاه وي.نو حد به واجب نه وي.

دليله ﴿ ځكه چې د حد وجوب د زجر لپاره وي.او اكراه سره ددې ارتيا نشته.نو په دې فعل سره دده مقصد خپل هلاكت لرې كول دي.شهوت پوره كول نه دي.نو دا اسقاط به په حد كې شبه جوړيږي.پاتې شو د آلې انتشار، نو هغه كله كله طبعى طور باندې هم كيږي.لكه د اوده سړي د آلې انتشار د ارادې

او اختیار نه بغیر کیږي.بیا د بادشاه استثناء د امام ابوحنیفه رحمه الله په مرجوع الیه قول کې دی.د مخکښې قول مطابق اکراه کونکې که بادشاه وي.او که دده نه علاوه بل څوك وي.په دواړو صورتونو کې حد واجب دي.د صاحبینو رحمهماالله په نیز دواړو صورتونو کې حد واجب نه دي.

مکره په مرتد کیدلو باندې د مجبوره ښځو حکم

وَإِذَا أُكْرِهَ عَلَى الرِّدَّةِ که مجبور کړې شو په مرتد کیدلو باندې، لَمْ تَبِنْ امْرَأَتُهُ مِنْهُ)نو دده ښځه به بائنه نه وي.

تشریح نفس مسئله آسانه ده.

دلیله ځکه چې د ردت تعلق اعتقاد سره دي. آیا نه ګوري. که دده زړه په ایمان مطمئن وي. نو نه کافر کیږي. او دلته د کفره اعتقاد کې شك دي. نو د شك په وجه بائنه کیدل به نه ثابتیږي.

كِتَابُ السِّيَرِ

ترجمه (دا) کتاب د جهاد (په بیان کښې) دې.

تشریح **تعریف السیرلغة** السیرجمع د «سیرة» ده.اودا طریقې ته وائي په کارونو کښې، (یعنی کارونه چه په کومه طریقه باندې کولی شی.هغې ته «السیرة» وائی).

تعریف السیر شرعاً اوپه شریعت کښې خاص دي په طریقې دنبی ﷺ پورې په غزواتو خپلو کښې، (یعنی نبی ﷺ چه په کومه طریقه جهاد کړې دي.هغه طریقې ته سیرة وائی)

دجهادحکم

الْجِهَادُ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ إِذَا قَامَ بِهِ فَرِيقٌ مِنَ النَّاسِ سَقَطَ عَنِ الْبَاقِينَ)

ترجمه و تشریح جهاد (په عامو حالاتو کښې) فرض کفایه دی.کله چه اودریږی په دې باندې یوه ډله دخلقونه،نوساقطیږی د نورو نه(یعنی جهادفرض کفایه دي.ځکه چه د فرض کفایه تعریف دا دي.چه په مسلمانانو کښې یوه ډله هغه کوی.نود ټولوغاړه خلاصه وی.اوکه څوك ئې هم نه کوی .نوټول به ګناهګاروی.لکه دجنازې مونځ راواخله.په متن کښې دوه خبرې دی.یوه دا چه جهاد فرض دي. اوبله دا چه علی الکفایه دي.

دلائله ① دالله تعالی د دې ارشاد دوجې چه ﴿وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً﴾ جنګیږی مشرکانو سره تاسو ټول لکه څنګه چه جنګیږی دوئ تاسو سره ټول، (نواصل په کتاب الله سره د جهاد فرضیت ثابت دي.

② نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی) الْجِهَادُ مَاضٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ } (۱) جهاد به جاری وی ترقیامته پورې

دجهاد پریښودو ګناه

(فَإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ أَثِمَ جَمِيعُ النَّاسِ بِتَرْكِهِ)

۱) من حدیث انس ﷺ اخرجه ابوداو فی الجهاد باب ۳۳رقم ۲۵۳۲،

ترجمه و تشریح ﴿ اوکه اهتمام اونکړلوددې(جهاد) هیڅ کس(په مسلمانانوکښې) نو ګناهګاریږی ټول خلق په پریخودو ددې (جهادچه فرض کفایه دې)

دلائله ﴿ ① ځکه چه وجوب په ټول(خلقو) دې. (اوپه ترک د واجب ګناه لازمیږی.اودویم دلیل ددې دفرض کفایه دپاره دا بیانوی)

② ځکه چه مشغول کیدو د ټولو(خلقو) په دې (جهاد) کښې ختمیدل د سامان د جهاد دې.لکه اسونه،اووسله شوه، (نوهرکله چه سامان اوآلات د جهاد ختم شی.نولازمی خبره ده.چه جهادبه په څه کیږی؟ددې وجې ضروری ده.چه څه مسلمان په جهاد کښې مشغول وی.اوځه کسان په هغه کارونوکښې مشغول وی.چه دجهاد دپاره داسبابواوذرایعو حیثیت لری. لکه په موجوده وخت کښې سائنسی علوم،اقتصادی علوم وغیره شول.هرکله چه د جهاد اسبابو او آلاتو پیدا کول هم ضروری دی.اوبعضې خلقوپه دې کښې مشغول کیدل ضروری دی.نونتیجه دا راووتله. چه) واجبیږی (جهاد) علی الکفایه، (یعنی چه بعضې مسلمانان په کښې مشغول وی.نود نوروغاړه خلاصه شوه)

داقدامی جهاد حکم

(وَقِتَالُ الْكُفَّارِ وَاجِبٌ) وَإِنْ لَمْ يَبْدَءُوْنَا

ترجمه و تشریح ﴿ اوجنګ کول د کافرانوسره واجب دې اګرچه هغوی حمله نه وی کړې په مونږ باندې(یعنی کله چه کافران د اسلام قبلولواودجزیه ورکولونه انکاراوکړی.نوددې نه پس دوئ سره جهاد کول واجب دی. اګر چه ددې دواړوخیزونو نه منلونه پس هغوئ په مسلمانانوحمله نه وی کړې)

دلیله ﴿ د جهاد په فرضیت چه کوم آیاتونه اواحادیث راغلی دی.لکه دالله تعالی قول چه جنګیږئ کافرانوسره ټول، دغه شان نبی ﷺ فرمائیلی دی.جهاد به ترقیامته پورې جاری وی.اوددې بیان په کښې نشته.چه هله په تاسوجهاد لازمیږی.چه کافران په تاسو حمله اوکړی. نو ددې نصوصودعموم دوجې اقدامی جهادهم جائز دې)

په چاچه جهادفرض نه دې

(وَلَا يَجِبُ الْجِهَادُ عَلَى صَبِيٍّ)

ترجمه و تشریح ﴿ اونه واجبیږی (جهاد) په ماشوم باندې

دلیله ﴿ پکارده چه ماشوم باندې آسانتیا اوشفقت اوکړې شی.اوکه مونږ په ده جهاد واجب کړو. نوجهاد چونکه ګران کاردې.نودې په مشقت کښې اخته کیږی.اوشفقت د مشقت تقاضا نه کوی.اوبله دا چه ماشوم مرفوع القلم دې)

وَلَا عَبْدٍ وَلَا امْرَأَةٍ

ترجمه ﴿ اونه (واجبیږی) په غلام اوپه ښځه

تشریح ﴿ **دلیله** ﴿ په عامو حالاتو کښې په غلام دخپل مولی اوپه ښځه باندې د خپل خاوندحق مقدم دی.البته که دجهاد دپاره عام اعلان اوشی.نوبیا به د مولی اودخاوند اجازت نه بغیرجهاد ته ځی

(وَلَا أَعْمَى وَلَا مُقْعَدٍ وَلَا أَقْطَعَ

ترجمه ﴿ اونه (واجبیږی) په ړونداوپه شل اوچه پښه ئې کټ شوې وی.

تشریح ﴿ **دلیله** ﴿ په جهاد کښې شرکت ددې دپاره وی.چه ددشمن مقابله اوکړی. یا د مجاهدینومدد اوکړی.اودا کسان په خپله د نورو دخدمت محتاج دی.نودوئ به په خپله څه جهاد اوکړی)

دښمن د حملې په صورت کښې د جهاد حکم

(فَإِنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ عَلٰى بَلَدٍ وَجَبَ عَلٰى جَمِيعِ الْمُسْلِمِينَ الدَّفْعُ تَخْرُجُ الْمَرْأَةُ بِغَيْرِ إِذْنِ زَوْجِهَا وَالْعَبْدُ بِغَيْرِ إِذْنِ الْمَوْلٰى)

حل اللغة ۱ **هجم**:حمله ۲ **العدو**:دښمن ۳ **بلد**:ښار

ترجمه و تشریح که حمله اوکړله دښمن (یا ناڅاپه حمله نې اوکړله) په یو ښار (د مسلمانانو) باندې واجب شوه په ټولوخلقو باندې،دفاع کول (اومقابله کول اومقابله کول د دښمن.نو) اوځی به ښځه بغیرداجازت دخاوند نه اوغلام بغیرداجازت د مولی نه،

دلیله (اودلیل دا دې.چه) اوګرځیدلو جهاد فرض عین،اوملك یمین (په غلام اووینځه کښې) اورقیت د نکاح (په ښځه کښې) نه ښکاره کیږی په مقابله د فرض عین ځیزونوکښې. (یعنی چه کله د مولی اودخاوندحق مقابله د فرض عین سره راشی.نوفرض عین به مقدم وی د دوی په حقوقو باندې.اول به فرض عین ادا کولې شی) لکه په مونځ اوروژه کښې(یعنی که مولی یا خاوند ښځه د فرضی مونځ یا روژې نه منع کوی.نودوی به په دې کښې دهغوئ تابعداری نه کوی.ځکه چه دمخلوق تابعداری به په ځیز کښې نه کوی.چه د خالق په کښې نافرمانی وی)

حکم الجهاد قبل النفیر العام په خلاف دعام اعلان نه وړاندې (یعنی چه د جهاد دپاره عام اعلان نه وی شوې. نوپه هغه صورت کښې د غلام دپاره د مولی نه اوډښځې دپاره د خاوندنه اجازت غوښتل ضروری دی) ځکه چه بغیرددې دواړو(غلام اوښځې) نه ګذاره کیږی (دد ښمن دمقابلې.نودعام اعلان نه وړاندې چونکه غلام اوښځې ته څه ضرورت نه وی) نونشته ضرورت باطل کولوحق دمولی اودخاوندته (بغیرد ضرورته)

(وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُونَ دَارَ الْحَرْبِ فَحَاصَرُوا مَدِينَةً أَوْ حِصْنًا دَعَوْهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ)

حل اللغة ۱ **حاصروا**:ګیراؤ واچوی ۲ **مدینة**:ښار ۳ **حصن**:قلعه

ترجمه و تشریح کله چه داخل شی مسلمانان دارالحرب (دکافرانوملك) ته،اومحاصره کړی (ګیرکړی) یوښاریا قلعه، (یعنی هرهغه ځائې چه دهغې مینځ ته بغیراجازته ورتلل نشی کیدې. نودټولونه اول رابلی به دوی اسلام ته (چه تاسواسلام قبول کړئ)

دلیله د دې وجې چه فرمائیلی دی حضرت ابن عباس رضي الله عنهما چه نبی ﷺ هیڅ یوقوم سره جهاد نه دې کړې.تردې چه راوبلل به نې دوئ اسلام ته (چه تاسوایمان راوړئ) (۱)

(فَإِنْ أَجَابُوا كَفُّوا عَنْ قِتَالِهِمْ)

ترجمه و تشریح که دوی قبول کړلو دعوت (اواسلام نې قبول کړلو) نومنع به شی (مسلمانان یا منع به کړی مسلمانان خانونه خپل) د جنګه ددوئ نه (یعنی دوئ سره به جنګ نه کوی)

دلیله دوجې د حاصلیدو د مقصود (دجهادچه کوم مقصددې.هغه په دارالکفرکښې دالله تعالی د دین غلبه ده. نو چه دوی ایمان راوړل.هغه مقصود بغیردقتال نه حاصل شو.نوقتال ته څه حاجت پاتې نشو اودوئ سره به د جنګ کولونه ځکه منع کیږی) یقیناً فرمائیلی دی نبی ﷺ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ

۱) من حدیث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه عبدالرزاق رحمه الله فی مصنفه والحاکم فی المستدرك(۱\۱۵) واحمد فی المسند(۱\۲۳۱)

حَتّٰی یَقُوْلُوْا لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ } (۲)ماته حکم شوې دې چه جنګیږه خلقو سره تردې چه دوئ اووائی.نشته لائق دعبادت سوا دالله نه حدیث ترآخره پورې اولوله، (یعنی اوچاچه لااله الا الله اووئیل.نوده محفوظ کړل زما نه مال خپل اونفس خپل مګرپه حق دشریعت سره، یعنی که دې یومسلمان قتل کړې.یا زنا اوکړې.نوبیا به دده وینه محفوظ نه وی.اودده حساب په الله تعالی دې.نوکه په ظاهره ئې کلمه وئیلې وی.اوپه باطن کښې کافر وی. زه به ظاهرته ګورم.دنفاق حساب به ورسره الله تعالی دقیامت په ورځ کوی)-

دجزیه مطالبه کول

(وَإِنِ امْتَنَعُوْا دَعَوْهُمْ إِلٰی أَدَاءِ الْجِزْيَةِ)

ترجمه و تشریح اوکه منع شو(کافران یعنی دایمان راوړلونه ئې انکاراوکړلو) راوبه بلی دوی (کافران ادا کولو دجزیه ته

دلیله په دې (دعوت ورکولویاندې) حکم کولورسول الله ﷺ دلښکروامیرانو ته (چه اول به تاسو دوئ ته دایمان دعوت ورکوئ.خوکه دایمان راوړلونه انکاراوکړې.نودا به ورته وائې.چه جزیه قبوله کړئ.یعنی تاسویه مونږ ته ټیکس راکوئ.اودهغې په بدله کښې به اسلامی حکومت تاسوته د جان اومال امن درکوی)

جزیه ورکولوته تیاریدل

(فَإِنْ بَذَلُوْهَا فَلَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِيْنَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَيْهِمْ)

ترجمه و تشریح که دوئ قبوله کړې دا (جزیه مسلمانانوته، یعنی په ورکولویاندې راضی شی.اګرچه ورکړې ئې نه وی) نودوئ دپاره به هغه (حقوق) وی.کوم چې د مسلمانانودپاره وی. (اسلامی حکومت به د دوئ د مال او جان حفاظت کوی)اوپه دوئ باندې به وی هغه ذمه واری وی.کومه چه په مسلمانانو وی. (لکه دحاکم اطاعت کول وغیره.اودوئ ته به په جزیه ورکولود مال اوجان حفاظت ملاویږی)

دلیله د قول د علی ﷺ د وجې (هغوئ فرمائیلی دی) یقیناً دوئ (کافران) ورکوی جزیه دې دپاره چه شی چه وینې ددوئ (په حفاظت کښې) پشان د وینو زمونږاوشی مالونه د دوئ پشان د مالونو زمونږ(نولکه څنګه چه د مسلمان دمال اوجان حفاظت د اسلامی حکومت ذمه واری ده.دغه شان به د هغه کافرانودجان اومال حفاظت هم داسلامی حکومت ذمه واری وی.څوک چه جزیه ورکوی) (۱)

ددعوت اسلام نه وړاندې دجهادکولوممانعت

(وَلَا يَجُوْزُ أَنْ يُقَاتِلَ مَنْ لَمْ تَبْلُغْهُ دَعْوَةُ الْإِسْلَامِ إِلَّا بعد أَنْ يَدْعُوهم)

ترجمه و تشریح اوجائزنه دی چه جنګ اوکړې شی دهغه چا سره چه نه وی رسیدلې هغه ته دعوت داسلام (یعنی چا ورته د اسلام دعوت نه وی ورکړې.مګردا چه راوې بلی دې (اسلام) ته،

دلائله ① دوجې د وینا دنبی ﷺ نه په وصیت کولوکښې د لښکروامیرانوته(یعنی کله چه به نبی ﷺ

---

۲) من حدیث أبي هريرة ﷺ اخرجه البخاری فی الجهاد باب ۱۰۲ ومسلم فی الجهاد رقم ۱) وابوداود فی الجهاد باب ۹۲) واحمد فی المسند(۳۱\۲)۔

۱) غربه الزیلعی رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل روایة أبي الجنوب الأسدی قال قال علی بن أبي طالب ﷺ من کانت له ذمتنا فدمه کدمنا ودیته کدیتنا،وعزاه إلی دارقطنی (نصب الرایة ۵۸۷\۳)۔

دجهاد دپاره لښکر لیږل. نودهغوی امیرته به ئې داحکم کولو.چه) دوئ (کافران) راوبله،ګواهئ ددې خبرې ته چه نشته لائق دعبادت سوا دالله تعالی نه (یعنی دالله تعالی وحدانیت طرف ته دعوت ورکړه.(۱)

④ په دعوت ورکولوسره به دوئ پوښه شي.چه مونږ (مسلمانان) دوئ (کافرانو) سره د دین دپاره جنګ کوو.د دوئ د مالونو اخستلودپاره ورسره نه کوو. (چه ددوئ نه به ددوئ مالونه اخلو) اود قیدکولود اهل وعیال ددوئ دپاره (یعنی زمونږ مسلمانانو د جهاد مقصد د نورو قومونوپشان د مال اودولت لوټ کول اود دښمن غلام جوړول نه دی.بلکه مونږ صرف دالله تعالی د دین د غلبه دپاره جهاد کوو.نودوئ به ددې نه متاثره شي.چه دا خلق د مال دولت لالچیان نه دی) نوکیدې شی چه دوئ قبول کړی (دعوت داسلام) نومونږ به خلاص شود مشقت دجنګ نه (ځکه چه د کوم مقصد دپاره مونږ جهاد کولو.هغه مقصد د جهاد نه بغیرحاصل شو)

ددوباره دعوت ورکولواستحباب

(وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَدْعُوَمَنْ بَلَغَتْهُ الدَّعْوَةُ الی الاسلام)

ترجمه و تشریح> اومستحب دی چه دعوت ورکړی هغه چاته چه رسیدلې وی ورته دعوت (د دین اسلام)

دلیله> دپاره د مبالغه کولوپه ویرولوکښې، (یعنی چه دوئ ته دوباره اوونیلی شی.چه تاسوایمان راوړئ.ګنې بیا به ستا د مال اوجان خیرنه وی)

وَلَايَجِبُ ذٰلِكَ

ترجمه و تشریح> اوواجب نه دی دا (دوباره دعوت ورکول)

دلائله> ① ځکه چه په صحت سره ثابته شوې ده.چه نبی ﷺ ناځاپه حمله کړې وه په بنی مصطلق (چه د بنوخزاعه یوه قبیله وه) په داسې حال کښې چه هغوئ غافله وو.(۲)

② اودغه شان اسامه بن زید ﷜ ته ئې حکم کړې وو.چه ناځاپه حمله اوکړی په (فلسطین کښې) په ابنا مقام باندې په وخت د صبا،اوبیا پرې هور اولګوی. (۳)

داسلام اوجزیه ورکولونه دانکارصورت

فَإِنْ أَبَوْااسْتَعَانُوابِاللهِ عَلَيْهِمْ وَحَارَبُوهُمْ

ترجمه و تشریح> (ابو الحسن قدوری ﷫) فرمائی.که دوئ (کافرانو) انکاراوکړلو(د جزیه ورکولونه) نومدد به اوغواړی (مسلمانان) دالله تعالی په دوئ (کافرانو)باندې،اوجنګ به اوکړی دوئ (کافرو) سره،

دلیله> دوجې د وینا د نبی ﷺ نه په حدیث د سلیمان بن بریده ﷜ (کوم چه وړاندې په شرح کښې

---

۲) تقدم تخریجه في حدیث بریدة ﷜ـ

۲) من حدیث ابن عون ﷜أخرجه البخاري في الجهاد باب ۱۰۲ ومسلم في الإيمان رقم ۳۳)ـ

۳) من حدیث اسامة بن زید ﷜ان رسول الله ﷺ كان عهد إليه،فقال أغرعلى أبنى صباحاً وحرق أخرجه أبوداود في الجهاد رقم ۲۶۱۶ وابن ماجه في الجهاد رقم ۲۸۴۳)ـ

تیرشو.په هغې کښې دا هم دی) که دوئ (کافرانو) انکاراوکړلو ددې (ایمان راوړولو) نه،نو راوبله دوئ ورکولو د جزيه ته(چه ايمان نه راوړئ نوجزيه راکړئ) تردې چه (په دغه حديث کښې) نبی ﷺ فرمائیلی دی.کـه دوئ (کـافران) انکـاراوکړی ددې(جزيـه ورکـولـو) نـه، نـو مـدد غـواړه دالله تعالی نـه پـه دوئ باندې،اوجنګيږه دوئ سره، (۱)

دمجونړې لګولوحکم

(وَنَصَبُوا عَلَيْهِمُ الْمَجَانِيقَ)

حل اللغة> ① **نصب**:اودرول، ② **مجانیق**:،جمع ده هغه لويه لينده چه غټ کانړی په کښې ويشتلې شي

ترجمه> اواوبه لګوئ په دوئ (كافرانو) باندې (دمقابله په غرض)مجونړه، (دا يوه غټه لينده ده.چه په دې کښې غټ کانړې کيخودې شی.اوبيا پرې په دشمن باندې ګزارکولې شي.په پخوانئ زمانه کښې به ددې نه د قلعه ګانوماتولوکاراخستې شو.اوپه موجوده زمانه کښې د توپـواو ميزائلونـه دا کاراخستې شی.ددې وجې د منجنيق استعمال ترک شوې دې)

دليله> لګولې وې رسول الله ﷺ په اهل طائف باندې (په غزوه حنين کښې) (۲)

(وَحَرَّقُوهُمْ)

تشريح> اواوبه سوزوی دوئ (يعنی د دشمن علاقې)

دليله> ځکه چه نبی ﷺ سوزولې وو مقام بويره(۳)(هغه دا چه نبی ﷺ د يهودواوبنونضيرود قجوروونې سوزولې وې.اوکټ کړې وې.خوددې نه دا نه معلوميږی.چه د کافرانوسوزول هم جائز دی.ځکه چه په بل حديث کښې ددې نه منع راغلې ده.چه په اورباندې به صرف هغه ذات عذاب ورکوی.چه مالک اوخالق د اوردې)

داوبوپريښودلوونوکټ کولواوپټوخرابولوحکم

(وَأَرْسَلُوا عَلَيْهِمُ الْمَاءَ وَقَطَعُوا أَشْجَارَهُمْ وَأَفْسَدُوا زُرُوعَهُمْ)

ترجمه و تشريح> (ابو الحسن قدوری رحمه الله) فرمائی.او راخوشې به کړی په دوئ (کافرانو) باندې اوبه،اوکټ به کړی ونې ددوئ اوخراب به کړی فصلونه د دوئ

دليله> ځکه چه په دې ټولو(کارونو)کښې ددوئ (کافرانو) ذلت، ددوئ غصه کول، او د دوئ طاقت ختمول،ددوئ د ډلې منتشرکول دی. (اګرچه في نفسه دا کارونه جائزنه دی. ليکن ددې په کولوکښې مقصود دا دې.چه کافران دې ته اوګوری.نودهغوی حوصله به کمزورې شی. او هم دا څيزونه به دهغوی د شکست اوماتی سبب اوګرځی) نوکيږی (کول ددې کارونو جائز.

---

۱) تقدم تخريجه في حديث بريدة رضي الله عنه۔

۲) من حديث ثور بن يزيد رضي الله عنه أخرجه الترمذی في الإستئذان وأخرجه ابوداود في المراسيل برواية مكحول (نصب الراية ۵۸۹\۳)۔

۳) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه البخاری في المغازی باب ۱۴ ومسلم في الجهاد رقم ۲۹ وأبوداود في الجهاد باب ۸۳ رقم ۲۶۱۵ والترمذی في السيرباب ۴ وابن ماجه في الجهاد باب ۳۱ رقم ۲۸۴۴ وأحمد في المسند (۱۲۳\۲)۔

دمسلمان په وجه په کافرانو دکافرو ګذارولو نشي بندولی

(وَلَا بَأْسَ بِرَمْيِهِمْ، وَإِنْ كَانَ فِيهِمْ مُسْلِمٌ أَسِيرٌ أَوْ تَاجِرٌ)

ترجمه و تشریح اونشته څه باك په كانړوويشتلو دوئ (كافرانو) كښي اګرچه وي په دوئ كښي مسلمان قيدي يا (مسلمان) سوداګروي. (اودوئ هغه مسلمان د ډال په طوردخپل لښكرورانډې كړې. كه دوي په مونږ ګذاركوي. نودا خپل مسلمان وروربه اولي. بلكه كه داسي وي. نوهم به مسلمانان په كافرانود كانړو ګزارونه كوي)

دلائله ① څكه چه په ويشتلوكښي (مقصد) لرې كول د ضرر عام دي. د ولي دمسلمانانو (يعني مسلمانان چه په كافرانويانډي د كانړو ګذارونه كوي. په دې كښي د دوئ مقصد دا وي. چه ټول مسلمانان د كافرود شرنه محفوظ شي. اودمسلمانانوپه ګذارمسلمان قيدي يا سوداګرمړشي. نو) په قتل كولود (مسلمان) قيدي او سوداګركښي ضرر خاص دي. (چه صرف دغه قيدي اوسوداګرته رسي. څكه چه قاعده دا ده. كه د عامو خلقو د فائدې دپاره يوكس ته نقصان وي. نودغه د نقصان دوجي به دعاموخلقوفائده نشي پريښودې. مثلاً د غل په لاس كټ كولوكښي عاموخلقوته دا فائده ده. چه څوك دې ته ګوري. كه غلا اوكړم. نولاس به مې كټ كيږي . د دې وجې به څوك د غلا جراءت نشي كولي. اوپه معاشره كښي به خلقوته امن ملاؤ شي. اوس په لاس كټ كولوكښي اګرچه د غل نقصان دې. خودعاموخلقود فائدې په مقابله كښي به دده نقصان نه نشي كتې.)

② اوددې دپاره بل عقلي دليل كه دكافرانوپه ډله كښي مسلمان موجود وي. نوهم به په هغوي حمله كولې شي. اودهغه مسلمان دوجې به حمله اودكانړو ويشتل نشي بندولې. (دا بيانوي) اوبله دا چه ډيركم كرته داسي وي. چه خالي وي يوه قلعه (دكافرانو) د مسلمان نه. نوكه چرته منع اوكړې (دحملې كولواود كانړو ويشتلونه) دده (مسلمان) په وجه، نوبند به شي دروازه دجهاد (حالانكه نبي ﷺ فرمائيلي دي. چه جهاد به ترقيامته پورې جاري وي)

دمسلمانانوماشومانو اوقيديانونه ډال جوړولوپه صورت كښي دحملې حكم

(وَإِنْ تَتَرَّسُوا بِصِبْيَانِ الْمُسْلِمِينَ أَوْ بِالْأُسَارَى لَمْ يَكُفُّوا عَنْ رَمْيِهِمْ)

حل اللغة ① **تترس**: ډال جوړول ② **رمي**: ويشتل

ترجمه و تشریح اوكه (كافران) ډال جوړ كړي دماشومانودمسلمانانو نه يا (مسلمانانو) قيديانونه. نه به منع كيږي (مسلمانان) د ويشتلو ددوئ نه. (بلكه په دوئ به ګذارونه كوي)

دليله دهغې وجې نه كومه چه مونږ بيان كړه (چه په ويشتلوكښي دعامومسلمانانوفائده ده. اوپه نه ويشتلوكښي ددغه مخصوص ماشومانو او قيديانو فائده. اوانفرادي فائدې دپاره به اجتماعي فائده نشي پريښودې.

(وَيَقْصِدُونَ بِالرَّمْيِ الْكُفَّارَ)

ترجمه و تشریح البته دومره ده. چه كله دوئ په كافرانو بانډې ګذاركوي. نو) قصدكوي به په ويشتلوكافران (يعني دوئ به دا واني. چه دا مونږ كافران اولو . د مسلمان د ويشتلوقصد به په زړه كښي نه راولي)

دليله څكه چه په دې صورت كښي (چه مسلمانان ماشومان يا قيديان د كافرو په ډله كښي د ډهال په طوراستعماليږي) كه متعذر (ګران) وي فرق كول (دكافر او مسلمان په مينځ كښي چه په دې كښي كافركوم دې اومسلمان كوم دې؟ چه په كافر ګذار اوكړې. او مسلمان بچ كړې) خوممكن ده

پیژند ګلوکول په قصد اواراده کښې. (چه په نیت کښې دا راولي.چه زه په دې خپل ګذاربانډې کافراولم.مسلمان نه اولم.اوپه دې قاعده به عمل کولې شي.«مالایدرك کله لایترك کله» یعني چه ټول نشی رالاندې کولې.نوټول به پریخوې هم نشی. (اود کافرانود ویشتلو او د مسلمان د بچ کولوقصد به خکه کوی .چه جهاد لوې عبادت اوتابعداری ده)اوتابعداری په اندازه د قدرت وی. (یعني سړی هغه هومره تابعداری کولې شي.اوپه هغه هومره تابعدارئ مکلف دې. خومره چه دده په وس اوقدرت کښې وی.اوپه موجوده صورت کښې دې په دې نه دې قادر.چه دکافروپه صف کښې مسلمان دخپل ګذارنه بچ کړی.خوپه دې قادردې.چه په ګذار کولوکښې د کافرد ویشتلونیت اوکړی)

ځان سره دارالحرب ته د زنانواومصاحفو بوتلل اواورل

(وَلَا بَأْسَ بِإِخْرَاجِ النِّسَاءِ وَالْمَصَاحِفِ مَعَ الْمُسْلِمِينَ إِذَا كَانُوا عَسْكَرًا عَظِيمًا يُؤْمَنُ عَلَيْهِ)

ترجمه و تشریح> (ابو الحسن قدوری رحمه الله)فرمائی.اونشته باك په بوتلود زنانو (دارحرب ته اوپه اورلود مصاحفو سره د مسلمانانوچه وی لښکر(د مسلمانانو) لوئې چه (غالب ګمان د) امن وی دهغې(دواپس راتلو .

دليله> او د غالب قیدموځکه کیخودلو.چه) غالبه (په لوئې لښکو کښې) سلامتیا وی. (چه دا لوئې لښکرځونکه د خپل تعداد اواسبابوپه وجه طاقتوردې.نوغالب ګمان هم دا وی.چه دوئ ته به فتح حاصلیږی) اوغالب پشان د متحقق وی. (یعني کوم ځیزچه په غالب ګمان سره حاصل وی.دا حکماً داسې ده.لکه چه په حقیقت کښې حاصل وی.لکه که د یوکس دا غالب ګمان وی.چه په دغه ځائې کښې به اوبه وی.اودې داوبولټون اونکړی.اوپه تیمم باندې مونځ اوکړی.دده تیمم نه صحیح کیږی.اګرچه دا احتمال شته.چه هلته کښې اوبه نه وی.خوځونکه غالب ګمان داسې دې.لکه چه موجود وی.ددې وجې دده تیمم نه صحیح کیږی.دغه شان په زیربحث مسئله کښې هم چه غالب ګمان ددوئ غلبه وی.نوددې نه دا هم معلومیږی.چه دوئ به واپس شی)

(وَيُكْرَهُ إِخْرَاجُ ذَلِكَ فِي سَرِيَّةٍ لَا يُؤْمَنُ عَلَيْهَا)

ترجمه و تشریح> اومکروه دی بوتلل ددې (ښځواومصاحفو) په هغه سریه (ورکوټی لښکر) کښې چه (غالب ګمان د) امن نه وی په هغې باندې. (بلکه دکم والی دوجې دا ویره موجود وی.چه کیدې شي.مشکلاتو سره مخامخ شي

دليله> ځکه چه په دې (صورت کښې چه غالب ګمان دامن نه وی بلکه دخطرې پیش کیدووی) ورمخامخ کول ددوئ (ښځو) دی ضائع کیدو ته اورسوائي ته (چه مسلمانان دکافرومقابله کوی.اوخدائې دې نکړی دوئ ته شکست ملاؤ شی.نوکومې زنانه چه ئې ځان سره بوتلې وی.هغوی به دکافروپه قبضه کښې راشی.دهغوی عصمت اوعزت به محفوظ پاتې نشی.اودا لوپه رسوائی ده) اومخامخ کول د مصاحفو دی بې عزتئ ته (یعني کوم قرآن شریفونه چه ئې وړی وی.هغه به ورك شی.یا به ئې دشمن بې حرمتی اوکړی) ځکه چه کافران سپکوالي کوی ددې (مصاحفو) دپاره دغصه کولود مسلمانانو.اوهم دا تاویل دې صحیح د قول د نبی ﷺ دپاره چه سفرمه کوئ د قرآن سره زمکې د دشمن تلا)، (یعني دا منع چه راغلې ده.په هغه صورت کښې چه دقرآن پاك د ضائع کیدو خطره

---

۱) من حدیث ابن عمر رضي الله عنهما اخرجه البخاری فی الجهاد باب ۱۲۹ رقم ۲۹۹۰ ومسلم فی الإمارة رقم ۹۲ وأبوداود فی

وي.اوکه غالب گمان دا وي.چه په دغه خاني کښي به مسلمانانوته کاميابي ملاوېږي.نوبيا د ښځوپه بوتلواود مصاحفوپه وړلوکښي څه کراهت نشته)

صورة الجواز﴾ اوکله چه داخل شي مسلمان ددوئ (وطن) ته په امان سره(لکه په موجوده وخت کښي چه مسلمانان دکافرانوملک ته ويزه اخلي.اوځي) نونشته باك چه واخلي خان سره مصحف، (دغه شان حکم د نورودينی کتابونوهم دې.لکه تفسير حديث فقه) چه وي (دغه کافران) داسي خلق چه وفا کوی د وعدې(يعني چه مسلمان سره ئي دامن لوظ کړې وي.چه تاته به دلته څه نقصان نه رسی.اوهغوی دلوظ خلاف ورزی نه کوی.نوبيا د دغه کافرو ملک ته دقرآ پاك وړل جائزدی)ځکه چه ظاهرعدم تعرض دې. (چه کله سړې يوملك ته په ويزه باندې داخل شی.نوغالب گمان هم دا وی.چه هغوی به ده ته څه نه وائي.اوکه داسې خلق وی.چه د وعدې پابند نه وی.نوبيا دداسې کسانوملك ته خان سره قرآن شريف اوړل جائزنه دی)

دخاونداومولى نه د اجازت غوښتلوحکم

(وَلَا تُقَاتِلُ الْمَرْأَةُ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا وَلَا الْعَبْدُ إِلَّا بِإِذْنِ سَيِّدِهِ)

ترجمه و تشريح﴾ اوجهادبه نه کوی ښځه مگرپه اجازت د خاوند خپل،اونه (به جهاد کوی) غلام مگرپه اجازت د مولى خپل،دهغه وجې نه کومه چه مونږ بيان کړه. (چه په حقوق الله باندې حقوق العباد مقدم دی)

إِلَّا أَنْ يَهْجُمَ الْعَدُوُّ

حل اللغة﴾ ① **يهجم**:ناڅاپی حمله

البته دا چه حمله اوکړی دشمن په وطن (نوپه دغه وخت کښي د خاونداومولى داجازت نه بغيرهم د ښځې اوغلام دپاره په جهاد کښي شرکت کول جائزبلکه ضروری دی) د وجې د ضرورت نه،

ددهوکه،خيانت اومثله ممانعت

وَيَنْبَغِي لِلْمُسْلِمِينَ أَنْ لَا يَغْدِرُوا وَلَا يَغُلُّوا وَلَا يُمَثِّلُوا

حل اللغة﴾ ① **الغدر**:دهوکه کول ② **المثلة**:انسانی اندامونه کټ کول ③ الغلول: په مال غنيمت کښې د تقسيم نه وړاندې څه څيز اخستل.

ترجمه و تشريح﴾ اومناسب دی (يعني حرام دی) دمسلمانانودپاره چه نه کوی دهوکه اونه (به کوی) خيانت (په مال غنيمت کښي) اونه (به کوی) مثله

دليله﴾ (ځکه چه دا کارونه دمسلمان د شان سره نه ښائي. د نبی ﷺ ارشاد دې لَا تَغُلُّوا وَلَا تَغْدِرُوا وَلَا تُمَثِّلُوا ()چه تاسو په (مال غنيمت کښې) خيانت مکوئ.اودهوکه مه کوئ (دشمن سره) اومثله مکوئ. (ددشمنانوپه لاشونو)

دجهادنه معذوره خلقوپه جهادکښي دنه قتلولوحکم

(وَلَا يَقْتُلُوا امْرَأَةً وَلَا صَبِيًّا وَلَا شَيْخًا فَانِيًا وَلَا أَعْمَى وَلَا مُقْعَدًا)

الجهاد باب ٨١ رقم ٩٢ وابوداود في الجهاد باب ٨١ رقم ٢٦١٠ وابن ماجه في الجهاد باب ٤٥ رقم ٢٨٧٩ ومالك في الجهاد رقم ٧ واحمد في المسند (٦\١) والنسائي في السنن الكبرى (٥\٢٣) ورقم ٨٠٦٠)ـ

١) كذا في حديث بريدة ﷺ تقدم تخريجه)ـ

د لغت حل: ① **شيخ فاني:** هغه بوډا چه ډير كمزوري وي

ترجمه و تشريح اونه به قتلوی (مسلمانان په جنگ کښې) ښځه اونه ماشوم اونه شيخ فانی (چه ډيربوډا شوې اوكمزورې شوې وى) اونه شل اونه ړوند ، (١)

دلائله ① خکه چه مباح گرځونکې دقتل هغه جنگ دې. (چه کوم کسان د مسلمانانوسره مقابله کوی.صرف هغه به په جهاد کښې قتلولې شی) اونه متحقق کیږی د دوئ نه دا (جنگ) او ددې وجې (چه څوك جنگ نشی کولې هغه به نشی قتلولې) نشی قتلولې هغه کس چه يوطرف ئې وچ شوې وی. (لکه فالج وهلې وی) اوچه ښې لاس ئې کټ شوې وی.اوهغه کس چه ښې لاس اوکسه پښه ئې کټ شوې وی.اودل بدل.

② په صحت سره ثابته شوې ده.چه نبی ﷺ منع کړې ده د قتلولو دماشومانو اوښځونه، (٢)

③ بل نقلی دليل دا هم دې) په کوم وخت کښې چه اوليدله رسول اللهﷺ يوه ښځه قتل شوې نووې فرمائيل . افسوس، نه وه دا چه جنگ ئې کولې شونوولې قتل شوې ده؟(٣)

إِلَّا أَنْ يَكُونَ أَحَدُ هَؤُلَاءِ مِمَّنْ لَهُ رَأْيٌ فِي الْحَرْبِ)

ترجمه و تشريح مگردا چه وی يوکس په دې مذکورينوکښې چه دهغه رائې (اوتجربه) وی په جنگ کښې، (اودخپلې اوتجربه په بنياد خپلوكافروته داسې تجويزونه اومشورې وركوى.چه هغوى ته پرې فائده رسی) ياښځه بادشه وی (نوددې قتل کول جائزدی)

دليله دوجې د رسيدو د ضرر ددې بندگانوته(چونکه په کافرلښکرکښې ددې عزت وی.اودا چه څه حکم کوی.نوكافرددې حکم منی.نوهغوی به مسلمانانوته تکليف رسولوکښې او ددوئ په قتلولوکښې کوشش کوی.نوچه دا قتل کړې شی.په دې سره به دهغوئ حوصلې ښکته شی.اومسلمانانوته به فتح نصيب شی)

إِلَّا أَنْ تَكُونَ الْمَرْأَةُ مَلِكَةً وَلَا يَقْتُلُوا مَجْنُونًا مگر دا چې ښځه بادشه وی.او نه به قتلوی ليونې.

تشريح په دې صورت کښې دښځې قتل جائزدې چې هغه بادشاه وی.نود هغې قتلول جائزدی.

دليله خکه چې د هغې په قتلولو سره به د کافران حوصلې کمزورې شی.اوکه څه تعرض ورته اونکړې شی نوکيدې شی هغه په خپلې تجربې اومشرئ سره مسلمانانو ته نقصان اورسوی.

---

(١) **مسلك الشافعي:-** امام شافعیؒ مخالفت کوی زمونږ سره په شيخ فانی،شل اوړوند کښې،خکه چه مباح گرځونکې (دقتل دکافرانو) په نيزدده (امام شافعیؒ) کفردې. (نه عجز دقتال نه.اودا کسان کافران دی. د دې وجې ددوئ قتل کول جائزدی)

١) قال الزيلعيؒ قلت غريب بهذا اللفظ واخرج الجماعة إلا ابن ماجه (أي البخارى فى الجهاد باب ١٤٧ ومسلم فى الجهاد رقم ٢٥ وأبوداود فى الجهاد باب ١١١ رقم ٢٦٦٨ والترمذى فى السير باب ١٩ والدارمى فى السيرباب ٢٤ ومالك فى الجهاد رقم ٩ وأحمد فى المسند (٢٢\٢) والنسائى فى السنن الكبرى (١٨٥\٥) رقم ٨٦١٨)۔

٢) من حديث رباح بن الربيع الصيفى ؓ قال كنا مع رسول اللهﷺ فى غزوة فرأى الناس مجتمعين على شئ فبعث رجلا فقال :انظر على ما اجتمع هولاء ؟فجاء فقال:إمرأة قتيل فقال :ما كانت هذه لتقاتل اخرجه ابوداود فى الجهاد با ب١١١ رقم ٢٦٦٩ والحاكم فى المستدرك (١٢٢\٢) واحمد فى المسند (٤٨٨\٣)۔

په ميدان جهاد كښي د ليونى د قتل ممانعت

(وَلَا يَقْتُلُوا مَجْنُونًا)

ترجمه و تشريح اونه به قتلوى شي ليوني

دليله ځكه چه دې نه دې مخاطب په احكامود شريعت،نودده كفرهم معتبرنشو.اوچه كفرئې معتبر نشو.نوجهادخود كافرسره كيږي)

الاستثناء البته دا كه دې جنګ كوى (دكافرانوپه ملګرتيا كښې د مسلمانانوسره) نوقتل كولې به شي دپاره د دفع كولو د شره دده(چه مسلمانان دده د شرنه محفوظ شي)

كافرانوسره د صلح كولو جواز

(وَإِنْ رَأَى الْإِمَامُ أَنْ يُصَالِحَ أَهْلَ الْحَرْبِ أَوْ فَرِيقًا مِنْهُمْ وَكَانَ فِي ذَلِكَ مَصْلَحَةٌ لِلْمُسْلِمِينَ فَلَا بَأْسَ بِهِ)

ترجمه و تشريح اوكله چه اووينى (مناسب اوګڼرى) امام چه صلح اوكړى د حربيانو (كافرانو) سره يا يوې ډلې سره په دوئ كښې،اووى په دې (صلح) كښې مصلحت (اوخيګړه) دپاره دمسلمانانو نونشته څه باك په دې (صلح) كښې،

دلائله ① دوجې دوينا د الله تعالى نه،اوكه دوئ (كافران) تيټ (يعنى اماده) شي.صلحې ته،نو(اې پيغمبره!) ته هم (دمسلمانانودمصلحت دپاره) غاړه كيږده دوئ ته(اومصالحت ورسره اوكړه.او(كه ته ددې نه ويريږې.چه هسې نه دوئ دهوكه اوكړى.اوپه صلح اواعتماد كښې راته نقصان اورسوى.نوددې پرواه مكوه . بلكه) بهروسه اوكړه (په راروانو حالاتوكښې) په الله تعالى باندې،

② صلح كړې رسول الله ﷺ داهل مكه (دمكې كافرانو) سره په كال د حديبيه (چه شپږم كال د هجرت وو) په دې چه نه به وى جنګ په مينځ دده (نبى ﷺ) اودوئ (كافرانو) كښې لس كاله، (١)نوددې نه هم دا ثابته شوه.كه په مصالحت كښې دمسلمانانوخيروى.نوصلح كول جائزبلكه افضل دى.

③ دصلح په جواز باندې عقلى دليل دا دې چه مصالحت جهاد دې معنى چه د مسلمانانوپه كښې خيروى (او صلح معنى جهاد دې)ځكه چه مقصود(دجهاد)لرې كول د شر دى-(چه مسلمانان دكافرودشرنه محفوظ شي)حاصل دې په دې (صلح) سره، (ځكه چه كله د كافرانواومسلمانانوپه مينځ كښې دامن معاهده اوشي. نومسلمانان به دكافردحملې كولونه په امن كښې وى.نود معنى اومقصود په اعتبارسره دا هم جهاد شو)

دصلح ماتولواعلان

(فَإِنْ صَالَحَهُمْ مُدَّةً ثُمَّ رَأَى أَنَّ نَقْضَ الصُّلْحِ أَنْفَعُ نَبَذَ إِلَيْهِمْ وَقَاتَلَهُمْ)

ترجمه و تشريح اوكله چه مصالحت اوكړى (امام) دوئ سره دڅه مودې دپاره،بيا اووينى ماتول د صلحې زيات بهتر(دمسلمانانودپاره يعنى د صلحې په ماتولوكښې دمسلمانانوزيات خيروى) نوصلح به ماته كړى دوئ سره (يعنى هغوئ ته به خبر وركړى.چه زمونږ اوستاسوپه مينځ كښې چه كومه صلح شوې وه.هغه ختمه شوه .اوس تاسوهم آزاد ئې اومونږ هم.اوصلح ماتول جائزدى)

دلائله ① دصلح حديبې په شرطونو كښې يو شرط دا هم وو.چه دكومې قبيلې سره د مشركانو

---

١) من حديث مسور بن مخرمه ﷺ اخرجه ابوداود في الجهاد باب ١٥٦ رقم ٢٧٦٦)۔

معاهده وي. مسلمانان به د دهغوی سره جنګ نه کوي.او نه به دهغوی خلاف چا سره مدد کوي. او د کومو قبیلو سره چه د مسلمانانو معاهده وي. مشرکان به د هغوی سره جنګ نه کوي.او نه به د هغوی خلاف چا سره مدد کوي.دصلح حدیبي نه پس قبیله بنو خزاعه د مسلمانانو او قبیله بنو بکر دقریشو ملګری شو. دے دواړو قبیلو کښے د پخوا نه د شمني را روانه وه. د دے وجے بنو بکر په بنو خزاعه باندې حمله اوکړه. قریشو د وعدې خلاف ورزی اوکړه او بنو بکر سره امداد اوکړو. د بنو خزاعه مشر عمرو بن سالم مدینې منورې ته لاړلو.او نبي کریم صلی الله علیه وسلم نې د قریشو د خلاف ورزۍ نه خبر کړو.چه قریشو تاسو سره معاهده کړې وه.چه مونږ به دهغه چا خلاف د هغوی د دشمن سره مدد نه کوو.دچا سره چه ستاسو معاهده وی.او اوس بنوبکر په مونږ حمله اوکړه.اومشرکانو ورسره مدد اوکړلو.او تاسو سره چه نې کومه معاهده کړې وه.دهغې خلاف ورزی نې اوکړه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم قریشو ته خبر او لیګلو چه د بنو خزاعه د قتل شوو کسانو دیت (تاوان) ورکړئ. یا د بنو بکر د معاهدې نه لاس واخلئ. او که داسې نه کوئ. نو بیا د صلح حدیبې ماتولو اعلان اوکړئ. قریشو د صلح حدیبې د ماتولو اعلان اوکړو. بیا روستو په خپلو کړو پښیمانه شو. او د معاهدې نوې کول نې اوغوښتل. خو نبی علیه السلام ترې انکار اوکړو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم په لسم د رمضان المبارک سنه ۸ هـ (جنوری ۶۳۰عیسوی) په ورځ د چهار شنبې (بدهه) لس زره اسلامی لښکرخان سره روان کړلو. او مکې طرف ته روان شو.اوالله تعالی ورته په مکه فتح ورکړله.(۱)

② بله دا چه (دصلح جواز خو په هغه وخت کښې وو.چه په صلح کښې د مسلمانانو فائده وه. مثلاً دصلحې د معاهدې باوجود دکافرو نه دعهد شکنئ ویره وه.نو په دې صورت کښې مصلحت په دې کښې دې.چه صلح ماته شي.

دکافرودطرفه دغدارئ صورت

(فَإِنْ بَدَءُوا بِخِيَانَةٍ قَاتَلَهُمْ وَلَمْ يَنْبِذْ إِلَيْهِمْ إِذَا كَانَ ذَلِكَ بِاتِّفَاقِهِمْ)

ترجمه و تشریح > که شروع اوکړه هغوی(کافرانو په خیانت (اود وعدې پابندی نې اونکړله) نوجنګیږی به دوئ سره اواعلان د ماتولود معاهدې دصلح به نه کوي.دوئ ته(چه زمونږ اوستاسو په مینځ کښې ستاسود غدارئ دوجې دصلحې معاهده ماته شوه)کله چه وی دا (دمعاهدې ماتول) په اتفاق دهغوئ سره.

دلیله > ځکه چه (داتفاق په صورت کښې) دوئ اوګرځیدل ماتونکی د معاهدې،نو نشته حاجت ماتولودمعاهدې ته (چه مسلمانان ورته د معاهدې ختمولواعلان اوکړی.ځکه چه هغوی په خپله دمعاهدې خیال اونه ساتل)

دحربی کافرغلام مسلمانیدل

(وَإِذَا خَرَجَ عَبِيدُهُمْ إِلَى عَسْكَرِ الْمُسْلِمِينَ فَهُمْ أَحْرَارٌ)

ترجمه و تشریح > اوکله چه راشي د هغوی حربیانو څه غلامان د مسلمانانو لښکر ته نو هغوی آزاد دی

دلائله > ① ددې وجې چه روایت شوې دې چه څه غلامان دغلامانود طائف (دخلفی) مسلمانان شول.او راغلل رسول الله ﷺ ته نو نبی ﷺ فیصله اوکړله دآزادئ د هغوی.او وې فرمائیل چه دوی آزاد شوی

---

۱) من حدیث مسوربن مخرمة ومروان بن الحکم رضی الله عنهم اخرجه البیهقی فی دلائل النبوة والطبرانی فی المعجم الکبیروالصغیرمن حدیث میمونة رضی الله عنها وابن ابی شیبة مرسلاً من حدیث عروة رحمه الله (نصب الرایة ۳\۵۹۷)۔

د الله تعالی دی.«یعنی الله تعالی دوئ ته داسلام توفیق ورکړلو.اوددي اسلام په و جه دوئ ته حریت او آزادي ملاؤ شوه»

⑦ بله دا چه ده«یعنی دحربی غلام چه دمسلمانانولښکرته راوتختي» محفوظ کړلو خان خپل په راتلو سره مونږ ته په پریخود سره مولی خپل «یعنی هرکله چه ده خپل مولی پریخودل اواسلامی لښکرته ئې خان راورسولو.نومحفوظ شو» اويا «محفوظ ئې کړلو خان خپل» په يوخائي کیدو باندي لښکر د مسلمانانو سره،کله چه غالب شي «مسلمانان» په دارالحرب باندي«یعنی یا ورته حفاظت د اولنئ وجې ملاؤ شو.چه خپل مولی ئي پریخودل.اويا ددي چه د مسلمانانوپه لښکرکښي شامل شو»

په دارالحرب کښې دګیاه اوخوراك دخیزونواستعمال

وَلَا بَأْسَ أَنْ يَعْلِفَ الْعَسْكَرُ فِي دَارِ الْحَرْبِ وَيَأْكُلُوا مَا وَجَدُوهُ مِنَ الطَّعَامِ

حل اللغة ﴿- ① **علف**:ګیاه

ترجمه و تشريح ﴿ «ابو الحسن قدوری رحمه الله» فرمائي.اونشته باك په دي چه ګیاه ورکړی «اسلامی لښکریه دراالحرب کښي «خپلوخاروو ته» اوخورك اوکړی دهغه څه نه چه مومی ئې دوی«اسلامی لښکر» د خوراك دخیزونونه»

توضيح صاحب الهداية ﴿ صاحب دهدایه فرمائیلی دی چې امام قدوری رحمه الله مطلقاً دا ذکرکړی دی.چه د غازیانودپاره دمال غنیمت د ګیاه اودخوراك خیزونه استعمالول جانزدی.اودحاجت قید ئې په کښې نه دي لګولي.که حاجت ورته وی. نو استعمالولې ئې شي.اوکه حاجت ئې نه وی.نونشي» اويقيناً شرط کړي ئې دي دا «حاجت» په يو روايت «دسیرصغیر» کښې،اونه دي شرط کړي «په روایت دسیرکبیر کښې»

دليل رواية الاطلاق ﴿ وجه داول روايت «چه حاجت ئي په کښي شرط کړي دي» دا ده.چه دا «ګیاه اودخوراك خیزونه» مشترك دى په مينځ د غازيانوکښې،نونه به وی مباح فائده اخستل ددي نه مګرد ضرورت په وجه،لکه څنګه چه په جامواوسورلوکښې دی. «یعنی دمال غنیمت نه دجامو او سورلو استعمال بغیرد حاجت نه مباح نه دی»

دليل رواية الاشتراط ﴿ اووجه ددويم روايت «چه د ګیاه اوخوراك د خیزونو استعمال جائزدي» قول دنبی ﷺ دی.په طعام د خیبرکښې، كُلُوهَا وَاعْلِفُوهَا وَلَا تَحْمِلُوهَا (١) «ددا «قجوري وغيره»خورئ،اوددي نه ګیاه ورکوئ «خپلو خاروته»اومه ئې اوړئ بل خائي ته» «یعنی دلته ستاسودپاره ددي خوراك جائزدي.بل خائي ته ئې اوړل جائزنه دی»

دمال غنیمت نه د تیلودااستعمال جواز

وَيَسْتَعْمِلُوا الْحَطَبَ)(وَيَدْهِنُوا بِالدُّهْنِ

حل اللغة ﴿ ① **الحطب**:لرګی ② **الدهن**:تيل

ترجمه و تشريح ﴿ او«مجاهدين» استعمالولې شی لرګی اوغوړول کولې شی په غوړو باندي»

---

١) من حديث ابن عباس رضي الله عنه اخرجه احمد في مسنده وابن ابي شيبة في مصنفه والطبراني في معجمه (نصب الراية ٣\٥٦)۔

١) من حديث عبدالله بن عمرو رضي الله عنه اخرجه البيهقي في كتاب المعرفة (نصب الراية ٣\٦٢١)۔

دتقسیم نه وړاندې دبیت المال دهرقسم وسله داستعمال اجازت

(وَيُقَاتِلُوا بِمَا يَجِدُونَهُ مِنَ السِّلَاحِ، كُلُّ ذَٰلِكَ بِغَيْرِ قِسْمَةٍ)

ترجمه و تشریح اوجنګ به کوی (غازیان) په هغه څه چه مومی ئې د وسلو نه هرقسمه بغیردتقسیم نه.
توضیح صاحب الهدایة صاحب د هدایه فرمائیلی دی چې د(ابو الحسن قدوری) ددې قول تاویل دا دې چه کله محتاج شی دې (دبیت المال وسلو ته) په داسې شان چه نه وی ده سره وسله

دوسله خرڅولو اوجمع کولوحکم

(وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَبِيعُوا مِنْ ذَٰلِكَ شَيْئًا وَلَا يَتَمَوَّلُونَهُ)

ترجمه و تشریح اوجائزنه دی چه دوئ (غازیان) خرڅ کړی ددې (څیزونونه کوم چه ذکر شو په دې قول سره چه «من العلف للدواب وأكل الطعام للأكل والحطب للإستعمال وإدهان السلاح للقتال» نه څه څیز، اونه به ذخیره کوی دا (څیزونه کوم چه اوس اجمالاً ذکر شول)
دلیله ځکه چه خرڅول مرتب کیږی په ملك باندې (چه په یوڅیزباندې د وړاندې نه ملك ثابت وی.نوهغه څیز خرڅولې شی) اونشته ملك (په مال غنیمت باندې) لکه څنګه چه مونږ وړاندې بیان اوکړلو(چه په دارالاسلام کښې د حفاظت نه وړاندې په مال غنیمت باندې ملکیت نه راځی) او یقیناً دا نفع اخستل ددې څیزونو نه) اباحت دې (د وجې د ضرورت د استعمال نه) او اوګرځیدل پشان د مباح له الطعام (یعنی مثلاً زید بکرته اووائی. زما د طرفه تا دپاره ددې طعام خوراك مباح دې.نو په دې اباحت سره بکر لره دا نه دی جائز چه هغه طعام خرڅ کړی) دغه شان دذکر شوو څیزونو استعمال د غازیانو دپاره مباح دې.خو خرڅول ورله جائز نه دی)

توضیح التمول صاحب د هدایه فرمائیلی دی چې دا قول دابو الحسن قدوری رحمه الله چه «ولايتمولونه» په دې کښې اشاره ده دې خبرې ته چه دوی (غازیان) به نه خرڅوی دا (مال غنیمت) په مقابله د سرو او سپینو زرواو سامان تجارت کښې (چه مال غنیمت ورکړی اودا څیزونه واخلی.اودا خبره چه دا څیزونه به په سرواوسپینو زرواو سامان تجارت نه خرڅوی ددې لفظ تمول نه معلومیږی.ځکه چه تمول مالدارئ ته وائی.او مالداره کیږی سړې هله چه دې د سرو ، سپینواو سامان تجارت مالك وی) ځکه چه نشته ضرورت دې (سرو،سپینو زرو او سامان تجارت) ته (څنګه ضرورت چه د خوراك څکاك څیزونو سره ترلې شوې دې.یعنی که سړی ته خوراك څکاك نه ملاویږی.نو دا د ده د هلاکت سبب ګرځی.نوهرکله چه سرواو سپینو زرو او سامان تجارت ته د خوراك د څیزونو پشان ضرورت نشته.نودا څیزونه په سرو او سپینو زرو او سامان تجارت خرڅول جائز نه دی.احقر شاه فیصل وائی.چه د یتمولونه لفظ نه دا مترشحه کیږی.که په غازیانو باندې داسې سخت وخت راشی. چه د خوراك څکاك ذخیره ورسره ختمه شی.نوکه په دغه وخت کښې دوی مال غنیمت خرڅ کړی.یا په مال غنیمت باندې د خوراك څکاك څیزونه واخلی.نودا به جائز وی.ځکه چه لکه څنګه د ضرورت په وجه د دوی دپاره د مال غنیمت نه د خوراك څیزونه خوړل او استعمالول جائز وو.نودغه شان دسخت ضرورت په وخت کښې که د مال غنیمت په بدله کښې دوی ته طعام ملاویږی.نودا به هم جائز وی.والله اعلم)

په دارالحرب کښې دکافراسلام قبلول

وَمَنْ أَسْلَمَ مِنْهُمْ) أَحْرَزَ بِإِسْلَامِهِ نَفْسَهُ

ترجمه و تشریح اوخوك چه مسلمان شود دوئ (حربیانو) نه، په دارالحرب کښې، ده محفوظ کړلو په اسلام خپل سره نفس خپل، (یعنی داسلام قبلولونه پس مسلمانان دې نشی قتلولې.اونه ئې قیدکولې شی)

دلیله ځکه چه اسلام منافی دې په ابتدء د غلام جوړلوسره (یعنی چه یوکس مسلمان وی.نودې غلام نشی جوړیدې.ځکه چه داسلام اوغلامئ په مینځ کښې منافات دې.نوچه اسلام وی.رقیت به نه راځی.البته دا منافات د رقیت په ابتدائی حالت کښې دی.که ابتدائی حالت نه وی.نوبیا منافات نشته.لکه یوکافرپه قید کښې راوستې شی.اودې په غازیانوکښې دیوکس په حصه کښې راشی.نودې کافرغلام دې.که دغلامئ نه پس ده اسلام قبول کړلو.نوبیا به هم غلام وی.ځکه چه دلته دغلامئ په اول کښې اسلام نه دې راغلې.بلکه دهغې نه روسته راغلې.اوپه دې کښې منافات نشته) °

(وَأَوْلَادُهُ الصِّغَارُ)

ترجمه و تشریح (اوده محفوظ کړل په اسلام راوړلوسره) اولاد خپل ماشومان،

دلیله ځکه چه هغوئ هم مسلمانان دی.په اسلام دده سره تبعاً (یعنی هرکله چه په دارالحرب کښې کافرمسلمان شو.نودده په اسلام سره دده نفس اومال ته حفاظت ملاؤ شو.اودغه شان دده ماشومانو بچوته هم حفاظت ملاؤ شوځکه چه هغوئ په دین کښې دده تابع دی.چه دې په کوم دین وی.په هغه دین به ئې اولاد هم وی.لکه نبی ﷺ چه فرمائیلی دی .هرماشوم په فطرة اسلامی پیدا کیږی.خودده موریلاردده نه یا یهودی یا نصرانی یا مجوسی جوړ کړی.چه څنګه ماحول کښې پاتې شی.هم په هغه رنګ کښې رنګ شی)

(وَكُلِّ مَالٍ هُوَ فِي يَدِهِ)

ترجمه وتشریح اوهرهغه مال (ئې په خپل اسلام راوړلو سره محفوظ کړل) کوم چه دده په لاس (قبضه اوملکیت) کښې وی.

دلائله ① د وجې د قول د نبی ﷺ نه مَنْ أَسْلَمَ عَلَى مَالٍ فَهُوَ لَهُ[1] چا چه اسلام قبول کړلوپه مال سره (یعنی د اسلام په وخت کښې دهغه په ملکیت کښې څه مال وو) نوهغه دده (په ملکیت کښې باقی) دې. (ددغه مال نه په اسلام راوړلو سره دده ملکیت نه زائله کیږی. لکه څنګه چه په اسلام راوړلوسره دده دخپلې مشرکې ښځې ملك نكاحی زائله کیږی)

② اوبله دا (یعنی په اسلام راوړلوسره دده دمال محفوظ کیدو بل دلیل دا دې)چه وراندې شوې دې یدحقیقی دده (نومسلم) دې (مال) باندې د لاس د غلبه کونکو(غازیانو) نه، په دې (مال) باندې، (یعنی په دغه مال باندې د نومسلم قبضه په هغه وخت کښې راغلې وه.چه لا پرې دغازیانوغلبه نه وه راغلې. نو داسلام راوړلونه پس به دغه مال هم دهغه په ملکیت کښې باقی وی.ځکه چه د غازیانونه وراندې دغه څیزدده په ملکیت کښې موجود وو.اودغازیانو غلبه خوپرې روسته راغلې ده.خودې غلبې دغه مال دخپل مالك د ملیکت نه اونه ویستل.ځکه چه دغلبې نه وراندې هغه په خپل اسلام سره خپل مال محفوظ کړې وو)

(أَوْوَدِيعَةٍ فِي يَدِ مُسْلِمٍ أَوْذِمِّيٍّ)

---

[1] من حديث أبي هريرة رضي الله عنه اخرجه أبويعلى الموصلي في مسنده وابن عدى في الكامل (۱۸٤\۷)۔

ترجمه و تشريح> اويا امانت وی ‹دا په «يدءه» باندې عطف دې.يعنى ده په اسلام راوړلو سره دخپل هغه مال
حفاظت اوکړلو. کوم چه دده په قبضه کښې دې.اودغه شان دهغه مال حفاظت ئې اوکړلو.کوم چه دده امانت پروت وی› په لاس د مسلمان يا ذمی کښې،ځکه چه دا ‹امانت› په صحيح لاس کښې دې. ‹د مسلمان اوذمی لاس دې.يعنى که يوکس دمسلمان يا ذمی سره څه څيزامانت کيږدی.نودغه امانت به محفوظ وی.

دليله> ځکه چه حکومت د مسلمان اود ذمی د مال اوجان د حفاظت ذمه وار دې.نوکه دوئ خان سره دچا څيزامانت کيږدی.په هغې باندې به ددوئ امانة قبضه صحيح وی› او‹يد› محترم کښې دې. ‹يعنى دمسلمان سره ئې امانت کيخودې دې.اودمسلمان قبضه عندالشرع محترمه ده. اوحربی قبضه عندالشرع محترم نه ده› اوقبضه دده ‹يعنى هرواحد که مسلمان وی اوکه ذمی› پشان دقبضه د ده‹امانت کيخودنکې› ده. ‹نوګويا کوم کس سره چه امانت کيخودې شوې دې.هغه ددغه امانت په حفاظت کښې د امانت کيخودنکی نائب دې.اوکوم حکم چه دمنوب وی.په وخت دعدم منوب کښې هغه حکم د نائب وی›

د غلبې نه پس د دارالحرب د زمکې حکم

(فَإِنْ ظَهَرْنَا عَلَى الدَّارِ فَعَقَارُهُ فَيْءٌ)

د لغت حل: ① **العقار:** زمکه

ترجمه و تشريح> که مونږ غالب شو په دارالحرب باندې، ‹اوهغه مو قبضه کړلو› نوزمکه د هغه ‹نومسلم› مال فئ دې. ‹ځکه چه ددغه نومسلم سره مقابله نه ده شوې.ځکه چه هغه دخپل اسلام د وجې مسلمانانوسره جنګ نه دې کړې.يعنى کله چه په دارالحرب باندې مسلمانان قبضه اوکړی. نو د دارالحرب د مسلمان مال منقول خومحفوظ شو.البته کوم مال چه غيرمنقول وی.لکه زمکه ، نوهغه محفوظ نه دې.بلکه هغه به په نيزمال فئ وی› (1)

دليله> دليل دا دې.چه زمکه په قبضه د ملك دخلقوکښې وی اودهغې د بادشاه په قبضه کښې وی.اودا‹سې زمکې اوباغونه› هم من جمله دارالحرب نه دی. ‹يعنى په دارالحرب کښې حسابيږی› نونشوه ‹زمکه د نومسلم› په قبضه دده کښې حقيقة ‹بلکه په دارالحرب کښې شوه.نوچه څه حکم د دارالحرب د زمکووی.هغه به ددې نومسلم د زمکې هم وی.يعنى دا به د نومسلم په ملکيت کښې باقی نه وی›اووئيلی شوی دی چه دا قول ‹چه د نومسلم زمکه به مال فئ وی› دامام ابوحنيفه او ابويوسف رحمهماالله آخري قول دې.

د نومسلم ښځه مال فئ دې

(وَزَوْجَتُهُ فَيْءٌ)

ترجمه و تشريح> اوښځه دده‹نومسلم مال› فئ دې.

دليله> ځکه چه دا کافره حربيه ده.تابع نه ده دده په اسلام کښې، ‹لکه څنګه چه ددې بال بچ دده تابع وی په اسلام کښې›

---

(1) **مسلك الشافعي:** امام شافعي رحمه الله فرمائی چه دغه ‹زمکه يعنى مال غيرمنقول› دده ‹نومسلم› دپاره دې.

(وَحَمْلُهَا فَيْءٌ)

ترجمه> او حمل ددې (مال فئ دې) [1]

دليله> دليل دا دې.چه دې (حمل) جزء ددې (حربيه كافره) دې.نودې به غلام وى په غلامئ د هغې سره، (يعنى دا حمل چونكه د موريه رحم كښې دې.دده جدا حيثيت نه دې.بلكه د مور د بدن يوجزء دې.نولكه څنګه چه مور وينځه ده.دغه شان به ددې دا جزء چه حمل دې به هم مملوك وى.اوچه مملوك شو.نومال فئ به حسابيږى)

(وَأَوْلَادُهُ الْكِبَارُ فَيْءٌ)

ترجمه و تشريح> اودده (نومسلم) بالغ اولاد مال فئ دې.

دليله> څکه چه دوئ كافران حربيان دى.او(دپلار) تابع نه دى. (ددې وجې دپلار داسلام په وجه په دوئ داسلام حكم نشى لګولې)

په حربيانو كافرانوباندې د وسله خرڅولوممانعت

(وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يُبَاعَ السِّلَاحُ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ وَلَا يُجَهَّزَ إِلَيْهِمْ)

ترجمه و تشريح> اومناسب نه دى. (يعنى حرام دى) چه خرڅه كړې شى وسله په حربى كافرانوباندې ،اونه به شى ورلې (وسله) دوئ ته، (يعنى مسلمانان سوداګردې په حربى كافرانووسله نه خرڅوى)

دلائله> ① څکه چه نبى ﷺ منع كړې ده.دخرڅولود وسلې نه په حربى كافرانو باندې، اود اوړلونه هغوئ ته.([2])

② اوبله دا چه په دې كښې مضبوطول د هغوئ دى په جنګ دمسلمانانو،نوددې وجې به منع كولې شى د دې (خرڅولواواړلو) نه، او دغه شان اسونه دى.دهغې وجې چه مونږ بيان كړه. (يعنى په دې كښې په مسلمانانوباندې دهغوئ غالب كول دى) اودغه شان اوسپنه ده(يعنى دا به هم په كافرانونشى خرڅولې اونه به هلته اوړلې شى) څکه چه دا (اوسپنه) اصل د وسله دې. (ددې نه وسله جوړيږى)

دقيديانوپه بدله كښې دفديه اخستلوحكم

(وَلَا يُفَادَى بِالْأُسَارَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ،)([3])

حل اللغة> ① **يفادى**:فديه وركوى

ترجمه و تشريح> اوفديه به نه اخلى په عوض دقيديانو(دكافرانو نه چه قيد وركړى اود خلاصوپه بدله كښې ترې قيمت واخلى) په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله .

دليله> دليل دا دې.چه په دې (پريخودو دكافرانوكښې چه څي دارالحرب ته واپس شى) مدد كول دى

---

[1] **مسلك الشافعي**:- امام شافعى رحمه الله فرمائى.چه دې (حمل) مسلمان دې په تابعدارئ (دپلار) كښې،

(۱)قال الزيلعى رحمه الله غريب بهذا اللفظ روى البيهقى فى سننه والبزارفى مسنده والطبرانى فى معجمه من حديث ... عمران بن حصين رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ نهى عن بيع السلاح فى الفتنة (نصب الراية ۳\۵۹۹)۔

[3] القول الراجح هوهذا قول الإمام رحمه الله كذا في الدرالمنتقى (۱\۶۴۹) وردالمحتار(۳\۲۵۱) والهندية (۲\۲۰۶) وفتح القدير(۵\۲۲۰) وردالمحتار(۳\۲۵۱) لكن رجح العلامة ابن الهمام رحمه الله قول الصاحبين رحمهما الله ثم قال المفتى غلام قادر مدظله العالى ترجيح ابن الهمام رحمه الله اليق بهذا الزمان إلخ وإن كنت تريد التفصيل فارجع إلى القول الراجح (۱\۴۸۱)-

کفرسره، ځکه چه دې به واپس کیږي دپاره دجنګ مونږ سره (یعنی چه دوئ دخپل کافرانوسره ملګری شی.نودهغوی قوت اوطاقت به پرې زیات شی.اوبیا به دمسلمانانود مقابله دپاره دکافرانوسره یوځاې شی) اودفع کول د شرد جنګ ددوئ غوره دی د خلاصولو دقیدی مسلمان نه (چه هغه دکافرانود قیدنه خلاص کړې شی) ځکه چه دې (مسلمان قیدی) پاتې شی په لاسونودهغوئ (کافرانو) کښې نودا امتحان دې (دالله تعالی د طرفه) په حق دهغه کښې، چه نسبت ئې نه کیږی مونږ (یعنی ددې امتحان نسبت مونږ ته نه کیږی.چه مسلمانانو په امتحان کښې اچولې دې.بلکه خلق دا وائی.چه الله تعالی په امتحان کښې اچولې دې) اوامداد کول په واپس کولود قیدی دهغوئ ددې نسبت کولې شی مونږ ته (یعنی که مونږ دهغوئ قیدی هغوی ته واپس کړو.اوپه دې باندې هغوئ ته قوت ملاؤ شی.نوددې قوت نسبت مونږ ته کیږی. ځکه چه مونږ دخپله لاسه دغه قیدی هغوئ ته واپس کړلو.چه نن دوباره زمونږ د مقابلې دپاره دکافروپه صف کښې ولاړ دې)

وَقَالَا: يُفَادَى بِهِمْ أَسَارَى الْمُسْلِمِينَ)

ترجمه وتشریح ﴿**مسلک الصاحبین**﴾ اوفرمائی صاحبین رحمهماالله په فدیه کښې به اخلی ددوئ (قیدیانو) قیدیان مسلمانان ،اودا (جوازد مسلمانانوقیدیانوپه فدیه کښې اخستل)

دلیلهما﴾ ځکه چه په دې (عمل) کښې خلاصول دمسلمان دی. (دکافرود قبضه نه) اودا (خلاصول دمسلمان) زیات غوره دی دقتل دکافرنه،اود فائدې اخستلونه په ده (کافرباندې)

په قیدیانوداحسان کولوحکم

وَلَا يَجُوزُ الْمَنُّ عَلَيْهِمْ)

ترجمه و تشریح﴾ اوجائزنه دې احسان کول په دوی یعنی کافرانو قیدیانو باندې، (چه بغیرد فدیه اخستلونه آزاد کړې شی) ([1])

دلیله﴾ (دلیل) قول دالله تعالی دې.چه ﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ﴾

(وَإِذَا فَتَحَ الْإِمَامُ بَلْدَةً عَنْوَةً) فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ قَسَمَهَا بَيْنَ الْغَانِمِينَ

د لغت حل: ① **العنوة**: بغیرد جنګ نه فتح

ترجمه و تشریح﴾ اوکله چه فتح کړی امام (دمسلمانانو) یوښارپه طاقت سره یعنی په زور (یعنی جنګ اوشی.اوپه جنګ کښې کافرمغلوبه شی.اومسلمانانوته فتح نصیب شی) نودې (امام) ته اختیاردې.که خوښه ئې شی.نوتقسیم دې کړی دغه ښارپه مینځ د (مجاهدینو) غازیانو کښې،

دلیله﴾ د خیبردفتح نه پس رسول الله ﷺ خیبرپه اتلسو حصوکښې تقسیم کړې وو.اوپه هره یوه حصه کښې ئې دسلوسړو حصه داخله کړې وه.که داسلامی لښکرفوځیان ضرورت مند وی.نوبهتره هم داده.چه دغه ښارپه هغوئ کښې تقسیم کړی. ([2])

اقسام الاموال الحاصلة عنوة﴾ یادساتئ: کله چه مسلمان حکمران دکافروپه علاقه حمله اوکړی.اوهغه قبضه کړی.نوپه داسې صورت کښې حاصل شوې مال په درې قسمه وی.

---

[1] **مسلک الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په دوی باندې احسان کولې شی

[2] ۱) من حدیث زیدبن اسلم ان عمر رضی الله عنه قال والذی نفسی بیده لولا أن أترك آخرالناس بیانا لیس لهم شیء ما فتحت علی قریة إلا قسمتها كما قسم رسول الله ﷺ خیبر ولكن اتركها لهم خزانة يقتسمونها أخرجه البخاری فی المغازی باب ۳۸-

① سازوسامان،نوددي قسم نه به اول پنځمه حصه اوباسي. اوباقي څلور حصي به په هغه مجاهدينوتقسيم کړي.چاچه په دغه جهاد کښي حصه اخستي وي.اوپه دغه مال کښي مسلمان حکمران ته دتصرف اختيارنشته. چه دخمس او مجاهدينونه سوا په بل مصرف کښي ئي اولګوي.

② زمکي،اودمفتوحه علاقي زمکي په تقسيم کښي به د فقه حنفي مذهب مطابق اول ددي نه خمس اوباسي.اوباقي زمکي به د اسلامي لښکرپه شريکو مجاهدينوتقسيم کړي.اوکه د اهل ذمه کيدو شرط موجود شي.نوپه دي صورت کښي به دغه مفتوحه زمکي دسابقه مالکانوپه ملکيت کښي پريخودي شي.اوپه دغه زمکو به خراج مقرر کړي شي.اوپه دغه کسانوبه جزيه مقررکړي شي.

③ قيديان،اوقيديانوپه باره کښي امام ته دري قسمه اختياردي.

الخيار الحاصل في الاسارى> ① سرى دي قتل کړي.اوماشوم اوښځي دي قيدياني کړي

② داسلامي حکومت حکمران ته دا اختيارهم حاصل دي.چه کافران قيديان غلام جوړ کړي.په دي صورت کښي به پنځه حصه غلام ترې جدا کړي.اوباقي غلامان به په اسلامي غازيانوباندي تقسيم کړي.ځکه چه دوئ هم د مال غنيمت په معنى کښي دي.نوددوئ تقسيم به هم د مال غنيمت پشان وي.البته به غلامانوجوړولو کښي دا شرط شته.چه قيديان عرب نه وي.اويا مرتد نه وي.ځکه چه دوئ نه غلامان نشي جوړولي.بلکه دوئ به قتل کولي شي.اويا به ترغيب ورکولي شي.چه اسلام دوباره قبول کړي.

③ که اسلامي حکمران غواړي.نودوئ دي بغيرد څه عوض نه داحسان په طورپريږدي.

دمفتوحه علاقي زمکي دخپلومالکانوپه قبضه کښي پريخودل

(وَإِنْ شَاءَ أَقَرَّ أَهْلَهَا عَلَيْهَا وَوَضَعَ عَلَيْهِمُ الْجِزْيَةَ وَعَلَى أَرَاضِيهِمُ الْخَرَاجَ)

ترجمه> اوکه اوغواړي(امام) نوبرقراردي اوساتي مالکان دهغي په هغه مال باندي،اومقرر دي کړي په هغوئ باندي جزيه،(يعني هغه ټيکس چه دوئ به ئي مسلمان حاکم ته ورکوي.اودهغي په بدله کښي به اسلامي حکومت ددوئ د جان اومال حفاظت کوي) اودهغوئ په زمکوباندي خراج(يعني دکافر دزمکو په پيداوار کښي به اسلامي حکومت څه حصه اخلي دي ته خراج واني)

دليله> دغه شان کړي وو حضرت عمر رضي الله عنه دعراق د کلو په زمکو،په موافقت د صحابو رضي الله عنهم اوتعريف نه وو بيان شوي دهغه چا چه مخالفت ئي کړي وو ددوئ (حضرت عمر رضي الله عنه چه حضرت بلال اوسلمان فارسي رضي الله عنهما وو) اوپه دي تولوکښي (که دغه زمکي په مسلمانانو غازيانوباندي تقسيمول وي.اوکه دهغي دمالکانو په قبضه کښي پريخودل وي.اودهغي په بدله کښي په هغوئ خراج مقرر کول وي.) (١)

فتح العراق> دعريودعلاقوفتح کولونه پس د عراق فتح دټولو نه لويه فتح وه.کله چه عراق فتح شو.نوحضرت عمر رضي الله عنه د عراق دکلود زمکو د تقسيم په باره کښي د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره مشوره اوکړله.چه دي زمکو سره څه اوکړو.

① حضرت علي رضي الله عنه اوفرمائيل.دعراق د کلو زمکي دي نشي تقسيم کولي.بلکه دا دي دټولومسلمانانويوه مشترکه سرمايه پريخودي شي.

② حضرت معاذ رضي الله عنه اوفرمائيل.که د عراق دکلو زمکه تقسيم کړي شي.نوداسي به مسلمانانوته ډيره

---

٢) قال الزيلعي رحمه الله روى ابن سعد في الطبقات في ترجمة عثمان بن حنيف ...عن الحكم ومحمد بن المسر(نصب الراية ٦١٠\٣)۔

لویه زمکه په لاس راشي.خو هسې نه چه روسته دا زمکه د يوكس په ملكيت كښې راشي.اود روسته راتلونكى مسلمانانو دپاره څه لاره پاتې نشي.

③ حضرت بلال رضی الله عنه اوسلمان فارسی رضی الله عنه اوفرمائيل.چه دخيبرد تقسيم پشان دې دا زمكې هم په مجاهدينوتقسيم كړې شي.دكافي بحث نه پس دا فيصله اوشوه.چه دعراق زمكې دې هم دخپلومالكانو په قبضه كښې پريخودې شي.اوددوئ په نفسونودې جزيه مقرر كړې شي.اوپه زمكو خراج،نوټولوصحابه كرام رضی الله عنهم په دې فيصله باندې اتفاق اوكړلو.البته حضرت بلال اوسلمان فارسى رضى الله عنهما نه په اول كښې اختلاف كړې وو. خو امام محمد رحمه الله په سيركبيركښې ذكركړې دى.چه حضرت بلال اوسلمان فارسى رضی الله عنهما دخپلې رائې نه رجوع كړې وه.

دجنګې قيديانوقتلول اوغلامان جوړول

(وَهُوَفِي الْأُسَارٰى بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ قَتَلَهُمْ)

حل اللغة ﴿ ① **الخيار**:اختيار ② **الاسارى**:قيديان

ترجمه و تشريح ﴿ اودې (امام) په باره د قيديانوكښې اختيارمند دې.كه غواړى قتل دې كړى دوئ،

دلائله ﴿ ① څكه چه نبى صلی الله علیه وسلم قتل كړې وو(دفتح مكه په موقع باندې نبى صلی الله علیه وسلم ته يوكس خبر راوړلو.چه ابن خطل دكعبې غلاف نيولې دې.اوحرم په مسجدحرام كښې ولاړ دې.نبى صلی الله علیه وسلم حكم اوكړلو.دې قتل كړئ.دا ابن خطل اول مسلمان شوې وو.نبى صلی الله علیه وسلم د صدقوپه راغونډولوباندې يوځانې ته اوليږلو. اويو غلام اويوانصارى ئې ورسره هم كړلو.په لاره كښې ده غلام ته روټئ تيارولو حكم اوكړلو. خوهغه ته خوب ورغلې وو.نواوده شو.دې په غصه كښې راغلو.اوهغه غلام ئې قتل كړلو.بيا ورته سوچ ورغلو.چه ددې غلام په قصاص كښې به نبى صلی الله علیه وسلم ما قتل كوى.نوځان سره ئې د صدقې څاروى واخستل.اومكې ته لاړلو. اومرتدشو.اوبيا به ئې په اشعارواودسندرغاړو په سندرو كښې د نبى صلی الله علیه وسلم هجوه كوله.چونكه دې كس درې جرمونه كړى وو.اودهرجرم سزا قتل وو.د قتل سزا قصاص، دارتداد سزا قتل،دنبى صلی الله علیه وسلم دهجو سزا قتل.كذا فى سيرة المصطفى لمولانامحمدادريس كاندهلوى)}(¹)

② اوبله دا چه په دې (قتل كولودكافرانو)كښې ختمول د ماده فساد دى. (يعنى كافران په زمكه كښې فساد خوروى.لكه دشرك ارتكاب هم فساد دې.دغه شان دمسلمانانومقابله كول هم فساد دې.نوچه قتل شى.دفساد جرړه به ختمه شى)

(وَإِنْ شَاءَ اسْتَرَقَّهُمْ)

حل اللغة ﴿ ① **الاسترقاق**:غلامان جوړول

ترجمه و تشريح ﴿ اوكه اوغواړى (امام) نوغلامان دې كړى دوئ (قيديان)

دليله ﴿ څكه چه په دې (غلامى) كښې دفع د شر ددوئ ده، (څكه چه دوئ به مغلوب اومحكوم وى.دمقابلې طاقت به په كښې نه وى) سره د ډيرې فائدې نه دمسلمانانو(يعنى چه دوئ دمسلمانانوغلامان جوړ شى.نومسلمانانوته هم مالى فائده ده.اوهم بدنى فائده.مالى فائده خودا ده.چه مال متقوم دې.اوجانى فائده دا چه خدمت ترې اخستې شى)

---

١) فيه احاديث منها حديث انس رضی الله عنه ان النبي صلی الله علیه وسلم دخل عام الفتح وعلى رأسه مغفر فلما نزعه جاءه رجل فقال يا رسول الله ابن خطل متعلق باستار الكعبة فقال اقتلوه اخرجه البخارى فى المغازى باب ٤٨ ومسلم فى الحج رقم ٤٥٠-

(وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُمْ أَحْرَارًا ذِمَّةً لِلْمُسْلِمِينَ)

حل اللغة ① **احرار**: جمع د حر، آزاد

ترجمه و تشریح اوکه اوغواړی پرې دې ږدی دوئ آزاد په ذمه دمسلمانانوکښې (یعنی بحیثیت د ذمیانودې په اسلامی وطن کښې خوشې کړی)

دلیله دهغه وجې چه مونږ بیان کړه. (په واقعه دحضرت عمر رضی الله عنه کښې چه دعراق خلق ئې د ذمیانو په حیثیت آزاد پریخودی وو)

داحسان په طورقیدیان دارالحرب ته واپس کول

(وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَرُدَّهُمْ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ)

ترجمه و تشریح اونه دی جائز چه واپس کړی (امام) دوئ دارالحرب ته

دلیله ځکه چه په دې (واپس کولو) کښې مضبوطول د دوئ (حربیانو) دی په مسلمانانو باندې.

ددشمن څاروی دارالاسلام ته راوستلونه دعجزصورت

(وَإِذَا أَرَادَ الْإِمَامُ الْعَوْدَ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ وَمَعَهُ مَوَاشٍ فَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى نَقْلِهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ ذَبَحَهَا وَحَرَّقَهَا وَلَا يَعْقِرُهَا وَلَا يَتْرُكُهَا)

حل اللغة ① **العود**: واپس کيدل ② **مواش**: جمع د ماشية څاروی ③ **الذبح**: حلالول ④ **الحرق**: سوزول ⑤ **العقر**: زخمی کول

ترجمه و تشریح اوکله ه اراده اوکړی امام د واپس کیدو (دارالاسلام ته) اوده سره څاروی وی (لکه ګنې ،چیلئ وغیره) اوقادرنه وی په نقل کولو (یعنی بوتلو) دهغې دارالاسلام ته، نوذبح دې کړی اواودې سوزوی (پس دذبح کولونه) اوزخمی کوی دې نه (چه پښې لاس یا نوراندامونه ترې کټ کړی) اونه دې پریږدی داسې. (۱)

دلیله دلیل دا دی چه ذبح دحیوان جائزده د غرض صحیح دپاره، اونشته غرض (اومقصد) زیات صحیح د ماتولودطاقت د دشمن (ځکه چه مونږ دا څاروی ذبح کړو نوبه دې باندې د دشمن مادی قوت کمزورې شو. اوچه مادی قوت کمزورې شی. دا دفوځی قوت دکمزورئ مقدمه ده) بیا به سوزولې شی (دغه څاروی پس د ذبح کولونه) په اور سره، دې دپاره چه ختمه شی فائده ددې دکافرانونه (اودهغوئ دفائدې اخستوقابل پاتې نشی) اودا (سوزول) اوګرځیدل پشان نړولو دکورونو (یعنی دکافرانو کورنه نړول جائزدی. ځکه چه په دې کښې هغوئ ته مادی نقصان رسی)

د مال غنیمت دتقسیم وخت

(وَلَا يُقَسِّمُ غَنِيمَةً فِي دَارِ الْحَرْبِ حَتَّى يُخْرِجَهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ)

ترجمه و تشریح اونه به تقسیمو ی غنیمت په درالحرب کښې تردې چه راوې باسی (دهغې نه دارالاسلام ته، راو محفوظ شی) (۲)

---

۱ **مسلک الشافعي**: - فرمائی امام شافعی رحمه الله پرې دې ږدی دغه شان (بغیرد ذبح کولونه)

۲ **مسلک الشافعي**: - اوفرمائیلی دی امام شافعی رحمه الله نشته باك په دې کښې (چه په دارالحرب کښې د مال غنیمت تقسیم اوشی)

دلیله > دلیل دا دې چه نبی ﷺ منع کړې ده د بیع د مال غنیمت نه، په دارالحرب کښې (یعنی په درالحرب کښې به مجاهدین اخستل اوخرخول نه کوی) (۱)

دمعاون اومقاتل په استحقاق غنیمت کښې برابری

(وَالرِّدْءُ وَالْمُقَاتِلُ فِي الْعَسْكَرِ سَوَاءٌ)

حل اللغة > ① **الردء:** مدد کول ② **العسکر:** لښکر

ترجمه و تشریح > (ابو الحسن قدوری رحمه الله) فرمائی. مددګاراوجنګ کونکې دواړه برابر دی په لښکرکښې، (نو څومره حصه چه مقاتل ته ملاویږی. هغه هومره به معاون ته هم ملاویږی)

دلیله > دوجې د برابری ددوئ نه په سبب (داستحقاق غنیمت) کښې، اودا (سبب داستحقاق) تیریدل دی (داسلامی سرحدنه، داحنافوپه نیز، بس چه د اسلامی سرحدنه تیرشی. نودفتح په صورت کښې دې مستحق غنیمت دې)

دارالاسلام ته د واپس کیدونه وړاندې دلښکرسره یوځائې کیدل

(وَإِذَا لَحِقَهُمُ الْمَدَدُ فِي دَارِ الْحَرْبِ قَبْلَ أَنْ يُخْرِجُوا الْغَنِيمَةَ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ شَارَكُوهُمْ فِيهَا)

حل اللغة > ① **المدد:** مددګاران ② **الانقضاء:** ختمیدل

ترجمه و تشریح > اوکله چه یوځائې شی دوئ (مجاهدینو) سره مددګارپه دارالحرب کښې وړاندې ددې نه

چه دوئ راوړولې وی غنیمت دارالاسلام ته نوشریکیږی به (دغه مددګاران دلښکرسره) په دې (غنیمت کښې) (۲)

دلیله > د اسلامی سرحدنه تیریدل شرط دې. نوپه زیربحث مسئله کښې زمونږ په نیزدا مددګاران څکه مستحق د غنیمت دی. چه دوئ داسلامی سرحدنه تیرشوی دی.

اسباب قطع الشرکة > یقیناً ختمیږی حق دشرکت په نیززمونږ (یعنی کوم کسان چه دمدد دپاره د لښکرسره دجنګ نه پس یوځائې شی. نود دوئ حق دمال غنیمت نه په درې طریقوختمیږی. که په دغه دریوکښې یود هم موجود شی. نودوئ مستحق د شرکت نه دی. اوکه په دې کښې یوهم نه وی. نوبیا مستحق دغنیمت دی) په محفوظ کولو سره، (په دارالاسلام کښې) یا په تقسیم دامام سره په دارالحرب کښې، اویا په خرڅولو د غنیمت په دارالحرب کښې، څکه چه په هره یوه طریقه ددې (دریوواړو) نه، پوره کیږی ملك (دمجاهدینوپه غنیمت) نو ختمیږی حق د شرکت (په مال غنیمت کښې) دمددګارانو، (اوپه زیربحث مسئله کښې په دغه دریوکښې یوه هم نه ده موجود شوې. نو څکه مستحق د غنیمت دی)

دلښکردبازاریانودپاره دمال غنیمت حکم

(وَلَا حَقَّ لِأَهْلِ سُوقِ الْعَسْكَرِ فِي الْغَنِيمَةِ إِلَّا أَنْ يُقَاتِلُوا)

---

۱) قال الزيلعي رحمه الله غريب جداً (نصب الراية ۳\۱۹۶)_

۲) **مسلك الشافعي:**- دامام شافعی رحمه الله پس د ختمیدو دجنګ نه، (یعنی دامام شافعی رحمه الله په نیزکه جنګ ته حاضرشوې نه وی. نواګرچه غنیمت نې دارالاسلام ته نه وی راوړلې. اوددې نه وړاندې ورسره مددګاران یوځائې شی. په مال غنیمت کښې ددوئ حصه نه کیږی)

ترجمه و تشريح (ابو الحسن قدوری ﷫) فرمائي. اونشته حق د بازاريانو دلښکردپاره په غنيمت کښې (يعنی کوم کسان چه په جنګ کښې شريك شوی نه وی. بلکه په کوم خاني کښې اسلامی فوځ ويره وی. دوئ هلته د مجاهدينو دضرورت دپاره دخوراك څکاك څيزونه جمع کړی وی. اوهغه خرڅوی. نوزمونږ په نيزيه مال غنيمت کښې دهغوئ حصه نشته) مګردا چه دوئ شرکت کړې وی په جنګ کښې، (نوبيا دمال غنيمت حقدار دی) ([1])

دليله دليل دا دې. چه نه دې موجود شوې تيريدل (داسلامی سرحد نه) په قصد د جنګ (يعنی دا سوداګرچه داسلامی لښکرسره داسلامی سرحدنه تيريدل. نودوئ اراده د جهاد نه وه. بلکه د تجارت وه. چه مونږيه په مجاهدينويانديې ددوئ د ضرورت څيزونه خرڅوو) نو معدوم شو سبب ظاهری (د اسحقاق غنيمت، يعنی داستحقاق غنيمت دپاره سبب دا وو. چه دوئ دجهاد په اراده د اسلامی سرحد نه راوړيدلې وی. اوداسې نه ده شوې. نوداسحقاق غنيمت سبب موجود نشو. اوس هرکله چه داستحقاق غنيمت ظاهری سبب نشته. نو) اعتبار به کولې شی دسبب حقيقی، چه جنګ دې. (يعنی چه استحقاق غنيمت ظاهری سبب موجود نه شو. نواوس به ظاهری سبب ته ګورو. چه جنګ دې. که هغه موجود شوې وی. نواسحقاق د غنيمت به وی. اوکه نه وی. نو استحقاق غنيمت به نه وی. اوپه زيربحث مسئله کښې حقيقی سبب چه جهاد دې. ددې مجاهدينو نه نه دې موجود شوې. نوځکه به دوئ مستحق دمال غنيمت نه وی)

په مسلمانانوکښې ديوکس کافرله امان ورکول

وإذا أمن رجل حر أو امرأة حرة كافرا أو جماعة أو أهل حصن أو مدينة صح أمانهم ولم يجز لأحد من المسلمين قتلهم

ترجمه و تشريح کله چه امان ورکړی سړې آزاد، يابنځه آزاده (امان ورکړی) يوکافرته، يا يوې ډلې (دکافرانوته) اواوسيدونکود قلعې ته (امان ورکړی) يااسيدونکو دښارته (امان ورکړی) نوصحيح دې امان ورکول د دوئ، اوجائزنه دی دهيڅ يوکس دمسلمانانو دپاره، جنګ کول دهغوئ سره، (اګرچه کوم کس امان ورکړې وی. هغه شل يا ړوند يا ګوډ وی)

دليله دليل په (صحت د) دې (امان) کښې قول دنبی ﷺ دې. چه مسلمانان برابر دی. وينې ددوئ، (په قصاص اوديت کښې. په مالدار او فقيردغه شان په معزز اوغيرمعززکښې فرق نشته. که شريف قاتل وی. نودغيرشريف مقتول په بدله کښې به قصاص کولې شی) اوکوشش به کوی د ذمه ورای ددوئ دپاره، ادنی په دوئ کښې، يعنی کم مقدارچه يوکس دې. (يعنی که په مسلمانانوکښې يوکس يوه ذمه واری واخستله. نوټول مسلمانان به دهغه ذمه واری پوره کولوکوشش کوی. نوددې حديث مطابق که آزادسړی يا ښځې کوم حربی ته امان ورکړلو. په نورومسلمانانوده د امان ورکولواحترام واجب دې. چه دغه کافرته به څه نه وائی) ([2])

[1]) **مسلك الشافعي**:- فرمائی امام شافعی﷫ په يو د دوو قولونه دده کښې چه حصه به مقرر کولې شی ددوئ دپاره په مال غنيمت کښې، اوبل قول ئې زمونږ دمذهب مطابق دې.

[2]) من حديث علي بن أبي طالب ﷛ أخرجه البخاري في المغازي باب ٠ ومسلم في الجهاد رقم ٥٩ وابوداود في الجهاد باب ١١٤ واحمد في المسند (٢٤٦١٢)۔

په امان كښې د مسلمانانو د نقصان په صورت كښې امان ماتول

(اِلَّااَنْ يَّكُوْنَ فِيْ ذٰلِكَ مَفْسَدَةٌ فَيَنْبِذُ اِلَيْهِمُ الْاِمَامُ)

ترجمه و تشريح مگر دا چه وي په دې (امان وركولو د يو مسلمان كښې) نقصان (د مسلمانانو نو ماته به كړي وعده (د امان) هغوئ سره، (او اعلان به ورته اوكړي.چه زمونږ فلانى مسلمان چه تاسو ته امان دركړې وو..هغه امان مونږ ماتوو.او دا دې امان ماتولو مثال دا دې.دې)

د ذمي امان وركول

(وَلَايَجُوْزُ اَمَانُ ذِمِّيٍّ)

ترجمه و تشريح اونه دى جائز امان وركول (حربيانو ته) د ذمي

دلائله ① ځكه چه دې (ذمي) متهم دې په دوى (حربيانو) باندې (چوكه ذمي هم كافر دې نو دده په امان وركولو به دده باندې دا تهمت لگيدې شى.چه دا امان دې دخپل مذهبى تعصب په وجې وركوى

② دغه شان (بلكه وجه د ذمي د امان عدم جواز دا ده.چه) نشته ولايت دده (ذمي) په مسلمانانو باندې (ځكه چه الله تعالى فرمائيلى دى ﴿وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا﴾ اود ذمي دامان وركولو د وجې په نورو مسلمانانو باندې دده د امان احترام لازمول هم ولايت دې.كوم چه جائزنه دې)

دقيدى اوسوداگر امان وركول

(وَلَا اَسِيْرٍ وَلَا تَاجِرٍ يَدْخُلُ عَلَيْهِمْ)

ترجمه و تشريح اونه (دې جائز امان وركول) دقيدى (چه د حربيانو په قيد كښې وى) اونه د سوداگر چه داخل شوې وى په هغوئ باندې (يعنى دهغوئ ښارته د تجارت دپاره.يعنى كه مسلمان قيدى يا سوداگر حربيانو ته امان وركړى.نو ددوئ دامان وركولو د وجې په مسلمانانو باندې د هغوئ دامان احترام ضرورى نه دې)

دلائله ①ځكه چه دا دواړه (كه مسلمان قيدې دې اوكه سوداگر دې) مغلوب دى په لاسونو د هغوئ كښې.نونه ويريږى (حربيان) ددوئ (قيدى اوسوداگر) نه.اوامان خاص دې په محل د ويرې پورې. (يعنى كوم كس چه ددې اهليت لرى.چه دې حربيانو ته امان وركړى.اوپه نورو مسلمانانو دده د امان احترام لازم وى.نو دهغې په شرطونو كښې يو شرط دا هم دې.چه دغه امان وركونكې داسې وى.چه كافران دهغه نه ويريږى.اوپه زيربحث صورت كښې قيدى اوسوداگر دواړه مغلوب دى.كافران د دوئ نه نه ويريږى.نوځكه ددوئ امان وركول معتبر نشو)

②اوبل عقلى دليل دا بيانوى)اوځكه چه دا دواړه (قيدى اوسوداگر) مجبوروليې شى په دې (امان وركولو) باندې(چه حربيان ئې مجبوره كړى.چه تاسو مونږ ته امان راكړئ.گنى تاسو قتل كوو) نوخالى كيږى امان د مصلحت (د مسلمانانو نه.اوكله چه په امان وركولو كښې د مسلمانانو خيرنه وى.نوكه يوكس امان وركړې هم وى.امام به دهغه امان ماتوى.نوپه دې صورت كښې چونكه ددوئ امان وركول هم د مسلمانانو د خيرنه خالى دې.ځكه به نشى قبلولې

دعبد محجور د امان مسئله

(وَلَا يَجُوزُ أَمَانُ الْعَبْدِ الْمَحْجُورِ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ مَوْلَاهُ فِي الْقِتَالِ.[1])

ترجمه و تشریح اونه دي جائز امان ورکول د عبد محجور (چه دي دتجارت کولونه منع شوي وی) په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله البته دا چه اجازت کړي وی ده ته مولی ددۀ په جنګ کولو کښي، (چه ته په جهاد کښي شرکت کولي شې)

دليله دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دي.چه دي (عبد) بندکړي شوي دي دجنګ کولونه (ځکه چه مولی منع کړي دي) نونه صحيح کيږی امان ورکول ددۀ، ځکه چه دویٔ (حربيان) نه ويريږی ددۀ (عبد محجور نه، (ځکه چه هغویٔ ته دا پته ده.چه دي زمونږ سره جنګ نشی کولي.ځکه چه مولی منع کړي دي) نوملاقات اونکرلو امان دمحل خپل سره (اومحل د هغي ويره ده.يعنی د امان دپاره دا شرط دي.چه ځوك امن ورکوی.هغه داسي وی.چه حربی دهغه نه ويريږی.اوپه زيربحث مسئله کښي کافران ددۀ نه ځکه نه ويريږی.چه مولی دي دجهاد کولونه منع کړي دي.نوځکه ددۀ امان نه صحيح کيږی)

(وَقَالَ ابويوسف ومُحَمَّدٌ يَصِحُّ أَمَانُهُ)

ترجمه اوفرمائی امام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله چه صحيح کيږی امان ددۀ (امان ورکول د عبدمحجور)

تشريح دلائلهما ① دصاحبينو دليل قول دنبی ﷺ دي. أَمَانُ الْعَبْدِ أَمَانٌ[2] چه امان د غلام امان دي. (يعنی که مسلمان غلام چاته امان ورکړی.نوپه نورومسلمانانوددۀ دامان احترام لازم دي.اوددۀ امان صحيح دي)

② اوبل ددي وجي (دغلام امان صحيح دي.چه دي (غلام) مومن دي اوصاحب دقوت دي. (اودامان داهليت په شرطونوکښي ايمان اوقوت هم شرط دی)نوصحيح کيږی امان ددۀ دوجي دقياس نه په عبدماذون باندي. (لکه څنګه چه د عبدماذون چه مولی ورته د دجهاد کولواجازت کړي وی. او هغه چاته امان ورکړی.نودهغه امان صحيح دي.دغه شان به دعبد محجورامان هم صحيح وی)

الجواب عنه دعبدمحجور عن القتال قياس په عبدماذون فی القتال باندي صحيح نه دي.ځکه عبد ماذون ته دقتال اجازت شته(ځکه چه ويره ددۀ نه متحقق ده. (ځکه چه دي په جهاد کښي شرکت کولي شی.نوحربيان تري ويريږی.چه په مونږ به حمله اوکړی.اودا څيزپه عبدمحجورکښي نشته. نو دا قياس مع الفارق شو.کوم چه جائز نه دي)

دکافرانوپه هغه مالونوملکيت راتلل کوم چه هغویٔ د اهل کتابونه قبضه کړي وی

(وَإِذَا غَلَبَ التُّرْكُ عَلَى الرُّومِ فَسَبَوْهُمْ وَأَخَذُوا أَمْوَالَهُمْ مَلَكُوهَا)

[1]) القول الراجح هوهذا قول الإمام كذا في فتح القدير(٥\٢١٤)والعناية (٥\٢١٤)و الخانية (٤\٤٦١) وردالمختار(٣\٢٥٠) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٨٠)۔

[2]) قال الزيلعي رحمه الله غريب وروى عبدالرزاق في مصنفه ...عن فضيل بن يزيد الرقاشي قال شهدت قرية من قرى فارس يقال لها :شاهرتا فحاصرناها شهراً حتى إذا كنا ذات يوم وطمعنا أن نصبحهم إنصرفنا عنهم عند المقيل فتخلف عبدمنا،فاستأمنوه فكتب إليهم في سهم اماناً ثم رمى به إليهم فلما رجعنا إليهم خرجوا في ثيابهم ووضعوا أسلحتهم فقلنا ماشأنكم؟فقالوا: لا ندرى عبدكم من حركم وقد خرجنا بأمان فكتبا الى عمر رضي الله عنه فكتب عمر رضي الله عنه إن العبد المسلم من المسلمين وأمانه أمانهم رواه ابن أبي شيبة في مصنفه وزاد وأجاز عمر رضي الله عنه أمانه (نصب الراية ٣\٦٠٦)۔

ترجمه و تشريح> اوكله چه غالب شي تاتاريان (كافران) په روميانو(عيسايانو) باندې، اوهغوئ (روميان) قيديان كړي.او واخلي مالونه دهغوئ

دليله> ځكه چه غلبه يقيناً متحقق شوې ده په مال مباح باندې او هم دا (استيلاء په مال مباح باندې) سبب دې (دملك راتلو په هغې باندې) لكه چه مونږ به ئې بيان كړو

(وَاِنْ غَلَبْنَا عَلَى التُّرْكِ حَلَّ لَنَا مَا نَجِدُهُ مِنْ ذٰلِكَ)

ترجمه> اوكله چې غلبه اوكړه مونږ(مسلمانانو) په تركيانو(كافرانو) نوحلال دی زمونږ (مسلمانانو) دپاره هغه څه چه مومو ئې مونږ ددغه نه (كوم چه تركيانوكافرانو د روميانو عيسايانو نه اخستی وی)

دليله> دوجې د قياس نه په ټولومالونو ددوی (تركيانوكافرانو،يعنی لكه څنګه چه مونږ د تركيانوپه خپلو مالونوباندې غلبه اوكړو.نودهغې مالكان جوړيږو.دغه شان به دهغه مالونو هم مالكان جوړيږو.كوم چه هغوی د روميانو عيسايانونه ا خستی وی.يعنی زمونږ دپاره دواړه برابردی)

دكافرانوپه هغه مالونوملكيت راتلل كوم چه هغوئ د اهل كتابونه قبضه كړی وی

(وَاِذَا غَلَبَ التُّرْكُ عَلَى الرُّوْمِ فَسَبَوْهُمْ وَاَخَذُوْا اَمْوَالَهُمْ مَلَكُوْهَا)،

ترجمه و تشريح> اوكله چه غالب شي تاتاريان (كافران) په روميانو(عيسايانو) باندې، اوهغوئ (روميان) قيديان كړي.او واخلي مالونه دهغوئ

دليله> ځكه چه غلبه يقيناً متحقق شوې ده په مال مباح باندې او هم دا (استيلاء په مال مباح باندې) سبب دې (دملك راتلو په هغې باندې) لكه چه مونږ به ئې بيا كړو

(وَاِذَا غَلَبْنَا عَلَى التُّرْكِ حَلَّ لَنَا مَا نَجِدُهُ مِنْ ذٰلِكَ)

ترجمه> اوكله چې غلبه اوكړه مونږ(مسلمانانو) په تركيانو(كافرانو) نوحلال دی زمونږ (مسلمانانو) دپاره هغه څه چه مومو ئې مونږ ددغه نه (كوم چه تركيانوكافرانو د روميانو عيسايانو نه اخستی وی)

دليله> دوجې د قياس نه په ټولومالونو ددوی (تركيانوكافرانو،يعنی لكه څنګه چه مونږ د تركيانوپه خپلو مالونوباندې غلبه اوكړو.نودهغې مالكان جوړيږو.دغه شان به دهغه مالونو هم مالكان جوړيږو.كوم چه هغوی د روميانو عيسايانونه ا خستی وی.يعنی زمونږ دپاره دواړه برابردی)

(وَاِذَا غَلَبُوْا عَلَى اَمْوَالِنَا وَاَحْرَزُوْهَا بِدَارِهِمْ مَلَكُوْهَا)

ترجمه وتشريح> اوكله چه غلبه اوكړي (كافرانو) په مالونو زمونږ الله دې نكړی اومحفوظ كړی دا (مالونه زمونږ) په خپل ملك كښې نومالكان جوړيږی دهغې(مالونو) [1]

دليله> دليل دا دې.چه غلبه (دكافرانو) راغلې ده په مال مباح باندې (ځكه چه غلبه دې ته وائی.چه په يو څيزباندې په داسې طريقه قدرت راشی.چه فی الحال تري هم فائده اخستې شی.او د روسته دپاره ئې ذخيره كولې هم شی.اوپه داسې طريقه باندې قدرت هله راځی.چه هغه څيز په خپل ملك او كور كښې محفوظ كړی.اوچه كله كافران د مسلمانانوپه مال غلبه اوكړی.اوخپل ملك ته ئې يوسی.نودمسلمان دحق دوجې چه دغه مال ته كوم عصمت ملاؤ شوې وو.هغه زائله شو.او مباح اوګرځيدلو.اوداسې شو.

[1]) فرماني امام شافعی رحمه الله نه مالكان كيږی (كافران) ددې (مالونوزمونږ چه خپل ملك كښې ئې محفوظ كړی.

دمسلمانانو دوباره په خپل مال باندې غلبه

(وَإِنْ ظَهَرَ عَلَيْهَا الْمُسْلِمُونَ فَوَجَدُوهَا قَبْلَ الْقِسْمَةِ فَهِيَ لَهُمْ بِغَيْرِ شَيْءٍ، وَإِنْ وَجَدُوهَا بَعْدَ الْقِسْمَةِ أَخَذُوهَا بِالْقِيمَةِ إِنْ أَحَبُّوا)

ترجمه و تشريح که غالب شو په دغه مال باندې (کوم چه دمسلمانانو نه کافرانو قبضه کړې وو) مسلمانان، اوا وموندلو هغه (مال خپلو زړو) مالکانو، وړاندې د تقسیم (دمال غنیمت) نه، نو دغه مال ددوئ (خپلو سابقه مالکانو) دپاره دې بغیرد څه څيزنه (بلکه دوئ ته به مفت ملاویږی. ددې په عوض کښې به قیمت وغیره نه ورکوی) او که وې موندلو هغه مال (چه ددوئ نه کافرانو اخستې وو) پس د تقسیم (دمال غنیمت) نه (او دوئ دغه مال د يو غازی په حصه کښې راغلې وو) نو اخلی به ئې په قیمت سره که غواړی (يعنې که دا غواړی. چه زما سابقه مملوك څیزدې. زه دا غواړم. چه زما لاس ته راشی. خکه چه ما سره ئې وخت تیرشوې دې. نوچه د کوم غازی په حصه کښې هغه راغلې وی. هغه ته به ئې قیمت ورکړی. اوهغه څیزبه ترې ترلاسه کړی) (قیمت به ورکوی)

دلیله دوجې د قول د نبی ﷺ نه په دې (حکم) کښې (چه يو صحابی رضی الله عنه ته ئې فرمائیلی وو) که تا اوموندلو هغه (څیزکوم چه ستا نه کافرانو قبضه کړې دې) وړاندې د تقسیم (دمال غنیمت) نه، نوهغه ستا دې بغیرد څه عوض نه، او که اودې موندلو هغه پس دتقسیم (دمال غنیمت) نه، نوهغه ستا دپاره په قیمت دې. (چه دچا په حصه کښې رسیدلې وی. هغه ته به ئې قیمت ورکوې) ([1])

په دارالحرب کښې د مشتری نه دخپل مال اخستلوحکم

(وَإِنْ دَخَلَ دَارَ الْحَرْبِ تَاجِرٌ فَاشْتَرَى ذَلِكَ فَأَخْرَجَهُ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ فَمَالِكُهُ الْأَوَّلُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِالثَّمَنِ الَّذِي اشْتَرَاهُ بِهِ التَّاجِرُ، وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُ)؛

ترجمه و تشريح او که داخل شو دارالحرب ته (زيد) سوداګر، او واې اخستلو هغه (څيز کوم چه دمسلمانانو نه کافرانو اخستې وو) او راوړ ئې ورلو دارالاسلام ته، نو اولنی مالك ته اختیاردې. که خوښه ئې وی نو وادې اخلی هغه (سابقه مملوك څيزخپل) په هغه قيمت چه اخستې وی (زيدسوداګر) په هغې باندې، او که غواړی پرې دې ګدی. (او که سابقه مالك ته بغير قيمته د سوداګرنه دخپل سابقه مملوك څيزاجازت نشی ورکولی)

دلیله خکه چه ده (سوداګر) ته ضرر رسی په اخستلو سره مفت (يعنې چه سوداګربه دارالحرب کښې په پیسو اخستې وی. او دلته ئې ترې سابقه مالك مفت واخلی. نوبه دې کښې سوداګرته نقصان دې. خکه به داسې نشی کولې) ولې ته ګورې نه چه ده (سوداګر) ورکړې دې عوض (چه ثمن دی) په مقابله دهغه څيز کښې (چه سابقه دده ملك وو) نودې برابرې دشفقت په هغه صورت کښې چه مونږ اووئيل (چه سوداګربه څومره قيمت په دارالحرب کښې اخستې وی. اوهغه ته به څومره باندې پريوتې وی. هغه قيمت دې ورته ورکړی. اوخپل سابقه مملوك څيزدې ترې واخلی)

حربیان د غلبه په صورت کښې زمونږ دکومو څیزونو مالکان نشي جوړیدې؟

(وَلَا يَمْلِكُ عَلَيْنَا أَهْلُ الْحَرْبِ بِالْغَلَبَةِ مُدَبَّرِينَا وَأُمَّهَاتِ أَوْلَادِنَا وَمُكَاتَبِينَا وَأَحْرَارَنَا وَنَمْلِكُ عَلَيْهِمْ جَمِيعَ ذَلِكَ)

---

[1] من حديث ابن عباس رضی الله عنهما اخرجه الدارقطنى فى سننه (۴\۱۱۴) والبيهقى فى سننه)۔

ترجمه و تشريح اونه مالكان كيږي حربيان زمونږ (چه دا ملكيت راشي ددوي) په غلبې كولو (چه په مسلمانانو غالب شي) دمدبر، اوامهات الاولاد او مكاتبانو او اصيلو زمونږ (يعني كه حربيان په مسلمانانو غالب شي. او دوي آزاد مسلمانان يا اصيلي ښځې يا د مسلمانانو مدبر يا ام ولد، اونيوله. نودا كسان د حربيانو مملوك نه جوړيږي) اومونږ مالكان كيږو دهغوي نه ددې ټولو (يعني كه مسلمانان په حربيانو غلبه اوكړي. اودا كوم كسان چه ذكر شول. دوي د مسلمانانو په قيد كښې راشي. نومسلمانان د دوي مالكان جوړيږي). اومونږ مالكان كيږو دهغوي نه ددې ټولو (يعني كه مسلمانان په حربيانو غلبه اوكړي او دا كوم كسان چه ذكر شول. دوي د مسلمانانو په قيد كښې راشي. نومسلمانان د دوي مالكان جوړيږي. او دوي په مونږ غلبه اوكړي. اومونږ قيديان كړي. نودوي زمونږ مالكان نه جوړيږي)

دليله ځكه چه سبب (د مملوكيت چه غلبه ده) پيدا كوي ملك په محل خپل كښې (يعني چه په كوم څيز باندې غلبه راشي. نوپه دغه څيز باندې د غالب راتلونكى ملكيت په هغه صورت كښې ثابتيږي. چه هغه مغلوب څيز قابل د ملكيت وي) اومحل (دملكيت) مال مباح دې. او آزاد كس معصوم وي. په اعتبار دخپل نفس سره (يعني د آزاد كس وينه محترمه ده. په ده باندې د چا ملكيت نشي راتلې. نوكه حربيان آزاد مسلمانان قيد كړي. هغوي ددوي مالكان نشي جوړيدې)

دمسلمان نه د غلام تخيدل اودكافرانو په هغه قبضه كول

(وَإِذَا أَبَقَ عَبْدٌ لِمُسْلِمٍ فَدَخَلَ إِلَيْهِمْ فَأَخَذُوهُ لَمْ يَمْلِكُوهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ)

ترجمه و تشريح اوكله چه اوتختي مسلمان غلام دمسلمان اوداخل شي هغوي ته (دحربيانو ملك ته هغوي ته ني اونيسي. نو په دې نيولو باندې كافران ددغه غلام) نه مالكان كيږي. په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله.

دليله: د (امام ابوحنيفه رحمه الله) دليل دا دې. چه دې (غلام) ښكاره شوې ده قبضه دده په خپل ځان باندې په وتلو سره زمونږ د وطن (دارالاسلام) نه، (نوچه دې د دارالاسلام نه بهر شو. په ده باندې د مالك قبضه هم ختمه شوه) ځكه چه اعتبارددې (قبضه د مالك په غلام باندې په دارالاسلام كښې) شته، د وجې د ثابتوالي د قبضې د مولى په ده (غلام) باندې دپاره د قدرت وركولوده (مولى) ته د فائدې اخستلو (دغلام نه، يعني په دارالاسلام كښې چه مونږ په غلام باندې د مولى د قبضې قائل يو. ددې دپاره چه غلام موجود وي. نومولى به ترې فائده اخلي. په خپل كاربه ني راولي) اويقيناً ختمه شوه قبضه د مولى (ځكه چه كله غلام د دارالاسلام نه دارالكفرته اوتختيدلو. نودمولى قبضه ختمه شوه. اوس دې دهغه نه فائده او خدمت نشي اخستې. ځكه چه هغه موجود نه دې) نو (هركله چه د مولى قبضه دده نه ختمه شوه. نواوس دې څه بې روح يا بې عقله څيزخونه دې. چه په خپل ځان كښې به ني هم واك اختيارنه وي) نوښكاره شوه قبضه دده په خپل ځان باندې اواوګرځيدلو معصوم په اعتبار دخپل نفس سره، (ځكه چه دده نفس محترم دې د ده نه د فائدې اخستلو غرض دده حفاظت نشي كولې. نوپه ده باندې ملكيت هم نشي راتلې. ځكه چه ملكيت خوپه هغه څيز باندې راځي. چه هغه سرې ځان سره محفوظ كړې وي. اوپه وخت د ضرورت ترې فائده اخلي) نوپاتې نشو محل دپاره د ملكيت، (دبل چا بلكه دې اوس په خپله د خپل ځان مالك شو)

(وَقَالَا يَمْلِكُوْنَهُ)

مسلك الصاحبين اوفرمائي صاحبين رحمهما الله مالكان كيږي.

دلیلهما> ځکه چه عصمت (یعنی غلام چه د غیرد مملوکیت نه محفوظ وي) دحق دمالك د وجې وو،ځکه چه دهغه قبضه پرې قائمه وه.اويقيناً زائله شوه (دمالك قبضه په تختیدو سره دارالکفرته اوودې وجې(چه د مالك قبضه ترې ختمه شوې ده) که نیسی ده لره کافران په دارالاسلام کښې (او دار الکفرته ئې بوځی) نومالکان کیږی ئې. (نولکه څنګه چه په دغه صورت کښې پرې دکافرانوملك راځي.دغه شان به په زیربحث مسئله کښې هم راځي)

دمسلمانانوځاروي دحربیانوپه قبضه کښې د راتلوحکم

(وَإِنْ نَدَّ إِلَيْهِمْ بَعِيرٌ فَأَخَذُوهُ مَلَكُوهُ)

ترجمه و تشریح> اوکه اوتختیدلواوښ (دمسلمانانو) هغوی (حربیانو) ته،اوهغوئ اونیولوهغه، (اوښ) نومالکان کیږی (حربیان) دهغې (اوښ)

دلیله> دوجې د ثابت کیدو د غلبه نه (چه دحربیانوپه دغه ځاروی باندې غلبه اوقبضه راغله.اوداسې نشو ونیلې.چه دغه اوښ هرکله د دارالاسلام نه بهرشو.نودخپل مالك قبضه پرې ختمه شوه. او دخپل واك اختیارمالك شو.لکه څنګه چه مونږ په غلام کښې ونیلی وو) ځکه چه نشته اختیار ددې بې ژبې څناورو دپاره چه ښکاره شی (دغه اختیار) په وخت د وتلو(ددې ځاروی) زمونږ د دارالاسلام نه (یعنی په ځاروی کښې دا صلاحیت اواهلیت نشته.چه دې دخپل ځان مالك جوړ شی)

غازیانوته بطورامانت مال غنیمت حواله کول

(وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لِلْإِمَامِ حَمُولَةٌ يَحْمِلُ عَلَيْهَا الْغَنَائِمَ قَسَمَهَا بَيْنَ الْغَانِمِينَ قِسْمَةَ إِيدَاعٍ لِيَحْمِلُوهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ ثُمَّ يَرْتَجِعُهَا مِنْهُمْ فَيَقْسِمُهَا)

د لغت حل: ① **الحمولة**:سورلئ ② **الارتجاع**:تقسیمول

ترجمه و تشریح> اوکه نه وی (په دارالحرب کښې) دامام سره سورلئ چه بارکړی په هغې باندې غنیمتونه،نوتقسیم به ئې کړی په غازیانوباندې په طورد تقسیم امانت،چه یوسی دا (غنیمت) دارالاسلام ته،اوبیا به واپس کړی دا (غنیمت) ددوئ نه،نوتقسیم به ئې کړی په دوئ باندې،

توضیح عبارة القدوری> صاحب دهدایه فرمائیلی دی په مختصرالقدوری کښې مطلقاً ذکرکړی دی.چه امام به دامانت په طورغنیمتونه غازیانوته ورکړی.چه دا دارالاسلام ته اورسوئ. اوهلته به ئې واپس کوئ.دا ئې نه دی ذکرکړې چه هغوئ په دې اورو باندې راضی وی اوکه نه،نوددې نه دا معلومیږی.که هغوئ ئې بطورامانت اوړو باندې راضی وی اوکه نه وی.په دواړو صورتونوکښې به مال غنیمت بطورامانت دارالاسلام ته اوړی او دا اطلاقروایت د سیر کبیر دې. چه په هغې کښې امام محمد رحمه الله دا حکم مطلقاً ذکر کړی دې

دلیله> ځکه چه سورلئ اوڅه چه په هغې بارکولې شی. (تول) دغازیانودپاره دی. (چه کله دارالاسلام ته اورسی.نوهم په دوئ به ئې تقسیموی.نوکه زړه ئې ښه وی اوکه بد .د دارالحرب نه به ئې دارالاسلام ته نقل کوی)

دتقسیم نه وړاندې دمال غنیمت دخرڅولوممانعت

(وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْغَنَائِمِ قَبْلَ الْقِسْمَةِ فِي دَارِ الْحَرْبِ)

ترجمه و تشریح> اوجائزنه دی خرڅول دمال غنیمت وړاندې د تقسیم نه په دارالحرب کښې،

دلیله> ځکه چې مال غنیمت ترڅو پورې په دارالاسلام کښې محفوظ شوې نه وی.نوملك نه ثابتیږی.نو چې د یو څیز مالك نه وی هغه به خرڅ څنګه کړی؟

(وَمَنْ مَاتَ مِنَ الْغَانِمِينَ فِي دَارِ الْحَرْبِ فَلَاحَقَّ لَهُ فِي الْغَنِيمَةِ)

ترجمه و تشريح اوخوك چه مړ شويه دارالحرب كښې د غازيانونه،نونشته حق دده دپاره په مال دتقسيم كښې، [1]

دليله (ځكه چه په دارالاسلام كښې دمحفوظ كيدونه وړاندې په مال غنيمت باندې ملكيت نه راځي)

(وَمَنْ مَاتَ مِنَ الْغَانِمِينَ بَعْدَ إِخْرَاجِهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ فَنَصِيبُهُ لِوَرَثَتِهِ)

ترجمه او څوك چه مړ شو د دوئ (غازيانو) نه پس د راويستلودې (مال غنيمت د دارالكفر نه دارالاسلام ته، نوحصه د ده دپاره د وارثانودده ده.

دليله (ځكه چه كله مال غنيمت درالاسلام ته راورسيدل .نوپه دې باندې د غازيانو ملكيت راغلو. اود ملكيت راتلونه پس كه سړې مړ شي.نودده مملوك څيزوارثان په ميراث كښې اوړي) ځكه چه ميراث جارى كيږي په مملوك څيزكښې،اونه راځي ملكيت وړاندې دحفاظت نه (په دارالاسلام كښې) بلكه ملكيت چه راځي.نوددې (په دارالاسلام كښې دحفاظت) نه پس،

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُنَفِّلَ الْإِمَامُ فِي حَالِ الْقِتَالِ وَيُحَرِّضَ بِالنفل عَلَى الْقِتَالِ فَيَقُولَ "مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ" وَيَقُولَ لِلسَّرِيَّةِ قَدْ جَعَلْتُ لَكُمُ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ)

حل اللغة ① **التنفيل**:مجاهدته د انعام په توګه څه څيز وركول ② **يحرض**:تيزوى ③ **سلب**:سامان

ترجمه و تشريح په دې خبره كښې څه حرج نشته،چه تنفيل اوكړى امام په حالت د قتال كښې اوتيزى وركړي په جنګ كولواودا اووائي.چاچه كافرقتل كړلو.نودغه (مجاهد)دپاره د هغه (مقتول كافر سامان دې.او(يا) اووائى.سريه (وركوټي لښكر) ته،بيشكه ما اوګرځوله ستاسودپاره څلورمه حصه (علامه مرغيناني رحمه الله فرمائي) معنى ددې (چه ستاسودپاره مې څلورمه حصه اوګرځوله) پس د ويستلو د خمس نه (چه د خمس د مصارفونه پس كومې څلورحصې پاتې شى.په هغې كښې به يوخمس ستاسو وى. مثلا شل زره روپئ په مال غنيمت كښې وې.په هغې كښې يوخمس شو.چه څلور زره روپئ دى.اوباقى شو څلورحصې چه شپاړس زره روپئ دى.نوپه هغې كښې امام غازيانوته بطورد تنفيل صرف يوه حصه وركولې شى.چه څلور زره روپئ دى.اوباقى پاتې شوې درې حصې چه دولس زره روپئ دى.هغه به دباقى ټول لښكرشى.

دليله ځكه چه دا دانعام په طور مجاهدينوته څه وركول په جهاد باندې ددوئ اماده كول دى) اوتيزول (د مجاهدينوپه جهاد باندې) مستحب دى.الله تعالى فرمائيلى دى﴿وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ (اې پيغمبر ﷺ) تيز كړه مسلمانان په قتال باندې (كافروسره) اودا (تنفيل هم) يوقسم تحريض (تيزول) دى.

په دارالاسلام كښې دغنيمت دمحفوظ كيدوله پس تنفيل

(وَلَا يُنَفِّلُ بَعْدَ إِحْرَازِ الْغَنِيمَةِ)

ترجمه و تشريح اودانعام په طوربه نشي وركولې (يوكس يا يوې ډلې ته څه څيز دمال غنيمت نه) پس د محفوظ كيدو د غنيمت نه په دارالاسلام كښې،

---

[1] فرمائي امام شافعي رحمه الله څوك چه مړ شو.دوئ (غازيانو) كښې،پس د (مكمل كيدو د) شكست دكافرانو،نوميراث به اوړې شي دده حصه دوجې دقيام د ملك نه په دغه مال غنيمت كښې دده

دليله خکه چه حق د غیر (چه نورغازیان دی) متحقق شو په دې (غنیمت) کښې.

تنفیل به د خمس نه نه وی

(إلّا مِنَ الخُمُسِ)

ترجمه و تشریح (امام د تنفیل اعلان کولې شی) مګرنشی کولې د خمس نه

دليله خکه چه نشته حق د غازیانو دپاره په خمس (دمال غنیمت) کښې، (بلکه دا خودهغه درې مصارفودپاره دې. کوم چه وړاندې تیر شول)

داعلان نه بغیر دقاتل د مقتول دسامان په استحقاق کښې اختلاف

(وَإِذَا لَمْ يَجْعَلِ السَّلَبَ لِلْقَاتِلِ فَهُوَ مِنْ جُمْلَةِ الْغَنِيمَةِ، وَالْقَاتِلُ وَغَيْرُهُ فِيهِ سَوَاءٌ)

ترجمه و تشریح اوکله چه اونه ګرځوی (امام) سامان (دمقتول) دپاره د قاتل (اودا اعلان اونکړی. چه چا کوم کافرقتل کړلو. نوددهغه سامان به دهغه وی) نوهغه (سامان د مقتول حربی کافر) به وی د مال غنیمت خنی، اوقاتل اوسوا د قاتل نه په دغه (سامان) کښې برابر دی. (دانه چه قاتل ته به دمقتول سامان کښې څه زیاتی ملاویږی)([1])

دلائله ① دلیل دا دې. چه دا (سامان دمقتول کافر) اخستې شوې دې په قوت د لښکرسره، (خکه که چیرته دې یواخې وې. نوهغه کافرئې نشوقتل کولې. ده ته چه دهغه په قتل کولوقدرت ملاؤ شو. نو د خپلو ملګرو په وجه ئې ملاؤ شو) نو دا به (سامان د مقتول) غنیمت، (اوچه مال غنیمت شو نوتقسیمولې به شی په شان د تقسیم دمال غنیمت. لکه څنګه چه ګویا دې په دې (خبره) باندې نص، (چه قول دالله تعالی دی: ﴿وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ﴾ ګورئ په دې آیت کښې ددې ذکرنشته. چه قاتل ته به د مقتول سامان په هرحالت کښې ملاویږی. که امام ورله د انعام اعلان کړې وی اوکه نه)

② اوفرمائیلی دی نبی ﷺ حبیب بن ابی مسلمه رضی الله عنه ته {لَيْسَ لَكَ مِنْ سَلَبِ قَتِيلِكَ إِلَّا مَا طَابَتْ بِهِ نَفْسُ إِمَامِكَ} ([2]) نشته ستا دپاره د سامان د مقتول ستا نه مګرهغه چه راضی وی په هغې باندې نفس دامام ستا (یعنی که امام تاته ستا د مقتول سامان درکوی. نوټیک ده. اوکه هغه ئې نه درکوی. نو د هغې د استحقاق دعوی نشې کولې)

دمقتول د سامان بیان

(وَالسَّلَبُ مَا عَلَى الْمَقْتُولِ مِنْ ثِيَابِهِ وَسِلَاحِهِ وَمَرْكَبِهِ)

حل اللغة ① **ثیاب**: جامې ② **سلاح**: وسله ③ **مرکب**: سورلی

---

[1] **مسلک الشافعي**:- فرمائی امام شافعی رحمه الله چه سامان (دمقتول حربی) دپاره د قاتل (دهغه) دې. خوپه دې شرط چه وی اهل ددې چه حصه مقرر کړې شی ده دپاره (په مال غنیمت کښې، یعنی که په مال غنیمت کښې دحصې اخستوقابل وی. نودغه چه کوم کافرقتل کړې وی. دې دهغه د سامان مستحق دې.) اوبل دا (شرط) چه ده (قاتل) هغه (حربی کافر) قتل کړې وی په داسې حال کښې چه د هغه (کافر) مخ وی. (شا ئې نه وی. یعنی هغه دې قاتل مسلمان سره جنګ کولوته تیاروی)

[2]) قال الزيلعي رحمه الله هكذا وقع في الهداية، حبيب بن أبي سلمة رضي الله عنه وصوابه حبيب بن مسلمة رضي الله عنه والحديث رواه الطبراني في معجمه الكبير (نصب الراية ٦٤٨\٣)۔

ترجمه و تشریح اوسامان هغه دي چه وی په مقتول باندې د جامه دهغه اود وسلې دهغه اود سورلۍ د هغه نه. (یعني دا څیزونه په سلب کښې اوسامان کښې شامل دی)

د دارالحرب نه په وتلوسره د مال غنیمت جائزالاستعمال څیزونه حرام ګرځیدل

(وَإِذَا خَرَجَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ دَارِ الْحَرْبِ لَمْ يَجُزْ أَنْ يَعْلِفُوا مِنَ الْغَنِيمَةِ وَلَا يَأْكُلُوا مِنْهَا شَيْئًا)

ترجمه و تشریح اوکله چه اوځي مسلمانان د دارالحرب نه نونه دی جائز چه ګیاه ورکړي (خپلوڅاروته) د مال غنیمت نه، او(نه دی جائز) چه خوراك اوکړی دهغې نه

دلائله ① ځکه چه ضرورت ختم شواوپه (دارالحرب کښې د دې څیزونودخوراك) اباحت ددې (ضرورت) په وجه وو.

② او(د دې دلیل په وجه هم چه په مال غنیمت کښې د مسلمانانو) حق نور هم مضبوط شوې دې (او د دې مضبوطتیا دلیل دا دې چه) تردې چه (که په دې غانمینو کښې څوك وفات شو نو) میراث به اوړی (وارث د دغه مړی چه غانم دې) د حصې دده (مړی چه غانم دې) اونه دې (دا حکم د میراث اوړو) وړاندې د ویستلو (د مال غنیمت ددارحرب نه) دار اسلام ته (تردې که دغه غانم په دارحرب کښې وفات شوې وې نو د ده وارثانو د ده نه میراث نشو اوړلی)

(وَمَنْ فَضَلَ مَعَهُ عَلَفٌ أَوْ طَعَامٌ رَدَّهُ إِلَى الْغَنِيمَةِ)

ترجمه و تشریح اوهغه څوك چه زیاتی شی د هغه سره څه ګیاه یا د خوراك څیز نو هغه به واپس کوی مال غنیمت ته (یعني په دارالحرب کښې د مال غنیمت نه د خوراك څه څیزاخستې وی. اودارالاسلام ته داخل شواولا تقسیم د مال غنیمت نه وی شوې. نوکه په هغه خوراك کښې ده سره څه باقی وی. هغه به په مال غنیمت کښې جمع کوی)

دلیله دلیل دا دې. چه اختصاص (یعني په دارالحرب کښې چه د مال غنیمت نه یو څیز د یو کس دپاره خاص شوې وی. اوهغه تري فائده اخستې شوه) نو هغه دضرورت دحاجت د وجې وو. (یعني هغه څیز ته حاجت وو. ځکه ددغه کس دپاره په خصوصیت سره د هغې نه فائده اخستل جائز وو) اویقینا ختم شو ضرورت (ځکه چه اوس خو دارالاسلام ته واپس شو. دا خپل وطن دې. سړې په کښې خپل ضروریات دمال غنیمت نه بغیر هم پوره کولی شی)

د تقسیم طریقه

(وَيُقَسِّمُ الْإِمَامُ الْغَنِيمَةَ فَيُخْرِجُ خُمُسًا)

ترجمه و تشریح فصل دې په بیان د طریقې د تقسیم(دمال غنیمت) فرمائی(ابو الحسن قدوری رحمه الله) اوتقسیم به کړی امام مال غنیمت، نواوبه باسی (دټولونه اول) پنځمه حصه د هغې، (مال غنیمت) نه،

دلیله د وجې د قول دالله تعالی نه، (پوهه شئ چه کوم څیزتاسوغنیمت کړئ نو دالله تعالی دپاره ده پنځمه حصه د هغې اودهغه د رسول دپاره. استثناء کړې ده الله تعالی دپنځمه حصې، (نوچه پنځمه حصه تري لاره شی. باقی پاتې شوې څلورحصې)

(وَيُقَسِّمُ الْأَرْبَعَةَ الْأَخْمَاسِ بَيْنَ الْغَانِمِينَ)

ترجمه اوتقسیم به کړی (باقی) څلورحصې په منځ د غازیانو کښې،

دلیله ځکه چه نبی ﷺ تقسیم کړې وو مال غنیمت (یعني ددې څلورحصې) په منځ د

غازیانو کښې.([1])

دفارس اوراجل دحصوتفصیل

لِلْفَارِسِ سَهْمَانِ وَلِلرَّاجِلِ سَهْمٌ) عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى ([2])

حل اللغة ① **سهم**:حصه ② **فارس**:د اس سور

ترجمه و تشریح بیا دپاره د فارس(چه په جهاد کښې نې دخپل اس سره حصه اخستې وی) اودپاره د راجل(چه صرف دې په جهاد کښې شریك شوې وی) یوه حصه ده په نیزدامام ابوحنیفه رحمه الله.

دلیله دامام ابوحنیفه رحمه الله دپاره دلیل دا حدیث دې ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه نبی ﷺ ورکړې وې فارس ته دوه حصې،اوراجل ته یوه حصه.([3])

الاستدلال (نوددې حدیث نه دا معلومه شوه.چه دفارس دوه حصې کیږی.اود راروان حدیث کوم چې د صاحبینو مستدل دې د هغې نه به معلومه شی.چه د فارس درې حصې کیږی. خو دواړه فعلی حدیثونه دی.یعنی د نبی ﷺ دفعل ذکریه کښې دې.قول نشته) نومتعارض شو دوه فعلونه د نبی ﷺ (اوکله چه د نبی ﷺ دوه فعلی احادیث متعارض شی.نوبیا قاعده دا ده.چه قولی حدیث ته رجوع کولې شی.نوچه قولی حدیث د کوم مؤید وی.په هغه حدیث عمل کولې شی.نواوس په دې مقام کښې هم دغه قاعده باندې عمل کولې شی.اوهغه داسې چه) رجوع به کولې قول د نبی ﷺ (چه د نبی ﷺ قول دکوم عمل مؤید دې) اویقیناً فرمائیلی دی نبی ﷺ دفارس دپاره دوه حصې دی اود راجل دپاره یوه حصه ده. ([4])

(وَقَالَا: لِلْفَارِسِ ثَلَاثَةُ أَسْهُمٍ)

مسلك الصاحبين فرمائی صاحبین رحمهماالله چه د فارس دپاره درې حصې دی.

دلائلهما ① (یونقلی دلیل دې.دهغې بیان دا دې.) دوجې دهغه حدیث نه چه روایت نې کړې دې ابن عمر رضی الله عنهما چه نبی ﷺ مقررکړې وې دپاره د فارس درې حصې،اودپاره د راجل یوه حصه،([5])

الجواب عنه صاحبینو رحمهماالله چه دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما په روایت باندې استدلال کړې دې.نودغه استدلال به څنګه صحیح شی.حالانکه) یقیناً روایت کړې شوې دې دابن عمر رضی الله عنهما نه چه نبی ﷺ مقرر کړې وې دفارس دپاره دوه حصې اود راجل دپاره یوه حصه، (اود اصول حدیث دا قانون دې.چه کله د یو راوی دوه روایتونه متعارض شی.نود بل راوی حدیث ته به ګورو.چه هغه دکوم مؤید وی.په هغې به

---

١) من حديث ابن عباس رضی الله عنهما مجمع الزوائد للهيثمى) رحمه الله ٥\٣٤٠١_

٢) القول الراجح هوهذا قول ابى حنيفة رحمه الله كذا فى الخانية (٤\٤٦٣) وردالمحتار(٣\٢٥٦) والبحرالرائق (٥\٨٨)نقلاً عن القول الراجح (١\٤٨٤)-

٢) قال الزيلعى رحمه الله قلت غريب من حديث ابن عباس رضی الله عنهما وفى الباب احاديث منها حديث مجمع بن جارية رضی الله عنه ... وفيه فاعطى الفارس سهمين واعطى الراجل سهماً اخرجه ابوداود فى الجهاد باب ١٤٣ رقم ٢٧٣٦)_

٣) قال الزيلعى رحمه الله قلت غريب جداً واخطا من عزاه لابن ابى شيبة وسياتى لفظه فى الحديث الذى بعد هذا (نصب الراية ٣\٦٣٢)_

١) من حديث ابن عمر رضی الله عنهما اخرجه البخارى فى الجهاد باب ٥١ ومسلم فى الجهاد رقم ٥٧ وابوداود فى الجهاد باب ١٤٣ رقم ٢٧٣٣ والترمذى فى السير باب ٦ وابن ماجه فى الجهاد رقم ٢٨٥٤ واحمد فى المسند (٢٢)_

عمل کولې شي.نودغه شان په دې مقام کښې هم) کله چه متعارض شول دواړه روایتونه دده (ابن عمر رضي الله عنهما) نو ترجیح به ورکولې شي.روایت د بل (صحابي) ته.

④ اوځکه چه استحقاق (دغنیمت) راځي په کفایت باندې، (چه د جهادی ضرورياتو کفايت اوکړي) اوکفایت د ده(فارس) په درې چنده د راجل دې. (یعنې راجل چه څومره قربانی په جهاد کښې ورکوی.نوفارس دهغې په درې حصې قربانی ورکوی.یوبه درې چنده د کفایت تفصیل دا دې)ځکه چه دې (فارس عمل کوی) دپاره د واپس کیدو ،اومنډې اوثابت پاتې کیدووی. (یعنې دې درې کارونه کولې شي.مجاهد پرې د دارالحرب نه دارالاسلام ته واپس راتلې شي.په دشمن پسې منډۀ هم وهلې شي.اوپه میدان جنګ کښې داس دپاسه د سورلۍ په حالت کښې مقابله کولې شي.نودا درې کارونه شو.ځکه د درې حصوحقداردې)

الجواب عنه﴾ د دې نه جواب دا دې چه واپس راتلل اومنډه وهل دواړه د یوجنس عمل دې.په عرف کښې هم دې ته دوه عمله نشي وئیلې.نوهرکله چه واپس راتلل اومنډه وهل دواړه یو عمل شو.نویوعمل بل باقی شو.چه په میدان جنګ کښې ثابت پاتې کیدل.اوپه دوو عملونو باندې ترتب د دوو حصو کیږي .نومعلومه شوه.چه د فارس دوه حصې کیږي.نوکیږي کفایت دده(فارس) پشان کفایت د راجل، نو پورته به وی (فارس) په راجل باندې،په یوه حصې سره،

غازی ته د اس د حصې برابرحصه ملاویدل

(وَلَا يُسْهِمُ اِلَّا لِفَرَسٍ وَاحِدٍ)(¹)

ترجمه و تشریح﴾ اونه به شي ورکولې (هغه غازی ته چه په جهاد کښې نې دوه اسونه شریك وی) مګرحصه دیواس (نوتولې به ده ته دوه حصې ملاویږي.یوه دده خپله اویوه دده داس) دا د طرفینو مسلك دې.

دلائلهما﴾ ① طرفینودپاره دلیل دا دې.چه براء بن اوس بوتلې وو دوه اسونه (جهادته) نو حصه نه وه ورکړې ده ته رسول الله مګرد یواس(نوټولې نې ده ته دوه حصې ورکړې وې.یوه دده خپله اویوه دده د دواسونو (²)

② اوبل (عقلی دلیل دا دې.چه) جنګ نه کیږي مګرپه یواس باندې په یو وخت کښې، (یعنې په یووخت کښې یوکس غازی په دوو اسونوسورلی نشی کولې.بلکه په اوس به سورلی کوی) نونه دې سبب ظاهری (داستحقاق غنیمت چه د اسلامی سرحد نه تیریدل دی) مفضی جنګ کولوته په دواړو (اسونو) باندې، (بلکه دې که جنګ کوی په یواس کوی) نوحصه به مقررکولې شي دیواس دپاره،اوددې وجې (چه په د دواسونوباندې په یووخت کښې جنګ نشی کیدې،اودا چه نه دې سبب ظاهری مفضی قتال ته په دواړوباندې) حصه نشی مقررکولې د درې اسونودپاره، (بلکه ددریم اس د وجود اوعدم وجود څه اعتبار نشته.هم ددې علت د وجې که یوکس سره درې اسونه وی.نوهم دې په یو وخت په درې اسونوباندې قتال نشی کولې.نولکه څنګه چه د استحقاق غنیمت په باب کښې د دریم اس وجود اوعدم وجود برابردی.دغه شان د دویم اس وجود اوعدم وجود برابرشو)

---

¹) القول الراجح هوهذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في فتح القدير(٥\٢٣٨) والخانية (٤\٢١٢) والهندية (٢\٢١٢) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٨٥)-

٢) من حديث قال الزيلعي رحمه الله قلت غريب بل جاء عنه عكسه (نصب الراية ٣\٦٣٥)-

مسلك ابي يوسف فرمائي امام ابويوسف رحمه الله چه ورکولي به شي(غازي ته) حصه د دوو اسونو،

دليله ددې وجه چه روايت شوې دې چه نبي ﷺ حصه ورکړې وه د دوو اسونو(يوغازي ته).يعنی ده ته ئې پنځه حصې ورکړې وې.يوه د غازي خپله حصه اودوه حصې ديو اس اودوه حصې د بل اس لکه حضرت ابوعمره بشيربن عمربن محصن رضي الله عنه چه روايت کړې دې.چه رسول الله ﷺ ماته زما د دوو اسونو څلورحصې او زما يوه حصه راکړې وه. او دغه شان ماته پنځه حصې ملاؤ شوې وې.(١)

الجواب عنه دا روايت محمول دې په انعام ورکولوباندې(يعنی نبي ﷺ ابن محصن ته د دوو اسونوحصې داستحقاق په طورنه وې ورکړې.بلکه دانعام په طورئې ورکړې وې.نوپه هغې باندې استدلال صحيح نشو.اوبطورانعام ورکول دامام دپاره جائزدي)لکه څنګه چه ورکړې وې (نبی ﷺ) سلمه بن اکوع ته دوه حصې (په مال غنيمت کښې) حالانکه هغه راجل وو. (دا دوه حصې ئې د انعام په طورځکه ورکړې وې.چه هغوئ به د فارس پشان منډه وهله)

دعجمی اوعربی اسونوپه استحاق غنیمت کښې برابری

(وَالْبَرَاذِينُ وَالْعِتَاقُ سَوَاءٌ)

د لغت حل: ① **البراذين**:جمع د براذ عجمی اس ② **العتاق**:عربی اس

ترجمه و تشريح عجمی اوخالص عربی اسونه برابر دی (په استحقاق دغنيمت کښې)

دلائله ① څکه چه ويرول (ددشمن) منسوب دی جنس اسونوته په کتاب (قرآن پاك) کښې، قال الله تعالى فرمائيلی دی. (او تيارئ کوئ د کافرانودمقابلې دپاره څومره چه مو وس کيږی دقوت حاصولونه،) اود تيارئ د اسونونه، چه ويروئ په هغې (قوت اواسونو) دشمنان دالله تعالى اودشمنان خپل،

الاستدلال په دې آيت کښې دالله تعالى د دشمن دمقابلې دپاره دجنګی اسبابو او وسائلو د تيارئ حکم کړې دې.اوپه دغه جنګی سازوسان کښې ئې اسونه ياد کړی دی. او مقصد ددې تيارئ ئې دا خودلې دې.چه په دې باندې تاسوکافران ويروئ.نوپه آيت کښې د ((خيل)) ذکر دې،او) اسم د((خيل)) منطبق کيږی (يعنی ددې اطلاق کيږی) په عجمی اوعربی اسونو، باندې په يوځل، (يعنی دخيل اطلاق په ټولوکيږی)

② اود برابرئ بل دليل ئې دا دې.چه) عربی اسونه اګرچه (ددشمن په) رالاندې کولوکښې يا واپس راتلوکښې تکړه دی. نو عجمی اسونه (په تکليف باندې) صبرکولواوپه راتاويدو کښې زيات تکړه دی.نوپه هريوقسم کښې (که عربی دی اوکه عجمی) فائده ده معتبره، نو دواړه (په استحقاق د مال غنيمت کښې) برابرشول.

داوښ او قچر دپاره حصه نشته

وَلَا يُسْهَمُ لِرَاحِلَةٍ وَلَا بَغْلٍ

ترجمه و تشريح اونشته حصه دپاره د مضبوطې اوښې.او نه دپاره د قچر

دليله په جهاد کښې چې کوم اوښ يا قچرد غازيانو دپاره استعمال شي نو د هغې دپاره څه حصه نشته لکه څنګه چې د اس دپاره شريعت حصه مقرر کړې ده څکه چې قرآن پاك کښې الله تعالى دا فرمائيلي

(١) من حديث ابي عمرة بشيربن عمروبن محصن اخرجه الدارقطني في سننه (١٠٤/٤) رقم ١٦)۔

دی چې تاسو د اسونو په تیاریٔ سره دشمن اویروئ په هغې کښې د اوښانو او دقچرو ذکر نشته.نوځکه به ورله حصه هم نه وی.

دارالحرب ته راجل اوبیا فارس کرځیدل اوددې په عکس

(وَمَنْ دَخَلَ دَارَالْحَرْبِ فَارِسًا فَنَفَقَ فَرَسُهُ اسْتَحَقَّ سَهْمَ فَارِسٍ وَمَنْ دَخَلَ رَاجِلًا فَاشْتَرَى فَرَسًا اسْتَحَقَّ سَهْمَ رَاجِلٍ)

ترجمه و تشریح اوڅوك چه داخل شودارالحرب ته په اس سور، (اوددخول نه پس) نوهلاك شو اس د ده، نو مستحق دې دا (فارس) د حصې د یو فارس (یعنی چه نوروداسونوخاوندانوته څه حصه ملاویږی.هغه به ده ته هم ملاویږی) اوڅوك چه داخل شو(دارالحرب ته) پیدل،نووائې اخستلو(په دارالحرب کښې) اس مستحق کیږی(په مال غنیمت کښې) دحصې د راجل (یعنی صرف یوه حصه به ورته ملاویږی)

دلیله دلیل دا دې.چه تیریدل(داسلامی سرحدنه) نفس ددې (یعنی صرف دا تیریدل) جنګ دې.ځکه چه راځی په هغوئ (حربیانو) باندې ویره په دې (تیریدو د اسلامی سرحد نه ،یعنی د سرحد نه تیریدل اګرچه حقیقی قتال نه دې.لیکن سبب داو ذریعه د قتال ده.اوکله کله سبب هم قائم مقام د مسبب ګرځی.بادشاه د ښار جوړولو حکم اوکړې.ګلکاران ښار جوړ کړی.او بیا خلق دا وائی.چه بادشاه ښار جوړ کړلو حالانکه بادشاه په خپله نه وی جوړکړې.خوچونکه بادشاه د ښار جوړولو سبب وو.ځکه هغه ته مجازاً د ښار جوړولو نسبت کیږی.دغه شان په زیر بحث مسئله کښې تیریدل اګرچه په حقیقت کښې قتال نه دې.خو چونکه دا تیریدل ذریعه او سبب د قتال دې.ځکه ورته قتال وئیلې شی.اوچه قتال شو.نو ترتب د احکامودجهاد به په تیریدو باندې کیږی)اوحالت پس د دې نه حالت د دوام دې.نو نشته اعتبار د هغې (حالت دوام اوممکن نه دې ترتب د احکامو په حالت د دواوم باندې ځکه چه د فارس دپاره دا ممکن نه ده. چه همیشه دپاره دې په اس سور وی.او توره وهی. بلکه ده سره انسانی ضروریات هم ترلی دی.کله به د اودس ماتی دپاره د اس نه راکوزیږی. کله به د خوراك څکاك دپاره کله به د بل څه دپاره،نو اوس که مونږ دده د عین قتال وخت معتبر کوو.نودې مستحق د فارس دحصې دې.خوپه کوم وخت کښې چه دې د اس نه راکوز شوې وی.نوکه هغه وخت معتبر کوو.نو بیا د فارس د حصې نه محرومه کیږی.ځکه مونږ وایو چه دارالحرب ته د داخلیدو نه پس دده حالت د دوام دې.ددې اعتبار نشی کولې)

دچاچه په مال غنیمت کښې حصه نشته

(وَلَا يُسْهِمُ لِمَمْلُوكٍ وَلَا امْرَأَةٍ وَلَا ذِمِّيٍّ وَلَا صَبِيٍّ وَلٰكِنْ يَرْضَخُ لَهُمْ عَلٰى حَسَبِ مَا يَرَى الْإِمَامُ)

حل اللغة ① الرضخ:لږه حصه

ترجمه و تشریح اونه به شی ورکولې (په مال غنیمت کښې حصه) غلام ته،اونه ښځې ته اونه ماشوم ته،اونه لیونی ته،اونه ذمی ته،بلکه معمولی څیزبه ورکولې شی دوئ ته. (رضخ په ډیرمال کښې معمولی غوندې ورکولوته وائی) په هغه مناسب چه ګنړی ئې امام (ورکول دهغې)

دليله مطلقا ﴿ دوجي دهغه حديث نه چه روايت شوي دي چه نبي ﷺ به نه ورکوله حصه زنانواوماشومانواوغلامانوته. (په مال غنيمت کښي) بلکه وو چه ورکول به ئي لږ غوندي حصه دوئ ته. (1)(نوددي حديث نه معلومه شوه.چه ددوئ په مال غنيمت کښي دعاموغازيانوپشان حصه نشته)

دليل عدم سهل الذمي ﴿ جهاد عبادت دي.اوذمي نه وي اهل دعبادت. (ځکه چه دعبادت دصحت دپاره ايمان شرط دي.اوپه دوئ کښي ايمان نه وي)

دليل عدم سهل المراة والصبي ﴿ اوښځه اوماشوم عاجز دی ددي (قتال) نه. اوددي وجي (چه دوئ دخپل ضعف دوجي دقتال اوجنګک طاقت نه لری) نه دي پيوست شوي په دوئ (دواړو) پوري فرضيت دجهاد. (يعني په عاموحالاتوکښي په ښځه اوماشوم باندي جهاد نه دي فرض شوي)

دليل عدم سهم الغلام ﴿ غلام چه دي موقع نه ورکوی ده ته مولی (دجهاد کولو) اودده (مولی دپاره جائزدی په عاموحالاتوکښي) منع کول دده (غلام د شرکت نه په جهاد کښي البته دا چه دشمن حمله اوکړي.اوعام اعلان اوشي.نوبيا دمولی داجازت ضرورت نشته.ځکه چه په دغه وخت کښي دا فرض عين ګرځي. اومولی خپل غلام د فرض عين نه نشي منع کولي.نو په مال غنيمت کښي ددوئ حصه نشته)

دليل الرضح ﴿ مګردومره ده چه رضخ لږ غوندي څيزبه ورکولي شی دوئ ته دپاره د تيزولو (ددوئ) په جهاد باندي (چه په جهاد کښي په شوق سره شرکت کوی)

دخمس تقسيم

(وَأَمَّا الْخُمُسُ فَيُقْسَمُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ: سَهْمٌ لِلْيَتَامَى وَسَهْمٌ لِلْمَسَاكِينِ وَسَهْمٌ لِابْنَاءِ السَّبِيلِ

ترجمه و تشريح ﴿ اوهرچه خمس دي. (يعني کله چه د مال غنيمت نه پنځمه حصه جدا کړي شي.اوباقي څلور حصي په غازيانوتقسيم شي.نوددغه خمس تقسيم بيا په دي طريقه دي) تقسيمولي به شی په دري حصو باندي،يوه حصه د يتيمانودپاره،اوبله حصه د مسکينانو دپاره،اودريمه حصه د مسافرو دپاره.

دلائله ﴿ ① دليل دا دي.چه څلورورواړه خلفاء راشدينو ﷺ (حضرت ابوبکر ،عمر ،عثمان اوعلي ﷺ) تقسيم کړي دي دا (خمس) په دري حصوباندي،په هغه طريقه چه مونږ بيان کړه. (اشاره ده دي قول ته «فيقسم على ثلاثة أسهم» ترآخره پوري.دحضرت ابن عباس ﷺ نه روايت دي.چه خمس به د رسول الله ﷺ په زمانه کښي په پنځو حصو تقسيمولي شو.يوه حصه دالله دپاره(يعني دالله تعالى حصه به د مسلمانانودخيګړي په کارونوکښي خرج کولي شوه.لکه جمات جوړول،پل جوړول وغيره) اوبله حصه د رسول الله ﷺ دپاره،اوبله حصه د نبي ﷺ د خپلوانو دپاره،اوبله حصه د يتيمانودپاره،اوبله حصه دمسکينانو دپاره،اوبله حصه دابن السبيل دپاره،بيا تقسيم کول حضرت ابوبکر ،عمر،عثمان اوعلي ﷺ په دري حصو باندي،يوه حصه د يتيمانو دپاره. بله د مسکينانو دپاره،اودريمه د ابن السبيل دپاره، په خلفاء راشدينوپسي مونږ احناف اقتداء کوو.اوددوئ د اقتداء په صحت کښي څه خبره نشته) (2)

---

1) من حديث ابن عباس ﷺ أخرجه مسلم في الجهاد والسير رقم ١٣٧)۔
1) من حديث ابن عباس أخرجه أبويوسف عن أبي صالح عن ابن عباس (نصب الراية ٣\٤٤١)۔

② فرمائیلی دی نبی ﷺ يَامَعْشَرَبَنِي هَاشِمٍ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى كَرِهَ لَكُمْ غُسَالَةَ النَّاسِ وَأَوْسَاخَهُمْ وَعَوَّضَكُمْ مِنْهَا بِخُمُسِ الْخُمُسِ } ([1]) اې توليه د بنوهاشموالله تعالى ناخوښه کړی دی ستاسودپاره مستعمل اوبه د خلقواوخيري د دوئ (خلقويعنی دخلقودګناهونوخيري د کومو نه چه هغوئ د زکاة اوصدقاتو ورکولوپه ذريعه ځان پاکوي.تاسودپاره ناخوښه کړی دی) اوپه بدله کښې ئې درکړي دي تاسوته (په مال غنيمت کښې) پنځمه حصه،

وَيَدْخُلُ فُقَرَاءُ ذَوِي الْقُرْبَى فِيهِمْ وَيُقَدَّمُونَ،

ترجمه اوداخليږي فقيران د خپلوانو(درسول الله ﷺ) په دوئ (يعنی دريو صنفو) کښې (يعنی ذوی القربی څه مستقل مصرف نه دي.بلکه که په ذوی القربی کښې څوك يتيم يا مسکين يا ابن السبيل وی.نوهغه به هم د خمس مصرف وی.

الاشکال دا کومه طريقه چې تاسو بيان کړه نو بيا د ذوی القربی د ذکرکولومقصد څه شو. ځکه چه يوکس فقيريا يتيم يا مسکين وی.نوکه هغه ذوی القربی نه وی.نوهم دخمس مصرف دي.

الجواب اګر چه دا صفات په غيرذوی القربی کښې وی.نوهغوئ هم د خمس مصرف دی. ليکن کله چه په مصارف کښې ذوی القربی اوغيرذوی القربی دواړه قسم خلق جمع شي.نو بيا به مسئله دا وی. چې دړاندې کولې به شی (خپلوان د رسول الله ﷺ په باقی دريو قسمونو باندې چه غيرذوی القربی وی)

وَلَا يُدْفَعُ إِلَى أَغْنِيَائِهِمْ شَيْءٌ)

ترجمه اونه به شی ورکولې مالدارانوته په دوئ (خپلوانود رسول الله ﷺ) کښې.

تشريح په سيدانو کښې که څوك مالداران وی نو هغوی ته به نشی ورکولې

په خمس کښې د الله او د رسول ﷺ دحصې مطلب

فَأَمَّا ذِكْرُ اللَّهِ تَعَالَى لِنَفْسِهِ فِي كِتَابِهِ مِنَ الْخُمُسِ فَإِنَّمَا هُوَ لِافْتِتَاحِ الْكَلَامِ تَبَرُّكًا بِاسْمِهِ،

حل اللغة ① **تبرک**:برکت حاصلول.خيرحاصلول ② **افتتاح**:شروع کول

ترجمه و تشريح ذکر دالله تعالی د خپل ځان دپاره په کتاب خپل د خمس (چه خمس کښې د الله تعالی دپاره حصه ده.حالانکه الله تعالی د خلقو د مال دولت نه غنی او لاپرواه دي.خو بيا هم دالله تعالی د نوم ذکر چه په دې آيت کښې شوې دې.) نودا (ذکرد نوم دالله چه ﴿وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ﴾ دپاره دشروع د کلام دي.چه تبرك حاصل شی په نوم دالله تعالی (يعنی په آيت کښې دالله تعالی د نوم ذکر صرف دتبرك دپاره راغلې دي.دا نه چه الله تعالی د غنيمت په خمس کښې والعياذ بالله مستقل مصرف دی)

وَسَهْمُ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سَقَطَ بِمَوْتِهِ كَمَا سَقَطَ الصَّفِيُّ

ترجمه اوحصه د نبی ﷺ ساقط شوې ده په وفات د دوی (نبی ﷺ) ([2]) لکه چه ساقط شوې ده حصه د

---

[1]) من حديث مطعم بن جبير ﷺ اخرجه ابوداود في الخراج والإمارة والفئ باب ٢٠ رقم ٢٩٨٠ والنسائي في الفئ باب ١ وابن ماجه في الجهاد باب ٤٦ رقم ٢٨٨١)_

[2]) **مسلك الشافعي**:- فرمائی امام شافعی رحمه الله چه منتقل کيږی به حصه د پيغمبر ﷺ خليفه ته (نو د

رشته داری د نبی علیه السلام.

دلیله﴾ ځکه چه نبی ﷺ مستحق وو ددې (صفی) دخپلې پیغمبرئ په وجه،اونشته پیغمبر ﷺ پس دده (نبی ﷺ) نه (بل څوك) او صفی هغه څیز وو.چه منتخب کولو به نبی ﷺ دخپل ځان دپاره د مال غنیمت نه لکه زغره ،توره او وینځه (نولکه څنګه چه د نبی ﷺ په وفات باندې صفی ختم شو.نودغه شان په مال غنیمت کښې د نبی ﷺ حصه هم ختمه شوه)

(وَسَهْمُ ذَوِي الْقُرْبَى كَانُوا يَسْتَحِقُّونَهُ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنُّصْرَةِ

ترجمه و تشریح﴾ اوحصه دذوی القربی (چه دغه ذوی القربی ئې) مستحق شوی وو (په خمس کښې) په زمانه د نبی ﷺ کښې په مدد کولو سره (چه دنبی ﷺ سره ئې مدد کړې وو)

دلیله﴾ د نبی کریم په زمانه کښې ذوی القربی ته ځکه په خمس کښې حصه ملاویده چې هغوی د نبی کریم ﷺ سره مدد کولو او د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس د هغوی د مدد سلسله ختمه شوه نو حصه به ئې هم ختمه وی.

دخمس نه د ذوالقربی فقیرته د ورکولوحکم

وَبَعْدَهُ بِالْفَقْرِ)

ترجمه و تشریح﴾.اوپس ددې (زماني د نبی ﷺ نه مستحق ګرځی ذوالقربی) په وجه د فقیرئ (یعنی دنبی ﷺ د زماني نه پس د ذوالقربی په حیثیت په خمس کښې ددوئ حصه نشته.البته چه کوم کسان په ذوالقربی کښې فقیران وی.نوهغوئ ته ورکولې شی. او مالدارانو ته نشی ورکولې)

دلیله﴾ د فقیرو وجه د ذوالقربی داستحقاق خمس عدم صحت دا) ده.چه په دې خمس کښې معنی د صدقه ده.په نظرکولوسره مصرف ته، (یعنی دخمس مصرف چونکه یتیمان،فقیران او ابن السبیل دی.اوهم دا کسان د زکاة په مصارفوکښې هم دی.نولکه څنګه چه زکاة سیدانو ته نشی ورکولې. نو دغه شان د خمس مصارف هم دغه د زکاة مصارف دی. پکارده چه دوئ ته هم خمس ورنکړې شی) نوحرام به وی (خمس په سیدانو باندې) لکه څنګه چه حرام دی عماله، (یعنی که سیدسرې د صدقاتو راغوندولو باندې مقرر شی.اودې دخلقونه زکاة راغوندوی.نودې بیا هم د زکاة راغوندولود عمل په وجه د زکاة مستحق نه دې.دغه شان دلته هم دخمس مستحق نه دې)

دامام داجازت نه بغیرد دارالحرب نه څه اخستل

(وَإِذَا دَخَلَ الْوَاحِدُ أَوِ الِاثْنَانِ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ مُغِيرَيْنِ بِغَيْرِ إِذْنِ الْإِمَامِ فَأَخَذُوا شَيْئًا لَمْ يُخَمَّسْ)

حل اللغة﴾ ① الاختلاس:تختول

ترجمه و تشریح﴾ اوکله چه داخل شی یوکس یا دوه کسان دارالحرب ته لوټ کونکی(چه هلته دخلقومالونه لوټ کړی) بغیرداجازت دامام نه،اودوئ- واخستل څه څیز، (دخلقونه په غلا یا په زبردستئ) نوخمس به نه ورکوی .

دلیله﴾ (ځکه چه خمس په مال غنیمت کښې وی.اودا مال غنیمت نه دی) ځکه چه (مال) غنیمت هغه وی.چه اخستې شوی وی په زورسره،اویا په غلبه سره(چه غازیان د حربیانو په مال باندې غلبه اوکړی) نه تختولو او غلا،اوخمس وظیفه ددې (مال غنیمت ده)

نبی ﷺ د وفات نه پس به په خمس کښې د خلیفه وخت حصه وی)

په دارالحرب کښي د طاقتوري ډلي په لوټ کښي دخمس حکم

(وان دخل جماعة لهم منعة فأخذوا شيئا خمس وإن لم يأذن لهم الإمام)

تشريح> اوکه داخله شوه يوه ډله . (اوپه دارالحرب کښي ئي دحربيانوڅه څيزلوټ کړلو)او وودهغوئ دپاره قوت (اوقوت چه په څومره کسانوحاصليږي.نوپه محيط کتاب کښي دامام ابويوسف رحمه الله نه نقل دي.چه په څومره کسانوق.ت حاصليږي.هغه لس کسان دي) په دې کښي خمس دې.اګرچه اجازت نه وی ورکړې دوئ ته امام، (او خمس په کښي واجب دې)

دلائله> ① ځکه دا (مال) اخستي شوې دې په زور اوپه غلبې سره، (اوکوم څيزچه په دارالحرب کښي د حربي کافرونه په غلبې اوزور سره واخستي شي.نوهغه غنيمت وی) نودا غنيمت شو. (اوچه غنيمت شو.نوپه غنيمت کښي خمس وی.په دې کښي به هم خمس وی)

②اوبله دا چه واجب دې په امام باندې مدد کول دوئ سره،ځکه که پريږدی دوئ (اودوئ سره نه کوی) نوکمزوری به شی مسلمانان (نوهرکله په امام باندې ددوئ سره مدد کول ضروری شو.نودا داسې شوه.لکه چه دامام په اجازت سره دوئ دغه لوټ کړې وی.اوورانديې تيرشوی دی.چه کوم لوټ دامام په اجازت سره وی.په هغې کښي خمس وی.نوپه دې کښي به هم خمس وی)

(وإذا دخل المسلم دار الحرب تاجرا فلا يحل له أن يتعرض بشيء من أموالهم ولا من دمائهم

حل اللغة> ① **يتعرض**:وړاندې شی،

ترجمه و تشريح> اوکله چه داخل شی مسلمان په داسې حال کښي چه وی دې سوداګرنوحلال نه دی ده (مسلمان مستامن) دپاره چه تعرض اوکړی څه څيز ته د مالونودهغوی نه اونه د نفسونودهغوی نه، (يعنی دده دپاره دا حرام دی.چه دهغوی په مال په ناجائزه طريقه قبضه اوکړی.يا په هغوی کښي چاته جانی نقصان اورسوی

دليله> ځکه چه ده (مسلمان مستامن) ذمه واری ورکړې ده هغوی (د دارالحرب کافرانو) ته چه څه نقصان به نه رسوی هغوی ته، (ځکه چه هغوی چه ده ته خپل ملك ته د داخليدواجازت ورکړې دې.نوپه دې شرط چه دې به دهغوی مالونواونفسونوته څه نقصان نه رسوی.لکه په موجوده وخت کښي چه د يوملك نه بل ملك ته خی.نوويزه اوپاسپورټ ورکوی) د وجې د امان طلبولونه(يعنی هغوی ورته په دې شرط باندې خپل ملك په امن سره د اوسيدو اجازت ورکړې دی.چه دې به دهغوی مالونواونفسونوته تعرض نه کوی.اومسلمان به د معاهدې پابندی کوی) نو تعرض کول (مالونو اونفسونودکافرانوته) پس ددې(ذمه وارئ ورکولونه) کيږی دهوکه (دهغوی سره) اودهوکه (په اسلام کښي) حرامه ده. (لکه دحضرت عمر رضي الله عنه په روايت کښي چه راغلی دی.چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی.ددهوکه بازدپاره به دقيامت په ورځ يو بيرغ اولګولې شي.اودا به ونيلی شی.چه دا د فلانی دهوکه ده)

(فإن غدر بهم) فأخذ شيئا (وخرج به) (ملكه ملكا محظورا

ترجمه و تشريح> اوکه ده دهوکه اوکړه هغوی (کافرانو) سره، (مصنف فرمائی) زما مقصد سوداګر دې. (يعنی چه مسلمان سوداګرچه د مستامن په حيثيت دکافرانوملك ته داخل شوی وو) اووائې اخستل څه څيز(په ناجائزه طريقه د هغوی نه) او راوې ويستل هغه (د دارالحرب نه) نومالك شود هغې په ملك حرام سره (يعنی دا سوداګر ددغه څيزمالك شو.خودا ملکيت ئې په حرامه طريقه راغلې دې.اوملکيت ئې پرې راځی) د وجې د راتلو د غلبې نه په مال مباح باندې (ځکه چه دکافرانومال مباح دې.نودې دهغې مالك جوړيږی)

فَيُؤْمَرُ بِالتَّصَدُّقِ بِهِ)

ترجمه البته دومره ده چه دغه (مال) حاصل شوي دي په سبب د دهوکې سره. (

دليله څکه چه ده خو ورسره دا معاهده کړې وه. چه زه به ستاسو په ملك کښې ستاسو مال او جان ته تعرض نه کوم) نوپيدا کړله دي دهوکې پليتي په دغه (مال ماخوذه) کښې (اوقاعده دا ده.چه سرې په يوه ناجائزه طريقه د يوخيز مالك شي.نو هغه خيزدده دپاره حرام وي.اوپه ده باندې دهغې صدقه کول واجب وي) نوحکم به کولې شي (دي سوداګرته) د صدقه کولو دهغې (خيزکوم چه ني په ناجائزه طريقه د دارالحرب نه راوړې دې) څکه چه دا مسئله ده چې کوم مال په ناجائزه طريقه حاصل شي او اصل مالك ته د هغې واپس کول ګران وي نو دثواب د نيت نه بغير به هغه صدقه کوي.

دحربي دپاره په دارالاسلام کښې داماں غوښتلوموده

وَإِذَا دَخَلَ الْحَرْبِيُّ إِلَيْنَا مُسْتَأْمَنًا لَمْ يُمَكَّنْ لَهُ أَنْ يُقِيمَ فِي دَارِنَا سَنَةً وَيَقُولُ لَهُ الْإِمَامُ: إِنْ أَقَمْتَ تَمَامَ السَّنَةِ وَضَعْتُ عَلَيْكَ الْجِزْيَةَ)

ترجمه و تشريح (دا) فصل (په بيان د مستامن حربي داحکامو کښې دې) ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي. او کله چه راشي حربي زمونږ ملك ته په داسې حال کښې چه ده امن غوښتي وي.نو قدرت به نشي ورکولي (مستامن) ته چه ډيره شي په ملك زمونږ کښې (چه دارالاسلام دې) يوکال (بلکه ديوکال نه به کمه مودهٔ تيروي) اوواني به امام ده(حربي مستامن) ته که ته ډيره شوې پوره يوکال (په دارالاسلام کښې) نومقرر کوم به زه په تا باندې جزيه

دليله اصل (په دې باب کښې) دا دې. چه قدرت به نشي ورکولې چه ستوګنه اختيارکړي په ملك زمونږ کښې مګرپه حالت د غلامۍ کښې يا د جزيه کښې (چه په ده باندې به جزيه مقرر وي.اودا ده ته په دارالاسلام کښې ديوکال ستوګنه اجازت چه نشي ورکولې) څکه چه دې (حربي مستامن) ګرځي جاسوس دهغوی(حربيانو) دپاره (يعني زمونږ د ملك د رازونوبه خپلو حربيانوته خبر ورکوي) اومدد ورکونکې په مونږ باندې (يعني د مسلمانانوخلاف به خپلو حربيانوسره مدد کوي.مثلاً چه فلانې خانې باندې حمله اوکړئ .اودا کارداسې اوکړئ.وغيره) نورسيرې ضرر (ديوکال په اقامت سره) مسلمانانوته

فَإِنْ أَقَامَ سَنَةً أُخِذَتْ مِنْهُ الْجِزْيَةُ وَصَارَ ذِمِّيًّا)

ترجمه و تشريح نو که پاتې شو (په دارالاسلام کښې) يو کال نوجزيه به ترې اخستلې شي او دې ذمي شو.

دليله څکه چه هرکله ده استوګنه اوکړله يوکال (په دارالاسلام کښې) پس د وينا د امام نه ده ته (که تا يو کال تيرکړلو.نوپه تا به جزيه مقررکوم) اوګرځيدلودې لازمونکی (په خپل خان باندې) د جزيه،نوګرځي ذمي (څکه چه ذمي هم هغه چاته وائي.چه مسلمان نه وي.خوپه دارالاسلام کښې اوسيږي.او اسلامي حکومت ته جزيه ورکوي)

وَلَا يُتْرَكُ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ)

ترجمه نه به شي پريخودې چه واپس شي دارالحرب ته

دليله څکه چه معاهده د ذميت نشي ماتيدې څنګه به ماته شي حالانکه په دې کښې ختميدل د جزيه دي.

وَإِنْ عَادَ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ وَيَتْرُكُ وَدِيعَةً عِنْدَ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ أَوْ دَيْنًا فِي ذِمَّتِهِمْ فَقَدْ صَارَ دَمُهُ مُبَاحًا بِالْعَوْدِ

ترجمه و تشريح اوكه چرته حربي (كافر) داخل شو ملك زمونږ ته (چه دارالاسلام دې) په امان سره او بيا واپس شو دارالحرب ته اوپرې ئې خودل امانت د يومسلمان سره او يا ذمي سره او يا قرض په ذمه ددوی (يعنی ذمی يا مسلمان باندې ئې قرض پاتې شی) نو اوگرخيده وينه دده (حربی) مباح په واپس کيدو سره (خپل دار الحرب ته. نو که مسلمان ددې حربی قاتل شو. په هغه باندې څه نشته)

دليله ځکه چه دده (حربی) باطل کړلو امان خپل (په واپس کيدو سره دارالحرب ته)

وَمَا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ مِنْ مَالِهِ عَلَى خَطَرٍ، فَإِنْ أُسِرَ أَوْ ظُهِرَ عَلَى الدَّارِ فَقُتِلَ سَقَطَتْ دُيُونُهُ وَصَارَتِ الْوَدِيعَةُ فَيْئًا)

ترجمه او هغه چه وی په دارالاسلام کښې دمال دده نه (دامانت يا د قرض په صورت کښې) په خطره کښې دې. نو که قيدی کړې شو دې (حربی واپس تلونکې خپل وطن ته) او يا غلبه اوکړې شوه په دارالحرب باندې. اودې قتل کړې شو. نو ساقط شول قرضونه دده (حربی دائن دهغه کسانونه په چا باندې چه ئې قرضونه وو) او اوگرځيدلو امانت مال فئ (يعنی غنيمت)

چه مسلمانان ئې بغيرجنګه حاصل کړی دهغې حکم

وَمَا أُوجِفَ عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ عَلَيْهِ مِنْ أَمْوَالِ أَهْلِ الْحَرْبِ بِغَيْرِ قِتَالٍ يُصْرَفُ فِي مَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ كَمَا يُصْرَفُ الْخَرَاجُ)

ترجمه و تشريح او هغه چه حاصل کړی مسلمان په رعب اوويرولو سره هغه د مالونو د حربيانو نه بغير د جنګ نه (يعنی مسلمانان بغير د جنګ نه صرف په رعب او ويرولو سره د حربيانو نه دهغوی مالونه واخلی) نو خرچ کولې به شی مصالحو د مسلمانانو کښې (لکه پلونه جوړول، لارې جوړول شفاخانې جوړول وغيره شول) لکه ځنګه چه خرچ کولې شی مال خراج (په مصالحو د مسلمانانو باندې)

دليله دليل دا دې. چه روايت شوې دې چه نبی ﷺ اخستې وه جزيه اودغه شان حضرت عمر رضي الله عنه او معاذ رضي الله عنه او کيخودلې ئې وه په بيت المال کښې او خمس ئې نه وو اخستې دهغې نه او بل عقلی دليل دا دې. چه دا (ما اوجف عليه المسلمون) داسې مال دې چه اخستې شوې دې په طاقت د مسلمانانو سره بغير د جنګ نه (بلکه د کافرانو نه په رعب سره اخستې شوې دې) (١)

أَرْضُ الْعَرَبِ كُلُّهَا أَرْضُ عُشْرٍ، وَهِيَ مَا بَيْنَ الْعُذَيْبِ إِلَى أَقْصَى حَجَرٍ بِالْيَمَنِ وَبِمَهْرَةَ إِلَى حَدِّ مَشَارِقِ الشَّامِ وَالسَّوَادُ كُلُّهَا أَرْضُ خَرَاجٍ، وَهِيَ مَا بَيْنَ الْعُذَيْبِ إِلَى عَقَبَةِ حُلْوَانَ، مِنَ الْعَلْثِ إِلَى عَبَّادَانَ)

ترجمه و تشريح د عربو ټوله زمکه عشری ده. اودا زمکه د عذيب نه (چه د تميم قبيله اوبه دی) واخله تر آخری حصې د مهرحجر (يعنی غټ کانړی) پورې په يمن کښې کښې ترملک شام پورې، اود سواد (دکلو د عراق) زمکه خراجی ده. اودا (سواد عراق) د عذيب مقام نه واخله ترعقبه حلوان پورې ده. (د پلنوالی په لحاظ سره) اود علث مقام نه ترعبادان مقام پورې (په اوږدوالی).

دليله ځکه چه نبی ﷺ او خلفاء راشدينو رضي الله عنهم نه دی اخستې خراج د زمکو د عربو نه. (٢)

---

١) قال الزيلعي رحمه الله اخرجه أبوداود فى كتاب الخراج عن ابن لعدى بن عدى الكندى (نصب الراية، ٣\٦٥٩)۔

١) قال الزيلعي رحمه الله كذا روى أبوعبيدالقاسم بن سلام فى كتاب الأموال (١\٥٧) نصب ١٣\٦٦١)۔

دعراق د ګلود زمکوحکم

(وَأَرْضُ السَّوَادِ مَمْلُوكَةٌ لِأَهْلِهَا يَجُوزُ بَيْعُهُمْ لَهَا وَتَصَرُّفُهُمْ فِيهَا)

ترجمه و تشریح< فرماني(ابو الحسن قدوري رحمه الله) اوزمکه د عراق د کلو مملوکه ده دهغې د اوسیدونکو جائز دی دهغوی (اهل عراق) دپاره خرڅول دهغې اوتصرف کول دهغوی په هغې(زمکو کښې)

دليله< ځکه چه امام کله فتح کړي یوه زمکه په قوت اوغلبه سره نوجائزدی ده (امام) دپاره چه باقي پاتې کړي (ملکیت اوقبضه) د مالکانودهغې (زمکې) په هغې (زمکه) اومقرر کړي په هغې (زمکو) اوپه سرونودهغوی خراج (یعنی په زمکو باندې خراج او په نفسونونې جزیه مقررکړي) نو(پس د مقررکولود خراج نه په زمکودهغوی) باقي پاتې کیږي زمکې مملوکې د مالکانودهغې (یعنی چه هغوی دځپلو زمکو خراج ورکوی.نودغه زمکې به هم دهغوی په ملکیت کښې باقي وی)

دعشري زمکې پېژندګلو

(وَكُلُّ أَرْضٍ أَسْلَمَ أَهْلُهَا عَلَيْهَا أَوْ فُتِحَتْ عَنْوَةً وَقُسِّمَتْ بَيْنَ الْغَانِمِينَ فَهِيَ أَرْضُ عُشْرٍ)

ترجمه و تشریح< فرماني(ابو الحسن قدوري رحمه الله) اوهره یوه زمکه چه چه اسلام قبول کړي اوسیدونکې دهغې اویا فتح شي په زور سره اوتقسیم شي په مینځ د غازیانوکښې نوهغه زمکه عشري ده.

دليله< ځکه چه حاجت (پیښ شوې دې) په اول کښې مقررکولود عشرته په مسلمان باندې اوعشر(داسې ځیزدې چه) زیات لائق دې د مسلمان پورې ځکه چه په دې (عشر) کښې معنی د عبادت ده. (یعنی د مسلمان نه چه دهغه د زمکې عشر اخستې شي.نودا صرف ټیکس نه دې.لکه څنګه چه جزیه ده.بلکه) په دې (عشر) کښې معنی د عبادت ده (یعنی مسلمان په عشرورکولوکښې خپل رب ته د خپلې بندګۍ اوتابعدارۍ خودنه کوی)

په زورسره د فتح شوې زمکې حکم

(وَكُلُّ أَرْضٍ فُتِحَتْ عَنْوَةً فَأُقِرَّ أَهْلُهَا عَلَيْهَا فَهِيَ أَرْضُ خَرَاجٍ)

ترجمه و تشریح< اوهره یوه زمکه چه فتح شي په طاقت سره (چه مسلمان په زورباندې په هغې قبضه اوکړي) اوباقي پاتې کړي (امام) مالکان دهغې(زمکې) په هغې باندې نوهغه (زمکه) خراجي ده.

دليله< ځکه چه حاجت پیښ شوې دې داول نه مقررکولوته په کافرباندې (یعنی چونکه دغه زمکه داول نه خراجي ګرځیدلې ده.نوکه روسته د کافر نه دمسلمان قبضې اوملکیت ته لاړه شي.هم به خراجي وی)اوخراج زیات لائق دې دده (کافر) پورې.

استثناء مکة< مکه خاص کړې شوې ده ددې (قاعدې) نه ځکه چه رسول الله ﷺ فتح کړې وه دا (مکه) په زور سره اوپریخودې نې وه خپلو مالکانوته اونه نې وو مقرر کړې خراج (١)په هغوی باندې نوددې قاعدې مطابق بیا خوپکاردا ده.چه د مکې زمکه هم خراجي وه.خوداسې نه ده.ځکه چه ددې قاعدې نه هغه مستثنی ده)

---

(١) قال الزيلعي رحمه الله فيه أحاديث إستدل بها العلماء على أن مكة فتحت عنوة ثم روى رواية أبي هريرة رضي الله عنه وعزاه إلى مسلم (نصب الراية،٣\٢٦٣)۔

غیر اباده زمکه اباد ول

وَمَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَوَاتًا فَهِيَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ مُعْتَبَرَةٌ بِحَيِّزِهَا،(١) فَإِنْ كَانَتْ مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْخَرَاجِ فَهِيَ خَرَاجِيَّةٌ، وَإِنْ كَانَتْ مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْعُشْرِ فَهِيَ عُشْرِيَّةٌ

حل اللغة ﴿۱﴾ **حيز**: نزدې، قريبه

ترجمه و تشريح اوچا چه ژوندې کړه (یعنی آباده ئې کړه) زمکه مړه (یعنی شاړه چه دچا ملکیت نه وی. اونه په دغه حالت کښې څه فائده اخستې شی، اوده په کښې څه فصل اوکرل. اودکرکروندې قابله ئې کړه) نوهغه په نیزدامام ابویوسف رحمه الله قیاس کولې شی. په هغه زمکه چه نزدې وی دې (خراجی زمکې سره) نوکه وی نزدې دزمکۀ خراجی سره معنی ددې (بحیزها) چه نزدې وی دې. نوهغه به خراجی وی. اوکه وی نزدې د عشری زمکۀ سره، نوهغه به عشری وی.

تعريف ارض الموات په پښتوکښې ارض موات شاړه زمکې ته وائی. دې ته په عربئ کښې ((ارض خالصه)) هم وائی. ﴿۱﴾ دظاهرروایت مطابق ارض موات هغه زمکې ته وائی. چه هغه دچا ملکیت نه وی. اونه دچا مخصوص حق وی. اوقابل د منفعت هم نه وی.

﴿۲﴾ دامام طحاوی رحمه الله په نیزارض موات هغه زمکې ته وائی. چه آبادئ ته نزدې نه وی

﴿۳﴾ دامام ابویوسف رحمه الله په نیزارض موات هغې زمکې ته وائی. چه هغه د آبادئ نه دومره لرې وی. چه په اوچت آواز سره هم هغې ته آواز نه رسی. په ظاهرروایت کښې چه امام طحاوی اوامام ابویوسف رحمه الله کوم شرطونه کیخودې دی. هغه شرط نه دی. دظاهرروایت مطابق کومه زمکه چه دسمندراو دریاب په وچیدو باندې خالی شی. هغه هم د ارض موات په حکم کښې ده. قطع نظرددې نه چه دغه زمکه آبادئ سره نزدې ده اوکه لرې. دظاهرروایت په بناء ځنګل هم د ارض موات په حکم کښې راځی. صاحب د بدائع الصنائع فرمائیلی دی. چه صحیح قول ظاهرالروایت دې.

اقسام ارض الموات د روایاتواواحادیثو په رڼا کښې شاړه زمکه په درې قسمه ده. ﴿۱﴾ چه همیشه دپاره دکرکروندې قابله نه وی.

﴿۲﴾ شاړه زمکه، یعنی هغه زمکه چه قابل د کرکروندې وی. خودڅه وجې نه په کښې خلق کرونده نه کوی. لکه داسې زمکه چه آبادې ترې ختم شوې وی. اودغه شان شاړه پرته وی. ځوک ئې آبادونکې نه وی. یا داسې زمکه چه دهغې آبادولوته د ډیرمحنت او خرچې ضرورت وی. ځکه ئې ځوک آبادولوته غاړه نګدی. لکه زمونږ په سرحد کښې د کرک ضلع زمکه شوه.

﴿۳﴾ خالصه زمکه په مفتوحه علاقوکښې په هغه ټولوزمکوباندې د خالصه اطلاق کیږی. کوم چه داسلامی حکومت دپاره خاص شوې وی.

اقسام الارض الخالص داسې زمکې په شپږ قسمه دی. ﴿۱﴾ دکومې زمکې مالك چه په جنګ کښې قتل شوې وی

﴿۲﴾ دکومو زمکو مالکان چه تختیدلی وی.

﴿۳﴾ کومې زمکې چه د بادشاه د اخراجاتود پوره کولودپاره خاص شوی وی

﴿۴﴾ هغه زمکې چه د شاهی خاندان اوافسران جاګیروی

---

(١) القول الراجح هوهذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في الدرالمنتقى (١\٦٧٤) وفتح القدير(٥\٢٨١) وردالمحتار(٣\٢٨٤) والهندية (٢\٢٣٧) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٩١)-

⑤ هغه زمکه چه په هغې کښې جهيلونه اوبندونه وي.نوهغه هم په خالصه زمکه کښې راځي.
⑥هغه زمکې چه ديوځوکسانوپه قبضه کښې وي.اودهغوی پرې ځپل عيش عشرت کوی.اود اسلامی حکومت د غلبۀ نه پس دهغې څوك مالك يا آبادونكي نه وي.نودا هم د خالصه زمكۀ په زمره كښې راځي.

(وَالْبَصْرَةُ عِنْدَنَا عُشْرِيَّةٌ بِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ

حل اللغة< ① **فناء الدار**:د کور ميدان، ② **العامر**:آبادي

ترجمه و تشريح< اوبصره په نيزدده(ابويوسف) تولة عشري ده. په اجماع د صحابوﷺ.
دليله< ځکه چه نزدې وی يو ځيز ته،نوورکولې شی هغې ته حکم دهغې (ځيزنوچونکه د بصره سره عشری زمکې نزدې دی.بصره به هم عشری وی) لکه څنګه چه د کورمخې ته ميدان ته هم دهغې(کور) حکم ورکولې شي. (اګرچه ميدان د کوردخاوندپه ملکيت کښې داخل نه وی) تردې چه جائز ده دمالك دهغې(کور) دپاره فائده اخستل دهغې (فناء) نه،اودغه شان جائزنه دی. اخستل(دخراج) دهغه زمکې نه چه نزدې وی آبادئ ته (ځکه چه هغه هم د آبادئ په حکم کښې ده.اوکومه زمکه چه په آبادئ کښې ګيره وی.په هغې باندې عشريا خراج نه وی)

دعشري زمكې اطلاق په كومو زمكو كيږي؟

(وَقَالَ مُحَمَّدٌ: إِنْ أَحْيَاهَا بِبِئْرٍ حَفَرَهَا أَوْ بِعَيْنٍ اسْتَخْرَجَهَا أَوْ مَاءِ دِجْلَةَ أَوْ الْفُرَاتِ أَوْ الْأَنْهَارِ الْعِظَامِ الَّتِي لَا يَمْلِكُهَا أَحَدٌ فَهِيَ عُشْرِيَّةٌ)

د لغت حل:① **بئر**:كوهي ② **حفر**:كنده، ③ **العظام**:جمع د عظيم،لوئي

ترجمه و تشريح< اوفرمانيلی دی.امام محمدﷺ (په جامع صغيرکښې) که ژوندئې کړه دا (شاره زمکه) په (اوبود) کوهی (سره) چه کنستې ئې وی (په دغه شاره زمکه يا دې ته نزدې زمکه کښې يعنی د دغه کوهی نه ورته اوبه ورکوی)اويا په چينې (داوبوسره) چه راويستې ئې وی (دغه چينه په کنستلوسره) اويا په اوبو د دجلۀ يا دريائې فرات (چه دهغې نه ورته لختې يا ورکوتې نهرراوباسی)اويا (ئې سيراب کړی) په هغه لوئې نهرونوباندې چه مالك ئې نه وی څوك،نودغه زمکې عشری دی. (په دې کښې به عشر وی)

(وَإِنْ أَحْيَاهَا بِمَاءِ الْأَنْهَارِ الَّتِي احْتَفَرَهَا الْأَعَاجِمُ) مِثْلُ نَهْرِ الْمَلِكِ وَنَهْرِ يَزْدَجِرْدَ (فَهِيَ خَرَاجِيَّةٌ)

ترجمه و تشريح< اوكه ژوندئې كړه (يعنی آبادئ ئې كړه) دا (شاره زمکه) په اوبود نهرونوهغه چه كنستې وی عجميانولكه نهرد بادشاه يا نهرد يزدجرنودا (قسم زمکې) خراجی دی.دهغه وجې چه مونږ ذكركړه.چه اعتباربه (هغه) اوبو لره وی(په كومو چه دغه زمکه خروب شوې وی.كه هغه اوبه د عشری زمکې وی.نودا زمکه به عشری وی.اوكه د خراجی زمکې وی.نودا زمکه به خراجی وی.اودا اوبه د عشری اوخراجی دپاره مداركرځوو)
دليله< ځکه چه دا (اوبه) سبب دې دپاره د لونيدو(د فصلونو چه كوم فصل ته اوبه ورنكړې شی. نو هغه نه وده نه كوی)

دخراج مقرركولو معيار

وَالْخَرَاجُ الَّذِي وَضَعَهُ عُمَرُ عَلَى أَهْلِ السَّوَادِ مِنْ كُلِّ جَرِيبٍ يَبْلُغُهُ الْمَاءُ وَيصلح للزرع قَفِيزٌ هَاشِمِيٌّ وَهُوَ
الصَّاعُ وَدِرْهَمٌ،وَمِنْ جَرِيبِ الرَّطْبَةِ خَمْسَةُ دَرَاهِمَ وَمِنْ جَرِيبِ الْكَرْمِ الْمُتَّصِلِ وَالنَّخِيلِ الْمُتَّصِلِ عَشَرَةُ

دَرَاهِمَ)

حل اللغة ﴿١﴾ **الجريب:** هغه زمکه چه اوږدوالي ئې د کسری بادشاه د گز په حساب سره شپيته گزه وو اود کسری بادشاه گز اووه موټی وو.حالانکه گزونه شپږ موټی وی ﴿٢﴾ **الرطبة:** ددې اطلاق په تره، خربوزه، بادرنګ باتينګروغيره باندې کيږی ﴿٣﴾ **الکرم:** انګور ﴿٤﴾ النخيل:قجوري

ترجمه و تشريح ﴿ اوخراج هغه چه مقرر کړې وو حضرت عمر ﷺ نووو (په عراقيانو باندې) په هريوجريب (يعني هغه زمکه چه اوږدوالي ئې د کسری بادشاه د گز په حساب سره شپيته گزه وو .اود کسری بادشاه گز اووه موټی وو.حالانکه گزونه شپږ موټی وو) باندې چه رسيدلي به ورته اوبه اوصلاحيت لری د پيداوار(نودهغې په پيداوار کښې) هاشمی قفيز وو.اوهغه (هاشمی قفيز) يوصاع اويودرهم وو.اوپه جريب د رطبه کښې(رطبه د راء په فتح سره جمع د رطاب ده.ددې اطلاق په تره، خربوزه، بادرنګ باتينګروغيره باندې کيږی) پنځمه درهمه دی.اوپه جريب د انګوروباندې چه پيوست وی (يعني چه د يوبل دپاسه وی.اوزمکه پرې تولـه ډکه وی.خالی ځائي په کښې نه وی) اوقجوري پيوست باندې لس درهمه دی.

دليله ﴿ دا (مقدار) نقل شوې دې د حضرت عمر ﷺ نه ځکه چه دوی (حضرت عمر ﷺ) ليږلي وو حضرت عثمان بن حنيف ﷺ (د عراقی زمکو ديپمانش دپاره) تردې چه هغه پيمائش اوکړلو د عراقی زمکو.اوګرځولي ئې وو حضرت حذيفه ﷺ نګران په ده (عثمان بن حنيف ﷺ) باندې (هرکله چه پيمائش کړل.نو) اورسيده (دغه عراقی زمکه) درې کروړه او شپيته لکهه جريبو ته اومقررئې کړلو (خراج) په دغه زمکه باندې هغه شان ځنګه چه مونږ بيان اوکړلو.اووو دا (مقررکول د خراج دحضرت عمر ﷺ په موجودګئ د صحابه کرامو ﷺ کښې بغير د څه انکار نه (يعني هغوی پرې انکار اونکړلو) نوشو (دا عمل دحضرت عمر ﷺ اوسکوت د صحابو ﷺ) اجماع د دوی (صحابو ﷺ) د طرفه (په دې مقدارباندې) (١)

التوضيح الضروری ﴿ په قفيزکښې يوصاع غله وی.کومه چه تقريباً درې نيم سيره وی.اويوسير شپاړس چيټاکئ وی.اوپه موجوده زمانه کښې د کلوګرام رواج دې.نودچيټاکوپه حساب سره يوکلوګرام اتلس چيټاکئ وی.داخبره ياده ساتئ:چه د حضرت عمر ﷺ په زمانه کښې د يوقفيز قيمت درې روپئ وو.اولس درهم د اووه مثقالوبرابر وو.اود يودرهم وزن د درې ماشو اويوې رتئ برابر وی.اود يومثقال وزن څلورماشې او څلور رتئ وی.اود يوصاع وزن د مثقال په حساب سره دوه سوه اويا تولـه دې.اود درهم په حساب سره دوه سوه درې اويا تولـه دې. (اشرف الهدايه شرح هدايه از مولانا محمد ابوبکرقاسمی)

په نورو اوباغ کښې د خراج مقررکولوطريقه

وَمَا سِوَى ذَٰلِكَ مِنَ الْأَصْنَافِ يُوضَعُ عَلَيْهَا بِحَسَبِ الطَّاقَةِ)

ترجمه و تشريح ﴿ (ابو الحسن قدوری ﷫) فرمائي.اوهغه چه وی سوا ددې قسمونو نه، (چه د انګورو ،غله او رطابو زمکې اوباغونه دی) مقرر کولې به شی په دې باندې (خراج) په اندازه د طاقت (دزمکه

دليله ﴿ ځکه چه نشته په دې (څيزونو) کښې مقررکول د حضرت عمر ﷺ نه (چه هغه د زعفرانو وغيره

---

١) کذا في کتاب الأموال لأبي عبيد القاسم بن سلام (نصب الراية،٣\٦٦٥)_

په باغونوكښې څومره خراج مقرر كړې دې.البته دومره ده چه) يقينا معتبر كړې دې حضرت عمر رضي الله عنه په دغه ځيزونوكښې (كوم چه وړاندې تيرشو) طاقت (حالت يعني په پيدوار كښې د كمې او زياتې ګټې په اندازه باندې حضرت عمر رضي الله عنه خراج مقرر كړې دې.چه په چا كښې ګټه زياته وى.اومشقت كم وو.په هغې باندې ئې زيات خراج مقرر كړې دې.اوچه په چا كښې مشقت زيات او ګټه كمه وى.نوپه هغې باندې ئې كم خراج مقرر كړې دې.نودغه اصول به په نورو ځيزونوكښې هم مدنظرساتلې شى) نو مقرر كولې به شى په دې ځيزونوباندې (چه زعفران وغيره دى) په اندازه دطاقت (د زمكې او باغونو، يعنى په كومو باغونواو زمكوكښې چه د تيرو شوو ځيزونو نه علاوه نور ځيزونه كيږى.لكه زعفران شو. نوپه هغې كښې به د زمكې اوپيداوار حالت ته كتلې شى) څكه چه نشته په دې ځيزونوكښې (چه زعفران وغيره دى) مقرر كول د حضرت عمر رضي الله عنه اويقيناً معتبر كړې دې حضرت عمر رضي الله عنه حالت د زمكې په دې (انګور،غله اورطابو) كښې نو معتبر كوو به ئې مونږ په هغه څه كښې چه نه وى مقرر كول په هغې كښې (دحضرت عمر رضي الله عنه دطرفه لكه په زعفران كښې)

دخراج د زيادت په صورت كښې دهغې دكمې اجازت

(فَإِنْ لَمْ تُطِقْ مَا وُضِعَ عَلَيْهَا نَقَصَهَا الْإِمَامُ)

ترجمه و تشريح> ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائى.چه كه طاقت نه لرى زمكه د هغه محصول چه مقررشوى وى په هغې (زمكه) باندې نوكمې به اوكړى امام دوى (مالكانو د زمكې په محصول دهغې پيداواركښې)

دليله> حضرت عمر، حذيفه اوعثمان بن حنيف رضي الله عنهم دعراق د زمكې نه د خراج راجمع كولودپاره اوليږل.او واپس راغلل.نودغه مكالمه ورسره شوې وه.كومه چه كتاب كښې ذكر ده) اودا (قول) دلالت كوى په جواز د نقصان باندې (يعنى حضرت عمر رضي الله عنه چه استفساركوى.چه داسې خو نه ده.چه تاسوپه يوه زمكه دهغې دطاقت نه زيات محصول مقرركړې وى.نوددې استفسارمطلب دا دې.كه چرته داسې وى.نوچه مونږ ددغه زمكو محصول اوخراج كم كړو) ([1])

دخراج ختميدو صورتونه

(وَإِذَا غَلَبَ عَلَى أَرْضِ الْخَرَاجِ الْمَاءُ أَوْ انْقَطَعَ عَنْهَا أَوْ اصْطَلَمَ الزَّرْعَ آفَةٌ فَلَا خَرَاجَ عَلَيْهِمْ)

حل اللغة> ① الاصطلام:راتلل،لګيدل،واقع كيدل ② الزرع:فصل ،كرونده

ترجمه و تشريح> اوكه غلبه اوكړله.په زمكه خراجې باندې اوبو(سيلاب پرې راغلو) يا اوبه ختمې شوې ددې سره اويا اولګيدلو په فصل باندې څه آفت، (چه دهغې د وجې ددې پيداوار ختم شى) نونشته خراج په هغوى باندې

دليله> څكه چه فوت شو قدرت په پيداوار باندې اوهم دا (قدرت) نماء تقديرى ده چه معتبره ده په خراج كښې (يعنى چه يوه زمكه داسې وى.چه په هغې كښې د پيداوار صلاحيت وى.نودهغې په مالك باندې به خراج مقرركولې شى.اګرچه هغه په دغه زمكه كښې څه نه وى كرلې.څكه چه دا خو دده كوتاهي ده.نوپه زمكه كښې د پيداوار صلاحيت تقديرى نماء ده.اوپه پيداواركښې زيادت دې.اودا كوم علتونه چه دلته بيان شو.په دې سره په زمكه كښې د پيداوارصلاحيت ختم شو.نوتقديرى نماء كومه چه مونږ د خراج دپاره معيار ګرځولې وه. هغه ختمه شوه.نوخراج به هم ختم شى) اوپه هغه صورت

---

[1] من حديث عمروبن ميمون رضي الله عنه اخرجه البخارى فى فضائل الصحابة رضي الله عنهم باب ۸)۔

کښي (هم خراج ساقطیږي) چه راشي په زمکه باندې څه آفت او فوت شي نماء تقدیري په بعضې کال کښي (یعني که زمکه باندې یو داسې آفت راشي.چه عارضي طور د کرکوونده قابله پاتې نشي.خو بیا د زراعت قابله وي.نوپه دې صورت کښي که هم ددې نه څه پیداوار اوشي.په هغې کښي به خراج نه وي)

د زمکه بیکاره پریښودو باندې دخراج عدم سقوط

(وَإِنْ عَطَّلَهَا صَاحِبُهَا فَعَلَيْهِ الْخَرَاجُ)

حل اللغة ① **العطلة**:بیکاره کول،بغیرکروندې پریښودل

ترجمه و تشریح اوکه بیکاره ئې پریښودله دا (زمکه او څه ئې په کښې اونکرل) نو په مالك ددې (زمکې) خراج دې.

دلیله ځکه چه قدرت (دکرلو) حاصل وو ده (مالك) ته،اوهغه (قدرت هغه ووچه) ضائع کړلو ده(ځکه چه زمکه ئې خالي پریښودله)

دخراجي د اسلام په صورت کښې دده د زمکې حکم

(وَمَنْ أَسْلَمَ مِنْ أَهْلِ الْخَرَاجِ أُخِذَ مِنْهُ الْخَرَاجُ عَلَى حَالِهِ)

ترجمه و تشریح اوچا چه اسلام قبول کړلو.د خراجیانو نه،نو اخستې به شي دده نه خراج په خپل حالت باندې (لکه څنګه چه به ترې وړاندې اخستې شو)

دلیله ځکه چه په دې (خراج) کښې معنی دموّنة (مشقت) ده. (یعنی خراج یوداسې څیزدې.چه ددې د مقررکولوداورمدار د زمکې په حالت دې.د دې د مالك په حالت نه دې. نو د اول نه چه په دې زمکې باندې خراج مقررشوې دې.نوهم دغه خراج به مقرروي) په حالت د بقاء (دزمکه) کښې، (چه زمکه باقي وي.نوخراج به هم باقي وي) نوممکن (جائز شو) باقي پاتې کول ددې (خراج) په مسلمان باندې(ځکه چه په مسلمان کښې دا صلاحیت شته.چه دې ددغه زمکې خراج ورکړي. داسې نه ده . چه دې د زمکې دخراج ادا کولونه عاجزدې.بلکه لکه څنګه چه ئې په حالت د کفرکښې ددې خراج ورکولو .دغه شان به په حالت د اسلام کښې هم ورکوي.ځکه چه د زمکې حالت بدل شوې نه دې.دده حالت بدل شوې دې.او دخراج تعلق د زمکې سره دې.د مالك د زمکې سره نه دې.هم دا وجه ده.چه عشري زمکه که د ماشوم په ملکیت کښې وي.هم به په هغې کښې عشر وي.اګرچه دماشوم په مال کښې زکاة نشته.اوبله دا که مونږ دده نه د زمکې خراج ساقط کړو.نومونږ به دې ته محتاج یو.چه دده په زمکه باندې عشرمقرر کړلو .او په خلاف د جزیه یعني که یوذمي کافرمسلمان شي. نودهغه نه چه جزیه ساقطه شي.د جزیه په بدل کښې په هغه باندې د بل څیز مقررکولو ضرورت نشته)

دمسلمان دپاره د خراجي زمکې اخستل

(وَيَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِيَ الْمُسْلِمُ مِنَ الذِّمِّيِّ أَرْضَ الْخَرَاجِ وَيُؤْخَذُ مِنْهُ الْخَرَاجُ)

ترجمه و تشریح اوجائزده.چه واخلي مسلمان خراجي زمکه د ذمي نه او واخستې شي دده (مسلمان) نه خراج دهغه وجې کومه چه مونږ بیان کړه.((لأن فیه معنی المؤنة فیعتبر مؤنة في حالة البقاء))

دلیله او په یقین سره ثابته ده.چه صحابو رضي الله عنهم اخستې وې خراجي زمکې (دذمیانونه) او وو هغوی(صحابه رضي الله عنهم چه) ادا کول به ئې خراج دهغې (خراجي زمکو) (¹) نودا (عمل د صحابو رضي الله عنهم) دلالت

---

۱) کذا نقله البیهقي في کتاب المعرفة (نصب الرایة،۳\۶۶۶)۔

کوی په جواز د اخستلو (دخراجي زمکو) او په (جواز د اخستلو) د خراج (ددې مسلمانانونه) او ورکول ددې (خراج) مسلمان ته بغیرد کراهة نه.

دخراجي زمکې په پیداوارکښې دعشرعدم فرضیت

(وَلَاعُشْرَفِي الْخَارِجِ مِنْ أَرْضِ الْخَرَاجِ)

ترجمه و تشریح اونشته عشرپه خراجي زمکه کښې (١)

دلائله ① دلیل قول دنبي ﷺ دې. لَا يَجْتَمِعُ عُشْرٌ وَخَرَاجٌ فِي أَرْضِ مُسْلِمٍ} (٢) چه نه جمع کیږي عشر او خراج په زمکه دمسلمان کښې،

② اوبله دا چه هیڅ چا په امامانوعادلانواو ظالمانوکښې جمع والې نه دې کړې په دې کښې، اوکافي ده اجماع ددې امامانو حجت (چه په یوه زمکه کښې به عشر اوخراج نه جمع کیږي.

③ او ځکه چه خراج واجبیږي په هغه زمکه کښې چه فتح شوې وي په قوت او زور سره. اوعشر (واجبیږي) په هغه زمکه کښې چه اسلام راوړې وي اوسیدونکو د هغې (زمکې) په تابعدارۍ (اوخپلې خوښې) سره. او دا دواړه وصفونه (چه زور او رضا ده) نه جمع کیږي په یوه زمکه کښې (چه یوه زمکه دې هم په زور باندې فتح شوې وي اوهم په رضا باندې)

د جزئې قسمونه

(وَهِيَ عَلَى ضَرْبَيْنِ: جِزْيَةٌ تُوضَعُ بِالتَّرَاضِي وَالصُّلْحِ فَتَتَقَدَّرُ بِحَسَبِ مَا يَقَعُ عَلَيْهِ الِاتِّفَاقُ)

ترجمه و تشریح اودا (جزیه) په دوه قسمه ده. (یوه) جزیه هغه ده. چه مقررکولې شي په رضا او صلحې سره (یعني چه کافر د مسلمانانوسره دجزیه په مقررکولوباندې متفق شي. چه تیک ده تاسوته به مونږ جزیه در کوو .او تاسو به زمونږ د مال اوجان حفاظت کوئ) نو مقررکولې به شي دا (قسم جزیه د صلح او رضا) په هغه شان چه څنګه پرې راشي اتفاق (دمسلمانانو او کافرانو)

دلائله ① حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرماني. چه نبي ﷺ د اهل نجران سره (نجران د یمن یوه علاقه ده. چه نصارى په کښې اوسیدل) په دې باندې صلح کړې وه. چه تاسویه مونږ ته یوزر او دوه سوه جوړې راکوئ. اوددې راکول به په دې طریقه وي. چه نیمي جوړې یعني شپږ سوه به د صفریه میاشت کښې راکوئ. اوباقي نیمي چه شپږ سوه دي. دا به د رجب په میاشت کښې راکوئ. اومسلمانانوته به دیرش اسونه، دیرش زرۀ، دیرش اوښان ،او د دې نه علاوه دیرش توري نیزې غشي ورکوی. خوبه دې شرط چه مسلمانان به د دې جنګي سازوسامان د واپس ورکولو ذمه واري وي اونبي ﷺ ورته دا ضمانت ورکړلو. که دا جزیه تاسو راکوئ. نو د اسلامي حدودو کښې چه کومې علاقه دي. په دغه علاقواو ځایونوکښې به دعیسایانوګرجې نشي غورځولې. اونه به څوک عیسائي د وطن نه ویستلې شي. ترڅوچه ني معاهده ماته کړې نه وي. اویا ني سود خوړل شروع کړې نه وي . (یعني که معاهده ماته کړي. یا سود خوړل شروع کړي. نوبیا ددغه علاقه نه دده ویستل جائز دي. (٣)

② اوځکه چه موجب (یعني هغه مقدار مال چه په اتفاق سره مقرر شوې وي) هغه د دواړو طرفونو نه په

---

(١) فرمانیلي دي امام شافعي رحمه الله جمع والې به کوي په مینځ ددې دواړو (عشراوخراج) کښې

(٢) من حدیث عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اخرجه ابن عدى فى الكامل (٧\٢٥٥)۔

(٣) من حدیث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه ابوداود فى كتاب الخراج والإمارة والفئ باب ٣٠ رقم ٣٠٤١)۔

رضامندي ده. (چه د مسلمانانو او کافرانو په کوم مقدار باندې اتفاق راغلي وي) نو نه دي جائز تجاوز کول (یعنی اوړبدل) سوا د هغه مقدار نه چه واقع شوي وي په هغې باندې اتفاق (یعنی جانبینو چه د خراج په کوم مقدار باندې په اتفاق سره معاهده کړي ده.په هغه مقدار کښې به کمې زیاتې نشي کولي.مثلا که په کال کښې ئې دوه زره روپۍ مقرر کړي وي.نو په دې دوو زرو روپو کښې به کمې زیاتې نشي کولي)

(وَجِزْيَةٌ يَبْتَدِئُ الْإِمَامُ بِوَضْعِهَا إِذَا غَلَبَ الْإِمَامُ عَلَى الْكُفَّارِ، وَأَقَرَّهُمْ عَلَى أَمْلَاكِهِمْ، فَيَضَعُ عَلَى الْغَنِيِّ الظَّاهِرِ الْغِنَاءِ فِي كُلِّ سَنَةٍ ثَمَانِيَةً وَأَرْبَعِينَ دِرْهَمًا يَأْخُذُ مِنْهُ فِي كُلِّ شَهْرٍ أَرْبَعَةَ دَرَاهِمَ. وَعَلَى الْمُتَوَسِّطِ الْحَالِ أَرْبَعَةً وَعِشْرِينَ دِرْهَمًا فِي كُلِّ شَهْرٍ دِرْهَمَيْنِ، وَعَلَى الْفَقِيرِ الْمُعْتَمِلِ اثْنَيْ عَشَرَ دِرْهَمًا فِي كُلِّ شَهْرٍ دِرْهَمًا)

ترجمه و تشریح: او بل قسم هغه) جزیه ده.چه ابتداء کړي وي امام د مقررکولو د هغې کله چه غلبه کړي، وي امام په کافرانو باندې او برقرارئې پاتې کړي وي هغوی (کافران) په خپلو ملکیتونو باندې (یعنی د هغوی نه ئې د هغوی مملوکه زمکې وغیره نه وي اخستې) نو مقررکوی به (په دې قسم کښې) په مالدار باندې چه مالداری ئې ښکاره وي.په هر کال کښې اته څلویښت درهم،او اخلی به د دوی نه په هره میاشت کښې څلور درهم او (مقررکوی به) په میانه حال باندې (چه نه ئې مالداری ښکاره وي.او نه فقیری.بلکه د دې دواړو په مینځ کښې وي .لکه بالفرض که دې مسلمان وي.نو چه نه په ده باندې زکاة واجب وي.څکه چه صاحب نصاب نه وي.او نه ده د پاره زکاة اخستل جائز وي.څکه چه مصرف هم نه وي.بلکه د دې دواړو په مینځ کښې وي.چه خپله ګزاره ئې روانه وي.نو دغه شان د لته په باب د جزیه کښې هم چه نه مالدار وي او نه فقیر) څلیرویشت درهم په هره یوه میاشت کښې (به ورکوی) دوه روپۍ او (مقررکوی به) په فقیر معتمل باندې (چه د ضرورت نه زیات مال ګټی خو مال نه جمع کوی) دولس روپۍ (ورکوی به) په هره میاشت کښې یوه روپۍ اودا (کوم ذمیانو درې حالتونو ته تقسیم) ([1])

دلائله: دا زمونږ مذهب منقول دې د حضرت عمر،عثمان، علی رضی الله عنه نه ([2]) او انکار نه دې کړې په دوی باندې هیڅ یوکس د مهاجرینو او انصار صحابو رضی الله عنهم نه، (نو معلومه شوه.چه د مالدار،میانه حال او غریب په مینځ کښې چه د احنافو کوم فرق کړې دې.دا صحیح دې.څکه چه دلیل ورله شته.

جزیه به په چا مقررکولې شي؟

(وَتُوضَعُ الْجِزْيَةُ عَلَى أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمَجُوسِ)

ترجمه و تشریح: او مقررکولې به شي جزیه په اهل کتاب (یعنی یهود او نصاری) باندې ،اوپه مجوسو باندې (که هغوی عربیان وي او که عجم وي.او مجوس هغه کسان دي.چه د نور او ظلمت د خدائې قائلین دي.اودا وائي.چه خیر د نورد طرفه وي.اوشر د ظلمت تیارهٔ د طرفه وي.او هم دا وجه ده.چه دوی د اور عبادت کوی.څکه چه اور هم نوردې.کذا فی البنایه)

دلائله: ① دوجې د قول دالله تعالی نه (چه اوجنګیږئ د هغه کسانو سره چه ایمان نه راوړی نه په الله

---

[1] **مسلک الشافعي:-** فرمائی امام شافعی رحمه الله مقررکوی به (امام) په هربالغ باندې یو دینار یا هغه چه برابروی د دینار سره مالدا راوفقیر(دواړه) په دې (مقدارد جزیه) کښې برابر دی. (دا نه چه د مالدارنه دې په کال کښې اته څلویښت اودرمیانه نه څلیرشت او غریب نه دولس روپۍ اخستې شي.

[2] الروایة عن عمر رضی الله عنه اخرجه ابن ابي شیبة ل مصنفه (نصب، ۳\۶۷)۔

باندې اونه په ورځ د آخرت اونه حراموي هغه څه چه حرام کړي دي الله اونه قبلوي دين حق) دهغه کسانو نه چه ورکړې شوي دي ورته کتاب (په لاس باندې او وی دوی ذليل)

④ اومقررکړي وه رسول الله ﷺ جزيه په مجوس باندې، (لکه په بخاري کښې چه دی چه نبی ﷺ د مقام حجرپه مجوسوباندې جزيه مقررکړې وه)[1]

دجزيې احتلو له ورالدې دکافرانود ښځو اوماشومانو حکم

(وَعَبَدَةِ الْأَوْثَانِ مِنَ الْعَجَمِ)

ترجمه و تشريح اور(مقررکولې به شي جزيه) په بت پرستو عجميانوباندې

دليله دليل دا دې.چه جائز دی غلامان جوړول دهغوی (يعنی داهل کتابو او مجوسو نه د علاوه نورو کافرانو) نو جائز به وی مقرر کول د جزيه په هغوی باندې،

د عربو مشرکانواو مرتدينو دښځو اوماشومانو حکم

(وَلَا تُوضَعُ عَلَى عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ مِنَ الْعَرَبِ وَلَا عَلَى الْمُرْتَدِّينَ)

ترجمه و تشريح اونشته جزيه مقررکول په بت پرستود عربو اونه په مرتديانو،

دليل عدم قبول الجزية من مشرک عربي ځکه چه کفرد دې دواړو (ولی) سخت دې.هرچه مشرکان دعربودی.(نودوی کفرزياته ګناه ده) ځکه چه نبی ﷺ پيدا شوې وو ددوی په مينځ کښې اوقرآن پاک نازل شوې وو په ژبه ددوی نو (دقرآن) اعجاز ددوی په حق کښې ښکاره وو. (خوددې باوجود چه هم په دوی کښې پيغمبرپيدا شوې وو.اوهم ددوی په ژبه قرآن نازل شوې وو.دوی ايمان راونړی .نويقيناً چه دوی د سخت عذاب مستحق دی.اوهغه دنياوی سزا دا ده.چه دوی به يا ايمان راوړی.اويا به قتلولې شی.جزيه قبلول د دوی نه نشته)

دليل عدم قبول الجزية من مرتد اوهرچه مرتد دې(نويه ده باندې جزيه مقررکول نشته)ځکه چه ده انکارکړې دې د رب خپل نه پس ددې نه چه ده ته توفيق ملاؤ شوې وو داسلام او پوهه شوې وو دې په خوبيانوددې (اسلام،نوچه الله تعالی په ده باندې يوځل دومره عظيم احسان اوکړلو.چه داسلام غوندې اوچت نعمت ئې ورته ورکړلو .اودې د اسلام دخوبيانونه هم خبرشو.اوددې نه پس دې کفر کوی.نودې دهيڅ قسم رعات مستحق نه دې) نو نه به شی قبلولې د دواړو فرقو نه (که داهل عربو بت پرست دی.اوکه مرتديان دی)

په ښځه او ماشوم باندې دجزيه عدم وجوب

(وَلَا جِزْيَةَ عَلَى امْرَأَةٍ وَلَا صَبِيٍّ)

ترجمه و تشريح اونشته جزيه په ښځه او په ماشوم باندې

دليله ځکه چه جزيه واجب شوې ده په بدل کښې د قتل (دهغه کسانوچه په جنګ کښې مغلوبه شوې وی.نودوی مستحق دقتل وو.خوچه تسليم شو.نود قتل په بدله کښې په دوی جزيه مقررکړې شوه) يا د جنګ نه، (يعنی دنصرت نه مطلب دا چه څوک په اسلامی سلطنت کښې اوسيږی.نويه ده باندې لازم

---

[1] فيه احاديث منها حديث مجالد وهو ابن عبدة المكي قال أتانا كتاب عمربن بالخطاب قبل موته بسنة ،فرقو بين كل ذى محرم من المجوس ولم يكن عمر ﷺ اخذ الجزية من المجوس حتى شهد عبدالرحمن بن عوف ﷺ ان رسول الله اخذها من مجوس هجراخرجه البخاری فی الجزية باب ١ وابوداود فی الخراج والإمارة باب ٣١ واحمد فی المسند (١٩١١١)_

ده.چه په خپل مال اوجان سره د اسلامي حکومت حفاظت کوی.که دې مسلمان وی.اوکه مسلمان نه وی.نوچونکه دده همدردی د کافرانو سره وی.دده نه دا توقع نشی کیدې.چه دې به داسلامي حکومت دحفاظت دپاره د جان یا د مال قربانی ورکړی.نوددې مالی او جانی قربانۍ په بدله کښې شریعت په ده باندې جزیه مقررکړې ده.چه دې چونکه په اسلامي حکومت کښې اوسیږی.نولکه چه څنګه په نورو مسلمانانو باندې په وخت د ضرورت د اسلامي حکومت سره مدد کول ضروری دی.دغه شان په ده باندې هم ضروری دی.نوددغه نصرت په بدله کښې په ده جزیه مقرر شوه) اودا دواړه (که ښځه ده اوکه ماشوم) نشی قتلولې (په جنګ کښې.بلکه دوی ته به تعرض نشی کولې.اوورانديې تیرشو.چه جزیه د قتل بدله ده.چه کافرجزیه ته غاړه کیږدی.نودې د قتل نه بچ شو.اود ماشوم او ښځې قتلول جائز نه دی.نوځکه پرې جزیه هم نشته) او نه دوی جنګ کولې شی.د وجې د عدم اهلیت نه (یعنی په ماشوم اوښځه کښې د جنګ کولو اهلیت او صلاحیت نه وی.نوځکه په دوی باندې په جان او مال سره د اسلامي حکومت مدد او نصرت کول لازم نه دی.ځکه چه دوی کمزوری دی.اوورانديې تیرشو.چه جزیه د نصرت بدل دې.چه مسلمانان په خپل جان او مال سره داسلامي حکومت حفاظت کوی.نوذمی به ددغه نصرت په بدله کښې جزیه ورکوی .خوچونکه په ماشوم او ښځه باندې نصرت واجب نه دې.نوجزیه پرې هم نشته.ځکه چه جزیه بدل د نصرت نه دې.اوچه مبدل منه نه وی لازم بدل به څنګه لازم شی!)

په شل ړونداوبوډا باندې دجزیه عدم جواز

(وَلَازَمِنٍ

د لغت حل: ① **زمن:** شل

ترجمه و تشریح>) اونشته (جزیه) په شل، باندې

دلیله> دلیل هم هغه دې کوم چې مونږ په ښځې او ماشوم باندې د عدم وجوب په مسئله کښې بیان کړل چې ځکه چه جزیه واجب شوې ده په بدل کښې د قتل الخ

(وَلَاعَلٰی فَقِیرٍغَیْرِمُعْتَمِلٍ

ترجمه و تشریح> اونشته (جزیه) په معتمل (هغه فقیرچه دهغه ګټه دهغه د خرچ نه زیاته نه وی) باندې([1])

دلائله> ① حضرت عثمان رضي الله عنه نه وه مقررکړې دا (جزیه) په فقیر غیرمعتمل باندې اوودا (عمل دحضرت عثمان رضي الله عنه) په موجودګۍ د صحابو رضي الله عنهم کښې، (نویه هغوی کښې چا په حضرت عثمان رضي الله عنه باندې انکارنه دې کړې.نوداجماع سکوتی شوه.چه په فقیرغیرمعتمل باندې جزیه نشته.

② اوبله دا چه خراج د زمکې نشی مقرر کولې په هغه زمکه چه نه وی صلاحیت په هغې کښې (د پیداوار) نو دغه شان دا خراج (جزیه ده.اوخراج د راس دې.به نشی مقررکولې په هغه کس باندې چه په هغې کښې د ګټلو صلاحیت نه وی)

په راهبانود جزیه مقررکولوحکم

(وَلَاتُوضَعُ عَلَی الرُّهْبَانِ الَّذِینَ لَایُخَالِطُونَ النَّاسَ)

[1] **مسلک الشافعي:**- امام شافعي رحمه الله فرمائی.چه په متمل فقیرباندې جزیه واجب ده)

ترجمه و تشریح> اونه به شی مقررکولې (جزیه) په راهبانو باندې هغه کسان چه ګډون نه کوی د خلقو سره (بلکه دخلقو نه خانله په خپله عبادت خانه کښې وی)

دلیله> اووجه د پورته کولو(دجزیه) ددوی (راهبانو) نه (دا ده.) چه نشته قتل په دوی باندې ځکه چه دوی ګډون نه کوی دخلقو سره (په جنګ کښې) اوجزیه په حق ددوی (اهل کتابو) کښې په بدله د ساقط کولو د قتل کښې ده. (چه دوی جزیه ورکړی.نودوی به د قتل نه بچ شی. او هرکله چه د راهبانو قتل نشته.نوجزیه به پرې هم نه وی.ځکه چه مبدل منه نه وی.نوبدل به هم نه وی)

دچانه جزیه ساقطیږی؟

(وَمَنْ أَسْلَمَ وَعَلَيْهِ جِزْيَةٌ سَقَطَتْ عَنْهُ)

ترجمه و تشریح> اوچا چه اسلام قبول کړلو.اوپه ده باندې جزیه وی.نوساقطیږی (جزیه) دده نه (د اسلام نه پس به دې جزیه نه ورکوی)

دلائله> ① دلیل د نبی ﷺ قول دې.لَيْسَ عَلَى مُسْلِمٍ جِزْيَةٌ} ([1]) چه نشته په مسلمان باندې جزیه (په دې کښې دا تفصیل نشته.چه پیدائشی مسلمان وی.اوکه د روسته ئې ایمان راوړې وی)

② اوبله دا چه دا (جزیه) واجب شوې ده (په کافرباندې) په حیثیت د سزا په کفرباندې (چه ده یوحق دین چه دین اسلام دې.دهغې د قبلولو نه انکارکړې دې.نوده ته دې په دنیا کښې هم ددې عمل سزا د جزیه په شکل کښې ملاؤ شی) اوددې وجې (چه دا جزیه جزا د کفرده) نامداره کړې شوې ده په جزیه سره او دا (جزیه) او جزاء (دواړه) یوه معنی لری. (ځکه چه جزیه هم د کفرجزاء ده.نوهرکله چه جزیه سزا د کفرده.اودې کس د کفرنه توبه اوویستله.اوپه اسلام کښې داخل شو.نویا قانون دا دې.چه) جزاء د کفرساقطیږی په اسلام سره (مثلاً چه حربی کافر وی. نودې واجب القتل دې.خوچه ده اسلام قبول کړلو.نودده سزا چه قتل وو.هغه په اسلام راوړلو سره ساقط شو)

③ اوځکه چه مقررکول د سزا په دنیا کښې نه وی مګردپاره د لرې کولو د شراویقیناً هغه (شر) دفع شو په اسلام باندې (یعنی جزیه چه مقرر کولې شی.نودا یو قسم سزا ده.چه کافرته دهغه په کفرباندې په دنیا کښې ورکولې شی.هم دا وجه ده.چه ذمی کافرکله جزیه ورکوی.نوپه رسوائې اوذلت باندې ئې ورکوی.اودا جزیه چه په ده باندې په دنیا کښې مقررکولې شی.نوددې دپاره چه دده د شرنه مسلمانان محفوظ وی.هغه داسې چه په ده باندې جزیه مقرر وی.نودې به د جزیې د رقم پیدا کولو دپاره مزدوری کوی.نوچه مزدوری کوی.دده جان به هم په خپل کارکښې مشغول وی.اوچه بیا په مزدورئ باندې کومې پیسې اوګټې.نوهغه به د جزیه په شکل کښې اسلامی حکومت ته ورکړی.نومال ئې هم خرچ شو.نوپه دې طریقه به دې د مسلمانانو خلاف خپل جان او مال نشی استعمالولې.اوکه چیرته په ده باندې جزیه نه وه مقرر،نودې به د مسلمانانو خلاف سازشونو جوړولو او دوی ته نقصان رسولوته اوزګاروی) اویقیناً لرې شو شر (ددې کافر) په اسلام سره (چه مسلمان شو.نودده د شر ویره ختمه شوه.نودکومې ویرې د وجې چه په کافرانوباندې جزیه مقررشوې وه.هغه ویره ختمه شوه.نو جزیه هم ختمه شوه.ګویا چه د کافرانو د شر نه ویره د جزیه مقررکولو سبب وو.اودا قاعده ده.چه په انتفاء د سبب سره انتفاء د مسبب راځی)

---

[1]) من حدیث ابن عباس رضی الله عنهما اخرجه ابوداود فی الخراج باب ۳۳ رقم ۳۰۵۳ والترمذی فی الزکاة باب ۱۱ واحمد فی المسند (۱/۲۲۳)۔

ددوو شالوپه جزيه ګښې تداخل

(وَإِنْ اجْتَمَعَ عَلَيْهِ الْحَوْلَانِ تَدَاخَلَتْ الْجِزْيَتَانِ.

ترجمه و تشريح اوكه جمع شي په ده (ذمي) باندې (جزيه) ددو كلونو،نوتداخل به راځي په دې كښې (يعنې چه د يوكال جزيه وركړي.نودا به د بل كال د جزيه نه هم كافي كيږي)

وَلَا يَجُوزُ إِحْدَاثُ بِيعَةٍ وَلَا كَنِيسَةٍ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ)

د لغت حل: ① **احداث**:جوړول ② **بيعة**:د يهوديانو عبادت خانه ③ **كنيسة**:د نصاراو عبادتخانه

ترجمه و تشريح اوجائز نه دی از سرو نو جوړول د عبادت خانې د يهودو او د عبادت خانې د عيسايانو په دارالاسلام كښې،

دليله لَا خِصَاءَ فِي الْإِسْلَامِ وَلَا كَنِيسَةَ } (١) دوجې د قول د نبي ﷺ نه چه نشته خصی كول په اسلام كښې(چه يو سړې خپل ځان خصي كړي.اودې په جماع باندې قادر پاتې نشي) اونه كنيسه (يعنی عبادت خانه د يهوديانو) اومراد د دې نه د اول نه جوړولددې دی. (يعنی په دارالاسلام كښې د يهودو دعبادت خانې داول نه جوړول جائز نه دی .

حكم معابد الكفار من قبل اوكه بالفرض د وړاندې نه موجود وي.نودهغې په باره كښې دا حديث نه دې.ځكه چه د نورو رواياتو نه معلوميږي.چه كله اسلامي لښكر په دارالحرب باندې غلبه اوكړي.نودهغوی عبادت خانوته به څه نه وائي. البته كوم حديث چه علامه مرغيناني نقل كړې دې.امام بيهقي اوابوعبيد رحمهماالله دا نقل كړې دې.خودا حديث ضعيف دې.تفصيل په نصب الرايه او بنايه شرح هدايه كښې كتلې شي)

اقسام بلاد المسلمين د مسلمانانوښارونه په درې قسمه دی. ① يوهغه چه هغه مسلمانانو آباد كړې وي.لكه بصره، شود. نو په داسې ښارونوكښې دعالمانو ﷺ په اجماع سره د غيرمذهبودعبادت خانو جوړولواجازت نشته.اودوی ته به په دې كښې د خپل مذهبي رسوماتو اجازت نشي وركولې

② دويم هغه ښارونه دی.چه مسلمانانوپه زور باندې فتح كړې وي.نوپه اجماع دعالمانوپه داسې ښارونوكښې دغيرمذهبودعبادتخانوجوړول جائز نه دی. اوكه د وړاندې نه په كښې موجود وي.نود هغې نړول واجب دی اوكه نه، په دې باره كښې د عالمانو ﷺ اختلاف دې.دامام شافعي اومالك رحمهماالله اودغه شان د امام احمد ﷫ په يوقول كښې به دا وجوباً نړولې شي. او د احنافو ﷺ په نيزبه غيرمذهبو ته حكم كولې شي.چه دا په كورونوكښې بدلې كړي.اودوی ته به په هغې كښې د عبادت اجازت نشي وركولې.خونړولې به هم نشي.خودا حكم په دې شرط دی.چه د فتح نه پس نې هغوی سره صلح كړې وي.اودوی ذميان جوړ كړې شوی وي.ځكه صحابه كرامو ﷺ ډير ښارونه هم دغه فتح كړې وو.اودهغوی عبادت خانې نې نه وې نړولې

③ هغه ښارونه چه په صلح باندې فتح شوی وي.نوكه په دې نې ورسره صلح كړې وي.چه زمكه به د دغه ذميانووي.اوخراج به اسلامي حكومت ته وركوي.نوهغوی لره دعبادت خانوجوړول جائز دی.اوكه په دې نې ورسره صلح كړې وي.چه حكومت به د مسلمانانو وي.اودوی به جزيه وركوي.نوپه دې صورت كښې چه دوی د عبادتخانوپه باره كښې څنګه فيصله كړې وي.هغه شان به وي.كه د

١) من حديث ابن عباس ﷺ أخرجه البيهقي في سننه الكبرى (١٠/٤١١)_

مسلمانانونه ئې د عبادتخانود جوړولو اجازت اخستې وي.نوبیا ئې نشي منع کولې.اوکه اجازت ئې ترې نه وي اخستې.نوبیا به ئې منع کوي.اوغوره دا ده.چه دوی سره په دې صلح اوکړی.چه نورې عبادت خانې به نه جوړوی.لکه څنګه چه حضرت عمر ﷺ کړې وو.

د لړیدلي ګرجه اوعبادت خانې حکم

(وَإِذَا انْهَدَمَتِ الْبِيَعُ وَالْكَنَائِسُ الْقَدِيمَةُ أَعَادُوهَا)

حل اللغة ① **الصومعة**: د راهب عبادت خانه ② **دائمة**:همیشه دپاره

ترجمه و تشریح اوکه اونړیدله عبادتخانه د یهودیانواوزړې ګرجې د عیسایانو،نودوباره به ئې جوړې کړي.

دلیله څکه چه عمارتونه نه پاتې کیږي همیشه دپاره،اوهرکله چه برقرار پاتې کړلو امام (دمسلمانانو ذمیانو لره په دارالاسلام کښې) نویقیناً ده وعده اوکړه دوی (ذمیانو) سره د دوباره جوړولو (که چرته اونړیږي عبادت خانې دهغوی)

(وَيُؤْخَذُ أَهْلُ الذِّمَّةِ بِالتَّمَيُّزِ عَنِ الْمُسْلِمِينَ فِي زِيِّهِمْ وَمَرَاكِبِهِمْ وَسُرُوجِهِمْ وَقَلَانِسِهِمْ وَلَا يَرْكَبُونَ الْخَيْلَ وَلَا يَعْمَلُونَ السِّلَاحَ)

حل اللغة ① **زي**: لباس ② **مراکب**:جمع د مرکب ،سورلی ③ **سروج**:جمع د سراج، د اس زین ④ **قلانس**:جمع د قلنسوة، ټوپۍ ⑤ **الخیل**:اسونه ⑥ **السلاح**:وسلې

ترجمه و تشریح سختی به کولې شي د ذمیانو سره په تمیزکولوسره د مسلمانانو نه(یعنی چه ذمیان د مسلمانانو نه جدا معلومیږي) په لباس دهغوی (ذمیانو)کښې اوپه سورلواوپه زینونواوپه ټوپوکښې، (یعنی دا څیزونه به ددوی د مسلمانانو پشان نه وي.بلکه دمسلمانانوبه یو شان جامې،سورلی زینونو اوټوپۍ وغیره وي.اوذمیانوبل شان) نو نه به سوریږي (ذمیان) په اسونو باندې ، (څکه چه اس دعزت سورلی ده.اوذمی قابل داهانت دې)اونه به اوچوی وسله (څکه چه په وسله کښې سرې رعب داربنکاري.اوبکارده چه ذمی خوار او ذلیله ښکاري)

دلائله ① سلوك به کولې شي دوی سره دغه (په امتیاز سره د مسلمانانونه) دپاره دښکاره کولو د ذلت ددوی (څکه چه الله تعالی د جزیه ورکولوحکمت دا بیان کړې دې.چه دوی په ذلت او رسوائې سره جزیه ورکوی)

② اودپاره د حفاظت د کمزورو (اوغریبانانو) مسلمانانو(په اعتبارد دین سره یعنی که ذمیانوته د ښه خوراك اوپوشاك او استوګنه اجازت ورکړې شي.نوهسې نه چه کوم کمزوری او غریبانان مسلمانان دی. د هغوی په زړه کښې دا راشي.چه دا دالله تعالی دشمنان دی.اودوی په ښه حالت کښې ژوند تیروی.اومونږپه حق دین باندې یو.اوبیا هم د سختو او مشقتونو ژوندتیروو)

③ اوڅکه چه د مسلمان عزت کولې شي(ده د داسلام په وجه) اود ذمی سپکوالې کولې شي(ده د کفرد وجې.نوڅکه به ورسره داسې امتیازی سلوك کوی)

په کومو څیزونو د ذمیت معاهده نه ماتیږي؟

(وَمَنِ امْتَنَعَ مِنَ الْجِزْيَةِ أَوْ قَتَلَ مُسْلِمًا أَوْ سَبَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَوْ زَنَى بِمُسْلِمَةٍ لَمْ يُنْتَقَضْ عَهْدُهُ)

ترجمه و تشریح اوڅوك چه منع شي د جزیه ورکولو نه(یعنی د جزیه ورکولو نه ئې انکاراوکړلو) اویا ئې قتل کړلو مسلمان اویا ئې کنځل اوکړلو نبی ﷺ ته او یا ئې زنا اوکړله دمسلمانې ښځې سره،نو نه ماتیږي معاهده ده (کومه چه ده د جزیه ورکولو په وخت کښې کړې وه)

دليله> دليل دا دي.چه كنځل كول نبي ﷺ ته كفر دې دده (ذمي) د طرفه او كفرچه يوځاني وي په وخت د عهد ذميت كښې) نه منع كوي دا (معاهده د ذميت،يعنې په كوم وخت كښې چه ذمي كافرجزيه قبلوي.اومعاهده د ذميت كوي.نوپه هغه وخت كښې هغه كافروي.اوددې باوجود دده كفر د عهدذميت سره منافي نه وي.بلكه كفرهم وي.اوذميت هم وي) نوروسته راتلونكي (كفرچه د نبي ﷺ په كنځلوسره راغلي وي) به نه ماتوي دغه (امان د ذميت،يعنې هركله چه د ذميت د معاهدې ليكلو په وخت كښې دې كافر وي.اودده عهد ذميت صحيح وي.نودغه شان كه روسته دده د خولې نه كفريه اوشركيه الفاظ واوري.هم به عقد ذميت نه باطليږي)

دارالحرب ته په تلو سره عهد ذميت باطليدل

وَلَا يُنْقَضُ الْعَهْدُ إِلَّا بِأَنْ يَلْحَقَ بِدَارِ الْحَرْبِ أَوْ يَغْلِبُوا عَلٰى مَوْضِعٍ فَيُحَارِبُوْنَنَا

ترجمه و تشريح> اونه ماتيږي معاهده (دذميت په دارالاسلام كښې) مګردا چه لاړ شي دارالحرب ته(نوبيا ئې عهد ذميت باطليږي) اوغالب شي (كافران) په يوځائې باندې اوجنګيږي زمونږ سره، (نوپه دې صورت كښې هم معاهده ماتيږي)

دليله> ځكه چه اوګرځيدل دوي جنګ كونكي زمونږ سره.نوخالي به شي عقد ذميت د فائدې نه اوهغه فائده لرې كول شردجنګ دي.

وَإِذَا ارْتَدَّ الْمُسْلِمُ عَنِ الْإِسْلَامِ عُرِضَ عَلَيْهِ الْإِسْلَامُ فَإِنْ كَانَتْ لَهٗ شُبْهَةٌ كُشِفَ لَهٗ

د لغت حل: ① **اعترت**:پيښه شوې ② **تزاح**:لرې كولې شي

ترجمه و تشريح> فرمائي(ابو الحسن قدوري رحمه الله) اوكله چه واپس شي (والعياذبالله) مسلمان داسلام نه نو پيش به كړې شي په ده باندې اسلام (اودا به ورته اووئيلې شي.چه دوباره اسلام قبول كړه) كه چيرته وي دده څه شبه (د دين اسلام په حقانيت كښې چه د هغې د وجې دې مرتد شوې وي) نولرې به كړې شي (هغه شبه) دده نه

دليله> ځكه چه كيدې شي راغلې وي ده ته څه شبه (په حقانيت داسلام كښې) نو لرې به كړې شي. اوپه دې (پيش كولو داسلام) كښې دفع كول د شر دده (مرتد) دي په يوه ښه طريقه د دوو طريقو نه (يعنې هركله چه دې مرتد شو.نومسلمانانواو اسلام ته دده نه خطره پيدا شوه.نودده د شر لرې كولو دپاره اسلام دده د قتل حكم كړې دې.چه دقتل په ذريعه مسلمانان اواسلام دده د شرنه محفوظ شي.نودده د شرلرې كولودپاره يوه طريقه دده قتلول دي.اوبله طريقه ئې دا ده.چه ده ته داسلام دعوت وركړې شي.كيدې شي.چه دې مسلمان شي.اوښكاره خبره ده.چه يوكس په كفرباندې قتل كړې شي.دهغې نه دا غوره ده.چه دې بيرته مسلمان شي.اوپه اسلام مرشي)

حكم عرض الاسلام> البته دا ده.چه پيش كول (داسلام مرتد ته) لكه څنګه چه عالمانو رحمهم الله فرمائيلي دي.واجب نه دې.ځكه چه دعوت (داسلام) رسيدلې دې ده ته وړاندې (ځكه چه دې څه داسلام نه ناخبره خونه دې.بلكه داسلامي تعليماتو لاندې ئې ژوند تيركړې دې.خوبيا هم اسلام پيش كول ښه خبره اوغوره طريقه ده)

د مرتد د قيد كولو حكم

وَيُحْبَسُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنْ أَسْلَمَ وَإِلَّا قُتِلَ

ترجمه و تشريح>) او قيد كولې به شي (مرتد) درې ورځې كه اسلام ئې راوړلو(نو ډيره ښه خبره ده) اوكه نه (داسلام راوړلونه ئې انكاراوكړلو) قتلولې به شي

دليله دريم ورځي (اودريم ورځي به په جيل كښې قيد كولې شي) ځكه چه دا (دريم ورځې) موده ده چه مقرر شوې ده دپاره دلرې كولودعذرونو (يعنې چه يوكس يوكاركوي.اوهغه په كښې اختيار غواړي.نودريم ورځي مهلت ورته وركولې شي)

رواية عن ابي يوسف د امام ابويوسف رحمه الله نه نقل دى.چه شان دا دي.مستحب دى چه مهلت وركړې شى ده (مرتد) ته دريم ورځي كه ده (مرتد) درخواست كړي وى د دې (مهلت) اوكه نه، (درخواست او مطالبه ئي نه وى كړې.يعنى د دريم ورځو مهلت وركولو استحبابى حكم دې وجوب حكم نه دې) (۱)

دلائل عدم الامهال ① دليل قول دالله تعالى دې.چه قتل كړئ مشركان (الله تعالى په دې آيت كښې دمشركانو دقتل حكم مطلقاً كړې دې) بغيرد قيد د مهلت وركولونه(نوهركله چه الله تعالى د مهلت ذكرنه دې كړې.دخپل طرفه د دريم ورځو وركول په كتاب الله باندې زيادت دې.كوم چه ټيک نه دې)

② اودغه شان قول د نبي ﷺ دي مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ (۲) چا چه بدل كړلو دين خپل نوتاسوئي قتل كړئ (گورئ په دې حديث كښې هم نبي ﷺ مطلقاً دمرتد سزا قتل خودلې ده.د مهلت وركولوذكرئي په كښې نه دې كړې.اودريم دليل دا بيانوى) اوځكه چه دې (مرتد) كافرحربي دې. (حربي كافرځكه دې.چه نه خودې ذمي دې.چه جزيه وركوى. اونه مستامن دې.نوده سره به دحربي كافرمعامله كولې شي) او رسيدلې دې ده (مرتد) ته دعوت (د داسلام) نو قتلولې به شي في الحال بغيردمهلت وركولونه.

داسلام پيش كولونه وړاندې دمرتدقتلول

(فَإِنْ قَتَلَهُ قَاتِلٌ قَبْلَ عَرْضِ الْإِسْلَامِ عَلَيْهِ كُرِهَ لَهُ ذٰلِكَ، وَلَا شَيْءَ عَلَى الْقَاتِلِ)

ترجمه و تشريح فرمائي(ابو الحسن قدوري رحمه الله) كه قتل كړلو ده (مرتد) لره يوقتل كونكي وړاندې د پيش كولو داسلام نه (چه ده ته ئي اسلام نه وى پيش كړې.چه بيرته اسلام ته راواوړه.اوقتل ئي كړى) نومكروه دې (دا قتل) اونشته څه څيز(ديت يا قصاص) په قاتل باندې،

المراد من الكراهة اومطلب دكراهت په دې مقام كښې پريخودل د استحباب دى. (دهغه چا په نيزچه داسلام پيش كول ورته مستحب گڼي) اونفي دضمان ده. (يعنى په دې قاتل باندې د مقتول ضمان نشته.چه د هغه وارثانوته ديت وركړى.

دليله اوپه ده باندې دڅه څيزد عدم وجوب دليل دا دې چه كفرمباح كونكې دقتل دې. (يعنى دحربي كافرقتل مباح دې) اوپيش كول داسلام (ده ته) پس د رسيدود دعوت نه واجب نه دې. (البته څوک چه داسلام پيش كول واجب گڼرى. د هغوى په نيزد عرض اسلام نه وړاندې دمرتد قتل حرام دې)

مرتده ښځه به نشي قتلولې

(وَأَمَّا الْمَرْأَةُ إِذَا ارْتَدَّتْ فَلَا تُقْتَلُ)

دلائله ① دليل دا دې.چه نبي ﷺ منع كړې ده د قتلولو د زنانو نه (۳)لكه وړاندې چه حديث

---

(۱) **مسلك الشافعي:-** دامام شافعي رحمه الله نه نقل دى.چه په امام باندې لازم دى.چه مهلت وركړى ده (مرتد) ته دريم ورځي اوجائز نه دى ده (امام) دپاره چه قتل كړى دې (مرتد) وړاندې ددې (دريم ورځو) نه.

(۲) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه البخاري في كتاب الجهاد باب ۱۴۹ واستتابة المرتدين باب ۲.

(۳) تقدم تخريجه في وسط كتاب الجهاد.

تیرشو.چه نبی ﷺ په جنګ کښې یوه ښځه قتل شوې بیا موندله.نووې فرمائیل.دا ولې قتل شوې ده.دې خو جنګ نشو کولې.نوهرکله چه کافره ښځه نشی قتلولې.دغه شان به مرتده ښځه هم نشی قتلولې)

② اوبله دا چه (په عقوباتو کښې) اصل روستو کول د سزا دې آخرت ته،ځکه چه تندی کول په دې (سزا) باندې خلل راولی په معنی د امتحان کښې، (یعنی دالله تعالی قانون په دې باندې جاری دې.چه څوك ګناه اوکړی.نوسمدستی په دنیا کښې ده ته د هغې سزا نه ورکوی.بلکه مهلت ورکوی.اودهغې سزا بیا په آخرت کښې ورکوی.اونکته په کښې دا ده.چه چیرته د ګناه په کولوپه دنیا کښې سزا ملاویدله.نو خلقو به دالله تعالی د ویرې ګناه نه پریخودله.بلکه د دنیاوی سزا د وجې به ئې پریخودله.اواوس چه په دنیا کښې په ګناه باندې سزا نه وی.اوددې باوجود څوك دګناه نه ځان ساتی.نودې په صحیح معنی کښې دالله تعالی نه ویریدونکې دې.اودې په امتحان کښې کامیاب دې)

وَلٰكِنْ تُحْبَسُ حَتّٰى تُسْلِمَ

ترجمه و تشریح﴿ فرمائی لیکن قید کولې به شی (مرتده زنانه) تردې چه اسلام قبول کړی. (اوقتولې به نشی) **دلیله**﴿ ځکه چه دا (مرتده) منع شوه د پوره کولو د حق دالله تعالی پس د اقرارنه (یعنی دې چه یوځل کلمه اوونیله. نودې دالله تعالی سره وعده اوکړله.چه زه به ستا حقوق ادا کوم،هرکله چه دې یوځل وعده کړې ده) نو مجبوره کولې به شی په پوره کولو دهغې (یعنی حق دالله) لکه څنګه چه په حقوق العباد کښې (بندولې) شی (یعنی که دچا په زیدباندې قرض وی.نودانن ته دا اختیار شته.چه مدیون په خپل قرض کښې بندی کړی)

د مرتد د مملوك څیزونو نه د ملك زوال

وَيَزُولُ مِلْكُ الْمُرْتَدِّ عَنْ أَمْوَالِهِ بِرِدَّتِهِ زَوَالًا مُرَاعًى، فَإِنْ أَسْلَمَ عَادَتْ إِلٰى حَالِهَا

ترجمه و تشریح﴿ فرمائی (ابو الحسن قدوری رحمه الله) او زائله کیږی ملك د مرتد د خپلو مملوك څیزونو نه په مرتد کیدو سره په زوال عارضی سره چه (اود زوال عارضی تفصیل دا دې) که اسلام ئې (بیرته) قبول کړلو .نو ګرځی مالونه خپل (پخوانی) حالت ته (یعنی بیرته دده مملوك ګرځی) فرمائیلی دی مشائخو رحمهم الله دا (حکم) په دې مسئله کښې دامام ابوحنیفه رحمه الله دې.(¹)

دلیله﴿ دلیل دا دې.چه دې (مرتد) حربی دې (ځکه چه نه مستامن دې اونه ذمی دې) اومغلوب دې (ځکه چه) په لاسونوزمونږ کښې (اوچه دې مرتد شو.نودده د نفس عصمت ختم شو) تردې چه قتل کولې شی. اونشته جوازد قتل (دکافر) مګر په فساد سره، (چه دې دمسلمانانو سره جنګ کوی.اودده نه مسلمانانوته خطره وی.اوکه د ده نه د فساد ویره نه وی.نوبیا د کافرقتل مباح نه دې.هم دا وجه ده.چه روند اوګوډ او شیخ فانی په جنګ کښې نشی قتلولې.ځکه چه د دوی نه مسلمانانو ته د شر رسولو ویره نه وی) اودا خبره (چه دې حربی دې او زمونږ په لاس نو کښې مغلوب دې) واجبوی زوال د ملك دده (مرتد) او مالکیت دده (مرتد) البته دومره ده چه دې (مرتد) بللې شوې دې اسلام ته په زور کولوسره په ده (یعنی مرتد به بیرته اسلام قبلولو ته مجبوره کولې شی) او امید کیدې شی د واپس کیدو دده (مرتد) دې (اسلام) ته (ځکه چه ده د اسلامی معاشرې لاندې ژوند تیر کړې دې.ده ته به څه نه

¹) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في مجمع الأنهر(١\٦٩٠) وفتح القدير(٥\٣١٣) ورد المحتار(٣\٣٢٨) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٩٨)-

څه داسلامي تعلیماتو ثمرات او فوائد معلوم شوي وي نو چه هغې ته اوګوري.کیدې شي چه اسلام قبول کړي) نو مونږ توقف اوکړلو په کار دده کښې (اود توقف تفصیل دا دې)که ده ایمان راوړلو.نواوبه ګرځولی شي عارض لکه چه دا هډو وو نه،په حق ددې حکم کښې او ں نه وي کړې سبب (یعنی مملوك څیزونو نه دده د ملکیت په نه ختمیدو کښې.اوهرچه نور احکام دي.نوهغه به موجود ګنړلی شي.لکه په ارتداد باندې دده ښځه مبتوته شوه.اوکلمه د شهادت به دوباره وائي.څکه چه دده ارتداد ددې حکمونو په باب کښې معدوم نشي ګرځولې.بلکه په دې به احکام مرتب کولې شي) او اوګرځیدو دې لکه چه همیشه دپاره مسلمان وو.اوعمل نه وي کړې شوې په سبب (یعنی سبب د زوال ملك چه ارتداد دې.کله چه مرتد دوباره مسلمان شو.نو ارتداد چه د ملك د زوال سبب دې.داسې به وي لکه چه دغه سبب یعنی ارتداد هډو موجود شوې نه دې)

مسلك الصاحبين > په نیزد صاحبینو رحمهما الله نه زائله کیږی ملك دده

دلیلهما > څکه چه دې (مرتد) مکلف دې (اوممکن نه دی د مکلف دپاره ادا کول د موجب تکلیف مګربه ملك سره،یعنی مکلف هله یوحکم پوره کولې شي.چه دهغه حکم پوره کولواسباب ده سره وی) اومحتاج دې نوترد قتلیدو پورې به باقی وی ملك دده (اوچه کله قتل کړې شي.نوملکیت به ئې ختم شي) پشان د هغه کس چه حکم شوې وی په هغه د رجم اود قصاص (نود رجم اوقصاص کیدو نه وړاندې دده په خپل مملوك څیزونوباندې ملکیت باقي وي.نودغه شان په زیربحث مسئله کښې به هم د مرتد د قتل کیدو نه وړاندې دده په خپلو مملوکو څیزونوباندې ملکیت باقی وی)

دمرتد دمیرات حکم

وَإِنْ مَاتَ أَوْقُتِلَ عَلَى رِدَّتِهِ انْتَقَلَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الإِسْلَامِ إِلَى وَرَثَتِهِ الْمُسْلِمِينَ،وَكَانَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ فَيْئًا)

ترجمه و تشریح > اوکه مړ شو (مرتد) یا قتل کړې شوبه ارتداد خپل (یعنی د ارتداد په سزا کښې قتل کړې شو) نو منتقل کیږی به هغه څه چه حاصل کړی وی ده (مرتد) په حالت د اسلام خپل کښې وارثانو دده ته چه مسلمانان دی.اوکیږی به هغه څه چه حاصل کړی وی ده(مرتد) په حالت د ارتداد خپل کښې (یعنی دارتداد نه پس) مال فئ (نودمال فئ چه کوم مصارف دی.په هغې کښې به د مرتد دحالت کفرحاصل شوې څیزونه هم صرف کولی شي) اودا(حکم) په نیزد امام ابوحنیفه رحمه الله دې. (چه د حالت اسلام ګټه به مسلمانانوته ملاویږی.اودحالت کفرګټه به مال فئ وی) (۱)

دلیله > دامام ابوحنیفه رحمه الله دپاره دلیل دا دې.چه ممکن دې اضافت (د میراث اوړلو) ګټې د اسلام ته، (یعنی کوم کسب چه په حالت داسلام کښې شوی وی.نوکه مرتد په حالت د کفرکښې هم مړ شی.هغه به ترې مسلمان وارث اوړی) دوجې دوجود ددغه (ګټې) وړاندې د مرتد کیدو نه (یعنی دلیل ئې دا دې.چه دغه کسب مسلمان څکه په میراث کښې اوړې شی.چه دا کسب داسلام د وخت ګټه ده.نوکه بالفرض دا کس په حالت داسلام کښې مړ شوې وو.نومسلمان به ترې میراث اوړلو.نودغه شان به که په حالت د کفر کښې مړ شی.خو کسب ئې دحالت اسلام وی.هم به ئې اوړی) اونه دې ممکن اضافت (دتوریث حالت د اسلام ته) د کسب د ارتداد، (یعنی کوم کسب چه په حالت د ارتداد کښې شوی

---

(۱) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (٤٧١\٤) وردالمختار(٣٢٩\٣) والهندية (٢٥٤\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٩٩\١)-

وي.نوددې اضافت حالت داسلام ته نشي كيدې.اوداسې نشي وئيلې.چه د ارتداد كسب داسې دي.لكه د حالت اسلام كسب، او مسلمان ئې ترې په ميراث كښې اوړې شي) د وجې دعدم وجود ددې (كټې وړاندې د ارتداد نه، (يعنې دا كسب دحالت اسلام نه دې.بلكه د حالت ارتداد دې.نوځكه ددې نسبت حالت اسلام ته نشي كولې.اوچه نسبت ئې نشي كولې) او شرط ددې (ميراث اوړلو) وجود ددې (كسب دې) وړاندې ددې (مرتد كيدو) نه، (يعنې مسلمان هله دكافرنه ميراث اوړې شي.چه كافركوم كسب كړې وي.هغه په حالت داسلام كښې دده په ملك كښې موجود وي)

مسلك الصاحبين فرمائي امام ابويوسف اومحمد رحمهماالله دواړه (كه د حالت اسلام گټه وي او كه دحالت ارتداد) د وارثانو دده (مرتد) دپاره دي.

دليلهما دصاحبينو رحمهماالله دپاره (دليل دا دې.چه) بيشكه ملك دده(مرتد) په دواړو گټوكښې (كه د حالت اسلام گټه ده اوكه دحالت ارتداد) باقي دې (په خپلومملوكو څيزونوباندې) بناء په هغه څه مونږ بيان كړې دې (چه دې مكلف اومحتاج دې) نومنتقل كيږي به (ملكيت دده نه) په مرګ دده (مرتد) سره وارثانو د ده ته،اواضافت به كولې شي ددې (گټې) هغه زمانې ته چه وړاندې د ردت دده نه وي. (يعنې كوم مال چه د مرګ په وخت كښې دمرتد نه پاتې شي.نودا به داسې گنړلې شي.چه دا د ده د اسلام د وخت گټه ده) ځكه چه ردت سبب د مرګ دې. (يعنې كله چه دې مرتد شو.نودده دا ارتداد سبب د مرګ دې.ځكه چه د ارتداد په وجه به دې قتل كولې شي.نوګويا چه د ده ارتداد حكمي مرګ دې.اودا داسې شوه لكه چه دې په حالت اسلام كښې مړ شوې دې)نوشو ميراث وړل د مسمان د مسلمان نه.

دمرتد د دارالحرب سره په الحاق د ده دملكيت زوال

وَإِنْ لَحِقَ بِدَارِالْحَرْبِ مُرْتَدًّا وَحَكَمَ الْحَاكِمُ بِلَحَاقِهِ عَتَقَ مُدَبَّرُوْهُ وَأُمَّهَاتُ أَوْلَادِهٖ وَحَلَّتِ الدُّيُوْنُ الَّتِي عَلَيْهِ وَانْتَقَلَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ إِلٰى وَرَثَتِهٖ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ).

ترجمه و تشريح فرمائي(ابو الحسن قدوري رحمه الله) اوكه يوځائې شومرتد د دارالحرب سره، (يعنې د دارالاسلام نه دارالحرب ته اوتختيدلو) اوحكم اوكړلو قاضي په لحاق دده (چه دې اوس د دارالحرب اوسيدونكې شو. اودحربيانو سره ملګرې شو) نوآزاديږي مدبر(غلام) دده اوامهات الاولاد،اوواجب الادا شول قرضونه (موجله) هغه چه په ده باندې وي. (يعنې دڅا چه په ده باندې په نيته قرض وي.نوهغه به في الحال واجب الادا اوګرځي)اومنتقل كيږي هغه مال چه كسب كړې وي ده(مرتد) په حالت داسلام كښې وارثانو د ده (مرتد) ته،د مسلمانانو نه (يعنې دده نه چه په دارالاسلام كښې دسابقه غلامانو نه علاوه څه پاتې شي.هغه به دده وارثان اخلي) ([1])

دليله دليل دا دې.چه دې(مرتد) په يوځائې كيدو سره (دارالحرب كښې) اوګرځيدلو د حربيانوځنې. اودوي (حربيان) مړه دي په حق داحكامو داسلام كښې،دوجې د ختميدو د ولايت دا الزام ددوي نه لكه څنګه چه ختم دې دا (ولايت) د مړو نه (يعنې كوم كسان چه په دارالحرب كښې وي. نوپه دوي باندې د مسلمان حاكم څه وس اوقدرت نه رسي.ځكه چه هغه دده د ولايت دلاندې نه وي. نولكه څنګه چه مړي په اسلامي احكامو لكه مونځ وغيره شو.نشي مجبوره كولې.دغه شان كوم كسان چه په دارالحرب كښې وي.هغوي هم داسلامي احكامو په ادا كولونشي مجبوره كولې)

[1] **مسلك الشافعي**:- فرمائي امام شافعي رحمه الله باقي پاتې كيږي مال دده (مرتد) موقوف لكه څنګه چه وړاندې وو. (اوحاكم به دهغې حفاظت كوي

دلیل اشتراط حکم القاضي> البته دومره ده چه نه محکم کیږي ملحق کیدل د ده(مرتدپه دارالحرب پورې) مګرپه فیصله د قاضي (یعنی که مرتد دارالحرب ته لاړ هم شي.نوبیا هم دي داسلامي احکامو په حق کښې دمړو پشان نه دي.ترڅوچه قاضي دده د لحوق فیصله نه وی کړي.اودارالحرب ته صرف په تختیدوباندي مونږ دده د لحوق احکام څکه نه جاري کوو) دوجې داحتمال د واپس راتلو دده (مرتد) نه (چه دي بیرته دارالاسلام ته راشي) نو ضروری ده فیصله (دقاضي په لحوق دده دارالحرب سره) اوکله چه ثابت شي مرګ د ده(مرتد په فیصله د قاضي سره) نوثابت شول احکام متعلقه په ده (مرتد) پورې.اوهغه (احکام) دی.کوم چه مونږ ذکر کړی دی. (چه دده مدبراوام ولده آزادیږی.اودده دنیتي قرضونه فی الحال واجب الادا ګرځي.اودده مملوك څیزونه دده وارثانوته منتقل کیږی) لکه څنګه چه (ثابتیږی دا احکام) په مرګ حقیقي کښې.

(وَتُقْضَى الدُّيُونُ الَّتِي لَزِمَتْهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ مِمَّا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ، وَمَا لَزِمَهُ مِنَ الدُّيُونِ فِي رِدَّتِهِ يُقْضَى مِمَّا فِي حَالِ رِدَّتِهِ)

ترجمه و تشریح> اوادا کولی به شي قرضونه هغه چه لازم شوی وی په ده (مرتد) باندي په حالت د اسلام کښې دهغه مال نه چه حاصل کړی وی ده په حالت داسلام کښې،اوهغه چه لازم شوی وی په ده باندي په حالت د ردت کښې دقرضونو نه نوادا کولي به شي دهغه مال نه چه حاصل کړی وی ده په حالت د ردت کښې

بدء قضاء الدین من کسب الاسلام> اود دوی(امام ابوحنیفه رحمه الله) نه بل روایت دا دي.چه شروع به کولي شي په خلاصولو د قرضونو دده) دګټې داسلام نه (یعنی په ده باندي چه کوم قرضونه لازم شوی وی.که په حالت داسلام کښې وی اوکه په حالت د ردت کښې تول به اول دهغه مال نه ادا کولی شي.کوم چه ده په حالت داسلام کښې ګټلي دي) اوکه نه پوره کیږی په دغه (کسب د حالت اسلام) نو پوره کولي به شي(قرضونه دده) د ګټې د ردت نه (یعنی که په هغه مال دده قرضونه خلاص نشو.کوم چه ده په حالت اسلام کښې ګټلي وو.نوبیا به د هغه مال نه دده قرضونه ادا کولي شي.کوم چه ده په حالت د ردت کښې ګټلي وی)

دلیله> وجه داول روایت (چه ادا کول دهریوقرض دهغه حالت په ګټه په کوم کښې چه پرې قرض لازم شوي وی) چه مستحق(مراد دمستحق نه قرض دي.یعنی قرض لازم شوي دي) په دوو سببو مختلفو(یعنی هغه سبب چه په حالت داسلام کښې واقع شوي دي.اوبل هغه سبب چه په حالت د ردت کښې واقع شوي دي. نودا سببونه دیوبل نه د وخت په اعتبارسره مختلف دی)اوحاصلیدل دهرواحد دګټو نه (چه ګټه دحالت اسلام ده اوګټه د حالت ردت ده) په وجه دهغه سبب سره چه لازم شوي دي په هغي باندي قرض ، (مثلاًزید په حالت اسلام کښې یوڅیزقرض واخستلو.اوبیا ئې په حالت اسلام کښې هغه څیزپه ګټه باندي خرڅ کړلو.دغه شان ددي په عکس چه یوڅیزئې په حالت ردت کښې قرض واخستلو.اوبیائې په ګټه خرڅ کړلو) نو ادا کولي به شي هریوقرض دهغه ګټې نه چه حاصله شوې وی په دغه حالت کښې (نود اسلام د حالت قرض به په هغه ګټه باندي خلاصولي شي.چه داسلام په حالت کښې ئې ګټلي ده.اود ردت دحالت قرض به په هغه ګټه باندي خلاصولي شي.چه په حالت د ردت کښې ده ته حاصله شوي وی) ددي دپاره چه شي تاوان په مقابله د نفع کښې، (مراد دتاوان نه د قرض خلاصول دی.نودحالت اسلام تاوان یعنی قرض به د دغه حالت په ګټه خلاص کړې شي.اودحالت ردت تاوان یعنی قرض به ددغه حالت په ګټه خلاص کړې شي)

بدء قضاء الدين من كسب الردة> او ددوی (ابوحنيفه) نه ددې په عکس (قول هم) منقول دې. (يعنی چه اول به دده د ردت د وخت په گټه قرضونه خلاصولې شی.اوکه په هغې خلاص نشو.نوبيا به دحالت اسلام په گټه باندې خلاصولې شی)

دليله> وجه د روايت (چه د دواړو حالتو قرض به د اسلام د وخت په گټه باندې خلاصولې شی) چه گټه دحالت اسلام ملك دده (مرتد) دې.هم دا وجه ده. (چه دې ددغه گټې مالك دې) نائب جوړيږی د ده (مرتد) وارث په دې (گټه دحالت اسلام) کښې، (يعنی په حالت اسلام کښې چه ده کومه گټه کړې ده.په هغې باندې دده ملکيت صحيح دې.ځکه چه دې نه وی.نودده وارث به دهغې حقداروی) اود شرط ددې خلافت نه،فراغت دې دحق د مورث نه (يعنی کوم کس چه وفات شی.نود ده وارث دده دمال خليفه اونائب جوړيږی .خويه دې شرط چه کوم مال د مړی نه پاتې شوی وی.په هغې باندې دهغه حقوق ادا کړې شی.اودهغه په حقوقو کښې دا هم دې.که په هغه باندې قرض وی.نواول به قرض ادا کولې شی.اوچه دقرض نه زياتی شی .نوبيا به وارث ته پاتې کيږی) نومقدم کولې به شی قرض په دې (وراثت) باندې. (يعنی اول به قرض خلاصولې شی.اوکه دهغې نه زياتی شو.بيا به ئې وارث حقدار وی)

دمرتدد تصرفاتو په صحت کښې اختلاف

وَمَا بَاعَهُ أَوِاشْتَرَاهُ أَوْتَصَرَّفَ فِيهِ مِنْ أَمْوَالِهِ فِي حَالِ رِدَّتِهِ فَهُوَمَوْقُوفٌ، فَإِنْ أَسْلَمَ صَحَّتْ عُقُودُهُ، وَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ أَوْلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ بَطَلَتْ)

ترجمه و تشريح>) اوهغه چه خرڅ ئې کړی (مرتد) يا ئې واخلی اويا تصرف اوکړی په هغې کښې دمالونوخپلونه، په حالت د ردت خپل کښې،نودا (ټول تصرفات) به موقوف وی.که اسلام ئې (دوباره) قبول کړلو.نوصحيح شو عقود دده.اوکه مړ شويا قتل کړې شو اويا ملحق شويه دارالحرب پورې نوباطل شول (دغه ټول تصرفات دده) اودا حکم (د وقوف دتصرفاتود مرتد) په نيزدامام ابوحنيفه دې.

دليله> دامام ابوحنيفه دپاره دليل دا دې.چه دې (مرتد) حربی دې(ځکه چه نه مستامن دې اونه ذمی دې) مغلوب دی په لاسونوزمونږ کښې(يعنی زمونږ دتصرف لاندې دې) اوموقوف کيدل دتصرفات مبنی دی په دې (توقف دملك) باندې. (نوکه ملك ثابت وی ،تصرف به هم نافذ وی.اوکه ملك موقوف وی.نوتصرف به هم موقوف وی)

مسلك الصاحبين> اوفرمائيلی دی امام ابويوسف اوامام محمد جائز دی هغه څه چه ده (مرتد) کړی دی په دواړو حالتونوکښې (که ده دوباره اسلام قبول کړلو اوکه مړ شويا قتل کړې شو)

دليلهما> دصاحبينورحمهماالله دپاره دليل دادې.چه صحت (ددې تصرفاتو)اعتماد کوی په اهليت (د متصرف .يعنی چه متصرف کوم تصرف کوی.چه دې ددغه تصرف اهل وی.نوهله به دده تصرف صحيح کيږی) اونفاذ(د تصرف) اعتماد کوی.په ملك باندې (يعنی تصرف به هله نافذ کيږی.چه په کوم څيزکښې متصرف تصرف کړې وی.هغه دده ملکيت وی) او(په موجوده صورت کښې) نشته څه پټوالې په وجود داهليت (دمتصرف) کښې (اوددې دپاره دليل چه دې اهل د تصرف دې.دابيانوی) ځکه چه دې (مرتد) مخاطب دې (د شرعيت په احکامو ،اودده دمخاطب کيدو دليل دا دې.چه په ارتداد سره دې واجب القتل دې.نوکه دې مکلف نه وو.ولې به واجب القتل گرځيدلو) اودغه شان (ښکاره دې) ملکيت دده. (په متصرف فيها څيزونوکښې) دوجې د قيام ددې (ملك) وړاندې د مرگ دده نه (يعنی چه ترڅوپورې دې مړ شوې نه وی. نو دغه څيزونه دده په ملکيت کښې دی)

دمرتد اسلام قبلول اودوباره دارالاسلام ته په راتلودده دمال مورونه حکم

وَإِنْ عَادَ الْمُرْتَدُّ بَعْدَ الْحُكْمِ بِلَحَاقِهِ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ مُسْلِمًا فَمَا وَجَدَهُ فِي يَدِ وَرَثَتِهِ مِنْ مَالِهِ بِعَيْنِهِ أَخَذَهُ

ترجمه و تشریح> که راواپس شو مرتد پس دفیصلي (کولودقاضی) نه په ملحق کیدو دده (مرتد) دارالحرب سره، په داسي حال کښي چه وی دي مسلمان (یعنی دمرتد په دارالحرب پوري د الحاق حکم قاضي کړي وی. او په دارالاسلام کښي دده مال دده په وارثانو تقسیم شوي وی.خودي بیرته مسلمان شي.او دارالاسلام ته راشي) نوهغه چه وي مومی دي په لاس د وارث خپل کښي دمال خپل نه بعینه (یعني کوم مال چه دده وی. هغه مال وارث ته پاتي شوي وی.اوچه دي دوباره مسلمان شي.نوهم هغه مال دده د وارث سره وی) نواخلی به ئي

دلیله> ځکه وارث خلیفه جوړشوي دده(مرتد) په دغه (مال) کښي،د وجې د عدم احتیاج دده(مرتد دغه مال ته په دارالاسلام کښي،ځکه چه دارالاسلام کښي که مثلاً د ده کور وو.اودي تري د ارتداد نه پس دارالحرب تـه اوتختیـدلو.نـودي خودغـه کـورکښي نـشي اوسـیدي) اوچـه کلـه مـسلمان راواپس شو.نومحتاج شو دي (مال) ته،نو وړاندي کولي به شي (دغه مال) ده ته، (چه دي پري خپل احتیاج پوره کړی)

وَالْمُرْتَدَّةُ إِذَا تَصَرَّفَتْ فِي مَالِهَا فِي حَالِ رِدَّتِهَا جَازَ تَصَرُّفُهَا

ترجمه و تشریح> اومرتده ښځه کله چی دا تصرف کوی په خپل مال کښي په حالت د ارتداد خپل کښي نو جائز دي تصرف د دي

دلیله> هرکله چي مرتده ښځه قتلولي نشی بلکه قید کولي به شی تردئ چي دوباره اسلام قبول کړی نو ښکاره خبره ده چي دا به دخپل ژوند ضروریاتو پوره کولو دپاره تصرفات کوی.نو دا چي د ارتداد په وخت کښي کوم تصرفات کوی هغه به صحیح او نافذ وی.

(وَنَصَارَى بَنِي تَغْلِبَ يُؤْخَذُ مِنْ أَمْوَالِهِمْ ضِعْفُ مَا يُؤْخَذُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِنَ الزَّكَاةِ)

ترجمه و تشریح> (دا) فصل دي (په بیان د احکامود بنوتغلب د جزیه په کښي) اونصاری د بنوتغلب اخستلي به شی د مالونو ددوی نه دوچنده دهغه څه چه اخستي شی د مسلمانانو نه دزکاة (یعنی د مسلمانانونه چه څومره زکاة اخستي شي.دهغي په دوچنده به د بنوتغلب د عیسایانو نـه اخستي شي.پکارخودا وه.چـه ددوی نـه هـم دعاموکافرانوپشان جزیـه اخستي شـوه.دکـوم بیـان چـه وړانـدي اوشو.خوددوی نه دزکاة په دوچنده اخستي شي)

دلیله> ځکه چه عمر رضي الله عنه صلح کړي وه د دوی (بنوتغلب) سره په دي باندي (چه د دوی نه به د مسلمانانو د زکاة په دوچنده جزیه اخلي) اودا (صلح د حضرت عمر رضي الله عنه) وه په موجودګئ د صحابو رضي الله عنهم کښي (خوچا پري هم انکار اونکړلو.نودا اجماع سکوتی شوه.اواجماع حجت دي.بیا خاص کرد صحابه کرامو رضي الله عنهم اجماع) (¹)

من هم بنو تغلب؟> بنوتغلب په اصل کښي عربی النسل وو.دجاهلیت په دور کښي ئي عیائیت قبول کړي وو.حضرت عمر رضي الله عنه په خپل دورخلافت کښي د دوی نه جزیه اوغوستله.خو دوی انکاراوکړلو.او ورته ئي اووئیل.چه زمونږ نه به هم د مسلمانانو پشان زکاة اخلي.خوحضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل.چه زه د مشرک نه صدقه نه اخلم.په دي باندي بعضي تغلیبیان د روم د نصاروٰ سره ملاوٰ شو.په دي باندي

---

¹) تقدم تخریجه فی آخر باب زکاة الخیل۔

حضرت نعمان بن زرعه رضي الله عنه اوفرمائیل.اې امیرالمومنین دا عرب قوم دې.اوبهادرهم دی.دوی دجزیه په ورکولوکښې خپل هتك او بې عزتي ګڼري.اودا ورته شرم ښکاري.د دوی نه د زکاة په نوم باندې جزیه اخله.هسې نه چه دوی د رومیانو سره تل شي.اوزمونږ دشمن په دوی سره په مونږ باندې مدد حاصل کړي.دحضرت عمر رضي الله عنه دا مشوره خوښه شوه.او د دوی په سرواو ښځوباندې ئې د مسلمانانو د زکاة په دوچنده مقرره کړله.اودا ئې ورته اوفرمائیل .دا جزیه ده.باقي چه تاسو ورته څه نوم ورکوئ.هغه ورته ورکړئ.اوپه دغه وخت کښې چه کوم نور صحابه کرامو رضي الله عنهم موجود وو.هغوی ددوی په دې عمل باندې انکار اونکړلو.بلکه متفق شو ورسره،نودا اجماع شوه.

دخراج وغیره مصارف

(وَمَا جَبَاهُ الْإِمَامُ مِنَ الْخَرَاجِ وَمِنْ أَمْوَالِ بَنِي تَغْلِبَ وَمَا أَهْدَاهُ أَهْلُ الْحَرْبِ إِلَى الْإِمَامِ وَالْجِزْيَةُ يُصْرَفُ فِي مَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ فَيُسَدُّ مِنْهُ الثُّغُورُ وَتُبْنَى الْقَنَاطِرُ وَالْجُسُورُ وَيُعْطَى مِنْهُ قُضَاةُ الْمُسْلِمِينَ وَعُمَّالُهُمْ وَعُلَمَاؤُهُمْ مَا يَكْفِيهِمْ، وَيُدْفَعُ مِنْهُ أَرْزَاقُ الْمُقَاتِلَةِ وَذَرَارِيهِمْ)

حل اللغة ① **الثغور**:د لوښي سورې ② **القناطر**:په دریابونو باندې ترلې شوې پولونه ③ **الجسور**:په نهرونو باندې جوړ کړې وشې پلونه

ترجمه و تشریح فرمائي(ابو الحسن قدوري رحمه الله) اوهغه چه راجمع ئې کړی امام د خراج (دزمکې اود مالونود بنوتغلب نه او هغه چه هدیه ئې کړی اهل حرب امام (دمسلمانانو) ته او (دغه شان جزیه،نوخرچ کولې به شي په خیرخیګره د مسلمانانوکښې.لکه داسلامي مملکت سرحدونه (په لښکروسره) د لوښو د سورو بندول ، (مثلا چه کوم مات شوی وی هغه پیوند کړی) اوجوړول دورو پلونو اود دریابونودپلونو، (نوداکوم څیزونه چه وړاندې ذکرشو.دجزیه وغیره مصارف دا دی. او ورکولې به شي قاضیانود مسلمانانوته اوعاملانود دوی (مسلمانانو) ته اوعالمانوته د دې (جزیه وغیره) نه په هغه مقدارچه کافي کیږی د دوی دپاره او ورکولې به شي ددې (مالونو) نه خرچه د فوځیانواود هغوی د اولاد ،

دلیله څکه چه دا (کوم مال چه مونږ ته راکوی) مال د بیت المال دې.څکه چه دا (مال ماخوذه دې د بنوتغلب نه) رسیدلې دې مسلمانانوته بغیرد جنګ نه،اودا (بیت المال) تیارشوې دې دپاره د مصالحود مسلمانانو،اودا کسان (چه قاضي،عالمان وغیره دی) کارکونکی دی ددوی (مسلمانانو) اود خرچه د اولاد په پلارانوباندې وی.نوکه چیرته ورنکړې شي دوی (قاضیانووغیره ته) مال چه کافي وی د دوی دپاره، نو دوی به محتاج وی مزدورۍ کولو ته، (اوچه مزدوری کوی) نونه به اوزګاریږی جنګ کولوته.

دباغیانوپه بوه علاقه باندې غلبه کول

(وَإِذَا تَغَلَّبَ قَوْمٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى بَلَدٍ وَخَرَجُوا مِنْ طَاعَةِ الْإِمَامِ دَعَاهُمْ إِلَى الْعَوْدِ إِلَى الْجَمَاعَةِ وَكَشَفَ عَنْ شُبْهَتِهِمْ)؛

ترجمه و تشریح اوکله چه غالب شي یوقوم دمسلمانانونه په یوښارباندې،اواوځي دتابعدارۍ دامام نه،نو(امام به) راوبلي دوی واپس کیدو ته ډلې دمسلمانانوته(یعني دوی ته به دا دعوت ورکړې شي.چه تاسو مخالفت اوبغاوت مکوئ.اود نورومسلمانانوسره متفق شئ) اولرې به کړې شي شبهات ددوی(د کومو د وجې چه دوی دامام نه بغاوت کړې وی)

دلائله ① امام ته پکاردی.چه دباغیانوسره سمدستي جنګ نه شروع کوی.بلکه دوی ته دعوت ورکړی.چه تاسو دخپل مخالفت نه منع شي.څکه چه حضرت علي رضي الله عنه هم داسې کړی وو.دحضرت

عثمان رضي الله عنه د قصاص په باره کښې دحضرت علي رضي الله عنه اوحضرت اميرمعاويه رضي الله عنه په مينځ کښې اختلاف پيدا شو.حضرت اميرمعاويه په هغه وخت کښې دشام گورنروو.په نتيجه کښې جنګ صفين اوشو.په جنګ کښې د اميرمعاويه رضي الله عنه فوځ شکست ته نزدې شو.نوقرآن پاك ئې اوچت کړلو.چه فيصله به په دې کيږي.نوحضرت علي رضي الله عنه اوحضرت اميرمعاويه دخپل طرف نه يويوکس حکم مقرر کړلو.دحضرت علي رضي الله عنه دطرفه ابوموسي اشعري رضي الله عنه اودحضرت اميرمعاويه دطرفه عمروبن العاص رضي الله عنه مقررشول.په دې باندې دحضرت علي رضي الله عنه د فوځ نه يوه ډله جدا شوه.چه تاسو په کتاب الله فيصله اونکړه.بلکه حکمين مومقرر کړل.حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائي.ماحضرت علي رضي الله عنه ته اووئيل.چه کله ددوی غصه سړه شي.نوتاسو ما دوی ته اوليږه.چه زه دوی سره خبرې اوکړم.کيدې شي.دوی دخپل مخالفت نه راوګرځي.نوحضرت علي رضي الله عنه راته اووئيل.زه ويريږم.هسې نه چه تاسو ته څه نقصان اورسوی.ما ورته اووئيل.د فکرخبره نه ده.الله به خيرکړي.دوی فرمائي.چه زه ورغلم.کله چه دوی زه اوليدم.نو دوی ووئيل.تاسو څه دپاره تشريف راوړې دې.ما ورته اووئيل.زه دنبي صلى الله عليه وسلم دصحابه کرامو رضي الله عنهم اودحضرت علي رضي الله عنه د طرفه چه دنبي صلى الله عليه وسلم د تره خوئې اوخوم دې.راغلې يم.ستاسونه دا تپوس کول غوارم.چه آخرتاسو په حضرت علي رضي الله عنه کښې داسې کوم عيب اوليدلو.چه دهغې د وجې تاسو دهغه مخالف شوئ.تاسو ماته هغه بيان کړئ.کيدې شي.چه تاسو مطمئن کړم.نوهغوی اووئيل.هغه درې خبرې دی .يوه دا چه علي رضي الله عنه دالله تعالى په دين کښې ابوموسي اشعري رضي الله عنه حکم مقرر کړل.حالانکه الله تعالى فرمائيلي دی.﴿اِنِ الْحُکْمُ اِلَّا لِلّٰهِ﴾ دويمه خبره دا ده.چه حضرت علي رضي الله عنه داميرمعاويه رضي الله عنه سره جنګ اوکړلو.اوپه هغوی باندې ئې غلبه هم حاصله کړه.خو نه ئې د هغوی مالونه حاصل کړل.اونه ئې دهغوی ښځې وينځې جورې کړې.اونه ئې ماشومان غلامان کړل.اوس خبره دا ده.که دوی کافران وو.نودکافرانومالونه مال غنيمت وی.اوښځې اوبچې ئې هم وينځې اوغلامان جوړولی شي.اوکه دوی کافران نه وی.مسلمانان وی.نودمسلمان سره جنګ کول حرام دی.بيا ئې ورسره جنګ ولې کولو.دريمه خبره دا ده.چه علي رضي الله عنه په حکم نامه کښې دخپل نوم نه د اميرلفظ کټ کړلو.اوس که دې اميرنه وی.معاويه رضي الله عنه به امير وی.حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائي.چه ماورته اووئيل.که زه کتاب الله اوسنت رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تاسو ته ددې اعتراضاتو جوابونه درکړم .نوآيا تاسويه دخپلې خبرې نه منع شئ.اومخالفت به پريږدئ.نوهغوی اووئيل.په الله قسم مونږ به مخالفت پريږدو.ماورته اووئيل.الله تعالى فرمائيلي دی.﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ وَمَنْ قَتَلَهٗ مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ هَدْيًۢا بٰلِغَ الْكَعْبَةِ﴾ يعنی داحرام په حالت کښې تاسو ښکارمه کوئ.اوچه کوم کس ښکار اوکړلو. نو دهغې ښکارد قيمت مقررکولودپاره الله تعالى په مسلمانانو کښې په دوو عادلانوباندې دهغې ذمه واری اچولې ده.حضرت ابن عباس رضي الله عنه دهغوی د دويم اعتراض جواب دا ورکړلو.چه په جنګ جمل کښې چه د حضرت علي رضي الله عنه اوحضرت عائشې رضی الله عنها په مينځ کښې قتال شوې وو.که چيرته په هغې کښې حضرت عائشه رضی الله عنها ګرفتاره شوې وه.نوآيا هغه وينځه جوړول به جائز وو.حالانکه هغه خود مسلمانانو مورده.نوکه تاسو دا جائز ګڼړئ.بيا تاسو مسلمانان نه ئې.نولکه څنګه چه په جنګ جمل کښې دغه شان نشوکيدې.دغه شان به په دې موقع جنګ صفين کښې هم نشی کيدې. دخوارجود دريم اعتراض جواب حضرت ابن عباس رضي الله عنه دا ورکړلو.چه دصلح حديبيه په موقع نبي صلى الله عليه وسلم په معاهده کښې دخپل نوم نه د رسول لفظ لرې کړې وو.حالانکه ددې لفظ په لرې کولو نبي صلى الله عليه وسلم دپيغمبرئ نه نه وو وتلې.نودغه شان حضرت علي رضي الله عنه هم د خلافت نه نه اوځی.چه کله ئې دا مسکت جوابونه واوريدل.نوخوارج چه د هغوی شمارشپږ زره وو.په

هغوی کښېږ دوه زره دحضرت علی رضي الله عنه اطاعت ته راواوړيدل.اوځلور زره په خپل ضد قائم پاتې شو. او مقتول شول.ددې واقعه نه ثابته شوه.چه د باغيانو سره جنګ کول جائز دی. (١)

② اوبله دا آسانه طريقه په دواړو طريقو کښې، (چه دباغيـانود شردفع کول مقصود دی .نوددوی د شردفع کولو دپاره دوه طريقې دی.يوه دا چه دوی ته دعوت ورکړې شی.اوددوی شبهات لرې کړې شی.اودوی واپس دامام په اطاعت کښې داخل شی.اودويمه طريقه دا ده.چه دوی سره جنګ اوکړې شی .اوقتل کړې شی.خويه دې دواړو طريقوکښې د دعوت طريقه اسانه ده.ځکه چه په دې کښې .جنګ نه حفاظت دې)) اوکيدې شی چه شردفع شی په دې (دعوت باندې) نوشروع به کولې شی ددې (دعوت) نه، (که په دعوت اونشوه.نوبيا به ورسره جنګ کولې شی)

باغيانوسره دجنګ شروع کولوممانعت

(وَلَا يَبْدَأُ بِالْقِتَالِ حَتَّى يَبْدَءُوهُ، فَإِنْ بَدَءُوا قَاتَلَهُمْ حَتَّى يُفَارِقَ جَمَاعَتَهُمْ)

ترجمه و تشريح ﴿ اوشروع به نه کوی(امام) په جنګ کولو(باغيانوسره) تردې چه شروع اوکړی هغوی(باغيان) که هغوی شروع اوکړه په دې(جنګ) نوجنګ به کوی هغوی سره تردې چه ماته شی جمع ددوی. (اوتختی)

دليله ﴿ دليل دا دې.چه حکم مرتب کيږی (دجواز قتال باغيانوسره) په دليل(دقتال) باندې ،اوهغه چه جمع کيدل دی.اومنع کيدل دی(يعنی کله چه دوی راجمع شی.نوددوی قوت پيدا شو.اودغه قوت به په جنګ باندې ختميږی) اودا(ترتب دحکم په دليل باندې.ځکه کولې شی) چه شان دا دې.که چيرته انتظارکوی امام د حقيقی جنګ د دوی(چه کله دوی حمله اوکړی.نوبيا به ورسره ګوري) نو ديرکرته داسې وی.چه ممکن نه وی ده(امام) لره دفع کول (ددوی دحملې ،ځکه چه دوی حمله اوکړی.اوامام ورته د وړاندې نه تياری نه وی کړې.يا اسلامی لښکرپه غفلت کښې وی.نوبيا به څه دوی دباغيانو مقابله اوکړی) نومرتب کولې به شی حکم (دجواز قتال) په دليل باندې،دوجې د ضرورت د دفع کولو شر د دوی. (يعنی باغيانوسره د جنګ شروع کول ځکه جائز دی.چه ددوی دطرفه د شر ويره ده)

دباغيانومددګارجماعت سره څه عمل پکاردې ؟

(وَإِنْ كَانَتْ لَهُمْ فِئَةٌ أُجْهِزَ عَلَى جَرِيحِهِمْ وَاتُّبِعَ مُوَلِّيهِمْ)

حل اللغة ﴿ ① **فئة**:ډله ② **اجهز**:تلواره کوی ③ **الاندفاع**:دفع کول

ترجمه و تشريح ﴿ که چيرته وی ددوی(باغيانو) دپاره ډله (چه ددوی مدد کوی) نوتلواردقتل به اوکړې شی دزخمی ددوی (يعنی کوم کس چه په دوی کښې زخمی شوی وی.هغه به زرقتلولې شی) اومنده به وهلې شی په تختيدونکی ددوی(يعنی کوم کس چه په دوی کښې تختی.نوهغه به رالاندې کولې شی

دليله ﴿ دپاره د دفع کولود شرد دوی(ډلې) چه يوځائې نشی (زخمی اوتختيدونکې) د دوی (باغيانو سره،

(وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ فِئَةٌ لَمْ يُجْهَزْ عَلَى جَرِيحِهِمْ وَلَمْ يُتَّبَعْ مُوَلِّيهِمْ)

اوکه چيرته نه وی ددوی(باغيانو) ډله (مدد کونکی) نو نه به شی قتلولې زخمی ددوی اونه به شی رالاندې کولې تختيدونکې ددوی.

---

١) اخرجه النسائی فی السنن الکبری (١٦٥\٥) رقم (٨٥٧٥)۔

دليله دوجې د دفع كيدو د شربغيرددي (قتلولواوتختولونه)

(وَلَاتُسْبٰى لَهُمْ ذُرِّيَّةٌ وَلَا يُقْسَمُ لَهُمْ مَالٌ)

ترجمه و تشریح اونه به شي قيد كولې ماشومان د دوى اونه به شي تقسيم كولې (په حيثيت د مال غنيمت) مال د دوى

دلائله ① جمل په عربئ كښې اوښ ته وائى.چونكه په دې جنګ كښې حضرت عائشه رضي الله عنها په اوښ باندې سوره وه.څكه ورته جنګ جمل وائى.ددې جنګ شان ورود داسې دې.چه د حضرت عثمان رضي الله عنه قاتلين حضرت عثمان رضي الله عنه يوكم پنځوس ورځې محاصره كړې وو.اوبيا ئې ډيره په ظالمانه مرګ سره قتل كړلو.دحضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت نه پس حضرت على رضي الله عنه ته خلافت ملاؤ شو.دبدقسمتئ نه دحضرت عثمان رضي الله عنه په قتل كښې چه كوم كسان ملوث وو.هغوى دحضرت على رضي الله عنه سره بيعت كولوته وړاندې شو.خلقوددې نه دا اندازه واخستله.چه حضرت على رضي الله عنه دعثمان رضي الله عنه د قاتلينوسره په صلاح وو.صحابه كرامو رضي الله عنهم دحضرت على رضي الله عنه نه مطالبه شروع كړله.چه تاسود حضرت عثمان قاتلينونه قصاص واخلئ.خوچونكه يو خودحضرت عثمان قاتلين ښكاره معلوم نه وو.اوبله دا چه هغوى ته دومره قوت اوطاقت حاصل شوې وو.چه دخپل خلافت په ابتدائى ورځو كښې دحضرت على رضي الله عنه په وس اوقدرت كښې دا خبره نه وه.چه دهغوى نه قصاص واخلي.ددې وجې هغوى به دا ونيل.چه زه به ضرور د حضرت عثمان رضي الله عنه قصاص اخلم.خيرپه دې دوران كښې څه كسان حضرت عائشې رضي الله عنها ته لاړل.دا په دغه وخت كښې په مكه معظمه كښې وه.اوهغې ته ئې اوونيل.چه ستاسوپه سركردګئ كښې چه د حضرت عثمان رضي الله عنه د قصاص مطالبه اوشي.نوكيدې شي.په دې باندې عمل اوشي.اوبل حضرت عائشې رضي الله عنها ته دا خبره هم په غوږوكښې واچولې شوه.چه حضرت على رضي الله عنه دحضرت عثمان په قتل كښې صلاح كار وو.ددې وجې حضرت عائشه رضي الله عنها په اوښ باندې سوره شوه .بل طرف ته حضرت على رضي الله عنه ته هم دحضرت عائشې رضي الله عنها د لښكرعلم اوشو.نوهغوى هم دلښكر سره راروان شول.كله چه دواړه لښكرې يوځائې ته اورسيدې. نو حضرت على رضي الله عنه حضرت عائشې رضي الله عنها ته دحضرت عثمان رضي الله عنه دقتل نه خپل براءت ښكاره كړلو.په دې باندې حضرت عائشه رضي الله عنها اودهغې لښكر مطمئن شول.خودحضرت على رضي الله عنه په لښكركښې چه دحضرت عثمان رضي الله عنه كوم قاتلان موجود وو.هغوى سره ويره شوه.كه چيرته د دوى دواړو صلح وشوه.نوبيا زمونږ خيرنشته.نود شپې شپې څه كسانود حضرت عائشې رضي الله عنها په لښكر حمله اوكړله.اوڅه كسانودحضرت على رضي الله عنه په لښكر.د دواړو لښكرو دا ګمان اوكړلو .چه مونږ سره دهوكه اوكړې شوه.اودغه شان په غلط فهمئ كښې ډيربل په قتلولوكښې لګيا شول.دې ته د جنګ جمل واقعه وائى.په دې كښې حضرت على رضي الله عنه امام برحق وو.ددې وجې چه د دوى كوم هدايات دى. هغې ته شرعي حيثيت حاصل دې. (۱)

② اوبله دا چه دوى (باغيان) مسلمانان دى.اواسلام حفاظت وركوى نفس اومال ته، (نودمسلمان نفس اومال ته به تعرض نشي كولې.لكه نبي ﷺ چه فرمائيلى دى.چا چه ايمان راوړلو.نوده زما نه خپل مال او جان محفوظ كړلو) اونشته څه باك چه جنګ اوكړې شي دوى (باغيانو) سره هم دهغوى په وسله باندې (چه وړاندې ترې اخستې شوې وى) كه محتاج شول مسلمانان دې (وسله دباغيانو) ته،

ولاباس بان يقاتلوا بسلاحهم ان احتاج المسلمون اليه

۱) اخرجه الحاكم فى المستدرك (۸٦/۲)۔

ترجمه و تشریح اوخه باك نشته چې د باغيانو سره په وسله سره اوجنګیږي که مسلمانان دې ته محتاج شو.

دليله څومره چې كيدې شي چې جنګ اونشي اوکه د جنګ نوبت راشي نو چې وسله استعمال نشي خو که بغير د وسلې داستعمال نه كار نه كيږي نو بيا جائز ده چې د باغيانو سره په وسله سره جنګ اوکړې شي چې د دوي د شر نه اسلامي رياست محفوظ شي.

(وَيَحْبِسُ الْإِمَامُ أَمْوَالَهُمْ فَلَا يَرُدُّهَا عَلَيْهِمْ وَلَا يُقَسِّمُهَا حَتَّى يَتُوبُوا فَيَرُدُّهَا عَلَيْهِمْ)

ترجمه اوبندبه کړي امام مالونه ددوي(باغيانو) نو نه به ئې واپس كوي دوي(باغيانو) ته اونه به ئې تقيسموي (په مينځ دمسلمانانوكښې) تردې چه توبه اوباسي(دبغاوت نه.چه توبه اوباسي) نوواپس به ئې کړي دوي(باغيانو) ته،

دليل عدم القسمة هرچه نه تقيسمول دي. (چه دمال غنيمت پشان به ئې نه تقسيموي) خکه چې دا د مسلمانانو مال دې نو په دې سره د هغوي د اجازت نه بغير فائده اخستل جائز نه دي

دليل جواز الحبس اوهرچه بندول دي.نودپاره د دفع کولو د شر د دوي (باغيانو) چه ددوي قوت به ختم شي. (يعني چه وسله ترې واخستې شي.نودوي به مسلمانانوته ضرر نشي رسولې.اوچه وسله ورسره وي.نويه دوي به حمله اوکړي) نوددې وجې (چه د دوي قوت ختم شي. او دوي د شرنه مسلمانان محفوظ شي)

دليل رد الاموال اوهرچه واپس كول دي پس د توبې نه(يعني چه باغيان توبه اوباسي.نوددوي مالونه به دوي ته واپس كولې شي) دوجې د ختميدو د ضرورت نه، (خکه چه ددوي نه خووسله او اسونه په دې مقصد اخستې شوي وو.چه په دې باندې مسلمانانوته ضرر اونه رسوي .خوچه دوي توبه ويستله.نود ضرر ويره ختمه شوه.نوضرورت هم ختم شو)

دباغيانو داخستې عشر او خراج حکم

(وَمَا جَبَاهُ أَهْلُ الْبَغْيِ مِنَ الْبِلَادِ الَّتِي غَلَبُوا عَلَيْهَا مِنَ الْخَرَاجِ وَالْعُشْرِ لَمْ يَأْخُذْهُ الْإِمَامُ ثَانِيًا)

حل اللغة ① **الجباية**:اخستل

اوهغه چه واني اخلي باغيان د(اوسيدونكود) ښارونو هغه نه چه غلبه كړي وي دوي په هغې(ښارونو) خراج او عشر،نونه به ئې اخلي امام (دمسلمانانو دهغوي نه) دوباره،

دليله خکه چه اختيارد اخستلو(دعشراوخراج) ده (امام) ته دې. په وجه د حفاظت، (چه امام د دوي حفاظت كوي) او(په موجوده صورت کښې چه باغيانو ددوي نه خراج اوعشر واخستلو) حفاظت ئې اونكړلو د هغوي، (نوځکه به ترې دوباره خراج اوعشرنه اخلي.بيا)

(فَإِنْ كَانُوا صَرَفُوهُ فِي حَقِّهِ أَجْزَأَ مَنْ أُخِذَ مِنْهُ)

ترجمه كه چيرته هغوي(باغيانو) خرچ كړلو(دغه خراج اوعشركوم چه ئې دمسلمانانونه اخستى وي) په خپل مصرف کښې،نوجائز شو(دغه خراج او عشر) دهغه چا دپاره چه اخستې شوې وي د هغه نه،دوجې د رسيدو دحق نه خپل مستحق ته.

دليله (خکه كه د مسلمانانو امام ترې اخستې وو.نوهغه به هم خپلو مستحقينوته وركول.اوباغيانوهم وركړل.نوځيزخپل مستحق ته اورسيدلو.البته په واسطه کښې فرق راغلو)

(وَإِنْ لَمْ يَكُونُوا صَرَفُوهُ فِي حَقِّهِ فَعَلَى أَهْلِهِ فِيمَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ اللَّهِ تَعَالَى أَنْ يُعِيدُوا ذَلِكَ)؛

ترجمه و تشريح﴾ اوكه نه وو دوى(باغيان چه) خرچ كړي وو (دغه خراج اوعشر) په مصرف خپل كښي، (بلكه د عشراوخراج چه كوم مصارف دى.دهغي نه علاوه په خپلونورو مقاصدو كښي ئې استعمال كړل) نوپه وركونكى د هغې. (عشراوخراج.يعنى چه دچا نه باغيانوعشراوخراج اخستې وى.نوپه هغوى باندې لازمه ده) په مينځ دهغه اوالله كښې.چه دوباره وركړي دغه (عشر يا خراج،خراج اگرچه دكافرپه زمكه كښې وى.خوچه خراجي زمكه دمسلمان په ملكيت كښي راشي.نودې به هم دهغې خراج وركوى.نوځكه به مسلمان هم خراج دوباره وركوى.چه غاړه ئې خلاصه شى.اوكه دكافرنه ئې خراج اخستې وى.نوچونكه هغه خودثواب په نيت باندې خراج نه وركوى.بلكه د هغه په حق كښې خو دا يودنياوى ټيكس دې.چه دخپل جان اومال دحفاظت په بدله كښې ئې مسلمان بادشاه ته وركوى)

دليله﴾ ځكه چه اونه رسيدلو(دغه عشر اوخراج) خپل مستحق ته، (نودا داسې شوه.لكه چه يوكس دزكاة پيسې دخپل مال نه جدا كړې.اوهغه ئې لا فقيرانوته نه وى وركړې.چه ضائع شى.نوده باندې دوباره زكاة وركول واجب دى.ځكه چه اولنې پيسې خپلو مستحقينوته اونه رسيدلې.دغه شان دلته به هم دوى دوباره عشراوخراج وركوى)

الاعادة في الخراج﴾ صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلي دى عالمانو رحمهم الله دوباره وركول په دوى (مسلمانانو ماخوذمنهم الخراج والعشر) باندې په خراج كښې دى (ديانة) ځكه چه دوى (باغيانو) سره جنګيدونكى دى.نوشول (باغيان) مصارف د خراج،اگرچه وى دوى(باغيان) مالداران، (ځكه چه باغيان اگرچه باغيان دى .خوداسلام نه خوخارج شوى نه دى.اودخراج مصرف مسلمانان دى.نوځكه د هغه مسلمانانو خراج ادا شو.دچا نه چه باغيانوخراج اخستې وى.اگرچه چاته دغه خراج ملاؤ شوې وى.هغوى مالداران وى.ځكه چه د خراج په مصرف كښې فقرشرط نه دې)

الاعادة في العشر﴾ اوپه عشركښې(چه باغيانودمسلمانانونه عشراخستې وى) كه وى (باغيان) فقيران نوهم دغه شان حكم دې. (يعنى چه دچا نه عشراخستې شوى وى.په هغوى باندې ديانة دوباره وركول نشته) ځكه چه دا (عشر)حق د فقيرانو دې. (اوباغيان هم فقيران اومسلمانان دى. اگرچه نافرمان دى. نوځكه ددوى عشرادا شو)

كِتَابُ الْحَظَرِ وَالْإِبَاحَةِ

ترجمه﴾ (دا) كتاب د ناروا او رواو (د احكامو په بيان كښې) دې.

تشريح﴾ صاحب دقدورى رحمه الله د دې نه وړاندې كتاب السير بيان كړو په هغې كښې د مال غنيمت احكام وو.اوكوم څيزونه چې په مال غنيمت كښې حاصل شى په هغې كښې د بعضو استعمال جائز دې او د بعضې ناجائز د دې وجې ئې وروسته كتاب الحضر والاباحة ذكر كړو.

د سرو او ښځو دپاره د ريښمو اغوستلو حكم

لَايَحِلُّ لِلرِّجَالِ لُبْسُ الْحَرِيْرِ چه سړو دپاره ريښم اغوستل حلال نه دى

تشريح﴾ مسئله ښكاره ده اشكال په كښې نشته.

دليله﴾ ځكه چه نبى كريم ﷺ د ريښمو او ديباج (خالص ريښم) اغوستلو نه منع فرمائيلې ده او وې

فرمانیل إِنَّمَا يَلْبَسُهُ مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ ()چه ،، دا هغه کس اغوندی.د چا چه آخرت کښې هیڅ حصه نه وی،،

وَيَحِلُّ لِلنِّسَاءِ ښځو دپاره حلال دی

تشریح> مسئله ښکاره ده اشکال په کښې نشته.

دلیله> د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت دی أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَرَجَ وَبِإِحْدَى يَدَيْهِ حَرِيرٌ وَبِالْأُخْرَى ذَهَبٌ وَقَالَ: هٰذَانِ مُحَرَّمَانِ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي حَلَالٌ لِإِنَاثِهِمْ(). چه نبی کریم ﷺ بهر ته تشریف راوړو.او ددوی ﷺ په یو لاس کښې ریښم او په دویم لاس کښې سره زر وو او وې فرمائیل.چه دا دواړه د امت په سړو باندې حرام دی.ددوی ښځو دپاره حلال دی،

د ریښمو په تکیه او په دې باندې د اوده کیدو حکم

وَلَا بَأْسَ بِتَوَسُّدِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ .او هیڅ باك نشته.د ریښمو تکیه لګولو کښې، د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز.

تشریح> د امام صاحب رحمه الله په نیز د ریښمو په تکیه لګولو کښې هیڅ باك نشته.

دلیله> ① د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په تولاتی به د ریښمو تکیه پرته وه نوهسې به نه وه پرته بلکه تکیه به نې ورته لګوله.

وَقَالَا: يُكْرَهُ تَوَسُّدُهُ او صاحبین رحمهماالله فرمائی.مکروه دی تکیه لګول دې ته

مسلك الصاحبین> دصاحبینو په نیز د ریښمو بالخ ته تکیه لګول مکروه دی

دلائلهما> ① د صاحبینو رحمهماالله دلیل د ذکر شوو احادیثو عموم دی.(کماهوظاهروفیه بحث فی النتائج)

② او په دې وجه هم (مکروه دی).چه دا د عجمو باشاهانو او متکبرینو طریقه ده.او ددوی سره تشبیه حرام ده.او د حضرت عمرفاروق رضی الله عنه فرمان دی.چه د عجمیانو طریقه اختیارولونه خپل خانونه بچ کړئ.()

د صاحبینو رحمهما الله په نیز حالت د جنګ مستثنی دی

وَلَا بَأْسَ بِلُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ فِي الْحَرْبِ عِنْدَهُمَا او په جنګ کښې د صاحبینو رحمهماالله په نیز په

[1] – قال الزیلعی رحمه الله هما حدیثان فالأول أخرجه الجماعة عن حذیفة رضی الله عنه الذی تقدم تخریجه عن قریب وأما الثانی فأخرجه البخاری فی الجمعة باب ۷ ومسلم فی ۱ للباس رقم ٦ وأبوداود فی الصلاة باب ۲۱۳ والنسائی فی الجمعة باب ۱۱ ومالك فی اللباس رقم ۱۸)من حدیث عبدالله بن عمر رضی الله عنه ان عمربن الخطاب رضی الله عنه رأی حلة عند باب المسجد فقال یا رسول الله لوإشتریت هذه فلبستها یوم الجمعة وللوفد إذا قدموا علیك فقال رسول الله ﷺ إنما یلبس الحریرفی الدنیا من لا خلاق له فی الآخرة ثم جاء رسول الله ﷺ منها حلل فأعطی عمر منها حلة فقال عمر رضی الله عنه یا رسول الله کسوتنیها وقد قلت ما قلت؟ فقال رسول الله ﷺ إن لم أکسکها لتلبسها فکساها عمر أخا له مشرکا (نصب:٤\٥٢١)

[2] – اخرجه البخاری فی ١ لجنائزباب ٢ ومسلم اللباس رقم ٢ والترمذی فی الأدب باب ٤٥)

[3]) اخرجه ابن حبان فی صحیحه فی النوع التاسع من القسم الرابع من حدیث شعبة عن قتادة رضی الله عنه (نصب:٤\٥٢٥)۔

ریښمو او دیباج (چه تنسته او بوده ئې دواړه د ریښمو وی) اغوستوکښې هیڅ باك نشته

حل اللغة ① **الدیباج:** غټ ریښم ② **الحرب:** جنګ

تشریح د صاحبینو رحمهماالله په نیز په جنګ کښې د ریښمو په اغوستو کښې هیڅ باك نشته.

دلائله ① امام شعبی روایت کړې دې أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ رَخَّصَ فِي لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ فِي الْحَرْبِ(¹) چه نبی کریم ﷺ اجازت ورکړې دې په جنګ کښې د ریښمو او دیباج اغوستلو.

② او د دې وجې چه په دې کښې ضرورت دې ځکه چه خالص ریښم زیات مدد کونکی دی او زیات هیبت اچونکی دی د خپل چمك په وجه د دښمن په سترګوکښې.

د امام صاحب رحمه الله نقطه نظر

وَيُكْرَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز مکروه دې.

تشریح امام ابوحنیفه رحمه الله خالص ریښم اغوستل په جنګ کښې هم مکروه ګرځوی.

دلیله ځکه چه ددې په ممانعت کښې کوم احادیث وړاندې ذکر شوی دی.هغې کښې د جنګ او غیر جنګ تفصیل نشته.

تنبیه کله چه فوجیان د جنګ تیاری کوی.نو په ریښمو اغوستلو کښې هیڅ باك نشته.اګرچه اوس دښمن حاضر شوې نه وی.خو په دې کښې به مونځ نه کوی.البته که د دښمن یره وی.نو په دې کښې مونځ هم کولې شی.

كه پلنوالې د ريښمو او اوږدوالې د ريښمو نه وی نوځه حكم دې ؟

وَلاَبَأْسَ بِلُبْسِ الْمُلْحَمِ او نشته هیڅ باك په اغوستلو د داسې جامې إِذَاكَانَ سَدَاهُ إِبْرِيسَمًا چې د هغې اوږدوالې د ریښمو وی وَلُحْمَتُهُ قُطْنًا أَوْخَزًّا او پلنوالې د مالوچو یا وړیؤ وی

حل اللغة ① **خز:** دیو دریابی ځناور د ایختو (وړیؤ) نه جوړه شوې کپړه، ② **سدی** درسداء نه د اسم مفعول صیغه ده.په معنی د تانا اودل،سدی: بانا (تنسته، ملاست تارونه) ③ **لحمة:** تانا (بوده، ولاړ تارونه) ④ **القطن:** مالوچ]

تشریح مسئله واضح ده.

دلیله ځکه چه صحابو رضی الله عنهم به خز (د وړیؤ او ریښمو جوړه شوې کپړه) اغوستله (²)

سرو دپاره په سرو زرو سره ښائست جوړول جائز نه دې

وَلاَيَجُوزُ لِلرَّجُلِ التَّحَلِّي بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ او سړو دپاره په سرو زرو سره ښائست کول جائز نه دی او نه په سپینو زرو سره

حل اللغة ① **التحلي:** ښائست ② **الخاتم:** ګوتمه ③ **السیف:** توره

تشریح د سړو دپاره د سرو زرو او سپینو زرو زیور جائز نه دی.د هغه احادیثو په وجه کوم چه تېر شوی دی.او په دغه روایاتو کښې اګرچه صرف د سرو زرو ذکردې.خو سپین زر هم ددې د جنس ځنې

¹ – من حدیث حکیم بن عمیر رضی الله عنه اخرجه ابن عدی فی الکامل فی ضعفاء الرجال (٥\٢٥٠)

² – قال الزیلعی رحمه الله فیه الآثارمنها نقل عمل عمران بن الحصین وانس بن مالك وغیرهما رضی الله عنهم (نصب:٤\٢٢٧)

دي.په دې وجه به د سپينو زرو هم دا حکم وي.

دليله﴾ وړاندې حديث تير شوې دې چې نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی سره او ريښم دواړه زما د امت په نارينو باندې حرام کړې شوي دی

ولابأس بِالْخَاتِمِ وَالْمِنْطَقَةِ وَحِلْيَةِ السَّيْفِ مِنْ الْفِضَّةِ او نشته څه باك په ګوتمه او ملابند او د تورې زيور سره، سپينو زرو سره

تشريح﴾ البته د سپينو زرو ګتمه او د سپينو زرو ملا بند (کمربندی) او د سپينو زرو هغه زيور کوم چه په توره باندې اوخيژولې شی.نو جائز دی.

دليله﴾ د سپينو زرو ګتمه وغيره څکه جائز ده.چه ددې په جواز کښې ډير آثار رانقل دی.نبی کريم ﷺ هم د سپينو زرو ګتمه جوړه کړې وه.او د ګتمې او ملابند او د تورې په باره کښې روايات ذکر دی. اوګورئ: [نصب الرايه ص:۲۳۲،ج۴]

ويجوز للنساء التحلي بالذهب والفضة او جائز دی د ښځو دپاره کالی اوچول د سروزرو او د سپينو زرو

تشريح﴾ نفس مسئله آسانه ده د تشريح ضرورت نشته.

دليله﴾ دليل وړاندې تير شوې دې چې نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی سره او ريښم دواړو زما د امت په نارينو باندې حرام کړې شوي دی

الاستدلال﴾ په حديث کښې د ذکور قيد نه معلوميږی.چې د زنانو دپاره د سرو او ريښمو استعمال جائز دې

د ماشومانو دپاره د ريښمو او سرو زرو اچولو حکم

وَيُكْرَهُ أَنْ يَلْبَسَ الصَّبِيُّ الذَّهَبَ وَالْحَرِيرَ او مکروه دی.هلك سره زر، او ريښم واغوندی

تشريح﴾ لکه څنګه چه سره زر او ريښم سړو لره اغوستل حرام دی.دغه شان وړو هلکانو ته اغوستول هم حرام دی.لکه څنګه چه شراب څکل حرام دی.نو څکول هم حرام دی.

دليله﴾ لکه څنګه چې د سړو دپاره پخپله سره زر او ريښم استعمالول حرام دی دغه شان ماشومانو ته اغوستول به هم حرام وی.لکه څنګه چې پخپله قبلې طرف ته متيازې کول مکروه تحريمی دی دغه شان ماشوم قبلې طرف ته کينول هم مکروه تحريمی دی.

د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو کښې د خوراك څكاك حكم

وَلَا يَجُوزُ الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ او جائز نه دې خوراك او څکاك وَالِادِّهَانُ وَالتَّطَيُّبُ او تيل لګول،او خوشبو لګول فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو کښې لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ د سړو او ښځو دپاره

تشريح﴾ نفس مسئله آسانه ده.

دلائله﴾ ① نبی کريم ﷺ د هغه سړی په باره کښې فرمائيلی دی څوك چه څکل کوی.د سرو زرو

اوسپینو زرو په لوخو کښي، چه هغه پخپله خیته کښي د جهنم اور اچوی ([1])

⑦حضرت ابوهریره رضي الله عنه ته سپینوزرو په لوخی کښي اوبه ورکړي شوي. .نو هغوی دا قبول نکړلي او داسي ني اوفرمائیل. نَهَانَاعَنْهُ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ([2]) چه مونږه ددي نه رسول الله ﷺ منع کړی یو .

دلیل الحرمة في الادهان والتطییب> هرکله چه دا (ممانعت) په څکلو کښي ثابت شو نو هم دغه شان په تیلو لګولو او ددې په مثل کښي (هم ممانعت) دي.څکه چه دا د څکلو په معنی کښي دی.او څکه چه دا د مشرکانو هینت سره تشبیه ده

د سیکي ، شیشي .او د عقیق د لوخو استعمالولو حکم

وَلَا بَأْسَ بِاسْتِعْمَالِ آنِيَةِ الزُّجَاجِ وَالرَّصَاصِ وَالْبَلُّوْرِ وَالْعَقِيْقِ او هیڅ باك نشته.د د کانچ (شیشي) په لوخو کښي او سیکي (سیسي) په لوخو کښي، او د بلور (یو قسم شیشه) او د عقیق (په لوخو کښي)

حل اللغة> ① **آنية**: لوښي ② **الرصاص**: سیکه ③ **الزجاج**:شیشه ④ **البلور**:د شیشي یو قسم دي ⑤ **عقیق**:دا هم د شیشي یوقسم دي

تشریح> د دې ذکر شوو ټولو لوخو استعمالول جائز دی.

دلیله> د دې څیزونو نه په جوړو شوو لوښو کښي خوراك څکاك څکه جائز دي چي د دې په استعمال باندې څوك فخر نه کوی.بلکه که پخواه زمانه کښي پرې فخر کول هم خو نن صبا د غریبانانو کره د شیشي لوښي موجود دی.

د سپینو زرو لګولي شوي لوخو،ګدې،کټ.او کرسۍ استعمالولو حکم

وَيَجُوزُ الشُّرْبُ فِي الْإِنَاءِ الْمُفَضَّضِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله ([3]) او جائز دی څکل په داسي لوخو کښي ، چه دهغي په غاړو باندې سپین زر لګولي شوي وی.د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز وَالرُّكُوبُ عَلَى السَّرْجِ الْمُفَضَّضِ او سوریدل په داسي ګدئ باندې، چه هغي ته سپین زر لګیدلی وی وَالْجُلُوسُ او کیناستل په عَلَى السَّرِيرِ الْمُفَضَّضِ ..او په داسي کټ باندې، چه هغي کښي سپین زر لګیدلی وی.

حل اللغة> ① **المفضض**: لګولي شوي، ② **السرج**:ګدئ ③ **الجلوس**:ناسته ④ **السریر**:کټ

تشریح> مفضض: په کوم چه سپین زر خیجولي شوي وی.یعنی ددې په غاړو باندې سپین زر لګولی شوی وی. حضرت امام صاحب رحمه الله فرمائي.چه کله خالص د سپینو زرو لوخي نه وی.بلکه لوخي یا د استعمال آله د بل څه څیز ده.او ددې په غاړو باندې سپین زر خیجولي شوي وی.نو ددې استعمال

---

[1] من حدیث ام سلمة رضي الله عنها أخرجه البخاری في الأشربة با ب۲۸ ومسلم في اللباس رقم ۱ وابن ماجه في الأشربة باب ۱۷ والدارمی في الأشربة باب ۲۵ ومالك في صفة النبی ﷺ رقم ۱۱)۔

[2] قال الزیلعی رحمه الله غریب من حدیث أبي هریرة رضي الله عنه وهوفي الکتب الستة عن حذیفة من روایة عبدالرحمن بن أبي لیلی قال إستسقی حذیفة رضي الله عنه فسقاه مجوسی في إناء من فضة فقال إني سمعت رسول الله ﷺ یقول:لاتلبسوا الحریرولاالدیباج ولا تشربوا في آنیة الذهب والفضة ولا تأکلوا في صحافها فإنها لهم في الدنیا ولکم في الآخرة (أخرجه البخاری في الأشربة باب ۲۹ ومسلم في اللباس رقم ۵ وأبوداود في الأشربة باب ۱۷ والترمذی في الأشربة باب ۱۰ والنسائی في الزینة باب ۸۷ وابن ماجه في الأشربة باب ۱۷) (نصب:۵۱۸\۴)

[3] القول الراجح هو هذا قول أبي حنیفة رحمه الله كذا في خانیة (۳۷۰\۴) کبر (۳۶۷) هندیة (۳۳۴\۵) نقلاً عن القول الراجح (۲۹۹\۲)۔

جائز دي.په دې شرط چه د سپینو زرو د خاتې نه پرهیز کوی.یعنی که د څکلو لوخې دي.نو د سپینو زرو خاتې ته خوله نه لګوی.بلکه بل خاتې ته خوله لګوی.دغه شان که په ګدئ باندې سپین زر اولګولی شو.نو د سپینو زرو په خاتې باندې نه کینی.په بل خاتې باندې کینی.نو دا جائز ده.دغه شان که په یوه کرسئ باندې سپین زر خیجولي شوې وی.یا په کټ باندې، نو دواړو صورتونو کښې د سپینو زرو په خاتې باندې نه کینی.نو جائز ده.

دليله امام صاحب رحمه الله فرمائی.چه د توابعو اعتبار نشی کولې.او دلته چه کوم سره زر او سپین زر لګولی شوی دی.دا ټول تابع دی.نو دا به مکروه نه وی.لکه کله چه د چوغې جهالر د ریښمو وی.او هم دغه شان که د ریښمو نه په کپړه کښې نقش ونګار اوکړې شی.نو دا مکروه نه ده.او هم دغه شان که د ګتمې په غمی کښې د سرو زرو میخ وی.نو دا هم د تابع کیدو په وجه مکروه نه دې.

مسلک الصاحبين دا ذکر شوی ټول صورتونه امام صاحب رحمه الله جائز ګرخولی دی.او امام ابویوسف رحمه الله مکروه ګرځوی.او پاتې شوه مسئله د امام محمد رحمه الله نو په دې کښې دوه قوله دی: ① بعض حضراتو روایت کړې دې.چه دوی د امام صاحب رحمه الله سره دې.او ددې دحلت قائل دې. ② او بعضو حضراتو فرمائیلی دی.چه دوی د امام ابویوسف رحمه الله سره دې.او ددې د کراهت قائل دې.

دليلهما د صاحبینو رحمهماالله دلیل دا دې.چه د لوخو د بعضو اجزاو استعمال ګویا دټولو اجزاو استعمال دې.نو لکه څنګه چه د سرو زرو او سپینو زرو د خاتې استعمالول مکروه دی.دا به هم دغه شان مکروه وی.

وَيُكْرَهُ التَّعْشِيرُ او تعشیر (په لسم آیت باندې علامت لګول) وَالنَّقْطُ فِي الْمُصْحَفِ

حل اللغة ① **التعشير**: تعشیر: په هر لسم آیت باندې نښان لګول، نقطه : نقطې لګول، تجرید: خالی کول

تشريح د قرآن نه علاوه (نور هیڅ) او نه لیکلې شي.مطلب دا دې.چه حدیث کښې حکم ورکړې شوې دې.چه قرآن د غیر قرآن نه خالی کړئ.په دې وجه آمین هم نشی لیکلې.نو په قران باندې نقطې او اعراب لګول، دغه شان په هر لسم آیات باندې نښان لګول، او لکه مقررول، ټول مکروه دی.

دليله د حضرت ابن مسعود رضي الله عنهما چې چه قرآن د نورو څیزونو نه خالی کړئ (۱) اوتعشیر وغیره لګول د تجرید (خالی کولو) منافی دی.او تعشیر او نقطې به په آیاتونو یادولو کښې مخل وی.او په اعراب یادولو کښې به مخل وی.څکه چه ټول خلق به په لیکلی شوی باندې اعتماد کوی.او یادول به پریږدی.خو مشائخو فرمائیلی دی.

الفتوى في زماننا چه زمونږ په زمانه کښې عجمیانو دپاره د اعراب او نقطو لګول ضروری دی.ګنی ددې نه بغیر به اونشی وئیلې.نو ددوی په حق کښې د اعراب وغیره کیدل ضروری دی.ګنی هغوی به بالکل قرآن پریږدی.په دې وجه اعراب وغیره خوښ ګڼړی شوی دی.خلاصه دکلام دا چه دا بدعت حسنه دې.

د مصحفونو ښائسته کولو حکم

وَلَابَأْسَ بِتَحْلِيَةِ الْمُصْحَفِ او په قرآن ښائسته کولو کښې هیڅ باك نشته وَنَقْشِ الْمَسْجِدِ وَزَخْرَفَتِهِ بِمَاءِ

(۱) اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه قاله الزيلعي رحمه الله (نصب: ۴\۵۷۹)۔

الذَّهَبِ او د جمات د سرو زرو په اوبو سره نقشدار او ښائسته کول.

حل اللغة ① **تحلية**: ښائسته کول ② **تزيين**: مزين کول }

تشريح قرآن کريم په زيوراتو سره ښائسته کول جائز دی.لکه څنګه چه جمات د سرو زرو په اوبو سره ښائسته کول جائز دی. خو دا ښائسته کول د جمات په مال سره کول پکار نه دی.بلکه متولی دې پخپل مال سره اوکړی.که د جمات په مال سره ئې اوکړی.نو متولی به ضامن وی.

دليله په موجوده وخت کښې خلقو خپل کورونه په نقش اونګار سره ښائسته کړی دی اود خلقو طبيعتونه داسې جوړ شوی دی چې هغه جمات ته د مانځه دپاره ځی په کوم کښې چې سهوليات زيات وی بله دا هم چې غيرمسلمه خلق د خپلو عبادتخانو په ښائست کښې کوشش کوی.نومونږ لره هم پکار دی چې د هغوی نه روسته نشو.بله دا چې جماتونه اسلامی شعائر دی.نو د دې ښائست پکار دی

د خصی نه د خدمت اخستلو حکم

وَيُكْرَهُ اسْتِخْدَامُ الْخُصْيَانِ او د خصيانو نه خدمت اخستل مکروه دی

حل اللغة ① **خصيان**: جمع د حصی، هغه څوك چه هګۍ ترې ويستلې شوې وی

تشريح يعنی کوم خلق چه خصيې (هګۍ) اوباسی.او هيجړا او خصيان کيږی.د هغوی نه خدمت اخستل مکروه دی.

دليله ځکه کله چه ددوی نه خدمت اخستلې شی.نو نورو خلقو ته به هم شوق کيږی.چه دا خو د آمدنی ذريعه ده.نو هغوی به هم ځان نه هيجړاګان جوړه وی.حالانکه دا حرام دی.ځکه چه دا مثله کول دی.چه ددې نه صراحت سره منع شوې ده.

د څاروو خصی کول.او خر په اسپې د څيجولو حکم

وَلَا بَأْسَ بِخِصَاءِ الْبَهَائِمِ او د څاروو په خصی کولو کښې،

حل اللغة ① **اخصاء**: خصی کول

تشريح د څاروی خصی کولو باندې څه باك نشته.

دليله د څاروی په خصی کولوکښې دڅاروی هم فائده ده.چه دا ښه سربه کيږی.او چاقيږی.او د انسان فائده هم ده.چه ددې د شر نه محفوظ کيږی.

وَإِنْزَاءِ الْحَمِيرِ عَلَى الْخَيْلِ او خر په اسپو باندې اچولو کښې هيڅ باك نشته

حل اللغة ① **انزاء الحمير**: خره په اسپو اچول

ترجمه او خر په اسپې باندې څيجول، ددې دپاره چه خچره پيدا شی.نوجائز دی.

دليله ځکه چه نبی کريمﷺ په خچر باندې سور شوې دې. [1] که دا (خر په اسپه څيجول) حرام وې.نو نبی کريمﷺ به په خچر باندې نه سواريدو.چه ددې ممنوع فعل دروازه کلاو نشی.

[1]) من حديث براء بن عازب رضي الله عنه اخرجه البخاری فی الجهاد باب ۵۲ ومسلم فی الجهاد رقم ۷۸ والترمذی فی الجهاد باب ۱۵ واحمدفی المسند(۴\۲۸۰)۔

په هديه او اجازت كښې د غلام، ويښځې او د بچي د خبر حكم

وَيَجُوزُاَنْ يُقْبَلَ فِي الْهَدِيَّةِ وَالْإِذْنِ قَوْلُ الْعَبْدِ وَالصَّبِيِّ او جائز دي په هديه، او اجازت كښې د غلام او د ماشوم قول،

حل اللغة﴾ ① **الهدية:** دالى: ② **الصبي:** ماشوم

تشريح﴾ كه ماشوم يا غلام يا وينځه هديه راوړي.چه زما پلار يا زما مالك راليګلې ده.يا دوى په دوكان كښې څه سامان اخستلو دپاره ځي.او وائي.چه مونږ ته د اخستلو او خرڅولو اجازت دې.نو ددوى قول به قبلولې شي.

دليله﴾ ځكه چه عادت (او رواج) هم دا دې.چه هديه هم ددوى په لاسونو ليګلې شي.او دا ممكن نه ده.چه دوى هر وخت د اجازت ګواهان خان سره تړلې ګرځوى.نو كه ددوى قول معتبر نه وى.نو ډيره زياته تنګسيا به لازمه شي.

په ديانانو او معاملاتو كښې د فاسق د قول حكم

وَيُقْبَلُ فِي الْمُعَامَلَاتِ قَوْلُ الْفَاسِقِ او په معاملاتو كښې به د فاسق قول قبلولې شي وَلَايُقْبَلُ فِي اخْبَارِ الدِّيَانَاتِ اِلَّا قَوْلُ الْعَدْلِ او په دياناتو په خبرو كښې به نشى قبلولې.مګر د عادل (مسلمان) قول.

اقسام المعاملات﴾ زده كړه دا خبره چه معاملات په درې قسمه دى ① په كومو كښې چه الزام نه وى.لكه مضاربات او د تجارت اجازت، نو په دې قسم كښې صرف عقل كافى دې.عدالت وغيره شرط نه دې.

② په كومو كښې چه خالص الزام وى.لكه هغه حقوق په كومو كښې چه خصومات جارى كيږى.نو په دې قسم كښې د شهادت د ټولو شرطونو كيدل ضرورى دى.

③ په كومو كښې چه من وجه الزام وى.او من وجه نه وى.لكه وكيل معزول كول، او په ماذون باندې پابندى يعنى حجر چه په دې كښې هم وكيل باندې الزام دې.چه د معزول كولو نه روستو هغه د اخستلو پخپله ذمه دار دې.او د حجر (بنديز) نه پس د عقد فاسدولو الزام دې.او د الزام وجه دا ده.چه مؤكل او مولا خالص پخپل حق كښې تصرف كوى.نو په دې اعتبار سره د اذن (اجازت) پشان شو.په دې قسم كښې د امام صاحب رحمه الله په نيز عدد د شهادت يا عدالت ضرورى دې.خلاصه د كلام دا چه دلته د معاملاتو نه رومبى قسم معاملات مراد دى.

وجه قبول قول الفاسق في المعاملات﴾ د معاملاتو (يعنى هغه معاملاتو په كومو كښې چه الزام نه وى.ګنى د نورو معاملاتو دا حكم نه دې) واقع كيدل د مختلف قسمه خلقو په منځ كښې كيږى.نو كه په دې كښې د عدالت شرط اولګولې شي.نو ډير زيات حرج به لازم شي.په دې وجه دا حكم وركړې شوې دې.چه د فاسق قول به هم معاملاتو كښې معتبر وى.نو هركله چه خبره هم داسې ده.نو عادل او فاسق،كافر او مسلمان، غلام او آزاد ، سړې او ښځه ټول برابر دى.او د ټولو قول به معتبر وى.

وجه عدم قبول قول الفاسق في المعاملات﴾ ديانات دومره زيات نه واقع كيږى. (د دياناتو نه خالص ديانات مراد دى.ضمنى ديانات مراد نه دى.او هغه ديانات مراد نه دى.كوم چه د ملك زوال ته متضمن وى)لكه څومره چه معاملات واقع كيږى.نوكه په دياناتو كښې زيات شرطونه اولګولې شي.نو په دې كښې به هيڅ باك نه وى.نو په دياناتو كښې به صرف د مسلمان عادل قول معتبر وى.د فاسق او كافر به (معتبر) نه وى.ځكه چه فاسق خو پخپله د خپلو دروغو ونيلو په وجه متهم دې.نو په دې خبركښې هم هغه دروغ ونيلې شي.

د پردۍ ښځې مخ او تلو ته د کتلو حکم

> **وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَنْظُرَ الرَّجُلُ مِنَ الْأَجْنَبِيَّةِ إِلَّا إِلَى وَجْهِهَا وَكَفَّيْهَا** او جائز نه ده.دا چه اوګوری سړي پردۍ ښځې طرف ته، خو د هغې مخ او د هغې دواړه تلو ته

تشریح سړي د څه ضرورت نه بغير د پردۍ ښځې بدن اوګوري.جائز نه ده.علاوه د مخ نه او تلی نه.

دلائله ① د الله تعالی ددې فرمان د وجې ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ اودوی دې نه ښکاره کوی زينت خپل مګر هغه چې ښکاره وی د دې نه.

الاستدلال سره دوه خبرې معلومې شوې.① خايونه د زينت پټ ساتي.② مخ او تلی ښکاره کول جائز دی.حضرت علی او حضرت ابن عباس‌رضی الله عنه ددې آيت په تفسير کښې فرمائی.چه د ﴿مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ نه مراد رانجه او ګتمه ده. ([1]) او د مجاز مرسل د څلیریشت علاقو نه یوه علاقه د حالیت او محلیت هم ده.یعنی حال وئیل او محل مراد اخستل، او محل وئیلو نه حال مراد اخستل.نو دلته حال وئیلې شوې دې.او محل مراد اخستې شوې دې.یعنی رانجو سره سترګې او دا په مخ کښې وی. نو د رانجو نه مراد مخ دې.او د ګتمې نه مراد ګوته ده.او دا په تلی کښې وی.نو د ﴿مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ نه مخ او تلی مراد دی.او دغه شان آيت کښې د زينت نه مراد د زينت خايونه دی.د علاقې د حاليت په وجه، او په خايونو د زينت کښې د مخ او تلی نه علاوه ټول بدن داخل دې.

② د دې دواړو اندامونو ښکاره کولو ته ضرورت دې.څکه چه ښځو ته کله کله سړو سره په معاملاتو کښې د اخستلو خرڅولو ضرورت راپيښيږی.

تنبيه دا حکم د سلفو (مقدمينو) په زمانه کښې وو.او زمونږ په زمانه کښې به ددې ښځو د مخ کتلو نه منع کولې شی.او د والوالجيه په کتاب الايمان کښې دی.چه دا مکروه دی.او شهوت سره حرام دی.لکه څنګه چه په نادرة الفتاوی کښې دی. [سکب الانهر:٤٦٠،ج٢]

د پردۍ ښځې مخ کتل کله جائز دی؟

> **فَإِنْ كَانَ لَا يَأْمَنُ الشَّهْوَةَ** نو که دې د شهوت نه په امن کښې نه وی **لَمْ يَنْظُرْ إِلَى وَجْهِهَا إِلَّا لِحَاجَةٍ** نو نه به ګوری د ښځې مخ طرف ته، خو د څه حاجت په وجه

تشریح وړاندې نې چه کوم حکم بيان کړې وو.چه د پردۍ ښځې مخ او تلی کتل جائز دی.نو دا هغه وخت جائز دی.کله چه شهوت نه وی.اوکه شهوت وی.نو جائز نه دی.البته که څه ضرورت وی.نو کتلې شی.اګرچه شهوت وی.او ضرورت دا چه مثلاً ښځه باندې ګواهی ورکول وی.یا هغې سره د نکاح اراده وی.یا وينځه ده.چه ددې د اخستلو اراده وی.

دليله د نبی کريم‌صلی الله علیه وسلم ارشاد دې **مَنْ نَظَرَ إِلَى مَحَاسِنِ امْرَأَةٍ أَجْنَبِيَّةٍ عَنْ شَهْوَةٍ صُبَّ فِي عَيْنَيْهِ الْآنُكُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**([2])کوم کس چه اوکتل د يوې پردۍ ښځې د ښائست خايونو طرف ته په شهوت سره نو د قيامت په ورځ به د هغه په سترګو کښې سيسه (قلعی) اچولې شی

---

[1]) أماالرواية عن ابن عباس رضی الله عنهما فأخرجه الطبراني في تفسيره (نصب:٤\٥٩٣)۔

[2]) قال الزيلعي‌رحمه الله غريب والمعروف من إستمع إلى حديث قوم وهم له كارهون أو يفرون منه صب في أذنيه الآنك يوم القيامة أخرجه البخاري في صحيحه في كتاب التعبير (نصب:٤\٥٤٠)

اګرچه احقر شاه فیصل په المراة الصافیه کښې د امام زیلعي رحمه الله نه د حدیث ضعف نقل کړو خو نور صحیح حدیثونه په وعید کښې وارد دی.که په کتلو کښې د شهوت یره (یعني ظن غالب) وی.بیا به هم د حاجت (او ضرورت) نه بغیر نه ګوری.چه د حرام نه بچ شي.امام قدوری رحمه الله فرمائیلی دی.کله چه د شهوت په امن کښې نه وی.نو نه به ګوری.ددې نه دا خبره معلومه شوه.چه که ده ته د شهوت شك وی.بیا هم کتل جائز نه دی.لکه څنګه چه د یقین او غالب ګمان په صورت کښې جائز نه دی.

حرمة مس الوجه والید که شهوت نه وی.نو د ښځې مخ او ددې لاس کتل جائز دی.خو لاس لګول جائز نه دی.اګرچه شهوت هم نه وی.ولې؟ څکه چه ضرورت نشته.او په دې کښې ابتلاء عام نه ده.او په کتلو کښې ضرورت هم شته.او بلوی هم شته.او دلته داسې نص هم موجود دې.چه د لاس لګولو په حرمت باندې دلالت کوی.او حرامونکې نص دا حدیث دې.چه کوم کس داسې ښځې ته لاس اولګولو.چه دې ته لاس لګول شرعاً جائز نه دی (یعنی دا نه دده ښځه ده او نه وینځه ده) نو د قیامت په ورځ به دده په لاس باندې انکار (سروټکه) ایخودې شي.او دا د لاس لګولو حرمت هغه وخت دې.کله چه دا پردئ ښځه خوانه وی.چه دې طرف ته طبیعت مائل کیږی.خو که دا بوډئ وی.یعنی داسې چیچره وی.چه دې طرف ته د طبیعت میلان نه کیږی. نو ددې سره مصافحه کولو او ددې لاس سره په لاس لګولو کښې هیڅ باك نشته.څکه چه د فتنې یره نشته.

حکم مس وجه الصغیرة که وړه ماشومه ده.چه دا اوسه پورې لا د شهوت حد ته نه ده رسیدلې.نو دې ته په کتلو او دې ته په لاس اوړلو کښې چونکه د فتنې یره نشته.نو دا ټول جائز دی.علامه شامی په [ردالمحتار ص:۲۳۵،ج۵] باندې په دې باندې بحث کړې دې.

وَيَجُوزُ لِلْقَاضِي إِذَا أَرَادَ أَنْ يَحْكُمَ عَلَيْهَا او جائز ده قاضی دپاره، کله چه هغه اراده اوکړی په ښځه باندې د فیصلې کولو وَلِلشَّاهِدِ إِذَا أَرَادَ أَدَاءَ الشَّهَادَةِ عَلَيْهَا او ګواه دپاره کله چه هغه په ښځه باندې د ګواهئ ورکولو اراده اوکړی النَّظَرُ إِلَى وَجْهِهَا د ښځې مخ ته کتل وَإِنْ خَافَ أَنْ يَشْتَهِيَ اګرچه د شهادت یره کوی

تشریح قاضی او ګواه ته د فیصلې او شهادت ادا کولو دپاره دښځې مخ ته کتل جائز دی.اګرچه د شهوت یره وی.بیا هم (جائز دی)

دلیله څکه که هغه د شهادت د یرې په وجه د کتلو نه منع شي.نو فیصله به څنګه کوی.او شهادت به څنګه ورکوی.نو د فیصلې او شهادت ادا کولو دروازه به بنده شي.چه په دې سره به د خلقو حقوق ضائع شي.او د خلقو د حقوقو ژوندی کولو ضرورت دې.نو کتل به جائز وی.

استحباب عدم الشهوة خو دوی دواړه دې د شهوت پوره کولو قصد نه کوی.بلکه د فیصلې او شهادت ادا کولو قصد دې اوکړی.څکه چه نیت خو صحیح کیدې شي.نو د کوم څیز نه چه بچ کیدل ممکن دی.د هغې نه بچ کیدل به ضروری وی.او د بد قصد نه بچ کیدل ممکن دی.

ډاکټر دپاره د ښځې د مرض ځائې کتلو حکم

وَيَجُوزُ لِلطَّبِيبِ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَوْضِعِ الْمَرَضِ مِنْهَا او جائز ده ډاکټر دپاره دا چه اوګوری دښځې د مرض ځایونو طرف ته

تشریح که ښځه بیماره وی.او مرض په نازك (خطرناك) ځائې باندې وی.نو ډاکټر دپاره جائز دی.چه صرف د مرض ځائې اوګوری.او ددې علاج اوکړی.

دلیله څکه چه دا جواز د ضرورت په وجه دې.نو د ضرورت په اندازه به اجازت وی.

فصل تعليم المداواة الي امراة > او غوره داده.چه سرې پخپله علاج اونکړي.بلکه يوې ښځې ته اوښائي.اوهغه دا کار پوره کړي.

دليله> ځکه چه اگرچه ښځې دپاره هم جائز نه ده.چه هغه د يوې ښځې شرمگاه يا عورت اوگوري .بهرحال د جنس، جنس طرف ته کتل بيا هم معمولي دي.خو که څوك ښځه داسې ملاو نشي.نو بيا دې ټول بدن پټ کړې شي.او صرف هغه ځائې دې ډاکټر اوگوري.کوم ځائې چه مرض دې.

نظيره> ددې نظيردا دې چه د ښځو ختنه کونکې ښځه او د سړو ختنه کونکي سړې به صرف د ختنه کولو ځائې گوري.باقي به نه گوري.هم دغه شان د ډاکټر حکم دې.او هم دغه شان که د ضرورت په وجه او د سختې کمزورئ (تپ والي) په وجه د حقنې کولو ضرورت وي.نو حقنه کونکې سړې به د حقنه کولو ځائې گوري.ځکه چه حقنه کول هم يوعلاج دې.چه دا د بعضو مرضونو دپاره ضروري دې.او په بعضو کښې فائده مند دې.او په بعضو کښې طاقت ورکوي.

تنبيه① ۞ په [سکب الانهر ص:۴۶۲،ج۲] باندې دي.چه ختنه کول عذر نه دې.ځکه چه بالغ خپله ختنه پخپله کولې شي.يا دې نکاح اوکړي.او پخپله ښځه دې خپله ختنه اوکړي.يا دې وينځه واخلي.او په هغې دې خپله ختنه اوکړي.،،قلت،، دغه شان د ښځو په حق کښې هم هيڅ عذر نه دې.ځکه چه ددوی په حق کښې دا صرف اعزاز دې.سنت نه دې.د علامه عيني ﷫دا فرمانيل چه د سړو او ښځو دواړو دپاره ددې پريخودل جائز نه دی.تسامح ده. اوگورئ: [شامي ص:۲۳۷،ج۵]

تنبيه② ۞ ختنه کول سړو دپاره سنت مؤکده دې.او د شعائر اسلام ځنې دې.او ختنه کول د ښځو دپاره د مرتبې او اعزاز څيز دې.نو بهرحال د سړو او ښځو ختنه کولو په باره کښې خافظه دپاره او ختنه کونکې دپاره شرمگاه کتل جائز دی.ځکه چه دا يو قسم ضرورت دې.نو هم دا حال به د ډاکټر د کتلو هم وي.،،فتدبرفيه،،

تنبيه③ ۞ که حقنه دځه مرض په وجه نه وي.بلکه منفعت دپاره کوي.چه په جماع باندې قوت حاصل شي.نو دا زمونږ په نيز حلال نه دی.،،کمافي الذخيرة،، [شامي ص:۲۳۷،ج۵]

سړی دپاره د سړی څومره بدن کتل جائز دی؟

وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنَ الرَّجُلِ إِلَى جَمِيعِ بَدَنِهِ إِلَّا مَا بَيْنَ سُرَّتِهِ إِلَى رُكْبَتِهِ او گورې دې سړې د سړی ټول بدن طرف ته،خو کومه چه دده د نوم د منځ نه د کونډو پورې ده

حل اللغة> ① سرة: نوم ② رکبة: پندئ]

تشريح> يوسړې د بل سړی ټول بدن ته کتلې شي خو د نامه نه واخله تر پندو پورې نشی کتلې.

دليله> دنبی کريم ﷺ ارشاد دې عَوْرَةُ الرَّجُلِ مَا بَيْنَ سُرَّتِهِ إِلَى رُكْبَتِهِ وَيُرْوَى مَا دُونَ سُرَّتِهِ حَتَّى يُجَاوِزَ رُكْبَتَيْهِ د سړی عورت (ستر) هغه دې.کوم چه دده د نوم دمنځ نه دده د کونډو پورې دې او نقل دی.چه کوم چه دده د نوم د لاندې دې تردې چه دده د کونډو نه زياتی شي

وَيَجُوزُ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَنْظُرَ مِنَ الرَّجُلِ إِلَى مَا يَنْظُرُ إِلَيْهِ الرَّجُلُ اود ښځې دپاره جائز دی چې د سړی د بدن هغه حصې ته اوگوري کوم ته چې دبل سړی دپاره کتل جائز وي

تشريح> د سړی د بدن چې کومې حصې ته د بل سړی دپاره نظر کول جائز دی نود ښځې دپاهر هم جائز دی چې هغه حصې ته اوگوري مثلاً يو سړې د بل سړی مخ ته کتلې شي.دغه شان ښځې هم د هغه مخ ته

کتلې شي.دغه شان شاه او خيټه خو په دې شرط چې شهوت ئې نه پيدا کيږي.اوکه د ښځې شهوت پيدا کيږي.نو بيا ورله کتل جائز نه دي.

ښځې دپاره د سړي يا د بلې ښځې څومره بدن کتل جائز دي؟

وَتَنْظُرُ الْمَرْأَةُ مِنَ الْمَرْأَةِ إِلَى مَا يَجُوْزُ لِلرَّجُلِ او ګوري دې ښځه د بلې ښځې هغه ځائې کوم چه جائز دي.سړي دپاره، أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهِ مِنَ الرَّجُلِ چه کتلې شي هغې ته بل سړي.

تشريح> سړي چه دبل سړي څومره حصه کتلې شي.دغومره يوه ښځه دبلې ښځې کتلې شي.

دليله> ځکه چه دا د يوجنس دي.او عام طور باندې شهوت نه کيږي.لکه د يو سړي بل سړي ته په کتلو کښې،او په دې وجه هم چه ښځې د دومره بدن د ښکاره کولو په غسل خانه وغيره کښې ضرورت محسوسوی.نو ددې به اجازت وي.

سړي دپاره د خپلې وينځې او ښځې د شرمګاه کتلو حکم

وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنْ أَمَتِهِ الَّتِي تَحِلُّ لَهُ او سړې کتلې شي د خپلې هغه وينځې ته کومه چه دده دپاره حلال ده وَزَوْجَتِهِ إِلَى فَرْجِهَا او د خپلې ښځې نه ددې شرمګاه طرف ته

تشريح> سړې د خپلې ښځې او هغه وينځې ټول بدن کتلې شي.کومه چه دده دپاره حلال ده.که شهوت وي.اوکه نه وي.

دليله> د نبی کريم ﷺ حديث دې غُضَّ بَصَرَكَ إِلَّا عَنْ أَمَتِكَ وَامْرَأَتِكَ [1] چه خپل نظر ښکته کوه.مګر د خپلې وينځې نه، او د خپلې ښځې نه

سړې د خپلو محارمو ښځو کوم اندامونه کتلې شي اوکوم نشی کتلې؟

وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنْ ذَوَاتِ مَحَارِمِهِ إِلَى الْوَجْهِ وَالرَّأْسِ وَالصَّدْرِ وَالسَّاقَيْنِ وَالْعَضُدَيْنِ او سړې دې ګوری د محارمو نه مخ، او سر، اوسينې، او پنډئ ،او متو طرف ته وَلَا يَنْظُرُ إِلَى ظَهْرِهَا وَبَطْنِهَا وَفَخِذِهَا او نه دې ګوری د هغې شا او خيټه او ددې رون طرف ته

حل اللغة> ① **الوجه:** مخ ② **الصدر:** سينه ③ **الساقين:**تثنيه د ساق: پنډئ ④ **العضدين:** تثنيه د عضد: مټ ⑤ **ظهر:**شاه ⑥ **بطن:** خيټه

تشريح> تعريف المحرم> محرم هغه وي.چه ددې سړي او ښځې په منځ کښې نکاح نه جائز کيږي.که دا رشته د نسب وي.اوکه د سبب وي.او د سبب نه مراد رضاعت او مصاهرت (زوم جوړيدل) دي.ځکه چه دلته هم ضرورت دې.او د رغبت کموالې دې.بيا که مصاهرت د نکاح په وجه قائم شوې وي.اوکه د زنا په وجه، د ذکر شوی دليل په وجه.

کومې ښځې چه د سړي محرم دي.د هغوی مخ، سر، سينه، پنډئ او متې کتلې شي.او خيټه او شا او رون نشی کتلې.

---

[1]) من حديث بهزبن حكيم عن أبيه عن جده معاوية بن حيدة ﷺ أخرجه أبوداود فى الحمام باب ۲ رقم ۴۰۱۷ والترمذى فى الأدب باب ۲۲ رقم ۲۷۶۹ وابن ماجه فى النكاح باب ۲۸ رقم ۱۹۲۰ والنسائى فى السنن الكبرى (۵\۳۱۳) رقم ۸۹۷۲)۔

دلائله ① د الله تعالی ارشاد دې وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ ﴾ الآية په دې آيت کښې خپلو محارمو دپاره د زينت ښکاره کولو اجازت ورکړې شوې دې.او د زينت نه مراد ځايونه د زينت دی.او دا هم هغه ځايونه دی.کوم چه ذکر دی. او په دې کښې مروند، مرئ، غوږونه، او خپې داخل دی ځکه چه دا ټول د زينت ځايونه دی.لکه څنګه چه په دې ټولو ځايونو کښې د زيوراتو وغيره اغوستلو عام عادت دې.البته اوګې، شا او رون د زينت ځايونه نه دی.نو ددې د ښکاره کولو اجازت به نه ملاوېږی.

② د محارمو ته دکتلو عقلی دليل دې. چه داسې رشته داران بې اجازته د يو بل کورونو ته ورځی. نو که دې ځايونو ته کتل حرام شوې وې.نو ډير حرج (او تنګې) به لازم شوې وو.او د هميشوالی د حرمت په وجه رغبت کم وی.البته ددې نه علاوه نور ځايونه مثلاً خيټه، اوګې او رون، دې ته به کتل جائز نه وی.ځکه چه ددې د ښکاره کولو عادت نشته. او د زينت د ځايونو نه علاوه قرآن اجازت نه دې ورکړې.او دا د زينت ځايونه نه دی.،، کما مر،،

د خپلو محارمو د بدن کومو ځايونو ته لاس اوړل جائز دی

وَلَا بَأْسَ او هيڅ باك نشته بِأَنْ يَمَسَّ مَا جَازَلَهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهِ مِنْهَا چه دې لاس اولګوی د محارمو هغه حصې ته کومې حصې ته چه کتل جائز دی

تشريح د خپلو محارمو څومره بدن کتل چه جائز دی.هغې ته لاس لګول هم جائز دی.

دليله ځکه چه د محرميت رشتې په وجه شهوت کم دې.او د سفر کولو په حالت کښې د لاس لګولو ضرورت راپيښيږی.البته د پردئ ښځې مخ او لاس کتل جائز وو.خو لاس اوړل جائز نه دی.ځکه چه هلته شهوت کامل دې.

د بل کس د وينځې دڅومره حصې کتلو ګنجائش شته؟

وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنْ مَمْلُوكَةِ غَيْرِهِ إِلَى مَا يَجُوزُ لَهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهِ مِنْ ذَوَاتِ مَحَارِمِهِ او ګوری دې سړې د پردئ وينځې هغه ځائې ته کوم ځائې ته چه دې کتلې شی.د خپلو محارمو نه

تشريح سړې چه د خپل ذی رحم محرم ښځو څومره بدن کتلې شی.دغومره بدن د پردئ وينځې کتلې شی.

دليله ځکه چه دا وينځه د خپل مولا په کار(خدمت) کښې بهر ته اوځی.او د خپل مولا د ميلمنو خدمت کوی.او هغه د خپل کار په کپړو کښې وی.نو لکه څنګه چه د محارمو په حق کښې د آزادې ښځې حال دې، په کور کښې دننه اوسيدو سره، هم دغه حال د وينځې د کور نه بهر دې.

د وينځې اخستلو دپاره لاس لګول هم جائز دی

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَمَسَّ ذَلِكَ إِذَا أَرَادَ الشِّرَى او هيڅ باك نشته.ده ته لاس لګول (هغه ځايونوته د کوموکتل چه جائز دی) کله چه دې د اخستلو اراده کوی .وَإِنْ خَافَ أَنْ يَشْتَهِيَ اګرچه دې د شهوت يره لری

تشريح نفس مسئله آسانه ده.

دليله ځکه چه شهوت سره لاس لګول معنا جماع ده.چه ددې اجازت نشته.البته شهوت سره کتل جماع نه ده.نو د رومبی (لاس لګولو) اجازت نشته.او د دويم (دکتلو) اجازت دې.او که د اخستلو اراده نه وی.نو لاس لګول او کتل به هله جائز وی.چه شهوت نه وی.

مسئله د ضرورت په وجه لاس لګول جائز دی.چه دده د بدن نرمی معلومه شوی.او دا صحيح غرض دې.بعضو حضراتو وئيلی دی.که شهوت وی.نو زمونږ په زمانه کښې لاس لګولو ته جائز نشی

ونيلي.اوپه ،، اختيار شرح مختار ،، كښې هم په دې جزم ښكاره كړې دې.

خصي دپاره پردئ ښځې طرف ته دکتلو حکم

وَالْخَصِيِّ فِي النَّظَرِ إِلَى الْأَجْنَبِيَّةِ كَالْفَحْلِ او خصى (چه هگئ ئې تكولې شوې وى) پردئ ښځې طرف ته په كتلو كښې دنر پشان دې

حل اللغة ﴿ ① **الخصي**: هغه څوك چه هگئ ئې تكولې شوې وى ② **فحل**: نر

تشريح ﴿ پردئ ښځې ته په كتلو كښې چه كوم حكم د نر دې.هم هغه د خصى دې.

دليله ﴿ د حضرت عائشې رضي الله عنها فرمان په دې دلالت كوى.چه دا مثله كول دى.نو دا جائز نه دى.نو ددې ناكاره فعل په وجه هغه كار نشي جائز كيدې.كوم چه ددې نه وړاندې حرام دې.او خصى هم نر دې.جماع كولې شى. [1]

غلام دپاره خپله مالكه كتل جائز نه دى

وَلَا يَجُوزُ لِلْمَمْلُوكِ او غلام دپاره جائز نه أَنْ يَنْظُرَ مِنْ سَيِّدَتِهِ .دا چه اوگورى خپلې مالكې ته إِلَّا مَا يَجُوزُ لِلْأَجْنَبِيِّ النَّظَرُ إِلَيْهِ مِنْهَا مگر دومره حصه چه ددې خومره حصه چه پردې سړې كتلې شى.

تشريح ﴿ غلام د خپلې مالكې صرف دومره بدن كتلې شى.لكه څومره چه بل اجنبى سړې كتلې شى. [2]

دليله ﴿ څكه چه رشته د محرميت نشته.بلكه فى الجمله غلام ددې سره د نكاح صلاحيت لرلې شى.چه هغه آزاد كړى.نو نكاح به جائز وى.او شهوت هم پوره دې.او غلام داسې نر دې.چه دې نه محرم دې.او نه خاوند دې.او دلته ضرورت هم نشته.څكه چه غلام خو دكور نه د بهر كار كوى.نو بيا د داخليدو ضرورت نشته.

د وينځې او ښځې نه عزل دپاره د اجازت حكم

وَيَعْزِلُ عَنْ أَمَتِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهَا او عزل كولې شى.خپلې وينځې سره بغير دهغې اجازت نه

حل اللغة ﴿ ① **العزل**: چه كله انزال كيږى نوذكر د فرج نه راوباسى اوبهر انزال اوكړى]

تشريح ﴿ كه خپلې ښځې سره عزل كول اوغواړى.نو ددې د اجازت نه بغير نشى كولې.

دليله ﴿ نبى كريم ﷺ د وينځې په باره كښې د هغې مالك ته فرمائيلى وو اعْزِلْ عَنْهَا إِنْ شِئْتَ [3] كه ته غواړې.نو ددې سره عزل كوه.

وَلَا يَعْزِلُ عَنْ زَوْجَتِهِ او عزل به نه كوى.خپلې ښځې سره إِلَّا بِإِذْنِهَا خو دهغې په اجازت سره (كولې شى).

ترجمه ﴿ او خپلې وينځې سره د هغې د اجازت نه بغير عزل جائز دې.

---

[1] قال الزيلعي رحمه الله غريب واخرج ابن أبي شيبة في مصنفه عن ابن عباس رضي الله عنهما ..قال خصاء البهائم مثلة ثم تلا (ولآمرنهم فليغيرن خلق الله) (نصب:٤\٢٥٥)ـ

[2] **مسلك مالك**:- امام مالك رحمه الله فرمائى چې غلام د خپلې مالكې دپاره د محرم پشان دې.نوچې كومو خايونو ته محرم كتې شى هغې ته غلام هم كتې شى.

[3] من حديث جابر رضي الله عنه اخرجه مسلم في الطلاق رقم ٢٤ وابوداود في النكاح با ب٤٨ واحمد في المسند(٣\٣١٢)ـ

تشریح ﴿ ① د آزادې ښځې په باره کښې نبی کریم ﷺ د عزل کولو نه منع فرمائيلي ده[1] ② په وطی کولو کښې د آزادې ښځې حق دې.په دې وجه هغه د وطی مطالبه کولې شی.د شهوت پوره کولو دپاره هم،او د بچی حاصلولو دپاره هم، نو هرکله چه ددې (آزادې) حق دې.نو خاوندته به حق نه وی،چه ددې داجازت نه بغیر ددې په حق کښې نقصان اوکړی.

په غله او د څاروو په خوراکه کښې د احتکار(ستور کولو) حکم

وَيُكْرَهُ الِاحْتِكَارُ فِي أَقْوَاتِ الْآدَمِيِّينَ وَالْبَهَائِمِ احتكار (غله د ګران والی په انتظار کښې جمع ساتل) مکروه دی.د انسانانو په غذاګانو کښې، او د څاروو په غذاګانو کښې إِذَا كَانَ ذَلِكَ فِي بَلَدٍ يَضُرُّ الِاحْتِكَارُ بِأَهْلِهِ کله چه دا په داسې ښار کښې وی.چه احتکار ددې د اوسیدونکو دپاره مضر وی

حل اللغة ﴿ ① **الاحتکار**: د ګران والی دپاره غله ذخیره کول ② **بلد**: ښار

تشریح ﴿ د انسانانو او د څناورو د خوراك څیزونه په دې نیت باندې ذخیره کول چې قیمت به ئې زیات شي او د دغه ښار خلقو ته د دغه څیز ضرورت هم وی نودا عمل مکروه دې.اوکه دده په احتکار بآندې خلقو ته څه ضرر نه رسی نو بیا په احتکار کښې څه ګناه نشته.

دلائله ﴿ ① د نبی کریم ﷺ حدیث مبارك دې وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُونٌ [2] یعنی کوم کس چې احتکار کوی په هغه د الله تعالی لعنت دې.

② دویم عقلی دلیل دا دې چه دې سره د خلقو حق متعلق شوې دې.نو ددې په نه خرڅولو سره د عوامو حق باطلول او دوی پریشانه کول دی.نو د ضرر په صورت کښې دا مکروه دی.اوکه په څه وجه ضرر نه متعلق کیږی.نو مکروه نه دې.څکه چه مالك خپل ملکیت منع کړې (او جمع ساتلې) دې.چه ددې هغه ته حق شته.او چاته د نقصان رسولو نه بغیر ئې منع کړې دې.یاد ساتئ: چه احتکار چه کله د ښار د خلقو دپاره مضر وی.نو مکروه تحریمی دې.اوکه د ښار خلقو له مضر نه وی.نو مکروه نه دې.

د خپلې زمکې د غلې احتکار کولو حکم

وَمَنِ احْتَكَرَ غَلَّةَ ضَيْعَتِهِ او چا چه د خپلې زمکې غله بنده اوساتله أَوْمَا جَلَبَهُ مِنْ بَلَدٍ آخَرَ یا کومه غله چه ده دبل ښار نه راوړلې ده.(او هغه ئې بنده اوساتله). فَلَيْسَ بِمُحْتَكِرٍ نو دې محتکر (جمع کونکې نه دې .

حل اللغة ﴿ ① **ضیعة**: زمکه ② **بلد**: ښار]

تشریح ﴿ کوم کس چه دخپلې زمکې غله بنده اوساتی.نو دې به احتکار کونکې نه شمارلې کیږی.

دلیل عدم الاحتکار الصورة الاولی ﴿ څکه چه دا خالص دده حق دې.چه په دې کښې دعامو خلقو حق نه متعلق شوې.څکه که ده پخپله زمکه کښې غله نه کرله.نو ده ته حق وو.دغه شان ده ته د نه خرڅولو هم حق شته.

---

[1] من حديث عمربن الخطاب ﷺ اخرجه ابن ماجه في النكاح باب ٣ واحمد في المسند(١\٣١) والبيهقي في السنن الكبرى (٧\٢٣٦) رقم ١٤٣٢٤)۔

[2] من حديث عمربن الخطاب ﷺ اخرجه ابن ماجه في التجارات باب ٦ رقم ٢١٥٣) ومسلم في التوبة رقم ٥٣ وابوداود في الجهاد باب ١٦ واحمد في المسند(٣\٤٥٩)۔

دليل عدم الاحتكار الصورة الثانية خکه چه د عامو خلقو حق دې غلې سره متعلق وی.کوم چه ښار کښې جمع کړې شی وَجُلِبَ اِلَى فِنَائِهَا اوکوم چه د ښار په احاطه کښې راوړلې شی کومه غله چه ښار ته دبل ځائې نه راوړلې شی.او هلته راوړلو سره خرخولې شی.او څوک دا واخلی.او بنده ئې اوساتی.نو دا مکروه دی.او که د بل يو ښار نه غله راوړی.او جمع ئې کړی.نو دا دامام صاحب رحمه الله په نيز احتکار نه دې.

بادشاه دپاره د څيزونو لرخولو مقررولو حکم

وَلَا يَنْبَغِي لِلسُّلْطَانِ اَنْ يُسَعِّرَ عَلَى النَّاسِ او بادشاه دپاره مناسب نه دی.چه په خلقو باندې نرخ مقرر کړی.

حل اللغة ① **المسعر:** گرانی راوستونکې ② **السلطان:** بادشاه ③ **القابض:** بندونکې]

تشريح بادشاه دې کنټرول ريټ نه مقرر کوی.

دليله د نبی کريم ﷺ فرمان دې لَا تُسَعِّرُوا فَاِنَّ اللهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الرَّازِقُ[1] چه تاسو نرخ مه مقرر کوئ الله تعالى نرخ مقرر کونکې دې تنگی او فراخی ورکونکې رزاق دې

د جنګ په ورځو کښې وسله خرخول مکروه دی

وَيُكْرَهُ بَيْعُ السِّلَاحِ فِي اَيَّامِ الْفِتْنَةِ چه د فتنې (فساد) په وخت وسله خرخول مکروه دی

تشريح کله چه بعضو خلقو د عادل امام په باره کښې دده خلاف بغاوت راپورته کړو.نو په داسې ورځو کښې د فساديانو او باغيانو په لاس وسله خرخول مکروه دی.خو کله چه دا معلومات وی.چه دې د باغيانو ځنې دې.

دليله ځکه چه دا په گناه باندې امداد کول دی.او د الله تعالى فرمان دې (وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ) اوکه دا معلومه نه وی.چه دې د باغيانو ځنې دې.نو بيا دده په لاس وسله خرخولو کښې هيڅ باک نشته.ځکه کيدې شی.چه هغه دا په فتنه کښې استعمال نکړی.نو مقابل طرف ته صرف شک دې.او د شک په بنياد به بيع ته مکروه نشی ونيلې.دا مسئله [هدايه په دويم جلد کښې] تيره شوې ده.

د انګورو شيره خرخول جائز دي

وَلَا بَاْسَ بِبَيْعِ الْعَصِيْرِ او د انګورو په شيرې خرخولو کښې هيڅ باک نشته مِمَّنْ يُعْلَمُ هغه سړی په لاس چه د هغه په باره کښې معلومه وی اَنَّهُ يَتَّخِذُهُ خَمْرًا.چه هغه به ددې نه شراب جوړه وی

حل اللغة ① **العصير:** دانګورو جوس

تشريح د يو سړی په باره کښې دا معلومه ده.چه هغه به د انګورو د شيرې نه شراب جوړه وی.ددې باوجود هم د هغه په لاس د انګورو شيره خرخول جائز دی.

دليله ځکه چه گناه شرابو سره متعلق ده.او شراب به ددې د بدلولو نه پس جوړيږی.په خلاف د وسلې، ځکه چه گناه وسلې سره د بدلولو نه بغير قائميږی.په دې وجه د فتنې په ورځو کښې د وسلې بيع مکروه ده.او د انګورو د شيرې بيع جائز ده.

---

[1]) من حديث انس رضي الله عنه اخرجه ابوداؤد فى البيوع باب ۴۹ رقم ۳۴۵۱ والترمذی فى البيوع باب ۷۳ وابن ماجه فى التجارات باب ۲۷ رقم ۲۲۰۰.

كِتَابُ الْوَصَايَا

ترجمه> (دا) كتاب د وصيتونو(په بيان كښي) دې.

الالفاظ الاصطلاحية> ① **موصي:** وصيت كونكې، ② **موصي له:** هغه سړې چا دپاره چه وصيت اوكړې شي ③ **موصي به:** هغه څيز د كوم چه وصيت اوكړې شي.

حكمها> اودوصيت حكم دا دې.چه موصى له د موصى به په ملك جديد سره مالك كيږي.لكه څنګه چه د هبې په صورت كښي موهوب له مالك كيږي.او موصى د موصى له قائم مقام جوړيږي.

شروطها> د وصيت دپاره يو څو شرطونه دي ① موصى ته دا اهليت وي.چه هغه په چا باندې تبرع او احسان كولې شي.

② موصى قرضدار نه وي.

③ د وصيت په وخت موصى له ژوندې وي.اګرچه هغه اوس د مور د خيټې نه پيدا شوې نه وي.يعنى د جنين دپاره هم وصيت جائز دې.په دې شرط چه هغه د وصيت په وخت يقيناً په خيټه كښي موجود وي.يعنى د وصيت نه شپږ مياشتو كښي پيدا شي.

④ موصى له د موصى وارث نه وي.

⑤ موصى له د موصى قاتل نه وي.

⑥ موصى به قابل تمليك وي.

⑦ د تركې د دريمې نه د زيات وصيت نه وي.

د وصيت شرعي حيثيت

(اَلْوَصِيَّةُ غَيْرُ وَاجِبَةٍ وَهِيَ مُسْتَحَبَّةٌ) چه وصيت واجب نه دې.مستحب دې

تشريح> وصيت واجب نه دې.بلكه دا مستحب دې.

وجه الاستحسان> د وصيت جواز د استحسان په وجه دې .ځكه چه خلقو ته ددې حاجت دې.لكه څنګه چه خلقو ته د اجارې حاجت دې. وجه ددې دا ده.چه انسان اميدونو راګير كړې دې.چه ددې په وجه دې ډيرې زياتې كوتاهيانې كوي.خو كله چه په مرض كښي راګير شو.نو اوس دې خپيمانه شو.نو شريعت هغه ته اجازت وركړو.چه د اميدونو په چكر كښي چه د مال په باره كښي كومې كوتاهيانې شوي دي.هغه پوره كړه.كه هغه په دې مرض كښي مړ شي.نو د آخرت مقصد به ئې پوره شي.اوكه مړ نشي.نو په دنياوى مقصدونو كښي به ئې اوس استعمال كړي.او فائده به حاصله كړي.او په وصيت كښي هم دا كيږي.په دې وجه دا وصيت جائز ګرځولې شوې دې.

القياس> او د قياس تقاضا دا ده.چه وصيت جائز نه وي.ځكه چه موصى موصى له په داسې وخت مالك جوړوي.كله چه موصي پخپله هم مالك نه وي.اوكه د يوكس ملكيت باقى وي.خو هغه د ملكيت نسبت راروانې زمانې طرف ته اوكړي.او داسې اووائى.چه ته ما ددې څيز صباله مالك جوړ كړې.نو دا تمليك باطل دې.حالانكه د مملك ملكيت نن هم شته.او صباله هم شته. ددې باوجود دا باطل ګرځولې شوې دې.نو هركله چه د مرګ نه روستو د سره ملكيت پاتې نه وي.نوهلته خو په درجه اولى باطليدل پكار دي.بهرحال د قياس تقاضا دا وه.خو قياس پريخودې شو.

(وَلَاتَجُوْزُ الْوَصِيَّةُ لِوَارِثٍ)او جائز نه دې وصيت دپاره د وارث

تشریح> د وارث دپاره وصیت جائز نه دي

دلیله> ځکه چې نبی کریم ﷺ د دې نه منع کړې ده ﴿أَلَا لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ﴾(۱) یعني خبردار د وارث دپاره وصیت نشته.دا نفی ده خو په حکم د نهی کښې ده.نوعدم جواز فائده کوی.

مریض د خپل څومره مال پورې وصیت کولې شي؟

وَلَا يَجُوزُ بِمَا زَادَ عَلَى الثُّلُثِ)او دغه شان د ثلث مال نه زیات کښې وصیت جائزنه دي.

تشریح> د مرض الموت مریض ته دمال حق دریمې حصې مال پورې دې.نو دریمې حصې پورې هغه تصرف کولې شي.ددې نه په زیات کښې وصیت کول جائز نه دي.

دلیله> ځکه چه حدیث کښې د حضرت سعد بن وقاص ؓ تفصیلي واقعه موجود ده.چه په هغې کښې نبی کریم ﷺ د پوره مال وصیت نه او د نیم مال د وصیت نه منع فرمائیلې ده.او په دریمه حصه مال کښې ئې د وصیت کولو اجازت ورکړې وو.او ورسره ئې دا هم فرمائیلی وو.چه داسې (وصیت کول) په ثلث کښې هم زیات دي.

د دریمې حصې نه زیات وصیت د وارثانو په اجازت باندې موقوف دې

إِلَّا أَنْ يُجِيزَهُ الْوَرَثَةُ بَعْدَ مَوْتِهِ.خو دا چه وارثان ددې (دریمې نه د زیات) اجازت ورکړي.

تشریح> د وارث دپاره وصیت کول دغه شان د دریمې نه د زیات مال وصیت کول جائز نه دې.خو که مریض د وارث دپاره یا د دریمې حصې نه د زیات وصیت اوکړو.او د هغه د مرګ نه روستو وارثانو د هغې اجازت ورکړو.او وارثان بالغ وی.نو بیا جائز دي.

دلیله> ځکه چه ددې وصیت ممتنع کیدل، د وارثانو د حق په وجه وو.او هرکله چه هغوی خپل حق ساقط کړو.نو جائز دي.

قاتل دپاره وصیت کول څنګه دي؟

وَلَا تَجُوزُ الْوَصِيَّةُ لِلْقَاتِلِ او جائزنه دي وصیت قاتل دپاره

تشریح> قتل د ارث دپاره د منعې سبب نه دې.ګڼی که قتل عمداً وی اوکه خطا سره وی.دا د ارث نه مانع دې. (۲)

دلائله> ① ځکه چه دې کښې صفا حدیث موجود دې. (لاوصیة للقاتل....)د قاتل دپاره وصیت نشته.
② دویمه وجه دا ده. چه قاتل موصی قتلولو سره د وصیت مال په جلتۍ سره اخستل غواړی.حالانکه شریعت دا فیصله کړې ده.چه دا مال به د موصی د مرګ نه پس ملاویږی.نو داسې جلدباز بالکل محرومولې شی.لکه څنګه چه هم په دې سبب سره وارث د میراث نه محرومولې شي.

---

۱) من حدیث أبي أمامة ؓ اخرجه أبوداود في الوصایا باب ٦ رقم (٢٨٦٩)۔

۲) د امام شافعي ؒ په نیز که موصی د یوکس دپاره وصیت اوکړو او بیا هغه موصی له راولړیدو دې ئې قتل کړو یا یو کس په بل باندې ګذار اوکړو او د ګذار نه پس هغه د دې ضارب دپاره وصیت اوکړو او هم د دغه ضرب نه مړشو نو په دواړو صورتونو کښې وصیت جائز دي.

د مسلمان او ذمي د يو بل دپاره د وصيت كولو حكم

(وَيَجُوزُ أَنْ يُوصِيَ الْمُسْلِمُ لِلْكَافِرِ وَالْكَافِرُ لِلْمُسْلِمِ) او جائز دي چه وصيت اوكړي مسلمان كافر دپاره، اوكافر د مسلمان دپاره

تشريح> كه مسلمان كافر دپاره او كافر د مسلمان دپاره وصيت اوكړي.نوجائز دي.

دليله> خكه چه وصيت يو تبرع (احسان) دي.او ذميان هم د تبرع او احسان قابل دى.الله تعالى فرمانيلى دى (لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ)

الله تعالى تاسو ته هغه خلقو سره د نيكئ او د انصاف سلوك كولو نه نه منع كوى.چه هغوى نه د دين په باره كښي تاسو سره جنګ كوى.او نه هغوى تاسو د ستاسو د كورونو نه اوبنكلى يئ،، نو په دې آيت كښي د ذميانو دپاره په ژوند كښي د تبرع او احسان جواز ثابت شو.او ورسره دا هم ثابته شوه.چه ددوى دپاره وصيت هم جائز دي.

عدم جوازالوصية للكافرالحربي> البته هغه كافر حربى كوم چه دارالحرب كښي دې.هغه دپاره وصيت باطل دي.البته كه هغه مستامن وى.نو دهغه حكم هم د ذمي پشان ذي.

دليله> (إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ) الله تعالى تاسو د هغه خلقو سره د دوستئ كولو نه منع كوى.كوم خلق چه تاسو سره د دين په باره كښي جنګ كوى.او تاسو ئې ستاسو د كورونو نه اوبنكلئ.او ستاسو په ويستلو كښي شريك شو.

الاستدلال> ددې آيت نه چه لكه خنګه دا معلومه شوه.چه حربيانو سره دوستى كول ممنوع دى.دغه شان دا هم معلومه شوه.چه ددوى دپاره وصيت كول باطل دى.او بيا وصيت د ژوندو دپاره وى.او زمونږ په نيز حربى د مړى په درجه كښي دې.نو دده دپاره وصيت خنګه جائز كيدې شى.

د مرګ نه روستو د وصيت قبلولو يا رد كولو حكم

(وَقَبُولُ الْوَصِيَّةِ بَعْدَ الْمَوْتِ) او د وصيت قبلول د مرګ نه پس دى (فَإِنْ قَبِلَهَا الْمُوصَى لَهُ فِي حَالِ الْحَيَاةِ أَوْ رَدَّهَا فَذَلِكَ بَاطِلٌ) نو كه موصى له د موصى په ژوند كښي وصيت قبول كړو.يا ئې رد كړو.نو دا باطل دي.

تشريح> په ميراث كښي دا شرط نشته.چه وارث ئې قبول هم كړى.خكه چه ميراث كښي اسباب نه وى.چه ددې د قبلولو حاجت راپيښ شى.بلكه ارث خو په طريقه د خلافت دې.او په هبه كښي چه لكه خنګه ملك جديد حاصليږى.دغه شان په وصيت كښي هم ملك جديد حاصليږى.نو په وصيت كښي د وصيت د جواز دپاره اګرچه د موصى له قبلول شرط نه دى.خود موصى به د مالك كيدو دپاره د موصى له قبلول شرط دى.

دليله> ددې تفصيل نه معلومه شوه.چه د موصى له د مملوك كيدو دپاره د موصى له د طرفه قبلول پكار دى.خو دا قبلول د موصى د مرګ نه پس كيدل پكار دى.د موصى په ژوند كښي چه كوم قبلول او ردكول موصى له كړى دى.د هغې هيڅ اعتبار نشته.خكه چه لكه خنګه د هغه قبلولو هيڅ اعتبار نشته .كوم عقد چه د وصيت نه وراندې وى.دغه شان د هغه قبلولو اعتبار نشته.كوم چه د وصى په ژوند كښي وى.ددې وجه ښكاره ده.چه د وصيت د حكم ثبوت د مرګ نه پس دې.نو قبلول به هم دغه وخت معتبر وى.

صورة الجواز> البته بعضې صورتونه داسې دى.چه١ د موصى له د قبلولو نه بغير استحسانا جائز

دی.لکه مثلاً د وصیت نه روستو د موصی انتقال اوشی.بیا د قبلولو او رد کولو نه بغیر د موصی له هم انتقال اوشی.نو استحساناً به موصی به د موصی له د وارثانو وی. (دسیجین تکمیله)

د دریمې حصې مال نه کم کښې د وصیت کولو د استحباب بیان

وَيُسْتَحَبُّ اَنْ يُوصِيَ الْاِنْسَانُ بِدُونِ الثُّلُثِ)مستحب دی.چه انسان د ثلث نه دکم وصیت اوکړی.

تشریح> شریعت انسان لره دده د ژوند په آخری لمحاتو کښې پخپل دریمه حصه مال کښې د تصرف اختیار ورکړې دې.نو په دریمه حصه کښې دده دپاره وصیت کول جائز دی.خو هغه دپاره مستحب دا دی. د پوره دریمې وصیت اونکړی.بلکه د کم وصیت اوکړی.

دلیله> ځکه چه د کم وصیت کولو په صورت کښې چه کوم مال دده خپلو وارثانو دپاره پریخودې دې.نو په دې کښې خپلوانو او رشته دارانو سره سلوك او صله رحمی ده.چه دا محمود فعل دې.اوکه دده پوره دریمې وصیت اوکړو.نو ده خپل حق وصول کړو.نو دا هیڅ صله رحمی، او احسان او حسن سلوك نه دې.بهرحال د ثلث نه د کم وصیت دې اوکړی.

د موصی په وړاندې د وصیت قبلولو نه پس دده په غیر موجودګئ کښې د رد کولو حکم

وَاِذَا أوْصَى اِلَى رَجُلٍ اوکله چې يوکس وصی جوړ کړو فَقَبِلَ الْوَصِيَّةَ فِي وَجْهِ الْمُوصِي نو وصی، وصی جوړيدل د موصی په وړاندې قبول کړو وَرَدَّهَا فِي غَيْرِ وَجْهِهِ فَلَيْسَ بِرَدٍّ او وصی د موصی په غير موجودګئ کښې وصی جوړيدل رد کړل.نو نه رد کيږی

تشریح> زید خپل مرګ ته نیزدې خالد خپل وصی جوړ کړو.او خالد دا ذمه داری قبوله کړله.یعنی د موصی په وړاندې خالد قبوله کړله.او بیا ئې د هغه په غیر موجودګئ کښې وصی جوړیدل رد کړل.نو وصی جوړیدل به نه رد کیږی.

دلیله> ځکه چه زید خو په خالد باندې اعتماد کولو سره د دنیا نه رخصت شوې دې.نوکه د خالد ردکول معتبر شی.نو په دې کښې سخت ضرر دې.او په دې کښې زید ته دهوکه ورکول دی.او دهوکه ورکول حرام دی.نو د زید دا ردکول به مردود وی.

د موصی په وړاندې د ردکولو حکم

فَاِنْ رَدَّهَا فِي وَجْهِهِ فَهُوَ رَدٌّ نوکه وصی، وصی جوړيدل د موصی په وړاندې رد کړو.نو دا به رد وی

تشریح> که خالد د زید په وړاندې وصی جوړیدل رد کړل.نو رد به وی.ځکه چه زید ته دا اختیار نشته.چه هغه په بل کس باندې دا تصرف لازم کړی.یعنی زید ته په خالد باندې د ولایت الزام حاصل نه دې.او کله چه خالد د زید په وړاندې رد کړو.نو په دې کښې د دهوکې هم څه خبره نشته.

دلیله> ځکه چه دلته زید بل څوك خپل وصی مقرر کولې شی.

د وصیت قبلولو نه بغیر د ملکیت مسئله

وَالْمُوصَى بِهِ يُمْلَكُ بِالْقَبُولِ)[1] او د موصی به د قبلولو په وجه ملکیت کښې راځی

تشریح> ددې مسئلې څه تفصیل اوس وړاندې تیر شوې دې.هلته فرمائیلی شوی وو.چه وصیت قبلول

---

[1] القول الراجح هوهذا قول الجمهور ﷺ كذا في الفقه الإسلامي (٢٢\٨) وردالمحتار(٤٦٥\٥) وملتقى (٤٢٠\٤) والهندية (٩٠\٦) نقلاً عن القول الراجح (٣٧٢\٢)- ح

د مرګ نه روستو معتبر دي.بهرحال زمونږ په نيز چه ترکومه پورې موصی له قبول نکړی.تر هغه وخته پورې به هغه د موصی به نه مالك کيږی.

دليله> دليل دا دې.چې په وصيت کښې د ملك جديد اثبات دې. ددې واضح دليل دا دې.که مريض موصی يو څيز واخستلو.او مثلاً د زيد دپاره ئې وصيت اوکړو.بيا زيد دا څيز عيب دار اوموندلو.نو زيد ته دا اختيار نشته.چه ددې عيب په وجه دا څيز د موصی بائع ته واپس کړی.او که يو مريض د خپل ټول مال وصيت اوکړو.مثلاً د زيد دپاره، بيا مريض د ترکۀ نه څه څيز خرڅ کړو.او مشتری په دغه څيز کښې عيب اوموندلو.نو مشتری ته به دا حق نه وی.چه دا موصی له ته واپس کړی. خلاصه د کلام داچه په وصيت کښې د ملك جديد اثبات دې.او هيڅ يوکس د چا ملکيت هغه وخته پورې نشی ثابتولې. ترکومه پورې ئې چه هغه قبول نکړی.

د وصيت قبلولو نه وړاندې د موصی له مرګيدو مسئله

إِلَّافِي مَسْأَلَةٍ وَاحِدَةٍ خو په يوه مسئله کښې (د موصی له په ملك کښې داخليږی). وَهِيَ أَنْ يَمُوتَ الْمُوصِي ثُمَّ يَمُوتَ الْمُوصَى لَهُ قَبْلَ الْقَبُولِ او هغه دا ده.چه موصی مړ شی.بيا د قبلولو نه وړاندې موصی له مړشی فَيَدْخُلُ الْمُوصَى بِهِ فِي مِلْكِ وَرَثَتِهِ نو موصی به د موصی له د وارثانو په ملکيت کښې داخليږی

تشريح> موصی به به هغه وخت د موصی له په ملکيت کښې داخليږی.کله چه د موصی له د طرفه قبول اوموندې شی.خو دا يوه مسئله استحساناً ددې اصولو نه مستثنی ده.او هغه دا ده.چه اول موصی مړشی .او تر اوسه پورې موصی له قبول کړې نه وو.چه هغه هم مړشو.نو دلته استحساناً دا حکم ورکړې شوې دې.چه د موصی له وارثان به د موصی به وارث وی

وجه الاستحسان> د استحسان دليل دا دې.چه د موصی د طرفه خو وصيت مکمل او پوره دې.نو دده د طرفه به وصيت نه فسخ کيږی.البته تر اوسه پورې چه کوم وصيت موقوف دې.دا د موصی له د حق په وجه دې.نو هغه ته اختيار دې.که غواړی.رد دې کړی.او که غواړی.اجازت دې ورکړی.خو هرکله چه د قبول نه وړاندې موصی له مړ شو.نو موصی پخپله دده په ملکيت کښې داخل شو.او ددې مثال بالکل داسې دې.لکه چه مشتری د خپل خان دپاره خيار شرط کړې وی.او تر اوسه پورې مشتری اجازت نه وو ورکړې.چه په دريو ورځو کښې دننه هغه مړ شو.نو بيع مکمل کيږی.او بيع د مشتری وارثانو دپاره کيږی.دغه شان دلته هم ده.

القياس> دلته د قياس تقاضا دا ده.چه وصيت باطل شی.ځکه چه د موصی له د طرفه قبول اونه موندې شو.نو ددې صورت داسې شو.لکه چه بائع ايجاب اوکړو.او مشتری تر اوسه پورې قبول کړې نه وو.چه دهغه انتقال اوشو.نو ايجاب باطل شو.دغه شان دلته کښې وصيت باطليدل پکار وو.خو مونږ قياس پريخودې دې.اوپه استحسان مو عمل کړې دې.

قاضی د يوغش وصی غلام، کافر او فاسق د وصيت نه اوبکلی شی

وَمَنْ أَوْصَى إِلَى عَبْدٍ أَوْ كَافِرٍ أَوْ فَاسِقٍ او کوم کس چه يو غلام، يا کافر يا فاسق وصی جوړ کړو أَخْرَجَهُمُ الْقَاضِي مِنَ الْوَصِيَّةِ وَنَصَبَ غَيْرَهُمْ نو قاضی به هغوی د وصی جوړيدو نه خارجوی.او ددوی نه به غير مقرر کوی

تشريح> که زيد د خالد غلام خپل وصی جوړ کړو.يا ئې يو کافر يا فاسق خپل وصی جوړ کړو.نو امام قدوری رحمه الله فرمائيلی دی.چه قاضی به دوی درې واړه د وصی جوړيدو نه خارجوی.او ددوی نه علاوه

به یوکس مقرر کوي.

دلیل صحة الوصیة والاخراج> ددوی دریو وارو په حق کښې وصیت ځکه صحیح ګرځولې شوې دې.چه په دې دریو وارو کښې اصل شفقت شته.خو په دې کښې نقصان او کمی ده.نو د اصل موجود کیدو په وجه صحت اوشو.او د نقصان موجود کیدو په وجه خارجول صحیح شو.اوس پاتې شوه دا خبره چه اصل قدرت څنګه شته.د دې تفصیل دا دې چه غلام ته داسې شته.چه هغه عاقل بالغ دې.نو هغه د تصرف اهل دې.او فاسق ولایت لرې.

او پاتې شو کافر نو فی الجمله هغه ته هم ولایت شته.مثلاً یو کافر یو مسلمان غلام واخستلو.نودهغه اخستل صحیح دی.او په غلام به د کافر مشتری ملکیت ثابت وی.او کافر مشتری ته به په دې غلام باندې ولایت حاصل وی.هغه بله خبره ده.چه په دغه کافر به ددې مسلمان غلام په خرڅولو باندې زبردستی کولې شی.بهرحال معلومه شوه.چه فی الجمله کافر ته هم ولایت شته.خو په دوی کښې د هیڅ یوکس شفقت کامل او تمام نه دې.ځکه چه د غلام ولایت خو د آقا په نظر او کرم باندې دې.که هغه اجازت ورکړی.نو باقی دې.ګنی ختم به وی.او د اجازت ورکولو نه پس هم چه کله آقا اوغواړی.هغه لره محجور علیه ګرځولې شی.او په کافر کښې د نقصان سبب دا دې.چه هغه کافر دې.چه هغه لره دینی دشمنی په دې خبره راپورته کوی.چه هغه مسلمان دپاره شفقت پریږدی.او په فاسق کښې دا کمی ده.چه هغه خیانت سره متهم دې.نو ددې وجوهاتو په بناء به قاضی دوی د وصی جوړیدو نه خارجوی.او ددوی په ځائې به بل څوك مقرروی.چه د شفقت پوره پوره خیال اوساتلې شی.

د خپل غلام د وصی جوړولو حکم

> **وَمَنْ أَوْصَى إِلَى عَبْدِ نَفْسِهِ** او چاچه خپل غلام وصی جوړ کړو **وَفِي الْوَرَثَةِ كِبَارٌ** او په وارثانو کښې بالغ خلق موجود وی **لَمْ تَصِحَّ الْوَصِيَّةُ** نو وصیت به صحیح نه وی

تشریح> که زید خپل غلام وصی جوړ کړو.نو که ټول وارثان بالغان وی یا په دوی کښې بعضې خلق بالغ وی.نوپه دې صورت کښې به وصیت صحیح نه وی.

دلیله> بالغ ته حق شته.چه هغه دا وصی غلام منع کړی.او تصرف ته نې پرې نږدی.ځکه چه دا بالغ دهغه مولا دې او ده ته پخپل غلام باندې ولایت حاصل دې.اودې غلام ته دا حق هم شته.چه هغه خپله حصه خرڅه کړی.نوکوم مشتری چه دده حصه اخستې ده.هغه دا غلام د تصرف نه منع کولې شی.نو په دې طریقه به دا وصی غلام د وصی جوړیدو د حق پوره کولو نه عاجز او قاصر وی.نو بیا به د وصی جوړیدو هیڅ فائده نه وی.

د وصیت د فرائضو پوره کولو نه د عاجز سړی د وصی جوړولو حکم

> **وَمَنْ اوصى الى مَنْ يَعْجِزُ عَنِ الْقِيَامِ بِالْوَصِيَّةِ** او چاچه داسې سړې وصی جوړ کړو.چه هغه د وصیت ادا کولو نه عاجز دې **ضَمَّ إِلَيْهِ الْقَاضِي غَيْرَهُ** نو قاضی به هغه طرف ته د هغه غیر ملاو کړی.

تشریح> زید خالد خپل وصی مقرر کړې وو.خو هغه د وصیت فرائض پوره کولو نه قاصر دې.یا عاجز دې.نو په داسې موقع باندې به قاضی هغه سره بل څوك ملاو کړی.

دلیله> چه د موصی او وارثانو دواړو رعایت اوشی ځکه چه په داسې کولو کښې به مکمل شفقت حاصلیږی.اوپه دې سره به د عاجز وصی حفاظت او صیانت هم کیږی.او په بعضو کارونو کښې به دویم دده کفایت کوی.نو کله چه دویم دده مددګار شو.نو شفقت تمام شوې دې.

د دوو سرو د وصي جوړولو حکم

وَمَنْ أَوْصَى إِلَى اثْنَيْنِ او چا چه دوه کسان وصي جوړ کړل لَمْ يَجُزْ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ دُونَ صَاحِبِهِ)[1] نوبه دوی کښې به يوکس دپاره دا جائزنه وی چه تصرف اوکړی د بل ملګری نه بغير، د طرفينو په نزد،

تشريح زيد، خالد او بکر دواړه خپل وصي جوړ کړل.نو اوس سوال دادې.چه د ټولو کارونو په تصرف کښې ددوی دواړو جمع کيدل ضروری دی. په انفرادی طريقه هيڅ يو ته حق نشته.چه هغه تصرف اوکړی.

دليلهما دليل دا دې.چه وصی ته کوم ولايت ملاو شوې دې.دا د موصی د تفويض (او سپارلو) په وجه ملاو شوې دې.نو ځنګه چه تفويض شوې دې.د هغې اعتبار به کولې شی.او کله چه موصی د ولايت تفويض اوکړو.نو د اجتماع وصف سره ئې کړې دې.نو د اجتماع د وصف رعايت به ساتلې شی.ځکه چه دا شرط مفيد هم دې.ځکه چه انفراد ته هغه قوت حاصل نه وی.کوم چه اجتماع ته حاصل وی.او دلته موصی د دوو په رائې سره راضی شوې دې.د يو په رائې سره نه دې راضی شوې.او يو د دوو پشان نشی کيدې.

مسلک ابي يوسف د امام ابويوسف رحمه الله په نيز حق شته چه يوکس د خپل ملګری نه بغير تصرف اوکړی.

دليله دليل دا دې.چه د وصی جوړيدو حاصل ولايت دې.يعنی موصی وصی ته د ولايت شرف ورکړې دې.او ولايت يو شرعی وصف دې.چه دا تجزی او انقسام نه قبلوی .نوهرکله چه ولايت تجزی نه قبلوی.نو هر وصی ته به پوره پوره ولايت حاصل وی.او هرکله چه پوره پوره ولايت حاصل شی.نو هر يو ته به د دويم (ملګری) نه بغير د تصرفاتو حق وی.لکه مثلاً يوه ښځه ده.او د هغې دوه رونړه دی.نو دواړه ته ددې په نکاح د ورکولو پوره ولايت دې.نو يو ته حق شته.چه د دويم رور نه بغير د خور نکاح اوکړی.نو دغه شان به دلته کښې هم دا حق وی.

إِلَّا فِي شِرَاءِ كَفَنِ الْمَيِّتِ وَتَجْهِيزِهِ خود مړی کفن اخستلو کښې، او دده په تجهيز کښې

تشريح په دې عبارت کښې د هغه کارونو ذکر کوی په کومو کښې چې هريو وصی ته اختيار شته چې د خپل ملګری نه بغير دغه کارونه اوکړی هغه دا دی

① که د مړی د کفن اخستلو ضرورت وی.نو يو وصی به ئې اخلی.انتظار به نشی کولې.چرته داسې اونشی.چه کومه پورې دويم وصی راځی.نو د مړی لاش خراب شی.ددې تاخير په وجه ګاونډيانو ته هم حق وی.چه هغوی مړی دپاره کفن واخلی. ② د مړی په تجهيز کښې به د دويم وصی انتظار نشی کولې.او په تجهيز کښې هغه ټول امور داخل دی.چه قبر کښې د مړی ايخودو پورې چه کومو څيزونو ته هغه محتاج دې.

دليله په دې کارونو کښې ورته ځکه د تصرف کولو اختيار شته.که د مړی د کفن اخستلو ضرورت وی.نو يو وصی به ئې اخلی.انتظار به نشی کولې.چرته داسې اونشی.چه کومه پورې دويم وصی راځی.نو د مړی لاش خراب شی.ددې تاخير په وجه ګاونډيانو ته هم حق وی.چه هغوی مړی دپاره کفن واخلی.

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في ردالمحتار(ص،٤٩٧) والهندية (١٣٩\٦) وملتقى (٤٥٦\٤) نقلا عن القول الراجح(٣٨٦\٢)-

وَطَعَامِ اولادہ الصِّغَارِ وَکِسْوَتِہِمْ هم په دې وجه د تاخير په وخت به ګاونډيان د تجهيز مالك وي. اودماشومانو خوراك،اوددوی په کپړو اخستلو کښي

تشریح﴾ ۞ که د موصی د ورو ماشومانو دپاره د خوراك اخستلو ضرورت راپيښ شي.نو يو وصی اخستلي شي.د دويم انتظار به نشي کولي.ګني ترکومه پورې چه د دويم انتظارکولي شي.خطره ده.چه د سختۍ اولږې د وجې نه دا بچي مره شي. ۞ دغه شان که د بچو دپاره د کپړو اخستلو ضرورت وي.نو ددې دپاره به د دويم وصی انتظار نشی کولي.

دلیله﴾ که په مذکوره دوو صورتونو کښې د بل وصی انتظار اوکړې شي.نو يره ده.چه بچي د بربنډ کيدو په وجه د ګرمۍ يايخنۍ د سختوالی برداشت اونکړې شي.او مره نشي.

دوارو وصيانو ته به د جدا جدا تصرف حکم کوم ځائې کښې وي؟

وَرَدِّ الْوَدِيعَةِ بِعَيْنِهَا او معين وديعت واپس کول،

تشریح﴾ که موصی سره د يو کس متعين وديعت وي.نو دهغې واپس کولو دپاره د دويم وصی د انتظار ضرورت نشته.

دلیله﴾ ددې کارونوخانله د جائز کيدو وجه دا ده.چه دا امور د باب د ولايت سره تعلق نه ساتي.ځکه چه کوم کس د موصی د طرفه ولايت نه دې حاصل کړې.دا امور هغه هم پوره کولي شي.ځکه چه کوم کس د وديعت مالك دې.کله چه هغه ته خپل سامان ملاو شي.نو هغه پخپله دا اخستلي شي.

وَتَنْفِيذِ وَصِيَّةٍ بِعَيْنِهَا وَعِتْقِ عَبْدٍ بِعَيْنِهِ او ځکه چه دې کښې رائې طرف ته حاجت نشته.او متعين وصيت نافذ کول، او متعين غلام آزادول

تشریح﴾ که د يومعين کس دپاره ئې وصيت کړې وي د هغې په نافذ کولو کښې به د دويم وصی د انتظار کولو ضرورت نه وي. او د يو معين غلام آزادی وي.هغه دپاره هم د وصی د انتظار کولو ضرورت نشته.

دلیله﴾ ځکه چه دې کښې هم د رائې هيڅ ضرورت نشته. يو سړی سره د مړی په حق کښې خصومت کول وي.نو يو وصی کولي شي.ځکه چه خصومت خو به د دوارو د جمع کيدو په صورت کښې هم يو وصی کوی.چه په مجلس د قضاء کښې د دوارو د جمع کيدو په وجه شور شغف جوړ نشي.په دې که د يوکس دوه وکيلان وي.بيا به هم خصومت يوکس کوی.

وَقَضَاءِ الدَّيْنِ او د قرضونو ادا کول

تشریح﴾ دغه شان کله چه قرضخواه ته د خپل حق جنس ملاو شي.نو هغه دا پخپله اخستلي شي.د يو وصی د موجودګۍ ضرورت نشته.

دلیله﴾ ځکه چه قرضخواه د هغه ځيز مالك جوړيږی.کله چه هغه د خپل مقروض نه يو داسې ځيز قبضه کړی کوم چې د هغه د حق دجنس نه وي

وَالْخُصُومَةِ فِي حُقُوقِ الْمَيِّتِ اود مړی په حق کښې خصومت کول

تشریح﴾ يا د قاضی په عدالت کښې ئې د مقدمه پيش کولو دپاره دوو کسانو ته وصيت اوکړو.نو اوس که يو کس د بل د حضور نه بغير مقدمه پيش کړه.نودا جائز ده.

دلیله﴾ ځکه که دواړه په عدالت کښې خبرې کوی نودا دعدالت د آدابو خلاف ده.نوبس چې يو کس مقدمه پيش کړه جائزده.

د دوو جدا جدا سړو دپاره د يو يو ثلث وصيت کولو حکم

وَمَنْ أَوْصَى لِرَجُلٍ بِثُلُثِ مَالِهِ او چاچه د يو سړي دپاره د خپل ثلث مال وصيت اوکړو.او د دويم کس دپاره ئې د خپل ثلث مال وَلِلْآخَرِ بِثُلُثِ مَالِهِ وَلَمْ تُجِزِ الْوَرَثَةُ فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ او وارثانو اجازت ورنکړو.نو ثلث به ددوی دواړو په منځ کښې (مشترك) وی

تشريح> وراندې تفصيلات تير شوی دی.چه که د دريمې حصې نه د زيات مال وصيت ئې اوکړو.نو د وارثانو اجازت سره دا (وصيت) نافذ کيدې شي.ګنی نشی نافذ کيدی.اوس اوګورئ.چه زيد د خپل ثلث مال وصيت خالد دپاره اوکړو.او د بکر دپاره ئې هم د ثلث مال وصيت اوکړو.نو ددې دواړو وصيتونو مال دوه ثلثه (دوه دريمې حصې) شو.او د وصيت نافذ کيدو محل صرف ثلث دې.او وارثانو د ثلث نه په زيات کښې اجازت ورنکړو.نو يو ثلث به د خالد او بکر په منځ کښې نيم په نيمه وی.

دليله> ځکه چه په يو ثلث کښې دومره وسعت او ګنجائش نشته.چه ددې نه هر يو ته پوره پوره ثلث ملاو شي.ځکه چه هرکله د وارثانو اجازت نه وی.نو وصيت په ثلث باندې نشی زياتيدی.او د استحقاق په سبب کښې دواړه برابر او مساوی دی.نو بيا به په استحقاق کښې هم دواړه برابر وی.او په ثلث کښې هم دا صلاحيت شته.چه په دې کښې شرکت کيدې شی.نو ثلث به ددوی دواړو په منځ کښې مشترك ګرځولې شی.

يو سړي دپاره د ثلث او دويم دپاره د سدس د وصيت کولو حکم

وَإِنْ أَوْصَى لِأَحَدِهِمَا بِالثُّلُثِ وَلِلْآخَرِ بِالسُّدُسِ او که په دوی دواړو کښې ئې يو دپاره د ثلث او دويم دپاره د سدس (شپږمې حصې) وصيت اوکړو فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا نو ثلث به ددوی دواړو په منځ کښې درې حصو سره تقسيمولې شي

تشريح> که موصی د خالد دپاره د ثلث مال وصيت اوکړو.او د بکر دپاره ئې د سدس (وصيت اوکړو).نو دده مال نصف شو.او نصف د وارثانو د اجازت نه بغير دوی ته نشی ورکولې.نو صرف ثلث به هم دوی دواړو ته ورکولې شی.ددې صورت به دا وی.چه خالد ته به د ثلث نه ۲/۳ او بکر ته به ۱/۳ ملاويږی.

دليله> ځکه چه د دواړو استحقاق د وصيت په ذريعه شوې دې.او دا صحيح سبب دې.او په ثلث کښې دومره وسعت نشته چه دا ددوی دواړو حق پوره کړی.

يو د پاره د ټول مال او دويم دپاره د ثلث د وصيت کولو حکم

وَإِنْ أَوْصَى لِأَحَدِهِمَا بِجَمِيعِ مَالِهِ او که موصی په دوی دواړو کښې د يو دپاره د خپل پوره مال وصيت اوکړو وَلِلْآخَرِ بِثُلُثِ مَالِهِ او د دويم دپاره ئې د خپل ثلث مال وصيت اوکړو وَلَمْ تُجِزِ الْوَرَثَةُ او وارثانو ددې اجازت ورنکړو فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا عَلَى أَرْبَعَةِ أَسْهُمٍ عِنْدَ أَبِي يوسف ومحمد نو د صاحبينو رحمهماالله په نيز به ثلث ددوی دواړو په منځ کښې څلورو حصو باندې (تقسيمولې) شي

تشريح> زيد د خالد دپاره د خپل پوره مال وصيت اوکړو.او د بکر دپاره ئې د ثلث مال وصيت اوکړو.نو وارثانو اجازت ورنکړو.نو په دې کښې اختلاف دې. حضرات صاحبين رحمهماالله دا فرمائی.چه د ثلث به څلور حصې کولې شی.بيا به په دې کښې درې حصې خالد ته او يوه به بکر ته ورکولې شی.

دليلهما> د صاحبينو رحمهماالله دليل دا دې.چه په مذکوره صورت کښې د موصی اراده د دوو څيزونو

ده. ① دا چه هغه د ټول مال يوکس مستحق جوړول غواړي.خو دده دا اراده د وارثانو د حق په وجه نشي پوره کيدې. ② دويمه اراده ئې دا ده.چه هغه خالد ته په بکر باندې ترجيح ورکول غواړي.نو ددې تفضيل او ترجيح ورکولو نه هيڅ مانع موجود نه دې.نو تفضيل به ثابتيږي.لکه څنګه چه په محابات وغيره کښې تفضيل ثابت شوې دې.

وَقَالَ أَبُوحَنِيفَةَ: اَلثُّلُثُ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ ()[1] او امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائيلي دي.چه ثلث به دوی دواړو په منځ کښې نيم په نيمه وي

تشريح> مسلک ابي حنيفة> او د امام صاحب رحمه الله په نيز په ذکر شوی صورت کښې به دواړه په ثلث کښې برابر شريك وي.

دليله> دا د امام صاحب رحمه الله دليل دې.ددې حاصل دا دې.چه کله وارثانو اجازت ورنکړو.نو د دريمې حصې نه زيات وصيت مشروع نه دې.ځکه چه د وارثانو د اجازت نه بغير د ثلث نه زيات کښې ددې د نافذ کولو هيڅ صورت نشته.نو د ثلث نه په زيات کښې وصيت بالکل باطل شو.او هرکله چه زياتوالې باطل شو. نو په دواړو کښې برابري پاتې شوه.

وَلَا يَضْرِبُ أَبُوحَنِيفَةَ لِلْمُوصَى لَهُ بِمَا زَادَ عَلَى الثُّلُثِ إِلَّا فِي الْمُحَابَاةِ وَالسِّعَايَةِ وَالدَّرَاهِمِ الْمُرْسَلَةِ او امام ابوحنيفه رحمه الله د موصى له په حق کښې د ثلث نه په زيات کښې د تناسب لحاظ نه کوي.خو په محابات کښې، او په سعايه کښې او په دراهم مرسله کښې.

تشريح> التعريفات> ① محابات في البيع: د زيد دوه غلامان دي.په دوی کښې د يو قيمت مثلاً يوولس سوه روپۍ دې.او د دويم شپږ سوه روپۍ دې.اوس د ړومبی قيمت والا وصيت زيد د خالد دپاره اوکړو.او د دويم غلام ئې بکر دپاره اوکړو.او داسې ئې اووئيل.چه دا غلام په خالد باندې خرڅ کړه.په سل روپۍ کښې.او دا دويم په بکر باندې خرڅ کړئ.په سل روپۍ باندې.نو هم دغه شان اوکړې شو.او زيد ددې دواړو غلامانو نه علاوه هيڅ نه دي پريخودی.نو وصي به صرف په دريمه کښې نافذ کيږي.او دا دريمه به دواړو موصى له ته ددوی د حق تناسب سره ملاويږي.نو ګويا زيد د خالد دپاره د زرو روپو او د بکر دپاره ئې د پنځو سوو روپو وصيت کړې دی.چه ددې ثلث پنځه سوه دې.نو خالد دپاره به د پنځو سوو ۲۱۳ او بکر ته به ۱۱۳ ملاويږي.او باقي قيمت به د موصى وارثانو ته ورکولې شي.بهرحال د امام صاحب رحمه الله په نيز که دا صورت مستثنى نه وې.نو خالد او بکر دواړو دپاره به د پنځو سوو نه نيم په نيمه وه.او باقي قيمت به د موصى وارثانو ته ورکولې شو. خو دلته دوی دا خپل اصول پريخودې دې.او د حق د تناسب په لحاظ سره ئې ثلث تقسيم کړې دې.

② سعايه (دغلام مزدوري) دسعايه صورت دا دې.چه زيد د خپلو دوو غلامانو د آزادولو وصيت اوکړو.او د زيد ددې دواړو غلامانو نه علاوه هيڅ مال نشته.او په دوی کښې د يو قيمت دوه زره دې.او د دويم زر (روپۍ) دې.نو دا وصيت به په ثلث کښې نافذ کيږي.او په دوه ثلثو کښې به په دوی باندې قيمت واجب وي.چه دا به دوی ګټه کوي.او وارثانو ته به ئې ورکوي.خو په دې ثلث کښې به د دواړو د قيمت په اندازه سره تقسيم کولې شي.او ددوی دواړو د قيمت مجموعه درې زره ده.چه ددې ثلث زر (روپۍ) دی.نو دکوم غلام قيمت چه دوه زره دې.د هغه د قيمت نه به (۶۶۶) روپۍ ساقطيږي.او

---

[1] القول الراجح هو هذا قول ابي حنيفة رحمه الله كذا في العناية (۹\۳۶۹) وملتقى (۴۲۵) وردالمحتار(۵\۴۷۲) نقلاً عن القول الراجح (۲\۳۷۵)-

باقي به دي مزدوري كوی.او وارثانوته به ئې وركوی.او د كوم غلام قيمت چه زر روپۍ دي.د هغه د قيمت نه به (٣٣٣) روپۍ سقاطيږی .او هغه به د خپل باقي قيمت دپاره مزدوري كوی.او وارثانو ته به ئې وركوی.

③ دراهم مرسله: ددې مطلب دا دې.چه دا متعين نكړې شي.چه ثلث دده او نصف دهغه وغيره.بلكه موصى مطلق داسې اووائى.چه د دوو سوو روپو وصيت خالد دپاره دې.او د بكر دپاره د سلو روپو وصيت دې.او دده سره صرف هم دا مال دې.نو دا وصيت به صرف په ثلث يعنى سلو روپو كښې نافذ كيږی.چه په دې كښې به رومبی ته (٦٦) روپۍ او دويم ته به (٣٣) روپۍ ملاويږی.

القاعدة الكلية > يوه قاعده كليه ده چه د خالد او د بكر د حقوقو تناسب خو كتلې كيدې شي.خو د ثلث مال پورې كتلې كيدې شي.او كه وصيت د ثلث نه زيات شي.بيا به د حقوقو تناسب ته نشي كتلې.بلكه دواړه به برابر په ثلث كښې شريكولې شي.او په ذكر شوی صورت كښې وصيت د ثلث مال نه زيات شوې دې.(لكه څنګه چه ښكاره ده).نو ددې قاعدې مطابق به د تناسب لحاظ نه كيږی.بلكه دواړه به برابر شمارلې كيږی.

المسائل المستثناة > يوڅو مستثنى صورتونه البته ددې قاعدې كليې نه درې مسئلې مستثنى دی: ① په بيع كښې محابات، ② د غلام مزدوری، ③ دراهم مرسله.اوس ددې دريو وارو تفصيل اوګورئ.

د قرض برابر د مال مالك دپاره د وصيت كولو حكم

وَمَنْ أَوْصَى او چا چه وصيت اوكړو وَعَلَيْهِ دَيْنٌ يُحِيطُ بِمَالِهِ لَمْ تَجُزِ الْوَصِيَّةُ او هغه باندې دومره قرض دې.كوم چه دده مال ته محيط (راګيرونكې) دې.نو وصيت جائز نه دې

تشريح > كه په يوكس باندې دومره قرض وی.كوم چه دده مال راګيرونكې دې.نو دده دپاره وصيت كول جائز نه دې.

دليله > څكه چه دين وصيت باندې مقدم دې.د سراجى په شروع كښې ددې بحث تير شوې دې.بيا په قرض او وصيت كښې زيات اهم حاجت قرض ادا كول دی.څكه چه قرض ادا كول فرض دی.او وصيت خو صرف يو احسان دې.او د هميشه مسلم اصول دې.چه مخكښې د اهم نه ابتداء كولې شي.بيا درجه په درجه (باقي پاتې پوره كولې شي).او هركله چه اهم قرض دې.نو ابتداء به هم ددې نه كولې شي.ددې نه پس د وصيت نمبر دې.

إِلَّا أَنْ يُبَرِّئَهُ الْغُرَمَاءُ مِنَ الدَّيْنِ خو دا چه قرضخواه هغه لره د قرض نه بری كړی

تشريح > البته كه قرضخواهانو مقروض د قرض نه برى كړې وی.نو اوس به دده مذكوره وصيت جائز وی.

دليله > څكه چه قرض د ختميدو په وجه مانع زائل شوې دې.نو په كوم صورت كښې چه څومره وصيت جائز دې.هغه به اوس ټول جائز وی.څكه چه موصى د وصيت محتاج دې.چه ددې وجه د كتاب الوصايا په شروع كښې تيره شوې ده.

الفائدة > ① كه حربى مستامن د خپل ټول مال وصيت اوكړی.نو جائز دې.څكه چه وارثان ئې نشته.(فتدبر) [شامی ص:۴۱۸،ج۵]

الفائدة > ② د چاچه نه څوك وارث وی.او نه په ده قرض وی.نو هغه دپاره افضل دا دی.چه پخپل لاس سره د صدقه كولو نه پس چه كوم مال باقي پاتې شي.د هغې ټول وصيت اوكړی. [شامی ص:۴۱۸،ج۵]

د خپل ځوی د مال نه د يو برخې دپاره د وصيت کولو حکم

وَمَن أَوْصَى بِنَصِيبِ ابْنِهِ فَالْوَصِيَّةُ بَاطِلَةٌاو موصي چې د خپل ځوی د حصې وصيت اوکړو.نو وصيت باطل دی

تشريح که موصی داسې وصيت اوکړو.چه زما د ځوئی حصه فلانی دپاره وصيت دې.نو دا وصيت به جائز نه وی.

دليله ځکه چه د ځوئی حصه به دځوئی ملکيت وی.نو موصی ته به دا حق نه وی.چه هغه د بل د مال وصيت اوکړی.

وَإِن أَوْصَى بِمِثْلِ نَصِيبِ ابْنِهِ جَازَتْاو که د خپل ځوی د حصې د مثل وصيت ئې اوکړو.نو جائز دی فان كان له ابنان فللموصى له الثلثنو که د موصی دوه خامن وو نو د موصی له دپاره به يو ثلث وی

تشريح او که موصی داسې وصيت اوکړو.چه زما د ځوئی څومره حصه ده.د هغې په اندازه ما د فلانی دپاره وصيت اوکړو.نو دا وصيت جائز دې.نوکه د موصی دوه خامن وی نو د موصی له به يو ثلث وی.

دليله ځکه چه دلته موصی د بل د مال وصيت نه دې کړې .بلکه موصی به ئې د غير مال سره اندازه کړې دې.اوپه دې کښې هيڅ باك نشته.ځکه قاعده مشهوره ده.چه د شی مثل ددې شی غير وی.نو معلومه شوه.چه موصی د بل د حق وصيت نه دې کړې.بلکه د خپل ځوی حق سره ئې موصی به ناپ کړې دې.او دموصی به اندازه ئې لګولې ده.

مسلك زفر امام زفرؒ فرمائی.چه لکه څنګه په دويم صورت کښې وصيت جائز دې.دغه شان په رومبی صورت کښې هم جائز دې.

دليله د ا مام زفرؒ نظر په دې خبره دې.چه فی الحال دا مال د ځوئی مال نشو .بلکه دا خو اوس لا تول په تولله د موصی مال دې.نو د غير د مال وصيت نشو.

الجواب عنه خو ددې جواب دا دې اګرچه دا فی الحال د ځوئی مال نه دې.خو د موصی د مرګ نه پس کله چه د موصی له د مالك جوړيدو نمبر راځی.هغه وخت به دا د ځوئی مال وی.نو موصی ته دا حق چرته شته.چه هغه د غير د مال وصيت اوکړی.نو دا وصيت به باطل وی.

په مرض الموت کښې د غلام آزادولو، يا د محابات او د هبې کولو حکم

وَمَنْ أَعْتَقَ عبده فِي مَرَضِهِ أَوْبَاعَاو چا چه پخپل مرض الموت کښې يو غلام آزاد کړو.يا ئې خرڅ کړو وَحَابَى أَوْوَهَبَاوپه دې کښې ئې محابات اوکړو.يا ده هبه اوکړله فَذَلِكَ كُلُّهُ جَائِزٌنو دا ټول جائز دی وَهُوَمُعْتَبَرٌمِنَ الثُّلُثِاو دا به د دريمې نه معتبر وی وَيُضْرَبُ بِهِ مَعَ أَصْحَابِ الْوَصَايَااودې به په ثلث کښې د وصيتونو والا سره شريك وی

تشريح په مرض الموت کښې يو کس خپل غلام آزاد کړو.يا ده بيع اوکړله.اوپه بيع کښې ئې محابات اوکړو .مثلاً د دوه زره (روپو) څيز ئې په شل روپئ باندې خرڅ کړو.يا ده هبه اوکړله.نو دا ټول صورتونه جائز دی.(دا هم صحيح ده.اوکه داسې اووئيلی شی.چه دا ټول صورتونه وصيت دی.دا هم جائز ده).نو د يو ثلث نه به دا تصرف معتبر وی.

دليله ځکه چه وصيت کښې تمليك د مرګ نه روستو طرف ته مضاف کيږی.او په دې کښې په يو کښې هم د مرګ نه روستو طرف ته اضافت نشته.بلکه ټول تصرفات د تنجيز په طريقه دی.بلکه مطلب

دا دي.چه دا تول تصرفات د وصيت پشان د ثلث مال نه معتبر وي.او دي به د نورو وصيتونو والا سره شريکولي شي.اوس پاتي شوه دا خبره چه ددي تولو تصرفاتو به د ثلث مال نه ولي اعتبار کولي شي؟ نو ددي وجه دا ده.چه دلته هم مال سره د وارثانو حق متعلق شوي دي.

که ثلث نه کافي کيږي.نو محابات او عتق کښي به کوم يو مقدم وي؟

فَإِنْ حَابَى ثُمَّ أَعْتَقَ او که مريض محابات اوکړو.بيا ئې آزاد کړو. فَالْمُحَابَاةُ أَوْلَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله نو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز محابات غوره دي وَإِنْ أَعْتَقَ ثُمَّ حَابَى فَهُمَا سَوَاءٌ(١)او که هغه آزاد کړو.بيا ئې محابات اوکړو .نو دوی دواړه برابر دی

تشريح> د مرض الموت تول وصيتونه برابر وي.يو ته په بل باندي فضيلت نه وي.نو تول وصيتونو والا به په ثلث کښي برابر شريك وي.يعنی د خپلي خپلي حصي په اندازه به ثلث کښي تول شريك وي.البته دري څيزونه داسي دی.چه دا د تولو وصيتونو نه مقدم دی.① د مرض الموت آزادول. ② د مرض الموت مدبر کول. ③ د مرض الموت محابات- دا دري څيزونه به د نورو وصيتونو نه مخکښي کولي شی.نو که په دي دريو واړو کښي د يو سره نور وصيتونه جمع شي.نو د ثلث نه به وړاندي دا پوره کولي شی.اوکه د دي ادا کولو نه روستو په ثلث کښي څه بچ پاتي شی.نو نورو وصيتونو والا ته به ملاويږي.گني هيڅ به نه ملاويږي. خو که محابات او آزادول جمع شی.نو د دي حکم په راروان متن کښي راځي.

دليله> د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دي.چه محابات د آزادئ نه مقدم دي.څکه چه محابات د عقد بيع په ضمن کښي ثابتيږي. نو محابات د خپلي صيغي او الفاظو په اعتبار سره تبرع نه ده.بلکه د الفاظو په اعتبار سره دا عقد بيع ده. البته د معنی په اعتبار سره دا تبرع ده.او آزادی د لفظ او معنی هر اعتبار سره تبرع ده.نو ددي نه معلومه شوه.چه محابات زيات قوي دي.څکه چه عقد معاوضه د خالص تبرع نه زيات قوی وی.نو هرکله چه زيات قوی يعنی محابات وړاندي وی.او هلته کمزوري يعنی آزادی تلل غواړی.نو زيات قوی به هغې ته ديکه ورکوی.او لري کوی به يئ.او هرکله چه د محابات مخې ته ددي پنجه نه خښيږي.نو ثبوت به چرته وی.اوکه وړاندي آزادی اومونډي شی.او روستو محابات اومونډي شی.نو آزادی چونکه زيات کمزوري ده.په دي وجه آزادی محابات ته ديکه نشی ورکولي.نو ددي دواړو په منځ کښي مقابله ثابته شوه.او هرکله چه د دواړو په منځ کښي مقابله ثابته شوه.نو د مجبورئ نه اووئيلي شو.چه دواړه مساوی او برابر دی.

وَقَالَا: الْعِتْقُ أَوْلَى فِي الْمَسْأَلَتَيْنِ او صاحبين رحمهماالله فرمائی.چه په دواړو مسئلو کښي آزادی غوره ده.

تشريح>.صاحبين رحمهماالله فرمائي.چه عتق به هرحال کښي د محابات نه اولی دي.

توضيح الاختلاف> او امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.که مخکښي مريض محابات کړي وی.او ددي نه پس ئې آزاد کړي وی.نو په دي صورت کښي محابات د عتق نه اولی دي.اوکه ده مخکښي آزاد کړي وی.او بيا ده محابات کړي وی.نو دواړه برابر دی.د برابر کيدو مطلب دا دي.چه په ثلث کښي به دواړه برابر شريك وی. او د محابات د مقدم کيدو مطلب دا دي.چه په ثلث کښي به مخکښي محابات جاری

---

(١) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ملتقى (٤\٤٣٧) وكنز(٤١٩) والدرالمختار(٥\٤٨٢)نقلاً عن القول الراجح (٢\٣٨٠)-

کولې شي.که څه بچ پاتې شي.نو په باقي پاتې کښې به آزادي نافذ کيږي.ګنی (که څه باقي پاتې نشي) نو نه به آزادیږي.او د آزادئ مقدم کولو مطلب دا دې.چه د ثلث نه مخکښې به آزادي نافذ کولې شي.که څه بچ پاتې شي.نو په باقي پاتې کښې به محابات جاري کيږي.ګنی (که څه پاتې نشو.نو) نه به جاري کيږي.

القاعدة الكلية یوه قاعده کلیه ده چه کله ډیر وصیتونه جمع شي.او په دې کښې هیڅ یو وصیت انفرادی طور باندې د ثلث نه زیات نه وي.نو دا ټول وصیتونو والا به برابر شریك وي.او بعضو ته به په بعضو باندې افضلیت نشي ورکولې.مثلاً د زید ټوله ترکه دولس زره روپئ دی.چه ددې ثلث څلور زره روپئ جوړیږي.او زید د عمرو دپاره د زر روپو وصیت اوکړو.او بکر دپاره نې د دوو زرو روپو، او خالد دپاره نې د دریو زرو روپو، او ساجد دپاره نې د دوو زرو،چه ددې مجموعه اته زره جوړیږي.خو انفرادی طریقه باندې هیڅ یو وصیت د ثلث نه زیات نه دې.نو ټول وصیتونه صحیح دی.او ټول به په ثلث کښې شریك وي.خو دخپلو حصو تناسب سره.نو هر یو ته به دده د وصیت نصف ملاویږي.چه ددې مجموعه څلور زره روپئ جوړیږي.چه دا د ټولې ترکې ثلث دې.نو عمرو ته به پنځه سوه، او بکر ته به زر روپئ، اوخالد ته به پنځلس سوه، او ساجد ته به هم زر روپئ ورکولې شي.او ددې ټولو مجموعه څلور زره روپئ جوړیږي.خلاصه د کلام دا چه دلته هیڅ یوکس ته په بل باندې برتری حاصل نه ده.

المستثنیاة الثلاثة خو ددې قاعدې کليې نه درې څیزونه مستثنی دی.که په دې کښې یوڅیز د نورو وصیتونو سره جمع شي.نوددوی په وړاندې به دا وصیتونه ښکته کیږي.په ثلث کښې به مخکښې هغه نافذ کولې شي.کوم چه موجود دې.که څه بچ پاتې شي.نو په دې کښې به نور وصیتونو والا د خپلو حصو مناسبت سره شریك وي. وکه هیڅ بچ پاتې نشي.نو د وصیتونو والا دپاره به هیڅ نه وي.او هغه درې څیزونه دا دی.

① په مرض الموت کښې تنجیزاً آزادول،

② داسې آزادي کوم چه د موصی په مرګ باندې معلق وي.لکه مدبر جوړول،چه د مدبر آزادی د موصی په مرګ باندې کیږي.او مدبر جوړول د صحیح قید سره ځکه مقید کړې دې.چه د فاسد تدبیر نه احتراز اوشي.لکه مثلاً که موصی داسې اووئیل.چه دا غلام زما د مرګ نه یوه میاشت پس آزاد دې.نو دا مدبر کول صحیح نه دی.نو دې به د نورو وصیتونو والا نه نشي مقدم کولې.بلکه دا به د نورو وصیتونو والا سره شریك وي.او که مدبر کول صحیح وي.لکه مثلاً موصی دا اووائی.چه دا غلام زما په مرګ باندې آزاد دې.نو دا آزادی به د نورو وصیتونو والا نه مقدم وي.

③ په بیع کښې محابات کله چه محابات په مرض الموت کښې وي.بهرحال دا درې څیزونه مستثنی دی.ددې نه علاوه باقي ټول وصیتونه داسې دی.چه په دې کښې یو ته په بل باندې هیڅ افضلیت نشته.بلکه دا ټول برابر دی.او هرکله چه د استحقاق په سبب کښې برابری او مساوات دې.نو په نفس استحقاق کښې به هم برابری وي.

دلیلهما صاحبین رحمهما الله فرمائي.چه آزادي د محابات نه زیات قوی ده ځکه چه آزادي نشي فسخ کیدې.او محابات فسخ کیدې شي.یعنی که آزادونکې اوغواړي.چه آزادی فسخ کړم.نو نشي نې کولې.اوکه غلام اوغواړي.چه آزادي فسخ کړم.نو نشي کولې.او محابات اګرچه د موصی د طرفه فسخ نه قبلوی.خو د مشتری د طرفه فسخ قبلوی.مثلاً مشتری د څلور زره درهمو یو څیز په زر درهمه باندې واخستلو.او د بائع مریض ددې مبیع نه علاوه هیڅ مال نشته.او وارثانو اجازت ورنکړو.نو مشتری ته به وئیلې شي.چه تا ته به صرف د مرې د دریمې حصې نه محابات ملاویږي.او باقي قیمت به وارثانو دپاره پوره کولې شي.ګنی بیع فسخ کړه.نواوس مشتری ته اختیار شته.که غواړي.باقي

قیمت دي ورکړي.اوکه غواړي.بیع دي فسخ کړي.نو معلومه شوه.چه محابات داسې څیز دي.چه دې ته فسخ لاحق کیدې شي.او آزادئ ته په هیڅ شان فسخ نشي لاحق کیدې.

په لفظ د حصې او جزء سره د یوکس دپاره د وصیت کولو حکم

> وَمَنْ أَوْصَىٰ بِسَهْمٍ مِنْ مَالِهِ او چا چه پخپل مال کښې د یوې حصې وصیت اوکړو فَلَهُ أَخَسُّ سِهَامِ الْوَرَثَةِ إِلَّا أَنْ يَنْقُصَ عَنِ السُّدُسِ نو موصی له دپاره به د وارثانو په حصو کښې اخس (د ټولو نه کم) دي.خو دا چه اخس د سدس نه کم شي فَيُتِمُّ لَهُ السُّدُسُ نو دده دپاره به سدس پوره کولې شي.

تشریح که موصی په دې الفاظو کښې وصیت اوکړو.چه زما د مال یوه حصه فلانی دپاره ده.یا زما د مال یو جزء فلانی دپاره دې.نو د حصې او د جزء دواړه یوه معنی ده.او په دواړو کښې جهالت دې.او جهالت وصیت دپاره مضر نه دې.نو وصیت به جائز او صحیح وی.خو په دې کښې دا ابهام پاتې شو.چه هر کس ته به څومره ملاویږي.نو دا فیصله د موصی په وضاحت باندې موقوف ده.او که موصی وضاحت اونکړې شو.تردې چه د موصی انتقال اوشو.نو اوس به دده وارثان د موصی قائم مقام وی.نو وارثان به ددې وضاحت کوی.چه د حصې او جزء نه څه مراد دې؟ وارثان چه څه وضاحت هم اوکړي.که هغه لږ وی او که ډیروی.په دې باندې به عمل کولې شي.دا اصل مسئله ده.خو د کوفې د خلقو په اصطلاح کښې به حصه د سدس په معنی کښې استعمالیدله.په دې وجه د امام صاحب او د صاحبینو رحمهم الله په نیز د حصې وئیلو په صورت کښې اختلاف شو.کوم چه کتاب کښې ذکر دې.

مسلک ابي حنیفة د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز ذکر شوی صورت کښې به موصی له ته سدس ورکولې شي.نه به ددې نه کمولې شي.او نه به زیاتولې شي.او هم دا سدس په نسبې ذوی الفروضو کښې د ټولو نه کمه حصه ده.

دلیله د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې.چه د حصې نه مراد سدس دې.د ابن مسعود رضی الله عنه نه مرفوعاً او موقوفاً یو روایت نقل دې.چه په دې کښې هم دا فرمائیلې شوی دی.چه حصه سدس دې.(۱)

مسلک الصاحبین صاحبین رحمهما الله فرمائی.که حصه ئې اووئیله.نو د موصی د وارثانو حصو ته به کتلې شي.په هغوی کښې چه د چاحصه د ټولو نه کمه وی.هم دغومره حصه به موصی له ته ورکولې شي.خو که اتفاق سره چرته داسې راپیښ شو.چه په دې کښې کمه حصه د ثلث نه زیاته شي.نو هلته به د وارثانو د اجازت نه بغیر د ثلث نشي زیاتولې.مثلاً موصی یوه لور پریخودله.چه هغې دپاره نصف دې.او بل هیڅ څوك وارث نې نشته.نو دلته د نصف نه کمه هیڅ حصه نشته.خود وارثانو د اجازت نه بغیر موصی له ته نصف نشي ورکیدې.په دې وجه به صرف ثلث ورکولې شي.او که وارثان مختلف وی.نو په دوی کښې چه د کوم وارث حصه د ټولو نه کمه وی.هغومره به موصی له ته ورکولې شي.

دلیلهما د صاحبینو رحمهما الله دلیل دا دې.چه د حصې نه مراد په وارثانو کښې د یوکس حصه ده.او چونکه وصیت د میراث خور ده.نو په وصیت کښې به هم د حصې نه هم دا مراد اخستلې شي.او چونکه حصې مختلف دی.بعضې نصف ده او څلورمه ده، او اتمه ده، او چرته ثلثان او ثلث او ثمن دې.او په داسې ځایونو کښې اقل یقینی وی.نو د حصې نه به په ټولو کښې کمه حصه مراد اخستلې شي.او که په یو ځائې کښې موصی به د کمې حصې نه هم زیات شي.نو هلته به د ثلث نه زیات موصی

---

(۱) اخرجه البزار في مسنده والطبراني في معجمه الوسيط (نصب:۵\۲۲۷)۔

له ته نشي ورکولی.بلکه د ثلث نه زیات به وارثانو ته ورکولی شي.ځکه چه کله د وارثانو اجازت نه وي.نو موصی له ته د ثلث نه زیات نشي ورکیدې.

د مجهول جزء وصیت کولو سره د تفصیل مسئله

وَاِنْ أَوْصَى بِجُزْءٍ مِنْ مَالِهٖ او که د خپل مال نه ئې د يو جزء وصیت اوکړو قِيْلَ لِلْوَرَثَةِ أَعْطُوْهُ مَا شِئْتُمْ نو وارثانو ته به وئیلې شي.چه موصی له ته کوم څه تاسو غواړئ ورکړئ

تشریح نوره مسئله وړاندې بیان وې ده البته دلته د حصې د وصیت کولو بیان دې.نودا وصیت جائز دې

دلیله ځکه چه جزء مجهول دې.چه دا لږ او ډیر ته شامل دې.علاوه ددې خبرې نه چه جهالت د وصیت صحت ته مانع نه دې او وارثان د موصی قائم مقام دی نو بیان وارثانو طرف ته دې.

په دریمه حصه مال کښې مختلف قسمه وصیتونه راجمع کول.او ددې د ادا کولو مسئله

ومن أَوْصَى بِوَصَايَا مِنْ حُقُوقِ اللّٰهِ تَعَالٰى او چاچه وصیتونه اوکړل.مختلف وصیتونه، د حقوق الله نه قُدِّمَتِ الْفَرَائِضُ مِنْهَا عَلٰى غيرها نو ددې نه به فرائض په نورو باندې مقدم کولې شي. قَدَّمَهَا الْمُوْصِي أَوْ أَخَّرَهَا مِثْلَ الْحَجِّ وَالزَّكَاةِ وَالْكَفَّارَاتِ که موصی هغه مقدم کړې وی اوکه موخر کړې وی.لکه حج او زکاة او کفارات

تشریح الوصیة بالحقوق که د یوسړی وفات اوشي.او د هغه په ذمه د الله تعالی بعضې حقوق دی.مثلاً مونځ، یا روژه یا زکاة یا حج یا کفاره یا نذر یا صدقة فطر، نو اوس دوه صورتونه دی.مړکیدونکی ددې په باره کښې څه وصیت کړې دې اوکه نه؟ که نه ئې دې کړې.نو په وارثانو باندې ددې اداکول واجب نه دی.بلکه وارثانو ته د اوښکلو او نه اوښکلو اختیار شته.او که دوهم صورت وی.یعنی هغه وصیت کړې وی.نو د مرحوم د ثلث مال نه به دهغې اداکول واجب وی.

اقسام الحقوق بیا به د وصیتونو نه کوم وصیت مخکښې کولې شي. نو په دې کښې تفصیل دې.دغه وصیتونه به یا د الله تعالی حقونه وی.یا به د بنده ګانو حقونه وی.او کوم چه د الله تعالی حقونه دی.هغه به یا ټول وصیتونه په فرائضو کښې داخل وی.لکه زکاة او حج او روژه، او مونځ، یا به ټول په واجباتو کښې داخل وی.لکه کفارات او نذر او صدقة فطر، یا به ټول وصیتونه په نفلو کښې داخل وی.لکه د نفی حج وصیت، او په فقیرانو باندې د صدقې وصیت، نو که وصی دا ټول وصیتونه جمع کړې وی.نو که د موصی ثلث مال د ټولو وصیتونو نافذ کولو دپاره کافي کیږي.نو دا ټول وصیتونه به نافذ کولې شي.او که د موصی ثلث مال ددې ټولو وصیتونو دپاره نه کافي کیږي.خو وارثانو اجازت ورکړو.چه دا ټول وصیتونه نافذ کړې شي.نو دا ټول به نافذ کولې شي.

تقدیم الفرائض او که وارثانو اجازت ورنکړو.نو اوس به کتلې شي.چه دا ټول وصیتونه په فرائضو کښې داخل دی او که نه دی؟ که ټول فرائضو کښې داخل وی.نو کوم وصیت چه موصی مقدم بیان کړې دې.د هغې نه به شروع کولې شي.اوکه بعضې فرائض او بعضې غیر فرائض وی.نو مخکښې به د فرائضو نه ابتداء کولې شي.اګرچه موصی په ذکر کښې فرائض موخر کړې وی.او واجبات او تطوعات ئې مقدم کړې وی.

وجه تقدیم الفرائض فرائض به ولې مقدم کولې شي؟ ځکه چه فرائض د نفلو نه اهم دی.او ښکاره هم دا ده.چه د موصی مقصد هم اهم مقدم کول دی.ځکه چه په کوم سړی باندې قرض وی.هغه عام طور باندې په خیراتونو او صدقو کښې نه مشغولیږي.

وَمَا لَيْسَ بِوَاجِبٍ قُدِّمَ مِنْهُ مَا قَدَّمَهُ الْمُوصِي.او كوم چه واجب نه دى.په هغې كښې به هغه مقدم كولې شي.كوم چه موصى مقدم كړې دې.

تشريح> او وصيتونه چه كله د فرائضو او واجباتو ځنې نه وى.بلكه د نوافلو ځنې وى.نو كوم چه موصى مقدم بيان كړې دې.هم هغه به مقدم كولې شى.

دليله> چه موصى به هم ددې نه شروع كوى.كوم چه د هغه په نيز اهم وى.او كه هغه ددې خبرې صراحت كوى.چه ما كوم وصيت مقدم كړې دې.هغه دې مقدم كړې شى.نو بيا دهغې مقدم كول ضرورى دى.نو دغه شان به هلته كښې هم مقدم كولې شى.كله چه دهٔ صراحت نه وى كړې.خو په ذكر كښې ئې هغه مقدم كړې وى.

د حج وصيت به څنګه ادا كولې شي؟

وَمَنْ أَوْصَى بِحَجَّةِ الْإِسْلَامِ او كوم كس چه د حج اسلام وصيت اوكړو أَحَجُّوا عَنْهُ رَجُلًا مِنْ بَلَدِهِ يَحُجُّ رَاكِبًا نو په وارثانو كښې به دده د طرفه يوكس باندې حج كولې شى.د موصى د ښار نه، چه دې به په سورلۍ باندې حج كوى

تشريح> په زيد باندې حج فرض دې.هغه په مرض الوفات كښې وصيت اوكړو.چه زما د طرفه حج اوكړئ.نو په داسې صورت كښې به وارثانو باندې واجب وى.چه دهغه د مال نه حج اوكړى.او يو سړې منتخب كړى.چه هغه د موصى د ښار نه حج اوكړى.او دا حج په پيدل تللو سره نه كوى.بلكه په سوريدو به ئې كوى.

دليله> ځكه چه په زيد باندې هم چه كوم حج فرض وو.هغه د خپل ښار نه واجب وو.هم دا وجه ده.چه په زيد به هغه وخت حج فرض وى.كله چه هغه سره دومره مال وى.كوم چه دهغه د ښار نه حج كولو دپاره كافى وى.ګنى كه د لارې خرچ او سورلى نه وى.نو په زيد به د استطاعت نه كيدو په وجه حج فرض نه وى.نو هركله چه په زيد باندې حج ادا كول د خپل ښار نه واجب دې.او دهغه د مرګ نه روستو چه په كوم سړى باندې حج كولې شى.دا هم دهغه حج ادا كول دى.كوم چه په زيد باندې واجب دې.او په زيد باندې د خپل ښار نه حج كول واجب وو.نو دې به هم د زيد د ښار نه حج كوى.او دا غير چه كوم حج كوى.په سورلۍ باندې به ئې كوى.ځكه چه په زيد باندې پيدل تللو سره حج كول لازم نه وو.بلكه په سوريدو باندې واجب وو.نو په غير باندې به هم حج په هغه طريقه ادا كول واجب وى.په كومه طريقه چه په زيد باندې واجب وو.

كه د ثلث مال له د حج وصيت لئى پوره كيدې نو څه حكم دې؟

فَإِنْ لَمْ تَبْلُغِ الْوَصِيَّةُ النَّفَقَةَ نو كه مقدار د وصيت د حج د نفقې دپاره كافى نه وى أَحَجُّوا عَنْهُ مِنْ حَيْثُ تَبْلُغُ نو وارثان دې د هغه د طرفه دهغه ځائې نه حج اوكړى.د كوم ځائې نه چه رسيدې شى

تشريح> وراندې دا خبره ډير ځل تيره شوې ده.چه وصيت د مړى په ثلث مال كښې نافذ كيږى.ددې نه په زيات كښې نه نافذ كيږى.نو كه مريض وصيت اوكړو.چه زما د مال نه دې حج اوكړې شى.خو دده سره دومره مال نشته.چه په هغې سره حج اوكړې شى.نو په داسې صورت كښې چه د كوم ځائې نه حج كيدې شى.د هغه ځائې نه به كولې شى.مثلاً دومره مال شته.چه په هغې سره د ديوبند نه حج نشى كيدې.البته د بمبئ نه حج كيدې شى.نو د بمبئ نه به حج كولې شى.او دا حكم استحساناً دې.

وجه الاستحسان> خو مونږ استحساناً دا جائز ګرځولې دې.ځكه چه مونږ ته دا خبره معلومه ده.چه د موصى مقصد دا دې.چه دده وصيت نافذ اوكړې شى.نو تر كومه پورې چه ممكنه وى.د هغه وصيت

نافذ کول واجب دي.او کومه طريقه چه بيان کړې شوې ده.دا طريقه ممکن ده.نو هم دا به اختيارولې شي.او د امکان حده پورې وصيت نافذ کول د مطلق وصيت باطلولو نه افضل دی.

القياس> د قياس تقاضا دا ده.چه اوس د موصي د طرفه دسره حج اونکړې شي.ځکه چه دهغه د وصيت مقصد دا دې.چه د ديوبند نه حج اوکړې شي.ځکه چه موصي د ديوبند اوسيدونکې دې.او د ديوبند نه په دومره مال سره حج نشي کيدې.نو هغه وصف د سره اونه موندې شو.کوم چه موصي بيان کړې دې.

د حاجي په لاره کښې مړکيدل او د حج وصيت کولو مسئله

وَمَنْ خَرَجَ مِنْ بَلَدِهٖ حَاجًّا او کوم سړې چه د حج په ارادې د خپل ښار نه اووتلو فَمَاتَ فِي الطَّرِيقِ نوهغه په لاره کښې مړ شو وَأَوْصَى أَنْ يُحَجَّ عَنْهُ او دا وصيت ئې اوکړو.چه دده د طرفه حج اوکړې شي حُجَّ عَنْهُ مِنْ بَلَدِهٖ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو دده د طرفه به دده د ښار نه حج کولې شي.د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز.

تشريح> زيدد خپل کور نه اووتلو.او صرف د حج په ارادې سره اووتلو.تجارت وغيره مقصد ئې نه وو.او هغه په لاره کښې مړ شو.او دا وصيت ئې اوکړو.چه زما د طرفه حج اوکړې شي.نو دده د طرفه به حج کولې شي.خو اختلاف په دې کښې دې.چه دا حج به د کوم ځائې نه کولې شي.د مړکيدونکی د ښار نه. اوکه د هغه ځائې نه کوم ځائې چه دهغه انتقال شوې دې؟ نو امام ابوحنيفه قول دا دې.چه د زيد د ښار نه حج اوکړې شي.

دليله> د اما ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه هرکله هغه د حج پوره کولو نه وړاندې مړ شو.نو د هغه وتل به د غيرحج دپاره شمارلې شي.نو داسې شوه.لکه ځنګه چه د سوداګر د مړګ حکم دې.نو اوس به داسې ګڼړلې شي.لکه چه ده په ابتداء کښې د حج وصيت کړې دې.او وړاندې دا خبره تيره شوې ده.چه کله د حج وصيت اوکړې شي.نو د موصي د ښار نه حج کول واجبيږي.لکه ځنګه چه واجب وو.هم هغه شان دا ادا کړې شي.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يُحَجُّ عَنْهُ مِنْ حَيْثُ مَاتَ او صاحبينو رحمهما الله فرمائيلی دی.چه دهغه ځائې نه به حج کولې شي.کوم ځائې ته چه هغه مړشوې وو.

تشريح> مسلک الصاحبين> حضرات صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه چرته د زيد وفات شوې دې.د هغه ځائې نه به د زيد دطرفه حج کولې شي.اوصاحبينو رحمهما الله داحکم استحساناً فرمائيلې دې.

دليلهما> د صاحبينو رحمهما الله دليل دا دې.چه هرکله موصي د سفر په ارادې سره وتلې دې.نو د هغه چه خومره سفر پوره شوې دې.دا قربت دې.او په هغه باندې د خپل ښار نه حج کول واجب وو.خو کوم سفر چه هغه پوره کړې دې.دغومره فريضه د هغه د ذمې نه ادا شوې ده.او د هغې ثواب هغه ته ملاو شوې دې.نو اوس به دويم سړې ددغه ځائې نه حج دپاره ليګلې شي.اوداسې به ګڼړلې شي. چه موصي هم ددې ځائې اوسيدونکې دې.او هرکله چه هغه ددغه ځائې اوسيدونکې شمار کړې شو.نو دهغه د طرفه به هم ددغه ځائې نه حج کول واجب وی.

دماشوم د وصيت حکم او د امام شافعي رحمه الله نقطه نظر

(وَلَا تَصِحُّ وَصِيَّةُ الصَّبِيِّ)او د بچي وصيت صحيح نه دې

تشریح ﴿ که ماشوم وصیت اوکړی.نو صحیح دي (¹)

دلیله ﴿ دلیل دا دي.چه بچي د تبرع اهل نه دي.حالانکه وصیت تبرع ده.او دویمه خبره دا ده.چه د بچي قول داسي نه دي.چه دا په ده باندي څه څیز لازم کړی.او که دده وصیت حقیر اومنلي شی.نو دده د قول ملزم کیدل به لازمیږی.او دا باطل دی.

وَلَا الْمُكَاتَبُ وَإِنْ تَرَكَ وَفَاءً او د مکاتب وصیت صحیح نه دي اګرکه دومره مال پریږدی چي دده وصیت پري پوره کیدي شی.

تشریح ﴿ که مکاتب په زمانه د کتابت کښي وصیت اوکړی چي زه مړ شم نو زما دومره مال به د فلانی وی.نودده دا وصیت جائز نه دي.

دلیله ﴿ څکه چي په کوم وخت کښي ده وصیت کولو.په هغه وخت کښي دي پوره آزاد نه وو.بلکه هله به آزادیدو چي بدل کتابت ئي ادا کړو.نو چي آزاد نشو.نو غلام او دغلام وصیت صحیح نه وی.

د وصیت نه د رجوع کولو حکم

وَيَجُوزُ لِلْمُوصِي الرُّجُوعُ عَنِ الْوَصِيَّةِ)او موصی دپاره د وصیت نه رجوع جائز ده

تشریح ﴿ که موصی د وصیت نه رجوع اوکړی.نو جائز دي.

دلیله ﴿ څکه چه وصیت تبرع ده.او تبرع چه ترکومه پوري تمام نشی.نو د هغی نه رجوع جائز ده.لکه څنګه چه د هبي د پوره کیدو نه وړاندي ددي نه رجوع جائز ده.چه ددي تفصیلی بیان په کتاب الهبه کښي تیر شوي دي.

د وصیت نه د رجوع کولو دوه طریقي

وَإِذَا صَرَّحَ بِالرُّجُوعِ كَانَ رُجُوعًا)

حل اللغة ﴿ ① **صرح**:تصریح اوکړه،ښکاره والي اوکړو]

تشریح ﴿ وړاندي معلومه شوي ده.چه موصی دپاره د وصیت نه رجوع جائز ده.اوس فرمائی. چه په صراحت سره رجوع اوکړی شي.نورجوع صحیح کیږی

دلیله ﴿ چي په صریحو الفاظو کښي د رجوع صراحت اوکړی نو ښکاره خبره ده چي رجوع صحیح شوه

د وصیت نه د انکار کولو حکم

وَمَنْ جَحَدَ الْوَصِيَّةَ لَمْ يَكُنْ رُجُوعًا او چاچه د وصیت نه انکار اوکړو.نو دا انکار به رجوع نه وی

تشریح ﴿ وړاندي تیر شوی دی.چه د وصیت نه رجوع جائز ده. اوس ددي ځائي نه دا مسئله بیانولي شي.که موصی د سره د وصیت انکار اوکړی.نو دا انکار به رجوع نه وی.

دلیله ﴿ دلیل دا دي.چه د جحود او انکار مقصد دا دي.چه په ماضی کښي د وصیت نفی اوکړي شي.او هرکله چه په ماضی کښي نفی اوکړي شوه.او هیڅ تبدیلی او نه موندي شوه.نو دا فی الحال هم منتفی شمار کړي شي.

وَمَنْ أَوْصَى لِجِيرَانِهِ او چاچه د خپلو ګاونډیانو دپاره وصیت اوکړو فَهُمُ الْمُلَاصِقُونَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

(¹) . د امام شافعی رحمه الله په نیز که بچي د خیر په کارونو کښي وصیت اوکړی .نو جائز دي.

نو هغوی به ملاصق (پیوست) وي.د امام ابوحنیفه په نیز

تشريح زید وصیت اوکړو.چه زما د مال ثلث زما ګاونډیانو دپاره دي.نو ددې نه به کوم ګاونډي مراد وي. ځکه چه د ګاونډیانو مختلف قسمونه دي.یو ګاونډي د قرابت، چه هغه سره د قرابت ګاونډتوب وي.او بل ګاونډتوب د زمکې دې.یعنی د زمکې ګاونډي، او دریم ګاونډتوب د کور دې.یعنی د کور ګاونډي، او دلته بالاتفاق د ګاونډي نه مراد ګاونډتوب د قرابت دې.او د زمکې ګاونډتوب مراد نه دې.البته د کور ګاونډتوب مراد دې.

بیا ددې په تفسیر کښې اختلاف دې.نو امام ابوحنیفه فرمائی.چه د جیران (ګاونډي) نه مراد هغه ګاونډیان دي.چه د هغه کور د موصی کور سره متصل (پیوست) او ملاو شوې وي.که ددوی دروازې نیزدې وي.اوکه لرې وي.

دليله د امام ابوحنیفه قول قیاس دې.د قیاس دلیل دا دې. چه جار د مجاورت نه مشتق دې.او مجاورت په حقیقت کښې ملاصقت (یوځائې والی) ته وائی.نو دچا کور چه موصی سره متصل دې.وصیت به هغوی دپاره وي.او پیوست ګاونډي د ګاونډتوب په وجه د شفعې مستحق کیږي.نور خلق به د شفعې نه مستحق کیږي.او دویمه وجه دا هم ده.چه ټولو ګاونډیانو طرف ته وصیت ورګرځول متعذر دي.ځکه چه ګاونډتوب د قرابت اوګاونډتوب دزمکې په دې کښې داخل نه دې.بلکه په دې کښې تخصیص کړې شوې دې.نو دا به اخص الخصوص طرف ته ورګرځولې شي .او اخص الخصوص پیوست ګاونډي دې.

مسلک الصاحبين او صاحبین رحمهما الله فرمائی.چه د ګاونډیانو نه مراد ملاصقین هم دي.(دچا کورونه چه دده سره پیوست لګیدلی دي).او ورسره ورسره هغه خلق هم په دې کښې داخل دي.کوم چه د موصی په محله کښې اوسیږي.او کوم خلق چه دده د جمات مونځ ګزار دي.

دليلهما د استحسان دلیل دا دې.چه په عرف کښې هغه ټولو خلقو ته ګاونډیان ونیلې شي.کوم چه په یوه محله کښې اوسیږي.او په یو جمات کښې مونځ کونکی وي.او په یو حدیث سره ددې تائید کیږي.حدیث کښې دي. (لاصلاة لجار المسجد الا في المسجد) یعنی د جمات د ګاونډي مونځ به صرف په جمات کښې کیږي.نو دلته د جمات د ګاونډي نه هغه کس مراد نه دې.چه دهغه کور جمات سره متصل (پیوست) دې .بلکه هر هغه سړې مراد دې.کوم کس چه دجمات آذان اوري.او د حضرت علی نه ددې هم دا تفسیر رانقل شوې دې.او د موصی مقصد دا دې.چه خپلو ګاونډیانو سره ښه سلوك (او احسان) اوکړي.او دا مستحب امر دې.خود نیکئ کولو دا استحباب صرف د ملاصق (او پیوست ګاونډي) دپاره مخصوص نه دې.بلکه ملاصق او غیر ملاصق دواړو ته شامل دې.خوپه موصی او موصی له کښې څه نا څه اختلاط کیدل پکار دي.نو د جمات د یو والی په وجه اختلاط ثابت دې.

د سخرګنئ رومبې مصداق

وَمَنْ أَوْصَى لِأَصْهَارِهِ او چاچه د خپل اصهار(سخرګنې) دپاره وصیت اوکړو فَالْوَصِيَّةُ لِكُلِّ ذِي رَحِمٍ مُحَرَّمٍ مِنْ امْرَأَتِهِ نو وصیت به دده د ښځې هر ذی رحم محرم دپاره وي

حل اللغة ① اصهار:سخرګنئ]

تشريح یو سړی د خپلې سخرګنئ دپاره وصیت اوکړو.نو په دې وصیت کښې به کوم خلق داخل وي.نو وې فرمائیل.چه د ښځې ټول ذو رحم محرم به په دې کښې داخل وي.یعنی دده د ښځې د قرابت د خلقو (رشته دارانو) څنې هغه سړی به داخل وي.چه د هغوی رشته ددې ښځې سره د نسب په طور دامې

وی.چه هغه شرعا ددې محرم وی.یعنی دده (موصی) ښځې ته د هغوی سره همیشه دپاره نکاح حرام وی.لکه د ښځې پلار، او رور، او ماما، او تره وغیره.نو د ښځې داسې رشته داران ددې د خاوند اصهار (سخرګنۍ) ده. او دا د عربو عرف دې.او زمونږ په ملك کښې د صهر ترجمه په سخر سره کولې شي.

دليله د جویریه رضي الله عنها پلار د بنومصطلق (قبیلې) سردار وو.کله چه د بنو مصطلق سره جهاد اوکړې شو.او هغوی قید کړې شو.نو جویریه رضي الله عنها هم قیدی راوستلې شوه.او دا د ثابت بن قیس رضي الله عنه یا ددوی د تره د خوئی په حصه کښې راغلله.او دوی (جویریه رضي الله عنها) خپل خان مکاتبه کړل.او جویریه رضي الله عنها ډیره ښائسته وه. خلاصه د کلام دا چه جویره رضي الله عنها د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې راغلله.عرض ئې اوکړو.چه ای د الله رسوله ﷺ ا زه جویریه بنت الحارث یم.او کومه واقعه چه ما سره اوشوه.هغه ستا نه پټه نه ده.او زه د ثابت بن قیس رضي الله عنه په حصه کښې راغلې یم.نو ما خپل خان مکاتبه کړې دې.نو زه ستا په دربار کښې ددې دپاره حاضره شوې یم.چه ستاسو نه د کتابت اداکولو په باره کښې سوال اوکړم.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.چه ته ددې نه افضل غوارې.هغې اووئیل.هغه څه دی.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.چه زه ستا بدل کتابت ادا کړم.او تا سره نکاح اوکړم.هغې دا منظوره کړله.او نبی کریم ﷺ بدل کتابت ادا کړو.او دوی د هغې سره نکاح اوکړله.کله چه خلقو ته دا معلومه شوه.چه نبی کریم ﷺ د جویریه رضي الله عنها سره نکاح کړې ده.نو د بنومصطلق نه چه چا په حصه کښې کوم قیدی مملوك وو.دوی هغه آزاد کړو.او وې وئیل.چه دا خلق خو اوس د نبی کریم ﷺ اصهار (سخرګنې) دی.

دذومانو دپاره د وصیت حکم او د ,,اختان،، مصداق

وَمَنْ أَوْصَى لِأَخْتَانِهِ او چاچه د خپلو ذومانو دپاره وصیت اوکړو فَالْخَتَنُ زَوْجُ كُلِّ ذَاتِ رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ نو دده د هر ذی رحم محرم خاوند دپاره به وصیت وی

حل اللغة ① **اختان**:جمع دختن، زوم، د لور خاوند]

تشريح که یوکس دا وصیت اوکړو.چه زما ذومانو ته دومره مال ورکړئ.نو په اختان کښې به د هرهغه ښځې خاوند داخل وی.کوم چه د موصی ذو رحم محرم دې.لکه خور، ترور، وغیره.

دليله ځکه چه دوی ټولو ته ختن (ذوم) وائی.په دې باندې بعضو مشائخو رحمهم الله فرمائیلی دی.چه دا د کوفې د خلقو عرف دې.ګنې زمونږ په عرف کښې د اختان نه مراد د ښځو د خاوندانو محارم مراد دی.اوهرکله چه ددې نه د ښځو د خاوندانو محارم مراد دی.نو بیا په دې خاوندانو کښې عموم دې.که هغه آزاد وی.اوکه غلام وی.د موصی قریبی رشته دار وی، اوکه نه وی. ځکه چه لفظ د ختن دوی ټولو ته شامل دې.

اقاربو دپاره وصیت کولو کښې به اقاربو کښې څوك داخل وی؟

وَمَنْ أَوْصَى لِأَقَارِبِهِ او چاچه د خپلو اقاربو دپاره وصیت اوکړو فَالْوَصِيَّةُ لِلْأَقْرَبِ فَالْأَقْرَبِ مِنْ كُلِّ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ نو وصیت به اقرب دپاره وی.بیا هغه چا دپاره کوم چه دده نه پس اقرب وی.یعنی د موصی هر ذو رحم محرم وَلَا يَدْخُلُ فِيهِمُ الْوَالِدَانِ وَالْوَلَدُ او په دې کښې به مور پلار او اولاد نه داخلیږی وَيَكُونُ لِلِاثْنَيْنِ فَصَاعِدًا او دا وصیت به د دوو یا زیاتو دپاره وی

تشريح وصیت د میراث خور ده.او په میراث کښې د الاقرب فالاقرب اعتبار کیږی.چه ددې تفصیل په ,, باب العصبات،، کښې سراجی کښې ذکر شوې دې.نو دغه شان به په وصیت کښې هم د الاقرب

فالاقرب اعتبار کولې شي.او په میراث کښې د جمعې نه مراد دوه دی.نو دغه شان به په وصیت کښې هم د جمعې نه مراد کم ازکم دوه وي.

مسلك الصاحبين > صاحبين رحمهماالله فرمائي.چه په اقرباو کښې به هغه ټول حضرات داخل وي.کوم چه اسلام کښې آخری پلار طرف ته منسوب وي.ددې څه مطلب دې؟ نو ددې په تفسیر کښې د مشائخو دوه اقواله دي : ① یعنی هغه پلار کوم چه رومبې اسلام راوړلې وي.لکه اولاد د حضرت علی رضی الله عنه ② رومبې هغه پلار چه هغه د اسلام زمانه موندلې وي.او هغه مسلمان شوي نه وي.لکه اولاد د ابوطالب، چه کله څوك علوی د خپلو اقرباو دپاره وصیت اوکړی.نو د رومبی تفسیر په اعتبار سره به اقرباو کښې صرف د حضرت علی رضی الله عنه اولاد داخل وي.او د جعفر او د عقیل اولاد به په دې کښې داخل نه وي.او د دویم تفسیر په اعتبار سره به په دې کښې د حضرت علي رضی الله عنه اولاد سره سره د جعفر او د عقیل اولاد هم داخل وي.خلاصه د کلام داچه د موصی نه واخله تر آخری پلاره پورې چه کوم په اسلام کښې دی. د صاحبینو رحمهماالله په نیز به ددې په منځ کښې ټول اولاد په دې وصیت کښې داخل وي.که هغه سړی وي او که ښځې وي، که اقرب وي او که ابعد وي.دا ټول تفصیل د صاحبینو رحمهماالله په قول باندې دې.

دلیلهما > د صاحبینو رحمهماالله دلیل دې.فرمائي.چه قریب د قرابت نه مشتق دې.نو چا سره چه قرابت قائم وي.هم هغه ته به قریب ونیلې کیږی.نو کوم سړې چه د خپل خاندان ځنې دې.که هغه ذو رحم محرم وي او که نه وي.قرابت خو هر یو سره قائم دې.نو هر یو ته به قریب ونیلې شي.

په تره او ماما کوم کښې زیات اقرب دې ؟

وَإِذَا أَوْصَى بذلك وَلَهُ عَمَّانِ وَخَالَانِ او کله چه هغه په دې باندې وصیت اوکړی او دده دوه ترونه او دوه ماماګان دي فَالْوَصِيَّةُ لِعَمَّيْهِ عِنْدَهُ اعْتِبَارًا لِلْأَقْرَبِ كَمَا فِي الْإِرْثِ نو دده دواړو ترونو دپاره به وی.د امام ابوحنيفه رحمه الله په نیز، د اقرب اعتبار کولو سره، لکه څنګه چه میراث کښې دی

تشریح > دامام ابوحنیفه په نیز په میراث کښې د اقرب فالاقرب قاعده جاری ده.نوکه یو کس د خپلو رشته دارانو دپاره وصیت اوکړو.او په هغوی کښې دوه ترونه او دوه ماماګان وو.نوامام ابوحنیفه په نیز ترونه د ماماګانو نه اقرب دی د دې وجې به وصیت د ترونو دپاره وی ماماګانو ته به څه نه ملاویږی.

مسلك الصاحبين > د صاحبینو په نیز په وصیت کښې هغه قاعده نه ده کومه چې د امام ابوحنیفه په نیز ده.نو ددې وجې په دې وصیت کښې به د دواړو ترونو سره دواړه ماماګان هم حقدار وی.

د اقرباء دپاره ئې وصیت اوکړو اوصرف تره او دوه ماماګان ئې نوڅه حکم دې؟

وَإِنْ كَانَ لَهُ عَمٌّ وَخَالَانِ او که د موصی یو تره او دوه ماماګان وی فَلِلْعَمِّ النِّصْفُ نو تره دپاره د وصیت نصف دې وَلِلْخَالَيْنِ النِّصْفُ او نصف د دواړو ماماګانودپاره دې

تشریح > که موصی د اقرباو دپاره وصیت اوکړو.او هغه صرف یو تره او دوه ماماګان پریخودې دی.نونیم وصیت به د تره دپاره وی او نیم وصیت به د دواړو ماماګانو دپاره وی

دلیله > چونکه اقرباء د جمعې صیغه ده.چه ددې دپاره کم ازکم دوه افراد ضروری دی.او تره صرف یوکس دې.په دې وجه به دا تره صرف د نصف وصیت حقدار وی.او نصف بچ پاتې شو.نودا به دواړه ماماګان اخلي.

وَقَالَا الْوَصِيَّةُ لِكُلِّ مَنْ يُنْسَبُ إِلَى أَقْصَى أَبٍ لَهُ فِي الْإِسْلَامِ او صاحبين رحمهماالله فرمائي.چه وصیت

به دهر هغه سړي دپاره وي.کوم چه اسلام کښې آخري پلار طرف ته منسوب وي

تشریح ﴿ **مسلک ابي حنیفة**﴾ زید د خپلو اقرباو دپاره وصیت اوکړو.نو په دې کښې به څوك داخلیږي.د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دلته د شپږو څیزونو لحاظ ساتلې شوي دی:

مسلك الصاحبين﴾ صاحبین رحمهماالله فرمائی.چه په اقرباو کښې به هغه ټول حضرات داخل وی.کوم چه اسلام کښې آخري پلار طرف ته منسوب وی.ددې څه مطلب دې؟

الاقولان في مفهوم النسبة﴾ نو ددې په تفسیر کښې د مشائخو رحمهم الله دوه اقواله دی : ① یعنی هغه پلار کوم چه رومبې اسلام راوړلې وی.لکه اولاد د حضرت علی رضی الله عنه.

② رومبې هغه پلار چه هغه د اسلام زمانه موندلې وی.او هغه مسلمان شوې نه وی.لکه اولاد د ابوطالب، چه کله څوك علوی د خپلو اقرباو دپاره وصیت اوکړی.نو د رومبی تفسیر په اعتبار سره به اقرباو کښې صرف د حضرت علی رضی الله عنه اولاد داخل وی.او د جعفر او د عقیل اولاد به په دې کښې داخل نه وی.او د دویم تفسیر په اعتبار سره به په دې کښې د حضرت علي رضی الله عنه اولاد سره سره د جعفر او د عقیل اولاد هم داخل وی.خلاصه د کلام داچه د موصی نه واخله تر آخری پلاره پورې چه کوم په اسلام کښې دی. د صاحبینو رحمهماالله په نیز به ددې په منځ کښې ټول اولاد په دې وصیت کښې داخل وی.که هغه سړی وی او که ښځې وی، که اقرب وی او که ابعد وی.دا ټول تفصیل د صاحبینو رحمهماالله په قول باندې دې.

دلیلهما﴾ دا د صاحبینو رحمهماالله دلیل دې.فرمائی.چه قریب د قرابت نه مشتق دې.نو چا سره چه قرابت قائم وی.هم هغه ته به قریب وئیلې کیږی.نو کوم سړې چه د خپل خاندان ځنې دې.که هغه ذو رحم محرم وی او که نه وی.قرابت خو هر یو سره قائم دې.نو هر یو ته به قریب وئیلې شی.

د وصیت کولو نه پس د مال هلاکیدو حکم

وَمَنْ أَوْصَى بِثُلُثِ دَرَاهِمِهِ او چاچه وصیت اوکړو.پخپلو دراهمو کښې د ثلث، أَوْبِثُلُثِ غَنَمِهِ یا پخپلو چیلو کښې د ثلث فَهَلَكَ ثُلُثَا ذَلِكَ وَبَقِيَ ثُلُثُهُ نو ددې دوه ثلثه هلاك شو.او ددې یو ثلث باقی پاتې شو وَهُوَيَخْرُجُ مِنْ ثُلُثِ مَا بَقِيَ مِنْ مَالِهِ او دا (کوم ثلث چه باقی پاتې شوی دې) دده د باقی مال د ثلث نه اوځی فَلَهُ جَمِيعُ مَا بَقِيَ نو هغه دپاره ټول باقی پاتې دې

تشریح﴾ زید سره څه دراهم دی.او څه چیلئ دی.او ددې دراهمو او چیلو نه علاوه هم څه مال شته.چه دا د چیلویادراهمو د ثلث نه دوچند دې.کله چه زید وصیت کوی.چه زما د دراهمو دریمه حصه فلانی دپاره وصیت دې.یا اووائی.چه زما د چیلو یو ثلث وصیت دې.نو وصیت صحیح دې.خو اوس دا واقعه راپیښه شوه.چه په دې دراهمو یا چیلو کښې دوه ثلثه هلاك شو.او صرف یو ثلث باقی پاتې شو.او ددې ثلث نه علاوه موصی سره دومره مال موجود دې.چه هغه ددې په مقابله کښې دوچند یا ددې نه هم زیات دې.نو اوس به موصی له ته چه په دراهمو او په چیلو کښې چه کوم ثلث باقی دې.هغه پوره ثلث به موصی له ته ورکولې شی.

مسلك زفر﴾ امام زفر رحمه الله فرمائی.چه کوم ثلث باقی دې.د هغې ثلث به موصی له ته ملاویږی.مثلاً ټول نهه سوه دراهم وو.په دې کښې ثلث یعنی ۳۰۰ باقی پاتې شو.او ۶۰۰ دراهم هلاك شو.نو د امام

زفر رحمه الله په نیز د باقي پاتې ۳۰۰ ثلث یعنی ۱۰۰ به موصی له ته ورکولې شی.(۱)

دلیله > د امام زفر رحمه الله دلیل دا دې.چه ټول مال یعنی دراهم او چیلې به موصی له او وارثانو په منع کښې مشترك وی.نو کوم مقدارچه هلاك شو.هغه هم مشترك دې.او کوم چه باقي پاتې دې.هغه هم مشترك دې.او اصول دا دې.چه کوم مال مشترك وی.د هغې هلاکت هم په شرکت باندې وی.او کوم چه باقي پاتې کیږی.د هغې بقاء هم شرکت باندې باقي پاتې کیږی.نو په ذکر شوی صورت کښې چه هرکله دا مال مشترك شو.نو هلاك شوې او باقي پاتې ټول مشترك شو.او که ترکه مختلف اجناس وی.او هلته موصی دا طریقه اختیار کړې وی.نو هلته د ټولو (امامانو) په نیز هم دا حکم دې.چه د باقي پاتې ثلث به موصی له ته ورکولې شی.مثلاً زید سره څه د چیلو رمه ده.او څه د اوښانو ده.او څه د غویانو ده.او زید په دې کښې د یو ثلث وصیت اوکړو.او اتفاق سره د هر یوې رمې دوه ثلثه هلاك شو.او صرف یو ثلث باقي پاتې شوې دې.نو هلته به بالاتفاق موصی له ته د هر جنس د باقي پاتې ثلث نه یو ثلث ورکولې شی.نو دلته کښې هم دغه شان پکار ده.

دلیل جمهور الحنفیة > د جمهورو احنافو د طرفه د امام زفر رحمه الله جواب دې.ددې حاصل دا دې.چه جنس واحد په مختلفو اجناسو باندې قیاس کول قیاس مع الفارق دې.څکه چه په کتاب القسمة کښې دا بحث تیر شوې دې.په جنس واحد کښې به د تقسیم په درخواست باندې قاضی په باقي شریکانو باندې زبردستی کوی.او د مختلفو اجناسو په صورت کښې به قاضی زبردستی نه کوی.او ددې وجه دا ده.چه په یو جنس کښې د یو څیز ډیر شریکان راجمع کیدې شی.یعنی په دې کښې د موصی له هم حق وی.او د وارثانو حق هم وی.نو هرکله چه اجتماع اوشوه.یعنی د یو جنس په صورت کښې په ۹۰۰ سوه دراهمو کښې، نو د موصی له حق به وړاندې وی.څکه چه وصیت د میراث نه مقدم وی.نو په دې کښې د موصی له حق اصالتاً وی.او د وارثانو حق تبعاً وی.او بیا قاعده کلیه دا ده.چه هرکله یو مال په اصل او تابع باندې مشتمل وی.او په دې کښې بعضې هلاك شی.نو هلاك شوې تابع طرف ته ګرځولې شی.اصل طرف ته نشی ګرځولې.لکه څنګه چه په مال مضاربت کښې هم دغه شان کیږی.نو دلته به هلاکت هغه ثلثان طرف ته ګرځولې شی.کوم چه د وارثانو حق وو.او اصل ثلث باقي دې.نو هغه به موصی له ته ورکولې شی.

صورة الاجناس المختلفة > که اجناس مختلف وی.نو هلته نه زبردستی کیدې شی.او نه ټول په شئ واحد کښې جمع کیدې شی. او هرکله چه دا ټول څیزونه نشی کیدې.نو د وصیت به د میراث نه تقدیم هم نه ثابتیږی.او نه به د اصل او تبع مسئله جاری کیدې شی.دا دلیل حاصل شو.او که موصی د دراهمو په خانې درهم ونیلې وې.مثلاً داسې نې ونیلې وو.چه ما فلانی ته یو درهم هبه کړو.او مثلاً درې درهمه وو.چه د هغې نه دوه درهمه هلاك شو.او یو باقي پاتې شو.نو دا یو به موصی له ته ورکولې شی.یعنی دلته به دا نشی ونیلې.چه ددې یو درهم ثلث به موصی له ته ورکولې شی.باقي خبره واضحه ده.

د یو ثلث وصیت کولو نه پس دوه ثلثه مال هلاك شی نو څه حکم دې ؟

وَمَنْ أَوْصَى بِثُلُثِ ثِيَابِهِ او څوك چې د خپلې دریمې حصې کپړو وصیت نې اوکړو فَهَلَكَ ثُلُثَاهَا وَبَقِيَ ثُلُثُهَا نو په دې کپړو کښې دوه ثلثه هلاك شو.او ددې ثلث باقي پاتې شو وَهُوَ يَخْرُجُ مِنْ ثُلُثِ مَا بَقِيَ

---

(۱) القول الراجح هوهذا قول زفر رحمه الله كذا في كشف الأستار(۲\۳۲٤) وحاشية السعدى على العناية (۹\۳۷٤) وردالمحتار(۵\٤۷۵) والعینی (۱۳\٤۲۳) نقلاً عن القول الراجح (۲\۳۷٦)-

مِنْ مَالِهِ او دا (باقي پاتې ثلث) دده د باقي پاتې مال د ثلث نه خارجيږي لَمْ يَسْتَحِقَّ إِلَّا ثُلُثَ مَا بَقِيَ مِنَ الثِّيَابِ نو موصی له به مستحق نه وي.خو د باقي پاتې کپړ و د ثلث

تشریح که موصي د خپلو کپړو د ثلث وصيت کړې وي.او اتفاق سره ددې کپړو نه دوه ثلثه هلاکې شي.او صرف يوثلث باقي پاتې شي.نو موصی له ته به د باقي پاتې ثلث ملاويږي.اوکه باقي پاتې ټول به ملاويږي ؟ نو په دې کښې تفصيل دی.که کپړې د مختلف جنس وي.نو د باقي پاتې کپړو ثلث به ملاويږي.اوکه د يو جنس وي.نو باقي پاتې به ټول ملاويږي.ځکه چه د جنس د اتحاد په صورت کښې کپړې د دراهمو پشان شوې.او هم دغه شان هرکيلي او وزني څيز هم د دراهمو په مرتبه کښې دې.ځکه چه لکه ځنګه چه په دراهمو کښې تقسيم باندې زبردستي جائز ده.دغه شان کيلي او وزني څيزونو کښې تقسيم باندې زبردستي جائز ده.او لکه ځنګه چه په دراهمو وغيره کښې جمع کول ممکن دی.دغه شان په کيلي او وزني څيز کښې جمع کول ممکن دی.

چه مال نغد هم وي او قرض هم وي نو د زرو روپو وصيت به ځنګه پوره کولې شي؟

وَمَنْ أَوْصَى لِرَجُلٍ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ او چا چه د يوکس دپاره د زرو درهمو وصيت اوکړو وَلَهُ مَالٌ عَيْنٌ وَدَيْنٌ او د هغه نغد مال شته.او قرض هم شته فَإِنْ خَرَجَ الْأَلْفُ مِنْ ثُلُثِ الْعَيْنِ دُفِعَتْ إِلَى الْمُوصَى لَهُ نو که زر (درهم) راوځي.د نغد ثلث نه، نو زر (درهم) به موصی له ته ورکولې شي

تشریح زيد وصيت اوکړو.چه زما د مال نه دې زر روپۍ بکر ته ورکړې شي.نو وصيت صحيح دې.خو زيد څه مال نغد پريخودو.او بعضې مال هغه دې.کوم چه په خلقو باندې قرض دې.نو بکر ته چه کوم هزار روپۍ ورکولې شي. که نغد مال دومره وي.چه د هغې ثلث زر روپۍ جوړيږي.مثلاً درې زره يا ددې نه زيات نغد مال موجود دې.نو بکر ته به زر روپۍ ددې نغد مال نه ورکولې شي.
دلیله ځکه چه هر حقدار ته د هغه حق ورکول ممکن دی.د څه کمی نه بغير، نو دې طرف ته به رجوع کولې شي

وَإِنْ لَمْ يَخْرُجْ او که زر (درهم) دثلث نه نه اوځي دُفِعَ إِلَيْهِ ثُلُثُ الْعَيْنِ نو موصی له ته به د نغد مال ثلث ورکولې شي وَكُلَّمَا خَرَجَ شَيْءٌ مِنَ الدَّيْنِ أَخَذَ ثُلُثَهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الْأَلْفَ او د قرض نه چه کوم مقدار وصوليږي.د هغې نه به ثلث اخلي.ترڅو چه هغه (موصی له) زر (درهم) وصول کړي

تشریح او که نغد مال دومره نه دې.بلکه کم دې.مثلاً ټولې زر روپۍ نغدې دی.او باقي مال په خلقو باندې قرض دې.نو بکر ته به د زرو روپو ثلث په نغدو کښې ورکولې شي.او باقي حصه به هغه ته د قرضو نه ملاويږي.چه ددې صورت به دا وي.چه څومره قرض وصوليږي.د هغې دريمه حصه به بکر ته ورکولې شي.ترڅو چه د هغه حق پوره شي.يعنی زر روپۍ پوره شي.
دلیله ددې طريقې اختيارولو وجه دا ده.چه موصی له او وارثان په ترکه کښې دواړه شريکان دی.ددې باوجود که نغد مال صرف موصی له ته ورکړې شي.نو د وارثانو په حق کښې کمی کول لازميږي.او کمی ځکه لازميږي .چه موصی له ته نغد مال ملاو شو.او وارثانو ته هغه مال ملاو شو.کوم چه په خلقو باندې قرض دې .حالانکه نغد مال د قرض نه غوره او افضل وي.ځکه چه قرض فی الحال مال نه دې.بلکه د وصولولو نه پس به مال وي.نو د موصی له او وارثانو په منځ کښې برابری به په هغه صورت کښې پاتې کيږي.کوم چه مونږ بيان کړې دې.

حمل دپاره د وصیت حکم

وَتَجُوزُ الْوَصِيَّةُ لِلْحَمْلِ وَبِالْحَمْلِ امام قدوری رحمه الله اوفرمائیل.او وصیت جائز دې د حمل إِذَا وُضِعَ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ يَوْمِ الْوَصِيَّةِ)او د حمل وصیت (هم جائز دې). کله چه دا د وصیت د ورځ نه د شپږو میاشتو نه په کم کښې پیدا شي

تشریح که یو بچې په خیټه کښې دې.او دده د یو مورث وفات اوشي.نو حمل ته به هم میراث ملاویږی.او میراث او وصیت ګویا چه دواړه خویندې دی.نو که حمل دپاره وصیت اوکړې شی.نو جائز دې.او هم دغه شان که د حمل وصیت اوکړې شی.نو هغه هم جائز دې.مثلاً اووائی.چه زما د وینځې په خیټه کښې چه کوم بچې دې.دا فلانی سړی ته ورکړئ.نو دا هم صحیح دې.او وصیت جائز دې.خو دا وصیت حمل دپاره، یا وصیت د حمل هغه وخت جائز دې.کله چه حمل په خیټه کښې موجود وی.ددې علامت دا دې.چه د وصیت د وخت نه د شپږو میاشتو نه په کم کښې پیدا شي.

دليل جواز الوصية للحمل دحمل دپاره د وصیت د جواز دلیل دا دې.چه وصیت فی الحال مالك جوړول نه دی.بلکه د میراث پشان په دې کښې هم استخلاف دې.نو لکه څنګه چه میراث جائز دې.دغه شان وصیت هم جائز دې.ځکه چه وصیت او میراث پخپلو کښې د یو بل مثالونه دی.صرف دومره فرق دې.چه وصیت په رد کولو سره ردکیږی.او میراث نه رد کیږی.ځکه چه وصیت کښې د موصی د طرفه تملیك (مالك جوړول) دی.او کوم ځائې چه تملیك وی.هلته رجوع جائز ده.او په میراث کښې تملیك نشته.بلکه صرف استخلاف دې.

دليل جواز الوصية بالحمل د حمل وصیت نو دا هم جائز دې.ځکه چه زمونږ خبره د داسې جنین حمل په باره کښې ده.چه دده د وصیت په وخت کښې موجود کیدل معلوم وی.او هرکله چه دلته دده موجود کیدل معلوم شوی دی. نو دا جنین به یو څو ورځې پس را موجود کیږی.او د مړی د حاجت او عجز په لحاظ سره د وصیت باب وسیع دې.او د وسعت دلیل دا دې.چه که یو کس وصیت اوکړو.چه زما په باغ کښې کومې میوې راشی.دا د فلانی دپاره وصیت دې.نو دا وصیت جائز دې.حالانکه میوې اوس موجود نه دی.نو کوم ځیز چه موجود دې.د هغې وصیت به په درجه اولی جائز وی.

د حامله وینځې چا دپاره وصیت کول او د حمل استثناء کول

واذا أَوْصَى لرجل بِجَارِيَةٍ إِلَّا حَمْلَهَا او کله چې وصیت د یو سړی دپاره د وینځې خو د هغې د حمل (نې اونکړو). صَحَّتِ الْوَصِيَّةُ وَالِاسْتِثْنَاءُ نو وصیت او استثناء صحیح ده

حل اللغة ① **افراد:** خانله والې]

تشریح که موصی د وینځې وصیت اوکړو.او ددې د حمل استثناء نې اوکړله.نو د وینځې وصیت صحیح دی.او استثناء هم صحیح ده.نو حمل به په وصیت کښې داخل نه وی.

دليل صحة الوصية ځکه چه لفظی اعتبار سره لفظ د جاریه حمل ته شامل نه دې.خو که مطلق جاریه (وینځه) نې اووئیلې.او د حمل استثناء نې اونکړله.نو د تابع کیدو په وجه به حمل هم د وینځې لاندې داخل وی.او وصیت به صحیح وی.نو هرکله چه موصی یواځې د مور وصیت اوکړو.نو وصیت صحیح دې.

دليل صحة الاستثناء او که یواځې د حمل وصیت اوکړی. نو دا هم جائز دې. نو ددې استثناء هم صحیح ده.ځکه چه قاعده کلیه هم دا ده.چه د کوم ځیز یواځې عقد صحیح کیږی.د هغې د عقد نه استثناء هم کیدې شی.او د کوم ځیز چه خانله عقد نشی کیدې.د هغې استثناء هم نه صحیح کیږی.

د داسې وینځې وصیت کول، چه د موصی د وفات نه پس ددې بچې پیدا شي نو څه حکم دی ؟

(وَمَنْ أَوْصَى لِرَجُلٍ بِجَارِيَةٍ او چا چه د یو کس دپاره د وینځې وصیت اوکړو فَوَلَدَتْ بَعْدَ مَوْتِ الْمُوصِي قبل ان يقبل الموصى له ولدا ثم قبل الموصى له وهما يَخْرُجَانِ مِنْ الثُّلُثِ نو هغې د موصی د مرګ نه روستو اود موصی له د قبض کولو نه وړاندې بچې راوړو .بیا موصی له قبول کړو. فَهُمَا لِلْمُوصَى لَهُ نو دوی دواړه به موصی له دپاره وی

تشریح> زید دخالد دپاره د خپلې وینځې وصیت اوکړو.او د زید د مرګ نه روستو، د ترکې تقسیمولو نه وړاندې وینځې یو بچې راوړو.او د وینځې او د بچې قیمت دومره دې.چه دوی دواړه د ترکې د دریمې نه اوځی.یعنی ترکه او ددوی دوه ثلثه یا ددې نه زیات موجود دی.نو وینځه او بچې دواړه به خالد ته ملاویږی.

دلیله> ځکه چه وصیت کښې مور اصالتاً داخله ده.ځکه چه ددې وصیت زید کړې دې.او بچې چونکه د وصیت په وخت کښې مور سره متصل دې.نو بچې به د تبعیت په بناء وصیت کښې داخل وی.او ترکه د تقسیمولو نه وړاندې د مړی په ملکیت باندې باقی پاتې وی.ددې دلیل دا دې.چه د مړی د ترکې نه د مړی قرضې ادا کولې شی.نو هرکله چه ترکه لا اوس د مړی (د زید) په ملکیت باندې باقی پاتې ده.او هیڅ مانع موجود نه دې.نو بچې به هم وصیت کښې داخل وی.او هرکله چه مور او بچې (دواړه) په وصیت کښې داخل شو.نو دوی دواړه به خالد ته ملاویږی.

که مور او ځوئې د ثلث نه نه اوځی نو څه حکم دې ؟

وَإِنْ لَمْ يَخْرُجَا مِنْ الثُّلُثِ او که دوی دواړه د دریمې حصې نه نه اوځی ضَرَبَ بِالثُّلُثِ نو موصی له به دریمه حصه اخلی وَأَخَذَ بِالحصة مِنْهُمَا جَمِيعًا فِي قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رحمهما الله او په دوی دواړو کښې چه کوم یو دده په حصه کښې راشی.هغه به اخلی.د صاحبینو رحمهما الله په قول باندې

تشریح> او که مور او بچې دواړه د دریمې نه نه اوځی.یعنی ددوی د قیمت نه علاوه دوه ثلثه یا ددې نه زیات باقی پاتې نشی.نو د صاحبینو رحمهما الله په نیز به د مور او بچې دواړو نه په یوځائې ثلث وصولولې شی.

دلیلهما> د صاحبینو رحمهما الله دلیل دا دې.چه بچې هم په وصیت کښې داخل شوې دې.اګرچه بچې په وصیت کښې اصالتاً داخل دې.او بچې تبعاً داخل دې.بهرحال که هرڅنګه داخل شی. خو داخل دې.او هرکله چه بچې د اتصال د وخت نه وصیت کښې داخل دی.نو اوس هرکله چه هغه د مور نه جدا شوې دې.نو اوس به د وصیت نه نه خارجیږی.نو اوس به داسې ګڼړلې شی.چه مور او بچې په وصیت کښې دواړه برابر داخل دی.نو اوس ددې هیڅ وجه پاتې نشوه.چه مور په بچې باندې مقدم کړې شی.او ددې مثال داسې دې.

وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ يَأْخُذُ ذَلِكَ مِنْ الْأُمِّ فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ أَخَذَهُ مِنْ الْوَلَدِ[1] او امام ابوحنیفه رحمه الله فرمانیلی دی.چه هغه به ثلث د مور نه وصولوی.نو که څه بچ پاتې شی.نو هغه به د بچی نه اخلی.

---

[1]) القول الراجح هوهذا قول ابی حنیفة رحمه الله كذا في ملتقى (٤\٤٣٥) وردالمختار(٥\٤٨٠) نقلاً عن القول الراجح (٢\٣٧٩)-

تشريح﴿ مسلك ابي حنيفة﴾ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي.چه هغه به خپله دريمه حصه د مور نه اخلي. که د مور نه دده دريمه پوره شي.نو صحيح ده.ګنې که څه پاتې شي.نو دا کمې به په بچي سره پوره کولې شي.

دليله﴾ د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه په وصيت کښې مور اصل ده.او بچې د هغې تابع دې.او دا اصول پخپل ځائې مسلم دی.چه تابع د اصل مقابل نه جوړيږي.نو دلته بچې د مور مقابل څنګه جوړيدې شي.څکه که په مور او بچي دواړو کښې وصيت نافذ اومنلې شي.نو بچې (چه تابع دې) د مور (چه اصل ده) مقابل وي.مور دپاره به په بعضې حصه کښې وصيت باطلوي.او دا ناجائز ده.چه بچې په اصل کښې وصيت باطل کړي.څکه چه د صاحبينو رحمهماالله د قول مطابق د مور ۲۱۳ وصيت کښې داخل دې.او ۱۱۲ د وصيت نه خارج شو.او دا ټول د تابع په وجه شوې دې.

توضيحه في ضوء المثال﴾ مثلاً زيد سره شپږ سوه درهمه دي.او يوه وينځه ده.چه د هغې قيمت درې سوه درهمه دې.اوس زيد ددې وينځې وصيت خالد دپاره اوکړو.نو وصيت صحيح دې.او پوره وينځه به خالد ته ملاويږي.څکه چه وينځه د پوره ترکې دريمه (حصه) ده.خود زيد د مرګ نه روستو او د ترکې تقسيمولو نه وړاندې دغه وينځې يو بچې راوړو.چه د هغه قيمت هم درې سوه درهمه دې.اوس ټوله ترکه ۱۲۰۰ سوه درهمه شوه.چه ددې ثلث څلور سوه جوړيږي.نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به پوره وينځه خالد ته ورکولې شي.خو اوس هم دهغه ثلث پوره نشو.نو د بچي د قيمت نه به ۱۱۳ نوره هم خالد ته ورکولې شي.اوس څلور سوه ماليت خالد ته ملاو شوې دې.چه دا د دولسو سوو ثلث دې.او د صاحبينو رحمهماالله په نيز به د مور او بچي دواړو ۲۱۳ خالد ته ورکولې شي.او دمور دوه ثلثه ۲۱۳ دوه سوه دراهم دی.او د بچي دوه ثلثه هم دوه سوه درهم دی.نو د دولسو سوو ثلث پوره شو.نو خالد ته به ددوی دواړو دوه ثلثه ملاويږي.اوس به په دې باندې د فريقينو دليلونه پيش کولې شي.

د غلام د خدمت يا په کور کښې د اوسيدو وغيره د وصيت حکم

وَيَجُوزُ الْوَصِيَّةُ بِخِدْمَةِ عَبْدِهٖ وَسُكْنَى دَارِهٖ سِنِيْنَ مَعْلُوْمَةً اود خپلو غلامانو د خدمت،اودخپل کوردسکنی دمعين کالونو پورې وصيت کول جائز دې وَيَجُوزُ بِذٰلِكَ أَبَدًا او ددې وصيت د هميشه دپاره کول جائز دې

تشريح﴾ لکه څنګه چه انسان په خپل ژوند کښې د خپل څيز د منافعو نور خلق مالك جوړولې شي.چه ددې يوڅوصورتونه دی ① کرايه باندې ئې ورکړي.نوپه کرايه باندې اخستونکې د اجرت په بدله کښې د منافعو مالك شو. ② عاريت باندې ئې ورکړي. د عاريت په صورت کښې عاريت باندې اخستونکې په مفتو کښې د منافع مالك کيږي.دغه شان انسان ته دا حق حاصل دې.چه د خپل مرګ نه پس يوکس د خپل څيز د منافعو مالك جوړ کړي.

دليله﴾ څکه چه لکه څنګه هغه ته د اعيان د وصيت حاجت راپيښيږي.د غه شان هغه ته د منافعو د وصيت حاجت راپيښيږي.

د غلام د خدمت په وصيت کښې د نفاذ طريقه

فَإِنْ خَرَجَتْ رَقَبَةُ الْعَبْدِ مِنَ الثُّلُثِ نوکه د غلام رقبه د دريمې حصې نه اوخي سُلِّمَ إِلَيْهِ لِلْخِدْمَةِ نو غلام به موصى له ته سپارلې کيږي.چه غلام د موصى له خدمت اوکړي

تشريح﴾ زيد د خالد دپاره د غلام د خدمت وصيت اوکړو.او د غلام قيمت دوه ثلثه دې.يا ددې نه زيات نور مال هم موجود دې.يعنې غلام د ثلث نه وتلې شي.نو غلام به خالد ته سپارلې کيږي.چه غلام د خالد خدمت کوي.

دليله> ځکه چه د خالد حق په ثلث کښي دی.په دې ثلث کښي وارثان دده مقابل نشی جوړيدې.

وَإِنْ كَانَ لَامَالَ لَهُ غَيْرُهُ ځکه چه د موصی له حق په دريمه حصه کښي دی.چه په دې کښي وارثان مقابل نشی جوړيدې.که د موصی د غلام نه علاوه مال نه وی خَدَمَ الْوَرَثَةَ يَوْمَيْنِ وَالْمُوصَى لَهُ يَوْمًا نو غلام به دوه ورځې د وارثانو خدمت کوی.او يوه ورځ به د موصی له (خدمت) کوی

تشريح> اوکه موصی سره ددې غلام نه علاوه نور هيڅ مال نه وی.نو بيا به دا طريقه اختيارولې شی.چه دا غلام به دوه ورځې د وارثانو خدمت کوی.او يوه ورځ به د خالد خدمت کوی.

دليله> ځکه چه د وارثانو حق دوه ثلثه دی.او د خالد حق يو ثلث دی.لکه څنګه چه د اعيانو په وصيت کښي کيږی.او غلام درې حصې کول، او ټکړې کولو سره تقسيم کيدې نشی.ځکه چه غلام په دې اعتبار سره غير متجزی دی.نو اوس د مهايات (نمبرواری) نه علاوه هيڅ لاره نشته.نو مهايات به اختيارولې شی.چه دواړه حقونه پوره کړې شی.د وارثانو حق هم او د موصی له حق هم.

د موصی له په مرګ سره به موصی به وارثانو ته ورکولې شی

فَإِنْ مَاتَ الْمُوصَى لَهُ نو که موصی له مړ شو عَادَ إِلَى الْوَرَثَةِ نو موصی به وارثانو طرف ته راواپس کيږی

تشريح> زيد د خالد دپاره پخپل کور کښي د اوسيدو وصيت کړې وو.او د زيد د وفات نه پس د وصيت مطابق خالد په کور کښي اوسيدو.او اوس د خالد وفات اوشو.نو موصی به، به وارثانو ته حواله کولې شی.

دليله> ځکه چه موصی د زيد دپاره دا وصيت کړې وو.چه هغه د موصی د ملك په حکم باندې ددې نه نفع حاصله کړی.اوکه اوس موصی به د خالد وارثانو ته ورکړې شی.نو په دې سره به دا لازميږی.چه د موصی د رضامندئ نه بغير په ابتداء کښي د موصی له وارثان د منافعو مستحق کيږی.حالانکه دا جائز نه دی.چه د مالك د رضامندئ نه بغير د ملك استحقاق اوشی.

وَإِنْ مَاتَ الْمُوصَى لَهُ فِي حَيَاةِ الْمُوصِي بَطَلَتِ الوصية او که د موصی په ژوند کښي موصی له مړ شی.نو وصيت به باطل وی

تشريح> اوکه د زيد په ژوند کښي د خالد وفات اوشی.نو وصيت به باطليږی.

دليله> ځکه چه وصيت هم يو عقد دی.چه په دې کښي د ايجاب او قبول ضرورت دی.د موصی قول ايجاب دی.او د موصی د مرګ نه پس د موصی له ددې ايجاب قبلولو ته قبول ونيلې شی.او موصی پخپل ژوند کښي ايجاب کوی.او ددې ظهور د اثر په اعتبار سره د موصی د مرګ په وخت کيږی.او دلته چه کله موصی له د موصی په ژوند کښي مړ شو.نود موصی ايجاب باطل شو.

نظيره> لکه مثلاً که بائع ايجاب کړې وو.او اوس لا مشتری قبول کړې نه وو.چه د مشتری وفات اوشو.نو د بائع ايجاب به باطليږی.

په ,, ولد فلان،، الفاظو سره د وصيت حکم

وَإِذَا أَوْصَى لِوَلَدِ فُلَانٍ او کله چې د فلانی ولد دپاره وصيت اوکړو فَالْوَصِيَّةُ بَيْنَهُمْ نو وصيت به ددوی په منځ کښي لِلذَّكَرِ وَالْأُنْثَى سَوَاءٌ د نارينه او زنانه دپاره برابر وی

تشريح> ابن نه صرف خوني مراد وی.او په لفظ د ،، ولد ،، سره ځامن او لونړه ټول مراد وی.په نورو الفاظو کښي داسې چه لفظ د ولد په حقيقت کښي مطلق اولاد ته شامل دی.نو کله چه زيد د خالد ولد

دپاره وصيت اوکړو.نو دخالد خامن او جينکۍ به په دې وصيت کښې برابر برابر شريك وي.

د.. فلانى وارثانو.. الفاظو سره د وصيت حکم

وَإِنْ أَوْصَى لِوَرَثَةِ فُلَانٍ او که د فلانى وارثانو دپاره وصيت اوکړو فَالْوَصِيَّةُ بَيْنَهُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ نو وصيت به ددوى په منځ کښې د (لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ) په طريقه وي

تشريح> زيد وصيت اوکړو.چه د فلانى وارثانو دپاره وصيت دې.نو دلته به په هلك او جينۍ کښې د ميراث مطابق تقسيم کولې شي.يعنى کوم چه جينۍ ته ملاويږي.د هغې دوچند به هلك ته ملاويږي.

دليله> ځکه چه د لفظ ورثه تصريح دې طرف ته اشاره کوي.چه د زيد اراده هم دا ده.چه د هلکانو حق د جينکو نه زيات وي.لکه څنګه چه په ميراث کښې کيږي.

دوه کسانو دپاره د ثلث مال وصيت کولو نه پس معلومه شوه چه يو کس مړ شوې دې نو څه حکم دې ؟

وَمَنْ أَوْصَى لِزَيْدٍ وَعَمْرٍو بِثُلُثِ مَالِهِ او چاچه وصيت اوکړو.د زيد او عمرو دپاره، د خپل مال د ثلث فَإِذَا عَمْرٌو مَيِّتٌ نوعمرو مړ دې فَالثُّلُثُ كُلُّهُ لِزَيْدٍ نو ثلث به ټول په ټوله د زيد دپاره وي

تشريح> بکر د زيد او عمرو دواړو دپاره د خپل دريمه حصه مال وصيت اوکړو.خو عمرو ژوندې نه دې.بلکه هغه د وصيت کولو نه وړاندې مړ شوې دې.نو پوره ثلث به زيد ته ملاويږي.

دليله> ځکه چه مړې د وصيت اهل نه دې.او زيد چونکه ژوندې دې.او د وصيت اهل دې.نو عمرو به د اهليت نه کيدو په وجه د زيد مقابل نه جوړيږي.او هغه ته به د ثلث ورکولو نه مانع نه جوړيږي.

نظيره> لکه مثلاً که بکر د زيد او ديوال دپاره د ثلث مال وصيت اوکړو.نو پوره ثلث به زيد ته ملاويږي.ځکه چه ديوال کښې اهليت نشته.چه هغه (ديوال) ته هم ورکړې شي.نو عمرو (چه مړ دې) هم د ديوال په مرتبه کښې دې.او په دواړو صورتونو کښې به زيد ته پوره ثلث ملاويږي.

د دوو کسانو په منځ کښې د ثلث مال وصيت نه پس معلومه شي چه يوکس مړ شوې دې نو څه حکم دې ؟

وَإِنْ قَالَ ثُلُثُ مَالِي بَيْنَ زَيْدٍ وَعَمْرٍو وَزَيْدٌ مَيِّتٌ او که موصي اووئيل.چه زما دريمه حصه مال د زيد او عمرو په منځ کښې دې.او زيد مړ دې كَانَ لِعَمْرٍو نِصْفُ الثُّلُثِ نو عمرو دپاره به د ثلث نصف وي

تشريح> که موصى هغه الفاظ استعمال کړي.کوم چه وړاندې تير شو.چه زما د مال ثلث د زيد او عمرو دپاره وصيت دې.نو ددې حکم خو ذکر شوې دې.او که هغه ددې په ځائې لفظ د بين (منځ) استعمال کړي.اوداسې اووائى.چه زما دمال دريمه حصه د زيداوعمرو په منځ کښې ده.او په دوى کښې زيد ژوندې نه دې.صرف عمرو ژوندې دې.نو عمرو دپاره به د ثلث، نصف وي.

دليله> ځکه چه موصى کوم د بين (منځ) لفظ استعمال کړې دې.د هغې تقاضا هم دا ده.چه موصى په دوى دواړو کښې هر يو ته د ثلث نصف ورکول غواړي.

او په مخکنۍ مسئله کښې داسې هيڅ لفظ نشته.چه هغه په دې خبره دلالت اوکړي.چه موصى په دوى دواړو کښې هر يو ته د ثلث نصف ورکول غواړي.

د وصيت په وخت مال موجود نه وي او روستو اوګټې نو د وصيت څه حکم دې ؟

وَمَنْ أَوْصَى بِثُلُثِ مَالِهِ وَلَا مَالَ لَهُ ثُمَّ اكْتَسَبَ مَالًا او چاچه د مال د ثلث وصيت اوکړو.او هغه دپاره

مال نشته.بیا موصی مال اوګټلو اسْتَحَقَّ الْمُوصٰی لَهُ ثُلُثَ مَا يَمْلِكُهُ عِنْدَ الْمَوْتِ نو موصی له به د هغې مال د ثلث مالك وي.چه موصی د مرګ په وخت د کوم مالك وو

تشریح> زیدوصیت اوکړو.چه زما د مال ثلث بکر ته ورکړئ.خو زید سره مال نشته.البته زید د وصیت نه روستو مال اوګټلو.اود مرګ په وخت ئې مال پریخودو.او مړ شو.نو زید چه د مرګ په وخت د څومره مال مالك دې.د هغې مال ثلث به موصی له ته ورکولې شي.

دلیله> ځکه چه په وصیت کښې د وصیت په وخت د مال وجود شرط نه دې.بلکه د مرګ په وخت د مال وجود شرط دې.او د مرګ په وخت مال موجود دې.ځکه چه د وصیت حکم د موصی د مرګ نه پس هم ثابتیږی.نو دغه وخت به ملکیت کتلې شي. ځکه چه د وصیت حقیقت هم دا دې.چه موصی ګویا دا وائی.چه ته زما د مرګ نه روستو زما د مال په ثلث کښې زما خلیفه او زما قائم مقام یې.

كِتَابُ الْفَرَائِضِ

ترجمه> داکتاب دې د فرائضو د احکامو په بیان کښې.

د فرائضو لغوی معنی اود تسمیه وجه

لفظ فرائض جمع ده اومشتق د فرض نه دې متعین څیز،چونکه په میراث کښې حصې متعین وی په دې وجې دغه حصوته فرائض ونیلې شي. بیا په مزه مزه علم میراث ته فرائض او د فن واقف کارته فرضی اوفراض اوونیلې شو.

الفرائض اصطلاحا> د فقه اوحساب هغه قواعدوباندې پوهیدل په کوم سره چه د هریووارث حصه د ترکه نه معلومه شي.

موضوعها> دعلم فرائض موضوع ترکه او وارثان دی. هم د دې دوارو احوالوسره په دې فن کښې بحث کولې شي.

غرضها وغایتها> د دې فن غرض وغایت حقدارانوته د هغوی حق رسول اود ترکه په تقسیم کښې د غلطئی نه بچ کیدل دی.

حکمها> د دې علم زده کره فرض کفایه ده یعنی په اندازه د شرعی سفرپه موجوده زمانه کښې ۸۷کلومیتر ۷۸۲ میتر، ۴۰ سنتی میتر دې) د مقاماتو په مسافت کښې کم نه کم د یوعالم د فرائضو کیدل ضروری دې ګنی په دغه کلوکښې اوسیدونکی ټول خلق به ګناهګاروی.

شرائطها> د دې علم درې شرطونه دی: ① د مورث مرګ ② د مورث د مرګ په وخت د وارث وجود. ③ دا پیژندل چه په کوم طرف وارث جوړیږی د خپلولئی د وجې نه که د نکاح د وجې نه یا د ولاء د وجې نه.

ارکانها> د دې علم درې ارکان دی. ① وارث ② مورث (مړې) ③ حق مورث یعنی ترکه.

اسباب> ① نسب ② نکاح ③ ولاء.

دعلم فرائض فضیلت

علم فرائض ډیر اهم اود غټوفضیلتونو والاعلم دې. د دې د اهمیت اندازه د دې خبرې نه لګولې شی چه الله تعالی نور احکام لکه مونځ روژه وغیره اجمالا نازل کړی دی اود دې تفصیل ئې نبی کریم ﷺ ته حواله کړې دې اود وراثت ټول تفصیل ئې پخپله نازل کړې دې:

الْمُجْمَعُ عَلٰى تَوْرِيْثِهِمْ مِنَ الذُّكُوْرِ عَشَرَةٌ اَلْاِبْنُ وَابْنُ الْاِبْنِ وَاِنْ سَفَلَ وَالْاَبُ وَالْجَدُّ اَبُوالْاَبِ وَاِنْ عَلَا وَالْاَخُ وَابْنُ الْاَخِ وَالْعَمُّ وَابْنُ الْعَمِّ وَالزَّوْجُ وَمَوْلَى النِّعْمَةِ. وَمِنَ الْاِنَاثِ سَبْعٌ اَلْبِنْتُ وَبِنْتُ الْاِبْنِ وَالْاُمُّ وَالْجَدَّةُ وَالْاُخْتُ وَالزَّوْجَةُ وَمَوْلَاةُ النِّعْمَةِ]

حل اللغة﴿ابن الابن: دَ خوئی خوي یعنی نمسی. سفل ‹دَ نصر، سمع، کرم› دریوارو بابونونه راځی البته دَ باب نصر نه لوستل ډیربهتراو مشهوردی. دَ کرم نه لوستلو ته غلط ونیلې شوی دی. خکه چه دَدې مصدر سفالة هم دې دکوم معنی چه دنائت اوحقارت ده. الجد: نیکونه په دواړو طرفوباندې دَدې اطلاق کیږې مګرصاحب دَ قدوری ابوالاب ونیلوسره داخبره واضحه کړه چه دلته صرف دَ پلاردَ طرف نیکه مراد دې دَ موردَ طرف نیکه مرادنه دې خکه چه هغه دَ ذوی الارحام نه دې هغه ته وراثت نه ملاویږی. که څوك وارث نه وی نو په آخیره کښې مال دَ مورطرف نیکه یا ماماته ورکولې شی.

مولي النعمة: دَ کوم چه مړی سره دَ عتاقت تعلق وی یعنی آزادونکې آقا اودَهغه اولاد دې ته مولی العتاقه ومولی التعامه هم ونیلې شی.

ترجمه﴿ دَ چاچه په وارث کیدو باندې اتفاق دې دَسړونه هغه لس دی. خوئی نمسې سره دَدې چه دَ لاندې نه وی پلار نیکه یعنی دَ پلار پلار سره دَدې چه دَ بره پورې وی. رور، وراره، تره، دَ تره خوئی، خاوند آزاد کونکې آقا او دَ ښځونه اووه دی: لور نمسئی مور جده صحیحه ‹دَ موراوپلاردواړودَ طرفو نیا تربره پورې› خور، ښځه، آزادونکې.

ترکه به په دې ترتیب سره تقسیمیږی

تشریح ﴿ صاحب دَ قدوری په دې عبارت کښې مطلقًا دَهغه خلقو تذکره کړې ده کوم چه دَ میراث حقداردی. که هغه دَاصحاب فرائض په اعتبارسره یادَ عصبه په اعتبارسره یعنی سره دَدې دَ اقسامو که عصبه په اعتبارسره. بل داخیزنی هم په خیال کښې نه دې ساتلې چه په دې قسمونوکښې به دَ کوم قسم خلق مقدم وی اوکوم مؤخر بلکه په یوه جمله کښې بیان کړې دې خوترکه به په دې لاندینی ترتیب سره تقسیمیږی:

① ترکه به دَ ټولونه اول صاحب فرائض ته ملاویږی. اصحاب فرائض هغه وارثان دی دَچاحصې چه په شریعت کښې متعین دی. دا ټول دولس کسان دی څلور سړی او اته ښځې. ‹۱› پلار ‹۲›جد صحیح ‹نیکه›دَ بره پورې ‹۳› اخیافی ‹دَمورشریك› رور ‹۴› خاوند ‹۵› ښځه ‹۶› لور ‹۷› نمسئی لاندې پورې ‹۸› حقیقی خور ‹۹› علاتی ‹دَپلارشریك› خور ‹۱۰› اخیافی خور ‹۱۱› مور ‹۱۲› جده صحیحه‹دواړه نیاګانې› دَ بره پورې.

② دَ ذوی الفروض نه پس به ترکه عصبه نسبی ته ملاویږی. عصبه دَ مړی هغه رشته دران دی چه دَ ذوی الفروض نه پاتې شوې ترکه اخلې اوکه ذوالفروض نه وی نوټوله ترکه اخلې. دَ عصبه دوه قسمونه دی: ‹۱› عصبه نسبی ‹۲› عصبه سببی، عصبه نسبی هغه دی دَ کومو چه دَمړی سره دَ ولادت تعلق دې اوعصبه سببی هغه دی دَ کوموچه دمړی سره دَ آزادئی تعلق دې تفصیل به په باب العصبات کښې راځی.

③ چه ذوالفروض او عصبه نسبی نه وی نوترکه به عصبه سببی ته ملاویږی.

④ که دَ مړی آزادونکې مړشی نودَهغه عصبه بنفسه ته یعنې دَهغه خوئی پلار رور وراره تره او دَتره خوئی ته به ترکه ملاویږی اوکه چرې داهم نه وی نوکه آزادونکې دَ چاغلام وی نودَهغه آزادونکې آقا ته به ترکه ملاویږی وهکذا.

⑤ که دَ یوقسم هم عصبه نه وی نوباقی پاتې ترکه به دوباره نسبی ذوی الفروض ته حصه ورکولې شی.(زوجین ته به نه شی ورکولې ځکه چه هغه نسبی وارثان نه دی سببی یعنی دَ زوجیت دَ رشتې دَ وجې نه وارثان دی)

⑥ که دَ ذوی الفروض اوعصبات نه څوك نه وی نو ذوی الارحام ته به ترکه ملاویږی تفصیل به دَ ذوی الارحام په باب کښې راځی.

⑦ که ذوی الارحام هم نه وی نومولی الموالات ته به ترکه ورکولې شی.

⑧ که دَ دغه پورتنو وارثانونه یوهم نه وی نوهغه سړی به وارث وی دَ چادَ پاره چه مړی دَخپل غیرنه دَ نسب اقرار کړې دې یعنی چه دَ یومجهول النسب باره کښې ئې دا وئیلی وی چه دا زما رور یا تره دې. اوپه دې اقرارسره دَ هغه نسب دَغیرنه ثابت شوې نه وی اواقرار کونکی دَخپل اقرار نه ترمرګه پورې رجوع هم نه وی کړې نوهغه مقرله رور یا تره کیدو په حیثیت سره به وارث وی.

⑨ که دَ دغه پورتنو وارثانونه څوك هم نه وی اومړی دَ چادَپاره دَ دریمې حصې نه دَ زیات یا دَ ټولې ترکه وصیت کړې وی نودَ دریمې نه زیات یا ټوله ترکه به دغه موصیٰ له ته ورکولې شی.

⑩ که دَ دغه پورتنوخلقونه هیڅوك هم نه وی نودَ مړی ترکه به په بیت المال یعنی اسلامی حکومت په خزانه کښې جمع کولې شی چه په عاموسلمانانو فقیرانو غریبانانو اومسکینانو او حاجت مندو خلقو باندې خرچ کړې شی. په اسلامی خزانه کښې بې لاري کیدل یادې په عدم موجودګئی کښې په زوجین باندې ردوی خویادساتئی چه ذوی الارحام په موجودګئی کښې به په زوجین باندې ردنه وی دَخلقونه دې خائی کښې هیره کیږی.

نوټ ﴿ نن صباپه هندوستان کښې چونکه اسلامی خزانه او بیت المال نشته نوچه کله یووارث دَ یوقسم هم موجودنه وی نوبیادَ مړی ترکه په ځائی دَبیت المال په فقراؤ باندې خرچ کړئی.

وَلَایَرِثُ اَرْبَعَةٌ اَلْمَمْلُوْكُ وَالْقَاتِلُ مِنَ الْمَقْتُوْلِ وَالْمُرْتَدُّ وَاَهْلُ الْمِلَّتَیْنِ ﴿

حل اللغة ﴿ **مرتد:** اسم فاعل ازافتعال لوټ کونکي دا په اصل کښې مرتدد وو. دَدوو دالونو په یوځائی دَ جمع کیدودَ وجې دَرومبی دال حرکت حذف کولوسره ادغام اوکړې شو.

ترجمه ﴿ او وارثان کیدې نه شی څلورکسان غلام قاتل دَمقتول وارث نه شی کیدې مرتد اودَمختلف دین والا.

دَ موانع ارث بیان

تشریح ﴿ کله داسې هم کیږی چه وارث دَ وراثت دَ سبب په موجودګئی کښې په خپل ذات کښې دَ وصف موجودکیدودَ وجې نه دَ وراثت نه محروم کیږی دغه اوصاف ته موانع ارث وائی. صاحب دَ کتاب موانع ارث څلوربیان کړې دی.① **رقیت:** که وارث غلام دې نودَ غلامیت دَ سبب دَ وجې نه به دَ خپل مورث دَ وراثت نه محروم کیږی. غلامی که دَهرقسم نه وی. عبدالخالص مکاتب مدبر ام ولد او معتق البعض (دَ راجع قول مطابق معتق البعض دَ غلام په حکم کښې دې) نه به چاته هم وراثت نه ملاویږی. دَغلام دَ محرومیاوجه داده چه غلام دَ خپل مال مالك نه وی دَهغه ټول مال دَهغه دَآقا وی په دې وجه ده ته وراثت ورکول داسې دی لکه چه دَ ده آقانه وراثت ورکول وی چه دَ مړی رشته دارنه دې. او غیررشته دارته بغیردَ څه سبب نه وراثت ورکول باالاجماع باطل دی. په دې وجه غلام ته وراثت نه ملاویږی.

② **قتل:** قاتل دَ مقتول وارث نه وی. دَ قتل پنځه قسمونه دی. قتل عمد، شبه عمد،خطاء، شبه خطا او قتل بالسبب په رومبو څلور قسمونوکښې قاتل دَ مقتول دَ وراثت نه محروم دې. البته په قتل بالسبب

سره د وراثت نه نه محروم کیږي. مګر یادساتئي چه د قتل دغه څلور صورتونه هغه وخت مانع ارث وي کله چه قاتل خپل مورث بغیرد شرعي وجه نه قتل کړي وي خوکه قتل د شرعي وجې نه وي مثلاً مورث ئې قصاصاً قتل کړې وي یا حد زنا کښې رجم کړي وي یادخپل ځان بچ کولودپاره ئې مجبوراً قتل کړي وي نو په دې صورتونوکښې به قاتل د وراثت نه نه محروم کیږي.

قاتل ولې محروم کیږي؟

دالله تعالی رسول ﷺ ارشاد فرمائیلي دي: اَلْقَاتِلُ لَایَرِثُ. [ترمذی ج۲ ص۳۱]. یعنی مقاتل وارث نه وی اود فقه قاعده ده چه من استعجل بالشئ قبل اَوانه عوقب بحرمانه. کوم سړی چه یوڅیزد هغې د وخت نه وړاندې اخستل غواړی نوهغه د سزاپه توګه ددغه څیزنه محروم کولي شی. که قاتل د وراثت نه محروم نه کړې شی نوخلق به د میراث د وجې نه خپل مورث قتل کوی اونظام عالم به تس نس شی.

③ مسلمان به د مرتدوارث وی خومرتدبه د مسلمان وارث نه وی. ځکه چه ارتداد په منزله د مرګ دې نوځنګه چه مسلمان د خپل رشته دار د مرګ نه پس دهغه وارث کیږی دغه شان هغه د مرتد دارتدادنه پس به دهغه وارث وی اود مرتد مالونه به په مسلمانانووارثانوکښې تقسیم کولې شی. اولکه ځنګه چه مرتد د ژوندی وارث نه وی دغه شان به یومرتد د یومسلمان وارث نه وی.

④ دوه مختلف دینونه والا یعنی مسلمان د غیرمسلم او غیرمسلم د مسلمان وارث نه وی. ځکه چه دالله تعالی رسول ﷺ ارشاد فرمائیلي دي لایرث المسلم الکافرولاالکافرالمسلم [بخاری۲/۱۰۰۱]. یعنی نه خویه مسلمان د کافر وارث وی اونه کافرد مسلمان وارث. د کفرنه مراد د نبی کریم ﷺ د نبوت نه انکاردې. که دې سره د الله تعالی د وحدانیت نه انکار وی اوکه نه وی لهذا یهودیت نصرانیت مجوسیت هندوازم وغیره ټول کفردې. بل قادیاني هم د مسلمان وارث نه شی جوړیدې اونه به مسلمان د قادیاني وارث وی. ځکه چه دوی هم د رسول الله ﷺ آخری نبی کیدونه انکاری دی دغه شان ملعون مرزا قادیاني نبی منی.

لکه ځنګه چه مسلمانان د یوبل وارثان وی دغه شان کافران هم په خپل مینځ کښې د یوبل وارثان وی سره ددې چه هغوی د خپل مذهب په اعتبارد یوبل نه مختلف وی. یهودی خپل نصرانی رشته او نصرانی دخپل یهودی رشته دار به وارث وی. وقس علی هذا.

وَالْفُرُوْضُ الْمَحْدُوْدَةُ فِيْ كِتَابِ اللهِ تَعَالٰى سِتَّةٌ اَلنِّصْفُ وَالرُّبُعُ وَالثُّمُنُ وَالثُّلُثَانِ وَالثُّلُثُ وَالسُّدُسُ

ترجمه ≻ اوهغه حصې کومې چه مقرردی کتاب الله کښې شپږدی. نیمه څلورمه اتمه دریونه دوه دریونه یوه او شپږمه.

فروض مقدره اودهغې مستحقین

تشریح ≻ فروض د فرض جمع ده دکوم معنی چه حصه ده. په قرآن پاک کښې چه کومې حصې ذکردی دهغې شمیر شپږ دي.

۱	نصف	نیمه	دوو نه یو	۲/۱
۲	ربع	څلورمه	څلوروونه یوه	۴/۱
۳	ثمن	اتمه	اتونه یوه	۸/۱
۴	ثلث	دریمه	دریونه یوه	۳/۱
۵	ثلثان	دوتهائی	دریونه دوه	۳/۲
۶	سدس	شپږمه	شپږونه یوه	۶/۱

ددې شپږو حصومستحق په مختلفوحالاتوکښې ټول دولس کسان دي څلورسړي او اته ښځې د کوم تفصيل چه په مسئله نمبر ۱ کښې تيرشوي دي.

وَالنِّصْفُ فَرْضُ خَمْسَةٍ اَلْبِنْتُ وَبِنْتُ الْاِبْنِ اِذَا لَمْ تَكُنْ بِنْتُ الصُّلْبِ وَالْاُخْتُ لِاَبٍ وَاُمٍّ وَالْاُخْتُ لِاَبٍ اِذَا لَمْ تَكُنْ اُخْتٌ لِاَبٍ وَاُمٍّ وَالزَّوْجُ اِذَا لَمْ تَكُنْ لِلْمَيِّتِ وَلَدٌ وَلَا وَلَدُ ابْنٍ وَاِنْ سَفَلَ

ترجمه> اونصف د پنځوکسانو حصه ده. لور نمسئي کله چه حقيقي لورنه وي حقيقي خورد پلارشريك خورکله نه وي حقيقي خوراو خاوندچه کله نه وي نودمړی څوئي يا نمسي سره ددې كه لاندې نه وي.

تشريح> نصف حاصلونكي پنځه قسمه وارثان دادي: ① د هلكانو په عدم موجودگئ کښې که صرف يوه جينئ موجود وي نوهغې ته به د ټول مال نصف ملاويږي. ② دحقيقي اولاد په عدم موجودگئ کښې که يوه نمسئي وي نوهغې ته به نيم مال ملاويږي. ③ د لونړو او نمسيه عدم موجودگئ حقيقي خور كه چرې يوه وي نوهغې ته به نيمه حصه ملاويږي. ④ د حقيقي خوئيندويه عدم موجودگئ كه چرې علاتي خور يوه وي نوهغې ته به نيمه حصه ملاويږي. ⑤ که د مړي ښځې خپل اولاد څوئي لورکه هم ددغه خاوندنه وي اوکه د بل نه وي. بل د نمسي اونمسو وغيره نه چه څوك موجودنه وي نوخاوندئ د نصف (۱/۲) ترکې مستحق دي.

څلورمه حصه حاصلونكي دوه وارثان دي

وَالرُّبُعُ لِلزَّوْجِ مَعَ الْوَلَدِ وَوَلَدِ الْاِبْنِ وَاِنْ سَفَلَ وَلِلْمَرْاَةِ اِذَا لَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ وَلَدٌ وَلَا وَلَدُ ابْنٍ

ترجمه> د خاوندپاره څلورمه حصه ده څوئي يانمسي سره سره ددې كه لاندې نه وي او د ښځې دپاره ده کله چه د مړي څوئي اونمسي نه وي.

تشريح> ① كه د مړي اولاد يا دنارينه اولاد اولاد ترلاندې پورې (څوئي لور نمسي نمسئي لاندې پورې) وي نوخاوندته به څلورمه حصه ملاويږي. داخبره يادساتئ چه اولاد عام دي كه نارينه وي كه زنانه اوكه د دغه خاوندنه وي يا د وړاندينی خاوندنه وي البته د اولاد مړی د مرګ په وخت ژوندی موجود کيدل ضروري دي. کوم اولاد چه وړاندې وفات شوي دهغې اعتبارنشته.
② كه د مړي اولاد يا دنارينه اولاد اولاد ترلاندې پورې نه وي نوښځوته به څلورمه ملاويږي كه ښځه ئې يوه وي اوكه زياتې په ربع کښې به ټولې برابرشريكې وي.

ثمن حاصلونكې يووارث

وَالثُّمُنُ لِلزَّوْجَاتِ مَعَ الْوَلَدِ اَوْ وَلَدِ الْاِبْنِ

ترجمه> اوثمن د ښځودپاره دي څوئي يا نمسي سره.

تشريح> ثمن حاصلونكې صرف يووارث دي كه د مړي اولاد يا دنارينه اولاد اولاد (څوئي لور نمسي نمسئي) لاندې پورې وي نوښځې ته به ۱/۸ ملاويږي دلته هم كه د يونه زيات وي نوثمن به په دغه ټولو کښې برابرتقسيم كيږي.

ثلثان حاصلونكي څلورقسم وارثان دي

وَالثُّلُثَانِ لِكُلِّ اثْنَيْنِ فَصَاعِدًا مِمَّنْ فَرْضُهُ النِّصْفُ اِلَّا الزَّوْجَ

ترجمه> اوثلثان دهر دوو يا ددې نه زياتودپاره دي دهغه خلقو نه دكوموحصه چه نصف يعنې نيمه ده بغيرد خاوند نه.

تشریح ثلثان حاصلونکي څلور قسم وارثان دي.

① د خامنویه عدم موجودګئ کښې که چرته لونړه دوه یا زیاتې وي نوهغوی ته به ثلثان(د دریونه دویمه، ۳/۲ حصه ملاویږي کومه چه به هغوی په خپل مینځ کښې برابرتقسیم کوي.

② د صلبي اولادپه غیرموجودګئ کښې که نمسئ دوه یاددوونه زیاتې وي نوهغوی ته به ثلثان ملاویږي او ثلثان به د هغوی په مینځ کښې برابرتقسیمیږي.

③ د لونړو او نمسو په عدم موجودګئ کښې که حقیقي خوئیندې دوه یا زیاتې وي نوهغوی ته به ثلثان ملاویږي.

④ د حقیقي خوئیندو په عدم موجودګئ کښې که علاتي خوئیندې دوه یازیاتې وي نوهغوی ته به ثلثان ملاویږي.

ثلث حاصلونکي دوه قسم وارثان دي

وَالثُّلُثُ لِلْاُمِّ اِذَا لَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ وَلَدٌ وَلَا وَلَدُ ابْنٍ وَلَا اثْنَانِ مِنَ الْاِخْوَةِ وَالْاَخَوَاتِ فَصَاعِدًا وَيُفْرَضُ لَهَا فِيْ مَسْئَلَتَيْنِ ثُلُثُ مَا بَقِيَ وَهُمَا زَوْجٌ وَاَبَوَانِ وَامْرَاَةٌ وَاَبَوَانِ فَلَهَا ثُلُثُ مَا بَقِيَ بَعْدَ فَرْضِ الزَّوْجِ اَوِ الزَّوْجَةِ وَهُوَ لِكُلِّ اثْنَيْنِ فَصَاعِدًا مِنْ وَلَدِ الْاُمِّ ذُكُوْرُهُمْ وَاِنَاثُهُمْ فِيْهِ سَوَاءٌ

ترجمه او ثلث د مور دپاره دي کله چه نه وي د مړي خوئي او نه نمسي اونه دوه رونړه او خوئیندې یاددې نه زیات او مقررکولې شي د مور دپاره په دوومسئلوکښې د مابقیه دریمه اوهغه داده چه کله وي خاوند او والدین یا ښځه او والدین نو د مور دپاره ثلث دي. د دې نه چه کومه باقي پاتې شي د خاوند یا ښځې د حصې نه پس اوثلث د هر دوو یا زیاتو دپاره دي د اخیافي خوئیندو رونړونه په کوم کښې چه نارینه او زنانه برابر دي.

تشریح ثلث حاصلونکي صرف دوه قسم وارثان دي: ①که د مړي څه اولاد یا رونړه خوئیندې دوه یا زیات نه وي نومورته به د ټولې حصې ثلث (د ټولې ترکې دریمه)حصه ملاویږي.

ویفرض لهافي قوله اوالزوجة: که چرې مړی خپلې مورسره خپل پلار اود ښځې خاوندنه پوریږخودې وي نومورته د خاوند یا ښځې حصه ورکولو نه پس د باقي پاتې ترکې دریمه ملاویږي هم دي ته ثلث مابقیه یا ثلث مابقي وئیلې شي. په کتاب کښې هم دي ته ثلث مابقیه بعدفرض الزوج او الزوجة وئیلې شوې ده اودابه صرف په دوو مسئلوکښې وي: ① یوچه د ښځې انتقال اوشي او پسماندګانوکښې خاوند مورپلار پریږدی نو اول به د ټول مال نه خاوندته حصه ورکولې شي دې نه پس مابقیه نه به یوثلث مورته ورکولې شي اومابقیه به پلارته ورکولې شي لکه چه په دې نقشه کښې واضحه شوې دي:

مسئله ۶

کریمه میت..............................

خاوند	مور	پلار
نصف	ثلث باقي	عصبه
۳	۱	۲

② که یوسړې مړشي او پسمانده ګانوکښې یوه ښځه موراوپلارپریږدی نو په داسې صورت کښې به د ټول مال نه اول د ښځې حصه ویستلې شي د دې نه پس د مابقیه مال ثلث به مور ته ورکړی او دوه ثلث به پلارته ملاویږي لکه چه د دې نقشه نه واضح دي.

مسئله ۱۲

زید میت

بنځه	مور	پلار
ربع	ثلث	عصبه
۳	۴	۶

وهولکل اثنین› په دې عبارت کښې تول ثلث حاصلونکی دویم وارث تذکره ده هغه دا ده چه که اخیافی رور خور دوه یا د دوو نه زیات وی نوهغوی ته به ثلث ملاویږی او اخیافی رونړه خوئیندې حقدارکیدوسره په حصوکښې به تول برابر وی رونړوته به د خوئیندونه زیاته حصه نه ملاویږی.

سوال› که چرې په مذکوره بالا دواړو مسئلوکښې د پلارپه ځائی نیکه وی نو مور ته به څه ملاویږی؟

جواب› په دې صورت کښې اختلاف دادې چه دامام ابویوسف رحمه الله په نیزد پلارپه ځائی که نیکه وی نو بیابه هم مور ته ثلث باقی ملاویږی. البته دامام اعظم رحمه الله او امام محمد رحمه الله مسلك دادې چه که د پلارپه ځائی نیکه وی نو مورته به ثلث کل ملاویږی او هم په دې باندې فتوی ده.

سدس حاصلونکی اوه قسمه وارثان دی

وَالسُّدُسُ فَرْضُ سَبْعَةٍ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْاَبَوَيْنِ مَعَ الْوَلَدِ اَوْوَلَدِ الْاِبْنِ وَهُوَلِلْاُمِّ مَعَ الْاِخْوَةِ وَهُوَلِلْجَدَّاتِ وَالْجَدِّ مَعَ الْوَلَدِ وَوَلَدِ الْاِبْنِ وَلِبَنَاتِ الْاِبْنِ مَعَ الْبِنْتِ وَلِلْاَخَوَاتِ لِلْاَبِ مَعَ الْاُخْتِ لِلْاَبِ وَالْاُمِّ وَلِلْوَاحِدِ مِنْ وَلَدِ الْاُمِّ]

حل اللغة› ولدالام: د مورشریك رور خور(اخیافی)

ترجمه› اوسدس د اووکسانوحصه ده. ① د والدین نه د هریوډپاره د ځوئی یا نمسی سره ② او د موردپاره رونړوسره ③ او شپږمه د نیادپاره ده. ④ اود نیکه دپاره ده ځوئی یا نمسی سره ⑤ د نمسودپاره ده د لورسره ⑥ اود علاتی خوئیندودپاره ده یوې حقیقی خورسره ⑦ اویوه د اخیافی خوردپاره ده.

تشریح› سدس حاصلونکی اوه قسمه وارثان دی ① که چرې مړی خپل پلار سره خپل نارینه اولاد (ځوئی نمسی ترلاندې پورې) پریخودې وی نوپلارته به شپږمه حصه ملاویږی د نارینه اولاد په موجودګئی کښې دزنانه اولاد اعتبارنشته.

② که چرې مورسره د مړی ځوئی لور نمسی یانمسئی (لاندې پورې) نه څوك هم وی یاد مړی دریواړه قسم (حقیقی علاتی اخیافی) رونړو خوئیندنه دوه یا زیات وی یا بعض حقیقی بعض اخیافی اوبعض علاتی وی بل چه صرف مذکر وی یامحض مؤنث وی نو په دې صورت کښې به مور د سدس ۶/۱ حصې حقداره وی.

③ جدات د جده جمع ده اود جده نه مراد جده صحیحه ده. جده صحیحه هغه مؤنث اصل بعیدته ونیلې شی د کوم چه مړی سره رشته یوځائی کولوکښې د جدفاسد واسطه رانه شی لکه د پلار مور د نیکه مور د مور مور وغیره.

د جده صحیحه دوه حالتونه دی ① د وارث کیدو ② د محروم کیدو. دلته په متن کښې د اول حالت بیان دې اود دویم حالت بیان به وراندې عبارت کښې دې. خیرکه چرې څوك حاجب نه وی نو جده صحیحه ته به سدس ملاویږی که هغه د پلارد طرف نیا وی اوکه د مور د طرف نیا که هغه یوه وی اوکه د یوې نه زیات شپږمه حصه به په هغوی کښې برابرتقسیمیږی. د جدات د مستحق کیدودپاره داضروری ده چه هغه فاسد نه وی بلکه صحیحه وی اوپه مرتبه کښې برابروی. یعنی که یوه جده په یوه واسطه سره نیاوی

نویله هم په یوه واسطه سره نیاوی که یوه د نیزدې وی او بله د لرې نونیزدې والابه وارثت وی او د لرې والا به ساقط شي.

④ دپلار په عدموجودګنی کښې اودمړی نارینه اولاد (خوټی نمسي کړوسي ترلاندې پورې)وی نونیکه ته به شپږمه حصه ملاویږی

⑤ که چرې یوه صلبی لوروی نو نمسوته به سدس ملاویږی دې دپاره چه دریوکښې ده حصې کومه چه د لونړوده هغه به پوره شي.

⑥ که حقیقی خوریوه وی اوعلاتی خوئیندوته سدس ملاوشی یعنی د لونړو اونمسو په شان خوئیندو ته هم د ثلثان نه زیاته نه ملاویږی نوچه یوې حقیقی خورنصف واخستو نود ثلثان مکمل کیدودپاره سدس بچ شو نودا به علاتی خوئیندوته ملاویږی دې دپاره چه ثلث مکمل شي.

⑦ که چرې د مړی فروع مطلق یعنی خوټی لور نمسې یانمسئی وغیره نه او اصول مذکر یعنی پلار نیکه غرنیکه وغیره نه څوك موجودنه وی نو یواخیافی رور یا یواخیافی خور ته به شپږمه حصه ملاویږی.

جده په څلوروصورتونوکښې محروم کیږی

وَتَسْقُطُ الْجَدَّاتُ بِالْأُمِّ

ترجمه> اوساقطیږی جدات د مورنه.

تشریح > په دې عبارت کښې د جده د دویم حالت د محروم کیدو بیان دې. جده په دې څلوروصورتونوکښې ساقط کیږی. ① د موردوجې نه ټول جدات ساقط کیږی که د پلارد طرف نه وی که د مور د طرف نه وی. ② د پلارد وجې نه صرف د پلارطرف جدات ساقط کیږی د مورطرف جدات نه ساقط کیږی.③ د پلارطرف نیکه د وجې نه هغه نیاګانې ساقط کیږی کومې چه د پلارطرف د نیکه په واسطه دی. مثلاً د نیکه مور د نیکه د وجې نه ساقط کیږی مګرنیایعنی د نیکه ښځه د نیکه د وجه نه نه ساقط کیږی. ④ نیزدې جده که هغه دهرې یوې رشتې وی د لرې والاساقط کوی که د پلارد طرف نه وی که دمورد طرف نه وی او دنیزدې والاوارث کیږی اوکه نه.

وَالْجَدُّ وَالْإِخْوَةُ وَالْأَخَوَاتُ بِالْأَبِ

ترجمه>او نیکه رور اوخوئیندې د پلارد وجې نه (ساقط کیږی).

تشریح > په دې عبارت کښې دوه مسئلې بیان کړې شوې دی: ① که د مړی د نیکه سره د هغه پلار هم موجود وی نو نیکه به ساقط کیږی ځکه چه د پلاررشته مړی سره د نیزدې ده او د وراثت قاعده داده چه د اقرب په موجودګنی کښې ابعدساقط کیږی. دغه شان د نیکه د وجی نه غرنیکه محروم کیږی.

② حقیقی اوعلاتی رونړه خوئیندې د پلارپه موجودګنی کښې په اتفاق سره محروم کیږی لیکن د نیکه په موجودګنی کښې د صاحبینو په نیزنه محروم کیږی البته د امام اعظم رحمه الله په نیزد نیکه په موجودګنی کښې هم ساقط کیږی او هم په دې باندې فتوی ده.

وَيَسْقُطُ وَلَدُ الْأُمِّ بِأَرْبَعَةٍ بِالْوَلَدِ وَوَلَدِ الْإِبْنِ وَالْأَبِ وَالْجَدِّ

ترجمه> اوساقط کیږی اخیافی رونړه خوئیندې د څلورو واڼانوسره یعنی خوټی نمسی پلار او نیکه سره.

تشریح > که دمړی اولاد یا د نارینه اولاد اولاد ترلاندې پورې یادمړی پلارنیکه د پورته پورې وی نواخیافی رونړه خوئیندې په اتفاق سره محروم کیږی.

د لمسود هالالوله د یوحالت تفصیل

وَإِذَا اسْتَكْمَلَتِ الْبَنَاتُ الثُّلُثَيْنِ سَقَطَتْ بَنَاتُ الْابْنِ إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ بِإِزَائِهِنَّ أَوْ أَسْفَلَ مِنْهُنَّ ابْنُ ابْنٍ فَيُعَصِّبُهُنَّ

ترجمه> او چه کله واخلی لونړه پوره دریو حصو کښې دوه نو ساقط کیږی نمسنی مګر دا چه وی دهغوی په مقابل یا دهغوی نه لاندې نمسې چه هغه دا عصبه کوی.

تشریح> که دوه یا زیاتې لونړه وی نو نمسنی به ساقط شی ځکه چه ثلثان لونړو واخستلو لیکن که نمسو سره برابر یو نمسې یا د مړی کروسې وی نو ساقط کیدونکې نمسنی به هغوی سره عصبه بالغیر شی. ذوی الفروض ته د ورکولو نه پس باقی پاتې ترکه به هغوی ته ملاؤ شی او هغه به په خپل مینځ کښې داسې تقسیم کولې شی چه نمسی ته ډبل او نمسنی ته نیمه حصه.

زید میت------------------------------------

	فریق اول			فریق دوم		فریق سوم	
بطن (۱)	ابن (عمرو)			ابن (بکر)		ابن (خالد)	
بطن (۲)	ابن	بنت	نصف	ابن		ابن	
بطن (۳)	ابن	بنت	سدس (تکملة للثلثین)	ابن	بنت	ابن	
بطن (۴)	ابن	بنت		ابن	بنت	ابن	بنت
بطن (۵)	ابن			ابن	بنت	ابن	بنت
بطن (۶)	ابن			ابن		ابن	بنت

اوس په دغه مذکوره نقشه باندې د غور کولو حاجت دې چه په دې کښې درې کالمونه او شپږ بطن دی. اوس فرض کړه د مړی د طرف نه صرف نمسنی ژوندې دی. ټول خامن نمسی د زید نه وړاندې وفات شوی دی. په بطن اول کښې په یو کالم کښې لور نشته او د بطن ثانی په کالم اول کښې یوه لورده. په دویم کالم او دریم کالم کښې یوه جینئی نشته. نو دې جینئی ته به د ټول مال نصف ملاویږی او په بطن ثالث کښې کالم اول او کالم ثالث کښې یوه یوه جینئی ده خو په دریم کالم کښې هیڅ یوه جینئی نشته. په دې وجه د بطن ثالث دواړه لونړه د نمسنی په درجه کښې کیدو سره د شپږمې حصې حقداروی. د دوو ثلث مکمل کولو د پاره د دې نه پس څلورم نمبر بطن کښې په دریواړو کالمونو کښې یوه یوه جینئی ده دا جینکئی د داسې نمسنې په درجه کښې دی د کومونه چه دوه یا د دوو نه زیاتو لونړو کیدو د وجه نه محروم شوی دی. ځکه چه د پاسه لونړو دوه ثلث مکمل کړل د نمسنی د پاره هیڅ پاتې نه شو. اوس د غور خبره داده چه د څلورم نمبر بطن سره هیڅ یو نمسې موجود نه دې نو هغه به د څلورم بطن ټول نمسی عصبه جوړ کړی یا د پنځم بطن یا شپږم بطن کښې که څوک نمسې وی او هغه نه پورته څوک نمسې نه وی نو دا نمسې به خپل برابر والا جینکې او د خپل ځان د پاسه جینکئی عصبه جوړې کړی او د ذوی الفروض نه بچ شوې ترکه به د هغوی په مینځ کښې داسې تقسیمیږی چه مذکوره ډبل حصه او زنانه ته نیمه حصه ورکړې شی. بل د نمسی نه پورته بطن نمسنی ته د نمسی د درجې فضیلت حاصل نه وی په دې وجه د پورته او ښکته دواړو درجو نمسنی ته برابر حصه ملاویږی.

د علاتی خور د یو حالت تفصیل

وَإِذَا اسْتَكْمَلَتِ الْأَخَوَاتُ لِأَبٍ وَأُمٍّ الثُّلُثَيْنِ سَقَطَتِ الْأَخَوَاتُ لِأَبٍ إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ مَعَهُنَّ أَخٌ لَهُنَّ فَيُعَصِّبُهُنَّ ا

ترجمه> اوچه کله واخلی حقیقی خوئینډې پوره دریوکښې دوه نوساقط به شی علاتی خوئینډې مګر دا چه وی هغوی سره ذهغوی رور چه هغه دوی عصبه ګوی.

تشریح> که علاتی خورسره دوه یا زیاتې حقیقی خوئینډې وی نوعلاتی خوربه ساقط شی ځکه چه ذ خوئینډو تولو حصه ثلثین ده کومه چه حقیقی خوئیندواخستې ده.

مسئله ۳

مثال میت رحیمه---

علاتی خور	۲ حقیقی خوئینډې	تره
ساقط	ثلثان	عصبه
	۲	۱

خوکه علاتی خوئیندوسره علاتی رور هم وی نوعلاتی خوئینډې رونږوسره عصبه بالغیرشی. اوذ ذوی الفروض په موجودګئی کښې مابقیه ترکه او په عدم موجودګئی کښې ټوله ترکه هغوی ته ملاویږی. او هغوی به ئې په خپل مینځ کښې داسې تقسیم کوی چه مذکرته ډبل او مؤنث ته نیمه حصه ملاوشی.

مسئله ۶

مثال صبیحه میت---

علاتی خور	۲ حقیقی خوئینډې	مور
عصبه بالغیر	عصبه	سدس
۱	۴	۱

بَابُ الْعَصَبَاتِ

(دعصبات بیان)

ماقبل سره ربط> ذ ذوی الفروض حصه اداکولونه پس که څرې ترکه باقی وی نوذهغې مستحق عصبات وی په دې وجه ذ ذوی الفروض ذ بیان نه فارغ کیدو نه پس ئې عصبات بیان کړل.

د عصبات لغوی او صرفی تحقیق

عصبة ذ عـاصب جمع ده مذکرمؤنث واحداوجمع ټولوډپاره ذ اسم جنس په شان مستعمل دې ذدې جمع الجمع عصبـات ده. عصبه ذ سری ذپلاررشتې ته وائی ذدې مصدرعصوبة دې. په معنی ګیرول احاطه کول دامعنی عصب القوم بالرجل نه ماخوذ ده. دا جمله هغه وخت وئیلې شی کله چه یوځوکسان یوکس په خپل حمایت کښې واخلی اوذهغه څلوروواړو طرفوته راجمع شی.

وجه تسمیه> عصبه هم مرې ذ څلوروواړو طرفونه په خپله ګیره کښې راولی داسې چه پورته ذ پلاررشته وی لاندې ذ ځوئی یوطرف ته رور او بل طرف ته تره په دې وجه دې ته عصبه وائی.

اصطلاحي تعریف> عصبه ذ مری هغه رشته داران دی دچاحصه چه په قرآن اوحدیث کښې متعین نه ده. بلکه هغوی ذ یواځې کیدو په صورت کښې ټوله ترکه او ذوی الفروض سره ذ باقی پاتې ترکې مستحق وی. ذعصبه اول دوه قسمونه دی: ① عصبه نسبی ② عصبه سببی.

① **عصبه نسبي>** دا هغه خلقو ته وئیلې شی چه مری سره ذ ولادت تعلق لری.

② **عصبه سببي>** دا هغه عصبه ده ذ کوم چه مری سره ذ عتاقت تعلق وی.

عصبه بنفسه ﴿ هرهغه نارینه رشته دارته وائی د کوم چه مړی سره رشته یوځائی کولوکښې د مؤنث واسطه رانه شی. د دې تعریف په اعتبارسره هغه ټول رشته داران اووتل چه د مؤنث په واسطه سره د مړی طرف ته منسوب کیږی. مثلاً نمسی چه د لورپه واسطه سره وی د مورطرف نیکه چه د مور په واسطه سره وی. بیا د عصبه بنفسه څلور قسمه دی: ① د مړی جزء مذکر یعنی د مړی مذکرنسل یا فروع مذکر سره د دې که د لاندې نه وی لکه ځامن نمسی اوکروسی وغیره. ② د مړی اصول مذکر که هغه د پورته وی لکه پلار بیا نیکه بیاغرنیکه. ③ د مړی اصول قریب فروع مذکر او اصول قریب پلاردې اود پلار فروع مذکر رور اود رور اولاد دې. لکه حقیقی رور بیا علاتی رور. بیا د حقیقی رور ځامن اوبیاد علاتی رور ځامن دغه شان د لاندې پورې. ④ د مړی اصول بعیدفروع مذکر او اصول بعید کښې نیکه غرنیکه وغیره او فروع مذکر دهغوی اولاد لکه حقیقی رور تره بیا علاتی تره بیا دحقیقی تره ځامن اوبیا دعلاتی تره ځامن. باقی تفصیل به سراجی کښې راځی.

د عصبه بنفسه په مینځ کښې ترجیح

وَأَقْرَبُ الْعَصَبَاتِ الْبَنُوْنَ ثُمَّ بَنُوْهُمْ ثُمَّ الْأَبُ ثُمَّ الْجَدُّ ثُمَّ بَنُو الْأَبِ وَهُمُ الْإِخْوَةُ ثُمَّ بَنُو الْجَدِّ وَهُمُ الْأَعْمَامُ ثُمَّ بَنُو أَبِ الْجَدِّ

ترجمه ﴿ عصبات کښې د ټولونه نیزدې ځامن دی. بیا نمسی بیا پلار بیا نیکه بیاد پلارځامن او هغه رونړه دی. بیا د نیکه ځامن او هغه ترونه دی. بیا د نیکه د پلار ځامن (د مړی د پلارترونه)

تشریح ﴿ ماقبل کښې په ترتیب سره عصبه بنفسه څلورقسمونه بیان کړې شو. په وراثت کښې هم دغه ترتیب په ذهن کښې وی. د مړی جزء مذکر د مړی په اصول مذکرباندې مقدم وی او اصول مذکر د مړی اصول قریب فروع مذکرباندې مقدم کیږی. اود اصول قریب فروع مذکر، داصول بعید فروع مذکرباندې مقدم وی. مطلب دادې چه رومبی قسم والاعصبه ته په دویم قسم والاعصبه باندې دویم قسم والاته په دریم قسم والااو دریم قسم والاباندې څلورم قسم والاته ترجیح ورکولې شی. یعنی د ځوئی اونمسی په موجودګئی کښې پلار نیکه عصبه کیدې نه شی اود پلار نیکه په موجودګئی کښې رور عصبه کیدې نه شی اود رور اود هغه د ځوئی په موجودګئی کښې تره اودهغه ځامن نشی عصبه کیدې.

فائده ﴿ که چرې دعصبه بنفسه هم یوقسم متعددکسان راجمع شی نو په هغوی کښې.چه مړی ته کوم دیرنیزدې وی هغه به عصبه وی او هغه د لری والابه ساقط شی. مثلاً ① چه د مړی ځوئی اونمسې دواړه وی نو ځوئی به عصبه وی او نمسې ساقط. ② پلار اونیکه کښې به پلارعصبه وی او نیکه به ساقط وی او د نیکه په موجودګئی کښې به غرنیکه ساقط وی. ③ په رور او وراره کښې به رور عصبه وی او وراره به ساقط. ④ تره اود تره په ځامنوکښې به تره عصبه وی او دتره ځامن به ساقط وی.

د قوت قرابت اصول

وَإِذَا اسْتَوَى بَنُوْ أَبٍ فِيْ دَرَجَةٍ فَأَوْلَاهُمْ مَنْ كَانَ مِنْ أَبٍ وَأُمٍّ

ترجمه ﴿ اوچه کله د پلار ځامن برابروی په درجه کښې نوزیات حقداربه هغه وی چه د پلار اومور دواړو دطرف نه وی.

تشریح ﴿ دماقبل د بیان نه داخبره معلومه شوه که هم د یوطرف متعدد وارثان موجود وی نو په هغوی کښې به د قرب قرابت په اعتبار سره ترکه تقسیمیږی مثلاً ځوئی به مقدم وی په نمسی باندې . اوس په دې متن کښې دا بیان کولې شی چه که د برابردرجې دیر عصبه بنفسه جمع شی او په هغوی کښې د قرابت د وجې نه فرق وی یودوه د قرابت والا وی اودیوم د یوقرابت والا نودهغوی په مینځ کښې به د

تقسیم څه صورت وی؟ دا بیان کړې شو چه د رشتې قوت ته به کتلې شی د کوم رشته چه ډیره قوی وی هغه ته به ترجیح وی. د مړی حقیقی رور ته به په علاتی رورباندې او حقیقی خورته کله د لور یا نمسئی د وجی نه عصبه وی نو په علاتی رور خور باندې به حقیقی تره ته او علاتی تره باندې به حقیقی وراره ته او په علاتی وراره باندې په دې وجه ترجیح وی چه دعلاتی رشته صرف د پلار سره وی اود حقیقی مورپلار دواړو سره یعنی دحقیقی دپاره د مور رشته د ترجیح وجه جوړېږی.

مسئله: ۱

مثلاً میت--

علاتی خور	علاتی رور	حقیقی رور
عصبه بغیره	عصبه	عصبه
محروم	محروم	۱

مثلاً میت--

علاتی خور	علاتی رور	حقیقی خور	خور
عصبه بغیره	عصبه بنفسه	عصبه مع غیره	نصف
محروم	محروم	۱	۱

دعصبه بغیره تعریف او دهغې مصداق

وَالِابْنُ وَابْنُ الِابْنِ وَالْاِخْوَةُ يُقَاسِمُوْنَ اَخَوَاتِهِمْ لِلذَّكَرِمِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ.

ترجمه ﴿ خوئی نمسي اوروړته به تقسیم کولوسره ورکولې شی دخپلوخوئیندومذکرد پاره د مؤنث د دوو حصو برابر.

تشریح ﴿ دلته نه دعصبه بغیره بیان دې. عصبه بغیره هغه ښځې دی د چا حصه چه شریعت د ذوی الفروض کیدوپه حیثیت سره نصف یا ثلثان مقررکړې وی. اوهغه د خپل رور په موجودګئی کښې عصبه کیږې. دعصبه بغیره مصداق صرف څلورښځې دی: ① لور ② نمسئی ③ حقیقی خور ④ علاتی خور. لور د خوئی د وجه نه نمسئی د نمسی د وجی نه اوحقیقی خورد حقیقی رور د وجی نه اوعلاتی خور دعلاتی رور د وجی نه عصبه کیږې. اود نورو ذوی الفروض په موجودګئی کښې دهغوی نه بچ شوې او په عدم موجودګئی کښې به ټوله ترکه هغوی ته ملاویږی اوهغوی به ئی په خپل مینځ کښې داسې تقسیم کوی چه هرمذکرته دوه او دمؤنث دحصې برابرملاؤشی.

وَمَنْ عَدَاهُمْ مِنَ الْعَصَبَاتِ يَنْفَرِدُ بِالْمِيْرَاثِ ذُكُوْرُهُمْ دُوْنَ اَنَاثِهِمْ

ترجمه ﴿ اودې نه علاوه نورعصبات خانله وی په میراث حاصلولوکښې دهغوی سړی نه چه دهغوی ښځې.

تشریح ﴿ د پورته بیان نه معلومه شوه چه کوم رور پخپله عصبه وی هغه خپله خورهم عصبه جوړه وی خوشرط دادې چه هغه خور په اصحاب الفرائض کښې داخلیدوسره د نصف یا ثلثان مستحق وی. لهذا که یورور چه پخپله خو عصبه دې اودهغه خورد ذوی الفروض نه نه ده نوهغه دهغې رور سره ددې چه پخپله عصبه کیدوسره به عصبه نه شی جوړولې اوټول مال به رور ته ملاؤشی خوربه ئی محروم شی. مثلاً تره او ترور خوراو رور دی ولې ترور چه داصحاب الفرائض نه نه ده په دې وجه به ټول مال تره ته ملاویږی.

ترور ته به هیڅ نه ملاویږي. دغه شان دَ تره لور خوی سره یعنی وریره او وراره سره به عصبه بالغیرنه وی په دې وجه دا تولې ښځې دَاصحاب الفرائض نه نه دی.

دعصبه سببی بیان

وَإِذَا لَمْ يَكُنْ عَصَبَةٌ مِنَ النَّسَبِ فَالْعَصَبَةُ هُوَ الْمَوْلَى الْمُعْتِقُ ثُمَّ الْأَقْرَبُ فَالْأَقْرَبُ مِنْ عَصَبَةِ الْمَوْلَى

ترجمه ﴿ اوچه کله نه وی (دَمړی) نسبی عصبه نوآزادونکې مولی عصبه وی بیادَمولی په عصبات کښې چه کوم دَ تولو نه زیات نیزدې وی.

تشریح ﴿ دَعصبه دَ دوو قسمونو نسبی اوسببی نه دَ نسبی بیان ختم شو اوس دویم قسم سببی بیان شروع کیږي. عصبه سببی هغه خلقوته ونیلې شی دَ کوم چه مړی سره دَ عتاقت تعلق وی یعنی آزادونکی آقا اودَ هغه اولاد. غلام آزادونکی ته دَ آزادولوپه عوض کښې دَ انعام په توګه دَ آزادشوی غلام وراثت ملاویږی اوچه دَغلام شرعی وارثان موجودنه وی دې ته ولاء عتق وائی.

دَ عصبات سببیه ترتیب ﴿ که دَ مړی په وارثانوکښې نه خو اصحاب فرائض وی اونه عصبات نسبی دَ کوم تفصیل چه په تیرو صفحاتوکښې تیرشوې دې نودَمړی ترکه به دَهغه سببی عصبات ته ملاویږی. عصبه سببی (مولی العتاقة) کښې هم دَ عصباتو ترتیب دې کوم چه دَعصبه بنفسه دې یعنی که معتق موجودنه وی نومیراث به دَ معتق فرع ته ملاویږی بیابه دَمعتق اصل ته بیا دَ معتق اصل قریب (پلار) فرع ته او په آخرکښې دَ معتق اصل بعید (نیکه اوغرنیکه) فرع ته تفصیل دالاندې درج دې.

دَمعتق فرع ﴿ که چرې معتق موجودنه وی نودَهغه خامن نمسی (ترلاندې پورې) ته به دَ آزاد کړې شوی غلام ترکه ملاویږی.

دَمعتق اصل ﴿ که دَ معتق فرع موجودنه وی نودَهغه پلارنیکه (تربورته پورې) ته به دَ ازادشوی غلام ترکه ملاویږی.

دَمعتق دَ پلار فرع ﴿ که دَ معتق اصل موجودنه وی نودَمعتق رور ته به دَ آزادکړې شوی غلام وراثت ملاویږی.

دَمعتق دَنیکه فرع ﴿ که دَ معتق رور هم موجودنه وی نودَ آزادکړې شوی غلام ولاء به دَهغه تره ته ملاویږی.

حاصل دا چه دَمعتق په نارینه عصبات کښې به دَ غلام ولاء دائر وی اوبس.

که په دغه تولوکښې هیڅ څوك نه وی نوکتلې به شی چه معتق دَ چاغلام ووهم که نه که چرې وو نودَهغه آقاته به دَده ولاء ملاویږی اوکه هغه ژوندې نه وو نوبیادَهغه نارینه عصبات کښې په مذکوره ترتیب سره ولاء تقسیمیږی. دَ دغه ذکرشوی تفصیل نه دامعلومه شوه چه دَ آزاد شوی غلام شرعی وارثانو په عدم موجودګنی کښې دَ غلام ولاء معتق اودَهغه خامن نمسی پلار نیکه رونړو او ترونوکښې دائروې دَ معتق زنانه عصبات ته ولاء نه ملاویږی. داسې ځکه دی چه رسول الله ﷺ دَ ښځو په حق کښې دَ ولاء نفی فرمائیلې ده. البته په اتوصورتونوکښې ښځوته ولاء ملاویږی اودا اته صورتونه استثنائی دی. دکوم تفصیلی بیان چه انوارالقدوری جلددوم کتاب الولاء کښې تیرشوې دې.

بَابُ الْحُجُب

(دَ یو وارث دَ بل وارث دَ وجې نه دَ محروم کیدو بیان)

ماقبل سره ربط ﴿ ماقبل کښې ذوی الفروض او دَهغې تفصیلی احوال اودَ عصباتو تفصیلی بیان ذکرشو اوس په دې باب کښې دَ حجب اصول اوقواعد بیانولې شی چه په حقیقت کښې دَ ماقبل ابواب تتمه او تکمله دې.

دَحجب لغوی معنې ﴿ دَ حجب لغوی معنی بندول هم دَدې نه حاجب دربان حجاب پرده ده.

اصطلاحې تعریف ﴿ دَاهل فرائض په اصطلاح کښې دَ حجب داتعریف بیان کړې شوې دې دَ مخصوص سړی دَ میراث اخستلونه منع کیدل دَ بل سړی دَ موجودکیدو دَ وجه نه.

دَ حجب اقسام ﴿ دَحجب دوه قسمونه دی ① حجب نقصان ② حجب حرمان.

① **حجب نقصان** ﴿ دَ یووارث دَ دویم وارث دَ وجه نه دَ زیاتې حصې په ځائې کمه حصه حاصلیدل لکه چه مورته دَ اولاد په عدم موجودګئی کښې اودَ دوو یا دوو نه زیاتو رونړو خوئیندو په عدموجودګئی کښې ثلث الکل ملاویږی خود مذکوره وارثانو په موجودګئی کښې دَ مور حصه ثلث الکل نه سدس طرف ته منتقل کیږی.

حجب نقصان په پنځوکسانوباندې جاری کیږی خاوند ښځه مور نمسئی او علاتی خور تفصیل دَهریوپه احوال کښې تیرشوې دې.

② **حجب حرمان** ﴿ دَ یووارث دَ دویم وارث په موجودګئی کښې دَ وراثت نه بالکل محروم کیدل دَ پلار په موجودګئی نیکه دَ وراثت نه بالکل محروم کیږی اودَ صلبی خوئی په موجودګئی کښې نمسی دَ وراثت نه بالکل محروم کیږی. دَدې حجب دَتعلق سره دَ وارثانو دوه ډلې دی یوه هغه چه کله هم نه محروم کیږی دا شپږ کسان دی زوجین والدین خامن او لونړه.

بله ډله دَهغه وارثانوده چه کله محروم کیږی اوکله نه محروم کیږی دغه کسان دادی نیکه نیا حقیقی رور حقیقی خور علاتی رور خور اخیافی رور خور نمسې نمسئی حقیقی تره اوعلاتی تره او دَ حقیقی اوعلاتی رونړو او ترونو خامن هم په دې کښې شمیرلې شی.

په ځاېه دَ حجب نقصان شروع کیږی دَهغوی تفصیلی بیان

وَيُحْجَبُ الْأُمُّ مِنَ الثُّلُثِ إِلَى السُّدُسِ بِالْوَلَدِ أَوْوَلَدِ الْإِبْنِ أَوْ أَخَوَيْنِ.

ترجمه ﴿ اومحجوب کیږی مور دَ دریمې نه شپږمې طرف ته دَ خوئی یا نمسی یا دوو رونړو په موجودکیدوسره.

تشریح ﴿ دَمور حصه ثلث الکل ده خوداولاد په موجودګئی کښې دَ دوو یا دوو نه زیات خوئیندو رونړو په موجودګئی کښې دَ ثلث نه سدس طرف ته منتقل کیږی لهذا دا خلق حجب نقصان جوړشو.

وَالْفَاضِلُ عَنْ فَرْضِ الْبَنَاتِ لِبَنِي الْإِبْنِ وَأَخَوَاتِهِمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ.

ترجمه ﴿ اوکوم چه باقی پاتې شی دَ لونړو دَحصې نه هغه دَ نمسو اودَهغوی دَخوئیندو دی دَ سړی دَپاره دَ دوو ښځو برابر حصه.

تشریح ﴿ نمسئی، دَدې اصل حصه دَ صلبی اولاد په عدم موجودګئی کښې نصف ده. که چرې نمسئی یوه وی اودَ لونړو په عدم موجودګئی کښې نمسئی دَ یونه زیاتې وی نوهغوی ته به ثلثان ملاویږی اوپه هغوی

کېږي به برابر تقسیمېږي. خود یوې لور په موجودګۍ کښې به د نصف یا ثلثان نه سدس طرف ته منتقل کیږي. اوکه چرې دوه یا زیاتې لونړه وی نونمسئی به ساقط شی ځکه چه ثلثان لونړو واخستو خوکه نمسئی سره برابر یونمسې یا د مړی کړوسې یا کودې وی نوساقط کیدونکې نمسئی به هغه سره عصبه بالغیرشي اود ذوی الفروض نه د ورکولونه پس باقي پاتې ترکه به هغوی ته ملاویږي. اوهغوی به ئې په خپل مینځ کښې داسې تقسیم کوی چه نمسی ته به دوه او نمسئې ته یوه حصه ملاوشی. که چرې لونړه ئې نه وې نوټول مال به نمسی او نمسو ته ملاویدلو لیکن دلونړو دوجه نه نمسی او نمسوته حجب نقصان اوشو.

وَالْفَاضِلُ عَنْ فَرْضِ الْأَخَوَاتِ لِلْأَبِ وَالْأُمِّ لِلْإِخْوَةِ وَالْأَخَوَاتِ مِنَ الْأَبِ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ.

ترجمه اوکوم چه دحقیقی خوئیندودحصې نه باقی پاتې شی هغه دعلاتی خوئیندو رونړو ده د سړی دپاره د دوو ښځود حصې برابر.

تشریح دحقیقی خوئیندو په عدم موجودګۍ کښې دیوعلاتی خور حصه نصف ده اوکه دوه یا ددوو نه زیات وی نوثلثان وی خود یوحقیقی خورپه موجودګۍ کښې نصف یا ثلثان نه سدس طرف ته منتقل کیږي. لهذا یو حقیقی خور دعلاتی خوئیندودپاره حجب نقصان دې اوکه علاتی خوئیندوسره علاتی رور وی نودعلاتی خوئیندو رونړو سره به عصبه بالغیروی اود ذوی الفروض په موجودګۍ کښې مابقیه ترکه او په عدم موجودګۍ کښې ټوله ترکه هغوی ته ملاویږي اوهغوی به ئې په خپل مینځ کښې داسې تقسیم کوی چه نارینه ده ډبل او زنانه ته یوه حصه ملاویږي.

وَإِذَا تَرَكَ بِنْتًا وَبَنَاتِ ابْنٍ وَبَنِي ابْنٍ فَلِلْبِنْتِ النِّصْفُ وَالْبَاقِي لِبَنِي الْابْنِ وَأَخَوَاتِهِمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ.

ترجمه اوچه کله پریږدی یوه لور او څو نمسی او څو نمسئی نود لوردپاره نصف اوباقی د نمسو او دهغوی دخوئیندو ده د سړی دپاره د دوو ښځوبرابر حصه.

تشریح دیوسړی انتقال اوشی هغه صرف یوه لورپریخودې وی اوڅو نمسی اونمسئی نولورته به ئې نیمه حصه ملاویږی اوباقی نیمه به د نمسا نمسودپاره به دعصبه په توګه وی. په دې کښې به دنمسی دپاره د نمسئی دوچندوی او نمسئی ته به یوه حصه ملاویږی.

وَكَذَلِكَ الْفَاضِلُ عَنْ فَرْضِ الْأُخْتِ لِلْأَبِ وَالْأُمِّ لِبَنِي الْأَبِ وَبَنَاتِ الْأَبِ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ.

ترجمه دغه شان چه کومه باقی پاتې شی دحقیقی خوردحصې نه هغه د علاتی خوئیندو رونړو ده دسړی دپاره ددوو خوئیندوبرابر حصه.

تشریح ددې تفصیل مسئله (۳) کښې تیرشوې دې.

وَمَنْ تَرَكَ ابْنَيْ عَمٍّ أَحَدُهُمَا أَخٌ لِأُمٍّ فَلِلْأَخِ السُّدُسُ وَالْبَاقِي بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ.

ترجمه اوچاچه پریخودل دوه دتره خامن په کوم کښې چه یواخیافی رور دې نود اخیافی روردپاره شپږمه حصه ده او باقی به په دوی کښې نصفانصف وی.

تشریح یوسړی دوه دتره خامن پریخودل یودتره خوئی د هغه اخیافی (مورشریک) رور هم وو اول خو به دغه اخیافی رور ته دټول مال ۶/۱ حصه ملاویږی اوکوم چه باقی پاتې شی هغه به دواړه رونړه د عصبه په توګه خپل مینځ کښې نیم نیم تقسیم کړی.

وَالْمُشْتَرَكَةُ أَنْ تَتْرُكَ الْمَرْأَةُ زَوْجًا وَأُمًّا أَوْجَدَّةً وَإِخْوَةً مِنْ أُمٍّ وَأَخًا مِنْ أَبٍ وَأُمٍّ فَلِلزَّوْجِ النِّصْفُ وَلِلْأُمِّ السُّدُسُ وَلِأَوْلَادِ الْأُمِّ الثُّلُثُ وَلَا شَيْءَ لِلْإِخْوَةِ لِلْأَبِ وَالْأُمِّ

حل اللغة> المشتركة: دامسئله مشتركه ده ځكه چه په دې كښې ځوقسمه رونړه دى اود مور اونيامسئله هم ده په يولغت كښې المشتركة دې دَدې مطلب به داشى چه بعض حضراتو حقيقى رور د مور شريك رور په حصه كښې شريك گرځولې اوبعضو شريك نه دې گرځولې.

ترجمه> مشتركه مسئله داده چه پريخوده ښځې خاوند مور يا نيا (دواړه طرف نياگانې) يوځو اخيافى رونړه او حقيقى رور نودخاوندد پاره نصف دمور دپاره شپږمه حصه او داخيافى روردپاره دريمه اوهيڅ نشته د حقيقى رونړو د پاره.

تشريح> دَمسئلې تشريح داسې ده چه يوه ښځه مړه شوه هغې په وارثانوكښې خاوند مور يا نيا ځود مور شريك رونړه او حقيقى رونړه پريخودل نوتركه به څنگه تقسيميږى؟ فرمائيلې شوى دى چه د خاونددپاره په ټول مال كښې نيم دې ځكه چه د اولاد په عدم موجودگئى كښې خاوندته دټول مال نصف ملاويږى. اود ورردپاره شپږمه حصه ده ځكه چه دمړى دريواړه قسمه حقيقى علاتى او اخيافى رونړو خوئيندونه چه دوه يا ددوو نه زيات وى نومور ته سدس ملاويږى يا د مور دنه كيدو په صورت كښې جده وى نوهغې ته به هم شپږمه حصه ملاويږى او اخيافى ته به دريمه ملاويږى ځكه چه د يونه زيات اخيافى رونړه وى نوهغوى ته ثلث ملاويږى اوحقيقى رونړو ته هيڅ نه ملاويږى ځكه چه هغه عصبه دى په دې وجه چه د اصحاب فرائض نه باقى پاتې تركې نه هغوى ته ملاويږى اودلته څه باقى پاتې نه شو په دې وجه به دوى محروم شى.

بَابُ الرَّدِّ

(باب: دَ رد بيان)

د رد لغوى او اصطلاحى معنى

دَ رد لغوى معنى ده گرځيدل، واپس كيدل واپس كول. دامصدردې اودَباب نصر او ينصر نه رَدَّ يَرُدُّ رَدًّا مستعمل دې اودَ فن فرائض په اصطلاح كښې دَ رد معنى ده كله چه ذوى الفروض ته دَحصې وركولونه پس كومه تركه باقى پاتې شى اودَهغې دَ اخستلو دَپاره هيڅ قسم عصبه موجودنه وى نو په داسې صورت كښې به دا په ذوى الفروض باندې دَهغوى دَ سهام دَ تناسب په اعتبارسره واپس كولې شى هم دې ته رد وئيلې شى.

فائده> رد صرف په نسبى اصحاب فرائض باندې كيږى اودې ته من يردعليه وائى او زوجين خو نسبى رشته دار نه دى په دې وجه په هغوى باندې ردنه كيږى هغوى ته من لايردعليه وئيلې شى. رد دَعول ضد دې او په عول كښې دَ اصل مسئلې نه حصه زياتيږى او په ردكښې دَاصل مسئلې نه حصې كمې پاتې كيږى يعنى دَ ذوى الفروض دَ وركړې نه پس څه پاتې كيږى.

نوټ> په دې باب كښې دَ رد نه علاوه هم دَديرو مسائلو تذكره ده په دې وجه باب الرد يوجزوى نوم دې.

په اصحاب فرائض باندې رد جائزدې كه نه؟

وَالْفَاضِلُ عَنْ فَرْضِ ذَوِي السِّهَامِ إِذَا لَمْ تَكُنْ عَصَبَةٌ مَرْدُوْدٌ عَلَيْهِمْ بِقَدْرِ سِهَامِهِمْ إِلَّا عَلَى الزَّوْجَيْنِ،

ترجمه> كوم مال چه دَ ذوى الفروض دَحصې نه بچ شى اونه وى عصبه نو وركولې به شى ذوى الفروض ته دَهغوى دَ حصو موافق بغيردَ زوجين نه.

تشریح په اصحاب فرائض باندې رد کول جائزدی که نه، په دې کښې اختلاف دې دوه دورونه تیرشوی دی. داول دور اختلاف د صحابه کرامو اختلاف دې په دې باره کښې د صحابه کرامو دوه ډلې شوې. ① یوه دحضرات خلفاء راشدین او جمهور صحابه کرامو چه ددې خبرې قائل وو چه مابقیه ترکه د زوجین نه علاوه به په ټولو ذوی الفروض باندې رد کولې شی. ② د حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه په نیز په ذوی الفروض باندې ردنه شی کولې بلکه باقی پاتې ترکه به په بیت المال کښې جمع کولې شی او د دویم دور اختلاف د ائمه مجتهدین اختلاف دې.

① د ائمه احناف دامسلك دې چه د زوجین نه علاوه به په ټولو اصحاب فرائض باندې رد کیږی. ② دحضرت امام مالك رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نیز ذوی الفروض ته د ورکولونه پس باقی پاتې مال به په بیت المال کښې کیخودې شی خو متاخرین شوافع د بیت المال غیرمنظم کیدو په صورت کښې د احنافو د قول مطابق فتویٰ ورکړې ده. او د امام مالك رحمه الله یو روایت هم د احنافو د مسلك مطابق دې. [ردالمختار: ۵/۵۵۶ مکتبه رشیدیه پاکستان].

په زوجین باندې کوم وخت رد جائزکیږی؟

فائده که د ښځې خاوند نه علاوه د مړی بل څوك وارث نه وی مثلاً ذوی الارحام مولی الموالات مقرله بالنسب علی الغیر او موصیٰ له بجمیع المال نه وی. اوبیت المال هم نه وی یا بیت المال وی خو په شرعی نقطه نظرسره غیرمنظم وی په هغې کښې جمع شوې مال په صحیح مصرف کښې نه خرچ کیږی نو په دې صورتونو کښې متاخرین احناف په زوجین باندې د رد کولو فتویٰ ورکړې ده. [ردالمختار ۵/۵۵۶].

وَلَا يَرِثُ الْقَاتِلُ مِنَ الْمَقْتُولِ وَالْكُفْرُ مِلَّةٌ وَاحِدَةٌ يَتَوَارَثُ بِهِ أَهْلُهُ وَلَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَالْكَافِرُ وَالْمُسْلِمَ وَمَالُ الْمُرْتَدِّ لِوَرَثَتِهِ الْمُسْلِمِينَ وَمَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ فَيْءٌ

ترجمه او وارث نه وی قاتل د مقتول او هرقسم کفر هم یومذهب دې ددې په سبب به کافروارث وی د بل کافر او وارث کیږی نه مسلمان د کافر اونه کافر د مسلمان مرتد مال د هغه د مسلمانانو وارثانودې اوکوم مال نې چه ګټلې وی هغه د ردت په حالت کښې هغه غنیمت دې.

تشریح ددې ټولو مسائلو تفصیل دکتاب الفرائض په شروع کښې تیرشوې دې.

ډوبیدو سوزیدو او ځنیدوسره د مړه کیدولګی احکام

وَإِذَا غَرِقَ جَمَاعَةٌ أَوْ سَقَطَتْ عَلَيْهِمْ حَائِطٌ فَلَمْ يُعْلَمْ مَنْ مَاتَ مِنْهُمْ أَوَّلاً فَمَالُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ لِلْأَحْيَاءِ مِنْ وَرَثَتِهِ

ترجمه اوکه چرې یوجماعت ډوب شی یا په هغوی باندې دیوال راپریوځی اومعلومه نه شی چه رومبی څوك مړدې نو په هغوی کښې د هریومال د هغوی د ژوندو وارثانو د پاره دې.

تشریح که یوڅو رشته دار په څه حادثه کښې مړه شی مثلاً کشتئی ډوبه شی یا اور اولګی یا دیوال چت وغیره راپریوځی یا په میدان جنګ کښې ټول جنګیدوسره شهیدان شی یا یوڅو رشته داران چرته لرې ملك ته لاړشی اوټول مړه شی او په هیڅ شان سره دا معلومه نه شی چه کوم یوم یو وړاندې وفات شوې او څوك روستو مړشوې (که د تقدیم اوتاخیرد یولحظې هم وی د هغې اعتبار به کولې شی) نوبه نورو ژوندو وارثانو کښې به د هغوی وراثت تقسیمیږی. داخلق (په یوه حادثه کښې مړه کیدونکی) به د یوبل وارثان نه وی اوهم دغه مختارمذهب دې. هم په دې باندې فتویٰ هم ده. مذکوره حکم د امام اعظم رحمه الله آخری قول او د امام شافعی رحمه الله مختارمسلك دې دحضرت علی او عبدالله بن مسعود رضی الله عنه یو روایت هم دغه دې او علامه شامی رحمه الله هم دې ته معتمدوئیلې دې.

مثال پلار زید او خوئی عمر په یوځائی ډوب شو مړه شول. پلارنی خپله ښځه رحیمه او لور کریمه اونمسی بکر (پلارسره د ډوب شوی خوئی خوئی)، پریخودل او خوئی ئی ښځه رفیقه مور رحیمه او خوئی بکر پریخودو نو د پلار او خوئی ترکه به دوه ځایه جداجدا تقسیم کولې شی. البته خوئی ته به د پلار او پلارته د خوئی وراثت نه ملاویږی تخریج دادې:

مسئله ۸

زید میت---

(زوجه) رحیمه	(بنت) کریمه	(ابن الابن) بکر
ثمن	نصف	عصبه
۱	۴	۳

مسئله ۲۴

عمر میت---

(زوجه) رفیقه	(ام) رحیمه	(ابن) بکر
ثمن	سدس	عصبه
۳	۴	۱۷

او د حضرت علي او ابن مسعود رضي الله عنهما نه روایت دادې چه کله په یوځائی باندې ډیر رشته داران وفات شي نو که په هغوی کښې هریو د بل وارث وی نوهغوی به په خپل مینځ کښې د یوبل وارثان نه وی او که د یوطرف نه چاته وراثت ملاویږی نوهغه به وارث وی.

وَاِذَا اجْتَمَعَ لِاْلمَجُوْسِیِّ قَرَابَتَانِ لَوْ تَفَرَّقَتْ فِیْ شَخْصَیْنِ وَرِثَ اَحَدُهُمَا مَعَ الْاٰخَرِ وَرِثَ بِهِمَا

ترجمه او کله چه جمع شی د مجوسی داسې دوه قرابتونه چه که هغه جدا جدا وی په دوکسانو کښې نو د یوبل وارثان وی نوهغه به وارثان وی مجوسی د هغوی نه د هریو په ذریعه.

وَلَا یَرِثُ الْمَجُوْسِیُّ بِالْاَنْکِحَةِ الْفَاسِدَةِ الَّتِیْ یَسْتَحِلُّوْنَهَا فِیْ دِیْنِهِمْ

ترجمه او وارثان به نه شی مجوسیان په دغه فاسدو نکاحونو سره کوم چه هغوی حلال ګڼړی په خپل دین کښې.

تشریح مجوسیانوته به د دغه فاسدو نکاحونو په سبب میراث نه ملاویږی کوم چه هغوی په خپل دین کښې حلال ګڼړی مثلاً خپلې مورلور خورسره نکاح کول هغوی حلال ګڼړی ځکه چه فاسدنکاح د مسلمان په حق کښې مثبت توارث نه ده نو د مجوسیانو په حق کښې به هم نه وی.

وَعَصَبَةُ وَلَدِ الزِّنَا وَوَلَدِ الْمُلَاعَنَةِ مَوْلٰی اُمِّهِمَا

ترجمه او د ولدزنا عصبه او ولدملاعنه عصبه د هغوی د مور آقا دې.

تشریح د زنانه چه کوم بچې پیداشو په شرعی اعتبارسره د هغه پلار نه دې یاچه د کومې ښځې خاوند سره د لعان اوکړو نو د هغه بچې رشته د هغه پلارسره ختمه شوه اوس هغه پلارپاتې نه شو په دې وجه به ئی نه پلاروارث وی اونه د پلاررشته داران. بلکه د هغه تعلق د مور سره شو په دې وجه به ئی هم مور وارثه وی او د مورړشته داران به ئی وارث وی او داهلك به د مور وارث وی او د مور د طرف نه چه کوم رشته داران دی د هغوی وارث به وی.

تنبيه مولى آزادونکي او عصبه دواړه عام دی يعنې چه کله ئې مور اصلاً آزاده وی نوميراث دهغې دمولى دپاره دې اوهم هغه عصبه ده. اوکه چرې مورئې آزاده کړې شوی وی نوميراث دهغې دمعتق دپاره دې.

د حمل دميراث بيان

وَمَنْ مَاتَ وَتَرَكَ حَمْلاً وُقِفَ مَالُهُ حَتّٰى تَضَعَ امْرَأَتُهُ حَمْلَهَا فِيْ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى؛

ترجمه اوچه کوم سړې مړشو حمل ئې پرېخودو نوموقوف به وی مال دهغه ترهغه پورې چه راوړی دهغه ښځه خپل حمل دامام صاحب رحمه الله په قول کښې.

تشريح په دې عبارت کښې صاحب کتاب دحمل ميراث بيانوی اول خوداخبرې په ذهن کښې اوساتئ چه حمل ته هم ميراث ملاوېږی مګردې دپاره شرط دادې چه هغه ژوندې راپيداشی مړماشوم راپيداشی نو هغه ته به ميراث نه ملاوېږی. بل داهم شرط دې چه هغه دمورث د مرګ په وخت يقيناً په خېټه کښې وی اوداخبره داسې معلومېدې شی چه هغه داکثرمودې دحمل کښې پيداشي اود حمل کم نه کم موده شپږ مياشتې ده اود احنافو په نيز اکثرموده دوه کاله ده. که د مورث دمرګ نه پس په دوکاله کښې دننه بچې پيداشو نوهغه به وارث وی که دې نه پس پيداشو نووارث به نه وی. ځکه چه په دې صورت کښې د مرګ په وخت کښې دبچی په خېټه کښې موجود کېدل يقينی نه دی. اوس دمسئلې صورت باندې ځان پوهه کړئی. که ښځې ولادت ته نيزدې وی اوخاوندئې مړشی نو بهتره داده چه دميراث په تقسيم کښې تندی اونه کړی بلکه دترکې تقسيم دې دوضع حمل پورې روستوکړې شی دې دپاره چه په تقسيم کښې څه پريشانی رانه شی اوولادت په نيزدې کېدلو مدار په عرف باندې دې اوبعض فقهاؤ د يوې مياشتې نه کم ته قريب او دې نه زيات ته بعيد وئيلې دې. خوکه چرې وارثان انتظارنه کوی اودولادت نه وړاندې ترکه تقسيم کول غواړی او په ولادت کښې وخت وی نو ترکه تقسيم کول پکاردی بغيرد څه وجه نه د ترکې په تقسيم کښې روستوالې کول مناسب نه دی. په دې صورت کښې به دترکې نه دحمل حصه بندولې شی او د يوحمل نه په عام توګه سره يوبچې پيداکېږی خوکله زيات هم پيداکېږی. په دې وجه سوال پيداکېږی چه د څومره بچو حصه به بندولې شی او باقی ترکه به وارثانوکښې تقسيم کړې شی. دامام محمد رحمه الله نه دا روايت نقل دې چه ددوو هلکانو يا دوو جينکوحصه دې د حمل دپاره بنده کړې شی. دريم قول چه مفتی به دې خصاف رحمه الله د امام يوسف رحمه الله نه دا روايت نقل کړې دې چه ديوهلك يا يوجينئی حصه دې د حمل دپاره بنده کړې شی ځکه چه عموماً د يوحمل نه هم يو ماشوم پيداکېږی اود وارثانونه دې ضمانت واخستې شی که د يونه زيات ماشومان پيداشی نوهغه به د اخستې شوې ترکه نه دزياتی بچوحصه واپس کوی. د حمل دتوريث ضابطه اوطريقه څه ده په دې باره کښې نور تفصيل سراجی فصل فی الحمل کښې اوګورئی.

وَالْجَدُّ أَوْلٰى بِالْمِيْرَاثِ مِنَ الْإِخْوَةِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى، وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالٰى يُقَاسِمُهُمْ إِلَّا أَنْ تَنْقُصَهُ الْمُقَاسَمَةُ مِنَ الثُّلُثِ؛

ترجمه اونيکه ډېرحقداردې په ميراث کښې د رونړو په مقابله کښې د امام صاحب په نيز او صاحبينو حضراتو فرمائيلی چه د دوو رونړو برابربه ورکولې شی مګردا چه کم وراورسی دا برابر تقسيم کولوکښې دريمه حصه ده.

تشريح په دې عبارت کښې صاحب کتاب نيکه او رونړو خوئيندو په مينځ کښې دترکه تقسيم باره کښې بيان کوی. په متن کښې لفظ مقاسمة راغلې دې دا د باب مفاعله نه دې دکوم چه لغوی معنی ده

په خپل مینځ کښې تقسیم کول او په اصطلاح کښې د ترکې په تقسیم کښې نیکه د یو رور په شان گنړل د نیکه په موجودگئی کښې دحقیقی او علاتی خوئیندو رونړو محروم کیدو او نه محروم کیدو باره کښې د صحابه کرامو ﷺ دوه رائې وې.

① **رومبې رائې** دحضرت ابوبکرصدیق ﷺ په نیز د نیکه په موجودگئی کښې به حقیقي اوعلاتي خوئیندې رونړه محروم وی. د صحابه کرامو یوه لویه ډله ددې تائیدکوی اوامام اعظم ﷫ هم دا اختیارکړې ده اوهم دغه مفتی به قول هم دې.

② **دویمه رائې** دحضرت زیدبن ثابت ﷺ په نیزحقیقي خوررور ته به نیکه سره وراثت ملاویږی ائمه ثلاثه او د احنافو نه صاحبین هم ددې قائل دی. اوس تاسو په وراندې د مقاسمة الجد دوه صورتونه بیانولې شی چه د ائمه ثلاثه او صاحبینو حضراتو د رائې مطابق دی ولې د صاحبینو قول مفتی به نه دې.

① که نیکه سره حقیقی اوعلاتی خوئیندې رونړه وی نو نیکه ته مقاسمه او د پوره ترکې په دریمه حصه کښې چه کومه مفیدوی ورکولې شی. یعنی نیکه ته د یورور فرض کولو په صورت کښې ډیره ترکه ملاویږی نو نیکه ته به د مقاسمه په طریقه باندې ترکه ورکولې شی اوکه د پوره ترکې په دریمه حصه کښې نیکه ته زیاته ملاویږی نو د پوره ترکې دریمه حصه به ورکولې شی.

② چه نیکه سره حقیقی اوعلاتی خوئیندې رونړه وی اود ذوی الفروض نه هم څوك وی نو په دې صورت کښې چه نیکه ته مقاسمه او ثلث باقی او سدس کل نه کوم زیات وی هغه به ملاویږی یعنی که دمقاسمه په طریقه ورکولو کښې نیکه ته زیات ملاویږی نود مقاسمه په طریقه به نیکه ته ورکولې شی اوکه اصحاب فرائض ته د ورکړې نه پس کوم مال بچ کیږی دهغې دریمه (ثلث باقی) زیات وی نو نیکه ته به د باقی پاتې دریمه ورکولې شی اوکه د پوره ترکې سدس زیات دې نو نیکه ته به د پوره ترکې سدس ورکولې شی.

د پلارد طرف نیاد وارث کیدو صورت

[وَإِذَا اجْتَمَعَ الْجَدَّاتُ فَالسُّدُسُ لِأَقْرَبِهِنَّ]

ترجمه اوچه کله جمع شی جدات نوشپږمه حصه به هغه ته ملاویږی کومه چه ټولونه زیاته نیزدې وی.

تشریح که څوك حاجب نه وی نو جده صحیحه ته به سدس ملاویږی که هغه د مور د طرف نه وی اوکه دپلارد طرف نه وی. اوکه هغه یوه وی اوکه د یو نه زیاتې البته دا ضروری دی چه هغه فاسده نه وی بلکه صحیحه وی او په مرتبه کښې برابروی. یعنی که یوه جده په یوه واسطه سره نیاوی نو بله هم په یوه واسطه سره نیاوی که یوه د نیزدې وی که هغه د هرې یوې رشتې وی نو د لرې والاساقط کوی که هغه د پلار د طرف نیاوی اوکه دمور د طرف نیا وی اود نیزدې والاوارث کیږی که اویاساقط کیږی.

[وَيَحْجُبُ الْجَدُّ أُمَّهُ]

ترجمه محجوب کوی نیکه خپله مور.

تشریح د نیکه د وجې نه هغه نیاگانې ساقط کیږی کومې چه د نیکه د واسطې نه دی مثلاً دنیکه مور به د نیکه د وجې نه ساقط کیږی خونیا یعنی د نیکه ښځه به د نیکه د وجې نه نه ساقط کیږی ځکه چه د نیا د مړی سره رشته یو خانی کولو کښې د نیکه واسطه نه راځی دغه شان د غرنیکه د وجې نه د غرنیکه ښځه (دنیامور) به نه ساقط کیږی هم دغه شان د پورته نیاگانو حال هم اوگنړئی.

[وَلَا كَذٰلِكَ أُمُّ الْأَبِ وَأُمَّهَاتُهَا]

ترجمه> او وارث کيږي نه د مور د پلار مور هيڅ هم نه.

تشريح> د مور د پلار مور د مور نيا شوه او د مړي پردنۍ نيا شوه او پردنۍ نيا د جده فاسده په دائره کښې راځي او شريعت جده صحيحه د وارثانو په فهرست کښې شمير کړې ده او جده فاسده ئې د وارثانو د فهرست نه خارج کړې ده ځکه چه هغه په ذوي الارحام کښې راځي په دې وجه ئې او فرمائيل د مور د طرف د نيا مور به وارث نه وي.

[وَكُلُّ جَدَّةٍ تُحْجَبُ أُمَّهَا]

ترجمه> هره جده محجوب کوي خپله مور.

تشريح> نيا د مور په درجه کښې ده اوچه مور وي نو دواړه طرف ته نياګانې محروم کيږي دغه شان نيا خپله خور محجوب کوي.

بَابُ ذَوِي الْأَرْحَامِ

(باب: د ذوي الارحامو بيان)

د اصحاب فرائض او عصبات وغيره د تفصيلي بحث فارغيدونه پس ذوي الارحام بيانولي شي. رَحِمُ د رِحْمٌ جمع ده أَرْحَامِ يچه داني مطلقًا رشته داري، ذوالرحم رشته دار که رشته د پلار د طرف نه وي او که د مور د طرف نه وي.

اصطلاحي تعريف> د مړي هغه رشته دار د چاحصه چه قرآن او حديث کښې مقررنه وي نه په اجماع سره فيصله شوې وي اونه هغه عصبات وي لکه د مور خور د پلار خور ماما خورئي او نمسي.

د ذوي الارحام په توريث کښې اختلاف

[وَإِذَا لَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ عَصَبَةٌ وَلَا ذُوْ سَهْمٍ وَرِثَ ذَوُو الْأَرْحَامِ]

ترجمه> کله چه نه وي د مړي عصبه او نه ذوي الفروض نو وارثان به وي د هغه ذوي الارحام.

تشريح> کله چه ذوي الفروض او عصبات نه وي نو ذوي الارحام وارث جوړ کړو که نه؟ نو په دې سلسله کښې د صحابه کرامو د دور نه اختلاف راروان دې. په دې باره کښې د اکثر صحابه کرامو اوتابعينو رائې داده چه د ذوي الفروض او عصبات په عدم موجودګئ کښې به ترکه ذوي الارحام ته ملاويږي. د احنافو او حنابله هم دغه مسلک دې. خو په صحابه کرامو کښې د حضرت زيدبن ثابت ﷺ مسلک دادې چه په داسې صورت کښې به ترکه په بيت المال (اسلامي سرکاري خزانه) کښې جمع کولې شي ذوي الارحام ته به نه شي ورکولې. د امام مالك او امام شافعي هم دغه مسلک دې.

فائده> کوم فقهاء چه د نادارو کمزورو او ګټې نه عاجزو مسلمانانو د امداد په غرض په بيت المال کښې د ترکې کيخودو رائې لرې د هغوي په نيز شرط دادې چه بيت المال په شرعي نظم اوضبط سره چليږي مال په صحيح مصرف کښې خرچ کيږي. نواوس د دې قسم بيت المال موجودنه دې په دې وجه متاخرين مالکيه د دريمې صدئ هجرئ نه پس ئې ذوي الارحام ته د ترکې ورکولوفتوئ ورکړې ده او د فقهاء شافعيه هم دغه رائې ده. لهذا اوس هيڅ اختلاف باقي پاتې نه دې.[المواريث ص ١٨٣].

دذوی الارحام د اقسام بیان

[اَوْهُمْ عَشَرَةٌ وَلَدُ الْبِنْتِ وَوَلَدُ الْأُخْتِ وَبِنْتُ الْأَخِ وَبِنْتُ الْعَمِّ وَالْخَالُ وَالْخَالَةُ وَاَبُو الْأُمِّ وَالْعَمُّ لِأُمٍّ وَالْعَمَّةُ وَوَلَدُ الْأَخِ مِنَ الْأُمِّ وَمَنْ اَدْلٰى بِهِمَا]

ترجمه اوهغه لس دي د لور اولاد دخورا اولاد د رور لور د تره لور ماما ترور دمورپلار اخيافي تره ترور داخيافي رور اولاد اوکوم چه هغوی سره متعلق وی.

تشریح په دې عبارت کښې د ذوی الارحام د اقسام بیان دې. د استحقاق ارث په اعتبار سره د عصبات په شان د ذوی الارحام هم څلور قسمونه دی.

① هغه ذوی الارحام دی کوم چه دمړی طرف ته منسوب وی یعنی (۱) د لورنارینه اوزنانه اولاد (نمسي نمسئی کروسي کروسئی ترلاندې پورې) (۲) دنمسئی نارینه او زنانه اولاد ترلاندې پورې.

② هغه ذوی الارحام دی د چاطرف ته چه مړې منسوب کیږی. یعنی (۱) جد فاسده (د مورطرف نیکه اود نیکه پلار پورته پورې) (۲) جده فاسده (د مورطرف دنیکه مور، د نیکه دمور مور).

③ هغه ذوی الارحام دی چه دمړی والدین طرف ته منسوب وی یعنی (۱) دحقیقی علاتی اواخیافی خور نارینه او زنانه اولاد. (۲) دحقیقی علاتی او اخیافی رور لونړه اود هغه رونړو د ځامنو اونمسئی لونړه. (۳) داخیافی رونړو ځامن اود دغه ځامنو نارینه او زنانه اولاد.

④ هغه ذوی الارحام دی چه دمړی د پلارطرف نیکه اونیاطرف ته منسوب وی که جد صحیح او جده صحیحه وی یا جد فاسد اوجده فاسده وی لکه (۱) دپلار حقیقی علاتی اواخیافی خویندې (تروریانې) اود دغه ټولو تروریانو ځامن اولونړه ترښکته پورې. (۲) د پلار اخیافی رور (اخیافی تره) اود هغه ځامن او لونړه تر ښکته پورې. حقیقی اوعلاتی تره عصبه وی په دې وجه په ذوی الارحام کښې د اخیافی قید اولګولې شو. (۳) دمور حقیقی علاتی او اخیافی رور (ماما) اودهغه ځامن او لونړه ترښکته پورې. (۴) دمور حقیقی علاتی اواخیافی خویندې (خاله ګانې) اود دغه خاله ګانو نارینه او زنانه اولاد ترښکته پورې.

فائده علامه شامی رحمه الله دا څلورم قسم ذوی الارحام په نور تفصیل سره لیکلې دې چه دادې: ① د حقیقی اوعلاتی تره لونړه اود دغه ټولو اولاد ترښکته پورې. ② د مړی د پلار اخیافی تره او حقیقی علاتی او اخیافی تروریانې اوخاله ګانې اوماماګان. ③ د مړی د مور حقیقی علاتی اواخیافی تره تروریانې خاله ګانې او ماماګان. ④ بیاچه څومره قسمونه تیرشوی دی د دغه ټولو اولاد اود اولاد اولاد تراخیره پورې.

د ذوی الارحام په اقسام کښې ترجیح

[فَاَوْلٰهُمْ مَنْ كَانَ مِنْ وَلَدِ الْمَيِّتِ ثُمَّ وَلَدُ الْاَبَوَيْنِ اَوْاَحَدِهِمَا وَهُمْ بَنَاتُ الْاِخْوَةِ وَاَوْلَادُ الْاَخَوَاتِ ثُمَّ وَلَدُ اَبَوَيْ اَوْاَحَدِهِمَا وَهُمُ الْاَخْوَالُ وَالْخَالَاتُ وَالْعَمَّاتُ]

ترجمه دې ټولو کښې اولی هغه دې کوم چه دمړی اولاد وی بیاهغه چه د مور پلار وی یا په دوی کښې د یواولاد وی او هغه وریرې او د خویندو اولاد دې. بیا د والدینو د والدین یا په دوی کښې د یو اولاد دې اوهغه ماماګان خاله ګانې او تروریانې دی.

تشریح په دې عبارت کښې د ذوی الارحام په اقسام کښې ترجیح بیانولې شی. دامام اعظم رحمه الله نه دوه روایتونه دی.① دوراثت دپاره دټولو نه مقدم دویم قسم دې بیا رومبې قسم. ② د وراثت دپاره دټولو نه

مقدم رومبي قسم دي بيا دويم بيا دريم او بيا څلورم لکه چه په عصبات کښي د ترجيح هم دغه ترتيب دي او هم په دې دويم روايت باندې فتوىٰ ده. صاحبين حضرات د ذوى الارحام دريم قسم (يعنى د رونړو خوئيندو اولاد) جدفاسد يعنى په دويم قسم باندې ترجيح ورکوى.

اعتراض> د صاحبينو چه کوم مذهب په الجوهرة المنير کښي ذکردي متعارض دې ځکه چه باب الرد مسئله ۸ کښي صاحبين د پلار طرف نيکه رونړو سره محروم کوى نه اودلته ئى محروم کوى. په دې وجه فتوىٰ هم د امام اعظم رحمه الله په قول باندې ده.

قوت قرابت به د ترجيح وجه وى

[وَاِذَا اسْتَوٰى وَلَدُ اَبٍ فِيْ دَرَجَةٍ فَاَوْلٰهُمْ مَنْ اَدْلٰى بِوَارِثٍ وَاَقْرَبُهُمْ اَوْلٰى مِنْ اَبْعَدِهِمَا]

ترجمه> او چه کله برابروى د پلار اولاد په درجه کښي نو په دوى کښي اولى هغه دې چه مړى ته ديرنيزدې وى د يو وارث په ذريعه او د نيزدې والا به اولى وى د لرې رشتې والا نه.

تشريح> که ټول اولاد د يوشان رشتې وى او بعض د وارث اولاد وى او بعض د ذوى الارحام نو د وارث اولاد به وارث وى او ذوى الارحام اولاد به محروم وى. يعنى قوت قرابت به د ترجيح وجه وى. لکه يوه د لورنمسئى ده او بله د خوئى نمسئى ده. د مړى د پاره دواړه رشته دارئى د برابرې درجې دى خود خوئى لور يعنى نمسئى وارثه ده په دې وجه د هغه لور يعنى د خوئى نمسئى ته به ورکولې شى او د لور لور په وارثه نه وى په دې وجه به د هغې نمسئى ته نشى ورکولې. ددې نه پس ئى يوه قاعده بيان کړې ده هغه دا چه بعض اولاد مړى سره په رشته کښي نيزدې وى او بعض لرې نو د نيزدې والا اولاد به وارث وى او د لرې والا به محروم وى. يعنى د الاقرب فالاقرب قاعده به جارى وى لکه نمسئى (د لور لور) او د نمسئى لور وى نو نمسئى به وارثه وى او د نمسئى لور به محروم وى ځکه چه نمسئى يوه درجه اقرب ده.

[وَاَبُو الْاُمِّ اَوْلٰى مِنْ وَلَدِ الْاَخِ وَالْاُخْتِ]

ترجمه> او د مور طرف نيکه اولىٰ دې د رور خور د اولاد نه.

تشريح> چه د مړى ورېره وى يا خورئى يا خورزه وى او د مور طرف نيکه وى نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دغه نيکه به مقدم وى د ورېرې خورئى او خورزې نه لکه مفتى به روايت مسئله ۳ کښي تيرشوى دى چه دويم قسم به مقدم وى په دريم قسم باندې.

[وَالْمُعْتِقُ اَحَقُّ بِالْفَاضِلِ مِنْ سَهْمِ ذَوِي السِّهَامِ اِذَا لَمْ تَكُنْ عَصَبَةٌ سِوَاهُ]

حل اللغة> سهم ذوي السهام: د حصې والا حصه.

ترجمه> او آزاد کونکې زيات حقداردې د بچ شوى مال د ذوى الفروض نه کله چه نه وى څوک عصبه د دې نه علاوه.

تشريح> آزادشوې غلام مړشو هغه اصحاب فرائض او د عصبه په توګه آزادونکې آقا پريخودو د آقانه علاوه څوک نيزدې عصبه نه وو نو ذوى الفروض ته حصې ورکولونه پس به باقى مال آزادونکى آقاته ملاوېږى او ذوى الارحام به محروم شى.

[وَمَوْلَى الْمُوَالَاةِ يَرِثُ]

ترجمه> او مولى الموالات وارث وى.

تشريح> د ذوى الفروض عصبات او ذوى الارحام په عدم موجودګئى کښي ترکه مولى الموالات کښي

تقسیم کیږي. د موالات معنی ده دوستی کول او د فقه په اصطلاح کښې یو خاص قسم معاهدې ته موالات وئیلې شي. د احنافو په نیز په میراث کښې عقد معتبردې او د شوافعو په نیز معتبر نه دې.

[وَاِذَا تَرَكَ الْمُعْتَقُ اَبَ مَوْلَاهُ وَابْنَ مَوْلَاهُ فَمَا لَهُ لِلْاِبْنِ عِنْدَ هُمَا وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى لِلْاَبِ السُّدُسُ وَالْبَاقِيْ لِلْاِبْنِ]

ترجمه ﴿اوچه کله پریخود و آزادشوی دخپل آقا پلار او دخپل آقاخوئی نو د ده مال د خوئی دې د طرفین په نیز او امام ابویوسف ﷬ فرمائی چه د پلار د پاره شپږمه حصه ده او باقی د خوئی د پاره ده.

تشریح ﴿ که دمعتق زیات عصبات وی مثلاً آزادشوی غلام خوئی او نیکه پریخودو نو په دې دواړو صورتونو کښې د طرفین په نیز پلار او نیکه به محروم وی او ټوله ترکه به د معتق خوئی ته ملاویږی په خلاف د امام ابویوسف ﷬ چه هغه په دویم صورت کښې د معتق د نیکه محروم کیدو باندې قائل دې لکه چه دویمه مسئله متفق علیه ده مګر په رومبی صورت کښې دهغه مذهب دادې چه د ولاء شپږمه حصه ۶/۱ به پلار ته ملاویږی او باقی پاتې به ئې خوئی ته ملاویږی خو مفتی به قول د طرفینو دې.

[فَاِنْ تَرَكَ جَدَّ مَوْلَاهُ وَاَخَا مَوْلَاهُ فَالْمَالُ لِلْجَدِّ عِنْدَ اَبِیْ حَنِیْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالٰى هُوَ بَيْنَهُمَا]

ترجمه ﴿ که آزاد کړې شوی غلام د آزادونکی نیکه او رور پریخودو نو مال به د نیکه وی د امام صاحب په نیز او صاحبینو فرمائیلی چه مال به د دواړو وی.

تشریح ﴿ که آزاد شوی غلام آقا او د هغه رور پریخودو نو امام صاحب فرمائی چه ټول مال به ئې د نیکه د پاره وی او د آقا رور به محروم وی ځکه چه د نیکه په موجودګئی کښې حقیقي یا علاتی رور خور وارث نه شی جوړیدې بلکه محروم به شی. هکذا فی الولاء باندې د حنفیه فتویٰ ده. د صاحبینو په نیز د نیکه په موجودګئی کښې حقیقی یا علاتی خوئیندې رونړه نه محروم کیږی بلکه نیکه به د یو رور په درجه کښې ساتلې شی او وراثت به تقسیمیږی لهذا د نیکه او رور ولاء به هم نصفا نصف وی.

د ولاء د بیع او هبه کولو ناجائز کیدو وجه

[وَلَا یُبَاعُ الْوَلَاءُ وَلَا یُوْهَبُ]

ترجمه ﴿ او مه خرڅوئی ولاء او مه ئې هبه کوئی.

تشریح ﴿ ولاء الموالاة او ولاء العتاقه (تعریفات انوار القدوری جلد دویم کتاب الولاء کښې اوګورئی) بیع په دوو وجوهاتو سره ناجائزده. رومبئی وجه داده چه دا داسې شرعی حقوق دی چه قابل انتقال نه دی او دویمه وجه داده چه په دې بیع کښې دهوکه ښکاری او داشان چه د مشتری د طرف نه د ثمن ملاویدل یقینی وې خو بل طرف ته معلوم نه دی چه مشتری ته به څه ملاویږی هم که نه؟ ځکه چه ممکن دی چه مشتری د ولاء د حصول نه وړاندې مړشی او که مشتری ته ولاء ملاو هم شی نو پته نشته چه څومره به ملاویږی؟ نو د مشتری د طرف نه د رقم اداکولو د ثمن په توګه یقینی دی خو د دویم طرف نه عوض ملاویدل یقینی نه وی بلکه متوهم او هم دغه دهوکه ده. او د موالاتو هبه کول ناجائز کیدو کښې صرف رومبئی وجه کیدې شی چه دا قابل انتقال نه دي البته په دې کښې د دهوکې والا وجه نه شی کیدې ځکه چه دهوکه خو صرف په عقود او معاوضه کښې حرام کیږی په عقو و تبرع کښې دهوکه حرام او ناجائز نه ده.

بَابُ حِسَابِ الْفَرَائِضِ

«د مسئلې جوړولو قواعدو بیان»

ضروري نوټ په قرآن کریم کښې چه دَ وارثانو دَ حصو کوم مقدار متعین کړې شوي دي هغه ټول شپږ دی کوم چه په دوو کالمونوکښې وړاندې کولې شي.

کالم اول	کالم دویم
نصف	ثلثان
ربع	ثلث
ثمن	سدس

اوس به په دواړو کالمونوکښې پنځه اصول قایم کیږي. ① که صرف یوه حصه حاصلونکی راشي نو دَ دغه حصې همنام والا عدد نه به مسئله جوړیږي. مثلاً که نصف حاصلونکی راشي نومسئله به ۲ سره جوړیږي که ربع حاصلونکی راشي نومسئله به دَ ۴ نه جوړیږي که ثمن حاصلونکی راشي نومسئله ۸ سره جوړیږي. که ثلث یا ثلثان حاصلونکی راشي نومسئله به ۳ جوړیږي که سدس والا راشي نو مسئله به ۶ سره جوړیږي.

② که دَ یو کالم زیات سهام حاصلونکي راشي نو دَ وړوکی سهام په عدد سره به مسئله جوړولې شی مثلاً نصف او ربع حاصلونکي راشي، نومسئله به دَ ۴ نه جوړیږي.

③ دَ کالم اول نصف دَ دویم کالم یوسهم سره ملاؤشي نو مسئله به دَ ۶ نه جوړیږي مثلاً نصف حاصلونکی او ثلث حاصلونکی یا نصف حاصلونکی او سدس حاصلونکی راشي نومسئله به ۶ جوړیږي.

④ که دکالم اول ربع دَ دویم کالم یوسهم سره هم ملاؤشي نو مسئله به ۱۲ نه جوړیږي مثلاً ربع حاصلونکی او ثلث حاصلونکی راشي نومسئله به دَ ۱۲ نه جوړیږي.

⑤ دَ کالم اول ثمن دَ کالم ثاني یوسهم سره هم ملاؤشي نو مسئله به دَ ۲۴ نه جوړیږي.

وَإِذَا كَانَ فِي الْمَسْئَلَةِ نِصْفٌ وَنِصْفٌ أَوْنِصْفٌ وَمَا بَقِيَ فَأَصْلُهَا مِنَ اثْنَيْنِ

ترجمه کله چه په مسئله کښې دوه نصف وی یا یونصف اومابقیه وی نواصل مسئله به په دوو سره جوړیږي.

تشریح کله چه په مسئله کښې دوه نصف وی مثلاً مړې یوخاوند اویوحقیقي خورپرېږدی یا یونصف وی اوباقي وی مثلاً خاوند اوتره پرېږدی نو په دواړو صورتونوکښې به مسئله هم په دوو جوړیږي.

وَإِنْ كَانَ فِيهَا ثُلُثٌ وَمَا بَقِيَ أَوْثُلُثَانِ وَمَا بَقِيَ فَأَصْلُهَا مِنْ ثَلَثَةٍ

ترجمه اوکه چرې وی په دې کښې دریمه حصه او مابقیه یاپه دریوکښې دوه یا مابقیه نواصل مسئله به په درې سره جوړیږي.

تشریح دَ ثلث اومابقیه مثال مثلاً مور اوتره وارث وی ثلثان اومابقیه لکه چه دوه لونړه او یوتره وارث وی نواصل مسئله به په درې سره جوړیږي.

مسئله: ۳ -- عاطف میت

۲ لونړه	تره
ثلثان	عصبه
۲	۱

[وَاِنْ كَانَ فِيْهَا رُبُعٌ وَمَا بَقِيَ اَوْ رُبُعٌ وَنِصْفٌ فَاَصْلُهَا مِنْ اَرْبَعَةٍ]

ترجمه> اوكه چرې وى په دې كښې ربع اومابقيه يا ربع اونصف نو اصل مسئله به په څلورو سره جوړيږى.

تشريح > دَ ربع اومابقيه مثال لكه چه يوه ښځه او يوتره پريږدى نو مسئله به په ۴ سره جوړيږى.

مسئله: ۴ خويلد ميت---------------------------------------

عم	زوجه
عصبه بنفسه	ربع
۳	۱

دَ ربع اونصف مثال:

مسئله: ۴

تره	يوه لور	خاوند
۱	۲	۱

[وَاِنْ كَانَ فِيْهَا ثُمُنٌ وَمَا بَقِيَ اَوْ ثُمُنٌ وَنِصْفٌ فَاَصْلُهَا مِنْ ثَمَانِيَةٍ]

ترجمه> اوكه چرې وى په دې كښې ثمن اومابقيه يا ثمن او نصف نواصل مسئله به په ۸ سره جوړيږى.

تشريح > دَ ثمن اومابقيه مثال

مسئله: ۸ مثال: زاهد ميت---------------------------------------

ابن	زوجه
عصبه بنفسه	ثمن
۷	۱

مسئله: ۸ دَ ثمن اونصف مثال

ساجد ميت---------------------------------------

تره	يوه لور	ښځه
۳	۴	۱

دعول لغوى اواصطلاحى معنى

[وَاِنْ كَانَ فِيْهَا نِصْفٌ وَثُلُثٌ اَوْ نِصْفٌ وَسُدُسٌ فَاَصْلُهَا مِنْ سِتَّةٍ وَتَعُوْلُ اِلَى سَبْعَةٍ وَثَمَانِيَةٍ وَتِسْعَةٍ وَعَشَرَةٍ]

ترجمه> او كه چرې وى په دې كښې نصف اوثلث يا نصف او سدس نواصل مسئله به په ۶ سره جوړيږى كوم چه به عول كوى دَ ۷ ۸ ۹ او ۱۰ طرف ته.

تشريح > دَ عول لغوى معنى زياتې اوغلبه ده. عربى محاوره ده عال الميزان دا هغه وخت وئيلې شى كله چه دَ تلې يوچابرې دَ بل چابرې نه دَ وزن دَ زياتوالى دَ وجى نه اوچتيږى.

اصطلاحي تعريف> دَمخرج نه د حصو دَ زياتوالى په صورت كښې دَ مخرج په اجزاء كښې اضافه كول لكه يوه خربوزه په څلورو تقسيم كول وى نودَهغې به څلورحصې كولې شى. خوكه اختسونكى پنځه وى نودَې به دَ څلورو په ځائى پنځه حصې كولې شى هم دغه مطلب دَمخرج په اجزاء كښې دَ اضافه ده اوهم دې ته عول وئيلې شى. صاحب كتاب فرمائى چه دَ ۶ عول تر ۱۰ پورې راځى دَهريومثال لاندې اوګورئى:

مسئله: ۶/۷ نزهت میت--

خاوند	حقیقي خور	اخیافي خور
نصف	نصف	سدس
۳	۳	۱

مسئله: ۶/۸ نکهت میت--

خاوند	۲حقیقي خوئیندي	مور
نصف	ثلثان	سدس
۳	۴	۱

مسئله: ۶/۹ عشرت میت--

خاوند	۲حقیقي خوئیندي	۲اخیافي خوئیندي
نصف	ثلثان	ثلث
۳	۴	۲

مسئله: ۶/۱۰

رفعت میت--

خاوند	۲حقیقي خوئیندي	۲ اخیافي خوئیندي	مور
۳	۴	۲	۱

> وَاِنْ كَانَ مَعَ الرُّبُعِ ثُلُثٌ اَوْسُدُسٌ فَاَصْلُهَا مِنَ اثْنَیْ عَشَرَ وَتَعُوْلُ اِلٰی ثَلٰثَ عَشَرَ وَخَمْسَةَ عَشَرَ وَسَبْعَةَ عَشَرَ

ترجمه> او که چرې وی ربع سره ثلث یا سدس نواصل مسئله به په ۱۲ سره جوړیږی او دَ ۱۲ عول ۱۳، ۱۵ او ۱۷ راخی یعنی په طاق عدد کښې عول راخی. دَهریو مثال لاندې درج دي:

مسئله: ۱۲/۱۳ ظفر میت--

ښځه	۲حقیقي خوئیندي	یوه اخیافي خور
ربع	ثلثان	سدس
۳	۸	۲

مسئله: ۱۲/۱۵ ظفیر میت--

ښځه	۲حقیقي خوئیندي	۲اخیافي خوئیندي
ربع	ثلثان	ثلث
۳	۸	۴

مسئله: ۱۲/۱۷ مظفر میت--

ښځه	۲حقیقي خوئیندي	۲اخیافي خوئیندي	مور
ربع	ثلثان	ثلث	سدس
۳	۸	۴	۲

وَإِذَا كَانَ مَعَ الثُّمُنِ سُدُسَانِ أَوْ ثُلُثَانِ فَأَصْلُهَا مِنْ أَرْبَعَةٍ وَعِشْرِيْنَ وَتَعُوْلُ إِلَى سَبْعَةٍ وَعِشْرِيْنَ ا

ترجمه> اوچه كله وى ثمن سره دوه سدس يا دوه ثلث نواصل مسئله ۲۴ سره جوړيږي. اوعول به كوى دَ ۲۷ طرف ته.

تشريح > كه چرې ثمن سره سدسان يا ثلثان وى نواصل مسئله به ۲۴ سره جوړيږى اودَ جمهور امت په نيزدَ ۲۴ عول صرف ۲۷ راځي دَدې نه علاوه نه راځي مګردَحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ په نيز دَ ۲۴ دوه عول راځي ① ۲۷ ② ۳۱ دَ جمهورامت فتوئ دَحضرات جمهور دَقول مطابق ده.

مسئله: ۲۴/۲۷ ---------------------- كريمه ميت

ښځه	۲لونړه	مور	پلار
ثمن	ثلثان	سدس	سدس
۳	۱۶	۴	۴

دَ ۲۴عول عندابن مسعود ﷺ

مسئله: ۲۴/۳۱

---------------------------- كريمه ميت

ښځه	(ابن زكافرياقاتل	مور	۲حقيقى خوئيندي	۲اخيافى خوئيندي
ثمن	محروم	سدس	ثلثان	ثلث
۳	-	۴	۱۶	۸

ليكن جمهورفقهاء او احنافويه نيز به مسئله ۱۲ سره جوړيږى او په ۱۷ سره به عائله شى لكه چه

مسئله: ۱۲/۱۷ افروز ميت ----------------------------

ښځه	مور	۲حقيقى خوئيندي	۲اخيافى خوئيندي	(ابن زكافر
ربع	سدس	ثلثان	ثلث	محروم
۳	۲	۸	۴	-

د تصحيح بيان

[وَإِذَا انْقَسَمَتِ الْمَسْئَلَةُ عَلَى الْوَرَثَةِ فَقَدْ صَحَّتْ وَإِنْ لَّمْ تَنْقَسِمْ سِهَامُ فَرِيْقٍ مِنْهُمْ عَلَيْهِمْ فَاضْرِبْ عَدَدَهُمْ فِي أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ وَعَوْلِهَا إِنْ كَانَتْ عَائِلَةً فَمَا خَرَجَ صَحَّتْ مِنْهُ الْمَسْئَلَةُ كَامْرَأَةٍ وَأَخَوَيْنِ لِلْمَرْأَةِ الرُّبُعُ سَهْمٌ وَلِلْأَخَوَيْنِ مَا بَقِيَ ثَلَاثَةُ أَسْهُمٍ وَلَا تَنْقَسِمُ عَلَيْهِمَا فَاضْرِبِ الْاِثْنَيْنِ فِي أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ فَتَكُوْنُ ثَمَانِيَةً وَمِنْهَا تَصِحُّ الْمَسْئَلَةُ]

ترجمه> اوچه كله برابرتقسيم شى مسئله په ورثاء باندې نوهغه صحيح شوه اوكه چرې تقسيم نه شى په هغوى كښې دَ يوفريق حصې نو په هغې باندې ضرب وركړئ دَ دغه فريق عدد ته په اصل مسئله كښې اودَې په عول كښې كه چرې دَعول والا وى نوچه كوم حاصل ضرب وي هغې سره به مسئله صحيح شى لكه ښځه او دوه رونړه چه د ښځې ربع دې يوه حصه او دَ دوو رونړود پاره باقى درې حصې دى چه په هغوى باندې تقسيم كيږى نه نو ضرب وركړئ ۲ ته په اصل مسئله كښې نودا به ۸ شى اوهم په دې سره به مسئله صحيح شى.

تشريح > كه دَهرفريق حصې دَهغې په رؤس باندې بغيردَ كسر تقسيم شى نودَ ضرب هيڅ ضرورت نشته.

مسئله: ۶

مثال: میت---

مور	پلار	لور		لور
سدس	سدس وعصبه	ثلثان		
۱	۱	۲	۲	

په دې مثال کښې په ۶ سره مسئله جوړه شوه مور اوپلار ته یویوسهام ملاؤشو او دواړو لونړوته دوه دوه سهام ملاؤ شو په هروارث باندې سهام بلاکسر تقسیم شویه دې وجه دَ ضرب ضرورت پیښ نه شو اوکه چرې په یوفریق باندې کسر واقع شی اودهغوی دَ سهام او رؤس په مینځ کښې دَ توافق نسبت وی نودَعدد رؤس وفق ته به په اصلِ مسئله کښې ضرب ورکولوسره اوکه چرې مسئله عائله وی نو په عول کښې ضرب ورکولوسره به دَ مسئلې تصحیح کیږی. په تصحیح سره دهرفریق سهام راویستلودپاره اصل مسئلې سره ملاؤشوی سهام ته به په مضروب کښې ضرب ورکولې شی. مثلاً که چایو ښځه او دوه رونړه وارثان پریخودل نو څلورمه حصه مال دَ ښځې دې او باقی دَ دوو رونړو لیکن باقی درې حصې دی چه په دې دواړو باندې برابر تقسیم کیدې نه شی لهذا دوو له به په اصل مسئله کښې ضرب ورکولې شی او اصل مسئله په ۴ سره ده نو ۲ له په ۴ کښې ضرب ورکولوسره ۸ شو نویه ۸ سره به دَ مسئلې تصحیح اوشی یعنی ښځې ته به دوه سهام اوهررور ته به دزې درې سهام ملاویږی.

مسئله: ۴/۸

مثال میت---

ښځه	رور	(۲)	رور
۲/۱	۳	۳	

په عول کښې دَ ضرب ورکولو مثال ۴۵

مسئله: ۱۲/۱۵

خاوند	پلار	مور	۶لور
ربع	سدس وعصبه	سدس	ثلثان
۹/۳	۶/۲	۶/۲	۲۴/۸

وضاحت> دامسئله عائله ده خاوند ته درې سهام پلار ته دوه اومور ته دوه سهام ملاؤشوی دی په دې کښې په یو باندې هم کسرنه دې واقع شوې مګر شپږو لونړوته اته سهام ملاؤشوی دی چه په دوی باندې برابرنه تقسیمیږی او عدد رؤس (۶) او سهام (۸) کښې توافق بالنصف دې دَ ۶ وفق ۳ اودَ ۸ وفق ۴ دې. نو دَ ۶ وفق۳ ته عول ۱۵ کښې ضرب ورکړونوحاصل ضرب ۴۵ سره دَمسئلې تصحیح اوشوه په تصحیح مذکوره بالاطریقه باندې دَ هرفریق سهام رااوویستلې شو.

توافق او وفق تعریف

(فَإِنْ وَافَقَ بِسِهَامِهِمْ عَدَدَهُمْ فَاضْرِبْ وَفْقَ عَدَدِهِمْ فِيْ أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ كَامْرَأَةٍ وَسِتَّةِ إِخْوَةٍ لِلْمَرْأَةِ الرُّبُعُ وَلِلْإِخْوَةِ الثَّلٰثَةُ أَسْهُمٍ لَا تَنْقَسِمُ عَلَيْهِمْ فَاضْرِبْ ثُلُثَ عَدَدِهِمْ فِيْ أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ وَمِنْهَا تَصِحُّ)

ترجمه> که چرې توافق وی په سهام اوعدد رؤس کښې نوضرب ورکړنی دَعدددفق ته په اصل مسئله کښې لکه چه یوه ښځه او شپږ رونړه دَ ښځې دپاره څلورمه ده او دَ رونړو دپاره درې سهام دی چه په

هغوی باندې تقسیم کیدې نه شي نودهغوی ثلث عدد یعنی ۲ ته په اصل مسئله کښې ضرب ورکړنی نو په دې سره به مسئله صحیح شي.

تشریح ﴿ په مذکوره صورت باندې دَ پوهیدلودَپاره په ذهن کښې اوساتئ توافق په دوو عددونوکښې وروکې عدد چه لوئی عدد کټ نه کړی البته یودریم عدد دې داسې وی چه دواړه کټ کړی نودَغه دواړو عددونودَخپل مینځ نسبت ته به توافق ونیلې شي.

وفق دریم عددچه دواړه څومره خل کټ کوی هغې ته دَ دغه عدد وفق وائی لکه ۸ او ۲۰ په دې کښې یوبل نه کټ کوی خو ۴ دا دواړه کټ کوی ۸ دوه خل ا و ۲۰ پنځه خل نو په دې دواړو عددونوکښې توافق بالربع نسبت شو دَ ۸ وفق به ۲ وی او دَ ۲۰ به ۵. اوس اوګورئی که چرې سهام ورثاء اودَ هغوی اعداد کښې توافق وی نودَ هغې وفق عدد ته به په اصل مسئله کښې ضرب ورکوی.

نوټ﴿ لفظ توافق دَ تداخل په معنی کښې هم استعمالیږی.

میت -- مذکر

بنځه	۶ رونړه
ربع	۶/۳
۲/۱	

وضاحت﴿ دَ رونړو عدد رؤس (۶) اوسهام (۳) کښې دَ تداخل نسبت دې دَ عددرؤس دخل (۲) ته په اصل مسئله (۴) کښې ضرب ورکړو نوحاصل ضرب ۸ سره دَمسئلې تصحیح اوشو. بیابنځې ته اصل مسئله (۴) نه ملاؤشوی سهام (۱) ته مضروب (۲) کښې ضرب ورکړو نوحاصل ضرب (۲) دَبنځې حصه رااووتله او رور ته دَ اصل مسئله (۴) نه ملاؤ شوې سهام (۳) ته مضروب (۲) کښې ضرب ورکړو نوحاصل ضرب (۶) دَ رونړو په تصحیح سره حصه رااووتله.

دَ نسبت تباین بیان

[فَإِنْ لَمْ تَنْقَسِمْ سِهَامُ فَرِيقَيْنِ أَوْ أَكْثَرَ فَاضْرِبْ أَحَدَ الْفَرِيقَيْنِ فِي الْآخَرِ ثُمَّ مَا اجْتَمَعَ فِي الْفَرِيقِ الثَّالِثِ ثُمَّ مَا اجْتَمَعَ فِي أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ]

ترجمه﴿ که چرې تقسیم نه وی دوه فریق یا دې نه زیات سهام نوضرب ورکړئی دَ یوفریق عددته په بل سره بیاحاصل ضرب ته ضرب ورکړئی دَ دریم فریق عدد کښې بیاحاصل ضرب ته په اصل مسئله کښې.

تشریح ﴿ کله هم چه دَ دوو عددو تحقق کیږی نودَهغې په مینځ کښې دَ څلورو نسبتونو تماثل تداخل توافق تباین نه چرته یونسبت به ضرور موجودوی په دې عبارت کښې دَ تباین صورت بیان کړې شوې دې لهذا اودَ تباین تعریف باندې پوهیدل ضروری دی.

تباین﴿دَداسې دوو عددونو نسبت ته وائی چه نه خو برابر وی نه وروکې عدد لوئی عدد کټ کړی اونه چرته دریم عدد دواړه کټ کړی لکه ۴ او ۵ نه برابر دی نه وروکې لوئی کټ کوی اونه چرته دریم عدد دواړه کټ کوی.صورت مسئله دادې چه که په ډیرو جماعتونوباندې کسرواقع وی او هریوعدد په رؤس کښې تباین نسبت وی نو یوعدد ته په بل کښې ضرب ورکړنی بیاحاصل ضرب ته په دریم عدد سره ضرب ورکړنی بیاچه کوم حاصل ضرب وی هغې له په اصل مسئله کښې ضرب ورکړنی نو په دې سره به دَ مسئلې تصحیح اوشی.

مسئله: ۳۶۰/۱۲

مثال: میت -- احمد

۲بنځې	۵نیاګانې	۳اخیانې	یو تره

	خوئیندي		
۹۰/۳	۱۲۰/۴	۶۰/۲	۹۰/۳
۰	۳۰	۱۲	۴۵

وضاحت> ۲ او ۵ کښي د تباین نسبت دې په دې وجه ۲ له ۵ کښي ضرب ورکړو حاصل ضرب ۱۰ شو بیا حاصل ضرب ۱۰ او وړاندې عدد کښي د تباین نسبت دی په دې وجه ۱۰ته په ۳ کښي ضرب ورکړې شو نوحاصل ضرب ۳۰ شو بیاحاصل ضرب ته اصل مسئله ۱۲ کښي ضرب ورکړو نوحاصل ضرب ۳۶۰ شو هم په دې سره دمسئلې تصحیح اوشو. بیا د ورثاء د سهام دتخریج دپاره داصل مسئلې ۱۲ نه ملاؤشوي سهام ته په مضروب ۳ کښي ضرب ورکړو نو دهر فریق حصه راووتله بیا حاصل ضرب په عدد رؤس باندې تقسیم کړه نود هرکس حصه رااووتله.

د نسبت تماثل بیان

[فَإِنْ تَسَاوَتِ الْأَعْدَادُ أَجْزَأَ أَحَدُهُمَا عَنِ الْأُخْرِ كَامْرَأَتَيْنِ وَأَخَوَيْنِ فَاضْرِبِ اثْنَيْنِ فِيْ أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ]

ترجمه> که چرې برابر وی اعداد نوکافي به شی په دې کښي د یوبل دپاره لکه دوه ښځې او دوه رونړه نوضرب ورکړه ۲ له په اصل مسئله کښي.

تشریح > په دې عبارت کښي نسبت تماثل سره مثال بیان کړې دې.

تماثل تعریف> د یوعدد دبل برابر اویوشان کیدل لکه ۴ - ۴ دواړه برابر اوهم مثل دی دغه چه د دوو عددونو په مینځ کښي کوم نسبت وی هغې ته دتماثل نسبت ونیلې شي.

صورت مسئله دادې چه دوه یاد دوو نه زیات فریق باندې کسر واقع شي اودهغوی عدد رؤس او د عدد رؤس په منیځ کښي دتماثل نسبت وی نو په داسې صورت کښي به د یو فریق عدد رؤس واخلی او په اصل مسئله کښي به ضرب ورکړی نو هم دې سره به د مسئلې تصحیح اوشی.

مسئله : ۸/۴

میت -- احمد

۲ ښځې	۲ رونړه
۱	۳
۲	۶

وضاحت> وارثان دوه ښځې او دوه رونړه دی نواصل مسئله د ۴ نه جوړه شوه او په هرفریق باندې کسر واقع دې په دې وجه ۲ ته په ۴ کښي ضرب ورکړو ۸ سره دمسئلې تصحیح اوشوه په کوم کښي چه دوه سهام د دواړو ښځو او ۶ سهام دواړو رونړو ته ملاویږی.

د نسبت تداخل بیان

[وَإِنْ كَانَ أَحَدُ الْعَدَدَيْنِ جُزْءًا مِنَ الْأُخْرِ أَغْنَى الْأَكْثَرُ عَنِ الْأَقَلِّ كَأَرْبَعِ نِسْوَةٍ وَأَخَوَيْنِ إِذَا ضَرَبْتَ الْأَرْبَعَةَ أَجْزَأَتْ عَنِ الْأُخْرِ]

ترجمه> اوکه په دوو عددونوکښي د یوفریق عدد جزء وی د دویم فریق دعدد نوکفایت به اوکړی اکثر د اقل نه لکه چه څلور ښځې او دوه رونړه چه کله ضرب ورکړې په ۴ سره نوکفایت به کوی د بل نه.

تشریح > په دې عبارت کښي په نسبت تداخل باندې پوهه ورکړې ده دتداخل لغوی معنی ده د یو څیز په بل څیز کښي ورننوتل او اصطلاحی تعریف دادې چه په دوو مختلف عددونوکښي وروکې عدد که لونی عدد کټ کړی نوددواړو په مینځ کښي به د تداخل نسبت وی. مثلاً ۳ او ۹ په دې کښي ۳ عدد ۹ کټ کوی. صورت مسئله دادې چه کله په متعدد فریقوباندې کسر واقع کیږی نو په اعداد رؤس کښي چه

کوم عدد لوئی وی هغې ته په اصل مسئله کښې ضرب ورکړه داضرب ورکول به د باقی اعدادو دپاره هم کافی شی حاصل ضرب به د دغه مسئلې تصحیح شی.

مسئله، ۴/۲۴ مثال: میت ---------------------------- احمد

۴ ښځې ۲ رونړه
۴/۱ ۱۲/۳

دنسبت توافق بیان

> فَإِنْ وَافَقَ أَحَدَ الْعَدَدَيْنِ الْآخَرَ ضَرَبْتَ وَفْقَ أَحَدِهِمَا فِي جَمِيعِ الْآخَرِ ثُمَّ مَا اجْتَمَعَ فِي أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ كَأَرْبَعِ نِسْوَةٍ وَأُخْتٍ وَسِتَّةِ أَعْمَامٍ فَالسِّتَّةُ تُوَافِقُ الْأَرْبَعَةَ بِالنِّصْفِ فَاضْرِبْ نِصْفَ أَحَدِهِمَا فِي جَمِيعِ الْآخَرِ ثُمَّ فِي أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ تَكُوْنُ ثَمَانِيَةً وَأَرْبَعِيْنَ وَمِنْهَا تَصِحُّ الْمَسْئَلَةُ

ترجمه> که د دواړو فریقو په عدد کښې توافق وی نوضرب ورکړنی د دوو نه په یو وفق سره د دویم په کل کښې بیا حاصل ضرب ته په اصل مسئله کښې لکه څلور ښځې اوویه خور او شپږ ترونه. په څلورو کښې توافق بالنصف دې نو په دوی کښې د یو یونصف د دویم په کل کښې ضرب ورکړه بیا په اصل مسئله کښې ضرب ورکړه نودا په ۴۸ شی اوهم دې سره به مسئله صحیح شی.

تشریح> د نسبت د اقسام اربعه نه د توافق بیان دې. د توافق تعریف مسئله ۱۰ لاندې تیرشوې دې. قاعده داده که چرته د وارثانو په ډیرو جماعتونوباندې کسرواقع وی د هغوی د عدد رؤس په مینځ کښې توافق نسبت وی نود یوجماعت عدد رؤس وفق د بل جماعت په پوره عدد رؤس کښې به ضرب ورکوې بیا حاصل ضرب اود دریم جماعت عدد رؤس په مینځ کښې به نسبت ګورې که چرته د توافق نسبت وی نوحاصل ضرب به د دریم جماعت د عدد رؤس په وفق کښې ضرب ورکوې بیابه آخری حاصل ضرب له په اصل مسئله کښې ضرب ورکوې نود مسئلې تصحیح به اوشی.

مسئله: ۴/۴۸ توافق بالنصف

مثال میت ---------------------------- حمدان

۴ښځې	یوخور	۶ ترونه
۱۲/۱	۲۴/۲	۱۲/۱
۳	۲۴	۲

وضاحت> په ۶ او ۴ کښې د توافق نسبت وو د ۲ عدد دواړه فناکول په دې وجه ۶ د ۴ دفق ۲ کښې ضرب ورکړو نو ۱۲ شو بیا ۱۲ ته په اصل مسئله ۴ کښې ضرب ورکړو نو ۴۸ شو. ۱۲ سره اصل مسئله ۴ کښې ضرب ورکړې وو په دې وجه د ۱۲ نه د ښځو حصې ته په ۱ کښې ضرب ورکړو نوباره راغله چه د څلورو ښځو حصه ده دغه شان ۱۲ نه د خور حصې ته په ۲ کښې ضرب ورکړو نو ۲۴ شو. دغه شان ۱۲نه د یوتره حصې ته په ۱ کښې ضرب ورکړو ۱۲ شو چه د شپږو ترونو حصه ده.

دهروارث حصه معلومولو طریقه

> فَإِذَا صَحَّتِ الْمَسْئَلَةُ فَاضْرِبْ سِهَامَ كُلِّ وَارِثٍ فِي التَّرِكَةِ ثُمَّ اقْسِمْ مَا اجْتَمَعَ عَلَى مَا صَحَّتْ مِنْهُ الْفَرِيْضَةُ يَخْرُجُ حَقُّ الْوَارِثِ

ترجمه> کله چه صحیح شی مسئله نوضرب ورکړنی د هروارث سهام ته په ترکه کښې بیاتقسیم کړنی حاصل ضرب به هغې په کوم سره چه مسئله صحیح شوې ده نود هروارث حق به راوځی.

تشریح > دترکې نه دهروارث حصه معلومولو طريقه داده چه دتصحيح اوترکې په مينځ کښې نسبت اوکتلې شی که دتباین نسبت وی نوهروارث ته به دتصحیح نه چه کوم سهام ملاؤشوي دي هغې له به په پوره ترکه کښې ضرب ورکولې شی بیا به حاصل ضرب په تصحيح باندې تقسيم کولې شی نوخارج قسمت ترکې نه به د هغه وارث حصه شی.

ترکه او تصحیح په مینځ کښې دتباین مثال

مسئله: ۶

میت -------------------- ترکه ۷ دینار

لور	لور	مور	پلار
ثلثان		سدس	سدس
۲	۲	۱	۱
۶/۲.۲	۶/۲.۲	۶/۱.۱	۶/۱.۱

وضاحت > دترکې نه د لورحصه معلومولو د پاره دهغې دتصحيح نه ملاؤشوي سهام (۲) له ترکه (۷) کښې ضرب ورکړو بیا حاصل ضرب (۱۴) په تصحیح (۶) باندې تقسیم کړو نوخارج قسمت ۲.۲/۶ د یوې لوردترکې نه حصه شوه اوبلې لورته به هم دومره ملاویږی.

مورته دتصحيح نه ملاؤشوي سهام ۱ له په کل ترکه (۷) کښې ضرب ورکړو بیا حاصل ضرب ۷ په ۶ باندې تقسیم کړو نو خارج قسمت ۱.۱/۶ دمور حصه شوه. د پلارحصه هم بعینه دغه شان راوځی. اوس ټول اعداد یوځانی کړنی اوګورنی چه ترکه (۷دینار)پوره تقسیم شوه که نه؟ د سالم عددونو د یوځانی کولو طريقه خو آسانه ده اود کسرونو د یوځانی کولوطريقه داده چه د کربښې دپاسه اعداد جمع کړنی که هغې مجموعه ۶ شوه نوهغه یوکامل شو دا په سالم اعدادکښې جمع کړنی.

> وَإِذَا لَمْ تُقْسَمِ التَّرِكَةُ حَتّٰى مَاتَ أَحَدُ الْوَرَثَةِ فَإِنْ كَانَ مَا يُصِيبُهُ مِنَ الْمَيِّتِ الْأَوَّلِ يَنْقَسِمُ عَلٰى عَدَدِ وَرَثَتِهِ فَقَدْ صَحَّتِ الْمَسْئَلَتَانِ مِمَّا صَحَّتِ الْأُوْلٰى وَإِنْ لَمْ تَنْقَسِمْ صَحَّتْ فَرِيْضَةُ الْمَيِّتِ الثَّانِيْ بِالطَّرِيْقَةِ الَّتِيْ ذَكَرْنَاهَا ثُمَّ ضَرَبْتَ إِحْدَى الْمَسْئَلَتَيْنِ فِي الْأُخْرٰى وَإِنْ لَمْ يَكُنْ بَيْنَ سِهَامِ الْمَيِّتِ الثَّانِيْ وَمَا صَحَّتْ مِنْهُ فَرِيْضَةٌ مُوَافَقَةٌ فَإِنْ كَانَتْ سِهَامُهُمْ مُوَافِقَةً فَاضْرِبْ وَفْقَ الْمَسْئَلَةِ الثَّانِيَةِ فِي الْأُوْلٰى فَمَا اجْتَمَعَ صَحَّتْ مِنْهُ الْمَسْئَلَتَانِ وَكُلُّ مَنْ لَهُ شَيْءٌ مِنَ الْمَسْئَلَةِ الْأُوْلٰى مَضْرُوْبٌ فِيْمَا صَحَّتْ مِنْهُ الْمَسْئَلَةُ الثَّانِيَةُ وَمَنْ كَانَ لَهُ شَيْءٌ مِنَ الْمَسْئَلَةِ الثَّانِيَةِ مَضْرُوْبٌ فِيْ وَفْقِ تَرِكَةِ الْمَيِّتِ الثَّانِيْ وَإِذَا صَحَّتْ مَسْئَلَةُ الْمُنَاسَخَةِ وَأَرَدْتَ مَعْرِفَةَ مَا يُصِيْبُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْ حِسَابِ الدَّرَاهِمِ قَسَمْتَ مَا صَحَّتْ مِنْهُ الْمَسْئَلَةُ عَلٰى ثَمَانِيَةٍ وَأَرْبَعِيْنَ فَمَا خَرَجَ أَعْطَيْتَ لَهُ مِنْ سِهَامِ كُلِّ وَارِثٍ حِصَّةً وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

ترجمه > اوس لاتقسیم نه وو شوې چه یووارث مړشونوکه چرې ووچه رسیږی هغه ته د رومبی مړی نه تقسیمیږی دهغه د وارثانو په تعدادباندې نوصحيح به شی دواړه مسئلې په دې سره کوم سره چه صحيح شوې ده رومبې مسئله اوکه چرې تقسیم نه وی نوصحيح به شی ددويم مړی فريضه په دې طريقه کومه چه مونږ ذکر کړې ده بیابه ضرب ورکړی نویوې مسئلې ته په دويمه کښې. که چرې نه وی ددویم مړی په سهام کښې او په هغې کښې چه په کوم سره صحيح شوې ده فريضه دموافقت اوکه چرې دهغوی په سهام کښې موافقت وی نوضرب ورکړه د دويمې مسئلې وفق ته په رومبې مسئله کښې نوچه کوم حاصل ضرب شو په هغې سره به صحيح شی دواړه مسئلې اوچاته چه څه ملاؤ شو د رومبې مسئلې نه هغې ته به ضرب ورکولې شی هغې سره کوم سره چه صحيح شوې ده دويمه مسئله. اوچاته چه څه ملاؤشوی دی ددويمې مسئلې نه هغې ته به ضرب ورکولې شی د دويم مړی د ترکې وفق کښې کله چه صحيح شی

دمناسخه مسئله اوکه غواړې نوهغه حصه معلومه کړه کومه چه رسيږي هريوته د دراهم په حساب سره نوتقسيم کړه هغه عدد په کوم سره چه صحيح شوې ده مسئله په ۴۸باندې بياچه کوم خارج قسمت وی دهروارث دسهام نه د هغه حصه واخلئ اوالله تعالی صحيح کونکې زيات پيژندونکې دې.

تمهيد> ددې ځائی نه دمناسخه د احکامو بيان دې.

دمناسخه لغوی معني> مناسخه د مفاعلة مصدردې دنسخ نه مشتق دې زائل کول، باطل کول اونقل کول.

اصطلاحي تعريف> د بعض يا ټولو وارثانوحصې دهغوی نه روستو والاطرف استحقاق د وراثت دوجې نه منتقل کيدل.

يوڅواصطلاحات> ① **مورث اعلي**> مناسخه کښې دټولو نه رومبې مړکيدونکې.

② **مافي اليد**> ددې مختصر مف دې (يعنی ميم اوبې نقطې فا) د مړی حصې ته وائی چه هغه ته د پورته بويازياتو مورثونونه ملاؤشوې ده دمړی د اوړدې کرښې ګس طرف ته ليکلې کيږی.

③ **دقبرنشان**> دهرمړی مافی اليد نقل کولونه پس نقل کړې شوې حصې زر راګيرولې شی د کوم هينت چه داوی استاذان دې ته دقبرعلامت وائی دادې خبرې علامت وی چه هغه مړ شوې دې اودهغه حصې منتقل شوې.

④ **المبلغ**> مناسخه آخری حاصل ضرب ته وائی.

⑤ **الاحياء**> ټولو ژوندو وارثانوته وائی په آخره کښې دا په بنه اوږدوالی سره ليکل اودې نه لاندې ټولوژوندو وارثانو نومونه اود نومونونه لاندې دهغوی حصې ليکلې کيږی.

يوڅوهدايات> ① په مناسخه کښې راغلی ټول کسان (وارث مورث)نومونه سره د رشتې ليکل ضروری دی. ② دهر دويم مړی د وارثانونومونه او رشتې ليکلوخت کښې د پورته وارثان يونظرکتل پکاردی خکه چه يو وارث ته د څو رشتو د وجې نه دمتعددخايونونه وراثت ملاويدې شی. ③تصحيح ثانی اومافی اليد کښې چه کوم نسبت هم وی د مړی اوږدې کرښې په مينځ کښې واضح کول پکاردې. ④ که چرې مړی ته د متعددخايونونه حصې ملاؤ شوی دی نو ما فی اليدليکلوخت متعددحصې اود الاحياء ليکلوخت دهروارث متعدد حصې يوځائی کول پکاردی.

نوټ> په دې کښې دهرې يوې خبرې لحاظ ساتل ضروری دی ګنی غلطی کيدې شی.

اصول مناسخه> اول د رومبی مړی د مسئلې تصحيح دتيرو شوو قواعدوپه رڼاکښې اوکړئ اود رومبی مړی ورثاء ته سهام ورکړئ بياد دويم مړی د مسئلې تصحيح اوکړئ اود دويم مړی حصه کومه چه د رومبی مړی نه ملاؤشوې ده هغه د مړی د اوږدې کرښې ګس طرف ته مافی اليد نشان جوړولوسره اوليکئ. بيا د دويم مړی تصحيح اوما فی اليد کښې چه کوم نسبت اوکتلې شی.

① که چرې د تماثل نسبت وی نو په داسې صورت کښې مافی اليد دهغه بطن په تصحيح باندې برابر تقسيم شی او وراندې د څه کولوضرورت نشته. د بطن اول تصحيح به هم ددوارو بطنونو تصحيح شميرلې کيږی. د تماثل مثال:

مسئله: ۳

ميت..

ابن (جمال)	بنت (جميله)
(۲)	۱

مسئله: ۲

ميت..................................جمال ۲

ابن (كمال) ابن (اكمل)
۱ ۱

المبلغ ۳

الاحياء...

جميله	كمال	اكمل
۱	۱	۱

وضاحت> تصحيح ثاني اومافي اليدكښې دتماثل نسبت دې په دې وجه نور هيڅ اونه کړې شو دَ جميل تركه په دريو حصوكښې تقسيم شوه اوهريوزوندی وارث ته يوه يوه ملاؤشوه.

② كه چرته په تصحيح او مافي اليدكښې دتوافق نسبت وی نودَدوارو وفق اوباسه او په كوم عددسره چه وفق اوخي نوهغه بينهماتوافق ليكلوسره ظاهركړه. بيا دتصحيح وفق دَ بطن اول تصحيح كښې ضرب وركړه نوحاصل ضرب به دَ دوارو بطونو تصحيح شی. بيا دَ مافي اليدوفق دَهغې دَ ورثاء سهام (كوم چه هغوی ته هم ددې مسئلې دَ تصحيح نه ملاؤشو)كښې ضرب وركړه حاصل ضرب به دَهروارث حصه شي او په بطن اول كښې ورثاء ته چه كوم سهام دَ دغه بطن دَ تصحيح نه ملاؤشوې وو هغه دَ تصحيح ثاني په وفق كښې (كوم ته چه په تصحيح اول كښې ضرب وركړې شوې وو هغه ته عدد مضروب هم وئيلې شی) ضرب وركړه حاصل ضرب به دَ دغه ورثاء حصه شي.

دتوافق مثال:

مسئله ۴/۱۶/۳۲ باقي ۳ **مسئله رد** ۶/۴

ميت...فاطمه

(زوج (شكيل)	(بنت (عشرت)	(ام (بتول)
۴/۱	۹/۳	۳/۱
۸		۶

مسئله: ۶/۲

توافق بالثلث عشرت مف ۹/۳

ميت...

(اب (شكيل)	(ابن(سلمان)	(جده (بتول)
سدي	عصبه	سدس
۳/۱	۱۲/۴	۳/۱

المبلغ ۳۲

الاحياء...

شكيل	سلمان	بتول
۱۱	۱۲	۹

حسب بيان سائل مرحومه فاطمه تولهٔ تركه په تعدادد اد انيكئی حقوق متقدمه على الميراث وعدم موانع ارث ۳۲ سهام باندې تقسيم كيدوسره دَ هغې ورثاء مذكوره بالا (دكوم شميرچه درج دي)په تفصيل ذكركړې شوی دَ پورته نقشې مطابق به دومره ملاويږی كوم چه دَهغې لاندې درج دي. **فقط والله سبحانه تعالى اعلم.** العبدوسيم احمدخادم جامعه ۲۸/۷/۲۱هجري

③ كه چرې دَ بطن ثاني تصحيح اودهغې مافي اليدكښې دتباين نسبت وی نودَ تصحيح كل عدد ته به دَ بطن اول په تصحيح سره ضرب وركړې حاصل ضرب به ددوارو بطونوتصحيح شی دې نسبت ته بينهما

تباین لیکلوسره ظاهر کړه اود مافي اليد کل ته ددې ورثاء په سهام کښې ضرب ورکړه نوحاصل ضرب به دَ هر وارث حصه شی اودَ بطن اول دَ ورثاء سهام ته هم دغه عدد مضروب (کوم چه دَبطن ثاني تصحیح ده) کښې ضرب ورکړې نو حاصل ضرب به دَ هر وارث سهام شی. بیا دَدوارو بطنونودَ ورثاء سهام یوځائی کولو سره اوګوره که چرې هغه مبلغ (چه دَدوارو تصحیح مجموعه او جمع ده) برابر وی نومسئله صحیح شوه ګنې غلطه به شی په هغې باندې بیا نظر واچونی.

دَتباین مثال:

مسئله: ۹۱ / ۱۳ / ۱۲

میت------------------------مسیح الرحمن

(زوجه (مه جبین	(اخت (سیارو	علاتی (خور (حمیده	اخیافی (خور (محمدی
ربع	نصف	سدس	سدس
۲۱/۳	۶	۱۴/۲	۱۴/۲

مسئله: ۶/۷ تباین سیارومف۶

میت------------------------

(زوج (حنیف	علاتی (خور (حمیده	(اخیافی (محمدی
نصف	نصف	سدس
۱۸/۳	۱۸/۳	۶/۱

المبلغ ۹۱

الاحیاء------------------------

مه جبین	حمیده	محمدی	حنیف
۲۱	۳۲	۲۰	۱۸

حسب بیان سائل دَ مرحوم مسیح الرحمن ټوله ترکه پس دَ اداکولودحقوقو متقدمه علی المیراث وعدم موانع ارث ۹۱ سهام باندې تقسیم شوه دَهغه ورثاء پورته بیان کړې شوو ته په تفصیل دَ پورتنئی نقشې مطابق به دومره ملاویږی کوم چه دَهغې لاندې درج دی. فقط والله أعلم بالصواب. العبد وسیم احمد ۲۱/۷/۲۸ هجری

فائده مذکوره اصول صرف دَ دوو بطنونودَمناسخه دَپاره دی. که دَ دریوبطنونومناسخه وی نو دریم بطن به دَ دویم مړی په ځائی جوړولې شی او رومبی دواړه بطنونه به دَ رومبی مړی او ځلوربطن به دویم مړی اودَ پنځو بطنونو مناسخه وی نو رومبی ځلور واړه بطنونه اول مړی او پنځم بطن به دویم مړی منلوسره قواعد جاری ساتلې شی اودغه شان که دَ زیاتو بطنونومناسخه وی نواول دَټولو بطنونوتصحیح کول پکاردی دې سره مناسخه جوړولوکښې آسانی وی. دا لاندې مثالونه په یووخت تماثل، توافق او تباین دریوارو نسبتونودی.

مسئله: ۱۲۸ / ۳۲ / ۱۶ / ۴

۴ باقی ۳ مسئله در ۴/۴ فاطمه

بطن اول .... میت

(زوج) شکیل	(بنت) اسرانه	(ام) رشیدن
ربع ۴/۱	نصف ۹/۳	سدس ۶/۳/۱

مسئله: ۴ (تماثل) شکیل مف۴

بطن ثاني .... میت

(زوج) شکیله	(اب) الله دیا	(ام) بتول
ربع	عصبه	ثلث باقي
۲/۱	۴/۲	۲/۱
۸	۱۶	۸

مسئله: ۴/۴ بینهما توافق بالثلث اسرانه مف۹/۳

بطن ثالث .... میت

جده نانی رشیدن ابن عبدالوحید ابن عبدالکریم بنت عائشه

.... عصبه

سدس ۱ / ۳ ۲ / ۶ / ۲۴ ۲ / ۶ / ۲۴ ۳ ۱ / ۱۲

مسئله: ۲/۴ (تباین) رشیدن مف۹

بطن رابع .... میت

زوج عبدالواحد اخ اصغر ۲/۱ اخ اکبر

نصف عصبه ....

۱ / ۲ / ۱۸ ۱ ۹ ۱ ۹

المبلغ ۱۲۸

الاحیاء ....

شکیله	الله دیا	بتول	عبدالواحید	عبدالکریم	عائشه	عبدالواجد	اصغر	اکبر
۸	۱۶	۸	۲۴	۲۴	۱۲	۱۸	۹	۹

حسب بیان سائل فاطمه مرحومه تولہ ترکه پس دّ اداکولو دَحقوقو متقدمه علی المیراث وعدم موانع ارث ۱۲۸ سهام باندي تقسیم شوډَهغي ورثاء پورته بیان کړي شوی (کوم چه نهه دی) په تفصیل د پورته ذکرشوي نقشي مطابق چه د هریو وارث ته به دومره ملاویږی کوم چه دَهغوی لاندي درج دی. فقط والله تعالیٰ اعلم وعلمه اتم.

جلددریم ختم شو